تسہیل الہدایہ

پښتو شرح د هدایه

مع

المراۃ الصافیہ لتخریج احادیث الہدایہ

الاقوال الراجحۃ فی مسائل الہدایہ

حل لغات الہدایہ

تالیف

مولانا پروفیسر شاہ فیصل

فاضل امداد العلوم

فیصل کتب خانہ

محلہ جنگی پېښور

تسهیل الهدایه

په قندهارئ او یوسفزئ پښتو کې شر ح

هدایه

تالیف :مولانا شا ه فیصل فاضل وفا ق المدارس وامداد العلوم

خصوصیات او اضافات

په هدایه کښې ذکرشوې حدیث باندې لاندې حاشیه کښې د هغې تخریج
داحنافو په مینځ کښې په مختلف فیها مسئله کښې د راجح قول تعین
د قندهارئ او یوسفزئ پښتو کډون او امتزاج
د هدایه د مشکلو لغاتو حل
دهدایه متن ته اعراب ورکول
د مضمون په لحاظ سره د هدایه متن تقسیمول
د هدایه د هرې جملې سره متصل دهغې ترجمه
د هدایه عبارتونو ته د موضوع په لحاظ سره عنوانات ورکول
شرحې ته په عربئ ژبه کښې مناسب عنوانات ورکول
د کتاب په اول کښې د فقه په ضروری مباحثو مشتمله جامع مقدمه

ناشر

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور موبائیل: ۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم: **تسهیل الهدایه شرح هدایه پښتو**

تالیف: **مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس وامدادالعلوم**

د ملاویدو پتې:

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۳۳۳۹۱۵۸۴۷۷

علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴

مکتبه رحمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۳۳۷۸۰۶۰۴۹

مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰

مکتبه عرفان کانسی روډ کوئټه ۰۳۳۳۷۸۲۱۳۱۶

مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰

مکتبه طیبه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۸۰۲۲۶۹۵

مکتبه حرمین کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۸۰۰۱۹۳۱

مکتبه علوم اسلامیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۳۳۷۸۰۹۱۹۵

راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳

مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹

صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۶۱

قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۶۱۹۶۰۳

عبدالمجید کتب خانه جلال اباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹

اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

مکتبه فاروقیه پیښور ۰۳۰۰۹۰۰۷۵۵۰

مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳

م[illegible]یه کانسی روډ کوئټه ۰۳۳۳۷۹۰۷۳۹۸

د قندهارئ او یوسفزئ پښتو

هغه ټکی کوم چه د یو بل څخه مختلف دی مـوږ د قوسـینو پـه مـینـځ کـښې قندهاری ټکی ته یوسفزی ټکې لیکلې دې اودغه شان د دې پـر عکـس البتـه کوم ټکی چې کثیـر الاستعمال دی نـو په هغې کښې مو یا صرف په قندهارئ پښتو بسوالې او اکتفاء کړې ده یـا پـه یوسفزئ پښتو مثلا مونږ او موږ، قسم او ډول وغیره دغه شان کوم ټکی چې مکرر راغلی دی نو په اول ځل مو په څو مقاماتو کښې د دواړو ژبو ټکـی لیکلـی دی او بیا مو صرف پـه یـوه ژبـه اکتفـاء کړې ده په دې طریقه یو طالب علم پـه دې کتاب کښې د یوسفزئ او قندهارئ دواړو لغاتو پوهـه حاصلولې شـی کـوم چې ده ته پـه نـورو کتابونو کـښې هـم مدد ورکولې شی

د مزید تفصیل دپـاره پـه اول جلـد کښې مقدمه ضرور اوګورئ

كِتَابُ الْأَيْمَانِ

﴿دا﴾ كتاب د قسمونو﴿په بيان كي﴾ دي.

يمين دكوم قسم په پابندی نه كولوچه جزاء لازميږی. ﴿دا واحد دی اوايمان ئي جمع ده﴾لكه والله زه به دا شي نه خورم.نوكه هغه څيزئي اوخوړلو.نوكفاره به پرې لازميږی.اوكه دا اووائي. كه مادا شي اوخوړلو .نو زما غلام دې آزاد وی.فقهاء داسې كلام ته يمين وائي.ترڅو كه هغه څيزئي اوخوړلو نو غلام آزاد شو.اوحنث يعنى قسم ماتيږی.اوحانث قسم ماتونكي ګرځي.

د يمين درې قسمونه

قَالَ: (الْأَيْمَانُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ) الْيَمِينُ الْغَمُوسُ وَيَمِينٌ مُنْعَقِدَةٌ، وَيَمِينٌ لَغْوٌ (فَالْغَمُوسُ هُوَ الْحَلِفُ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ يَتَعَمَّدُ الْكَذِبَ فِيهِ، فَهَذِهِ الْيَمِينُ يَأْثَمُ فِيهَا صَاحِبُهَا) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مَنْ حَلَفَ كَاذِبًا أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ} ( ) (وَلَا كَفَّارَةَ فِيهَا إلَّا التَّوْبَةُ وَالِاسْتِغْفَارُ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحْمَةُ اللَّهِ تَعَالَى عَلَيْهِ: فِيهَا الْكَفَّارَةُ لِأَنَّهَا شُرِعَتْ لِرَفْعِ ذَنْبٍ هَتْكِ حُرْمَةِ اسْمِ اللَّهِ تَعَالَى، وَقَدْ تَحَقَّقَ بِالِاسْتِشْهَادِ بِاَللَّهِ كَاذِبًا فَأَشْبَهَ الْمَعْقُودَةَ.

حل اللغة:① **ايمان**، جمع د يمين قسم ته وائي ② **اضرب**: جمع د ضرب ده دلته په معنى د قسم اوصنف دې ③ **الغموس**: په اصل كښې غوپه كيدو ته وائي اودلته هم چونكه په دروغه قسم خوړونكې په ګناه كښې غوپه كيږی ځكه ورته يمين غموس وائي ④ **هتك**: بې حرمتي.بې ادبى ⑤ **المعقودة** هغه قسم چې خوړلې شوی وی

ژباړه:- ابوالحسين قدوری رحمه الله فرمائي قسم په درې قسمه دې.① يمين غموس② يمين منعقده③ يمين لغو، غموس قسم خوړل دی په يوكارپه زمانه تيره شوې كې چې قصد ئې كړې وی د دروغو په دې ﴿قسم﴾ كې ،نودا قسم چې دې.ګناهګاريږی په دې كې صاحب ددې ﴿يعنى قسم خوړونكې﴾ د نبی ﷺ د ارشاد د امله ،،چاچه قسم اوخوړلوپه دروغه داخل به ئې كړی الله تعالى اورته،او ﴿دا دومره لويه ګناه ده.چه﴾ نشته كفاره په دې ﴿يمين غموس﴾ كې ،سوا د توبې اواستغفارنه،اوفرمائي شافعي رحمه الله په دې كې كفاره شته.ځكه چې دا ﴿كفاره﴾ مشروع شوې ده لپاره د پورته كولود ګناه دهتك﴿سپكوالي﴾ دعظمت دنوم دالله تعالى.اودا ﴿هتك﴾ واقع شوې دې په ګواه جوړولوالله تعالى لره په دروغه،نومشابه شو﴿دا يمين لغو﴾ د يمين منعقده سره، ﴿ځكه چې په دواړوكي علت مشترك دې.په يمين منعقده كي كفاره ځكه لازميږی. چې دالله تعالى د نوم توهين شوې دې.اوهم دا توهين په يمين غموس كي هم شوې دې.نوچه ځنګه په يمين منعقده كي كفاره شته.دغه ډول به په يمين غموس كي هم وی﴾

تشريح:- ((**الايمان على ثلاثة اضرب**)) ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائي.چه دقسم درې قسمونه دی. ① غموس② منعقده③ لغو،

((**يمين الغموس**)) هغه قسم دې.كوم چې په تيره شوې زمانه كي په څه خبره په قصد سره خوړلې شوې وی.داسې قسم خوړونكې ګناهګاردې.يعنى داسې كول ګناه كبيره ده.ځكه چې په حديث كي دی.كوم كس چې په دروغه

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل حديث أشعث بن قيس رضي الله عنه قال خاصم رجل من الخضرميين رجلاً منا يقال له الجفشيش إلى النبي ﷺ في أرض له فقال النبي ﷺ للخضرمي جئ بشهودک على حقک وإلا حلف لک.فقال أرضي أعظم شأنا من أن يحلف عليها فقال النبي ﷺ إن يمين المسلم ما وراءها أعظمِ من ذلک فانطلق ليحلف فقال ﷺ إن هو حلف كاذبا ليدخله الله النارفذهب الأشعث رضي الله عنه فأخبره فقال أصلح بيني وبينه.قال فأصلح بينهما أخرجه الطبراني في معجمه وروى بمعناه عن أبي امامة رضي الله عنه أخرجه إبن حبان في صحيحه وروى عن إبن مسعود رضي الله عنه في ذلک أخرجه البخاري في الأيمان والنذور باب ١١ ومسلم في الأيمان رقم ٢٢٠)۔

قسم اوخوری.الله تعالی به **هغه جهنم** کي اچوی.

په صحیح ابن حبان کي یوزه حدیث داسي دي.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.کوم کس چي په یو شی قسم اوخوړلو.حالانکه دي په دغه قسم کي دروغژن وی.چه ددي قسم په ذریعه د چا په مال باندي قبضه اوکړی.نوالله تعالی به په ده باندي جنت حرام کړی.اودي به جهنم کي وراوغورځوی.اودصحیحینو په روایت کي دی.چه دي به الله تعالی سره په داسي حالت کي ملاقات اوکړی.چه الله تعالی به ورته غصه وی.

«ولاكفارة فيها الا التوبة والاستغفار..الخ» اوپه قسم غموس کي د توبي اواستغفار نه سوا بل څه نشته.یعنی دا داسي ګناه نه ده.چه په کفاري سره به معاف شی.بلکه دا داسي لویه ګناه ده.چه د توبي اواستغفارنه سوا په بل څه نه معاف کیږی.

اود صحیح بخاری په روایت کي دی.چه دالله تعالی سره شرك کول،اودمورپلارنافرمانی کول اوپه دروغه قسم خوړل لوئي ګناهونه دی.نوهرکله چي دا لویه ګناه شوه.نوددي لپاره کفاره کافی نه ده.بلکه توبه به اوباسی.دا دامام مالك اوامام احمد ﷫ مذهب هم دي.اود اکثروعالمانوهم دا قول دي.

په یمین غموس کي دعدم کفاري دلیل

وَلَنَا أَنَّهَا كَبِيرَةٌ مَحْضَةٌ، وَالْكَفَّارَةُ عِبَادَةٌ تَتَأَدَّى بِالصَّوْمِ، وَيُشْتَرَطُ فِيهَا النِّيَّةُ فَلَا تُنَاطُ بِهَا، بِخِلَافِ الْمَعْقُودَةِ لِأَنَّهَا مُبَاحَةٌ، وَلَوْ كَانَ فِيهَا ذَنْبٌ فَهُوَ مُتَأَخِّرٌ مُتَعَلِّقٌ بِاخْتِيَارٍ مُبْتَدَإٍ، وَمَا فِي الْغَمُوسِ مُلَازِمٌ فَيَمْتَنِعُ الْإِلْحَاقُ.

حل اللغة:- ①**كبيرة**: لویه ګناه، ②**تتادى**: ادا کیږی ③**ناط-يناط**: تعلق پاتي کیدل ④**الالحاق**: مولښتی کول یوځاي کول⑤**ملازم**: لازمونکي،ضروری کونکي

ژباړه:- اوزمونږ دلیل دا دي.چه دا ګناه کبیره محضه ده.اوکفاره عبادت دي چي ادا کیږی په روژي سره،اوشرط کولای شی په دي ﴿کفاره﴾ کي نیت ﴿د روژي﴾ ،نوتعلق پاتي نشود کفارهٔ د ګناه سره،په خلاف د یمین منعقده،ځکه چي دا ﴿یمین منعقده﴾ مباح دي. ﴿ځکه چي دا قسم خوړل دی.چه په مستقبل کي به دا کارکوم یا به نه کوم﴾اوکه په دي کي ګناه راځی.نوهغه ﴿دقسم نه﴾ روستو وی. چي تعلق ئي د نوی اختیار سره دي. ﴿چه دکوم کارنه ئي قسم کړي وی.هغه کاراوکړی.نوګناهګاریږی.دهغي فعل کولونه وړاندي نه ګناهګاریږی﴾ اودلته ﴿په یمین غموس﴾ کي ګناه د یمین غموس سره متصل﴿مولښتی ه﴾ ده. ﴿ځکه چي په دروغه قسم خوری﴾ اودیمین غموس ﴿د یمین منعقده سره﴾ الحاق ممتنع ﴿ناجائز﴾ دي. ﴿ځکه چي په یمین غموس کي دشروع نه د ګناه ارتکاب دي.اوپه یمین منعقده کي داول نه ګناه نشته.چه کله حانث شی.بیاګناهګاریږی﴾

تشريح:- **«ولنا انها كبيرة محضة»** دشریعت احکام په دري قسمه دی.①عبادت محضه چي سبب ئي صرف مباح څیزوی.لکه چي یوڅیزواخلی نوپه هغي باندي ملکیت راځی.اوددي ملکیت راتلووجه سبب ددغه څیزقیمت ادا کول دی.② عقوبة محضه ﴿صرف سزا ورکول﴾ چي سبب ئي صرف د ناجائزه کارارتکاب وی.لکه قصاص چي سبب ئي قتل ناحق دي.③ کفارات،دا د عبادت اوعقوبت دواړه په مینځ کي دی.لکه روژه راواخله.دا دعبادت اوعقوبت په مینځ کي شك واقع کونکي ده.ځکه چي روژه د فرضی اونفلی هم وی.اود غیرشرعی کارپه ارتکاب سره هم لازمیږی.لکه دقسم ماتولوپه کفاره کي چي دري روژي نیول شو.ددي تفصیل نه روسته دمتن مسئلي ته راشه،یمین غموس چونکه ګناه محضه ده.نودا چي د کوم شی لپاره سبب ګرځی.هغه به صرف سزا وی.دعبادت معنی به په کي نه وی.لکه ځنګه چي قتل ګناه محضه ده.اودا چي د کوم سبب څیزسبب ګرځی.هغه سزا ده.چه قصاص دي.دعبادت معنی په کي نشته.اوس که مونږ یمین غموس د کفاره لپاره سبب اوګرځو.نودا صحیح نه ده.ځکه چي کفاره صرف سزا نه ده.بلکه په دي کي دعبادت معنی پرته ده.

«ويشترط فيها النية» اوپه کفاره کي نیت شرط دي.ځکه چي کفاره عبادت دي.اوپه عبادت کي نیت شرط

وي.نوکه په يمين غموس کي کفاره لازمه شي.نودا کفاره به په طور د سزا وي.اوپه سزا کي نيت شرط نه وي.
حالانکه دلته په کفاره کي نيت شرط دې.نومعلومه شوه.چه په يمين غموس کي کفاره نشته.
په سزا کي د نيت دعدم شرطيت لپاره مثال قصاص دې.قصاص د سزا په طور دې.خو دا نيت شرط نه دې.چه کوم کس قصاص کولې شي.هغه دا نيت اوکړي.چه زه د قتل په سزا کښې قصاص کولې شم.بلکه که دده نيت وي اوکه نه وي.په دواړو صورتونوکي به قصاص صحيح وي.

ديمين منعقده تعريف

وَالْمُنْعَقِدَةُ مَا يَحْلِفُ عَلَى أَمْرٍ فِي الْمُسْتَقْبَلِ أَنْ يَفْعَلَهُ أَوْ لَا يَفْعَلَهُ وَإِذَا حَنِثَ فِي ذَلِكَ لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ} وَهُوَ مَا ذَكَرْنَا

حل اللغة: ①**لايواخذ:** **اخذ يواخذمواخذة**:نيول ②**عقد**:قصد كول

ژباړه:- اويمين منعقده هغه قسم دې چې اوخوړلې شي په يوکارپه مستقبل ﴿راروانه زمانه﴾ کي چې دا کار به کوی اويا به ئې نه کوی.اوهرکله چې حانث شي ﴿يعني هغه کاراوکړي﴾ لازميږي پرې کفاره،د امله د ارشاد دالله تعالى چه،،نه نيسى تاسوالله تعالى په لغوسره په قسمونوستاسوکي ﴿مثلاً چې تاسوپه خپل ګمان کي يوکارکړې وی.اوپه هغې قسم اوخورئ حالانکه په حقيقت کي مو هغه نه وی کړې﴾ بلکه نيسي مو په هغه کوم چې تاسو مضبوط کړی وی په قسمونو.

تشريح:- ((**والمنعقدة ما يحلف**)) ديمين منعقده مثال به دا وی.چه يوکس دا قسم اوخوری.چه زه به فلاني کورته نه داخليږم.بيا هغه بيمار يا بيهوشه شي.او خلګ ئې هغه کورته يوسي.نودې حانث شو.اوپه ده به کفاره لازمه وی.حاصل دا چې د کومې خبرې قسم ئې خوړلې وی.که هغه کارئې اوکړلو.برابره ده که په قصد وی اوکه په هيره يا په زورپرې هغه کاراوکړې شی.يا د بيهوشئ اويا دليونتوب په حالت کي هغه کاراوکړی.نودې به حانث شی.اوپه ده به کفاره لازمه وی.

ديمين لغو تعريف

وَالْيَمِينُ اللَّغْوُ أَنْ يَحْلِفَ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّهُ كَمَا قَالَ وَالْأَمْرُ بِخِلَافِهِ فَهَذِهِ الْيَمِينُ نَرْجُو أَنْ لَا يُؤَاخِذَ اللَّهُ بِهِ صَاحِبَهَا) وَمِنَ اللَّغْوِ أَنْ يَقُولَ: وَاللَّهِ إِنَّهُ لَزَيْدٌ وَهُوَ يَظُنُّهُ زَيْدًا وَإِنَّمَا هُوَ عَمْرٌو، وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى {لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ} الْآيَةَ، إِلَّا أَنَّهُ عَلَّقَهُ بِالرَّجَاءِ لِلِاخْتِلَافِ فِي تَفْسِيرِهِ.

حل اللغة: ①**يظن**: ګمان کوی ②**علق**: تړل ③**الرجاء**:اميد

ژباړه:- اويمين لغو دا دې.چه قسم اوخوری په يوکارتيرشوی باندې اودي. ګمان کوی چې دا کارهم هغه شان دې څنګه چې دې وائي.خوکارهغه شان نه وی.نودا قسم موږ اميد کوو چې نه به نيسي الله تعالى په دې باندې خوړونکې ددې اودلغو څنې دا دی.چه ووايي دا کس ﴿کوم ته چې اشاره کوی﴾ زيد دې اودې پرې ګمان هم د زيد کوی.خوهغه عمرو وی.اواصل ﴿دليل﴾ په دې ﴿يمين لغو﴾ کي قول دالله تعالى دی.چه ،نه نيسي الله تعالى تاسو په لغو سره په قسمونوستاسوکي بلکه نيسي تاسو د آيت آخره پورې ﴿اووايه﴾ البته ابو الحسين قدوري رحمه الله دا قسم په اميد سره مقيد کړلو ﴿چه موږ اميدساتو.چه الله تعالى به ئې نه نيسي.حالانکه الله تعالى د عفو وعده کړې ده.﴾ د امله داختلاف نه په تفسير ددې کي ،

تشريح:- ((**الا انه علقه بالرجاء**)) يمين لغو په صورتونوکي يوصورت دا هم دې.چه په يوکس قسم اوخوری.چه والله دا زيد دې.حالانکه هغه زيد نه وی.ددې دليل د الله تعالى ارشاد دې[لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ] پوره آيت،خومصنف رحمه الله په دې قسم باندې د مواخذه نه کولوپه اړه کي فرمائي.چه ددې خبرې اميد کيداې شي.ځکه چې ددې په تفسير کي اختلاف دې.①دحضرت عائشي رضي الله عنها نه د دې په تفسيرکي نقل دی.چه د يمين لغو صورت دا دې.چه سړې اووائي.چه ((لاوالله وبلى والله)) ﴿دا حديث امام بخاری روايت کړې دې.اوامام ابوداود رحمه الله مرفوعاً روايت کړې دې.اوامام بيهقي اوابن حبان﴾ هم مرفوع نقل کړې

دي.اودارقطني رحمه الله فرمائيلي دي.چه ددې موقوف روايت هم صحيح دې.دغه ډول امام شافعي اوامام مالك رحمه الله هم روايت كړې دې. ـ ددې معنى دا ده.چه يوكس بل ته اووئيل.نن ته هلته نه ئې تلې.اوهغه ورته خواب وركړى.چه نه والله زه نه يم تلې. اودې په حقيقت كي هم هلته نه وى تلې.نودا يمين لغو شو.يا ورته اووائي.والله اوګوره زه په دې زيړ كاغذباندې ليكل كوم.اوهغه زيړ كاغذ وى.نودا هم لغو دې.ځكه چې هركس دا وينى.چه دې په زيړكاغذ باندې ليكل كوى.② اوعبدالرزاق په خپل مصنف كي دحضرت مجاهد رحمه الله نه روايت كړې دې.چه لغو دا ده.چه يوكس په دې خبره قسم اوخورى.اودا پيژنى.چه دا هم داسې دې.حالانكه په حقيقت كي هغه شان نه وى.نودا يمين لغودې.③ اوسعيدبن جبير رحمه الله فرمائيلي دى.چه لغو دا ده.چه يوكس په حرام ځيزقسم اوخورى.چه زه داسې نه كوم.④اوحسن بصرى اوابراهيم نخعي رحمه الله فرمائيلي دى.چه يوكس په يوه خبره باندې قسم اوخورى.اوبيا ترې هيرشى. ⑤اوامام سرخسي رحمه الله په اصولوكي فرمائيلي دى.چه لغوهغه قسم دې.چه هغه شرعاً اووصفاً دقسم د فائدې نه خالي وى.ځكه چې د قسم فائده دا ده.چه د يوداسې خيرخبروركړى.چه په هغې كي د دروغواحتمال وى.اوبيا قسم دهغې رښتياوالې ثابت كړى.اوكه داسې ئې اونكړلو.بلكه په داسې ځيزئي قسم اوخوړلو.چه په هغې كي د غلطئ احتمال نه وى.نوهغه د فائدې نه خالي وى.

په قسم كي د زبردستئ اوهيرې برابري

قَالَ: (وَالْقَاصِدُ فِي الْيَمِينِ وَالْمُكْرَهُ وَالنَّاسِي سَوَاءٌ) حَتَّى تَجِبُ الْكَفَّارَةُ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالْيَمِينُ} ( ) وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ يُخَالِفُنَا فِي ذَلِكَ، وَسَنُبَيِّنُ فِي الْإِكْرَاهِ إنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى (وَمَنْ فَعَلَ الْمَحْلُوفَ عَلَيْهِ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا فَهُوَ سَوَاءٌ) لِأَنَّ الْفِعْلَ الْحَقِيقِيَّ لَا يَنْعَدِمُ بِالْإِكْرَاهِ وَهُوَ الشَّرْطُ، وَكَذَا إذَا فَعَلَهُ وَهُوَ مُغْمًى عَلَيْهِ أَوْ مَجْنُونٌ لِتَحَقُّقِ الشَّرْطِ حَقِيقَةً، وَلَوْ كَانَتْ الْحِكْمَةُ رَفْعَ الذَّنْبِ فَالْحُكْمُ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِهِ وَهُوَ الْحِنْثُ لَا عَلَى حَقِيقَةِ الذَّنْبِ، وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

حل اللغة: ① **القاصد** قصد كونكې ② **المكره** صيغه د اسم مفعول چا باندې چې زور اوزبردستى شوې وى ③ **الناسى** هيرونكې ④ **جد** حقيقت رښتيا ⑤ **هزل** ټوقې، كپ شپ ⑥ **مغمى عليه** په چا چې بې هوښى (بى هوشى) راغلې وى ⑦ **مجنون** ليونې ⑧ **يدار** ګرځولې شى صيغه د اسم مفعول

ژباړه:- ابو الحسين قدورى رحمه الله فرمائى.قصد كونكى په قسم كي اومجبوره شوې اوهيرونكې برابردى «په حكم كي» ترديې چه واجبيږى «په دې درې واړو صورتونوكي» كفاره،د امله د ارشاد دنبي ﷺ نه ،،درې شيان (ځيزونه) دى.چه قصد خونې هسې هم قصد دې اوټوقې ئې هم قصد دې.① نكاح② طلاق ③اوعتاق،اوامام شافعي رحمه الله مخالفت كوى زمونږ نه په دې «مسئله د زبردستئ اوهيره اودغه ډول د بيهوشئ اوليونتوب» كي .اوزرده چې مونږ به ئې بيان كړو په باب الاكراه كي ،انشاء الله اوكه وې كړلو هغه ځيزچه قسم ئې پرې خوړلې وى.په زبردستئ يا په هيره نودا برابر دى.ځكه چې فعل حقيقى نه نشت كيږى ګلاس مات كړى.كه په زور وى اوكه په رضا ګلاس خومات شوكه نه.» اوهم دا «وجود د فعل» شرط دې «د حانث كيدو دپاره» اوهم دغه ډول حكم دې چې اوكړې دغه كار «چه قسم ئې ترې خوړلې وى» اووى دې بيهوشه يا ليونې د امله د واقع كيدو د شرط نه حقيقة «كه په حالت داغماء كښې او كه په جنون

١) قال الزيلعي رحمه الله مكذاا ذكره المصنف وبعض الفقهاء بجعل عوض اليمين العتاق ومنهم صاحب الخلاصة والغزالى فى الوسيط [illegible] وكلاهما غريب وإنما الحديث ((النكاح والطلاق والرجعة)) أخرجه أبوداود فى الطلاق باب ٩ رقم ٢١٩٤ والترمذى فى [illegible] وابن ماجه فى الطلاق باب ١٣ رقم ٢٠٣٩)_

کي﴾ اوکه چرته وی حکمت ﴿په وجود د شرط کي﴾ لرې کول د ګناه نوحکم ﴿چه کفاره ده﴾ به واقع کیږی په دلیل د هغې اودلیل ئې حنث دې نه په حقیقت د ګناه باندې.

تشریح:- «**قال والقاصد في اليمين...الخ**» په قصد، هیره اود زور په حالت کي دقسم خوړولوحکم برابردې.د رسول اللهﷺ ددې حدیث د امله چي درې شیان (ځیزونه) داسې دی.چه دهغې قصد اوهزل دواړه برابردی.یعنی نکاح،طلاق اوقسم،

ﷺ «**وهوالشرط**» یعنی دکفاره دلزوم لپاره شرط دهغه کار کول دی.دکوم دکولونه چي قسم خوړلي شوې وی.که هغه موجود شی.نوکفاره لازمیږی.دې ته به نشی کتلي.چه ددې فعل د وجود یا عدم وجود سبب زبردستی ده اوکه رضا.یعنی دې ته به نشی کتلي چې دا کارده په خپله رضا کړې دې اوکه په زور.

ﷺ«**ولوكانت الحكمة**» یعنی د کفاره دلزوم تعلق د شرط د وجود سره دې.ددې سره نه دې چي کوم فعل نه ئې قسم کړي ذې.هغه ګناه ده اوکه ثواب دې.بالفرض که یوکس د نیک کاردکولونه قسم اوخوړلو.چه دا کاربه نه کوم.نواوس شریعت ده ته ددغه نیك کار دکولوحکم کوی.نوچه دې دشریعت مطابق دغه کاراوکړی.صحیح ده د نیکئ د نه کولود محرومتیا نه بچ شو.خوبل اړخ ته چي ئې کوم قسم کړې وو.په هغې کي حانث شو.ځکه چي وجود د شرط راغلو.نوکفاره به پرې لازمیږی که زړه ئې ښه وی اوکه بد.

(بَابُ مَا يَكُونُ يَمِينًا وَمَا لَا يَكُونُ يَمِينًا)

ژباړه:- ﴿دا﴾ باب ﴿دهغه الفاظوبه بیان کي دې.چه﴾ یمین دې اوچه یمین نه دې.

قَالَ: (وَالْيَمِينُ بِاللّٰهِ تَعَالٰى أَوْبِاسْمٍ آخَرَ مِنْ أَسْمَاءِ اللّٰهِ تَعَالٰى كَالرَّحْمٰنِ وَالرَّحِيمِ أَوْبِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِهِ الَّتِي يُحْلَفُ بِهَا عُرْفًا كَعِزَّةِ اللّٰهِ وَجَلَالِهِ وَكِبْرِيَائِهِ) لِأَنَّ الْحَلِفَ بِهَا مُتَعَارَفٌ، وَمَعْنَى الْيَمِينِ وَهُوَالْقُوَّةُ حَاصِلٌ، لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُ تَعْظِيمَ اللّٰهِ وَصِفَاتِهِ فَصَلَحَ ذِكْرُهُ حَامِلًا وَمَانِعًا.

حل اللغة: ① **جلاله**: دالله تعالى لويوالي ② **متعارف**: معلومه ③ **القوة**: مضبوطتیا ④ **حاملا**:اوچتونکي دلته ترې مراد باعث کیدونکي ⑤ **مانعا**:منع کونکي یعنی قسم حالف د یوکار د کولو نه منع کوی

ژباړه:- ﴿ابو الحسین قدوری﴾فرمائی.یمین ﴿منعقد﴾ کیږی په ﴿اسم د﴾ الله اوپه بل نوم باندې دالله تعالیٰ د نومونو ځنی،لکه رحمن رحیم اویا په یوصفت سره دده د صفتونوځنی،هغه صفتونه چي قسم خوړلي شی په هغې باندې په عرف کي لکه عزت دالله جلال دالله کبریاء دالله ځکه چي قسم په دې ﴿الفاظو﴾ متعارف دې.اومعنی د یمین چې قوت دې هغه حاصل ده ،ځکه چې دې ﴿حالف﴾ اعتقاد کوی د تعظیم دالله اودتعظیم دصفاتود هغه،نوصلاحیت لری ذکرددې چي اماده کونکی شی ﴿په کولودیوکار﴾ اومانع شی. ﴿حالف لره د کولود یوکارنه﴾

تشریح:- «**واليمين بالله**» عام طورداسم اطلاق په لفظ باندې کیږی کوم چي دیوځیزپه ذات باندې دلالت کوی.اودالله تعالی اسم ذاتی صرف لفظ دالله دې.ددې نه سوا چي دالله تعالی څومره نومونه دی.هغه واړه صفتی نومونه دی.لکه رحمن رحیم وغیره،

«**يحلف بها عرفاً**» یعنی په داسې صفت باندې قسم منعقد کیږی.چه په عرف کي خلګ په هغې باندې قسم خوری.لکه دالله په عزت وغیره قسم خوړل،ځکه چي په عرف کښې په دې قسم خوړلي شی.اوبله دا چي دیمین معنی چي قوت دې.هغه په دې صفاتوکي موجود دې.

«**فصلح ذكره حاملاً ومانعاً**» یعنی حالف ددې نومونوتعظیم کوی.ددې امله چي دکوم کاردکولوقسم ئې خوړلي وی.هغه کوی.اوچه د کوم دنه کولوقسم ئې خوړلي وی.هغه نه کوی.نوپه دې صفاتوباندې قسم اماده کونکي اومنع کونکي شو.

قَالَ (إِلَّا قَوْلَهُ وَعِلْمِ اللهِ فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ يَمِينًا) لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ. وَلِأَنَّهُ يُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ الْمَعْلُومُ، يُقَالُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ عِلْمَكَ فِينَا: أَيْ مَعْلُومَكَ (وَلَوْ قَالَ وَغَضَبِ اللهِ وَسَخَطِهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا) وَكَذَا وَرَحْمَةِ اللهِ، لِأَنَّ الْحَلِفَ بِهَا غَيْرُ مُتَعَارَفٍ، وَلِأَنَّ الرَّحْمَةَ قَدْ يُرَادُ بِهَا أَثَرُهُ، وَهُوَ الْمَطَرُ أَوْ الْجَنَّةُ وَالْغَضَبُ وَالسَّخَطُ يُرَادُ بِهِمَا الْعُقُوبَةُ

حل اللغة: ① **سخط**: غصه، غضب ② **المطر**: باران ③ **العقوبة**: سزا

ژباړه:- ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله فرمائی.خونه منعقد کیږی ﴿قسم﴾ په وینا دده چې په علم دالله ځکه چې ﴿په عرف کې﴾ دا یمین نه دې.اوبله دا چې دا ذکرشی اومراد ترې معلوم وی.وئیلی شی اې الله ته خپل علم ﴿کوم چې زمونږ په ګناهونو تاته حاصل دې﴾ معلومات ماته اوبښه،اوکه چرته اووائی.په غضب دالله اوپه غصه دهغه نو نه ګرځی قسم خوړونکې په الله اودغه ډول ﴿چه اووائی.قسم دې وی) په رحمت دالله ، ﴿نوهم قسم خوړنکې نه ګرځی.ځکه چې قسم په دې ﴿جملوباندې﴾ نه دې متعارف اوبله دا چې رحمت کله مراد اخستې شی په دې سره اثر ددې ﴿رحمت﴾ او هغه ﴿اثرد رحمت﴾ باران یا جنت دې.اوغضب او غصه مراد ا خستې شی په دې سره سزا.

تشریح:- «**الا قوله وعلم الله**» په کوموالفاظوچه یمین منعقد کیږی.په هغې کښې دوې [دوه] شرطونه دی.یودا چې په عرف کې خلګ په هغې صفت باندې قسم خوری.دویمه دا چې هغه اسم دالله تعالی نه سوا د بل څه احتمال نه لری.کوم الفاظ چې په متن کې ذکرشوی دی.په دې ځکه یمین نه منعقد کیږی.چه په عرف کې په دې قسم نشی خوړلې.بله دا چې ددې الفاظونه دالله تعالی داسم او صفاتونه سوا بله معنی هم مراد کیداې شی.

په غیرالله باندې دقسم خوړلو حکم

(وَمَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا كَالنَّبِيِّ وَالْكَعْبَةِ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَذَرْ} (۱) (وَكَذَا إِذَا حَلَفَ بِالْقُرْآنِ) لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ، قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: مَعْنَاهُ أَنْ يَقُولَ وَالنَّبِيِّ وَالْقُرْآنِ، أَمَّا لَوْ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِنْهُمَا يَكُونُ يَمِينًا، لِأَنَّ التَّبَرِّي مِنْهُمَا كُفْرٌ.

حل اللغة: ①**ليذر**: امرغائب دې پريښول ② **تبرى**: برې کيدل ويزاره کيدل،لاتعلقه کيدل

ژباړه:- اوڅوك چې اوخوری قسم په غیرالله نونه ګرځی قسم خوړونکې لکه په نبی ﷺ اوخانه کعبه د امله د قول د نبی ﷺ نه چې څوك په تاسوکې قسم خوری نوقسم دې خوری په الله تعالی اویا دې نه خوری اودغه ډول ﴿حکم﴾ دې چې قسم اوخوری په قرآن ځکه چې دا ﴿په قرآن قسم﴾ په رواج کې نشته دې.فرمائی ددې معنی دا ده.چه اووائی. ﴿زما دې په﴾ نبی قسم وی.او ﴿زما دې﴾ په قرآن قسم وی.اوکه داسې ووايي چې زه بیزاره یم د دې دواړو نه،نوګرځی قسم ځکه چې ددې دواړو نه تبری ﴿ويزاره کيدل﴾ کفر دې.

تشریح:- «**قال معناه**» صاحب دبدائع رحمه الله فرمائیلی دی.چه په نبی اوکعبه باندې قسم ځکه نه کیږی.چه دا غیردی دالله تعالی نه،البته په قرآن باندې قسم کیږی.ځکه چې قرآن اګرچه دالله تعالی ذات نه دې.خودهغه صفت ضرروردې.نودصاحب بدائع رحمه الله دقول مطابق په قرآن باندې قسم منقعد کیږی.البته صاحب دهدایه رحمه الله فرمائی.چه په قرآن باندې د خلګ وقسم کول متعارف نه دی.نود تعارف دقید نه دا معلومیږی.چه په کوموعلاقوکې په قرآن باندې قسم کول متعارف وی اوپه رواج کې وی.نوپه هغه علاقوکې نیزهم دا قول مفتی به دې.چه په قران قسم منقعد کیږی.لکه زمونږصوبه سرحد په علاقوکې چې خلګ په قران قسم کوی. اوداحنافوپه .

---

۱)من حديث ابن عمر رضي الله عنه أخرجه البخارى فى الأدب باب ٧٤ رقم ٦١٠٨ ومسلم فى الأيمان رقم ٢ وأبوداود فى الأيمان والنذور باب ٣٢٤٩ والترمذى فى النذور باب ٩ وابن ماجه فى الكفارات وباب ٢ رقم ٢٠٩٤)

«اما لوقال انا برئ منهما» يعنى كه يوكس قسم اوكړلو.كه ما دا كاراوكړلونوزه به دالله اود پيغبرﷺ نه بيزاره يم.نودا قسم منعقد كيږي.وجه دا ده.چه دالله تعالى اود هغه د رسول نه بيزارى كفردي.نودا داسې شوه.لكه چې دې اووائي.كه مادا كاراوكړلو..نوزه دې كافريم.اوس كه دې په خپل قول كې ريښتينې وي.نونه ګناهګاريږي.اوكه دروغژن وي.نوكافركيږي.اوكه داسې قسم الفاظ ونيل څكه قسم دې.چه حالف يوكارپه كفر پورې معلق كړې.نوده په اصل كې په خپل ځان باندې دغه كارحرام كړلو.اويوحلال كارحرامول په شريعت كې يمين وى.نودا هم يمين شو.

دقسم الفاظ

قَالَ (وَالْحَلِفُ بِحُرُوفِ الْقَسَمِ، وَحُرُوفُ الْقَسَمِ الْوَاوُكَقَوْلِهِ وَاللَّهِ وَالْبَاءُكَقَوْلِهِ بِاللَّهِ وَالتَّاءُكَقَوْلِهِ تَاللَّهِ) لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَعْهُودٌ فِي الْأَيْمَانِ وَمَذْكُورٌ فِي الْقُرْآنِ (وَقَدْ يُضْمِرُ الْحَرْفَ فَيَكُونُ حَالِفًا كَقَوْلِهِ اللَّهِ لَا أَفْعَلُ كَذَا) لِأَنَّ حَذْفَ الْحَرْفِ مِنْ عَادَةِ الْعَرَبِ إيجَازًا، ثُمَّ قِيلَ يُنْصَبُ لِانْتِزَاعِ الْحَرْفِ الْخَافِضِ، وَقِيلَ يُخْفَضُ فَتَكُونُ الْكَسْرَةُ دَالَّةً عَلَى الْمَحْذُوفِ، وَكَذَا إذَا قَالَ لِلَّهِ فِي الْمُخْتَارِ لِأَنَّ الْبَاءَ تُبَدَّلُ بِهَا، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {آمَنْتُمْ لَهُ} أَيْ آمَنْتُمْ بِهِ.

حل اللغة: ① **معهود:** مقرر شوي معلوم شوي ② **يضمر:**پټول ③ **ايجاز:**د وجې د اختصار نه ④ **ينصب:** نصب يعنى زور وركول

ژباړه:- صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.اوقسم كول په حروفو دقسم سره قسم وى. «كه حرف قسم په كې نه وى.نوقسم به نه وى»اوحروف قسم واو دې.لكه دده قول چې «**والله**» اوباء لكه د ده قول چې «**بالله**» اوتاء لكه د ده قول چې ((تالله)) څكه چې دا واړه الفاظ په يمين كې معلوم دى. «چه دقسم الفاظ دى»او ذكرشوى دى په قرآن كې ،اوكه كله حرف قسم پټ وى.لكه دده قول چې «**الله لاافعل كذا**» په الله قسم چې زه به فلانې كارنه كوم،څكه چې حذف كول دحرف دعربوعادت دې. «چه په خپل كلام كې حذف د حرف قسم كوى» لپاره د اختصار «چه په كلام كې لنډوالي پيدا شى»بيا وئيلې شوى دى چې «لفظ دالله» به منصوب وى.چه مكسورحرف خارج شى.اووئيلى شوى دى.چه مكسورحرف به پاته پاتې كولې شى.چې سره په محذوف باندې دلالت كوى.اودغه «قسم منعقد كيږى» چې اووائي.((لله)) په مختارقول كښې،څكه چې باءددې په بدل كې وى.الله تعالى فرمائيلى دى.((آمنتم له)) يعنى ((آآمنتم به)) «كورئ دلته لام په معنى د باء دې.نودغه ډول به په قسم كې هم لام په معنى دباء وى.اولكه څنګه چې په باء باندې قسم صحيح كيږي.دغه ډول په لام باندې هم صحيح كيږي»

تشريح:- مسئله آسانه ده.

په ((بحق الله)) دقسم په انعقادكې اختلاف

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ: إذَا قَالَ وَحَقِّ اللَّهِ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ،(۱) وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى وَإِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى. وَعَنْهُ رِوَايَةٌ أُخْرَى أَنَّهُ يَكُونُ يَمِينًا لِأَنَّ الْحَقَّ مِنْ صِفَاتِ اللَّهِ تَعَالَى وَهُوَ حَقِّيَّتُهُ فَصَارَ كَأَنَّهُ قَالَ وَاللَّهِ الْحَقِّ وَالْحَلِفُ بِهِ مُتَعَارَفٌ. وَلَهُمَا أَنَّهُ يُرَادُ بِهِ طَاعَةُ اللَّهِ تَعَالَى، إذْ الطَّاعَاتُ حُقُوقُهُ فَيَكُونُ حَلِفًا بِغَيْرِ اللَّهِ، قَالُوا: وَلَوْ قَالَ وَالْحَقِّ يَكُونُ يَمِينًا، وَلَوْ قَالَ حَقًّا لَا يَكُونُ يَمِينًا، لِأَنَّ الْحَقَّ مِنْ أَسْمَاءِ اللَّهِ تَعَالَى، وَالْمُنَكَّرُ يُرَادُ بِهِ تَحْقِيقُ الْوَعْدِ.

اوفرمائي امام ابوحنيفه رحمه الله كله چې ووايي قسم دې وى په حق دالله نه دې قسم خوړونكې نه دې اودا دامام محمد رحمه الله قول دې اويوروايت دې دابويوسف رحمه الله نه،اود دوى «ابويوسف رحمه الله نه بل روايت دا دې،چه دا يمين دې،څكه چې حق دالله تعالى دصفاتوڅخنى دې،اودا حقيقت دې.نودا داسې شولكه چې دې ووايي قسم دې وى په الله چې حق دې،اوپه دې الفاظوباندې قسم «په خلګ وكې» متعارف «اومروج» دې.اود طرفين رحمهما الله دليل دا دې.چه اراده كولاى شى په حق سره طاعت دالله تعالى،څكه چې طاعات دالله

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(٣٥٨٠١٤) والهندية (٥٢\٢) وخلاصة (١٢٦\٢) ورد المحتار (٦٢\٣) نقلاً عن القول الراجح (٤٠٨/١)-

تعالى حقوق دي.نودا قسم په غيرالله شو. «اوقسم په غيرالله نه صحيح كيږي.دغه ډول دا هم نه صحيح كيږي» عالمانوفرمائلي دي.اوكه ووايي ((والحق)) نودا يمين دې اوكه ووايي ((حقا)) نودا يمين نه دې،ځكه چې
حق دالله تعالى د نومونوځنى دې.اوحق چې نكره ذكرشي.نوددې نه تحقيق دوعدۀ مراد وي.

تشريح:- ((**وحق الله فليس بحالف**)) په دې مسئله كې دوې [دوه] مذهبه دي.چه يوكس قسم اوكړي.چه زما دې په حق قسم وي.نوپه دې باندې قسم كيږي اوكه نه،نود طرفينوﷺ په نيزدا قسم نه دې.ځكه چې دا لفظ دالله تعالى په صفاتوكي نه دې.اوداامام ابويوسفﷺ نه دوې [دوه] روايتونه دي.يوروايت خود طرفينوموافق دې اوپه بل روايت كې فرمائى.چه يمين پرې منعقد كيږي.ځكه چې حق دالله تعالى په صفتونوكې يوصفت دې.اوطرفين ﷺفرمائى.چه كله حق ذكرشي.نوددې نه مراد دالله تعالى هغه حقوق وي.كوم چې دالله تعالى د اړخه په بندګانوباندې وي.لكه لمونځ روژه حج وغيره.اودالله تعالى حقوق دالله تعالى صفات نه دي.ځكه پرې قسم نه كيږي.

((**قال ولوقال والحق**)) يعنى عالمانود امامانوپه مينځ كې چې كوم اختلاف كړې دې.په دې كې ئې تطبيق كړې دې.چه په ((والحق)) سره قسم منعقد كيږي.ځكه چې دا دالله تعالى صفت دې.اوپه((حقا)) باندې يمين نه صحيح كيږي.ځكه چې دا دتاكيد لپاره راځي.

((**والمنكريرادبه تحقيق الوعد**)) «چه په كوم كلام كنبې دحقاً لفظ استعمال شي.نوپه دې سره ددغه كلام تاكيد مراد وي لكه الله تعالى چې په قرآن پاك كې فرمائيلي دي.كله ورته شيطان اووئيل.چه زه به ستا واړه بندګان كمراه كوم.نوالله تعالى ورته اوفرمائيل.((فالحق والحق أقول)) يعنى ته هم په يقين سره خبره كوې.خوزه هم درته ټوقې نه كوم.بلكه په يقين سره درته وايم.چه ((لَأَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ)) نوګوره دلته الله تعالىٰ د حق كلمه د تاكيد لپاره استعمال كړې ده.

(وَلَوْقَالَ أُقْسِمُ أَوْأُقْسِمُ بِاللّٰهِ أَوْأَحْلِفُ أَوْأَحْلِفُ بِاللّٰهِ أَوْأَشْهَدُ أَوْأَشْهَدُ بِاللّٰهِ فَهُوَحَالِفٌ) لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظَ مُسْتَعْمَلَةٌ فِي الْحَلِفِ وَهٰذِهِ الصِّيغَةُ لِلْحَالِ حَقِيقَةً وَتُسْتَعْمَلُ لِلْإِسْتِقْبَالِ بِقَرِينَةٍ فَجُعِلَ حَالِفًا فِي الْحَالِ، وَالشَّهَادَةُ يَمِينٌ، قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى {قَالُوانَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللّٰهِ} ثُمَّ قَالَ {اِتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً} وَالْحَلِفُ بِاللّٰهِ هُوَالْمَعْهُودُ الْمَشْرُوعُ وَبِغَيْرِهِ مَحْظُورٌ فَصُرِفَ إِلَيْهِ. وَلِهٰذَا قِيلَ لَا يَحْتَاجُ إِلَى النِّيَّةِ. وَقِيلَ لَابُدَّ مِنْهَا لِاحْتِمَالِ الْعِدَةِ وَالْيَمِينِ بِغَيْرِاللّٰهِ.

حل اللغة: ① جنة: ډهال ② اتخذوا: دوى نيولى دى صيغه د جمع غائب ③ محضور: ناروا،ناجائز ④ العدة: وعده ⑤ المشروع: مشروع شوې جائز شوې

ژباړه:- اوكه ووايي چې زه قسم كوم يا ووايي قسم كوم په الله باندې او حلف اوچتوم يا حلف اوچتوم په الله باندې اويا ګواهى كوم يا ګواهى كوم په الله باندې «نوپه دې ټولو صورتونوكنبې» دې قسم كونكې دې.ځكه چې دا الفاظ مستعمل دى په قسم كې ،اودا صيغه «داقسم وغيره» په «زمانه» حال كې حقيقت دې. «ځكه چې ذكرشي.نوبغيردڅه قرينه نه ترې زمانه حال مراد وي»اواستعماليږي په مستقبل «راروانه زمانه» كې په قرينه سره، «مثلاًچه سين يا سوف ئې په اول كې راشي» نوګرځولې به شى دې قسم كونكې فى الحال،اوشهادت قسم دې «دليل پرې دا دې.چه» الله تعالى فرمائيلي دى. «منافقان وانى.چه» موږ ګواهى كوو چې ته د الله پيغمبر ئې. «ددوې ددې وينا نه پس» الله تعالى بيا فرمائى.دوى خپل قسمونه ډال ګرځولې دې. «اوبه دې قسمونو باندې خپل نفاق ستاسونه پټوى» اوقسم كول په الله تعالى باندې هم دا معلوم او مشروع دې.اوپه غيردالله تعالى باندې حرام دې.نواړولې به شى دې «مشروع ته چې قسم په نوم دالله تعالى دې» اودې امله «چه مطلق قسم به دالله تعالى په نوم قسم كولوته اړولې شى» ونيلې شوى دى چې احتياج نشته نيت ته، «په لفظ داقسم وغيره كې بلكه په ذكرشوو الفاظوكې لفظ هم ذكركړى.كه نيت ئې وى اوكه نه وى.قسم منعقد شو» اووئيلې شوى دى چې نشته مخلص

د نيت نه،د امله داحتمال د وعدې اويمين په غيرالله باندې.

تشريح:- ((لان هذه الالفاظ)) يعنى كوم الفاظ چې په متن كې ذكردى.په شريعت اوعرف دواړوكې دا په الله تعالى باندې دقسم لپاره استعماليږي.نوپه دې باندې قسم منعقد كيږي.كه ده نيت دقسم كړې وى اوكه نه وى كړې.

((وهذه الصيغة للحال)) دا د سوال مقدرځواب كيداې شي.هغه دا چې دا صيغې د ((أقسم اوأحلف اواشهد)) د حال اومستقبل دواړو لپاره استعماليږي.نوچه يوكس اووائي.((أقسم بالله)) ددې معنى دا هم كيداې شي.چه زه فى الحال په الله تعالى باندې قسم كوم.اودا احتمال په كې هم شته.چه زه به په مستقبل كې په الله تعالى باندې قسم كوم.نومصنفﷺاوفرمائيل.اګرچه دا الفاظ د حال اومستقبل دواړو احتمال لرى.خودا صيغه د زمانه حال لپاره حقيقت دې اوداستقبال لپاره استماليږي.خوچه قرينه موجود وى.اوقرينه لفظ د سين يا سوف دې.چه په اول دفعل كې راشي.يعنى چې داسې اووائى.((سأقسم بالله يا سوف أقسم بالله)) اودلته قرينه نشته.نود حال لپاره شو.

((والشهادة يمين)) لفظ دشهادت هم قسم دې.اوپه دې باندې دليل دا دې.چه الله تعالى د نبىﷺ د رسالت د صداقت په اړه كې د منافقانوقول چې [قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ]ذكر كوى. منافقانود شهادت لفظ د قسم په طور استعمال كړې دې.اوبيا الله تعالى هم د دوى د شهادت لفظ باندې د قسم اطلاق كړې دې.اوفرمائيلى ئې دى.چه [اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً]يعنى منافقانوخپل قسمونه ﴿چه په صيغه د نشهد سره ئې كوى﴾ د مسلمانانونه د بچ كيدو لپاره ډال جوړ كړې دې.ددې آيت نه معلومه شوه.چه لفظ د شهادت د قسم لپاره استعماليږي.ګنى الله تعالى به د دوى د((نشهد)) لفظ ته د ((يمين)) نوم ولې وركولو.

((والحلف بالله هوالمشروع)) په لفظ داقسم احلف اواشهد كې د ((بالله)) لفظ نه وى.نوبيا هم چونكه دا الفاظ په الله تعالى باندې دقسم خوړلو لپاره معلوم اومقررشوى دى.نوهم دالله تعالى په نوم قسم خوړل به ترې مراد وى.ځكه چې دبل چا په نوم قسم خوړل جائز نه دې.بلكه شرك دې.اومسئله دا ده.چه دمسلمان فعل به چې څومره كيداې شي.په صحيح محمل باندې حمل كولې شى.په غيرالله قسم خوړل به ترې مراد نه وى.

((وقيل لابدمنها)) پاتې شوه دا خبره چې صرف په ((أقسم يا أحلف يا اشهد)) كې په الله تعالى باندې د قسم كولونيت ضرورى دې.كه بغيرنيته به دا قسم وى.نوپه دې كې دوې [دوه] مذهبه دى.يودا چې ارتيا نشته.اوبل دا چې ارتيا ځكه شته.چه په اقسم كې دا احتمال هم موجود دې.چه دا صيغه دحال او استقبال دواړو لپاره استعماليږي.نو كيداې شي.چه ددې نه وعده كول مراد وى.چه زه قسم كوم چې په مستقبل اوآئنده كې به زه داسې كوم.اودا احتمال په كې هم شته.چه په غيرالله باندې قسم وى.نوددې دواړو احتمالاتولرې كاوه لپاره نيت ضرورى دې.

(وَلَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ سوكند ميخورم بخدا يَكُوْنُ يَمِيْنًا) لِأَنَّهُ لِلْحَالِ. وَلَوْ قَالَ سوكند خورم قِيْلَ لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا وَلَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ سوكند خورم بطلاق زنم لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا لِعَدَمِ التَّعَارُفِ. قَالَ: (وَكَذَا قَوْلُهُ لَعَمْرُ اللّٰهِ وَأَيْمُ اللّٰهِ) لِأَنَّ عَمْرَ اللّٰهِ بَقَاءُ اللّٰهِ، وَأَيْمُ اللّٰهِ مَعْنَاهُ أَيْمُنُ اللّٰهِ وَهُوَ جَمْعُ يَمِيْنٍ، وَقِيْلَ مَعْنَاهُ وَاللّٰهُ وَأَيْمُ صِلَةٌ كَالْوَاوِ، وَالْحَلِفُ بِاللَّفْظَيْنِ مُتَعَارَفٌ. (وَكَذَا قَوْلُهُ وَعَهْدُ اللّٰهِ وَمِيْثَاقُهُ) لِأَنَّ الْعَهْدَ يَمِيْنٌ. قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى {وَأَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ} وَالْمِيْثَاقُ عِبَارَةٌ عَنِ الْعَهْدِ

حل اللغة: ① عهدالله: وعده د الله ② ميثاق: محكمه او مضبوطه وعده ③ اوفوا: امر حاضر صيغه دجمعې ده وفا اوكړئ

ژباړه:- ①اوكه ووايې په فارسئ كې چې سوګندميخورم بخدا نومنعقد كيږي دا قسم ځكه چې دا ﴿صيغه﴾ د زمانه حال لپاره ده. ﴿اوپه عربئ كې ددې ژباړه په احلف بالله،، سره كيږي.اوپه صيغه دا حلف قسم منعقد كيږي﴾ ②اوكه ووايې سوګند خورم نو وئيلې شوى دى چې نه منعقد كيږى قسم ﴿ځكه چې لفظ د خورم بغير د ،،مي،، نه د استقبال لپاره استعماليږي.نومعنى ئې دا شوه.چه په راروانه زمانه كې

به قسم خورم.اوښکاره خبره ده.چه په دې قسم نه منعقد کيږی﴾ ③اوکه ووايي په فارسئ کي سوګند خورم بطلاق زنم ﴿يعنی زه قسم خورم په طلاق د ښځې﴾ نونه منعقد کيږی قسم د امله د نشتوالی د رواج نه ﴿په خلګو کي په دې الفاظوباندې د قسم خوړلو رواج نشته.اود قسم په باب کي عرف لره اعتبار دې.ځکه په دې صيغه باندې قسم نه کيږی﴾ علامه مرغينانی رحمه الله فرمائی اودغه ډول ﴿حکم د قسم منعقد کيدو﴾ دده ﴿قائل﴾ د وينا دې. چې ④ ((لعمــرالله)) ⑤او((أيم الله)) ځکه چې عمرالله بقاء دهغه ده. ﴿اوپاته دالله تعالى صفت دې. اوپه صفت باندې قسم کيږی﴾ او«ايم الله» ددې معنی ((د ايمـــن الله)) ده.او((ايمــن)) جمع د يمين ده. ﴿اويمين قسم ته وائی﴾ اووئيلی شوی دی چې معنی ددې ((والله)) ده.او ((ايم)) صله ده.پشان د واو اوقسم خوړل په ﴿دې﴾ دواړو لفظونومتعارف ﴿مروج﴾ دی. ﴿چه خلګ په لعمرالله اوپه ايم الله باندې قسمونه خوری⑥ ﴾اودغه ډول ﴿قسم منعقد کيږی په﴾ قول د ده ﴿قائل﴾ چې ((عهدالله)) ⑦اوپه ((ميثاق الله)) باندې، ﴿په عهدالله باندې منعقد کيږی﴾ ځکه چې عهد يمين دې.الله تعالى فرمائيلی دی،، پوره کړئ وعده دالله تعالى،، اوميثاق عبارت دې د عهد نه ﴿نولکه څنګه چې په عهد باندې قسم منعقد کيږی دغه ډول په ميثاق باندې هم﴾

تشريح:- «**وايم الله صلة كالواو**» يعنی دا ټوله کلمه د قسم د الفاظوځنی ده.لکه څنګه چې د واو کلمه د قسم لپاره ده.که يوسړی اووائی.((والله لاأفعل كذا)) نودده قسم کيږی.ځکه چې واود قسم ئې په کي راوړلو .دغه ډول که يوکس ((وأيم الله لاأفعل كذا)) اووائی.نوهم دده قسم منعقد شو.ځکه چې دا کلمه هم د قسم ده.

(وَكَذَا إِذَا قَالَ عَلَى نَذْرٌ أَوْ نَذْرُ اللّٰهِ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (مَنْ نَذَرَ نَذْرًا وَلَمْ يُسَمِّ فَعَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِينٍ) (١)

ژباړه:- اودغه ډول ﴿حکم دې چې قسم منعقد کيږی﴾ کله چې ووايي په ما باندې نذردې يا په ما باندې دالله تعالى نذردې.د امله د ارشاد د نبی ﷺ نه ،،چا چې نذر اوکړلوپه نذر کاوه سره اوبيان ئې نکړلو.نوپه ده باندې کفاره د قسم ده.

تشريح:- مسئله آسانه ده.

کفرد شرط جزاء ګرځول

(وَإِنْ قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَهُوَ يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ أَوْ كَافِرٌ يَكُونُ يَمِينًا) لِأَنَّهُ لَمَّا جَعَلَ الشَّرْطَ عَلَمًا عَلَى الْكُفْرِ فَقَدِ اعْتَقَدَهُ وَاجِبَ الِامْتِنَاعِ، وَقَدْ أَمْكَنَ الْقَوْلُ بِوُجُوبِهِ لِغَيْرِهِ بِجَعْلِهِ يَمِينًا كَمَا نَقُولُ فِي تَحْرِيمِ الْحَلَالِ.

حل اللغة: ① **علما**: نښه علامه ② **الامتناع**: منع کيدل ③ **امكن**: ممکن ده ④ **تحريم**: حراميول

ژباړه:- اوکه داسې ئې اووئيل.که ده ﴿يعنی ما﴾ فلانی کاراوکړلونودې ﴿يعنی زه﴾ به يهودی يا نصرانی يا کافريم. ﴿که په دې درې واړو الفاظوکښي ئې يولفظ اووئيل.نودا الفاظ د يمين دی﴾ ځکه چې هرکله ده شرط دکفر نښانه اوګرځوله.نوده دهغې نه د بچ کيدو د وجوب اعتقاد اولرلو.اودا ددې نه د منع کيدو د وجوب لپاره دا هم ممکن دی.چه دا واجب لغيره دی.يعنی چې ده قسم اوګرځولو. ﴿نومنع کيدل ترې واجب شو.لکه څنګه چې موږ د حلال څيزپه حراموالی کي وايو. ﴿چه دا يمين دی﴾

تشريح:- «**لانه لما جعل الشرط الخ**» کوم الفاظ چې دې قائل اووئيل.نوپه ظاهره دا د قسم الفاظ نه دی. خو د دې يهوديت يا نصرانيت يا کفرواقع کيدل دی.نوده په خپل قول کي شرط يعنی دکارکول دجزاء يعنی يهوديت وغيره لپاره يوه نښانه اوګرځوله.اويقينی ده چې مسلمان دهرهغه کارنه ځان ژغورل واجب ګڼړی.په کوم چې

---

(١) ...اس رضي الله عنهما أخرجه أبوداود فى الأيمان والنذور باب ٢٥ رقم ٣٣٢٢ وابن ماجه فى الكفارات باب ١٧ رقم ٢١٢٨)_

دې كافر كيږي.نوده چې خپل كاركول دكفر لپاره نښانه اوګرځوله.نودې د دغه كارنه ځان ژغورل ضروري ګڼړي.

«**وقدامكن القول بوجوبه**» يا داسې اووايه.چه كوم كارده د كفر نښانه ګرځولې ده.دهغې نه منع كيدل ددې امله ضروري دی.چه دا الفاظ اګرچه دقسم الفاظ نه دی.خوچونكه قسم په دوې [دوه] قسمه وی.يوقسم داسې وی.چه دهغې دالفاظونه قسم معلوم وی.لكه ((والله لا أفعل كذا)) اوبل قسم هغه وی.چه په ظاهره دغه الفاظ د قسم نه وی.خوپه هغې كي دقسم معنی پرته وی.دې دوهم قسم ته قسم لغيره وائی.لكه په زيربحث صورت كي الفاظ د قسم نه دی.البته معنی دقسم په كي پرده ده.هغه داسې چې په قسم كي مقصد دا وی.چه د كوم څيزنه ئې قسم كړې وی.دهغې نه ځان ژغورل ضروري اوګڼړی.اوپه زيربحث صورت كي هم چې يوكس داسې اووائی.كه ما دا اوكړلو. نوزه دې يهودی يم.دې د دغه كار نه ځان بچ ساتل ضروري ګڼړی.ځكه ئې دا الفاظ اووئيل.

«**كما تقول فی تحريم الحلال**» اودا دوهم قسم چې يمين لغيره دې.ددې مثال ديوحلال څيزحرامول دی. چې يوسړې حلال څيزپه ځان حرام كړی.نودا الفاظ د قسم نه دی.خوچونكه په دې كښې معنی د قسم پرته دد.هغه دا چې لكه څنګه سړې د محلوف عليه دكولونه هم ځان بچ ساتل ضروري ګڼړی.دغه ډول د حرام څيزنه هم ځان ژغورل ضروري ګڼړی.ددې امله دحلال څيزحرامول شريعت يمين ګرځولې دې.

وَلَوْقَالَ ذٰلِكَ لِشَيْءٍ عَقَدَ فِعْلَهُ فَهُوَ الْغَمُوسُ، وَلَا يَكْفُرُ اِعْتِبَارًا بِالْمُسْتَقْبَلِ وَقِيلَ يَكْفُرُ لِأَنَّهُ تَنْجِيزٌ مَعْنًى فَصَارَ كَمَا اِذَا قَالَ هُوَ يَهُودِيٌّ. وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَكْفُرُ فِيهِمَا اِنْ كَانَ يَعْلَمُ أَنَّهُ يَمِينٌ، وَاِنْ كَانَ عِنْدَهُ أَنَّهُ يَكْفُرُ بِالْحَلِفِ يَكْفُرُ فِيهِمَا، لِأَنَّهُ رَضِيَ بِالْكُفْرِ حَيْثُ أَقْدَمَ عَلَى الْفِعْلِ

حل اللغة: ① **تنجيز**: فی الحال جاری كول نافذ كول ② **رضی**: راضی شو

ژباړه:- اوكه دا الفاظ «كه ما دا كاراوكړلو.نوزه دې يهودی وغيره يم» د داسې كارپه اړه كي اووائی. كوم چې ده كړې وی.نودا يمين غموس دې. «كفاره پرې نه لازميږی.بلكه توبه پرې واجب ده» خوپه دې باندې نه كافركيږی.په مستقبل باندې قياس كولې شی.اووئيلې شوی دی چې په دې صورت كي كافر كيږی.ځكه چې ددې معنی د حال ده.د راروانې زمانې نه ده.لكه څنګه چې اووائی.دې يهودی دې. «نوكافركيږی» خوصحيح خبره دا ده.چه په دواړو صورتونوكي نه كافر كيږی.خوپه دې شرط چې ده ته دا علم وی.چه دا يمين دې.اوكه دده دا عقيده وی.چه په دې باندې سړې كافركيږی. «چه په كفرپورې تعليق اوكړی» نوپه دواړوصورتونوكي كافركيږی. «كه ماضی وی اوكه مستقبل وی» ځكه چې دې په كفرباندې راضی شو.ځكه چې دغه فعل ئې اوكړلو. «د كوم كول چې ئې دكفر نښانه اوعلامه ګرځولې وه»

تشريح:- «**اعتباراً بالمستقبل**» يعنی چې يوكارئې په تيره شوې زما كي كړې وی.اودا قسم اوخوری. كه دا كارمې اوكړلو.نوزه به يهودی يم.نوپه دې صورت كي دا يمين غموس شو.خوكافركيږی نه.دده دعدم كفرقياس موږ په هغه صورت كي كوو.چه په هغې كي دې په راروانه زمانه كي ديوكارنه كولوقسم اوخوری.مثلاً داسې اووائی.كه ما فلانی كاراوكړلو.نوزه به كافر يم.اوبيا هغه كاراوكړی.نوپه دغه صورت كي حانث كيږی خوكافركيږی نه.نودغه ډول دلته هم نه كافركيږی.اود ماضی دا صورت په مستقبل باندې ځكه قياس كوو.چه كله په يوڅيزكي شرط راځی.نودهغې جزاء به په مستقبل كي واقع كيږی.نودلته اګرچه ده دغه كار په تيره شوې زمانه كي كړې دې.خوچونكه الفاظ ئې د شرط دی.اوشرط تقاضا كوی د واقع كيدو د جزاء په مستقبل كي .نوددې امله موږ ده باندې د كفرحكم نه لګوو.

«**وقيل يكفرالخ**» په زيربحث صورت كي بعضې عالمانو په دې حالف باندې د كفرحكم لګولې دې. اودليل دا بيانوی.چه دده دا الفاظ دمعنی په اعتبار سره د فی الحال زمانې سره تعلق ساتی.نودا قسم فی الحال نافذ شو.اوحكم پرې مرتب شو.چه كفرد حالف دې.په مستقبل باندې به نشی قياس كولې.اوددې لپاره نظيرشته.ګورئ نه كه يوكس اووائی.چه زه يهودی يم.په څه شرط پورې ئې معلق نكړی.نودې كافر

کیږي.ځکه چې دده الفاظ فی الحال د کفریه معنی دلالت کوي.نودغه ډول په زیربحث مسئله کي کافر کیږي.

په غضب الله اوسخط الله پورې دتعلیق حکم

(وَلَوْقَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ غَضَبُ اللّٰهِ أَوْسَخَطُ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ) لِأَنَّهُ دُعَاءٌ عَلَى نَفْسِهِ، وَلَا يَتَعَلَّقُ ذٰلِكَ بِالشَّرْطِ، وَلِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ (وَكَذَا إِذَا قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا زَانٍ أَوْسَارِقٌ أَوْشَارِبُ خَمْرٍ أَوْآكِلُ رِبًا) لِأَنَّ حُرْمَةَ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ تَحْتَمِلُ النَّسْخَ وَالتَّبْدِيلَ فَلَمْ تَكُنْ فِي مَعْنَى حُرْمَةِ الِاسْمِ، وَلِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُتَعَارَفٍ.

حل اللغة: ① **سارق:** غل ،غلا کونکي ② **زان:** زنا کار ③ **شارب:** څونکي ④ **خمر:** شراب

ژباړه:- اوکه داسې ئې اوونیل.که ما دا کاراوکړلو.نوپه ما دې دالله تعالی غضب یا غصه وی.نودې قسم خوړونکي نه دې.ځکه چې دا خپل خان ته خیرې کول دي. «قسم نه دې» اودا د شرطونوسره څه تعلق نه ساتی.اوبله دا چې «دقسم دانعقاد لپاره عرف هم یودلیل دې.او»دا «په خلګ وکي» غیرمتعارف دي. «یعنی رواج ئې نشته.څوك په دې الفاظوقسم نه خوري» اوداسې حکم ددې هم دې.که اووائی.که ما فلانې کار اوکړلو.نوزه دې زناکار یا غل یا دشرابی یم.نو «په دې صورتونوکي قسم خوړونکې نه ګرځي. »ځکه چې ددې څیزونوحرمت دمنسوخ کیدو اوبدلیدو احتمال لری.نود الله تعالی د نوم د حرمت پشان نشو. «ځکه چې دالله تعالی نوم همیشه لپاره واجب الاحترام دې» اوبله دا چې په دې الفاظو قسم خوړل متعارف نه دې. «یعنی په خلګو کي ئې رواج نشته»

تشریح:- **تحتمل النسخ والتبدیل**» یعنی زنا وغیره دا شیان (څیزونه) د نسخ اوتبدیلۍ احتمال لری.مثلاً یوې ښځې سره د نکاح نه وړاندې وطی کول حرام دی.هم دغه وطی د نکاح نه روسته حلاله ګرځي.دغه ډول په دارالاسلام کي سود حرام دې.اوپه دارالحرب کي د حربی کافرانو سره ددې معامله کول جائزدی.دلته د حرمت د تبدیلۍ اومنسوخ کیدو نه دحالاتو اواشخاصو په اعتبار سره توپیر (تبدیلي) مراد ده.دا مطلب نه دې چه یوڅیزپه نص سره حرام وی.اوهغه بیا حلال شی.ځکه چې د وحی سلسله ختمه شوې ده.دکوموڅیزونوچه قطعی حرمت ثابت شوې دې.په هغې کي توپیر (تبدیلي) اونسخ نه راځي.

دکفاره قسمونه

(فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ) قَالَ (كَفَّارَةُ الْيَمِينِ عِتْقُ رَقَبَةٍ يُجْزِئُ فِيهَا مَا يُجْزِئُ فِي الظِّهَارِ وَإِنْ شَاءَ كَسَا عَشَرَةَ مَسَاكِينَ كُلَّ وَاحِدٍ ثَوْبًا فَمَا زَادَ، وَأَدْنَاهُ مَا يَجُوزُ فِيهِ الصَّلَاةُ وَإِنْ شَاءَ أَطْعَمَ عَشَرَةَ مَسَاكِينَ كَالْإِطْعَامِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ) وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى { فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ } الْآيَةَ، وَكَلِمَةُ أَوْ لِلتَّخْيِيرِ فَكَانَ الْوَاجِبُ أَحَدَ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ.

حل اللغة: ① **کسا:** واغوندی صیغه د مذکرغائب ② **ثوبا:** کالی ③ **ادنا:** معمولی ④ **اطعم:** خوراک دې اوکړی ⑤ **التخییر:** اختیار ورکول

ژباړه:- دا فصل د «دقسم د» کفارې په بیان کي دې.صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.دقسم کفاره د غلام آزادول دی په دې کي هغه څیزکافی کیږي.کوم چې په کفاره دظهارکي کافی کیږي.یا خودې لسومسکینانوته جامې واغوندوی.هریومسکین ته دې یوه جوړه جامې ورکړي.یا که د یوې جوړې نه زیاتې پتیږي» اوکه غواړي نو لسو مسکینانوته دې ډوډۍ ورکړي.لکه څنګه چې په کفاره د ظهارکي دی. «چه لسو مسکینانوته روټې ورکول دی.د آیت داخره پورې «اولوله» اوکلمه د ،،او،، د اختیار لپاره ده. نو «یعنی چې سترعورت پرې لسومسکینانوته ډوډۍ ورکوی» اودې کفاره کي دلیل دالله تعالیٰ دا ارشاد دې.چه ددې «ظهار» کفاره «نوهم بنه خبره ده» او معمولی کالی هغه ده.چه لمونځ په کي جائز کیږي. واجب په درې څیزونوکي یوڅیزدې.

تشریح:- «فی الکفارة» دکفاره لغوی معنی دګناهونوپټونکې اوګناهونو لره پاکونکې ده.اوپه فقهی اصطلاح کفاره هغه عبادت ته وئیلې شی.کوم چې د قسم ماتولوپه صورت کي په قسم ماتونکې باندې واجبیږي.

((وكلمة او للتخيير)) په ايت كې د ظهارپه كفاره كې په كلمه د ،،او،، سره د درې څيزونواختيار وركړې شوې دې. ((فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ)) ياخوبه لسو مسكينانوته ډوډئ وركوي يا به دوى ته جامې وركوي اويا به يوغلام آزادوي.نوپه دې درې واړه څيزونوكي اختياردې.چه كوم غواړي په هغې سره دې كفاره ادا كړي.

قَالَ (فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَحَدِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: يُخَيَّرُ لِإِطْلَاقِ النَّصِّ. وَلَنَا قِرَاءَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ وَهِيَ كَالْخَبَرِ الْمَشْهُورِ

حل اللغة: ① **يقدر**: قادر وي ② **ايام**: جمع د يو ورځ ③ **متتابعات**: پرله پسې

ژباړه:- صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.كه په دې درې څيزونوكي په يوڅيزهم قادر نه وو.نو [د دې په ځائي به] درې ورځې به بلا ناغه روژې اونيسي.اوامام شافعي رحمه الله فرمائي. [چه په بلا ناغه والي اوجلا جلا نيولوكي] ده ته اختياردې. [چه څنګه ئې نيسي جائزدي] ځكه چې نص مطلق دې.او [په بلا ناغه والي باندې] زمونږ دليل د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه قراءت دې.چه ((فصيام ثلاثة أيام متتابعات)) دى.اودا قراءت د خبرمشهوره پشان دې.

تشريح:- ((وقال الشافعي رحمه الله يخير)) امام شافعي فرمائي.چه ده ته اختياردې.كه روژې بلا ناغه نيسي اوكه په مينځ كې په كې وقفه كوي.ځكه چې په قرآن پاك كې د مطلق روژو ذكردې چې ((فصيام ثلاثة أيام)) دې.په دې كې د تتابع ذكرنشته.نوكه په دې باندې مونږ د تتابع قيدزياتي كړلو.دا په كتاب الله باندې زيادت دې.اوپه كتاب الله باندې زيادت جائز نه دې.

((ولنا قراءة ابن مسعود رضي الله عنه)) احناف رحمهم الله چې د تتابع قائل دى.نوپه دې باندې دليل د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قراءت دې.ځكه چې دهغوى په قراءت كې ((فصيام ثلاثة أيام متابعات)) دى.اودا قراءت دخبرمشهور پشان دې.اوقاعده دا ده.چه د خبر مشهور په وجه په كتاب الله باندې زيادت جائز دې.

ثُمَّ الْمَذْكُورُ فِي الْكِتَابِ فِي بَيَانِ أَدْنَى الْكِسْوَةِ مَرْوِيٌّ عَنْ مُحَمَّدٍ. وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ أَنَّ أَدْنَاهُ مَا يَسْتُرُ عَامَّةَ بَدَنِهِ حَتَّى لَا يَجُوزَ السَّرَاوِيلُ، وَهُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّ لَابِسَهُ يُسَمَّى عُرْيَانًا فِي الْعُرْفِ، لَكِنْ مَا لَا يُجْزِيهِ عَنْ الْكِسْوَةِ يُجْزِيهِ عَنْ الطَّعَامِ بِاعْتِبَارِ الْقِيمَةِ.

حل اللغة: ① **الكسوة**: جامې ② **يستر**: پټوي ③ **السراويل**: پرتوګ ④ **عريانا**: لڅ (بربنډ)، لغړ

ژباړه:- بيا په قدورى كتاب كي چې د معمولي جامې كوم ذكرشوې دې.دا دامام محمد رحمه الله نه منقول دې.اود امام ابويوسف اوابوحنيفه رحمهما الله نه دا نقل دى.چه معمولي جامې هغه دى.چه بدن پټوي.كه صرف پايكالي وى.نودا جائز نه دې.اوهم د شيخينو رحمهما الله دا قول صحيح دې.ځكه چې په عرف كي هغه كس ته بربنډ وائي.چا چې صرف پايكالي اغوستي وى.خوچه دكوم مال نه جامې اغستل جائز نه وى.نودهغې نه د ډوډئ قيمت وركول معتبر [صحيح] دى.

تشريح:- ((لكن ما لا يجزيه)) ددې وضاحت داسې دې.كه يوكس سره مثلاً پنځه سوه روپئ وى.خوپه دغه پنځه سوه روپئ صرف پنځه جامې كيږي.حالانكه مسكينان لس دى.بل اړخ ته هم دغه پنځه سوه روپئ دى.چه په دې باندې لس مسكينان مړيږي.نوپه دې صورت كې كه دې دغه پنځه جوړې واخلي.چه قيمت ئې د لسو مسكينانو د ډوډئ سره برابر دې.نودا جائزده.اګرچه په دغه پنځه سوه روپئ دلسومسكينانو جامې نه كيږي.البته بيا دا خبره ده.چه دغه پنځه جوړه جامې دې وركوي.نوپه دې كې دا نيت شرط دې.چه دا پنځه جوړه جامې زه د طعام په ځائې وركوم.كه نه،په دې كې دوې [دوه] روايتونه دى.دامام ابويوسف رحمه الله په نيزبه كي دا نيت كول ضروري دې.كه نيت اونكړي.نوجائزنه دې.

دحنث نه وړاندې دكفاره وركولو حكم

(وَإِنْ قَدَّمَ الْكَفَّارَةَ عَلَى الْحِنْثِ لَمْ يُجْزِهِ) وَقَالَ الشَّافِعِي: يُجْزِيهِ بِالْمَالِ لِأَنَّهُ أَدَّاهَا بَعْدَ السَّبَبِ وَهُوَ الْيَمِينُ فَأَشْبَهَ التَّكْفِيرَ بَعْدَ الْجُرْحِ. وَلَنَا أَنَّ الْكَفَّارَةَ لِسَتْرِ الْجِنَايَةِ وَلَا جِنَايَةَ هَاهُنَا، وَلَيْسَتْ بِسَبَبٍ لِأَنَّهُ مَانِعٌ غَيْرُ مُفْضٍ، بِخِلَافِ الْجُرْحِ لِأَنَّهُ مُفْضٍ. ثُمَّ لَا يَسْتَرِدُّ مِنَ الْمِسْكِينِ لِوُقُوعِهِ صَدَقَةً.

حل اللغة: ① **الحنث:** د قسم ماتول ② **التكفير:** كفاره وركول ③ **الجناية:** ګناه ④ **منفض:** جاري كونكي ⑤ **الجرح:** زخم ⑥ **يسترد:** واپس اخستل

ژباړه:- اوكه حالف د حانث كيدونه وړاندې كفاره وركړله.نوجائزنه ده.اوامام شافعي رحمه الله فرمائي.چه دمال نه كفاره وركول جائزدي. ﴿اګرچه د حنث نه ئې وړاندې كړي﴾خكه چې ده كفاره دسبب نه روسته ادا كړه. اوسبب ئې يمين دې.نود حنث نه وړاندې كفاره وركول هغه كفارې سره مشابه شو.كومه چې د زخم نه روسته وركړې شي.او زمونږداحنافودليل دادې.چه دكفاره وجوب د ګناه پټولو لپاره ده. ﴿چه كفاره وركړي.اوګناه ئې پټه شي﴾ اودلته خو ګناه نشته. ﴿خكه چې صرف په يمين منعقده خوړلوكي ګناه نشته.ګناه خوهله وي.چه حانث شي﴾ اوكه يمين خود كفاره سبب نه دې. ﴿لكه څنګه چې امام شافعي رحمه الله فرمائي﴾ خكه چې يمين حالف د محلوف عليه د كاوه نه منع كوي. ﴿چه هغه كاراونكړي.دكوم نه چې ئې قسم خوړلې وي﴾ اوقسم دهغه كاركولوته اماده كونكي نه دې.د كوم نه چې ئې قسم خوړلې وي. ﴿حالانكه سبب خود مسبب واقع كيدو ته مفضي وي.يعنى هغه حكم كيږي.چه دكوم سبب موجود شي﴾ په خلاف د زخم خكه چې زخم هلاكت ته مفضي وي.بيا چې مسكين ته كفاره قيمت وركړي.هغه ترې واپس نشي اخستې.خكه چې هغه صدقه شوه.اوصدقه نه واپس كيږي.

تشريح:- ((**فاشبه التكفيربعدالجرح**)) امام شافعي رحمه الله دا فرمائي.كه د حانث كيدونه وړاندې كفاره وركړي. نو دا كفاره وركول جائزدي.اوددې مسئلې قياس دديت په مسئله كوي.مثلاً د زيد دلاسه يوكس په خطا سره زخمي شو.اوهغه زخم داسې سخت وو.چه دا دهغه دمرګ سبب جوړيدې شو.اوس كه زيد د هغه دمرګ نه وړاندې كفاره وركړله.اوبيا هغه هم د دغه زخم نه مړشو.نود ده دغه كفاره وركول صحيح دی.دغه ډول دلته په يمين كي هم كه د حنث نه وړاندې كفاره وركړي.نوجائزده.

((**بخلاف الجرح**)) په دې عبارت سره دامام شافعي رحمه الله د قياس نه خواب وركوي.چه د يمين په مسئله باندې د زخم مسئله قياس كول صحيح نه دی.خكه چې زخم سخت وي.نوهغه د مرګ سبب جوړيدې شي. اويمين د محلوف عليه كولوته مفضي نه دې.بلكه د هغې نه منع كونكي دې.نويوداسې څيزچه مفضي نه وي په داسې څيزقياس كول.چې مفضي وي قياس مع الفارق دې.اوداسې قياس صحيح نه وي.

((**ثم لايستردمن المسكين**)) بالفرض كه يوكس دحنث نه وړاندې دقسم كفاره وركړله.نوداحنافو رحمهم الله په نيز دغه كفاره ادا نشوه.نواوس مسئله دا ده.چه آيا كوم فقيرته چې ئې كفاره وركړې وي.هغه ترې واپس اخستې نشي.نومسئله دا ده.چه هغه ترې خكه واپس نشي اخستې.چه هغه صدقه شوه.اوصدقه واپس كول په شريعت كي صحيح نه دی.

په ګناه باندې دقسم كولوحكم

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ عَلَى مَعْصِيَةٍ مِثْلَ أَنْ لَا يُصَلِّيَ أَوْ لَا يُكَلِّمَ أَبَاهُ أَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلَانًا يَنْبَغِي أَنْ يُحْنِثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ وَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ثُمَّ لِيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ} (١) "وَلِأَنَّ فِيمَا قُلْنَاهُ تَفْوِيتُ الْبِرِّ إِلَى جَابِرٍ وَهُوَ الْكَفَّارَةُ وَلَا جَابِرَ لِلْمَعْصِيَةِ فِي ضِدِّهِ.

حل اللغة: ① **معصية:** ګناه ② **تفويت:** فوت كول ③ **البر:** نيكي ④ **ينبغي:** پكار دی مناسب دی

(١) حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه مسلم في الأيمان والنذور رقم ١٣)_

ژباړه:- قدوري رحمه الله فرمائي. كه يوكس په ګناه باندې قسم اوخوري مثلاً دا چې لمونځ به نه كوي. اويا خپل پلارسره به خبرې نه كوي، يا فلانې به قتلوي. نوپكار ده چې ځان حانث كړي. اودخپل قسم كفاره وركړي. ځكه چې د نبي ﷺ ارشاد دې. چا چې په يوخيزباندې قسم اوخوړلو. اوبيا ئې بل خيزدهغې نه ښه اوليدلو. نوهغه كاردې اوكړي. كوم چې غوره وي. اوبيا دې دخپل قسم كفاره وركړي. اوبله دا چې كومه خبره موږ اوكړله. ﴿چه ځان دې حانث كړي. اوكفاره دې وركړي﴾ نوپه دې كې دكفاره په ادا كاوه دنقصان تلافي كيږي. ﴿دنقصان نه مراد د قسم ماتول دي﴾ اوكه ددې خلاف عمل اوكړي. ﴿يعني دغه ګناه اوكړي. دكومې دكولوچه ئې قسم خوړلې دې﴾ نوپه دې كې دنقصان تلافي اوپوره كول نشته. ﴿بلكه دغه خو سراسر نقصان دې﴾

تشريح:- ((ولان فيما قلنا تفويت البر)) يعني ده ته چې د قسم ماتولو اوكفاره وركاوه حكم كولې شي. نودا په دې باندې غوره ده. چه په دې كې د قسم په ماتولوكې چې دالله تعالى دنوم كوم هتك شوې دې. د كفاره په ادا كولوسره دهغې تدارك اوتلافي كولې شي. اوكه دې د ګناه دغه كارونه اوكړي. نوبه دې كښې دنقصان نه سوا بل څه نشته.

دكافردقسم اوكفارې حكم

(وَإِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ كُفْرِهِ أَوْ بَعْدَ إِسْلَامِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلْيَمِينِ لِأَنَّهَا تُعْقَدُ لِتَعْظِيمِ اللَّهِ تَعَالَى، وَمَعَ الْكُفْرِ لَا يَكُونُ مُعَظِّمًا وَلَا هُوَ أَهْلُ الْكَفَّارَةِ لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ.

ژباړه:- اوكله چې كافرقسم اوخوري. اوبيا هم دكفرپه حالت كې حانث شي. يا داسلام نه روسته حانث شي. ﴿يعني قسم مات كړي﴾ نوپه ده باندې كفاره نشته. ځكه چې ﴿دقسم خوړلوپه وخت كې﴾ دې د يمين اهل نه وو. ځكه چې قسم دالله تعالى دتعظيم لپاره خوړلې شي. اوچه كافروي نوده كې دتعظيم صلاحيت نشته. او ﴿كفاره پرې هم نه لازميږي. ځكه چه﴾ دې دكفارې اهل نه دې. ځكه چې كفاره عبادت دې. ﴿كافردعبادت اهل نه دې. اول به ترې مطالبه دايمان كولې شي. بيا روستو نوروفروعي احكامو﴾

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتو نه مطلب واضح دې.

دحلال خيزحرامولوحكم

(وَمَنْ حَرَّمَ عَلَى نَفْسِهِ شَيْئًا مِمَّا يَمْلِكُهُ لَمْ يَصِرْ مُحَرَّمًا وَعَلَيْهِ إِنْ اسْتَبَاحَهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ: لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِأَنَّ تَحْرِيمَ الْحَلَالِ قَلْبُ الْمَشْرُوعِ فَلَا يَنْعَقِدُ بِهِ تَصَرُّفٌ مَشْرُوعٌ وَهُوَ الْيَمِينُ. وَلَنَا أَنَّ اللَّفْظَ يُنْبِئُ عَنْ إِثْبَاتِ الْحُرْمَةِ، وَقَدْ أَمْكَنَ إِعْمَالُهُ بِثُبُوتِ الْحُرْمَةِ لِغَيْرِهِ بِإِثْبَاتِ مُوجِبِ الْيَمِينِ فَيُصَارُ إِلَيْهِ، ثُمَّ إِذَا فَعَلَ مِمَّا حَرَّمَهُ قَلِيلًا أَوْ كَثِيرًا حَنِثَ وَوَجَبَتْ الْكَفَّارَةُ وَهُوَ الْمَعْنَى مِنْ الِاسْتِبَاحَةِ الْمَذْكُورَةِ لِأَنَّ التَّحْرِيمَ إِذَا ثَبَتَ تَنَاوَلَ كُلَّ جُزْءٍ مِنْهُ.

حل اللغة: ① حرم: حرام كړل ② استباح: مباح ګرځول ③ تحريم: حرامول ④ اعمال: عمل وركول ⑤ ينبئ: اګاه كوي ⑥ تناول: شامليږي ⑦ جزء: برخه

ژباړه:- اوچا چې په خپل ځان باندې يوخيزحرام كړل. چه دې ئې مالك وو. نوهغه په ده باندې نه حراميږي. اوكه ﴿دحرامولونه روسته ئې﴾ هغه مباح كړلو. ﴿يعني استعمال ئې كړلو﴾ نوپه ده باندې دقسم كفاره ده. اوامام شافعي رحمه الله فرمائي. چه په ده كفاره نشته. ځكه چې د حلال شي حرامول دشريعت حكم الټه كول دي. نوپه دې باندې به داسې تصرف نه منعقد كيږي. كوم چې جائز وي. چه قسم دې. اوزموږ داحنافو رحمهم الله دليل دا دې. چه ددې لفظ نه حرمت ثابتيږي. اودشريعت د مخالفت نه بغير په دې عمل كول ممكن دې. چه دغه حلال خيزديوبل شي د امله حرام كړې شي. اوهغه ديمين په تقاضا باندې عمل كول دي. ﴿چه حرمت دې﴾ نوحرمت به ثابت شي. اوبيا كوم خيزئې حرام كړې وي. هغه اوكړي كه لږ اوكه ډير ﴿په دواړو صورتونوكې﴾ دې حانشيږي. او كفاره واجبيږي. اوپه كتاب كې چې كوم استباحت ذكردې ددې نه هم دا

مراد دي.ځکه چې کله تحريم ثابت شي.نوهغه حرمت د ځيزهرجزء ته شامليږي. ﴿نوکه په کم مقدارکي هغه کاراوکړي اوکه په ډيرپه دواړو صورتونوکي حانثيږي﴾

تشريح:- «**لانه قلب الموضوع**» امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه دحلال ځيزحراملولوباندې يمين نه منعقد کيږي. ځکه چې دشريعت حلال شوي ځيزحراملول دشريعت خلاف حکم دي.نوپه دې باندې به داسې حکم نه ثابتيږي.چه هغه جائزوي.اوهغه جائزحکم د قسم خوړل دي.ځکه که داسې اوشي.نودا خوبه د يو ناجائز کارنه جائزحکم پيدا شي.اودا قلب موضوع ده.

«**وقد امكن اعماله**» ددې عبارت مفهوم دا دې.چه مونږدا منو.چه دحلال ځيزحراملول د شريعت د اصولونه خلاف کاردې.ځکه چې حرامول اوحلالول دالله تعالى صفت دي.انسان يوځيزحراملي اوحلالوالي نشي.البته چې موږ د قائل الفاظوته ګورو.نوددې الفاظو تقاضا دا ده.چه دغه ځيزدې حرام شي.ځکه چې د يوعاقل بالغ خبره به د لغويت نه بچ شي.نواوس په دې ځائې کي دوې [دوه] خبرې جمع شوې يود شريعت حکم چې حلت دي.اوبل د قائل دالفاظوحکم چې حرمت دي.نوموږ راولګيدو.داسې يوه طريقه مو اختيارکړه.چه نه سيخ اوسوزي اونه کباب،يعني چې د شريعت حکم هم بدل نشي.اودقائل قول هم لغو نشي.هغه طريقه دا ده.چه حرمت په دوې [دوه] قسمه دې.يوحرمت لذاته دې اوبل حرمت لغيره دې.نوموږ دا منوچه دغه ځيزچه قائل حرام کړي دي.دا حرام لذاته دي.خود قسم د امله حرام لغيره هم دي.نوهم يوځيزحرام او حلال دواړه شو.خود ذات اودغيرپه اعتبار سره،ددې مثال به داسې وي.چه بيع مباح ده.خوچه کله د جمعې په ورځ د جمعې لپاره اذان اوشي.نوخرخول اخستل حرام شي.نوګوره هم يوځيزچه بيع ده.مباح لذاته ده.خوحرام لغيره ده.اوهغه غيرد جمعې لمانځه ته تلل دي.هم دغه ډول په زيربحث مسئله کي يوځيزحلال لذاته دې اوحرام لغيره شو.

د «كل حل على حرام» حكم

(وَلَوْقَالَ كُلُّ حِلٍّ عَلَيَّ حَرَامٌ فَهُوَعَلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ غَيْرَذٰلِكَ) وَالْقِيَاسُ أَنْ يَحْنَثَ كَمَا فَرَغَ لِأَنَّهُ بَاشَرَفِعْلًا مُبَاحًا وَهُوَالتَّنَفُّسُ وَنَحْوُهُ،هٰذَاقَوْلُ زُفَرَرَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى .وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ أَنَّ الْمَقْصُودَوَهُوَالْبِرُّلَايَحْصُلُ مَعَ اعْتِبَارِالْعُمُومِ،وَإِذَا سَقَطَ اعْتِبَارُهُ يَنْصَرِفُ إِلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ لِلْعُرْفِ فَإِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ فِيمَا يَتَنَاوَلُ عَادَةً.

حل اللغة: ① **ينوى**: نيت کوى ② **باشر**: ګډون کول ③ **التنفس**: ساه اخستل ④ **يتحصل**: حاصليږي ⑤ **سقط**: اوغوزيدل ⑥ **ينصرف**: اړولې شي

ژباړه:- اوکه يوکس داسې اووائي.چه هرحلال ځيزپه ما باندې حرام دي. ﴿نواګرچه دا عام لفظ دې په دې کي هرځيز داخل شو.خوبيا هم هرځيزېږ نه حراميږي.بلکه﴾ د دې ځخه به دخوراك ځکاك شيان (ځيزونه) مراد وي.البته دا ده.که ددې دواړه قسمه ځيزونونه علاوه هم ده په نيت کي راوستې وي. ﴿نوهغه به په کي هم داخل وي.مثلاً دا چې زه به دفلانى کورته نه داخليږم.نودا هم يوحلال کاردې.خوکه ده ئې نيت کړې وي.نودا به په کي هم ګډ وي.دا حکم چې ددې ځخه به صرف د خوراك ځکاك شيان (ځيزونه) مراد وي. استحسانى حکم دې﴾ اودقياس تقاضا دا ده.چه ځنګه دې ددې قول نه فارغ شي.نودې به حانثيږي.ځکه چې ﴿د دې قول نه روسته سمدستي﴾ ده يو مباح فعل اوکړلو ﴿چه ده لپاره جائزوو﴾ چې ساه اخستل يا بل څه ﴿مثلاً قدم اخستل﴾ دې.اودا ﴿چه ددې نه روسته دستي قائل حانثيږي﴾ د امام زفر رحمه الله قول دې.خود استحسان وجه دا ده.دقسم اصلى مقصد دهغې پوره کول وي. ﴿چه محلوف عليه کاراونشي.اوقسم مات نشي﴾ اودا مقصود ﴿چه د قسم نه ماتيدل دي﴾ په دې صورت کي نه حاصليږي.که موږ ددې نه عامه معنى واخلو. ﴿نومونږددې عامه معنى وانخستله﴾ اوهرکله چې د دې قول عموم ساقط شو.نوددې ځخه به صرف دخوراك ځکاك شيان (ځيزونه) مراد وي.دعرف د وجې.ځکه په عرف کي داسې لفظ دخوراك ځکاك د ځيزونو لپاره استعماليږي. ﴿اودقسم په باب کي عرف لره

اعتبار شته.نو ددې څخه به صرف دخوراك څكاك شيان (څيزونه) مراد وي.كه ددې نه علاوه بل مباح كار اوكړي.نو نه به حانثيږي»

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

په ((هل حل علي حرام)) كې دښځې د شموليت حكم

وَلَا يَتَنَاوَلُ الْمَرْأَةَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ لِإِسْقَاطِ اعْتِبَارِ الْعُمُومِ وَإِذَا نَوَاهَا كَانَ إِيلَاءً وَلَا تُصْرَفُ الْيَمِينُ عَنِ الْمَأْكُولِ وَالْمَشْرُوبِ، وَهَذَا كُلُّهُ جَوَابُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَمَشَايِخُنَا قَالُوا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ عَنْ غَيْرِ نِيَّةٍ لِغَلَبَةِ الِاسْتِعْمَالِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى، وَكَذَا يَنْبَغِي فِي قَوْلِهِ حَلَالُ بروي حَرَامٌ لِلْعُرْفِ. وَاخْتَلَفُوا فِي قَوْلِهِ هرچه بردست راست كيرم بروي وَحِيَارُ أَنَّهُ هَلْ تُشْتَرَطُ النِّيَّةُ وَالْأَظْهَرُ أَنَّهُ يُجْعَلُ طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ نِيَّةٍ لِلْعُرْفِ.

حل اللغة: ① **يتناول**: شامليږي ② **اسقاط**: ساقطول ③ **ايلاء**: د بي بي سره د نزيكت نه قسم خوړل

ژباړه:- اودا قول «چه هرڅيزيه ما حرام دې» ښځې ته نه شامليږي. «چه ښځه پرې حرامه شي» البته كه نيت ئې كړې وي. «نوبيا پرې طلاقيږي» څكه په كې نه شامليږي.چه ددې قول دعموم اعتبار ساقط شوې دې «لكه څنګه چې په مخكني متن كې بيان شو» اوچه د ښځې نيت ئې كړې وي. «چه دا دې هم په ما باندې حرامه وي» نودا ايلاء شوه. «نوچه څه حكم دايلاء وي.هغه به ددې وي.اودا خبره وړاندې ثابته شوه.چه د حلال څيزحرامول يمين دې.نو» قسم به د خوراك اوڅكاك د څيزونونه نشي اړولې.اودا څه چې ذكرشول.واړه د ظاهر روايت حكم دې.اوزموږ مشائخو ﷭فرمائيلي دي.چه په دې قول باندې «چه هرحلال شي په ما حرام دې» د نيت نه بغير طلاق واقع كيږي.څكه چې ددې قول استعمال په طلاق كې غالب دې. «خلګ چې دحرام ذكراوكړي.نولكه څنګه ترې دخوراك څكاك شيان (څيزونه) مراد وي.دغه ډول ترې ښځه هم مراد وي» اود مشائخويه دې قول باندې فتوى ده. «څكه چې په دې كې احتياط دې» اودغه ډول حكم د دې الفاظو هم دې چې ((بروے حرام)) يعني چې په فارسئ كې اووائي.حلال څيزيه دہ «يعني په ما» حرام دې. «نويه دې باندې هم طلاق واقع كيږي» څكه چې په عرف كې د دې استعمال دطلاق لپاره دې. اوعالمانو ﷭ دقائل ددې قول په حكم كې اختلاف كړې دې.چه په فارسئ كې اووائي.هرچه بردست راست كيرم بروى حرام يعني كوم څيزچه ماپه ښى لاس كې ذى.هغه دې په ما حرام وي.چه په دې كې به «دطلاق واقع كيدو دپاره» نيت شرط وي اوكه نه.خواظهرروايت هم دا دې.چه دنيت نه بغيربه هم طلاق واقع كيږي.دعرف د امله «څكه چې په عرف كې په دې كلام كې بغيردنيت نه طلاق دا وي»

تشريح:- ((ولاتصرف اليمين)) چې يوكس اووائي.لكه څنګه چې ددې قول د عموم نه نورڅيزونه مستثنى كړې شول.لكه ساه اخستل دغه ډول دې ترې دخوراك څكاك شيان (څيزونه) هم مستثنى كړې شي.د دوؤ وجوهو نه يوخو په عرف كې چې كله د حرمت ذكراوشي.نومراد ترې د خوراك څكاك شيان (څيزونه) وي.دويمه دا چې ددې قول دعموم اعتبار ساقطولو په وجه موږ ددې نه نورشيان (څيزونه) اوويستل.لكه ساه اخستل وغيره نوكه دغه ډول ددې نه دخوراك څكاك شيان (څيزونه) هم اوباسو.نوبيا خوكلام لغو شو.څكه چې په دې باندې نه د خوراك څكاك شيان (څيزونه) حرام شول.اونه نورشيان (څيزونه).حالانكه دا خبره دعقل نه خلاف ده.

(وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مَنْ نَذَرَ وَسَمَّى فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِمَا سَمَّى}(١) (وَإِنْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ الشَّرْطُ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ) لِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ، وَلِأَنَّ الْمُعَلَّقَ بِالشَّرْطِ كَالْمُنَجَّزِ عِنْدَهُ وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ

---

١)غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج أحاديثاً في وجوب الوفاء بالنذر منها حديث عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من نذر أن يطيع الله فليطعه ومن نذرأن يعصى الله فلا يعصه أخرجه البخاري في الأيمان باب ٢٨ وأبوداود في الإيمان باب ١٩ والترمذي في النذور باب ٢ والنسائي في الأيمان باب ٢٧ وابن ماجه في الكفارات باب ١٦ والدارمي في النذور باب ٣ ومالك في النذور رقم ٨ وأحمد في المسند ٣٦/٦)_

أَنَّهُ رَجَعَ عَنْهُ وَقَالَ: إِذَا قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ حَجَّةٌ أَوْ صَوْمُ سَنَةٍ أَوْ صَدَقَةُ مَا أَمْلِكُهُ أَجْزَأَهُ مِنْ ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ يَمِينٍ. وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ

حل اللغة: ① **الوفاء**: تمام (پوره) کول ② **علق**: تړل، زوړندول ③ **المنجز**: نافذ کیدونکي ④ **رجع**: واپس شوي وو ⑤ **حجة**: دلیل

ژباړه: - اوچا چي مطلق نذراومنلو.نوبه ده باندې دهغې پوره کول واجب دی.ځکه چي د نبیﷺ ارشاد دې .چا چي نذراوکړلو.اوهغه نذرئي متعین کړلو. «چه مثلا په مادې دالله تعالی لپاره یوه روژه وی» نوبه دې باندې ددغه نذرپوره کول واجب دی.اوکه په یوشرط پورې ئي نذرمعلق کړلو. «مثلاً که زه په امتحان کي پاس شوم.نوبه ما دې یوه ورځ روژه نذروی» نوچه شرط موجود شی. «لکه کوم زموږ په ورکړی مثال کي چي روژه ده» نوبه ده باندې ددغه نذر پوره کول واجب شو.ځکه چي دحدیث په اطلاق کي دا هم داخل دی.او «ددې امله به هم نذر معلق پوره کوی.چه» د امام ابوحنیفهؒ په نیزنذرمعلق دنذرمطلق پشان دې. «نولکه څنګه چي نذرمطلق په مطلق نذرسره واجبیږی.دغه ډول نذرمعلق هم واجبیږی.د نذرمطلق او ذرمعلق د یوشان والی خودامام ابوحنیفهؒ نه یوروایت دې.البته» دامام ابوحنیفهؒ نه دا هم نقل دی.چه دوی دخپل دې قول نه « چي نذرمعلق دنذرمطلق پشان دې» رجوع کړې ده.اوامام اعظمؒ فرمائیلی دی.چه یوکس دا اووائی.که ما فلانې کاراوکړلو.نوبه ما دې حج یا روژه یا دیوکال روژې یا دهغه څیزصدقه واجب وی. کوم چي زه مالك یم.نوبه دې «څلورو واړو صورتونوکي» ده لپاره دقسم کفاره کافي کیږی. «که د قسم کفاره ورکړی.اودغه شیان (څیزونه) اونکړی.نوغاړه ئي نیولي نه ده»اودا دامام محمدؒ قول دې.

تشریح: - د ژباړې اواضافي قیوداتونه مطلب واضح دې.

وَيَخْرُجُ عَنِ الْعُهْدَةِ بِالْوَفَاءِ بِمَا سَمَّى أَيْضًا. وَهَذَا إِذَا كَانَ شَرْطًا لَا يُرِيدُ كَوْنَهُ لِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْيَمِينِ وَهُوَ الْمَنْعُ وَهُوَ بِظَاهِرِهِ نَذْرٌ فَيَتَخَيَّرُ وَيَمِيلُ إِلَى أَيِّ الْجِهَتَيْنِ شَاءَ، بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ شَرْطًا يُرِيدُ كَوْنَهُ كَقَوْلِهِ إِنْ شَفَى اللهُ مَرِيضِي لِانْعِدَامِ مَعْنَى الْيَمِينِ فِيهِ وَهَذَا التَّفْصِيلُ هُوَ الصَّحِيحُ.

حل اللغة: ① **یمیل**: میلان کوی ،رغبت کوی ② **جهتین**: دوي [دوه] طرفونه ③ **شفی**: شفا ورکړه صحت ورکړو

ژباړه: - اودغه ډول که هغه شی پوره کړی.دکوم چي ئي نذرکړې وی.نوبه دې باندې ئي هم غاړه خلاصیږی. «لکه په ذکرشوی مثالونوکي چي د حج اودیوکال روژو اوصدقې نذر کاوه بیان شوې دی» خو دا حکم «چه ده ته ددغه نذرکړی کاریه کولواود قسم کفارې ورکولوکي اختیاردې.» په هغه صورت کښې دې.چه دکوم شی نذرده کړې وی.هغه کول نه غواړی. «مثلاً که اووائی.که ما شراب اوڅکل.نوبه ما دې یوه ورځ روژه نیول نذروی.اودې شراب څښل نه غواړی.خوبه دې نذرکي دې خپل ځان د شرابو څښلو نه منع کول غواړی» ځکه چي په دې کي د قسم معنی ده.چه منع ده. «یعنی لکه څنګه چي په قسم کي مقصود د محلوف علیه نه منع کیدل وی.دغه ډول په دې نذرکي هم دشرط واقع کیدو نه منع کیدل مقصود دی.چه شرط واقع نشی.چه د شرابوڅښل دی.مثلاً» اود قائل کلام «مثلاً که ما شراب اوڅښل نوبه ما دې یوه ورځ روژه نذر وی» دظاهری الفاظوبه اعتبارسره نذردې.نوددې امله به ده ته د نذر په پوره کولواود قسم کفاره په ورکولوکي اختیار وی. «مثلاً که شراب ئي اوڅکل.نوده ته اختیاردې.که یوه ورځ روژه نیسی.اوکه دقسم کفاره ورکوی» نو کوم څیزچه ئي زړه غواړی. «که نذر پوره کول وی اوکه دقسم کفاره ورکول وی» هغه دې اوکړی.په خلاف دهغه صورت کي چي شرط داسې وی.چه دې دهغې واقع کیدل غواړی.مثلاً دقائل قول که الله تعالی زما مریض ته شفا ورکړله. «نوبه ما دې مثلاً یوه ورځ روژه نذر وی» ځکه چي په دې صورت کي د قسم معنی نشته.. «چه د شرط د واقع کیدو نه» منع ده. «بلکه په دې صورت کي خوقائل دا غواړی.چه شرط موجود شی.چه شفا ده.نومشروط به پوره کړم.چه د یوې ورځې روژې نیول دی» اوهم دا تفصیل صحیح دې.

تشریح:- د ژباړې اواضافي قیوداتوڅخه مطلب واضح دې.

په قسم کې متصل د انشاء الله وئیلو حکم

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ مُتَّصِلًا بِيَمِيْنِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مَنْ حَلَفَ
عَلَى يَمِيْنٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَقَدْ بَرَّ فِيْ يَمِيْنِهِ} (١) إِلَّا أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْإِتِّصَالِ لِأَنَّهُ بَعْدَ الْفَرَاغِ رُجُوْعٌ وَلَا رُجُوْعَ فِي الْيَمِيْنِ
وَاللّٰهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

ژباړه:- ابو الحسین قدوری رحمه الله فرمائی.چا چې په څه خیزقسم اوخوړلو.اووریسې ئې انشاء الله اووئیل. نو «که دغه کاراوکړی.» نه حانثیږی.ځکه چې نبی ﷺ فرمائیلی دی.چا چې په یوڅیزقسم اوخوړلو.اووریسې ئې انشاء الله اووئیل.نودې په خپل قسم کې بری شو «یعنی په استثناء سره د قصد معنی لغو شوه.قسم نه کیږی» البته دا ضروری ده.چه انشاء الله به وریسې متصل «او وسمدستی» وی.ځکه چې دانشاء الله وئیل په خپل قسم نه رجوع «او واپس کیدل دی» اوپه قسم کې رجوع نه وی. «بلکه په قسم کې خو تاکید وی.نو د انشاء الله وئیل د یمین د ماهیت اوتعریف نه خلاف دې.ځکه چې په یمین کې د تاکید معنی پرته ده.اوپه استثناء کې رجوع ده»

تشریح:- «الا انه لا بدمن الاتصال» داتصال شرط لګولوباندې دا اعتراض کیدای شی.چه دا خود نص په مقابله کې تعلیل دې.ځکه چې په نص کې داتصال ذکرنشته.بلکه د مطلق استثناء ذکردې.که بالفور وی اوکه روستو وی.ددې څواب دا دې.چه نصوص په دې باندې دلالت کوی.چه په استثناء کې اتصال ضروری دې.که په استثناء کې اتصال ضروری نشی.نوپه دې کې ډیرفساد پیدا کیږی.مثلأیوې ښځې به د زید سره نکاح کولوته غاړه ایخودې وی.اوکال روسته به وائی.چه انشاء الله یعنی زه ورسره نکاح کاوه ته تیاره یم.خوکه دالله تعالی اراده اوشی.اوس ښکاره خبره ده.که دا سلسله پیل شی.نن به یو عقد اوشی.او سهار به په انشاء الله وئیلو سره هغه باطل شی.دعدم اتصال قول د ابن عباس (رض) مذهب دې.یوه واقعه شارحینو نقل کړې ده.چه هارون الرشید بادشاه چونکه عباسی خلیفه وو.نودوی په خپل دور خلافت کې حضرت امام اعظم راغوښتلو.او ورته ئې اووئیل.تاسو ولې د استثناء په مسئله کې زما د نیکه حضرت عبدالله بن عباس(رض) نه مخالفت کوئ.دوی ورته اوفرمائیل.بادشاه صاحب په دې کې تاسو ته هم نقصان دې.هغه ترې پوښتنه اوکړه .هغه څنګه ورته ئې اوفرمائیل.ستا په خلافت باندې خلګو بیعت کړې وو.اوته ئې خپل خلیفه منلې وې.که چرته استثناء کې اتصال معتبر نشی.نوکه نن مور راپاسو.اودا اووائی.چه انشاء الله.نود ابن عباس رضی الله عنهما دقول مطابق به ته د مسلمانانود خلافت نه معزوله شې.ځکه چې استثناء غیرمتصله هم دابن عباس رضی الله عنهما په نیز معتبره ده.چه دا دلیل ئې واوریدو.نوهارون الرشید ته د امام اعظم د مذهب صحت معلوم شو.

(بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الدُّخُوْلِ وَالسُّكْنَى)

ژباړه:- «دا» باب «مذکورته» د داخلیدو او اوسیدو په بیان کې دې.

کورته د داخلیدو نه قسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ بَيْتًا فَدَخَلَ الْكَعْبَةَ أَوِ الْمَسْجِدَ أَوِ الْبِيْعَةَ أَوِ الْكَنِيْسَةَ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الْبَيْتَ مَا أُعِدَّ لِلْبَيْتُوْتَةِ وَهٰذِهِ الْبِقَاعُ مَا
بُنِيَتْ لَهَا (وَكَذَا إِذَا دَخَلَ دِهْلِيْزًا أَوْ ظُلَّةَ بَابِ الدَّارِ) لِمَا ذَكَرْنَا، وَالظُّلَّةُ مَا تَكُوْنُ عَلَى السِّكَّةِ، وَقِيْلَ إِذَا كَانَ الدِّهْلِيْزُ بِحَيْثُ

---

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج أحاديثاً بمعناه منها حديث ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی ﷺ قال من حلف فاستثنى فإن شاء مضى وإن شاء ترك غيرحنث أخرجه أبوداود في الأيمان باب ٩ رقم ٣٢٦٢ والترمذي في النذور والأيمان باب الإستثناء في ا ليمين والنسائي في الأيمان والنذور رقم ٣٥٥١ وابن ماجه في الكفارات باب ٦ رقم ٢١٠٥)_

لَوْأُغْلِقَ الْبَابُ يَبْقَى دَاخِلًا وَهُوَ مُسَقَّفٌ يَحْنَثُ لِأَنَّهُ يُبَاتُ فِيهِ عَادَةً

حل اللغة: ① **البيعة:** د يهوديانو عبادت خانه ② **الكنسية:** د عيسايانو عبادت خانه ③ **البتوتة:** شپه تيرول ④ **دهليز:** ډيوډۍ ،دكور دروازې سره نزدې هغه ځائې كوم باندې چې چت وى ⑤ **ظلة:** سيورې ⑥ **السكة:** كوځه ⑦ **اغلق:** بند شوې ⑧ **مسقف:** هغه ځائې چې پورته پرې چت وى

ژباړه:- ځوك چې قسم اوخورى چې كورته به نه داخليږى. ﴿ددې قسم نه پس﴾ بيا دې خانه كعبه يا جمات يا كليسې ﴿د يهوديانوعبادت خانه﴾ يا ګرجې ﴿دعيسايانوعبادت خانه﴾ ته داخل شو.نو ﴿په دې داخليدو دې﴾ نه حانثيږى.ځكه چې كورهغه ځائې ته وائى.چه د شپې تيرولو لپاره جوړ شوې وى.اودا ځايونه ﴿چه كوم ذكر شول﴾ د شپې تيرولو لپاره نه دى تيارشوى.اوهم دا حكم ﴿د نه حانث كيدو په هغه صورت كې هم دې.﴾ چې ﴿دكور﴾ ډيوډۍ يا دكورد دروازې سيورى ﴿چجه﴾ ته داخل شى.دهغه دليل د امله كوم چې موږ ذكركړلو. ﴿چه دا ځايونه د شپې تيرولو لپاره نه دى.حالانكه كورهغې ځائې ته وائى.چه شپه په كې تيرولې شى﴾ اوظله هغه سيورى ته وائى.كوم چې په كوځه باندې وى.اوچا دا وئيلى دى.كه ډيوډۍ په داسې طريقه وى.كه دروازه بنده كړى.نودننه پاتې كيږى.او سربيره پرې چت وى.نو ﴿په دې صورت كې كه دې ډيوډۍ ته داخل شى﴾ حانثيږى.ځكه چې په عامه توګه په داسې ډيوډۍ كې شپه تيرولې شى.

تشريح:- د ژباړې اواضافى قيوداتونه مسئله واضحه ده.

چبوترې ته د داخليدو حكم

(وَإِنْ دَخَلَ صُفَّةً حَنِثَ) لِأَنَّهَا تُبْنَى لِلْبَيْتُوتَةِ فِيهَا فِي بَعْضِ الْأَوْقَاتِ فَصَارَ كَالشَّتْوِيِّ وَالصَّيْفِيِّ .وَقِيلَ هَذَا إِذَا كَانَتْ الصُّفَّةُ ذَاتَ حَوَائِطَ أَرْبَعَةٍ، وَهَكَذَا كَانَتْ صِفَافُهُمْ. وَقِيلَ الْجَوَابُ مُجْرًى عَلَى إِطْلَاقِهِ وَهُوَ الصَّحِيحُ.

حل اللغة: ① **صفة:** چبوتره، سپر ② **الشتوى:** دژمى ③ **الصيفى:** د اوړى ④ **حوائط:** جمع د حائط ديوال ⑤ **الجواب:** حكم

ژباړه:- اوكه چبوترې ته داخل شو.نو ﴿په دې صورت كې﴾ حانثيږى.ځكه چې په بعضې وختونوكې هم په څپركې (چبوتره) كې شپه تيرولې شى. ﴿كورې نه چې زمينداران خلګ هم په څپركې (چبوتره) كې شپه تيروى﴾ نودا څپركې (چبوتره) د ژمى د چبوترې اود اوړى د جبوترې پشان شو. ﴿يعنى لكه څنګه چې خلګ ويه ژمى كې جبوتره جوړه كړې وى. اوپه هغې كې شپه كوى.اودغه ډول ئې د وړى لپاره څپركې (چبوتره) جوړه كړې وى.اوپه هغې كې شپه تيروى نوكه دې د ژمى اووړى چبوترو ته ورداخل شو.حانثيږى.دغه ډول كه دې عامې چبوترې ته ورداخل شو.هم به حانثيږى﴾ اوچا وئيلى دى.چه دا حكم ﴿چې چبوترې ته په داخليدو حانثيږى.په هغه صورت كې دې.چه﴾ د چبوترې څلور ديوالونه وى. ﴿اوكه څلور ديوالونه نه وى.نوبيا ورته په داخليدو نه حانثيږى﴾ اود كوفې د خلګو چبوترې هم داسې وې. ﴿نود امام ابوحنيفهؒ او ددوى دشاګرانونه ځكه چبوترې ته په داخليدوباندې د حانث كيدو روايت نقل شوې دې.چه دوى به په كوفه كې دغه ډول چبوترې ليدلې﴾ اوچا وئيلى دى.چه ﴿په دې صورت كې هم﴾ حكم مطلق دې. ﴿يعنى په هرصورت كې كه چبوترې ته څلور ديوالونه وى اوكه نه وى.خوچه څپركې (چبوتره) وى.نوحانثيږى﴾

تشريح:- دژباړې اواضافى قيوداتود امله مطلب ښكاره دې.البته لكه څنګه چې د صفه ژباړه په چبوترې سره اوشوه.نودغه ډول دې ته په پښتو كې څپر هم وائى.

کنډر کور ته داخلیدو سره د قسم احکام

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ دَارًا فَدَخَلَ دَارًا خَرِبَةً لَمْ يَحْنَثْ، وَلَوْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ فَدَخَلَهَا بَعْدَمَا انْهَدَمَتْ وَصَارَتْ صَحْرَاءَ حَنِثَ) لِأَنَّ الدَّارَ اسْمٌ لِلْعَرْصَةِ عِنْدَ الْعَرَبِ وَالْعَجَمِ، يُقَالُ دَارٌ عَامِرَةٌ، وَدَارٌ غَامِرَةٌ وَقَدْ شَهِدَتْ أَشْعَارُ الْعَرَبِ بِذٰلِكَ وَالْبِنَاءُ وَصْفٌ فِيهَا غَيْرَ أَنَّ الْوَصْفَ فِي الْحَاضِرِ لَغْوٌ وَفِي الْغَائِبِ مُعْتَبَرٌ.

حل اللغة: ① **دار**: کور ② **خربة**: کنډر ③ **صحراء**: بیابان ④ **العرصة**: میدان، غولې ⑤ **عامرة**: آباد ⑥ **غامرة**: غیر آباد ⑧ **البناء**: عمارت ⑨ **انهدمت**: نوړیدلې، غورزیدلې

ژباړه:- اوڅوك چې قسم اوخوری چې «مطلق» کور ته به نه داخلیږی. اوکنډرکورته ورداخل شو.نه حانثیږی. اوکه قسم اوخوری چې دې کورته به نه داخلیږی. «یعنی دقسم په وخت کې دهغې کور آبادي موجود وی» اودهغې د نړیدو نه روسته ورته داخل شی.چه هموار ډګر ترې جوړ شوې وی.نوحانثیږی.ځکه چې د عربواوعجموپه نیزکورمیدان اوغولې ته وئیلې شی. «چه شاو خوا دیوال ترې وی.که آباد وی اوکه کنډر. اوپه دې باندې دلیل دا دې.چه» دارعامرة «په عین مهمله» هغه کورته وئیلې شی.چه آباد وی.اودارغامرة «په غین معجمه» هغه کورته وئیلې شی.چه آباد وی.اود عربواشعارهم په دې باندې ګواه دی. «چه چاردیواری ترې تاؤ وی.نودارآباد اوکنډر دواړو ته وئیلې شی» نوآبادی په کورکې «یوزیاتی» صفت دې. «لکه څنګه چې په انسان کې علم یوزیاتی صفت دې.که علم په کې وی اوکه نه وی.دواړو ته انسان وئیلې شی» البته دومره ده چې په حاضرکورکې «یعنی چې مخکې موجود وی» د آبادئ صفت لغو اوعبث دې. «ځکه چې اشاره ورته کولې شی.نه که ته صفت بیان کړې اوکه نه دغه کورپه خپله متعین دې» اوپه غائب کورکې «چه اشاره ورته نه وی شوې.دآبادی» صفت معتبر دې. «نود قسم تعلق به صرف دهغه کورسره وی.چه آبادی په کې وی»

تشریح:- ((**وقدشهدت اشعارالعرب بذلک**)) یعنی دعربواشعار هم په دې ګواه دی.چه د یو کور صحن چې چاردیواری ئې وی.په هغې باندې د کور اطلاق کیږی.لکه

((تلك دارالألوف أصبحت حلا ۞ بعد ما يحلها في نشاط))

((**غیران الوصف فی الحاضرلغو**)) په متن کې دوې [دوه] صورتونه ذکر شوی وو.یودا چې مطلق کورته د داخلیدو نه قسم اوخوری.یعنی چې کورنکره وی.معرفه نه وی.او دوهم صورت دا بیان شوې وو.چه دې کورته به نه داخلیږی.اوبیا اول ئې د اولنی صورت حکم دا بیان کړلو.که کنډرکورته داخل شی.نونه حانثیږی.اود دوهم صورت حکم ئې دا بیان کړلو.که دغه کورکنډر شی.اوبیا ورته دې داخل شی. نو حانثیږی.اوس په دې عبارت کې د دواړو صورتونو په حکم کې د اختلاف وجه بیانوی.چه په اولنی صورت کې نه حانثیږی.اوپه دوهم صورت کې حانثیږی.نوددې عبارت مطلب دا شو.چه یوکس مخکې کورته اشاره اوکړی.چه زما دې قسم وی دې.کورته به نه داخلیږم.نوپه دې صورت کې د آبادئ صفت لغوه دې.که په دغه کور کې آبادی وی اوکه نه وی.که دې ورته داخل شو.نوحانثیږی به.ځکه چې په اشاره سره کور متعین شو.نویوڅیزته اشاره اوشی.که دهغې علامات اوصفتونه بیان نشی.هم هغه معلوم وی.اوپه غائب کورکې چې مخکې نه وی.اوسړې قسم اوخوری.چه کورته به نه داخلیږم.نوپه دې صورت کې دغه کورغیرمتعین اونکره ده.نوپه دې صورت کې به صفت معتبر وی.اوصرف هغه کورته په داخلیدو حانثیږی.چه آبادی په کې وی.

آباد کورته د نړیدونه روسته د داخلیدو حکم

(وَلَوْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ فَخَرِبَتْ ثُمَّ بُنِيَتْ أُخْرٰى فَدَخَلَهَا يَحْنَثُ) لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْاِسْمَ بَاقٍ بَعْدَ الْاِنْهِدَامِ (وَإِنْ جُعِلَتْ مَسْجِدًا أَوْ حَمَّامًا أَوْ بُسْتَانًا أَوْ بَيْتًا فَدَخَلَهُ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ دَارًا لِاعْتِرَاضِ اسْمٍ آخَرَ عَلَيْهِ، وَكَذَا إِذَا دَخَلَهُ بَعْدَ انْهِدَامِ الْحَمَّامِ وَأَشْبَاهِهِ لِأَنَّهُ لَا يَعُودُ اسْمُ الدَّارِ بِهِ

حل اللغة: ① **خربت**: وران شوې نړېدلې ② **حماما**: په ګرمو اوبو د لامبلو ځائې ③ **بستانا**: باغ ④ **الاعتراض**: واقع کېدل ⑤ **یعود**: واپس کېږي

ژباړه:- اوکه یوکس دا قسم اوخوړلو.چه دې کورته به نه داخلیږي. «یعنی دقسم په وخت کې کورموجود وی.اوددې نه پس» بیا دغه کوراونړېدلو.اوبیا دوباره جوړ شو. «اود دوباره جوړېدونه پس» بیا ورته دې داخل شو.نو «په دې صورت کې دې» حانثیږي.دهغه دلیل د امله چې مونږ بیان کړلو.چه د نړېدو نه روسته هم په دې باندې د کوراطلاق کیږي.اوکه «د قسم خوړلونه پس» ددې کورنه جمات یا حمام یا باغ یا اطاق جوړه کړې شي.اوقسم خوړونکې ورته داخل شي.نو «په دې صورت کې» نه حانثیږي.ځکه چې دغه ځائې کورپاتې نشو.ځکه چې په بدل نوم کې بدل شو. «اواوس ورته کورنشي وئیلې.حالانکه چې قسم خوړلې وو.نوکورته د نه داخلیدو قسم ئې خوړلې وو» اوهم دغه حکم «په دې صورت کې» هم دې.چه د حمام وغیره «یعنی جمات،باغ اوکوټې» د نړېدو نه روسته ورته داخل شي. «ځکه چې د کورنوم ترې یوځل زائله شوې دې.نوچه یوځل زائله اوختم شو.» نودکورنوم ورته دوباره نشي واپس کیدې.

تشریح:- د ژباړې اواضافي قیوداتود امله مسئله آسانه ده.

(وَإِنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذَا الْبَيْتَ فَدَخَلَهُ بَعْدَ مَا انْهَدَمَ وَصَارَ صَحْرَاءَ لَمْ يَحْنَثْ) لِزَوَالِ اسْمِ الْبَيْتِ لِأَنَّهُ لَا يُبَاتُ فِيهِ،حَتَّى لَوْ بَقِيَتْ الْحِيطَانُ وَسَقَطَ السَّقْفُ يَحْنَثُ لِأَنَّهُ يُبَاتُ فِيهِ وَالسَّقْفُ وَصْفٌ فِيهِ (وَكَذَا إِذَا بَنَى بَيْتًا آخَرَ فَدَخَلَهُ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الِاسْمَ لَمْ يَبْقَ بَعْدَ الِانْهِدَامِ.

حل اللغة: ① **الحیطان**: دیوالونه ② **سقط**: پرېوتې ،راغورزیدلې ③ **لم یبق**: پاته نه وی پاتې

ژباړه:- اوکه قسم ئې اوخوړلو چې دې کورته به نه داخلیږي.اودهغې د نړېدو نه روسته چې ډګر ترې جوړشوې وی ورته داخل شي.نو «په دې صورت کې» نه حانثیږي.ځکه چې د کورنوم ترې زائله شوې دې. «اوس ورته څوك کورنه وائي.حالانکه ده خود کورد داخلیدو نه قسم خوړلې دې.ځکه چې کورخو هغه ځائې ته وئیلې شي.چه شپه په کې کولې شي» اوپه دې کې اوس شپه نشي کولې. «ځکه دا ځائې محفوظ نه وی.» البته دا ده.که دیوالونه ئې پاته وی.اوصرف چت ئې غورزیدلې وی. «اودې ورته د قسم نه روسته داخل شي.نو» حانثیږي ځکه چې داسې کورکې شپه کولې شي. «اوپاته که ته وائې.چه چت پرې نشته.نو» چت خویوزیاتي صفت دې. «که چت پرې وی اوکه نه په دواړو صورتونوکې پرې د کوراطلاق کیږي» اوهم دا حکم دې. «چه نه حانثیږي» چې «داول کور آبادې اونړوی.او» بل کور پرې جوړ کړي.اوبیا ورته دې داخل شي.نونه حانثیږي.ځکه چې د نړولو نه روسته «د اولني کور» نوم پاته نه پاتې کیږي. «نوځکه نه حانثیږي»

تشریح:- د ژباړې اواضافي قیوداتود امله مسئله آسانه ده.

د کورپه چت اودریدو باندې دحانث کیدوحکم

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فَوَقَفَ عَلَى سَطْحِهَا حَنِثَ) لِأَنَّ السَّطْحَ مِنْ الدَّارِ،أَلَا تَرَى أَنَّ الْمُعْتَكِفَ لَا يَفْسُدُ اعْتِكَافُهُ بِالْخُرُوجِ إِلَى سَطْحِ الْمَسْجِدِ.وَقِيلَ فِي عُرْفِنَا لَا يَحْنَثُ وَهُوَ اخْتِيَارُ الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ.قَالَ (وَكَذَا إِذَا دَخَلَ دِهْلِيزَهَا) وَيَجِبُ أَنْ تَكُونَ عَلَى التَّفْصِيلِ الَّذِي تَقَدَّمَ (وَإِنْ وَقَفَ فِي طَاقِ الْبَابِ بِحَيْثُ إِذَا أُغْلِقَ الْبَابُ كَانَ خَارِجًا لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الْبَابَ لِإِحْرَازِ الدَّارِ وَمَا فِيهَا فَلَمْ يَكُنْ الْخَارِجُ مِنْ الدَّارِ.

حل اللغة: ① **وقف**: ودریدلو ② **سطح**: چت ③ **دهلیز**: غولې،صحن ④ **طاق**: د دروازې چوکاټ ⑤ **الاحراز**: حفاظت

ژباړه:- اوچاچه قسم اوخوړلو.چه دې «متعین» کورته به نه داخلیږي. «دقسم خوړلونه پس» دهغې په چت باندې ودریدلو.نوحانثیږي.ځکه چې چت د کورحصه ده.ولې ته نه ګورې چې د معتکف اعتکاف په نه ماتیږي.چه دې د جمات چت ته اوخیژي. «ځکه چې دجمات چت دجمات برخه ده.که چرته د جمات وه.نودمعتکف اعتکاف به پرې ماتیدلو» او «داهم» وئیلی شوی دی.چه زمونږ په عرف کې «که

چت ته اوخيژي.نو﴾ نه حانثيږي.ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي.اوهم دا حكم په هغه صورت كښې هم دې. ﴿يعنى حانثيږى﴾ چې د كور ډيوډئ ته داخل شي.خودا خبره ضروري ده.چه دا حكم په هغه تفصيل باندې شي.كوم چې وړاندې تيرشوې دې. ﴿يعنى كه د كور د دروازې په بندلو هغه ډيوډئ دننه پاتې كيږي.اوچت پرې سربيره وي.نو دې به حانثيږي.اوكه دننه برخه نه جوړيږي.بلكه هم بهروي.نوبيا نه حانثيږى﴾ اوكه د دروزازې په چوكاټ كښې داسې اودريږي.كه دروازه بنده كړې شي.نودې بهر پاتې كيږي.ځكه چې دروازه د كوراوپه كوركښې چې څه وي ذهغې د ساتنه لپاره وي.نوچه كومه برخه د دروازې نه بهروي.هغه په كوركښې نه داخليږي. ﴿ځكه په دې صورت كښې نه حانثيږى﴾

تشريح:- ((**وقيل فى عرفنا لا يحنث**)) په زيربحث مسئله كښې دعاموا حنافو رحمهم الله مسلك دا دې.چه دكورته په ختوباندې حانثيږي.البته فقيه ابوالليث رحمه الله فرمائي.كه دكورچت ته اوخيژي.نونه به حانثيږي.ځكه چې زموږ د عجمو په عرف كښې چت دكور نه جلا ګنړلې شي.دابوالليث رحمه الله دليل دا دې.كه د كورنه چت اوغورځولې شي.نوبيا هم ورته كوروائي.معلومه شوه.چه چت د كورلازمي برخه نه ده.نوچه لازمي برخه نشوه.نوجدا حيثيت لري.ددې امله دې ته په ختوباندې نه حانثيږي.خوددې نه ځواب دا دې.چه دعربويه نيزكورهغې ته وائي.چه په هغې كښې دكورواړه لوازمات موجود وي.اوچت هم د كورد لوازماتو نه يوځيز دې.

په كوركښې دناست كس دا قسم چه((لا أدخل هذه الدار)) حكم

قَالَ ﴿وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ وَهُوَ فِيْهَا لَمْ يَحْنَثْ بِالْقُعُوْدِ حَتّٰى يَخْرُجَ ثُمَّ يَدْخُلَ﴾ اِسْتِحْسَانًا. وَالْقِيَاسُ أَنْ يَحْنَثَ لِأَنَّ الدَّوَامَ لَهُ حُكْمُ الْاِبْتِدَاءِ. وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّ الدُّخُوْلَ لَادَوَامَ لَهُ لِأَنَّهُ انْفِصَالٌ مِنَ الْخَارِجِ إِلَى الدَّاخِلِ.

حل اللغة: ① **القعود**:ناسته ② **الدوام**: هميشه والې ③ **الانفصال**: جدا كيدل ④ **الابتداء**.شروع .اول

ژباړه:- صاحب قدوري رحمه الله فرمائي.كه يوكس قسم اوخوړلو.چه دې كورته به نه داخليږي.او ﴿دقسم په وخت كښې﴾ دې هلته وو.نوپه كيناستوباندې نه حانثيږي.ترڅوچه دهغې نه وتلې نه وي.اوبيا داخل شوې نه وي.دا د استحسان حكم دې.اودقياس تقاضا دا ده.چه حانث شي.ځكه چې د دوام لپاره د پيل حكم دې. اود استحسان وجه دا ده.چه د داخليدو لپاره دوام نشته.ځكه چې داخليدل خود بهرنه دننه تلل دى. ﴿اودلته په دې كيفيت سره داخليدل نه دى موجود شوى.نوځكه نه حانثيږى﴾

تشريح:- ((**لان الدوام له حكم الابتداء**)) يعنى كه په يوفعل باندې دوام او هميشوالې اوكړې شي.نودهغې حكم د اول نه د پيل پشان دې.ګورئ نه كه يوسړې قسم اوخوري.چه دا جامې به نه اغوندي.اوهغه جامې ئې اغوستې وي.نوكه دې په دغه جاموكښې پاتې شو.اوهغه ئې اونه ويستلې.حانثيږي.ځكه چې د دوام لپاره د ابتداء حكم دې.دغه ډول دلته به هم حانثيږي.

((**لانه انفصال**)) يعنى د دخول تعريف دا دې.چه دبهرنه دننه داخل شي.اوپه دې طريقه داخليدل په لږ وخت كښې كيږي.اودوام په هغه صورتونوكښې د ابتداء حكم لري.چه هغه په لږ وخت كښې نه كيږي.بلكه څه وخت پرې سړې پاتې كيداې شي.لكه چې يوكس قسم اوخوري.چه په دې كوركښې به نه كينم.نوكه دې په دغه وخت كښې ناست وي.نه حانثيږي.البته چې خپله ناسته جاري اوساتي.نوبيا حانثيږي.ځكه چې په دې صورت كښې دوام د ابتداء پشان حكم لري.

د لابس لپاره د جامواغوستونه قسم كول

﴿وَلَوْحَلَفَ لَايَلْبَسُ هٰذَا الثَّوْبَ وَهُوَ لَابِسُهُ فَنَزَعَهُ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ﴾ وَكَذَا إِذَا حَلَفَ لَايَرْكَبُ هٰذِهِ الدَّابَّةَ وَهُوَ رَاكِبُهَا فَنَزَلَ مِنْ سَاعَتِهِ لَمْ يَحْنَثْ، وَكَذَا لَوْ حَلَفَ لَايَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ وَهُوَ سَاكِنُهَا فَأَخَذَ فِي النَّقْلَةِ مِنْ سَاعَتِهِ. وَقَالَ زُفَرُ: يَحْنَثُ لِوُجُوْدِ الشَّرْطِ وَإِنْ قَلَّ. وَلَنَا أَنَّ الْيَمِيْنَ تُعْقَدُ لِلْبِرِّ فَيُسْتَثْنٰى مِنْهُ زَمَانُ تَحْقِيْقِهِ ﴿فَإِنْ لَبِثَ عَلٰى حَالِهِ سَاعَةً حَنِثَ﴾ لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَفَاعِيْلَ لَهَا دَوَامٌ بِحُدُوْثِ أَمْثَالِهَا، أَلَايَرٰى أَنَّهُ يُضْرَبُ لَهَا مُدَّةٌ يُقَالُ رَكِبْتُ يَوْمًا وَلَبِسْتُ يَوْمًا بِخِلَافِ الدُّخُوْلِ لِأَنَّهُ لَايُقَالُ دَخَلْتُ يَوْمًا بِمَعْنَى الْمُدَّةِ وَالتَّوْقِيْتِ وَلَوْ نَوَى الْاِبْتِدَاءَ الْخَالِصَ يُصَدَّقُ لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ.

حل اللغة: ① **يلبس** اغوندی ② **الثوب** كالی ③ يركب: سوريږی ④ **دابة**: سپرلئ ⑤ **نزل**: كوز شو ⑥ **يسكن**: اوسيږی ⑦ **النقلة** كړه اوړل ⑧ **افاعيل** جمع د فعل كارونه ⑨ **حدوث**: نوی پيدا كيدل ⑩ **المدة**: وخت ⑪ **التوقيت**: وخت مقرر كول

زباړه:- ﴿صورت دمسئلې دا دې.كه﴾ يوكس قسم اوخوړلو.چه دا جامې به نه اغوندی. ﴿حالانكه د قسم په وخت كې﴾ ده هغه جامې اغوستې وی. ﴿اوس به گوري﴾ كه ده فی الحال دغه جامې اوويستلې.نه حانثيږی. ﴿اوكه دومره وخت په كې ايسارشو.چه په هغې كې ئې جامې ويستلې شوې.نوحانثيږی﴾ اودغه شان چې په سپرلئ سور وی.اودا قسم اوخوری.چه دې سورلئ باندې به نه سوريږی. ﴿اودقسم خوړلونه پس﴾ دې دستی راكوز شی.نه حانثيږی.دغه شان چې دې په يوكوركې اوسيږی.اودا قسم اوخوری.چه دې كې به نه اوسيږی.اوهم په هغه وخت كې دكورنه منتقل كيدل پيل كړی.نه حانثيږی.اوامام زفر رحمه الله فرمائی.چه ﴿په دې ټولوصورتونوكې﴾ حانثيږی. ﴿ځكه چې دحنث لپاره د شرط وجود ضروری دی.اوپه دې درې واړه صورتونوكښې شرط موجود شوې دې﴾اګرچه دلږ وخت لپاره دې. اوزمونږ دليل دا دې.چه دقسم انعقاد د پوره كاوه لپاره وی. ﴿چه قسم پوره كړی اوحانث نشی﴾ نوددې څخه به دومره وخت مستثنا كولې شی.چه په هغې كې د شرط وجود متحقق كيداې شی.نو ﴿كه د قسم خوړلو نه پس﴾ دې هم په خپل حالت پاتې شو.حانثيږی.ځكه چې دا كارونه د دوام تقاضا كوی.هروخت كې ددې پشان نوركارونه پيدا كيږی. ولې كتلې نشی.چه ددې افعالوسره مودهٔ يادولې شی.وئيلې شی.زه يوه ورځ سور ووم.اوما يوه ورځ جامې اغوستې وې.په خلاف د داخليدو ځكه چې د مودې او وخت په معنی كې داسې نشی وئيلې.چه زه پوره ورځ داخليدم.اوكه حالف د خالص ابتداء نيت كړې وی.نوتصديق به ئې كولې شی.ځكه چې خالصه ابتداء هم دده د كلام احتمال لری.

تشريح:- «**ان اليمين تنعقد للبر**» يعنی يوكس قسم ددې لپاره كوی.چه شرط واقع نشی.اوزه په قسم كې حانث نشم.ددې امله دده دا كوښښ وی.چه په قسم كې برى شی.اوحانث نشی.اوس په زيربحث صورتونوكې كه مونږ حالف ته دومره وخت ورنكړو.چه دې په كې جامې اوباسی.اودغه ډول د سپرلئ نه كوز شی.اودكور نه خپل سامان اوباسی.بلكه دستی په ده باندې د حانث كيدو حكم اولګوو.نوپه دې كې يوخود يمين مقصود فوت كيږی.چه د ځان د حانث كيدو نه بچ كيدل دی.دويمه دا كه چرته مونږ دقسم خوړلونه روسته دستی دې حانث كړو.اوده ته مهلت ورنكړو.نويقينی خبره ده.چه دا تكليف بما لايطاق دې. ﴿اودا خبره د شريعت د اصولونه خلاف ده.چه څوك دهغه د وس او توان نه زيات كار باندې مكلف كړې شی.

«**لانه لا يقال دخلت يوماً**» په دې خبره باندې چې دخول د دوام تقاضا نه كوی.دا محاوره هم دليل دې.چه داسې نشی وئيلې.چه زه پوره يوه ورځ داخليدم.ځكه چې د دخول لپاره استمراراودوام نه وی.البته دلته يواعتراض كيداې شو.چه خلګ خوداسې وائی.چه ((دخلت عليه يوما)) يعنی زه يوه ورځ هغه ته ورغلې وم. ګوره دلته دخول سره د يوماً قيد لګولې شوې دې.نوددې تقديری سوال نه دځواب لپاره ئې اوفرمائيل.چه ((يعنی المدة والتوقيت)) يعنی په دې كلام كې د يوم نه مراد اصطلاحی ورځ نه ده مراد چې د سهار نه تر مابنامه پورې ده.بلكه ددې نه مطلق وخت او مودهٔ مراد ده.

«**ولو نوى الابتداء الخالص**» يعنی په سپرلئ اوجامواغوستلوكې كه لږ ساعت پاتې شو.نوحانث كيږی. ځكه چې ركوب او لبس د دوام تقاضا كوی.البته كه ده دا نيت كړې وی.چه اوس خومې جامې اغوستې دی.چه دا اوباسم.نوبيا به جامې نه اغوندم.يا ئې دا نيت وی.چه اوس خو په سپرلئ باندې سوريم.چه ددې نه كوز شم. نوبيا به پرې نه سوريږم.نوپه دې صورت كې به نه حانثيږی.اودا تصديق ئې ځكه كولې شی. چې دا لفظ چې ((لاألبس او لاأركب)) د دې احتمال لری.چه دده مراد وی.چه ددې نه روسته به زه جامې نه اغوندم .او د نوروسته به زه په سپرلئ نه سوريږم.نوهركله چې احتمال شته.نودده د نيت اعتباربه كولې شی.

دمحلوف عليه کورنه پخپله وتلو او دنورو کډي پرېښودلو حکم

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ لَا يَسْكُنُ هَذِهِ الدَّارَ فَخَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَتَاعِهِ وَأَهْلِهِ فِيهَا وَلَمْ يُرِدْ الرُّجُوعَ إِلَيْهَا حَنِثَ) لِأَنَّهُ يُعَدُّ سَاكِنَهَا بِبَقَاءِ أَهْلِهِ وَمَتَاعِهِ فِيهَا عُرْفًا، فَإِنَّ السُّوقِيَّ عَامَّةَ نَهَارِهِ فِي السُّوقِ وَيَقُولُ أَسْكُنُ سِكَّةَ كَذَا، وَالْبَيْتُ وَالْمَحَلَّةُ بِمَنْزِلَةِ الدَّارِ. وَلَوْ كَانَ الْيَمِينُ عَلَى الْمِصْرِ لَا يَتَوَقَّفُ الْبِرُّ عَلَى نَقْلِ الْمَتَاعِ وَالْأَهْلِ فِيمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ لِأَنَّهُ لَا يُعَدُّ سَاكِنًا فِي الَّذِي انْتَقَلَ عَنْهُ عُرْفًا. بِخِلَافِ الْأَوَّلِ وَالْقَرْيَةُ بِمَنْزِلَةِ الْمِصْرِ فِي الصَّحِيحِ مِنَ الْجَوَابِ.

حل اللغة: ① **متاع**: سامان، کړه ② **الرجوع**: واپس کېدل ③ **السوقي**: بازاری سړی ④ **نهار**: ورځ ⑤ **سكة**: کوڅه ⑥ **المصر**: ښار ⑦ **القرية**: کلی ⑧ **الجواب**: حکم

ژباړه:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائي. اوځوك چي دا قسم اوخوری. چه په دې کور کي به نه اوسيږی. «اوددي قسم خوړلو نه پس» دې پخپله اووتلو. «اوځو» دده سامان او اهل وعيال په دغه کور کي موجود وو. او دې دغه کورته د واپس کيدو اراده هم نه لری. «نوپه دې صورت کي هم» دې حانث کيږی. ځکه چې دده اهل وعيال اوسامان په کښي موجود وی. نوپه عرف کي ده ته ددې کور اوسيدونکې شمارلې شي. «ددې لپاره يونظيردا هم دې» چې د بازاری سړی ټوله ورځ په بازر کي وی. «اوخواهل وعيال اوکډه ئي په کورکي وی. اوځوك ترې پوښتنه اوکړی. چه ته کوم ځائي کي اوسيږي. نو» هغه وائي. زه په فلانئ کوڅه کي اوسيږم. او اطاق اومحله د کورپشان دی. «يعنى که داسې قسم اوخوری. چه په دې اطاق کي به نه اوسيږم. يا داسې قسم اوخوری. چه په دې محله کي به نه اوسيږم. نوهم هغه حکم دې. کوم چې د کور دې.» اوکه قسم د ښارپه اړه کي وی. «چه په دې ښارکي به نه اوسيږم» نوداامام ابويوسف رحمه الله نه چې کوم روايت نقل شوی دې. دهغې مطابق په قسم کي د حانث کيدو نه بچ کيدل دسامان او اهل وعيال په نقل کولوباندې نه دی موقوف. «بلکه که دې ددې ښارنه په خپله لاړ شي. اوسامان او اهل وعيال ئي هم په دغه ښارکي وی. نونه حانثيږی» ځکه چې په عرف کي چې دې د کوم ښارنه وتلې وی. د هغې اوسيدونکې نشي شمارلې. «نوځکه نه حانثيږی» په خلاف داولنى صورت «چه قسم ئي د کور يا محلې په اړه کي خوړلې وی. چه په دې کوريا په دې محله کي به نه اوسيږم. اوبيا ترې دې په خپله لاړ شي. خوسامان او اهل وعيال ئي په کي موجود وی. نوپه دغه صورت کي دې ددغه محلې اوکوراوسيدونکې شمارلې شي. نوځکه په قسم کي حانثيږی» اود صحيح روايت په بناء دحکم په اعتبارسره کلې د ښارپشان دې. «نوکوم حکم چې د ښاروو. لکه چې ذکرشو. هم دغه حکم به د کلي هم وی. چه په خپله ترې تلې وی. خوسامان او اهل عيال ئي په کي وی. نونه حانثيږی»

تشريح:- دژباړې او اضافى قيوداتو امله مطلب واضح دی.

په څومره مقدارکړه منتقل کولوسره استوګنه بدليږی؟

ثُمَّ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا بُدَّ مِنْ نَقْلِ كُلِّ الْمَتَاعِ، حَتَّى لَوْ بَقِيَ وَتَدٌ يَحْنَثُ لِأَنَّ السُّكْنَى قَدْ ثَبَتَ بِالْكُلِّ فَيَبْقَى مَا بَقِيَ شَيْءٌ مِنْهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ يُعْتَبَرُ نَقْلُ الْأَكْثَرِ لِأَنَّ نَقْلَ الْكُلِّ قَدْ يَتَعَذَّرُ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهِ تَعَالَى عَلَيْهِ: يُعْتَبَرُ نَقْلُ مَا يَقُومُ بِهِ كَدْخُدَائِيَّتِهِ لِأَنَّ مَا وَرَاءَ ذَلِكَ لَيْسَ مِنَ السُّكْنَى. قَالُوا: هَذَا أَحْسَنُ وَأَرْفَقُ بِالنَّاسِ وَيَنْبَغِي أَنْ يَنْتَقِلَ إِلَى مَنْزِلٍ آخَرَ بِلَا تَأْخِيرٍ حَتَّى يَبَرَّ، فَإِنْ انْتَقَلَ إِلَى السِّكَّةِ أَوْ إِلَى الْمَسْجِدِ قَالُوا لَا يَبَرُّ، دَلِيلُهُ فِي الزِّيَادَاتِ أَنَّ مَنْ خَرَجَ بِعِيَالِهِ مِنْ مِصْرِهِ فَمَا لَمْ يَتَّخِذْ وَطَنًا آخَرَ يَبْقَى وَطَنُهُ الْأَوَّلُ فِي حَقِّ الصَّلَاةِ كَذَا هَذَا. وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

حل اللغة: ① **وتد**: ميخ ② **السكنى**: استوګنه ③ **ارفق**: زياته اسانتيا، ترمى ④ **يتعذر**: ګران وی ⑤ **منزل**: کور ⑥ **السكة**: کوڅه ⑦ **عيال**: بال بچ ⑧ **كدخدا**: په فارسئ کښې هغه کور ته وائي چې اهل وعيال اوخادمان په کښې اوسيږی

ژباړه:- ①بيا امام ابوحنيفه رحمه الله «دسامان نقل کولوپه اړه کي» فرمائي. چه دواړه سامان نقل کول ضروری دی. تردې که يوميخ هم پاتي شي. نو «په خپل قسم کي به» حانثيږی. ځکه چې اوسيدل په ټولو ثابتيږی. «يعنى په يوځائي کي داوسيدو لپاره دې ټولوخيزونو ته اړتيا پيښيږی» نوچه ترڅو پورې ددې سامان نه

يـوڅيزهم پاتـه وی.اوسـيدل بـه پاتـه وی. «اودې بـه هـم ددغـه كوراوسـيدونكې حـسابيږي» ② اوامـام ابويوسف رحمه الله فرمائی.چه دزيات سامان اوړل معتبردی.ځكه چې د واړه سامان اوړل ګران دی. «بلـه دا چې اكثرلـره حكـم د كـل وی.نوكـه اكثراوزيـات سـامان ئـې منتقـل كـړې وی.دې بـه ددغـه كوراوسـيدونكې نـشی شمارلې» ③اوامام محمد رحمه الله فرمائی.چه كـوم سـامان تـه پـه اوسـيدوكـي اړتيـا وی.هغـه معتبردې.ځكـه چې ددې نه زياتي شيان (ځيزونه) د اوسيدوپه اړتيا كي نشی شمارلې.عالمانو رحمهم الله فرمـائيلی دی.چـه دا «دامـام محمد رحمه الله قول» ښـه دې.او خلګ وته په كي آسانی ده. «اوكلـه چې قـسم اوخوری.چـه پـه دې كـوركـي بـه نـه اوسيږم.نو» مناسب دی.چه بغيـرد تاخيرنـه بـل كورتـه كډه نقـل كـړی.چـه پـه قـسم كـي د حانـث كيـدو نـه بـچ شی.اوكه كوڅې ته منتقل شو. «يعنی سامان ئې كـوڅې تـه رابهركـړل» يا ئـې جمـات تـه يـوړل. نـو عالمـانو رحمهم الله فرمائلې دی.چه پـه قـسم كـي نـه بـری كيـږی. «بلكـه حانثيـږی» د «عـدم برائـت» د دې قـول دليـل پـه زيادات كتاب كي دا ذكردې.چه څوك دخپل اهل وعيال سرد د ښارنه بهرشی.نوچه ترڅو پورې ئې بـل ځائې وطن نه وی ګرځولې.نود لمانځه حق كي دده اولنې وطن پاته وی. «يعنی كه دغـه وطـن تـه راواپـس شو.دكوم نه چې ئې خپل اهل وعيال ويستې دي.نوپوره لمونځ به كوی.قـصربه نـه كـوی.نولكـه څنګـه چـې د لمانځـه پـه حق كي چې ترڅو ئې بل ځائې وطن نـه وی ګرځـولې.دا وطـن نـه ختميـږی.» دغـه ډول د قـسم پـه بـاب كـي هم« چې ترڅوئې بل ښارته كډه نه وی منتقل كړې.دې هم ددې ښاراوسيدونكې شمارلې شی.اوچه هم ددې ښاراوسيدونكې شمارلې شی.نوچونكه د قسم خوړلـو نـه روسـته دې هـم پـه دغـه ښـاركـي ايسـارشو.نوحانـث كيږی».

تشريح:- ((كدخذانيته» دا ،،كدخزا،، ته نسبت دي.دا په فارسئ كښې هغه كورته وائـی.چـه پـه هغـې كـي اهـل وعيال اوخادمان وی.پاته متن د ژباړې اواضافی قيوداتوپه كومك سره مسئله آسانه ښكاری.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْخُرُوجِ وَالْإِتْيَانِ وَالرُّكُوبِ وَغَيْرِ ذَٰلِكَ)

ژباړه- «دا» باب د وتلو داخليدلو او سوريدو وغيره په اړه كي د قسم په كولوكي دي.

دجمات نه په نه وتلو قسم خوړل

مَسْجِدٍ فَأَمَرَ إِنْسَانًا فَحَمَلَهُ فَأَخْرَجَهُ حَنِثَ) لِأَنَّ فِعْلَ الْمَأْمُورِ مُضَافٌ إِلَى الْآمِرِ فَصَارَ كَمَا إِذَا رَكِبَ دَابَّةً فَخَرَجَتْ (وَلَوْ أَخْرَجَهُ مُكْرَهًا لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الْفِعْلَ لَمْ يَنْتَقِلْ إِلَيْهِ لِعَدَمِ الْأَمْرِ (وَلَوْ چور بِرِضَاهُ لَا بِأَمْرِهِ لَا يَحْنَثُ) فِي الصَّحِيحِ، لِأَنَّ الِانْتِقَالَ بِالْأَمْرِ لَا بِمُجَرَّدِ الرِّضَا

حل اللغة: ① **حمل** پـه شا اوړل ② **اخرج** اوويستل ③ **ركب** سور شو ④ **دابة**: څاروې ،ځناور ، سپرلئ ⑤ **مكرها**: پـه زور ، پـه زبردستئ ⑥ **الرضا** ضـد د اكـراه دې يعنـی خوشـحاله پـرې هـم نـه وی خـو خفـه پـرې هـم نـه وی ⑦ **مجرد** صرف

ژباړه- امام محمد رحمه الله فرمائی. «په جامع صغير كي) چا چې دا قسم اوخوړلو.چه د جمات څخه به نه اوځی. «اودقسم خوړلو نه روسته ئې» يوانسان ته حكم اوكړلو.چه دې په شا كړی. «نوهغـه پـه شـا كـړلـو.» اود كاركوی دهغې نسبت حكم كونكی ته كيږی. «لكه چې دغه كارحكم كونكی په خپله كړې وی.ګورئ نه حكم كړې وی» نودا صورت داسې شو.كله چې دې «دا قسم اوخوری.چه دجمات څخه به نه اوځم.اوبيا» چې سوريدل دده فعل دې.نودغه ډول دلته هم چې دې حكم كونكې وی.دې بـه حانثيـږی» اوكـه دې «قـسم ... ته نه كيږی.ځكه چې ده ورته حكم نه دې كړې.اوكه «يوكس» دا قسم خوړونكې دده پـه رضـا

باندې په شا کړي.چه ده ورته حکم نه وی کړې. ﴿چه ما په شاکړه.اوهغه د جمات نه بهر کړلو.نوپه دې صورت کي دې﴾ د صحيح روايت په بناء نه حانثيږي.ځکه چي ﴿دجمات نه﴾ وتل په حکم سره ثابتيږي. ﴿چه قسم خوړونکي ورته حکم کړې وی.چه ما د جمات نه اوباسه﴾ صرف په رضا باندې نه ثابتيږي. ﴿نو ځکه په دې صورت کي نه حانثيږي﴾

تشریح:- دژباړې اواضافی قیوداتونه مطلب ښکاره دې.

د کورنه بغیر دجنازې نه دبل څه لپاره د نه وتلوقسم خوړل

قَالَ ﴿وَلَوْحَلَفَ لَايَخْرُجُ مِنْ دَارِهِ إِلَّا إِلَى جِنَازَةٍ فَخَرَجَ إِلَيْهَا ثُمَّ أَتَى حَاجَةً أُخْرَى لَمْ يَحْنَثْ﴾ لِأَنَّ الْمَوْجُودَ خُرُوجٌ مُسْتَثْنًى، وَالْمُضِيُّ بَعْدَ ذٰلِكَ لَيْسَ بِخُرُوجٍ. ﴿وَلَوْحَلَفَ لَايَخْرُجُ إِلَى مَكَّةَ فَخَرَجَ يُرِيدُهَا ثُمَّ رَجَعَ حَنِثَ﴾ لِوُجُودِ الْخُرُوجِ عَلَى قَصْدِ مَكَّةَ وَهُوَ الشَّرْطُ، إِذِ الْخُرُوجُ هُوَ الِانْفِصَالُ مِنَ الدَّاخِلِ إِلَى الْخَارِجِ ﴿وَلَوْحَلَفَ لَايَأْتِيهَا لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَدْخُلَهَا﴾ لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنِ الْوُصُولِ، قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى {فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا} وَلَوْحَلَفَ لَايَذْهَبُ إِلَيْهَا قِيلَ هُوَ كَالْإِتْيَانِ، وَقِيلَ هُوَ كَالْخُرُوجِ وَهُوَ الْأَصَحُّ لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنِ الزَّوَالِ.

حل اللغة: ① **المضی:** تلل ② **الانفصال:** جدا کیدل ③ **الوصول:** رسیدل ④ **یذهب:** ځی ⑤ **الاتیان:** راتګ ⑥ **الزوال:** زائله کیدل ختمیدل

ژباړه:- ابو الحسین قدوری رحمه الله فرمائی.که قسم ئې اوخوړلو.چه دخپل کورنه به د جنازې نه سوا د بل څه لپاره نه اوځی. ﴿اوددې دقسم نه پس﴾ دجنازې لپاره اووتل.اوبیا دبل حاجت لپاره لاړلو. ﴿نوپه دې صورت کي﴾ نه حانثیږی.ځکه چې کوم خروج موجود شوې دې. ﴿په قسم کي﴾ دا مستثنی وو.اود خروج نه روسته ﴿دبل کار لپاره تلل د کورنه﴾ وتل نه دی. ﴿ددې امله نه حانثیږی﴾ اوکه قسم ئې اوخوړلو.چه مکې ته به نه اوځی. ﴿اود قسم خوړلونه روسته دې﴾ مکې ته د تلوېه اراده اووتلو.او ﴿د وتلو نه پس﴾ بیا راواپس شو. ﴿په دې صورت کي﴾ حانثیږی.ځکه چې مکې ته د تلوېه قصدباندې وتیل موجود شوی دی.اوهم دا وتل شرط وو.ځکه چې خروج د دننه ځائې نه بهرته وتلوته وائی. ﴿نوچه خروج ثابت شو.دې حانث شو﴾ اوکه قسم ئې اوخوړلو.چه مکې ته به نه ورځی.نوچه ترڅوپورې مکې ته داخل شوې نه وی.نه حانثیږی.ځکه چې مکې ته د داخلیدو مطلب هلته رسیدل دی. ﴿په دې باندې دلیل دا دې.چه﴾ الله تعالی فرمائیلی دی. [فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا] یعنی فرعون ته ﴿تاسودواړه موسی اوهارون علیهما السلام﴾ ورشئ.اونرمه خبره ورته اوکړئ.اوکه قسم ئې اوخوړلو چې مکې ته به نه ځی.نووئیلې شوی دی.چه دا د اتیان پشان دې. ﴿نوڅه حکم چې د اتیان وو.هم هغه حکم به د ذهاب وی.یعنی ترڅوچه مکې ته داخل شوې نه وی.نه حانثیږی﴾ اوونیلې شوی دی.چه دا لفظ د خروج پشان دې. ﴿نوڅه حکم چې د خروج د لفظ وو.هم هغه حکم به ددې هم وی.یعنی چې مکې اړخ ته اوځی.نوحانثیږی به﴾ اوهم دا ﴿دویم﴾ قول اصح دې.ځکه چې دتلو معنی دخپل ځائې نه د خوزیدو ده.

تشریح:- [فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا] په دې عبارت کي دحضرت موسی اوهارون علیهما السلام په واقعه باندې استدلال دې.کله چې الله تعالی دوی دواړو ته پیغمبری ورکړله.نودوی ته ئې دا حکم اوکړلو.چه فرعون ته ورشئ.اوپه نرمه لهجه کي ورته زما د وحدانیت دعوت ورکړئ.نوګورئ په دې آیت کي د اتیان ذکرشوې دې.اوداتیان نه مراد دفرعون دربار ته رسیدل دی.

بصرې ته دتلوقسم خوړل اوددې حکمونه

﴿وَإِنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّ الْبَصْرَةَ فَلَمْ يَأْتِهَا حَتَّى مَاتَ حَنِثَ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ﴾ لِأَنَّ الْبِرَّ قَبْلَ ذٰلِكَ مَرْجُوٌّ. (وَلَوْحَلَفَ لَيَأْتِيَنَّهُ غَدًا إِنِ اسْتَطَاعَ فَهٰذَا عَلَى اسْتِطَاعَةِ الصِّحَّةِ دُونَ الْقُدْرَةِ، وَفَسَّرَهُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ وَقَالَ: إِذَا لَمْ يَمْرَضْ وَلَمْ يَمْنَعْهُ السُّلْطَانُ وَلَمْ يَجِئْ أَمْرٌ لَايَقْدِرُ عَلَى إِتْيَانِهِ فَلَمْ يَأْتِهِ حَنِثَ، وَإِنْ عَنَى اسْتِطَاعَةَ الْقَضَاءِ دُيِّنَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللّٰهِ تَعَالَى) وَهٰذَا لِأَنَّ حَقِيقَةَ الِاسْتِطَاعَةِ فِيمَا يُقَارِنُ الْفِعْلَ وَيُطْلَقُ الِاسْمُ عَلَى سَلَامَةِ الْآلَاتِ وَصِحَّةِ الْأَسْبَابِ فِي الْمُتَعَارَفِ. فَعِنْدَ الْإِطْلَاقِ يَنْصَرِفُ إِلَيْهِ وَتَصِحُّ نِيَّةُ الْأَوَّلِ دِيَانَةً لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ ثُمَّ قِيلَ وَتَصِحُّ قَضَاءً أَيْضًا لِمَا بَيَّنَّا، وَقِيلَ لَايَصِحُّ لِأَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ.

حل اللغة: ① **البر:** بري كيدل ② **غدا:** صبا ③ **يقارن:** مولښتي كيږي ④ **القدرة:** طاقت او قدرت

ژباړه:- اوكه دا قسم ئې اوخوړلو.چه بصرې ته به ځي.اوترمرګه پورې ورته لانړلو.نود خپل ژوند په آخرى برخه كي حانثيږي.ځكه چې ددې اميد كيدو شو.چه د مرګ نه وړاندې دې په خپل قسم وفااوكړي. ﴿اوپه هغې كي برى شي. ﴾﴿خوچه كله پرې مرګ راغلو.نود اميد دغه شمع هم مړه شوه﴾ اوكه دا قسم ئې اوخوړلو.چه ده ته ﴿يعنى تاته﴾ به سهار درځم.خوپه دې شرط كه توان لرم.نوددې اسطاعت نه استطاعت صحت مراد وى. او ﴿امام محمد﴾ رحمه الله په جامع صغيركي ددې ﴿استطاعت صحت ﴾ تفسيركړې دې.اوفرمائيلى ئې دى.چه ﴿د قسم خوړلونه پس﴾ دې بيمار نشي. ﴿چه دهغې د امله ورسره ملاويدې نشي﴾ اوبادشاه ئې ﴿دهغه سره د ملاقات نه﴾ منع نه كړي.اوداسې څه بل عذرپيدا نشي.چه دې هغه ته په ورتلوقادر نشي.نو﴿په دې ټولو صورتونوكې دې﴾ حانثيږي.اوكه ده د استطاعت نه قضا ﴿قدرت حقيقى﴾ مراد وه.نوعندالله دده د قول تصديق كولې شي.ځكه چې د استطاعت حقيقى معنى هغه قدرت دې.كوم چې د فعل نه وړاندې په سرى كي موجود وى.اوپه عرف كي د استطاعت معنى د آلاتواو اسبابو سلامتيا لپاره استعماليږي.نوچه استطاعت مطلقاً ذكرشي.د اسبابود سلامتيا معنى به ترې مراد وى. او ديانة لومړئى معنى مراد اخستل هم صحيح كيږي. ﴿چه استطاعت قضاء يا قدرت حقيقى دې﴾ ځكه چې ده دخپل كلام د حقيقى معنى نيت كړې دې.بيا ونيلې شوى دى.چه ﴿دده نيت﴾ دقضاء په اعتبارسره هم صحيح كيږي.دهغه دليل په وجه كوم چې موږ بيان كړلو. ﴿يعنى چې ده حقيقى معنى مراد واخستله.﴾ اوبعضې عالمانوفرمائيلى دى.چه حقيقى معنى ﴿چه قدرت حقيقى دې﴾ مراد اخستل صحيح نه دى.ځكه چې دا د ظاهرخلاف خبره ده. ﴿چه عرف دې.ځكه چې په عرف كي د استطاعت نه هم د اسبابو او وسائلووجود مراد وى.اوقاضى دظاهرخلاف فيصله نشي كولې﴾

تشريح:- ((**فهذا على الاسطاعة دون الحقيقة**)) استطاعت په دوې [دوه] قسمه دې. ①استطاعت صحت ، اودا هغه قدرت ته وائى.چه دكوم كاركولواراده لرى.دهغې كاردكولواسباب اووسائل موجود وى.اوددې اسبابو او وسائلوپه رنړا كي دا اميد كيداې شي.چه دغه كاربه اوشي.اود شريعت داحكاموتكليف په دې استطاعت صحت باندې موقوف دې.يعنى يوكس هله په يوفعل باندې مكلف كولې شي.چه ده ته قدرت صحت يا قدرت ممكنه حاصل وى.اوپه دې قدرت كي دا شرط دې.چه دا به د فعل نه وړاندې حاصل وى.لكه دحج د فرضيت لپاره الله تعالى فرمائيلى دى. [مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا] يعنى كوم كس چې دحج استطاعت لرى.اوپه حديث كي ددې تفسيرپه توښې او سپرلئ سره شوې دې.چه څوك حج ته د تلو لپاره د سفرد توښې او سپرلئ توان لرى. ② دوهم استطاعت قضا دې.دې ته قدرت حقيقى هم وائى.دا هغه قدرت دې.چه د يوكاركولوپه وخت كي موجود وى.ددې وضاحت دا دې.چه مثلاً يوكس دې.ده ته استطاعت صحت حاصل وى.مثلاً دحج لپاره ورسره زاد اوراحله موجود ده.اودې د حج لپاره روان هم شي.خوچه كله مثلاً احرام تړي. نوپه دغه وخت كي پرې داسې مرض چور اوكړي.اوده كي د احرام تړلو توان هم پاتې نشي.نواوس په دې مثال كي ده ته قدرت صحت حاصل وو.ځكه چې دحج كولواسباب او وسائل موجود وو.خوقدرت حقيقى ورته حاصل نشو.چه عين د كاركولوپه وخت كي ورته اړتيا وو.ددې تفصيل نه روسته د زيربحث مسئلې لنډيز دا شوه.كه حالف دا اووائى.چه زما نيت د استطاعت نه قدرت حقيقى مراد وو.نودده تصديق به نشي كولې.بلكه قضاءً به دې حانث كيږي.اګرچه په حقيقت كي دده هم قدرت حقيقى مراد وو.

بغيراجازة د ښځې په وتلوقسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَاتَخْرُجُ امْرَاَتُهُ اِلَّا بِاِذْنِهٖ فَاَذِنَ لَهَا مَرَّةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ مَرَّةً اُخْرٰى بِغَيْرِ اِذْنِهٖ حَنِثَ وَلَابُدَّ مِنَ الْاِذْنِ فِىْ كُلِّ خُرُوْجٍ) لِاَنَّ الْمُسْتَثْنٰى خُرُوْجٌ مَقْرُوْنٌ بِالْاِذْنِ، وَمَا وَرَاءَهٗ دَاخِلٌ فِى الْحَظْرِ الْعَامِّ. وَلَوْنَوَى الْاِذْنَ مَرَّةً يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَاقَضَاءً لِاَنَّهٗ مُحْتَمَلُ

كَلَامِهِ لٰكِنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ (وَلَوْ قَالَ إِلَّا أَنْ آذَنَ لَكَ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَهَا بِغَيْرِ إِذْنِهِ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ هٰذِهِ كَلِمَةُ غَايَةٍ فَتَنْتَهِي الْيَمِينُ بِهِ كَمَا إِذَا قَالَ حَتّٰى آذَنَ لَكَ.

حل اللغة: ① **الاذن:** اجازت ② **الخطر** منع شوې ،حرام ③ **غاية** آخرى ④ **ينتهى** رسيږى، ختميږى ⑤ **يصدق** تصديق كولې شى

ژباړه:- اوځوك چې قسم اوخورى.چه دده ﴿يعنى زما﴾ ښځه به د ده د اجازت نه بغير ﴿دكورنه﴾ نه وځى. ﴿ددې قسم نه پس﴾ ده ورته يوځل ﴿كورنه د وتلو﴾ اجازت اوكړلو.اوهغه اووتله.خوبيا دوباره دده د اجازت نه بغيراووتله. ﴿نوپه دې صورت كې﴾ دې حانثيږى. ﴿ځكه چې شرط موجود شو.چه دده داجازته بغيروتل وو.اوپه دې صورت كې﴾ اودهرځل وتلو لپاره اجازت ضرورى دې.ځكه چې مستثنى هغه وتل دى .چه دهغې سره اجازت وى.اوداجازت نه بغيرچه هرڅنګه وتل وى.نوهغه به په ممنوع وتلوكې داخل وى. ﴿يعنى كه دجازت نه بغيرښځه په هرصورت كې اووتله. خاوند به ئې حانثيږى.اوپه ذكرشوى صورت كې﴾ كه خاوند صرف يوځل د اجازت نيت كړې وى. ﴿چه صرف يوځل به رانه اجازت غواړى.دهرځل وتلو لپاره داجازت غوښتو نيت ئې نه وى كړې.نوپه دې صورت كې﴾ ديانة به دده تصديق كولې شى. ﴿اودې به نه حانث كيږى﴾خوقضاء به ئې تصديق نشى كولې. ﴿بلكه قاضى به پرې كفاره ديمين واجبوى.اوديانة ئې تصديق كولې شى﴾ ځكه چې ده چې دكوم څيزنيت كړې دې.دده په كلام كې ددغه نيت احتمال شته. ﴿چه ده هم يوځل د اجازت غوښتلونيت كړې وى﴾ خوچونكه دده دا قول د ظاهرنه خلاف دې. ﴿نوقاضى به دده د نيت اعتبارنه كوى.ځكه چې قاضى د مسئلې په ظاهرى صورت باندې حكم لګوى﴾ البته دا ﴿چه خاوندښځې ته اووائى.ته به د كورنه نه اوځې.﴾ مګردا چې زه تاته اجازت اوكړم. ﴿نوداجازت په صورت كې د كورنه وتلې شى. ﴿او د دې قسم نه پس﴾ يوځل اجازت ئې ورته اوكړلو. اود دې نه روسته بيا دده د اجازت نه بغير اووتله. ﴿نوپه دې صورت كې﴾ نه حانثيږى.ځكه چې دا د كلمه د غايت ده.نوپه دې باندې به قسم ختميږى.لكه په دې صورت كې ﴿چه قسم ختميږى.چه﴾ دې ورته اووائى. ﴿ته به د كورنه بهرته نه وځې.﴾ تردې چې زه تاته اجازت اوكړم.

تشريح:- ((**لان هذه كلمة غاية فينتهى به**)) دلته دا خبره ياد ساتل پكار دى.چه غايت او عدم غايت په اعتبار سره حروف په دوې [دوه] قسمه دى.يوقسم هغه حروف دى.چه هغه د غايت د انتها اوختميدو لپاره وى. اوبل قسم هغه حروف دى.چه هغه نه ختميږى.بلكه په هرځل باندې پرې حكم مرتب كيږى.اوس كوم حروف چې دانتها د غايت لپاره نه وى.لكه كلمه د ((**كلما**)) شوه.مثلاً يوكس ((كلما دخلت هذه الدار فأنت طالق)) نواوس په دې صورت كې چې هرځل دخول راځى.طلاق به واقع كيږى.اوبل قسم هغه حروف دى.چه هغه د غايت د ختميدو لپاره وى.چه يوځل پرې حكم مرتب شى.بيا بيا پرې حكم نه مرتب كيږى.نوپه دغه حروف كې كلمه د ((**حتى**)) هم ده.كومه مسئله چې زيربحث ده.په هغې كې كلمه د ((**حتى**)) استعمال شوې ده.نوچه يوځل د خاوند په اجازت اووتله.كه په دوهم ځل دهغه د اجازت نه بغيرهم ووځى.نه حانثيږى .ځكه چې په يوځل خروج سره انتها د غايت اوشو.

دښځې په خروج الداريورې تعليق كول

(وَلَوْ أَرَادَتِ الْمَرْأَةُ الْخُرُوجَ فَقَالَ إِنْ خَرَجْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَجَلَسَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ لَمْ يَحْنَثْ) وَكَذٰلِكَ إِذَا أَرَادَ رَجُلٌ ضَرْبَ عَبْدِهِ فَقَالَ لَهُ آخَرُ إِنْ ضَرَبْتَهُ فَعَبْدِي حُرٌّ فَتَرَكَهُ ثُمَّ ضَرَبَهُ وَهٰذِهِ تُسَمّٰى يَمِينَ فَوْرٍ. وَتَفَرَّدَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِإِظْهَارِهِ. وَجْهُهُ أَنَّ مُرَادَ الْمُتَكَلِّمِ الرَّدُّ عَنْ تِلْكَ الضَّرْبَةِ وَالْخَرْجَةِ عُرْفًا، وَمَبْنَى الْأَيْمَانِ عَلَيْهِ.

حل اللغة: ① **الخروج:** وتل ② **جلست:** كيناسته ③ **تركه:** پريښول ئې ④ **فور:** دستى ⑤ **الضربة:** وهل

ژباړه:- اوكه ښځه ﴿كورنه د﴾ وتلواراده اوكړى. خاوند ورته اووائى.كه ته اووتلې.نوطلاقه به ئې.نوهغه ﴿اول﴾ كيناستله.او ﴿دناستې نه پس﴾ بيا اووتله. ﴿نوپه دې صورت كې﴾ نه حانثيږى.اوهم دغه ډول

که تا دې اووهل.نوزما غلام دې ازاد وی. «حکم دې» چې یوسړې دخپل غلام د وهلو اراده اوکړی.نوبل کس ورته اووائی.«اووې نه وهلو» اوبیا ئې اووهلو. «دده د وینا نه پس» هغه دغه غلام پریښولو. امام ابوحنیفه رحمه الله ددې قسم په استنباط باندې ځان له ځانله «نونه حانثیږی» اودې ته یمین فور وئیلی شی. «حکم» وجه دا ده.چه په عرف کي «د داسې کلام نه» «یعنی دا دهغوی ایجاد دی» اوددې «مولی دخپل غلام د» وهلو «اوښځه د کورد» وتلونه منع کول دی.اود قسمونو دمتکلم مقصد دارومدارپه عرف باندې دي.

تشریح:- «وهده تسمی یمین فور»یعنی دیمین دوې [دوه] قسمونه دی.یویمین علی الفور اوبل یمین علی التراخی. یمین علی التراخی هغه معلق قسم دې.چه کله هم شرط موجود شی.نودې به حانثیږی.او دوهم علی الفور هغه دې.که بالفورشرط موجود شی.نوحانثیږی.اوکه بالفورشرط موجود نشی.نونه حانثیږی.لکه په زیربحث مسئله کي چې کوم قسم دې.نودا هم یمین بالفوردې.ځکه په دې صورتونوکي هم دحالف مقصود دا دې.چه ښځه فی الحال د کورنه بهرته اونه ځی.اودغه ډول په دوهم صورت کي مقصود دا دې.چه فی الحال د غلام د وهلونه منع شی.ددې قسم استنباط امام ابوحنیفه رحمه الله کړې دې.

د «إجلس فتغد عندي» حکم

(وَلَوْقَالَ لَهُ رَجُلٌ اجْلِسْ فَتَغَدَّ عِنْدِي قَالَ إِنْ تَغَدَّيْتُ فَعَبْدِي حُرٌّ فَخَرَجَ فَرَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ وَتَغَدَّى لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ كَلَامَهُ خَرَجَ مَخْرَجَ الْجَوَابِ فَيَنْطَبِقُ عَلَى السُّؤَالِ فَيَنْصَرِفُ إِلَى الْغَدَاءِ الْمَدْعُوِّ إِلَيْهِ، بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ إِنْ تَغَدَّيْتُ الْيَوْمَ لِأَنَّهُ زَادَ عَلَى حَرْفِ الْجَوَابِ فَيُجْعَلُ مُبْتَدَأً.

حل اللغة: ① تغد: ناشته ، د صبا خوراک ② منزل: کور ③ ینطبق: منطبق کیږی

ژباړه-اوکه ده «زید» ته یو سړی «بکر» اووئیل.کینه ما سره ناشته اوکړه «یعنی د سهار ډوډئ اوخوره» اوکړه.نوزید اووئیل.که ما ناشته اوکړله.نوزما غلام دې آزاد وی. «ددې قول نه روسته د مجلس نه» دې بهر شو. اوخپل کور «ته بیا بل ځائې» ته لاړلو.اوناشته ئې اوکړله.نو «په دې صورت کي» نه حانثیږی.ځکه چې دده کلام «که ما ناشته اوکړله.نوزما غلام دې آزاد وی» د ځواب په موقع باندې صادر شوې دې. «یعنی په دې قول کي زید د بکرد خبرې ځواب ورکوی.چه زه تاسره اوس ناشته نه کوم» نوځواب به د سوال مطابق وی. او د دې قول څخه به هغه ناشته مراد وی.دکومې چې ده ته دعوت ورکړې شوې دې.په خلاف دهغه صورت که «زید» داسې اووائی.که ما نن ناشته اوکړله. «نوزما غلام دې آزاد وی.اوبیا ددغه مجلس نه بهرشو.کوریا بل ځائې ته لاړلو.اوهم په دغه ورځ کي ئې ناشته اوکړله.نوحانثیږی» ځکه چې ده ته کوم ځواب ورکول پکار وو.په هغې باندې ئې زیادت اوکړلو. «یعنی ده ته صرف دا پکار وو.چه وئیلې ئې وی.زه ناشته نه کوم.خوچه ده دهغه په ځواب باندې زیادت اوکړلو.» نودا به د پیل نه قسم ګرځولې شی. «ددې به دهغه دځواب سره څه تخصیص نه وی.ځکه چې ده تهوله ورځ یاده کړې ده.نوپه ټوله ورځ کي دغه مجلس هم راځی.اوددې نه روسته ترماښامه پورې نور وختونه هم»

تشریح:- دژباړې اواضافی قیوداتونه مطلب ښکاره دی.

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَرْكَبُ دَابَّةَ فُلَانٍ فَرَكِبَ دَابَّةَ عَبْدٍ مَأْذُونٍ لَهُ مَدْيُونٍ أَوْ غَيْرِ مَدْيُونٍ لَمْ يَحْنَثْ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ (1) لِأَنَّهُ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ مُسْتَغْرِقٌ لَا يَحْنَثُ وَإِنْ نَوَى لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لِلْمَوْلَى فِيهِ عِنْدَهُ، وَإِنْ كَانَ الدَّيْنُ غَيْرَ مُسْتَغْرِقٍ أَوْ لَمْ يَكُنْ

[1] القول الراجح هو هذا قول أبی حنیفة رحمه الله كذا فی فتح القدیر(٤\٣٩٤)وردالمحتار(٣\٩٤) والهندیة (٢\٨١) والبحر الرائق (٤\٣١٦)-

عَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَحْنَثُ مَالَمْ يَنْوِهِ لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيهِ لِلْمَوْلَى لَكِنَّهُ يُضَافُ إِلَى الْعَبْدِ عُرْفًا، وَكَذَا شَرْعًا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ بَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَهُوَ لِلْبَائِعِ} الْحَدِيثَ(١) فَتَخْتَلُّ الْإِضَافَةُ إِلَى الْمَوْلَى فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ.

حل اللغة: ① **يركب**: سوريږي ② **مديون**: قرضداري ③ **مستغرق**: راګيرشوي ④ **يضاف**: نسبت کولې شي ⑤ **تختل**: خلل واقع کيږي ،رکاوټ واقع کيږي

ژباړه:- اوچا ﴿زيد﴾ چي قسم اوخوړلو.چه دفلانی ﴿بکر﴾ په سپرلئ به نه سوريږم. ﴿اووددې نه پس﴾ دهغه د عبد ماذون په سپرلئ باندې سور شو.برابره ده که دغه غلام دچا مقروض وی اوکه نه وی. ﴿په دواړو صورتونوکي﴾ دابوحنيفهؒ په نيز حانثيږی. ﴿خوپه دې شرط چي په قسم کي ئې دعبد ماذون په سپرلئ د سوريدو نيت نه وی کړې.ځکه چي عبدماذون اودده په ملکيت کي چي څه دی.هغه واړه د مولی ملکيت دې.نوچه د مولی ملکيت شو.نوپه هغې سوريدل سبب د حنث دې﴾ البته که په دغه غلام باندې دين مستغرق وی. ﴿اوزيد پرې سورشی.نوپه دې صورت کي﴾ نه حانثيږی.اګرچه ده ﴿زيد په قسم کي﴾ دا نيت کړې وی.چه دعبدماذون په سپرلئ باندې به هم سورلی نه کوم﴾ ځکه چي دابوحنيفهؒ په نيزپه مستغرق فی الدين غلام باندې دمولی ملکيت نشته. ﴿نوچه دهغه په ملك کي نه دې.که حالف ئې نيت کړې وی اوکه نه وی.نه به حانثيږی.يعنی د ده نيت لره څه اعتبار نشته﴾ البته ﴿که پور پرې وی خو مستغرق پور نه وی.اويا پرې هډو پور وی نه، ﴿نوپه دې دواړوصورتونوکي﴾ چي ئې ترڅو ﴿دا﴾ نيت نه وی کړې. ﴿چه دعبد ماذون په سپرلئ به هم نه سوريږم﴾ نونه حانثيږی. ﴿اوکه نيت ئې کړی وی.چه د عبدماذون په سپرلئ به هم نه سوريږم﴾ نوحانثيږی. ﴿يعنی په دې دواړو صورتونوکي نيت لره اعتبارشته.که نيت ئې کړې وی.نوحانثيږی.اوکه نيت ئې نه وی کړې.نونه حانثيږی.اود دين مستغرق په صورت کي که ئې د عبدماذون د سپرلئ نيت کړې چي په دې به هم نه سوريږم.اوکه نيت ئې نه وی کړې.په دواړو صورتونوکي نه حانثيږی.﴾ او ﴿که نيت ئې کړی وی.نوحانثيږی﴾ ځکه چي دعبدماذون په سپرلئ باندې د مولی ملکيت شته البته دا ده.چه په عرف کي غلام ته نسبت کولې شی. ﴿خلګ وائی .د فلانی دغلام سورلی﴾ اوپه شريعت کي هم ﴿دغلام دځيز مالك مولی دې.ګورئ چي﴾ نبیﷺ فرمائيلی دی.چا چي غلام خرڅ کړلو.اودهغه مال وی.نوهغه مال به د بائع وی.حديث ترآخره پورې اولولئ. ﴿ګورئ په دې حديث کي هم نبی ﷺ دمال نسبت مولی ته کړې دې.نومعلومه شوه.چه د عبد ماذون ملکيت د مولی ملکيت دې.نوهرکله چي د عرف په وجه د غلام چي مولی ته کوم نسبت کيږی.په هغې کي خلل واقع شونودې خلل واقع کيدو دا نتيجه راويستله.چه.په قسم کي د عبدماذون په سپرلئ باندې د سوريدو﴾ نيت ضروری دې. ﴿که نيت ئې نه وی کړې.نونه حانثيږی.اوکه نيت ئې کړې وی.نوحانثيږی﴾

تشريح:- «**ومن حلف الخ**» صورت د مسئلې دا دې.چه زيدقسم اوخوری.چه د بکرپه سپرلئ به نه سوريږم. ددې نه پس د بکرد عبدماذون په سپرلئ باندې سور شو.نود دې مسئلې څو صورتونه دی.① که د بکر د عبدماذون په سپرلئ باندې سور شی.که دغه عبدمقروض وی اوکه نه وی.په دواړو صورتونوکي نه حانثيږی.خوپه دې شرط چي دعبدماذون په سپرلئ د سوريدو نيت ئې نه وی کړې.② چي د بکرپه عبد ماذون باندې پور مستغرق وی.نوپه دې صورت کي د عبدماذون په سپرلئ سوريدوباندې نه حانثيږی.که په قسم کي ئې د ده په سپرلئ د سوريدو نيت کړې وی اوکه نه وی کړې. ③چه عبد ماذون مقروض وی. خو دين مستغرق نه وی.يا پرې هډو پور نه وی.نوپه دې صورت کي دعبدماذون په سپرلئ ئې د نه سوريدو نيت هم کړې وی .حانثيږی به،په دې درې واړو صورتونوکي چي دحنث اوعدم حنث کوم احکام بيان شول .دا دامام ابوحنيفهؒ مسلك دې.اوامام ابويوسفؒ فرمائی.چه په دې ټولو صورتونو کي که د عبدماذون په

---

١) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاری فی البيوع باب ٩٠ ومالک فی البيوع رقم ٩ ومسلم في البيوع رقم ٧٧ وأبوداود فی البيوع باب ١٢ رقم ٣٤٣٣ وابن ماجه فی التجارات باب ٣١ رقم ٢٢١١ وأحمد فی المسند ٦/٢)_

سپرلئ د نه سوریدو نیت ئي کړي وي.اوسور شو پري نوحانثیږي. او امام محمد رحمه الله فرمائی. چي په ټولوصورتونوکي حانثیږي.که نیت ئي کړی وي اوکه نه وي کړي.

«دابة» دابه په لغت کي هغه څیزته وائی.چه په مځکه باندي خوزي.اودقسم په باب کي چي دابه ذکر شي. نو ددي نه هرهغه ځناور مراد وي.په کومه باندي چي سورلی کولي شي.لکه اس خراوقچر،اوپه کومو چي سورلی نشی کولي.لکه غوا ګامیښه (میخه) وغیره نوپه دي باندي نه حانثیږي.

«عبدماذون» عبدماذون غه غلام ته وائی.چه دمولی داړخه ورته د تجارت کولواجازت شوي وي.مثلاً زید عبد ماذون دي.اوپه تجارت کي ده لس زره روپۍ پیدا کړي.نوپه حقیقت کي دغه لس زره روپۍ هم د مولی دي.ځکه چي عبدماذون د مولی د ملکیت نه نۀ خارجیږي.البته په عرف کي عبدماذون د مولی په ملکیت کي نه پاتي کیږي.بلکه دي د مکاتب پشان ګڼړلي شي.

« دین مستغرق» دین مستغرق دي ته وائی.چه کوم کس ته د مولی د اړخه دتجارت اجازت شوي وي. او هغه دومره قرضداري شوي وي.چه دده څومره قیمت وي.اوڅومره سرمایه ورسره وي.دهغي برابر وي.مثلاً دده قیمت پنځه زره روپۍ دي.اوڅه ورسره دي.هغه د دوو زرو روپووی.اوپه ده باندي اووه زره روپۍ پور وي.نودي ته دین مستغرق وائی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا: يَحْنَثُ إِذَا نَوَاهُ لِاخْتِلَالِ الْإِضَافَةِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَحْنَثُ وَإِنْ لَمْ يَنْوِهِ لِاعْتِبَارِ حَقِيقَةِ الْمِلْكِ إِذْ الدَّيْنُ لَا يَمْنَعُ وُقُوعَهُ لِلسَّيِّدِ عِنْدَهُمَا.

حل اللغة: ① اختلال: خلل راتل،رکاوټ پیدا کیدل

ژباړه:- په مذکوره مسئله کي امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه په ټولوصورتونوکي چي ﴿د عبدماذون په سپرلئ د نه سوریدو﴾ نیت ئي کړی وي.نوحانثیږي. ﴿اوکه نیت ئي نه وي کړي.نونه حانثیږي.اونیت کول ضروری دي﴾ ځکه چي ﴿مولی ته د عبدماذون د سورلئ﴾ په نسبت کي خلل واقع شوي دي. ﴿اودغه خلل عبدماذون ته د تجارت کولوپه وجه راغلي دي.نوچه خلل واقع شو.نود یمین په باب کي به بغیرد نیت نه دعبدماذون سورلی د مولی په سپرلئ کي نه داخلیږي.اوچه نه داخلیږي.نوکه حالف د عبدماذون په سپرلئ سورشو.نه حانثیږي﴾ اوامام محمد رحمه الله فرمائی.چه ﴿په ټولوصورتونوکي﴾ حانثیږي.اګرکه ﴿د عبدماذون په سپرلئ د سوریدو﴾ نیت ئي نه وي کړي.ځکه حقیقی ملك لره اعتبار دي. ﴿اوحقیقی ملك د مولی دي﴾ ځکه چي دصاحبینو رحمهما الله په نیز پور دمولی د ملکیت سره مانع نه دي. ﴿یعنی په دي کي څه منافات نشته.چه په عبدماذون باندي دین مستغرق وي.نودي د مولی غلام نشی پاتي کیدي.بلکه عبدماذون به مقروض هم وي.اودمولی په ملکیت کي به هم وي.نوهرکله چي د مولی د ملکیت نه نۀ خارجیږي.نوکه حالف د ماذون فی التجارت په سپرلئ سورشو.دا داسي شوه.لکه چي د مولی په سپرلئ سورشو.اودمولی په سپرلئ سوریدو په صورت کي حانثیږي.نود عبدماذون په سپرلئ سوریدوباندي به هم حانثیږي﴾

تشریح:- دژباړي اواضافی قیودأتونه مطلب ښکاره دي.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ)

ژباړه:- ﴿دا﴾ باب په خوراك څکاك باندي قسم خوړلو ﴿په بیان﴾ کي دي.

د قجوري د وني نه د نه خوړلو قسم کول

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذِهِ النَّخْلَةِ فَهُوَ عَلَى ثَمَرِهَا) لِأَنَّهُ أَضَافَ الْيَمِينَ إِلَى مَا لَا يُؤْكَلُ فَيَنْصَرِفُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهُ وَهُوَ الثَّمَرُ لِأَنَّهُ سَبَبٌ لَهُ فَيَصْلُحُ مَجَازًا عَنْهُ، لَكِنَّ الشَّرْطَ أَنْ لَا يَتَغَيَّرَ بِصَنْعَةٍ جَدِيدَةٍ حَتَّى لَا يَحْنَثَ بِالنَّبِيذِ وَالْخَلِّ وَالدِّبْسِ الْمَطْبُوخِ.

حل اللغة: ① النخلة: خرما ② ثمر: میوه ③ الخل: سرکه ④ الدبس: د قجورو پخ شوي رس

ژباړه:- ابـو الحسين قـدوري رحمه الله فرمـائي. چاچـه قـسم اوخوړلـو. چـه د قجـورې ددې ونـې څخـه بـه خـوراك نـه كوم. نوددې قسم اطلاق به ددې په ميوه باندې كيږي. ځكه چې ده د قسم نسبت هغه ځيزته اوكړلو. چه هغه نـه خوړلې كيږي. ﴿چه وونه ده﴾ نوهغه ځيزبه ترې مراد وي. چه ددې ونې نه راوځـي. اوهغـه ميـود ده. ځكـه چې ونه د ميوې پيدا كيدو سبب دې. ﴿هركله چې ونه د ميوې د پيدا كيدوسبب دې﴾ نـودا صـلاحيت لـري. چه ونـه د ميـوې نـه مجـاز شـي. ﴿اودقبـيلې د ذكـرد سـبب مـراد تـرې نـه مـسبب شـي﴾ خوشـرط ﴿د دې مجازدصحت دا﴾ دې. چه دغه ميوه په بل څه ذريعه باندې متغيره نشي. ﴿اوكه په بل څه ذريعه اوواسطه باندې د قجورې د ونـې ميـوه متغيـره اوبدلـه شـي. نوبيـا ددغـه ځيزيـه خـوراك نـه حانثيـږي﴾ تـردې چې د نبيذ، سركې اوپـخ شـوې د قجـورو رس كـه اوڅكـي. نونـه حانثيـږي. ﴿ځكـه چـې دا شـيان (ځيزونـه) اصـل د قجورې په اصلي حالـت كـي نـه پـاتې كيـږي. بلكـه ددې پـه صـفت اوخاصـيت كـي تـوپير راځـي. ځكـه كـه دا اوڅكي. نونه حانثيږي﴾

تشريح:- دژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

د د كچه قجورو خوړلو نه قسم خوړل

(وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذَا الْبُسْرِ فَصَارَ رُطَبًا فَأَكَلَهُ لَمْ يَحْنَثْ. وَكَذَا إِذَا حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذَا الرُّطَبِ أَوْ مِنْ هَذَا اللَّبَنِ فَصَارَ تَمْرًا أَوْ صَارَ اللَّبَنُ شِيرَازًا لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ صِفَةَ الْبُسُورَةِ وَالرُّطُوبَةِ دَاعِيَةٌ إِلَى الْيَمِينِ، وَكَذَا كَوْنُهُ لَبَنًا فَيَتَقَيَّدُ بِهِ، وَلِأَنَّ اللَّبَنَ مَأْكُولٌ فَلَا يَنْصَرِفُ الْيَمِينُ إِلَى مَا يُتَّخَذُ مِنْهُ،

حل اللغة: ① **البسر**: كچه قجورې ② **رطبا**: پخې قجورې ③ **اللبن**: شيدې، شوده ④ **شيرازا**: كـوود، هغـه شيدې چې په جوش سره ترې اوبه ختمې شوې وي

ژباړه:- اوكه قسم ئې اوخوړلو. چه دا كچه قجورې به نه خورى. ﴿په هغه وخت كي ئې اونـه خوړلې. خو﴾ چې كله هغه پخې شوې. نـوې خوړلې. ﴿په دې صورت كي﴾ نـه حانثيـږي. اودغـه شـان چې قسم اوخوري. چه ددې پخوقجورو څخه به نه خوري. اويا ﴿قسم اوخوري.﴾ چې ددې پيـو څخـه بـه نـه څكـي. ﴿دقسم خوړلو نه پس﴾ هغه پخې قجورې چوارې شوې. اوياد پيو نه كوه ﴿چه شيدې ډيرجوش كړې شي. اواوبه ترې ختمې شي﴾ جوړه شي. نوبه دې ﴿ټولوصورتونوكي﴾ نه حانثيږي. ځكه چې د كچـه والـي اوپـوخ والـي صـفت قـسم خوړلو ته اماده كونكى دى. اوشان د پيو صفت قسم ته آماده كونكې دې. ﴿يعني خلگ كچه اوپخې قجـورې دواړه دبل ځيزد ګډون نه بغير خوري. نوچه په كوم صفت باندې قسم خوړلې شوې وي. هم﴾ پـه هغـه صفت بـه مقيد كـولې شـى. اوبلـه دا چـې شيدې پـه خپلـه خوړلـې شـى. نوبـه قـسم كـي بـه دهغـه ځيزيـه خوړلونـه حانـث كيږي. چه د پيو نه جوړيږي. ﴿لكه ماسته، ملائي وغيره﴾

تشريح:- ديمين په باب كي قاعده دا ده. چه ديـوځيزد نـه خوړلوقسم اوخوري. مـثلاً قجورې، يا شيدې شو. نوچـه دغـه ځيزيـه كـوم صـفت موصـوف وى. كـه دغـه صـفت پـه كـي وى. اوڅـه تـوپير (تبـديلى) پـه كـي نـه وى راغلې. نودهغـه پـه خـوراك بـه حانثيـږي. اوكـه پـه هغـه صفت كـي تـوپير راغلـه. نوبيـا دهغـې پـه خـوراك نـه حانثيږي. لكه چې د كچه قجورو نه خوړولوقسم ئې خوړلې وى. نوكه پخې قجورې اوخوري. نه حانثيږي. ځكـه چې د كچـه والـي صفت پـه كـي پـاتې نـشو. دغـه ډول كـه د پيونـه څښلو قـسم ئـې خوړلـې وى. اود پيـو نـه بـل ځيزجوړ شوې وى. مثلاً ماسته، ملائي يا سكريم وغيره نوددې پـه خـوراك نـه حانثيـږي. ځكـه چـې د پيواصلي صفت په كي بدل شو. دې ځيزونوته اوس څوك شيدې نه وائي. بلكه نور نومونه ورته اخلي.

د ماشوم يا ځوان سره د خبرو كولونه قسم

بِخِلَافِ مَا إِذَا حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هَذَا الصَّبِيَّ أَوْ هَذَا الشَّابَّ فَكَلَّمَهُ بَعْدَ مَا شَاخَ لِأَنَّ هِجْرَانَ الْمُسْلِمِ بِمَنْعِ الْكَلَامِ مَنْهِيٌّ عَنْهُ فَلَا يُعْتَبَرُ الدَّاعِي دَاعِيًا فِي الشَّرْعِ. (وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ لَحْمَ هَذَا الْحَمَلِ فَأَكَلَ بَعْدَ مَا صَارَ كَبْشًا حَنِثَ) لِأَنَّ صِفَةَ الصِّغَرِ فِي هَذَا لَيْسَتْ بِدَاعِيَةٍ إِلَى الْيَمِينِ فَإِنَّ الْمُمْتَنِعَ عَنْهُ أَكْثَرُ امْتِنَاعًا عَنْ لَحْمِ الْكَبْشِ

حل اللغـة: ① **الصبی**: ماشوم ② **الشاب**: ځوان ③ **شاخ**: سپين ږيرې (بوډا) شو ③ **لحم**: غوښـه ④ **الحمل**: د خيټې بچې ⑤ **كبشا**: ګډ ⑥ **الصغر**: ماشومتوب ،ورکوټوالې

زباړه:- په خلاف دهغه صورت چې قسم اوخوري.چه دې ماشوم سره به خبرې نه کوی.يا دې ځوان سره به خبرې نه کوی.اودې ورسره د بوډاتوب نه روسته خبرې اوکړی. ﴿نوپه دې ضورت کې نه حانثيږی.حالانکه د ذکرشوې قاعدې مطابق پکاردا وه.چه دا قسم دماشومتوب اوځوانئ پورې خاص وې.په بوډاتوب کې د ماشوموالی اود ځوانئ صفت پاتـه نـه وی.خوشريعت ددې صفت اعتبـار ختم کـړې دې.اودا مسئله ددې ذکرشوې قاعدې نه خلاف ده﴾ ځکه چې دمسلمان سره خبرې نه کولونه ﴿په شريعت کې﴾ منع شوې ده. نو﴿په دې صورت کې﴾ دشريعت په نظرکې داعی ﴿چه بچپن او پيری ده﴾ معتبرنـه شو.اوکه قسم ئې اوخوړلو . چې د دې حمل ﴿د ګډې يوکلنيز بچی﴾ نه به خوراك نـه کوی.بيا د ګډ کيدونه روسته ترې خوراك اوکړی. ﴿نوپه دې صورت کې﴾ حانثيږی.ځکه چې په حمل کښې د صغرصفت د يمين داعی نه دې. ﴿يعنی داسې نه ده.چه يوسړې د يوکليز ګډ خوښې خوړلو نه نفرت کوی.اوچه کله ګډ شی.نوبيا ئې غوښه خوری﴾ ځکه چې نفرت کونکې ددې ﴿حمل د غوښې خوړلو﴾نه زيات نفرت کوی ﴿ددې حمل دغوښې په نسبت﴾ د غوښې د ګډ نه ﴿نوځوك چې دحمل د غوښې خوراك نـه قسم اوخوری.کـه دې د ګډ غوښه اوخوری.نوهم به حانثيږی.ځکه چې د يوکليز بچی غوښه چې ځوك نه خوری.دې به په طريقه اولی سره د ګډ خوښه نه خوری.ځکه چې د يوکليزبچی غوښه د ګډ دغوښې نه ترسکونه اومزيداره وی﴾

تشريح:- ((**بخلاف ما اذا حلف**)) دا ديو تقديری سوال ځواب دې.سوال دا دې.چه تاسوکومه قاعده ذکر کړلـه .چه په يوڅيزقسم اوخوړې شـی.اوپـه هغـه کـې پـه دغـه وخت کـې يوصفت موجـود وی.کـه هغـه صفت تـرې زائلـه شی.اوبيا دقسم شرط موجود شی.نونه حانثيږی.حالانکه دا قاعده په دې مسئله کې ماتـه ده.چه ماشوم سره يا ځوان سره د خبرو کولونـه قسم اوخوری.اوپـه بوډاتـوب کـې ورسره خبرې اوکړی.نوتاسودا وائـې.چه د بوډاتوب په خبرو هم حانثيږی.حالانکه دپيرئ په وخت کـې د صغراوځوانئ صفت موجـود نـه وی.نـوددې نـه ځواب ورکوی.

((**فلايعتبرالداعی داعياً**)) يعنی هرکله چې په شريعت کې په ماشوم باندې د رحم کولـواود مشرد عزت کـاوه حکم شوې دې.اودوی سره د خبروکولونه قسم خوړل د شفقت او عزت سره متضاد خبره ده.نوددې املـه بـه يمين پـه دې صفت بانـدې نـه منعقد کيږی.چه صغراوشيخوخت دې.بلکـه د دوی پـه ذات بـه منقعـد کيږی.کـه دوی ماشومان وی اوکه بوډاګان.نوچه دصغراوشيخوخت صفت لغو شو.چه کله هم ورسره خبرې اوکړی.حانثيږی به.

د کچه اوپخوقجورو د خوړلونه د قسم خوړلواحکام

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ رُطَبًا أَوْ بُسْرًا أَوْحَلَفَ لَا يَأْكُلُ رُطَبًا وَلَا بُسْرًا فَأَكَلَ مُذَنِّبًا حَنِثَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(1) وَقَالَا لَا يَحْنَثُ فِي الرُّطَبِ) يَعْنِي بِالْبُسْرِ الْمُذَنِّبِ وَلَا فِي الْبُسْرِ بِالرُّطَبِ الْمُذَنِّبِ لِأَنَّ الرُّطَبَ الْمُذَنِّبَ يُسَمَّى رُطَبًا وَالْبُسْرَ الْمُذَنِّبَ يُسَمَّى بُسْرًا فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ الْيَمِينُ عَلَى الشِّرَاءِ. وَلَهُ أَنَّ الرُّطَبَ الْمُذَنِّبَ مَا يَكُونُ فِي ذَنَبِهِ قَلِيلُ بُسْرٍ، وَالْبُسْرَ الْمُذَنِّبَ عَلَى عَكْسِهِ فَيَكُونُ آكِلُهُ آكِلَ الْبُسْرِ وَالرُّطَبِ، وَكُلُّ وَاحِدٍ مَقْصُودٌ فِي الْأَكْلِ بِخِلَافِ الشِّرَاءِ لِأَنَّهُ يُصَادِفُ الْجُمْلَةَ فَيَتْبَعُ الْقَلِيلُ فِيهِ الْكَثِيرَ.

حل اللغة: ① **بسرا**: کچه قجورې ② **رطبا**: پخې قجورې ③ **مذنبا**: هغه چواره چې د لکۍ د اړخه پخه وی نوره کچه وی ④ **الشراء**: اخستل ⑤ **يصادف**: مقابله کوی

(1) الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير (٣٩٨\٤) وردالمحتار (٩٨\٣) والبحرالرائق (٣٢٠\٤) والهندية (٨٢\٢)
...ل الراجح (٤١١/١) -

ژباړه:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي. چاچه قسم اوخوړلو. چه كچه قجوري به نه خوري. ﴿اودقسم نه روسته ئې﴾ بيا پخې قجورې اوخوړلې. نو ﴿په دې صورت كې﴾ نه حانثيږي. ځكه چې پخې قجورې كچه نه وي. ﴿اوده خوقسم د كچو قجورو نه كړې دې﴾ اوچاچه قسم اوخوړلو. چه پخې قجورې يا كچه قجورې به نه خوري. اويا ئې قسم اوخوړلو. چه پخې اوكچه قجورې به نه خوري. ﴿اود قسم نه روسته ئې﴾ مذنب ﴿هغه چواره چې دلكئ د اړخ نه پخه شوې وي. اوباقي كچه وي. نو په دې صورت كې﴾ ئې اوخوړله. نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز حانثيږي. اوصاحبين رحمهما الله فرمائي. چه د رطب په صورت كې نه حانثيږي. كه دا قسم ئې خوړلې وي. چه رطب به نه خوري. اوپه رطب مذنب باندې به هم نه حانثيږي. كه دا قسم ئې خوړلې وي. چه بسربه نه خوري. ځكه چې رطب مذنب ته هم رطب وائي. اوبسرمذنب ته هم بسر وائي. نود: داسې شو. لكه چې په اخستلوباندې قسم اوخوري. ﴿دكوم بحث چې به په راروانه مسئله كې راشي﴾ اودامام اعظم رحمه الله دليل دا دې. چه رطب مذنب هغې ته وائي. چه دهغې په لكئ كې لږ غوندې كچه والې وي. اوبسرمذنب ددې په عكس دې. ﴿يعنى چې دهغې په لكئ كې لږ غوندې پوخ والې وي. نوره ټوله كچه وي﴾ نود دې ﴿يعنى رطب مذنب اوبسرمذنب﴾ خوړل به لكه د رطب اوبسرخوړلوېشان وي. ﴿ځكه چې قاعده دا ده. چه اكثرلره حكم د كل وي. نورطب مذنب به هم د رطب په حكم كې وي. اوبسرمذنب به هم د بسرپه حكم كې وي چې لكه څنګه د رطب نه دقسم خوړلوپه صورت كې د رطب په خوړلو حانثيږي. دغه ډول به د رطب مذنب په خوړلو هم حانثيږي. اولكه څنګه چې د بسرنه د قسم كولوپه صورت كې دبسرپه خوړلو حانثيږي. دغه ډول به د بسرمذنب په خوړلوهم حانثيږي﴾ اوبل دليل دا دې. چه واړه ﴿كه رطب وي اوكه رطب مذنب اودغه ډول كه بسروي اوكه بسرمذنب﴾ واړه په خوړلوكښې مقصود دی. ﴿يعنى دبل شي د ګډون نه بغير خلګ واړه خوري. په خوړلوكې ځانله حيثيت لري. اوپاته صاحبين رحمهما الله چې په شراء باندې قياس كوي. نو﴾ په خلاف د اخستلو. ځكه چې اخستل د ټولو په مقابله كې وي. نوپه هغې كې به قليل د كثيرتابع وي. ﴿ددې مقيس عليه په ځواب به د راراون متن په شرح كې ځان پوهه كړی﴾

تشريح:- دژباړې اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دې

د رطب نه اخستلوقسم خوړلواحكام

(وَلَوْحَلَفَ لَايَشْتَرِي رُطَبًا فَاشْتَرَى كِبَاسَةَ بُسْرٍ فِيهَا رُطَبٌ لَايَحْنَثُ) لِأَنَّ الشِّرَاءَ يُصَادِفُ الْجُمْلَةَ وَالْمَغْلُوبُ تَابِعٌ (وَلَوْكَانَتِ الْيَمِينُ عَلَى الْأَكْلِ يَحْنَثُ) لِأَنَّ الْأَكْلَ يُصَادِفُهُ شَيْئًا فَشَيْئًا فَكَانَ كُلٌّ مِنْهُمَا مَقْصُودًا وَصَارَ كَمَا إذَا حَلَفَ لَايَشْتَرِي شَعِيرًا أَوْلَا يَأْكُلُهُ فَاشْتَرَى حِنْطَةً فِيهَا حَبَّاتُ شَعِيرٍ وَأَكَلَهَا يَحْنَثُ فِي الْأَكْلِ دُونَ الشِّرَاءِ لِمَا قُلْنَا.

حل اللغة: ① **كباسة:** وږى ② **شعيرا:** اوربشې ③ **حنطة:** غنم ④ **حبات:** دانې

ژباړه:- اوكه قسم ئې اوخوړلو. چه رطب به نه اخلي. او ﴿دقسم نه روسته ئې﴾ د كچه قجورو وږې واخستلو. چه په هغې وږی كې رطب هم وې. نو ﴿په دې صورت كې﴾ نه حانثيږي. ځكه چې اخستل د واړه وږی شوی دی. ﴿اوپه واړه وږی كې رطب كمې اوبسرزياتې دی.﴾ او ﴿قانون دا دې. چه﴾ مغلوب څيزد غالب تابع وی. ﴿نورطب دبسرتابع شوې. نوحكم به په بسرباندې مرتب كيږي. په رطب به نه مرتب كيږي. يعنى نه به حانثيږي﴾ اوكه قسم په خوراك باندې وی. ﴿چه رطب به نه خوري. او د قجورو وږې ورته پروت وی. او لږې لږې ترې راشوكوی. اوخوري ئې.﴾ نو ﴿د خوراك په صورت كې﴾ حانثيږي. ځكه چې په خوراك كې په يوې پسې بله خوړلې شی. ﴿نود غالب اومغلوب يا د تابع اومتبوع سوال په كې نه پيدا كيږي﴾ اورطب اويابس دواړه مقصود شوې. ﴿يعنى تابع په كې څه نشته. دواړه مقصود دی﴾ اوددې حكم داسې شو. چه قسم اوخوري. چه اوربشې به نه اخلي. اويا اوربشې به نه خوري. او ﴿ددې نه پس﴾ غنم واخلي. اوپه هغې كې د اوربشودانې وی. اوهغه اوخوري. نود خوراك په صورت كې حانثيږي. ﴿چه د خوراك نه ئې قسم كړې وی.﴾ اود اخستلوپه صورت كې نه حانثيږي. دهغه دليل د امله كوم چې موږ بيان كړلو.

تشریح:- ((**لما قلنا**)) په دې هغه دليل ته اشاره كوي.چه اخستل خود ټولوپه يوځائې كيږي.نوكه اوربشې زياتې وي.د بيعې په عقد كې به مقصود اوربشې وي.غنم نه وي.خود خوراك په مسئله كې هره يوه دانه مقصود ده.نوپه اوربشوكې كه د غنم دانه اوخوري.هغه به هم مقصود وي.اوحنث به پرې واقع كيږي.

دغوښې نه په قسم كولوكې دكب عدم شموليت

(وَلوحَلَفَ لَايَأكُلُ لَحْمًا فَأكَلَ لَحْمَ السَّمَكِ لَايَحْنَثُ) وَالقِيَاسُ أنْ يَحْنَثَ لِأنَّهُ يُسَمّى لَحْمًا فِي القُرْآنِ.وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أنَّ التَّسْمِيَةَ مَجَازِيَّةٌ لِأنَّ اللَّحْمَ مُنْشَؤُهُ مِنْ الدَّمِ وَلَادَمَ فِيهِ لِسُكُونِهِ فِي المَاءِ (وَإنْ أكَلَ لَحْمَ خِنْزِيرٍ أوْلَحْمَ إنْسَانٍ يَحْنَثُ) لِأنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقِيٌّ إلَّا أنَّهُ حَرَامٌ.وَاليَمِينُ قَدْ يُعْقَدُ لِلْمَنْعِ مِنْ الحَرَامِ (وَكَذَا إذَا أكَلَ كَبِدًا أوْكَرِشًا) لِأنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقَةً فَإنَّ نُمُوَّهُ مِنْ الدَّمِ وَيُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ اللَّحْمِ.وَقِيلَ فِي عُرْفِنَا لَايَحْنَثُ لِأنَّهُ لَايُعَدُّ لَحْمًا.

حل اللغة: ① **لحم**:غوښه ② **السمک**: كب ③ **منشا**:پيدا شوې ده ④ **الدم**: وينه ⑤ **الماء**: اوبه ⑥ **كبدا**:اينه ⑦ **نمو**: غټيدل

ژباړه:- امام محمد رحمه الله فرمائي.چا چې قسم اوخوړلو.چه غوښه به نه خوري.نوده د كب غوښه اوخوړله. ﴿په دې باندې﴾ نه حانثيږي.اوقياس دا وائي.چه حانث دې شي.ځكه چې په قرآن كې دې ﴿ دكب غوښې﴾ ته غوښه وئيلې شوې ده. ﴿الله تعالى فرمائيلى دى.(وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا) ﴾ اوداستحسان وجه دا ده.چه دكب غوښې ته لحم وئيل مجازاً دي.ځكه چې غوښه د وينې نه پيدا كيږي.اوپه كب كې وينه نشته.ځكه چې دې په اوبوكې اوسيږي. ﴿او وينې څيزپه اوبوكې ژوندې نشي پاتې كيدې﴾ آوكه د خنزير يا دانسان غوښه ئې اوخوړله.نوحانث كيږي.ځكه چې دا ﴿د خنزيراوانسان غوښه﴾ په حقيقت كې غوښه ده.البته دومره ده.چه حرامه ده. ﴿دخنزيرغوښه داهانت د امله اودانسان غوښه د كرامت د وجې﴾ اوقسم كله د حرامو نه دمنع كيدو لپاره خوړلې شي. ﴿لكه يوسړې اووائي.چه زما دې قسم وي.زه به شراب نه څكم﴾ اودغه ډول حكم دې ﴿چه حانثيږي﴾ چې اينه اولړې ﴿اوجرې﴾ اوخوري.ځكه چې دا په حقيقت كې غوښه ده.ځكه چې دا د وينې نه پيدا كيږي.اودغوښې.او دغوښې پشان ددې استعمال هم دې. ﴿خلگ اينه اولړې خوري﴾ اوونيلې شوي دي.چه زموږ په عرف كې ﴿داينه اولړى په خوراك﴾ نه حانثيږي.ځكه چې دې ته غوښه نشي وئيلې.

تشریح:- ((**لانه يسمى لحماً فى ا لقرآن**)) هركله چې په قرآن پاك كې دكب غوښې ته لحم وئيلې شوې ده.نوبيا ددې په خوراك باندې ولې نه حانثيږي.ددې نه ځواب دا دې.چه قرآن پاك كې مجازاً دكب غوښې ته غوښه وئيلې شوې ده.حالانكه د قسم دارومدار په عرف وي.اوپه عرف كې دكب غوښې ته غوښه نشي وئيلې.كه يوكس ته اوونيلې شي.چه د بازار نه غوښه راوړه.اوهغه كب راوړلو.نوده ته د كب راوړونكې وائي.دغوښې نه،په قرآن پاك كې غرونو ته ميخونه او زمكې ته فرش وئيلې شوې دي.كه يوكس قسم اوخوري.چه په ميخ يا فرش باندې به نه كينم.اودې په غريا په مځكه كيناستلو.نوپه دې باندې په اتفاق سره نه حانثيږي.دغه ډول په زيربحث مسئله كې به هم د كب په غوښه نه حانثيږي.

د وازګې د خوړلواو اخستلونه د قسم خوړلواحكام

(وَلَوحَلَفَ لَايَأكُلُ أوْلَايَشْتَرِي شَحْمًا لَمْ يَحْنَثْ إلَّافِي شَحْمِ البَطْنِ عِنْدَأبِي حَنِيفَةَ (١) وَقَالَا: يَحْنَثُ فِي شَحْمِ الظَّهْرِ أيْضًا) وَهُوَاللَّحْمُ السَّمِينُ لِوُجُودِخَاصِّيَّةِ الشَّحْمِ فِيهِ وَهُوَالذَّوْبُ بِالنَّارِ وَلَهُ أنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقَةً،ألَاتَرَاهُ أنَّهُ يَنْشَأمِنْ الدَّمِ وَيُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَهُ وَيَحْصُلُ بِهِ قُوَّتُهُ وَلِهَذَا يَحْنَثُ بِأكْلِهِ فِي اليَمِينِ عَلَى أكْلِ اللَّحْمِ،وَلَايَحْنَثُ بِبَيْعِهِ فِي اليَمِينِ عَلَى بَيْعِ الشَّحْمِ،وَقِيلَ هَذَا بِالعَرَبِيَّةِ،فَأمَّا اسْمُ بِيه

(١) الراجح هو هذا قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى فتح القدير(٤٠٠\١٤) والهندية (٨٤\٢) والدرالمختار(١٠٠\١٣) نقلاً عن القول [illegible]-

بِالْفَارِسِيَّةِ لَايَقَعُ عَلَى شَحْمِ الظَّهْرِ بِحَالٍ (وَلَوْحَلَفَ لَايَشْتَرِي أَوْلَايَأْكُلُ لَحْمًا أَوْشَحْمًا فَاشْتَرَى أَلْيَةً أَوْأَكَلَهَا لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ نَوْعٌ ثَالِثٌ حَتَّى لَايُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ اللُّحُومِ وَالشُّحُومِ.

حل اللغة: ① **شحم**: وازګه ② **بطن**: خيټه ③ **السمين**: ثوربه ④ **الذوب**: ويلى كيدونكې ⑤ **النار**: هور ⑥ **الظهر**: شا ⑦ **الية**: كوناټې

ژباړه:- امام محمد رحمه الله فرمائيلى دى.اوكه قسم ئې اوخوړلو.چه وازګه به نه خوري يا به ئې نه اخلي. ﴿نوددې نه روسته كه ده وازګه اوخوړله يا ئې واخستله﴾ نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد د خيټې د وازګې نه سوا د بل ځه په وازګه باندې نه حانثيږى.اوصاحبين رحمهما الله فرمائي.چه د شا په وازګه باندې هم حانثيږى. ﴿كه دا اوخوري يا ئې واخلي﴾ ځكه چې دا ثربه غوښه ده. ﴿يعنى د وازګې غوښه ده﴾ ځكه چې د وازګې خاصيت په دې كې موجود دې.چه په اور باندې ويلى كيږى.اودابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دا ﴿دشا غوښه﴾ په حقيقت كې غوښه ده.ته ګورې نه چې دا د وينې نه پيدا كيږى.اوهم د غوښې پشان استعماليږى.اوپه دې باندې د غوښې توان حاصليږى.اوهم دا وجه ده.چه په قسم كې ددې په خوراك حانثيږى. ﴿چه د غوښې خوړلو نه ئې قسم كړې وى﴾ اود شا د غوښې په خرڅولوباندې په قسم كې نه حانثيږى. ﴿چه ددې دخرڅولونه ئې قسم كړې وى.چه وازګه به نه خرڅوم﴾اوبعضې فقهاؤ دا فرمائيلى دى.چه دا اختلاف په هغه صورت كې دې.چه په عربئ كې ئې د شاوازګه ذكركړې وى.اوكه په فارسئ كې ئې د ((پيه)) لفظ وئيلى وى.نوپه هيڅ حالت كې د شا په غوښه ددې اطلاق نه كيږى.اوكه قسم اوخوري.چه غوښه به نه اخلي يا به وازګه نه اخلي.اوده د ګډ لم واخستل يا ئې اوخوړلو.نو ﴿په دې صورت كې﴾ نه حانثيږى. ځكه چې دا دريم قسم دې. ﴿نه غوښه ده.اونه وازګه ده﴾ هم دا وجه ده.چه د غوښواو وازګوپه نوم نه استعماليږى.

تشريح:- دامام ابوحنيفه رحمه الله اوصاحبينو رحمهما الله په مينځ كې د شا په وازګه كې اختلاف دې.كه يوكس د وازګې خوړلونه قسم اوخوري.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد د شا د وازګې په خوړلو باندې نه حانثيږى. اودصاحبينو رحمهما الله په نيزحانثيږى.خودامام ابوحنيفه رحمه الله قول صحيح دې.په ذخيره كې دى.اودغه ډول امام طحاوى رحمه الله هم فرمائيلى دى.چه دا قول دامام محمد شافعي اومالك رحمه الله هم دې.چه دشا د وازګې په خوړلوحانثيږى.اوكه د شا د وازګې نيت ئې كړې وى.نوبيا په اتفاق سره حانثيږى.

دغنمودخوراك نه قسم خوړلواحكام

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ مِنْ هَذِهِ الْحِنْطَةِ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْضِمَهَا، وَلَوْأَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا لَمْ يَحْنَثْ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ.وَقَالَا: إِنْ أَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا حَنِثَ أَيْضًا) لِأَنَّهُ مَفْهُومٌ مِنْهُ عُرْفًا وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ لَهُ حَقِيقَةً مُسْتَعْمَلَةً فَإِنَّهَا تُغْلَى وَتُقْلَى وَتُؤْكَلُ قَضْمًا وَهِيَ قَاضِيَةٌ عَلَى الْمَجَازِ الْمُتَعَارَفِ عَلَى مَا هُوَالْأَصْلُ عِنْدَهُ.وَلَوْقَضَمَهَا حَنِثَ عِنْدَهُمَا هُوَالصَّحِيحُ لِعُمُومِ الْمَجَازِ، كَمَا إِذَا حَلَفَ لَا يَضَعُ قَدَمَهُ فِي دَارِ فُلَانٍ.وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ فِي الْخُبْزِ حَنِثَ أَيْضًا.

حل اللغة: ① **الحنطة**: غنم ② **يقضم**: شخوند وهى ③ **خبز**: روټئ ④ **تغلى**: جوشولې شى ⑤ **تقلى**: وريته ولې شى ⑥ **توكل قضما**: په شخوند سره خوړلې شى ⑦ **يضع**: اوږدى

ژباړه:- چاچه قسم اوخوړلو.چه ددې غنمونه به خوراك نه كوى.نه حانثيږى.تردې چې په هغې شخوند او وهى.اوكه د غنمو ډوډئ ئې اوخوړله.نودابوحنيفه رحمه الله په نيزنه حانثيږى.اوصاحبين رحمهما الله فرمائي.كه د غنمو ډوډئ ئې اوخوړله.نوهم حانثيږى.ځكه چې په عرف كې د اوړو نه ډوډئ مراد وى. ﴿كه څوك قسم اوخوري .چه اوړه به نه خورم.نومراد ترې ډوډئ وى.ځكه چې اومه اوړه خوڅوك نه خوري﴾ اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه د ځانله جلا حقيقت مستعمله ده.ځكه چې دا جوشولې شى.ورته ولې شى.اوچپولو سره خوړلې شى .اوكه په دې ئې شخوند اووهلو.نودصاحبينو رحمهما الله په نيزحانثيږى.هم دا صحيح قول دې.دعموم مجاز د وجې،لكه څنګه چې قسم اوخوري.چه دفلاني په كوركې به قدم نه ږدى. ﴿دعموم مجاز د امله كه

په دغه كوركي قدم كيږدي يا په سپرلۍ ورشي نوبه دوارو صورتونوكي حانثيږي اوپه كتاب كي دي اړخ ته اشاره هم شوي ده چه د ډوډۍ په خوراك به هم حانثيږي.

تشريح:- صورت د مسئلې دا دي كه يوكس قسم اوخوړلو چه غنم به نه خوري نودې به ترهغه وخته پوري نه حانثيږي ترڅوچه نې په هغې شخوند نه وي وهلې خكه چې د يوځيزخوراك هله واقع كيږي چه په هغې باندې شخوند اووهلې شي اوتيركړې شي اومعدې ته اورسي په دې مسئله كي چې قسم نې د غنمود خوراك نه كړې دې اواوخوري روټۍ نودامام ابوحنيفه رحمه الله اوصاحبينو رحمهما الله اختلاف دې دامام اعظم په نيزكه ډوډۍ نې اوخوړه نه حانثيږي اودصاحبينو رحمهما الله په نيزد ډوډۍ په خوراك حانثيږي ددې اختلاف بنيادي وجه دا ده چه دكوم لفظ دوې ادوه معانى مستعمل وي حقيقي اومجازي نوامام اعظم رحمه الله دهغې نه حقيقي معنى مراد اخلي اوصاحبين رحمهما الله ترې مجازي معنى اخلي نودخوراك اصلي معنى شخوندوهل اوخوړل دي نو خكه دامام اعظم رحمه الله په نيزدغنمود خوراك نه دقسم په خوړلوكي به هله حانثيږي چه شخوند موجود شوي وي برابره ده كه دغه غنم يشيدلې وي يا وراته شوې وي خكه چې په شخوند وهلوسره تيرول د خوراك حقيقي معنى ده اودصاحبينو رحمهما الله په نيزشخوندضروري نه دې بلكه بغيردشخوندنه هم حانثيږي. خكه كه شخوند وي اوكه نه مجازا ورته خوړل ونيلې شي

داوړود خوراك نه قسم خوړل

(وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هٰذَا الدَّقِيقِ فَأَكَلَ مِنْ خُبْزِهِ حَنِثَ) لِأَنَّ عَيْنَهُ غَيْرُ مَأْكُولٍ فَانْصَرَفَ إِلَى مَا يُتَّخَذُ مِنْهُ (وَلَوِ اسْتَفَّهُ كَمَا هُوَ لَا يَحْنَثُ) هُوَ الصَّحِيحُ لِتَعَيُّنِ الْمَجَازِ مُرَادًا. (وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ خُبْزًا فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يَعْتَادُهُ أَهْلُ الْمِصْرِ أَكْلَهُ خُبْزًا) وَذٰلِكَ خُبْزُ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ لِأَنَّهُ هُوَ الْمُعْتَادُ فِي غَالِبِ الْبُلْدَانِ (وَلَوْ أَكَلَ مِنْ خُبْزِ الْقَطَائِفِ لَا يَحْنَثُ) لِأَنَّهُ يُسَمّٰى خُبْزًا مُطْلَقًا إِلَّا إِذَا نَوَاهُ لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ (وَكَذَا لَوْ أَكَلَ خُبْزَ الْأَرُزِّ بِالْعِرَاقِ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ غَيْرُ مُعْتَادٍ عِنْدَهُمْ حَتّٰى لَوْ كَانَ بِطَبَرِسْتَانَ أَوْ فِي بَلْدَةٍ طَعَامُهُمْ ذٰلِكَ يَحْنَثُ

حل اللغه ① **الدقيق** اوړه ② **خبز** روټۍ ③ **استف** اوړه اومه اوخوړل ④ **الشعير** اوربشې ⑤ **المعتاد** دعادت مطابق ⑥ **البلدان** جمع د بلد ښار ⑦ **القطائف** د كدو، خربوزې، بادامود دانو نه جوړه شوې روټۍ ⑧ **ارز** روژې

زباره - امام قدوري رحمه الله فرمائي كه قسم نې اوخوړلو چه دا اوړه به نه خوري اوبيا نې دهغې د ډوډۍ نه خوړيږي اوكه اوړه نې دغه ډول اومه اوخوړل نه حانثيږي (دا دې په خوراك) خكه چې دلته مجازي معنى مراد احتمال متعين ده اوكه قسم نې اوخوړلو چه ډوډۍ به نه خوري چه دښار خلگ چې د څه ډوډۍ خوري د ده په قسم كي به هغه مراد وي اوهغه دغنمو جوارو ډوډۍ ده خكه چې زياتوښارونوكي هم ددې رواج دې اوكه دقطائف (يعنې دكدو، خربوزې، بادامود دانو مغزنه جوړې شوې) ډوډۍ نې اوخوړله نوبه حانثيږي خكه چې عام طورددې نه ډوډۍ نشي ونيلې البته كه ددې روټو نيت نې كړې وي نوبه حانثيږي خكه چې د ده په كلام كي ددې روټو احتمال هم شته دغه ډول كه په عراق كي نې د وريخو ډوډۍ اوخوړله نوبه حانثيږي خكه چې د وريخو د ډوډۍ په دوى كي رواج نشته اوكه دې په طبرستان يا داسې ښاركي وي چه د وريخو ډوډۍ په كي خوړې شي (لكه بنگله ديش) نو (كه د وريخو ډوډۍ اوخوري) حانثيږي

تشريح:- د زباړې اواصافي قيوداتو په مطلب سكره دي

د ورته شوې غوښې خوړلوپه قسم خوړل

(وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الشِّوَاءَ فَهُوَ عَلَى اللَّحْمِ دُوْنَ الْبَاذِنْجَانِ وَالْجَزَرِ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ اللَّحْمُ الْمَشْوِيُّ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ مَا يُشْوٰى مِنْ بَيْضٍ أَوْ غَيْرِهِ لِمَكَانِ الْحَقِيقَةِ (وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الطَّبِيخَ فَهُوَ عَلَى مَا يُطْبَخُ مِنَ اللَّحْمِ) وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ اعْتِبَارًا

لِلعُرْفِ، وَهٰذَا لِأَنَّ التَّعْمِيمَ مُتَعَذِّرٌ فَيُصْرَفُ إِلٰى خَاصٍّ هُوَ مُتَعَارَفٌ وَهُوَ اللَّحْمُ الْمَطْبُوخُ بِالْمَاءِ إِلَّا إِذَا نَوٰى غَيْرَ ذٰلِكَ لِأَنَّ فِيهِ تَشْدِيدًا، وَإِنْ أَكَلَ مِنْ مَرَقِهِ يَحْنَثُ لِمَا فِيهِ مِنْ أَجْزَاءِ اللَّحْمِ وَلِأَنَّهُ يُسَمّٰى طَبِيخًا.

حل اللغة: ① الشواء: وريته شوې غوښه ② الباذنجان: باټينګړ ③ الجزر: چقندر ④ بيض: هګۍ ⑤ طبيخ پخ شوې څيز ⑥ مرق: خورواه

زباړه- اوکه قسم ئې اوخوړلو چه ورته شوې به نه خوري.نوددې اطلاق به په غوښه کيږي. «که وريته شوې غوښه اوخوري.حانثيږي به» په باټنګړو اوچقندرو به نه حانثيږي. «که دا دواړه شيان (څيزونه) وريت شوي وي.اودا اوخوري.نه به حانثيږي» ځکه چې کله وريت شوې څيز مطلقاً ذکرشي.مراد ترې وريته شوې غوښه وي.البته دا ده.که «په قسم کې» دهغه څيزنيت اوکړي.چه وريتولې شي.لکه هګۍ وغيره.دحقيقي معنى د وجې« يعنى د وريت شوي شي حقيقي معنى چې ورتيدل په کې وي.په هګۍ وغيره باندې صادقيږي.البته په عرف کې چې وريت شوې شي ياد کړې شي.نو مراد ترې هګۍ نه وي.خوچونکه دده کلام ددې احتمال هم لري.چه ددې نه وريته شوې هګۍ مراد شي.اوچه ده ئې نيت هم کړې وي.نودده نيت به معتبر وي.اوکه هګۍ اوخوري.حانث به شي» اوکه قسم اوخوري چې پوخ شوې څيزبه نه خوري.نوددې اطلاق به په پخه شوې غوښه کيږي.اودا د استحسان حکم دې.دعرف د اعتبار په وجه «ځکه چې په عرف کې چې پخ شوې څيزياد کړې شي.نومراد ترې پخه شوې غوښه وي.اوپه قسم کې خوعرف معتبردې»اودا ځکه مراد اخلو.چه د پخ شوې څيزعامه معنى اخستل متعذر دی. «ځکه چې په دې کې سبزي غوښه ترې وغيره هرپخ شوې څيزشامليږي.نوکه موږ ددې نه هرپخ شوې څيزواخلو.نوپه ده به غوښه اوسبزيان اوبکرې متې غرض دا چې هرهغه څيزچه په اور پخ شوې وي.هغه حرام شي.نودا غريب به څه خوري؟.ددې امله موږ د پخ شوې څيزعامه معنى وانخستله» نود دې پخ شوې څيزنه به خاص متعارف څيزمراد وي.يعنى هغه غوښه چې په اوبوکې پخ شوې وي.البته دا چې د ده د پخ شوې څيزنه د قسم کولوپه وخت کې دبل څه نيت هم کړې وي. «نودده نيت به معتبروي.اودهغه څيزپه خوړلوبه حانثيږي» ځکه چې په دې کې «په حالف باندې» سختي ده. «نودده تصديق به کولې شي.که بالفرض ده ته په کښې آساني وه.نوبيا به دده تصديق نشوکولې» اوکه ده د غوښې د خوراه نه اوخوړله.نوهم به حانثيږي.ځکه چې په ښوروواه کې د غوښې اجزاء وي.اوبله دا چې خورا ته هم پخ شوې څيزونيلې شي.

تشريح.- دژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښکاره دې.

دسرد خوړلونه د قسم کولواحکام

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الرُّءُوسَ فَيَمِينُهُ عَلٰى مَا يُكْبَسُ فِي التَّنَانِيرِ وَيُبَاعُ فِي الْمِصْرِ) وَيُقَالُ يُكْنَسُ (وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ رَأْسًا فَهُوَ عَلٰى رُءُوسِ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ عَلَى الْغَنَمِ خَاصَّةً، وَهٰذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ كَانَ الْعُرْفُ فِي زَمَنِهِ فِيهِمَا وَفِي زَمَنِهِمَا فِي الْغَنَمِ خَاصَّةً وَفِي زَمَانِنَا يُفْتٰى عَلٰى حَسَبِ الْعَادَةِ كَمَا هُوَ الْمَذْكُورُ فِي الْمُخْتَصَرِ.

حل اللغة: ① يكبس پخولې شی ② التنانير تنورونه ③ البقر غوا ④ الغنم: ګډې

زباړه- اوچا چې قسم اوخوړلو.چه زه به سر «يعنى دسرمغزوغيره» نه خورم.نوده د قسم څخه به هغه سرونه مراد وي کوم چې په تنورونوکې پخيږي. «لکه د وزه اوګډ سرونه شول» اوپه ښارونوکې خرڅيږي.اوپه جامع صغيرکې دی که قسم اوخوري.چه زه به سر نه خورم.نودابوحنيفه رحمه الله په نيزددې قسم اطلاق به د غوا اووزه دواړو په سرونوباندې کيږي. «که د غوا يا د وزه سرئې اوخوړلو.نوحانث کيږي به» اوامام ابويوسف اومحمد رحمهما الله فرمائي چه ددې اطلاق به صرف د وزه په سر باندې کيږي. «دبل څه د سرپه خوراك به نه حانثيږي» اوددې اختلاف بنيد د زمانې اووخت اختلاف دې.لکه چې د ابوحنيفه رحمه الله په زمانه کې په عرف کې د سراطلاق د غوا اووزه دواړو په سرباندې کيدلو. «ځکه هغوی د سرنه د غوا او وزه سرا مراد اخستې

دي﴾ اودصاحبينو رحمهما الله په زمانه کي صرف د وزه په سرباندي کيدلو.اوزموږ په زمانه کي به د عادت ﴿اوعرف﴾ په بنا (بنياد)فتوى وركولې شي.په مختصر القدورى کي هم دا خبره ذکرشوي ده.

تشريح:- دلته د سر سره دوي [دوه] قيده لګولي شوى دى.يودا چي په تنورونوکي پخيږى. دوهم دا چي خرڅيږى.ددې دواړو قيدونو نه دا معلوميږى.چه ددې د خوراك په خلګو کي رواج به وى.ځکه چي پخيدل اوخرڅيدل هم د خوراك لپاره وى.نوهم د دغه ځناورو سرونه به تري مراد وى.اودامام اعظم رحمه الله اوصاحبينو رحمهما الله په مينځ کي چي کوم اختلاف دې.د هغې بنا (بنياد) هم په عرف دې.چه د امام اعظم رحمه الله په زمانه کي په عرف کي د سراطلاق د غوا اووزه په سرکيدلو.اودصاحبينو رحمهما الله په زمانه کي صرف د وزه په سرکيدلو.نودخپلې خپلې زمانې دعرف په رڼړا کي ددوى رائې مختلف شوې.

د ميوې خوړلونه قسم كول

قال ﴿وَإِنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ فَاكِهَةً فَأَكَلَ عِنَبًا أَوْرُمَّانًا أَوْرُطَبًا أَوْقِثَّاءً أَوْخِيَارًا لَمْ يَحْنَثْ،وَإِنْ أَكَلَ تُفَّاحًا أَوْبِطِّيخًا أَوْ مِشْمِشًا حَنِثَ،وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ.وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ:حَنِثَ فِي الْعِنَبِ وَالرُّطَبِ وَالرُّمَّانِ أَيْضًا﴾(١) وَالْأَصْلُ أَنَّ الْفَاكِهَةَ اسْمٌ لِمَا يُتَفَكَّهُ بِهِ قَبْلَ الطَّعَامِ وَبَعْدَهُ:أَيْ يُتَنَعَّمُ بِهِ زِيَادَةً عَلَى الْمُعْتَادِ،وَالرَّطْبُ وَالْيَابِسُ فِيهِ سَوَاءٌ بَعْدَ أَنْ يَكُونَ التَّفَكُّهُ بِهِ مُعْتَادًا حَتّٰى لَايَحْنَثَ بِيَابِسِ الْبِطِّيخِ،وَهٰذَا الْمَعْنَى مَوْجُودٌ فِي التُّفَّاحِ وَأَخَوَاتِهِ فَيَحْنَثُ بِهَا وَغَيْرُ مَوْجُودٍ فِي الْقِثَّاءِ وَالْخِيَارِ لِأَنَّهُمَا مِنَ الْبُقُولِ بَيْعًا وَأَكْلًا فَلَا يَحْنَثُ بِهِمَا.

حل اللغة: ① فاكهة:هغه ميوه چي روټۍ نه روسته د خوند لپاره خوړلې شى ② عنب:انګور ③ رمان: انار ④ رطب: پخې قجور ⑤ قثاء:ترۀ ⑥ خيار،بادرنګ ⑦ تفاح:سيب ⑧ بطيخ:خربوزه ⑨ مشمش:خورمانړۍ ⑩ بقول:ترکارۍ

ژباړه:- ﴿امام محمد رحمه الله په جامع صغيركي﴾ فرمائى.كه يوكس قسم اوخوړلو.چه ميوه به نه خورى.نوده انګور،يا انار،ياپخې قجورې يا اكا يا بادرنګ اوخوړلو.نونه حانثيږى.اوكه سيو يا خربوزه يا خورمانړۍ ئې اوخوړلې.نوحانثيږى.دا دامام ابوحنيفه رحمه الله قول دې.اوامام ابويوسف اومحمد رحمه الله فرمائى.چه د انګورو،تازه قجورواواناركي هم حانثيږى. ﴿كه وې خوړل﴾ اوقاعده په دې كي دا ده.چه فاكهه هغه څيزته وئيلى شى.چه د ډوډۍ نه وړاندې يا روسته په عام عادتى خوراك باندې زياتى څه څيزد خوند لپاره اوخورى. ﴿اوپه كومو څيزونوكي چي دا معنى دتفكه موجود وى.نو﴾ په دې كي تازه او اوچ دواړه برابر دى. ﴿يعنى په دواړو د فاكهه اطلاق كيږى﴾ خودا برابرى په هغه وخت كي ده.چه ددې څيزونود تفكه په خلګ وكي معمول وى. ﴿يعنى دا شيان (څيزونه) د فاكهه په طورخورى﴾ تردې چي په اوچه خربوزه باندې نه حانثيږى. ﴿ځكه چي اوچۀ خربوزه د فاكهه په طورخوك نه خورى﴾ اودا معنى ﴿دتفكه﴾ په سيوو اوددې پشان څيزونوكښې موجود ده.نوددې په خوراك به حانثيږى.اودا معنى ﴿دتفكه﴾ په بادرنګ اوتره كي نه ده موجود.ځكه چي دا د خرڅولواوخوړلو په اعتبارسره په سبزيانودى. ﴿مثلاً كه څوك بادرنګ يا اكا خرڅوى نوهغه ته سبزى فروش وائى.ميوه فروش ورته نه وائى﴾ نوددې په خوراك به نه حانثيږى.

تشريح:- دژباړې اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دى.

وَأَمَّا الْعِنَبُ وَالرُّطَبُ وَالرُّمَّانُ فَهُمَا يَقُولَانِ إِنَّ مَعْنَى التَّفَكُّهِ مَوْجُودٌ فِيهَا فَإِنَّهَا أَعَزُّ الْفَوَاكِهِ وَالتَّنَعُّمُ بِهَا يَفُوقُ التَّنَعُّمَ بِغَيْرِهَا، وَأَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَقُولُ:إِنَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ مِمَّا يُتَغَذّٰى بِهَا وَيُتَدَاوٰى بِهَا فَأَوْجَبَ قُصُورًا فِي مَعْنَى التَّفَكُّهِ لِلِاسْتِعْمَالِ فِي حَاجَةِ الْبَقَاءِ وَلِهٰذَا كَانَ الْيَابِسُ مِنْهَا مِنَ التَّوَابِلِ أَوْمِنَ الْأَقْوَاتِ.

---

(١) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا فى ردالمحتار(٣\١٠٣) والهندية (٢\٨٨) ومجمع الأنهر(١\ ٥٧٠) والبحرالرائق نقلاً عن القول الراجح (١\٤١٣)-

حل اللغة: ① **العنب:** انګور ② **الرمان:** انار ③ **اعز الفواكه:** په ميوو كښې زياته خوښه ④ **التنعم** لذت اوخوند حاصلول ⑤ **يتغذى:** خوراک كولې شى ⑥ **يتداوى:** داوئى كولې شى ⑦ **قصور:** كموالې ⑧ **اليابس** وچ ⑨ **توابل** مصالحې ⑩ **الاقوات:** هغه څيز چې قوت پرې حاصلولې شى يعنى د خوراک څيزونه

زباړه:- اود انګور اوتازه قجورواو انارو په اړه كې صاحبين رحمهما الله فرمائى.چه په دې كې د تفكه معنى پرده ده.ځكه چې دا ښه ميوې دى.اوپه دې كې د نورو ميوو په نسبت خوند زيات دې. «نوځكه به ددې په خوراك حانثيږى» اوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.چه دا شيان (څيزونه) د داوئى اوغذا په طور استعماليږى.نودې استعمال ددې د تفكه په معنى كې نقصان پيدا كړلو. «ځكه چې فاكهه اصلى غذا نه وى.چه خلګ ئې د مړيدو په طور استعمالوى.بلكه دا يواضافى څيزدې.چه د خوند اولذت لپاره استعماليږى.اوچونكه په دې څيزونوكې دغذائيت داوئې صلاحيت موجود دې.ځكه چه» دا شيان (څيزونه) د انسانى ژوند اړتيا هم دې. «ځكه چې په ژوند كې دده غذا او دوائې ته اړتيا پيښيږى.داسې ضرورت چې ددې نه بغيردې ژوندې هم نشى پاتې كيداې .نوهركله چې دانګورو سيوو او انار نه داوئى جوړيږى.اود غذا كار وركوى.نودا صرف فاكه نه ده.» اوهم دا وجه ده. «چه دا صرف فاكهه نه ده» چې په دې كښې كوم وچ وى. هغه د مصالحه اوغذا په طور استعماليږى . «لكه كه يوكس اووائى.چه زما هرمملوك دې آزاد وى.نوپه دې قول باندې مكاتب نه آزاديږى.اګرچه هغه هم دده مملوك دې.خود مملوكيت معنى په كې كمزورې ده.دغه ډول دلته هم اګرچه انګور،قجورې ،انار فاكهه ده.خود عذائيت اوتداوى د امله په كې د تفكه معنى كمزورې شوې ده»

تشريح:- دژباړې اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

د تركارۍ نه د قسم خوړلواحكام

(وَلَوْحَلَفَ لَايَأْتَدِمُ فَكُلُّ شَيْءٍ اُصْطُبِغَ بِهِ فَهُوَإِدَامٌ وَالشِّوَاءُ لَيْسَ بِإِدَامٍ وَالْمِلْحُ إِدَامٌ، وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: كُلُّ مَا يُؤْكَلُ مَعَ الْخُبْزِ غَالِبًا فَهُوَإِدَامٌ) [1] وَهُوَرِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ لِأَنَّ الْإِدَامَ مِنْ الْمُوَادَمَةِ وَهِيَ الْمُوَافَقَةُ وَكُلُّ مَا يُؤْكَلُ مَعَ الْخُبْزِ مُوَافِقٌ لَهُ كَاللَّحْمِ وَالْبِيضِ وَنَحْوِهِ. وَلَهُمَا أَنَّ الْإِدَامَ مَا يُؤْكَلُ تَبَعًا، وَالتَّبَعِيَّةُ فِي الِاخْتِلَاطِ حَقِيقَةً لِيَكُونَ قَائِمًا بِهِ، وَفِي أَلَّا يُؤْكَلَ عَلَى الِانْفِرَادِ حُكْمًا، وَتَمَامُ الْمُوَافَقَةِ فِي الِامْتِزَاجِ أَيْضًا، وَالْخَلُّ وَغَيْرُهُ مِنْ الْمَائِعَاتِ لَا يُؤْكَلُ وَحْدَهُ بَلْ يُشْرَبُ، وَالْمِلْحُ لَا يُؤْكَلُ بِانْفِرَادِهِ عَادَةً وَلِأَنَّهُ يَذُوبُ فَيَكُونُ تَبَعًا، بِخِلَافِ اللَّحْمِ وَمَا يُضَاهِيهِ لِأَنَّهُ يُؤْكَلُ وَحْدَهُ إلَّا أَنْ يَنْوِيَهُ لِمَا فِيهِ مِنْ التَّشْدِيدِ، وَالْعِنَبُ وَالْبِطِّيخُ لَيْسَا بِإِدَامٍ هُوَ الصَّحِيحُ.

حل اللغة: ① **ادام:** تركارى ② **اصطبغ:** رنګ كيږى ③ **شواء:** وريته شوې غوښه ④ **ملح:** مالګه ⑤ **بيض:** هګۍ ⑥ **الاختلاط:** ګډون ⑦ **امتزاج:** يوبل سره ګډون ⑧ **يذوب:** ويلى كيږى ⑨ **يضاهى:** مشابه كيږى ⑩ **بطيخ:** خربوزه

ژباړه:- امام محمد رحمه الله «په جامع صغيركې» فرمائيلى دى.كه چا قسم اوخوړلو.چه زه به د ادام «تركارى» سره خوراك نه كوم.نوهرهغه څيزچه ډوډۍ پرې رنګ كيږى.اوخوړلې شى. «لكه سركه ،تيل،شهد» هغه ادام دې.او وريته شوې غوښه «ادام» نه دې. «ځكه چې دا د ډوډۍ نه بغيرهم خوړلې شى» اومالګه ادام نه دې. «ځكه چې دا د ډوډۍ سره خوړلې شى» دا دامام ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله قول دې.اوامام محمد رحمه الله فرمائيلى دى. هرهغه څيزچه په عامه توګه د ډوډۍ سره خوړلې شى.هغه ادام دې. «اګركه د ډوډۍ نه بغيرهم خوړلې شى» اودا د امام ابويوسف رحمه الله نه هم يو روايت دې.ځكه چې د ادام لفظ د موادمت نه مشتق دي.اودا موافقت ته وائى.اوهرهغه څيزچه د ډوډۍ سره اوخوړلې شى.نودهغې موافق وى.لكه غوښه هګۍ اوددې پشان نور شيان (څيزونه)، «دا د ډوډۍ سره خوړلې شى.نو ادام شو» اودشيخينو رحمهما الله دليل دا دې.چه ادام هغې ته وائى.چه د ډوډۍ په تابعدارۍ كې خوړلې شى.اوتبعيت په

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول محمد رحمه الله كذا فى فتح القدير (٤\٤٠٦) وردالمحتار(٣\١٠٤) والهندية (٢\٨٨) والخانية (٢\٣١٢) والبحر(٤\٣٢٥) نقلاً عن القول الراجح (١/٤١٤) -

کیږون کې حقیقی دې. ﴿لکه چې ځوك د غوښې په ترکارۍ کې ډوډۍ ماته کړي.اوماته شوې روټۍ خوري.نودا حقیقی تبعیت شو﴾ اوپه ډوډۍ پورې قائم وي. ﴿لکه موږ چې کوم مثال ذکرکړلو.نوهغې کې ترکاري په ډوډۍ پورې قائمه ده.که روټۍ وي.خوهغه به هم وي. او که ځوك روټۍ اوخوري.نوترکاري به په خپله ختمه شي.ځکه چې ترکاري خودهغې په اجزاؤ کې خلط شوې وي﴾ اودا تبعیت په دې کې هم دې.چه دا شیان (ځیزونه) ځانله نشي خوړلې.نودا حکمی تبعیت شو.اوکامل موافقت په دې کې دې.چه په یوبل کې سره خلط اوګډشي.اوسرکه اونورمائع شیان (ځیزونه) ځانله نشي خوړلې.بلکه څښلې شي. ﴿نودا ادام نه دی﴾ اومالګه په عامه توګه ځانله نشي خوړلې.دغه ډول دا ﴿چه په مائع شي کې ګډه شي.نو﴾ ویلې کیږي.نوتابع وي. ﴿نودا ادام شو﴾ په خلاف د غوښې اوهغه چې ددې مشابه وي. ﴿دا ادام نه دی﴾ ځکه چې دا ځانله خوړلی شي. ﴿نوکه د ادام د خوړلونه ئې قسم خوړلې وي.اوغوښه اوخوري .نه حانثیږي.ځکه چې غوښه په ادام کې شامله نه ده﴾ البته دا که ﴿په قسم کې﴾ دې د غوښې نیت اوکړي . ﴿چه غوښه به هم نه خورم.نوصحیح کیږي﴾ ځکه چې په دې کې په دۀ باندې سختی راځی. ﴿چه غوښه هم په ځان باندې بندوي﴾ اوانګور خربوزه ادام نه دې. ﴿ځکه چې دا ځانله خوړلې شي﴾ هم دا صحیح قول دې. ﴿هغه قول صحیح نه دې.چه په هغې کې د انګورو اوخربوزې په ادامیت کې اختلاف ذکرشوې دې﴾

تشریح:- ((**کل ما یؤکل مع الخبز فهو موافق له**)) صاحب د نهایه فرمائیلی دی.چه د حکم په اعتبارسره درې قسمه شیان (ځیزونه) دی.① هغه چې په عامه توګه د ډوډۍ نه بغیرنشي خوړلې.هغه ادام دی.لکه سرکه، زیتون، شهد ، دا ادام دی.② هغه چې د ډوډۍ نه بغیر هم خوړلې شي.لکه انګور،پخې قجورې دا په اتفاق سره ادام نه دی.③ هغه شیان (ځیزونه) دی.چه دهغې په ادامیت اوعدم ادامیت کې دعالمانواختلاف دې.لکه هګۍ اوغوښه، دامام محمدؒ په نیزدا ادام دې.ځکه چې په عامه توګه دا شیان (ځیزونه) ځانله نشي خوړلې.اود شیخینو ؒ په نیزدا ادام نه دی.

((**ان الادام ما یؤکل تبعاً**)) یعنی د شیخینو ؒ په نیزادام هغه ځیزته وائی.چه ډوډۍ سره خوړلې شي. اودبالتبع خوراك دوې [دوه] صورتونه دی.تبع حقیقی اوتبع حکمی،په تبع حقیقی کې د ډوډۍ سره د یوځائې کیدو صورت دا دې.چه ادام هم د ډوډۍ پورې قائم وي.اوتبع حکمی دا ده.چه ادام د ډوډۍ پورې قائم نه وي.یا کله قائم وي اوکله جلا وي.

((**وتمام التبعیة فی الامتزاج**)) دا دامام محمدؒ دقول نه ځواب دې.هغوی چې دا فرمائیلی دی.چه ادام د مداومت نه مشتق دې.اومداومت موافقت ته وائی.نودهغې نه ځواب کوی.چه موږ هم دا منو.چه ادام د مداومت نه مشتق دې.خومداومت صرف په دې نه ثابتیږي.چه یوځیزډوډۍ سره اوخوړلې شي.نوهغه به ادام وی.اګرچه ځانله هم خوړلې شي.بلکه کامل مداومت به هله ثابتیږي.چه دغه ځیزد ډوډۍ سره ګډ شي. اودیوځیزېشان اوګرځی.لکه څنګه چې په سرکه شهدو وغیره کې وي.اوغوښه هګۍ د ډوډۍ نه بغیرهم خوړلې شي.نودا ادام نشو.

دناشته کولونه قسم خوړل

﴿وَإِذَا حَلَفَ لَا يَتَغَدَّى فَالْغَدَاءُ الْأَكْلُ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى الظُّهْرِ وَالْعَشَاءُ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ﴾ لِأَنَّ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ يُسَمَّى عِشَاءً وَلِهَذَا تُسَمَّى الظُّهْرُ إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعِشَاءِ فِي الْحَدِيثِ ﴿وَالسُّحُورُ مِنْ نِصْفِ اللَّيْلِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ﴾ لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌ مِنَ السَّحَرِ وَيُطْلَقُ عَلَى مَا يَقْرُبُ مِنْهُ. ثُمَّ الْغَدَاءُ وَالْعَشَاءُ مَا يُقْصَدُ بِهِ الشِّبَعُ عَادَةً وَيُعْتَبَرُ عَادَةُ أَهْلِ كُلِّ بَلْدَةٍ فِي حَقِّهِمْ، وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ الشِّبَعِ.

حل اللغة: ① الغداء د صبا ناشته ② **سحور** پیسشمنې ③ **الشبع** موړوالې

ژباړه:- اوکله چې قسم اوخوري.چه ((لا أتغدی)) یعنی ناشته به نه کوم.نود ((غـدا)) اطلاق په هغه خوراك کیږي.چه د سهار راختو نه روسته تر ماپښین پورې وي.او((عـشاء)) هغه خوراك ته وائی.چه د ماپښین نه

ترنيمې شپې پورې وي.ځکه چې د زوال نه روسته خوارك ته ((عشاء)) وائي.اوددې املـه ﴿چه د زوال نه روسته ترنيمې شپې پورې خوراك ته عشاء وائي.﴾ په حديث كې د ماپښين لمونځ ته د عشاء په دوو مونځونو كې يولمونځ وئيلې شوې دې.اودسحور اطلاق په هغه خوراك باندې كيږي.چه د نيمې شپې نه واخله تر سهار راختو پورې وي.ځکه چې دا د سحر نه مشتق دې.اودغه ډول ﴿دسحور اطلاق﴾ په هغه خوراك كيږي.چه دې ته نزدې وي.بيا غدا او عشاء هغه خوراك ته وئيلې شي.چه په هغې باندې په عامه توګه مړيدل مقصود وي. ﴿يعني كه د سهار يا ماښام په وخت كښې ئې يوه يا دوې [دوه] نورئ اوخوړلې.نودې ته غدا اوعشاء نشي وئيلې﴾اوهرښارد خلګو په حق كې هم د هغوى عادت معتبر دې. ﴿نوكه په ناشته كې ددوى عادت د غوښې خوراك وي.نودغوښې په خورك به حانثيږي.اوكه په ناشته كې د دو خوراك ډوډئ وي.نوپه ډوډئ خوړلوبه حانثيږي﴾ البته شرط دا دې.چه دومره خوراك اوكړي.چه نس پرې دنيمې نه زياته مړه شي. ﴿اوكه د نيمې نه كمه مړه شي.نودې ته غدا يا عشاء نشي وئيلې.اوكه د غدا يا عشاء كاوه نه ئې قسم خوړلې وي. نو نه حانثيږي﴾

تشريح:- ((**ولهذا تسمى الظهر**)) يعني په حديث كې د ماپښين لمونځ ته د عشاء په دوو مونځونوكې يو لمونځ وئيلې شوې دې.هغه حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دې.فرمائي((صلى بنا رسول الله ﷺ إحدى صلاتي العشاء)) اوددې ((صلاتي)) تفسير د ماپښين اومازيګر په لمونځ سره شوې دې.

د ((إن لبست أو أكلت أوشربت فعبدي حر)) حكم

((وَمَنْ قَالَ إِنْ لَبِسْتُ أَوْ أَكَلْتُ أَوْشَرِبْتُ فَعَبْدِي حُرٌّ، وَقَالَ عَنَيْتُ شَيْئًا دُونَ شَيْءٍ لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ وَغَيْرِهِ) لِأَنَّ النِّيَّةَ إِنَّمَا تَصِحُّ فِي الْمَلْفُوظِ وَالثَّوْبُ وَمَا يُضَاهِيهِ غَيْرُ مَذْكُورٍ تَنْصِيصًا وَالْمُقْتَضَى لَا عُمُومَ لَهُ فَلَغَتْ نِيَّةُ التَّخْصِيصِ فِيهِ

حل اللغة: ① **عنيت**:ما قصد كړې وو ② **الثوب**:جامه ③ **لغت**: لغو شو عبث شو

ژباړه:- اوكه چا اووئيل.كه ما اغوستل اوكړل.يامې خوراك اوكړل.يا مې ښكاك اوكړل.نوزما غلام دې آزاد وي.اوبيا اووائي.چه زما نيت د څه ښيزونو وو اود څه ښيزونو نه وو. ﴿د هرقسم ښيزنه اغوستلو اودهرقسم ښيزد خوراك نه كولواودهرقسم ښيزښكاك نه كولونيت مې نه وو﴾ نونه به قضاء دده تصديق كولې شي،اونه ديانة ﴿يعني نه به قاضي دده د قول تصديق كوي.چه صحيح ده تا چې د كومو ښيزونود اغوستلو يا خوړلو يا ښښلو نيت كړې وو.دهغې په مباشرت به حانثيږې.اوچه د كومونيت دې نه وو كړې دهغې په مباشرت به نه حانثيږې.اودغه ډول كه واقعي دده د څه ښيزونود نه اغوستلو يا نه خوړلو يا نه ښښلو نيت كړې هم وي.خوپه دواړو صورتونوكې به نه قاضي دده د قول تصديق كوي اونه به عندالله ده ته اجازت وي.چه دې ښيزونو سره مباشرت اوكړي.غلام آزاد نشي.بلكه غلام به آزاديږي﴾ ځکه چې نيت په هغه ښيزكې صحيح كيږي.چه په لفظ كې ذكروي. ﴿يعني چې دا ئې ذكركړې وي.چه جامې به نه اغوندم.مثلاً اوپه زيربحث مسئله كې خو صرف د اغوستلو،خوړلواوښښلو ذكردې.دملبوس ،مطعوم او مشروب ذكرنشته.چه ديوتعين په كې اوكړې شي﴾ اوجامې اوهغه چې ددې پشان دی. ﴿لكه د خوراك اوښكاك شيان (ښيزونه)﴾ صريحاً ذكرنه دي. ﴿يعني دا نشته.چه جامې به نه اغوندم.يا طعام به نه خورم، يا دښكاك ښيزبه نه ښكم.خوكه دا اووئيلې شي.اګرچه په لفظ كې د ملبوس يا مطعوم يا مشروب ذكرنشته.خود لبست لفظ په خپله دا تقاضا كوي.چه څه خوبه اغوندي.اود اكلت لفظ په خپله دا تقاضا كوي.چه څه خوبه خوري.اودشربت لفظ په خپله دا تقاضا كوي.چه څه خوبه ښكي.خومور وايو.چه﴾ په داسې صورت كې ﴿چه لفظ ذكرنه وي﴾ عموم نه وي. ﴿ځکه چې عموم خو په هغه وخت كې راځي.چه يوښيزعام ذكرشي.مثلاً چې يوسړې اووائي.زما دخپل واره خاندان سره تعلق ختم دې.اوبيا اووائي.چه زما په نيت كې دزيد سره تعلق ختمول مراد نه وو.نودلته كه دده د خبرې تصديق كولې شي.نوځکه كولې شي.چه خاندان ذكردې.اوزيدهم په خاندان كې يوفرد دې.نود خاندان دعموم نه د زيد تخصيص كولې شي﴾ نود تخصيص نيت په ﴿په زيربحث مسئله﴾كې لغو شو.

تشريح:- دژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښکاره دې.

(وَإِنْ قَالَ إِنْ لَبِسْتُ ثَوْبًا أَوْ أَكَلْتُ طَعَامًا أَوْ شَرِبْتُ شَرَابًا لَمْ يُدَنْ فِي الْقَضَاءِ خَاصَّةً) لِأَنَّهُ نَكِرَةٌ فِي مَحَلِّ الشَّرْطِ فَتَعُمُّ فَعَمِلَتْ نِيَّةُ التَّخْصِيصِ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ فَلَا يُدِينُ فِي الْقَضَاءِ.

ژباړه:- اوکه ونې ونيل.که ما جامې واغوستې.يا که ما طعام اوخوړلو.يا ما د څښلو څيزاوڅښلو . ﴿اوبيا دا اووائې.چه د جامونه زما فلانۍ جامې مرادوې.يا د طعام نه زما فلانې د خوراك شي مراد وو.يا د مشروب نه زما فلانې دڅکاك شي مراد وو.نوپه دې ټولوصورتونوکې به﴾ خاص کر قضاء به دده تصديق نشی کولې خکه چې لفظ ﴿د ثوب اوطعام اود شراب﴾ نکره ده.اودشرط په محل کې واقع شوې ده. ﴿يعنی ان شرطيه ئې استعمال کړې دی﴾ نودا لفظ ﴿د ثوب اودطعام اود شراب﴾ عام شو.نودتخصيص نيت په کې عمل کولې شی. ﴿چه دې دکوم څيزتخصيص کوی.چه زما فلانۍ جامې يا زما فلانې قسم دخوراك شی يا زما فلانې د څکاك شی مراد وو.دهغې تخصيص ترې اوشی﴾ خوچونکه دتخصيص نيت کول دظاهرنه خلاف دې. ﴿اوقاضی چې فيصله کوی.دظاهرمطابق کوی.ددې قضاء دده تصديق نشی کولې.اګرچه ديانةً دده تصديق کولې شی﴾

تشريح:- دژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښکاره دې.

د دجلې نه دڅکاك نه کولوقسم

قال (وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ لَمْ يَحْنَثْ) حَتَّى يَكْرَعَ مِنْهَا كَرْعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ([1]) وَقَالَا: إِذَا شَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ يَحْنَثُ لِأَنَّهُ مُتَعَارَفُ الْمَفْهُومِ، وَلَهُ أَنَّ كَلِمَةَ مِنْ لِلتَّبْعِيضِ وَحَقِيقَتُهُ فِي الْكَرْعِ وَهِيَ مُسْتَعْمَلَةٌ، وَلِهَذَا يَحْنَثُ بِالْكَرْعِ إِجْمَاعًا فَمَنَعَتْ الْمَصِيرَ إِلَى الْمَجَازِ وَإِنْ كَانَ مُتَعَارَفًا. (وَإِنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ مَاءِ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ حَنِثَ) لِأَنَّهُ بَعْدَ الِاغْتِرَافِ بَقِيَ مَنْسُوبًا إِلَيْهِ وَهُوَ الشَّرْطُ فَصَارَ كَمَا إِذَا شَرِبَ مِنْ مَاءِ نَهْرٍ يَأْخُذُ مِنْ دِجْلَةَ.

حل اللغة: ① اناء لوښې ② الكرع: په خوله لګولو سره اوبه څکل ③ الاغتراف: لپه راغستل

ژباړه- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.چا چې قسم اوخوړلو.چه ددجلې څخه به نه څکی.بيا ئې ددې نه په لوښي کې اوبه اوڅکلې. ﴿نوپه دې صورت کې﴾ نه حانثيږي.ترڅو چې ددې نه په خولۀ اوبه اوڅکی. ﴿بيا به﴾ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزحانثيږي.اوصاحبينو رحمهما الله فرمائيلی دی.کله چې ددې نه په لوښيي کې اوبه اوڅکی. ﴿نوحانثيږي﴾ خکه چې په لوښي کې اوبه څښنل متعارف دی. ﴿په خلګو کې ئې رواج دی﴾ اوددې لفظ نه لا اشرب من دجلة﴾ نه هم دا مطلب آخستې شی.اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه کلمه د «من» د تبعيض لپاره ده.اوبه ﴿بله دا چه﴾ اودا معنی ﴿په خلګو کې﴾ مستعمله ده.اودا جمله په خولۀ لګولوسره په اوبوڅښلو کې حقيقت دې. ﴿خکه چې داسې وائی.چه د دجلې څخه به اوبه نه څکم.د څښلو د آله ذکرپه کې نشته﴾ هم دا وجه ده.که په خولۀ ئې ترې اوبه اوڅکلې.نوپه اجماع سره حانثيږي. ﴿نوهرکله چې په حقيقت عمل ممکن دې﴾ مجازته تګ منع شو.اګرچه ﴿د دجله نه په لوښي کې اوبه څښنل متعارف دی﴾ اوکه ده داسې اوونيل.چه زه به د دجلې داوبو نه څکاك نه کوم.اوبيا ئې دهغې اوبه په لوښي کې اوڅکلې.نوپه دې صورت کې حانثيږي.خکه چې په لوښي کې راخستلونه روسته هم هغه د دجلې اوبه دی.اوهم دا په کې شرط وو. ﴿چه د دجلې اوبه به نه څکم﴾ نودا داسې شوه.لکه چې دنهر د اوبو نه اوڅکی.چه هغه نهرد دجله نه راوتلې وی. ﴿نوپه هغې صورت کې هم حانثيږي.دغه ډول به د لوښي په ذريعه اوبوڅښلو باندې هم حانثيږي﴾

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١٤\٣) والكفاية (٣١١\٤) والعناية (٣١١\٤) والدرالمختار(١٠٨\٣) والبحرالرائق (٣٢٨\٤) والهندية (٩٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤١٥\١)_

تشریح:- «**قال ومن حلف**» دلته په مسئله کې دامام ابوحنیفه رحمه الله اوصاحبینو رحمهما الله په مینځ کې داختلاف بنا (بنیاد) په یوه قاعده کې د اختلاف وجه ده.قاعده دا ده.چه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزکله چې د یولفظ دوې [دوه] معانی وی.حقیقی اومجازی،نودوی دلفظ حقیقی معنی ته ترجیح ورکوی.اګرچه په عرف کې مجازی معنی رائجه وی.څکه چې حقیقت وی.نومجازته تلل صحیح نه دی.لکه چې یوکس یوې ښځې ته اووئیل.چه زه به تاسره واده نه کوم.که واده مې اوکړلو.نوزما غلام دې آزاد وی.بیا دغه کس دې ښځې سره زنا اوکړله.نو غلام نه آزادیږی.څکه چې قسم دنکاح په اړه کې خوړلې شوې وو.نوپه دې صورت کې نکاح نه کول حقیقی معنی ده.حالانکه په نکاح اوزنا کې اصل مقصود دښځې سره وطی کول وی.اودا مقصود په دواړو صورتونویعنی په نکاح اوزنا دواړو کې موجود دی.نودغه ډول په موجوده صورت کې چې په حقیقی معنی موجود وی.مجازی معنی مراد اخستل جائز نه دی.څکه چې حقیقی معنی اصل دې.اومجازی معنی فرع ده.اواصل په فرع باندې وړاندې وی.اودصاحبینو رحمهما الله په نیزکه مجازی معنی متعارف وی.نوهغه به مراد وی.ددې قاعدې په رڼا کې دا مسئله حل کړئ.

د کوزې د اوبو څکلو قسم کول

(وَمَنْ قَالَ إِنْ لَمْ أَشْرَبِ الْمَاءَ الَّذِي فِي هَذَا الْكُوزِ الْيَوْمَ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ وَلَيْسَ فِي الْكُوزِ مَاءٌ لَمْ يَحْنَثْ، فَإِنْ كَانَ فِيهِ مَاءٌ فَأُهْرِيقَ قَبْلَ اللَّيْلِ لَمْ يَحْنَثْ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ.[1]) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَحْنَثُ فِي ذَلِكَ كُلِّهِ) يَعْنِي إِذَا مَضَى الْيَوْمُ، وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ إِذَا كَانَ الْيَمِينُ بِاللَّهِ تَعَالَى.

حل اللغة: ① **الكوز:** کوزه ② **اهریق:** څپه (چپه) کولې شوې ③ **اللیل:** شپه

ژباړه:- اوکه یوکس قسم اوخوړلو.که مانن دا اوبه اونه څکلې.کومې چې په دې لوټه (کوزه) کې دی.نودده «یعنی زما» ښځه دې طلاقه وی.اوپه لوټه کې اوبه نه وې.نو نه طلاقیږی.اوکه په هغې کې اوبه وې.اود شپې نه وړاندې واړولې شوې.نو «هم» نه حانثیږی.اودادامام ابوحنیفه اومحمد رحمهما الله په نیز،اوامام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه په دې ټولوصورتونوکې حانثیږی.یعنی چې ورځ تیره شی.اودا اختلاف په دې مسئله کې هم دې.چه په الله تعالی باندې قسم اوخوری. «چه په الله قسم په دې لوټه کې چې کومې اوبه دی.هغه به زه نن څکم.اوپه هغې کې اوبه نه وی.یا اوبه په کښې وی.خود شپې راتلو نه وړاندې وړاندې هغه توئې شی.نودطرفینو رحمهما الله په نیزنه حانثیږی.اودابویوسف رحمه الله په نیزحانثیږی»

تشریح:- دژباړې اواضافی قیوداتونه مطلب ښکاره دې.

وَأَصْلُهُ أَنَّ مِنْ شَرْطِ انْعِقَادِ الْيَمِينِ وَبَقَائِهِ تَصَوُّرَ الْبِرِّ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ لِأَنَّ الْيَمِينَ إِنَّمَا تُعْقَدُ لِلْبِرِّ فَلَا بُدَّ مِنْ تَصَوُّرِ الْبِرِّ لِيُمْكِنَ إِيجَابُهُ. وَلَهُ أَنَّهُ أَمْكَنَ الْقَوْلُ بِانْعِقَادِهِ مُوجِبًا لِلْبِرِّ عَلَى وَجْهٍ يَظْهَرُ فِي حَقِّ الْخَلَفِ وَهُوَ الْكَفَّارَةُ. قُلْنَا: لَا بُدَّ مِنْ تَصَوُّرِ الْأَصْلِ لِيَنْعَقِدَ فِي حَقِّ الْخَلَفِ وَلِهَذَا لَا يَنْعَقِدُ الْغَمُوسُ مُوجِبًا لِلْكَفَّارَةِ

حل اللغة: ① **البر:** د قسم نه بری کیدل ② **الغموس:** د دروغو قسم

ژباړه:- اوددې اختلاف اصل دا دې.چه د یمین دانعقاد او پاته پاتې کیدو لپاره دطرفینو رحمهما الله په نیز شرط دا دې.چه دهغې نه بری کیدل ممکن وی. «په کوم څیزچه ده قسم خوړلې وی» اوامام ابویوسف په کې خلاف کوی. «دطرفینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه» قسم ددې لپاره خوړلې شی.چه هغه پوره کړې شی.ددې امله دا ضروری ده.چه دکوم څیزقسم خوړلې شوې وی.دهغې پوره کول ممکن وی.چه قسم ئې پوره شی.اوامام ابو یوسف رحمه الله فرمائی.چه په دې باب کې صرف دا ضروری دی.چه قسم منعقد شی.په داسې حال کې چې د دغه یمین وجوب په دې طریقه وی.چه د یمین په خلیفه کې اثر اوکړی.اوهغه خلیفه کفاره ده. «یعنی کله چې

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول الطرفین رحمهما الله كذا فی الدرالمختار(۱۰۹\۳) والهندیة (۹۵\۲) والبحر (۳۲۹\٤) نقلاً عن القول الراجح(٤١٧\١)_

حالف دخولې نه دقسم الفاظ اوويستل.نوموږ دغه الفاظ عبث اولغو نه ګرځوو.بلکه که دهغې پوره کول ممکن نه وی.نوچه کم ازکم دهغې اثردقسم په خليفه کې ښکاره شی.چه کفاره ده.نويمين منعقد شو.اودهغې دعدم امکان د امله پرې کفاره لازمه شوه﴾ اوموږ ﴿جمهوراحناف﴾ ﷫ وايوچه د اصل ﴿محلوف عليه﴾ منعقد کيدل ضروری دی. ﴿ځکه چې د خليفه لپاره اصل ضروری وی.داسې اصل چې دهغې واقع کيدل ممکن وی.﴾ چه دخليفه په حق کې هم هغه موجود شی.اوهم دا وجه ده.چه يمين غموس په داسې طريقه نه منعقد کيږی.چه کفاره پرې لازم شی. ﴿يعنی په يمين غموس کې دا نشی وئيلې.چه اصلی يمين نه پوره کيږی.نوکفاره دې ددې خليفه اوګنړلې شی.ځکه چې هرکله داصل وجود نشته.نوخليفه به څنګه موجود شی﴾

تشريح:- «**لابدمن تصورالاصل**» زموږ دجمهورو احنافو ﷭ په نيزد يمين دانعقاد لپاره دا ضروری ده.چه يمين په داسې شی وی.چه دهغې نه بری کيدل ممکن وی.اوچه بری کيدل اوديمين تکميل ممکن نه وی.نودغه يمين هډو منعقد کيږی نه.نوځکه دحانث کيدو په صورت کې کفاره نه لازميږی.

(وَلَوْكَانَتِ الْيَمِيْنُ مُطْلَقَةً،فَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ لَايَحْنَثُ عِنْدَهُمَا،وَعِنْدَأَبِي يُوسُفَ يَحْنَثُ فِي الْحَالِ،وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي يَحْنَثُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا) فَأَبُويُوسُفَ فَرَّقَ بَيْنَ الْمُطْلَقِ وَالْمُوَقَّتِ.وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ التَّوْقِيتَ لِلتَّوْسِعَةِ فَلَا يَجِبُ الْفِعْلُ إِلَّا فِي آخِرِ الْوَقْتِ فَلَا يَحْنَثُ قَبْلَهُ،وَفِي الْمُطْلَقِ يَجِبُ الْبِرُّ كَمَا فَرَغَ وَقَدْ عَجَزَ فَيَحْنَثُ فِي الْحَالِ وَهُمَا فَرَّقَا بَيْنَهُمَا.وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ فِي الْمُطْلَقِ يَجِبُ الْبِرُّ كَمَا فَرَغَ،فَإِذَافَاتَ الْبِرُّ بِفَوَاتِ مَا عُقِدَ عَلَيْهِ الْيَمِيْنُ يَحْنَثُ فِي يَمِيْنِهِ كَمَا إِذَامَاتَ الْحَالِفُ وَالْمَاءُ بَاقٍ،أَمَّا فِي الْمُوَقَّتِ فَيَجِبُ الْبِرُّ فِي الْجُزْءِ الْأَخِيرِ مِنَ الْوَقْتِ وَعِنْدَ ذٰلِكَ لَمْ يَبْقَ مَحَلِّيَّةُ الْبِرِّ لِعَدَمِ التَّصَوُّرِ فَلَا يَجِبُ الْبِرُّ فِيهِ وَتَبْطُلُ الْيَمِيْنُ كَمَا إِذَا عَقَدَهُ ابْتِدَاءً فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ.

حل اللغة: ① **التوقيت** وخت مقرر کول ② **التوسعة**: آسانتيا

ژباړه- اوکه يمين مطلق وی. ﴿د نن ورځې قيد په کې نه وو﴾ نوپه لومړئي وجه کې ﴿چه په پيالئ کې اوبه نه وی﴾ دامام ابوحنيفه اوامام محمد ﷭ په نيزنه حانثيږی.اوامام ابويوسف ﷫ په نيزفی الحال حانثيږی.اوپه دوهم صورت کې ﴿چه په پيالئ کې موجوده اوبه توئې کړې شی.اوبيا په کې اوبه واچولې شی.اواوبه اوڅکی﴾ د ټولو په نيزنه حانثيږی. ﴿په اولنی صورت کې دامام ابويوسف ﷫ په نيزځکه حانثيږی﴾ امام ابويوسف ﷫ د مطلق قسم او موقت قسم په مينځ کې توپير کړې دې.وجه د توپير دا ده.چه توقيت ﴿قسم په وخت پورې معين کول﴾ د وسعت تقاضا کوی.نو ﴿دتوقيت په صورت کې﴾ به د فعل کاوه هله حانثيږی.چه آخری وخت داخل شی.نود آخری وخت نه وړاندې به نه حانثيږی.اوپه مطلق يمين کې ﴿چه د وخت ذکرپه کې نه وی﴾ په ده باندې دخپل قسم پوره کول چې څنګه د قسم د الفاظو نه فارغ شی.نوچه د کوم کار کولوقسم ئې خوړلې وی.چه هغه دستی اوکړی.خوچونکه دې دهغې د کاوه نه عاجز دې. ﴿ځکه چې پيالئ بيخی خالی ده﴾ نوفی الحال حانثيږی.اوطرفين ﷭ هم ﴿د مطلق يمين اوموقت يمين﴾ په دواړو صورتونوکې توپير کړې دې.اود توپير وجه دا ده.چه په مطلق قسم کې ﴿چه د وخت قيد په کې نه وی﴾چه څنګه د قسم د الفاظو نه فارغ شی.نودهغه قسم پوره کول پرې واجب شی. ﴿لکه په ذکرشوی مثال کې پرې د پيالئ اوبه څښل واجب شو﴾ نوچه دقسم پوره کول دده نه فوت شی. ﴿ځکه چې په کوم شی ده قسم خوړلې وی.هغه شی نه وی.يعنی په پيالئ کې د اوبه وجود.حالانکه دقسم پوره کاوه لپاره خودا بنا (بنياد) وو.ددې وجې﴾ دې په خپل قسم کې حانثيږی. ﴿ددې نظيردا دې.﴾ لکه چې قسم خوړونکې مړشی.اوپه پيالئ کې اوبه موجود وی. ﴿نوپه دې صورت کې هم دغه حالف حانثيږی.يعنی دده په ميراث کې به د قسم کفاره ورکولې شی﴾ اوپه يمين موقت کې دقسم پوره کول د وخت ﴿کوم وخت چې ئې ياد کړې وی لکه په ذکرشوی مثال کې چې ورځ ده.﴾ په آخری برخه کې پوره کول واجبيږی. ﴿چه دې به د لمر پريوتونه وړاندې وړاندې اوبه څکی﴾ اوپه آخری وخت کې په قسم کې د بری کيدو محل باقې پاتې نشو.ځکه چې اوس د قسم پوره کيدو تصورهم نشی کيدې. ﴿ځکه چې ده خوپه ورځ پورې قسم مقيدکړې

وو.اوورځ هغه وه چې خارجه شوه﴾نوپه قسم کې برې کيدل نه واجبيږي.اويمين باطليږي.اودا مسئله داسې شوه.لکه چې داول نه قسم په دې حالت کې ﴿چه د ورځې آخرې جزء وي﴾ اوخوري. ﴿چه زما دې قسم وي.زه به ددې کوزې نه نن اوبه څکم.اودغه وخت د ورځ آخرې جزء وي.نوپه دغه صورت کې حانثيږي.ځکه چې ده د اوبوڅښلو لپاره ورځ مقرر کړې وه.اوچه څنګه ده قسم اوخوړلو.نو ورځ خارجه شوه.نوحانث شو.

تشريح:- ((ان التاقيت للتوسعة)) مثلاً چې زيد قسم اوخوړلو.زما دې قسم وي.چه زه به نن فلانې کار کوم. نو في الحال دې نه حانثيږي.بلکه هله به حانثيږي.چه ددغه ورځې آخرې وخت داخل شي.ځکه چې ده د يوم قيد اولګولو.نوپه دې سره په حانث کيدو کې وسعت پيدا شو.چه في الحال دستي که دې دغه کاراونکړي.نو نه حانثيږي.اوکه دنن ورځ قيد ئې په کې نه وو لګولې.نوچه څنګه ئې قسم خوړلې وو.اودغه کارئې نه وو کړې.نوحانث کيدلو به.

((کما اداعقده ابتداء)) ددې نه دا معلومه شوه.چه لکه څنګه د يمين دانعقاد لپاره محل شرط اوضروري دې.چه سرې قسم خوري.چه په کوم څيزقسم خوري.هغه محل د برې کيدو وي.نودغه ډول دا هم شرط دې.چه دغه محل چې شرط دې روستو پاتـه هم وي.لکه په دې صورت کې اګرچه د قسم دانعقاد په وخت کې د يمين محل موجود وو.چه ورځ ده.خوچونکه د قسم الفاظو وئيلو نه روستـه ورځ ختمـه شوه.نومحل پاتـه پاتې نشو.نوځکه يمين باطل شو.اودې پرې نه حانثيږي.

دغير ممکن کار د کولو قسم خوړل

قَالَ ﴿وَمَنْ حَلَفَ لَيَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ أَوْ لَيَقْلِبَنَّ هٰذَا الْحَجَرَ ذَهَبًا انْعَقَدَتْ يَمِينُهُ وَحَنِثَ عَقِيبَهَا﴾ وَقَالَ زُفَرُ: لَا تَنْعَقِدُ لِأَنَّهُ مُسْتَحِيلٌ عَادَةً فَأَشْبَهَ الْمُسْتَحِيلَ حَقِيقَةً فَلَا يَنْعَقِدُ. وَلَنَا أَنَّ الْبِرَّ مُتَصَوَّرٌ حَقِيقَةً لِأَنَّ الصُّعُودَ إِلَى السَّمَاءِ مُمْكِنٌ حَقِيقَةً، أَلَا تَرَى أَنَّ الْمَلَائِكَةَ يَصْعَدُونَ السَّمَاءَ وَكَذَا تَحَوُّلُ الْحَجَرِ ذَهَبًا بِتَحْوِيلِ اللّٰهِ تَعَالَى، وَإِذَا كَانَ مُتَصَوَّرًا يَنْعَقِدُ الْيَمِينُ مُوجِبًا لِخَلَفِهِ ثُمَّ يَحْنَثُ بِحُكْمِ الْعَجْزِ الثَّابِتِ عَادَةً. كَمَا إِذَا مَاتَ الْحَالِفُ فَإِنَّهُ يَحْنَثُ مَعَ احْتِمَالِ إِعَادَةِ الْحَيَاةِ بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْكُوزِ، لِأَنَّ شُرْبَ الْمَاءِ الَّذِي فِي الْكُوزِ وَقْتَ الْحَلِفِ وَلَا مَاءَ فِيهِ لَا يُتَصَوَّرُ فَلَمْ يَنْعَقِدْ.

حل اللغة: ① يصعد: پورته ختل ② يقلب: بدلوې ③ الحجر: کاڼړې ④ ذهب: سره زر

ژباړه:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي.چا چې قسم اوخوړلو.چه دې ﴿يعني زه به﴾ آسمان ته خيژم.يا به ددې کاڼړي نه سره زر جوړوي.نودده قسم منعقدشو.اوامام زفر رحمه الله فرمائي.چه قسم ئې نه منعقد کيږي.ځکه چې په عامه توګه دا کارونه کيدل غيرممکن دي.نودا د هغه کارسره مشابه شو.چه حقيقة غيرممکن وي. ﴿اوهرکله چې دا قسم پوره کول غيرممکن دې.نو﴾ يمين نه منعقد کيږي.اوزموږ لپاره دليل دا دې.چه په قسم کې برې کيدل په حقيقت کې متصور دی.ځکه چې آسمان ته حقيقة ختل ممکن دی.ته ګورې نه چې فرښتې آسمان ته خيژي.اودغه ډول د کاڼړي نه سره زر هم جوړيږي.چه الله تعالى ئې په خپل قدرت سره سره زر کړي.اوهرکله چې ددې تصور کيداې شي.نويمين منعقد کيږي.اودا يمين ﴿چه منعقدشي.نو﴾ د يمين خليفه ﴿چه کفاره ده﴾ هغه به واجبيږي.اوبيا چونکه دعادت په اعتبارسره دې د يمين پوره کاوه نه عاجز شو .نوحانثيږي.اودا مسئله داسې شوه.لکه چې يوقسم خوړونکې مړ شي. ﴿اوده دا قسم خوړلې وي.چه دا کاربه کوم.اودمرګ نه وړاندې هغه کاراونکړي.نوپه دې صورت کې﴾ قسم خوړونکې حانثيږي.ددې باوجود چې ددې احتمال شته.چه دې دوباره راژوندې شي.په خلاف د کوزې دمسئلې ځکه د قسم په وخت کې په لوټه کښې پرتو اوبو باندې قسم خوړلې شوې وو.اوپه هغې کې هډو اوبه نه وې.نود اوبوڅښل نشي متصور کيدې.اوهرکله چې د اوبوڅښل نه متصورکيږي.نويمين هم نه منعقد کيږي.

تشريح:- ((بخلاف مسئلة الکوز)) په دې عبارت سره ددواړو مسئلوپه مينځ کې توپير ښائي.اوله مسئله دا ده.که آسمان ته د ختلو قسم اوخوري.نوحانثيږي.اوکه په پياله کې اوبه نه وې.اودهغې نه داوبوڅښلو قسم اوخوري.نوپه دې صورت کې نه حانثيږي.ځکه چې آسمان ته د ختلو تصور کيداې شي.اود خالي پيالۍ نه د اوبوڅښلو تصورنشي کيدې.اوهرکله چې دخالي پيالۍ نه د اوبوڅښل متصور نه دی.نوځکه قسم نه منعقد

کیږي. البته که څوك دا اعتراض اوکړي چه لکه څنګه الله تعالى په دې قادر دې چه د کانړی نه سره زرجوړ کړي نو دغه ډول په دې هم قادر دی چه په خالی پیالئ کي اوبه پیدا کړي.نوبکاردا ده.چه د خالی پیالئ نه د اوبوڅښلو په صورت کي هم حانث کیدې.خوددې څواب دا دې.چه دده دا قسم خوړل.چه زه به ددې پیالئ نه اوبه څکم.اوپه هغه وخت کي په هغې کي اوبه نه وی. او روستو په کي الله تعالى اوبه پیدا کړي.اودې هغه اوبه اوڅکی.نوددې څواب دا دې.چه ده قسم د هغه اوبوڅښلو نه کړې وو.کومې چې د قسم په وخت کي په پیالئ کي موجود وې.اوهرکله چې دا معلومه شوه.چه په پیالئ کي هډو اوبه شته نه،اوددې نه روسته الله تعالى په دغه پیالئ کي اوبه پیدا کړي.نوپه دې صورت کي دده قسم خکه نه کیږی.چه دا نوې اوبه دی.هغه اوبه خو نه دی.په کومو چې حالف قسم خوړلې وو.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْكَلَامِ)

زباړه - ﴿دا﴾ باب په خبروکي د قسم په بیان کي دې.

تشریح - کلام په لغت کي کلم یعنی زخم ته وائی.اود فقهاؤ په اصطلاح کي کلام خبرو اوورولو ته وائی.که خپل خان ته خبره اوروی اوکه بل ته ئې اوروی.

قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا فَكَلَّمَهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ إِلَّا أَنَّهُ نَائِمٌ حَنِثَ) لِأَنَّهُ قَدْ كَلَّمَهُ وَوَصَلَ إِلَى سَمْعِهِ لَكِنَّهُ لَمْ يَفْهَمْ لِنَوْمِهِ فَصَارَ كَمَا إِذَا نَادَاهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ لَكِنَّهُ لَمْ يَفْهَمْ لِتَغَافُلِهِ. وَفِي بَعْضِ رِوَايَاتِ الْمَبْسُوطِ شَرَطَ أَنْ يُوقِظَهُ، وَعَلَيْهِ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا، لِأَنَّهُ إِذَا لَمْ يَنْتَبِهْ كَانَ كَمَا إِذَا نَادَاهُ مِنْ بَعِيدٍ وَهُوَ بِحَيْثُ لَا يَسْمَعُ صَوْتَهُ.

حل اللغه ① **نائم** اوده ② **یوقظ** بیداروی ③ **ینتبه** بیداریږی ،خبریږی ④ **صوت** اواز

زباړه - ابوالحسین قدوری رحمه الله فرمائی چه څوک چې قسم اوخوړلو.چه فلانی سره به خبرې نه کوی.اوبیا ده د هغه فلانی سره خبرې اوکړې اوهغه په داسې ځائې کي وی.چه ﴿دده﴾ خبرې اوریدې شی.خو دومره وی.چه هغه اوده وی ﴿ددې﴾ امله دده خبرې واوریږی ﴿نوپه دې صورت کي﴾ حانثیږی. ﴿دلیل دا دې.چه﴾ ده دهغه سره خبرې اوکړې اودهغه غوږو ته خبرې اورسیدلې خودهغه دخوب د امله دده په خبرو پوهه نشو.نودا داسې شو چه دې ورته آواز اوکړی اوهغه په داسې ځائې کي وی چه دده په خبره دغفلت د امله پوهه نشی. ﴿نوپه دغه صورت کي حانثیږی نوداسې به په زیربحث مسئله کي هم حانثیږی﴾ اود مبسوط په بعضې نسخوکي ئې د رابیدارولو شرط لګولې دې ﴿چه دله به حانثیږی چه دا حالف هغه د خوب نه رابیدار کړی.اوزموږ مشائخ هم ددې قول قائلین دی خکه چې حالف هغه کس ویده (اوده) کس رابیدارنکړلو.نودا داسې شوه لکه چې دې ورته د لرې نه آواز اوکړی چه هغه به دومره فاصله کي وی.چه دده آواز واونه ری. ﴿نوپه دغه صورت کښې نه حانثیږی نودغه شان چې ویده (اوده) وی اودې ورته خبرې اوکړی.هم به نه حانثیږی﴾

تشریح - د زباړې اواضافی قیوداتونه مطلب ښکاره دې

د څروبه څولوتعلق به اذن اواجازت پورې

(وَلَوْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَأَذِنَ لَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْإِذْنِ حَتَّى كَلَّمَهُ حَنِثَ) لِأَنَّ الْإِذْنَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْأَذَانِ الَّذِي هُوَ الْإِعْلَامُ، أَوْ مِنَ الْوُقُوعِ فِي الْأُذُنِ، وَكُلُّ ذَلِكَ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالسَّمَاعِ (١) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يَحْنَثُ لِأَنَّ الْإِذْنَ هُوَ الْإِطْلَاقُ وَأَنَّهُ يَتِمُّ بِالْآذِنِ كَالرِّضَا. قُلْنَا: الرِّضَا مِنْ أَعْمَالِ الْقَلْبِ، وَلَا كَذَلِكَ الْإِذْنُ عَلَى مَا مَرَّ.

حل اللغه ① **الاعلام** اعلان ② **سماع** اوریدل ③ **قلب** زړه ④ **الاذن** اجازت

زباړه اوکه ﴿زید﴾ قسم اوخوړلو چه بغیراجازته به خبرې نه کوی بیا ده ته اجازت ملاؤ شو.خوده ته داجازت علم نه وو ﴿اودعلم نه وړاندې﴾ ده دهغه سره خبرې اوکړې نو ﴿په دې صورت کي﴾ حانثیږی.

(١) الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في العناية (٤١٩\٤) وردالمحتار(١١٢\٣) والهندية (٩٧\٢) نقلاً عن القول الراجح

﴿د حنث وجه نې دا ده.چه﴾ اذن د اذان نه مشتق دې.اواذان اعلان ته وائي. ﴿او حالف اعلان نه دې اوريدلې.نودا داسې شوه.لكه چې هډو اجازت شوې نه وي﴾ يا اذن په غوږ كي د واقع كيدو نه مشتق دې. ﴿چه د سړي په غوږ كي اجازت واقع شي.يعنې داجازت كلمات واوري﴾ اوپه دې دواړو كي هر يو ﴿كه اجازت د اعلان نه عبارت شي.اوكه په غوږ كي د واقع كيدونه﴾ اجازت صرف په اوريدو سره متحقق ﴿او واقع﴾ كيږي. ﴿يعنې اجازت به هله اجازت وي.چه حالف دغه د اجازت الفاظ واوري.اوپه زيربحث مسئله كي اگرچه اجازت شوې دې. خو حالف د اجازت الفاظ نه دي اوريدلې.ځكه په خبرو كولو سره دې حانث كيږي﴾ اوامام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه ﴿په زيربحث مسئله كي﴾ نه حانث كيږي. ﴿د دوی دليل دا دې.چه﴾ اذن د اطلاق په معنی ده. او دا اطلاق په اعلان سره پوره كيږي. ﴿يعنې اذن د بنديزختمولو ته وائي.چه وړاندې په يوڅيز پابندي لگيدلې وي.اوروستو هغه ختمه شي.په دې كي د اسماع اوعدم اسماع څه اړتيا نشته.يعنې كه ده اوريدلي وي اوكه نه.خوچه اعلان اواجازت اوكړې شو.نودده خبرې د اجازت نه روسته واقع شوي.اوچه د اجازت نه روسته واقع شوې.نونه حانثيږي﴾ لكه د رضا په صورت كي خومونږ ﴿جمهوراحناف﴾ رحمهم الله وايو.چه رضا د زړه عمل دې. اواعلان داسې نه دې. ﴿يعنې د زړه عمل نه دې.نود دواړو په مينځ كي توپير راغلو.نود اجازت مسئله د رضا د مسئلې پشان نشوه﴾ لكه څنگه چې وړاندې تيرشوی دی. ﴿يعنې چې اذن يا د اعلان نه مشتق دې.اوپه اعلان كي اورول ضروري وي.اويا په غوږ كي د غږ كاوه نه مشتق دې.اوپه زيربحث مسئله كي نه اعلان شته.ځكه چې حالف د اجازت الفاظ نه دي اوريدلې.اونه په غوږ كي غږ كول شته.ځكه چې دحالف په غوږ كي داجازت الفاظ نه دی وئيلی شوی.

تشريح:- ((**فاذن له ولم يعلم بالاذان**)) يعنې چې زيد دا قسم اوخوری.چه د بكرسره به دهغه د اجازت نه بغيرخبرې نه كوم.اوهغه اجازت اوكړې.خوده ته دهغه د اجازت پته نه وي.اودې ورسره خبرې اوكړې.نوپه دې صورت كي دې حانثيږي.ځكه چې ده ته داجازت علم نشته.نودده په حق كي دغه اجازت مفيد نشو.البته په دې باندې دا اعتراض كيداې شي.كه يومولی خپل غلام ته د تجارت كولواجازت اوكړې.اوهغه ته ددې اجازت پته نه وي.نوپكاردا ده.چه د زيربحث مسئلې پشان دغه اجازت د هغه په حق كي مفيد نه وې.اوهغه عبد ماذون فی التجارة نه گرځيدلو.حالانكه هلته دغه غلام عبد ماذون گرځی.ددې نه ځواب دا دې.چه د عتاق اويمين په مسئله كي توپير دې.ددې امله د يمين مسئله دعتاق په مسئله قياس كول صحيح نه دی.وجوه د توپير دا دی.① چه غلام د خپل مولی په ملكيت كنبي وي.اوماذون فی الكلام ﴿دچا نه چې دكلام اجازت غوښتلې شي﴾ د حالف په ملكيت كي نه وي.② دعبدماذون په معامله كي د مولی تعلق د قسم سرد نه وي.اود ماذون فی الكلام په مسئله كي د ماذون فی الكلام تعلق د يمين سره وي.③ په عبدماذون باندې د اجازت نه روسته هم د آقا تصرف پاته وي.اوپه ماذون فی الكلام باندې د حالف تصرف نه وي.

((**كالرضاء**)) يعنې قسم اوخوری.چه د بكر سره به د هغه په رضا به خبرې كوی.اوبكر په خبرو كولوباندې راضی شی.خوزيدته د هغه د رضا پته نه وي.اودې ورسره خبرې اوكړې.نوپه دې صورت كي زيد نه حانثيږي.اگرچه ده ته د هغه درضا علم نشته.نودغه ډول دلته په زيربحث مسئله كي به هم چې اجازت ملاؤ شی.نواگرچه ده ته دهغې علم نه وي.خوبيا هم پكارده چې حانث نشي.

((**قلنا الرضاء من اعمال القلب**)) يعنې جمهوراحناف رحمهم الله فرمائي.چه د اذن مسئله د رضا په مسئله قياس كول صحيح نه دی.ځكه چې رضا د زړه سره تعلق ساتی.اوپاتې شو اذن نو اذن او اجازت د ژبې اوتكلم سره تعلق ساتی نوځكه د اذن د مسئلې د رضا په مسئلې باندې قياس كول صحيح نه شو.

دیوې میاشتې پورې خبرو نه کولوقسم کول

قَالَ (وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ شَهْرًا فَهُوَ مِنْ حِينِ حَلَفَ) لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّهْرَ لَتَأَبَّدَ الْيَمِينُ فَذِكْرُ الشَّهْرِ لِإِخْرَاجِ مَا وَرَاءَهُ فَبَقِيَ الَّذِي يَلِي يَمِينَهُ دَاخِلًا عَمَلًا بِدَلَالَةِ حَالِهِ، بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ وَاللَّهِ لَأَصُومَنَّ شَهْرًا لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّهْرَ لَمْ تَتَأَبَّدِ الْيَمِينُ فَكَانَ ذِكْرُهُ لِتَقْدِيرِ الصَّوْمِ بِهِ وَأَنَّهُ مُنَكَّرٌ فَالتَّعْيِينُ إِلَيْهِ

حل اللغة: ① شهر میاشت ② یتابد همیشه کیږی ③ التعیین: معین کول ،مقرر کول

زباړه - ﴿امام محمدﷺ په جامع صغیر کې﴾ فرمائی.اوکه دا قسم ئې اوخوړلو.چه یومیاشت به ورسره خبرې نه کوی.نودا میاشت به دقسم خوړلود وخت نه پیل کیږی.ځکه که د میاشت نه وه ذکرکړې.نودا قسم به همیشه لپاره وو. ﴿چه په واړه عمر کې به ورسره خبرې نه کوی.اوکه خبرې ئې کړې وې.نوحانث کیدو به﴾ اوچه دمیاشت ذکرپه کې اوشو.نوبه دې سره دمیاشتې نه سوا نوره مودهٔ اووتله. ﴿که د یوې میاشتې نه علاوه په نورو ورځو کې ورسره خبرې کوی.نوکولې شی.نوهرکله چې د میاشتې نه سوا نورې ورځې ترې خارج شوې﴾ کومه مودهٔ چې دده قسم سره متصله ده.دده په قسم کې به هم هغه داخله وی. ﴿اود قسم مودهٔ به هم د هغه وخت نه پیل کیږی.دکوم وخت نه چې ده قسم خوړلې وی.اوداسې ځکه وایو.چه﴾ دقسم خوړونکې حالت په دې دلالت کوی.چه ﴿په کومه میاشت کې ده د خبرو کاوه نه قسم خوړلې دی.هغه هم دا نژدې میاشت ده.ځکه چې دې د قسم خوړلو په وخت کې غصه وی.اودا غصه دا حالف په دې باندې تیز کړی.چه دې دهغه سره دخبرو کولونه قسم اوخوری.ځکه به د قسم میاشت هم د قسم د وخت نه پیل کیږی.دا مسئله﴾ په خلاف دهغه صورت ﴿ده﴾ چې داسې اووائی.زما دې په الله قسم وی.چه یوه میاشت روژه به نیسم. ﴿نوبه دې صورت کې دقسم نه روسته چې کومه میاشت پیل کیږی.هغه مراد نه ده﴾ځکه که ده میاشت نه وه ذکرکړې.نوبیا هم په ده باندې د واړه عمر روژې نیول نه لازمیدلې. ﴿ځکه چې په میاشت کې هغه ورځې هم راځی.چه په هغې کې د روژې نیولو نه منع شوې ده.لکه د اخترونو ورځې﴾ نوچه ده د صوم ذکراوکړلو.په دې سره روژه په دې یوې میاشتې پورې اندازه کول وو. ﴿چه صرف یوه میاشت به روژه نیسم﴾ اودا میاشت غیرمعین ده. ﴿ځکه چې ده په قسم کې د میاشتې تعین اومقررتیا نه ده کړې.چه فلانئ میاشت روژې به نیسم﴾ نود میاشتې تعین به حالف ته اوسپارلې شی. ﴿اوچه دې دکال په دولسو میاشتوکې کومه یوه میاشت هم روژه اونیسی.صحیح به وی.

تشریح:- د ژباړې اواضافې قیوداتود امله مطلب ښکاره دې.

د خبرو کولوقسم نه روسته قرآن پاک لوستل

(وَإِنْ حَلَفَ لَا يَتَكَلَّمُ فَقَرَأَ الْقُرْآنَ فِي صَلَاتِهِ لَا يَحْنَثُ. وَإِنْ قَرَأَ فِي غَيْرِ صَلَاتِهِ حَنِثَ) وَعَلَى هَذَا التَّسْبِيحُ وَالتَّهْلِيلُ وَالتَّكْبِيرُ، وَفِي الْقِيَاسِ يَحْنَثُ فِيهِمَا وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ لِأَنَّهُ كَلَامٌ حَقِيقَةً. وَلَنَا أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ لَيْسَ بِكَلَامٍ عُرْفًا وَلَا شَرْعًا، قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ "{إِنَّ صَلَاتَنَا هَذِهِ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ}" (١) وَقِيلَ فِي عُرْفِنَا لَا يَحْنَثُ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ أَيْضًا لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى مُتَكَلِّمًا بَلْ قَارِئًا وَمُسَبِّحًا

حل اللغة: ① التسبیح د الله پاکی بیانول ② التهلیل لااله الاالله وئیل ③ التکبیر د الله لوئی بیانول لکه الله اکبر ④ متکلم خبرې کونکې ⑤ قارئ لوستونکې

زباړه - اوکه قسم ئې اوخوړلو.چه خبرې به نه کوی. ﴿اوددې قسم نه روسته ئې﴾ په لمانځه کې قرآن اولوستلو ﴿نوبه دې صورت کې﴾ نه حانثیږی.اوکه د لمانځه نه سوا په بل څه کې ئې قرآن اولوستلو .نو حانثیږی اود تسبیح ﴿سبحان الله﴾ تهلیل ﴿لااله الا الله﴾ اوتکبیر ﴿الله اکبر﴾ هم دا حکم دې. ﴿که په لمانځه کې ئې اولوستل نونه حانثیږی.اوکه دلمانځه نه سوا په بل څه کې ئې اولوستلو. نوحانثیږی﴾ اود

(١) [illegible] ریجه فی باب مفسدات الصلاة)

قياس تقاضا دا ده.چه په دواړو صورتونوكي حانث شي. ﴿ځكه چې تكلم دخولې نه الفاظ راويستلو ته وائي.كه قرآن وي اوكه غيرقرآن وي.كه په لمانځه كي وي اوكه دلمانځه نه بهروي﴾ اودا قياس دامام شافعي رحمه الله قول دې.ځكه چې دا ﴿قرآن دغه ډول تسبيح ،تهليل اوتكبيرټول﴾ په حقيقت كښې كلام ﴿اوخبرې﴾ دي.اوزموږ لپاره دليل دا دې.چه په لمانځه كي دننه دا شيان (څيزونه) د عرف اوشريعت په رڼا كي كلام نه دې. ﴿په شريعت كي خوځكه كلام نه دې.چه﴾ نبی ﷺ فرمائيلی دی.زمونږ په دې لمونځ كي د خلګ ود خبرو څه ګنجائش نشته. ﴿چه خلګ په لمانځه كي خبرې كوي.نوكه په لمانځه كي دقرآن لوستل كلام وو.پكاردا وه.چه په دې باندې لمونځ ماتيدلو.حالانكه موږ په لمانځه كي قرات لولو.خوځوك هم دا نه وائي.چه دده قرآت خبرې دی.اوپه دې باندې لمونځ ماتيږی﴾ اووئيلي شوی دی.چه په عرف كي دلمانځه نه سوا په بل څه كي هم د قرآن لوستلوباندې نه حانثيږی.ځكه چې ﴿چه سړې قرآن لولی.﴾ هغه ته خبرې كونكې نه وائي.بلكه قاري يا تسبيح ويونكې ورته وائي. ﴿دا دوهم قول دفقيه ابوالليث،شيخ الاسلام اوصدرشهيد رحمه الله دې.اوهم په دې باندې فتوی ده.كه دلمانځه نه بهرقرآن اولولي.يا تسبيح اووائي.نودې نه حانثيږی﴾

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتود امله مطلب ښكاره دې.

چاسره دخبرو نه كولوقسم كولوكي د شپې يا د ورځې قيد لګول

(وَلَوْقَالَ يَوْمَ أُكَلِّمُ فُلَانًا فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ فَهُوَعَلَى اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ) لِأَنَّ اسْمَ الْيَوْمِ إِذَا قُرِنَ بِفِعْلٍ لَا يَمْتَدُّ يُرَادُ بِهِ مُطْلَقُ الْوَقْتِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ} وَالْكَلَامُ لَا يَمْتَدُّ (وَإِنْ عَنَى النَّهَارَ خَاصَّةً دِينَ فِي الْقَضَاءِ) لِأَنَّهُ مُسْتَعْمَلٌ فِيهِ أَيْضًا.(١) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يَدِينُ فِي الْقَضَاءِ لِأَنَّهُ خِلَافُ الْمُتَعَارَفِ (وَلَوْقَالَ لَيْلَةَ أُكَلِّمُ فُلَانًا فَهُوَعَلَى اللَّيْلِ خَاصَّةً) لِأَنَّهُ حَقِيقَةٌ فِي سَوَادِ اللَّيْلِ كَالنَّهَارِ لِلْبَيَاضِ خَاصَّةً، وَمَا جَاءَ اسْتِعْمَالُهُ فِي مُطْلَقِ الْوَقْتِ

حل اللغة: ① اليل:شپه ② النهار: ورځ ③ قرن: يوځائې شو ④ البياض: سپين والې

ژباړه:- اوكه وې وئيل.په كومه ورځ چې ما دفلاني سره خبرې اوكړې.نودده ﴿يعنی زما﴾ ښځه دې طلاقه وی.نوددې قسم اطلاق به په شپه اورځ ﴿دواړوباندې﴾ كيږی.ځكه چې ﴿قاعده دا ده﴾ كله چې د يوم ﴿ورځ﴾ د داسې فعل سره مقترن ﴿يوځائې﴾ شی.چه هغه اوږد نه وی. ﴿بلكه په لږ وخت كي ختميږی﴾ نوددغه وخت څخه به مطلق وخت مراد وی. ﴿ددې نظيردا دې.چه﴾ الله تعالی فرمائيلي دی.اوچا چې ﴿په ډګر كي﴾ په دغه ورځ ﴿دجنګ﴾ دشمن ته شا كړله. ﴿نودلته كي صرف ورځ مراد نه ده.بلكه شپه كي هم داخله ده.ترڅو كه يوكس په ډګر جهاد كي د شپې د دشمن نه تيښته اوكړه.نوهغه ګناهګاردې.ځكه چې يوم د يوداسې فعل سره مقترن شوې دې.چه هغه اوږد اوممتد نه دې.يعنی دشمن ته شا كول اوتيښته كول.ځكه چې تيښته څه واړه عمر نه وی.بلكه په لږ وخت كي سړې د دشمن نه تښتيدې شی.اوكومه مسئله چې زيربحث ده.نوپه دې كي د يوم اقتران د كلام اوخبرو سره شوې ده.﴾ اوكلام فعل ممتد ﴿اوږد﴾ نه دې. ﴿ددې امله صرف ورځ مراد نه ده.بلكه شپه په كي هم داخله ده.ترڅو كه د شپې ئې دهغه سره خبرې اوكړې.نوښځه به ئې طلاقه وی﴾ اوكه حالف دا اووئيل.چه ﴿په قسم كي﴾ زما صرف ورځ مراد وه. ﴿چه په كومه ورځ ماخبرې اوكړې.نوزما ښځه دې طلاقه وی.شپه مې مراد نه وه﴾ نوقضاء به دده تصديق كولې شی. ﴿اوصرف ورځ به ترې مراد وی﴾ځكه چې دا لفظ ﴿ديوم﴾ په دې معنی كي هم مستعمل دې. ﴿چه صرف ورځ ترې مراد واخستې شی﴾ اودامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.قضاء به دده تصديق نشی كولې. ﴿قاضی به دده خبره نه منی.بلكه كه ده ورسره په شپه كي خبرې اوكړې.نوهم حانثيږی. او ښځه پرې طلاقيږی﴾ ځكه چې دا خبره د عرف نه خلاف ده. ﴿چه سړې ورځ ياده كړی.اوشپه دې په كي نه وی

(١) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(٤\٤٢٣) وردالمحتار(٣\١١٤) والبحرالرائق (٤\٣٣٥) ومجمع الأنهر(١\٥٧٠) والهندية (٢\١٠٦) نقلاً عن القول الراجح (١\٤١٩)۔

داخله﴾ اوکه دا اووائی.په کومه شپه چې ما فلانی سره خبرې اوکړې. ﴿نوزما ښځه دې طلاقه وی.نوپه دې صورت کې﴾ دې اطلاق به صرف په شپه کيږی.ځکه چې دا ﴿د ليل لفظ﴾ په چاغه کې حقيقت دې.لکه څنګه چې نهار د رڼړا سره خاص دې. ﴿چه کله نهارذکرشی.نومراد به تری ورځ وی﴾ اووددې ﴿يعنی ليل﴾ استعمال دمطلق وخت لپاره نه راځی.

تشريح:- د ژباړې اواضافی قيوداتود امله مطلب ښکاره دې.

ديوکس په قدوم پورې تعليق د طلاق

(وَلَوْقَالَ إِنْ كَلَّمْتُ فُلَانًا إِلَّا أَنْ يَقْدَمَ فُلَانٌ أَوْقَالَ حَتّٰى يَقْدَمَ فُلَانٌ أَوْقَالَ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ فُلَانٌ أَوْحَتّٰى يَأْذَنَ فُلَانٌ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ فَكَلَّمَهُ قَبْلَ الْقُدُومِ وَالْإِذْنِ حَنِثَ، وَلَوْكَلَّمَهُ بَعْدَ الْقُدُومِ وَالْإِذْنِ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ غَايَةٌ وَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ قَبْلَ الْغَايَةِ وَمُنْتَهِيَةٌ بَعْدَهَا فَلَا يَحْنَثُ بِالْكَلَامِ بَعْدَ انْتِهَاءِ الْيَمِينِ (وَإِنْ مَاتَ فُلَانٌ سَقَطَتِ الْيَمِينُ) (١) خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ لِأَنَّ الْمَمْنُوعَ عَنْهُ كَلَامٌ يَنْتَهِي بِالْإِذْنِ وَالْقُدُومِ وَلَمْ يَبْقَ بَعْدَ الْمَوْتِ مُتَصَوَّرُ الْوُجُودِ فَسَقَطَتِ الْيَمِينُ. وَعِنْدَهُ التَّصَوُّرُ لَيْسَ بِشَرْطٍ، فَعِنْدَ سُقُوطِ الْغَايَةِ تَتَأَبَّدُ الْيَمِينُ.

حل اللغة: ① قدوم راتک ② منتهية ختميدونکې ③ سقطت اوغورزيدل

ژباړه- اوکه وې ونيل.که ما د فلانی ﴿زيد﴾ سره خبرې اوکړې.البته دا چې فلانی ﴿بکر﴾ د سفر نه راشی. ﴿په کلمه د ان سره﴾ اويا ئې اوونيل. ﴿که ما د فلانی ﴿زيد﴾ سره خبرې اوکړې﴾ البته دا چې فلانې ﴿بکر﴾د سفرنه راشی. ﴿په کلمه دحتی سره﴾ اويا ﴿که ما دفلانی ﴿زيد﴾ سره خبرې اوکړې. ﴾البته دا چې فلانې ﴿بکر﴾اجازت اوکړی. ﴿په کلمه د ان سره﴾ يا فلانې ﴿بکر﴾اجازت اوکړی. ﴿په کلمه د حتی سره﴾ نودده ﴿يعنی زما﴾ ښځه دې طلاقه وی.نوده ورسره د سفرد راتلو نه اود اجازت نه وړاندې خبرې اوکړې. ﴿په دې دواړو صورتونو کې﴾ حانثيږی.ځکه چې دا ﴿د قلانی قدوم اواجازت﴾ غايت دې.اوقسم د غايت د واقع کيدو نه وړاندې ﴿چه قدوم او اجازت دې﴾ پاتې وی.اود غايت د واقع کيدو نه روسته ﴿چه قدوم اواجازت دې﴾ ختميږی.نود يمين دختميدو نه روسته په خبرو کولوسره نه حانثيږی.اوکه دغه فلانې ﴿چه د چا په قدوم اواذن پورې ئې طلاق معلق کړې وو﴾ وفات شی.نو ﴿په دې صورت کې هم﴾ يمين ساقط شو.دامام ابويوسف رحمه الله خلاف ثابت دې. ﴿دهغوی په نيزدفلانې په مرګ باندې هم قسم نه ختميږی.اودجمهورو احنافو رحمهم الله دليل دا دې.چه﴾ دکوم کلام نه چې منع شوې وه.هغه منعيت د فلانی په قدوم اواجازت سره ختميدل. ﴿خوچه فلانی مړشو.نو﴾ د مرګ نه روسته د قدوم اواجازت د موجود کيدو تصور ختم شو. ﴿ځکه چې دمړی نه خود قدوم اواجازت فعل نشی څرګنديدې﴾ نويمين ساقط شو.اودامام ابويوسف رحمه الله په نيزددې تصورکيدل ﴿چه دفلانی قدوم يا اجازت واقع شی﴾ څه ضروری نه دې. ﴿نوکه هغه مړشی.په يمين باندې څه توپير نه پريوځی.اوچه څه توپير نه راځی﴾ نوچه غايت ساقط شی. ﴿چه قدوم اواجازت دې﴾ نويمين هميشه لپاره پاتې شو. ﴿يعنی دده ښځه طلاقه شوه.اګرچه د بکرپه مرګ باندې دهغه د سفرنه راتګ اودهغه داجازت امکان پاتې نشو﴾

تشريح:- «لانه غاية واليمين باقية» دلته په متن کې دوې [دوه] کلمات د غايت لپاره استعمال شوی دی.يو کلمه د ((حتی)) اوبله کلمه د ((الا ان)) اودا دواړه کلمات په قرآن پاك کې هم د غايت لپاره استعمال شوی دی.د ((حتی)) دغايت لپاره دا آيت دې. [حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ]اود ((الاان)) د غايت لپاره دا آيت دې[لَاتَدْخُلُوْابُيُوْتَ النَّبِيِّ إِلَّآ أَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ] نوددې مقام وضاحت دا شو.چه يو کس دا قسم اوخوری.که ما د زيد سره خبرې اوکړې.نوزما ښځه دې طلاقه وی.البته دا چې بکرد سفرنه راشی.يا هغه دخبرو کاوه اجازت اوکړی.نواوس د بکرقدوم

(١) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(٤\٤٢٤) والدرالمختار(٣\١١٥) والهندية (٢\١٠٦) نقلاً عن القول (١/٤٢٠)_

اواجازت په دې مقام کې غايت شو.نوکه حالف د زيد سره خبرې اوکړې.ښځه به طلاقيږي.ځکه چې يمين منعقد شوې دې.البته ديمين انتهاء په دې باندې کيږي.چه بکرد سفر نه راشي.يا هغه اجازت اوکړي.نود قدوم اواجازت نه روسته يمين ساقط شو.که حالف د زيد سره خبرې اوکړې.نودده ښځه نه طلاقيږي.

د فلاني دغلام يا ښځې يا ملګري سره د خبروکولونه قسم کول

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ عَبْدَ فُلَانٍ وَلَمْ يَنْوِ عَبْدًا بِعَيْنِهِ أَوْ امْرَأَةَ فُلَانٍ أَوْ صَدِيقَ فُلَانٍ فَبَاعَ فُلَانٌ عَبْدَهُ أَوْ بَانَتْ مِنْهُ امْرَأَتُهُ أَوْ عَادَى صَدِيقَهُ فَكَلَّمَهُمْ لَمْ يَحْنَثْ) (¹) لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى فِعْلٍ وَاقِعٍ فِي مَحَلٍّ مُضَافٍ إِلَى فُلَانٍ، إِمَّا إِضَافَةُ مِلْكٍ أَوْ إِضَافَةُ نِسْبَةٍ وَلَمْ يُوجَدْ فَلَا يَحْنَثُ،

حل اللغة: ① **عادى**: دشمني ئې اوكړه ② **عقد**: اوتړل،اوخوړل ،وكړل

ژباړه:- اوچاچه قسم اوخوړلوچه دفلاني يومعين غلام سره به خبرې نه كوى.اويا دفلاني ښځې سره به خبرې نه كوى.ياد فلاني دوست سره به خبرې نه كوى.نو ﴿په اول صورت كې﴾ هغه خپل غلام خرڅ كړلو. ﴿او په دوهم صورت كې﴾ دهغه ښځه دهغه نه بائنه شوه. ﴿يعني په طلاق بائن دهغه نه جلا شوه﴾ او ﴿په دريم صورت كې﴾ دهغه دوست دشمن شي. ﴿اوددې درې واړو حالتونوبدليدو نه پس﴾ ده ورسره خبرې اوكړې.نو ﴿په دې درې واړه صورتونوكې﴾ دې نه حانثيږي.ځكه چې ده خپل يمين په داسې فعل باندې منعقد كړې دې.چه هغه فعل په داسې محل كښې واقع كيږي.دكوم تعلق چې د فلاني سره دې. ﴿يعني ده خپلې خبرې كول داسې كسانو سره متعلق كړې.دچا چې د فلاني كس سره تعلق وي﴾ برابره ده كه دغه تعلق د ملكيت وي. ﴿لكه د فلاني غلام﴾ يا د نكاح تعلق وي. ﴿چه د فلاني ښځه وي﴾ يا د دوستۍ تعلق وي. ﴿چه دفلاني دوست وي﴾ اوس چونكه دهغه سره ئې تعلق پاتې نشو. ﴿ځكه چې غلام آزاد شو.ښځه بائنه شوه.اودوست ئې دشمن شو.نوكه ده ددې كسانو سره خبرې اوكړې﴾ نه حانثيږي.

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتود امله مطلب ښكاره دې.

قَالَ هَذَا فِي إِضَافَةِ الْمِلْكِ بِالِاتِّفَاقِ .وَفِي إِضَافَةِ النِّسْبَةِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ يَحْنَثُ كَالْمَرْأَةِ وَالصَّدِيقِ .قَالَ فِي الزِّيَادَاتِ: لِأَنَّ هَذِهِ الْإِضَافَةَ لِلتَّعْرِيفِ لِأَنَّ الْمَرْأَةَ وَالصَّدِيقَ مَقْصُودَانِ بِالْهِجْرَانِ فَلَا يُشْتَرَطُ دَوَامُهَا فَيَتَعَلَّقُ الْحُكْمُ بِعَيْنِهِ كَمَا فِي الْإِشَارَةِ

حل اللغة: ① **الصديق**: دوست ② **الهجران**: تعلق پرېښول ③ **دوام**: هميشوالي

ژباړه:- صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه دا حكم ﴿چه ددې كسانوسره په خبرو كولوباندې نه حانثيږي.په درې واړو مسئلوكې﴾ دغلام په مسئله كې اتفاقي حكم دې. ﴿چه د درې واړه احنافو رحمهم الله عالمانو په نزدې نه حانثيږي﴾ اود نسبت په صورت كې ﴿چه دمحلوف عليه د فلاني سره د نكاح يا د دوستۍ تعلق وي﴾ د امام محمد رحمه الله په نيزحانثيږي. لكه ښځه اودوست شول. ﴿چه بائنې ښځې سره خبرې اوكړې.يا د هغه دوست سره خبرې اوكړې.چه اوس ئې ورسره دوستي ختمه شوې ده.حالانكه نكاح اودوستي هميشه لپاره نه وي﴾ امام محمد رحمه الله په زيادات كتاب كې ﴿ددې حانث كيدو وجه دا بيان كړې ده﴾ چې دا اضافت ﴿دښځې چې د فلاني ښځه يا د فلاني دوست﴾ دپيژندګلو لپاره وي. ﴿چه خلګ ئې اوپيژني.چه د كومې ښځې سره د خبرو نه قسم شوې دې.هغه دفلاني ښځه ده.اودكوم كس سره دخبروكولونه قسم شوې دې.هغه د فلاني انډيوال دې﴾ ځكه د ښځې اودوست سره خبرې نه كول مقصود دى. ﴿دا مقصود نه دې.چه دې سره خبرې ځكه نه كوم.چه د فلاني ښځه ده.اوده سره خبرې ځكه نه كوم.چه د فلاني دوست دې.يعني دخبرو نه كاووجه د فلاني سره د فلاني نكاح اود دوستي نه ده.بلكه مقصود خود دهغوى د ذات نه نفرت كول دى﴾ نو ﴿د يمين د انعقاد لپاره﴾ دا ﴿عقد نكاح اودوستي﴾ نشي شرط كولي.نود ديمين تعلق به ددوى په ذات پورې وى. ﴿په تعلق پورې به نه وى.چه دفلاني سره عقد نكاح اودوستي ده﴾ لكه څنګه چې

¹) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٤\٤٢٥) ومجمع الأنهر(١\٥٧٦) وردالمحتار(٣\١١٧) والخانية (٢\٣٢٨) والهندية (٢\٩٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٢٢)-

د اشاره په صورت كي دا حكم دي. ﴿يعنى چي په اشاره سره اووائى.چه دفلانى ددي ښځي سره به خبري نه كوم.يا د فلانى د دې دوست سره به خبري نه كوم.نوپه دغه صورت كي كه ده ورسره خبري اوكړې.حانث كيږي. اګرچه د خبرو په وخت كي هغه ښځه د فلانى په نكاح كي نه وي.اوهغه سړې د فلانى دوست پاتې شوي نه وي﴾

تشريح:- د ژباړي اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دي.

(وَجْهُ مَا ذُكِرَ هٰهُنَا وَهُوَ رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ أَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ غَرَضُهُ هِجْرَانَهُ لِأَجْلِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ وَلِهٰذَا لَمْ يُعَيِّنْهُ فَلَا يَحْنَثُ بَعْدَ زَوَالِ الْإِضَافَةِ بِالشَّكِّ

حل اللغة: ① غرض مقصود ② الاضافة: نسبت كول

ژباړه- اوكوم روايت چي دلته ﴿په قدورئ﴾ كي ذكردي. ﴿كه د فلانى سره ئې د عقد نكاح يا د دوستئ تعلق پاتې نه وي.نوپه خبرو كولوسره نه حانثيږي﴾ اودا د جامع صغيرروايت هم دې. كيداې شى.چه دده غرض اومقصد دا وى.چه دوى سره خبري ځكه نه كوم.چه د فلانى سره ئې تعلق دي. ﴿يعنى خود ددوى په ذات كي داسې څه نقص نشته.چه دهغې د امله دوى د خبر كاوه قابل نه دى.بلكه دخبرو نه كاوه وجه دا ده.چه د دوى د چا سره تعلق دې.هغه ډيرشريرسړې دې.هسې نه چې ددوى په وجه ماته څه نقصان اورسوى﴾ اوهم دا وجه ده. ﴿چه دې مقصود د محلوف عليه ښځي اودوست﴾ تعين نه كوى. ﴿چه د زيد د فلانى ښځي سره به خبري نه كوم.اود زيد دفلانى دوست سره به خبري نه كوم.بلكه مطلق ښځه اودوست ئې ياد كړې دې.ددې نه معلومه شوه.چه دده مقصود خود دغه ښځي اودوست نه نفرت نشته.بلكه ددې امله ورسره خبري نه كوى.چه د زيدسره ئې تعلق دې.هركله چي خبره واضحه شوه.چه دده مقصود دښځي اودوست د ذات نه نفرت نه دې.بلكه د فلانى سره د تعلق په بناء ترې نفرت كوى.اودخبروكولونه ئې قسم خوړى﴾ نوچه دغه تعلق ﴿د زوجيت اودوستئ﴾ ختم شى.نود شك په وجه ﴿چه ﴿په خبرو كولو﴾ نه حانثيږى. ﴿ځكه شك دې.چه كيداې شى.دده د خبرونه كولووجه دا وى.چه د دې ښځي يا ددې كس د فلانى سره دوستى ده﴾

تشريح:- د ژباړي اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دي.

دمعين غلام ،ښځي اودوست د خبرو نه قسم كول

(وَإِنْ كَانَتْ يَمِينُهُ عَلَى عَبْدٍ بِعَيْنِهِ بِأَنْ قَالَ عَبْدُ فُلَانٍ هٰذَا أَوِ امْرَأَةُ فُلَانٍ بِعَيْنِهَا أَوْ صَدِيقُ فُلَانٍ بِعَيْنِهِ لَمْ يَحْنَثْ فِي الْعَبْدِ وَحَنِثَ فِي الْمَرْأَةِ وَالصَّدِيقِ ،وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ.[1]) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَحْنَثُ فِي الْعَبْدِ أَيْضًا) وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ (وَإِنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ دَارَ فُلَانٍ هٰذِهِ فَبَاعَهَا ثُمَّ دَخَلَهَا فَهُوَ عَلَى هٰذَا الِاخْتِلَافِ)

حل اللغة: ① امراة ښځه ② صديق دوست

ژباړه- اوكه دده قسم د فلانى ﴿زيد﴾ په معين غلام باندې وو.چه داسې اووائى.د فلانى ﴿زيد﴾ داغلام دې ﴿ده سره به خبري نه كوم﴾ اويا ﴿اووائى.چه﴾ د فلانى دا معينه ښځه ده. ﴿دې سره به خبري نه كوم﴾ او﴿يا دا اووائى.چه﴾ دفلانى دا معين انډيوال دې. ﴿ده سره به خبري نه كوم﴾ نو ﴿په دې درې واړو صورتونوكي﴾ د غلام په صورت كي نه حانثيږى. ﴿كه دغه غلام دزيد ملكيت نه بهرشى.اودې ورسره خبري اوكړى.نو نه حانثيږى﴾ اود ښځي او انډيوالان په صورت كي حانثيږى. ﴿كه ښځه د زيد نه بائنه شى يا دمحلوف عليه د زيد سره دوستى ختمه شى.اوبيا ورسره دې خبري اوكړى﴾ دا د امام ابوحنيفه

[1]) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا فى الدرالمختار(١١٧\٣) والبحرالرائق (٣٣٧\٤) والهندية (٩٨\٢) وفتح القدير(٤٢٥\٤)
عن القول الراجح (٤٢٣\١)-

اوامام ابويوسف رحمه الله قول دې.اوامام محمد رحمه الله فرمائي.چه د غلام په صورت كې هم حانثيږي.اودا دامام زفر رحمه الله قول هم دې.اوكه قسم اوخوري.چه د فلانې ﴿زيد﴾ كورچه دا دې دې ته به نه داخليږم.نوهغه ﴿زيد﴾ دغه كورخرڅ كړلو.اوبيا ورته دا حالف ورداخل شو.نودا مسئله هم په دې اختلاف بانديې ده.
﴿يعني د شيخينو رحمهما الله په نيزنه حانثيږي.اودامام محمداوزفر رحمهما الله په نيزحانثيږي﴾

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

وَجْهُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ أَنَّ الْإِضَافَةَ لِلتَّعْرِيفِ وَالْإِشَارَةَ أَبْلَغُ مِنْهَا فِيهِ لِكَوْنِهَا قَاطِعَةً لِلشَّرِكَةِ، بِخِلَافِ الْإِضَافَةِ فَاعْتُبِرَتِ الْإِشَارَةُ وَلُغِيَتِ الْإِضَافَةُ وَصَارَ كَالصَّدِيقِ وَالْمَرْأَةِ

حل اللغة: ① طاقعة: ختمونكې، پريكونكې، كټ كونكې ② التعريف پيژندګلو ③ ابلغ زياته بليغه ده

ژباړه:- دامام محمداوامام زفر رحمهما الله د قول وجه دا ده.چه ﴿د غلام يا كور﴾ نسبت د پيژنګلو لپاره وي. ﴿چه خلګو ته معلومه شي.چه دكوم غلام سره چې ئې د خبرو كولونه قسم كړې دې.هغه د زيد غلام دې.اوكوم كورته چې د داخليدو نه ئې قسم كړې دې.هغه د زيدكوردې﴾ اواشاره د اضافت نه زياته بليغه ده. ﴿اوزياته بليغه ځكه ده.چه﴾ اشاره د شركت ختمونكې ده. ﴿مثلاً كه يوكس دا اووائي.چه د زيد د غلام سره به خبرې نه كوم.نودا قول د زيد هرغلام ته شامليدې شي.ځكه چې تعين نه دې شوې.چه دهغه د كوم غلام سره به خبرې نه كوې.خوچه كله ئې دهغه غلام ته اشاره اوكړله.چه ددې غلام سره به خبرې نه كوم.نوپه دغه محلوف عليه غلام كې دبل غلام شركت ختم شو﴾ په خلاف د اضافت ﴿ځكه چې په هغې كې دبل غلام شركت نه ختميږي.بلكه د زيدهرغلام محلوف عليه كيداې شي.هركله چې اشاره د اضافت نه بليغه ده.نو﴾ اضافت ختم شو.نود غلام اوكورحكم هم د ښځې اود دوست دحكم پشان شو. ﴿كه غلام د زيد د ملكيت نه بهرشو.اودغه ډول په كورباندې د زيد ملكيت ختم شو.اوحالف د محلوف عليه غلام سره خبرې اوكړې.يا محلوف عليه كور ته ورداخل شو.نونه حانثيږي﴾

تشريح:- د ژباړې اواضافي قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

وَلَهُمَا أَنَّ الدَّاعِيَ إِلَى الْيَمِينِ مَعْنًى فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ لِأَنَّ هَذِهِ الْأَعْيَانَ لَا تُهْجَرُ وَلَا تُعَادَى لِذَوَاتِهَا، وَكَذَا الْعَبْدُ لِسُقُوطِ مَنْزِلَتِهِ بَلْ لِمَعْنًى فِي مُلَّاكِهَا فَتَتَقَيَّدُ الْيَمِينُ بِحَالِ قِيَامِ الْمِلْكِ، بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْإِضَافَةُ إِضَافَةَ نِسْبَةٍ كَالصَّدِيقِ وَالْمَرْأَةِ لِأَنَّهُ يُعَادَى لِذَاتِهِ فَكَانَتِ الْإِضَافَةُ لِلتَّعْرِيفِ وَالدَّاعِي الْمَعْنَى فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ غَيْرُ ظَاهِرٍ لِعَدَمِ التَّعْيِينِ، بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ

حل اللغة: ① اعيان: جمع د عين ،څيز ② ملاك: جمع د مالك ده آقا

ژباړه:- اود شيخينو رحمهما الله دليل دا دې.چه حالف قسم خوړلو ته اماده كوي. ﴿اوقسم خوړلو دعوت وركوي﴾ نودا به په مضاف اليه ﴿زيد﴾ كې څه صفت وي. ﴿چه دهغې د امله به دې دهغه دغلام سره د خبرو كولونه اودغه ډول دهغه كورته د داخليدو نه قسم كوي.مثلاً هغه بداخلاقه وي.اودې ويريږي.كه دده د غلام سره خبرې اوكړم.يا دده كورته ورداخل شوم.نودې به په ما باندې څه الزام اولګوي.اودا خبره چې حالف به قسم ده داسې څيزد امله كوي.چه هغه به په زيد كې وي.نودا ﴾ ځكه ده.چه دا شيان (څيزونه) ﴿چه كوروغيره دي﴾ د خپل ذات په اعتبارسره داسې نه دي.چه پريښولې (پريخودې) شي.اوبيا ورسره دشمني اوكړې شي.اودغه ډول غلام هم دې. ﴿نه دې سره څوك تعلق پريږدي.اونه ورسره څوك دشمني كوي﴾ ځكه چې دغلام درجه ډيره كښته ده. ﴿نوڅوك دغلام دكمزورې حيثيت سرې سره دشمني نه كوي﴾ بلكه دشمني كه ورسره كولې شي.نود څه داسې امله څخه به وي.چه هغه ددوی ﴿غلام اوكور﴾ په مالكانوكې وي.نوقسم به هغه حالت پورې مقيد شول.چه په دغه څيزونودده ملكيت قائم وي. ﴿اوپاتې دا خبره چې بيا خوښكاردا وه.كه ښځې سره د بيونت نه روسته اود انډيوالان سره د دوستۍ ختميدونه روسته په خبرو كولوسره دې نه حانث كيدو.نو﴾ په خلاف د انډيوالان اوښځې د صورتونو،ځكه چې د دې څيزونو ذات سره دشمني كولې شي.نواضافت د پيژندګلو لپاره شو. ﴿چه دا ښځه د زيد ده.اودا دوست د زيد دې.اوهركله چې اضافت د

پيژنګلو لپاره شو.نوكه ښځه د زيد د نكاح نه اوځي.يا د فلاني د زيد سره دوستانه ختمه شي.اوبيا ورسره حالف خبرې اوكړي.هم به حانث كيږي.ځكه چې د زيد د ښځې اودوست سره چې د خبرو نه قسم خوړلې شوې وو.هغه هم د هغوى په ذات كې د څه صفت او عيب د امله نه وو.دهغې د زيد سره د نسبت څه كار نشته.كه زيد سره ئې د زوجيت او صديقيت نسبت قائم وى اوكه ختم شوې وى.په دواړو صورتونوكې به دوى سره په خبرو كولوباندې حانثيږى» اودكوم صفت د امله چې حالف په قسم خوړلوباندې اماده شوې دې.نوهغه صفت په مضاف اليه كې «چه زيد دې» ښكاره نه دې. ځكه چې دهغې صفت تعين نشته. «يعنى دا معلومه نه ده.چه حالف د زيد د ښځې او دوست سره د خبرو كاوه نه قسم خوړلې دې.دا پته نشته.چه د قسم خوړلو صفت اوعلت په ښځه يا دوست كې دې.اوكه په زيد كې دې.بلكه دا خبره راجحه ده.چه دغه صفت اووجه به په ښځه اودوست كښې وى.ځكه چې دواړه اصيل دى.د دوى د ذات سره دشمنى كولې شى.نوكه د زوجيت اودوستۍ رشته ئې ختم شى.اوبيا ورسره حالف خبرې اوكړى.هم به حانثيږى» په خلاف د وړاندينۍ مسئلې. «يعنى په مسئله د غلام كې كه دآزادۍ نه روسته د غلام سره خبرې اوكړى.نو نه حانثيږى.ځكه چې دكوم صفت او امله نه چې حالف د غلام سره د خبرو كولونه قسم خوړلې وو.هغه په زيد اومالك كې دې»

تشريح:- ((**لهما ان الداعى الى اليمين معنى فى المضاف اليه**)) د معنى نه مراد هغه صفت او خبره ده.چه دهغې د امله د حالف زړه ددې نه نفرت كوى.چه د محلوف عليه سره خبرې اوكړى.مثلاً زيد يوسړى سره جګړه اوكړه.اودهغه بې عزتى ئې اوكړه.اوهغه دا قسم اوخورى.چه زه به د هغه غلام سره خبرې نه كوم.چه زيد دې.نوګوره دلته د قسم خوړلو وجه هغه دشمنى ده.كومه چې د حالف اود زيد په مينځ كې د جګړې كولو په وجه پيدا شوې ده.اوهم دا جګړه يا ورته صفت اووايه.چه حالف ئې د زيد دغلام سره د خبرو نه كولواماده كړلو.

((**والداعى فى المضاف اليه**)) يعنى كله چې د زيد د ښځې يا د هغه د دوست سره د خبرو كاوه نه قسم اوكړى.نودا قسم به د يوصفت اوعيب د امله وى.چه هغه به په دغه ښځه اودوست كې وى.ځكه چې ښځه اودوست دواړه اصيل دى.ددوى د ذات سره دشمنى كولې شى.نود ښځې اود دوست په مسئله كې چې حالف په قسم باندې اماده شوې دې.هغه د يوداسې صفت اوعيب د امله دې.چه د زيد په ښځه اود ده په انډيوالان كې دې.اودا ښكاره نه ده.چه د زيد د ښځې يا د دوست سره چې د خبرو نه كولوقسم خوړلې شوې دې.آيا د قسم خوړلو صفت اوعلت په زوجه او دوست كې دې.اوكه په زيد كې دې.ددې امله كه د زوجيت د ختميدونه روسته يا د دوستۍ ختميدو نه روسته حالف ورسره خبرې اوكړى.نوحانثيږى به.

د شړۍ د خاوند سره دخبروكولونه قسم كول

قَالَ (وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ صَاحِبَ هَذَا الطَّيْلَسَانِ فَبَاعَهُ ثُمَّ كَلَّمَهُ حَنِثَ) لِأَنَّ هَذِهِ الْإِضَافَةَ لَا تَحْتَمِلُ إِلَّا التَّعْرِيفَ لِأَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يُعَادِي لِمَعْنًى فِي الطَّيْلَسَانِ فَصَارَ كَمَا إِذَا أَشَارَ إِلَيْهِ

حل اللغة: ① طيلسان شړۍ

ژباړه:- «امام محمد رحمه الله په جامع صغيركې» فرمائى.كه يوكس «زيد» قسم اوخوړلو.چه ددې شړۍ خاوند «بكر» سره به خبرې نه كوى.نوهغه دغه شړۍ خرڅه كړه.اوده «د هغې دخرڅولونه پس» ده «زيد» ورسره خبرې اوكړې.نودې حانثيږى.ځكه چې دا اضافت «د شړۍ» صرف د پيژندګلو لپاره دې. «چه زما چې شړۍ ئې اغوستې ده» ځكه چې انسان د شړۍ د امله دشمنى نه كوى. «چه د شړۍ د امله بكرسره دشمنى اوكړى.بلكه د شړۍ د خاوند سره دشمنى كوى» نودا صورت داسې شو.لكه چې ده ورته اشاره كړې وى. «چه زما دې قسم وى.بكرسره به خبرې نه كوم.اوشړۍ ئې په كې هډو ياده كړې نه

وی.نوپه دغه صورت کي که زید دبکرسره خبرې اوکړې.حانثیږی.دغه ډول به د شرئ په مسئله کي هم حانثیږی»

تشریح:- د ژباړې اواضافی قیوداتونه مطلب ښکاره دې.

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هَذَا الشَّابَ فَكَلَّمَهُ وَقَدْ صَارَ شَيْخًا حَنِثَ) لِأَنَّ الْحُكْمَ تَعَلَّقَ بِالْمُشَارِ إِلَيْهِ إِذِ الصِّفَةُ فِي الْحَاضِرِ لَغْوٌ، وَهَذِهِ الصِّفَةُ لَيْسَتْ بِدَاعِيَةٍ إِلَى الْيَمِينِ عَلَى مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ.

حل اللغة: ① الشاب:ځوان ② شیخ:سپین ږیرې (بوډا) ③ لغو:عبث ،بې فائدې

ژباړه:- اوچاچه قسم اوخوړلو.چه ددې ځوان «بکر» سره به خبرې نه کوی.اوده ورسره په داسې حالت کي خبرې اوکړې.چه هغه بوډا شوې وو.نو «په دې صورت کي» حانثیږی.ځکه چي «په قسم کي د بری کیدو او حانث کیدو» حکم د مشارالیه «بکر» پورې متعلق دې. «اوپاته پاتې شود ځوانئ صفت نودځوانئ صفت په هغه وخت کي مفید وی.چه اشاره نه وی.اودلته خوبکرته اشاره شوې ده» اوصفت «چه ځوانی ده» په حاضر کي «چه اشاره ورته کولې شی» لغو وی.اودا صفت «د ځوانئ» د قسم خوړلو باعث نه دې.لکه څنګه چي وړاندې تیرشو.

تشریح:- د مسئلې وضاحت دا دې.چه زید ،بکر اړخ ته اشاره اوکړه.چه زه به ددې ځوان سره خبرې نه کوم.یعنی د ځوانئ په صفت سره ئې ذکرکړلو.بیا وخت تیریدلو.تردې چي بکربوډا شو.اوزید ورسره خبرې اوکړې.نوپه دې صورت کي دې حانثیږی.اودې ځکه حانثیږی.چه په قسم کي د بری کیدو اوحانث کیدو تعلق د هغه کس سره وی.چاته چي اشاره شوې وی.اوچه کله یوکس ته اشاره اوشی.نوصفت په کي لغووی.مثلاً ته بکرته اشاره اوکړې.اوهغه ځوان وی.نوکه ته هغه د ځوانئ په صفت موصوف کوې اوکه نه.په دواړو صورتونوکي محلوف علیه بکرشو.دهغه د ځوانئ صفت محلوف علیه نه دې.ددې امله که په بوډا توب کي ورسره خبرې اوکړی.نوهم حانثیږی.

«وهذه الصفة ليست بداعية» یعنی د ځوانئ صفت څه داسې نه دې.چه ددې د امله دې حالف قسم خوړلې وی.چه ده سره به خبرې نه کوم.بلکه دځوانئ صفت خو داسې دې.چه دځوان سړی سره خبرې کاوه کي سړې خوشحالی محسوسوی.

د حین او زمان په لفظ سره قسم خوړل

(فَصْلٌ) قَالَ (وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ حِينًا أَوْ زَمَانًا أَوِ الْحِينَ أَوِ الزَّمَانَ فَهُوَ عَلَى سِتَّةِ أَشْهُرٍ) لِأَنَّ الْحِينَ قَدْ يُرَادُ بِهِ الزَّمَانُ الْقَلِيلُ وَقَدْ يُرَادُ بِهِ أَرْبَعُونَ سَنَةً، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ} وَقَدْ يُرَادُ بِهِ سِتَّةُ أَشْهُرٍ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ} وَهَذَا هُوَ الْوَسَطُ فَيَنْصَرِفُ إِلَيْهِ،

حل اللغة: ① حین:وخت ② ستة:شپږ ③ اشهر:جمع د شهر،میاشت ④ اربعون:څلویښت ⑤ الدهر:زمانه ⑥ الوسط: منځنی

ژباړه:- «ابو الحسین قدوری» رحمه الله فرمائی.اوچا «زید» چي قسم اوخوړلو.چه دهغه «بکر» سره به څه وخت یا څه زمانې پورې خبرې نه کوی. «دالف لام نه بغیرحین او زمان ذکرکړی» اویا «داسې اووائی.چه بکرسره به» تریو وخت یا زمانې پورې خبرې نه کوی.نودا قسم به په شپږو میاشتوباندې حمل کولې شی. «یعنی ددې وخت او زمانې څخه به شپږ میاشتې مراد وی.اودا شپږ میاشتې ترې ځکه مراد اخلو» چي دحین د لفظ نه کله لږه زمانه مراد وی اوکله څلویښت کاله، «د څلویښتو کالو لپاره دلیل دا دې.چه» الله تعالی فرمائیلی دی[هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ] «مفسرینو فرمائیلی دی.چه دلته د حین نه مراد څلویښت کاله دی» اوکله د حین د لفظ نه شپږ میاشتې مراد وی. «د شپږو میاشتو لپاره دلیل دا دې.چه» الله تعالی فرمائیلی دی. [تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا] «دابن عباس رضی الله عنه د قول مطابق دا شپږ میاشتې دی» اودا

﴿شپږ میاشتې﴾ منځنی موده ده. ﴿نوچه د حین او زمان په لفظ کې د څه مودې نیت نه وی شوې.نو﴾ دا شپږ میاشتې به قسم ته اړولې شی. ﴿اودحین او زمان څخه به شپږ میاشتې مراد وی﴾

تشریح: - اګرچه دا مسائل هم ماقبل یعنی د خبرو سره متعلق دی.پکاردا وه.چه دا نې هم په وړاندینی فصل کې ذکرکړې وې.خوددې لپاره نې جلا فصل ځکه ذکرکړلو.چه وړاندې مسائل داعیان او ذواتو سره متعلق وې.اودا مسائل د زمان او وخت سره متعلق دی.اوذوات اصل وی.اوزمان تبع وی.ددې امله نې اصل په تبع باندې مقدم کړلو.

وَهٰذَا لِأَنَّ الْيَسِيرَ لَا يُقْصَدُ بِالْمَنْعِ لِوُجُودِ الِامْتِنَاعِ فِيهِ عَادَةً، وَالْمُؤَبَّدُ لَا يُقْصَدُ غَالِبًا لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْأَبَدِ، وَلَوْ سَكَتَ عَنْهُ يَتَأَبَّدُ فَيَتَعَيَّنُ مَا ذَكَرْنَا. وَكَذَا الزَّمَانُ يُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ الْحِينِ، يُقَالُ مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ حِينٍ وَمُنْذُ زَمَانٍ بِمَعْنًى وَهٰذَا إِذَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ، أَمَّا إِذَا نَوَى شَيْئًا فَهُوَ عَلَى مَا نَوَى لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ

حل اللغة: ① الیسیر کم ② الموبد همیشه لپاره ③ سکت خاموش شو

ژباړه- اودا ﴿یمین په شپږ میاشتو﴾ حمل کولې شی.ځکه چې ﴿په قسم کې د﴾ لږ وخت لپاره خبرې نه کول مقصود نه وی.ځکه چې د لږ وخت لپاره خبرو کاوه نه منع کیدل خو په عامه توګه هسې هم وی. ﴿اوکه نه.نوبیا دقسم فائده څه شوه﴾ او ﴿لکه څنګه چې په قسم کې لږه موده خبرې نه کول مقصود نه وی.نودغه شان﴾ ډیرې زمانې پورې خبرې کول هم اکثرپه دې ﴿لفظ د حین سره﴾ مقصود نه وی.ځکه چې دا ﴿ډیره زمانه چې څلویشت کاله دی﴾ پشان د همیشه ده. ﴿نود حین په لفظ سره ډیره زمانه مراد نه وی.بلکه دهغې لپاره په عرف کې د ابد لفظ استعمالیږی﴾ اوکه ﴿زید﴾ دومره ﴿اوږده﴾ زمانه ﴿چه څلویښت کاله دی﴾چوپ شی.نوهمیشوالې به ثابت شی. ﴿حالانکه په لفظ د حین سره همیشوالې مراد نه وی،نوددې تفصیل نه﴾ هغه موده متعین شوه.کومه چې موږ ذکرکړه. ﴿چه شپږ میاشتې دی﴾ اودغه ډول زمانه ﴿یعنی چې په قسم کې د حین په ځائې زمان استعمال کړی﴾ هم د ..حین.. په ځائې استعمالیږی ﴿په محاوره کې﴾ وئیلې شی.ما ته د دومره وخت نه نه وې لیدلې. ﴿حین په کې استعمالوی﴾ اود دومره زمانې نه مې نه وې لیدلې. ﴿زمان په کې استعمالوی﴾ دواړه ﴿که حین دې اوکه زمان دې﴾ یوه معنی ورکوی.اودا حکم ﴿چه کله په قسم کې حین یا زمان استعمال کړی.نوشپږ میاشتې به ترې مراد وی.﴾ په هغه وخت کې دې.ده ﴿حالف د قسم خوړلوپه وخت کې﴾ دځه نیت نه وی کړې.اوکه ده د یوې مودې نیت کړې وی. ﴿که شپږ میاشتې وی اوکه ددې کمې یا زیاتې چې دومره موده به ورسره خبرې نه کوم﴾ نوده ﴿حالف﴾ چې څه نیت کړې وی.په هغې باندې به حمل کولې شی. ﴿اوهم هغه به ترې مراد وی.اودده تصدیق به کولې شی.اوتصدیق به نې ځکه کولې شی.چه﴾ ده د خپل کلام د حقیقی معنی نیت کړې دې. ﴿اوکله چې د کلام د حقیقی معنی اوکړې شی.نوهم هغه حقیقی معنی به ترې مراد وی.ګرځ (ګرد) عرف اوظاهرې نه خلاف وی﴾

وَكَذٰلِكَ الدَّهْرُ عِنْدَهُمَا.(¹) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: الدَّهْرُ لَا أَدْرِي مَا هُوَ وَهٰذَا الِاخْتِلَافُ فِي الْمُنَكَّرِ وَهُوَ الصَّحِيحُ، أَمَّا الْمُعَرَّفُ بِالْأَلِفِ وَاللَّامِ يُرَادُ بِهِ الْأَبَدُ عُرْفًا. لَهُمَا أَنَّ دَهْرًا يُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ الْحِينِ وَالزَّمَانِ يُقَالُ مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ حِينٍ وَمُنْذُ دَهْرٍ بِمَعْنًى وَأَبُو حَنِيفَةَ تَوَقَّفَ فِي تَقْدِيرِهِ لِأَنَّ اللُّغَاتِ لَا تُدْرَكُ قِيَاسًا وَالْعُرْفُ لَمْ يُعْرَفْ اسْتِمْرَارُهُ لِاخْتِلَافٍ فِي الِاسْتِعْمَالِ

ژباړه - اودغه ډول د صاحبینو رحمهما الله په نیزد ..الدهر.. لفظ هم دې. ﴿یعنی کوم احکام چې د حین اوزمان دی.هم هغه شان د د ..الدهر..د لفظ هم دی﴾ اوامام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی.د ..الدهر.. ماته پته نشته.چه دا څه دی. ﴿یعنی ماته دا پته نشته.چه ددې نه څومره زمانه مراد ده﴾ او دا اختلاف ﴿دصاحبینواوامام

¹) القول الراجح هوهذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا فى الدرالمختار(١١٨\٣) وردالمحتار(١١٨\٣) والهندية (١٠٥\٢) وشرح عقود ص٦٩) والبحرالرائق (٣٣٩\٤) نقلاً عن القول الراجح (٤٢٤\١)-

ابوحنيفه رحمه الله په مينځ کي﴾ په نکره ،دهر، کي دې. ﴿چه الف لام پرې نه وی داخل.اوداسې اووائی.والله لا اکلمه دهرا﴾ اودا قول صحيح دې.اوهغه ،دهر، چې الف لام پرې داخل وی. ﴿اوداسې وی.چه والله لا اکلمه الدهر﴾ نوپه عرف کی د دې نه هميشوالې مراداخستې شی. ﴿يعنی د هميشه معنی ورکوی.نوکه يوکس داسې اووئيل،والله لا اکلمه الدهر،نو مراد به دا وی.چه واړه عمربه ورسره خبرې نه کوم.اوپه مختلف فيه مسئله کي يعنی چې ،د هر،بغيردالف لام نه وی﴾ د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه ،دهر، د حين وزمان په معنی کښې استعماليږی. ﴿ګورئ نه چې د عربوپه محاوره کي﴾ وئيلی شی.«مارايتک من حين» يعنی ماته د دومره مودې نه نه ئې ليدلې.او«ما رايتک منذ دهر» يعنی ماته د دومره مودې نه نهٔ ئې ليدلې.دواړه ﴿حين اودهر﴾ په يوه معنی کي استعماليږی.اوامام ابوحنيفه رحمه الله ددې په مقدارکي توقف کړې دې. ﴿څه فيصله ئې په کي نه ده کړې.چه د دهرد واړه عمر لپاره استعماليږی.اوکه نه.اودليل دا پيش کوی.چه ،دهر، يولغت دې.او﴾ لغات په قياس سره نشی معلومولې.اوپه عرف کي د دهر استعمال صرف د هميشوالی لپاره نه دې.بلکه ددې په استعمال کي اختلاف دې. ﴿کله د زمان په معنی کي استعماليږی.اوکله د ابد په معنی کي﴾

تشريح:- ((**وكذلک الدهر عندهما**)) په وړاندينۍ مسئله کي چې کوم تفصيل د ،،حين،، او ،،زمان،، په لفظ کي تير شو.هم هغه تفصيل د ،دهر، په کلمه کښې هم دې.يعنی که يوکس ((والله لاأكلمه دهراً)) اووئيل. نو دصاحبينو رحمهما الله په نيز حالف به شپږ مياشتې دمحلوف عليه سره خبرې نه کوی.ځکه چې د دوی په نيزد ،حين،زمان اودهريو حکم دې.برابره ده که ،دهر،، په الف لام سره معرفه وی اوکه نه وی.ځکه چې د ،دهر، لفظ دشپږ مياشتو لپاره متصور کيداې شی.

«**هوالصحيح**» دلته کي د صحت په تصريح سره د بشربن وليد د روايت نه احتراز کوی.کوم چې هغوی د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل کړې دې.چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد ،الدهر،او ،دهر، کي څه توپير نشته.نوځکه شارح دا اوفرمائيل.چه هم د توپير قول صحيح دې.چه په ،الدهر، او،دهر، کي توپير کوی.

((**وقال ابو حنيفة رحمه الله الدهر لا ادري ما هو**))اوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.که ،دهر، بغيرد الف لام نهٔ وی. نو د دې نه چې څومره زمانه مراد ده.شپږ مياشتې دی اوکه ددې نه کم يا زيات.په دې باندې زه نه پوهيږم.نودوی په کي توقف کړې دې.البته که ،الدهر، په الف لام سره معرفه وی.نوبيا د ټولوپه نيز په عرف کي ددې نه دوام اوهمشوالې مراد دې.

((**لهما ان دهرا يستعمل**)) صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه لفظ د دهر لکه د حين اودزمان د لفظ پشان استعماليږی .ددې په حکم کي څه توپير نشته.هم دا وجه ده.که يوکس ((ما رأيتك منذ دهر)) اووئيل.يا ئې ((مارأيتك منذ حين)) اووئيل.نوپه دواړو قولونوکي څه توپير نشته.نودا دواړه الفاظ د معنی په اعتبارسره يوه معنی ورکوی.

((**وابو حنيفة رحمه الله توقف في تقديره**)) امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه کله ،دهر،نکره ذکرکړې شی.نوپه دې صورت کي به چوپوالي اختيارولې شی.دخپل اړخه به څه مودهٔ نشی مقررکولې.ځکه چې نومونه کيخودل اومقدارونه مقرر کول د نقل سره تعلق ساتی.چه په عرف اورواج کي ددې نه څه استعمال وی.هغه به ترې مراد وی.اود دهر لپاره په عرف کي څه مودهٔ متعين نه ده.نوځکه به په دې مسئله کي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزتوقف کولې شی.

په ايام اوالايام باندې قسم خوړل

(وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ أَيَّامًا فَهُوَعَلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ) لِأَنَّهُ اسْمُ جَمْعٍ ذُكِرَ مُنَكَّرًا فَيَتَنَاوَلُ أَقَلَّ الْجَمْعِ وَهُوَالثَّلَاثُ. وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ الْأَيَّامَ فَهُوَعَلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ،() وَقَالَا: عَلَى أَيَّامِ الْأُسْبُوعِ. وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ الشُّهُورَفَهُوَعَلَى عَشَرَةِ أَشْهُرٍعِنْدَهُ. وَعِنْدَهُمَا عَلَى اثْنَيْ عَشَرَشَهْرًا؛لِأَنَّ اللَّامَ لِلْمَعْهُودِ وَهُوَمَا ذَكَرْنَا، لِأَنَّهُ يَدُورُعَلَيْهَا. وَلَهُ أَنَّهُ جَمْعٌ مُعَرَّفٌ فَيَنْصَرِفُ إِلَى أَقْصَى مَا يُذْكَرُ بِلَفْظِ الْجَمْعِ وَذَلِكَ عَشَرَةٌ (وَكَذَا الْجَوَابُ عِنْدَهُ فِي الْجُمَعِ وَالسِّنِينَ) وَعِنْدَهُمَا يَنْصَرِفُ إِلَى الْعُمُرِ لِأَنَّهُ لَامَعْهُودَ دُونَهُ

حل اللغة: ① **ايام** جمع د يوم ،ورځ ② **يتناول** شامليږي ③ **الاسبوع** هفته ،اووه ورځې ④ **الشهور** جمع د شهر ،مياشت

⑤ **اقصى** آخرى ⑥ **السنين** جمع د سن ،په معنى د كال ⑦ **دون** كم

ژباړه:- اوكه يوكس ﴿په عربۍ كې﴾ دا قسم اوخوړلو چه ((لايكلم اياماً)) ﴿بغير د الف لام نه﴾ يعنى څو ورځې به خبرې نه كوى.نودا به په درې ورځو محمول وى. ﴿اودې څخه به درې ورځې مراد وى.درې ورځې به ورسره خبرې نه كوى.اود درې ورځو دليل دا دې.چه﴾ دا ايام اسم جمع ده.اونكره ذكرشوې ده.نود جمع اقل اوكم عدد چې وى.هغه به مراد وى.چه درې ورځې دى.اودا كه قسم ئې اوخوړلو.چه ((لايكلمه الايام)) نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه دا لفظ په لسو ورځو باندې حمل كولې شى. ﴿يعنى لس روځې به ترې مراد وى﴾ اوصاحبين رحمهما الله فرمائى.چه په يود هفته به حمل كولې شى. ﴿يعنى اووه ورځې به ترې مراد وى﴾اوكه دا قسم اوخورى.((لايكلمه الشهور)) ﴿په الف لام سره﴾ نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه لسو مياشو به حمل وى. ﴿يعنى لس مياشتې به ترې مراد وى﴾ اودصاحبينو رحمهما الله په نيزبه په دولسو مياشتو حمل وى. ﴿په دواړو مسئلوكې د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.﴾ څكه چې الف لام ﴿په الايام او الشهور كې﴾ د عهد لپاره دې. ﴿يعنى په عرف او خلګو كې دخاص عدد لپاره دې﴾ اودغه عدد هغه دې.كوم چې موږ ذكركړلو. ﴿يعنى په الايام كې يود هفته ده.اوپه الشهوركې دولس مياشتې دى﴾ څكه هم ددې نه تاويږى راتاويږى. ﴿يعنى ورځې اووه په هفته كې يوچكرلګوى.اوپه هفته كې اووه ورځې دى.نوهم اووه به ترې مراد وى. او مياشتې په كال كښې يوچكرلګوى.اوپه كال كې دولس مياشتې وى.نوهم دولس مياشتې به ترې مراد وى﴾ اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دا ﴿لفظ د الايام او د الشهور﴾ جمع ده.اوپه الف لام سره معرفه شوې ده.نود جمعې د لفظ چې زيات نه زيات چې په كوم عدد باندې اطلاق كيږى.هغه به ترې مراد وى. اوهغه لس ورځې دى.اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدا حكم د ،الجُمع، په لفظ كې هم دې.اود ،السنين، په لفظ كې هم دې. ﴿يعنى كه دا قسم اوخورى.چه ، ،لا يكلمه الجمع يا لا يكلمه السنين، ، يعنى الف لام پرې داخل وى.نوهم هغه هومره مقداربه ترې مراد وى.كوم چې په ذهنونوكې وى.يعنى لس جمې اولس كاله به ترې مراد وى﴾ اود صاحبينو رحمهما الله په نيزبه واړه عمرته اړولې شى. ﴿اوواړه عمربه ترې مراد وى.چه هغه سره به واړه عمر خبرې نه كوى﴾ څكه چې ددې ﴿الجمع او السنين﴾ لپاره د واړه عمر نه سوا بل معهود نشته. ﴿نوځكه به ترې واړه عمرمرادوى.ګورئ نه په ،الايام، او،الشهور، كې د الايام لپاره د خلګو په عرف كې معهود وو.چه يوه هفته ده.يعنى كله چې د ايام ذكراوشى.نو خلګ ترې يوه هفته مراد اخلى.اودغه ډول په عرف كې د الشهورد پاره معهود شته.چه دولس مياشتې دى.يعنى كله چې د شهور ذكر اوشى. نو خلګ ترې دولس مياشتې مراد اخلى.اوپه ،الجمع او ،السنين، كې معهود عدد نشته.نوځكه ترې واړه عمر مراد اخستې شى﴾

---

[1]) القول الراجح هو قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى العناية (٤٢٩\٤) وردالمحتار(١١٩\٣) ومجمع الأنهر(٥٧٧\١) والهندية (١٠٦\٢) البحرالرائق (٣٤١\٤، ٣٤٠)نقلاً عن القول الراجح (٤٢٥/١)-

تشريح:- ((**فينصرف الى اقصى ما يذكر بلفظ الجمع وذلک عشرة**)) دامام ابوحنيفه رحمه الله ددې خبرې لپاره چې دايام څخه به لس ورځې مراد وى.دليل دا دې.چه په شماركي د جمع صيغه آخرى دكوم ځائې پورې استعماليږى.نوهغه د لس عدد دې.ونيلى شى.((ثلاثة أيام ...عشرة أيام)) اوچه د لسو نه زياتى شى.نوبيا ((ايام)) نه استعماليږى.بلكه واحد استعماليږى.يعنى داسې ونيلى شى.((احد عشريوما.. ثلاثة عشريوما)) وغيره. د دې تفصيل نه معلومه شوه.چه كله ايام ذكرشى.نومراد به ترې لس ورځې وى.

د((أيام كثيرة)) محمل

((وَمَنْ قَالَ لِعَبْدِهِ إِنْ خَدَمْتَنِي أَيَّامًا كَثِيرَةً فَأَنْتَ حُرٌّ فَالْأَيَّامُ الْكَثِيرَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ عَشَرَةُ أَيَّامٍ)(١) لِأَنَّهُ أَكْثَرُ مَا يَتَنَاوَلُهُ اسْمُ الْأَيَّامِ، وَقَالَا: سَبْعَةُ أَيَّامٍ لِأَنَّ مَا زَادَ عَلَيْهَا تَكْرَارٌ. وَقِيلَ لَوْ كَانَ الْيَمِينُ بِالْفَارِسِيَّةِ يَنْصَرِفُ إِلَى سَبْعَةِ أَيَّامٍ لِأَنَّهُ يُذْكَرُ فِيهَا بِلَفْظِ الْفَرْدِ دُونَ الْجَمْعِ.

حل اللغة: ① **عشرة**:لس ② **سبعة**: اووه

ژباړه:- اوڅوك چې خپل غلام ته اووائى.كه تا ډيرې ورځې زما خدمت اوكړلو.نوته به آزاد ئې.نو ډيرې ورځې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزلس ورځې دى.ځكه چې دلسو عدد داسې دې.چه په دې باندې د ايام لفظ صادقيږى. ﴿اوونيلى شي.((عشرة أيام)) اوچه كله يوولسو ته اورسى.نوبيا ايام نشى ونيلې بلكه يوم ونيلى شى.لكه احد عشر يوما)) شو.ګورئ دلته د يوولسو لپاره لفظ د يوم راغلو.ايام رانغلو.﴾ اوصاحبين رحمهما الله فرمائى.چه اووه ورځې دى.اوددې نه چې كومې زياتې وى.هغه مكرر وى. ﴿ځكه چې مثلاً دخالى د ورځې نه شمار پيل شى.نود جمعې پورې اووه ورځې شوې.اوچه اتمه ورځ راشى.نود خالى د ورځې تكرار راغلو﴾ اوونيلې شوى دى.كه قسم په فارسئ ژبه كې وى. ﴿مثلاً اووائى.،،اګرمرا روز بسيارخدمت كردى آزادى شدى،، نودا به اووه ورځوته ګرځولې شى. ﴿او د ډيرو ورځونه به اووه ورځې مراد وى﴾ ځكه چې په فارسئ كې ورځ د مفرد په صيغه باندې استعماليږى.دجمعې په صيغه نه استعماليږى. ﴿په يعنى په فارسئ كې روز واحد استعماليږى.اګرچه ددې واحد سره د دوو يا ددو نه زيات عدد هم ذكر وى.لكه شش روز، هفت روز.ګورئ نه په هرعدد كې روز واحد استعماليږى﴾

تشريح:- د ژباړې اواضافى قيوداتونه مطلب ښكاره دې.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْعِتْقِ وَالطَّلَاقِ)

ژباړه:- ﴿دا﴾ باب د عتق اوطلاق په بيان كې دې.

تشريح:- چونكه په ماقبل كې د باب اليمين فى الكلام بيان اوشو.نووريسې د ((**باب اليمين فى العتاق والطلاق**)) ذكركوى.ځكه چې عتاق اوطلاق هم په كلام باندې واقع كيږى.

په ولادت پورې د طلاق تعليق كول

((وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ طَالِقٌ فَوَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا طَلُقَتْ، وَكَذَلِكَ إِذَا قَالَ لِأَمَتِهِ إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ حُرَّةٌ) لِأَنَّ الْمَوْجُودَ مَوْلُودٌ فَيَكُونُ وَلَدًا حَقِيقَةً وَيُسَمَّى بِهِ فِي الْعُرْفِ، وَيُعْتَبَرُ وَلَدًا فِي الشَّرْعِ حَتَّى تَنْقَضِيَ بِهِ الْعِدَّةُ، وَالدَّمُ بَعْدَهُ نِفَاسٌ وَأُمُّهُ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ فَتَحَقَّقَ الشَّرْطُ وَهُوَ وِلَادَةُ الْوَلَدِ

حل اللغة: ① **ميت**:مړې ② **امة**: وينځه ③ **تنقضى**:تمام (پوره) كيږى

ژباړه:- اوڅوك چې خپلې ښځې ته اووائى.تا كه بچې راوړلو.نوته دې طلاقه ئې.نودهغې نه مړ بچې پيدا شو.نودا طلاقه شوه.اوهم دا حكم ﴿په هغه صورت كې هم﴾ دې.كه خپلې وينځې ته اووائى.كه تا بچې پيدا كړلو.نو ته آزاده ئې. ﴿اودهغې نه بچې پيدا شى.نود بچى په پيدا كيدو باندې هغه آزاده شوه.اودليل ئې دا

---

(١) القول الراجح هو قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى البحر(٣٤٠\٤) والدرالمختار(١١٩\٣)نقلاً عن القول ال احمد ١١\٢٦٢٧

دي.چه﴾ دا بچی پيدا شوي دي.نوپه حقيقت كي بچي شو.اوپه عرف كي ورته هم بچي وائی.اوپه شريعت كي هم بچي اوولد ګڼرلي شی. ﴿هم دا وجه ده.چه په شريعت كي دغه مړماشوم د بچی په حكم كښي دي.چه﴾ د دي مړ ماشوم زيږيدل به دا ښځه عدت تيروی.اوددي ولادت نه روسته چي كومه وينه راځي. هغه به نفاس وی.اودا ماشوم موربه د مولی ام ولد وی.نوشرط چي ولادت دي.هغه ثابت شو. ﴿اوچه هغه ثابت شو. نوطلاقيږی﴾

تشريح:- د ژباړي اواضافي قيوداتونه مطلب ښكاره دي.

(وَلَوْقَالَ إِذَاوَلَدْتِ وَلَدًا فَهُوَحُرٌّ فَوَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا ثُمَّ آخَرَحَيًّا عَتَقَ الْحَيُّ وَحْدَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(١) وَقَالَا: لَا يُعْتَقُ وَاحِدٌ مِنْهُمَا) لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ بِوِلَادَةِ الْمَيِّتِ عَلَى مَا بَيَّنَّا فَتَنْحَلُّ الْيَمِينُ لَا إِلَى جَزَاءٍ لِأَنَّ الْمَيِّتَ لَيْسَ بِمَحَلٍّ لِلْحُرِّيَّةِ وَهِيَ الْجَزَاءُ. وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ

مُطْلَقَ اسْمِ الْوَلَدِ مُقَيَّدٌ بِوَصْفِ الْحَيَاةِ لِأَنَّهُ قَصَدَ إِثْبَاتَ الْحُرِّيَّةِ جَزَاءً وَهِيَ قُوَّةٌ حُكْمِيَّةٌ تَظْهَرُ فِي دَفْعِ تَسَلُّطِ الْغَيْرِ وَلَا تَثْبُتُ فِي الْمَيِّتِ فَيَتَقَيَّدُ بِوَصْفِ

الْحَيَاةِ فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا حَيًّا، بِخِلَافِ جَزَاءِ الطَّلَاقِ وَحُرِّيَّةِ الْأُمِّ لِأَنَّهُ لَا يَصْلُحُ مُقَيِّدًا

حل اللغة: ① **حی** ژوندي ② **تسلط** غلبهٔ ③ **حرية** آزادی ④ **يصلح** صلاحيت لری

ژباړه:- اوكه وينځي ته ئي اووئيل.كه ستا بچي پيدا شو.نو هغه دي آزاد وی.نوهغي مړ بچي اوزيږولو .اوبيا ئي بي بل ژوندي بچي اوزيږولو.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزباندي صرف ژوندي بچي آزاديږی. او صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه پدي دواړوكي يوهم نه آزاديږی.ځكه چي شرط خو داولنی بچي په زيږيدل سره موجود شوي دي.نوداقسم د جزاء نه بغيرختم شو.ځكه چي مړماشوم خوپه هيڅ طريقه د آزادئ حاصلولو صلاحيت نه لری.حالانكه د قسم په جزاء كي آزادی حاصليدل هم راځي.اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه مطلق ولد هغه ته وئيلي شی.چه هغه د ژوند په صفت موصوف وی.ځكه چي مولي دهغه د آزادئ اراده دشرط د جزاء په طورسر كړي ده. ﴿يعني بغيرد څه تعليق اوشرط نه ئي بچي نه دي آزاد كړي.بلكه دا ئي شرط كړي دي.چه بچي پيدا شی.نوهغه به آزاد وی.نوچه ولادت اوشو.نوشرط موجود شو.اوچه شرط موجود شی.نوجزاء به خامخا موجوديږی﴾ اوآزادی يوحكمی قوت دي. ﴿يعنی په ظاهره په آزاد سړی كي څه قوت نه ښكاری.چه مثلاً اول يومن بورئ اوچتولي شی.اود آزادئ نه روسته دوي [دوه] منه بورئ اوچتولي شی. بلكه ده ته حكماً يوقوت اواختيارحاصل دي.ګورئ نه غلام په خپل اختيارسره خرڅول اخستل داسي نورتصرفات نشی كولي.اوآزاد سړي دا تصرفات كولي شی﴾ چي دبل چا تسلط اوزبردستی په خپل ځان باندي نه برداشت كوی.اودا ازادی په مړی كي نه ثابتيږی. ﴿اومولی چي د ولدد آزادئ اعلان كړي دي. نود هغي نه ژوندي ولدمراد دي.ځكه﴾ ولد هغه بچی ته وائی.چه د ژوند په صفت موصوف وی. ﴿اوژوند په كي وی.اوچه ولد مړ پيدا شی.نومړي خود آزادئ صلاحيت نه لری.ځكه چي آزادی د بل تصرف د ځان نه لري كولوته وائی.اومړي ددي قدرت نه لری.چه دبل چا تصرف د ځان نه لري كړی﴾ نومړي به د ژوند په صفت باندي موصوف ګڼرلي شی. ﴿ځكه كه دا قيد په كي شرط نكړي شی.نوبيا خود مولی قول عبث شو.ځكه كه مړی ته آزادی ملاؤ هم شی.نوهغه آزادی قبلولي نشی﴾ نودا مسئله داسي شوه.لكه چي دي ورته اووائی.كه تا ژوندي بچي پيدا كړلو.نوته به آزاده ئي.په خلاف دهغه مسئلي چي په هغي كي جزاء طلاق اودمور آزادی وی.ځكه چي دغه بچي ﴿په كوم پوري چي ئي د طلاق اوعتاق تعليق كړي دي﴾ د ژوند د قيدصلاحيت نه لری. ﴿چه هغه دي خامخا ژوندي وی. بلكه كه مړوی.نوهم به طلاق اوعتاق واقع كيږی.

---

(١) القول الراجح هو هذا قول أبی حنيفة رحمه الله كذا فی فتح القدير(٤\٤٣٤) والكفاية (٤\٤٣٤) و رد المحتار (٣\١٢٣) والبحرالرائق (٤\٣٤٢) ومنلقى الأبحر(١\٥٧٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٢٧)-

تشريح:- «بخلاف الطلاق وحرية الامة» يعنى چې ښځې ته اووائي.كه تا بچې اوزيږولو.نوته به طلاقه ئې.يا خپلې وينځې ته اووائي.كه تا بچې اوزيږولو.نوته به آزاده ئې.ځكه چې هلته كه هغه مړ بچې اوزيږوي.نوهم ښځه طلاقيږي.اوآزاديږي.په دواړو مسئلوكي وجه د توپير دا ده.چه په زيربحث مسئله كې د بچي د آزادئ مسئله ده.نوچه د بچي د آزادئ مسئله ده.نوددې ځخه به هغه بچې مراد وي.چه د آزادئ حاصلولو استعدا اوقابليت په كښې وي.اوهغه ژوندې بچې دې.اوپه سابقه مسئله كې طلاق په بچي باندې نه واقع كيږي. بلكه دهغه په موربانديې واقع كيږي.دغه ډول عتاق د بچي لپاره نه ثابتيږي. بلكه دهغه د مور لپاره ثابتيږي .نوكه بچې مړ پيدا شي اوكه ژوندې.په چا باندې چې حكم واقع كيږي.په هغوى كې د حكم قبلولو چې طلاق اوعتاق دې.استعداد اوصلاحيت شته.نوځكه هلته طلاق اوعتاق واقع كيږي.اوپه زيربحث مسئله كې د مړ بچي په ولادت باندې عتاق نه واقع كيږي.

داولنى غلام اخستلوآزادي

(وَإِذَا قَالَ أَوَّلُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ فَهُوَ حُرٌّ فَاشْتَرَى عَبْدًا عَتَقَ) لِأَنَّ الْأَوَّلَ اسْمٌ لِفَرْدٍ سَابِقٍ (فَإِنْ اشْتَرَى عَبْدَيْنِ مَعًا ثُمَّ آخَرَ لَمْ يُعْتَقْ وَاحِدٌ مِنْهُمْ) لِانْعِدَامِ التَّفَرُّدِ فِي الْأَوَّلَيْنِ وَالسَّبْقِ فِي الثَّالِثِ فَانْعَدَمَتْ الْأَوَّلِيَّةُ (وَإِنْ قَالَ أَوَّلُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ وَحْدَهُ فَهُوَ حُرٌّ عَتَقَ الثَّالِثُ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّفَرُّدُ فِي حَالَةِ الشِّرَاءِ لِأَنَّ وَحْدَهُ لِلْحَالِ لُغَةً وَالثَّالِثُ سَابِقٌ فِي هَذَا الْوَصْفِ

ژباړه:- اوكه يوكس دا اووئيل.چه اولنې هغه غلام چې زه ئې واخلم.هغه دې ازاد وي.اوده يوغلام واخستلو .نوهغه به آزاديږي.ځكه چې اولنې هغه كس ته وائي.چه د ټولو نه وړاندې وي.اوكه ده اول دوه [دوه] غلامان په يو ځائې واخستل.اوبيا ئې دريم غلام واخستلو.نوپه دې درې واړو كې يوهم نه آزاديږي.ځكه چې په اولنودوو كې يوهم د بل نه اولنې نه دې.اودريم هم د ټولو نه وړاندې نه دې.نويوپه كې هم اولنې نشو.اوكه دا ئې اووئيل.چه اولنې هغه غلام چې ئې جلا واخلم.هغه دې آزاد وي.نوپه دې درې واړو كې به دريم غلام آزاديږي.ځكه چې په دې لفظ كې په اخستلو كې ځانوالې مراد دې.ځكه چې ځانله والې دلته د اخستلو لپاره دلغت په اعتبارسره حال واقع شوې دې.اودريم غلام په دې صفت كې د ټولو نه اولنې دې.

دآخري غلام دآزادئ قول

(وَإِنْ قَالَ آخِرُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ فَهُوَ حُرٌّ فَاشْتَرَى عَبْدًا ثُمَّ مَاتَ لَمْ يُعْتَقْ) لِأَنَّ الْآخِرَ اسْمٌ لِفَرْدٍ لَاحِقٍ وَلَا سَابِقَ لَهُ فَلَا يَكُونُ لَاحِقًا (وَلَوْ اشْتَرَى عَبْدًا ثُمَّ عَبْدًا ثُمَّ مَاتَ عَتَقَ الْآخَرُ) لِأَنَّهُ فَرْدٌ لَاحِقٌ فَاتَّصَفَ بِالْآخِرِيَّةِ (وَيُعْتَقُ يَوْمَ اشْتَرَاهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ حَتَّى يُعْتَبَرَ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ،[1] وَقَالَا: يُعْتَقُ يَوْمَ مَاتَ) حَتَّى يُعْتَبَرَ مِنْ الثُّلُثِ لِأَنَّ الْآخِرِيَّةَ لَا تَثْبُتُ إلَّا بِعَدَمِ شِرَاءِ غَيْرِهِ بَعْدَهُ وَذَلِكَ يَتَحَقَّقُ بِالْمَوْتِ فَكَانَ الشَّرْطُ مُتَحَقِّقًا عِنْدَ الْمَوْتِ فَيُقْتَصَرُ عَلَيْهِ. وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الْمَوْتَ مُعَرِّفٌ فَأَمَّا اتِّصَافُهُ بِالْآخِرِيَّةِ فَمِنْ وَقْتِ الشِّرَاءِ فَيَثْبُتُ مُسْتَنِدًا،

حل اللغة: ① **سابق:** د ټولو نه اول ② **لاحق:** د مخكنى سره يوځائې شوې ③ **مستندا:** بل ځيز نه نسبت كړې شوې

ژباړه:- اوكه دا ئې اووئيل.چه آخري غلام كوم چې زه واخلم.هغه دې ازاد وي.اوددې نه روسته ئې غلام واخستلو.اومولى مړ شو.نوهغه غلام نه آزاديږي.ځكه چې آخري غلام به هغه وي.چه دهغه نه وړاندې بل غلام هم اخستې شوې وي.اودده نه وړاندې بل غلام نه دې اخستې شوې.ددې امله دې لاحق يعنى آخري نشو.او كه ده يو يويعنى اول ئې يوغلام واخستو.اوبيا ئې بل.اوبيا مړشو.نو دوهم غلام به آزاديږي.ځكه چې دې روستو اخستې شوې غلام دې.نوځكه په ده كې دآخريت صفت موجود شو. «ځكه چې دده د مرګ نه روسته د بل غلام اخستلواحتمال هم ختم شو»اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدمالك د مرګ نه روسته نه بلكه مالك چې په كومه ورځ غلام واخستلو.هم دهغه ورځې نه دې آزاد شو.ددې نتيجه به دا راوځى.چه دمالك د

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى فتح القدير (٤٣٦\٤) وردالمحتار(١٢٢\٣) والبحرالرائق (٢٤٣\٤) نقلاً عن القول الراجح (٤٢٨\١)-

وارِه مال څخه به دې ازادیږي.یعنی په کوم وخت کې چې مالك دا غلام اخستې وو.نوپه هغه وخت کې مالك صحیح اوروغ رمټ وو.او اګرچه هم دهغه صحت په حالت کې د مولی شرط موجود شوې وو.خود مولی په مرګ باندې ددې شرط پوره والې معلوم شو.ددې امله به د ده آزادي د مولی د وارِه میراث نه معتبر وي. ﴿که ده هومره ولې نه جوړیږي﴾ اوصاحبین ﷫ فرمائي.چه مولی د کومې ورځې نه مړ شي.دهغه ورځې څخه به آزادګنړلې شي.یعنی دا داسې شوه.لکه چې ده هغه دخپل مرګ په وخت کې آزاد کړلو.ددې امله به دهغه د میراث د دریمې برخې نه دې آزاد ګنړلې شي. ﴿نوکه د دریمې برخې مال نه دې آزادیدې شي صحیح ده ګنی بیا به دې دوارثانو قرضدارې وي﴾ځکه چې دده آخری غلام کیدل خوبه په هغه وخت کې ثابتیږي.چه دده نه روسته بل غلام نه وي اخستې شوې.اودا خبره د مولی د مرګ نه روسته په یقین سره معلومه شوه.نود شرط وجود د هغه د مرګ په وخت کې اوشو.نوآزادي به هم په هغه وخت کې وي.اودامام ابوحنیفه﷫ دلیل دا دې.چه مرګ دا خبره اوخودله.چه هم دا آخری غلام دې.خودده آخری کیدل هم د اخستلوپه وخت کې ثابت شوې دی.اګرچه وخت نې معلوم نه وو.خوپه حقیقت کې هم دې آخری وو .نود اخستلود وخت څخه به دده اخریت ثابتیږي.اوچه څنګه دې آخری شي.نوهم دهغه وخت څخه به آزادیږي

تشریح:- د ژباړې او اضافي قیوداتو نه مطلب واضح دې.

آخري ښځې ته دري طلاقه ورکول

وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ تَعْلِيقُ الطَّلْقَاتِ الثَّلَاثِ بِهٖ، وَفَائِدَتُهٗ تَظْهَرُ فِيْ جَرَيَانِ الْإِرْثِ وَعَدَمِهٖ
حل اللغه: ① جریان جاری کیدل ② الارث میراث

ژباړه:- اوهم دا اختلاف په هغه صورت کې هم دې.چه د آخری کیدوسره ئې دري طلاقه مشروط کړې وي.ددې اختلاف په فائده د میراث په اوړلو اونه اوړلو کې ښکاره کیږي.

تشریح:- ددې وضاحت دا دې.چه یوسړې اووائي.هغه آخری ښځه چې زما نکاح ورسره اوشي.هغه دې په دریو طلاقو طلاقه وي.ددې نه روسته د یوې ښځې سره نکاح اوکړي.اوبیا دبلې سره نکاح اوکړي.اودهغې د دریو حیضوتیریدو نه روسته دې مړ شي.نود صاحبینو ﷫ په نیز د مرګ د وخت څخه به طلاقه شوې وي.اودمیراث حقداره به وي.اودامام ابوحنیفه﷫ په نیزبه هم د هغه وخت نه مطلقه شوې وي.دکوم وخت نه چې ئې ورسره نکاح کړې وي.ځکه به د میراث حقداره نه وي.

د اولنې زیري ورکونکې د آزادئ حکم

(وَمَنْ قَالَ كُلُّ عَبْدٍ بَشَّرَنِيْ بِوِلَادَةِ فُلَانَةَ فَهُوَ حُرٌّ فَبَشَّرَهٗ ثَلَاثَةٌ مُتَفَرِّقِيْنَ عَتَقَ الْأَوَّلُ) لِأَنَّ الْبِشَارَةَ اسْمٌ لِخَبَرٍ يُغَيِّرُ بَشَرَةَ الْوَجْهِ، وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهٗ سَارًّا بِالْعُرْفِ، وَهٰذَا إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ مِنَ الْأَوَّلِ (وَإِنْ بَشَّرُوْهُ مَعًا عَتَقُوْا) لِأَنَّهَا تَحَقَّقَتْ مِنَ الْكُلِّ
حل اللغه: ① متفرقين جلا جلا ② بشرة څرمن ③ الوجه مخ

ژباړه - اوکه یوکس اووئیل.چه هرهغه غلام چې ماته د فلانئ ښځې نه د بچې پیدا کیدو زیرې راکړي.هغه دې آزاد وي.ددې نه روسته ده ته درې غلامانو جلا جلا زیرې ورکړلو.یعنې یو نه روسته ورته بل زیرې ورکړلو .نوپه دوی کې چې کوم یوکس وړاندې زیرې ورکړې وي.هغه آزادیږي.ځکه چې زیرې داسې خبرته وائي. چې د مخ رنګ بدل کړي.خوپه عرف کې په دې کې دا هم شرط دې.چه هغه خوشخبري وي.یعنی د خوشحالئ د امله دهغه د مخ رنګ بدل شي.اودا خبره صرف داولنې غلام په زیرې ورکولوباندې پوره کیږي.اوکه درې واړو ورته په یو وارزیرې ورکړلو.نودرې واړه آزادیږي.ځکه چې زیرې د درې واړو نه حاصل شو

د ((إن اشتريت فلانا فهو حر)) حكم

(وَلَوْ قَالَ إِنْ اشْتَرَيْت فُلَانًا فَهُوَ حُرٌّ فَاشْتَرَاهُ يَنْوِي بِهِ كَفَّارَةَ يَمِينِهِ لَمْ يُجْزِهِ) لِأَنَّ الشَّرْطَ قِرَانُ النِّيَّةِ بِعِلَّةِ الْعِتْقِ وَهِيَ الْيَمِينُ، فَأَمَّا الشِّرَاءُ فَشَرْطُهُ (وَإِنْ اشْتَرَى أَبَاهُ يَنْوِي عَنْ كَفَّارَةِ يَمِينِهِ أَجْزَأَهُ عِنْدَنَا) خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِي. لَهُمَا أَنَّ الشِّرَاءَ شَرْطُ الْعِتْقِ، فَأَمَّا الْعِلَّةُ فَهِيَ الْقَرَابَةُ وَهَذَا لِأَنَّ الشِّرَاءَ إثْبَاتُ الْمِلْكِ وَالْإِعْتَاقَ إزَالَتُهُ وَبَيْنَهُمَا مُنَافَاةٌ. وَلَنَا أَنَّ شِرَاءَ الْقَرِيبِ إعْتَاقٌ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ" {لَنْ يَجْزِيَ وَلَدٌ وَالِدَهُ إلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ} (1) جَعَلَ نَفْسَ الشِّرَاءِ إعْتَاقًا لِأَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ غَيْرُهُ وَصَارَ نَظِيرُ قَوْلِهِ سَقَاهُ فَأَرْوَاهُ

حل اللغة: ① قران: يوځائې كول ② القرابة: خپلولى ③ ازالة: لرې كول ختمول ④ سقاه هغه باندې ئې څكاک اوكړو ⑤ ارواه: هغه ئې خړوب كړو

ژباړه:- اوكه ده اوونيل.كه ما فلانې واخستل.نوهغه دې آزاد وى.بيا ئې دغه غلام واخستلو.خود قسم كفاره ادا كولوپه نيت باندې.نوهغه كفاره نه ادا كيږى.ځكه چې دكفارې ادا كاوه لپاره شرط دا دې.چه د آزادئ دعلت يعنى قسم سره سره دهغې نيت هم وى.اواخستل خو شرط دې. ﴿يعنى:ځنګه چې هغه واخلى. نو آزاديږى.اوكفاره په هغه وخت كې جائز كيږى.چه د آزادئ علت يعنى چې د قسم سره د كفارې ور كاوه نيت هم متصل وى.اودا اتصال دلته كې نشته.بلكه د آزادئ د شرط يعنى اخستلو سره متصل دې. نو ځكه به كفاره نه ادا كيږى﴾ اوكه يوكس د كفارهٔ ادا كولوپه نيت خپل پلار واخستلو.نو زموږ په نيز دا كفاره ادا كيږى.اوپه دې كې دامام زفراوامام شافعى رحمهما الله اختلاف دې.ددې دواړو دليل دا دې.چه اخستل خو صرف د آزادئ شرط دې.اودهغې علت قرابت دې.ځكه چې په اخستلو سره خپل ملكيت ثابتول وى. او آزادول د خپل ملكيت ختمولو يا لرې كاوه نوم دې.اوپه دې دواړو خبروكې منافات دې.ځكه چې اخستل د آزادئ علت نشى كيدې.اوزموږ دليل دا دې.چه دخپل قريب اخستلو مطلب هم آزادى ده.ځكه چې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.بچې د پلار هيڅ بدله نشى ادا كولې.ددې سوا چې خپل پلار مملوك اوغلام بيا مومى.اوهغه دخپل مالك نه واخلى.او آزاد شى.امام مسلم اوسنن اربعه ددې حديث روايت كړې دې.په دې حديث كې هم اخستل آزادى ګرځولې شوې ده.ځكه چې په دې حديث كې بل څه شرط نه دې لګولې شوې.نوددې نظيرد عربو دا قول شو.چه ((سقاه فأرواه)) يعنى هغه باندې ئې اوبه اوڅكلې.اوسيراب ئې كړلو.

تشريح:- صورت د مسئلې دا دې.كه يوكس د يومعين كس په اخستلوباندې اوونيل.چه هغه آزاد دې.بيا دد د قسم دكفاره په نيت سره هغه كس واخستلو.نوپه دې صورت كې د دې حالف كفاره نه ادا كيږى. ځكه چې د آزادئ علت ﴿وجه﴾ دقسم سره د نيت اتصال دې.يعنى كله چې هم ده هغه فلانې واخستلو. نود اخستلو سره به آزاديږى.اوكفاره هله جائز كيږى.چه د ازادئ علت يعنى دكفاره باليمين نيت متصل وى. اودلته دا شرط موجود نه دې.بلكه دعتق شرط د اخستلوسره متصل دې.نوكفاره به نه ادا كيږى.ځكه چې په ذكرشوى صورت كې عتق وړاندينې قسم دې.اواخستل دعتق شرط دې.نودلته د اخستلوسره نيت متصل شو. نو كفاره نه ادا كيږى.په دې وجه چې د كفارهٔ لپاره دا شرط دې.چه نيت دعلت سره متصل وى. نوپه حقيقت كې د عتق علت د حالف قول دې.چه ((هوحر)) خودتعليق په وخت كې اګرچه دهغې علت نه ښكاره كيږى.خود شرط د وجود په وخت كې د عتق حكم سابقه علت اړخ ته منسوب كيږى. نودا صورت به داسې شى.چه علت مقدم وى.نوپه دې كې فقهاؤ تصريح كړې ده.چه دقسم خوړلوپه وخت كې دحالت لپاره اهليت شرط دې.خود شرط د تحقق يعنى ثبوت لپاره دده اهليت شرط نه دې.كه يوكس د كفاره يمين په نيت خپل

٦

(1) من حديث أبى هريرة رضي الله عنه أخرجه مسلم فى العتق رقم ٢٥ وأبودود فى الأدب باب ١٢٠ رقم ٥١٣٧ والترمذى فى البر والصلة باب ٨ وابن مجه فى الأب باب ١ رقم ٣٦٥٩ وأحمد فى المسند ٢/٢٣٠)_

غلام واخستلو.اوازاد ئي كړلو.نوداحنافوپه نيزد كفاره ادا كاوه لپاره دا صورت جائز دې. او د امام زفراوامام شافعي رحمه الله په نيزد كفاره دا ذكرشوې صورت جائز نه دې.

په ذكرشوى صورت كي داختلاف لنډيز دا ده.چه په كفاره كي دكفارې ادا كاوه لپاره دعتق دعلت سره د نيت اتصال دټولوفقهاؤ په نيزضروري دې.په ذكرشوى صورت كي امام زفراوامام شافعي رحمه الله قرابت ﴿د پلار اخستل﴾ د آزادئ وجه ﴿علت عتق﴾ اوملكيت ددې شرط ګرځولې دې.اوزموږ ﴿ددرې واړه امامانوامام مالك،امام محمداوامام ابوحنيفه﴾ رحمه الله په نيزددې صورت حكم ددې په عكس دې. ﴿يعنى ملكيت دعتق علت دې.اوقرابت ددې شرط دې﴾ چونكه شريعت د قريب اخستل دهغه آزادئ ګرځولې ده.نوپه داسې صورت كي به خامخا هم ملكيت دعتق علت ګرځولې شى.نودحالف خپل پلار د كفاره ادا كولوپه نيت سره اخستل به نيت د علت عتق سره متصل كړى.اوكفاره به ادا شى.خوچونكه دواړه حضراتو ﴿امام زفراوامام شافعي﴾ رحمه الله چونكه قرابت علت ګرځولې دې.نوځكه علت د نيت سره متصل نشو. اوكفاره ادا نشوه.

خوزموږ ﴿داحنافووغيره﴾ رحمه الله دليل د نبى ﷺ ارشاد دې. ﴿كوم چې دامام بخاري رحمه الله نه علاوه نوروټولو محدثينو روايت كړې دې.اودغه حديث په متن كي هم ذكرشوې دې﴾ ((عن سهل ابن ابى صالح عن ابيه عن ابى هريرة رضي الله عنه (عن النبى ﷺ) انه قال لن يجزى ولد والده إلا أن يجده مملوكاً ..إلخ)) يعنى خوئې دخپل پلار بدله نشى پوره كولې.البته دا چې پلار دچا مملوك ﴿غلام﴾ بيا مومى.اودې ئې واخلى.نوهغه به آزاد شى. ددې حديث دتائيد د امله دا مذهب راجح دې.

لازياتى دا چې زموږ دقول په تائيد كي د عربومقوله چې ((سقاه فأرواه)) دنظيرپه طور هم موجود ده.دكوم مفهوم او لنډيز دا ده.چه كله د اعتاق عطف په ((شـراء)) په حرف دفاء سره وى.نودا د عربوپه كلام كي د تراخى بالزمان تقاضا كوى.يعنى كله چې ديوفعل عطف په بل فعل باندې د حرف فاء په ذريعه سره وى نو دوهم فعل د اولنى فعل سره ثابتيږى.لكه دعربوپه كلام كي ددې مثال دا دې.((ضـربه فأوجعـه)) ((أطعمه فأشبعه)) دغه ډول ((سقاه فأرواه)) په ذكرشوى نظيركي ((سقا)) فعل دې.او ((أرواه)) هم فعل دې.ددې دواړو فعلونوعطف په حرف فاء سره شوې دې.چه معنى ئې دا ده.اوبه ئې پرې اوڅكولې.اوسيراب ئې كړلو.د عربود كلام د دې نظير ﴿مثال﴾ د ذكرشوې مسئلې سره مطابقت داسې دې. ﴿كوم چې زموږ د احنافو رحمهم الله تائيد كوى﴾ چې لكه څنګه د اوبوڅونكى په فعل سره د هډوبوالى فعل ثابتيږى.دغه ډول دقرابت په اخستلوباندې چې كوم فعل مبنى وى.په هغې سره به دعتق فعل ثابتيږى.

خپله ام ولددكفاره په نيت سره اخستل

(ولو اشترى أم ولده لم يجزه) ومعنى هذه المسألة أن يقول لأمة قد استولدها بالنكاح: إن اشتريتك فأنت حرة عن كفارة يميني ثم اشتراها فإنها تعتق لوجود الشرط ولا يجزيه عن الكفارة لأن حريتها مستحقة بالاستيلاد فلا تنضاف إلى اليمين من كل وجه، بخلاف ما إذا قال لقنة: إن اشتريتك فأنت حرة عن كفارة يميني حيث يجزيه عنها إذا اشتراها لأن حريتها غير مستحقة بجهة أخرى فلم تختل الإضافة إلى اليمين وقد قارنته النية

حل اللغة: ① **الاستيلاد:** ام ولده ګرځيدل ② **قنة:** وينځه ③ **تضاف:** نسبت كولې شي

ژباړه:- اوكه خپله ام ولد ئې دكفاره د ادا كولوپه نيت سره واخستله.نودا كفاره صحيح نه ده.ددې مسئلې صورت به دا وى.چه يوكس د بل چا د وينځې سره نكاح اوكړله.اوبيا ئې دهغې نه بچې هم پيدا شى.په دغه وخت كي هغې ته اووائى.كه چرته ما ته واخستلې.نوته به د قسم په كفاره كي آزاده ئې.اوس ئې هغه په يووخت كي واخستله.نود شرط دوجود د امله هغه آزاده شوه.خودا به دقسم په كفاره كي نه وى آزاده شوې.ځكه چې ددې آزادى خوصرف دهغې د ام ولد جوړيدو په امله سره راغلې ده.نوقسم اړخ ته به ددې اضافت نشى كولې.په خلاف دهغه صورت كي چې يوې پردئ وينځې ته ئې اووئيل.يعنى چې ده ام ولد نه

وي.كه ماته واخستلې.نوته به زما دقسم په كفاره كښې ازاده ئې.اوبيا ئې هغه په څه وخت كې واخستله.نود وينا مطابق به دهغه دغه كفاره ادا شي.

وينځې سره وطې كولوپورې د آزادۍ تعليق

(وَمَنْ)(قَالَ إِنْ تَسَرَّيْتُ جَارِيَةً فَهِيَ حُرَّةٌ) فَتَسَرَّى جَارِيَةً كَانَتْ فِي مِلْكِهِ عَتَقَتْ لِأَنَّ الْيَمِينَ انْعَقَدَتْ فِي حَقِّهَا لِمُصَادَفَتِهَا الْمِلْكَ وَهَذَا لِأَنَّ الْجَارِيَةَ مُنَكَّرَةٌ فِي هَذَا الشَّرْطِ فَتَتَنَاوَلُ كُلَّ جَارِيَةٍ عَلَى الِانْفِرَادِ (وَإِنْ اشْتَرَى جَارِيَةً فَتَسَرَّاهَا لَمْ تُعْتَقْ) خِلَافًا لِزُفَرَ فَإِنَّهُ يَقُولُ: التَّسَرِّي لَا يَصِحُّ إِلَّا فِي الْمِلْكِ فَكَانَ ذِكْرُهُ ذِكْرَ الْمِلْكِ وَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ إِنْ طَلَّقْتُكِ فَعَبْدِي حُرٌّ يَصِيرُ التَّزَوُّجُ مَذْكُورًا. وَلَنَا أَنَّ الْمِلْكَ يَصِيرُ مَذْكُورًا ضَرُورَةَ صِحَّةِ التَّسَرِّي وَهُوَ شَرْطٌ فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ وَلَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ صِحَّةِ الْجَزَاءِ وَهُوَ الْحُرِّيَّةُ، وَفِي مَسْأَلَةِ الطَّلَاقِ إِنَّمَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الشَّرْطِ دُونَ الْجَزَاءِ، حَتَّى لَوْ قَالَ لَهَا إِنْ طَلَّقْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا فَتَزَوَّجَهَا وَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً لَا تَطْلُقُ ثَلَاثًا فَهَذِهِ وِزَانُ مَسْأَلَتِنَا

حل اللغة: ① **تسرى**:په خانلوالى كښې جماع كول ② **اجنبية**:پردې ښځه ③ **زان**.هغه اسم اشاره ده

ژباړه:- اوچا چې اووئيل.كه ما وينځې سره تسرى اوكړله. ﴿يعنى په خانلوالى كې مې ورسره جماع اوكړله.﴾ نوهغه دې آزاده وي.بيا ده دوينځې سره هغه عمل اوكړلو. ﴿يعنى جماع ئې ورسره اوكړله﴾ نوهغه به آزاده وي.ځكه چې ددغه وينځې په اړه كې قسم منعقد شو.ځكه چې دا قسم دهغه په ملكيت كې موجود شو.ددې وجه دا ده.چه په دې قسم كې وينځه نكره ده.نوځكه خانله خانله هرې يوې وينځې ته ګډ دې.اوكه ددې وينا نه روسته ئې يوه وينځه واخستله.اوپه قبضه كې ئې راوستله. ﴿جماع ئې ورسره اوكړله﴾ نوهغه به د قسم د املې نه آزاديږي.په دې كې دامام زفر رحمه الله اختلاف دې.هغوى فرمائى.چه په خپله قبضه كې راوستل په هغه صورت كې صحيح دى.چه دده ملكيت موجود وي.نوپه قبضه كې د راوستلوذكركولوپه ملكيت كې راوستل دى.نودا خبره داسې شوه.لكه چې پردۍ ښځې ته اووائى.كه ماتا ته طلاق دركړلو.نوزما غلام دې آزاد وي.نوپه دې كې د طلاق په ذكركولوسره په نكاح كې راتګ ضمناً ذكرشو.اوزموږ دليل دا دي.چه د ملك ذكر كاوه ددې اړتيا په وجه دى.چه دا په قبضه كې راويستل صحيح شي.اودلته په قبضه كې راوستل شرط دې.نوچه تركومې پورې اړتيا وي.نوهغه پورې به دملك ذكركول فرض كولې شي.يعنى د شرط دحد پورې به ملكيت ذكروى.اود جزاء يعنى آزادۍ په اړه كې به ملكيت ظاهر نه وى.اودطلاق په مسئله كې هم ملك نكاح صرف دشرط په حق كې ښكاره كيږى.دجزاء په حق كې نه ښكاره كيږى.ترددې كه يوې پردۍ ښځې ته ئې اووئيل.كه ما تاته طلاق دركړلونوته دې په درې طلاقو طلاقه ئې.اوبيا ئې هغې سره نكاح اوكړله.اوطلاق ئې ورته وركړلو.نودرې طلاقه نه واقع كيږى.هم دا زموږ د مسئلې نظيردې.

تشريح:- صورت د مسئلې دا دې.چه يوكس دقسم خوړلوپه وخت كې مطلق يوې وينځې ته اووئيل.كه ته ﴿دنكاح يا د ملكيت په ذريعه﴾ زما په قبضه كې راغلې.نوته دې آزاده ئې.بيا هغه وينځه په خپله قبضه كې راوستله.نوهغه به آزاديږى.په ذكرشوى صورت كې د يمين د انعقاد لپاره چې حالف وينځه په خپله قبضه كې راولى.نوددې دوې [دوه] صورتونه دى.① نكاح ②ملكيت،

د ذكرشوى صورت كښې د متكلم يا حالف د قول نه معلوميږى.چه د وينځې په قبضه كې راتګ د ملكيت په ذريعه وي.ځكه چې ((تسريت جارية فهي حرة)) په دې باندې دلالت كوى.ځكه چې د آزادۍ شرط دمملوكه لپاره وي.قطع نظرددې نه چې دبل چا وينځه وي.يا حره منكوحه وي.البته دا ده.چه حره منكوحه مطلقه كيداې شي.خود((فهي حرة)) په زمره كې نشي راتلې.نوپه ذكرشوى صورت كې به د وينځې په قبضه كې راوستل د ملكيت په ذريعه وي.كه د يمين وقوع د متكلم يا حالف په ملكيت كې اوشي.نوپه دې صورت كې يمين منعقد كيږى.اوحريت سبب ګرځى.كوم چې د يمين د انعقاد لپاره شرط دې.نودشرط دوجود په وجه به يمين منعقد شي.يعنى وينځه به آزاده شي.

چونكه متكلم يا حالف د ((جارية)) لفظ نكره استعمال كړې ده.نود متكلم يا حالف په ملكيت كې چې كومه وينځه هم راځي.په هرې يوې باندې به ځانله ځانله د يمين اطلاق كيږي.ځكه چې په نكره كې عموم وي.كوم چې دخپل مدخول په ټولو افرادو باندې محيط وي.نود نكره عموميت به په هره وينځه باندې د يمين انعقاد كوي.

اوكه حالف خپلې وينځې ته دقسم خوړلو په وخت كې وئيلي وو.كه ته ما په خپل حرم كې راوستې.نو ته به آزاده نې.نو په دې صورت كې به صرف هغه وينځه آزاديږي.كومه چې دې په خپل حرم كښې راولې.خو په دې شرط چې دقسم په وخت كې هغه دده په ملكيت كې وي.ګني په بل صورت كې به هغه وينځه ددې قسم په وجه نه آزاديږي.ځكه چې دقسم په وخت كې د وينځې په حق كې د ملكيت شرط موجود نه وو.

خو امام زفر رحمه الله په دې صورت كې اختلاف كوي.دهغوى استدلال دا دې.چه چونكه په ملكيت كې تسرى ﴿په قبضه كې راوستل﴾ صحيح دى.نوځكه په حرم كې د راوستلو ذكر په اصل كې د ملكيت ذكر دې.ددې مثال داسې دې.چه يوكس پردئ ښځې ته اووئيل.((إن طلقتك فعبدى حر)) كه ماتاته طلاق دركړلو.نو زما غلام دې آزاد وي.نو په دې كلام كې د نكاح ذكر په خپله راغلو.

زمونږ داحنافو رحمهم الله دليل دا دې.چه دتسرى دصحت لپاره د ملكيت وجود ګڼړلې شى.ځكه چې ملكيت شرط دې.نوځكه به دا ﴿ملكيت مذكوره﴾ په قدرد اړتيا محدود وى.اودجزاء صحت به د عتق په حق كې نه ښكاره كيږي.اود طلاق په مسئله كې دشرط په اړه كې ددې اظهار كيږي.اودجزاء په ثبوت كې به نه كيږي.نواوس به ددې مسئلې نوعيت دا وى.كه متكلم يا حالف يوې پردئ ښځې ته اووئيل.چه ((إن طلقتك فانت طالق ثلاثا)) كه ماتاته طلاق دركړلو.نوته به په درې طلاقو طلاقه نې.بيا دغه متكلم يا حالف نكاح اوكړله.اوطلاق نې وركړلو.نودغه ښځه به مطلقه ثلاثه نه وى.يعنى په هغې به درې طلاقه نه واقع كيږي.ځكه چې د طلاق لپاره نكاح شرط ده.اودلته د متكلم يا حالف الفاظ د نكاح نه وړاندې وو.نودا ذكرشوې مسئله هم د زيربحث مسئلې پشان شوه.يعنى امام زفر رحمه الله چې په كومه مسئله كې اختلاف كړې دې.اود دليل په طوړچه نې څه پيش كړى دى.نوهغه مسئله زمونږ د مسئلې پشان شوه.ددې امله زمونږ استدلال راجح شو.

د ((كل مملوك لى حر)) حكم

﴿وَمَنْ قَالَ كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي حُرٌّ تُعْتَقُ أُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرُوهُ وَعَبِيدُهُ﴾ لِوُجُودِ الْإِضَافَةِ الْمُطْلَقَةِ فِي هَؤُلَاءِ، إذْ الْمِلْكُ ثَابِتٌ فِيهِمْ رَقَبَةً وَيَدًا ﴿وَلَا يُعْتَقُ مُكَاتَبُوهُ إلَّا أَنْ يَنْوِيَهُمْ﴾ لِأَنَّ الْمِلْكَ غَيْرُ ثَابِتٍ يَدًا وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ أَكْسَابَهُ وَلَا يَحِلُّ لَهُ وَطْءُ الْمُكَاتَبَةِ، بِخِلَافِ أُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرَةِ فَاخْتَلَّتْ الْإِضَافَةُ فَلَا بُدَّ مِنْ النِّيَّةِ

حل اللغة: ① **امهات** جمع د ام ده مور ② **مدبر** هغه غلام چې د مولى د مرګ نه روسته آزاديږي ③ **مكاتب:** هغه غلام چې د مولى سره نې د څه مقرر قيمت په ادا كولو آزادى تړلې شوې وى

ژباړه - اوكه يوكس دا اونيل.چه زما هرغلام دې آزاد وى.نودده دوينځو د امله به دده ټولې ام ولدوينځې اودده واړه مدبرغلامان اومطلقاً هرغلام آزاديږي.ځكه چې دې خلګو اړخ ته پوره نسبت شوې شوې.ځكه چې په دې ټولو ذات اورقبه دواړو په اعتبارسره ملكيت ثابت دې.خودده يوغلام چې مكاتب دې هغه به نه آزاديږي.البته كه د وئيلو په وخت كې نې دهغه نيت هم كړې وى.نوهغه به هم آزاديږي.ځكه چې د قبضې په اعتبارسره په مكاتب باندې ملكيت ثابت نه دې.ځكه چې مكاتب دخپل لاس دګټې په خپله مالك او مختاردې.نوځكه دده مولى دده د ګټې مالك نه دې.اودمكاتبه وينځې سره د هغې د مولى وطى كول جائز نه دى.په خلاف د ام ولداو مدبره وينځې.ځكه چې دوى سره هرڅه جائز دى.په دې وجه مكاتب ته د مملوكيت په نسبت كې كمې موجود دې.نوځكه نيت ضرورى اوګرځولې شو.

په ښځوکې يوې معين يا دوو معينوته طلاق ورکول

(وَمَنْ قَالَ لِنِسْوَةٍ لَهُ هَذِهِ طَالِقٌ أَوْ هَذِهِ وَهَذِهِ طُلِّقَتْ الْأَخِيرَةُ وَلَهُ الْخِيَارُ فِي الْأُولَيَيْنِ) لِأَنَّ كَلِمَةَ أَوْ لِإِثْبَاتِ أَحَدِ الْمَذْكُورَيْنِ وَقَدْ أَدْخَلَهَا بَيْنَ الْأُولَيَيْنِ ثُمَّ عَطَفَ الثَّالِثَةَ عَلَى الْمُطَلَّقَةِ لِأَنَّ الْعَطْفَ لِلْمُشَارَكَةِ فِي الْحُكْمِ فَيَخْتَصُّ بِمَحَلِّهِ فَصَارَ كَمَا إذَا قَالَ إحْدَاكُمَا طَالِقٌ وَهَذِهِ (وَكَذَا إذَا قَالَ لِعَبِيدِهِ هَذَا حُرٌّ أَوْ هَذَا وَهَذَا عَتَقَ الْأَخِيرُ وَلَهُ الْخِيَارُ فِي الْأُولَيَيْنِ) لِمَا بَيَّنَّا.

حل اللغة: ① **نسوة**: دا اسم جمع ده ښځو ته وائی ② **خيار**: اختيار

ژباړه:- اوکه يوکس خپلو بيبيانوته په نسبت کولوسره اووئيل.چه دا ښځه طلاقه ده.يا دا «زينب» او دا «خالده» طلاقې دی.يعنی درې واړه بيبيانې ئې مخاطبې کړې.اورته ئې اووئيل.چه دا طلاقې دی.نوچه کومه ئې په آخره کې ياده کړې ده.هغه به طلاقه شی.اوپه اولنودوو کې په يوه کې اختياردې.يعنی په هغې دواړوکې چې کومه يوه غواړی.هغه دې د طلاق لپاره متعينه کړی.ځکه چې کلمه د ،او، «يا» ددې مقصد لپاره استعماليږی.چه د دواړو نه په يوه مذکوره کې حکم ثابت شی.اوده هم په اولنودووکې حرف ،او، «يا» داخل کړې دې.اوبيا ده دريمه بی بی په مطلقه ښځه باندې عطف کړله. «نوهغه به هم طلاقه شی» ځکه چې دعطف واؤ دحکمی شرکت لپاره وی.نوهغه به په خپل ځائې باندې قائم وی.لکه چې ده ونيلی وی.په تاسودواړوکې يوه طلاقه ده.البته دا يوه هم طلاقه ده.دغه ډول که خپلوغلامانوته ئې اووئيل.چه دا غلام آزاد دې يا دې «زيد» اودې «بکر» آزاد دې.نوآخری غلام به خامخا آزاديږی.اوپه اولنودووکې ده ته په دواړوکې ديواختيار دې.دپورته بيان شوی دليل په وجه.

تشريح:- په ذکرشوی صورت کې چې کومو دوو ښځوکښې کلمه د ،او، راوړلې شوې ده.نوپه دغه دواړو کې به خاوند ته اختياروی.ځکه چې کلمه د ،او،د اختيار لپاره راځی.اودريمه ښځه کومه چې د ،واو،د کلمې نه روسته راځی.هغه به طلاقيږی.چونکه په دې قول کې د طلاق په واقع کيدو کې درې واړه شريك دی.نوکلمه د واو په دريمه بی بی دطلاق حکم ثابت کړلو.اود حرف ،او،د امله په پاتـه دووکې ورتـه اختياردې. «چه چاته طلاق ورکوی» اودغه ډول که غلامانو ته ئې اووئيل.نودهغوی هم دا حکم دې. «يعنی حرف يا په اولنودواړوښځو کې د يوې لپاره دې»

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالتَّزَوُّجِ وَغَيْرِ ذَلِكَ)

ژباړه:- باب د اخستلوخرڅولو،نکاح کاوه وغيره په اړه کې دې.

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَبِيعُ أَوْ لَا يَشْتَرِي أَوْ لَا يُؤَاجِرُ فَوَكَّلَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الْعَقْدَ وُجِدَ لَهُ مِنْ الْعَاقِدِ حَتَّى كَانَتْ الْحُقُوقُ عَلَيْهِ، وَلِهَذَا لَوْ كَانَ الْعَاقِدُ هُوَ الْحَالِفُ يَحْنَثُ فِي يَمِينِهِ فَلَمْ يُوجَدْ مَا هُوَ الشَّرْطُ وَهُوَ الْعَقْدُ مِنْ الْآمِرِ، وَإِنَّمَا الثَّابِتُ لَهُ حُكْمُ الْعَقْدِ إلَّا أَنْ يَنْوِيَ ذَلِكَ لِأَنَّ فِيهِ تَشْدِيدًا أَوْ يَكُونَ الْحَالِفُ ذَا سُلْطَانٍ لَا يَتَوَلَّى الْعَقْدَ بِنَفْسِهِ لِأَنَّهُ يَمْنَعُ نَفْسَهُ عَمَّا يَعْتَادُهُ

حل اللغة: ① **يواجر**: په مزدوری به څوک نه نيسی ② **ينوی**: نيت کوی ③ **تشديد**: سختوالې ④ **سلطان**: غلبه،قدرت ⑤ **يتولی**: پخپله د کار کول

ژباړه:- که يوکس قسم اوخوړلو.چه زه به نه اخلم،نه به خرڅوم.په کرايه باندې به نه اخلم.بيا ئې خپل کارد بل په ذمه کړلو.اوهغه دغه کار اوکړلو.نونه حانثيږی.ځکه چې دا معامله دده وکيل کړې ده.نوددې معاملې واړه حقوق به د وکيل په ذمه وی.اوهم دا وجه ده.که ددې معاملې کونکې په خپله قسم خوړونکې وی. نو هغه به حانثيږی. «په زيربحث مسئله کې ځکه حانيثيږی.چه» د کومې خبرې شرط لګولې شوې وو. هغه موجود نشوه.يعنی قسم خوړونکی پخپله څه معامله نه ده کړې.بلکه دهغه داړخه خوصرف حکم دې. «مثلاً چې وکيل ته په اخستلوسره کوم څيزملاؤ شی.اګرچه هغه د قسم خوړونکی ملکيت دې.خوهغه د قسم خوړونکی په معاملې سره نه دې ملاؤ شوې.نوځکه د وکيل په معامله کاوه حالف نه حانثيږی» البته که قسم خوړونکی د قسم کولوپه وخت کې ددې نيت هم کړې وی. «چه دوکيل په ذريعه به هم دا کارونه کوم» نوحانثيږی.ځکه چې ددې خبرې په منلو «چه ما دا نيت کړې وو» په قسم خوړونکی باندې سختی

زياتيږي.ياقسم خوړونكې داسې حاكم يا صاحب د اختيار وي.چه هغه دا كارونه په خپله نه كوي.نوبيا هم دده د وكيل په ذريعه په معامله كولوباندې هغه حانثيږي.ځكه چې ده خپل ځان د داسې كارونه منع كړې دي.دكوموكول چې دهغه عادت نه وي.

تشريح:- دفعل په حقيقي طورفاعل هم هغه وي.څوك چې دفعل مرتكب اوكونكې وي.اوس چې وكيل د خرڅولواخستلووغيره كارونه اوكړل.نوددې كار اوواړه عمل نسبت وكيل اړخ ته كيږي.نوچه په كومو معاملاتوكي دكارنسبت وكيل اړخ ته كيږي.په هغه معاملاتوكي به حالف نه حانثيږي.اوچه دكومو معاملاتو نسبت وكيل ته نه كيږي.نوبه هغې كي به حالف حانثيږي.

د ((لايتزوج وغيره)) قسم خوړل اوبيا دوكيل په ذريعه دا كارونه كول

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَتَزَوَّجُ أَوْلَايُطَلِّقُ أَوْلَايُعْتِقُ فَوَكَّلَ بِذَلِكَ حَنِثَ) لِأَنَّ الْوَكِيلَ فِي هَذَاسَفِيرٌوَمُعَبِّرٌوَلِهَذَالَايُضِيفُهُ إِلَى نَفْسِهِ
بَلْ إِلَى الْآمِرِ،وَحُقُوقُ الْعَقْدِتَرْجِعُ إِلَى الْآمِرِلَاإِلَيْهِ (وَلَوْقَالَ عَنَيْتُ أَنْ لَاأَتَكَلَّمَ بِهِ لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِخَاصَّةً) وَسَنُشِيرُ
إِلَى الْمَعْنَى فِي الْفَرْقِ إِنْ شَاءَاللَّهُ تَعَالَى

حل اللغة: ① يتزوج:واده كوي ② معبر:تعبيركونكې ③ يضيف:نسبت كوي

ژباړه:- اوكه چا دا قسم اوخوړلو.چه زه به نكاح نه كوم.يا طلاق به نه وركوم.يا آزادول به نه كوم.بيا هغه ددې كارونو لپاره څوك وكيل جوړ كړلو.اوهغه دا كارونه اوكړل.نوحانثيږي.ځكه چې په دې كارونوكي وكيل صرف د يوسفيرحيثيت لري.يعني ده دبل خبره بيان كړله.نوځكه هغه د نكاح يا طلاق يا عتاق معامله خپل ځان ته نشي منسوب كولې.اومثلاً دا نشي وئيلې.چه ماتاسره نكاح اوكړله.يا ما تاته طلاق دركړلو.بلكه خپل مؤكل اړخ ته ئې منسوب كوي.اووائي.چه مثلاً زما مؤكل تاسره نكاح اوكړله.يا ئې آزاد كړې.يا ئې درته طلاق دركړلو.اودا معاملات داسې دي.چه د دې حقوق واړه دمؤكل سره تعلق ساتي.اوهم هغه به ددې ذمه دار وي.اوكه د داسې قسمونو خوړونكې اووائي.چه زما مراد صرف دا وو.چه زه به د نكاح يا طلاق يا عتاق په اړه كي په خپله خبره نه كوم.يعني ده دا غوښتل.چه په وكيل جوړولو سره به دې حانث نشي.نوددیانت په طورده خبرې صحيح منلې شي.خوقاضي به دده تصديق نه كوي.ددې توپير به انشاء الله نزدې موږ بيان كړو.

فائده:يعني دخرڅولواخستلواواجاره كي اوپه نكاح طلاق اوعتاق كي چې كوم توپير دي.ددې تفصيل به روستوراشي.

په ((لايضرب عبده)) وغيره قسم خوړلوباندې د حنث احكام

(لَوْحَلَفَ لَايَضْرِبُ عَبْدَهُ أَوْلَايَذْبَحُ شَاتَهُ فَأَمَرَغَيْرَهُ فَفَعَلَ يَحْنَثُ فِي يَمِينِهِ) لِأَنَّ الْمَالِكَ لَهُ وِلَايَةُ ضَرْبِ عَبْدِهِ وَذَبْحِ شَاتِهِ فَيَمْلِكُ تَوْلِيَتَهُ
غَيْرَهُ ثُمَّ مَنْفَعَتُهُ رَاجِعَةٌ إِلَى الْآمِرِفَيُجْعَلُ هُوَمُبَاشِرًاإِذْلَاحُقُوقَ لَهُ تَرْجِعُ إِلَى الْمَأْمُورِ (وَلَوْقَالَ عَنَيْتُ أَنْ لَاأَتَوَلَّى ذَلِكَ بِنَفْسِي
دِينَ فِي الْقَضَاءِ) بِخِلَافِ مَاتَقَدَّمَ مِنَ الطَّلَاقِ وَغَيْرِهِ.وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ الطَّلَاقَ لَيْسَ إِلَّاتَكَلُّمًابِكَلَامٍ يُفْضِي إِلَى وُقُوعِ
الطَّلَاقِ عَلَيْهَا،وَالْأَمْرُبِذَلِكَ مِثْلُ التَّكَلُّمِ بِهِ وَاللَّفْظُ يَنْتَظِمُهُمَا،فَإِذَانَوَى التَّكَلُّمَ بِهِ فَقَدْ نَوَى الْخُصُوصَ فِي الْعَامِّ فَيُدَيَّنُ دِيَانَةً لَا
قَضَاءً،أَمَّاالذَّبْحُ وَالضَّرْبُ فَفِعْلٌ حِسِّيٌّ يُعْرَفُ بِأَثَرِهِ،وَالنِّسْبَةُ إِلَى الْآمِرِبِالتَّسْبِيبِ مَجَازٌ،فَإِذَانَوَى الْفِعْلَ بِنَفْسِهِ فَقَدْ نَوَى الْحَقِيقَةَ
يُصَدَّقُ دِيَانَةً وَقَضَاءً

حل اللغة: ① يذبح:ذبح كوي ② شاة: ګډه ③ مباشر:كډون كونكې ④ ينتظم:شامليږي

ژباړه:- اوكه يوكس داقسم اوخوړلو.چه زه به خپل غلام نه وهم.يابه خپله وزه نه ذبح كوم.بيا ده بل چا ته حكم اوكړلو.اوهغه دا كارونه اوكړل.نودې به په خپل قسم كي حانثيږي.ځكه چې مالك ته دخپل غلام دوهلواودخپلې وزه د ذبح كولواختيارحاصل دې.نوځكه دې په خپله ددې دكولوپه ځائې بل كس خپل قائم مقام ګرځولې شي.بيا ددې كارونوفائده خو هم مالك ته وي.ځكه به هم هغه ددي كارونوكونكې ګڼرلې شي.ځكه چې ددې كارونوداسې څه حقوق نشته.چه هغه نائب ته منسوب شي.اوكه قسم خوړونكې

اووئيل.چه دقسم خوړلوپه وخت كې زما نيت دا وو.چه دا كارونه به زه په خپله نه كوم.نودقاضي سره به هم دده دخبرې تصديق كولې شي.په خلاف د ذكرشوو مسائلولكه طلاق وغيره،يعني په طلاق،عتاق اونكاح كې به قاضي دده دخبرې تصديق نه كوي.په دې كې وجه د توپير دا ده.چه طلاق خوصرف دخبرې كاوه نوم دې.چه داځنګه اووائي.نوپه ښځه باندې طلاق واقع كيږي.اوددې كارحكم كول په خپله د دې دكولوپشان دې.اوپه كوم لفظ چې ئې قسم خوړلې دې.هغه په خپله ونيل اودبل په خوله وئيل دواړو ته ګډ دې.بيا كه دده په خپله ددې لفظ وئيلونيت كړې وي.نوده په عام كې دخاص نيت اوكړلو.ددې امله به ديانةً دده تصديق كولې شي.خوقاضي به دده تصديق نه كوي.خووهل اوذبح كول خويومحسوس فعل دې.كوم چې په خپل اصل سره پيژندلې شي.اوموكل اړخ ته نسبت مجازاً په دې وجه كيږي.چه هم هغه سبب واقع شوې دې.نوكه قسم خوړونكې په خپله د نه كولونيت كړې وي.نوده دخپل كلام حقيقي معنى مراد اخستې ده.نوځكه به ديانةً د ده تصديق كولې شي.اوقاضي به هم دده تصديق كوي.

دخپل بچې نه وهلوقسم خوړل اوبيا بل ته دوهلوحكم كول

(وَمَنْ حَلَفَ لَايَضْرِبُ وَلَدَهُ فَأَمَرَ إِنْسَانًا فَضَرَبَهُ لَمْ يَحْنَثْ) فِي يَمِينِهِ لِأَنَّ مَنْفَعَةَ ضَرْبِ الْوَلَدِ عَائِدَةٌ إِلَيْهِ وَهُوَ التَّأَدُّبُ
وَالتَّثَقُّفُ فَلَمْ يَنْسِبْ فِعْلَهُ إِلَى الْآمِرِ، بِخِلَافِ الْأَمْرِ بِضَرْبِ الْعَبْدِ لِأَنَّ مَنْفَعَةَ الْائْتِمَارِ بِأَمْرِهِ عَائِدَةٌ إِلَى الْآمِرِ فَيُضَافُ الْفِعْلُ إِلَيْهِ

حل اللغة: ① **يضرب**: وهى ② **ولد**:ب چې ③ **منفعة**:فائده ④ **التادب**:ادب وركول ⑤ **التثقف** په سمه لارې روانيدل ⑥ **الائتمار**:د حكم منل

ژباړه:- اوكه يوكس دا قسم اوخوړلو.چه زه به خپل ځوئې نه وهم.بيا هغه خپل يوكس ته حكم اوكړلو. او هغه اووهل.نودې به خپل قسم كې نه حانثيږي.ځكه چې دهلك دوهلو نتيجه اوفائده هم هغه ته رسي. يعني هغه ادب زده كوي.اوپه سمې لارې ته راځي.نوځكه به دده دنائب فعل حكم كونكي ته نه منسوب كيږي.په خلاف دهغه صورت كې چې دغلام وهلو لپاره چاته حكم اوكړې.نوددغه نائب وهل پخپله ددې حكم كونكي دوهلوپه حكم كې دې.ځكه چې ددې وهلوفائده به دا وي.چه دغه غلام به دخپل مالك خلاف كولونه ويريږي.اودهغه د تابعدارئ كوښښ به كوي.نوځكه به د وهلو فعل دهغه مولى اړخ ته منسوب كيږي.

په كپړو خرڅولوپورې دښځې د طلاق تعليق

(وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ إِنْ بِعْتَ لَكَ هَذَا الثَّوْبَ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ فَدَسَّ الْمَحْلُوفُ عَلَيْهِ ثَوْبَهُ فِي ثِيَابِ الْحَالِفِ فَبَاعَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ حَرْفَ اللَّامِ دَخَلَ عَلَى الْبَيْعِ فَيَقْتَضِي اخْتِصَاصَهُ بِهِ، وَذَلِكَ بِأَنْ يَفْعَلَهُ بِأَمْرِهِ إِذِ الْبَيْعُ تَجْرِي فِيهِ النِّيَابَةُ وَلَمْ تُوجَدْ، بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ إِنْ بِعْتَ ثَوْبًا لَكَ حَيْثُ يَحْنَثُ إِذَا بَاعَ ثَوْبًا مَمْلُوكًا لَهُ، سَوَاءٌ كَانَ بِأَمْرِهِ أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِهِ عَلِمَ بِذَلِكَ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ، لِأَنَّ حَرْفَ اللَّامِ دَخَلَ عَلَى الْعَيْنِ لِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ فَيَقْتَضِي الِاخْتِصَاصَ بِهِ، وَذَلِكَ بِأَنْ يَكُونَ مَمْلُوكًا لَهُ، وَنَظِيرُهُ الصِّيَاغَةُ وَالْخِيَاطَةُ وَكُلُّ مَا تَجْرِي فِيهِ النِّيَابَةُ، بِخِلَافِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَضَرْبِ الْغُلَامِ لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُ النِّيَابَةَ فَلَا يَفْتَرِقُ الْحُكْمُ فِيهِ فِي الْوَجْهَيْنِ.

حل اللغة: ① **الثوب**:جامه ② **الصباغة**:رنګول ③ **الخياطة**:درزى توب

ژباړه:- كه زيدخالدته اووئيل.كه ما ستا لپاره دا كپړه خرڅه كړه.نوزما ښځه دې طلاقه وي.ددې نه روسته خالد دغه كپړه د زيدپه كپړو كې پټه كړه.اوزيدهغه ټولې كپړې خرڅې كړې.خوپه دغه وخت كې ده ته دا علم نه وو.چه دغه كپړه په دې كپړوكښې موجود ده.نودې نه حانثيږي.ځكه چې ده په اول كې دا وئيلي وو.كه ما كپړه ستا لپاره خرڅه كړه.دادې تقاضا كوي.چه دا كپړه خاص كرد خالد لپاره وپلورى . ددې صورت به داوى.چه دخالد په حكم باندې دا كپړه وپلورى .ځكه چې بيع داسې څيزدې.چه په دې كې نيابت چليږي. «يعني يوكس دبل د اړخه خرڅول كولې شي»خودا خبره نه ده موجوده شوې. «ځكه چې خالد ورته د دغه كپړې خرڅولوحكم نه دې كړې» په خلاف دهغه صورت كې چې دا اووائي.كه ما ستا دا كپړه خرڅه كړه.نوپه دې صورت كې حانثيږي.ځكه چې ده دخالد مملوكه كپړه خرڅه كړه.نوځكه حانث شو.برابره ده كه په خپله دده په حكم سره وي اوكه دده د حكم نه بغير وي.اوبرابره ده كه زيد په دې خبره پوهه وي اوكه پوهه

پرې نه وي.ځکه چې ده په خپله پوره جمله کې دا وئیلی دی.که ستا کپړه مې خرڅه کړه،ددې نه دا معلومیږي.چه کپړه هم د خالد وی.په دې طریقه چې کپړه دهغه مملوکه وی.ددې بیع په مثال کې چې دلته کوم حکم بیان شوي دې.دا حکم به په هرداسې فعل کې هم وی.په کوم کې چې دیوبه ځانې بل کس هم کارکولې شی. ﴿نائب جوړیدې شی﴾ لکه د زرګرئ کار،د ګنډلوکار، ﴿اوهبه کول، صدقه کول،مکاتب جوړول،دغلام وهل﴾ په خلاف د خوراك، څکاك، اودخپل خوی وهل،ځکه چې په دې کارونوکې یوکارهم داسې نشته.کوم چې په بل باندې اوکړې شی.نوځکه به دې دواړو صورتونو کښې حکم مختلف نه وی. ﴿یعنی که دا ئې اووئیل.که ما ستا ډوډئ اوخوړله.یا ستا اوبه مې اوڅکلې.یا ستا ځوئې مې اووهلو.نوزما غلام دې آزاد وی.که یوکس داسې اوکړی.نوحانثیږی.ځکه چې دبل داړخه په نیابت سره دا کارونه نشی کولې.نوکه د ده په حکم سره ئې اوکړی.یا دده دحکم نه بغیرئې اوکړی.اوبرابره ده که په علم سره ئې اوکړی اوکه په لاعلمئ کې ئې اوکړی.په هرحال کې به حانثیږی﴾

دغلام خرڅولوپورې دآزادئ تعلیق کول

(وَمَنْ قَالَ هٰذَا الْعَبْدُ حُرٌّ إِنْ بِعْتُهُ فَبَاعَهُ عَلَى أَنَّهُ بِالْخِيَارِ عَتَقَ) لِوُجُودِ الشَّرْطِ وَهُوَ الْبَيْعُ وَالْمِلْكُ فِيهِ قَائِمٌ فَيَنْزِلُ الْجَزَاءُ (وَكَذٰلِكَ لَوْ قَالَ الْمُشْتَرِي إِنِ اشْتَرَيْتُهُ فَهُوَ حُرٌّ فَاشْتَرَاهُ عَلَى أَنَّهُ بِالْخِيَارِ عَتَقَ) أَيْضًا لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ وَهُوَ الشِّرَاءُ وَالْمِلْكُ قَائِمٌ فِيهِ، وَهٰذَا عَلَى أَصْلِهِمَا ظَاهِرٌ، وَكَذَا عَلَى أَصْلِهِ لِأَنَّ هٰذَا الْعِتْقَ بِتَعْلِيقِهِ وَالْمُعَلَّقُ كَالْمُنَجَّزِ، وَلَوْ نَجَّزَ الْعِتْقَ يَثْبُتُ الْمِلْكُ سَابِقًا عَلَيْهِ فَكَذَا هٰذَا

ژباړه:- اوکه یوکس دا اووئیل.که ما دا غلام خرڅ کړلو.نودا دې ازاد وی.بیا ئې دغه غلام په دې شرط باندې خرڅ کړلو.چه ماته به اختیار وی.نوغلام آزاد شو.ځکه چې شرط یعنی خرڅول موجود شو.اوبه غلام کې تراوسه پورې ملکیت موجود دې.نوځکه به جزاء ثابتیږی. ﴿اوکه ده بغیرد شرط نه پوره خرڅ کړلو.نوهم به آزادیږی.ځکه چې هغه دخرڅولوسره دستی آزادیږی.ځکه چې غلام اوس دمالك په ملکیت کې پاتـه نه دې﴾ اوکه یوکس دا اووئیل.که ما داغلام واخستلو.نودا دې آزاد وی.بیا ئې دخیارپه شرط سره هغه غلام واخستلو.یعنی په دې شرط که زما دې خوښ نشو.نودرې ورځو پورې به ئې واپس کوم. نو بیا به هم داغلام آزدیږی.ځکه چې شرط یعنی اخستل موجود شوی دی.اوبه ده باندې ملکیت هم پاتـه دې.اوبه ده باندې په موجوده صورت کې دملکیت پاتـه کیدل خود صاحبینو رحمهما الله په نیزښکاره خبره ده.دغه ډول دامام اعظم رحمه الله دمسلك مطابق هم ښکاره ده.ځکه چې دا شرطیه آزادی ده.اوشرطیه آزادی فی الحال دهغه آزادئ پشان وی.چه شرط په کې نه وی. ﴿اوکه اخستونکې لاړلو.دخوښې اوناخوښې په شرط باندې ئې واخستلو.اوبیا ئې قبول کړی اوخپل اختیار ختم کړی.نودا به وئیلی شی.چه د آزادئ نه وړاندې ملکیت ثابت شو.یعنی ده خپل د خوښې اوناخوښې اختیارختم کړلو.اواخستل ئې پوره اوباخه کړل.اوبیا ئې آزاد کړلو.نودغه ډول به په دې مسئله کې هم وی.یعنی چې دغه غلام د اخستونکی په ملکیت کې راشی.نوآزاد به شی.اوخیارشرط به ختم شی.

دغلام نه آزادولوپورې د طلاق تعلیق

(وَمَنْ قَالَ إِنْ لَمْ أَبِعْ هٰذَا الْعَبْدَ أَوْ هٰذِهِ الْأَمَةَ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ فَأَعْتَقَ أَوْ دَبَّرَ طَلُقَتِ امْرَأَتُهُ) لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ وَهُوَ عَدَمُ الْبَيْعِ لِفَوَاتِ مَحَلِّيَّةِ الْبَيْعِ (وَإِذَا قَالَتِ الْمَرْأَةُ لِزَوْجِهَا تَزَوَّجْتَ عَلَيَّ فَقَالَ كُلُّ امْرَأَةٍ لِي طَالِقٌ ثَلَاثًا طَلُقَتْ هٰذِهِ الَّتِي حَلَّفَتْهُ فِي الْقَضَاءِ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهَا لَا تَطْلُقُ ([1]) لِأَنَّهُ أَخْرَجَهُ جَوَابًا فَيَنْطَبِقُ عَلَيْهِ، وَلِأَنَّ غَرَضَهُ إِرْضَاؤُهَا وَهُوَ بِطَلَاقِ غَيْرِهَا فَيَتَقَيَّدُ بِهِ. وَجْهُ الظَّاهِرِ عُمُومُ الْكَلَامِ وَقَدْ زَادَ عَلَى حَرْفِ الْجَوَابِ فَيُجْعَلُ مُبْتَدِئًا، وَقَدْ يَكُونُ غَرَضُهُ إِيحَاشَهَا حِينَ اعْتَرَضَتْ عَلَيْهِ فِيمَا أَحَلَّهُ الشَّرْعُ وَمَعَ التَّرَدُّدِ لَا يَصْلُحُ مُقَيِّدًا، وَإِنْ نَوَى غَيْرَهَا يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً لِأَنَّهُ تَخْصِيصُ الْعَامِّ.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول هو رواية أبی يوسف رحمه الله عن القول الراجح (٤٢٩\١١)_ كذا فی فتح القدير(٤٤٩\٤) وردالمحتار(١٣٥\٣) والبحرالرائق (٣٥٥\٤) نقلاً

حل اللغة: ① **فوات:** فوت كيدل ② **ارضاء** راضي كول ③ **غرض** مقصد ④ **مبتدی** شروع كونكې ⑤ **ايحاش** ويرول ⑥ **التردد:** شک

ژباړه:- اوكه يومولى دا اووئيل.كه ما دا غلام يا وينځه خرڅه نكړله.نوزما ښځه دې طلاقه وى.كه بيا ئې دغه وينځه آزاده يا مدبره كړه.نودده ښځه طلاقيږي.ځكه چې شرط موجود شو.يعني ددې خرڅول موجود نشوځكه چې اوس دا دواړه دخرڅولوقابل پاتې نشو.اوكه ښځې خپل خاوندته اووئيل.آيا تا زما نه سوا بل چا سره نكاح كړې ده.يا زما نه روسته دې بل چا سره نكاح كړې ده.نو خاوند ورته خواب وركړلو.چه زما كومه ښځه وى.هغه دې په درې طلاقوسره طلاقه وى.نودقاضي په فيصله كې به پوښتنه كونكې ښځې ته هم طلاق وى.اودامام ابويوسف رحمه الله نه دا هم نقل دى.چه پوښتنه كونكې نه طلاقيږي.ځكه چې خاوند خو دا خبره هم دهغې په ځواب كې كړې ده.نوځكه به د هغې دځواب مطابق دهغې خبره منلې شي.اوددې امله هم چې د خاوند په دې وينا كې غرض دخپلې ښځې راضي كول دى.اودا په هغه صورت كې كيږي.چه ددې ښځې نه سوا نورې ښځې طلاقې شي.نودا خبره د نورو ښځوسره مقيده ده.اوولنئې روايت كوم چې ظاهرروايت دې.دهغې وجه دا ده.چه خاوند كلام عام كړې دې.يعنى ده په خپل كلام كې چې دځومره ځواب اړتيا وو.دهغې نه زيادت كړې دې.نوځكه به «دا زياتې» ابتدائى كلام گڼړلې شي.اود داسې وئيلوكله كله دا مقصد هم وى.چه كله ښځې په خاوند باندې په داسې معامله كې اعتراض اوكړلو.كومه چې شريعت دده لپاره حلاله كړې ده. «يعنى ديوې نه زياتو ښځو سره نكاح كول» نوده د طلاق په جملې سره ښځه اوويروله.يعنى دده په عام كلام كې ددې خبرې احتمال هم كيداې شي.چه كيداې شي.چه خپلې ښځې راضي كولوپه اراده ئې كړې وى.اوددې ښځې نه سوا نورې ښځې ئې مراد كړې وى.اوددې خبرې هم احتمال شته.چه كيداې شي.دې ښځې ته هم غصه شوې وى.اوددې دطلاق اراده ئې هم كړې وى.په دې كلام كې د شك د امله نه په دې كې دا صلاحيت پاته پاتې نشو.چه كلام خاص كړې شي.اوكه دده دعوه اوكړله.چه زما مراد ددې ښځې نه علاوه نورې ښځې وې.نوديانة به دده تصديق كولې شي.خوقضى به د ده تصديق نه كوى.ځكه چې په دې كې دعام نه خلاف ظاهرخاص جوړيږي.

تشريح:- د ژباړې او اضافى قيوداتو نه مطلب واضح دې.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الْحَجِّ وَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ)

ژباړه:- دا باب د حج،لمونځ ،روژې دقسم په اړه كې دې.

(وَمَنْ قَالَ وَهُوَ فِي الْكَعْبَةِ أَوْفِي غَيْرِهَا عَلَى الْمَشْي إِلَى بَيْتِ اللَّهِ تَعَالَى أَوْإِلَى الْكَعْبَةِ فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ أَوْعُمْرَةٌ مَاشِيًا وَإِنْ شَاءَ رَكِبَ وَأَهْرَاقَ دَمًا)

حل اللغة: ① **المشي:** تلل ② **ماشياً:** پيدل ③ **ركب:** سورشو ④ **اهراق:** تويول ⑤ **دم** وينه

ژباړه:- امام محمد رحمه الله په جامع صغيركې فرمائيلى دى.كه يوكس په خانه كعبه كې يا په بل ځائې كې وى.كه ده اووئيل.چه بيت الله يا كعبې شريفې ته په ما باندې پيدل تلل واجب دى.نوپه ده به پيدل يوحج يا يوه عمره واجب وى.اوكه غواړې نوسوريدې هم شي.خويوه قربانى به هم كوى.

تشريح:- حاصل دا دې.چه كوم كس په ځان باندې بيت الله يا كعبې ته پيدل تلل لازم كړلو.نواگرچه ظاهرى جمله خودا ده.چه بيت الله اړخ ته پيدال تلل واجب شي.اگرچه صرف دوې [دوه] څلورميله وى.خود خلگ وپه عرف كې ددې جملې نه مراد دا وى.چه خانه كعبې ته لاړ شي.حج يا عمره اوكړي. اوس كه پيدل تلل وى اوكه په سورلئ.په استحسانى دليل سره غوره مذهب دا دې.چه پيدل تلل واجب دى.خوپه سپرلئ باندې تلل هم جائزدى. البته دې به يوه قربانى هم كوى.

وَفِي الْقِيَاسِ لَايَلْزَمُهُ شَيْءٌ لِأَنَّهُ الْتَزَمَ مَالَيْسَ بِقُرْبَةٍ وَاجِبَةٍ وَلَامَقْصُودَةٍ فِي الْأَصْلِ،

حل اللغة: ① **التزام:** لازم ګرځول ② **قربة:** عبادت

ژباړه:- قياس خودا دې چه په دې نذرسره په ده باندې هيڅ شى واجب نه وي.ځكه چې ده په خپل ځان باندې داسې څيزواجب كړلو.كوم چې په اصل كې واجب ته نزدې يا مقصود بالذات ته دې.

تشريح:- قياس ددې خلاف دې ځكه چې د قياس تقاضا دا ده.چه قرباني پرې لازم نه وى.ځكه چې پيدل تلل څه عبادت مقصوده يا واجبه نه دې.

ومذهبنا مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ. (١) وَلِأَنَّ النَّاسَ تَعَارَفُوا إِيجَابَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ بِهٰذَا اللَّفْظِ فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ عَلَى زِيَارَةُ الْبَيْتِ مَاشِيًا فَيَلْزَمُهُ مَاشِيًا، وَإِنْ شَاءَ رَكِبَ وَأَرَاقَ دَمًا، وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْمَنَاسِكِ

حل اللغة: ① **ايجاب:** واجبول ② **المناسک:** احكام د حج

ژباړه:- زمونږ مذهب دحضرت علىؓ نه منقول دې. اوددې دليل د امله چې د خلګ وپه عرف كې په دې جملې سره دحج يا عمرې وجوب معلوم دې.لكه څنګه چې په دې صورت كې يوكس اووائى.چه په ما باندې د بيت الله د زيارت لپاره پيدل تلل واجب دى.نوپه ده باندې پيدل تګ واجيږى.اوكه غواړى نو په سپرلۍ دې لاړ شى.خوقربانى به كوى.دا مسئله موږ په كتاب مناسك الحج كې بيان كړې ده.

تشريح:- هركله چې دقياس تقاضا دا ده چې قربانى پرې لازم نه ده نو بيا ولې موږ قياس پريخودو نو موږ قياس د دې امله پريخودو چې دحضرت علىؓ نه د لزوم قول منقول دې معلومه شوه چې احناف د نص په مقابله كې قياس رد كوى.لكه څنګه چې په دې مسئله كې احنافو د دې ثبوت وركړو.

ⓐدحضرت علىؓ د قول تفصيل دا دې چې امام بيهقىؒ په خپل سند سره دامام شافعىؒ نه روايت كړې دې.((حدثنا بن علية عن سعيد بن عروبة عن قتادة عن الحسن عن علىؓ)) اوعبدالرزاق دخپل استاذ نه ((عن ابراهيم النخعي عن علىؓ)) نه روايت كړې دې.په دې كې دا ذكردى.چه پيدل دې حج ته لاړ شى.اوكه عاجز شى.نوپه سپرلۍ دې لاړ شى.اويوه هدى دې اوليږى.ددې دواړو روايتونو راويان واړه ثقه راويان دى.خوحضرت حسن اوابراهيمؒ دحضرت علىؓ نه اوريدل نه دى كړى.اودا خبره هم زمونږ لپاره نقصانى نه ده.

بيت الله ته دتللونذركول

(وَلَوْ قَالَ عَلَى الْخُرُوجُ أَوِ الذَّهَابُ إِلَى بَيْتِ اللّٰهِ تَعَالَى فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ) لِأَنَّ الْتِزَامَ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ بِهٰذَا اللَّفْظِ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ (وَلَوْ قَالَ: عَلَى الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَمِ أَوْ إِلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ) وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ (٢) (وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ فِي قَوْلِهِ عَلَى الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَمِ حَجَّةٌ أَوْ عُمْرَةٌ) وَلَوْ قَالَ إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَهُوَ عَلَى هٰذَا الِاخْتِلَافِ. لَهُمَا أَنَّ الْحَرَمَ شَامِلٌ عَلَى الْبَيْتِ، وَكَذَا الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ فَصَارَ ذِكْرُهُ كَذِكْرِهِ، بِخِلَافِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِأَنَّهُمَا مُنْفَصِلَانِ عَنْهُ. وَلَهُ أَنَّ الْتِزَامَ الْإِحْرَامِ بِهٰذِهِ الْعِبَارَةِ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ وَلَا يُمْكِنُ إِيجَابُهُ بِاعْتِبَارِ حَقِيقَةِ اللَّفْظِ فَامْتَنَعَ أَصْلًا

حل اللغة: ① **الذهاب:** تلل ② **الاتصال:** مولښتى كيدل ③ **منفصلان:** تثنيه د منفصل ،جدا ،بيل ④ **امتنع:** منع شو

ژباړه:- اوكه ويونكى اووئيل.چه بيت الله اړخ ته وتلل يا تل په ما باندې لازم دى.نوپه ده باندې څه نه دى واجب.ځكه چې دحج يا عمرې په ځان باندې لازمول په داسې كلام سره متعارف نه دى. ⓐنو دقياس مطابق به حكم پاتې كيږى.اوڅه به پرې نه لازميږىⓐاوكه دا اووائى.چه په ما باندې حرم اړخ ته يا صفا مروه ته تلل لازم دى.نوهم په ده باندې څه نه دى واجب.اوصاحبينؒ فرمائى.كله چې ده دا اووئيل.چه په ما باندې حرم اړخ ته تلل واجب دى.نوپه ده باندې حج يا عمره واجب شوه.اوكه دا ئې اووئيل.چه په ما باندې مسجد حرام

---

١) أخرجه البيهقى فى المعرفة وعبدالرزاق فى مصنفه كذا قاله الزيلعىؒ نصب الراية ٣/٤٧٣)

٢) القول الراجح هو هذا قول أبى حنيفةؒ كذا فى الخانية (٢\٢٩٢) والدرالمنتقى (١\٥٨٦) والدرالمختار (٣\١٣٧) نقلاً عن القول راجح (١١\٤٣٠)_

اړخ ته تلل واجب دي.نودامام ابوحنيفهؒ په نيزپرې څه واجب نه دي.اوصاحبينو رحمهما الله په نيزپرې حج يا عمره واجب ده.دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه د ،حرم، لفظ ئې اووئيل.نوپه دې كې خانه كعبه هم ګډه ده.څكه چې دا دواړه د يوبل سره متصل دي.دغه ډول مسجدحرام وئيل هم بيت الله ته ګډ دي.نوځكه د حرم يا مسجد حرام ذكركول خود د بيت الله د ذكرپشان دي.په خلاف د صفا مروه،څكه چې دا دواړو د بيت الله نه جلا دي.اودامام ابوحنيفهؒ دليل دا دې.چه په داسې الفاظو سره د احرام التزام د خلګو په محاوره كې مشهور نه دي.نوځكه به هم په قياس عمل كولې شي.اودلفظ حقيقي معنى لحاظ كولوسره داحرام واجب كول ممكن نه دي.نوځكه بيخي ممتنع شو.

تشريح:- په مذكوره صورت كې په دې باندې حج يا عمره څكه نه لازميږي چې دا الفاظ په عرف كې د دې تقاضا نه كوي چې په دې باندې دې حج يا عمره واجب شي څكه چې د ايجاب په اعتبار سره عبادت په دوې [دوه] قسمه دې يو هغه چې الله تعالى واجب كړې وى لكه فرض لمونځ وغيره او بل هغه چې بنده ئې د نذر او منختې په ذريعه په ځان واجب كړې نو په دې دوهم قسم كې به وجوب هله ثابتيږي چې په متكلم داسې الفاظ استعمال كړې د كوم نه چې په عرف كې نذر او منخته مراد اخستې شي.

په سږني كال حج نكولوپوري دغلام د ازادئ تعليق

(وَمَنْ قَالَ عَبْدِي حُرٌّ إِنْ لَمْ أَحُجَّ الْعَامَ، وَقَالَ: حَجَجْتُ وَشَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّهُ ضَحَّى الْعَامَ بِالْكُوفَةِ لَمْ يُعْتَقْ عَبْدُهُ) وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ(١) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُعْتَقُ لِأَنَّ هَذِهِ شَهَادَةٌ قَامَتْ عَلَى أَمْرٍ مَعْلُومٍ وَهُوَ التَّضْحِيَةُ، وَمِنْ ضَرُورَتِهِ انْتِفَاءُ الْحَجِّ فَيَتَحَقَّقُ الشَّرْطُ. وَلَهُمَا أَنَّهَا قَامَتْ عَلَى النَّفْيِ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا نَفْيُ الْحَجِّ لَا إِثْبَاتُ التَّضْحِيَةِ لِأَنَّهُ لَا مُطَالِبَ لَهَا فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدُوا أَنَّهُ لَمْ يَحُجَّ الْعَامَ. غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّ هَذَا النَّفْيَ مِمَّا يُحِيطُ عِلْمُ الشَّاهِدِ بِهِ وَلَكِنَّهُ لَا يُمَيَّزُ بَيْنَ نَفْيٍ وَنَفْيٍ تَيْسِيرًا

حل اللغة: ① **ضحى**:قرباني ئې اوكړه ② **انتفاء**:نفي كول ③ **غاية الامر**:آخري خبره ④ **تيسيرا**: لپاره د آسانتيا

ژباړه:- اوچا چې اووئيل.كه سږني كال ما حج اونكړلو.نوزما غلام دې آزاد وى.بيا ده دعوه اوكړله.چه ما حج اوكړلو.اودوو ګواهانوګواهي وركړله.چه دې كس په كوفه كې قرباني كړې ده.نودده غلام به نه آزاديږي.دا قول دامام ابوحنيفه اوامام ابويوسفؒ دې.خوامام محمدؒ فرمائيلي دي.چه داغلام آزاديږي «امام ابن الهمامؒ دې قول ته ترجيح وركړې ده» څكه چې دا ګواهي په داسې قول باندې شوې ده.چه هغه ويونكي ته معلومه ده.يعنى هم په دغه كال په كوفه كې قرباني كول،ورسره دا خبره هم ضروري ده.كه حج نه وى شوې.نوشرط به ثابت شي.اودامام ابوحنيفه اوابويوسفؒ دليل دا دې.چه دا ګواهي په نفي باندې قائمه شوې ده.څكه چې ددې ګواهۍ مقصود دا دې.چه حج ثابت نشي.خوقرباني ثابتول ئې هم مقصود نه دي.څكه چې د قربانۍ كولوپه اړه كې چا مطالبه نه ده كړې.نوځكه دا داسې شوه.لكه چې دوى داسې ګواهي وركړې.چه ده په دې كال كې حج نه دې كړې. «حالانكه په اتفاق سره په نفي باندې ګواهي مقبوله نه وى» زياته نه زياته به دا خبره شي.چه دا نفي داسې ده.چه ګواه ئې ښه پيژندې شي.اوددې احاطه كولې شي.خود آسانتيا پيدا كولوپه خيال يوه قسم نفى د بل قسم نفى په مينځ كې توپير نه دې پريښولې (پريخودې) شوې.

تشريح:- په مذكوره صورت كې مثلاً د زيد غلام څكه نه آزاديږي چې هركله ګواهانو ګواهي وركړه چې زيد په كوفه كې قرباني كړې ده نو دې خبرې ته متضمن ده چې زيد څخكال حج نه دې كړې څكه چې حاجي په منى كې قرباني كوي په كوفه كې نه كوي نوهركله چې دا د حج په نفي باندې ده او په نفي باندې شهادت په اتفاق سره نه قبليږي مثلاً زيد ګواهان قائم كړل چې بكر په كوم كور كې اوسيږي دا زما دې اود دې نه روسته بكر ګواهان قائم كړل چې دا كور د ده نه دې نو د بكر ګواهان نه قبليږي څكه چې دا په نفي باندې

---

(١) القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في العناية (٤\٤٥٣) والكفاية (٤\٤٥٤)ورد المحتار(٣\١٣٧) ومنحة الخالق (٤\٣٥٦) والبحرالرائق (٤\٣٥٦)نقلاً عن القول الراجح (١\٤٣٢)_

شهادت دي.هم دغه ډول په زیربحث صورت کي هم ګواهان په حقیقت کي د حج په نفی باندې ورکوی ود
دوی شهادت به مقبول نه وی.

د روژې نه نیولو نذر کول اوبیا څه وخته پورې روژه نیول

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَصُومُ فَنَوَى الصَّوْمَ وَصَامَ سَاعَةً ثُمَّ أَفْطَرَ مِنْ يَوْمِهِ حَنِثَ) لِوُجُودِ الشَّرْطِ إِذِ الصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْمُفَطِّرَاتِ عَلَى قَصْدِ التَّقَرُّبِ (وَلَوْ حَلَفَ لَا يَصُومُ يَوْمًا أَوْ صَوْمًا فَصَامَ سَاعَةً ثُمَّ أَفْطَرَ لَا يَحْنَثُ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ الصَّوْمُ التَّامُّ الْمُعْتَبَرُ شَرْعًا وَذَلِكَ بِإِنْهَائِهِ إِلَى آخِرِ الْيَوْمِ، وَالْيَوْمُ صَرِيحٌ فِي تَقْدِيرِ الْمُدَّةِ بِهِ

حل اللغه: ① **ساعة** لږ وخت ② **افطر** روژه ئې ماته کړه ③ **الامساک** بندیذ ④ **انهاء** ختمول

ژباړه - اوکه یوکس دا قسم اوخوړلو چه روژه به نه نیسی.بیا هغه د روژې نیت اوکړلو.اولږ وخت لپاره هم په دغه حالت کي پاتې شو.اوبیا ئې هم په دغه ورځ باندې افطار اوکړلو.نوحانث به شی.ځکه چې د روژې نیولوشرط موجود شو.ځکه چې د روژې معنی ده د خوراك څکاك اوجماع نه دعبادت په نیت باندې منع کیدل.اوکه ده دا قسم اوخوړلو.چه زه به یوه ورځ روژه نه نیسم.بیائې لږ وخت لپاره روژه اونیوله.اوبیا ئې ماته کړه.نونه حانثیږی.ځکه چې ددې لفظ نه هغه ټوله روژه کومه چې شرعاً معتبرده.مراد ده.اوداسې روژه کومه چې معتبر وی.هغه به په هغه وخت کي وی.چه د ورځ دآخره پورې وی.اود روژې مقدار بیانولو لپاره د ورځې لفظ صریحی دې.

تشریح - شریعت کي روژه په نیت سره دخوراك څکاك اود جماع نه د بندیدلو نوم دې.ځکه چې په لغت کي د صوم لفظ مطلقاً د امساك په معنی کي ده.په دې وجه چې د اسلام نه مخکي هم دا لفظ د امساك معنی کي استعمالیدلو.خوپه شریعت کي په دې باندې د نیت اضافه اوکړې شوه.چه د نیت په وجه سره د عبادت په طور امساك اود عادت په طور امساك په مینځ کي توپیر اوشی.

اوشرعی صوم ورځ سره خاص ده.اود ښځو په حق کي د صوم اداکول متحقق کیدلو لپاره ددوی دحیض او نفاس نه پاکیدل شرط دی.نود حیض او نفاس په حالت کي د صوم اداکول خوصحیح نه وی.خود نفس وجوب په وجه سره د پاکیدلو نه روسته به قضاء واجب وی.نوهرکله چې د صوم تعریف په دې باندې ثابت نشونو شرط موجود نشو.اوچه شرط موجود نشونوحانث شو.ځکه پوره ورځ د خوراك څکاك نه بندیز اونشو.

دمونځ نه کولوقسم کول اوبیا قیام اورکوع کول

(وَلَوْ حَلَفَ لَا يُصَلِّي فَقَامَ وَقَرَأَ وَرَكَعَ لَمْ يَحْنَثْ، وَإِنْ سَجَدَ مَعَ ذَلِكَ ثُمَّ قَطَعَ حَنِثَ) وَالْقِيَاسُ أَنْ يَحْنَثَ بِالِافْتِتَاحِ اعْتِبَارًا بِالشُّرُوعِ فِي الصَّوْمِ. وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ الصَّلَاةَ عِبَارَةٌ عَنِ الْأَرْكَانِ الْمُخْتَلِفَةِ، فَمَا لَمْ يَأْتِ بِجَمِيعِهَا لَا يُسَمَّى صَلَاةً، بِخِلَافِ الصَّوْمِ لِأَنَّهُ رُكْنٌ وَاحِدٌ وَهُوَ الْإِمْسَاكُ وَيَتَكَرَّرُ فِي الْجُزْءِ الثَّانِي (وَلَوْ حَلَفَ لَا يُصَلِّي صَلَاةً لَا يَحْنَثُ مَا لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ الصَّلَاةُ الْمُعْتَبَرَةُ شَرْعًا وَأَقَلُّهَا رَكْعَتَانِ لِلنَّهْيِ عَنِ الْبُتَيْرَاءِ. (١)

حل اللغه: ① **قام** مانځه ته ودریدلو ② **قطع** مونځ ئې مات کړو ③ **البتیراء** یورکعتیز مونځ

ژباړه - اوکه دا قسم ئې اوخوړلو چه زه به لمونځ نه کوم.بیا ئې قیام قراءت اورکوع اوکړله.بیا ئې لمونځ مات کړلو نونه حانثیږی.اوکه دې سره ئې سجده هم اوکړله.اوبیا ئې مات کړلو.نوحانث کیږی.قیاس خودا وائی.لکه څنګه د روژې په پیل کولواوبیا ماتولوباندې حانث کیږی.دغه ډول دلمونځ په پیل اوبیا ماتولوباندې هم حانث شی.داستحسان وجه دا ده.چه د مختلفوارکانومجموعه نوم لمونځ دې.نوترڅو پورې چې دهغې واړه ارکان نه وی ادا شوی.دې ته لمونځ نشی وئیلې.په خلاف د روژې ځکه چې هغه د یو رکن نوم دې.یعنی کوم شیان (څیزونه) چې روژه ماتوی.دهغې نه منع کیدل.اوهم دا خبره د یووخت نه تربل وخته پورې د نمریریوتوپورې مکرر کیږی.اوکه دا قسم اوخوری.چه زه به هیڅ لمونځ نه کوم.نوترڅوچه دقعدې سره

١) تقدم تخریجه فی کتاب الصلاة)_

دوې [دوه] رکعته لمونځ نه وی کړې.نه حانثیږی.ځکه چې دده د دې جملې نه داسې لمونځ مراد دی.کوم چې شرعاً معتبر وی.حالانکه د داسې لمونځ د کم نه کم دوې [دوه] رکعته وی.ځکه چې صرف د یورکعت کاوه نه په یوحدیث کې ممانعت راغلې دې.

تشریح:- ((صلاة البتیراء)) هغه لمونځ ته وائی چې په یو رکعت باندې مشتمل وی ځکه چې د حضرت ابوسعید خدری ﷺ روایت دې.چه رسول الله ﷺ د بتیراء لمونځ نه منع کړې ده.په دې طریقه چې سړې یورکعت لمونځ اوکړی.

بَابُ الْيَمِينِ فِي لُبْسِ الثِّيَابِ وَالْحُلِي وَغَيْرِ ذَلِكَ)

ژباړه:- دا باب دجامو کالواووغیره ځیزونواغوستلوپه قسم کی دی.

(وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: إِنْ لَبِسْتِ مِنْ غَزْلِكِ فَهُوَ هَدْيٌ فَاشْتَرَى قُطْنًا فَغَزَلَتْهُ وَنَسَجَتْهُ فَلَبِسَهُ فَهُوَ هَدْيٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا: لَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُهْدِيَ حَتَّى تَغْزِلَ مِنْ قُطْنٍ مَلَكَهُ يَوْمَ حَلَفَ) (¹) وَمَعْنَى الْهَدْيِ التَّصَدُّقُ بِهِ بِمَكَّةَ لِأَنَّهُ اسْمٌ لِمَا يُهْدَى إِلَيْهَا. لَهُمَا أَنَّ النَّذْرَ إِنَّمَا يَصِحُّ فِي الْمِلْكِ أَوْ مُضَافًا إِلَى سَبَبِ الْمِلْكِ وَلَمْ يُوجَدْ لِأَنَّ اللُّبْسَ وَغَزْلَ الْمَرْأَةِ لَيْسَا مِنْ أَسْبَابِ مِلْكِهِ. وَلَهُ أَنَّ غَزْلَ الْمَرْأَةِ عَادَةً يَكُونُ مِنْ قُطْنِ الزَّوْجِ وَالْمُعْتَادُ هُوَ الْمُرَادُ وَذَلِكَ سَبَبٌ لِمِلْكِهِ، وَلِهَذَا يَحْنَثُ إِذَا غَزَلَتْ مِنْ قُطْنٍ مَمْلُوكٍ لَهُ وَقْتَ النَّذْرِ لِأَنَّ الْقُطْنَ لَمْ يَصِرْ مَذْكُورًا.

حل اللغة: ① **غزل**: وریشلې جامې ② **قطن**: مالوچ ③ **نسج**: وودل

ژباړه:- که یوکس خپلې ښځې ته اووئیل.که ما ستا وریشلې جامې واغوستې.نودا دې هدیه وی.ددې نه روسته هغه مالوچ واخستل.اودې ښځه هغه وریشلې.اوجامې ئې ترې جوړې کړې.اودهغه خاوند واغوستې .نودا د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز هدیه ده. ﴿اوکه غواړی.نوددې جامې قیمت دې د مکې فقیرانوته دصدقې په طوروکړی﴾ اوصاحبین رحمهما الله فرمائی.چه په خاوند باندې هدی کول واجب نه دی.البته چې ښځه هغه مالوچ وریشی.چه ددې خاوند دقسم په ورځ دهغې مالك وی.نوبیا به واجب وی. ﴿چه روستو ئې کوم مالوچ اخستې دی.نودهغې وریشلو ته څه اعتبار نشته﴾ دلته دهدی معنی دا ده.چه دا جامې په مکه کې صدقه کړی.ځکه چې هدی هغه ځیزته وائی.کوم چې مکې ته هدیه لیږلې شی.اودصاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه نذریه هغه ځیزکې صحیح کیږی.کوم چې بالفعل دده په ملکیت کې وی.یا د ملك سبب اړخ ته ددې اضافت شوې وی. ﴿مثلاً که ما دا غلام واخستلو.نودا دې آزاد وی﴾ اوپه دې دواړوخبرو کې یوه هم دلته نه ده موجوده شوې.ځکه چې د سړی اغوستل،اودښځې وریشل دسړی د ملکیت سبب نه دې.اودامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه عادت هم داسې جاری دې.چه ښځه دخپل خاوند دمالوچونه وریشل کوی.اوپه قسم خوړلوکې هم د هغه ځیزاعتبارکیږی.کوم چې په عادت یا رواج کې وی.اودا د خاوند دملکیت سبب دې.نوځکه دنذر په وخت کې چې د خاوند دخپل مملوك مالوچو نه ښځه وریشل اوکړی.نو خاوند حانثیږی.ځکه چې دلته په لفظ کې د مالوچو څه ذکرنشته. ﴿دروم په ملکونوکې ښځه دخپل خاوند مملوك مالوچ وریشی.نوپه دې علاقوکې به دامام ابوحنیفه رحمه الله په قول باندې فتوی ورکولې شی.اودمصراوسیدونکوکې ښځه هم خپل مملوك مالوچ وریشی.نوځکه به دلته د صاحبینو رحمهما الله په قول باندې فتوی ورکولې شی﴾

---

¹) القول الراجح هوهذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(٤\٤٥٧) وردالمختار(٣\١٤١) والدرالمختار (٣\١٤١) والبحرالرائق (٤\٣٦٠) نقلاً عن القول الراجح(١\٤٣٤)-

تشریح:- یاد خبره یاد ساتئ چې په رومی ملکونو کې ښځه د خپل خاوند مالوچو نه تار جوړوی په دې وجه په رومی ملکونو کې به فتوی د امام ابوحنیفه رحمه الله په قول ور کولای شي او د مصر په ښارونو کې ښځه دخپلو مالوچو نه تار جوړوی نو په مصری ښارونو کې به فتوی د صاحبینو په قول ور کولای شي دڅبارې نه مطلب واضح دې.

دکالواچولونه قسم خوړل اوبیا د سپینوزرو ګوتمه اچول

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَلْبَسُ حُلِيًّا فَلَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ لَيْسَ بِحُلِيٍّ عُرْفًا وَلَا شَرْعًا حَتَّى أُبِيحَ اسْتِعْمَالُهُ لِلرِّجَالِ وَالتَّخَتُّمُ بِهِ لِقَصْدِ الْخَتْمِ (وَإِنْ كَانَ مِنْ ذَهَبٍ حَنِثَ) لِأَنَّهُ حُلِيٌّ وَلِهَذَا لَا يَحِلُّ اسْتِعْمَالُهُ لِلرِّجَالِ. (وَلَوْ لَبِسَ عِقْدَ لُؤْلُؤٍ غَيْرَ مُرَصَّعٍ لَمْ يَحْنَثْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَا يَحْنَثُ) لِأَنَّهُ حُلِيٌّ حَقِيقَةً حَتَّى سُمِّيَ بِهِ فِي الْقُرْآنِ. وَلَهُ أَنَّهُ لَا يَتَحَلَّى بِهِ عُرْفًا إلَّا مُرَصَّعًا، وَمَبْنَى الْأَيْمَانِ عَلَى الْعُرْفِ. وَقِيلَ هَذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ، وَيُفْتَى بِقَوْلِهِمَا لِأَنَّ التَّحَلِّيَ بِهِ عَلَى الِانْفِرَادِ مُعْتَادٌ.

حل اللغة: ① **حلي:** کالي .زیورات ② **خاتم:** ګوتمه ③ **فضة:** سپین زر ④ **لولو:** ملغلره ⑤ **مرصع:** پیللي شوې ⑥ **الانفراد:** خانله د بل څیز د ګډون نه بغیر

ژباړه:- اوکه چا دا قسم اوخوړلو.چه زه به کالي نه اچوم.بیا ده د سپینوزرو انګشتری (ګوتمه) واچوله.نونه حانثیږی. ځکه چې داسې ګوتمې ته نه په عرف کې کالي وئیلی شي.اونه په شریعت کې .تردې چې ددې اچول او د مهر لپاره استعمال د سړو لپاره هم جائزدی.اوکه انګشتری (ګوتمه) د سروزرو وی.نودې حانثیږی .ځکه چې دا کالي ګنړلی شی.اوهم ددې امله ددې استعمال دسړو لپاره حلال نه دې.

تشریح:- صورت د مسئلې دا دې که یوکس قسم اوخوړلو.چه زه به کالي نه اچوم.اوبیا ئې «ساده» دغمو هاراچولې وی.نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزنه حانثیږی. او صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه حانثیږی.ځکه چې غمې په خپله باندې کالي دې.تردې چې په قرآن کریم کې دې ته کالي وئیلي شوې دې.اودامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه په عرف کې غمی د کالوپه طور په هغه وخت کې اچولې شي.چه دا پیللې شوی وی.اودقسمونو دارومدار په عرف دې.

بعضې مشائخو رحمهم الله فرمائیلی دی.چه دا اختلاف دخپلې خپلې زمانې په اعتبار سره وو.اودصاحبینو رحمهما الله په قول به فتوی ورکولې شی.ځکه چې زموږ په زمانه کې هم د کالي په طور صرف د غمو اچولو عرف او رواج دې.

په فرش باندې د ویده (اوده) کیدو نه قسم کول اوبیا په بستره څملاستل

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَنَامُ عَلَى فِرَاشٍ فَنَامَ عَلَيْهِ وَفَوْقَهُ قِرَامٌ حَنِثَ) لِأَنَّهُ تَبَعُ الْفِرَاشِ فَيُعَدُّ نَائِمًا عَلَيْهِ (وَإِنْ جَعَلَ فَوْقَهُ فِرَاشًا آخَرَ فَنَامَ عَلَيْهِ لَا يَحْنَثُ) لِأَنَّ مِثْلَ الشَّيْءِ لَا يَكُونُ تَبَعًا لَهُ فَقَطَعَ النِّسْبَةَ عَنْ الْأَوَّلِ (وَلَوْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلَى الْأَرْضِ فَجَلَسَ عَلَى بِسَاطٍ أَوْ حَصِيرٍ لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى جَالِسًا عَلَى الْأَرْضِ، بِخِلَافِ مَا إذَا حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْأَرْضِ لِبَاسُهُ لِأَنَّهُ تَبَعٌ لَهُ فَلَا يُعْتَبَرُ حَائِلًا (وَإِنْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلَى سَرِيرٍ فَجَلَسَ عَلَى سَرِيرٍ فَوْقَهُ بِسَاطٌ أَوْ حَصِيرٌ حَنِثَ) لِأَنَّهُ يُعَدُّ جَالِسًا عَلَيْهِ، وَالْجُلُوسُ عَلَى السَّرِيرِ فِي الْعَادَةِ كَذَلِكَ،

حل اللغة: ① **ینام** اوده کیږی ② **فراش:** فرش ③ **قرام:** نرې څادر ④ **بساط:** ټاټ ⑤ **حصیر:** پوزې ⑥ **سریر:** کټ

ژباړه:- اوکه یوکس قسم اوخوړلو.چه په فرش به نه څملم.اوبیا په داسې فرش باندې پریوتل (څملاستل) .چه په هغې باندې نرې پټو (څادر) وو.نودې به حانثیږی.ځکه چې دا پټو (څادر) ددې فرش تابع دې.نوځکه به دې هم په دې فرش څملاستونکې ګنړلې شی.اوکه په فرش یعنی پټو (څادر) سربیره ئې بل پټو (څادر) واچولو.اوبیا هغې باندې ویده (اوده) شو.نونه حانثیږی.ځکه چې یوڅیزدبل پشان وی.نوهغه ددغه څیزتابع نه وی.یعنی پورتنې پټو (څادر) د لاندینی پټو (څادر) تابع نه دې.نوځکه په لاندینی پټو (څادر) باندې د پریوتلو (څملاستلو) نسبت پاته پاتې نشو. «بلکه دې په پورتنی پټو (څادر) باندې ویده (اوده) کیدونکې ګنړلې شی» اوکه دا قسم اوخوری.چه په مځکه به نه کینم.اوبیا په پټو (څادر) یا ټاټ یا کټ وغیره باندې

كيناستلو.نودې نه حانثيږي.ځكه چې داسې كس ته په مځكه باندې كيناستونكې نشي ونيلې.ددې په خلاف كه د قسم خوړونكى اود زمكې په مينځ كې دده جامې وي.نودې به په مځكه كيناستونكې وي.ځكه چې دده جامې دده تابع دي.نوځكه دا حائل نشي شمارلې. ﴿اوكه ده جامې اوويستې.اوپه مځكه ئې واچولې.اوبيا په هغې باندې كيناستلو.نواوس نه حانثيږي.ځكه چې دا جامې د پټو (څادر) په حكم كې دي﴾ اوكه يوكس قسم اوخوړلو.چه په دې معين تخت به نه كينم.اوبيا ئې په هغې باندې بستره پوزكې وغيره واچولو.اوپه هغې باندې كيناستلو.نوحانثيږي. ﴿ددې تخت نه مراد معين تخت دې. الجوهره﴾ ځكه چې په بستره يا پوزكى باندې كيناستونكى هم په تخت باندې كيناستونكې شمارلې شي.ځكه چې په تخت باندې دكيناستو عادت هم داسې جارى دې.

تشريح:- ((**قوله لانه تبع للفراش**)) دا د عدم حنث لپاره دليل بيانوى ددې حاصل دا دې چې په ګدئ باندې كه نرې پټو (څادر) واچولې شى نو هغه تبعاً ګدئ شمارلې شى د مستقل پټو (څادر) حيثيت نه لرى ځكه چې په عامه توګه په بستره يا ګدئ باندې نرې پټو (څادر) يا په دې غرض اچولې شى چې هغه بستره يا ګدئ خيرنه وى نو په پټو (څادر) باندې د هغې خيرنوالې پټ كړى يا د ډيكوريشن او ښائست لپاره په ګدئ باندې نرې اوښائسته پټو (څادر) اچولې شى نوهركله چې دغه پټو (څادر) تبعاً هم د ګدئ په حكم كې دې په دې حالف حانثيږي البته كه د دغه درئ سربيره بله درئ واچوى نو بيا دې نه حانثيږي ځكه چې هغه دويمه درئ مستقل حيثيت لرى د لاندينئ درې تابع نشي ګرځولې.

بِخِلَافِ مَا إِذَا جَعَلَ فَوْقَهُ سَرِيرًا آخَرَ لِأَنَّهُ مِثْلُ الْأَوَّلِ فَقَطَعَ النِّسْبَةَ عَنْهُ.

ژباړه:- په خلاف دهغه صورت چې دې د دغه تخت سربيره بل تخت واچوى.اوپه هغې باندې كينى.ځكه چې دا تخت هم د اولنى تخت پشان دې.نوځكه د اولنى سره ددې څه تعلق نشته.

تشريح:- په خلاف ددې صورت چې د تخت سربيره ئې پوزكې وغيره خوركړې وى.په هغې باندې دوهم تخت كيږدى.اوپه هغې باندې كينى. ﴿يعنى په پورتنى تخت باندې كيناستونكې ورته وائى.اوپه لاندينى تخت باندې كيناستونكې ورته نه وائى.﴾ اوكه دا قسم ئې اوخوړلو.چه په مځكه به نه ګرځم.اوبيا چمپلان يا موزه واچوى.يا په ښختوباندې پښې كيږدى.اوپه مځكه اوګرځى.نوحانثيږي.اوكه په فرش باندې لاړلو.نونه حانثيږي.اوكه دا اووائى.كه زه ستا په جامو يا په بستره باندې څملاستم.نوزما غلام دې آزاد وى.بيا دې دهغه په كپړه يا بستره باندې څملاسته.خوڅه بدن ئې ترې بهروو.نواوس كه زيات بدن دده په‌كالى يا پټو (څادر) باندې وو.نوحانثيږي.ګنى نه حانثيږي.

(بَابُ الْيَمِينِ فِي الضَّرْبِ وَالْقَتْلِ وَغَيْرِهِ)

ژباړه:- دا باب د قتل وهلووغيره په قسم كې دې.

تشريح:- ((**باب اليمين فى القتل والضرب وغيره ..الخ**)) دا باب د قتل وهلو وغيره د قسم په بيان كې دې.په دې موقع باندې اصل دا دې.چه په كومه خبره كې ژوندې اومړې دواړه شريك او سره برابر وى.يعنى دهغې په حكم كې د دواړو حال يوشان وى.نودهغه قسم به په دواړويعنى ژوند اومرګ باندې واقع كيږى.اوكومه خبره چې صرف د ژوند سره مخصوص وى.لكه درد ،خوند اوخوشحالى،نودا قسم به صرف ژوند پورې مخصوص وى.

معنى القتل: په غيرفطرى او غيرطبعى طريقه د بدن او روح تعلق ختمولو ته قتل وائى برابره خبره ده كه هغه ذبح كولوسره وى يا د اندامونو په ټكړې ټكړې كولوسره وى يا په بله څه طريقه سره وى خو چې د هغې په وجه مرګ واقع شى نو دې ته قتل وئيلى شى

معنى الضرب: د ضرب حقيقى معنى ده يوڅيز بل شى باندې واقع كول بيا د دې مختلف صورتونه دى ددې امله د دې معانى هم مختلف راځى تردې چې د بعضې اهل لغت قول دې چې ((ضرب)) په پنځه ديرش معانيو باندې راغلې دې

د((إن ضربتك فعبدي حر)) حكم

[(وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ إِنْ ضَرَبْتُكَ فَعَبْدِي حُرٌّ فَمَاتَ فَضَرَبَهُ فَهُوَ عَلَى الْحَيَاةِ) لِأَنَّ الضَّرْبَ اسْمٌ لِفِعْلٍ مُؤْلِمٍ يَتَّصِلُ بِالْبَدَنِ، وَالْإِيلَامُ لَا يَتَحَقَّقُ فِي الْمَيِّتِ، وَمَنْ يُعَذَّبُ فِي الْقَبْرِ تُوضَعُ فِيهِ الْحَيَاةُ فِي قَوْلِ الْعَامَّةِ وَكَذَلِكَ الْكِسْوَةُ لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّمْلِيكُ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ، وَمِنْهُ الْكِسْوَةُ فِي الْكَفَّارَةِ وَهُوَ مِنَ الْمَيِّتِ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ بِهِ السَّتْرَ، وَقِيلَ بِالْفَارِسِيَّةِ يَنْصَرِفُ إِلَى اللُّبْسِ (وَكَذَا الْكَلَامُ وَالدُّخُولُ) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْكَلَامِ الْإِفْهَامُ وَالْمَوْتُ يُنَافِيهِ، وَالْمُرَادُ مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهِ زِيَارَتُهُ وَبَعْدَ الْمَوْتِ يُزَارُ قَبْرُهُ لَا هُوَ]

حل اللغة: ① **ايلام**:تكليف وركول درد رسول ② **الكسوة**:جامې اغوستول ③ **الافهام**:بل كس پوهول ④ **الستر**:پټول ⑤ **زيارت**:ملاقات

ژباړه:- كه يوكس دا قسم اوخوړلو.كه ما ته ووهلې.نو زما غلام دې آزاد وي.نودا قسم دده د ژوند پورې مخصوص دې.يعنى كه هغه ئې په ژوند كي اووهلو.نوغلام آزاديږي.اوكه دهغه د مرګه روسته ئې اووهلو. نو نه حانثيږي.ځكه چې قتل كول د داسې درد رسونكى فعل نوم دې.چه تعلق ئې د بدن سره دې.حالانكه درد رسول دمړي بدن ته نشى كيدې.او په په قبركي په مړي باندې عذاب حق دې.نوددې وجه دا ده.چه دجمهورو اهل اسلام په نيزمړي ته دوباره ﴿مخصوص﴾ ژوند وركولې شي. ﴿بلكه دا خو د آخرت داحكامو سره تعلق ساتى.اوپه دنياوى ژوند باندې ددې قياس نشى كولې﴾ د وهلو په اړه كي چې كوم حكم بيان شو.نودا حكم د جامو وراچولواوور كاوه هم دې.يعنى ددې حكم تعلق صرف دده د ژوند پورې محدود دې.اودمړوكفن په دې كي ګډ نه دې.ځكه چې كله مطلقاً دا اووائى.چه زه به زيد ته جامې اوكسوت وركوم.نوددې نه مراد مالك جوړول دى.اوپه كفاره د قسم كي د جامو وركولوحكم هم د دې سره تعلق ساتى.اومړې د جامو وغيره شى مالك نشى جوړولې.خوكه د وئيلوپه وخت كي د ﴿كسوت﴾ نه د ويونكى مراد دا وو.چه زه به دده عورت پټوم.نودجامو حكم د مرګ سره هم متعلق دې. او فقيه ابوالليث رحمه الله فرمائيلى دى.چه په فارسئ كي د جامو وراچولونه مراد صرف وراچول دى. يعنى مالك جوړول ضرورى نه دى.تردې كه دده د مرګ نه روسته ئې ورته واچوى.نوهم به نه حانثيږى.دغه ډول خبرې كول اوداخليدل هم د ژوند سره مخصوص دى.ځكه چې د كلام نه مقصود دا وى.چه مخاطب په خپل مقصود او مضمون باندې پوهه كړى.اومرګ ددې مخالف دې.اودداخليدو نه مراد د هغه ملاقات دې.اود مرګ نه روسته دهغه سره ملاقات نشى كيدې.بلكه دهغه د قبر زيارت كولې شي.

تشريح:- ((فمات)) مات د دې مصدر موت دې چې حيات ئې ضد دې ددې معنى مړينه (مړكيدل) دى امام راغب د موت په معنى كي يوتحقيقى بحث كړې دې د ،،موت،،لفظ په قرآن پاك او د عربو په عرف كي د مختلفو څيزونو سره تعلق لرى مثلاً موت حيوانى ② موت انسانى③ موت قلبى ④ موت ارضى ⑤ موت علمى ⑥ موت قلبى وغيره ددې دتفصيل دا مقام نه دې بس صرف دومره زده كړئ چې موت يو ډير وسيع مفهوم لرى.

((وكذا الكلام والدخول)) دغه ډول خبرې كول اوداخليدل هم د ژوند سره مخصوص دى.يعنى كه دا قسم اوخورى.چه زه به د زيد سره خبرې نه كوم.نودهغه په ژوند كي ورسره په خبروكولوباندې به حانث كيږى.اودمرګ نه روسته به نه حانث كيږى.تردې كه دهغه د مرګه روسته ئې ورسره خبرې اوكړې.نو نه حانث وى.دغه ډول كه دا ئې اووئيل.چه زه به زيد ته نه ورځم.نودا حكم به د زيد د ژوند پورې مخصوص وى.تردې كه دهغه د مرګ نه روسته هغه ته ورغلو.نونه حانث كيږى.

((لان المقصود من الكلام الافهام الخ)) ځكه چې د كلام مقصد خو دا وى.چه مخاطب په خپله خبره باندې پوهه كړى.حالانكه دده مرګ د پوهيدو سره منافى دې. ﴿يعنى د مرګ نه روسته پوهول ممكن نه دى.اوكه دا اووئيلى شى.چه رسول الله ﷺ د بدرمقتولينو كافرانوته دهغوى نومونه اخستى وو.چه ستاسو رب تاسو سره

د عذاب کومه وعده کړې وه.هغه تاسو رښتينې بيا نه موندله؟اوکله چې د نبي ﷺ نه صحابه کرامو پوښتنه اوکړه .چه يا رسول الله ﷺ دا خو مړي دي.نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل.ستاسو نه ښه اوري.ددې نه معلومه شوه.چه مړي سړه د پوهولو لپاره خبرې کول هم ګټور ې دي.
ددې نه ځواب دا دې.چه د نبي ﷺ خبرې کول دهغوی معجزه وه.اود مړي دا اوريدل به په دنياوي اوريدو باندې نشي قياس کولې.ځکه په حديث کې نبي ﷺ صحابوﷺ ته اوفرمائيل.چه تاسو ددوی نه زيات اوريدونکي نه ئې.يعنی دوی ستاسو نه ښه اوري.نوښه اوريدل په دې اعتبارسره دي.چه د آخرت اوريدل د نبي ﷺ د معجزې په طور وو.

غسل ورکولوپورې د ازادۍ تعليق

((وَلَوْقَالَ: إِنْ غَسَّلْتُكَ فَعَبْدِي حُرٌّ فَغَسَّلَهُ بَعْدَ مَا مَاتَ يَحْنَثُ)) لِأَنَّ الْغُسْلَ هُوَالْإِسَالَةُ وَمَعْنَاهُ التَّطْهِيرُ وَيَتَحَقَّقُ ذَلِكَ فِي الْمَيِّتِ

حل اللغة: ① **الاسالة**:اوبه بهول ② **التطهير**:پاکول ③ **يتحقق**: ثابتيږي

ژباړه:- اوکه يوکس بل ته اووئيل.که ما تاته غسل درکړلو.نو زما غلام دې آزاد وی.اوس که دمرګ نه روسته ئې ورته غسل ورکړلو.نوحانثيږي.ځکه چې دغسل معنی اوبه بيول دی.اوددې نه مقصود پاکی حاصلول دي.اودا خبره يعنی پاکول په مړي کې موجوديږي.

تشريح:- په مذکور في المتن صورت کې حنث ځکه واقع کيږي چې په غسل کې دوې [دوه] خبرې متصور وي د اوبو بيول او پاکول اودا دواړه خبرې که ژوندی ته غسل ورکړې شي او که مړي ته په دواړو صورتونو کې حاصليږي نو هرکله چې په غسل کې کومې خبرې مقصود دي په هغې کې مړې او ژوندې برابر دي نو د هغې په حکم کې به هم مړې او ژوندې برابر وي نو لکه څنګه چې په زيربحث صورت کې د ژوندپه حالت کې غسل ور کاوه باندې حانثيږي دغه ډول به د مرګ په حالت کې هم په غسل ور کاوه باندې حانثيږي.

دځپلې ښځې د نه وهلوقسم کول

((وَمَنْ حَلَفَ لَا يَضْرِبُ امْرَأَتَهُ فَمَدَّ شَعْرَهَا أَوْخَنَقَهَا أَوْعَضَّهَا حَنِثَ)) لِأَنَّهُ اسْمٌ لِفِعْلٍ مُؤْلِمٍ وَقَدْ تَحَقَّقَ الْإِيلَامُ ((وَقِيلَ لَا يَحْنَثُ فِي حَالِ الْمُلَاعَبَةِ)) لِأَنَّهُ يُسَمَّى مُمَازَحَةً لَا ضَرْبًا

حل اللغة: ① **شعر**:ويخته ② **خنق**:مرئ خفه کول ③ **عض**:چک اولګولو④ **مولم**:دردونکې ⑤ **الملاعبة**:يوبل سره لوبې کول ⑥ **ممازحة**:خان خوشحالول

ژباړه:- که يوکس دا قسم اوخوړلوچه زه به خپله ښځه نه وهم.خودهغې دسر ويخته ئې راښکل،يا ئې ورله مرئ خفه کړه.يا ئې ورته په غاښ په بدن چك اولګولو.نوحانثيږي.اګرچه د په لوبو ټوقوکې وی.ځکه چې وهل د داسې فعل نوم دې.چه په هغې کي تکليف رسي.اوپه دې ټولوکارونوکې تکليف رسيدل موجودشوی دی.اوبعضې مشائخو ﷺ فرمائيلي‌دي.چه دلوبوټوقوپه حالت کې په دې کارونونه حانثيږي .ځکه چې په دې حالت کې وهل نه وی.بلکه زړه خوشحالول اوټوقې وی. «په لنډيز کې ئې هم دې قول ته صحيح وئيلی دی»

تشريح:- ((**وقيل لايحنث**)) په قيل سره دامام شافعی رحمه الله قول ته اشاره ده ځکه چې د هغوی په نيز دې افعالو ته په عادت کې وهل نشی وئيلې نوحالف به نه حانثيږي خو د دې په ځواب کې دا وئيلې شي چې لکه څنګه په الفاظو کې مقصود اصلی معانی وی دغه ډول په افعالو کې مقصود اصلی د هغې اثر وی نود اثر په حوالې سره په افعالو کې درې شيان (څيزونه) قابل غور دی ① اثر «د فعل د قوع تحقق» ② تاثر «د عرف او د عادت په لحاظ سره د خلګو سلوك او رويه» ③ تاثر «په چا چې فعل واقع شوې وی د هغې رد عمل» معمولی خبرې د ښځې د ناز او ادا تاثر پيدا کوی په تيزه پړق سره يا د غصې په حالت کې غاړه ورخفه کول (مرئ خفه کول) ضرب او وهل شمارلې شی نو په ،،ضرب ،، کې اصل مقصود ضرر او تکليف رسول دی

اوكله چې تكليف واقع شي نو حالف به حانثيږي نو معلومه شوه چې كوم فعل تكليف وركوي هغې څخه به ضرب مراد وي اګرچه هغه په ټوقو كې ولې نه وي.

دفلاني په قتلولوپورې دطلاق تعليق كول

(وَمَنْ قَالَ: إِنْ لَمْ أَقْتُلْ فُلَانًا فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ وَفُلَانٌ مَيِّتٌ وَهُوَ عَالِمٌ بِهِ حَنِثَ) لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى حَيَاةٍ يُحْدِثُهَا اللّٰهُ فِيهِ وَهُوَ مُتَصَوَّرٌ فَيَنْعَقِدُ ثُمَّ يَحْنَثُ لِلْعَجْزِ الْعَادِي (فَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ بِهِ لَا يَحْنَثُ) لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى حَيَاةٍ كَانَتْ فِيهِ وَلَا تُتَصَوَّرُ فَيَصِيرُ قِيَاسُ مَسْأَلَةِ الْكُوزِ عَلَى الِاخْتِلَافِ، وَلَيْسَ فِي تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ تَفْصِيلُ الْعِلْمِ وَهُوَ الصَّحِيحُ.

ژباړه:- اوكه يوكس دا قسم اوخوړلو. كه فلانې مې قتل نكړلو. نوزما ښځه دې طلاقه وي. اوفلانى وفات شوى وي. اګرچه قسم خوړونكې دا پيژني. نوهم به حانثيږي. اوورسره به ئې ښځه هم طلاقيږي. ځكه چې ده خپل قسم د مړي په داسې ژوند پورې قائم كړلو. كوم چې الله تعالى په دغه مړي كې پيدا كړي. اوددې تصورهم كيداې شي. ﴿چه الله تعالى يوكس د مرګ نه روسته راژوندې كړي﴾ نوځكه ئې دا قسم صحيح دې. نو خكه به دې دستى حانثيږي. ځكه چې عملاً اوظاهراً ددې نه عاجزى ښكاره ده. اوكه قسم خوړونكى ته دا معلومه نه وي. چه هغه كس مړ شوې دې. نودې به نه حانثيږي. ځكه چې ده دخپل قسم بنا (بنياد) په داسې ژوند باندې كيخودو. چه په هغه كس كې موجودوي. حالانكه هغه په كې موجود نه ده. نوځكه د قسم پوره كيدو تصور هم نشى كيدې. دا مسئله په هغه مسئله باندې قياس كولې شى. چه په پيالۍ كې اوبه نه وي. اوقسم اوخورى. چه دپيالۍ څخه به اوبه نه څكې. نوهغه شان به په دې زيربحث مسئله كې هم اختلاف وي. يعنى دامام ابويوسف رحمه الله په نيزكه دده مرګ ورته معلوم نه وي. نوهم به حانثيږي. لكه چې څنګه چې د پيالۍ په مسئله كې تيرشوى دى. خوپه دې مسئله كې د پوهې اونه پوهې څه تفصيل نشته. يعنى دامام ابويوسف رحمه الله په نيزاګرچه پيژني. چه په پيالۍ كې اوبه نشته. بيا به هم حانثيږي. اودا صحيح قول دې.

تشريح:- «**ومن قال ان لم اقتل ..الخ**» اوكه يوكس دبل په اړه كې اوونيل. كه مادې قتل نكړلو. نو زما ښځه دې طلاقه وي. حالانكه هغه كس د وړاندې نه مړشوې وي. اوقسم خوړونكى ته په خپله هم دا خبره معلومه وي. نودې حانثيږي. اوښځه طلاقيږي. ځكه چې ده قسم د مړي په داسې ژوند باندې قائم كړلو. كومه چې الله تعالى په دغه مړي كې پيدا كړي. اوددې تصور هم كيداې شي. نوځكه به قسم منعقد وي. او دې به هم په هغه وخت كې حانث شي. ځكه چې عادة ددې نه عاجزى ښكاره ده. دا دې معلومه وي. چه په كومه پيالۍ كې اوبه نه وي. كه هغې اړخ ته اشاره اوكړي. اويوكس دا اووائى. چه په دې كې كومې اوبه دى. هغه به زه څكم. نودامام ابوحنيفه اوامام محمد رحمه الله په نيزقسم نه منعقد كيږي. ځكه چې د قسم په وخت كې په هغې كې هډو اوبه شته نه. ځكه چې دهغوى په نيزدا شرط نه دې. چه د قسم پوره كيدو امكان دې هم وي. لكه څنګه چې د خوراك څكاك په اړه كې وړاندې تيرشو. اودلته دسړى د قتلولو تصور په دې طريقه كيداې شي. چه الله تعالى هغه ژوندي كړي. نودې ئې بيا قتلولې شى. نوځكه قسم منعقد كيږي. خودالله تعالى عادت په دې باندې نه دې جارى. ددې امله دعادت په لحاظ سره معلومه شوه. چه دا كس د قتلولونه عاجز دې. حالانكه د قسم په وخت كې ئې دا پيژندل. چه دغه سړې مړ شوې دې. نوحانثيږي به.

«**فيصيرقياس مسئلة الكوز**» د كوزې اختلافى صورت دا دې چې په لوټه كې اوبه نه وي او يو سړى قسم اوخوړلو چې په دې لوټه كې كومې اوبه دى هغه به زه څكم. نو د طرفينو په نيز دا قسم هډو منعقد شوې نه دى. اود طرفينو رحمهما الله په نيز كه په داسې شى قسم اوخوړلې شي كوم چې ناممكن الوقوع وي نوهغه يمين نه منعقد كيږي خو د امام ابويوسف رحمه الله په نيز د حالف قسم منعقد كيږي ځكه چې هغوى د يمين د تكميل لپاره د هغې ممكن كيدل نه شرط كوى بلكه په كوم شى چې قسم اوخوى كه هغه ممكن الوقوع وي اوكه غير ممكن الوقوع وي په دواړو صورتونو كې يمين منعقد كيږي نود كوزې د مسئلې پشان د متن په مسئله

کي هم د حالف لپاره د محلوف عليه د وفات په اړه کي علم او عدم علم برابر دی که ده ته علم وی او که نه وی په دواړو صورتو کي دامام ابویوسف رحمه الله عليه په نيز يمين منعقد کيږي

(بَابُ الْيَمِينِ فِي تَقَاضِي الدَّرَاهِمِ)

ژباړه- باب په درهمو ادا کولوکي دقسم خوړلو په بيان کي

تشريح:- تقاضی : د تقاضی لفظ په اضافت سره په مختلفو معانيو کي استعماليږی که ددې اضافت الشی وبه سره وی نو دا د طلب کاوه او حاصلولو معنی ورکوی که دا لفظ د ((تقاضی)) ثمن او پيسو اړخ ته منسوب شی نو د قيمت وصولوپه معنی راځی دغه ډول د صله او سياق په مناسبت سره دا لفظ په مختلفو معانيوکي استعماليږی.

په زر پور ادا کولو قسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ دَيْنَهُ إِلَى قَرِيبٍ فَهُوَ عَلَى مَا دُونَ الشَّهْرِ، وَإِنْ قَالَ إِلَى بَعِيدٍ فَهُوَ أَكْثَرُ مِنَ الشَّهْرِ) لِأَنَّ مَا دُونَهُ يُعَدُّ قَرِيبًا، وَالشَّهْرُ وَمَا زَادَ عَلَيْهِ يُعَدُّ بَعِيدًا، وَلِهَذَا يُقَالُ عِنْدَ بُعْدِ الْعَهْدِ مَا لَقِيتُكَ مُنْذُ شَهْرٍ

حل اللغة: ① **يقضی**:ادا کوی ② **شهر**:مياشت

ژباړه:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.که يوکس قسم اوخوړلو.چه زه به زرد هغه پور ادا کړم نونوددې ځخه به ديوې مياشتې نه کمه مودهٔ مراد وی.يعنی که د يوې مياشتې نه په کمه مودهٔ کي ئې ادا کړلو.نوپه قسم کنبي بری شو.اوکه دا قسم ئې اوخوړلو.چه زه به ئې په زياته موده کي ادا کوم.نوددې نه د يوې مياشتې نه زياته مودهٔ مراد ده.ځکه چې کومه زمانه ديوې مياشتې نه کمه وی.هغه په نزدې کي حسابيږی.اوکومه مودهٔ چې د مياشتې نه زياته وی.هغه په لرې کي حسابيږی.هم دا وجه ده.چه کله چې سره ځه مودهٔ روسته ملاقات اوشی.نوعربيان وائی.((ما لقيتك منذشهر)) يعنی ته د مياشتې راسې نه ئې ليدلې.يعنی ډيرزمانه تيره شوه.

تشريح:- که د قريب او بعيد په لفظ باندې غور اوکړې شی نو معلوميږی چې قريب د لرې مودې يا د نزدې فاصلې لپاره استعماليږی او بعيد لفظ د ډيرې مودې اود لرې فاصلې لپاره استعماليږی.اوفاصله او مسافه دواړه الفاظ مترادفين دی نو مسافه په دوې [دوه] قسمه شو مسافه زمانی او مسافه مکانی.په زيربحث مسئله کي د مسافه اولنې قسم يعنی مسافه زمانی مراد دې.اوس نفس مسئلې ته راشئ په متن کي دی چې د قريب لفظ د مياشتې نه د کمې مودې لپاره اود بعيد لفظ د مياشتې نه د زياتې مودې لپاره استعماليږې اود دې مودې تعين د خلګو عرف او رواج دې چې کله يو کس مثلا ووايي چې زه کراچۍ ځم اوزربه واپس راځم نو مراد به دا وی چې د يوې مياشتې ځخه به وړاندې وړاندې راځم.

په نن ورځ د پور ادا کولو قسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ فُلَانًا دَيْنَهُ الْيَوْمَ فَقَضَاهُ ثُمَّ وَجَدَ فُلَانٌ بَعْضَهَا زُيُوفًا أَوْ نَبَهْرَجَةً أَوْ مُسْتَحَقَّةً لَمْ يَحْنَثِ الْحَالِفُ) لِأَنَّ الزِّيَافَةَ عَيْبٌ وَالْعَيْبُ لَا يُعْدِمُ الْجِنْسَ، وَلِهَذَا لَوْ تَجَوَّزَ بِهِ صَارَ مُسْتَوْفِيًا، فَوُجِدَ شَرْطُ الْبِرِّ وَقَبْضُ الْمُسْتَحَقَّةِ صَحِيحٌ وَلَا يَرْتَفِعُ بِرَدِّهِ الْبِرُّ الْمُتَحَقِّقُ (وَإِنْ وَجَدَهَا رَصَاصًا أَوْ سَتُّوقَةً حَنِثَ) لِأَنَّهُمَا لَيْسَا مِنْ جِنْسِ الدَّرَاهِمِ حَتَّى لَا يَجُوزُ التَّجَوُّزُ بِهِمَا فِي الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ (وَإِنْ بَاعَهُ بِهَا عَبْدًا وَقَبَضَهُ بَرَّ فِي يَمِينِهِ) لِأَنَّ قَضَاءَ الدَّيْنِ طَرِيقُهُ الْمُقَاصَّةُ وَقَدْ تَحَقَّقَتْ بِمُجَرَّدِ الْبَيْعِ فَكَأَنَّهُ شَرَطَ الْقَبْضَ لِيَتَقَرَّرَ بِهِ (وَإِنْ وَهَبَهَا لَهُ) يَعْنِي الدَّيْنَ (لَمْ يَبَرَّ) لِعَدَمِ الْمُقَاصَّةِ لِأَنَّ الْقَضَاءَ فِعْلُهُ، وَالْهِبَةُ إِسْقَاطٌ مِنْ صَاحِبِ الدَّيْنِ

حل اللغة: ① زيوف هغه دراهم دی.کوم چې بيت المال اطاق اوګرځوی.او رد ئې کړی.خو تاجر [اوسوداګر] خلګ ئې پخپلو معاملاتوکي اخلی.② او بنهرجه [بنهره] هغه دراهم دی.کوم چې سوداګر خلګ هم ردکوی.ګويا بنهرجه د اطاق نه هم ادنی دی.خو بيا هم دراهم دی.③ او ستوقه هغه دراهمو ته وائی.چه په دې کي کوټ غالب او سپين زر مغلوب وی.ګويا دا د سره درهم هم نه دی.④ مستحقة يعنی سکه چې په

هغې باندې يودريم كښې دخپل ملكيت دعوه كړې وى.اودا هم دا ثابته كړى.چه دا سكې په حقيقت كې زما دى.⑤رصاص ،قلعى نه جوړه شوې روپۍ ،⑥ مستوقه ،دسين په فتح سره فارسى ئې په عربۍ كې استعمال كړې ده.ستوقه د درې طبقو واله،يعنى د پيتلوسكه په دې باندې د دواړو طرفونو نه سپين زرختلې وى.چونكه دا دواړه يعنى رصاص اوستوقه د سكو د جنس ځنى نه دى.نوځكه په بيع صرف اوبيع سلم كې ددې وركول جائز نه دى.

زباړه:- كه يوكس قسم اوخوړلو.چه زه به نن د زيد پور ادا كوم.اوبيا هم په هغه ورځ پور ادا كړلو.خوچه زيد په لاس كې واخستلې.نومعلومه شوه.چه په هغې كې اطاق روپۍ دى.بنهرجه وى.يا دهغې بل يوكس مستحق وى.نوقسم خوړونكې نه حانثيږى.ځكه چې سكه اطاق وى.نودا يوعيب دې.اودعيب د امله هغه جنس معدوم اووركيږى نه.ددې امله كه اخستونكې زيد په هغې كې نرمى اوكړى.اودعيب نه سترګې پټې كړى.اوهغه قبولې كړى.نوهغه دخپل پور وصول كونكې دې.اودغه ډول د قسم پوره كولوشرط موجود شو.اوپه ادا شوو روپوكې چې د كومو يوبل كس مستحق اوخيژى.نوپه هغې باندې د زيد قبضه كول صحيح دى.اودقسم خوړونكى قسم پوره كيدو نه روسته كه دغه شيدې (پې) خپل مستحق ته واپس شى.نوپه دې باندې د قسم په پوره كيدوكې څه توپير نه راځى.يعنى قسم به هم پوره وى.اوكه پور غوښتونكى دا روپۍ ،رصاص،يا ،ستوقه، بيامونډې.نوقسم خوړونكې به حانث وى.ځكه چې دا دواړه د خالصې روپۍ دجنس ځنى نه دى.تردې چې د چشم پوشۍ په طوردې دواړو بيع صرف اوبيع سلم كې اخستل جائز نه دى.اوكه قسم خوړونكى په پور غوښتونكى دهغه د پور په بدله كې پرې يو غلام خرڅ كړلو.نوبيا هم ده دهغه پور ادا كړلو.اوخپل قسم ئې پوره كړلو.ځكه چې د پور ادا كاوه يوه طريقه دا هم ده.چه مقاصه اوشى . يعنى ادل بدل اوشى.اودا خبره په بيع كولوسره ثابته شوې ده.ددې امله د بيعې سره د قبض كولوشرط هم صرف ددې لپاره دې.چه دغه بيع په پوره طور سره ثابته شى.اوكه قسم خوړونكى ته دهغه قرضخواه خپله قرضه هبه كړله.نوقسم خوړونكى خپل قسم پوره نكړلو.يعنى نن ورځ ده خپل پور ادا نكړلو.ځكه چې دلته ادل بدل نشته.ځكه چې ادا كول د قرضدارى كاردې.اوهبه كول د قرضخواه د اړخه د قرضې ساقط كولونوم دې.

تشريح:- تعريف بيع الصرف﴿ ابو الحسين قدورى رحمه الله په كتاب البيوع كې فرمائى.چه بيع صرف هغه بيع ده.چه ددې دواړو عوض د ثمن د جنس ځنې وى.ددې درې صورتونه دى.① سره زر د سرو زرو په عوض② سپين زر د سپينوزرو په عوض③ په دې دواړو كې يو دبل په عوض،

معنى السلم لغة وشرعاً﴿ سلم په لغت كې د يوداسې بيع نوم دې.چه په دې كې ثمن معجل وى.يعنى فوراً ادا كولې شى.بيع سلم د فقهاؤ په اصطلاح كې مؤجل د معجل په عوض اخستلو ته وائى.

دلږ لږ پور نه اخستلوقسم خوړل

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَقْبِضُ دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ فَقَبَضَ بَعْضَهُ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْبِضَ جَمِيعَهُ) لِأَنَّ الشَّرْطَ قَبْضُ الْكُلِّ وَلَكِنَّهُ بِوَصْفِ التَّفَرُّقِ، أَلَا يُرَى أَنَّهُ أَضَافَ الْقَبْضَ إِلَى دَيْنٍ مُعَرَّفٍ مُضَافٍ إِلَيْهِ فَيَنْصَرِفُ إِلَى كُلِّهِ فَلَا يَحْنَثُ إِلَّا بِهِ (فَإِنْ قَبَضَ دَيْنَهُ فِي وَزْنَيْنِ لَمْ يَتَشَاغَلْ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِعَمَلِ الْوَزْنِ لَمْ يَحْنَثْ وَلَيْسَ ذَلِكَ بِتَفْرِيقٍ) لِأَنَّهُ قَدْ يَتَعَذَّرُ قَبْضُ الْكُلِّ دُفْعَةً وَاحِدَةً عَادَةً فَيَصِيرُ هَذَا الْقَدْرُ مُسْتَثْنًى مِنْهُ

حل اللغة: ① يتشاغل:مشغوله كيدل ② تفريق:جدا كول

زباړه:- اوكه يوكس دا قسم اوخوړلو.چه زه به په خپل پور باندې داسې قبضه نه كوم.چه په لږ باندې قبضه اوكړم.اوپه لږ باندې نه،يعنى خپل پور به متفرق اولږ لږ نه وصول كوم.اوبيا ده لږ پور واخستلو.نونه حانثيږى.تردې چې واړه پور داسې په لږه لږه وصول كړى.ځكه چې د حانث كيدو شرط دا دې.چه واړه پور داسې وصول كړى.چه هغه لږ لږ وى.ولې دې ته نشى كتلې.كه قسم خوړونكى پور خپل ځان ته منسوب كړى.او پور معرفه كړى.نوددې حكم به د واړه پور وصولو ته منسوب وى.ددې امله به په هغه وخت كې

حانثيږي.چه دا شرط په كي موجود شي.يعني چې متفرق طور نې وصول كړي. ﴿لنډيز دا شوه.چه كه په يومجلس اوپه يوه ناسته كي نې د وصولئ په طور پور جلا جلا برخې كړې.نونه حانثيږي.اوكه دواړه پور واړه مقدار نې جلا جلا وصول كړلو.نوحانثيږي﴾ بيا كه خپله قبضه ئې دوې [دوه] خله اوتلله.اووصول نې كړله.اوپه دواړو خله تللوكې د دغه كارنه سوا په بل كاركې بوخت نشي.نونه حانثيږي.ځكه چې داسې وصول كونكي ته جلا جلا وصول كونكې نه وائې.ځكه چې كلّه كله واړه پور په يوځل وصول كول ناممكن هم وي.نوځكه دومره جداوالې به مستثنى وي.

تشريح:- په متن كي ذكرشوې صورت د مثال په رڼرا كي داسې زده كړئ كه د حالف په زيد باندې شل زره روپئ وې او هغه ورته په يومجلس كي اول پنځه زره روپئ د سلو نوټونه اوشمارل او بيا ئې پنځه زره روپئ د پنځه سوو روپو نوټونه اوشمارل او بيا ئې لس زره روپئ د زرو روپو نوټونه اوشمارل او هم په يومجلس كي ئې ورته وركړې نو دا وصولي په يوځائې وصولي ده متفرقه وصولي نه ده ددې امله به حالف په خپل قسم كي حانث نه وي اوكه د دوو قسطونو په مينځ كي په موده كي دومره وقفه اوشود چې په عرف او رواج كي هغه متفرق شمارلې اوګڼرلې شي نو په دې صورت كي به حالف حانث وي.

د ((إن كان لى إلا مأية درهم فإمراته طالق)) حكم

(وَمَنْ قَالَ: إِنْ كَانَ لِي إِلَّا مِائَةُ دِرْهَمٍ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ فَلَا يَمْلِكُ إِلَّا خَمْسِينَ دِرْهَمًا لَمْ يَحْنَثْ) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ عُرْفًا نَفْيُ مَا زَادَ عَلَى الْمِائَةِ وَلِأَنَّ اسْتِثْنَاءَ الْمِائَةِ اسْتِثْنَاؤُهَا بِجَمِيعِ أَجْزَائِهَا (وَكَذَلِكَ لَوْ قَالَ غَيْرَ مِائَةٍ أَوْ سِوَى مِائَةٍ) لِأَنَّ كُلَّ ذَلِكَ أَدَاةُ الِاسْتِثْنَاءِ.

ژباړه:- اوكه يوكس اووئيل.كه ماسره څه وي.سوا د سلو روپو نه .نوزما ښځه دې طلاقه وي.بيا ده سره صرف پنځوس روپئ راوختلې.نودې نه حانثيږي.ځكه چې په عرف كي د داسې كلام نه مقصود دا وي. چې د سلو روپونه زياتې نه دي.اوددې امله د سلو روپو په استثناء سره ددې د ټولو اجزاء استثناء اوشوه. يعني پنځوس هم مستثنى شوې.دغه ډول كه دا ئې اووئيل.كه زما په ملكيت كي د دوو سوو روپو يا سوا د سلو روپو نه وي.نوزما ښځه دې طلاقه وي.نوبيا هم كه پنځوس روپئ ورسره وي.هم دا حكم دي. ځكه چې دا واړه د استثناء حروف دي.

تشريح:- په ذكرشوى صورت كي ((الا ،غير،سوى)) حروف استثنا ذكر شوى دى د حروف استثنا په اړه كي دا خبره ياده ساته چې مستثنى هر هغه اسم وى چې د ((الا يا د اخواتها)) نه روسته واقع شوى وى د استثنى حروف څوارلس دى ①دون② سواء يا سوى③ وراء ④ نحو⑤ قبل⑥ بعد⑦ فوق⑧ تحت⑨ كل ⑩ بعض ⑪يمين⑫ شمال ⑬غير⑭ مثل ،حرف استثناء چې په كوم ځائې كي استعماليږى نوهلته چې د كوم حكم نسبت چې د حرف استثنى نه وړاندې شوې وى د هغې حكم اضافت د حرف استثنى نه روسته شى ته نشى كولې د عربوپه كلام كي حرف استثناء د((الا)) نه روسته واقع كيږى او ددې مقصد د وړاندينى نفى او د راروان اثبات وى اود په عام عرف كي د متكلم په قول كي د پڼ زيات رقم نفى او د قليل اثبات مقصود وى لكه څنګه چې په ذكر شوى صورت كي د هدايه د متن ((نفى ما زاد على المائة)) نه معلوميږى

مسائل متفرقة

ژباړه:- څومتفرق مسائل

(وَإِذَا حَلَفَ لَا يَفْعَلُ كَذَا تَرَكَهُ أَبَدًا) لِأَنَّهُ نَفَى الْفِعْلَ مُطْلَقًا فَعَمَّ الِامْتِنَاعُ ضَرُورَةَ عُمُومِ النَّفْيِ

ژباړه:- كه يوكس دا قسم اوخوړلو.چه زه به فلانې كارنه كوم.نوهغه به هميشه لپاره پريږدى.ځكه چې ده ددغه فعل د نه كولومطلق نفى اوكړله.نودنفى دعموم د امله به په هره زمانه كي ددې نه بچ اوسى.

تشریح:- په مذكوره صورت كي حالف د مطلق فعل د كاوه نه قسم خوړلې دې ځكه چي قول او فعل د دوو حالتونو نه خالي نه وي يا به مطلق وي او يا به مقيد وي د مطلق مطلب دا دې چي د متكلم قول او فعل د هرقسم توقيت او تمكن نه خالي نوچه كوم قول يا فعل ددې نوعيت وي هغې ته مطلق وئيلى شي په زيربحث صورت كي هم حالف د مطلق فعل نه قسم خوړلې دې نو هميشه لپاره به دې دغه كار نه كوى او كه وې كړلو نو حانث به وى.

ديوكار د كولوقسم خوړل.اويوځل هغه كول

(وَإِنْ حَلَفَ لَيَفْعَلَنَّ كَذَا فَفَعَلَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً بَرَّ فِي يَمِينِهِ) لِأَنَّ الْمُلْتَزَمَ فِعْلٌ وَاحِدٌ غَيْرُ عَيْنٍ، إِذْ الْمَقَامُ مَقَامُ الْإِثْبَاتِ فَيَبَرُّ بِأَيِّ فِعْلٍ فَعَلَهُ، وَإِنَّمَا يَحْنَثُ بِوُقُوعِ الْيَأْسِ عَنْهُ وَذَلِكَ بِمَوْتِهِ أَوْ بِفَوْتِ مَحَلِّ الْفِعْلِ.

حل اللغة: ① الياس ناامیدی ② ملتزم لازمونكي

زباړه:- اوكه دا قسم اوخورى.چه زه به دا كارخامخا كوم.اودهغې نه روسته دغه كاريوځل اوكړى.نوده خپل قسم پوره كړلو.ځكه چي كوم څيزده په خپل ځان باندي لازم كړي وو.هغه صرف يوځل بغيرد تعين نه كول وو.ځكه چي دا موقع د اثبات ده.كومه چي ددې تقاضا كوى.چه دې يوځل كارپه وجود كي راولى.اووې كړى.نوځكه چي كله هم دې يوځل دغه كاراوكړى.په خپل قسم كي به برى شى.اوكله چي ددغه كار د كاوه نه مايوسه شى.نوبيا به حانثيږى.اودا مايوسى به په هغه وخت كي وى.چه قسم خوړونكې مړ شى.يا چي په كوم محل باندې دا كاركيږى.هغه محل پاتې نشى. مثلاً چي دا قسم اوخورى.چه په دې پوزى به لمونځ كوم.نوچه كله ئې هم په دغه پوزى باندې هرقسم لمونځ اوكړلو.كه فرض وى اوكه نفل،نودا قسم پوره شو.اوكه په دغه باندې د لمونځ كولونه وړاندې مړ شو.يا پوزې اوسوزيدلو.نودې به حانث شى.

تشریح:- د دې مثال به داسې وى چي زيد قسم اوخوړلو چي زه به د خالد په دې موټر كي سفر كوم نو كه يو ځل ئې هم د هغه په موټر كي سفر اوكړو نودده قسم پوره شوالبته كه موټر د څه حادثې ښكار شو او د سفر قابل پاتې نشويا حالف مړ شونو په دې صورت كي به حانث وى ځكه چي د كوم فعل د كولو چي ده قسم خوړلو وو د هغې كول ناممكنه شو.او دې د هغې نه عاجز شو.نوځكه به حانثيږى اود مرګ په صورت كي به دده وارثان دده د اړخه د قسم كفاره وركوى.كه حالف وصيت كړى وى نو وجوباً به ئې وركوى اوكه وصيت ئې نه وى كړې نو استحباباً ئې وركولې شى.

دحاكم يوكس ته د شرپسندد خبر كولوقسم وركول

(وَإِذَا اسْتَحْلَفَ الْوَالِي رَجُلًا لِيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دَخَلَ الْبَلَدَ فَهَذَا عَلَى حَالِ وِلَايَتِهِ خَاصَّةً) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ دَفْعُ شَرِّهِ أَوْ شَرِّ غَيْرِهِ بِزَجْرِهِ فَلَا يُفِيدُ فَائِدَتَهُ بَعْدَ زَوَالِ سَلْطَنَتِهِ، وَالزَّوَالُ بِالْمَوْتِ وَكَذَا بِالْعَزْلِ إِلَى ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

حل اللغة: ① زوال ختميدل ② سلطنة غلبة ،تسلط

زباړه:- كه حاكم يوكس ته قسم وركړلو.چه دې ملك ته څوك شرپسند راشى.يعنى غل،ډاكو،وغيره،نود هريوبه موږ ته خبرراكوي.نوداقسم به ترهغه وخته پورې پاته وى.ترڅوچه دغه حاكم برقرار وى.ځكه چي ددې قسم وركولومقصد دا دې.چه دې شرپسند ته سزا وركړى.اودده د شريا دنورو دشر نه بچ شى.نوچه د دغه حاكم اختيارختم شى.نوبيا د خبر ور كاوه فائده نشته.اودا اختيار به په هغه صورت كي ختميږى.چه دې مړ شى.يا دې ددغه عهدې نه معزوله كړې شى.نوبيا هم په ظاهره هم دا حكم دې.

تشریح:- صورت د مسئلې به دا وى چي زيد د پيښنو ښارد پوليس مشرافسردې ده يوهوښيار او خبرلوټ كس خالد ته قسم وركړو چي كله هم ته په چا مفسد اوغل ډاكو باندې خبر شوې چي پيښنورښار ته را داخل شونو ته به ماته خبر راكوې نو په دې صورت كي به خالد ترهغه وخته پورې ددې خبر ور كاوه ذمه وار وى ترڅو چي زيد په دغه عهده باندې كار كوى او كه مثلاً دپيښنور ښار نه ئې بل ښار ته بدل شو يا ريټائرشو نو په خالد باندې بيا دغه ذمه وارى پاته پاتې نشوه .يعنى كه څوك فساد كونكې پيښنور ښار ته داخل شى

او خالد ته د هغه د داخليدو علم اوشي او بيا هم هغه د پوليس بل مشرافسر ته خبر ورنه كې (نكړي)نو دې نه حانثيږي.ځكه چې د ده نه خو قسم بل مشرافسر اخستې وو.ده خو ترې نه وو اخستې.

زيد ته دخپل غلام وركولوقسم كول اودهغه دهغه انكار كول

(وَمَنْ حَلَفَ أَنْ يَهَبَ عَبْدَهُ لِفُلَانٍ فَوَهَبَهُ وَلَمْ يَقْبَلْ بَرَّ فِي يَمِينِهِ) خِلَافًا لِزُفَرَ فَإِنَّهُ يَعْتَبِرُهُ بِالْبَيْعِ لِأَنَّهُ تَمْلِيكٌ مِثْلُهُ. وَلَنَا أَنَّهُ عَقْدُ تَبَرُّعٍ فَيَتِمُّ بِالْمُتَبَرِّعِ وَلِهَذَا يُقَالُ وُهِبَ وَلَمْ يَقْبَلْ، وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ إِظْهَارُ السَّمَاحَةِ وَذَلِكَ يَتِمُّ بِهِ، أَمَّا الْبَيْعُ فَمُعَاوَضَةٌ فَاقْتَضَى الْفِعْلَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ

حل اللغة: ① السماحة: بخشش

ژباړه:- كه يوكس قسم اخوړلو.چه زه به خپل غلام فلاني «زيد» ته وركوم.بيا ورته ده هبه كړلو.هغه زيد قبول نكړلو.نودې قسم خوړونكى خپل قسم پوره كړلو.البته امام زفر رحمه الله په دې كې اختلاف كړې دې.ځكه چې هغوى هبه په بيع باندې قياس كړې ده.ځكه چې هبه هم د بيع پشان د بل كس مالك جوړلو نوم دې.اوزموږ دليل دا دې.چه هبه يوه داسې معامله ده.چه په دې كې د بل سره احسان اوښه سلوك كولې شي.نوځكه به صرف داحسان كونكي په فعل سره دا پوره كيږي.هم دا وجه ده.چه په عامه توګه دا وئيلى شي. چې زيد فلاني ته دا څيزهبه كړلو.خوهغه قبول نكړلو.يعنى د نه قبلولو باوجود زيد ته هبه كونكې وائي.او دوهم دليل دا دې.چه دداسې هبې نه مقصود د بخشش اظهاروى.اودا اظهارصرف په هبه كاوه باندې پوره كيږي.اوبيع خواول بدل «د عوض به په بدل كي د عوض» نوم دې.يعنى دواړه فريق د يوبل نه عوض قبول كړي. «مثلاً يوكس ثمن وركړي.اوبل كس مبيع وركړي» نوځكه د بيع تقاضا دا ده.چه د دواړو طرفونو نه فعل موجود شي.نوهله به هغه پوره كيږي.

تشريح:- يعنى زموږ په نيز هبه يو داسې فعل دې چې دا د واهب په فعل سره پوره كيږي كه موهوب له دغه هبه قبوله كړي اوكه قبوله ئې نكړي.ځكه چې په هبه كې د بل اړخ نه عوض نشته لكه مثلاً زيد ، خالد فقير ته سل روپۍ خيرات وركړو.نو دده دا سل روپۍ صدقه ده.ځكه چې په صدقه كې هم عوض نه وي.نودغه ډول به په زير بحث صورت كې هم چې حالف دغه شى هبه كړلو نود ده قسم پوره شو.ځكه د هبې فعل پوره شو.اوحالف قسم هم د هبې خوړلې دې.

دګل ريحان نه بويولوقسم كول اوبيا ګلاب يا ګل ياسمين بويول

(وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشُمُّ رَيْحَانًا فَشَمَّ وَرْدًا أَوْ يَاسَمِينًا لَا يَحْنَثُ) لِأَنَّهُ اسْمٌ لِمَا لَا سَاقَ لَهُ وَلَهُمَا سَاقٌ

حل اللغة: ① يشم: بويوى ② ورد: ګلاب ③ ساق: چلولې شوې

ژباړه:- اوكه يوكس قسم اوخوړلو.چه زه به ګل ريحان نه بويوم.اوبيا ده ګلاب يا ګل ياسمين بوې كړلو. نودې نه حانثيږي.ځكه چې ريحان د داسې بوټې يا ونې نوم دې.چه دهغې ساق «تنه» نه وي.بلكه د زيلۍ پشان په مځكه خوريږي.حالانكه د ګلاب اوګل ياسمين څته (تنه) وي. «دساق نه مراد د لو كولوډنډۍ ده» په كومو چې شاخونه راخيژي.اوپه لغت كې ريحان هرخوشبودار بوټي ته وائي.په دې معنى كې ګلاب اوګل ياسمين هم ګډ دي.اودفقهاؤ په نيزچه دكوم بوټي ډنډه دهغې د پاڼړو پشان خوشبوداره وي. «هغه ته ګل ريحان وائي» اوپه لويديځ «دلغت په كتاب كې» هم داسې دي.اهل عراق هم دغه وائي.كوم چې مصنف رحمه الله فرمائيلى دى.دفخرالاسلام اوصدرالشهيد هم دا قول دې.خودفتح القديرنه دا معلوميږي.چه په دې كې به دعرف اعتباركولې شي.نوچه په كوم ملك كې كوم شى په ګل ريحان سره مشهور وي.دهغې په بويولو به حانثيږي.

تشريح:- په ذكرشوى صورت كې حالف د ګل ريحان د بويولو نه قسم خوړلې دې.نو كه ده د ګل بل قسم بوئى كړلو.دې نه حانثيږي ځكه چې ګل ريحان د ګولونو په قسمونو كې يو خاص قسم دې د بل ګل په

بويلو باندې نه حانثيږي البته که داسې قسم ئې خوړلې وي چې زه به هرقسمه ګل نه بويوم.نو په دې صورت کې که ګل ريحان بوئې کړي اوکه بل حانثيږي به.

د بنفشه د نه اخستلو قسم کول

(وَلَوْحَلَفَ لَايَشْتَرِي بَنَفْسَجًا وَلَانِيَّةَ لَهُ فَهُوَعَلَى دُهْنِهِ) اِعْتِبَارًا لِلْعُرْفِ وَلِهٰذَا يُسَمّٰى بَائِعُهُ بَائِعَ الْبَنَفْسَجِ وَالشِّرَاءُ يَنْبَنِي عَلَيْهِ
وَقِيلَ فِي عُرْفِنَا يَقَعُ عَلَى الْوَرَقِ (وَإِنْ حَلَفَ عَلَى الْوَرْدِ فَالْيَمِينُ عَلَى الْوَرَقِ) لِأَنَّهُ حَقِيقَةٌ فِيهِ وَالْعُرْفُ مُقَرِّرٌ لَهُ، وَفِي
الْبَنَفْسَجِ قَاضٍ عَلَيْهِ.

حل اللغة: ① بنفسج: يو قسم بوټي دې چې تيل ترې ويستلې شي ② دهن: تيل ③ الورق: پاڼړه ④ الورد: ګلاب

ژباړه:- اوکه دا قسم ئې اوخوړلو.چه زه به بنفشه نه اخلم.اوپه هغه وخت کې ئې څه نيت نه وو.نودې قسم څخه به د بنفشه تيل مراد وي.دعرف داعتبار په وجه،اوددې امله چې د بنفشه تيل خرڅوي.نوهغه ته بنفشه فروش وائي.ددې مطابق د خرڅولوحکم هم دې.اوبعضې عالمانو ﷺفرمائيلي دي.چه زموږ په عرف کې ددې قسم اثر د بنفشه په پاڼړو باندې کيږي. ﴿اوفقيه ابو الليث﴾فرمائيلي دي چې زموږ په عرف کې چې دبنفشه تيل خرڅولو باندې نه حانثيږي.البته په هغه وخت کې پرې حانثيږي.چه ددې نيت ئې کړې وي.

تشريح:- که يوکس دا قسم اوخوړلو.چه زه به بنفشه نه اخلم .اوپه دغه وخت کې د ده څه نيت نه وي . نوددې څخه به مراد د بنفشه تيل وي ځکه چې په يمين کې د عرف اعتبار کولائ شي اوپه عرف کې د بنفشه نه د هغې تيل مراد اخستې شي هم دا وجه ده چې څوك د بنفشه تيل خرڅوي نو هغه ته بنفشه فروش وائي.البته که د ده په نيت کې د بنفشه پاڼړې وي نو بيا به ترې هم پاڼړې مراد وي تيل به نه وي ځکه چې نيت د عرف نه زيات قوي دليل دې.

(كِتَابُ الْحُدُودِ)

ژباړه:- کتاب دې د حدود شرعيه په بيان کې..

دحد لغوي اوشرعي معنی اودجاري کولوحکمت

قَالَ: اَلْحَدُّ لُغَةً: هُوَالْمَنْعُ، وَمِنْهُ الْحَدَّادُ لِلْبَوَّابِ. وَفِي الشَّرِيعَةِ: هُوَالْعُقُوبَةُ الْمُقَدَّرَةُ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالٰى حَتّٰى لَا يُسَمّٰى الْقِصَاصُ حَدًّا لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَبْدِ وَلَا التَّعْزِيرُ لِعَدَمِ التَّقْدِيرِ. وَالْمَقْصِدُ الْأَصْلِيُّ مِنْ شَرْعِهِ الْاِنْزِجَارُ عَمَّا يَتَضَرَّرُ بِهِ الْعِبَادُ، وَالطَّهَارَةُ لَيْسَتْ أَصْلِيَّةً فِيهِ بِدَلِيلِ شَرْعِهِ فِي حَقِّ الْكَافِرِ.

حل اللغة: ① الحداد: دربان ② العقوبة: عذاب ،سزا ③ التعزير: هغه سزا چې د قاضي په اختيار کښې وي ④ الانزجار: زورنه ورکول

ژباړه:- مصنف﴿﴾فرمائي.چه په لغت کې حد منع کونکي ته وائي.ددې امله دربان ته حداد وائي. ﴿ځکه چې هغه خلګ د دننه تلو نه منع کوي﴾ اوپه شريعت کې حد هغه سزا ته وائي.چه هغه صرف د الله تعالی دحق لپاره مقررشوې وي.تردې چې قصاص ته هم حد نشي وئيلې.ځکه چې دا د بندګانو حق اخستلو لپاره دې. ﴿ددې امله ولي ته د قصاص معاف کاوه اختيارشته﴾ اوتعزيرته هم حد نشي وئيلې.ځکه چې هغه مقدرنه وي.يعني دهغې څه حد نه وي مقرر.چه په هغې کې کمې زياتې نشي کيدې. ﴿بلکه قاضي ته دکمې اوبيشي اختيارحاصل وي﴾ دحد جاري کولواصلي مقصد دا دې.چه په کومه خبره خلګو ته تکليف ملاويږي.دهغې کونکي ته تنبيه اوسزا ورکړې شي.دګناه نه پاکيدل د حد اصلي مقصد نه دې. دې دليل دا دې.چه حد د کافرو په حق کې هم ثابت دې.حالانکه کافرخوکله هم د ګناه نه نه پاکيږي.

تشريح:- په شريعت کې دکوموګناهونوحدود واقع شوي دي.که دهغې حدود په دغه مرتکب باندې قائم کړې شي.نودا کفاره جوړيږي.نودا مسئله مختلف فيها ده.چه حدود کفارات دي اوکه نه نو په دې کې دوې [دوه] مذاهب دي.يودا چې حدود کفارات دي.صرف حدمحاربه کفاره نه ده. دوهم دا چې دا زواجر دي

۞د احنافو څه مسلك دې.په دې كې لږ غوندې اختلاف معلوميږي. اګرچه په متاخرينوكې داختلاف تذكره نشته.علامه ابن الهمام،په فتح القدير كې اوهم د دوی په اتباع كې علامه زين بن نجيم رحمه الله په البحرالرائق كې اوعلامه علاؤ الدين سبكی رحمه الله په درمختاركې ليكلي دی.چه زموږ په نيزحدود كفارات اوسواترنه دی.بلكه زواجردی.

۞دصاحب هدايه رحمه الله دكلام نه معلوميږي.چه په حدودو كې دوې [دوه] فائدې دی. يودا چې حدود زواجر دی.اوبل دا چې سواتر دی.اولنی مقصد اصلی دې.او دوهم مقصد ضمني اوتبعی دې.دوی فرمائی. ،،والمقصد الأصلي من شرعه الإنزجار عما يتضرر به العباد. والطهارة ليست أصلية فيه.بدليل شرعه في حق الكافر،،

۞صاحب دعنايه رحمه الله فرمائی.چه ددې نه معلوميږي.چه د حدودو دوې [دوه] مقاصد دی.يواصلی اوهغه ،،الإنزجار عما يتضرر به العباد،، ځكه چې ددې مشروعيت عام دې.او دوهم مقصد غيراصلی دې. يعنی .طهارة عن الذنوب،،

۞ په دې اړه كې د حضرت كشميری رحمه الله رائې قول فيصل دې هغوی فرمائی .چه د حد جاری كولونه روسته درې حالات كيداې شی.دحد جاری كيد نه روسته به يا خو محدود توبه كوی اوي به نه كوی.كه توبه اونكړی.نو دوباره به يا ددې ګناه نه بچ كيږی او يا نه،كه دې توبه اوباسی.نوبيا خو په اتفاق سره دا حد دده لپاره كفاره ده.اوكه توبه اونه باسی.خو ده ته عبرت حاصل شوې وی.او دوباره د داسې ګناه اعاده نه كوی.نوبيا هم دا حد كفاره ګرځی.اوكه ده توبه هم نه وی كړې.اود جرائمو د ارتكاب نه هم نه منع كيږی.نو د داسې كس لپاره حدود كفاره نه جوړيږی. اوكه تفصيل ګوری نو كشف الباری اړخ ته رجوع اوكړئ

د زنا د ثبوت طريقه

قَالَ (الزِّنَا يَثْبُتُ بِالْبَيِّنَةِ وَالْإِقْرَارِ) وَالْمُرَادُ ثُبُوتُهُ عِنْدَ الْإِمَامِ لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ دَلِيلٌ ظَاهِرٌ، وَكَذَا الْإِقْرَارُ لِأَنَّ الصِّدْقَ فِيهِ مُرَجَّحٌ لَا سِيَّمَا فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِثُبُوتِهِ مَضَرَّةٌ وَمَعَرَّةٌ، وَالْوُصُولُ إلَى الْعِلْمِ الْقَطْعِيِّ مُتَعَذِّرٌ فَيُكْتَفَى بِالظَّاهِرِ.

حل اللغة: ① **لاسيما:** خاص كر ② **مضرة:** تكليف اوضرر ③ **معرة:** شرم ④ **يكتفى:**بسنه (بسوالی) كولې

ژباړه:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.چه د زنا ثبوت په ګواهانو سره كيږی.اوپه اقراركولوسره،اود ثبوت نه مراد داسې ثبوت دې.كوم چې د وخت دامام مخكې وی.ځكه چې ګواهی يوظاهری دليل دې.اوداقرارهم دا حكم دې.ځكه چې په اقراركې هم رښتيا غالب وی.بيا خاص كردكوم څيزپه ثبوت كې چې نقصان اوشرم وی.او دمسئلې حقيقی علم ته رسيدل ناممكن وی.نوځكه صرف په ظاهرباندې اكتفاء كولې شی.

تشريح:- دګواهئ اود اقرارپه دواړوكې دهريوتفصيلی حال مصنف رحمه الله روستو بيان كړې دې.

دګواهئ طريقه كار

قَالَ (فَالْبَيِّنَةُ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَةٌ مِنْ الشُّهُودِ عَلَى رَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ بِالزِّنَا) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ} وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ} {وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِلَّذِي قَذَفَ امْرَأَتَهُ ائْتِ بِأَرْبَعَةٍ يَشْهَدُونَ عَلَى صِدْقِ مَقَالَتِك} (١) وَلِأَنَّ فِي اشْتِرَاطِ الْأَرْبَعَةِ يَتَحَقَّقُ مَعْنَى السَّتْرِ وَهُوَ مَنْدُوبٌ إلَيْهِ وَالْإِشَاعَةُ ضِدُّهُ

حل اللغة: ① **قذف:**چا باندې د زنا الزام لګول ② **الستر:**پرده ③ **مندوب:**مستحب ④ **الاشاعة:** خورول

ژباړه:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.دګواهئ ور كاوه صورت به دا وی.چه په ګواهانوكې ځلور نفر په يوسړی اوښځه باندې د زنا ګواهی وركړی.دالله تعالى ددې فرمان د امله چې ((فاستشهدوا عليهن أربعة منكم)) يعنی په داسې ښځوباندې دخپلو سړو نه ځلورګواهان اولټوئ.اوالله تعالى دا هم فرمائيلی دی.((ثم لم يأتوا بأربعة شهداء)) بيا كه دغه خلګو ځلورګواهان قائم نكړل.نواورسول الله ﷺ په هغه سړی باندې چا چې په

---

١) غربه الزيلعي بهذا اللفظ ثم أخرج عدة أحاديث ما هو بمعناه منها حديث أنس بن مالك رضي الله عنه وعزاه إلى أبي يعلى الموصلي رحمه الله نصب الراية ٣/٤٧٨)_

خپله ښځه باندې د زنا تهمت لګولې وو.داسې فرمائیلې وو.ته داسې څلورسړی راوله.څوك چې ستا په خبره باندې ګواهي ورکړی.اودا هم دلیل دې.چه دڅلوروسړو په شرطیت کې د پرده پوشۍ معنی پرته ده.اوپرده اچول یوداسې کاردې.چه ددې ترغیب ورکړې شوې دې.اوفحش اودبې حیائې خبرې ته شهرت ورکول ددې پرده پوشۍ دعمل نه خلاف دې.

تشریح:- روایت دحضرت ابوهریره اوابن عمر ﷺ نه نقل دې.چه کوم مسلمان دبل مسلمان پرده واخستله.نوالله تعالی به په دنیا اوآخرت کې دده پرده واخلي.ترمذي ابوداود اونسائی ددې روایت کړې دې.

د زنا تحقیق کول

(وَإِذَا تَمَّتِ الشَّهَادَةُ سَأَلَهُمُ الْإِمَامُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ وَكَيْفَ هُوَ وَأَيْنَ زَنَى وَمَتَى زَنَى وَبِمَنْ زَنَى ؟) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ اسْتَفْسَرَ مَاعِزًا عَنِ الْكَيْفِيَّةِ وَعَنِ الْمَزْنِيَّةِ (۱) وَلِأَنَّ الِاحْتِيَاطَ فِي ذَلِكَ وَاجِبٌ لِأَنَّهُ عَسَاهُ غَيْرُ الْفِعْلِ فِي الْفَرْجِ عَنَاهُ أَوْزَنَى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْفِي الْمُتَقَادِمِ مِنَ الزَّمَانِ أَوْكَانَتْ لَهُ شُبْهَةٌ لَا يَعْرِفُهَا هُوَوَلَا الشُّهُودُ كَوَطْءِ جَارِيَةِ الِابْنِ فَيَسْتَقْصِي فِي ذَلِكَ احْتِيَاطًا لِلدَّرْءِ

حل اللغة: ① استفسر پوښتنه کول② المزنية هغه زنانه چې زنا ورسره شوې وی ③ احتيال حیله جوړول

ژباړه:- اوکه دغه ګواهان په زنا باندې ګواهي ورکړی.نوبیا به امام دهغوی نه د زنا په اړه کې پوښتنه کوی.چه زنا څه ځیزدې.اوپه کومه طریقه کیږی.اوپه کوم محل کې کیږی.اوده زنا په کوم ځائې کې کړې ده.اوکله ئې کړې ده.اوچا سره ئې کړې ده.ځکه چې رسول اللهﷺ د حضرت ماعزبن مالك ﷺ نه د زنا کیفیت ،اودکومې ښځې سره چې ئې زنا کړې وه.ددې ټولوخبروپه اړه کې تپوسونه کړی وو.لکه څنګه چې ابوداود ددې روایت کړې دې.په داسې ډول سوالونوکې احتیاط ددې امله واجب دې.چه کیدای شی.دې کس په فرج کې دڅه کولوپه ځائې څه بل شی مراد اخستې وی.مثلاً نظربازی «کتل راکتل» کوکۍ اخستل،ئې زنا کړلې وی.یا ده په دارالحرب کې زنا کړی وی.یا په پخوا زمانه کې ئې کړې وی.یا دکومې ښځې سره چې ئې زنا کړې وی.هلته داسې څه شبه وی.چه دهغې د امله حد ساقط کیدای شی.حالانکه هغه په خپله دا نه پیژنی. «چه په دې باندې حد ساقطیږی» مثلاً چې یوکس دخپل ځوئی د وینځې سره وطی اوکړله. «نوپه دې صورت کې حد نه جاری کیږی» لنډیز دا چې ددې ټولو خبروپه اړه کې به امام ښه تحقیق اومعلومات اوکړی. کیدای شی.چه په دې طریقه د حد ساقط کیدو څه موقع په لاس راشی.

تشریح:- «فیستقصی فی ذلک احتیاطا..الخ» نوښه به معلومات حاصل کړی.چه دحدنه جاری کولوڅه امکان پاتې نشی.ددې وضاحت دا دې.چه په کوم سړی باندې ګواهانود زنا ګواهي ورکړې وی. کیدای شی.چه هغوی ته دزنا پوره معنی معلومه نه وی.یوسړی یوه پردۍ ښځه ښکل کړله.اوبیاډیر وارخطا د نبی ﷺ په مجلس کې حاضرشو.اوعرض ئې اوکړلو.یارسول اللهﷺ په مابانديې حد جاری کړه.نو رسول اللهﷺ پرې حد جاری نکړلو.او ورته ئې اوفرمائیل.تا مونږ سره لمونځ اوکړو.هغه ورته عرض اوکړو.آو.نو نبیﷺ ورته اوفرمائیل.لمونځ او اودس واړه ګناهونه معاف کوی.اوحد ئې پرې جاری نکړلو.

③دغه ډول که په دارالحرب کې زنا اوکړی.نوپه هغه باندې حد نه جاری کیږی.دغه ډول که ګواهانوپه یوکس باندې د زنا کولوګواهي ورکړله.اودا معلومیدله.چه په زنا باندې کافی موده تیره شوې دې.نوپه دې باندې زنا نه ثابتیږی.ځکه چې ګواهانودومره اوږده موده په ګواهۍ کولوکې روستوالې اوکړلو.اودشریعت حاکم ته ئې خبرورنکړلو.نودا نفرپه خپله فاسقان شول.اوددې په وجه دوی دګواهۍ ورکولوقابل پاتې نشو.یادغه ډول که د یوې ښځې سره داسې حرکت اوکړی.اوهغه دده د خوی منکوحه وی.یا دده مملوکه وی.تردې چې هغه ګواه بلکه هغه سړې په خپله په دې باندې د زنا ګمان کوی.حالانکه د شریعت په نظرکې

(۱) من حديث نعيم بن هزال أخرجه أبوداود فى الحدود تب ۷ رقم ۴۳۷۷ وأحمد فى المسند ۲۱۷/۵) والحاكم فى المستدرك ۳۶۳/۴) والنسائي فى السنن الكبرى ۳۰۶/۴) رقم ۷۲۷۴ والبيهقي فى السنن الكبرى ۵۷۴/۸)_

په دې کښې داسې څه خبره موجود نه ده.چه په هغې باندې حد ساقط شي.نوځکه دټولوخبرومعلومات کول پکار دی.چه په غلطه طريقه حدجاري نشي.

دګواهانوصفات

(فإذا بينوا ذلك وقالوا رأيناه وطئها في فرجها كالميل في المكحلة وسأل القاضي عنهم فعدلوا في السر والعلانية حكم بشهادتهم) ولم يكتف بظاهر العدالة في الحدود احتيالا للدرء، (قال عليه الصلاة والسلام ادرؤا الحدود ما استطعتم) بخلاف سائر الحقوق عند أبي حنيفة. وتعديل السر والعلانية نبينه في الشهادات إن شاء الله تعالى. قال في الأصل يحبسه حتى يسأل عن الشهود للاتهام بالجناية وقد حبس رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلا بالتهمة[2]، بخلاف الديون حيث لا يحبس فيها قبل ظهور العدالة، وسيأتيك الفرق إن شاء الله تعالى.

حل اللغة: ① ميل د رانجو سلائی ② المكحلة رجرومه ③ السر پټ ④ العلانية ښکاره ⑤ تهام تهمت لګول ⑥ حبس بندشول ⑦ الجناية ګناه

زباړه- بيا چې کله دغه واړه ګواهان ددې سرې د زنا کيفيت بيان کړي ووائي چه موږ فلانی سړی په داسې حالت کې ليدلې وو.چه هغه خپله شرمګاه دفلانۍ په ښځې په شرمګاه کې داسې ورننه کړې وه لکه څنګه چې په رجرومه کې سلئ ورداخلولې شي.بيا به قاضي ددغه ګواهانو دحالاتو په باره کې معلومات اوکړي.نوچه په پټه اوپه ښکاره په هرحالت کې ددوی عدالت معلوم شي نوبيا به قاضي دهغوی په ګواهئ باندې فيصله اوکړي.يعنې د زنا اوحدودو په ګواهئ کې به قاضي ددوی ظاهری عدالت «ظاهری شکل اوشباهت اودهغوی په اسلام باندې اکتفاء کوی.چه دحدنه جاری کيدو حيله پيدا شي يعنې چې د ټښتيدو نه بچ شي.په خلاف د نوروحقوقوځکه چې په هغې کې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد دغه ګواهانو په ظاهری عدالت باندې اکتفا کولې شي.خو په دې شرط چې دوهم فرق په دغه ګواهانوخصم اعتراض نه کوی»اودګواهانود پټ اوښکاره عدالت په اړه کې به انشاء الله موږ په کتاب الشهادت کې بيان اوکړو.امام محمد رحمه الله فرمائيلی دی.چه قاضي به هغه سړی دکوم ګواهی چې پيش شوې وی هغه به په بندی خانه (جيلخانه) کې بند کړي.تردې چې دګواهئ اصلی حالت معلوم شي ځکه چې په ده باندې د جرم «يعنی دعيب لګولو» تهمت موجود دې.اورسول الله ﷺ هم يوکس د تهمت په وجه په بندی خانه کې چوړې وو. «رواه ابوداود» په خلاف د پور ځکه چې په هغې کې چې ترڅوعدالت نه وی ښکاره شوې مقروض به په قيد کې نشی اچولې.اودفرق وجه به انشاء الله تعالى روستو بيان کړې شي «خومصنف رحمه الله نوموړی نه دی بيان کړي»

داقرارکولوطريقه کار

قال (والإقرار أن يقر البالغ العاقل على نفسه بالزنا أربع مرات في أربعة مجالس من مجالس المقر كلما أقر رده القاضي) فاشتراط البلوغ والعقل لأن قول الصبي والمجنون غير معتبر أو غير موجب للحد واشتراط الأربع مذهبنا، وعند الشافعي يكتفى بالإقرار مرة واحدة اعتبارا بسائر الحقوق، وهذا لأنه مظهر، وتكرار الإقرار لا يفيد زيادة الظهور بخلاف زيادة العدد في الشهادة. ولنا حديث ماعز {فإنه عليه الصلاة والسلام أخر الإقامة إلى أن تم الإقرار منه أربع مرات في أربعة مجالس}[3] فلو ظهر ما دونها لما أخرها لثبوت الوجوب ولأن الشهادة اختصت فيه بزيادة العدد، فكذا الإقرار إعظاما لأمر الزنا وتحقيقا لمعنى الستر، ولا بد من اختلاف المجالس لما روينا، ولأن اتحاد المجلس أثرا في جمع المتفرقات، فعنده يتحقق شبهة الاتحاد في الإقرار، والإقرار

1) من حديث عائشة رضي الله عنها أخرجه الترمذي في الحدود باب ۲ رقم ۱۴۲۴)_
2) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الأقضية باب ۲۹ رقم ۳۶۳۰ والترمذي في الديات باب ۲۰ والنسائي في السرقة باب ۲ رقم ۴۵۳۱ والحاكم في المستدرک ۱۰۲/۴ وأحمد في المسند ۲/۵)_
3) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاري في الحدود باب ۲۲ رقم ۶۸۱۵ ومسلم في الحدود رقم ۱۶)_

قَائِمٌ بِالْمُقِرِّ فَيُعْتَبَرُ اخْتِلَافُ مَجْلِسِهِ دُونَ مَجْلِسِ الْقَاضِي. وَالِاخْتِلَافُ بِأَنْ يَرُدَّهُ الْقَاضِي كُلَّمَا أَقَرَّ فَيَذْهَبُ حَيْثُ لَا يَرَاهُ ثُمَّ يَجِيءُ فَيُقِرُّ، هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ، لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ طَرَدَ مَاعِزًا فِي كُلِّ مَرَّةٍ حَتَّى تَوَارَى بِحِيطَانِ الْمَدِينَةِ. (۱)

حل اللغة: ① **اعظاماً** لپاره د لوئي كولو ② **طرد** شړلي وو ③ **توارى:** پناه شو ④ **حيطان:** ديوالونه

ژباړه:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي. چه په خپله داقرار كولو صورت به دا وي. چه عاقل بالغ به خپل ځان په څلورو مجلسونوكي دزنا كولو اقرار اوكړي. اوهرځل چي اقرار كوي. نو قاضي به هغه رد كوي. په دې مسئله كي دمجرم په اړه كي دعاقل اوبالغ شرطونه ددې امله لګولي شوي دي. چه د ماشوم اوليوني اقرار معتبر نه دي. يا دا چي په دوى باندې حد نه واجبيږي. اودڅلور ځله اقراركول زموږ مذهب دې. امام شافعي رحمه الله فرمائي. چه صرف يوځل اقراركول كافي دي. لكه څنګه چي په نوروحقوقوكي يوځل اقرار كول كافي وي. اودا ددې امله چي اقرار يوښكاره كونكې قول دې. اوچه باربار اقراركوي. نو په دې باندې د زيادت اظهار څه فائده نه ملاويږي. په خلاف دګواهانو په شماركي د زيادت خبره، يعنې چي ګواهان زيات وي. نو د زړه اطمينان زياتيږي. اوزموږ دليل هغه حديث دې. چه په هغې كي دحضرت ماعزبن مالك رضي الله عنه قصه ذكر ده. چه رسول الله ﷺ په هغه باندې دحد په قائمولوكي روستوالي اوكړلو. تردې چي دهغه څلور ځله په څلورو مجلسونوكي اقراربرابرشو. ددې روايت امام بخاري، مسلم، ابوداود اونسائي رحمهم الله وغيره كړې دې. بيا كه د څلورو نه په كم مقداركي هغه اقرارښكاره كيدلو. په كوم چي حد لازميدلو. نونبي ﷺ به د حد په جاري كاوه كي روستوالي نه كولو. ځكه چي حد به واجب شوې وو. «اوچه كله يوځيز واجب شي. نو په هغې كي تاخير د پيغمبر عليه السلام دشان سره نه ښائي» اوبله ددې امله چي په دې طريقه كي د پردې اچولو معنى موجود ده. دغه ډول په اقراركي دمجلس اختلاف هم ضروري دې. ددې دليل هغه حديث دې. دكوم روايت چي موږ وړاندې كړې دې. اوددې امله هم يومجلس د مختلفوځيزونو په راجع كولوكي دخل اندازي كوي. اوچه مجلس يو وي. نوداقرارد يووالى شبه هم پيدا كيږي. اواقرارد اقراركونكي پورې قائم وي. نوځكه به داقراركونكي د مجلس اختلاف معتبر وي. خودقاضي دمجلسونود اختلاف څه اعتبار نشته. اودمجلس دمختلف كيدو صورت به دا وي. چه هغه مجرم كله د قاضي په وړاندې اقرار اوكړي. نو قاضي به هرځل يعنې چي كله هم هغه اقرار كوي. قاضي به ئې رد كوي. تردې چي هغه لاړ شي. اودومره لرې شي. چه قاضي هغه نشي ليدلې. اوبيابه دوباره راشي. او اقراربه اوكړي. داامام ابوحنيفه رحمه الله نه هم دا نقل دي. ځكه چي رسول الله ﷺ به دحضرت ماعز رضي الله عنه اقرارهرځل رد كولو. تردې چي هغه به د مدينې د ديوالونو نه پناه شو.

تشريح:- «لانه طرد ما عزا فى كل مرة» ځكه چي رسول الله ﷺ به هر ځل حضرت ماعز رضي الله عنه واپس كړې وو. تردې چي هغه به د مدينې د ديوالونو نه پناه شو.

دحضرت ماعز رضي الله عنه د واقعه ګنړ روايتونه* ① حضرت ماعز رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته ورغلو. اوعرض ئې اوكړلو. يارسول الله ﷺ ما زنا كړې ده. نوتاسو ما پاك كړئ. په دې باندې رسول الله ﷺ مخ واړلو. نوهغه د بل اړخ نه راغلو. اوهم دا عرض ئې اوكړلو. نبي ﷺ بيا هم مخ واړلو. بيا هغه د دريم اړخ نه راغلو. اوهم دغه عرض ئې اوكړلو. اوبيا د څلورم اړخ نه راغلو. اودا عرض ئې اوكړلو. نورسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل. چه تاڅلور ځله اقراراوكړلو. دا راته اوښايه. چه تا چا سره زنا كړې ده. هغه اووئيل. ما د فلانئ ښځې سره زنا كړې ده. نبي ﷺ ورته اوفرمائيل. كيداې شي. تا ترې صرف بوسه اخستې وي. كيداې شي چي ته ورته ورتر غاړه وتلې ئې. هغه اووئيل. بلكه د ښكاره زنا اقرارئې اوكړلو. په دې باندې نبي ﷺ اوفرمائيل. كيداې شي. په تا د دليونتوب اثر وي. اوپه يوروايت كي دي. چه نبي ﷺ دهغه دكور خلګو ته څوك د تحقيق كاوه لپاره اوليږلو. چه آيا تاسو ته ددې كس په عقل كي څه كمزوري اوفطور ښكاري. هغوى اووئيل نه. بيا نبي ﷺ وويل دا محصن «اواده شوې» دې؟ نومعلومه شوه. چه اوهغه واده شوې وو. نوبيا نبي ﷺ د هغه د رجم كاوه حكم وركړلو.

۱) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج ما هو بمعناه عن أبي هريرة رضي الله عنه وعزاه إلى ابن حبان نصب الراية ۳/۴۸۹)_

④د حضرت ابوهریره ﷛ په روایت کې دی.چه بیا ئې په خپل ځان باندې ځلور ځله اقرار او... ﴿رواه البخاري ومسلم﴾ ③او هم دا خبره په حدیث د حضرت جابربن عبدالله ﷛ کې هم ده. ﴿رواه البخاري ومسلم﴾ ④اود حضرت جابربن سمره ﷛ په روایت کې دی.چه دوې [دوه] ځله ئې اقرار اوکړلو. خو نبی ﷺ دهغه اقرار رد کړلو.اوبیا ئې دوې [دوه] ځله اقرار اوکړلو.تردې چې ځلور ځله شول.نوبیا نبی ﷺ د رجم حکم ورکړلو. ﴿ابوداود ،نسائي،اومسلم ددې روایت کړې دی﴾ ⑤اودحضرت بریده ﷛ په روایت کې دی.چه ځلور ځله اقرار په ځلورو ورځو کې دې.ددې روایت امام مسلم کړې دې.⑥ اودحضرت صدیق اکبر ﷛ نه منقول دی.چه د ځلورم ځل اقرار نه روسته نبی ﷺ هغه په بندی خانه کې بند کړلو. اودهغه دحال پوښتنه ئې اوکړلو.اوابن ابی شیبه ددې روایت کړې دی.

اودحضرت غامدیه رضي الله عنها په قصه کې راغلې دی.چه هغې په خپل ځان باندې ځلور ځله د زنا اقرار کړې وو.اوهرځل به رسول الله ﷺ هغه رد کولو.بیا هغې عرض اوکړلو.آیا تاسو دا غواړئ.چه ما داسې واپس کړئ.لکه څنګه چې مو ماعز ﷛ واپس کړې وو. ﴿رواه مسلم﴾ اودځلورځله اقرارکولونه روسته نبی ﷺ اوفرمائیل.څه لاړه شه.چه کله دا ماشوم پیدا شی. ﴿نوبیا به راشې﴾ بیا چې کله ماشوم پیدا شو.نوهغه بیا حاضره شوه.اوخبر ئې ورکړلو. ﴿چه زما ماشوم پیدا شو﴾ بیا نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.ته بیا واپس لاړه شه.تردې چې دې د پیو نه پریکړې.اوبیا چې کله هغې د پیو نه هم پرې کړلو.نوبیا حاضره شوه.په داسې حال کې چې دهغې د ماشوم په لاس کې د ډوډئ یوه ټکړه. وه.کومه چې هغه ماشوم خوړله.په هغه وخت کې ئې دا اوونیل.چه اوس دا ماشوم ډوډئ خوړلې شی.نوځکه زه دده د پیو ورکولونه فارغه شوم.ددې نه روسته نبی ﷺ اوفرمائیل.ددې ماشوم تربیت به څوك اوکړی؟ددې امله ته دومره ورځې نوره هم ایساره شه.چه دې دځپلو لاسونواوپښو مالك شی. ﴿یعنی خپل ضرورتونه پخپله پوره کولې شی﴾ په دې کې یوصحابی ﷛ عرض اوکړلو.یارسول الله ﷺ دده تربیت به زه کوم.نوبیا نبی ﷺ دهغه ښځې د رجم کاوه حکم ورکړلو.ددغه رجم په مهال کې حضرت خالد بن ولید ﷛ یوغلط لفظ اوونیل.اوهغه ئې په کاڼړی باندې اوویشتله.دهغې د امله دهغې دسر نه وینه روانه شوه.نونبی ﷺ دحضرت خالد ﷛ په دې غلط لفظ وئیلو باندې ډیرپه غصه شو.اوونې وئیل.په الله قسم دې خوداسې توبه اویستله.که دمدینې په اویا کسانوباندې ویش کړې شی.نودهغوی ټولود مغفرت لپاره به کافی شی. ﴿رواه الترمذي وغیره﴾

داقرارپوره کیدونه روسته تحقیق کول

قَالَ ﴿فَإِذَاتَمَّ إِقْرَارُهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ سَأَلَهُ عَنِ الزِّنَامَاهُوَوَكَيْفَ هُوَوَأَيْنَ زَنَى وَبِمَنْ زَنَى ،فَإِذَابَيَّنَ ذٰلِكَ لَزِمَهُ الْحَدُّ﴾ لِتَمَامِ الْحُجَّةِ، وَمَعْنَى السُّؤَالِ عَنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ بَيَّنَّاهُ فِي الشَّهَادَةِ،وَلَمْ يَذْكُرِ السُّؤَالَ فِيهِ عَنِ الزَّمَانِ،وَذَكَرَهُ فِي الشَّهَادَةِ لِأَنَّ تَقَادُمَ الْعَهْدِ يَمْنَعُ الشَّهَادَةَ دُونَ الْإِقْرَارِ.وَقِيلَ لَوْسَأَلَهُ جَازَ لِجَوَازِ أَنَّهُ زَنَى فِي صِبَاهُ

حل اللغة: ① صبا:ماشوم والی

ژباړه:- امام قدوری رحمه الله فرمائی.کله چې مجرم خپل اقرار ځلور ځله پوره کړی.نوقاضی به دهغه نه پوښتنه اوکړی.چه زنا څه کاردې.اوڅنګه کیږی.اوده په کوم ځائې کې زنا کړې ده.اودکومې ښځې سره ئې کړې ده. نوکله چې دې صحیح صحیح خودنه اوکړی.نوبیا به په هغه باندې حد جاری کړې شی.ځکه چې حجت پرې پوره شو.اوددې خیزونود پوښتنه کاوه مطلب مونږ دګواهئ ورکولوپه صورت کې بیان کړی دی.په دې ځائې کې ئې دزمانې په اړه کې د پوښتنه ذکرنه دې کړې.حالانکه د ګواهی په صورت کې ئې ذکرکړې دې.ددې وجه دا ده.که د زنا کاوه زیاتې ورځې شوې وی.نوپه دغه ګواهئ کې رکاوټ پیدا کیږی.اوګواهی ناقابل قبول ګرځی.خوداقرار په صورت کې مانع نه ده.اوبعضې مشائخو وئیلې دی.که قاضی ترې د زمانې په اړه کې پوښتنه اوکړی.نوهم جائزده. کیدا ئې چې ده داسې وخت کې زنا کړې وی.چه بالغ نه وو.

داقرار نه د رجوع کولوحکم

(فَإِنْ رَجَعَ الْمُقِرُّ عَنْ إِقْرَارِهِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ أَوْ فِي وَسَطِهِ قُبِلَ رُجُوعُهُ وَخُلِّيَ سَبِيلُهُ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ أَبِي لَيْلَى يُقِيمُ عَلَيْهِ الْحَدَّ لِأَنَّهُ وَجَبَ الْحَدُّ بِإِقْرَارِهِ فَلَا يَبْطُلُ بِرُجُوعِهِ وَإِنْكَارِهِ كَمَا إِذَا وَجَبَ بِالشَّهَادَةِ وَصَارَ كَالْقِصَاصِ وَحَدِّ الْقَذْفِ وَلَنَا أَنَّ الرُّجُوعَ خَبَرٌ مُحْتَمِلٌ لِلصِّدْقِ كَالْإِقْرَارِ وَلَيْسَ أَحَدٌ يُكَذِّبُهُ فِيهِ فَتَتَحَقَّقُ الشُّبْهَةُ فِي الْإِقْرَارِ. بِخِلَافِ مَا فِيهِ حَقُّ الْعَبْدِ وَهُوَ الْقِصَاصُ وَحَدُّ الْقَذْفِ لِوُجُودِ مَنْ يُكَذِّبُهُ، وَلَا كَذَلِكَ مَا هُوَ خَالِصُ حَقِّ الشَّرْعِ

حل اللغة: ① **وسط**: درمیان، مینځ ② **خلی** پریږدی ،خوشی کیږی

ژباړه:- اوس که اقرارکونکی کس دخپل اقرارنه رجوع اوکړله.په ده باندې دحد جاری کولونه وړاندې،یا دحد په مهال کې ،نود ده رجوع کول به قبلولې شی.اوده ته به پریخودې شی.اوامام شافعیﷺ فرمائیلی دی.اودا دابن ابی لیلیﷺ قول هم دې.چه قاضی به په ده باندې حد جاری کوی.ځکه چې هم دده په اقرار باندې په ده حد واجب شوې دې.نواوس به دده په انکارکولواوپه اوړیدلو سره نه ختمیږی.لکه څنګه چې د نوروګواهانوپه ذریعه زنا ثابته شی.نود زناکارپه انکارسره هغه حد نه ساقطیږی.اودا دزنا حد د قصاص اوحدقذف پشان دې.یعنی په دې دواړوکې هم داقرارکولونه روسته که انکاراوکړی.نوحد نه ساقطیږی .او زمونږ دلیل دا دې.چه داقرارنه اوړیدل یوداسې څیزدې.چه په دې کې د رښتیا وئیلو احتمال هم شته.لکه څنګه چې اقرارکول یو خبر دې. «چه په هغې کښې د رښتیاؤ احتمال هم شته» نوځنګه چې اقرار وی.اوداقرارنه د رجوع کولوپه صورت کې بل څوک داسې نشته.چه دې دروغژن کړی.یعنی دده خلاف ویونکی اوالزام ثابتونکې څوک نشته.نوځکه ده په اقرارکې شبه پیدا شو. «اومونږ ته ددې خبرې حکم راکړې شوې دې.چه مونږ د شبه په صورت کې حد دفع کړو.یعنی جاری نې نکړو» په خلاف دقصاص ځکه چې په هغې کې دبنده حق متلعق وی.اوپه خلاف د حد قذف ځکه چې په هغې کې هم د بنده حق متعلق وی.نوځکه په اوړیدو او په انکارکولوسره نه باطلیږی.ځکه چې دهغه دروغژن کونکې مدعی موجود وی.اودا حال دداسې حدودو نه دې.کوم چې خالص د شرع حق وی.لکه حد زنا وغیره.

دامام لپاره د رجوع دتلقین حکم

(وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ فَيَقُولَ لَهُ: لَعَلَّكَ لَمَسْتَ أَوْ قَبَّلْتَ) {لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِمَاعِزٍ لَعَلَّكَ لَمَسْتَهَا أَوْ قَبَّلْتَهَا}[1] قَالَ فِي الْأَصْلِ: وَيَنْبَغِي أَنْ يَقُولَ لَهُ الْإِمَامُ: لَعَلَّكَ تَزَوَّجْتَهَا أَوْ وَطِئْتَهَا بِشُبْهَةٍ، وَهَذَا قَرِيبٌ مِنَ الْأَوَّلِ فِي الْمَعْنَى.

حل اللغة: ① **یلقن** تلقین کول د یوې خبرې باربار وینا کول ② **لمس** ګوتې اوړل ③ **قبلة** ښکلول

ژباړه - دقاضی اوامام لپاره مستحب دی.چه داقراری مجرم وړاندې داسې خبرې کوی.چه دهغې په وجه هغه دخپل اقرارنه واوړی.مثلا داسې دې ورته اووانی.چه تا خوهغې ته صرف لاس وراوړې وو.یا تاخود هغې نه بوسه اخستې وه.اوامام محمدﷺ په مبسوط کې فرمائیلی دی.چه امام لپاره پکار دی.چه ورته اووائی. کیدای شی.تا ورسره نکاح کړې وی.یا په شبه دې ورسره وطی کړې وی.اودا خبره هم د معنی په اعتبارسره د لومړنی خبرې پشان ده.

تشریح:- ((**وهذا قریب من الاول فی المعنی**)) په مبسوط کې چې دامام محمدﷺ کوم قول دې.دا د معنی په اعتبارسره د لومړنی خبرې سره نزدې دې.یعنی که د امام په وئیلو اقراری مجرم آو اوکړلو.نودده څخه به حد ساقط شی.یادساتئ چې داسې زنا چې په هغې باندې حد قائمیږی.نودهغې تفصیل دا دې.چه د مکلف سړی حشفه یعنی د عاقل بالغ ناطق د سړی د ذکرپورتنې برخه دهغه په خپل خواهش سره د داسې ښځې په شرمګاه کې ورداخل شی.کومه چې فی الحال د شهوت قابله وی.یا په تیره شوې زمانه کې وه. «بوږی»

---

[1] من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما أخرجه الحاکم فی المستدرک ٤/٣٦١)_

اوهغه دده په ملکیت کي نه وی.اوهغه د شبه دمحل نه هم خالي وی.اودا فعل په دارالاسلام کي واقع شوي وی.برابره ده که سړي په خپله ځان باندې ښځي ته قابو ورکړی.یا ښځه په خپل ځان باندې سړی ته قابو ورکړي.

نوکه د ړوند څخه دا حرکت صادرشو.اوهغه ددې اقرارهم کوی.نوبیا خوپه هغه باندې حد جاری کیږی.اوهغه ته چي چا لارخودلي وی.هغه باندې به حد نه جاری کیږی.اوکه هغه ګونګاه وی.نوپه هغه باندې به هیڅ حالت کي حد نه جاری کیږی.اوکه سړي پریوتلو (څملاستلو) .اوښځي ته ئي پوره اختیار ورکړلو.یا ښځي دهغه حشفه په خپل ځان کي ورداخل کړلو.نوپه دواړوبه حد جاری کیږی.که زناکاردا دعوه اوکړله چه دابنځه زما بی بی ده.نوددہ څخه به حد ساقطیږی.اګرچه هغه دبل چا ښځه وی.اوکه یوکس دیوې ښځي سره د زنا کولونه روسته هغې سره نکاح اوکړله.یا ئې هغه واخستله.نواصح قول دا دي.چه په دې سره حد نه ساقطیږی .ځکه چې د زنا په وخت کي شبه نه وه. ﴿البحر﴾

دحد قائمولو طریقه

فصل في كيفية الحدواقامته: ﴿وَإِذَاوَجَبَ الْحَدُّ وَكَانَ الزَّانِي مُحْصَنًا رَجَمَهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى يَمُوتَ﴾ ﴿لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ رَجَمَ مَاعِزًا وَقَدْ أُحْصِنَ﴾. (١) وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ الْمَعْرُوفِ ﴿وَزِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ﴾ (٢) وَعَلَى هَذَا إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ (٣)

حل اللغة: ① **رجم**:په کاڼړو ویشتل ② **احصان**:ددې اسم فاعل محصن راځی هغه سړې چي واده ئي کړی وی

ژباړه:- فصل د حد کیفیت ،اوددې د قائمولوبیان . ﴿اّخردا چه﴾ کله حد واجب شی.اوزناکارمحصن ﴿داسي کس وی.چه په هغه کي نور څه شرطونه موجود وی.دهغې تفصیل به څو صفحې روسته راشي.انشاءالله﴾ نوحاکم دې په خپله اونورمسلمانان په دومره کاڼړو دې اولي.چه مړ شی.ځکه چې رسول الله ﷺ حضرت ماعز﷜ رجم کړې وو.په داسې صورت کي چې هغه محصن وو.اوپه یومشهورحدیث کي دی.چه ((والزناء بعدالأحصان)) دمحصن کیدونه روسته زنا کول.په دې خبره د صحابه کرامو﷢ اجماع پاتې شوې ده.

تشریح:- «**لانه ﷺ رجم ماعزاً**» ځکه چې رسول الله ﷺ حضرت ماعزته رجم ورکړې وو.حضرت ماعز﷜ ته د رجم ورکولوپه اړه کي په صحیحین اوسننو کي مشهور حدیث دي.اویوحدیث دا هم دې.چه د یومسلمان وینه د دري خبرونه په یوه خبره باندې حلالیږی.① چه هغه د احصان نه روسته زنا اوکړی.② چه هغه دالله تعالی د رسول ﷺ سره د جنګ لپاره راوتلي وی.یعنې ډاکي وی.نوهغه به قتل کولي شی.اویا به په سولئ کولي شی.یا به د ملك نه ویستلي شی.③ هغه کس چې په ناحقه ئي قتل کړې وی.نوهغه به په قصاص کي قتل کولي شی.اوابوداووددې روایت کړې دې.اوپه صحیحینوکي دحضرت عبدالله بن مسعود﷜ روایت مشهور دې.

---

١) تقدم تخريجه عن قريب)_
٢) من حديث عثمان﷜ أخرجه الترمذي في الفتن باب ١ رقم ٢١٥٨ والنسائي في تحريم دم رقم ٣٧٥٢ وابن ماجه في الحدود رقم ٢٥٣٣ والحاكم في المستدرك ٤/٣٥٠)_
٣) يعلم هذا من حديث علي﷜ أخرجه البخاري في الحدود باب ٦٥ ومسلم في القسامة رقم ٢٥ وأبوداود في الحدود باب ١ رقم ٤٣٥٢ والترمذي في الديات باب ١٠ والنسائي في القسامة باب ٦٥ وابن ماجه في الحدود باب ١ رقم ٢٥٣٤ وأحمد في المسند ١/٣٨٢)_

د رجم طريقه

قَالَ (وَيُخْرِجُهُ إِلَى أَرْضٍ فَضَاءٍ وَيَبْتَدِئُ الشُّهُودُ بِرَجْمِهِ ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ) كَذَا رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، (١) وَلِأَنَّ الشَّاهِدَ قَدْ يَتَجَاسَرُ عَلَى الْأَدَاءِ ثُمَّ يَسْتَعْظِمُ الْمُبَاشَرَةَ فَيَرْجِعُ فَكَانَ فِي بُدَاءَتِهِ احْتِيَالٌ لِلدَّرْءِ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا تُشْتَرَطُ بُدَاءَتُهُ اعْتِبَارًا بِالْجلد . قُلْنَا: كُلُّ أَحَدٍ لَا يُحْسِنُ الجلد فَرُبَّمَا يَقَعُ مُهْلِكًا وَالْإِهْلَاكُ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ، وَلَا كَذَلِكَ الرَّجْمُ لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ

حل اللغة: ① **فضاء**: فراخه ، كولاؤ ② **يتجاسر**: زړه ورتيا كوى ③ **يستعظم**: لوئي ګنړى ④ **المباشرة**: ګډون كول ⑤ بداءة: شروع كول ⑥ **اهلاک** هلاكول

ژباړه:- اوابو الحسين قدورى رحمه الله فرمائى. چه په كوم كس باندې رجم واجب شى. نوحاكم به هغه كولاؤ ډګر ته اوباسي. هلته به د ټولونه وړاندې ګواهان هغه په ګانړو باندې اولى. دهغوى نه روسته امام اود ده نه روسته نور خلګ . دحضرت على رضي الله عنه نه هم داسې روايت نقل دې. اوددې امله هم چې ګواهان كله د دروغوګواهى وركوى. اوددې جراءت كوى. خودهغه كس د قتل ذمه وارجوړيدونه ويريږى. اود ګواهى نه رجوع كوى. په دې طريقه چې دګواهانونه د حد پيل اوشى. نودحد ختمولو يوه حيله هم په لاس راځى. اوامام شافعى رحمه الله په كوړو باندې قياس كوى. اوفرمائى. چه په رجم كې هم د ګواهانونه پيل كول شرط نه دى. يعنى كه د ناوادۀ شوې انجلى نه زنا صادره شى. اوهغه په كوړو باندې وهلې شى. نولكه څنګه چې د وهلو په وخت كې دا شرط نشى لګولې. چه پيل به د ګواهانونه كيږى. نودغه ډول د كانړو په ويشتلوكې به هم د ګواهانو نه د رجم د پيل شرط نشى مقررولې. خومونږ احناف وايو. چه هريوكس ته د كوړې وهلوچم (چل) نه ورځى. نوځكه ددې شرط اونه لګولې شو. ځكه چې بعضې وخت چې څوك په كوړو وهلو نه پوهيږى. دهغه په وجه سړې مړ كيداې هم شى. حالانكه د داسې مجرم د قتلولواجازت نشته. اوچه وادۀ شوې وى. نوهغه په كانړو ويشتل اودهغه ختمول مقصود وى.

دګواه د كانړې ويشتلو نه انكاركول

(فَإِنْ امْتَنَعَ الشُّهُودُ مِنْ الِابْتِدَاءِ سَقَطَ الْحَدُّ) لِأَنَّهُ دَلَالَةُ الرُّجُوعِ، وَكَذَا إِذَا مَاتُوا أَوْ غَابُوا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ لِفَوَاتِ الشَّرْطِ (وَإِنْ كَانَ مُقِرًّا ابْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ) كَذَا رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ {وَرَمَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَامِدِيَّةَ بِحَصَاةٍ مِثْلِ الْحِمَّصَةِ وَكَانَتْ قَدْ اعْتَرَفَتْ بِالزِّنَا} (٢) (وَيُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ) {لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي مَاعِزٍ اصْنَعُوا بِهِ كَمَا تَصْنَعُونَ بِمَوْتَاكُمْ} (٣) وَلِأَنَّهُ قُتِلَ بِحَقٍّ فَلَا يَسْقُطُ الْغُسْلُ كَالْمَقْتُولِ قِصَاصًا" {وَصَلَّى النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى الْغَامِدِيَّةِ بَعْدَمَا رُجِمَتْ} (٤)

حل اللغة: ① **حصاة**: كوتكانړې ② **الحمصة**: چنړه

ژباړه:- قدورى رحمه الله فرمائى. كه ګواهانودګانړو په ويشتلود پيل كاوه نه انكاراوكړلو. نوحد ساقط شو. ځكه چې ددې انكار نه دا معلوميږى. چه دوى دخپلې ګواهئ نه واوړيدل. دغه ډول حد په دې صورت كې هم ساقطيږى چې ګواه مړ شى. يا غائب شى. نوبيا هم د ظاهرروايت مطابق حد ساقطيږى. ځكه چې د ويشتلو شرط ختم شو. اوكه مجرم په خپله اقرارى وى. يعنى هم دهغه د اقرارپه وجه په هغه باندې حد ثابت

---

٤) أخرجه البيهقى فى سنن الكبرى ٨/٤٨٥) رقم ١٦٩٦٣)_
١) من حديث أبى بكرة رضي الله عنه أخرجه أبوداود فى الحدود باب ٢٤ رقم ٤٤٤٣)_
٢) من حديث أبى بريدة رضي الله عنه أخرجه ابن أبى شيبة فى مصنفه كذا فى نصب الرأية ٣/٤٩٤)_
٣) من عمران بن حصين رضي الله عنه أخرجه مسلم فى الحدود رقم ٢٣ وأبوداود فى الحدود باب ٢٤ رقم ٤٤٤٠ والترمذى فى الحدود باب ٧ وانسائى فى الجنائز باب ٦٤ رقم ١٨٤٩ واب ماجه فى الحود رقم ٢٥٥٥ وأحمد فى المسند ٤٤٣٠)_

شوې وي.نوپه ویشتلوکې به امام د وخت پیل کوي.اوبیا به نې نور خلک په کاڼو وولي.دحضرت علی رضی الله عنه نه هم داسې نقل دي.اوحضرت غامدیه(رض) دتولونه وړاندې رسول اللهﷺ د چنړې په برابر په یوځوګیټکو باندې ویشتلې وه.اوحضرت غامدیه په خپله په خپل ځان د زنا اقرارکړې وو.بیا به دغه مرجوم ته ﴿چه په کاڼو ویشتلوسره مړشوې وي﴾ غسل ورکړې شي.اوکفن کولې به شي.اودجنازې لمونځ به پرې کولې شي.څکه چې رسول اللهﷺ دحضرت ماعز رضی الله عنه په اړه کې فرمائیلي وو.چه ده سره هم هغه شان معامله اوکړئ.څنګه چې تاسوخپلو نورو مړو سره کوئ.اوددې امله هم چې دې په ناحقه نه ﴿بلکه په حق﴾ سنګسار شوې دې.نودده څخه به غسل نه ساقطیږي.لکه څنګه چې هغه کس ته غسل ورکولې شي.کوم چې په قصاص کې قتل شوې وي.اودغامدیه د رجم کیدونه روسته رسول اللهﷺ په هغې باندې د جنازې لمونځ کړې وو.

تشریح:- «**وان کان مقر**» اوکه دمجرم په خپل اقرارپه هغه باندې زنا ثابته شوې وي.نودهغه په کاڼو ویشتلوکې به امام دځپل ځان نه پیل کوي.اودهغه نه روسته به نې نور خلګ وولي.دحضرت علی رضی الله عنه نه هم ددې خبرې تائید کیږي.اوپخپله د رسول اللهﷺ دعمل نه هم.څکه چې حضرت غامدیه په خپله په خان اقرارکړې وو.دهغې په وجه نبیﷺ په خپله د یوځوګیټکو په ویشتلوشروع کړې وه.

امام شعبی رحمه الله روایت کړې دې.چه حضرت شراحه د خپلې زنا اقرارکړې وو.نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل.که په دې ښځه باندې څوك ګواه وو.یعنی که دچا ګواه په ذریعه په دې باندې زنا ثابته شوې وه.نوهم ګواه به د په کاڼو ویشتلو پیل کوله.خودې ښځې په خپله اقرارکړې دې.نوځکه به زه د دې په ویشتلو پیل کوم.بیا هغوی یوکاڼې اوویشتلو.اوبیا نورو خلګو په کاڼو ویشتل پیل کړل.اوزه هم په دغه خلګ وکې موجود ووم. ﴿رواه احمد﴾

اوابن ابی لیلی رحمه الله روایت کړې دې.که حضرت علی رضی الله عنه ته به دګواهانو په ذریعه د زنا ثبوت اوشو.نوهغوی به ګواهانوته حکم ورکولو.چه اول تاسو په کاڼو ویشتلو پیل اوکړئ.اوددې نه روسته به نور خلګ په کاڼو ویشتل کوي.اوکه د زنا ثبوت به په خپله د مجرم په اقرارکولوسره وو.نواول به ئې په خپله ویشتل کول.اوبیا به نورو خلګ وپه کاڼو ویشتل کول. ﴿رواه ابن ابی شیبه﴾

اومصنف رحمه الله چې دحضرت غامدیه دکاڼو ویشتلوکوم حدیث بیان کړې دې.دا ابوداود اونسائی نقل کړې دې.اوپه یوکې دومره زیادت نورهم شته.چه تاسوددې مخ بچ ساتئ.ددې وینا نه په ظاهره مقصود دا وو.چه د مرګ په حالت کې دده مخ مثله شوې اوخرابه شوې نه وي.والله تعالی اعلم

د ناواده شوي حد

﴿وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُحْصَنًا وَكَانَ حُرًّا فَحَدُّهُ مِائَةُ جَلْدَةٍ﴾ لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ إِلَّا أَنَّهُ انْتَسَخَ فِي حَقِّ الْمُحْصَنِ فَبَقِيَ فِي حَقِّ غَيْرِهِ مَعْمُولًا بِهِ. قَالَ ﴿يَأْمُرُ الْإِمَامُ بِضَرْبِهِ بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ ضَرْبًا مُتَوَسِّطًا﴾ لِأَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ الْحَدَّ كَسَرَ ثَمَرَتَهُ. (١) وَالْمُتَوَسِّطُ بَيْنَ الْمُبَرِّحِ وَغَيْرِ الْمُؤْلِمِ لِإِفْضَاءِ الْأَوَّلِ إِلَى الْهَلَاكِ وَخُلُوِّ الثَّانِي عَنِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الِانْزِجَارُ

حل اللغة: ① **سوط**:کوړه ② **ثمرة**:میوه ③ ثمرة:د کوړې غوټۍ ④ **المبرح**:زخمی کونکې ⑤ **المؤلم**: دردونکې ⑥ **الانزجار**:زورنه ورکول

ژباړه:- اوکه زناکارمحصن ﴿واده شوی نه وو﴾ اوآزادهم وي.نودده حد سل کوړې دی.دالله تعالی ددې فرمان د امله چې زنا کارسړې اوزناکاره ښځه په دوی کې هریوته سل کوړې ورکړئ.خودکوړو وهلودا حکم د وادهٔ شوی سړی اوواده شوې ښځې په اړه کې منسوخ شوې دې.ددې امله به د نورو خلګو په اړه کې دا حکم

---

۱) غربه الزیلعی رحمه الله ثم نقل من الروایات ما هی خلاف التجرید نصب الرأیة (٣٤٩٧)_

پاته وي.نوامام به كوړې وهونكو ته د داسې كوړو وهلوحكم اوكړي.چه په هغې كې غوټه نه وي.اوپه منځني اندازه سره به ني وهي.څكه چې حضرت علي رضي الله عنه د كوړې وهلوحكم وركول غوښتل.نود كوړې غوټې ني لرې كړې.اود منځني انداز سره د وهلو مطلب دا دې.چه نه به ني دومره سخت وهي.چه زخمي شي.اونه به ئې بيخي نرم وهي.څكه چې د زخمي كيدو نه روسته دهغه د هلاكت ويره ده.اوپه معمولي وهلوسره مقصود نه حاصليږي.څكه چې ددې سزا مقصد دا دې.چه دې په آئنده كې پرهيزكوي.

تشريح:- «**لان علي** رضي الله عنه» په داسې چاره اوكوره باندې به ني نه وهي.چه په هغې كې ښاخونه يا غوټې وي.حضرت علي رضي الله عنه به خاص خيال ساتلو.اودا غوټې به ني لرې كولې.اوپه زوره د وهلو څخه به ئې منع كوله.

دې ځاني كښې چې په كتاب كې دحضرت علي رضي الله عنه نه كوم روايت منقول دې.هغه نشي مونډې.البته ابن ابي شيبه دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت كړې دې.چه دا حكم به وركولې شي.چه د كوړې غوټې لرې كړې شي.اوبيا دې د دووكانړو په مينځ كې كيخودې شي.اوهغه غوټې دې هوارې كړې شي.چه نرم شي.

اودحضرت حسن رحمه الله نه پوښتنه اوشو.چه داسې به په كومه زمانه كې كيدل.نوهغوي اوفرمائيل.دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه كې ،اودغه دول د رسول الله ﷺ نه مرسلاً نقل دى.د دې روايت عبدالرزاق او ابن ابي شيبه كړې دې.

د كوړو وهلوطريقه

(وَيُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ) مَعْنَاهُ دُونَ الْإِزَارِ لِأَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ يَأْمُرُ بِالتَّجْرِيدِ فِي الْحُدُودِ، (١) وَلِأَنَّ التَّجْرِيدَ أَبْلَغُ فِي إِيصَالِ الْأَلَمِ إِلَيْهِ . وَهَذَا الْحَدُّ مَبْنَاهُ عَلَى الشِّدَّةِ فِي الضَّرْبِ وَفِي نَزْعِ الْإِزَارِ كَشْفُ الْعَوْرَةِ فَيَتَوَقَّاهُ (وَيُفَرِّقُ الضَّرْبَ عَلَى أَعْضَائِهِ) لِأَنَّ الْجَمْعَ فِي عُضْوٍ وَاحِدٍ قَدْ يُفْضِي إِلَى التَّلَفِ وَالْحَدُّ زَاجِرٌ لَا مُتْلِفٌ.

حل اللغة: ① **ينزع**:ويستلې به شي ② **الازار**:لنګ ③ **التجريد**:زياتې جامې ويستل ④ **الم**:درد ⑤ **يتوقا**:ځان ساتي ⑥ **اعضاء**:جمع د عضو اندام ⑦ **التلف**:هلاكت ⑧ **زاجر**:زوررور كونكې

زباړه:- اودحدجاري كولوپه وخت كې به دهغه نه جامې اوويستې شي.ددې نه مطلب دا دې.چه د لنګ يا پاټكالي نه سوا به ترې اوويستې شي.څكه چې حضرت علي رضي الله عنه به د حدودو قائمولوپه وخت كښې دجامو ويستلوحكم كولو.اوددې امله هم چې د بدن نه جامې اوويستې شي.نوپه وهلوكې به بدن ته تكليف هم زيات وي.اودحد زنا مقصد هم دا دې.چه ده ته پوره زور اورسي.البته كه دده لنګ هم اوويستې شو.نودې به بربنډشي.اوپرده به ئې پاته پاتې نشي.نوځكه به ددې نه پرهيزكولې شي.اودا وهل به دهغه مختلفو اندامونوته وركولې شي.څكه چې د يوځائې وهلوپه وجه دهغه د روح وتلو خطره پيدا كيږي. حالانكه كوم حد چې لګولې شي.نودهغې مقصد دهغه هلاكول نه وي.بلكه دې په راروانه زمانه كې د هميشه لپاره ويرول وي.

تشريح:- «**وينزع عنه ثيابه الخ**» اودكوړو وهلونه وړاندې به دده دبدن نه د لنګ نه سوا پاته نورې ټولې جامې اوويستلې شي.څكه چې حضرت علي رضي الله عنه به د كوړو وهلوپه وخت كې د جامو ويستلوحكم كولو. چې دې هغه خوړ شي.البته دې بې پردې كول نه دي پكار.نوځكه به د لنګ ويستلوحكم نشي وركولې.

اوعبدالرزاق دحضرت علي رضي الله عنه نه روايت كړې دې.چه دوى ته يوكس په يوحدكې دوهلو لپاره راوستې شو .نودوى په هغه باندې په داسې حالت كې حد جاري كړلو.چه دهغه سربيره قطلاني كمبل وو.نوځكه ئې هغه جرم كې راوستې شوې وو.اودابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې.چه په دې امت كې بربنډول اولاسونه اوپښې تړل او ??غاړې ته?? طوق اچول حلال نه دى.خودا روايت ضعيف دې.

---

(١) الزيلعي رحمه الله ثم نقل من الروايات ما هي خلاف التجريد نصب الراية ٣٤٩٧)_

«والحد زاجر لا متلف» چې حد ورکوی.نوصرف ېوځاۍ به نه وهی.ځکه چې حد خوصرف د زورنې لپاره دې.هلاکونکې نه دې. او هرکله چې د هغه وژل مقصود نه دی.نوچه په کوم صورت کښې دهغه د هلاکت ویره وی.نودهغې داختیارولو نه پرهیزکول پکاردی.نوسل کوړې خوېه وهلی شی.خوېه ېوځاۍ نه بلکه په مختلفوځایونوبه وهلې شی.

سر.مخ اوشرمګاه په کوړو وهلوممانعت

قَالَ ((إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ)) {لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِلَّذِي أَمَرَهُ بِضَرْبِ الْحَدِّ اتَّقِ الْوَجْهَ وَالْمَذَاكِيرَ} (١) وَلِأَنَّ الْفَرْجَ مَقْتَلٌ وَالرَّأْسَ مَجْمَعُ الْحَوَاسِّ، وَكَذَا الْوَجْهُ وَهُوَ مَجْمَعُ الْمَحَاسِنِ أَيْضًا فَلَا يُؤْمَنُ فَوَاتُ شَيْءٍ مِنْهَا بِالضَّرْبِ وَذَلِكَ إِهْلَاكٌ مَعْنًى فَلَا يُشْرَعُ حَدًّا (٢) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ: يُضْرَبُ الرَّأْسُ أَيْضًا رَجَعَ إلَيْهِ، وَإِنَّمَا يُضْرَبُ سَوْطًا لِقَوْلِ أَبِي بَكْرٍ: اضْرِبُوا الرَّأْسَ فَإِنَّ فِيهِ شَيْطَانًا (٣). قُلْنَا: تَأْوِيلُهُ أَنَّهُ قَالَ ذَلِكَ فِيمَنْ أُبِيحَ قَتْلُهُ. وَيُقَالُ: إنَّهُ وَرَدَ فِي حَرْبِيٍّ كَانَ مِنْ دُعَاةِ الْكَفَرَةِ وَالْإِهْلَاكُ فِيهِ مُسْتَحَقٌّ

حل اللغة: ① **راس:**سر ② **وجه:**مخ ③ **فرج:**شرمګاه ④ **محاسن:**جمع د محسن هغه ځاۍ چې ښانسته وی ⑤ **دعاة:** جمع د داعی ده

ژباړه:- امام قدروی رحمه الله فرمائی.چه په کوړو به واړه بدن وهلې شی.سوا د سر،مخ،اوشرمګاه نه،ځکه چې رسول الله ﷺ چاته د حدجاری کولوحکم کړې وو.هغه ته ئې فرمائیلی وو.چه د ده مخ اوشرمګاه د وهلونه بچ ساته.اوددې امله هم چې د شرمګاه د غزارنه کله سړې مری هم.اوسردحواس مجموعه ده.دغه ډول مخ هم د ټولوحواسو دجمع کیدو ځاۍ دې.اومخ دده د خوبیانوځاۍ دې.نوپه دې کې څه شك نشته.چه د دې په وهلوسره دده حواس یا د خوبیانوڅه برخه ضائع شی.حالانکه داسې کول د دغه مجرم د قتلولوپه حکم کې دې.ځکه په قائم کولوکې دا جائز نه دی.اوامام ابویوسف رحمه الله فرمائی. اګرچه په اولنی قول کې په سرد وهلونه منع کړې وه.خو رضی الله عنه رجوع وکړله.اودا ئې اووئیل.چه په سرباندې دې هم کوړې وهی. ځکه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه فرمائیلی دی.په سرباندې ئې وهئ.ځکه چې په دې کې شیطان دې.ابن ابی شیبه ددې روایت کړې دې.موږ ددې په ځواب کې وایو.چه دا جمله د داسې کس په اړه کې وه.چا چې خلګ کفرته رابلل.نودهغه قتلول هم جائزدی.اوپه ځواب کې دا هم وئیلی شوی دی.چه دا ئې دحربی کافرپه اړه کې فرمائیلی وو.چاچه به خلګ کفر اړخ ته رابلل. او کافرانوپه سردرانوکې وو رضی الله عنه اود داسې کس وهل پکار دی.

په حدودوکې د کوړو وهلوطریقه

((وَيُضْرَبُ فِي الْحُدُودِ كُلِّهَا قَائِمًا غَيْرَ مَمْدُودٍ)) لِقَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يُضْرَبُ الرِّجَالُ فِي الْحُدُودِ قِيَامًا وَالنِّسَاءُ قُعُودًا، وَلِأَنَّ مَبْنَى إقَامَةِ الْحَدِّ عَلَى التَّشْهِيرِ، وَالْقِيَامُ أَبْلَغُ فِيهِ. ثُمَّ قَوْلُهُ: غَيْرَ مَمْدُودٍ، فَقَدْ قِيلَ الْمَدُّ أَنْ يُلْقَى عَلَى الْأَرْضِ وَيُمَدَّ كَمَا يُفْعَلُ فِي زَمَانِنَا، وَقِيلَ أَنْ يَمُدَّ السَّوْطَ فَيَرْفَعَهُ الضَّارِبُ فَوْقَ رَأْسِهِ، وَقِيلَ أَنْ يَمُدَّهُ بَعْدَ الضَّرْبِ، وَذَلِكَ كُلُّهُ لَا يُفْعَلُ لِأَنَّهُ زِيَادَةٌ عَلَى الْمُسْتَحَقِّ

حل اللغة: ① **ممدود:**لاس تړلې شوې ② **التشهير:**شهرت ورکول ③ **يلقى:**غورځولې شی ④ **الضارب:**وهونکې

ژباړه:- اوپه ټولوحدودوکې به مجرم اودرولې شی.اودلاس تړلو نه بغیرېه ورته کوړې ورکولې شی.ځکه چې حضرت علی رضی الله عنه فرمائیلی دی.چه حدودوکې به سړی اودرولې شی.اوښځې به کینولې شی.اووهلې به شی.عبدالرزاق دا روایت په ضعیف سند سره نقل کړې دې.اوددې امله هم چې د حدودوقائمولواصلی مقصد په خلګ وکې د داسې واقعاتواوسزاګانوشهرت کول دی.اود مجرم په اودرولوکې دا مقصدښه

---

۱) غربه الزيلعي رحمه الله مرفوعاً ثم نقل موقوفا على علي رضي الله عنه وعزاه إلى ابن أبي شيبة ۳/۴۹۷)_

۲) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى الخانية (۴۱۴\۴) وفتح القدير(۱۹\۵) والدرالمختار (۱۶۱\۳) والهندية (۱۴۶\۲) نقلاً عن القول الراجح (۴۳۵\۱)-

۳) من رواية القاسم أخرجه ابن أبي شيبة فى مصنفه)_

حاصليږي.بيا ئې د لاس ټرلونه بغيرجمله اووئيله.نوبعضوددې صورت دا بيان كړې دې.چه په مخكښې ئې واچوي.اولاسونه ورله خپاره اوټړلې شي.لكه ځنګه چې زموږ په زمانه كې هم داسې كوي.اوبعضو فرمائيلي دي.دا حكم دهغه چا په اړه كې دې.چه په هغه باندې څه حد جاري كولې شي.بلكه وهونكې به خپله كوړه دومره راكاږي.چه دخپل سر پورې ئې پورته كوي.اوبعضو د دې معنى دا خودلې ده.چه دده بدن په كوړه اووهي.نوكوړه راښكي.غرض دا چې په دې خبروكې به يوه خبره هم نشي كولې.ځكه چې دا ټولې خبرې دده په وهلوزيادت دې.دكوموچه دې مستحق دې.

تشريح:- «**ويضرب في الحدود**» چونكه د حدودومقصد تنبيه اوشهرت وركول وي.اودا د سرو په ولاړه وهلو سره حاصليږي.

د زناكارغلام حد

(وَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ خَمْسِينَ جَلْدَةً) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ} نَزَلَتْ فِي الْإِمَاءِ، وَلِأَنَّ الرِّقَّ مُنَقِّصٌ لِلنِّعْمَةِ فَيَكُونُ مُنَقِّصًا لِلْعُقُوبَةِ، لِأَنَّ الْجِنَايَةَ عِنْدَ تَوَافُرِ النِّعَمِ أَفْحَشُ فَيَكُونُ أَدْعَى إلَى التَّغْلِيظِ (وَالرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ) لِأَنَّ النُّصُوصَ تَشْمَلُهُمَا (غَيْرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا يُنْزَعُ مِنْ ثِيَابِهَا إلَّا الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ) لِأَنَّ فِي تَجْرِيدِهَا كَشْفُ الْعَوْرَةِ وَالْفَرْوُ وَالْحَشْوُ يَمْنَعَانِ وُصُولَ الْأَلَمِ إلَى الْمَضْرُوبِ وَالسَّتْرُ حَاصِلٌ بِدُونِهِمَا فَيُنْزَعَانِ (وَتُضْرَبُ جَالِسَةً) لِمَا رَوَيْنَا، وَلِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا

حل اللغة: ① **الرق**: غلامي ② **منقص**: كمونكې ③ **الجناية**: ګناه ④ **توافر**: پريمانتيا ،زياتوالې ⑤ **افحش**: زيات قبيح ⑥ **التغليظ**: سختوالې ⑦ **ينزع**: ويستلې شي ⑧ **الفرو**: پوستين ⑨ **الحشو**: هغه كالي چې د مالوچونه ډكه شوې وي

ژباړه:- اوزناكارځوك غلام «يا وينځه» وي.نودا به پنځوس كوړې وهلې شي.ځكه چې الله تعالى فرمائيلي دي. [فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ] يعنى په وينځو چې دحد كومه سزا لازمه ده.هغه به نيمه وي دهغه سزا په نسبت چې هغه د آزادو ښځو لپاره وي.دا آيت د وينځو په اړه كې نازل شوې دې.اوددې امله هم چې غلامي نعمت نيموي.نوځكه دده سزا هم نيمه پكارده.ځكه چې قانون دا دې.چه په چا باندې نعمتونه زيات وي.اوددې باوجود هغه نافرماني كوي.نودده سزا هم زياته وي.ددې امله د آزاد په سزا كې هم سختي وي.ددې په خلاف غلام صرف پنځوس كوړې وهلې شي.دا خبره دې معلومه وي. چې دحد په اړه كې سړې اوښځه دواړه سره برابر دي.ځكه چې شرعي حكم د سړې اوښځو دواړو لپاره دې.څوېه سړې اوښځه كې صرف دومره توپير دې.چه د ښځې جامې به نشي ويستلې سوا پوستين اوداسې كپړې نه چې هغه د مالوچو نه ډكه شوې وي.ځكه چې دښځې نه دجامو په ويستلوكې بې پردګي اوبې حيائي ده.اوچه غټې جامې وي.نودې سره په وهلوتكليف نه ملاويږي.اوددې جامو نه بغيرهم دهغې پرده پاتې كيږي.نوځكه به داسې غټې جامې ددې نه لرې كولې شي.اوپه ښځه به په ناسته حد جاري كولې شي.دحضرت علي رضي الله عنه د بيان شوي حديث د وجې.اوددې امله هم چې په داسې كولوكې ددې زياته پرده ده.

تشريح:- «**لان الجناية عندتوافرالنعم**» په آزادوكسانوباندې دالله تعالى نعمتونه بې شميره وي.ددې امله ددوى سزا هم سخته وي.اوددې امله د زنا كولوپه صورت كې د دوى دسل كوړو وهلوحكم دې.اوغلام د ډيرنعمتونونه محروم وي.نوځكه د زنا په صورت كې ده ته صرف پنځوس كوړې وركولې شي. «نوكه آزادكس چې ده ته د ځلوروښځوپه نكاح كې د ساتلواجازت دې.بيا هم زنا اوكړي.نوده ته به سخته سزا وركولې شي.اوغلام ته صرف ددوښځوپه نكاح كې دساتلواجازت دې.اوهغه هم په دې شرط چې دده مالك ددې اجازت وركړي.اوبياهم دې دواړو ته په خپل مينځ كې د ملاويدو اجازت به نه وي.بلكه چې كله وينځه د مولى ورسره وطى كولې شي» ددې خبرود امله د وينځه اوغلام په سزا كې كمى شوې ده.يعنى د آزاد په مقابله

كي دوى د نصف سزا مستحق دى.البته دسنګسارپه صورت كي چي ددي نصف نه وى.نوځكه په دې مسئله كي وادة شوي غلام يا ناوادة شوي واړه برابر دى.يعني واړه به په كوړو وهلى شي.

دښځي د رجم لپاره د كندې كنستل

(وَإِنْ حُفِرَ لَهَا فِي الرَّجْمِ جَازَ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ حَفَرَ لِلْغَامِدِيَّةِ إِلَى ثُنْدُوَتِهَا،(۱) وَحَفَرَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لِشُرَاحَةَ الْهَمْدَانِيَّةِ(۲) (وَإِنْ تَرَكَ لَا يَضُرُّهُ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَمْ يَأْمُرْ بِذَلِكَ وَهِيَ مَسْتُورَةٌ بِثِيَابِهَا،(۳) وَالْحَفْرُ أَحْسَنُ لِأَنَّهُ أَسْتَرُ وَيُحْفَرُ إِلَى الصَّدْرِ لِمَا رَوَيْنَا (وَلَا يُحْفَرُ لِلرَّجُلِ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا حَفَرَ لِمَاعِزٍ(۴) وَلِأَنَّ مَبْنَى الْإِقَامَةِ عَلَى التَّشْهِيرِ فِي الرِّجَالِ، وَالرَّبْطُ وَالْإِمْسَاكُ غَيْرُ مَشْرُوعٍ

حل اللغة: ① **حفر**:اوكنستي شوه ② **ثدوة**: سينه ③ **الربط**:تړل ④ **الامساك**:ايسارول

ژباړه:- فرمائي.اوكه دښځي سنګسارولو لپاره يوه كنده اوكنستي شي.نوجائزده.يعني كنده ويستل غوره دي واجب نه دى. ځكه چي رسول الله ﷺ د غامديه ﴿ لپاره دهغي د سيني پوري كنده ويستلي وه. ﴿رواه مسلم﴾ اوحضرت على ﷛ د شراحه صمدانيه لپاره كنده ويستلي وه. ﴿رواه احمد﴾ اوكه امام د زناكاري ښځي لپاره كنده اونه كنستله. نوځه نقصان په كي نشته.ځكه چي رسول الله ﷺ ددې حكم نه دى وركړى.اوښځي پرده دهغي په خپلوجاموكي پاته ده.البته كنده كنستل غوره دى.ځكه چي په داسي كاوه كي دښځي لپاره پرده زياته ده.اودسيني پوري كنده ويستل دهغه حديث نه ثابت دى.كوم چي موږ د غامديه﴾ په سلسله كي وړاندې بيان كړلو.البته دسړى لپاره به كنده نشى كنستي.ځكه چي رسول الله ﷺ د حضرت ماعز ﷛ لپاره كنده نه وه كنستلې.اوددې دليل د املې به په سړو باندې حد قائمولوكي شهرت مقصود وى.اوددې تړل اوايسارول ثابت نه دى. ﴿ځوكه ددې نه بغيررجم وركول ممكن نه وى. حالانكه په ګواهانو سره زنا ثابته شوې وى.نوبيا جائز دى.لكه څنګه چي په عنايه كي دى.

تشريح:- «**ولايحفرللرجل**» اوسړي ته د رجم ور كاوه لپاره به كنده نه كنى.ځكه چي رسول الله ﷺ په حضرت ماعز ﷛ باندې حد قائمولو لپاره كنده نه وه كنستي. ﴿حضرت ابوسعيدخدرى ﷛ فرمائي.چه كله رسول الله ﷺ دحضرت ماعز ﷛ د رجم كاوه حكم وركړلو.نوموږ هغه ته په بقيع كنبي رجم وركړلو.په الله قسم موږ هغه په دغه وخت كي نه تړلې وو.اونه مودهغه لپاره كنده كنستي وه.بلكه هغه ولاړ وو. ﴿رواه مسلم﴾ خودحضرت بريده او حضرت ابوزر ﷛ په حديث كي دى.چه دهغه لپاره كنده كنستي شوې وه.خوابن الهمام ﷫ دحضرت ابوسعيدخدرى ﷛ حديث ته ترجيح وركړې ده.په اعتماد اويقين سره نفى كول دليل دى. ﴿يعني د ابوسعيدخدرى ﷛ په حديث كي د كندې كنستلو نفى راغلي ده.اوپه يقين سره نفى كول هم دليل دى﴾ اوكه كنده اوكنستي شى.نود تختيدو ګنجائش ختميږى.او دداسي نفر تړل يا په څه طريقه ايسارول ثابت اومشروع نه دى.البته كه ددې نه بغيررجم ممكن نه وو.او كه زنا د ګواهانوپه شهادت سره ثابته شوې وى.نوبيا جائز دى.لكه څنګه چي په عنايه كي دى.

---

۱) من حديث أبي بكرة ﷛ أخرجه أبوداود في الحدود باب ۲۴ رقم ۴۴۴۳)_

۲) من رواية شعبي ﷫ أخرجه أحمد والبيهقي كذا في نصب الراية ۵۰۰/۳)_

۳) قال الزيلعي ﷫ هذا ذهول من المصنف ﷫ وتناقض لأنه تقدم في كلامه أنه ﷺ حفرلغامدية وهو في مسلم نصب الراية ۵۰۰/۳)_

۴) من حديث أبي سعيد الخدري ﷛ أخرجه مسلم كذا في نصب ا لراية ۵۰۰/۳)_

داقا په خپل غلام باندې د حد جارى كولومسئله

(وَلَا يُقِيمُ الْمَوْلَى الْحَدَّ عَلَى عَبْدِهِ إِلَّا بِإِذْنِ الْإِمَامِ) وَقَالَ الشَّافِعِي: لَهُ أَنْ يُقِيمَهُ لِأَنَّ لَهُ وِلَايَةً مُطْلَقَةً عَلَيْهِ كَالْإِمَامِ، بَلْ أَوْلَى لِأَنَّهُ يَمْلِكُ مِنَ التَّصَرُّفِ فِيهِ مَا لَا يَمْلِكُهُ الْإِمَامُ فَصَارَ كَالتَّعْزِيرِ. وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {أَرْبَعٌ إِلَى الْوُلَاةِ وَذَكَرَ مِنْهَا الْحُدُودَ} (١) وَلِأَنَّ الْحَدَّ حَقُّ اللهِ تَعَالَى لِأَنَّ الْمَقْصِدَ مِنْهَا إِخْلَاءُ الْعَالَمِ عَنِ الْفَسَادِ، وَلِهٰذَا لَا يَسْقُطُ بِإِسْقَاطِ الْعَبْدِ فَيَسْتَوْفِيهِ مَنْ هُوَ نَائِبٌ عَنِ الشَّرْعِ وَهُوَ الْإِمَامُ أَوْ نَائِبُهُ، بِخِلَافِ التَّعْزِيرِ لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَبْدِ وَلِهٰذَا يُعَزَّرُ الصَّبِيُّ، وَحَقُّ الشَّرْعِ مَوْضُوعٌ عَنْهُ.

حل اللغة: ① **اخلاء:** خالي كول ② **يعزر:** سزا وركولې شي ③ **موضوع:** پورته شوې

ژباړه:- اومولى په خپل غلام باندې حد نشي جارى كولې. البته د امام په اجازت سره كولې شي. اوامام شافعي رحمه الله فرمائي چه مولى ته دا حق حاصل دې. چه په خپل غلام پخپله حد قائم كړي. ځكه چې ده ته په خپل غلام ولايت مطلقه «كامله» حاصل دې. لكه څنګه چې امام د وخت ته حاصل وي. بلكه دامام نه هم زيات. ځكه چې مولى ته په خپل غلام كي دخرڅولو اخستلو وغيره تصرفاتو دومره اختيارشته. چه هغه هومره امام ته نشته. نوځكه دا حد د تعزير پشان شو. اودامام مالك اواحمد رحمهما الله هم دا قول دې. البته دامام حد قائمول افضل دى. اوزمونږ دليل دا دې. چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. چه څلورشيان (څيزونه) د امام په اختياركي دى. اوهغه ته حواله دى. اوپه هغې كي ئې حدود هم ذكركړي دى. «اوپاته درې دا دى. جمعه قائمول، زكاة وصولول. اوحدود قائمول» خودا حديث راته ملاؤ نشو. البته ابن ابى شيبه د حسن بصرى اوعطاء خراسانى رحمهما الله دا قول ذكركړې دې» اوددې دليل د امله هم. چه حد دالله تعالى يوحق دې. ځكه چې د حدودو قائمولومقصد دا دې. چه دنيا د فساد نه پاكه وي. اوهم دا وجه ده. كه بنده حد معاف هم كړي. نونه ساقطيږي. نوځكه به هم هغه كس حد قائموي. كوم چې د شريعت دارخه ددې لپاره نائب وي. يعنى امام يا دهغه قائم مقام قاضى وغيره، په خلاف د تعزير، «دنورو سزاګانو» ځكه چې هغه د بندګانو حق وي. نوځكه هرمشرخپلوكشرانوته سزا وركولې شي. حالانكه ماشومانو ته شرعى حد معاف دې.

تشريح:- «ولايقيم المولى الحدالخ» داحنافو رحمهم الله په نيزكه دچا مملوك غلام زنا اوكړي. نودې په خپله په هغه حد نشي قائمولې. بلكه حاكم وخت ته به اختياروى. البته كه حاكم وخت ورته اجازت وركړي. نومولى پرې پخپله حدقائمولې شى. خودامام شافعى، مالك اواحمد رحمهم الله قول دې. چه مولى پرې پخپله هم حد قائمولې شى. اوهغه ته اختياردې. البته دامام حد قائمول غوره دى. «امام مالك، اوشافعى رحمهما الله په مختلفواحاديثو سره دخپل مسلك تائيدحاصل كړې دې. په هغې كي يودحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث دې. چه د رسول الله ﷺ نه د داسې وينځې په اړه كي پوښتنه اوشو. چه هغې زنا كړې وى. اووادۀ شوې هم نه وى. نونبى ﷺ اوفرمائيل. كه زنااوكړي. نوپه كوړو باندې ئې اووهئ. اوكه بيا زنا اوكړي. نوبيا ئې په كوړو باندې اووهئ. كه بيا هم زنا اوكړي. نوپه كوړو باندې ئې اووهئ. اوكه بيا هم زنا كوى. نو خرڅه ئې كړه. اودخپل ځان نه ئې لرې كړه. اګرچه دسردمعمولى ويختوپه عوض كي ولې نه وى. «يعنى چې ډيرمعمولى اوحقيرڅيزولې نه وى» امام بخارى اومسلم ددې روايت كړې دې.

اوحضرت على رضي الله عنه يوځل خطبه وركوله. اودهغې نه روسته ئې اوفرمائيل. اې خلګ وپه خپلووينځوباندې كه وادۀ شوى وى اوكه ناوادۀ شوې وى. «كه زنا اوكړي» حد قائموئ. اود رسول الله ﷺ يوې وينځې زنا كړې شوه. چه دهغې لږ غوندې وړاندې بچې پيدا شوې دې. اوهغه فى الحال دنفاس په حالت كښې ده. نوما سره دې خبرې ويره شوه. كه زه دې ته كوړې وركړم. نو كيداى شى. چه دا مړه شى. نوځكه زه رواواپس شوم. اورسول الله ﷺ ته مې صورت حال بيان كړلو. نورسول الله ﷺ اوفرمائيل. كله چې په تاسوكي دچا وينځه

(١) وذكر الزيلعى رحمه الله بعض الروايات وفيها ذكر الجمعة والفئ أيضا. نصب الراية ٣/٥٠٠ـ

زنا اوكړي.نود قران پاك دحكم مطابق هغې ته كوړې وركړئ.كه بيا زنا اوكړي.نوبيا ورته كوړې وركړئ.كه بيا زنا اوكړي.نوبيا ورته كوړې وركړئ.كه بيا زنا اوكړي.نوخرڅه ئې كړئ.رواه ابوداود

خوابوحنيفه رحمه الله ددې حديثونودا تاويل كړې دې.چه دوى په داسې صورت كې امام ته پيش كړئ.اوكه هغه تاسو ته اجازت دركړي.نوتاسوېرې حد جارئ كړئ.نورسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته د حد قائمولو اجازت وركړې وو.خوابن الهمام رحمه الله فرمائي.چه دا تاويل به نورعالمان اونه مني.ځكه چې د احاديثونه هم دا ښكاره كيږي.چه شريعت د غلامانوپه معامله كې مالكان خپل نائبان جوړ كړي دي.نوترڅوچه ددې معارض بل روايت اودليل نه وي.نوترهغه وخته پورې به دحديث په ظاهرباندې عمل كولې شي.

خوزه مترجم وايم.چه صحابه كرام رضي الله عنهم واړه عادلان اوپه عدالت قائم وو.اوحدودو اوحقوقوبه ئې پوره پوره خيال ساتل.نوځكه احنافو رحمهم الله دهغوى په نيابت كې څه شك نه دې كړې.خوپه دې مسئله كې ئې سوچ كړې دې.چه نور خلگ هم دهغوى پشان نائبان كيداې شي كه نه؟ځكه چې د نورو لپاره څه شرعي اجازت نشته.ځكه چې ددې خبرې احتمال پاته دې.چه مالكان د مقررحد نه زيادت اوكړي.اوهغوى ته سخته سزا وركړي.بيا خاص كرپه هغه وخت كښې چې دهغوى نه ئې خفگان زيات وي.اوحدود قائمول د بندګانوحق نه دې.ځكه چې دا خو خالص دالله تعالى حق دې.نوددې خبرې زياته ويره موجود ده.چه د اصلاح په ځائې فساد خورشي.نوځكه هم دا غوره ده.چه امام پخپله حدود قائموى.ددې امله احنافوعالمانو رحمهم الله د امام اختيار واجب كړې دې.والله اعلم بالصواب.

احصان به كله متحقق كيږي؟

قَالَ (وَإِحْصَانُ الرَّجْمِ أَنْ يَكُونَ حُرًّا عَاقِلًا بَالِغًا مُسْلِمًا قَدْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَدَخَلَ بِهَا وَهُمَا عَلَى صِفَةِ الْإِحْصَانِ) فَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ شَرْطٌ لِأَهْلِيَّةِ الْعُقُوبَةِ إِذْ لَا خِطَابَ دُونَهُمَا، وَمَا وَرَاءَهُمَا يُشْتَرَطُ لِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ بِوَاسِطَةِ تَكَامُلِ النِّعْمَةِ إِذْ كُفْرَانُ النِّعْمَةِ يَتَغَلَّظُ عِنْدَ تَكَثُّرِهَا، وَهَذِهِ الْأَشْيَاءُ مِنْ جَلَائِلِ النِّعَمِ. وَقَدْ شُرِعَ الرَّجْمُ بِالزِّنَا عِنْدَ اسْتِجْمَاعِهَا فَيُنَاطُ بِهِ بِخِلَافِ الشَّرَفِ وَالْعِلْمِ، لِأَنَّ الشَّرْعَ مَا وَرَدَ بِاعْتِبَارِهِمَا وَنَصْبُ الشَّرْعِ بِالرَّأْيِ مُتَعَذِّرٌ، وَلِأَنَّ الْحُرِّيَّةَ مُمَكِّنَةٌ مِنَ النِّكَاحِ الصَّحِيحِ وَالنِّكَاحُ الصَّحِيحُ مُمَكِّنٌ مِنَ الْوَطْءِ الْحَلَالِ، وَالْإِصَابَةُ شِبَعٌ بِالْحَلَالِ، وَالْإِسْلَامُ مُمَكِّنُهُ مِنْ نِكَاحِ الْمُسْلِمَةِ وَيُؤَكِّدُ اعْتِقَادَ الْحُرْمَةِ فَيَكُونُ الْكُلُّ مَزْجَرَةً عَنِ الزِّنَا. وَالْجِنَايَةُ بَعْدَ تَوَفُّرِ الزَّوَاجِرِ أَغْلَظُ (١)

حل اللغة: ① **العقوبة**:سزا ② **يتغلظ**:سختيږى ③ **شبع**:مړيدل ④ **جلائل**:جمع د جليل لوئې ⑤ **الشرف**:عزت ⑥ **مزجرة**:بندونكې ⑦ **توفر**:تمام (پوره) والې .زياتوالې ⑧ **الزواجر**:جمع د زاجر،زورونه وركونكى

زباړه:- اود رجم لپاره ددې مجرم احصان شرط لګولې شوې دې.په دې كې داحصان معنى دا ده.چه سړې آزاد،عاقل،بالغ اومسلمان وي.اوهغه ديوې ښځې سره صحيح نكاح كړې وي.اوپه هغې باندې ئې دخول هم كړې وي.اود احصان دا صفتونه ددغه دخول په وخت كې په دواړوكې موجود وي.نوپه دې طريقه عاقل اوبالغ خود دحد سزا قائمولوشرطونه دي.ځكه چې په دې دواړو پورې دالله تعالى حكم متعلق نه دې.اوپاتـه شيان (څيزونه) ددې امله شرط دي.چه دنعمت پوره كيدو په وجه دده جرم كامل شي.ځكه چې نعمتونه پوره وي. نو د دې باوجود ددې ناشكرى كول سخته ګناه ده.اودا شيان (څيزونه) هم په لويو نعمتونوكې دي.اوچه دا نعمتونه په يوځائې موجود شوى وي.نود زنا په وجه رجم واجبيږي.ځكه چې د رجم كاوه حكم ددې نعمتونويوځائې كيدونه روسته ثابتيږي.ددې نعمتونوپه خلاف دشرافت اوعلم شرطونه نه دى لګولې شوى.ځكه چې په شريعت كې ﴿د حدزنا په قائمولوكې﴾ ددې څيزونو اعتباركول ثابت نه دى.اوددې په اړه كې څه روايت هم نشته.اوصرف په خپله رائې باندې يوه مسئله ثابتول ناممكن دى.او دوهم دليل دا دې.چه دآزادئ په وجه د صحيح نكاح كولوقدرت ملاويږي.اوددې موقع ملاويږى.اودصحيح نكاح كولونه

---

(١) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى الكفاية (٥\٢٣) والخانية (٤\١٠٤١) ورد المختار(٣\١٦٣) والبحر الرائق (٥\١٠١) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٣٦)-

روسته د حلالې وطی قدرت پیدا کیږي. اوددخول نه روسته چې دا جائزکاراوکړي. نوارام اواطمینان ورته ملاویږي. اوداسلام په وجه د یوې مسلمانې ښځې سره د نکاح کولوقدرت ملاویږي. اوهم ددې اسلام په وجه د زنا دحرمت اعتقاد قوی کیږي. نو دا خبرې په مجموعی طوریومسلمان د زنا نه په سختئ سره منع کوی. اوددومره زیاتو رکاوټونو او ممانعتونوباوجود دده زنا کول زیاته سخته ګناه ده.

وَالشَّافِعِي يُخَالِفُنَا فِي اشْتِرَاطِ الْإِسْلَامِ وَكَذَا أَبُو يُوسُفَ فِي رِوَايَةٍ لَهُمَا مَا رُوِيَ " {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ رَجَمَ يَهُودِيَّيْنِ قَدْ زَنَيَا} ( ) قُلْنَا: كَانَ ذَلِكَ بِحُكْمِ التَّوْرَاةِ ثُمَّ نُسِخَ، يُؤَيِّدُهُ {قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَنْ أَشْرَكَ بِاللَّهِ فَلَيْسَ بِمُحْصَنٍ} ([٢]) وَالْمُعْتَبَرُ فِي الدُّخُولِ إِيلَاجٌ فِي الْقُبُلِ عَلَى وَجْهٍ يُوجِبُ الْغُسْلَ. وَشَرْطُ صِفَةِ الْإِحْصَانِ فِيهِمَا عِنْدَ الدُّخُولِ، حَتَّى لَوْ دَخَلَ بِالْمَنْكُوحَةِ الْكَافِرَةِ أَوْ الْمَمْلُوكَةِ أَوْ الْمَجْنُونَةِ أَوْ الصَّبِيَّةِ لَا يَكُونُ مُحْصَنًا، وَكَذَا إِذَا كَانَ الزَّوْجُ مَوْصُوفًا بِإِحْدَى هَذِهِ الصِّفَاتِ وَهِيَ حُرَّةٌ مُسْلِمَةٌ عَاقِلَةٌ بَالِغَةٌ، لِأَنَّ النِّعْمَةَ بِذَلِكَ لَا تَتَكَامَلُ إِذْ الطَّبْعُ يَنْفِرُ عَنْ صُحْبَةِ الْمَجْنُونَةِ، وَقَلَّمَا يَرْغَبُ فِي الصَّبِيَّةِ لِقِلَّةِ رَغْبَتِهَا فِيهِ وَفِي الْمَمْلُوكَةِ حَذَرًا عَنْ رِقِّ الْوَلَدِ وَلَا ائْتِلَافَ مَعَ الِاخْتِلَافِ فِي الدِّينِ وَأَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ يُخَالِفُهُمَا فِي الْكَافِرَةِ، وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا ذَكَرْنَاهُ وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا تُحْصِنُ الْمُسْلِمَ الْيَهُودِيَّةُ وَلَا النَّصْرَانِيَّةُ وَلَا الْحُرَّ الْأَمَةُ وَلَا الْحُرَّةَ الْعَبْدُ} ([٣])

حل اللغة: ① ايلاج: داخلول ② ينفر: نفرت کوی ③ صحبة: جماع کول ④ حذرا: دوجې د ویرې نه ⑤ رق: غلامی ⑥ ائتلاف: رغبت کول

زباړه:- خوامام شافعی رحمه الله د محصن په شرطونوکې د مسلمان کیدو په شرط کې زمونږ مخالفت کوی. دغه ډول یوروایت دامام ابویوسف رحمه الله نه هم نقل دې. ددې دواړوامامانودلیل هغه حدیث دې. کوم چې د رسول الله ﷺ نه منقول دې. چه رسول الله ﷺ یو یهودی سړي اویوه یهودره ښځه چې دا دواړه محصن وو. رجم کړي وو. ﷺرواه ابن حبان رحمه الله ددې روایت هم دا ځواب ورکوو. چه داسې کول خو د دیت دحکم په وجه وو. روستو بیا دا هم منسوخ شو. اوددې منسوخ کیدو دلیل د رسول الله ﷺ دا فرمان دې. چاچه دالله تعالی سره شرك اوکړلو. نومشرك محصن نه دې. ددې روایت اسحاق اوابن راهویه رحمه الله کړې دې. په دې مسئله کې توقف کول غوره دی. اوپه دخول کې معتبردا دی. چه په فرج کې داسې داخل شوې وی. چه په هغې سره غسل فرض کیږي. یعنی حشفه غائبه شوې وی. اوصاحب دقدوری رحمه الله د دخول په وخت کې په دواړوکې د احصان شرط لګولې دې. تردې که مسلمان خاوند په خپلې یهودیه یا نصرانیه ښځې یا مملوکې وینځې یا لیونئ انجلی باندې دخول کړې وی. ﷺاوددې نه روسته دې د بل چا سره زنا اوکړي ﷺ نودې محصن نه دی. دغه ډول که په سړي کې په دې خبروکې یوه خبره وی. یعنی کافریا غلام، یا لیونې یا نابالغه وی. حالانکه ښځه ئې آزاده، مسلمانه، عاقله اوبالغه وی. ﷺاوددې نه روسته دا د بل سړي سره زنا اوکړي ﷺ نوهم دا محصنه نه ده. څکه چې په دې څیزونونعمت پوره کیږي. څکه چې د لیونئ دجماع نه طبعیت نفرت کوی. اودنابالغې چونکه په خپله شهوت نه وی. نوځکه هغې سره د جماع کولوپه وخت کې د خاوند رغبت کوی. اودوینځې سره په نکاح کولوکې بې رغبتی څکه وی. چه دهغې نه کوم اولاد پیدا کیږي. هغه به هم د بل مملوك وی. اودپلار وجه په خپل مینځ کې مینه نه وی. ددې کافرې ښځې په اړه کې خوامام ابویوسف رحمه الله زمونږ سره اختلاف کوی. خودهغوی خلاف زمونږ دلیل هم هغه دې. کوم چې مونږ وړاندې بیان کړلو. او دوهم دلیل دا دې. چې مسلمان سړي خاوند یهودیه یا نصرانیه ښځه محصن نشی جوړولې. دغه ډول آزاد سړي دهغه وینځه

---

۱) من ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاری فی الحدود باب ۳۷ ومسلم فی الحدود رقم ۲۶ ومالک فی الحدود رقم ۱ والشافعی فی الرسالة فقرة ۶۹۲) وأبوداود فی الحدود باب ۲۵ رقم ۴۴۴۶ وابن ماجه فی الحدود رقم ۲۵۵۶)_

۲) من حدیث ابن عمر((أخرجه إسحاق بن راهویه رحمه الله فی مسنده والدارقطنی فی سننه ۱۹۹/۳)_

۳) غربه الزیلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج بروایة کعب بن مالك رضي الله عنه ما هو بمعناه وعزاه إلی مصنف ابن أبی شیبة نصب الرأیة (۵۰)_

منکوحه محصن نشي جوړولي.اوازاده ښځه غلام سړي محصنه نشي جوړولي. هٰذا حديث دنظرنه نه دي تير شوي.اوابن ابي شيبه دكعب بن مالكﷺ نه روايت كړي دي.چه دوى ديوي يهوديه سره نكاح كول اوغوښتل.نورسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل.ته ورسره نكاح مه كوه.ځكه چې هغه تا محصن نشي جوړولي.

رجم اوكوړي دواړه نشي جمع كيداي

قال ولايجمع في المحصن بين الرجم والجلد لأنه عليه الصلاة والسلام لم يجمع ( ) ولأن الجلد يعري عن المقصود مع الرجم لأن زجر غيره يحصل بالرجم إذهو في العقوبة أقصاها وزجره لايحصل بعد هلاكه

حل اللغة: ① **يعرى**:خالي كيږي ② **اقصى**:آخرى انتهائي

ژباړه:- فرمائي.اوپه محصن كي به د سنگسارسره د كوړو دواړه سزاگاني نشي جمع كولي.ځكه چې رسول الله ﷺ دا دواړه سزاگاني نه دي جمع كړې.اوددې امله هم چې د سنگسارنه روسته د كوړو وهلوڅه فائده نشته.ځكه چې نورو ته د تنبيه وركولوفائده په سنگساركولوسره حاصليږي.ځكه چې سخته سزا خو سنگساركول دي.اوخپله زناكارته هم د هغه دمرگ نه روسته تنبيه نشي ملاويدې.

تشريح:- «**ولايجمع في المحصن**» يعني په كوم صورت كي چې زناكارته رجم وركولي شي.نوددې سزا سره به دكوړو وركولوسزا نشي جمع كولې.ځكه چې د رجم سزا ډيره سخته ده.ددې سره د كوړو سزا جمع كول څه فائده نه وركوي.ځكه چې د سزا نه مقصود نور خلگ د زنا كاوه نه منع كول دي.اوهغه په رجم سره حاصل شو.دامام مالك ،شافعي اودامام احمد ﷺ نه په يوروايت كي دي.چه رجم او كوړې به جمع كولې شي.اودليل دحضرت عباده بن صامتﷺ روايت دي.په كوم كښې چې كوړې اود وطن نه بهرته ترتېل (شړل) جمع شوى دي.اوپه يوبل روايت كي كوړې اورجم جمع شوي دي.احناف ﷺ فرمائي.چه دحضرت عباده بن صامتﷺ روايت د الله تعالى ددې قول چې [وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا] بيان دي.اوداحنافو ﷺ دليل دا دي چې دصاحبة العيف په اړه كي نبيﷺ صرف د رجم حكم وركړې وو.دغه ډول حضرت ماعزﷺ ته صرف درجم وركولوحكم وو.د كوړو نه وو.

د كوړو اوجلاوطنۍ نه جمع كول

قَالَ (وَلَا يُجْمَعُ فِي الْبِكْرِ بَيْنَ الجلد وَالنَّفْيِ) وَالشَّافِعِي يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا حَدًّا {لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جلد مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ} ([1]) وَلِأَنَّ فِيهِ حَسْمَ بَابِ الزِّنَا لِقِلَّةِ الْمَعَارِفِ. وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى {فَاجْلِدُوا} جَعَلَ الجلد كُلَّ الْمُوجَبِ رُجُوعًا إلَى حَرْفِ الْفَاءِ وَإِلَى كَوْنِهِ كُلَّ الْمَذْكُورِ، وَلِأَنَّ فِي التَّغْرِيبِ فَتْحَ بَابِ الزِّنَا لِانْعِدَامِ الِاسْتِحْيَاءِ مِنْ الْعَشِيرَةِ ثُمَّ فِيهِ قَطْعُ مَوَادِّ الْبَقَاءِ، فَرُبَّمَا تَتَّخِذُ زِنَاهَا مَكْسَبَةً وَهُوَ مِنْ أَقْبَحِ وُجُوهِ الزِّنَا، وَهَذِهِ الْجِهَةُ مُرَجِّحَةٌ لِقَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ: كَفَى بِالنَّفْيِ فِتْنَةً، ([4]) وَالْحَدِيثُ مَنْسُوخٌ كَشَطْرِهِ، وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جلد مِائَةٍ وَرَجْمٌ بِالْحِجَارَةِ} ([2]) وَقَدْ عُرِفَ طَرِيقُهُ فِي مَوْضِعِهِ. قَالَ (إلَّا أَنْ يَرَى الْإِمَامُ فِي ذَلِكَ مَصْلَحَةً فَيُغَرِّبَهُ عَلَى قَدْرِ مَا يَرَى) وَذَلِكَ تَعْزِيرٌ وَسِيَاسَةٌ، لِأَنَّهُ قَدْ يُفِيدُ فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ فَيَكُونُ الرَّأْيُ فِيهِ إلَى الْإِمَامِ، وَعَلَيْهِ يُحْمَلُ النَّفْيُ الْمَرْوِيُّ عَنْ بَعْضِ الصَّحَابَةِ ([5])

---

[1]) كما هو مذكور في حديث العسيفﷺ وحديث ماعزﷺ حديث عسيف ﷺ برواية أبي هريرةﷺ أخرجه أصحاب الكتب الستة وأما حديث ماعزﷺ فقد تقدم مراراً نصب الراية بتغير ٥٠٤/٣ـ

١) من حديث عبادة بن صامتﷺ أخرجه مسلم نصب الراية ٥٠٥/٣ـ

٢) أخرجه محمد بن الحسن في الآثار وعبدالرزاق في مصنفه نصب الراية ٥٠٦/٣ـ

٣) هوحديث عبادة بن صامت ﷺ السابق)ـ

٤) من هو مروى عن ابن عمر ﷺ أن النبيﷺ ضرب وغرب،وأن أبابكرﷺ ضرب وغرب،وأن عمرﷺ ضرب وغرب أخرجه الترمذي في الحدود باب ١١)ـ

حل اللغة: ① **بكر** پيغله ② **النفى**:جلاوطنى ③ **حسم**:بنديدل ④ **المعارف**:پيژندګلو ⑤ **التغريب**:د وطن نه شړل ⑥ **مكسبة**:ذريعه د كسب او د ګټې

ژباړه:- ﴿اوچه وادۀ شوې نه وي.برابره ده كه سړې وي اوكه ښځه﴾ دوى ته به هم دكوړو وهلواوجلاوطنۍ دوي [دوه] سزاګانې نشي وركولې.اوامام شافعي رحمه الله دواړه سزاګانې دحد په طورهم جمع كوى.دهغه حديث د امله چې ناوادۀ شوې هلك ته به دناوادۀ شوې انجلى سره د زنا په سزا كې سل كوړې اويوكال د جلاوطنۍ سزا وركولې شى. ﴿رواه مسلم﴾ اوددې امله چې دښارنه اوشړلې شى.نود زنا دروازه به بنده شى.ځكه چې نابلده ځائې ته لاړشى.نوپه ملاقاتيانواوپيژندګلو خلګ وكې ډيره كمى راځى. ﴿هم دا دوستان اوياران خونې په بدئ باندې اماده كوى﴾اوزمونږ دليل دالله تعالى دا فرمان دې. [اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِىْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ] په دې كښې لفظ د ((فَاجْلِدُوْا)) دې.ددې په ذريعه ئې صرف كوړې وهل پوره سزا بيان كړې ده. په دې چې په دې كې دفاء كلمه اوكتلې شى.نودا معلوميږى.چه چا زنا كړې وى.دهغه واجبى اوپوره سزا سل كوړې دى.نومعلومه شوه.چه پوره سزا سل كوړې دى.يا دا اوګورئ چې كومه سزا ئې ذكركړې ده. نو هم دا سل كوړې دى.نوكه په دې باندې بله سزا زياته كړې شى.نواصل حكم به بدل شى.اوداسې زيادت ته منسوخ كيدل وائى.حالانكه قرآن په داسې حديث باندې منسوخ كول جائز نه دى﴾اوددې امله هم چې د ښارنه بهركړې شى.نود زنا دروازه پرانستې كيږى.ځكه چې يود كور اوخاندان څخه به دده حيا ختمه شى.اوبيا چې دې د ښارنه اوويستې شى.نوچه دده دخوراك څكاك اوضروريات ژوند ختم شى.نوبعضې وخت ښځه زناكارى دخپل معيشت مستقله ذريعه جوړه كړى.اودا فعل د زنا په طريقوكې د ټولونه بدترينه طريقه ده.ددې امله به دحضرت على رضي الله عنه قول ته ترجيح وركولې شى.چه دښارنه ترټل د فتنې خورولو لپاره كافى دى. ﴿دا خبره امام محمد رحمه الله په كتاب الآثاركې كړې ده﴾ اوپه كوم حديث چې امام شافعي رحمه الله استدلال كړې دې.هغه منسوخ دې.لكه څنګه چې ددې حديث دا برخه منسوخ ده.چه واده شوې سړې چې واده شوې ښځې سره زنا اوكړى.نوهغه په كوړو باندې د وهلونه علاوه په كاڼړو رجم كول هم دى. ﴿دا مطلب حازمى اومنذرى رحمهما الله غوره كړې دې﴾ اوددې منسوخ كيدو طريقه په خپل ځائې ﴿طريقه اختلاف﴾ كې ذكركړې شوې ده.﴾ لنډيز دا چې د ښارنه ترټل د حد په طور سره نه دى.بلكه كه امام داسې كول ضرورى اوګنړى.يا څه مصلحت په كې ورته ښكارى.نوچه دځومره ورخو لپاره ورته هغه مصلحت ښكارى.دښارنه دې اوشړى.دامام داسې كول به د حد په طورنه وى.بلكه دتعزيراوسياست په طوربه وى.ځكه چې په بعضې حالاتوكې داسې كول هم ګټور وى.ددې امله ددې پوره فيصله دامام په رائې پورې موقوفه شوه.اودبعضې صحابه كرامو رضي الله عنهم چې دا منقول دى.چه هغوى دښارنه ترټل كړى دى. نوهغه هم ددې تعزيراوسياست په معنى باندې محمول دى. ﴿دابن عمر رضي الله عنه نه نقل دى.چه رسول الله ﷺ كوړې وهلى دى.اودښارنه ئې ترټل كړى دى.دغه ډول حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه هم كوړې وهلى دى.اودښارنه ئې ترټل كړى دى رواه الترمذى﴾

تشريح:- ((**قال ولايجمع فى ا لبكر**))يعنى ناوادۀ شوې زناكاربه سل كوړې وهلى شى.خويوكال لپاره به دښارنه نشى ويستلې.البته كه امام په دې كې مصلحت وينى.نوسياسةً هغه جلاوطنى كولې شى.دامام شافعي رحمه الله په نيزجلاوطنى هم د سزا يوه برخه ده.

دناجوړه محصن زناكارد رجم حكم

(وَاِذَازَنَى الْمَرِيْضُ وَحَدُّهُ الرَّجْمُ رُجِمَ) لِاَنَّ الْاِتْلَافَ مُسْتَحَقٌّ فَلَايَمْتَنِعُ بِسَبَبِ الْمَرَضِ (وَاِنْ كَانَ حَدُّهُ الْجلد لَمْ يجلد حَتّٰى يَبْرَاَ) كَيْلَايُفْضِىَ اِلَى الْهَلَاكِ وَلِهٰذَالَايُقَامُ الْقَطْعُ عِنْدَ شِدَّةِ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ

حل اللغة: ① **اتلاف** هلاكول ② **يبرا**:جوړ شى ③ **الحر**:ګرمى ④ **البرد**:يخنى

ژباړه:- اوكه يوداسې ناجوړه زنا اوكړه.چه دهغه سزا سنګسارول وو.نوهغه به هم سنګسارولې شى. ﴿په دې مسئله كې د څلورواړه امامانواتفاق دې﴾ ځكه چې دده هلاكت خو مقصود دې.نودده بيمارئ د امله به

دده نه رجم نشي بندولې.اوكه دده سزا كوړې وهل وي.نودده دصحته پورې به ده ته كوړې نشي وركولې.چه ددې كوړو په وهلوسره هلاك نشي.هم ددې امله په سخته يخنۍ يا سخته ګرمۍ كې به د غل لاس نشي كټ كولې.

تشريح:- ((**واذا زنى المريض**)) حاصل دا چې په سنګساركې هلاكت مقصود وي.نوځكه به په حالت د مرض كې هم سنګسارولې شي.البته په كوړو وهلوكې زورنه مقصود وي.نوكه په حالت د مرض كې په كوړو اووهلې شي.نودا مريض به هلاك شي.حالانكه دده هلاكت مقصود نه دې.بلكه دده منع كول مقصود دى.

دحاملې دحد جاري كولووخت

(وَإِنْ زَنَتِ الْحَامِلُ لَمْ تُحَدَّ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا) كَيْلَا يُؤَدِّيَ إِلَى هَلَاكِ الْوَلَدِ وَهُوَ نَفْسٌ مُحْتَرَمَةٌ (وَإِنْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدَ لَمْ تُجْلَدْ حَتَّى تَتَعَالَى مِنْ نِفَاسِهَا) أَيْ تَرْتَفِعَ يُرِيدُ بِهِ تَخْرُجُ مِنْهُ لِأَنَّ النِّفَاسَ نَوْعُ مَرَضٍ فَيُؤَخَّرُ إِلَى زَمَانِ الْبُرْءِ، بِخِلَافِ الرَّجْمِ؛ لِأَنَّ التَّأْخِيرَ لِأَجْلِ الْوَلَدِ وَقَدْ انْفَصَلَ. وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ يُؤَخَّرُ إلَى أَنْ يَسْتَغْنِيَ وَلَدُهَا عَنْهَا إذَا لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ يَقُومُ بِتَرْبِيَتِهِ (١) لِأَنَّ فِي التَّأْخِيرِ صِيَانَةَ الْوَلَدِ عَنْ الضَّيَاعِ، وَقَدْ رُوِيَ {أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ لِلْغَامِدِيَّةِ بَعْدَمَا وَضَعَتْ ارْجِعِي حَتَّى يَسْتَغْنِيَ وَلَدُك} (٢) ثُمَّ الْحُبْلَى تُحْبَسُ إلَى أَنْ تَلِدَ إنْ كَانَ الْحَدُّ ثَابِتًا بِالْبَيِّنَةِ كَيْ لَا تَهْرُبَ، بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ؛ لِأَنَّ الرُّجُوعَ عَنْهُ عَامِلٌ فَلَا يُفِيدُ الْحَبْسُ

حل اللغة: ① **تضع**:اوزيږوى ② **تتعالى**:پاكه شي ③ **صيانة**:حفاظت ④ **الضياع**:ضائع كيدل ⑤ **الحبلى**:حملداره زنانه ⑥ **تهرب**:اوتختي

ژباړه:- اوكله چې حامله زنا اوكړي.نودهغې دبچي پيدا كيدو پورې به په هغې باندې حد نشي جاري كولى. چې ددې په وجه دهغې بچې هلاك نشي.ځكه چې دا بچې خويوقابل احترام نفس دې.اوكه ددې حاملې زناكارې سزا د كوړو وهل وي.نوبنځه ترځودنفاس نه پاكه شوې نه وي.دې ته به كوړې نشي وركولې.ځكه چې نفاس يو ډول مرض دې.نوددې د ښه كيدوپورې به انتظاركولې شي.په خلاف د سنګساركولو،په هغې كې به د نفاس نه دپاكۍ پورې انتظارنشي كولې.ځكه چې روستووالې صرف د بچې د ساتنه لپاره وو .اوهغه پيدا شو.اودامام ابوحنيفهؒ نه روايت دې.چه په سنګساركې به ترهغه وخته پورې انتظاركولې شي.چه بچې ددې د تربيت محتاج پاتې نشي.خوپه دې شرط چې بل څوك ددې بچې د تربيت ذمه وار نه وي.ځكه چې په دومره روستوالى كې دماشوم ددې خبرې ساتنه دې.چه هغه به ضائع نشي.په حديث كې ذكردي.چه رسول اللهﷺ حضرت غامديهؓ ته د حمل ږيږلو نه روسته فرمائيلي وو.چه ته اوس واپس لاړه شه.ترڅو چې دا ماشوم ستا د تربيت نه لاپرواه شي. (١)هم دا قول اصح دې.اوپه دې باندې فتوى وركول پكار دي(٢)بيا داسې حامله چې دهغې زنا په ګواهانوسره ثابته شوې وي.نوهغه به د بچې د زيږيدل پورې په بندى خانه كې بندولې شي.چه هغه اونه تختي.په خلاف دهغه كس چې په خپله ئې د زنا اقراركړې وي. نو د هغه په بندى خانه كې د قيد كولوڅه فائده نشته.والله اعلم

تشريح:- دا خبره دې واضحه وي.چه دكوم مريض دښه كيدو اميد وي.نودهغه د كوړو روستو كول د عامو فقهاؤ دا قول دې.خودامام احمدؒ په نيزبه په كې تاخيرنشي كولې.بلكه په ده باندې به د هغه كس پشان حد جاري كولې شي.كوم چې مورزاده (پيدائشي) دومره كمزورې وي.چه د كوړو برداشت نشي كولې.نو د داسې كس لپاره به زمونږ،امام شافعيؒ په نيزد سلوډكويوه جارو جوړه كړې شي.چه هغه ورته په يوځل راګذاركړي.نوهريوډكې دهغه بدن ته اورسي.په دې كې اصل دحضرت سعيدبن سعد بن عبادهؓ حديث دې.په دغه حديث كې هغوى فرمائيلي دي.چه زمونږ په محله كې يوكس مورزاده (پيداشى) ډيرزيات

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(۱۶۳\۳) والكفاية (۳۰۱\۵) والعناية (۳۰۱\۵) نقلاً عن القول الراجح (۴۳۷\۱)۔

[2]) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل ما هو بمعناه عن بريدةؓ وعزاه إلى مسلم نصب الرأية ۵۰۸/۳)۔

كمزوري وو. اوهغه ديوې ښځې سره زنا اوكړله. نوحضرت سعدبن عباده ﷺ نبي ﷺ ته دا واقعه بيان كړه. نبي ﷺ اوفرمائيل په ده باندې حد جاري كړئ. خلګ وعرض اوكړلو. يا رسول الله ﷺ هغه ډيرزيات كمزوري دې. هغه به وهل برداشت نكړې شي. نوبيا نبي ﷺ اوفرمائيل. چه دسلو ډكو يوه ګيډۍ راواخلئ. اوهغه پرې په يوځل اووهئ. نوهم هغه شان اوكړې شو. ددې روايت احمد، نسائي ابن ماجه اوامام شافعي رحمه الله په حسن سند سره كړې دې.

(بَابُ الْوَطْءِ الَّذِي يُوجِبُ الْحَدَّ وَالَّذِي لَا يُوجِبُهُ)

ژباړه:- باب د داسې وطی بيان كومه چې حد واجبوي. اوكومه چې حد نه واجبوي.

حد واجبونكې وطى

قَالَ (الْوَطْءُ الْمُوجِبُ لِلْحَدِّ هُوَ الزِّنَا) وَإِنَّهُ فِي عُرْفِ الشَّرْعِ وَاللِّسَانِ: وَطْءُ الرَّجُلِ الْمَرْأَةَ فِي الْقُبُلِ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ، وَشُبْهَةِ الْمِلْكِ لِأَنَّهُ فِعْلٌ مَحْظُورٌ، وَالْحُرْمَةُ عَلَى الْإِطْلَاقِ عِنْدَ التَّعَرِّي عَنْ الْمِلْكِ وَشُبْهَتِهِ، يُؤَيِّدُ ذَلِكَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ " {ادْرَءُوا الْحُدُودَ بِالشُّبُهَاتِ} (١) " ثُمَّ الشُّبْهَةُ نَوْعَانِ: شُبْهَةٌ فِي الْفِعْلِ وَتُسَمَّى شُبْهَةَ اشْتِبَاهٍ، وَشُبْهَةٌ فِي الْمَحَلِّ وَتُسَمَّى شُبْهَةً حُكْمِيَّةً. فَالْأُولَى تَتَحَقَّقُ فِي حَقِّ مَنْ اشْتَبَهَ عَلَيْهِ، لِأَنَّ مَعْنَاهُ أَنْ يَظُنَّ غَيْرَ الدَّلِيلِ دَلِيلًا وَلَا بُدَّ مِنْ الظَّنِّ لِيَتَحَقَّقَ الِاشْتِبَاهُ. وَالثَّانِيَةُ تَتَحَقَّقُ بِقِيَامِ الدَّلِيلِ النَّافِي لِلْحُرْمَةِ فِي ذَاتِهِ وَلَا تَتَوَقَّفُ عَلَى ظَنِّ الْجَانِي وَاعْتِقَادِهِ. وَالْحَدُّ يَسْقُطُ بِالنَّوْعَيْنِ لِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ. وَالنَّسَبُ يَثْبُتُ فِي الثَّانِيَةِ إذَا ادَّعَى الْوَلَدَ، وَلَا يَثْبُتُ فِي الْأُولَى وَإِنْ ادَّعَاهُ لِأَنَّ الْفِعْلَ تَمَحَّضَ زِنًا فِي الْأُولَى، وَإِنْ سَقَطَ الْحَدُّ لِأَمْرٍ رَاجِعٍ إلَيْهِ وَهُوَ اشْتِبَاهُ الْأَمْرِ عَلَيْهِ وَلَمْ يَتَمَحَّضْ فِي الثَّانِيَةِ

حل اللغة: ① **اللسان**: ژبه ② **محظور**: ناجائز ③ **التعرى**: خالي والې ④ **يتمحض**: خالص كيږي

ژباړه:- مصنف رحمه الله فرمائي. كومه وطى چې حد واجبوي. هغه زنا ده. اودزنا شرعي اولغوي معنى دا ده. چه سړې د يوې پردۍ ښځې سره دهغې په فرج كې وطى اوكړي. حالانكه هغه ښځه د ملك اوشبه ملك نه خالي وي. ﴿دزنا مكمل تعريف ددې نه وړاندې دا ذكرشوې وو. اوس مصنف رحمه الله دتفصيل په غرض د هر يو قيد بيانولووجه اوددې فائده بيانوي. نوفرمائي﴾ ددې امله چې زنا يوممنوع فعل دې. اوددې پوره حراموالې به په هغه وخت كې وي. چه دملك نكاح اوملكه رقبه ﴿يعني دښځې توب اووينځې توب دملكيت﴾ نه اوددې دواړو ملكونود شبه نه هم خالي وي. ددې خبرې تائيد د رسول الله ﷺ ددې فرمان نه هم كيږي. چه تاسود شبهاتوپه وجه حدود دفع كوئ. بيا شبه په دوې [دوه] ډول وي. يوپه فعل كې دې ته شبه اشتباه وائي. اودويمه په محل كې دې ته شبه حكميه وائي. ﴿مثلاً يوكس په يوه ښځه په تكه توره شپه كې دخپلې ښځې ګمان اوكړلو. اوهغې سره ئې وطى اوكړله. نودا فعلي شبه ده. اوكه ښځې ته طلاق بائن وركړي. اودهغې د عدت په ورځوكې هغې سره وطى اوكړي. اودا خيال كوي. چه اوس هم دا زما لپاره حلاله ده. يا پلار دخپل ځوى وينځې سره وطى اوكړي. نودا شبه محلي ده﴾ نوداولنى ډول تحقق اوثبوت صرف د يوداسې كس په حق كې كيږي. چاته چې په كارونوكې شبه راځي. ځكه چې د شبه پيدا كيدو معنى دا ده. چه داسې څيزدليل اوګڼړي. كوم چې دليل نه وي. خودهغې ګمان ضرور وي. ددې لپاره چې شبه موجود شي. اود دوهم ډول تحقق اوثبوت دده د ګمان نه بغيرهم كيږي. په هغه وخت كې چې په اصل كې دهغې څه دليل موجود وي. چه په هغې سره ددې نفي كيږي. چه ددې څيزحرمت ددې د ذات په اعتبارسره نه دې. ﴿لكه څنګه چې په حديث كې فرمائيلي دي. چه تاسواوستاسومالونه واړه ستاسودپلار دي.﴾ اوددې وجوب د وطى كونكي په ګمان اواعتقاد باندې موقوف نه دې. اوپه دې دواړه قسمه شبهاتو باندې هم دا حدزنا ساقطيږي. ځكه چې حديث

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل بعض الروايات ما يستدل بها لهذا المعنى فمنها رواية علي ﷺ أخرجه البيهقي في الخلافيات ورواية ابن عباس رضي الله عنهما أخرج في مسند أبي حنيفة رحمه الله ورواية عمربن الخطاب ﷺ أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه كذا في نصب الراية ٣/٥٠٨)_

مطلقاً ټولوشبهاتوته ګډ دي.یعنې هر ډول شبه حد ساقطوي.خوپه دواړه قسمه شبهاتوکي دا توپیر دي چه په دویم ډول شبه کي نسب ثابتیږي.چه دنسب دعوه اوکړي.اوپه اولني ډول کي نه ثابتیږي.اګرچه دعوه د نسب اوکړي.ځکه چې دا وطئ کول سراسری زنا نه ده.البته په دې باندې حد ددې امله ساقط شو.چه ده د داسې خبرې دعوه اوکړله.چه دهغې تعلق هم ددې سره دې.یعنې چې دا اووائي.چه په ما باندې اشتباه راغلې وه.اوپه دوهم ډول شبه کي صرف د زنا تصورنشته.

تشریح:- حاصل دا چې په دې عبارت کښې ئې د زنا تعریف کړې دې.چه هرهغه وطی چې په کومه باندې شرعی حد واجبیږي.هغې ته زنا وئیلې شي.اوکه په دغه وطی کې څه ډول شبه وي.که هغه د ملکیت وي اوکه د نکاح وي.نوهغه به زنا نه وي.یعنې په هغې باندې به حد نه واجبیږي.اووړاندې د شبه قسمونه بیانوي.اوهغه مقامات هم بنائي.په کوموکي چې شبه فی الفعل ده.اوچه په کوموکي شبه فی المحل ده.چه په دې دواړه قسمه شبهاتوباندې حد ساقطیږي.دامام ا بوحنیفه رحمه الله په نیزد شبه یودریم ډول هم شته.چه هغې ته شبه فی العقدوائي.صاحب دهدایه رحمه الله دغه ډول مستقلاً نه دې ذکرکړې.

د دواړه قسمه شبهاتوقسمونه

فَشُبْهَةُ الْفِعْلِ فِي ثَمَانِيَةِ مَوَاضِعَ: جَارِيَةُ أَبِيهِ وَأُمِّهِ وَزَوْجَتِهِ، وَالْمُطَلَّقَةُ ثَلَاثًا وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، وَبَائِنًا بِالطَّلَاقِ عَلَى مَالٍ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، وَأُمُّ وَلَدٍ أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، وَجَارِيَةُ الْمَوْلَى فِي حَقِّ الْعَبْدِ، وَالْجَارِيَةُ الْمَرْهُونَةُ فِي حَقِّ الْمُرْتَهِنِ فِي رِوَايَةِ كِتَابِ الْحُدُودِ. فَفِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ لَا حَدَّ عَلَيْهِ إِذَا قَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي. وَلَوْ قَالَ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ وَجَبَ الْحَدُّ. وَالشُّبْهَةُ فِي الْمَحَلِّ فِي سِتَّةِ مَوَاضِعَ: جَارِيَةُ ابْنِهِ، وَالْمُطَلَّقَةُ طَلَاقًا بَائِنًا بِالْكِنَايَاتِ، وَالْجَارِيَةُ الْمَبِيعَةُ فِي حَقِّ الْبَائِعِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ وَالْمَمْهُورَةُ فِي حَقِّ الزَّوْجِ قَبْلَ الْقَبْضِ، وَالْمُشْتَرَكَةُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ، وَالْمَرْهُونَةُ فِي حَقِّ الْمُرْتَهِنِ فِي رِوَايَةِ كِتَابِ الرَّهْنِ. فَفِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ لَا يَجِبُ الْحَدُّ وَإِنْ قَالَ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ. ثُمَّ الشُّبْهَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَثْبُتُ بِالْعَقْدِ وَإِنْ كَانَ مُتَّفَقًا عَلَى تَحْرِيمِهِ وَهُوَ عَالِمٌ بِهِ، وَعِنْدَ الْبَاقِينَ لَا تَثْبُتُ إِذَا عَلِمَ بِتَحْرِيمِهِ، وَيَظْهَرُ ذَلِكَ فِي نِكَاحِ الْمَحَارِمِ عَلَى مَا يَأْتِيكَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى، إِذَا عَرَفْنَا هَذَا

حل اللغة: ① مواضع:جمع د موضع ده ځائې، ② الممهورة:هغه زنانه چې مهر ورکړې شوی وی

ژباړه:- حاصل دا چې شبه فعلی په اته ځایونوکي پیدا کیږي.① چه دخپل پلارنیکه د وینځې سره وطی اوکړي.② چه دخپلې موراونیا یا نیکه د وینځې سره وطی اوکړي.③ چه دخپلې ښځې د وینځې سره وطی اوکړي.④ خپلې ښځې ته د درې طلاقو ورکولونه روسته هغې سره په عدت کي وطی اوکړي.⑤ ښځې ته د مال په عوض طلاق بائن ورکړي.اوبیا په عدت کي ورسره وطی اوکړي.⑥خپله ام ولد آزاده کړي.اوبه عدت کي هغې سره وطی اوکړي.⑦غلام دخپل مولی د وینځې سره وطی اوکړي.⑧مرتهن یعنی چا سره چې یوکس خپله وینځه ګانړه کړې وي.هغه د دغه وینځې سره وطی اوکړې.دا خبره دکتاب الحدود په روایت کي ده. ⑨اوهم دا مختار روایت دې. اودکتاب الرهن په روایت کي مطلقاً حد نشته نوپه دې اته مواقعوکي که وطی کونکی دا دعوه اوکړله.چه ما دا وطی حلاله ګنړلې وه.نوپه ده به حد نشی جاری کولې.اوکه دا اووائي.چه ما دا پیژندل.چه په ما باندې دا حرامه ده.نوحدبه واجبیږي.اودمحل شبه مواقع شپږ دي.① چه دخپل ځوی د وینځې سره وطی اوکړي②چه په کنایه سره طلاق بائن ور کاوه نه روسته خپلې ښځې سره وطی اوکړي.③ چه بالغ خپله وینځه وپلوري .اواخستونکی ته د حواله کاوه نه وړاندې ورسره وطی اوکړي. ④چه سړی خپله وینځه دخپلې ښځې په مهر کي ورکړې وي.خود ښځې د قبض کولونه وړاندې هغې سره وطی اوکړي.⑤ یوه وینځه د دوو کسانوپه مینځ کي شریکه وي.اویو ورسره وطی اوکړي⑥هغه مرتهن چې دیوکس سره وینځه ګانړه کینولې شي.اوهغه دغه وینځې سره وطی اوکړله. خودا دکتاب الرهن د روایت مطابق خبره ده.چه په دې مواقعوکي حد نه واجبیږي.اګرچه دې دا وائي.چه ما دا پیژندل.چه په ما باندې دا وطی حرامه ده.خوبیا دا هم معلومات کول پکاردي.چه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدعقدپه وجه شبه

ثابتيږي.اګرچه دعالمانوپه نيزپه اتفاق سره هغه حرامه وي.اووطي كونكي په خپله هم دا پيژني.چه دا عقد نكاح حرامه ده.ددې فقهاؤ د اختلاف نتيجه به په هغه ښځوكي ښكاره كيږي. چاسره چې دهميشه لپاره نكاح كول حرام وي.انشاءالله ددې تفصيل به روستو راشي.اوس چونكه دا خبره معلومه شوه.چه دشبه دوې [دوه] قسمونه دي.نوموږ په وړاندې ددې د مسائلوتشريح كوو.

مطلقه ثلاثه سره په وطي كولود حد قائمولوحكم

(وَمَنْ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ وَطِئَهَا فِي الْعِدَّةِ وَقَالَ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ حُدَّ) لِزَوَالِ الْمِلْكِ الْمُحَلِّلِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ فَتَكُونُ الشُّبْهَةُ مُنْتَفِيَةً وَقَدْ نَطَقَ الْكِتَابُ بِانْتِفَاءِ الْحِلِّ وَعَلَى ذَلِكَ الْإِجْمَاعُ وَلَا يُعْتَبَرُ قَوْلُ الْمُخَالِفِ فِيهِ لِأَنَّهُ خِلَافٌ لَا اخْتِلَافٌ، وَلَوْ قَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي لَا يُحَدُّ لِأَنَّ الظَّنَّ فِي مَوْضِعِهِ لِأَنَّ أَثَرَ الْمِلْكِ قَائِمٌ فِي حَقِّ النَّسَبِ وَالْحَبْسِ وَالنَّفَقَةِ فَاعْتُبِرَ ظَنُّهُ فِي إسْقَاطِ الْحَدِّ، وَأُمُّ الْوَلَدِ إذَا أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَالْمُخْتَلِعَةُ وَالْمُطَلَّقَةُ عَلَى مَالٍ بِمَنْزِلَةِ الْمُطَلَّقَةِ الثَّلَاثِ لِثُبُوتِ الْحُرْمَةِ بِالْإِجْمَاعِ وَقِيَامِ بَعْضِ الْآثَارِ فِي الْعِدَّةِ

حل اللغة: ① **الحبس**:قيد كول بندول ② **المختلعة**:هغه ښځه چې خلع ورسره شوې وي

ژباړه:- يوكس خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړل.اوبيا ئې ورسره هم په عدت كي وطي اوكړله.اودا ئې اووئيل.چه ما دا پيژندل.چه دا په ما حرامه ده.نوپه ده به حدجاري كولې شي. ﴿يعنې كه دې محصن وي.سنګساركولې به شي.ګنې سل كوړې به وهلې شي﴾ ځكه چې دې سرې لپاره چې دا د ملكيت په وجه دا حلاله وه.هغه ختم شوې دې.نوځكه څه شبه پاتې پاتې نه ده.اوقرآن پاك ددې د حلالوالي په صراحت سره نفي كړې ده.اوټولوعالمانو ﷺ په دې باندې اجماع كړې ده.كه يوكس په دې كي اختلاف كوي.نودهغه دخبرې به څه اعتبار نه وي.ځكه چې داسې كولوته خلاف وئيلې شي.اختلاف ورته نشي وئيلې.اوكه وطي كونكي دا اووئيل.چه زما په ګمان كي دا زما لپاره حلاله وه.نوپه ده به حد نشي جاري كولې.ځكه چې دده دا ګمان په خپله باندې دې. ﴿بې موقعې نه دې﴾ځكه چې دملكيت نكاح اثرپه ده باندې تراوسه پورې پاتې دې.مثلاً كه دعدت په مهال كي ددې بچې پيدا شي.نوهم دده څخه به دهغه نسب ثابت وي. او دعدت په موده كي دې لپاره دكورنه دوتلوممانعت دې.اوپه خاوندباندې ددې نفقه واجب ده.نوځكه به دحد په ساقط كولوكي دده دوهم اوګمان اعتباركولې شي.اوكه ام ولد خپل مولى آزاده كه.اوښځې سره ئې خلع اوكړله.يا ئې دمال په بدله كي ښځې ته طلاق وركړلو.اوبيا ئې د عدت موده كي دې سره وطي اوكړله.نوددوى حكم به د درې طلاقه وركونكي سره برابر وي.ځكه چې ددې ښځې حراموالې په اجماع سره ثابت دې.اودعدت په وخت كي دنكاح د بقا څه نښې پاتې كيږي.

تشريح:- «ومن طلق امراته» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دطلاق كنائي په عدت كي په وطي كولودحد جاري كيدو حكم

(وَلَوْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ خَلِيَّةٌ أَوْ بَرِيَّةٌ أَوْ أَمْرُكِ بِيَدِكِ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا ثُمَّ وَطِئَهَا فِي الْعِدَّةِ وَقَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ لَمْ يُحَدَّ) لِاخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ فِيهِ، فَمِنْ مَذْهَبِ عُمَرَ أَنَّهَا تَطْلِيقَةٌ رَجْعِيَّةٌ، (١) وَكَذَا الْجَوَابُ فِي سَائِرِ الْكِنَايَاتِ، وَكَذَا إذَا نَوَى ثَلَاثًا لِقِيَامِ الِاخْتِلَافِ مَعَ ذَلِكَ

ژباړه:- اوكه خپلې ښځې ته ئې اووئيل.چه ته خليه ئې.يا ته بريه ئې.يا دا چې ستا اختيارستا په لاس كي دې.اوپه دې وئيلوسره ښځې خپل ځان په اختياركي واخستلو.نوپه دې ټولوصورتونوكي كنائي طلاق واقع كيږي.خوددې باوجود د دې خاوند دې سره په عدت كي وطي اوكړله.اودا ئې اووئيل.چه ماته دا علم وو.چه دا په ما حرامه ده.نوبيا به هم ده ته حد نشي وركولې.ځكه چې دصحابه كرامو ﷺ په دې كي اختلاف دې.دحضرت عمر ﷺ په دې مسئله كي دا مسلك دې.چه په كناياتوباندې طلاق واقع كيږي. او په نوروكنايه

---

١) أخرجه عبدالرزاق في مصنفه برواية نخعى عن إبراهيم رحمه الله نصب الرأية ٥٠٨/٣)_

طلاقونوکي هم دا حکم دی.دغه ډول که په کنایه طلاق کي ئې د دریو طلاقو نیت کړې وی. «نوهم به حد ساقطیږی»ځکه چې په دې صورت کي هم اختلاف دی.

تشریح:- ((ولوقال لها انت حلية)) دژباړې نه مطلب واضح دی.

دخوی د وینځي سره وطی کول موجب حد نه ده

(وَلَاحَدَّ عَلَى مَنْ وَطِئَ جَارِيَةَ وَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ) لِأَنَّ الشُّبْهَةَ حُكْمِيَّةٌ لِأَنَّهَا نَشَأَتْ عَنْ دَلِيلٍ وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ "{أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ}(١)" وَالْأُبُوَّةُ قَائِمَةٌ فِي حَقِّ الْجَدِّ. قَالَ (وَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ وَعَلَيْهِ قِيمَةُ الْجَارِيَةِ) وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ (وَإِذَا وَطِئَ جَارِيَةَ أَبِيهِ أَوْ أُمِّهِ أَوْ زَوْجَتِهِ وَقَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَلَا عَلَى قَاذِفِهِ، وَإِنْ قَالَ: عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ حُدَّ، وَكَذَا الْعَبْدُ إِذَا وَطِئَ جَارِيَةَ مَوْلَاهُ) لِأَنَّ بَيْنَ هَؤُلَاءِ انْبِسَاطًا فِي الِانْتِفَاعِ فَظَنُّهُ فِي الِاسْتِمْتَاعِ فَكَانَ شُبْهَةَ اشْتِبَاهٍ إِلَّا أَنَّهُ زِنًا حَقِيقَةً فَلَا يُحَدُّ قَاذِفُهُ، وَكَذَا إِذَا قَالَتِ الْجَارِيَةُ: ظَنَنْتُ أَنَّهُ يَحِلُّ لِي وَالْفَحْلُ لَمْ يَدَّعِ فِي الظَّاهِرِ لِأَنَّ الْفِعْلَ وَاحِدٌ

حل اللغة: ① **جارية**:وینځه② **انبساط**:بې تکلفي،نرمي ③ **الفحل**:غلام

ژباړه:- اوپه هغه کس باندې حد نه جاری کیږی.چا چې دخپل ځوی یا نمسی د وینځي سره وطی کړې وی.اګرچه دې دا وائی.چه ماته علم دی.چه دا په ما حرامه ده.ځکه چې دا شبه حکمیه ده.ځکه چې د یودلیل په وجه دا شبه پیدا شوې ده.هغه دلیل د رسول الله ﷺ فرمان دی.چه ((أنت ومالك لأبيك)) یعنی ته اوستا مال اواسباب ستا د پلار دی. «ددې روایت ابن ماجه،طبرانی،اوابن حبان په خپل صحیح کي کړې دې اودا حدیث حسن صحیح دی» اوکوم حکم چې د پلار وی.هغه دنیکه هم وی. «یعنی د نیکه حکم هم د پلار پشان دی.چه په ده باندې به هم حد نه واجبیږی.دا مسئله موږ «په باب نکاح الرقیق کي» ذکرکړې ده.اوکه دخپلې پلار یا مور یا ښځې وینځې سره ئې وطی اوکړله.اودا اووائی.چه ما دا ګمان وو.چه دا به زما لپاره حلاله وی.نوپه باندې به حد نه لازمیږی.اوکوم کس چې په ده باندې د زنا تهمت اولګوی.نوپه هغه باندې به هم حدقذف نشی قائمولې.ځکه چې په حقیقت کي دا وطی حرامه وه.البته صرف د شبه پیدا کیدو په صورت کي به ده ته حدقذف نشی ورکولې.اوکه دا ئې اووئیل.چه ما پیژندل چې دا په ما باندې حرامه ده.نو هغې باندې به حد جاری کولې شی.دغه ډول که غلام دخپل مولی د وینځې سره وطی اوکړله.نوهم ددې تفصیل مطابق حکم دی.ځکه ددې خلګ وپه مینځ کي دګټې حاصلولوپه اعتبارسره فراخدلی وی.نوځکه دلته دا احتمال کیدای شی.چه په حقیقت کي ده ته په وطی کولوسره د نفعې حاصلولوګمان شوې وی.ددې امله ددې شبه نوم شبه اشتباه ده.خوچونکه په حقیقت کي دا زنا ده.نوکه یوکس په ده باندې د زنا تهمت اولګوی.نوهغه ته به حدقذف نشی ورکولې.دغه ډول وینځې دا اووئیل. چې زما ګمان دا وو.چه دا زما لپاره حلاله ده.حالانکه غلام څه دعوه نه وی کړې.نوبیا هم د ظاهرروایت مطابق په غلام باندې به حد نشی جاری کولې.ځکه چې دا فعل واحد دی. «یعنی دښځې اوسړی کاریعنی زنا یوه ده.نوچه کله د ښځې نه حد ساقط شی، د سړی څخه به هم ساقطیږی.»

تشریح:- ((ولاحد على من وطی)) چونکه حدود په شبه سره ساقطیږی.نوپه ذکرشوی صورتونوکي د پلار، نیکه لپاره دخپل ځوی یا نمسی د وینځې سره د وطی کولوپه صورت کي شبه د ملکیت شته.ځکه چې په حدیث کي دی.((انت ومالک لابیک)) نوځکه شبه واقع شوه.نوحد به نشی جاری کولې.

د ورور اوتره د وینځي سره وطی کولوباندې وجوب حد

(وَإِنْ وَطِئَ جَارِيَةَ أَخِيهِ أَوْ عَمِّهِ وَقَالَ: ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِي حُدَّ) لِأَنَّهُ لَا انْبِسَاطَ فِي الْمَالِ فِيمَا بَيْنَهُمَا وَكَذَا سَائِرُ الْمَحَارِمِ سِوَى الْوِلَادِ لِمَا بَيَّنَّا.

حل اللغة: ① **جارية**:وینځه ② **اخ**:ورور ③ **عم**:اکا

---

١) من حديث جابر ﷺ أخرجه ابن ماجه في البيوع رقم (٢٢٩١)_

ژباړه:- که چا د خپل ورور یا اکا د وینځې سره وطی اوکړله.اودا اووائی.چه زما ګمان خودا وو.چه دا وینځه زما لپاره حلاله ده.نوپه ده به حد جاری کولې شی.ځکه چې د ورور اوتره په مینځ کي په مال کي فراخدلی نه وی.اوهم دا حکم د نوروحمارمودي.مثلاً ماما اوترور وغیره.سوا دهغه کسانوچه دهغوی سره د ولادت د خپلولئ د امله دیوبل د مال نه په نفع اخستلوکي فراخدلی موجود وی.یعنی د دوی په مینځ کي داسي ګنجائش وی.چه دیوبل د مال نه فائده اخلی.دغه ډول په دوی کي د شبه ګنجائش هم وی.اوماما،ترور،وغیره کي داسې فراخدلی نه وی.نوځکه د شبه ګنجائش هم نه وی.

تشریح:- ((وان وطی جاریة اخیه)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

وطی بالشبه موجب دحد نه ده

(وَمَنْ زُفَّتْ إِلَيْهِ غَيْرُ امْرَأَتِهِ وَقَالَتِ النِّسَاءُ: إِنَّهَا زَوْجَتُكَ فَوَطِئَهَا لَا حَدَّ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ) قَضَى بِذَلِكَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ( ) وَبِالْعِدَّةِ، وَلِأَنَّهُ اعْتَمَدَ دَلِيلًا وَهُوَ الْإِخْبَارُ فِي مَوْضِعِ الِاشْتِبَاهِ، إِذْ الْإِنْسَانُ لَا يُمَيِّزُ بَيْنَ امْرَأَتِهِ وَبَيْنَ غَيْرِهَا فِي أَوَّلِ الْوَهْلَةِ فَصَارَ كَالْمَغْرُورِ، وَلَا يُحَدُّ قَاذِفُهُ( ) إِلَّا فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ لِأَنَّ الْمِلْكَ مُنْعَدِمٌ حَقِيقَةً

حل اللغة: ① وهلة:وخت ،زمانه ② اعتمد:اعتماد اوکړو ③ المغرور:دهوکه ورکړې شوې

ژباړه:- که دنکاح نه روسته د واده په شپه خاوندته دهغه د ښځې په ځائې بله یوه ښځه اولیږی.اودا ورته اووئیلې شی.چه دا ستا ښځه ده.ددې امله هغه ورسره وطی اوکړی.نوپه ده باندې حدنشی جاری کولې. البته په دغه سړی باندې د ښځې مهرلازم دې.یعنی دښځې چې کوم مهروی.هغه به ورکوی.حضرت علی ﷺ هم د مهرد وجوب حکم کړې وو. «ځوکه شارحینو ﷺ ته دا روایت نه وی ملاؤ شوې.نوبیا هم په دې باندې اجماع ده.» اوددې امله پرې هم حد نه جاری کیږی.چه سړی دخپلې ښځې دنا آشناوالی د امله د دې په پیژندګنوکي شبه دړې وه.ځکه چې ده دخان لپاره دا خبره دلیل جوړ کړې دې.اوپه دې باندې ئې اعتماد اوکړلو.چه ښځو ورته اووئیل.چه خپلې ښځې ته ورشه. ځکه چې یوسړې په اول ځل په خپله ښځه اوپړدئ کي امتیاز نشی کولې.نوځکه دا کس د مغرور پشان دې. «یعنی چې یوه ښځه خپل ځان ناواده شوې ښکاره کړی.اوسړې په خپله نکاح باندې اماده کړی.یا دبل چا تختیدلې وینځه وی.اوسړی ته حقیقت معلوم نه وی.نوهغې سره د نکاح نه روسته وطی هم اوکړی.اوروستو ورته معلومه شی.چه دا خو د بل چا وینځه ده.نوپه دغه سړی به حد نشی جاری کولې.نودغه ډول په موجوده صورت حال کي هم به په سړی باندې حد نشی جاری کولې» اوکه په داسې ځوك دزنا تهمت اولګوی.هغه ته به هم حد قذف نشی ورکولې.ددې وطی د حرمت ثابتولود وجې.ځکه چې په حقیقت کي ددې خاوند په دې ښځه باندې ملکیت نشته.هم دا ظاهرروایت دې.خودامام ابویوسف ﷺ نه یوروایت دا هم دې.چه په ده باندې تهمت لګونکی ته به حد قذف ورکولې شی.

تشریح:- ((ومن زفت الیه الخ)) دژباړې نه مطلب واضح دې.

په خپله بستره پردئ ښځې سره وطی کول

(وَمَنْ وَجَدَ امْرَأَةً عَلَى فِرَاشِهِ فَوَطِئَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ) لِأَنَّهُ لَا اشْتِبَاهَ بَعْدَ طُولِ الصُّحْبَةِ فَلَمْ يَكُنِ الظَّنُّ مُسْتَنِدًا إِلَى دَلِيلٍ، وَهَذَا لِأَنَّهُ قَدْ يَنَامُ عَلَى فِرَاشِهَا غَيْرُهَا مِنَ الْمَحَارِمِ الَّتِي فِي بَيْتِهَا، وَكَذَا إِذَا كَانَ أَعْمَى لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ التَّمْيِيزُ بِالسُّؤَالِ وَغَيْرِهِ، إِلَّا إِنْ كَانَ دَعَاهَا فَأَجَابَتْهُ أَجْنَبِيَّةٌ وَقَالَتْ: أَنَا زَوْجَتُكَ فَوَاقَعَهَا لِأَنَّ الْإِخْبَارَ دَلِيلٌ

حل اللغة: ① فراش:بستره② طول:اوږد ③ الصحبة:ملګرتیا ④ التمیز:شناخت

---

١) قال الزیلعی رحمه الله قلت غریب جداً

٢) القول الراجح هو هذا قول الطرفین رحمهما الله کذا فی فتح القدیر(٣٩١٥) والخانیة (٤٠٨١٤) ورد المختار (١٧٠١٣) والهندیة (١٥٠١٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٣٩١١)-

ژباړه:- اوچا چې په خپله بستره يوه ښځه اوموندله.اوهغې سره ئې وطى اوكړله. ﴿حالانكه هغه دده ښځه نه وه﴾نوپه ده باندې به حدجاري كيږي.ځكه څه زمانې پورې چې دوى يوځائې پاتې شوي وي.نوده ته دخپلې ښځې په پيژندګلوكي څه اشتباه نه پيدا كيږي.نوځكه دده ګمان قابل قبول دليل نه دې.نوځكه اشتباه نشوه.ځكه چې كله كله داسې هم كيږي.چه كله كله د ښځې په بستره باندې مور،خور،لور وغيره دكور خلګ هم راځي.اوويده (اوده) كيږي.دغه ډول كه ړوند سړې وي.نوهغه هم د هغې سره خبرې اترې كوي.اودخپلې ښځې اوپردۍ په مينځ كي توپير كولې شي.البته كه ړوند ورته آواز اوكړلو.اوښځې د زوجيت اقرار اوكړلو. ﴿چه زه دې ښځه يم﴾ اوهغه د دغه ښځې سره وطى اوكړله.نوبيا به په ده باندې حد نشي جاري كولې.ځكه چې خبروركول اواقراركول يوقابل قبول دليل دې. ﴿اوكه هغه صرف په وطى كولوباندې اماده شوه.اويا هغې صرف آوازاوكړلو.اوپه دې باندې ړوند وطى اوكړله.نوبيا به پرې حد جاري كولې شي﴾

تشريح:- ((**ومن وجد امراة على فراشه**)) د ژباړې نه مطلب ښكاره دې.

دمحرمه سره د نكاح كولو نه روسته وطى كول

(وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا فَوَطِئَهَا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ) وَلَكِنْ يُوجَعُ عُقُوبَةً إِذَا كَانَ عَلِمَ بِذَلِكَ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: عَلَيْهِ الْحَدُّ إِذَا كَانَ عَالِمًا بِذَلِكَ، لِأَنَّهُ عَقْدٌ لَمْ يُصَادِفْ مَحَلَّهُ فَيَلْغُو كَمَا إِذَا أُضِيفَ إِلَى الذُّكُورِ، وَهَذَا لِأَنَّ مَحَلَّ التَّصَرُّفِ مَا يَكُونُ مَحَلًّا لِحُكْمِهِ، وَحُكْمُهُ الْحِلُّ وَهِيَ مِنَ الْمُحَرَّمَاتِ. وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّ الْعَقْدَ صَادَفَ مَحَلَّهُ لِأَنَّ مَحَلَّ التَّصَرُّفِ مَا يَقْبَلُ مَقْصُودَهُ، وَالْأُنْثَى مِنْ بَنَاتِ آدَمَ قَابِلَةٌ لِلتَّوَالُدِ[1] وَهُوَ الْمَقْصُودُ، وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يَنْعَقِدَ فِي جَمِيعِ الْأَحْكَامِ إِلَّا أَنَّهُ تَقَاعَدَ[2] عَنْ إِفَادَةِ حَقِيقَةِ الْحِلِّ فَيُورِثُ[4] الشُّبْهَةَ لِأَنَّ الشُّبْهَةَ مَا يُشْبِهُ الثَّابِتَ لَا نَفْسَ الثَّابِتِ، إِلَّا أَنَّهُ ارْتَكَبَ جَرِيمَةً[3] وَلَيْسَ فِيهَا حَدٌّ مُقَدَّرٌ فَيُعَزَّرُ

حل اللغة: ① **توالد**:اولاد راوړل ،اولاد پيدا كول ② **تقاعد**:كينى ③ **جريمة**:جرم،ګناه ④ **يورث**:پيدا كوي

ژباړه:- اوكه يوكس د داسې ښځې سره نكاح اوكړه.چه هغه په ده باندې هميشه لپاره حرامه وي.يعنى هغې سره ئې هيڅ كله نكاح نه صحيح كيږي.اوددې نه روسته دهغې سره وطى هم اوكړي.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپه ده باندې حد نشي جاري كولې.البته ده ته به سخته سزا وركولې شي.خوبه دې شرط چې ده قصداً عمداً داسې كړې وي. ﴿دسفيان ثوري اوزفر رحمهما الله هم دا قول دې﴾ خوامام ابويوسف،امام محمداو امام شافعي رحمهم الله ﴿اوامام مالك،اواحمد او نوروفقهاؤ هم﴾ وئيلى دي.چه په ده به حد واجب وي.خوبه دې شرط چې ده قصداً عمداً داسې كړې وي.ځكه چې دا نكاح دغيرمحل يعنى چا سره چې نكاح نه صحيح كيږي شوې ده. نو ددې امله لغواوكالعدم ده.لكه څنګه چې يوسړې دبل سړي يا بل هلك سره نكاح اوكړي.نوهغه هم لغوده.ځكه چې محل دتصرف هم هغه وي.كوم محل چې دمكان محل وي.اودنكاح حكم دا دې.چه دچا سره نكاح شوې وي.هغه دده لپاره حلاله شي.حالانكه په موجوده مسئله كي چې د كومې ښځې سره نكاح شوې ده.هغه دهغه ښځوځنى ده.چه هميشه لپاره په ده باندې حرامه ده.اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه نكاح په هغه ځائې كي شوې ده.كوم چې ددې ځائې دې.ځكه چې محل دتصرف هم هغه وي. كوم چې د مقصود حاصلولوقابل وي. ﴿ياچه دڅه نه مقصود حاصليدې شي﴾ حالانكه دنكاح اصلى مقصود د نكاح حاصلول دي.نوځكه نكاح په ټولواحكاموكي منعقداومؤثرګرځول پكار دي.خوشريعت څه خاص خلګ حرام كړي دي.نوچه په نكاح سره د حلالوالى كومه فائده ملاويږي.نوهغه په دې مسئله كي نشته.ځكه په دې عقدنكاح سره يوه شبه پيدا شوه.اګرچه هغه په خپله ثابته نه ده.خود ثابت شوې مشابه ده.اوچونكه سړي يوډيرلوې جرم كړې دې.اوهغه هم داسې جرم چې دهغې حد يا سزا د شريعت داړخه مقرر شوې هم نه دې.نوځكه به ورته د موقع مناسب سخته سزا وركولې شي. ﴿خوبه دې مسئله كي دصاحبينو رحمهما الله په قول باندې فتوى ده.په ال لنډيز اوجامع الرموزكي نقل دي.چه په متونوكي دصاحبينو رحمهما الله په قول باندې فتوى ده. ﴿المضمرات﴾

خودشرح په کتابونوکي دامام ابوحنيفه رحمه الله قول ته ترجيح ورکړې شوې ده.ځکه په صحيح القدوري کي دا دي.چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په قول باندې فتوى ورکول غوره دي.اوس زه وايم.چه تعزيربه دا وي.چه داسې کس قتل کړې شي.لکه څنګه چي دحضرت انس رضي الله عنه په حديث کي دي.چه زما ماما حضرت ابوبرده بن نيار رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ يوه جنډه ورکړې وه.اوليږلي ئې وو.چه کوم کس دخپل پلاربښځې يعنى ميرنئ مورسره نکاح کړې وي.دهغه سر قلم کړي.ترمذي وغيره ددې روايت کړې دې.اوددې امله هم که چرته پردئ ښځې سره يا دخپلې وينځې په مقعد کي وطى اوکړي.نوپه ، ،درر ، ، وغيره کتابونوکي هم داسې ډول تعزيرى سزا ذکرده.نودخپلې مور ،خورو غيره سره نکاح کول کومه چي د دې نه هم لويه ګناه ده. هغه خوبه خامخا د داسې تعزيري سزامستحق وي.اودفطرت اوخلاف فطرت په مينځ کي چي فرق اونکړې شي.اوداسې پريښولې (پريخودې) شي.نودا ډيربدعمل دې.والله اعلم

تشريح:- ((**ومن تزوج امراة**)) دژباړې نه مطلب ښکاره دې.

دپردئ ښځې سره دفرج نه سوا وطى اولواطت کول

(وَمَنْ وَطِئَ أَجْنَبِيَّةً فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ يُعَزَّرُ) لِأَنَّهُ مُنْكَرٌ لَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ مُقَدَّرٌ (وَمَنْ أَتَى امْرَأَةً فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوهِ أَوْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَيُعَزَّرُ،() وَزَادَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَيُودَعُ فِي السِّجْنِ، وَقَالَا: هُوَ كَالزِّنَا فَيُحَدُّ) وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ، وَقَالَ فِي قَوْلٍ يُقْتَلَانِ بِكُلِّ حَالٍ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ" { اُقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ } ([2]) "وَيُرْوَى" { فَارْجُمُوا الْأَعْلَى وَالْأَسْفَلَ } ([3])

حل اللغة: ① **فرج**:شرمګاه ② **السجن**:قيدخانه ،جيل ③ **الاعلى**:پورته يعنى فاعل ④ **الاسفل**:لاندې يعنى مفعول

ژباړه:- اوکه يوکس د پردئ ښځې سره د شرمګاه ﴿فرج،مقعد﴾ نه سوا په بل ځائې کي وطى اوکړله. ﴿مثلاً دښځې په ورون نس يابل ځائې پورې ئې خپل عضوتناسل اومګل﴾ نوداسې کس ته به تعزيرى سزا ورکولې شى.ځکه چي داسې حرکت ممنوع دې.خودده لپاره بل څه سزا د شريعت داړخه مقرر شوې نه ده.اوکه يوسړى ديوې ښځې په مکروه محل يعنى مقعدکي وطى اوکړله.يا ده د قوم لوط عمل اوکړلو.يعنى ديوځوان هلك يا ماشوم په مقعد کي ئې وطى اوکړله.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزيه ده باندې حدزنا نه لازميږي.بلکه بله څه سزا به ورته ورکولې شى.امام محمد رحمه الله په جامع صغيرکي فرمائيلى دي.چه دې به په قيدخانه کي واچولې شى.يعنى ترهغه وخته پورې چي توبه اوباسي. او صاحبينو فرمائيلى دي.چه دلواطت عمل د زنا پشان دې.نوپه داسې کونکى به هم حد جارى کولې شى. ﴿يعنى محصن ته به رجم ورکولې شى.اوغيرمحصن ته به کوړې ورکولې شى.اودامام شافعي رحمه الله په دوو اقوالوکي يوقول هم دا دې﴾اودهغوى په دوهم قول کي دي.چه لواطت کونکې اوچه چا سره لواطت کولې شى.دواړه به په هرحال کي قتلولې شى.ځکه چي رسول الله ﷺ فرمائيلى دي.چه ددې ﴿لواطت﴾ فاعل اومفعول ﴿چاسره چي لواطت کولې شى﴾ دواړه قتل کړئ.اوپه يوروايت کي دي.چه پورتنې اولاندينې دواړه په کاڼړو باندې سنګسار کړئ. ﴿احمد ، ابوداود ، ترمذي، ابن ماجه رحمهم الله ددې روايت کړې دې. او حق دا دې.چه دا حديث حسن دې﴾

تشريح:- د ژباړې نه مطلب واضح دې.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الإمام أبي حنيفة رحمه الله كذا في مجمع الأنهر(٦٠٣\١) وفتح القدير(٤٤\٥) والخانية (٤٠٨\٤) ورد المحتار(١٧١\٣) والهندية (١٥٠\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٤٠\١)_

٢) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه أبوداود فى الحدود باب ٢٨ رقم ٤٤٦٢ والترمذي فى الحدود باب ٢٤ رقم ١٤٥٦ وابن ماجه فى الحدود باب ١٢ رقم ٢٥٦٥١)_

٣) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه ابن ماجه باب من عمل عمل قوم لوط رقم ٢٥٥٢)_

وَلَهُمَا أَنَّهُ فِي مَعْنَى الزِّنَا لِأَنَّهُ قَضَاءُ الشَّهْوَةِ فِي مَحَلٍّ مُشْتَهًى عَلَى سَبِيلِ الْكَمَالِ عَلَى وَجْهٍ تَمَحَّضَ حَرَامًا لِقَصْدِ سَفْحِ الْمَاءِ. وَلَهُ أَنَّهُ لَيْسَ بِزِنًا لِاخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ فِي مُوجِبِهِ مِنَ الْإِحْرَاقِ بِالنَّارِ وَهَدْمِ الْجِدَارِ وَالتَّنْكِيسِ مِنْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ بِإِتْبَاعِ الْأَحْجَارِ (١) وَغَيْرِ ذَلِكَ، وَلَا هُوَ فِي مَعْنَى الزِّنَا لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ إِضَاعَةُ الْوَلَدِ وَاشْتِبَاهُ الْأَنْسَابِ، وَكَذَا هُوَ أَنْدَرُ وُقُوعًا لِانْعِدَامِ الدَّاعِي مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ وَالدَّاعِي إِلَى الزِّنَا مِنَ الْجَانِبَيْنِ. وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى السِّيَاسَةِ أَوْ عَلَى الْمُسْتَحِلِّ إِلَّا أَنَّهُ يُعَزَّرُ عِنْدَهُ لِمَا بَيَّنَّاهُ

حل اللغة: ① **تمحض**:خالص ② **سفح**:تويول ③ **الاحراق**:سوزول ④ **هدم**:نړول ⑤ **الجدار**:ديوال ⑥ **التنكيس**:

ژباړه:- دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دي.چه لواطت هم د زنا په حكم او معنى كي دي.ځكه چې په لواطت كي خپل خواهش نفساني په داسي محل كي پوره كولي شي.دكوم چي پوره خواهش وي.اوخپل دا خواهش په پوره طريقه باندې پوره كوي.اومني په بې محله ځائي كي تويوي.نوهركله چي د زنا واړه افعال دده نه ځرګند شول.نودده سزا هم د زنا يا ددې پشان كيدل پكار دى.اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه په حقيقت كي لواطت زنا نه ده.ځكه چي ددې د سزا په اړه كي په خپله دصحابه كرامو رضي الله عنهم اختلاف وو.چه داسي كس دې په اوركي اوسوزولي شى.يا دې پرې ديوال راګذاركړې شى.يا دې د اوچت ځت نه پر مخې راګذاركړې شى.او سربيره دې پرې كاڼړي اوورولي شى.وغيره،اودا فعل هم د زنا په معنى كي نه دې.ځكه چي په دې كي بچې ضائع كيدل اود نسب مشتبه كيدل نه لازميږي.بلكه دا فعل خود زنا په مقابله كي زيات سپك دې.ځكه چې دا صرف د يو اړخ يعنى د لوطي په خواهش سره كيږي.اوبل اړخ ته په دې كي څه خوند نه وي.نوبيخي بې خواهشه وي.اوپه زنا كښې دواړو ته خوند ملاويږي.اود دواړو اړخه خواهش وي.اوامام شافعي رحمه الله چي كوم روايت كړې دي.دكوم نه چي د دواړو دقتل يا رجم كولوسزا ثابتيږي.نودا په دې خبره محمول دې.چه امام د مصلحت اوسياست په وجه داسې كوي.يا په هغه صورت كي چي لواطت كونكي دا كارحلال ګڼړي.اودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه ده ته تعزير «مناسب» سزا وركولي شى.لكه څنګه چي موږ وړاندې بيان كړلو. «داخبره دې ښكاره وى.كه سړى دخپل غلام،يا خپلې وينځې يا خپلې ښځې سره اګرچه په نكاح فاسده سره دده ښځه وى.په مقعد كي لواطت اوكړي.نوپه اجماع سره په ده باندې حدنشي جاري كولي. «الكافى» اګرچه داسې كول دده لپاره حرام دى.په زيادات كتاب كي ددې خبرې تصريح ده.اودخپلې ښځي سره په مقعدكي وطى كول په اجماع سره حرامه ده.اكه د ښځې نه سوا د بل چا سره لواطت اوكړي.په هغه به حد جاري كولي شي.اوپه بحرالرائق كي دى.چه دلواطت حرمت د زنا د حرمت نه هم سخت دې.ځكه چي دا حركت عقلاً،شرعاً اوطبعاً په هر لحاظ سره حرام او ډيرګنده حركت دې.دصحابه كرامو رضي الله عنهم په دې باندې اجماع ده.اوحضرت سعيدبن يسار رضي الله عنه روايت كړې دي.چه دحضرت ابن عمر رضي الله عنه نه پوښتنه اوشو.چه موږ وينځې واخلو.اوهغوى سره محيض كوو.نودوى پوښتنه اوكړه .چه محيض څه شى دې. نوعرض ئې اوكړلو.هغوى سره په مقعدكي وطى كوو.نوحضرت ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائيل.آيا مسلمان هم داسې كوى. «رواه النسائى» اوحضرت نافع رحمه الله نه پوښتنه اوشو.چه تاسو د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه نقل كوئ.چه ښځوسره په مقعدكي وطى كول جائزدى.حضرت نافع رحمه الله اوفرمائيل.په الله قسم دې خلګو په ما باندې دروغ وئيلى دى. «رواه النسائى» اوحضرت ابوبكر رضي الله عنه د لواطت په فاعل اومفعول به دواړو باندې ديوال راغورځولي وو.اوحضرت علي رضي الله عنه په توره باندې قتل كړي وو.اوپه اوركښي ئې د سوزولوحكم وركړې وو. او امام بيهقي په خپل مرسل روايت كي د حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم ددې دواړو په سوزولوباندې اتفاق نقل كړې دي.

تشريح:- د ژباړې نه مطلب ښكاره دي.

---

١) وردالتعذيب بالنارفى رواية محمد بن المنكدرأخرجه البيهقى فى شعب الإيمان والرمى من مكان مرتفع منكس والإتباع بالحجارة فى رواية أبى نضرة رحمه الله أخرجه ابن أبى شيبة فى مصنفه وكذا البيهقى فى السنن الكبرى ٤٠٥/٨) رقم ١٧٠٣٠)_

دخناورسره دوطې کولوحکم

(وَمَنْ وَطِئَ بَهِيمَةً لَاحَدَّ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي مَعْنَى الزِّنَا فِي كَوْنِهِ جِنَايَةً وَفِي وُجُودِ الدَّاعِي لِأَنَّ الطَّبْعَ السَّلِيمَ يَنْفِرُ عَنْهُ وَالْحَامِلُ عَلَيْهِ نِهَايَةُ السَّفَهِ أَوْفَرْطُ الشَّبَقِ وَلِهَذَا لَايَجِبُ سَتْرُهُ إِلَّا أَنَّهُ يُعَزَّرُ لِمَا بَيَّنَّاهُ، وَالَّذِي يُرْوَى أَنَّهُ تُذْبَحُ الْبَهِيمَةُ وَتُحْرَقُ (¹) فَذَلِكَ لِقَطْعِ التَّحَدُّثِ بِهِ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ

حل اللغة: ① **بهيمة**:خناور ② **ينفر**:نفرت کوی کرکه کوی ③ **السفه**:کم عقلتوب ④ **فرط الشبق**:زيات شوق ⑤ **تحرق** سوزولې به شی ⑥ **قطع**: ختمول ⑦ **تحدث**:خبرې کول

ژباړه:- اوکه يوکس د خناورسره وطی اوکړله.نوپه هغه باندې به حد نشيجاری کولې.ځکه چې په جرم او د خواهش په اعتبارسره دا فعل د زنا په معنی کې نه دې.ځکه چې فطرت سليمه ددې فعل نه نفرت کوی.اوپه دې فعل باندې اماده کيدل يا خودېرحماقت دې.اويا د شهوت نفسانی زيادت دې.ددې املـه د خناوروشرمگاه پوارړه ددې په مالکانوباندې واجب نه دی.نوکه په داسې فعل کونکی باندې حدجاری هم نکړې شی.خوبيا هم ده ته تعزيری يا واجبی سزا ورکولې شی.ځکه چې داسې کارکول بيشکه ډيرناخوښه عمل دې.ددې امله مونږ وړاندې بيان کړې ده.اوپه يوحديث کې چې دا خبره راغلې ده.چه دکوم خناور سره داسې کار اوشی.نوهغه دې ذبح اواودې سوزولې شی.نودا ددې امله وو.چه خلگ ددې واقعه شهرت نه کوی.خوبيا هم داسې کول ﴿يعنی ذبح کول يا سوزول﴾ واجب نه دی.

تشريح:- «**ومن وطی بهيمة**» دخناورو سره وطی کول ډيرقبيح عمل دې.نوددې په کونکی باندې حد خو نشی جاری کولې.البته مناسب سزا به ورکولې شی.اوپه بعضې رواياتوکې دی.چه داسې خناوردې ذبح کړې شی.اواودې سوزولې شی.خوداسې کول واجب نه دی. ﴿دا خبره دې ياده وی.چه خناورو سره وطی کول په اجماع سره حرامه ده.خوپه دې مسئله کې اختلاف دې.چه په دې کس به حد زنا جاری کولای شی که نه.نود ځلورو واړو فقهاؤ په نيزبه په ده باندې حد نشی جاری کولې.البته ده ته به تعزيری سزا ورکولې شی.اوپه دې تعزيرکې امام ته دا اختياردې.که مصلحت گڼرې.دې قتل کولې هم شی.اودحضرت ابن عباس﷛ نه روايت دې.چه په دې اړه کې ما د رسول الله ﷺ نه څه نه دی اوريدلې.البته زما دا خيال دې.چه رسول الله ﷺ دا خبره ډيره ناخوښه کړې ده.چه دداسې خناور غوښه اوخوړلې شی.يا دهغې شيدې اوڅکلې شی. ﴿رواه الترمذی﴾ اودويمه وجه دا ده.چه په يوبل حديث کې په صراحت سره راغلې دی.چه څوك د خناور سره دا حرکت اوکړی.نوهغه ملعون دې.اوهغه قتل کړئ.اوهغه خناورهم قتل کړئ.چه څوك دا نه وائی.چه دا هغه خناور دې.چا سره چې داسې شوی وو. ﴿رواه احمدوابوداود والنسائی والحاكم﴾ اودامام بيهقی ددې حديث صحت ته ميلان دې.

د دار الحرب په زنا په دارالاسلام کې حد نه جاری کيدل

(وَمَنْ زَنَى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْفِي دَارِ الْبَغْيِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا لَايُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ). وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ يُحَدُّ لِأَنَّهُ الْتَزَمَ بِإِسْلَامِهِ أَحْكَامَهُ أَيْنَمَا كَانَ مَقَامُهُ. وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ" {لَا تُقَامُ الْحُدُودُ فِي دَارِ الْحَرْبِ} (²)" وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الِانْزِجَارُ وَوِلَايَةُ الْإِمَامِ مُنْقَطِعَةٌ فِيهِمَا فَيَعْرَى الْوُجُوبُ عَنْ الْفَائِدَةِ، وَلَا تُقَامُ بَعْدَ مَا خَرَجَ لِأَنَّهَا لَمْ تَنْعَقِدْ مُوجِبَةً فَلَا تَنْقَلِبُ مُوجِبَةً. وَلَوْ غَزَا مَنْ لَهُ وِلَايَةُ

---

۱) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم روى من حديث ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من أتى بهيمة فاقتلوه واقتلوها معه قال قلت له ما شأن البهيمة؟ قال ما أراه إلا قال ذالک إلا انه كره أن يؤكل لحمها أوينتفع بها وقدعمل بها هذا العمل أخرجه أبوداود في الحدود باب ۲۰ رقم ٤٤٦٤ والترمذي في الحدود باب ۲۳ رقم ۱٤٥٥ وابن ماجه في الحدود باب ۱۳ رقم ۲٥٦٤ وأحمد في المسند (۲۱۷/۱) والنسائي في السنن الكبرى (۳۲۲/٤) رقم ۷۳٤۰)_

۲)غربه الزيلعي رحمه الله مرفوعاً ثم روى عن زيد بن ثابت﷛ قال لا تقام الحدود في دارالحرب مخافة أن يلحق أهلها بالعدوأخرجه البيهقي في السنن الكبرى ۱۷۸/۹)_

الإِقَامَةِ بِنَفْسِهِ كَالْخَلِيفَةِ وَأَمِيرِ مِصْرَ يُقِيمُ الْحَدَّ عَلَى مَنْ زَنَى فِي مُعَسْكَرِهِ لِأَنَّهُ تَحْتَ يَدِهِ، بِخِلَافِ أَمِيرِ الْعَسْكَرِ وَالسَّرِيَّةِ لِأَنَّهُ لَمْ تُفَوَّضْ إِلَيْهِمَا الإِقَامَةُ.

حل اللغة: ① **يعري**: خالي كيږي ② **دارالبغي**: د باغيانو ملک ③ **منقطعة**: ختم شوي

ژباړه:- اوکه يوکس دکافروپه داسې ملك کې زنا اوکړه.چا سره چې زمونږ جنګ جاري وي.يا ئې د باغيانوپه ملك کې زنا اوکړله.بيا هغه دارالاسلام ته يعني زمونږ وطن ته راوتختيدلو.اودلته هغه په دار الحرب کې د کړې زنا اقرار اوکړلو.نوپه ده به حد نشي جاري کولې.اوامام شافعي رحمه الله فرمائي.چه په ده به حدجاري کولې شي.ځکه چې ده د مسلمانيدوپه وجه په خپل ځان باندې د اسلام احکام لازم کړي دي. که دې هرځواه ته هم لاړ شي.اوزمونږ دليل دا حديث دې.چه په دارالحرب کې حدود نشي قائمولې. او بله دا چې د حد نه خومقصود دا دې.چه دې پخپله اونور خلګ داسې حرکت نه کوي.اوويريږي.خوپه دې صورت کې خو دامام ولايت صرف په خپل ملك دارالاسلام کې وي.دلته هغه حدود وغيره قائمولې شي.خوپه دار الكفر او دارالحرب کې خودهغه په چا باندې څه اختيارنشته.نوځکه حد واجبول بې فائدې دي.اوچه هلته نه دارالاسلام ته راشي.نوبيا هم حد نشي قائمولې.ځکه چې په کوم وخت کې دغه کس دا غلط کارکړې وو.په هغه وخت کې دا زنا موجب د حد نشوه ګرځيدې.نواوس به هغه څنګه بدله شي.اود دې قابله شي.چه دهغې په وجه حد قائم کړې شي.اوکه د جهاد په علاقه کې دمسلمانانوداسې څوك سردار موجود وي.څوك چې حد قائمولې شي.لکه بادشاه يا د صوبې حاکم،نوپه دغه لښکرکې که څوك زنا اوکړي.نوپه هغه باندې به هم په دغه قيام ګاه کې حد قائمولې شي.ځکه چې دا کس د هغه «مسلمان حاکم» په اختيارکې دې.په خلاف دلښکر د سردار يا د يوې خاص علاقې سردار، «نوهغوی پرې حدنشي قائمولې» ځکه چې داسې سردارانوته دحد قائمولواجازت اواختيار نه وي. «ددې نه ښکاره کيږي.که هغوی ته اجازت ورکړې شوې وي.نوبيا به پرې حد جاري کولې شي.اودا خبره دې ښکاره وي.چه مصنف رحمه الله په دې مقام کې کوم حديث ذکرکړې دې.هغه چرته معلوم نشو.البته امام شافعي رحمه الله دا قول د زيدبن ثابت رضي الله عنه نه نقل کړې دې.اوحضرت عمر رضي الله عنه خپل ګورنرانوته ليکلې وو.چه په دارالحرب کې په مسلمان باندې حد مه جاري کوئ. «رواه ابن ابی شيبه اوچونکه دا حکم د صحابو رضي الله عنهم په مشوره سره شوې وو.نوځکه دا هم يو جلا حديث شو.بلکه په دې باندې اجماع شوې ده.اواجماع په خپله هم يوحجت دې.اوابن ابی شيبه هم دغه يوروايت د حضرت ابودرداء رضي الله عنه نه هم کړې دې.اودبسربن ارطاة رضي الله عنه حديث دې.چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي.چه په جهاد کې به د غلو لاس نشي کټ کولې. «رواه ابوداود والترمذي والنسائي» اوامام ترمذي رحمه الله فرمائيلي دي.چه د دشمن مخکې دې داسې نشي کولې.دا ددې خيال د امله هم کيداې شي. چې دغه مجرم د دشمنانو سره اندېوال نشي.

تشريح:- «ومن زنى في دارالحرب» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دحربي د ذميه سره يا د ذميه د حربي سره د زنا کولوحکم

(وَإِذَا دَخَلَ حَرْبِيٌّ دَارَنَا بِأَمَانٍ فَزَنَى بِذِمِّيَّةٍ أَوْزَنَى ذِمِّيٌّ بِحَرْبِيَّةٍ يُحَدُّ الذِّمِّيُّ وَالذِّمِّيَّةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَلَا يُحَدُّ الْحَرْبِيُّ وَالْحَرْبِيَّةُ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي الذِّمِّيِّ) يَعْنِي إِذَا زَنَى بِحَرْبِيَّةٍ، فَأَمَّا إِذَا زَنَى الْحَرْبِيُّ بِذِمِّيَّةٍ لَا يُحَدَّانِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ

ژباړه:- که يوکس حربي امان واخستل.اودارالاسلام ته داخل شو.اوبيا هغه د ذميه ښځې سره زنا اوکړه.يا يوې حربيه ښځې امان واخستلو.اودارالاسلام ته داخله شوه.اوهغې سره يوذمي سړي زنا اوکړله.نودامام ابوحنيفه په نيزبه په اولنې صورت کې ښځې ته حد ورکولې شي.البته په حربي سړي به حد نه جاري کيږي.اوپه دوهم صورت کې به په ذمي سړي باندې حد جاري کولې شي.البته په ښځه به حد نشي جاري کولې.اودحربي سړي په اړه کې دامام محمد رحمه الله هم دا قول دې.يعنی کله چې ذمي سړې د حربيه ښځې سره زنا اوکړي.نودامام محمد رحمه الله په نيز به ذمي سړي ته حد ورکولې شي.اوکه حربي سړي د ذميه ښځې سره زنا اوکړه.نودامام محمد رحمه الله په نيزبه دواړو ته حد نشي ورکولې.

وَهُوَقَوْلُ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَوَّلًا (وَقَالَ أَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ: يُحَدُّونَ كُلُّهُمْ) وَهُوَقَوْلُهُ الْآخَرُ لِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّ الْمُسْتَأْمَنَ الْتَزَمَ أَحْكَامَنَامُدَّةَ مُقَامِهِ فِي دَارِنَا فِي الْمُعَامَلَاتِ، كَمَا أَنَّ الذِّمِّيَّ الْتَزَمَهَا مُدَّةَ عُمُرِهِ وَلِهٰذَا يُحَدُّ حَدَّ الْقَذْفِ وَيُقْتَلُ قِصَاصًا، بِخِلَافِ حَدِّ الشُّرْبِ لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُ إِبَاحَتَهُ.

ژباړه:- دامام ابويوسف رحمه الله اولنې قول هم دا وو.بيا هغوی ددې قول نه رجوع اوكړله.اووې فرمائيل.چه دې ټولوته به حد وركولې شی.ددوی دليل دا دې.چه كوم حربی برابره ده كه ښځه وی اوكه سړې وی.كله چې ده امان واخستلو.اودارالاسلام ته داخل شو.نوده په خپل ځان باندې دا لازمه كړه.چه زه ترڅوپورې په دې ملك كې اوسيږم.نوزه به ددې ملك په قوانيواواحكامو باندې عمل كوم.لكه څنګه چې ذمی ښځې اوسړی دخپل واړه ژوند لپاره په خپل ځان باندې په خپله دا خبره لازمه كړې ده.هم دا وجه ده.كه يوذمی په چا باندې د زنا تهمت اولګوی.نوهغه ته به حد قذف وركولې شی.اوكه دې څوك په ناحقه قتل كړی. نو دې به په قصاص كې قتل كولې شی.نودغه ډول د زنا كولوپه صورت كې به هم په ده باندې حد جاری كولې شی.په خلاف د شرابوڅښلو ،ځكه چې ذمی خو شراب جائز ګڼړی.

وَلَهُمَا أَنَّهُ مَا دَخَلَ لِلْقَرَارِ بَلْ لِحَاجَةٍ كَالتِّجَارَةِ وَنَحْوِهَا فَلَمْ يَصِرْ مِنْ أَهْلِ دَارِنَا وَلِهٰذَا يُمَكَّنُ مِنَ الرُّجُوعِ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ وَلَا يُقْتَلُ الْمُسْلِمُ وَلَا الذِّمِّيُّ بِهِ، وَإِنَّمَا الْتَزَمَ مِنَ الْحُكْمِ مَا يَرْجِعُ إِلَى تَحْصِيلِ مَقْصُودِهِ وَهُوَ حُقُوقُ الْعِبَادِ، لِأَنَّهُ لَمَّا طَمِعَ فِي الْإِنْصَافِ يَلْتَزِمُ الْإِنْتِصَافَ، وَالْقِصَاصُ وَحَدُّ الْقَذْفِ مِنْ حُقُوقِهِمْ، أَمَّا حَدُّ الزِّنَا فَمَحْضُ حَقِّ الشَّرْعِ.

حل اللغة: ① **تمكن**: قدرت حاصليږی ② **انتصاف**: انصاف اخستل

ژباړه:- اودامام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله دليل دا دې.چه حربی سړې يا ښځه دلته صرف دخپل اړتيا يا تجارت لپاره راځی.د ډيره كيدو په نيت سره نه راځی.نوځكه دې د دارالاسلام د اوسيدونكو نه نه ګرځی.يعنی دې دمسلمانانو يا ذميانوڅنی نه دې.ددې امله ده ته هروخت دا اختيارحاصل وی.چه په كوم وخت كې هم غواړی.خپل دارالحرب ته واپس تلې شی.اوكه يومسلمان يا ذمی دې قتل كړلو.نود ده په بدله كې به هغه مسلمان يا ذمی نشی قصاص كولې.اوده هم په دومره اندازه زموږ احكام منل په ځان باندې لازم كړې دی.په كوموسره چې دده مقصود حاصليږی.يعنی د بنده حقوق،ځكه كه حربی زموږ نه انصاف اوغوستل،نوددې امله ئې اوغوستلو.چه په انصاف كې په ما باندې څه راځی.هغه زما نه واخلئ.اوقصاص اوحد قذف داسې شيان (څيزونه) دی.چه دې سره د بندګانوحقوق متعلق دی.يعنی دانصاف تقاضا هم دا ده.چه دقاتل نه قصاص واخستې شی. «دقتل بدله قتل دې» اود بدترين تهمت لګولوتقاضا هم دا ده.چه ده ته سزا وركړې شی.نوځكه به حربی ته دهغه د خپلې ارادې مطابق د قصاص يا حدقذف جاری كولواختياروركولې شی.

وَلِمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَهُوَ الْفَرْقُ أَنَّ الْأَصْلَ فِي بَابِ الزِّنَا فِعْلُ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةُ تَابِعَةٌ لَهُ عَلَى مَا نَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى. فَامْتِنَاعُ الْحَدِّ فِي حَقِّ الْأَصْلِ يُوجِبُ امْتِنَاعَهُ فِي حَقِّ التَّبَعِ، أَمَّا الْإِمْتِنَاعُ فِي حَقِّ التَّبَعِ لَا يُوجِبُ الْإِمْتِنَاعَ فِي حَقِّ الْأَصْلِ. نَظِيرُهُ إِذَا زَنَى الْبَالِغُ بِصَبِيَّةٍ أَوْ مَجْنُونَةٍ وَتَمْكِينُ الْبَالِغَةِ مِنَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ

حل اللغة: ① **امتناع**: منع كيدل ② **صبية**: ماشومه ③ **مجنونة**: ليونۍ

ژباړه:- دامام محمد رحمه الله دليل دا دې.چه په ذمی سړی اوذميه ښځه كې توپير دې.هغه داسې چې د زنا په اړه كې اصل خود سړی فعل دې.هغه په ښځه باندې زور اچوی.اوښځه دهغه تابع شی.اودهغه خبره اومنی . انشاءالله دا بحث به روستو په تفصيل سره اوخودلې شی.نوهركله چې د اصل يعنی د سړی په اړه كې حد جاری كول منع شو.نود دې نه دا خبره هم لازميږی.چه دده په تابع يعنی ښځه باندې به هم حد جاری كول منع شی.پاته دا خبره چې تابع يعنی ذميه په حق كې حد مانع دې.نوددې نه دا نه لازميږی .چه ددې ذميه د اصل يعنی مرد په حق كې به دې هم مانع وی.ددې نظيردا دې.كه بالغ سړی د وړې انجلی يا ليونۍ سره زنا اوكړله.نوپه انجلی يا ليونۍ باندې حد قائمول منع دی.ددې نه دا نه لازميږی.چه دسړی نه دې هم حد ساقط

شي.څوکه يوه بالغه ښځه دماشوم يا ليونی سره زنا اوکړي.نود دغه ماشوم يا ليونی نه د حد ساقط کيدو په وجه به د ښځې نه هم حد ساقطيږي.

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِيهِ أَنَّ فِعْلَ الْحَرْبِيِّ الْمُسْتَأْمَنِ زِنًا لِأَنَّهُ مُخَاطَبٌ بِالْحُرُمَاتِ عَلَى مَا هُوَ الصَّحِيحُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُخَاطَبًا بِالشَّرَائِعِ عَلَى أَصْلِنَا وَالتَّمْكِينُ مِنْ فِعْلٍ هُوَ زِنًا مُوجِبٌ لِلْحَدِّ عَلَيْهَا، بِخِلَافِ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ لِأَنَّهُمَا لَا يُخَاطَبَانِ، وَنَظِيرُ هَذَا الِاخْتِلَافِ إذَا زَنَى الْمُكْرَهُ بِالْمُطَاوِعَةِ تُحَدُّ الْمُطَاوِعَةُ عِنْدَهُ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ لَا تُحَدُّ.

حل اللغة: ① **التمكين**: قدرت ورکول ② **المكره**: هغه څوک چې زور پرې شوې وی ③ **المطاوعة** تابعداری

ژباړه:- دامام ابوحنيفه رحمه الله مستدل دا دې.چه دمستامن فعل زنا ده.اوکافرانوته هم ددې خبرې حکم شوې دې.چه زنا حرامه ده.اوهم دا قول صحيح دې.اګرچه دې په شريعت باندې د عمل کولومخاطب نه دې.چه زنا مکوه.اوهرکله چې ورته کافرې ښځې دخپل ځان سره د زنا اختيار اوموقع په لاس ورکړه.نودحد زنا د واجب کيدو به هم دا وجه وی.ددې اختلاف نظيردا دې.که يوسړې بادشاه د يوې ښځې سره په زنا کولوباندې مجبوره کړله.اوهغه ښځه په دغه زنا باندې راضي اوخوشحاله وه.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه په دغه ښځه باندې هم حد جاري کولې شي.اودامام محمد رحمه الله په نيزبه په ښځه حد نشی جاری کولې. 《ځکه چې دسړی نه خودهغه د مجبورئ په وجه حد ساقط شو.اوچونکه هغه اصل وو.نوځکه به د تابع ښځې نه هم حد ساقطيږي.

تشريح:- ((**واذا دخل حربی دارناالخ**)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

ماشوم يا ليونی ته په خپل ځان د زنا اختياروركول

قَالَ (وَإِذَا زَنَى الصَّبِيُّ أَوْ الْمَجْنُونُ بِامْرَأَةٍ طَاوَعَتْهُ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَلَا عَلَيْهَا). وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى: يَجِبُ الْحَدُّ عَلَيْهَا، وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ (وَإِنْ زَنَى صَحِيحٌ بِمَجْنُونَةٍ أَوْ صَغِيرَةٍ يُجَامَعُ مِثْلُهَا حُدَّ الرَّجُلُ خَاصَّةً) وَهَذَا بِالْإِجْمَاعِ. لَهُمَا أَنَّ الْعُذْرَ مِنْ جَانِبِهَا لَا يُوجِبُ سُقُوطَ الْحَدِّ مِنْ جَانِبِهِ فَكَذَا الْعُذْرُ مِنْ جَانِبِهِ، وَهَذَا لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمَا مُؤَاخَذٌ بِفِعْلِهِ. وَلَنَا أَنَّ فِعْلَ الزِّنَا يَتَحَقَّقُ مِنْهُ، وَإِنَّمَا هِيَ مَحَلُّ الْفِعْلِ وَلِهَذَا يُسَمَّى هُوَ وَاطِئًا وَزَانِيًا وَالْمَرْأَةُ مَوْطُوءَةً وَمَزْنِيًّا بِهَا، إلَّا أَنَّهَا سُمِّيَتْ زَانِيَةً مَجَازًا تَسْمِيَةً لِلْمَفْعُولِ بِاسْمِ الْفَاعِلِ كَالرَّاضِيَةِ فِي مَعْنَى الْمَرْضِيَّةِ، أَوْ لِكَوْنِهَا مُسَبِّبَةً بِالتَّمْكِينِ فَتَعَلَّقَ الْحَدُّ فِي حَقِّهَا بِالتَّمْكِينِ مِنْ قَبِيحِ الزِّنَا وَهُوَ فِعْلُ مَنْ هُوَ مُخَاطَبٌ بِالْكَفِّ عَنْهُ وَمُؤْثَمٌ عَلَى مُبَاشَرَتِهِ، وَفِعْلُ الصَّبِيِّ لَيْسَ بِهَذِهِ الصِّفَةِ فَلَا يُنَاطُ بِهِ الْحَدُّ.

حل اللغة: ① **مواخذ**: نيولې شی ② **يناط**: تعلق ساتی

ژباړه:- اوکه ماشوم يا ليونی د داسې ښځې سره زنا اوکړله.چا چې په خپله په خپل ځان باندې دوی ته اختيارورکړې وو.نوپه دوی دواړو باندې به حد نه جاري کيږي.دغه ډول په ښځه به هم حد نه جاري کيږي. اوامام زفراوشافعي رحمه الله فرمائي.چه په دې ښځه به حد جاري کيږي.دا يوروايت د امام ابويوسف رحمه الله نه هم دې 《دامام مالك رحمه الله هم دا قول دې》اوکه يوصحيح سړی د ليونئ سره يا يوې داسې ماشومې انجلۍ سره زنا اوکړه.چه هغه د جماع کولوقابله شوې وه.نوصرف په سړی به حدجاري کولې شي.يعنی په دغه ليونئ يا ماشومې انجلۍ باندې به حد نشی جاری کولې.اوپه دې خبره باندې اجماع ده. 《دا ډول اختلاف صرف په هغه صورت کې دې.چه بالغې ښځې د ماشوم يا ليونی باندې جماع کړې وی.نوپه ښځه به حد جاري کيږي که نه؟》 د دې دواړو 《يعنی امام زفراوامام شافعي رحمه الله وغيره》 دليل دا دې.چه د ښځې په حق کې د عذر د موجودوالی د امله چې حد نه وی لازم.نوددې د امله به دسړی نه حد نشی ساقط کيدې.دغه شان چې د سړی د اړخه عذرموجود وی.نودښځې د ذمې څخه به حد نشی ختميدې.ځکه چې په زناکارسړی اوزناکاره ښځه کې هريودخپل فعل ذمه واردې.او دواړه به په خپلوکړو نيولی شي.اوزمونږ دليل دا دې.چه په حقيقت دزنا تحقق دسړی نه کيږي.اوښځې په حقيقت کې موطوءه اومزنيه وی.خوپه قرآن پاك كې ښځې ته مجازاً زناکاره وئيلې شوی دی.((**الزانية والزاني**)) ددې وجه دا کيداې شي.چه مفعول ته د فاعل نوم ورکړې شوې دې.لکه څنګه چې رفيه ته رافيه وئيلی شي.يا ددې امله چې دزنا سبب پيدا کونکې هم دا ښځه ده.چه دې

په خپل ځان بل ته قدرت ورکړلو.نو په ښځې پورې حد زنـا ددې امله متعلق دی.چه دې د دې بدترین حرکت کاوه موقع په لاس ورکړله.اګرچه دا قبیح فعل د هغه سړی دی.چاته چې ددې کارکولونـه د لـړې اوسیدوحکم شوې وو.اوچونکه دماشوم فعل داسې نه وی. ﴿یعنی دې مکلف نه دی﴾ نوځکه دده د فعـل سره د حد ځه تعلق نشته.

تشریح:- ((**قال واذا زنی الصبی اوالمجنون**)) د ژباړې نه مطلب واضح دی.

د بادشاه داړځه په زنا باندې د مجبوره کس حکم

قَالَ (وَمَنْ أَكْرَهَهُ السُّلْطَانُ حَتَّى زَنَى فَلَاحَدَّ عَلَيْهِ) وَكَانَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ يَقُولُ أَوَّلًا يُحَدُّ، وَهُوَقَوْلُ زُفَرَ لِأَنَّ الزِّنَامِنَ الرَّجُلِ لَايُتَصَوَّرُ إلَّابَعْدَ انْتِشَارِ الْآلَةِ وَذَلِكَ دَلِيلُ الطَّوَاعِيَةِ. ثُمَّ رَجَعَ عَنْهُ فَقَالَ: لَاحَدَّ عَلَيْهِ لِأَنَّ سَبَبَهُ الْمُلْجِئَ قَائِمٌ ظَاهِرًا، وَالِانْتِشَارُ دَلِيلٌ مُتَرَدِّدٌ لِأَنَّهُ قَدْيَكُونُ غَيْرَقَصْدٍ لِأَنَّ الِانْتِشَارَقَدْيَكُونُ طَبْعًا لَاطَوْعًا كَمَافِي النَّائِمِ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً، وَإِنْ أَكْرَهَهُ غَيْرُ السُّلْطَانِ حُدَّ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ، وَقَالَا: لَايُحَدُّ() لِأَنَّ الْإِكْرَاهَ عِنْدَهُمَا قَدْيَتَحَقَّقُ مِنْ غَيْرِالسُّلْطَانِ، لِأَنَّ الْمُؤَثِّرَخَوْفُ الْهَلَاكِ وَأَنَّهُ يَتَحَقَّقُ مِنْ غَيْرِهِ. وَلَهُ أَنَّ الْإِكْرَاهَ مِنْ غَيْرِهِ لَايَدُومُ إلَّانَادِرًا لِتَمَكُّنِهِ مِنَ الِاسْتِعَانَةِ بِالسُّلْطَانِ أَوْبِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ، وَيُمْكِنُهُ دَفْعُهُ بِنَفْسِهِ بِالسِّلَاحِ، وَالنَّادِرُلَاحُكْمَ لَهُ فَلَايَسْقُطُ بِهِ الْحَدُّ، بِخِلَافِ السُّلْطَانِ لِأَنَّهُ لَايُمْكِنُهُ الِاسْتِعَانَةُ بِغَيْرِهِ وَلَاالْخُرُوجُ بِالسِّلَاحِ عَلَيْهِ فَافْتَرَقَا

حل اللغة: ① **انتشار**:پورته کیدل،لکیدل ② **طواعیة**:تابعداری ③ **متردد**:شکی ④ **یدوم**:همیشه کیږی ⑤ **نادر**:کله کله ⑥ **الاستعانة**:مدد غوښتل ⑦ **السلاح**:وسله

ژباړه:- اوامام محمد رحمه الله په جامع صغیرکې فرمائیلی دی.کوم کس چې بادشاه وخت په زنا باندې مجبوره کړلو.اوآخردا چې هغه زنا اوکړله.نو په هغه باندې حد نشته.خوامام ابوحنیفه رحمه الله اول فرمائیلی وو.چه په ده باندې هم حد واجب دی.اوده امام زفر رحمه الله هم دا قول دی.ځکه چې د سړی د اړخه زنا هله کیږی.چه په هغې کې انتشار دآله ﴿د تناسل د اندام کلك والی﴾ وی.نودده انتشارپه دې خبره دلالت کوی.چه ده په خواهش نفسانی باندې زنا کړې ده.بیا روستوامام ابوحنیفه رحمه الله ددې قول نه رجوع اوکړله.او وې فرمائیل.چه په ده باندې حد واجب نه دې.ځکه چې کله سبب په دې کارباندې مجبوره کړلو.کوم چې ښکاره قائم دی. ﴿یعنی ښکاره خبره ده.چه دده ځان خطره ده﴾ اودده آله چې منتشروی.نوچه دا د رضا دلیل جوړ کړې شی.په دې کې شك دی.ځکه چې دا کیفیت خوکله د ارادې نه بغیرهم راځی.یعنی دطبعی تقاضا په وجه باندې کیږی.چه دارادې په کې څه کارنه وی.لکه څنګه چې د خوب په حالت کې وی.ددې په وجه شبه پیدا شوه. ﴿اوحدود په شبه سره دفع کیږی﴾ اوکه د بادشاه نه سوا بل چا مجبوره کړې وو.نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزبه په ده باندې حد جاری کولې شی.اوصاحبینو رحمهما الله ددې انکار کړې دې.یعنی په ده باندې به حد نشی جاری کولې.ځکه چې دباؤ او زورکله د بادشاه نه علاوه دبل چا د اړخه هم کیدای شی.ځکه چې د مجبورئ اصلی وجه دځان خطره ده.اودا خطره د بـل کس نه هم کیدای شی.اودامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه د بادشاه نه سوا د بل چا داړخه چې کوم زور وی.هغه پاته نه پاتې کیږی.البته کله کله داسې هم کیدای شی. ځکه چې ده ته ددې خبرې اختیاروی.چه دبادشاه،یا نوروحاکمانو یا مسلمانانونه کومك اوغواړی.یا په خپله وسله اوچته کړی.اوددې مقابله اوکړی.اوکوم ځیزچه اتفاقی وی.دهغې مستقل حکم نه وی.نودداسې دباؤ د امله به دده نه حد نشی ساقط کیدې.په خلاف ﴿د دباؤ د بادشاه نودهغه د دباؤ اعتبارشته.ځکه چې د بادشاه خلاف دعوامو نه کومك نشی غوستلې.اونه په خپله دبادشاه خلاف وسله راوچتولې شی.نوپه دې طریقه په بادشاه اوغیربادشاه کې توپیر ښکاره شو.

تشریح:- ((**قال ومن اکرهه السلطان**)) د ژباړې نه مطلب واضح دی.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الصاحبین رحمهما الله كذا فی فتح القدیر(۵\۵۲) والكفایة (۵\۵۲) وردالمختار (۳\۱۷۲) والدر المختار (۳\۱۷۳) نقلاً عن القول الراجح(۱\۴۴۳)-

دسړي دښځي سره څلور ځله د زنا اقرار اودښځې دنکاح دعوه کول

(وَمَنْ أَقَرَّ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي مَجَالِسَ مُخْتَلِفَةٍ أَنَّهُ زَنَى بِفُلَانَةَ وَقَالَتْ هِيَ: تَزَوَّجَنِي أَوْ أَقَرَّتْ بِالزِّنَا وَقَالَ الرَّجُلُ تَزَوَّجْتُهَا فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ فِي ذَلِكَ) لِأَنَّ دَعْوَى النِّكَاحِ يَحْتَمِلُ الصِّدْقَ وَهُوَ يَقُومُ بِالطَّرَفَيْنِ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً، وَإِذَا سَقَطَ الْحَدُّ وَجَبَ الْمَهْرُ تَعْظِيمًا لِخَطَرِ الْبُضْعِ

حل اللغة: ① تعظيماً: عظمت ② خطر: شرافت: ③ البضع: شرمګاه

ژباړه:- که يوکس په مختلفومجلسونوکي څلور ځله ددې اقراراوکړلو.چه ما د فلانۍ ښځي سره زنا کړې ده.خوهرځل دغه ښځي دا دعوه اوکړه.چه دې سړی ما سره نکاح کړې ده.يا ښځي په خپله د زنا اقرار اوکړلو اوسړي اووئيل.چه ما ددې سره نکاح کړې ده.نوپه دواړوصورتونوکي په سړي باندې حدنه جاري کيږي.البته په ده باندې مهرلازم دې.ځکه چې د نکاح په دعوه کي د رښتياوالي احتمال شته.اوپه دې دواړوکي نکاح ګڼړلې شي.نوپه دې وجه يوه شبه پيدا شوه.اوهرکله چې د شبه په وجه حد نشی قائمولې.نودښځې د شرمګاه د احترام اودهغې د شرافت ښکاره کاوه لپاره به مهرواجبولې شي.

تشريح:- ((ومن اقراربع مرات)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د وينځې سره زنا کول اوبيا ئې قتلول

(وَمَنْ زَنَى بِجَارِيَةٍ فَقَتَلَهَا فَإِنَّهُ يُحَدُّ وَعَلَيْهِ الْقِيمَةُ) مَعْنَاهُ: قَتَلَهَا بِفِعْلِ الزِّنَا لِأَنَّهُ جَنَى جِنَايَتَيْنِ فَيُوَفَّرُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حُكْمُهُ([1]). وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ لَا يُحَدُّ لِأَنَّ تَقَرُّرَ ضَمَانِ الْقِيمَةِ سَبَبٌ لِمِلْكِ الْأَمَةِ فَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَاهَا بَعْدَ مَا زَنَى بِهَا وَهُوَ عَلَى هَذَا الِاخْتِلَافِ، وَاعْتِرَاضُ سَبَبِ الْمِلْكِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ يُوجِبُ سُقُوطَهُ، كَمَا إِذَا مَلَكَ الْمَسْرُوقَ قَبْلَ الْقَطْعِ. وَلَهُمَا أَنَّهُ ضَمَانُ قَتْلٍ فَلَا يُوجِبُ الْمِلْكَ لِأَنَّهُ ضَمَانُ دَمٍ، وَلَوْ كَانَ يُوجِبُهُ فَإِنَّمَا يُوجِبُهُ فِي الْعَيْنِ كَمَا فِي هِبَةِ الْمَسْرُوقِ لَا فِي مَنَافِعِ الْبُضْعِ لِأَنَّهَا اسْتُوفِيَتْ وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ مُسْتَنِدًا فَلَا يَظْهَرُ فِي الْمُسْتَوْفَى لِكَوْنِهَا مَعْدُومَةً، وَهَذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا زَنَى بِهَا فَأَذْهَبَ عَيْنَهَا حَيْثُ تَجِبُ عَلَيْهِ قِيمَتُهَا، وَيَسْقُطُ الْحَدُّ لِأَنَّ الْمِلْكَ هُنَالِكَ يَثْبُتُ فِي الْجُثَّةِ الْعَمْيَاءِ وَهِيَ عَيْنٌ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً.

حل اللغة: ① يوفر: تمام (پوره) کيږي ،کامل کيږي ② اعتراض: راتلل ،واقع کيدل ③ منافع: فائدې ④ معدومة: غيرموجود ⑤ الجثة: بدن ⑥ العمياء: ړوندوالې

ژباړه:- اوکه يوکس د وينځې سره زنا اوکړله.اوبيا ئې هغه قتل کړه.د دې قتل مطلب دا دې.چه ددې زنا په وجه هغه مړه شوه.نودې کس باندې به حد قائمولې شي.اوپه ده به د دغه وينځې قيمت هم واجب وی.ځکه چې دې کس دوې [دوه] جرمونه اوکړل.يو زنا کول اوبل قتلول.نوځکه به په هريوجرم دهغې حکم مرتب کيږي.اودامام ابويوسف رحمه الله نه يوروايت دا دې.چه ده ته به حد نشي ورکولې.ځکه چې په زناکارباندې د وينځې دقيمت جرمانه اولګولې شوه.نوپه دې وجه دا کس د دغه وينځې مالك شو.نوځکما داسې شوه.لکه چې ده د وينځې سره د زنا کولونه روسته هغه واخستله.خوخپله په دې مسئله کي هم اختلاف دې.امام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه دحد قائميدو نه وړاندې چې دملکيت سبب موجود شي.نودا د حد ساقط کيدو سبب ګرځي.لکه څنګه چې د يوغل لاس کټ کيدو نه وړاندې هغه په خپله ددغه مال مالك شي.نودده لاس کټ کيدل ختميږي.اودامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله دليل دا دې.چه په ده باندې کوم قيمت لازميږي.هغه دملکيت راتلو سبب نه دې.بلکه هغه خودده د قتل د فعل جرمانه ده.ځکه چې دا قيمت ددغه وينځې د وينې بدله ده.اوکه جرمانه د ملکيت پيدا کيدو سبب هم شي.نود وينځې ذات د ده په ملکيت راولی.«يعني تولـه وينځه دده په ملکيت کي راځي»لکه څنګه چې غل د غلا شوی څيز لاس کټ کيدونه وړاندې مالك جوړ شي.نودهغه د لاس تدارك کيږي.اودامام محمداوامام ابويوسف رحمهما الله دليل دا دې.چه کوم

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(٥\٤١٥) والخانية (٢\٤٠٨) ورد المحتار(٣\١٧٣) والدر المختار (٣\١٧٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٤٣)-

قیمت کوم چې په ده باندې لازمیږي.هغه دده د قتل د فعل جرمانه اوتاوان دې.نوځکه دا د ملکیت موجب نه دي.ځکه چې هغه خود وینې عوض دې.اوکه دا تاوان د ملکیت سبب وو.نود وینځې د ذات ملکیت به نې پیدا کړې وو.لکه د غلا مال چې هبه شي.نوپه دې صورت کې چې څنګه وي.یعنې څنګه چې غل ته هغه مال ورکړې شي.کوم چې هغه غلا کړې وي.نودغه ډول د وینځې ذات دده په ملکیت کې راغلو.اوددې د شرمګاه نه د فائدې اخستلو سبب نه دې.ځکه چې دا فائده خو د وړاندې نه حاصله شوې ده.اودملك ثبوت استفادې دې.نوهغه فائده کومه چې وړاندې حاصله شوې ده.په هغې کې به ددې ملکیت اثر نه ښکاره کیږي.ځکه چې هغه فائده اوس ختمه شوې ده.اودا حکم دهغه صورت په خلاف دې.چه کله یوکس د بل د وینځې سره زنا اوکړله.اودهغې یوه سترګه ئې ړنده کړه.نوپه ده باندې د وینځې قیمت واجبیږي.اودده نه حد ساقطیږي.ځکه چې په دې صورت کې دهغې د یوې ړندې سترګې ملکیت پیدا شو.نوچونکه دا د یوې سترګې واله ده.نوځکه په دې کې شبه پیدا شوه. ؏یعنې په اولنی صورت کې کله چې هغه مړه شوې وي.نوهغه په ملکیت کې د راتلوقابله پاتې نشوه.په خلاف د دوهم صورت ،ځکه چې په دې کې دهغې ذات یعنې کانړۍ وینځه پاته ده.

تشریح: - «**ومن زنی بجاریة**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دامام موجب حد عمل ارتکاب کولوحکم

قَالَ (وَكُلُّ شَيْءٍ صَنَعَهُ الْإِمَامُ الَّذِي لَيْسَ فَوْقَهُ إِمَامٌ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ إِلَّا الْقِصَاصَ فَإِنَّهُ يُؤْخَذُ بِهِ وَبِالْأَمْوَالِ) لِأَنَّ الْحُدُودَ حَقُّ اللَّهِ تَعَالَى وَإِقَامَتُهَا إِلَيْهِ لَا إِلَى غَيْرِهِ وَلَا يُمْكِنُهُ أَنْ يُقِيمَ عَلَى نَفْسِهِ لِأَنَّهُ لَا يُفِيدُ، بِخِلَافِ حُقُوقِ الْعِبَادِ لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِيهِ وَلِيُّ الْحَقِّ إِمَّا بِتَمْكِينِهِ أَوْ بِالِاسْتِعَانَةِ بِمَنَعَةِ الْمُسْلِمِينَ وَالْقِصَاصُ وَالْأَمْوَالُ مِنْهَا. وَأَمَّا حَدُّ الْقَذْفِ قَالُوا الْمُغَلَّبُ فِيهِ حَقُّ الشَّرْعِ فَحُكْمُهُ حُكْمُ سَائِرِ الْحُدُودِ الَّتِي هِيَ حَقُّ اللَّهِ تَعَالَى، وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

حل اللغة: ① **تمکین**: قدرت ورکول ② **الاستعانة**: مدد غوښتل ③ **منعة المسلمین**: ډله د مسلمانانو

ژباړه: - اود مسلمانانوداسې امام چې دهغه سربیره بل لوئې امام نه وي.که قابل حد عمل اوکړي.نوهم به په ده باندې حدنشي جاري کولې.سوا د قصاص نه،یعنې که په ده باندې د یومسلمان قصاص پاته وي.نودې به نیولې شي.اوکه په ده باندې د خلګو مال واجب وي.نوددې لپاره به هم نیولې شي.ددې وجه دا ده.چه حدود صرف دالله تعالی حق دې.البته ددې دجاري کولواونافذ کولواختیارامام ته ورکړې شوې دې.بل چاته نه دې.ځکه چې په دنیاوې حاکمانوکې دې په ټولوکې لوئې دې.اودده لپاره دا ممکن نه دی.ځکه چې کوم بنده حقدار وي.هغه خپل حق حاصلوي.که په دې طریقه وي.چه امام په خپله دغه حقدار ته دحق حاصلولواختیارورکړي.اویا هغه کس دمسلمانانود قوت اولښکرنه کومك اوغواړي.اوخپل حق حاصل کړي. اودقصاص اومالونو حاصلول هم دا ډول معاملات دی.یعنی ددې تعلق هم د حقوق الله سره دې.اودحد قذف په صورت کې ؏مثلاً چې امام په چا باندې د زنا تهمت اولګوی.نودا لکه چې څنګه د شریعت حق دې.دغه ډول د بنده حق هم دې.نودا به کتلی شي.چه په دې دواړو کې به دچا دحق خیال ساتلې شي.عالمانوددې کومو تعلق چې صرف دالله تعالی د حقوقو سره وي.

تشریح: - «**قال وکل شئ صنعه امام**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

فوائد: دې باب سره متعلق یوڅو اهم اوضروري مسائل بیانولی شي.کوم چې دخپلې خپلې موقعې سره تعلق لري.

① زنا په اقرارسره ثابتیږي.خوپه دې شرط چې اقرارښکاره وي.

② چې داقرارپه وخت کې د نشې په حالت کې نه وي

③چه په سړي اوښځه كي يوهم بل ته دروغژن نه وائي.يا دده دروغ ښكاره نه وي.په دې طريقه چې د سړي آله تناسل كټ شوې وي.يا د ښځې د رتق ناروغي (ناروغی (بيماری)) وي.يعنی د متيازو د ځائي نه پورته ځائي باندې داسې هډوكې وي.چه دهغې په مينځ كي آله تناسل نشي ورداخليدې..د كومې ښځې سره چې ئې د زنا كاوه اقرار اودعوه كړې وي.يا ددې په عكس چې ښځې دكوم سړي سره د زنا كولواقراراودعوه كړې وي.په دې دواړوكښې يوهم ګونګاه نه وي.ددې احتمال د امله چې كيداې شي. په دې كي داسې خبره شوې وي.كومه چې د ژبې نه بغيرنشي ښكاره كولې.نوددې په وجه به حد ساقطيږي.اوكه دنشې په حالت كي ئې د زنا يا دغلا اقراراوكړي.نونه په ده به حد نه جاري كيږي.ځكه چې كيداې شي.ده په دروغه اقرار كړې وي.البته كه دګواهانوپه وړاندې ئې زنا كړې وي.يا ئې غلا كړې وي.نوحد به جاري كيږي.

④كه اقراري مجرم دخپل اقرارنه رجوع اوكړله.اويا دحدوركولوپه وخت كي اوتختيدلو.نودا به د دعوه نه رجوع كول ګنړلې شي.لكه څنګه چې د مرتد كيدو نه انكاركوي.

⑤كه اول ئې دخپل احصان اقراركړې وي.اوبيا دهغې نه انكاراوكړي.نوانكار صحيح دې

⑥ دغه ډول هغه حدودچه د حقوق العباد څني نه وي.بلكه صرف حقوق الله وي.لكه د شرابوحد ،دغلاحد ،كه په دې كي په اقرار سره دجرم ثبوت شوې وي.اوبيا دې دخپل اقرارنه رجوع اوكړي.نوصحيح ده.

⑦كه ديوكس د سنګساريدو حكم شوې وي.اوبيا څوك ښدى خانه ته لاړ شي.اودهغه يوه ستركه اوباسي.يا هغه قتل كړي.نوپه ده به نه قصاص لازم وي.اونه به دهغه ستركي څه عوض،اوكه د رجم حكم ملاويدو نه وړاندې ئې داسې اوكړلو.نوكه ده دا كارپه قصدكړې وي.قصاص به ترې اخستې شي.اوكه په خطا ئې كړې وي.نوديت به واجب وي.

⑧كه مريض ته كوړې وركول واجب شوي وي.خود وړاندې نه دهغه صحت د مايوسئ حالت ته رسيدلې وي.نودصحت د انتظارنه بغيربه ده ته كوړې وركولې شي. ﴿البحر﴾

⑨ د رجم لپاره چې د احصان كوم شرط دې.ددې لپاره د څو خبرووجود ضروري دې.چه آزاد وي.چه عاقل وي.چه بالغ وي.چه مسلمان وي

⑩ ديوې محصنې ښځې سره نكاح اوكړي.اودخول هم اوكړي.نواوس كه اول ئې نكاح فاسده كړې وي.خود دخول نه وړاندې هغه نكاح صحيح كړي.نوهغه نكاح به صحيح شي.

⑪ چې د وطی په وخت كي په ده اوپه ښځه كي د احصان صفت موجود وي.

⑫ په مرتد كيدو سره دده احصان نه باطليږي. ﴿داحصان پاته پاتي كيدو لپاره نكاح شرط نه ده.نوكه واړه عمركي يوځل صحيح نكاح اوكړي.اوبيا هغې ته طلاق وركړي.اود تنهائي ژوند تيروي.اوديوې ښځې سره نكاح اوكړي.نوپه ده به حد جاري كولې شي.

⑬ لكه څنګه چې په دې كتاب كي وړاندې معلومه شوې ده.چه په شبه سره حد ساقطيږي.برابره ده كه دغه شبه فعلي وي اوكه حكمي وي.نود شبه حكمي نه دا هم ده.چه دمكاتب د وينځې سره يوكس وطی اوكړي.يا خپل غلام ته ئې دتجارت اجازت وركړلو.اوهغه غلام يوه وينځه واخستله.اودغه وينځې سره د غلام مولی وطی اوكړله.حالانكه په دغه غلام باندې د خلګو دومره پور پورې شوې وو.چه هغه دده سره چې كوم مال وي.اودده د خپل ځان د مجموعي قيمت نه هم زيات وي.يا په مال غنيمت كي د ويش غنيمت نه وړاندې ديوې وينځې سره وطی اوكړي.برابره ده كه چرته غنيمت شوې وينځې سره د دارالاسلام ته راوړلونه وړاندې وطی شوې وی اوكه روسته،يا چې كومه وينځه ئې اخستې وي.هغې سره د حيض د پاكيدو نه وړاندې وطی كړې وي.يا ئې دخپلې داسې ښځې سره وطی كړې وي.چه هغه د مرتد كيدو په وجه په ده باندې حرامه شوې

وي.يا دخپل خاوند بالغ ځوی ته دي په خپل ځان باندې قدرت ورکړلو.يا خاوند دخپلې ښځې مور ﴿خواښې﴾ سره يا داولنې ښځې د لور ﴿ميرنۍ لور﴾ سره جماع اوکړي.نوپه دې ټولو صورتونوکې اګرچه وطی حرامه ده. خو بيا هم په شبه فعلی کې د حلالوالی ګمان کافی دې.اوکه د ګمان دعوه اوکړي.نوپه هغې به باورکولې شی. اګرچه دهغه ګمان نه وو. ﴿چه دا ښځې زما لپاره حلاله دی.بلکه دا ورته معلومه وه.چه دوی زما لپاره حرامې دی﴾ اوس که يوکس ګمان دا اوکړه. ﴿چه زما دا ګمان وو.چه دا به زما لپاره حلاله وی﴾ اودوو کسانو ګواهی ورکړله.چه ده اقرارکړې وو.چه زما ګمان نشته.نودغه ګواهی به قبوله نه وی.

⑭که په ښځه يا سړی کې صرف يو د ګمان دعوه اوکړله.نوبل باندې به هم حد نشی جاری کولې. ﴿النهر﴾

⑮ موټې وهل حرام دی. او که ښکاره شی. ﴿چه ده موټې وهلې دی﴾ نوحاکم به ورته سزا ورکوی.اوکه په خپله ښځه يا وينځه باندې خپلې آله تناسل له ګوتې وراوړلې.تردې چې انزال ئې اوشی.نودا مکروه دې.اوپه ده باندې څه سزا نشته. ﴿الجوهره﴾

⑯که يوه ښځه ئې د کرايه په طور د زنا لپاره مقرر کړله.نوحدبه واجب نه وی.خوحقه خبره دا ده.چه حد به واجب وی.لکه چې يوه ښځه د خدمت لپاره نوکره نيولې شوې وی.اودهغې سره وطی اوکړي.نوحد واجبيږي. ﴿الفتح﴾ اوکه د يوښارحاکم يا صوبه دارزنا اوکړله.اود ثبوت نه روسته په هغه باندې حد واجب شو.نودبادشاه په حکم به هغه ته حد ورکولې شی.

(بَابُ الشَّهَادَةِ عَلَى الزِّنَا وَالرُّجُوعِ عَنْهَا)

ژباړه:- باب،د زنا په اړه کې ګواهی ورکول اوبيا واپس کيدل

(وَإِذَا شَهِدَ الشُّهُودُ بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ لَمْ يَمْنَعْهُمْ عَنْ إِقَامَتِهِ بُعْدُهُمْ عَنِ الْإِمَامِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمْ إِلَّا فِي حَدِّ الْقَذْفِ خَاصَّةً) وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: (وَإِذَا شَهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُودُ بِسَرِقَةٍ أَوْ بِشُرْبِ خَمْرٍ أَوْ بِزِنًا بَعْدَ حِينٍ لَمْ يُؤْخَذْ بِهِ وَضَمِنَ السَّرِقَةَ)

حل اللغة: ① **متقادم**:پخوانې ② **سرقة**:غلا ③ **ضمن**:تاوانی کيږي

ژباړه:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.که دوو ګواهانوپه ځا باندې په تيره شوې زمانه کې دحد جاری کيدو ګواهی ورکړه.حالانکه دهغوی لپاره هروخت امام ته په دې اړه کې پيش کيدو کې اوګواهۍ ورکولوکې څه څيزمانع هم نه وو.اونه څه مجبوره وو.مثلا دامام نه ډيرلرې اوسيدل، يا په څه خاص بيمارۍ کې اخته وو،يا د لارې ويره وغيره وه.نود دوی ګواهی به مقبول نه وی.البته صرف د حد قذف په اړه کې به قبول وی. ﴿يعنی که يوکس په بل باندې د زنا تهمت اولګولو.اودې دهغې ګواه وی.اوبيا څه وخت په مقذوف﴿ چې په چا قذف لګولې شوې وی﴾ دعوه اوکړه. ﴿چه ده په ما باندې د زنا تهمت لګولې دې.او زما بې عزتی ئې کړې ده﴾ اوپه دغه وخت کې دغه ګواهانوګواهی ورکړه.نوپه دې صورت کې به ددوی ګواهی قبليږي.ځکه چې دستی په دوی باندې ګواهی ورکول واجب نه وو﴾اوپه جامع صغيرکې دی. که يوکس په بل باندې د غلا يا دشرابوڅښلو يا د زنا کولوګواهی ډيرې ورځې روسته ورکړه.نوپه داسې ګواهۍ به هغه نشی نيولې.البته د غلا شوی مال ضامن به ضرور وی. ﴿يعنی هغه ګواهی چې دڅه عذرنه بغيرروستو شوې وی.نوهغه به دحد په حق کې نه قبليږي.البته دغلا شوی مال کوم چې د بنده حق دې.په دې کې به دا ګواهی قبليږي.البته چې کله په غل باندې دغلا حد جاری نشی.نوپه ده باندې به د غلا شوی مال ضمانت لازم وی.بيا دا هم معلوميدل پکار دی.چه د روستو والی په مقدرا کې تفصيل دې.په دې طريقه چې د شرابوپه څښلو کې به تاخيرپه هغه وخت کې وی.چه دشرابی د خولې نه د شرابو بدبوئی ختمه شوې وی.اوددې نه روسته ګواهانوګواهی ورکړه.اوپه زنا غلا وغيره کې تاخير دا دې.چه بغيردعذرنه يوه مياشت تيره شی.اوددې نه روسته ګواهی ورکړي.دا اصح قول دې.اوکه دومره تاخيرنه روستو د زنا ګواهی ورکړي.نود بعضې عالمانو رحمهم الله په نيزبه دغه ګواهانوته حد قذف ورکولې شی.اونورو عالمانوفرمائيلی

دي.چه حدقذف به نشي لګولي. «[قاضي خان]» حاصل دا چې كله تاخيراوشي.اودهغې نه روسته ګواهان ګواهي وركړي.نوهغه روستو د څه معقول عذرنه بغير وي.نودا ګواهي به مقبول نه وي.سوا د حد قذف نه اود غلا شوې مال په ضمان كي.

تشريح:- «قال واذا شهد الشهود» د ژباړې نه مطلب واضح دي.

حدود الله په وخت تيريدو سره باطليدل

وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ الْحُدُودَ الْخَالِصَةَ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالٰى تَبْطُلُ بِالتَّقَادُمِ خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ، هُوَ يَعْتَبِرُهَا بِحُقُوقِ الْعِبَادِ وَبِالْإِقْرَارِ الَّذِي هُوَ إِحْدَى الْحُجَّتَيْنِ. وَلَنَا أَنَّ الشَّاهِدَ مُخَيَّرٌ بَيْنَ حِسْبَتَيْنِ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ وَالسَّتْرِ، فَالتَّأْخِيرُ إِنْ كَانَ لِاخْتِيَارِ السَّتْرِ فَالْإِقْدَامُ عَلَى الْأَدَاءِ بَعْدَ ذٰلِكَ لِضَغِينَةٍ هَيَّجَتْهُ أَوْ لِعَدَاوَةٍ حَرَّكَتْهُ فَيُتَّهَمُ فِيهَا وَإِنْ كَانَ التَّأْخِيرُ لَا لِلسَّتْرِ يَصِيرُ فَاسِقًا آثِمًا فَتَيَقَّنَّا بِالْمَانِعِ،

حل اللغة: ① مخير: اختيارمند ② الستر: پرده ③ ضغينة: كينه ،حسد ④ هيجان: زيادت ⑤ العداوة: دشمني

ژباړه:- په دې مسئله كي اصل دا دې.چه څومره حدود صرف حقوق الله دي.په روستوالي سره هغه باطليږي اګرچه په دې كي دامام شافعي رحمه الله اختلاف دې.هغوى فرمائي.لكه څنګه چې د بندګانو حقوق په روستو كيدو كي سره نه باطليږي.دغه ډول حقوق الله هم په روستوكيدو سره نه باطليږي.دغه ډول هغوى په اقرار جرم باندې هم قياس كوي.يعنى كه دزنا وغيره حد وي.هغه اګرچه خالص دالله تعالى حق دې.كه د زيات تاخيرباوجود مجرم په خپله اقراراوكړي.اوحاكم ته ورشي.نوپه هغه باندې حد جاري كولې شي.نودغه ډول كه په ګواهانوسره د جرم ثبوت وي.نودا به قبلولې شي.اوپه مجرم به حد قائمولې شي.اوزموږ دليل دا دې. چې ګواهانوته په دوو خبروكي د يوې اختياروو.اول دا چې د ثواب حاصلولو په غرض باندې ګواهي وركړي دوهم دا چې د يومسلم پرده اوساتي.نوكه ده داختيارباوجود په ګواهۍ كي ددې املہ تاخير اوكړلو. چې د يومسلمان پرده اخستې شي.نوچه بيا دومره مودۀ روسته دې په ګواهۍ ور كاوه باندې آماده شي.نودا د كينې د زيادت د املہ دې.اويا به د څه دشمنۍ د زيادت د وجې وي.نوپه دواړو صورتونوكي دده متهمه ده.اوكه دده تاخيرد پرده اچولوپه نيت باندې نه وي.نودې به فاسق اوګناهګار وي. بهرحال دلته په يقين سره موږ ته هغه شى معلوم شو.چه د ګواهۍ ور كاوه نه مانع وو. «[چه په يو صورت كي متهم كيږي.اوپه بل صورت كي فاسق كيږي.اوددې دواړو ګواهي غيرمقبول ده]»

تشريح:- «والاصل ان الحدود» صورت دمسئلې دا دې.چه يوكس په داسې ګواهۍ كي روستوالې اوكړي. چې د هغې تعلق دهغه حدودو سره وي. كوم چې خالص دالله تعالى دحدودو په زمره كي راځي.نودغه حقوق الله په شهادت كي د تاخيرپه وجه باطليږي.څكه چې په حقوق الله كي د اقرارنه روسته د شهادت نه رجوع كول صحيح دي.اوپه دې كي تاخيرد شهادت د قبوليت لپاره مانع دې.خوامام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د بندګانود حقوقو پشان حقوق الله هم «[دشهادت په تاخيرسره]» نه باطليږي.څكه چې په حد زنا وغيره «[هغه حدودوكي كوم چې خالص دالله تعالى حدود دي]» دتاخيرنه روسته كه د زنا مرتكب كس په خپله اقرار اوكړي «[چه ما زنا كړې ده.نودده اقرارقبلولې شي.او]» په دې باندې حد جاري كولې شي.دغه ډول «[په تاخير سره]» د ګواهانوپه شهادت سره به هم جرم ثابتيږي.اوحد به جاري كولې شي.

دامام شافعي رحمه الله په ځواب كي زموږ عالمان رحمهم الله دا استدلال كوي.چه دشهادت په تاخيركي ګواهانوته په دوو خبروكي د يوې خبرې اختياردې.يا خودې دغه ګواه دثواب په نيت باندې چوپوالې اختياركړي.يا به ددې املہ چوپوالې اختياروي.چه د يومسلمان پرده اچول شي.نوكه داجراوثواب په نيت باندې ئې په ګواهۍ كښې تاخيركړې وي.اوبيا روستو دې په ګواهۍ وركولوباندې اماده شي.نودده په دې اماده كيدو كي مقصد حسد اودشمني ده. «[چه دې د زناكارسره دشمني كوي]» نوپه دې صورت كي د تهمت په وجه دې ګواه ،ګواهۍ كاوه ته رجوع اوكړه.كه ددې خبرې عام اجازت وركړې شي.نود حقوق الله يعني حدود الله حيثيت به د لوبوټوقو شي.اودا خبره دالله تعالى د شان سره نه ښائي.په داسې صورت حال كي دالله تعالى اود هغه د حدودو اواحكاموتوهين ته دروازه پرانستې كيږي.دغه ډول انسان د خطاء نه پيدا دې.د ده نه خامخا څه

غلطي كيږي.ځوپه ذكرشوي صورت كې به لالچيان خلك د ذاتي دشمنۍ په طور دا خبره دځپلې ذاتي دشمنۍ لپاره استعمالوي.لكه په موجوده وخت كي چې حكمران طبقه د ځپلو مخالفينو مغلوبه كاوه لپاره قانوني حربې استعمالوي.ددې نوعيت واړه كارونه دده د باطن په فساد باندې دلالت كوي. نو د باطن د فساد په وجه به په شهادت كي تاخيركول معتبر نه وي. «بلكه كه روسته گواهي وركوي.هغه به غيرمقبول وي» اوكه دتاخيروجه پرده اچول كيدل وي. «كه دې دهغه د زنا گواهي وركوي.نودهغه پرده اوعزت خرابيږي» نوپه دې صورت كي رجوع كول په فسق باندې مبني ده. «يعني چې اول ئې شهادت نه وي كړې.او ورستوبيا شهادت كولوته رجوع اوكړي.نودا به دده فسق وي» ځكه چې د چا عيب ښكاره كول گناه ده.نوپه شهادت كي د پردې ښكاره كيدو په رجوع كول يعني د زنا شهادت وركول يو ډول عيب گڼلې شي. «چه په يومسلمان پرده اچول دې» اوعيب ښكاره كول فسق دې.اودفاسق گواهي غيرمعتبر وي.نوچه په شهادت كي تاخيراوكړي.اوبيا روسته شهادت وركوي.دا په شهادت كي رجوع ده. «يعني شهادت وركولوته رجوع ده.چه اول ئې شهادت نه وو كړې.اوبيا روستو شهادت كوي» اودگواهۍ نه رجوع كول فسق دې. نو د دې امله د گواهۍ نه رجوع كول صحيح نه دي.اوداقامت حد «يعني حد قائمولو» عمل به باطل شي.ځكه چې دالله تعالى ارشاد دې.چه [وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ] يعني دالله تعالى لپاره گواهي وركوئ.نوپه شهادت كي روستووالي د شهادت د قبوليت لپاره مانع دې.

"بِخِلَافِ الْإِقْرَارِ لِأَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يُعَادِي نَفْسَهُ، لِحَدِّ الزِّنَا وَشُرْبِ الْخَمْرِ وَالسَّرِقَةِ خَالِصُ حَقِّ اللَّهِ تَعَالَى حَتَّى يَصِحَّ الرُّجُوعُ عَنْهَا بَعْدَ الْإِقْرَارِ فَيَكُونَ التَّقَادُمُ فِيهِ مَانِعًا، وَحَدُّ الْقَذْفِ فِيهِ حَقُّ الْعَبْدِ لِمَا فِيهِ مِنْ دَفْعِ الْعَارِ عَنْهُ، وَلِهَذَا لَا يَصِحُّ رُجُوعُهُ بَعْدَ الْإِقْرَارِ، وَالتَّقَادُمُ غَيْرُ مَانِعٍ فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ، وَلِأَنَّ الدَّعْوَى فِيهِ شَرْطٌ فَيُحْمَلُ تَأْخِيرُهُمْ عَلَى انْعِدَامِ الدَّعْوَى فَلَا يُوجِبُ تَفْسِيقَهُمْ،

حل اللغة: ① **يعادي**: دشمني كوي ② **التقادم**: وړاندې والي ③ **تفسيق**: فاسق گرځول

ژباړه:- په خلاف دهغه صورت چې مجرم په ځپله دگناه اقراراوكړي.ځكه چې هيڅ كس دځپل ځان دشمن نه وي.نوزنا ،شراب ځكل،اوغلا كول خالص دالله تعالى حقوق دي.ددې امله چې په دې باندې اقراراوكړي.نود اقرارنه روسته هم دهغې نه اوړيدل صحيح دي.اوپه گواهۍ كي روستووالي د گواهۍ مقبوليت ختموي.اوحد قذف چونكه د بنده حق دې. «يعني دزنا په الزام لگيدو سره به هغه په ټولو خلگو كي دشرم د امله سترگي نشي لگولې» نوددې تهمت په وجه چې مجرم «قاذف» ته حد اولگي.نود مقذوف شرم به لرې شي.هم دا وجه ده.كه قاذف په چا باندې د زنا تهمت اولگوي.نوكه دهغې اقراركولونه روسته انكاراوكړي. «يعني زيد په عمرباندې د زنا تهمت اولگوي.اوددې اقرارهم اوكړي.چه ما پرې د زنا تهمت لگولې دې.خوچه كله ورته بيا حد قذف ملاويږي.اودې دځپل اقرارنه انكاراوكړي.چه ما په دروغه اقراركړې وو.نوهم به دده حد نشي ساقط كيدې.ځكه چې حد قذف د بنده حق دې» اوپه حقوق العبدچه گواهي روستو وركړي.نوپه دې باندې څه توپير نه راځي.ځكه چې د داسې گواهۍ لپاره خو دا شرط دې.چه په چا باندې الزام لگولې شوي وي.هغه به ځپله په دې اړه كي دعوه وكړي وي. «چه ده په ما باندې د دروغو الزام لگولې دې.مطلب دا چې په حقوق ا لعباد كي د گواهۍ اړتيا هله پيښيږي.چه مظلوم دعوه اوكړي.نوچه چا ته دده مظلوميت معلوم وي.هغه به گواهي وركړي.اوس چې مظلوم د ظلم نه روسته د ځپل مظلوميت دعوه نه وي كړې.نوگواهان خود ځپل اړخه گواهي نشي وركولې.البته چې كله مظلوم څه وخت روسته د ځپل مظلوميت دعوه اوكړي.نوگواهۍ حاجت پيدا شو.اوچه حاجت ورته پيدا شو.نوكه ځوك گواهي وركوي.گواهي به ئې قبلولې شي.» نوپه داسې معامله كي به په گواهۍ كي روستو والي په دې باندې محمول وي.چه تردغه وخته پورې دعوه نه وه كړې شوې.نوكه په دې وجه گواهۍ كي روستووالي راشي.نوددې نه دگواهانو فسق نه لازميږي

تشريح:- په خلاف د اقرارځكه چې انسان دځپل ځان دشمن نه وي.نود اقرار نه روسته چې د زنا كولويا شراب ځښلو نه انكاراوكړي.نودا صحيح ده.ځكه چې حد زنا ،دشرابواود غلا واړه خالص دالله تعالى حقوق دي. نو

داقرار نه روسته د حقوق الله بطلان ﴿غلط كيدل﴾ لازميږي.نوامام شافعي رحمه الله چې په حقوق الله كې تاخير دشهادت په اقرارباندې قياس كوي.دا خبره محل د نظرده.
كه په دې باندې غور اوكړې شي.چه په شهادت كي تاخير راشي.نود شهادت نه د رجوع كاوه په مسئله كي ځلورخبرې وړاندې راځي.① تاخير،هره يوه معامله چې په هغې كي روستو والې اوشي.هغې ته تاخير وائي.قطع نظرددې نه چې دا تاخيرد باطن د فساد په وجه راغلې دې.اوكه د پردې اچولوپه وجه .نوپه دواړو صورتونوكي ﴿كه فساد دباطن وي يا دپردې اچول وي﴾ دتاخيرنه روسته دګواهئ نه رجوع كول صحيح نه دي.② دشهادت نه رجوع كول،اودشهادت نه رجوع كول دمجلس قضاء اوعدالت سره مخصوص دي.اوكه دا رجوع په حقوق الله كي وي.نوپه دې سره حقوق الله باطليږي.اوكه دا رجوع په حقوق العباد كي وي.نومعتبر به نه وي.كه په رجوع كولوسره د مدعى يا مدعى عليه څه څيزضائع كيږي.نوپه ګواهانوبه تاوان وي.ګنى نه به وي.③ اقرار،يعني ،،آو،، كول،منل،مجرم چې كله يوجرم په خپله اومني.نودې ته اقراروائي.ځكه چې د جرم داثبات لپاره دوې [دوه] طريقې دي.يودا چې د ګواهانوپه شهادت سره جرم ثابت شي. دوهم دا چې دمجرم په خپله اقراركولوسره جرم ثابت شي.كه د ګواهانوپه شهادت سره جرم ثابت شي.نوپه دې صورت كي په پټه د مجرم دخپل جرم نه انكارموجود دې.كوم چې د ګواهانوپه شهادت سره ثابت شوې دې.اوپه اقراركي د مجرم په پټه انكارموجود نه دې.نوځكه چې دګواهانوپه ذريعه باندې كوم جرم ثابت شي.اوپه خپل اقراركولوسره كوم جرم ثابت شي.په دې دواړوكي توپير ښكاره دې.نودتاخيرفي الشهادت نه روسته د داسې جرم د شهادت نه انكاركول به صحيح نه وي.كوم چې د ګواهانو په شهادت سره ثابت شوې وي.ځكه چې روستنې كلام ﴿مرجوع عنه﴾ د اولنى كلام سره معارض دې.نوپه دې كي د رجوع تعلق د باطن فساد سره دې.يا پرده اچولوسره،نود فساد باطن په صورت كي دغه رجوع كونكې ګواه په خپله ګواهئ كي متهم شو.اود پرده پوشئ په صورت كي به فاسق وي.نوپه شهادت كي د متهم كيدو په وجه اود فسق په وجه په دواړو صورتونوكي شهادت ته رجوع كول به قابل قبول نه وي.كه دنفس شهادت په قيوداتو باندې غوراوكړې شي.نومعلومه به شي.چه ﴿دتاخيرشهادت نه رجوع كولوحيثيت معدوم كيږي﴾ نود تاخيراو رجوع په وجود كي به نفس شهادت بې معنى اوبې مطلبه وي.حالانكه د عدالتي فيصلو واړه دارومدار په ربښتينى شهادت باندې وي.نود تاخيرشهادت او رجوع نفس شهادت اهميت پاته نه پاتې كيږي.دغه ډول كه د اقرارپه حقيقت باندې نظراوكړې شي.چه په تاخيرشهادت او رجوع نفس شهادت باندې څه توپير نه پريوځي.نوځكه زيربحث مسئله په مسئله د اقرارباندې قياس كول محل د نظردې.

فِي الشهادة بِخِلَافِ حَدِّ السَّرِقَةِ لِأَنَّ الدَّعْوَى لَيْسَتْ بِشَرْطٍ لِلْحَدِّ لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللّٰهِ تَعَالَى عَلَى مَا مَرَّ، وَإِنَّمَا شُرِطَتْ لِلْمَالِ، وَلِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى كَوْنِ الْحَدِّ حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالَى فَلَا يُعْتَبَرُ وُجُودُ التُّهْمَةِ فِي كُلِّ فَرْدٍ، وَلِأَنَّ السَّرِقَةَ تُقَامُ عَلَى الِاسْتِسْرَارِ عَلَى غِرَّةٍ مِنَ الْمَالِكِ فَيَجِبُ عَلَى الشَّاهِدِ إِعْلَامُهُ فَبِالْكِتْمَانِ يَصِيرُ فَاسِقًا آثِمًا، ثُمَّ التَّقَادُمُ كَمَا يَمْنَعُ قَبُولَ الشَّهَادَةِ فِي الِابْتِدَاءِ يَمْنَعُ الْإِقَامَةَ بَعْدَ الْقَضَاءِ عِنْدَنَا خِلَافًا لِزُفَرَ حَتَّى لَوْ هَرَبَ بَعْدَ مَا ضُرِبَ بَعْضَ الْحَدِّ ثُمَّ أُخِذَ بَعْدَ مَا تَقَادَمَ الزَّمَانُ لَا يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ لِأَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي بَابِ الْحُدُودِ.

حل اللغة: ① **الاستسرار**:پټوالې ② **غرة**:دهوكه ③ **اعلام**:اعلان④ **الكتمان**:پټول ⑤ **هرب**:اوتختيدو⑥ **الامضاء**:جاري كول

ژباړه:- په خلاف د حد سرقه،ځكه چې د لاس كټ كاوه لپاره دعوه شرط نه ده.ځكه چې دا خالص دالله تعالى حق دې.دا خبره وړاندې خودلې شوې ده.البته چې كوم مال غلا شوې وي.نودهغې دحاصلولو لپاره دعوه شرط ده.اوددې دليل د امله چې حكم جاري كول په دې خبره باندې موقوف دي.چه هغه حق خالص دالله تعالى دې. ﴿يعني دګواهى نه قبلول په دې وجه چې په دې كي به كينه اودشمني وي.دا صحيح نه ده.ځكه چې دا خبرې كنبت دي.كومې چې په يقين سره بل كس نشي معلومولې.ددې امله دحكم دارومدار په دې باندې كيخودې شوې دې.چه هغه صرف دالله تعالى حق وي﴾نوپه هريوكس كي د تهمت وجود ضروري نه

دي. ﴿لکه څنګه چي په سفرکي دمشقت د امله نه قصر کول اودڅلورو رکعتونوپه ځاي دوي [دوه] رکعته کول دی. حالانکه هرکس د مشقت وجود یوه پټه خبره ده.ددي امله د لمونځ دقصر بنا (بنیاد) د سفر په مسافه باندي کیخودي شوي دي.چه په دومره فاصله کولوباندي په لمونځ کي قصر کول صحیح دی.برابره ده که په دغه سفرکي تکلیف وی اوکه نه وی﴾ اوددي دلیل په وجه چي غلا خو دمال مالك ته دهوکه ورکولي شی.اودهغه نه پټه باندي اخستي شی.نوپه دي ګواه باندي پخپله دا واجب دی. ﴿اګرچه مالك دعوه نه وی کړي﴾ چي ددي پیژندلونه روسته ﴿چه فلانی دا غلا کړي ده﴾ چي مالك خبر کړی.اوهرکله چي ده خبره پټه کړه.یعنی مالك ته ئي اونه خودل.اونه ئي دګواهۍ پیشکش اوکړلو. ﴿که ته غواړي.زه به ګواهی ورکړم.چه فلانی دا غلا کړي ده﴾ نودي فاسق اوګناهګاردي. ﴿اواوس ددي فاسق ګواهی مقبوله نه ده﴾ اوچه د غلا ورته پته لګی.نوپه دغه ګواه باندي ګواهی ورکول ددي امله واجب دی.چه د چا نه غلا شوي ده.هغه ته پخپله دا معلومه نه ده.چه غلا چا کړي ده.اوداسي غل چا لیدلي هم دي که نه؟ اوکه لیدلي ئي وی نوچا لیدلي دي.چه روستو بیا هغه ګواه جوړ کړی.نوځکه د غلا په لیدونکی باندي دا لازم ده.چه په خپله لاړ شی.اوګواهی ورکړی.بیا لکه څنګه چي په پیل کي د ګواهۍ روستو والي د ګواهۍ د مقبولیت لپاره مانع دي.دغه ډول د قاضي دفیصلي کاوه نه روسته دحد قائمولو لپاره مانع ده.په خلاف دقول دامام زفرؒ هم ددي امله زمونږ په نیزکه مجرم ته څه لږ غوندي حد ورکړي شوي وی.په دي کي هغه اوتختیدلو.اوډیري ورځي روسته بیا اونیولي شو.نوپه ده به پاته حد نشی جاری کولي.ځکه چي د حدودو په اړه کي چي لکه څنګه دقاضي لپاره ضروری ده.چه ددي په اړه کي فیصله واوروی.نودغه ډول دا پوره هم لازم دی.چه دا فیصله نافذ کړی.نوترڅوپوري چي حد پوره نه وی ورکړي شوي.نوترهغه وخته پوري د قاضي حکم اوفیصله شم نامکمله ده.

تشریح:- چونکه په زنا اوحدسرقه کي توپیر دي.ځکه چي په زنا کي چي مزنیه غائبه وی.نودعوه نشی موجود کیدي.یعنی په زنا کي دعوه شرط نه ده.نوځکه به د تاخیرنه روسته حد نه جاری کیږی.لکه څنګه چي د تاخیرنه روسته د اقرارپشان حد نه جاری کیږی.که دا شبه اوشی.که مزنیه غائبه وی.نوددي باوجود هم د شبه د دعوه احتمال موجود دي.نوددي شبه تدارك به داسي کیږی.چه په احتمال سره د شبه دوجود حکم لازم نشی.چه په هغي سره حد ساقط شی.بلکه دلته د شبه د وجود وهم موجودیږی.نودلته د شبه وهم ته زیات نه زیات د شبه الشبه درجه ورکولي شی. اودا شبه الشبه د نفس شبه نه کمه درجه لری.ګومه چي غیرمعتبر ده.حالانکه په غلا کي دعوه شرط ده.ددي امله چي د غلا اقرار اوکړی.نوپه رجوع کولوسره حد سرقه ﴿د لاس کټ کول﴾ ساقطیږی.خودبل لپاره به د مال ضامن وی.نوحد زنا ،شراب څښل اوغلا خالص دالله تعالی حقوق دی.په دي باندي داقرارکولونه روسته رجوع کول صحیح ده.اوچه روستو ګواهی ورکوی.نوددي نه مانع دی.اوحد قذف وغیره حقوق العباد دی.داقرار نه روسته ددي نه رجوع کول صحیح نه دی.اوپه حقوق العباد کي تاخیرمانع نه دي.نوځکه به تاخیرپه عدم دعوه باندي محمول وی.اودحکم داروماداپه داسي حد باندي وی.چه هغه خالص دالله تعالی دحقوقو څني وی.اودباطن فساد داسي یوپټ څیزدي.چه دهغي نه خبریدل ممکن نه دی.نودا فساد باطن په هرکس کښي موجود نه وی.لکه څنګه چي په قصرلمونځ کي دسفرمقداروی.دمشقت وجود. اوعدم وجود ضروری نه وی.نوکوم دلیل چي ذکرشو. ﴿چه په سفرکي مشقت یوپټ څیزدي﴾د دي نه ښکاره کیږی.چه د غلا عمل مالك ته دهوکه ورکول اوپه پټه باندي کولي شی.نوپه ګواه باندي لازم ده.چه هغه دستی مالك خبّر کړی.اوچه هغه خبرورکول پټ کړل.نودغه ګواه به فاسق ګڼرلي شی.نودفاسق ګواهی معتبر نه وی.نولکه څنګه چي په ابتداء کي په تاخیرسره دګواهۍ قبولیت مانع دي.دغه شان چي دقاضي فیصله صادره شی.نودهغي نه روسته به هم د حدد قائمولونه مانع وی.

دامام زفرؒ په دي مسئله کي اختلاف دي.زمونږد احنافو ؒ په نیز که مجرم څوکوري اوخوری. او د هغي نه روسته اوتختی.اوډیره موده روسته بیا ګرفتار شی.نوپه دي صورت کي ﴿دامام ابوحنیفه، او نورو

احنافو رحمهم الله په نيز ﴿دحد پاته برخه به نشي نافذكولي. ﴾ ﴿يعنى پاته حد به ساقط شي ﴾ ځكه چي اقامت د حدودو په معامله كي حدود قائمول هم دحكم ځنى دى.يعنى ترڅوچه د حدقائمولوعمل نافذ شوي نه وى. نوترهغه وخته پوري دقاضى دحكم تعميل نه دي شوي.

لنډيز دكلام دا شوه.چه په حدود قديمه اواقرار په اړه كي ځومذاهب دى.① دامام ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله په نيز گواهى نه قبليږى.اواقرارقبليږى.سوا د شرابود حد نه.② دامام محمدبن حسن شيباني رحمه الله په نيز گواهى نه قبليږى.اواقراربه قابل قبول وى.د زنا او سرقه پشان به د شرابوڅښلو هم دا حكم وى.③ دابن ابى ليلى رحمه الله په نيزبه په گواهئ اواقراردواړوكي قابل قبول نه وى.④ دامام شافعى،امام مالك اوامام محمد رحمهم الله په نيزبه اقراراوشهادت دواړوكي قابل قبول دي.صاحب دهدايه په متن كي صرف د امام شافعى رحمه الله اختلاف نقل كړي دي.

وَاخْتَلَفُوا فِي حَدِّ التَّقَادُمِ، وَأَشَارَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ إلَى سِتَّةِ أَشْهُرٍ، فَإِنَّهُ قَالَ بَعْدَ حِينٍ، وَهَكَذَا أَشَارَ الطَّحَاوِيُّ، وَأَبُو حَنِيفَةَ لَمْ يُقَدِّرْ فِي ذَلِكَ وَفَوَّضَهُ إلَى رَأْيِ الْقَاضِي فِي كُلِّ عَصْرٍ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ قَدَّرَهُ بِشَهْرٍ، لِأَنَّ مَا دُونَهُ عَاجِلٌ، وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ وَهُوَ الْأَصَحُّ. وَهَذَا إذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ الْقَاضِي وَبَيْنَهُمْ مَسِيرَةُ شَهْرٍ، أَمَّا إذَا كَانَ تُقْبَلُ شَهَادَتُهُمْ، لِأَنَّ الْمَانِعَ بُعْدُهُمْ عَنْ الْإِمَامِ فَلَا تَتَحَقَّقُ التُّهْمَةُ. وَالتَّقَادُمُ فِي حَدِّ الشُّرْبِ كَذَلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ، وَعِنْدَهُمَا يُقَدَّرُ بِزَوَالِ الرَّائِحَةِ عَلَى مَا يَأْتِي فِي بَابِهِ إنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى

حل اللغة: ① **فوض**:سپارلي دي ② **مسيرة**:فاصله ③ **الرائحة**:بوئى ④ **التقادم**: وړاندي والي

ژباړه:- بيا دتصادم يا روستوالى په اړه كي به ځومره مودهٔ ډيره زمانه شمارلي شي.نوپه دي كي دفقهاؤ اختلاف دي.امام محمد رحمه الله په جامع صغيركي دي اړخ ته اشاره كړي ده.چه شپږ مياشتي دى.لكه ځنګه چي د قسم په باب كي تيرشو.اوامام طحاوى رحمه الله هم دي خبري تـه اشاره كړي ده.اوامام ابوحنيفه رحمه الله ددي لپاره د څه مودي تعين نه دي كړي.بلكه ددي فيصله ئي دهري زماني د قاضى په رائي پوري پرينبولي (پريخودي) ده.اوامام محمد رحمه الله په يو روايت كي د يوي مياشتي مودي تـه ډيره زمانه ونيلي ده.ځكه چي ددي نه كمي زماني ته كمه مودهٔ ونيلى شى.دامام ابويوسف اوامام ابوحنيفه رحمهما الله نه هم دا يو روايت دي.اوهم دا قـول اصح دي.اودومره مودي ته ډيره زمانه په دي اعتبارسره ونيلى شى.چه د قاضى اوگواهانوپه مينځ كي د يوي مياشتي فاصله نه وى.اوكه د دومره ورځو لري والي وى.نوددوى گواهى به دستى قبلولي شى.ځكه چي د امام نه دومره لري اوسيدل د گواهئ په ادا كولوكي په حقيقت كي يوركاوټ دي.يعنى دوى دخپل اړخه دگواهئ پـه ادا كولـوكـي روسـتوالي نـه دي كـړي.نوپـه دوى بانـدي د كيـنـي يـا دشـمنئ الـزام نـشـي لګولي.اودشرابوڅښلو په حد كي د ډيري زماني په مقداركي دامام محمد رحمه الله په نيزيوه مياشت ده. خو دامام ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله په نيزبـه د روستووالى زمانـه دومـره وى.چه دشرابى دخولي نـه د شرابو بـوئى لاړ شى.ددي بيان به انشاء الله د شرابو څښلو په بيان كي راشي. ﴿كه زناكارد ډيري زماني تيريدو نـه روستـه د خپلي زنا اقرار اوكړلو.نوبيا بـه هم دده اقرار منلي شى.ځكه چي په دي كي د تهمت څه وجه نشته.لكه مصنف رحمه الله چي وړاندي بيان كړى دى.

تشريح:- ‹‹ **واختلفوا في حد التقادم** ›› د ژباړي څخه مطلب واضح دي.

دغائبي ښځي خلاف د زناګواهي وركول

(وَإِذَا شَهِدُوا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ زَنَى بِفُلَانَةَ وَفُلَانَةُ غَائِبَةٌ فَإِنَّهُ يُحَدُّ، وَإِنْ شَهِدُوا أَنَّهُ سَرَقَ مِنْ فُلَانٍ وَهُوَ غَائِبٌ لَمْ يُقْطَعْ) وَالْفَرْقُ أَنَّ بِالْغَيْبَةِ تَنْعَدِمُ الدَّعْوَى وَهِيَ شَرْطٌ فِي السَّرِقَةِ دُونَ الزِّنَا، وَبِالْحُضُورِ يُتَوَهَّمُ دَعْوَى الشُّبْهَةِ وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْمَوْهُومِ

حل اللغة: ① **الموهوم**:هغه څيزچه ګمان پري كولي شى ② **يقطع**:كټ كوى

ژباړه:- اوكه يوكس دا گواهي وركړله.چه دي سړي د فلانئ ښځي سره ﴿كوم چي دښارنه بهر وى﴾ زنا كړي ده.نودغه كس ته به حد وركولي شي.اوكه دا گواهي وركړي.چه ده د فلانـى كس مـال غـلا كړي دي.حالانكه هغه كس د ښارنه بهروو.نودده لاس به نشي كټ كولي.په دي دواړو مسئلوكي توپير دا دي.چه مزنيه غائبه

وی.نوپه دې صورت کښې دعوه ته څه اعتبار نشته ﴿که دعوه وی او که نه وی.حکم به جاری کیږی﴾.حالانکه د غلا په صورت کې د دعوه اعتبار کول شرط دې. ﴿او س د زنا په صورت کې﴾ که ګواهان حاضر کړې شی.نود شبه دعوه کیداې شی.حالانکه ﴿دشبه دعوه﴾ صرف وهم دې.اووهم لره څه اعتبار نشته. ﴿نوصرف د وهم د امله به انتظارنشی کولې.بلکه حدزنا به جاری کولې شی.خودغلا ګواهی به نشی قبلولې.ځکه چې دا دعوه نه ده شوې.چه غلا شوې ده

تشریح:- صورت د مسئلې دا دې.چه کله ځلوروګواهانوګواهی ورکړه.نوپه سړی به حد جاری کولې شی.خوپه دې شرط چې دغه ګواهان سړې اوښځه ﴿زانی اوزانیه﴾ ښه پیژنی.دلته دې دا اعتراض نشی کولې.که ښځه د نکاح دعوه اوکړی.نوپکارده چې حد ساقط شی.ځکه چې دا شبه الشبه ده.اوصرف یو وهمی خبره ده.اوکه ددې اعتباراوکړې شی.نوبیا خوبه یوحد هم جاری نشی.بلکه دحد وجود به ختم شی.ځکه چې په ګواهۍ کې هم د رجوع احتمال شته.په اقرارکې هم د رجوع احتمال شته.ددې مسئلې په عکس که دغلا په اړه کې څوك ګواهی ورکړی.نوهغه به نشی قبلولې.یعنی حد به پرې نشی جاری کولې.ځکه چې په غلا کې دعوه شرط ده.اوپه زنا کې دعوه شرط نه ده.نوپه دواړو مسئلوکې توپیر موجود دې.

د ناپیژندګلوښځې سره د زنا کولوګواهی ورکول

(وَإِنْ شَهِدُوا أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ لَا يَعْرِفُونَهَا لَمْ يُحَدَّ) لِاحْتِمَالِ أَنَّهَا امْرَأَتُهُ أَوْ أَمَتُهُ بَلْ هُوَ الظَّاهِرُ (وَإِنْ أَقَرَّ بِذَلِكَ حُدَّ) لِأَنَّهُ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ أَمَتُهُ أَوْ امْرَأَتُهُ

حل اللغة: ① امة: وینځه ② امراة: ښځه

ژباړه:- اوکه ګواهانوګواهی ورکړله.چه دې سړی د داسې ښځې سره زنا کړې ده.کومه چې مونږ نه پیژنو.نوده ته به حد نشی ورکولې.ددې احتمال د امله چې کیداې شی.دغه دده خپله ښځه وی.یا دهغه خپله وینځه وی.بلکه هم دا ظاهره ده.اوددې امید کیداې شی. ﴿ځکه چې دیومسلمان نه دا امید نشی کیدې.چه دې دحلال کارنه سوا په قصد باندې حرام کاراوکړی﴾ اوکه دغه کس په خپله ددې اقرار اوکړلو.چه آو ما زنا کړې ده.نوبیا به په ده باندې حد قائمولې شی.ځکه چې په ده باندې دا خبره پټه نشی پاتې کیدې.چه دغه ښځه دده خپله منکوحه یا وینځه ده که نه ده؟

تشریح:- «**وان شهدوا انه زنی بامراة**» حدود چونکه په شبه سره ساقطیږی.اودلته هم شبه بلکه ظاهره دا ده.چه دغه ښځه به دده خپله منکوحه یا وینځه وه.خوکه په دې صورت کې هغه کس په خپله د زنا اقرار اوکړی.نوحد به پرې جاری کیږی.ځکه چې اوس شبه پاتې نشوه.بلکه یقین دې.

د دوو کسانو د زنا بالجبر اودنورو دووه د زنا بالرضا ګواهی ورکول

(وَإِنْ شَهِدَ اثْنَانِ أَنَّهُ زَنَى بِفُلَانَةَ فَاسْتَكْرَهَهَا وَآخَرَانِ أَنَّهَا طَاوَعَتْهُ دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمَا جَمِيعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ) وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ[1] (وَقَالَا: يُحَدُّ الرَّجُلُ خَاصَّةً) لِاتِّفَاقِهِمَا عَلَى الْمُوجِبِ وَتَفَرَّدَ أَحَدُهُمَا بِزِيَادَةِ جِنَايَةٍ وَهُوَ الْإِكْرَاهُ، بِخِلَافِ جَانِبِهَا، لِأَنَّ طَوَاعِيَتَهَا شَرْطُ تَحَقُّقِ الْمُوجِبِ فِي حَقِّهَا وَلَمْ يَثْبُتْ لِاخْتِلَافِهِمَا. وَلَهُ أَنَّهُ اخْتَلَفَ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ، لِأَنَّ الزِّنَا فِعْلٌ وَاحِدٌ يَقُومُ بِهِمَا، وَلِأَنَّ شَاهِدَيْ الطَّوَاعِيَةِ صَارَا قَاذِفَيْنِ لَهَا. وَإِنَّمَا يَسْقُطُ الْحَدُّ عَنْهُمَا بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْ الْإِكْرَاهِ، لِأَنَّ زِنَاهَا مُكْرَهَةً يُسْقِطُ إحْصَانَهَا فَصَارَا خَصْمَيْنِ فِي ذَلِكَ

حل اللغة: ① استکراه: جبرکول زبردستی کول ② طاوعت: تابعداری کړې ده

ژباړه:- که دوو کسانوددې خبرې ګواهی ورکړله.چه دې کس د فلانۍ سره په زبردستۍ زنا کړې ده.خونورو دوو کسانودا ګواهی ورکړله.چه هغه ښځې ورسره په رضا باندې زنا کړې ده.نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزبه د

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبی حنیفة رحمه الله کذا فی فتح القدیر(۶۲۱۵) والخانیة (۴۰۹۱۴) وردالمحتار(۱۷۴۱۳) والهندیة (۱۵۳۱۲) نقلاً عن القول الراجح (۴۴۵۱۱)-

اوښځې نه حد ساقط شي.دامام زفرؒ هم دا قول دې.خوصاحبين ؒ فرمائي.چه صرف سړي ته به حد سړي اوښځې نه حد ساقط شي.دامام زفرؒ ...

سړي اوښځې نه حد ساقط شي.دامام زفرؒ هم دا قول دې.خوصاحبين ؒفرمائي.چه صرف سړي ته به حد ورکولې شي.ځکه چې دده په اړه کې دواړه فريقه ګواهان متفق دي.چه ده زنا کړې ده.اوده ته دې حد ورکړې شي.اوصرف يوفريق په دې دعوه کې زيادت کړې دې.چه سړي په زورباندې زنا کړې ده.خود ښځې په اړه کې دا خبره نشته.نـود ګـواهئ دواړه فريقـه مختلف دي.اودامـام ابوحنيفـهؒ دليـل دا دې.چـه د کـوم څيزدواړوګواهانو ګواهي ورکړې ده.نوپه دغه ګواهئ کې دواړه فريق مختلف دي.ځکه چې زنا يېږداسې فعل دي.چه ددې کول ديوسړي اويوې ښځې نه په شريکه باندې کېږي.نوځکه يوکارداسې نشي کيدې.چه دهغې په کولوکې دې د رضا سره زبردستي هم جمع شي.اوددې امله چې د رضا خبرچه ئې ورکړلو.نود دواړو فريق ګواهانو په دې سړي اوښځه باندې د زنا تهمت اولګولو. «ځکه چې دزنا په ګواهئ کې د څلوروکسانو وجود شرط دې.که ددې نه يوهم کم وي.زنا نـه ثابتيږي.نوددې دواړوګواهي ددې سړي اوښځې په حق کې تهمت شو.» اوپـه زبردستئ سره د زنا کولوپـه اړه کې ددې خبرې ګـواهي ورکـول چـې دا ښځه مجبوره وه.اوخه چې شوي وو.په هغې کې دا مجبوره وه.په دې سره ښځه محصنه نشي کيدې.ځکه چې دلتـه اګرچه زنا موجود شوې ده.خوښځې ته په کې څه ګناه نشته.نوځکه دا دواړه ګواهان هم تهمت لګونکې فريق جوړ شو.

د زنا په ځائې کې د ګواهانوداختلاف حکم

(وَإِنْ شَهِدَ اثْنَانِ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ بِالْكُوفَةِ وَآخَرَانِ أَنَّهُ زَنَى بِهَا بِالْبَصْرَةِ دُرِءَ الْحَدُّ عَنْهُمَا جَمِيعًا) وَلِأَنَّ الْمَشْهُودَ بِهِ فِعْلُ الزِّنَا وَقَدْ اخْتَلَفَ بِاخْتِلَافِ الْمَكَانِ وَلَمْ يَتِمَّ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصَابُ الشَّهَادَةِ وَلَا يُحَدُّ الشُّهُودُ خِلَافًا لِزُفَرَ لِشُبْهَةِ الِاتِّحَادِ نَظَرًا إِلَى اتِّحَادِ الصُّورَةِ وَالْمَرْأَةِ

ژباړه:- که دووګواهانوپه دې خبره ګواهي وکړله.چه دې کس ددې ښځې سره په کوفه کې زنا کړې ده.او نورو دووګواهانوپه دې ګواهي ورکړله.چه دې سړي ددې ښځې سره په بصره کې زنا کړې ده. «يعنې په يوتاريخ اوپه يووخت کې ئې کړې ده.حالانکه په دواړو ځايونوکښې ډيره فاصله وي.نوپـه دې ښځه اوسړي کې به په يوباندې هم حد نه جاري کيږي.ځکه چې فعل د زنا دکوم ګواهي چې ورکړې شوې ده.هغه ځائې په بدليدو سره بدليږي.اوپه دواړو ځايونوکې د زنا دګواهئ نصاب هم نه پوره کيږي.يعني په يوځائې کې هم پوره څلور ګواهان نه پوره کيږي.اوګواهاتو ته به هم حد قذف نشي لګولې.ځکه چې د شکل اوصورت د يوشان والي په اعتبارسره دا شبه هم موجود ده.چه واقعه دې يوه وي.په دې کي دامام زفرؒ اختلاف دې.

تشريح:- «وان شهد اثنان على انه زنى» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د يوې کمرې په کوټونوکې د زنا په ګواهئ کې اختلاف

(وَإِنِ اخْتَلَفُوا فِي بَيْتٍ وَاحِدٍ حُدَّ الرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ) مَعْنَاهُ: أَنْ يَشْهَدَ كُلُّ اثْنَيْنِ عَلَى الزِّنَى فِي زَاوِيَةٍ، وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ. وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجِبَ الْحَدُّ لِاخْتِلَافِ الْمَكَانِ حَقِيقَةً. وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ التَّوْفِيقَ مُمْكِنٌ بِأَنْ يَكُونَ ابْتِدَاءُ الْفِعْلِ فِي زَاوِيَةٍ وَالِانْتِهَاءُ فِي زَاوِيَةٍ أُخْرَى بِالِاضْطِرَابِ، أَوْ لِأَنَّ الْوَاقِعَ فِي وَسَطِ الْبَيْتِ فَيَحْسَبُهُ مَنْ فِي الْمُقَدَّمِ فِي الْمُقَدَّمِ وَمَنْ فِي الْمُؤَخَّرِ فِي الْمُؤَخَّرِ فَيَشْهَدُ بِحَسَبِ مَا عِنْدَهُ

حل اللغة: ① زاوية: کوټ ② الانتهاء: ختميدل ③ الاضطراب: ګډوډ کيدل ④ المقدم: وړاندينئ برخه

ژباړه:- اوکه دوو ګواهانو ددې دواړو په يوه اطاق کې «چه دواړه په يوه اطاق کي دی دغه ډول» اختلاف اوکړلو.نوسړي اوښځې دواړو تـه بـه حد ورکـولې شي.ددې مطلب دا دې.چه دوو ګواهانو په د کمرې په يو ګوټ کې او نورو دووګواهانود کمرې په نـورو دوو ګوټونـوکې د زنا ګواهي ورکړلـه.دا حکم د استحسان په طوردې.اوقيـاس دا دې.چـه دوی تـه حـد رونکـړې شي.ځکـه چـې پـه حقيقـت کـې پـه ځـائې کـې اخـتلاف دې.اوداستحسان دليل دا دې.چه ددواړو خبرو امکان شته.هغه داسې چې ددې کار پيل پـه يوه برخه کې شوې وي.خوبيا روستو دڅه امله نه بلې برخې ته اوړيدلې وي.يا داسې چې واقعـه خودکمرې پـه شاتنئ برخه

کي شوی وی.خوچه څوك د دغه کمرې په وړاندېنئ برخه کي اوسیدل.هغوی دا خیال اوکړلو.چه دوی ﴿زانی اوزانیه﴾ هم په وړاندېنئ برخه کي دی.او نورو دوو کسانو په شاتنئ برخه باندې ګمان اوکړلو.اوبیا دخپل خپل خیال مطابق دواړو فریقوګواهي ورکړله.

تشریح:- «**وان اختلفوا في بيت واحد**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دڅلوروګواهانو د زنا په مکان اوزمان کې داختلاف حکم

(وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ بِالنُّخَيْلَةِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، وَأَرْبَعَةٌ أَنَّهُ زَنَى بِهَا عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ بِدَيْرِ هِنْدٍ دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمْ جَمِيعًا) أَمَّا عَنْهُمَا فَلِأَنَّا تَيَقَّنَّا بِكَذِبِ أَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ غَيْرِ عَيْنٍ، وَأَمَّا عَنِ الشُّهُودِ فَلِاحْتِمَالِ صِدْقِ كُلِّ فَرِيقٍ

ژباړه:- اوکه څلورو ګواهان په دې خبره ګواهي ورکړله.چه سړی د فلانئ ښځې سره په نخيله کي ﴿ چې د کوفې سره نزدې دې ځائې دې﴾ د نمرراختوپه وخت کي زنا کړې ده.او نورو څلورو ګواهانوپه دې ګواهي ورکړله.چه هم دې سړی ددې ښځې سره په دیرهندمقام کي زنا کړې ده.نود ټولو څخه به حد لرې کولې شی.په دوی کي به په ښځه اوسړی باندې ددې امله حد نشی جاری کولې.چه په دې دواړو فریقوکي په هرفریق کي دا احتمال پاتې کیدای شی.چه دوی دروغژن وی.دغه ډول د ګواهئ د دواړو فریقو نه هم حد قذف ختم شو.چه په هرفریق کي بغیرد تعین نه دهغوی د رښتیاوالی احتمال موجود دې.

تشریح:- «**وان شهد اربعة انه زنى**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دڅلورو ګواهانوپه باکره باندې د زنا ګواهي کول

(وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى امْرَأَةٍ بِالزِّنَا وَهِيَ بِكْرٌ دُرِئَ الْحَدُّ عَنْهُمَا وَعَنْهُمْ) لِأَنَّ الزِّنَا لَا يَتَحَقَّقُ مَعَ بَقَاءِ الْبَكَارَةِ، وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ أَنَّ النِّسَاءَ نَظَرْنَ إِلَيْهَا فَقُلْنَ إِنَّهَا بِكْرٌ، وَشَهَادَتُهُنَّ حُجَّةٌ فِي إِسْقَاطِ الْحَدِّ وَلَيْسَتْ بِحُجَّةٍ فِي إِيجَابِهِ فَلِهَذَا سَقَطَ الْحَدُّ عَنْهُمَا وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ

حل اللغة: ① **البكارة:** هغه پرده چې په فرج کښې وی اوپه جماع کولو سره شليږي ② **اسقاط:** ساقطول

ژباړه:- اوکه څلورکسانوپه یوه ښځه د زنا کولوګواهي ورکړله.حالانکه دګواهئ په وخت کي هغه باکره وه.نودښځې ،سړي اوټولوګواهانونه به حد ساقط شی. ﴿یعنی حدبه ورته نشی ورکولې﴾ ځکه چې پرده دبکارت وی.نوزنا نه ثابتیږی.ددې مسئلې تحقیقی صورت به دا وی.چه ښځوددې ښځې شرمګاه اوکتله .او وې وئیل.چه دا اوس هم باکره ده.نوددې ښځو ګواهي د حد په ساقط کولوکي مانع ده.خوپه چا باندې دحد په جاری کولوکي دا حجت نشی جوړیدې.ددې امله دښځې اوسړی نه حد ساقط شو. اوپه ګواهانو باندې حدقذف نشی جاری کولې.

تشریح:- «**وان شهد اربعة على امرأة**» حاصل دا چې دښځې نه حدزنا ساقطیږی.چه هغه باکره وی. او ددې دبکارت ګواهي څلورو ښځو ورکړې وی.کومه چې د حدساقط کاوه لپاره کافی ده.اوپه پاته ګواهانوبه حد قذف هم نشی جاری کولې.ځکه چې دښځو په ګواهئ سره حد نه ثابتیږی.

په زنا کې دڅلورو ړندویا محدودین في القذف دګواهئ حکم

(وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا وَهُمْ عُمْيَانٌ أَوْ مَحْدُودُونَ فِي قَذْفٍ أَوْ أَحَدُهُمْ عَبْدٌ أَوْ مَحْدُودٌ فِي قَذْفٍ فَإِنَّهُمْ يُحَدُّونَ) وَلَا يُحَدُّ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ، لِأَنَّهُ لَا يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمُ الْمَالُ فَكَيْفَ يَثْبُتُ الْحَدُّ وَهُمْ لَيْسُوا مِنْ أَهْلِ أَدَاءِ الشَّهَادَةِ، وَالْعَبْدُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلتَّحَمُّلِ وَالْأَدَاءِ فَلَمْ تَثْبُتْ شُبْهَةُ الزِّنَا، لِأَنَّ الزِّنَا يَثْبُتُ بِالْأَدَاءِ

حل اللغة: ① **عميان:** جمع د اعمى ،ړوند ② **تحمل:** اوچتول ،زغمل (برداشت کول)

ژباړه:- اوکه څلوروسړود یوکس خلاف د زنا ګواهي ورکړله.خوهغه واړه ړانده وو.یا داسې وو.چه په هغوی باندې د وړاندې نه حد قذف جاری شوې وو.یا په دوی کي یوغلام وو.یا په هغه باندې حدقذف لګولې شوې وی.نوپه ټولوګواهانوبه حد جاری کولې شی. ﴿خوپه دې شرط چې په چا باندې د زنا تهمت لګولې شوې وی.هغه په خپله د حدقذف جاری کیدو دعوه کوی﴾ خوچه په چا باندې تهمت لګولې شوې دې.په هغه به حد نشی جاری کیدې.ځکه چې دا خوداسې ناقص ګواهان دی.چه د دوی په ګواهئ باندې مال هم نه

ثابتيږي.نوحد به پرې ځنګه ثابت شي.اوغلام خود ګواه جوړيدو قابل اولائق نه وي.نوځکه د زنا شبه هم ثابته نشوه.ځکه چې دګواهۍ ورکولونه روسته زنا ثابتيږي.ددې نه بغيرنه ثابتيږي.﴿اودا خبره معلومه شوه.چه په دوی کې ديوکس ګواهي هم صحيح نه ده.نوددوی وينا ګواهي ورکول خونشو.البته الزام لګول ضرور شو.اوهم ددې الزام اوتهمت لګولوپه بدله کې به هريوته اتيا کوړې ورکولې شي.

تشريح:- ((**وان شهدوا علی رجل بالزناء**)) څلوروګواهانوچه کله په يوکس باندې د زنا ګواهي ورکړله.اوپه دوی کې يوهم د شهادت قابل نه وو.نوپه دغه کس به حدزنا نشي جاري کولې.بلکه په دغه ګواهانوبه حد قذف جاري کولې شي.ځکه چې په مسلمان باندې د زنا لګولو تهمت ثابت شو.نوچه په چا باندې تهمت لګولې شوې دې.دهغه په مطالبه به په ګواهانوباندې حدقذف لګولې شي.

په زنا کې د فاسقانودګواهۍ حکم

(وَإِنْ شَهِدُوا بِذَلِكَ وَهُمْ فُسَّاقٌ أَوْظَهَرَأَنَّهُمْ فُسَّاقٌ لَمْ يُحَدُّوا) لِأَنَّ الْفَاسِقَ مِنْ أَهْلِ الْأَدَاءِوَالتَّحَمُّلِ وَإِنْ كَانَ فِي أَدَائِهِ نَوْعُ قُصُورٍلِتُهْمَةِ الْفِسْقِ .وَلِهَذَالَوْقَضَى الْقَاضِي بِشَهَادَةِفَاسِقٍ يَنْفُذُعِنْدَنَا،وَيَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمْ شُبْهَةُ الزِّنَا،وَبِاعْتِبَارِقُصُورٍفِي الْأَدَاءِ لِتُهْمَةِ الْفِسْقِ يَثْبُتُ شُبْهَةُ عَدَمِ الزِّنَافَلِهَذَا امْتَنَعَ الْحَدَّانِ،وَسَيَأْتِي فِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ بِنَاءً عَلَى أَصْلِهِ أَنَّ الْفَاسِقَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِفَهُوَكَالْعَبْدِعِنْدَهُ

حل اللغة: ① **فساق**:جمع د فاسق د شريعت د احکامو نافرماني کونکي ② **قصور**:کوتاهي ③ **امتنع** منع شو

ژباړه:- اوکه ګواهانود زنا ګواهي ورکړله.حالانکه هغوی فاسقان وو.يا دګواهۍ نه روسته دهغوی فسق معلوم شو.نوهغوی ته به حد قذف نشي ورکولې.اګرچه په هغوی کې دفسق په وجه عيب ضرور دې.خوبيا هم د ګواه جوړيدو او دګواهۍ ورکولوپه هغوی کې صلاحيت نشته.نوکه دفاسق په ګواهۍ باندې قاضي د حدلګولوحکم جاري کړلو.نوزموږ په نيزبه هغه واجب العمل وي.اودفاسق په ګواهۍ باندې د زنا شبه هم پيدا کيږي.اوچونکه چې فسق موجود دې.نوپه ګواهۍ کې يو ډول نقص هم راغلو.ددې امله دا شبه هم پيدا کيداې شي.چه ده دچا خلاف ګواهي ورکړې ده.هغه زنا نه ده کړې.نوځکه په دې دواړوسړی اوښځه به حدنشي جاري کولې.په دې مسئله کې دامام شافعي رحمه الله اختلاف دې.کوم چې به نزدې بيان شي. او د اختلاف وجه دا ده.چه دهغوی په نيزفاسق سړې دګواهۍ اهل نه دې.ددې وجې دهغوی په نيزفاسق دغلام په حکم کې دې. ﴿اوبيا ددغه فاسقانونه حد قذف هم ساقطيږي.خوپه دې صورت کې چې ګواهان څلور يا زيات وي﴾

تشريح:- ((**وان شهدوا بذلک وهم فساق**)) چې څلورفاسقان ګواهان ګواهي ورکړي.نوپه مشهود عليه باندې به حد نشي جاري کولې.ځکه چې دفاسق په ګواهۍ کې نقص دې.اوپه دې فاسقانوباندې هم حد نشي جاري کولې.ځکه چې دګواهۍ شمارڅلور نفر دی.اوهغه پوره دې.يعني د زنا دفعل دتحقق شبه هم شته.اودعدم زنا احتمال هم شته.نوځکه به دواړه سزاګانې يعني حد زنا اوحد قذف نشي جاري کولې.

دڅلورونه دکم تعداد په صورت کې د حد قذف وجوب

وان نقص عددالشهودعن أربعة حدوالأنهم قذفة إذلاحسبة عندنقصان العددوخروج الشهادة عن القذف باعتبارها وان شهدأربعة على رجل بالزنافضرب بشهادتهم ثم وجدأحدهم عبداأومحدودافي قذف فإنهم يحدون لأنهم قذفة إذالشهودثلاثة

ژباړه:- اوکه دګواهانوشمارد څلورو نه کم وو.نوټولوته به حد قذف ورکولې شي.اوکه ددې ګواهانوپه وجه دغه کس باندې حد جاري شو.او روسته پته اولګيدله.چه په دغه څلوروګواهانوکې يوغلام وو.يا په کې په يوباندې د تهمت لګولوپه وجه حدقذف جاري شوې وو.نودې ټولوباندې به حد جاري کولې شي.اوچه دګواهانوشماردرې پاتې شو.نوددې په وجه دا واړه تهمت لګونکي شول.

تشريح:- ((**وان شهد اربعة علی رجل بالزنا**)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دكوړو په لګولو زخم راتلوحكم

(وَلَيْسَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَلَى بَيْتِ الْمَالِ أَرْشُ الضَّرْبِ، وَإِنْ رُجِمَ فَدِيَتُهُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(¹) وَقَالَا: أَرْشُ الضَّرْبِ أَيْضًا عَلَى بَيْتِ الْمَالِ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللَّهُ: مَعْنَاهُ إِذَا كَانَ جَرَحَهُ، وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ إِذَا مَاتَ مِنَ الضَّرْبِ، وَعَلَى هَذَا إِذَا رَجَعَ الشُّهُودُ لَا يَضْمَنُونَ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُمَا يَضْمَنُونَ. لَهُمَا أَنَّ الْوَاجِبَ بِشَهَادَتِهِمْ مُطْلَقُ الضَّرْبِ، إِذِ الِاحْتِرَازُ عَنِ الْجَرْحِ خَارِجٌ عَنِ الْوُسْعِ فَيَنْتَظِمُ الْجَارِحَ وَغَيْرَهُ فَيُضَافُ إِلَى شَهَادَتِهِمْ فَيَضْمَنُونَ بِالرُّجُوعِ، وَعِنْدَ عَدَمِ الرُّجُوعِ تَجِبُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ، لِأَنَّهُ يَنْتَقِلُ فِعْلُ الْجَلَّادِ إِلَى الْقَاضِي وَهُوَ عَامِلٌ لِلْمُسْلِمِينَ فَتَجِبُ الْغَرَامَةُ فِي مَالِهِمْ فَصَارَ كَالرَّجْمِ وَالْقِصَاصِ. وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ الْجَلْدُ وَهُوَ ضَرْبٌ مُؤْلِمٌ غَيْرُ جَارِحٍ وَلَا مُهْلِكٍ، فَلَا يَقَعُ جَارِحًا ظَاهِرًا إِلَّا لِمَعْنًى فِي الضَّارِبِ وَهُوَ قِلَّةُ هِدَايَتِهِ فَاقْتَصَرَ عَلَيْهِ، لِأَنَّهُ لَا يَجِبُ شَيْءٌ بِضَمَانٍ فِي الصَّحِيحِ كَيْ لَا يَمْتَنِعَ النَّاسُ عَنِ الْإِقَامَةِ مَخَافَةَ الْغَرَامَةِ

مر تعفه ① ارش ديت ② **جرح** زخم ③ **الاحتراز** خان ساتل ④ **الوسع** وس،قدرت ⑤ **الجلاد** په توره باندي حد قائمونكي ⑥ **الغرامة** تاوان ⑦ **مولم** دردونكي ⑧ **مخافة** مصدر دي ،ويره

ژباړه:- اوكوموكسانوته چي كوړې وركړې شوې وي.اودهغې دوهلو په وجه هغوى زخميان شوى وي.نودهغه زخمونوتاوان به نه په ګواهانووي.اونه به په بيت المال وي.اوكه ده ته رجم وركړې شو.نودهغه ديت به په بيت المال وي.دا تفصيل دامام ابوحنيفه رحمه الله دقول مطابق دې. «بلكه د رجم وركولوپه صورت كي په دې حكم واړه امامان متفق دي» اوصاحبين رحمهما الله فرمائي.چه د كوړو وركولوپه صورت كي هم د زخم تاوان به د بيت المال نه ادا كولې شي.

تشريح:- عبدضعيف «مصنف» رحمه الله فرمائي.چه دصاحبينو رحمهما الله قول صورت هغه دې.چه په كوړو لګيدو صرف خوږ شوې نه وي.بلكه زخمي شوې هم وي.دغه ډول كه په كوړو وهلوباندې هغه مړ شي.نوهم دا اختلاف دې.يعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه په چا باندې څه واجب نه وي.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزبه د بيت المال نه ادا كولې شي.دغه ډول كه ګواهانود خپلو دعوو نه رجوع اوكړله.يعني دخپلې ګواهۍ نه واوړيدل.نو دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه هغوى ضامن نه وي.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزبه ضامن وي.يعني دزخم جرمانه به وركوي.اوكه هغه مړشي.نودهغه ديت به په دې ګواهانو وي.

دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چهددې ګواهانود ګواهۍ د امله خوده ته د كوړو وركاوه حكم شوې دې.كه په هره طريقه وي.څكه چې دې د وهلواودزخمي كيدو نه بچ كيدل ممكن نه وو.نوڅكه دا وهل زخم راوستونكي وهلوته هم ګډ دې.نوڅكه به زخمي كيدل يا د زخم نه مړكيدل واړه به هغه خلګو ګواهۍ ته منسوب كولې شي.نوچه د ګواهۍ نه رجوع اوكړي.په دې صورت كي به هغه ضامن وي.اوكه هغوى دګواهۍ نه اوړيدلي نه وو.نوداسې ضمانت به په بيت المال باندې لازم وي.څكه چې په دغه وخت كي د كوړو وركاوه نسبت دقاضي حكم ته كولې شي.اوچونكه د قاضي هريوكارد ټولومسلمانانوكار وي.نوچه په ده كوم تاوان راځي.هغه به هم د ټولومسلمانانوپه مال كنبې واجب وي.يعني د بيت المال څخه به وركول وي. لنډيز دا چې د كوړو دا حالت هم د رجم اوقصاص پشان دې.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه ددوى په ګواهۍ سره صرف كوړې نښليدل واجب شوې.يعني دومره وهل ني اوخوړل.چه دغه كس ته تكليف اورسيدل.اوپه داسې وهلوڅوك هم نه هلاكيږي.اوپه ظاهره دا وهل زخم راوستونكې نه دى.ترڅوچه د وهونكو د اړخه څه زياتې نه وى شوې.يعني چې دهغه دوهلو طريقه صحيح نه وى.نوڅكه ددې وهلوذمه وار وهونكې وى.اوګواهان به ددې ذمه وار نه وى.خوپه دغه وهونكى باندې به هم ددې تاوان نه لازميږي.هم دا قول صحيح دې.چه دتاوان د ويرې خلګ د وهلونه انكارى نشي.

تشريح:- «**وليس عليهم ولاعلى بيت المال**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

¹) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٥\٦٧) والعناية (٥\٦٧) والخانية (٤١٠\١٤) والدرالمختار (١٧٥\٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٤٦)-

د څلورو کسانو نورو څلورو کسانو خلاف د زنا ګواهي ورکول

(وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى شَهَادَةِ أَرْبَعَةٍ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا لَمْ يُحَدَّ) لِمَا فِيهَا مِنْ زِيَادَةِ الشُّبْهَةِ وَلَا ضَرُورَةَ إِلَى تَحَمُّلِهَا

ژباړه:- او که څلورو کسانو نورو څلورو ګواهانو په ګواهي باندې ګواهي ورکړله چه فلانی زنا کړې ده. نو دغه کس ته به حد نشی ورکولې. ځکه چې ددې کسانو په ګواهئ کي ډیر شبهات دی. او ددې ګواهئ قبلولو څخه اړتیا هم نشته.

تشریح:- «وان شهد اربعة على شهادة اربعة» که څلورو کسانو د نورو څلورو کسانو ګواهئ په بنا په یو کس باندې د زنا تهمت اولګولو. «ددې صورت به دا وی چه په سړی باندې د زنا الزام لګونکی څلور نفر وی دې څلورو کسانو په خپله ګواهئ باندې څلور نور نفر ګواه جوړ کړل نو دغه څلورو نورو ګواهانو اولنو څلورو ګواهانو په ګواهئ باندې دسړی خلاف ګواهي ورکړله نو ددې ګواهي په وجه به دغه کس ته حد نشی ورکولې په کوم چې تهمت لګولې شوې وو ځکه چې دلته دا شبه پیدا کیږي چه ښایي چه څلور اصلي ګواهانو څخه وئیلی وو. ځکه چې په دې کي دا احتمال شته چه هغه قبول کړی نشی. او که دغه اولنو کسانو په صحیح طریقه باندې ګواهي ورکړې وی. خو اوس دا نور نفر دهغوی ګواهئ په د ګواهئ څخه نوبیا کوی نو په دې طریقه په دې کي په شبه باندې شبه پیدا شوه او د داسې ګواهئ قبلولو څخه اړتیا نشته. نو ځکه به دارد کولې شی. او ددغه روستنو کسانو ګواهي نشی قبلولې دغه ډول به د اولنو څلورو ګواهي هم نشی قبلولې.

«فان جاء الاولون» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د اصلي ګواهانو په یو معین ځائې کې د زنا کولو شهادت ورکول

(فَإِنْ جَاءَ الْأَوَّلُونَ فَشَهِدُوا عَلَى الْمُعَايَنَةِ فِي ذَلِكَ الْمَكَانِ لَمْ يُحَدَّ أَيْضًا) مَعْنَاهُ شَهِدُوا عَلَى ذَلِكَ الرَّجُلِ بِعَيْنِهِ لِأَنَّ شَهَادَتَهُمْ قَدْ رُدَّتْ مِنْ وَجْهٍ بِرَدِّ شَهَادَةِ الْفُرُوعِ فِي عَيْنِ هَذِهِ الْحَادِثَةِ إِذْ هُمْ قَائِمُونَ مَقَامَهُمْ بِالْأَمْرِ وَالتَّحْمِيلِ، وَلَا يُحَدُّ الشُّهُودُ لِأَنَّ عَدَدَهُمْ مُتَكَامِلٌ وَامْتِنَاعُ الْحَدِّ عَلَى الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ لِنَوْعِ شُبْهَةٍ وَهِيَ كَافِيَةٌ لِدَرْءِ الْحَدِّ لَا لِإِيجَابِهِ

حل اللغة: ① المعاينة په سترګو لیدل ② درء دفع کول ③ متکامل تمام پوره ④ ایجاب واجبول

ژباړه - بیا که اولنو یعنی اصلي ګواهانو په دغه مقام باندې دخپلو لیدلو ګواهي ورکړله نو بیا هم چې د کوم کس خلاف تهمت لګولې شوې وی. هغه ته به حد نشی ورکولې. ددغه مقام ونیلو مطلب دا دی چه بعینه هم د هغه زنا ګواهي ورکړی. «یعنی دغه توپیر نه» ددې وجه دا ده چه ددغه اصلي ګواهانو ګواهي هم یو ډول رد کړې شوه. په داسې صورت چې په دې واقعه کي ددوی د فروعو «یعنی ددغه نورو ګواهانو» ګواهي رد کړې شوه. ځکه چې د اصولو ګواهي قبوله کړې شی. نو بیا دهغې د ګواهئ په بیانولو کي دهغوی فروع «نورو ګواهانو» دهغوی په حکم کي «یعنی په بیانولو کي» دهغوی نائبان دی نو بیا به دغه ګواهانو ته هم حد قذف نشی لګولې. نو اولنی او اصلي ګواهانو ته، او نه نورو او فروعو ګواهانو ته. ځکه چې په شمیر کي دوی پوره په پوره دی. «یعنی د څلورو نه کم نه دی» او دچا خلاف چې هغوی ګواهي ورکړې ده نو هغه نه هم حد ساقطیږی. د یو ډول شبه په وجه، او هم دغه شبه دهغه نه د حد لرې کاولو لپاره کافی ده خو په ګواهانو باندې د حد قذف لګولو لپاره کافی نه ده.

تشریح:- «فان جاء الاولون فشهدوا» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د څلورو ګواهانو په شهادت سنګسارېدل او بیا په کې د یو رجوع کول

(وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا فَرُجِمَ فَكُلَّمَا رَجَعَ وَاحِدٌ حُدَّ الرَّاجِعُ وَحْدَهُ وَغَرِمَ رُبْعَ الدِّيَةِ) أَمَّا الْغَرَامَةُ فَلِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْحَقِّ فَيَكُونُ التَّالِفُ بِشَهَادَةِ الرَّاجِعِ رُبْعَ الْحَقِّ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجِبُ الْقَتْلُ دُونَ الْمَالِ بِنَاءً عَلَى أَصْلِهِ فِي شُهُودِ الْقِصَاصِ، وَسَنُبَيِّنُهُ فِي الدِّيَاتِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى، وَأَمَّا الْحَدُّ فَمَذْهَبُ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ. وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُحَدُّ لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ الرَّاجِعُ قَاذِفَ حَيٍّ فَقَدْ بَطَلَ بِالْمَوْتِ، وَإِنْ كَانَ قَاذِفَ مَيِّتٍ فَهُوَ مَرْجُومٌ بِحُكْمِ الْقَاضِي فَيُورِثُ ذَلِكَ شُبْهَةً. وَلَنَا

أَنَّ الشَّهَادَةَ إِنَّمَا تَنْقَلِبُ قَذْفًا بِالرُّجُوعِ، لِأَنَّ بِهِ تَنْفَسِخُ شَهَادَتُهُ فَجُعِلَ لِلْحَالِ قَذْفًا لِلْمَيِّتِ وَقَدْ انْفَسَخَتِ الْحُجَّةُ فَيَنْفَسِخُ مَا يَنْبَنِي عَلَيْهِ وَهُوَ الْقَضَاءُ فِي حَقِّهِ فَلَا يُورِثُ الشُّبْهَةَ، بِخِلَافِ مَا إِذَا قَذَفَهُ غَيْرُهُ، لِأَنَّهُ غَيْرُ مُحْصَنٍ فِي حَقِّ غَيْرِهِ لِقِيَامِ الْقَضَاءِ فِي حَقِّهِ

ژباړه:- اوکه ځلوروګواهانوپه یو واده شوی کس باندې د زنا ګواهی اوکړله.اوددغه په وجه هغه سنګسارشو.د دغه وخت نه کوم کس هم دخپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړی.نوهغه ته به حدقذف ورکولې شی. اوددغه کس د ځلورمې برخې دیت به دې ضامن وی.په دې کې د ضمان وجه دا ده.چه څوګواهان په خپله ګواهۍ باندې قائم وی.یعنی درې ګواهان،نودهغوی سره دریمه برخه حق پاته دې.نوچه په دغه ځلورو کسانوکې یوکس دخپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړی.نوځلورمه برخه حق ختم شو.اوامام شافعی رحمه الله فرمائیلی دی.چه کوم ګواه هم دخپلې ګواهۍ نه واپس شی.نوپه هغه به مال نه واجبیږی.بلکه دهغه قتلول به واجب وی . ځکه چې ددوی په نیزاصل هغه وو.کوم چې دقصاص دګواهانوپه سلسله کې وو.که دقصاص نه روسته ګواهان خپله ګواهی بدله کړی.نودهغوی قتلول به هم ضروری وی.ددې زیات تفصیل به انشاءالله مونږ په باب الدیات کې بیان کړو. «اوخومصنف رحمه الله دا وعده نه ده پوره کړې» اودخپلې دعوه نه رجوع کونکی ګواه ته حدقذف ورکول دامام ابوحنیفه اوصاحبینو رحمهم الله قول دې.اوامام زفر رحمه الله فرمائیلی دی.چه هغوی ته به هم حدقذف نشی ورکولې.ځکه که دګواهۍ نه رجوع کونکی کس په ژوندی کس باندې زنا تهمت لګولې وو. نو د هغه د مرګ نه روسته په دغه ګواه باندې حدقذف لګول باطلیږی.اوکه دهغه د مرګ نه روسته ئې پرې تهمت لګولې وو.نوهغه دقاضی په حکم باندې رجم کړې شوې دې.نوځکه شبه پیدا شوه.

زمونږ دلیل دا دې.چه دګواهۍ نه د انکار په وجه هغه ټوله ګواهی په تهمت سره بدله شوه.ځکه چې په دغه رجرع کولوسره هغه ګواهی فسخ شوه.نودې رجوع کولوته به په مړی باندې تهمت لګول وئیلی شی.اود زنا ثابت کولوکوم حجت چې وو.هغه به ختم شی.اودهغې په حجتیت چې د څه بنا (بنیاد) وو.یعنی هغې پورې متعلق چې دقاضی کومه فیصله وه.هغه به هم ختمه شی.نواوس هیڅ شبه هم نه پیدا کیږی.ددې په خلاف کې په سنګسارشوی کس باندې یوبل کس تهمت اولګولو.نوهغه ته به حدقذف نشی ورکولې.ځکه چې دغه کس ددې بل کس په حق کې محصن پاتې نشو.ځکه چې دهغې په لحاظ سره خود قاضی حکم صحیح اوپاته پاتې شو.

تشریح:- «**واما الحدفمذهب علمائنا الثلاثة**» چې په محصن سړی باندې د زنا الزام اولګوی.اوګواهی ورکړی. او هغه سنګسارشی.نوپه دې کې به مال نشی قبلولې.بلکه هغه به قتل کولې شی.اوزمونږ درې واړه امامان فرمائی.چه دهرګواه څخه به دهغه په پوره دیت کې ځلورمه برخه دیت اخستې شی.اوپه هغه به حد قذف هم جاری کولې شی.اوامام زفر رحمه الله فرمائی.چه په ده به حد هم نشی قائمولې.

د امام زفر رحمه الله دلیل دا دې.چه په ګواه باندې به حدقذف په هغه صورت کې لګولې شی.چه هغه په محصن مسلمان باندې دهغه په ژوندکې د زنا تهمت لګولې وی.اوپه موجوده حالت کې چې دچا خلاف ګواهی ورکړې شوې وه.هغه سنګسارشوې دې.اوس که دغه ګواه دخپلې ګواهۍ نه رجوع کوی.نودده دا ګواهی د زنا په تهمت کې نه بدلیږی.ځکه چې په کوم کس باندې الزام لګولې شوې وو.که دا الزام دهغه په ژوند کې په هغه باندې لګولې شوې وو.نودهغه د مرګ په وجه به د دې تهمت لګونکی نه حدقذف ختمولې شو.ځکه چې حدقذف دمیراث پشان منتقل کیږی نه.

اوکه دا تهمت په هغه کس باندې دهغه د مرګ نه روسته د زنا تهمت اوګنړلې شی.نوهغه د قاضی په حکم باندې رجم کړې شوې دې.نوځکه زناکارته په زناکاروئیلوکې څه تهمت نشی کیدې.خوچه هرکله د دغه ګواه دګواهۍ نه په اوړیدو سره دزنا ثبوت نشی کیدې.نوهغه کس په حقیقت کې زناکار نشو. خو د قاضی د حکم لګولوپه وجه یوه شبه ضرور پیدا شوه.نوپه دې وجه د ګواه نه حدقذف ساقط شو.

اوزمونږ دلیل دا دې.چه قاضی د رجم حکم په هغه وخت کې ورکړې وو.چه په کوم وخت کې هغه ته پوره ګواهی ملاؤ شوه.اوهرکله چې یوګواه په کې دخپلې ګواهۍ نه واوړیدلو.نودهغه په اوړیدو سره دقاضی حکم

هم ختم شو.نوګواه دخپلې وينا مطابق په داسې کس باندې تهمت لګونکې شو.دچا دارخه چې دقاضي د رجم حکم باطل شوې دې.نوځکه څه شبه پاتې نشوه.چه دې ګواه په يومحصن چې په هغه کې څه عيب نه وو.د زنا غلط تهمت لګولې وو.البته که ګواه نه سوا بل کس په هغه کس «مرجوم» باندې د زنا تهمت اولګوی .نود قاضي حکم به دهغه «دريم ګړی ګواه» په حق کې پاته پاتې شی.نوځکه به ورته «په دې صورت کې» حدقذف نشی لګولې.

درجم نه وړاندې په ګواهانوکې ديوګواه رجوع کول

(فَإِنْ لَمْ يُحَدَّ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ حَتَّى رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ حُدُّوا جَمِيعًا وَسَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ) (١) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: حُدَّ الرَّاجِعُ خَاصَّةً لِأَنَّ الشَّهَادَةَ تَأَكَّدَتْ بِالْقَضَاءِ فَلَا يَنْفَسِخُ إِلَّا فِي حَقِّ الرَّاجِعِ، كَمَا إِذَا رَجَعَ بَعْدَ الْإِمْضَاءِ. وَلَهُمَا أَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فَصَارَ كَمَا إِذَا رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ قَبْلَ الْقَضَاءِ وَلِهَذَا سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ. وَلَوْ رَجَعَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ قَبْلَ الْقَضَاءِ حُدُّوا جَمِيعًا. وَقَالَ زُفَرُ: يُحَدُّ الرَّاجِعُ خَاصَّةً، لِأَنَّهُ لَا يُصَدَّقُ عَلَى غَيْرِهِ. وَلَنَا أَنَّ كَلَامَهُمْ قَذْفٌ فِي الْأَصْلِ وَإِنَّمَا يَصِيرُ شَهَادَةً بِاتِّصَالِ الْقَضَاءِ بِهِ، فَإِذَا لَمْ يَتَّصِلْ بِهِ بَقِيَ قَذْفًا فَيُحَدُّونَ

ژباړه:- اوکه دمکملې ګواهئ نه روسته هم مجرم ته «دچا خلاف چې ګواهی ورکړې شوې وه» په هغه باندې حد جاری نکړې شو.اوپه دې حالت کې په ګواهانوکې يو ګواه دخپلې دعوه نه واپس شو.نوپه دې ټولوګواهانوبه حدقذف لګولې شی.اود مجرم څخه به حدقذف ختم شی.اوامام محمد رحمه الله فرمائيلی دی.چه په ټولوګواهانونه بلکه صرف په رجوع کونکی ګواه به حد قذف جاری کولې شی.ځکه چې دقاضي په فيصله باندې دهغوی ګواهی مضبوطه شوې ده.نوځکه به مکمله ګواهی نه فسخ کيږی.بلکه صرف دهغه په حق کې به فسخ کيږی.چاچه اوس رجوع اوکړله. «لکه څنګه چې په مجرم «مشهودعليه» باندې د حد جاری کيدو نه روسته چې يوګواه دخپلې ګواهئ نه واپس شی.نوصرف هغه ته به حدقذف ورکولې شی.اودا داسې شوه لکه دقاضي دفيصلې نه وړاندې چې رجوع اوکړی.ددې امله د مشهود عليه نه حد ساقطيږی.اوکه د قاضي د فيصلې نه وړاندې که يوګواه هم رجوع اوکړه.نودې ټولوګواهانوته به حد ورکولې شی.اوامام زفر رحمه الله فرمائيلی دی.چه صرف رجوع کونکی ته به حد ورکولې شی.ځکه چې دده د قول تصديق به په نورو ګواهانوباندې حجت نه وی.اوزموږ دليل دا دې.چه دګواهانوکلام په اصل کې يوتهمت اوبهتان دې. خوچه کله ددې نه روسته د قاضي فيصله هم اوشوه.نوهم هغه بهتان په ګواهئ کې بدل شو.اوپه موجوده صورت کې چې دقاضي حکم ددې ګواهئ سره نه دې لګيدلې.نودا ګواهی په خپل حالت باندې هم بهتان دې.نوځکه به ټولوته حد ورکولې شی.

تشريح:- «فان لم يحد المشهود عليه» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دپنځوګواهانو نه د يويا دوو د رجوع حکم

(فَإِنْ كَانُوا خَمْسَةً فَرَجَعَ أَحَدُهُمْ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ كُلُّ الْحَقِّ وَهُوَ شَهَادَةُ الْأَرْبَعَةِ (فَإِنْ رَجَعَ آخَرُ حُدَّا وَغَرِمَا رُبُعَ الدِّيَةِ) أَمَّا الْحَدُّ فَلِمَا ذَكَرْنَا وَأَمَّا الْغَرَامَةُ فَلِأَنَّهُ بَقِيَ مَنْ يَبْقَى بِشَهَادَتِهِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ الْحَقِّ، وَالْمُعْتَبَرُ بَقَاءُ مَنْ بَقِيَ لَا رُجُوعُ مَنْ رَجَعَ عَلَى مَا عُرِفَ

حل اللغة: ① ارباع: خلورمه برخه ② الغرامة: تاوان

ژباړه:- اوکه ګواهان پنځه وو.اوپه هغوی کې يوکس رجوع اوکړله.نوپه پاته ګواهانوباندې هيڅ نه لازميږی.اوپه حکم کې څه توپير نه راځی.ځکه چې اوس هم څلور ګواهان پوره دی.اوپه دوی باندې دعوه صحيح ده.اوکه ددې نه روسته يوبل کس رجوع اوکړه.نوپه دې دواړو به حدقذف جاری کولې شی.اودا دواړه

---

(١) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا فی ملتقی الأبحر(١\٦٠٨) والخانية (٤١٠\١٤) وردالمحتار (٣\١٧٦) والهندية (٢\١٥٥) والبحرالرائق (٥\٢٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٤٧)-

به د ځلورمې برخې ديت ذمه وار وي.ځكه چې حد خو هم دهغه امله واجبيږي.كومه چې موږ اوس بيان كړه. «يعني چې كله په پنځوكې دوو دځپلې گواهئ نه رجوع اوكړه.نودغه گواهي په تهمت كې بدله شوه.ځكه چې اوس ددوى گواهي ددې قابل پاتې نشوه.چه دقاضى فيصله پرې اوشى»اود ځلورمې برخې د ديت به دا دواړه ځكه ضامن وى.چه په پاته درې كسانوباندې درې برخې ديت پاته دي.اوكوم گواه چې په ځپله گواهئ باندې پاته وى.دهغه د پاته پاتې كيدو اعتبار به كولې شى.اوچه څوك د گواهئ نه بهرشو.نودهغه گواهي به نشى شمارلې.لكه څنگه چې په كتاب الشهادات كې ذكرشوى دى.

تشريح:- «فان كانوا خمسة فرجع» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دځلورگواهانوپه گواهئ سنگساريدل اوبيا په كې يوغيرقابل الشهادة ختل

(وان شهد اربعة على رجل بالزنا فزكوا فرجم فاذا الشهود مجوس او عبيد فالدية على المزكين عند ابي حنيفة)[1] معناه اذا رجعوا عن التزكية (وقالا هو على بيت المال) وقيل هذا اذا قالوا تعمدنا التزكية مع علمنا بحالهم، لهما انهم اثنوا على الشهود خيرا فصار كما اذا اثنوا على المشهود عليه خيرا بان شهدوا باحصانه. وله ان الشهادة انما تصير حجة عاملة بالتزكية، فكانت التزكية في معنى علة العلة فيضاف الحكم اليها بخلاف شهود الاحصان، لانه محض الشرط. ولا فرق بين ما اذا شهدوا بلفظة الشهادة او اخبروا، وهذا اذا اخبروا بالحرية والاسلام، اما اذا قالوا هم عدول وظهروا عبيدا لا يضمنون، لان العبد قد يكون عدلا، ولا ضمان على الشهود، لانه لم يقع كلامهم شهادة، ولا يحدون حد القذف، لانهم قذفوا حيا وقد مات فلا يورث عنه

حل اللغة: ① التزكية: دچا د عدالت اوقابل شهادت گواهي وركول

ژباړه:- اوكه ځلورگواهانود چا خلاف د زنا گواهي اوكړه.اوبيا تزكيه كونكو «معلومات كونكو» ددغه گواهانود عدالت اودشهادت قابل كيدل اومنل.اوددې نه روسته دغه كس سنگساركړې شو.ددې نه روسته پته اولگيدله.چه دغه واړه مجوسيان «غيرمسلم» يا غلامان دى.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدده ديت به تزكيه كونكو باندې دې.ددې مطلب دا دې.چه تزكيه كونكو دځپلې تزكيه نه رجوع اوكړه.اوامام ابويوسف او محمد رحمهما الله فرمائى.چه دده ديت به په بيت المال وى.بعضې عالمانوفرمائيلى دى.چه دا حكم په هغه صورت كې دې.چه مزكين دا اووائى.چه موږ د گواهانو حال بيانول.نوقصداً موهغوى عادلان اوخودل .دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه مزكينوددې گواهانود عدالت تعريف اوكړلو.نودا داسې شوه.لكه چې دې مزكينويه ځپله باندې ددغه كس په اړه كې ښه والې بيان كړلو.مثلاً چې دا ئې اووئيل.دا كس محصن دې.دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه كله مزكين ددې گواهانوعدالت بيان كړى.نواوس چې هغوى دا كومه تزكيه بيان كړې ده.دا علت العلت شو.نوددې د نتيجې حكم به هغه ته منسوب كيږي.په خلاف د گواهانود احصان.ځكه چې احصان خو يوحكم محضه دې.اوصرف د پيژندلويوه نښانه ده.يعنى د حكم نسبت ځپل علت اړخ ته كيږي . صرف شرط اړخ ته نه كيږي.بيا كه مزكينويه لفظ دشهادت سره تزكيه كړې وه.يا په لفظ د خبر سره ئې بيان اوكړلو.نويه دې كې څه توپير نشته. «يعني كه مزكينودا اووئيل.چه موږ خبر وركوو.چه دا واړه گواهان.آزاد ،مسلمانان،اوعادلان دى.يا داسې اووائى.چه مونږگواهي وركوو.چه دا واړه گواهان مسلمانان،آزاد ،اوعادلان دى.نويه دواړو صورتونوكې څه توپير نشته.بيا ضمان به په هغه صورت كې دا نفر عادلان گواهان دى.اوبيا هغوى غلامان اوختل.نودغه مزكين نه ضامن كيږي.ځكه كه دوى صرف دا ووئيلى وى.چه كيداې شى.اويه گواهانوباندې ضمان نشته.ځكه چې صرف دهغوى كلام گواهي اوشهادت نه وى.يعنى كله چې د قاضى فيصله باطله شوه.نود دغه گواهانوگواهي هم گواهي پاتې نشوه.بلكه بهتان شو.خودوى ته به

---

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية(٤١٠\١٤) وفتح القدير(٧١\٥) والعناية (٧٢\٥) والدر المختار (١٧٦\٣) نقلاً القول الراجح (٤٤٩\١)-

حدقذف ځکه نشي ورکولې.چه ده په يو ژوندی کس باندې د زنا تهمت لګولې وو.اوهغه اوس مړ شوې دې.نوحد قذف دهغه نه په ميراث کي نشي اوړلې.

تشريح:- ((**وان شهد اربعة على رجل بالزنا**)) کله چي ديوکس په حق کي دسنګسارفيصله اوشی. او حکم نافذ شي.اوروستو ګواهان مجوسيان اوختل.نواوس د هغه کس ديت به په چا وی.چه سنګسار شوې دی.اول صورت دا دې.که مزکينود ګواهانود عدالت ګواهی ورکړې وه.اوروستو هغوی غلامان اوختل. نو په دې صورت کي په اتفاق سره په چا باندې هم ديت نشته.اوکه مزکينودخه غلط فهمۍ په وجه د ګواهانود حريت اواسلام ګواهی ورکړې وه.نوپه دې صورت کي به ديت په بيت ا لمال وی.اوکله چي مزکينو په قصد سره دخپل علم خلاف تزکيه بيان کړه.نوپه دې صورت کي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپه مزکينوباندې ديت دې.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزپه بيت المال باندې ديت دې.

دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دګواهانوشهادت د مزکينود تصديق په وجه قبول کړې شو.اوس چي دغه ګواهان مجوسيان يا غلامان اوختل.نودا به په حقيقت کي د مزکينورجوع ګڼړلې شی.

صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه مزکينود ګواهانوپه نيکۍ باندې ګواهی ورکړې ده.اولکه څنګه چي محصن زناکارسنګسارشی.اوددې نه روسته ګواهی ورکونکی دخپلې ګواهۍ نه رجوع اوکړی.نوپه دغه صورت کي ديت په بيت المال باندې وی.نودغه ډول به دلته هم وی.

خوامام اعظم رحمه الله فرمائی.چه دتزکيه حيثيت د علت العلة په معنی کي دې.اودحکم نسبت لکه څنګه چي علت ته کيږی.نودغه ډول علت العلة ته هم کيږی.په خلاف د زانی صفت احصان،نود احصان حکم شرط دې.علت نه دې. لنډيز دا چي دامام ابوحنيفه رحمه الله مسلك ددې توپير په بنا (بنياد) باندې راجح دې.

دقاضي په فيصله ديوكس زاني لره قتلول اويا دګواه عبديت ثابتيدل

(وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا فَأَمَرَ الْقَاضِي بِرَجْمِهِ فَضَرَبَ رَجُلٌ عُنُقَهُ ثُمَّ وُجِدَ الشُّهُودُ عَبِيدًا فَعَلَى الْقَاتِلِ الدِّيَةُ) وَفِي الْقِيَاسِ يَجِبُ الْقِصَاصُ، لِأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً بِغَيْرِ حَقٍّ. وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ الْقَضَاءَ صَحِيحٌ ظَاهِرًا وَقْتَ الْقَتْلِ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً، بِخِلَافِ مَا إِذَا قَتَلَهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ، لِأَنَّ الشَّهَادَةَ لَمْ تَصِرْ حُجَّةً بَعْدُ، وَلِأَنَّهُ ظَنَّهُ مُبَاحَ الدَّمِ مُعْتَمِدًا عَلَى دَلِيلٍ مُبِيحٍ فَصَارَ كَمَا إِذَا ظَنَّهُ حَرْبِيًّا وَعَلَيْهِ عَلَامَتُهُمْ، وَتَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ، لِأَنَّهُ عَمْدٌ، وَالْعَوَاقِلُ لَا تَعْقِلُ الْعَمْدَ، وَيَجِبُ ذَلِكَ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ، لِأَنَّهُ وَجَبَ بِنَفْسِ الْقَتْلِ

حل اللغة: ① **عنق:** سټ ② **مباح الدم:** هغه کس چي قتل ئې جائز وی ③ **معصومة:** غيرمستحق د قتل ④ **العواقل:** جمع د عاقله ده ،قبيله

ژباړه:- که څلورکسانوديوکس خلاف د زنا کاوه ګواهی ورکړله.اوپه دې باندې قاضی دهغه درجم حکم ورکړلو.بيا يوکس دهغه مشهود عليه څټ اووهلو.بيا په اتفاق سره هغه ګواهان غلامان اوختل.نوپه دغه قاتل باندې به استحساناً ديت واجب وی.اګرچه قياس دا تقاضا کوی.چه په ده قصاص واجب شی.ځکه چي ده يوبې قصوره کس په ناحقه قتل کړلو.خوداستحسان وجه دا ده.چه دهغه دقتل په وخت کي د قاضی حکم صحيح وو.نوځکه دې خبرې دقصاص په وجوب کي شبهٔ پيدا کړه.په خلاف دهغه صورت چي د قاضی د فيصلې نه وړاندې ئې قتل کړی.نوچونکه شبه نشته.ځکه په ده باندې قصاص لازم دې. ځکه چي تردغه وخته پورې ګواهی قابل حجت نه وه.اوداستحسان دوهم دليل دا هم دې.چه قاتل دغه وينه مباحه ګڼړلې وه.ځکه چي د اباحت دليل موجود وو.نودا مسئله داسې شوه.لکه چي قاتل په دغه کس د حربی ګمان کړی وی.اوپه هغه باندې د حربيانو نښانه هم موجود وه.اودا ديت به هم د قاتل په مال کښي واجبيږی.ځکه چي دا قتل عمد دې.اود خاندان خلګ د قتل عمد په صورت کي دقاتل تاوان برداشت کاوه ته تيار نه وی.اودا ديت به په درې کالوکي ادا کول واجب دی.ځکه چي دا ديت دقتل محض په بدله کي واجبيږی.

تشريح:- ((**واذا شهد اربعة على رجل بالزنا**)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د غلام په ګواهۍ باندې د رجم شوي مجرم د ديت مسئله

(وَإِنْ رُجِمَ ثُمَّ وُجِدُوا عَبِيدًا فَالدِّيَةُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ) لِأَنَّهُ امْتَثَلَ أَمْرَ الْإِمَامِ فَنُقِلَ فِعْلُهُ إِلَيْهِ، وَلَوْ بَاشَرَهُ بِنَفْسِهِ تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ لِمَا ذَكَرْنَا كَذَا هٰذَا، بِخِلَافِ مَا إِذَا ضَرَبَ عُنُقَهُ، لِأَنَّهُ لَمْ يَأْتَمِرْ أَمْرَهُ

حل اللغة: ① **امتثل:** حکم اومنلو ② **لم ياتمر:** حکم اونه منلو

ژباړه:- اوکه دغه کس رجم کړې شو.اوبيا معلومه شي.چه ددې مقدمې واړه ګواهان غلامان وو.په دې کې به د ده ديت په بيت المال باندې وی.ځکه چې داامام دحکم په تابعدارۍ کې ده ته رجم ورکړې شوې وو.نوځکه د رجم کونکو ټولو خلګو عمل به امام اړخ ته منسوب وی.اوکه بالفرض امام په يواځې ده ته رجم ورکړې وو.نويقيناً چې دده ديت به د بيت المال نه ادا کولو شو.نودغه ډول په دې صورت کې به هم ديت په بيت المال واجب وی.ددې په خلاف که چا دده څټ وهلې وی.نودهغه دا فعل امام ته نه منسوب کيږی.ځکه چې ده د امام دحکم تابعداری نه ده کړې.

تشريح:- «**وان رجم ثم وجدوا عبيداً الخ**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د يوکس خلاف دزنا شهادت ورکول اوقصدا دهغوی شرمګاه ته کتل

(وَإِذَا شَهِدُوا عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا وَقَالُوا تَعَمَّدْنَا النَّظَرَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمْ) لِأَنَّهُ يُبَاحُ النَّظَرُ لَهُمْ ضَرُورَةَ تَحَمُّلِ الشَّهَادَةِ فَأَشْبَهَ الطَّبِيبَ وَالْقَابِلَةَ

ژباړه:- اوکه ګواهانو يوکس خلاف د زنا ګواهي ورکړله.اودا ئې اووئيل.چه مونږ قصداً د دواړو شرمګاه ته هم کتلی دی.نوبيا به هم د دوی ګواهي قبوله وی.ځکه چې دګواهۍ ورکاوه لپاره به ضرورة هغې ته کتل جائز وی.لکه څنګه چې د ډاکټراودائنړې لپاره ورته کتل جائز دی. ﴿اوخوکه هغوی اوئيل.چه مونږ قصداً دشهوت دپاره﴾ دوی ته کتل.نوددوی ګواهي به نه قبليږی.ځکه چې دوی فاسقان شول.الفتح﴾

تشريح:- «**واذا شهدوا على رجل بالزنا**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د منکوحې اوبال بچ باوجود د زناکار داحصان نه انکارکول

(وَإِذَا شَهِدَ أَرْبَعَةٌ عَلَى رَجُلٍ بِالزِّنَا فَأَنْكَرَ الْإِحْصَانَ وَلَهُ امْرَأَةٌ قَدْ وَلَدَتْ مِنْهُ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ) مَعْنَاهُ أَنْ يُنْكِرَ الدُّخُولَ بَعْدَ وُجُودِ سَائِرِ الشَّرَائِطِ، لِأَنَّ الْحُكْمَ بِثَبَاتِ النَّسَبِ مِنْهُ حُكْمٌ بِالدُّخُولِ عَلَيْهِ، وَلِهٰذَا لَوْ طَلَّقَهَا يُعْقِبُ الرَّجْعَةَ وَالْإِحْصَانَ يَثْبُتُ بِمِثْلِهِ

حل اللغة: ① **يعقب:** روسته ② **سائر:** ټول

ژباړه:- که څلوروګواهانو يوکس خلاف د زنا ګواهي ورکړله.اوهغه کس داحصان نه انکار کولو. حالانکه دهغه ښځه هم وه.اودهغې نه ئې يوبچې هم وو.نودغه کس ته به رجم ورکولې شی.ددې جملې مطلب دا شو چه دې کس په خپل ځان کې د احصان د ټولوشرائطو باوجود د دخول نه انکار کولو.نوددغه ماشوم د زيږيدل په وجه به دده د خبرې اعتبار نه وی.ځکه چې هرکله دده نه د ماشوم نسب ثابت شوې دې. نو خامخا به ددې نه په دغه ښځه د دخول حکم ثابتيږی.ددې اصله که ښځې ته طلاق ورکړی.نود دې نه روسته ده ته درجعت اختيار هم شته.اوپه داسې دليل سره به دده احصان هم ثابتيږی.

تشريح:- « **واذا شهدا اربعة**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د مجرم داحصان نه انکارکول خودده ب چې هم نه وی

(فَإِنْ لَمْ تَكُنْ وَلَدَتْ مِنْهُ وَشَهِدَ عَلَيْهِ بِالْإِحْصَانِ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ رُجِمَ) خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ، فَالشَّافِعِيُّ مَرَّ عَلَى أَصْلِهِ أَنَّ شَهَادَتَهُنَّ غَيْرُ مَقْبُولَةٍ فِي غَيْرِ الْأَمْوَالِ، وَزُفَرُ يَقُولُ إِنَّهُ شَرْطٌ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ، لِأَنَّ الْجِنَايَةَ تَتَغَلَّظُ عِنْدَهُ فَيُضَافُ الْحُكْمُ إِلَيْهِ فَأَشْبَهَ حَقِيقَةَ الْعِلَّةِ فَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِيهِ احْتِيَالًا لِلدَّرْءِ، فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدَ ذِمِّيَّانِ عَلَى ذِمِّيٍّ زَنَى عَبْدُهُ الْمُسْلِمُ أَنَّهُ أَعْتَقَهُ قَبْلَ الزِّنَا لَا تُقْبَلُ لِمَا ذَكَرْنَا. وَلَنَا أَنَّ الْإِحْصَانَ عِبَارَةٌ عَنِ الْخِصَالِ الْحَمِيدَةِ، وَأَنَّهَا مَانِعَةٌ مِنَ الزِّنَا عَلَى مَا ذَكَرْنَا فَلَا يَكُونُ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ وَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدُوا بِهِ فِي غَيْرِ هٰذِهِ الْحَالَةِ، بِخِلَافِ مَا ذُكِرَ، لِأَنَّ الْعِتْقَ يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهِمَا، وَإِنَّمَا لَا يَثْبُتُ سَبْقُ التَّارِيخِ، لِأَنَّهُ يُنْكِرُهُ الْمُسْلِمُ أَوْ يَتَضَرَّرُ بِهِ الْمُسْلِمُ (فَإِنْ رَجَعَ شُهُودُ الْإِحْصَانِ لَا يَضْمَنُونَ) عِنْدَنَا خِلَافًا لِزُفَرَ وَهُوَ فَرْعُ مَا تَقَدَّمَ.

حل اللغة: ① **تتغلظ:** سختيږی ② **سبق:** وړاندې والې ③ **الاحصان:** په صفت د واړه موصوف کيدل

ژباړه:- اوكه ددغه كس بچي موجود نه وو.خوبيا هم يوكس اودووښځود هغه د احصان ګواهي وركړله. نو بيا به هم ده ته رجم وركولې شي.په دې كې دامام زفراوامام شافعي رحمه الله اختلاف دې.په اختلاف كاوه كې خو امام شافعي رحمه الله په خپل اصل باندې قائم دې.چه دمالونونه سوا په هيڅ معامله كې به د ښځو ګواهي قبول نه وي.اوامام زفر رحمه الله فرمائي.چه احصان كوم چې شرط دې.دا دعلت په معنى كې دې.يعنى لكه چې احصان د رجم وركولوعلت دې.ځكه چې داحصان نه روسته زنا كول ډيره لويه ګناه اوسخت جرم دې. نوځكه به د رجم نسبت احصان اړخ ته كيږي.نودا به دحقيقى علت سره مشابه وي.اولكه څنګه چې د زنا په اړه كې دښځو ګواهي نه قبليږي.دغه ډول به د احصان په اړه كې دښځوګواهي نه قبليږي.اوس مسئله داسې شوه.چه يوې ذميه سره يومسلمان غلام زنا اوكړله.نودووذميانو ګواهي وركړله.چه دې كس دا غلام د زنا نه وړاندې آزاد كړې دې.نودا ګواهي به نه قبليږي.ددې بيان شوې اَمله په بناء باندې. او زموږ دليل دا دې.چه احصان د يوځوښه صفتونود مجموعه نوم دې.اودغه مجموعه صفتونه دې د زنا نه منع كوي.نواحصان د علت په معنى كې نشو.نواوس مثال داسې شو.چه دې ګواهانو ددې حالت نه علاوه د بل حالت ګواهي وركړې وي.يعنى د زنا دحالت نه علاوه يوسړى اودوو ښځو ددې خبرې ګواهي وركړې وي.چه دې كس د يوې ښځې سره نكاح كړې ده.اوپه هغې باندې ئې دخول هم كړې دې.اود ګواهي قبليږي.نودغه ډول به دلته هم ګواهي قبليږي.په خلاف دمسلمان غلام د مسئلې.لكه څنګه چې امام زفر رحمه الله ذكركړې دې.ځكه چې هلته به ددې دواړو ګواهانونه آزادي ثابته شي.البته د زنا نه وړاندې آزادي ځكه نه ثابتيږي.چه دغه مسلمان به يا ددې نه انكاركوي.اويا به ددې نقصان برداشت كوي. «ده ته به نقصان دا وي.چه ده ته به په يو آزادقاذف پوره حد لګولې شي.اودكافرهغه ګواهي چې دمسلمان په حق كې وي.كه په هغې كې مسلمانانو نقصان برداشت كوي.هغه نه قبليږي.يا چې انكاراوكړي.نونه ثابتيږي» اوكه احصان ثابتونكو ګواهانورجوع اوكړله .نو زموږ په نيزبه هغه ضامن نه وي.خود مام زفر رحمه الله په نيز به ضامن وي.په حقيقت كې دا اختلاف د اولنى اختلاف نتيجه ده.

(بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ)

ژباړه:- باب دې په بيان د شراب وغيره څښلو په حد كې .

(وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَأُخِذَ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ أَوْ جَاءُوا بِهِ سَكْرَانَ فَشَهِدَ الشُّهُودُ عَلَيْهِ بِذَلِكَ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ، وَكَذَلِكَ إذَا أَقَرَّ وَرِيحُهَا مَوْجُودَةٌ) لِأَنَّ جِنَايَةَ الشُّرْبِ قَدْ ظَهَرَتْ وَلَمْ يَتَقَادَمْ الْعَهْدُ. وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ [دوه]، فَإِنْ عَادَ فَاجْلِدُوهُ [دوه] } (١).

حل اللغة: ① ريح: بوئى ② جناية: ګناه ③ العهد: زمانه ④ اجلدوه [دوه]: كوړې وركړئ

ژباړه:- كوم كس چې شراب اوڅكل. «يعنى هغه شراب دكوموچه په قرآن پاك كې ذكردې» اوبيا هغه اونيولې شو.په داسې حال كې چې دهغې بدبوئى تراوسه پورې دهغه د خولې تلله.يا خلګ هغه د نشې په حالت كې لاس نيولې راولي.اوبيا ګواهانو دهغه دشرابوڅښلو ګواهي وركړله.نوپه ده به دشرابوڅښلو حد يعنى اتيا كوړې جارى كولې شي.

تشريح:- «ومن شرب الخمر» دغه ډول ده په خپله اقراراوكړلو.اوپه خوله كې ئې بدبوئى موجوده وي.نوهم دا حكم دې.ځكه چې دده نه د شرابوڅښلو جرم ثابت شوې دې.اوپه وخت كښې روستووالې هم نه دې شوې. «دشرابوپه څښلو كې بيهوشى راتګ شرط نه دې.بلكه كه يوه قطره هم چا اوڅكله/نوهم به ورته حد وركولې شي» ددې حد وهلوپه اړه كې اصل دا حديث دې.چه نبي ﷺ فرمائيلى دى.څوك چې شراب

---

١) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الحدود باب ٣٦ والنسائي في الأشربة باب ٤٢ رقم ٥٢٣٣ وابن ماجه في الحدود باب ١٧ رقم ٢٥٧٢ وأحمد في المسند ٢/٥٠٤_

اوڅکي.نوهغه نه کوړې ورکړئ.که بیا شراب اوڅکي.نوبیا ورته کوړې ورکړئ.اوکه په دریم ځل ئې بیا شراب اوڅکل.نوبیا ورته کوړې ورکړئ.اوکه په څلورم ځل ئې اوڅکي.نوقتل ئې کړئ.ددې روایت ابن حبان، حاکم، شافعي، دارومي، ابوداود ،نسائی اوابن ماجه کړې دې.په دې کې په څلورم ځل څښلو باندې دقتل حکم په دې باندې محمول دې.چه هغه د شرابوڅښلو دحرمت قائل نه وی.یعنی دا حلال ګڼړی.لکه څنګه چې دابن حبان په روایت کې ددې صراحت راغلې دې.اوددې پشان د معاویه ﷺ نه هم مرفوع روایت منقول دې.ددې روایت احمد او سنن اربعه کړې دې.اود ابوسعید ﷺ په روایت کې دی.کوم چې ابن حبان او ابن ابی شیبه روایت کړې دې.اود ابن عمر ﷺ روایت کوم چې امام ابوداود اونسائی روایت کړې دې.اودحضرت جابر ﷺ په روایت کې ذکردی.چه یوکس داسې راوستې شو.چه هغه په څلورم ځل شراب څکلی وو.نو رسول الله ﷺ هغه باندې حد جاری کړلو.اوقتل ئې نکړلو.امام نسائی اوبزارددې روایت کړې دې.اوهم دا خبره دحضرت قبیصه بن ذویب په روایت کې هم ذکر ده ﴿ابوداود﴾

لنډیز دا چې په علماء سلف اوخلف ټولوپه دې باندې اتفاق کړې دي.چه په څلورم ځل به څوك نشي قتل کولې سوا دهغه کس نه څوك چې دا حلال ګڼړی.نوهغه به د مرتد کیدو په وجه قتل کولې شي.بیا دا خبره یاد ساتل پکار دی.چه دشرابوڅښلو حد به مسلمان ته ورکولې شی.چه عاقل،بالغ وی.اوګونګا نه وی.اود اضطراری حالت نه بغیرهغه په خپله خوښه باندې څښلې وی.اګرچه یوه قطره ئې څښلې وی.یا ددې سوا د نورو شرابونونه ئې څښلې وی.دکومو په حرمت چې د عالمانو اتفاق دې.چه دومره شراب ئې څښلې وی.چه په هغې باندې نشه راځي.خوپه دې شرط چې هغه د شرابوحرمت پیژني.که د قرآن اوحدیث په اوریدو سره وی. اویا دا چې هغه په دارالاسلام کې موجود وی.نوهغه ته به حد ورکولې شی.خوپه دې شرط چې زیات تاخیرپه کې نه وی.اودشرابو په څکلو د ناوخته کیدو مطلب دا وو.چه دهغه بدبوئې ختمه شوې وی. خو ﴿مترجم﴾ وائی.چه دیوې قطرې په راتلوبدبوئې راتګ ګران وی.ددې امله د طلب په وخت کې پیژندې شی. دا خبره به کافی وی.

د بوئې ختمیدونه روسته اقرارکول

(فَإِنْ أَقَرَّ بَعْدَ ذَهَابِ رَائِحَتِهَا لَمْ يُحَدَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُحَدُّ)(١) وَكَذَلِكَ إذَا شَهِدُوا عَلَيْهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رِيحُهَا وَالسُّكْرِ لَمْ يُحَدَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُحَدُّ، فَالتَّقَادُمُ يَمْنَعُ قَبُولَ الشَّهَادَةِ بِالِاتِّفَاقِ، غَيْرَ أَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالزَّمَانِ عِنْدَهُ اعْتِبَارًا بِحَدِّ الزِّنَا، وَهَذَا لِأَنَّ التَّأْخِيرَ يَتَحَقَّقُ بِمُضِيِّ الزَّمَانِ وَالرَّائِحَةُ قَدْ تَكُونُ مِنْ غَيْرِهِ، كَمَا قِيلَ: يَقُولُونَ لِي انْكَهْ شَرِبْت مُدَامَةً فَقُلْت لَهُمْ لَا بَلْ أَكَلْت السَّفَرْجَلَا وَعِنْدَهُمَا يُقَدَّرُ بِزَوَالِ الرَّائِحَةِ لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ: فَإِنْ وَجَدْتُمْ رَائِحَةَ الْخَمْرِ فَاجْلِدُوهُ .(٢) وَلِأَنَّ قِيَامَ الْأَثَرِ مِنْ أَقْوَى دَلَالَةٍ عَلَى الْقُرْبِ، وَإِنَّمَا يُصَارُ إلَى التَّقْدِيرِ بِالزَّمَانِ عِنْدَ تَعَذُّرِ اعْتِبَارِهِ، وَالتَّمْيِيزُ بَيْنَ الرَّوَائِحِ مُمْكِنٌ لِلْمُسْتَدِلِّ، وَإِنَّمَا تَشْتَبِهُ عَلَى الْجُهَّالِ. وَأَمَّا الْإِقْرَارُ فَالتَّقَادُمُ لَا يُبْطِلُهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ كَمَا فِي حَدِّ الزِّنَا

عَلَى مَا مَرَّ تَقْرِيرُهُ. وَعِنْدَهُمَا لَا يُقَامُ الْحَدُّ إلَّا عِنْدَ قِيَامِ الرَّائِحَةِ، لِأَنَّ حَدَّ الشُّرْبِ ثَبَتَ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ،(٣) وَلَا إجْمَاعَ إلَّا بِرَأْيِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَقَدْ شَرَطَ قِيَامَ الرَّائِحَةِ عَلَى مَا رَوَيْنَا.

حل اللغة: ① **التاخير** روستوالې ② **مدامة** شراب ③ **سفرجل** مړه .سیب

[1]) القول الراجح هوهذا قول محمد رحمه الله كذا فى فتح القدير(٧٨\٥) ومجمع (٦١١\١) ورد المحتار(١٨٠\٣) والخانية (٤١٥\٤) نقلاً عن القول الراجح (٤٤٩\١)_

[2]) غريه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل أثره ﷺ وفيه أنه ﷺ أمرالجلاد بالذى شرب الخمروجد منه ريح الخمروعزاه إلى مصنف عبدالرزاق نصب الراية ٥٣٣/٣)_

[3]) نقل الزيلعي رحمه الله قبل هذا عدة روايات و نقل فيها عمر الصحابة ﷺ أنهم جلدوا من وجد منه ريح الخمرنصب الراية ٥٣٤/٣)_

ژباړه:- اوكه د خولې نه دبدبوئي ختميدونه روسته دې اقراراوكړي.نوداما م ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله په نيزبه هم ده تـه حدنـشى وركـولې.اوامـام محمـد رحمه الله فرمـانى.چـه حدبـه پـرې جـارى كـولې شـى.دغـه ډول كـه ګواهانودخولې د بدبوئي ختميدونه روسته دده خلاف ګواهي وركړله.نوهم داما م ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله په نيز داحكم دې.اوداما م محمد رحمه الله په نيزبه پرې حد لګـولې شى.نودا معلوميدل پكار دى.چه په ناوخته كيدوباندې په اتفاق سره ګواهي نـه قبليږي.خوفرق صرف دومره دې.چه د امام محمد رحمه الله په نيز د ناوختـه كيدو حد په زنا باندې قياس كول دى.اويوه مياشت ده.ځكه چې د زمانې په تيريدو سره تاخير راځي. او بدبوئي خود شرابونه سوا دبل ځيزنـه هم راتلې شى.لكه شاعرچه وئيلي دى.شعر، خلګ ماته وائى.چه تا ځكلى دى شراب،زه وايم بلكه سيوو بوئي دې اوداما م ابوحنيفه اوابويوسف رحمهما الله په نيزد تاخيراندازه صرف د بوئي تله دى.ځكه چې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې په اړه كې فرمائيلي وو.كه تاسود شرابوبدبوئي محسوسوئ.نوكوړې ورته وركړئ.ددې روايت اسحاق،طبرانى،عبدالرزاق اوابويعلى رحمهم الله هم ددې پشان كړې دې.اوهم دا مفهوم دصحيحينوپه روايت كې هم دې.﴾ اوبله دا چې د شرابواثريعنى د بدبوئي وجود دشرابو ځښلو د ثبوت لپاره دليل دې.اوپه زمانې سره به اندازه هله لګيدې شى.چه ددې د اثرنـه اندازه كول ممكن وي.اود سيوو اوشرابوپه بـوئي كې تـوپير كـول دپيژندونكو لپـاره ممكـن دې.البتـه پـه نـاپوه بانـدې اشتباه راځي.اودا خبره كـه دشرابوځښلو ئې په خپله اقراراوكړلو.نوپـه دې كې تاخيرداما م محمد رحمه الله په نيزحد نـه بـاطلوى.لكـه څنګـه چـې پـه حـد زنـا كـې دى. ﴿ددې وضاحت پورتـه بيـان شـوې دې﴾ اوداما م ابوحنيفـه اوابويوسف رحمهما الله په نيزبه پرې حد نشى جارى كولې.البته په دې صورت كې چې بدبوئي موجود وي.ځكه چې د شرابوپه ځښلو باندې د حد جارى كولوحكم ثبوت د صحابه كرامو رضي الله عنهم په اجماع سره دې.اواجماع بـه پـه هغـه وخت كې منعقد وى.چـه پـه هغـې كې جليـل القدرصحابه كرام رضي الله عنهم مـثلاً دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه رائې هـم ګډه وى.اومـوږ پورتـه دا روايـت ذكركړلوچـه حضرت عبـدالله بـن مسعود رضي الله عنه د بدبوي وجود د حد قـائمولو لپـاره شرط ګرځولو.

تشريح:- «وقد شرط الرائحة» دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روايت نـه معلوميږي.چه په شرابى باندې د حد جارى كـاوه لپـاره دهغـه د خولې نـه دشرابود بـوئي تللل شرط دې. ﴿دا خبره دې پته نـه وى.چه شيخ ابن الهمام رحمه الله دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه دآثارونه د بدبوئي په شرطيت كې كلام كړې دې.دهغه روايتونو لنډيز دا ده.چـه حـضرت ابـن مـسعود رضي الله عنه ديـوكس نـه د شـرابو بـدبوئي محـسوس كړلـه.نـووې فرمائيـل.تـه شـراب ځكې.اودالله تعالى قـرآن نـه منې. ﴿يعنى دهغې نافرمانى كوې﴾ دا ئې اووئيل.اوپـه هغـه باندې ئې حد جارى كړلو. ﴿رواه البخارى ومسلم﴾ اوپه يوبل روايت كې دى.چه يوكس خپل ورارهٔ د نشې په حالت كې حضرت عبـدالله بـن مـسعود رضي الله عنه تـه پـيش كړلـو.دوى اوفرمائيـل.تاسـودې بـوې كړئ. خلـګ وچـه هغـه بـوې كړلو.نودهغـه نـه ئې د شرابو بـدبوې بيـا محسوس كړه.نودوى هغه جيلخانې تـه اوليږلو.اوپه بله روځ ئې رابهركړلواو كوړې ئې ورته وركړې.حالانكه ددې په سند كې يحى الجابردې.اودې مجهول دې.يعنى څه حال ئې معلوم نه دې.امام ترمذى نقل كړى دى.چه ديحى الجابرنـه پوښتنه اوشو.چه ابوحامد څوك دې؟ نوهغه اووئيل.چه يوه چوغكه وه.او والوتله. خلګو ددې نـه دا معلومـه كړه.چه دهغـه څـه حـال معلوم نـه دې. خوپه جواهرمنيفه كې د حارث په سند سره پورتنې سند ذكردې.چه سفيان بن عيينه رحمه الله د يحى الجبارنـه پوښتنه اوكړه .چه ابوحامـد څوك دې؟نـووې فرمائيـل.چـه د يمـن نـه يوبانډيچي مـوږ تـه راغلي وو.ددې نـه معلومـه شوه.چه امام ترمذى چې كوم روايت ذكركړې دې.چه يوه چوغكه وه او والوتـه.دا د بدئ لپـاره نـه وه.بلكـه د مدح په طور وه.چه دلتـه يوبزرګ راغلي وو.خوايسارنـشو.بلكـه ډيرزر لاړلـو.«يقولون لى ږنكه شربت مدامى» «فقلت لهم لا بل ذكلت السفرجلا» «ږنكـه» د «رفـتح» نـه بـاب سـمع اوفـتح نـه د امـر صـيغه ده.دچـا خولـه بويول.او«مدامى» بضم ميم د انكورو شراب.دشاعرمقصد دا دې.چه خلګ ماته وائى.خولـه كهولاؤ كړه.او بوئي كړه.چه ده د انكورو شراب ځكلى دى.كه نه،نوما ورته اووئيل.چه ما هغه شراب نـه دى ځكلې.بلكـه مـا

یوه میوه خوړلې ده. ﴿کومه چې د سیوو پشان ده.په کابل اوکشمیرکي پیدا کیږي.انوارالحق قاسمی اکتوبر۱۹۹۴﴾ اوپه یوه بله نسخه کي د((ږنکه)) په ځائي ((ږنك)) راغلی دی.مطلب ئې دا نه دې.چه تا د انګورو شراب ځکلی دی.نوما ورته اوونیل .چه نه بلکه د سیوو پشان یوه میوه مې خوړلې ده.

دځه معقول عذرد وجې دخولې نه د بوئې ختمېدل مانع د حدنه دی

(فَإِنْ أَخَذَهُ الشُّهُودُ وَرِيحُهَا تُوجَدُ مِنْهُ أَوْ سَكْرَانُ فَذَهَبُوا بِهِ مِنْ مِصْرٍ إِلَى مِصْرٍ فِيهِ الْإِمَامُ فَانْقَطَعَ ذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يَنْتَهُوا بِهِ حُدَّ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا) لِأَنَّ هَذَا عُذْرٌ كَبُعْدِ الْمَسَافَةِ فِي حَدِّ الزِّنَا وَالشَّاهِدُ لَا يُتَّهَمُ فِي مِثْلِهِ. (وَمَنْ سَكِرَ مِنْ النَّبِيذِ حُدَّ) لِمَا رُوِيَ أَنَّ عُمَرَ ؓ أَقَامَ الْحَدَّ عَلَى أَعْرَابِيٍّ سَكِرَ مِنْ النَّبِيذِ.(۱) وَسَنُبَيِّنُ الْكَلَامَ فِي حَدِّ السُّكْرِ وَمِقْدَارِ حَدِّهِ الْمُسْتَحَقِّ عَلَيْهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى

ترجمه: سکران نشه سړی ② المسافة فاصله

ژباړه:- اوکه شرابی کس ګواهانوپه داسې حالت کي اونیولو.چه دده د خولې نه د شرابو بوی تلل.یا په نشه کي وو.بیا خلګ ودا کس ددې ځائي نه بل ښارته بوتلو.چرته چي امام وو.اوهلته په تلوتلوکي دده د خولې بدبوئی ختمه شی. ﴿یادده نشه ختمه شی﴾ نودټولوعالمانوپه اتفاق سره به په ده حد جاری کولې شی.ځکه چي دا تاخیرد عذرد امله دې.لکه څنګه چي د زنا په صورت کي د لاړې د لری والی د امله دګواهانوپه ګواهئ کي تاخیردهغوی دتهمت سبب نه ګرځی.اوهغه کس چې د نبیذ ځښلو په وجه نشه شی.نوپه ده به حدجاری کولې شی.ځکه چي دارقطنی په خپل سنن کي روایت کړې دې.چه حضرت عمرؓ یوداسې کس باندې حد جاری کړې وو.چه هغه د نبیذ د څښلو په وجه نشه وو.انشاءالله موږ به وړاندې ددې بیان اوکړو.چه د نشې حدڅه دې.اوپه څومره مقدارڅښلو باندې سړې مستحق د حد ګرځی.

تشریح:- ((**فان اخذه الشهود**))صورت دمسئلې دا دې.چه یوکس ګواهان په داسې حالت کي اونیسی.چه دده دخولې نه دشرابوبدبوئې ځی.یا دې نشه وی.بیا دې د یوښارنه بل ښارته ددې لپاره بوځی.چه هلته په دغه دوهم ښارکي قاضی موجود وی.نود مسافه دلری والی د امله ددغه شرابی دخولې نه بدبوئی لاړه شی.یا نشه ختمه شی.نوپه دې صورت کي به د ټولوامامانو ﷺ په نیزپه اجماع سره په ده حد جاری کولې شی.ځکه چې د فاصلې لرې والی د امله عذر موجود دې.لکه څنګه چې په حد زنا کي که د فاصلې د لری والی د امله په ګواهئ کي تاخیر راشی.نوګواهان متهم نه ګرځی.نودغه ډول د مسافه لرې والې هم دخولې نه د بوئی تلل یا د نشې ختمیدل عذرګرځوی.اودحداقامت برقرارساتی.

د اقامت حدپه اړه کي اصول دا دی.چه هغه تاخیرچه په هغې کي معقول عذروی.نوپه دې صورت کي به تاخیرد حد ساقط کاوه موجب نه وی.اودتاخیردمعقول عذرنه مراد ،مرض، دلارې ویره،اوږد مسافه ، وغیره دی.نوددې عذرونو نه سوا به بل عذرمعقول نه وی.ددې دعوه دلیل دا دې.چه پخپله د فقهاؤ اجماع ده. لکه چې د ((**فی قولهم جمیعاً**)) یعنی د ټولوعالمانوپه قول سره،په متن کي ددې بیان اوشو.

په فتح القدیرکي د ((**الاصل**)) لفظ استعمال کړې دې.اود عقبه دشراب څښلو واقعه ئې لیکلې ده.چه څه خلګ ود عقبه په شرابوڅښلو ګواهی ورکړله.اوبیا ئې دې دریم خلیفه حضرت عثمان ذوی‌النورینؓ ته د کوفې نه مدینې ته راوستلو.په دغه مهال کي دعقبه د خولې نه د شرابو بوې ختم شو. ﴿یانشه ختمه شوې وه﴾ نوپه عقبه باندې حد جاری کړې شو.ځکه چې دلته د مسافه د لری والی معقول عذر موجود دې.نوچه معقول عذرموجود وی.نودګواهئ تاخیربه قابل اعتبار وی.لکه څنګه چې په حد زنا کي د مسافه د لری والی د امله په ګواهئ کي تاخیرمقبوله ده.نود شراب څښلو ګواهانوپه حق کي به هم د مسافه د لری والی د جې په تاخیرسره ددوی ګواهی ادا کول موجب د تهمت نه وی.یعنی په دوی به حد قذف نشی جاری کولې.

۱) أخرجه الدارقطنی فی سننه ۳/۱۶۷)_

ځکه چې د مسافه لرې والې دګواهانو په حق کې معقول عذر دي. کوم چې د شراب څکلو ګواهانو نه تهمت لرې کوی. ځکه چې دقابل حد جرم لپاره په ګواهۍ کې تاخیرمانع وی.
که یو کس نبیذ او څښلو. اونشه شو. نو په ده به هم حد جاری کولې شی. ځکه چې په سنن دارقطنی کې روایت دې. ځکه چې حضرت عمر رضی الله عنه هغه باندې چې باندې حد جاری کړې وو. څوک چې په نبیذ باندې نشه شوې وو دحضرت ابودرداء او ابوسعید رضی الله عنهما نه روایت دې. چه کله رسول الله ﷺ ته یو نشئ کس راوستې شو. هغه اووئیل. ددومره وخت نه زه په منګی کې جوړ شوې شراب نه څکم. او هغه کس عرض اوکړلو یا رسول الله ﷺ ما شراب نه دی څکلی. بلکه ما د کدو په لوښې کې دقجورو او کشمش جوس (نبیذ) څکلې دی رسول الله ﷺ حکم ورکړلو. نو هغه اوزورولې شو. په یو سند سره دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه ددې پشان منقول دی ددې نه ثابته شوه. چه نشی راوستونکې څیزهم موجب دحد دې.
نبیذ: دهر څیزوی. دکوم څیزنه چې نبیذ تیاریږی. هغه پخولې شی. ترڅو چې هغه نبیذ ته غونډه تینګ شی. دهغې څښل جائز دی. مثال طور دنبیذ شربت د قجورو، غنمو، شهدو، جوارو، وریژو، بجرو، انګور وغیره نه نبیذ تیارولې شی.

دشرابو په بوئی یا قئ باندې دحد عدم وجوب

(وَلَاحَدَّ عَلَى مَنْ وُجِدَ مِنْهُ رَائِحَةُ الْخَمْرِ أَوْتَقَيَّأَهَا) لِأَنَّ الرَّائِحَةَ مُحْتَمَلَةٌ، وَكَذَا الشُّرْبُ قَدْ يَقَعُ عَنْ إِكْرَاهٍ أَوْ اضْطِرَارٍ (وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ حَتَّى يُعْلَمَ أَنَّهُ سَكِرَ مِنْ النَّبِيذِ وَشَرِبَهُ طَوْعًا) لِأَنَّ السُّكْرَ مِنْ الْمُبَاحِ لَا يُوجِبُ الْحَدَّ كَالْبَنْجِ وَلَبَنِ الرِّمَاكِ وَكَذَا شُرْبُ الْمُكْرَهِ لَا يُوجِبُ الْحَدَّ

حل اللغة: ① **تقیا** ځان ساتل ② **اکراه** زبردستی، زور ③ **الاضطرار** لاچاری (مجبوری) ④ **طوعا** تابعداری ⑤ **البنج** بهنګ ⑥ **الرماک** د اسپې شیدې

ژباړه:- اوګواهانو یو کس په شرابو څښلو نه وو لیدلې. خودهغه د خولې نه دشرابو بوئې راخی یا هغه د شرابو قئ اوکړلو. نو ده ته به حد نشی لګولې. ځکه چې په دې بدبوئې کې احتمال شته. (ګرچه د شرابو بوئې دې اوکه د بل څه) دغه ډول څکاك هم د څه دباؤ او زورنې د امله کیدای شی. نو ځکه به نشئ سړی ته حد نشی ورکولې. ترڅو چې دا معلومه شی. چه دا کس د نبیذ په څکاك باندې نشه شوې دې او ده دا په خوشحالئ سره څکلی دی. ځکه چې په مباح څیزنشه راتلو باندې حد نه واجبیږی. لکه بهنګ او د اسپې پیو سره نشه شی. دغه ډول هغه کس چې په هغه باندې په زور څکلې شوې وی. نو په هغه باندې هم حد نشی جاری کولې. ځکه چې دا شیان (څیزونه) حد نه واجبوی.
تشریح:- ((**ولا حد علی من وجد منه رائحة الخمر**)) د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دبیهوشئ په حالت کې دحد عدم نفاذ

(وَلَا يُحَدُّ حَتَّى يَزُولَ عَنْهُ السُّكْرُ) تَحْصِيلًا لِمَقْصُودِ الِانْزِجَارِ. (وَحَدُّ الْخَمْرِ وَالسُّكْرِ فِي الْحُرِّ ثَمَانُونَ سَوْطًا) لِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ (يُفَرَّقُ عَلَى بَدَنِهِ كَمَا فِي حَدِّ الزِّنَا عَلَى مَا مَرَّ) ثُمَّ يُجَرَّدُ فِي الْمَشْهُورِ مِنْ الرِّوَايَةِ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَا يُجَرَّدُ إِظْهَارًا لِلتَّخْفِيفِ لِأَنَّهُ لَمْ يَرِدْ بِهِ نَصٌّ. وَوَجْهُ الْمَشْهُورِ أَنَّا أَظْهَرْنَا التَّخْفِيفَ مَرَّةً فَلَا يُعْتَبَرُ ثَانِيًا

حل اللغة: ① **السکر** نشه ② **سوطا** کوړې ③ **یجرد** زیاتی جامې به ترې ویستلې شی ④ **التخفیف** آسانتیا

ژباړه:- بیانشئ ته به په حالت د نشه کې حد نشی ورکولې. ترڅو چې دده نه نشه لاړه شی. چه بیا لپاره دې اوویریږی. اوزورنه قبول کړی. اود شرابو اونشې حد د آزاد سړی لپاره اتیا کوړې دی. ځکه چې په دې باندې صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع کړې ده. اوکوړې به دشرابی بدن مختلفو حصو ته ورکولې شی. لکه په زنا کې چې خودلې شوی دی. اودمشهور روایت مطابق به د کوړو وهلو نه وړاندې دده نه جامې اوویستلې شی. خودامام محمد رحمه الله نه په نوادرکې یو روایت دې. چه جامې به ترې نشی ویستلې. چه دا ښکاره شی. چه په دې حد

دشرابو کي څه تخفيف شته.څکه چې ددې په اړه کي په صراحت سره څه يقني حکم نشته.اود مشهور روايت وجه دا ده.چه موږ يوځل په دې کي تخفيف کړی دی. چه د زنا پشان ورته سل کوړې نشي لګولی نود دوباره تخفيف به څه اعتبارنشی کولی. دکلام حاصل دا شو.چه دشرابوپه څښلو اګرچه نشه نشي.يعنی صرف يو يا دوې [دوه] څاڅکی ئې څکلی وی.نوبيا هم دې د حد مستحق دی.اود نبيذ وغيره نوروڅيزونو لپاره د نشي وجود ضروری دی.ددې املء مصنف اوفرمائيل.چه د شرابوحد اود نشي راوستونکی څيزحد د آزاد سړی لپاره اتيا کوړې دی.اود جامو ويستلومطلب دا دی.چه د سترپټولونه سوا چې کومې زياتي جامې وی.هغه جامې اوباسی.

تشريح:- «ولا يحد حتى يزول عنه السكرالخ» د ژباړې نه مطلب واضح دی.

د غلام لپاره حدخمر

(وَإِنْ كَانَ عَبْدًا فَحَدُّهُ أَرْبَعُونَ سَوْطًا) لِأَنَّ الرِّقَّ مُتَّصِفٌ عَلَى مَا عُرِفَ. (وَمَنْ أَقَرَّ بِشُرْبِ الْخَمْرِ وَالسُّكْرِ ثُمَّ رَجَعَ لَمْ يُحَدَّ) لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللَّهِ تَعَالَى. (وَيَثْبُتُ الشُّرْبُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ وَ) يَثْبُتُ (بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً وَاحِدَةً)(١) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَشْتَرِطُ الْإِقْرَارَ مَرَّتَيْنِ، وَهُوَ نَظِيرُ الِاخْتِلَافِ فِي السَّرِقَةِ، وَسَنُبَيِّنُهَا هُنَاكَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ.

ژباړه:- اوکه شرابی غلام وی.نودده حد څلويښت کوړې دی.څکه چې غلامی سزا نيموی.اوکوم کس چې د شرابوڅښلو يا د نشه راوستونکی څيزد څښلو اقراراوکړلو.اوبيا هغه دخپل اقرارنه واوړيدلو .نوهغه ته به حد نشی ورکولی.څکه چې دا خالص دالله تعالی حق دی.اوشراب څښل يا د نشه راوستونکی څيزڅښل د دووګواهانوپه ګواهئ سره ثابتيږی.اويا صرف په اقرارسره ثابتيږی. او د امام ابويوسف نه يو روايت دا دی.چه په دوو مجلسونوکي يويوځل اقرارکول شرط دی.اودا اختلاف دهغه اختلاف نظيردی.کوم چې د غلا په اقرارکي دی.دا مسئله به انشاءالله موږ د غلا په باب کي بيان کړو.

تشريح«وان كان عبدا فحده الخ» د ژباړې نه مطلب واضح دی.

دشرابوپه حدکي د ښځوګواهئ عدم اعتبار

(وَلَا يُقْبَلُ فِيهِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ) لِأَنَّ فِيهَا شُبْهَةَ الْبَدَلِيَّةِ وَتُهْمَةَ الضَّلَالِ وَالنِّسْيَانِ.

حل اللغة: ① الضلال: ګمراهی ② النسيان: هيره

ژباړه:- اوشرابوپه څښلو چې کوم حدجاری کولې شی.نوپه دې اړه کي د سړو سره دښځوګواهی معتبره نه ده.څکه چې د ښځوپه ګواهئ کي د بدليدو رابدليدو شبه وی.اود هيريدواوتهمت امکان وی.

تشريح:- «ولايقبل فيه شهادة النساء» د ژباړې نه مطلب واضح دی.

د ډيرې نشې په حالت کي دحد لګولوحکم

(وَالسَّكْرَانُ الَّذِي يُحَدُّ هُوَ الَّذِي لَا يَعْقِلُ مَنْطِقًا لَا قَلِيلًا وَلَا كَثِيرًا وَلَا يَعْقِلُ الرَّجُلَ مِنَ الْمَرْأَةِ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ (وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَا: هُوَ الَّذِي يَهْذِي وَيَخْتَلِطُ كَلَامُهُ) لِأَنَّهُ هُوَ السَّكْرَانُ فِي الْعُرْفِ، وَإِلَيْهِ مَالَ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ. وَلَهُ أَنَّهُ يُؤْخَذُ فِي أَسْبَابِ الْحُدُودِ بِأَقْصَاهَا دَرْءًا لِلْحَدِّ. وَنِهَايَةُ السُّكْرِ أَنْ يَغْلِبَ السُّرُورُ عَلَى الْعَقْلِ فَيَسْلُبَهُ التَّمْيِيزَ بَيْنَ شَيْءٍ وَشَيْءٍ، وَمَا دُونَ ذَلِكَ لَا يَعْرَى عَنْ شُبْهَةِ الصَّحْوِ، وَالْمُعْتَبَرُ فِي الْقَدَحِ الْمُسْكِرِ فِي حَقِّ الْحُرْمَةِ مَا قَالَاهُ بِالْإِجْمَاعِ أَخْذًا بِالِاحْتِيَاطِ وَالشَّافِعِيُّ يَعْتَبِرُ ظُهُورَ أَثَرِهِ فِي مِشْيَتِهِ وَحَرَكَاتِهِ وَأَطْرَافِهِ وَهَذَا مِمَّا يَتَفَاوَتُ فَلَا مَعْنَى لِاعْتِبَارِهِ.

حل اللغة: ① منطق: خبرې ② يختلط: ګډوډ کيږی ③ درء: دفع کول ،لرې کول ④ القدح: پيالئ ⑤ ميشة: تګ ⑥ اطراف: اندامونه ⑦ يتفاوت: مختلف کيږی

(١) القول الراجح هو هذا قول الطرفين كذا فى الخانية(٤١٥\٤) وردالمحتار(١٨٠\١٣) والهندية (١٥٩\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٥٠\١)_

زياره:- اونشه سړی چې حد ورته لګولې شي.هغه كس دې.څوك چې په خپل مينځ كې په خبرو نه پوهيږي.نه لږې اونه زياتې.اود سړي اوښځې په مينځ كې توپير نشي كولې.مصنف رحمه الله فرمائي.چه دا د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دې.اوصاحبين رحمهما الله فرمائي.چه نشه هغه كس دې.چه بكواس كوي.اودهغه زياتې خبرې ګډې وډې وي.ځكه چې په عرف كې داسې كس ته نشه وائي.اوهم د صاحبينو رحمهما الله قول اړخ ته داكثرو مشانخو رحمهم الله ميلان دې. ﴿اودفتوى ور كاوه لپاره هم دا قول مناسب اوغوره دې.ځكه چې امام ابوحنيفه رحمه الله دليل ضعيف دې﴾ دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دحدود په نافذكولوكې به دهغه سبب اعتباركولې شي.كوم چې د كاملې مرتبې وي.چه په څه طريقه حدساقط شي.اود نشې انتهاء ﴿آخرى حد﴾ دا دې.چه نشه په عقل باندې دومره غالبه شي.چه هغه ته ددو څيزونوپه مينځ كې امتياز كول ختم شي.اوچه ددې نه كمه نشه وي.نودا به د هوش د شبهې نه خالي نه وي ﴿يعني دې به څه نه څه پوهيږي هم﴾ اود شرابونه سوا په نورو نشه راوستونكې څيزونوكې ﴿چه په كومه پيالۍ يا ګلاس كې اوبه څكې﴾ نوهم هغه ګلاس اوپيالۍ به حرامه وي.دكومې په څښلو سره چې بكواس اوګډې وډې خبرې كوي.درې واړوامامانودا قول داحتياط د املـه غـوره كـړې دې.خوامـام شـافعي رحمه الله د نـشې پـه اړه كـې داثرښكـاره كيدواعتباركوي.يعنې چه دده د پښولاسونواودنورحركتونونه دده په نشه كې كيدل معلوميږي. حالانكه په دې خبروكې د خلګو په مينځ كې ډيرلوې توپير وي.نوددې اعتباركولوڅه معنى ﴿ضرورت﴾ نشته.

تشريح:- ((وهذا يتفاوت فلا معنى لاعتباره)) امام شافعي رحمه الله د نشې په اړه كې داثرښكاره كيدو اعتبار كوي. يعني چې د نشې اثردده په پښولاسونواوحركاتوكې ښكاره كيږي.حالانكه دا خبرې په خلګ وكې مختلفې وي.نوځكه ددې خبرواعتباركولوڅه معقوليت نشته. ﴿ځكه چې يوكس مضبوط وي.دنشه راوستونكې څيزپه څښلو باندې هم دهغه په حركاتوكې څه توپير نه راځي.اوڅوك داسې كمزورې وي.چه د نشې نه بغيرهم هغه ديكې وهي.اواخوا ديخوا كيږي﴾ اودا خبره دې واضحه وي.چه د شرابونه سوا په نورو نشه راوستونكوڅيزونوكې چې ترڅو پورې نشه نه وي راغلې.ترهغه وختـه پورې دهغې څښل حرام نه دي.ددې امله كه يوكس درې پيالۍ اوڅښلې اوبيا هم نشه نشو نودا ده لپاره جائزده.اوكه څلورمې پيالۍ په كې نشه پيدا كړه.نوهم دا آخرى پيالۍ دده لپاره حرامه ده.دلته د نشې راتلو نه په اتفاق سره دا مراد ده.چه دده كلام د هذيان ﴿بكواس﴾ اوګډو وډو خبرو وي.خوچه دا ګډې وډې خبرې دده په كلام كې دنيمو نه زياتې وي.ځكه كه د نيمو خبرو سره برابر وې.نودې په نشه كې مستغرق نه دې. (البحر)

بهنګ چرس اوافيون حرام دي.خود شرابو نه ددې حرمت كم دې.اوس كه ددې څيزونو په استعمال سره نشه كيږي.نوده ته به حد نشي وركولې.بلكه تعزيراً به ﴿مناسب﴾ سزا وركولې شي. (الجوهره)

خوتحقيق دا دې.چه بهنګ مباح دی.ځكه چې دا ګياه ده.خوددې نه نشه جوړول حرام دي. (النهرعن العنايه)

اواوس زه مترجم وايم.چه دا شيان (څيزونه) نشه راوستونكي نه دي.ځكه چې د مسكراونشه راوستونكي څيزونو ماده ګرمه وي.حالانكه افيون او چرس يخ دي.بيا هم ددې د حرمت وجه تخديريعني دانداموبې حسه كول دي اوچه په حواسو كې كمزورى اوفتور پيدا شي.ددې دليل د سلمه﴾ دا حديث دې.چه رسول الله ﷺ دهرمفتر اومسكرنه منع كړې ده.اوپه حسن سند سره امام ابوداود رحمه الله ددې روايت كړې دې.اوشامي د شيخ ابن حجر رحمه الله وغيره نه نقل كړې دي.چه كوم كس د افيونو څښلو عادتي وي.نوهم دهغه لپاره دا حلال نه دي.چه په دې عادت باندې قائم پاتې شي.البته كه په يوځل پوره پريخودوكې دهلاكت يا بيمارۍ خطره وي.نوهغه دې په كرار كرار كرار (مزه مزه) كموي.تردې چې دا بيخي پريږدي.كه په يومعجون جوړولوكې د افيونو برخه د نورو برخو نه كمه وه.نوبيا په كې څه حرج نشته.اوپه دې طريقه ماشومانوته وركولوكې څه حرج نشته. والله تعالى اعلم.

د نشئ سړي د شرابو څکلو اقرار کول

(وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ بِإِقْرَارِهِ عَلَى نَفْسِهِ) لِزِيَادَةِ احْتِمَالِ الْكَذِبِ فِي إِقْرَارِهِ فَيُحْتَالُ لِدَرْئِهِ لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّ اللَّهِ تَعَالَى. بِخِلَافِ حَدِّ الْقَذْفِ لِأَنَّ فِيهِ حَقَّ الْعَبْدِ وَالسَّكْرَانُ فِيهِ كَالصَّاحِي عُقُوبَةً عَلَيْهِ كَمَا فِي سَائِرِ تَصَرُّفَاتِهِ، وَلَوْ ارْتَدَّ السَّكْرَانُ لَا تَبِينُ مِنْهُ امْرَأَتُهُ لِأَنَّ الْكُفْرَ مِنْ بَابِ الِاعْتِقَادِ فَلَا يَتَحَقَّقُ مَعَ السُّكْرِ، وهذا قول ابي حنيفة ومحمد() وفي ظاهر الرواية تكون ردة

حل اللغة: ① **الصاحي** هغه کس چې نشه نه وي بلکه خواص خمسه ئې کار کوي ② **عقوبة**: سزا

ژباړه- که نشئ سړي په خپل ځان د شرابوڅښلو اقراراوکړلو.نوده ته به حد نشې ورکولې.ځکه چې ددې په اقرارکې د دروغو زيات احتمال دی.نودده ځخه به دحد لرې کاوه لپاره څه طريقه لوا ړه وي.ځکه چې دا خالص دالله تعالى حق دی.په خلاف د حد قذف ځکه چې په هغې پورې د بنده حق متعلق وي.اوپه دې کې هغه کس چې په نشه کښې ډوب وي اوهغه کس چې خواص ئې کار کوي دواړه برابر دی.ددې لپاره چې نشه سړې خپله پوره سزا بيا مومي.لکه څنګه چې دده نور تصرفات اومعاملات لکه طلاق اوعتاق وغيره په ده باندې نافذ کيږي.خوکه داسې کس يعنې په نشه کې مست کس مرتد شي.نودده ښځه په ده نه طلاقيږي. ځکه چې داخو يوه اعتقادي معامله ده.نوپه نشې سره به ددې تحقق نه راځي.دا قول دامام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله دې.خوپه ظاهر روايت کې دې مرتد کيږي. (خود ظاهرروايت پريښول او اول قول اختسل غوره دی)

تشريح:- «ولا يحد السكران باقراره» د ژباړې نه مطلب واضح دی.

باب حد القذف

ژباړه- (دا) باب ،د زنا تهمت لګولو (په بيان کې) دی.

(وَإِذَا قَذَفَ الرَّجُلُ رَجُلًا مُحْصَنًا أَوْ امْرَأَةً مُحْصَنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَا، وَطَالَبَ الْمَقْذُوفُ بِالْحَدِّ حَدَّهُ الْحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوْطًا إنْ كَانَ حُرًّا) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ} إلَى أَنْ قَالَ {فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً} الْآيَةَ، وَالْمُرَادُ الرَّمْيُ بِالزِّنَا بِالْإِجْمَاعِ، وَفِي النَّصِّ إشَارَةٌ إلَيْهِ وَهُوَ اشْتِرَاطُ أَرْبَعَةٍ مِنْ الشُّهَدَاءِ إذْ هُوَ مُخْتَصٌّ بِالزِّنَا، وَيُشْتَرَطُ مُطَالَبَةُ الْمَقْذُوفِ لِأَنَّ فِيهِ حَقَّهُ مِنْ حَيْثُ دَفْعُ الْعَارِ، وَإِحْصَانُ الْمَقْذُوفِ لِمَا تَلَوْنَا.

حل اللغة: ① **العار** شرم ② **ثمانين** اتيا

ژباړه- کله چې يوسړي (زيد) بل محصن سړي (بکر) يا محصنه ښځه (زينب) په صريحي زنا باندې داغداره (متهم) کړي. (چه دې بکريا زينب زنا کړې ده) اومقذوف (په چا چې تهمت لګولی شوې وي.يعنې بکراوزينب په قاذف باندې) د حد (قائمولو) مطالبه اوکړي. (چه ده په ما باندې د زنا تهمت لګولې دی.په ده باندې حد قذف قائم کړئ) که دغه قاذف (زيد) آزاد وي.نوقاضي به په ده د اتيا کوړو حد جاري کړي. د الله تعالى ددې قول په دليل سره چې «والذين يرمون المحصنات» يعنې کوم کسان چې په محصناتو ښخوباندې د زنا تهمت اولګوی.اوبيا دوی ځلورګواهان پيش نکړي.نودوی ته اتيا کوړې ورکړئ) اوپه آيت کې د ،،رمي،، نه مراد په اجماع سره زنا ده.اوپه نص کې دې اړخ ته اشاره ده. (چه د رمي نه مراد زنا ده.اودا اشاره شرط کول د ځلوروګواهانودې.ځکه چې ځلورګواهان په زنا پورې خاص دی. (يعنې شريعت کې ځلورګواهان صرف د زنا په باب کې شرط دې.نودې ته اشاره شوه.چه د رمي نه مراد زنا ده) اوشرط کولې شي.مطالبه د مقذوف (بکراوزينب.چه هغوی په قاذف باندې دحد جاري کولومطالبه اوکړي) ځکه چې په دې (حدجاري کولوکې) دده (مقذوف) حق دی.په دې حيثيت چې دځان نه

() القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(٥\٨٨) والخانية (٤\٤١٥) و ردالمحتار(٣\١٨١) نقلاً عن القول (١\٤٥١)-

ملامتيا لرې كول دي. ﴿چه سهار ورته څوك د زناكارېغور ورنكړي﴾ اود مقذوف ﴿چه بكراوزينب ده﴾ احصان ثابتول دي. ﴿چه خلګ وته دا ثابته شي چه بكراوزينب ګناهګاران نه دي﴾ لكه څنګه چې موږ آيت تلاوت كړلو. ﴿يعني په كي دمحصنات قيد شته﴾

تشريح:- د ژباړې نه مطلب واضح دي.

قَالَ (وَيُفَرَّقُ عَلَى أَعْضَائِهِ) لِمَا مَرَّ فِي حَدِّ الزِّنَا (وَلَا يُجَرَّدُ مِنْ ثِيَابِهِ) لِأَنَّ سَبَبَهُ غَيْرُ مَقْطُوعٍ فَلَا يُقَامُ عَلَى الشِّدَّةِ، بِخِلَافِ حَدِّ الزِّنَا (غَيْرَ أَنَّهُ يُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ) لِأَنَّ ذَلِكَ يَمْنَعُ إِيصَالَ الْأَلَمِ بِهِ

حل اللغة: ① **اعضاء:** اندامونه ② **يجرد:** خالي كولې شي ③ **غيرمقطوع:** غيريقيني ④ **الشدة:** سختوالي ⑤ **ايصال الام:** رسول د درد

ژباړه:- ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله فرمائيلي دي. اوجلا جلا به وهلي شي اندامونه د قاذف. ﴿پس يوځائې به نه وهي. بلكه مختلف ځايونه به وهي. چه د يواندام دضائع كيدو يا د قاذف دهلاكت سبب اونه ګرځي﴾ لكه څنګه چې تيرشوي دي. په بيان د حد زنا كي ﴿چه جلا جلا اندامونوته به كوړې لګولې شي﴾ اوجامې به ترې نشي ويستلې. ځكه چې د حد قذف سبب يقيني نه دې. ﴿ځكه چې كيداې شي. قاذف په خپله خبره كي رښتيا وي. خودې ځلورګواهان پيدا نكړې شي. اوپه حد زنا كي ترې جامې ځكه ويستلې شي. چه هلته د ځلوروګواهان په شهادت سره زنا ثابته شوې ده. يعني دې خبرې دصداقت لپاره د ځلورګواهانو پيش كول ګران شرط دي. ممكن ده. چه خبره رښتيا وي. خوځلورګواهان پيدا نشي. اوچه دغه خبره په ځلورګواهانو ثابته شي. نوبيا خوپه كي د شك هډو څه خبره نشته. نوپه حدقذف كي د دعوه دصحت امكان شته. اوپه حد زنا كي د دعوه دكذب احتمال نشته﴾ نوحدقذف به په سختئ سره نشي قائمولې. ﴿چه په حدزنا اوحدقذف كي د كيفيت په اعتبارسره هم توپير ښكاره شي. اګرچه دعدد په اعتبارسره فرق ښكاره دې﴾ په خلاف د حد زنا ﴿ځكه چې په هغې كي ترې جامې ويستلې شي﴾ البته دومره ده چې د قاذف څخه به پوستن ﴿يعني هغه ځيزچه د ورئ نه جوړ شوې وي﴾ اوحشو نه ﴿يعني هغه‌كالي چې د مالوچونه ډكه شوې وي﴾ ځكه چې دا شيان (ځيزونه) ﴿په بدن وي نو﴾ بدن ته تكليف رسول منع كوي. ﴿حالانكه دحد جاري كولومقصد خو دا دې چه محدود ته زورنه اوتكليف ملاوشي. اود نورو لپاره عبرت شي﴾

تشريح:- د ژباړې نه مطلب واضح دي.

دغلام حدقذف

(وَإِنْ كَانَ الْقَاذِفُ عَبْدًا جلد أَرْبَعِينَ سَوْطًا لِمَكَانِ الرِّقِّ. وَالْإِحْصَانُ أَنْ يَكُونَ الْمَقْذُوفُ حُرًّا عَاقِلًا بَالِغًا مُسْلِمًا عَفِيفًا عَنْ فِعْلِ الزِّنَا) أَمَّا الْحُرِّيَّةُ فَلِأَنَّهُ يُطْلَقُ عَلَيْهِ اسْمُ الْإِحْصَانِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ} أَيِ الْحَرَائِرِ، وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ لِأَنَّ الْعَارَ لَا يَلْحَقُ بِالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ لِعَدَمِ تَحَقُّقِ فِعْلِ الزِّنَا مِنْهُمَا، وَالْإِسْلَامُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ أَشْرَكَ بِاللَّهِ فَلَيْسَ بِمُحْصَنٍ} ( ) وَالْعِفَّةُ لِأَنَّ غَيْرَ الْعَفِيفِ لَا يَلْحَقُهُ الْعَارُ، وَكَذَا الْقَاذِفُ صَادِقٌ فِيهِ.

حل اللغة: ① **الرق:** غلامي ② **عفيف:** پاكدامن ③ **الحرائر:** جمع د حريه معنى د آزاد ④ **صادق:** رښتونې

ژباړه:- اوكه تهت لګونكې غلام وو. نودهغه دغلامئ د امله هغه ته ځلوېښت كوړې وركولې شي. په دې مقام كي د محصن معنى دا ده. چه هغه آزاد، عاقل، بالغ، مسلمان، اودزنا د كارنه پاك وي. په دې كي د آزادئ قيد ځكه دې. چه دې ته د احصان نوم وركړې شوې دې. الله تعالى فرمائيلي دي. [فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ[1]] ددې محصنات نه آزادې ښځې مراد دي. اودعقل اوبلوغ قيدپه كي ځكه لګولې شوې دې. چه د نابالغ اوليونى نه د زنا دفعل صادريدل نه كيږي. نوهغوى باندې شرميدل هم نه راځي. اوداسلام قيد ددې امله دې. چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. چا چې د الله تعالى سره شرك اوكړلو. هغه محصن نه دې.

---

١) تقدم تخريجه)_

تشریح:- «**وان کان القاذف عبداً**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

دبل کس د نسب نه انکارکول

(وَمَنْ نَفَى نَسَبَ غَيْرِهِ فَقَالَ لَسْتَ لِأَبِيكَ فَإِنَّهُ يُحَدُّ) وَهَذَا إذَا كَانَتْ أُمُّهُ حُرَّةً مُسْلِمَةً، لِأَنَّهُ فِي الْحَقِيقَةِ قَذْفٌ لِأُمِّهِ لِأَنَّ النَّسَبَ إنَّمَا يُنْفَى عَنْ الزَّانِي لَا عَنْ غَيْرِهِ.

زباړه:- اوکه یوکس دبل کس د نسب نفی اوکړله.اودا ئې اوونیل.چه ته دخپل پلارنه نهٔ ئې.نوده باندې به حدجاری کولې شی.خودا حکم په هغه صورت کې دې.چه په کوم کس تهمت لګولې شوې وی.هغه آزاد او مسلمان وی.ځکه چې دنسب دانکارمطلب دهغه په موربانديې د زنا تهمت لګول دی.ځکه چې دنسب انکارصرف د زناکارنه کیږی.دبل چا نه نهٔ کیږی. نوکه دده موردبل چا وینځه وه.چا سره د دغه ماشوم پلار نکاح کړې وه.نودا کس د خپلې مور د مالك غلام دې.نوپه دې صورت کې د تهمت لګونکی د خبرې مطلب دا شو.چه ته دخپل پلار نه بلکه دخپل مولی ئې.نوځکه ددې نه د نسب نفی نه لازمیږی.اوکه دا ئې اوونیل.چه ته دخپل پلار نه ئې.نوده ته به حد نشی ورکولې.

تشریح:- «**ومن نفی نسب غیره**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

د(ته دخپل پلار ځوئې نه ئې) حکم

(وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ فِي غَضَبٍ لَسْتَ بِابْنِ فُلَانٍ لِأَبِيهِ الَّذِي يُدْعَى لَهُ يُحَدُّ، وَلَوْ قَالَ فِي غَيْرِ غَضَبٍ لَا يُحَدُّ) لِأَنَّ عِنْدَ الْغَضَبِ يُرَادُ بِهِ حَقِيقَتُهُ سِبَابًا لَهُ، وَفِي غَيْرِهِ يُرَادُ بِهِ الْمُعَاتَبَةُ بِنَفْيِ مُشَابَهَتِهِ أَبَاهُ فِي أَسْبَابِ الْمُرُوءَةِ

حل اللغة: ① **المعاتبة:** ملامتیا ② **المروءة:** سړیتوب،خوانمردی

زباړه:- اوکه یوکس بل ته دغصې په حالت کې اوونیل.چه ته د فلانی خوئې نه ئې.یعنی کوم پلار ته چې دهغه نسبت کیږی.دهغه نه ئې نفی اوکړی.نوده ته به حد قذف ورکولې شی.اوکه دا خبره ئې د غصې په حالت کې نه وی کړې.نوده ته به حد نشی ورکولې.ځکه چې دغصې په حالت کې د کنځلونه هم دهغې حقیقی معنی یعنی کنځل مراد وی.اوچه غصه نه وی.نوددې نه مراد نفرت اودغصې اظهاروی.لکه چې داسې ئې ورته ونیلی وی.چه ته په خپلواخلاقواومروت کې د پلار پشان نه ئې.

تشریح:- «**ومن قال لغیره فی غضب**» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

ته دخپل نیکه ځوئې نه ئې . حکم

(وَلَوْ قَالَ لَسْتَ بِابْنِ فُلَانٍ يَعْنِي جَدَّهُ لَمْ يُحَدَّ) لِأَنَّهُ صَادِقٌ فِي كَلَامِهِ، وَلَوْ نَسَبَهُ إلَى جَدِّهِ لَا يُحَدُّ أَيْضًا لِأَنَّهُ قَدْ يُنْسَبُ إلَيْهِ مَجَازًا.

زباړه:- اوکه داسې ئې اوونیل.چه ته دخپل نیکهٔ خوئې نه ئې.نوده ته به حدنشی ورکولې.ځکه چې دې په خپله وینا کې رښتینی دې.اوکه دا ئې اوونیل.چه ته د خپل نیکهٔ خوئې ئې.نوهم به ورته حدنشی ورکولې.ځکه چې کله نیکهٔ ته مجازاً نسبت کولې شی.

تشریح:- د ژباړې نه مطلب واضح دې.

(وَلَوْ قَالَ لَهُ يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مَيِّتَةٌ مُحْصَنَةٌ فَطَالَبَ الِابْنُ بِحَدِّهِ حُدَّ الْقَاذِفُ) لِأَنَّهُ قَذَفَ مُحْصَنَةً بَعْدَ مَوْتِهَا (وَلَا يُطَالِبُ بِحَدِّ الْقَذْفِ لِلْمَيِّتِ إلَّا مَنْ يَقَعُ الْقَدْحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذْفِهِ وَهُوَ الْوَالِدُ وَالْوَلَدُ) لِأَنَّ الْعَارَ يَلْتَحِقُ بِهِ لِمَكَانِ الْجُزْئِيَّةِ فَيَكُونُ الْقَذْفُ مُتَنَاوِلًا لَهُ مَعْنًى.

حل اللغة: ① **القدح:** نقص، ② **متناول:** شامل ③ **میتة:** مړه

زباړه:- اوکه یوکس بل ته اوونیل.ای د زناکارې بچیه،حالانکه دهغه محصنه مورمړه شوې وی. او په دې باندې دهغې خونی دده خلاف دعوه اوکړله.نوقاذف باندې به حد لګولې شی.ځکه چې ده په یوه محصنه ښځه دهغې د مرګ نه روسته د زنا تهمت اولګولو. په خلاف دهغه صورت کې چې دغه ښځه ژوندۍ وی.اودتهمت نه روسته مړه شی.نوپه دې صورت کې حد ساقطیږی.العنایه او د مړی د اړخه د حدقذف

مطالبه هيڅوک نشي کولې.سوا دهغه کس نه چې دهغه په نسب کي ددې مړي په قذف سره نقص او عار پيدا کيږي.اوهغه ددې مړي پلار يا خوئي کيدي شي.يعني په نسب کي پورته اړخ ته پلاراونيکه وغيره اوکښته اړخ ته خوئي اونمسي اود دوی ښکتنی اولاد دی.ځکه چې پلار اوځوئي ته ددې مړي د جزئيت د تعلق په وجه په دې قذف سره عاراوشرم لاحق کيږي.په دې امله صرف په مړي باندې تهمت لګول په حقيقت کي په دې ټولوباندې تهمت لګول دي. ﴿ځکه چې ټول ترې جزئيت وي﴾

وَعِنْدَ الشَّافِعِي يَثْبُتُ حَقُّ الْمُطَالَبَةِ لِكُلِّ وَارِثٍ لِأَنَّ حَدَّ الْقَذْفِ يُورَثُ عِنْدَهُ عَلَى مَا نُبَيِّنُ، وَعِنْدَنَا وِلَايَةُ الْمُطَالَبَةِ لَيْسَتْ بِطَرِيقِ الْإِرْثِ بَلْ لِمَا ذَكَرْنَاهُ، وَلِهَذَا يَثْبُتُ عِنْدَنَا لِلْمَحْرُومِ عَنِ الْمِيرَاثِ بِالْقَتْلِ،

وَيَثْبُتُ لِوَلَدِ الْبِنْتِ كَمَا يَثْبُتُ لِوَلَدِ الِابْنِ () خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ، وَيَثْبُتُ لِوَلَدِ الْوَلَدِ حَالَ قِيَامِ الْوَلَدِ خِلَافًا لِزُفَرَ

ژباړه:- دامام شافعي رحمه الله په نيز ددې مطالبې حق دهغه ټولو وارثانوته حاصل دې.ځکه چې دهغوی په نيزحد قذف هم يو ډول ميراث دې.لکه چې موږ به وړاندې ددې بيان اوکړو.اوزموږ په نيز د مطالبې حق د ميراث په وجه نه دې.بلکه ددې امله دې.چه د دې الزام پيغورکي دا وارثان هم شريك دی.ددې املـه کوم کس چې د ميراث نـه محروم وی.مـثلاً چـې سـړي ئـې قتـل کـړې وی.نوزمـوږ پـه نيزهغـه تـه هـم د حدقذف دمطالبې اختيارحاصـل دې.لکـه څنګـه چـې د سړي اولاد مطالبـه کولې شي.دغـه ډول د لـور بچـي ﴿نمسي﴾ هم د حدقذف مطالبه کولې شي. ﴿چه دخپل نيکي په قاذف باندې د حدقذف مطالبه اوکړي﴾ په دې مسئله کي د امام محمد رحمه الله اختلاف دې. ﴿يعني هغوی ددې قائل نه دی.چه د لوربچي د حدقذف د نفاذ مطالبه اوکړي﴾ اوکه ځوئې موجود وی.نوهم د پلار په موجوګئ کي د دغه کس بچو ته د حد قذف د مطالبې حق حاصل دې. ﴿يعني په زيد باندې يوکس د زنا تهمت اولګولو.اوزيد ژوندې دې.نود زيد ځامن که د خپل پلار په قاذف باندې د حد قذف جاري کاوه مطالبه کوی.نوکولې شي﴾ اوپه دې مسئله کي دامام زفر رحمه الله اختلاف دې. ﴿هغوی فرمائی.که مقذوف په خپله موجود وی.نودهغه بچو ته د حدقذف د مطالبې اختيار نشته﴾

تشريح:- «ولوقال له يا ابن الزانية» د ژباړې نه مطلب واضح دې.

په محصن باندې د زنا تهمت لګولوپه صورت کې دځوئي مطالبه دحد

﴿وَإِذَا كَانَ الْمَقْذُوفُ مُحْصَنًا جَازَ لِابْنِهِ الْكَافِرِ وَالْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ بِالْحَدِّ﴾ خِلَافًا لِزُفَرَ. هُوَ يَقُولُ: الْقَذْفُ يَتَنَاوَلُهُ مَعْنًى لِرُجُوعِ الْعَارِ إلَيْهِ، وَلَيْسَ طَرِيقُهُ الْإِرْثَ عِنْدَنَا فَصَارَ كَمَا إذَا كَانَ مُتَنَاوِلًا لَهُ صُورَةً وَمَعْنًى.

حل اللغة: ① يتاول: شامليږي ② العار: شرم

ژباړه:- اوپه کوم کس چې د زنا تهمت لګولې شوې وی.که هغه محصن وی. ﴿يعني چې آزاد، عاقل، بالغ، مسلمان اوپاکدامن وی.اوداحصان مطلب دا دې.چه په واړه عمرکي په دغه مقذوف چا سره په وطی بالشبه يا په نکاح فاسد سره نه وی کړې﴾ نودهغه ځوئې ته به دحدد مطالبې اختياروی.اګرچه دغه ځوئې کافريا د چا غلام وی.خوپه دې کي دامام زفر رحمه الله اختلاف دې.هغوی دا فرمائی.چه دمعنی په اعتبارسره دا تهمت دده ځوئي ته هم ګډ دې.ځکه چې په دې تهمت سره دغه هلك ته هم پيغور کيږي. ﴿چه د زناکاربچيه﴾ او زموږ ﴿داحنافو﴾ رحمهم الله په نيز دا خبره د ميراث پشان نه ده. ﴿يعني لکه څنګه چې په ميراث کي مال اوړې شي. دغه ډول حدود په ميراث کي نشي اوړې﴾ نوځکه دا داسې شوه.لکه چې دا خبره ظاهري اوباطني لحاظ سره دده ته ګډ شوې ده.

وَلَنَا أَنَّهُ عَيَّرَهُ بِقَذْفِ مُحْصَنٍ فَيَأْخُذُهُ بِالْحَدِّ، وَهَذَا لِأَنَّ الْإِحْصَانَ فِي الَّذِي يُنْسَبُ إلَى الزِّنَا شَرْطٌ لِيَقَعَ تَعْيِيرًا عَلَى الْكَمَالِ ثُمَّ يَرْجِعُ هَذَا التَّعْيِيرُ الْكَامِلُ إلَى وَلَدِهِ، وَالْكُفْرُ لَا يُنَافِي أَهْلِيَّةَ الِاسْتِحْقَاقِ،

[1]) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا فى الخانية (٤١٣\٤) وفتح القدير(٩٤\٥) وردالمحتار(١٨٨\٣) والهندية (١٦٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٥٣\١)_

ژباړه:- اوزموږ «د جمهورو احنافو» ﷭ دليل دا دې.چه تهمت لګونكي په محصن «پلار» باندې تهمت لګولې دې.نوځوئې به «دغه قاذف» په حد سره نيولې شي. «يعني په هغه باندې به دحد جاري كولومطالبه كولې شي» اودا «ځوئې ته د دقاذف نه د حد اخستلو اختيار» ځكه ملاويږي.چه كوم كس ته د زنا نسبت شوې دې. «يعني زناكارورته وئيلى شوى دى» نوپه هغه كي احصان شرط دې. «چه هغه به محصن وي. نوحدقذف به په قاذف باندې جارى كولې شي.اودا په مقذوف كي احصان ځكه شرط دې.» «چه هغه به شرم په كامله طريقه باندې واقع شي. «يعني چې مقذوف محصن وي.نوواقعي په ده باندې د زنا تهمت لګول دده لپاره شرم او پيغوردي.اوچه محصن نه وي.يعني داحصان د شرائطو نه يوشرط په كي نه وي.نوبيا اګرچه دزنا نسبت ده ته كولې شي.خودغه كامل شرم نه دې.ځكه چې په دهه كي د احصان صفت نشته» اوبيا «هركله چې د پلار په حق كي كامل شرم ثابت شو» نودا شرم اوعارد ده «مقذوف» خوى ته منتقل كيږي. «لكه څرنګه چې خلګ دده پلار ته د زناكارنوم اخلى.نودغه ډول دده ځوى ته هم د زناكاربچيه باندې خطاب كولې شي. او پاته كه امام زفر ﷫ دا فرمائى.كه ځوئې كافروى.نوبيا هغه دحدقذف دمطالبې اختيارمندنه دې.نودا خبره صحيح نه ده.ځكه چه» كفرد استحقاق سره منافي نه دې. «يعني دا ضروري نه ده.چه يوكس دې كافروى.نودې دخپل پلار دحد قذف مطالبه نشي كولې.ځكه چې لكه څنګه مسلمان ځوئى ته پيغوركولې شى.چه اې د زناكار بچيه دغه ډول كافرځوى ته هم پيغور كولې شى.چه اې د زناكاربچيه»

بِخِلَافِ إِذَا تَنَاوَلَ الْقَذْفُ نَفْسَهُ لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدِ التَّعْيِيرُ عَلَى الْكَمَالِ لِفَقْدِ الْإِحْصَانِ فِي الْمَنْسُوبِ إِلَى الزِّنَا

حل اللغة: ① **التعيير**:پيغور وركول ② **فقد**:نشتوالې

ژباړه:- په خلاف دهغه صورت كي چې تهمت د زنا هم په ده «غلام يا كافر» باندې اولګوى. «نو ددې غلام يا كافرځوى ته د حدقذف د مطالبې اختيارنشته» ځكه چې په دې صورت كي پيغورپه كامله طريقه نه دې موجود شوې.ځكه چې كوم كس ته د زنا نسبت شوې دې.په هغه كي احصان نشته. «يعني د احصان په شرائطوكي يوشرط نشته.چه په كافركي اسلام دې.اوپه غلام كي حريت دې.نوهركله چې احصان نشته.نوپيغورپه كامله طريقه موجود نشو.اوچه په كامله طريقه موجود نشو.نوپه دې قذف كي دا صلاحيت پاتې نشو.چه ددې مطالبه ددې غلام يا كافرځوى ته منتقل شى.اود دوى خامن هم په قاذف باندې د حد قذف د جارى كاوه مطالبه اوكړې شى»

دغلام په خپل مولى باندې دحدجارى كولوحق نشته

(وَلَيْسَ لِلْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ مَوْلَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ، وَلَا لِلِابْنِ أَنْ يُطَالِبَ أَبَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ الْمُسْلِمَةِ) لِأَنَّ الْمَوْلَى لَا يُعَاقَبُ بِسَبَبِ عَبْدِهِ، وَكَذَا الْأَبُ بِسَبَبِ ابْنِهِ، وَلِهَذَا لَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِوَلَدِهِ وَلَا السَّيِّدُ بِعَبْدِهِ،

حل اللغة: ① **يعاقب**:سزا وركولې شى ② **يقاد**:قصاص اخستلې شي.③ **سيد**:سردار،آقا ،مالک

ژباړه:- اوغلام ته دا حق نشته.چه په خپل مولى باندې «دحد جارى كولو» مطالبه اوكړي.چه دهغه مولى دده په آزاده موربانديې تهمت د زنا لګولې وى. «اودا صورت چې ځوئې ئې غلام اومورئې آزاده وى.داسې كيداې شى.چه اول دواړه ددې مولى په ملكيت كي وو.اوبيا مولى ددې غلام مورآزاده كړې.اودې هم دغه ډول غلام وى» اونشته «حق» د خوى لپاره چې په خپل پلارباندې دحدقذف جارى كولومطالبه اوكړي.چه دده پلاردده په آزاده مسلمانه مور باندې تهمت د زنا لګولې وى. «غلام په خپل مولى باندې د حدقذف جارى كولومطالبه ځكه نشى كولې.چه» مولى ته دخپل غلام په وجه سزا نشى وركولې.اودغه ډول پلارته د خوى په وجه سزا نشى وركولې.هم دا وجه ده «چه مولى ته د غلام او پلار ته د ځوى په وجه سزا نشى وركولې» كه مولى راولګى.اوخپل غلام قتل كړي.نودهغه په قصاص كي مولى نشى قتلولې.او چې پلار راولګى.خپل ځوئې قتل كړې.نودخوى په قصاص كي پلار نشى قتل كولې.

وَلَوْ كَانَ لَهَا ابْنٌ مِنْ غَيْرِهِ لَهُ أَنْ يُطَالِبَ لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ وَانْعِدَامِ الْمَانِعِ.

حل اللغة: ① **تحقق**: ثبوت ② **انعدام**: نشتوالي ③ **المانع** منع کونکي

ژباړه:- اوکه ددې مورنې د دې «قاذف خاوند» نه سوا د بل خاوند نه خوئې وی. «مثلاً د زينب د اولنی خاوند نه زيد خوئې وو. داولنی خاوند دمرګ نه روسته زينب د بکر سره نکاح اوکړله. اوبکر اولګيدلو په زينب ئې د زنا تهمت اولګولو» ددې خوئې لپاره «چه زيد دې» چې «په خپل ميرنی پلار باندې چې زنا تهمت اولګولو» ددې خوئې لپاره «چه زيد دې» چې «په خپل ميرنی پلار باندې چې پلندر ورته وائی» دحد قذف جاری کاوه مطالبه اوکړي. «اودا د مطالبې اختيار ورته ځکه ورکولې شی چه» د حد جاری کاوه سبب موجود شوې دې. «چه په محصنې ښځې باندې د زنا تهمت لګول دی» او «دحد جاری کاوه نه» څه مانع «هم» نشته. «ځکه ځنګه چې په اولنو دوو صورتونوکې عبديت اوابنيت مانع وو. اودلته هم نه د عبديت مانع شته. ځکه چې زيد د دغه قاذف پلندرغلام نه دې. اونه د ابنيت مانع شته. ځکه چې زيد دهغه حقيقی خوئې نه دې. بلکه پرکتې ئې دې»

په مړه سره د حدقائمولو استحقاق باطليږي

(وَمَنْ قَذَفَ غَيْرَهُ فَمَاتَ الْمَقْذُوفُ بَطَلَ الْحَدُّ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَبْطُلُ (وَلَوْ مَاتَ بَعْدَمَا أُقِيمَ بَعْضُ الْحَدِّ بَطَلَ الْبَاقِي) عِنْدَنَا خِلَافًا لَهُ بِنَاءً عَلَى أَنَّهُ يُورَثُ عِنْدَهُ وَعِنْدَنَا لَا يُورَثُ،

ژباړه:- اوچا «زيد» چې په بل چا «بکر» باندې د زنا تهمت اولګولو. اومقذوف «بکر» مړ شو. نوحد باطل شو. «په ژوندی قاذف به حد نشی قائمولې» اوامام شافعیؒ فرمائی. چه نه «استحقاق د جاری کولودحد» نه باطليږي. اوکه «بکر» ددې نه روسته مړشو. چه بعضې حد پرې جاری شوې وو. «مثلاً په اتيا کوړو کې ورته ديرش کوړې ورکړې شوې وې. اوپه دغه مهال کې مړ شو نوپه دې صورت کې هم» زموږ په نيزپاته «چه پنځوس کوړې دی» باطل شو. اودامام شافعیؒ «په دې صورت کې هم موږ سره» اختلاف دې. «دهغوی په نيزپه دې صورت کې هم حد نه باطليږي. بلکه دهغه د مقذوف دمرګه روسته چې کومې پنځوس کوړې پاتې دی. هغه به ورکولې شی» دامام شافعیؒ دليل «دا مسئله په مسئله د ميراث باندې» بناء ده. هغه دا چې حد دامام شافعیؒ په نيز په ميراث کې «وارثانوته» منتقل کيږي. اوزموږ په نيزپه ميراث کې «وارثانوته» نه منتقل کيږي.

وَلَا خِلَافَ أَنَّ فِيهِ حَقَّ الشَّرْعِ وَحَقَّ الْعَبْدِ فَإِنَّهُ شُرِعَ لِدَفْعِ الْعَارِ عَنِ الْمَقْذُوفِ وَهُوَ الَّذِي يَنْتَفِعُ بِهِ عَلَى الْخُصُوصِ، فَمِنْ هَذَا الْوَجْهِ حَقُّ الْعَبْدِ، ثُمَّ إِنَّهُ شُرِعَ زَاجِرًا وَمِنْهُ سُمِّيَ حَدًّا، وَالْمَقْصُودُ مِنْ شَرْعِ الزَّاجِرِ إِخْلَاءُ الْعَالَمِ عَنِ الْفَسَادِ، وَهَذَا آيَةُ حَقِّ الشَّرْعِ وَبِكُلِّ ذَلِكَ تَشْهَدُ الْأَحْكَامُ. وَإِذَا تَعَارَضَتِ الْجِهَتَانِ،

حل اللغة: ① **الزاجر**: زورنه ورکونکې ② **اخلاء**: خالی کول ③ **الجهتان**: دوې [دوه] طرفونه

ژباړه:- «اوپاته زموږ او امام شافعیؒ په مينځ کې» په دې کې څه اختلاف نشته. چه په دې «حدقذف کې حق د شريعت اوحق د بنده دې. «بلکه واړه په دې باندې متفق يو. چه په حد قذف کې دوې [دوه] حقونه جمع شوی دی. حق الشرع اوحق العبد» ځکه چې دا حدقذف د مقذوف نه د زنا د شرم لرې کاوه لپاره مقرر شوې دې. اوهم دا مقذوف ددې «مقصد نه» په خصوصيت سره فائده اخلی. «ځکه چې په ده باندې د قذف په بدله کې قاذف ته کوړې اولګولې شی. نو خلګ وته دده سترګې اوچتې شی. اوخوګ ورته زناکارنشی وئيلې» نوددې امله «حدقذف» حق العبد دې. «دا ددې حد يوحيثيت وو» اوبيا دا چې دا حد قذف د تنبيه اومنع کاوه لپاره مقرر شوې دې. «چه قاذف ته حد اولګی. نويوخو په دې باندې قاذف ته سزا ملاؤ شوه. چه آئنده لپاره به د چا په سپينه لمنه د زنا داغ نه لګوی. اوبله په معاشره کې به نورو خلګو ته هم عبرت ملاؤ شی. که موږ دا حرکت اوکړلو. نوزموږ به هم دا انجام وی» اوددې امله دې ته حد نوم ايخودې شوې دې. «ځکه چې حد معنی نه ده منع کول، اوپه دې باندې هم خلګ د جرائمو د ارتکاب نه منع کيږي» اود سزا په مقرر کولوکې د شريعت مقصد دا دې. چه معاشره دفساد نه خالی شی. اودا خبره

«چه معاشره د فساد نه خالي شي» ددې خبرې نښانه اوعلامه ده.چه حد قذف حق الشرع دې.اوپه دې تولو باندې دشریعت احکام ګواهان دی. «یعني چې حدقذف حق العبد واخلي.نوپه دې باندې هم مسائل مبنی دی. اوچه دې ته نظراوکړي.چه دا حق ا لشرع دې.نوپه دې باندې هم مسائل مبنی دی» اوهرکله چې دواړه طرفونه «یعني حق العبد اوحق الشرع» متعارض شول.

فَالشَّافِعِي مَالَ إِلَى تَغْلِيبِ حَقِّ الْعَبْدِ تَقْدِيمًا لِحَقِّ الْعَبْدِ بِاعْتِبَارِ حَاجَتِهِ وَغِنَى الشَّرْعِ، وَنَحْنُ صِرْنَا إِلَى تَغْلِيبِ حَقِّ الشَّرْعِ لِأَنَّ مَا لِلْعَبْدِ مِنَ الْحَقِّ يَتَوَلَّاهُ مَوْلَاهُ فَيَصِيرُ حَقُّ الْعَبْدِ مَرْعِيًّا بِهِ، وَلَا كَذَلِكَ عَكْسُهُ لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لِلْعَبْدِ فِي اسْتِيفَاءِ حُقُوقِ الشَّرْعِ إِلَّا نِيَابَةً عَنْهُ

حل اللغة: ① **تغلیب:** غالب کول ② **غناء:** بې پرواهی ③ **صرنا:** واوړیدو صیغه د جمع متکلم ④ **یتولی:** ذمه والی اخلی، نګرانی کوی

ژباړه:- نوامام شافعي رحمه الله د بنده حق غالب کاوه ته مائله شو.اود بنده حق ځکه غالب دې.چه بنده محتاج دې.اوشریعت مستغني دې. «یعني د بندګانو حقوقو ته به ځکه تقدم حاصل وی.چه دوی محتاج دی.اود شریعت حق به ددې نه ځکه روستو وی.چه دحق الشرع په حقیقت کې داالله تعالی حق دې.اوالله تعالی مستغنی دې» اوموږ «احنافو» رحمهم الله حق الشرع ته په حق العبد باندې غلبه ورکړله. «اوددې دلیل چې حق ا لشرع په حق العبد باندې غالب دې.دا دې» چې د بنده کوم حق وی. «نودهغې د حاصلولوډپاره» دده مولی «چه الله تعالی دې» دهغې متولی اونګران جوړیږی. «هم دا وجه ده.مقتول مړشی.اوشریعت دده د قصاص د حق ذمه وار شی.اود قاتل نه د مقتول لپاره قصاص اخلي» نود حق العبد لحاظ ساتلې کیږی.اوددې په عکس چې کوم دې «یعني حق الشرع» هغه داسې نه دې.ځکه چې بنده ته د شریعت د حقوقو حاصلولو ولایت اواختیارحاصل نه دې.مګر صرف دا چې دهغې «داخستلو» نائب جوړ شی. «لکه ګورئ زموږ دا عقیده ده.چه حاکم اعلی الله تعالی دې.اوپه دنیا کې چې کوم اسلامی اوشرعی نظام چلیږی.نوپه دې کې انسان د الله تعالی نائب اوخلیفه دې.نو لنډیز دا شوه.چه بنده عاجز نه دې.بلکه که دې دخپل حق اخستلوته پاتې شی.نوشریعت د ده دحق اخستلو ذمه وار دې.اوحق الشرع کې بنده صرف یو نائب اوخلیفه دې»

په پورتنی اصل باندې د مسائلو تخریج او استنباط

وَهَذَا هُوَ الْأَصْلُ الْمَشْهُورُ الَّذِي يَتَخَرَّجُ عَلَيْهِ الْفُرُوعُ الْمُخْتَلَفُ فِيهَا مِنْهَا الْإِرْثُ، إِذِ الْإِرْثُ يَجْرِي فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لَا فِي حُقُوقِ الشَّرْعِ. وَمِنْهَا الْعَفْوُ فَإِنَّهُ لَا يَصِحُّ عَفْوُ الْمَقْذُوفِ عِنْدَنَا وَيَصِحُّ عِنْدَهُ. وَمِنْهَا أَنَّهُ لَا يَجُوزُ الِاعْتِيَاضُ عَنْهُ وَيَجْرِي فِيهِ التَّدَاخُلُ وَعِنْدَهُ لَا يَجْرِي. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْعَفْوِ مِثْلُ قَوْلِ الشَّافِعِيِّ، وَمِنْ أَصْحَابِنَا مَنْ قَالَ: إِنَّ الْغَالِبَ حَقُّ الْعَبْدِ وَخَرَّجَ الْأَحْكَامَ، وَالْأَوَّلُ أَظْهَرُ.

حل اللغة: ① **یتخرج:** مستنبط کیږی ② **العفو:** معافی ③ **الاعتیاض:** عوض اخستل یا ورکول ④ **التداخل:** یوبل کښې داخلیدل

ژباړه:- اودا هغه مشهوراصل دی.چه په دې باندې مختلف فیها فروعی مسائل مستنبط کیږی. «فروعی مختلف فیها مسائلو» ① د دې نه میراث دې.ځکه چې «زموږ په نیز» په حقوق العباد کې میراث جاری کیږی.اوپه حق الشرع کې نه جاری کیږی. «نوزموږ په نیزحدقذف که په پلا لګیدلې وی.د پلار دمرګه روسته خوئې دهغې مطالبه نشی کولې.اوامام شافعي رحمه الله په حق الشرع کې هم د توارث قائل دې.نودهغوی په نیزپه حدودوکې هم پلارد خوی نه میراث اوړي شی» ② او ددې «مختلف فیها فروعی مسائلو» نه معافی ده.ځکه چې زموږ په نیزدمقذوف معاف کول نه صحیح کیږی. «که مقذوف قاذف لره معاف کړی.نوزموږ په نیز دده عفو نه صحیح کیږی.ځکه چې په دې پورې حق الشرع متعلق دې.سړې خپل حق معاف کولې شی.خود شریعت حق نشی معاف کولې» اوداامام شافعي رحمه الله په نیز «د مقذوف قاذف لره معاف کول» صحیح کیږی. ③ اوددې «مختلف فیها فروعی مسائلو» نه دا مسئله ده.چه د حد په بدله

كي عوض اخستل جائز نه دی. ﴿چه مقذوف د قاذف نه څه پیسې وغیره د عوض په طور واخلی .اوحد ورته معاف كړی.ځكه چې په دې كي زمونږ په نیزحق الشرع غالب دی﴾ ④اودغه ډول په دې كي تداخل جاری كیږی. ﴿مثلاً كه درې نفر په زیدباندې د زنا تهمت اولګوی.نوزمونږ په نیزبه ټولو ته مجموعی طور اتیا كوړې وركولې شی﴾ اودامام شافعی رحمه الله په نیز ﴿په كي تداخل﴾ نه جاری كیږی. ﴿نودهغوی په نیزبه هریوكس ته اتیا كوړې وركولې شی﴾ اودامام ابویوسف رحمه الله نه د معافۍ په صورت كي ﴿كه مقذوف قاذف ته معافی اوكړی﴾ دامام شافعی رحمه الله دقول پشان قول نقل شوې دې. ﴿یعنی چې دامام ابویوسف رحمه الله په نیزهم كه مقذوف قاذف ته معافی اوكړی.نوجائزده﴾ اوزمونږ په احنافو رحمهم الله عالمانو كنبې څوك داسې هم شته. ﴿چه په زیربحث مسئله دحد قذف كي د امام شافعی رحمه الله د قول پشان﴾ حق العبدغالب دې.اوهغوی د مسائلو استنباط په هغه اصل باندې كړې دې. ﴿یعنی په تیرو شوو پنځو مسائلوكي چې كوم مسلك د امام شافعی رحمه الله دې.هم دغه مسلك داحنافو رحمهم الله ددې بعضې عالمانو رحمهم الله دې﴾ خواول قول ﴿چه حق الشرع غالب دې﴾ زیات ظاهر دې.

دقذف داقرارنه د رجوع حكم

(وَمَنْ أَقَرَّ بِالْقَذْفِ ثُمَّ رَجَعَ لَمْ يُقْبَلْ رُجُوعُهُ) لِأَنَّ لِلْمَقْذُوفِ فِيهِ حَقًّا فَيُكَذِّبُهُ فِي الرُّجُوعِ، بِخِلَافِ مَا هُوَ خَالِصُ حَقِّ اللَّهِ لِأَنَّهُ لَا مُكَذِّبَ لَهُ فِيهِ.

ژباړه:- اوچا ﴿زید﴾ چې د قذف اقراراوكړلو. ﴿چه ما په بكرباندې د زنا تهمت لګولې دې.چه ده زنا كړې ده﴾ اوبیا ﴿د اقرارنه پس﴾ دې رجوع اوكړی. ﴿چه نه ما پرې د زنا تهمت نه دې لګولې.نوپه دې صورت كي به﴾ دده رجوع نشی قبلولې.ځكه چې د مقذوف ﴿بكر﴾ په دې ﴿حدقذف﴾ كي حق دې. ﴿اوهغه حق په قاذف باندې د حد قذف جاری كولومطالبه ده﴾ نوهغه ﴿مقذوف﴾ به په رجوع كولوكي دده ﴿زید﴾ تكذیب كوی. ﴿چه نه بلكه تا ما باندې د زنا تهمت لګولې وو.نوهركله چې ورپورې دمقذوف حق متعلق دې.د اقرار نه په رجوع كولوسره دهغه حق نه باطلیږی.﴾ په خلاف د هغه صورت چې هغه صرف حق الله وی. ﴿لكه زنا شوه.نو كه د زنا اقراراوكړی.اوبیا دهغې نه رجوع اوكړی.نودده رجوع صحیح كیږی﴾ ځكه چې ﴿په دې صورت كي د بندګانو داړخه﴾ دده ﴿رجوع كونكی قاذف﴾ څوك مكذب ﴿دروغژن كونكې﴾ نشته.چه ﴿دا قاذف په﴾ دې حق الله كي دروغژن كړی. ﴿چه نه تا زنا كړې وه.اواوس دروغ وائې.چه ما زنا نه ده كړې﴾

عربی ته د نبطی ویلوحكم

(وَمَنْ قَالَ لِعَرَبِيٍّ يَا نَبَطِيُّ لَمْ يُحَدَّ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّشْبِيهُ فِي الْأَخْلَاقِ أَوْ عَدَمِ الْفَصَاحَةِ، وَكَذَا إِذَا قَالَ لَسْتَ بِعَرَبِيٍّ لِمَا قُلْنَا

ژباړه:- اوچا ﴿زید﴾ چې عربی ﴿بكر﴾ ته اوونیل.اې نبطی ﴿دعراق په اوسیدونكوكي یوقوم دې﴾ نوده ﴿زید﴾ ته به حد ﴿قذف﴾ نشی وركولې.ځكه چې په دې كلام سره په اخلاقو یا عدم فصاحت كي تشبیه اراده كولې شی. ﴿یعنی دقائل مراد یا دا دې.چه ته په بداخلاقۍ كي د نبطیانو پشان ئې.یا ته په عدم فصاحت كي د عراق د نبطیانوپشان ئې﴾ اودغه ډول حكم دې ﴿چه حد قذف به پرې نشی جاری كولې﴾ كله چې اووائی. ﴿زید بكرته﴾ ته عربی نه ئې.دهغې وجې نه كومه چې مونږ بیان كړه. ﴿چه په دې كلام سره یا دده اراده دا ده.چه ستا اخلاق دعربوپشان نه دی.بلكه د نبطیانوپشان بداخلاقه ئې.یا دا چې ستا كلام د عربو پشان فیصح نه دې. بلكه دعجمو پشان غیر فصیح كلام كوې﴾

د«ابن السماء» ویلوحكم

(وَمَنْ قَالَ لِرَجُلٍ يَا ابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ) لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّشْبِيهُ فِي الْجُودِ وَالسَّمَاحَةِ وَالصَّفَاءِ، لِأَنَّ مَاءَ السَّمَاءِ لُقِّبَ بِهِ لِصَفَائِهِ وَسَخَائِهِ

حل اللغة: ① الجود:سخاوت ② السماحة:نرمی ،صفائی

ژباړه:- اوکه یوکس «زید» بل «بکر» ته اوویل اې داسمانی اوبو بچیه! نو «په دې جمله سره» دې قاذف نه دې.ځکه چې په دې کلام سره په سخاوت اوصفائي کې دآسمانی اوبوسره تشبیه ورکول مراد کیداې شی. «چه ستا سخاوت د باران د اوبو پشان پریمانه دې.یا ستا حسن اوجمال په ښائست کې د آسمانی اوبوپشان صفا دې.اودآسمانی اوبوسره تشبیه ځکه ګنړلې شی.چه» دآسمانی اوبود صفائی اوپریمانۍ د امله «یوکس ته» ددې لقب ورکولې شی.«چه یا ابن السماء» اې دآسمان بچیه! «لکه په یوحدیث کې چې دحضرت اسماعیل ﷺ د موربی بی هاجره رضي الله عنها په اړه کې راغلی دی.«فهذه امکم یا بنی ماء السماء» یعنی اې د آسمانی اوبو بچواهم دا ستاسو مور ده. رواه البخاری.نوددې نه معلومه شوه.چه دا الفاظ د تعریف لپاره وئیلی شی.د زنا تهمت لګولو لپاره نشی وئیلی»

ماما،تره یا میرنی پلارته دیوکس د ابنیت نسبت کولوحکم

(وَإِنْ نَسَبَهُ إِلَى عَمِّهِ أَوْخَالِهِ أَوْإِلَى زَوْجِ أُمِّهِ فَلَيْسَ بِقَذْفٍ) لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْ هٰؤُلَاءِ يُسَمَّى أَبًا.

حل اللغة: ① عم:تره: ② خال:ماما

ژباړه:- اوکه یوکس «زید» بل کس «بکر» خپل اکا «الف» یا ماما «ب» یا دهغه دمور خاوند «پ» ته منسوب کړلو. «چه اې د بکر بچیه،یا اې د الف بچیه! یا اې د ،ب، بچیه! یا اې د ،پ، بچیه!» نو «په دې درې واړه صورتونوکې» دې قاذف نه دې.ځکه چې په دوی «درې واړو» کې هریو «که اکا دې اوکه ماما دې اوکه میرنی پلاردې» ته پلار وئیلی شی.

أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {نَعْبُدُ إِلٰهَكَ وَإِلٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ} وَإِسْمَاعِيلُ كَانَ عَمًّا لَهُ. وَالثَّانِي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الْخَالُ أَبٌ} (١). وَالثَّالِثُ لِلتَّرْبِيَةِ.

ژباړه:- هرچه اول «یعنی تره» دې.نو «ده ته پلارځکه وئیلی شی.چه» الله تعالی فرمائیلی دی. «کله چې دیعقوب ﷺ خامنو نه حضرت یعقوب ﷺ پوښتنه اوکړه بچو تاسو به زما د مرګه روسته دچا عبادت کوئ.نوهغوی ورته په ځواب کې اوویل» مونږ به ستا اوستا د پلارانو حضرت ابراهیم ﷺ اوحضرت اسماعیل ﷺ حضرت اسحاق ﷺ د معبود عبادت کوو. «په دې آیت کې حضرت اسماعیل ﷺ ته هم پلار وئیلې شوې دې.حالانکه» حضرت اسماعیل ﷺ د دوی «یعنی دیعقوب ﷺ د خامنو» اکا وو. «نومعلومه شوه.چه په اکا باندې هم د پلار اطلاق کیږی» او دوهم «چه ماما ته هم پلار وئیلی شی.» دنبی ﷺ ددې قول د امله چې ماما «د مور ورور» پلار دې. «کوره په دې حدیث کې نبی ﷺ ماما ته پلار وئیلی دی.نومعلومه شوه.چه په ماما باندې هم د پلار اطلاق کیږی» اودریم «چه میرنې پلار دې.نوده ته هم پلار وئیلی شی» د تربیت د وجې «ځکه چې میرنې پلار د میرنی ځوی تربیت کوی.نو خلک ورته د تربیت په وجه دهغه ځوئې وائی. لنډیز دا چې په دې درې واړو نسبتونو سره حدقذف نه واجبیږی»

د «زنأت فی الجبل» حکم

(وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ زَنَأْتَ فِي الْجَبَلِ وَقَالَ عَنَيْتُ صُعُودَ الْجَبَلِ حُدَّ، وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ،(٢) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يُحَدُّ) لِأَنَّ الْمَهْمُوزَ مِنْهُ لِلصُّعُودِ حَقِيقَةً قَالَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الْعَرَبِ: وَارْقَ إِلَى الْخَيْرَاتِ زَنَأً فِي الْجَبَلِ وَذِكْرُ الْجَبَلِ يُقَرِّرُهُ مُرَادًا.

حل اللغة: ① الجبل:غر ② عنی یعنی ،قصد کول نیت کول ③ صعود: په یو ځیزباندې ختل ④ مهموز:یعنی ټکی چې د نون نه روسته همزه وی هغې ته وائی ⑤ ارق: ورخیژه صیغه د امر ده

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما مرفوعاً الخال والد من لا والده له وعزاه إلى فردوس الديلمي نصب الراية ٣/٥٤٠)_

٢) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(١٠١\٥)والخانية (٤١٢\٤) ومجمع الأنهر(٦١٥\١) و ردالمحتار(٣٧\٣) والهندية (١٦٢\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٥٤\١)-

زباړه:- اوچا ﴿زید﴾ چي بل ﴿بکر﴾ ته اوونیل.((زنات فی الجبل)) اوبیا ئې اوونیل چه زما ﴿ددې الفاظونه﴾ زما مراد په غربانديې ختل وو.نوده ته به دامام ابوحنیفه اوابویوسف رحمه الله په نیزحد ﴿قذف﴾ ورکولې شي.اوامام محمد رحمه الله فرماني.چه ﴿ده ته به﴾ حد نشي ورکولې. ﴿دامام محمد رحمه الله دلیل دا دې.چه﴾ مهموز په دې ﴿لفظ د زنات﴾ کي ﴿چه د نون نه روسته همزه وي﴾ ددې حقیقي استعمال د ختلو لپاره دې. ﴿اومجازي استعمال ئې د زنا لپاره دې.اوپه دې باندې دلیل چې ((زنات)) په همزه سره ددې حقیقي معنی په غربانديې ختل دی.دا دې.چه﴾ دعربویو ښځې داوونیلی دی.((وارق الی الخیرات زناء فی الجبل)) یعنی په غر باندې دختلوپشان په نیکوکارونوباندې ورخیژه. ﴿نوګورئ په دې شعرکي هم ((زنات)) دختلو په معنی راغلی دې. ﴿اوپه دې خبره باندې بل دلیل چې په زیربحث مسئله کي د ((زنات)) نه مراد په غرختل دی.چه په کلام کي د ((جبل)) ذکردې﴾ اوذکرد غر د ختلومعنی متعین کوی. ﴿ځکه چې کله د یولفظ دوې [دوه] معاني وي.اوپه یوه معنی باندې قرینه موجود وي.نوهم هغه معنی به مراد وي.په کومه چې قرینه موجود وي.اودلته د ختلو په معنی باندې قرینه موجود ده.چه ذکرد جبل یعنی د غردې.نومعلومه شوه.چه د دې جملې د ویونکی اراده زنانه ده بلکه په غربانديې ختل دی.چه ته په غربانديې ختلي وي.اوهرکله چې د غرد ختلو معنی ترې مراد شوه.نوحد به پرې نه جاري کیږي﴾

وَهُمَا أَنَّهُ يُسْتَعْمَلُ فِي الْفَاحِشَةِ مَهْمُوزًا أَيْضًا لِأَنَّ مِنَ الْعَرَبِ مَنْ يَهْمِزُ الْمُلَيَّنَ كَمَا يُلَيِّنُ الْمَهْمُوزَ، وَحَالَةُ الْغَضَبِ وَالسِّبَابِ تُعَيِّنُ الْفَاحِشَةَ مُرَادًا بِمَنْزِلَةِ مَا إِذَا قَالَ يَا زَانِي أَوْ قَالَ زَنَأْتَ،

حل اللغة: ① السباب: کنځل

زباړه:- اودصاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه دا لفظ ﴿د زنات﴾ مهموز ﴿چه د نون نه روسته همزه وي﴾ په زنا کي هم استعمالیږی.ځکه چې په عربوکي څوك داسې دی.چه د الف نه هم همزه جوړوی.لکه څنګه چې د همزه نه الف جوړوی. ﴿اوپه دې باندې بل دلیل چې د ﴿زنات﴾ نه زنا مراد ده.دا دې.چه﴾ حالت د غضب اوغصې د زنا د معنی تعین کوی. ﴿چه سړې په حالت دغصه کي چا ته اووائی.چه ((زنات فی الجبل)) نه ددې هم د زنا پیغورمراد دې﴾ اود داسې شو لکه چې دې ورته اووائی.اې زناکاره! یا داسې اووایه.چه زنا دې کړې ده. ﴿یعنی د ((زنات فی الجبل)) معنی داسې شوه.لکه چې دې ورته اووائی.اې زناکاره یا ورته دا اووائی.چه تا زنا کړې ده﴾

وَذِكْرُ الْجَبَلِ إِنَّمَا يُعَيِّنُ الصُّعُودَ مُرَادًا إِذَا كَانَ مَقْرُونًا بِكَلِمَةِ عَلَى إِذْ هُوَ الْمُسْتَعْمَلُ فِيهِ، وَلَوْ قَالَ زَنَأْتَ عَلَى الْجَبَلِ لَا يُحَدُّ لِمَا قُلْنَا، وَقِيلَ يُحَدُّ لِلْمَعْنَى الَّذِي ذَكَرْنَاهُ.

حل اللغة: ① مقرونا: مولښتی ه

زباړه:- ﴿اوپاته دامام ابویوسف رحمه الله دا دلیل چې ذکر دجبل یعنی دغرپه دې دلالت کوی.چه دلته د ((زنات)) نه مراد په غرختل دی.نوموږ وایو.چه﴾ ذکرد غرپه هغه وخت کي د ختلو معنی متعین کوی. چې مراد ترې ختل دی.کله چې ﴿د زنات لفظ﴾ د ،،علی،و کلمې سره مولښتی وی.ځکه چې هم ،،کلمه،، دعلی د ختلو معنی سره مخصوص ده.اوکه وې وئیل.((زنات علی الجبل)) نو وئیلی شوی دی.چه ﴿په دې صورت کي به هم﴾ حد نشي ورکولې.دهغه امله کومه چې موږ اووئیله ﴿چه ددې نه مراد په غربانديې ختل مراد دی.ځکه چې کلمه د ،علی، د ختلو لپاره ده﴾ اووئیلې شوی دی.چه حد به ورته ورکولې شي. دهغه معنی د امله کومه چې مونږ ذکرکړه.یعنی چې د غصې په حالت کي ددې نه هم زنا مراد ده. ﴿چه سړې په غصه کي وی.بل ته وائی.چه اې زناکاره!﴾.

دیوپه بل د زنا تهمت لګول اودبل انکار کول

(وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ يَا زَانِي فَقَالَ لَا بَلْ أَنْتَ فَإِنَّهُمَا يُحَدَّانِ) لِأَنَّ مَعْنَاهُ لَا بَلْ أَنْتَ زَانٍ، إِذْ هِيَ كَلِمَةُ عَطْفٍ يُسْتَدْرَكُ بِهَا الْغَلَطُ فَيَصِيرُ الْخَبَرُ الْمَذْكُورُ فِي الْأَوَّلِ مَذْكُورًا فِي الثَّانِي.

حل اللغة: ① يستدرك: لاندې کولې شي ② الغط: غلطي
ژباړه:- اوکوم يوکس «زيد» چې بل «بکر» ته اووئيل اې زناکاره! نوهغه «بکر» اووئيل نه «زه زناکار نه يم» بلکه ته «زناکارئې» نودې دواړو ته به حد ورکولې شي. ځکه چې دده «بکر» د وينا مطلب دا دې چه بلکه ته زناکارئې. ځکه چې بله کلمه دعطف ده. په دې سره د غلطۍ لاندې والې کولې شي. «يعني کوم تهمت د زيد په کلام کې وو. هم هغه تهمت د بکرپه کلام کې هم راغلو. ځکه چې کلمه د بل دعطف لپاره ده. نوکوم خبر چې په اول کلام کې «چه کلام د زيد وو» ذکر وو «چه يا زاني» نوهم هغه خبر د دوهم کس «چې بکردې» په کلام کې مذکور دې. «اوپه عطف کې دا قانون دې چه څه حکم د معطوف عليه وی. هغه حکم به د معطوف هم وی»

د خاوند ښځې ته «يا زانية» وئيل اوددغه د جواب حکم

(وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ يَا زَانِيَةُ فَقَالَتْ لَا بَلْ أَنْتَ حُدَّتِ الْمَرْأَةُ وَلَا لِعَانَ) لِأَنَّهُمَا قَاذِفَانِ وَقَذْفُهُ يُوجِبُ اللِّعَانَ وَقَذْفُهَا الْحَدَّ،

ژباړه:- اوچا چې خپلې ښځې ته اووئيل اې زناکارې. نوهغې ورته اووئيل نه «زه زناکاره نه يم» بلکه ته «زنا کارئې» نوښځې ته به حد «قذف» ورکولې شي. اونشته لعان «د دوی په مينځ کې. اولعان ځکه نشته. چه» دا دواړه «ښځه اوخاوند» قذف لګونکې دی. «اوقاعده دا ده. چه» د خاوند قذف لعان واجبوی. «چه خاوند په ښځه د زنا تهمت اولګوی. اوبيا دې څلورګواهان قائم نکړی. نود خاوند اوښځې په مينځ کې به لعان کولې شي. دکوم بيان چې په باب اللعان کې تير شوې دې» اود ښځې قذف حد واجبوی. «يعني چې ښځه په خاوندد زنا الزام اولګوی. اودا څلورګواهان پيش نکړی. نوپه دې به حد قذف جاري کولې شي»

وَفِي الْبُدَاءَةِ بِالْحَدِّ إِبْطَالُ اللِّعَانِ، لِأَنَّ الْمَحْدُودَ فِي الْقَذْفِ لَيْسَ بِأَهْلٍ لَهُ وَلَا إِبْطَالَ فِي عَكْسِهِ أَصْلًا فَيُحْتَالُ لِلدَّرْءِ، إِذْ اللِّعَانُ فِي مَعْنَى الْحَدِّ

حل اللغة: ① البداية: شروع کول ② ابطال: باطلول ③ يحتال: حيله جوړولې شي ④ الدرء: دفع کول، لرې کول
ژباړه:- اوچه په حد باندې پيل اوکړی. نوپه دې کې د لعان باطلول دی. «او چې په حد قذف پيل اوشی. نولعان ځکه ختميږی. چه» څوک په حدقذف کې محدود شي. «اوحد پرې جاري شي. نو» هغه د لعان لائق نه پاتې نشو. «ځکه چې د لعان دګواهۍ لپاره دا شرط دې چه هغه به محدود فی القذف نه وی. او اوس په دې صورت کې چې د ښځې په مطالبه باندې خاوند ته حدقذف ورکړې شي. نوچونکه هغه محدود فی القذف شو. اودمحدود فی القذف ګواهی نه قبليږی. نوځکه دغه ښځه د لعان کولوقابله پاتې نشوه. نوچه قابله د شهادت نشوه. اودلعان داروډار خوپه شهادت دې. نولعان هم باطل شو» اوددې په عکس کې ابطال نشته. «يعني چې اول لعان اوکړې شي. اوښځه د خاوند نه جلا شي. نوددې نه روسته هم په ښځه باندې حد قذف جاري کولې شي. نوکه اول لعان اوکړی. نودلعان نه روسته هم ښځه د حدقذف نه نشي بچ کيدې» نوددووحدو جمع کيدو لپاره به حيله کولې شي. «چه دواړه حدود يعني حدقذف اولعان جاري نشي. اوکه ته دا وائې. چه کله دوې [دوه] حدود جمع شي. نوپه هغه وخت کې د يوحد لرې کاوه لپاره حيله کولې شي. حالانکه دلته خو دوې [دوه] حدود نه دی جمع شوی. بلکه يوحدقذف دې. اوبل لعان؟. نومونږ ځواب کوو. چه» لعان هم د حد په معنی کې دې. «ځکه چې څنګه د حد مشروعيت د زجراو زورنې لپاره دې. چه خلګ د جرم د ارتکاب نه منع شي. نودغه ډول لعان هم د زورنې لپاره دې. چه خاوند د لعان اوښځې جلا کيدو نه ويريږی. نوهسې بيسه به په خپله ښځه د زنا تهمت نه لګوی»

د خاوند په جواب کې د «زنيت بک» حکم

(وَلَوْ قَالَتْ زَنَيْتُ بِكَ فَلَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ) مَعْنَاهُ قَالَتْ بَعْدَمَا قَالَ لَهَا يَا زَانِيَةُ لِوُقُوعِ الشَّكِّ فِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا، لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهَا أَرَادَتْ الزِّنَا قَبْلَ النِّكَاحِ فَيَجِبُ الْحَدُّ دُونَ اللِّعَانِ لِتَصْدِيقِهَا إِيَّاهُ وَانْعِدَامِهِ مِنْهُ،

خلورم توك

حل اللغة: ① الوقوع واقع كيدل ② تصديق د چا خبره رښتيا ګڼل ③ انعدام نشتوالي

ژباړه:- اوكه ښځې ﴿د خپل خاوند ددې قول په خواب كې چې اې زناكارې﴾ اووئيل چې ما ت سره زنا كړې ده. نو ﴿په دې صورت كې﴾ نه ﴿په ښځه اونه په خاوندباندې﴾ حد شته اونه ﴿د زوجينوپه مينځ كې﴾ لعان شته. د ﴿ښځې د﴾ قول مطلب دا دې چه ښځه دا وينا اوكړي خوپه هغه وخت كې چې ددې نه وړاندې ورته خاوند دا وئيلي وي چه اې زناكارې. ﴿نوپه دې صورت كې حد ځكه نه واجبيږي چه﴾ واقع شو شك په هر يوكي ددې دواړو نه ﴿يعنى د زنا په اقرار او انكاركې﴾ ځكه چې دا احتمال لري د ښځې مراد د ﴿خاوند سره د﴾ نكاح نه وړاندې زنا وي. ﴿چه آو ما تا سره د نكاح نه وړاندې زنا كړې وه. نوپه دې صورت كې چې خاوند په ښځه د زنا تهمت اولګوي. اوهغه ني اقراراوكړي. په ښځه باندې حد ﴿زنا﴾ واجبيږي. او ﴿د ښځې خاوند په مينځ كې﴾ لعان نه واجبيږي. ځكه چې ښځه د خوند تصديق كوي. ﴿ځكه چې لعان خوپه هغه صورت كې واجبيږي. چه خاوند په ښځه د زنا تهمت اولګوي. اوښځه انكاركوي. اوپه دې صورت كې خو ښځه اقراركوي. انكارنه كوي﴾ خود خاوند د اړخه د دې د قول ﴿ چې ما تا سره زنا كړې ده﴾ تصديق نه دې موجود شوې. ﴿نوپه هغه باندې حدزنا نشي جاري كيدې. ځكه چې دهغه د اړخه اقرارنشته. اوصرف دښځې په دعوه باندې چې صحيح ده زه زنا كاره يم. خوته هم زنا كړني. چه ما سره دې زنا كړې ده. په دې دعوه باندې چې ترڅو څلور ګواهان نه وي. خاوند باندې حد زنا نشي جاري كيدې﴾

وَيَحْتَمِلُ أَنَّهَا أَرَادَتْ زِنَايَ مَا كَانَ مَعَكَ بَعْدَ النِّكَاحِ لِأَنِّي مَا مَكَّنْتُ أَحَدًا غَيْرَكَ. وَهُوَ الْمُرَادُ فِي مِثْلِ هٰذِهِ الْحَالَةِ، وَعَلٰى هٰذَا الْاِعْتِبَارِ يَجِبُ اللِّعَانُ دُونَ الْحَدِّ عَلَى الْمَرْأَةِ لِوُجُودِ الْقَذْفِ مِنْهُ وَعَدَمِهِ مِنْهَا فَجَاءَ مَا قُلْنَا.

حل اللغة: ① مكن يمكن: قدرت وركول، قابو وركول ② الاعتبار لحاظ، حيثيت

ژباړه:- اود ﴿ښځې دا قول چې ما تا سره زنا كړې ده﴾ دا احتمال هم لري چه ددې ﴿ښځې﴾ مراد دا وي چه دنكاح نه روسته چې ما تا سره كومه وطى كړې ده. ﴿كه دې ته ته زنا وائې نوصحيح ده. ګنې﴾ ما خو ﴿د نكاح نه روسته په خپل ځان باندې﴾ ستا نه سوا چا ته قدرت نه دې وركړې. ﴿چه ما سره دې زنا كړې وى﴾ اوهم دا معنى مراد وى. چه داسې حالت كې ﴿چه ښځه په خاوند د زنا تهمت لګوي. نوهغه خپله پاكدامنى بيانوي﴾ اوپه دې اعتبار سره ﴿يعنى ددې دوهم احتمال په اعتبار سره خاوند په ښځه باندې د زنا تهمت لګوي. اوښځه انكار كوي. د ښځه او خاوند په مينځ كې﴾ لعان واجبيږي. اوپه ښځه باندې حد زنا نه واجبيږي. ﴿د زوجينوپه مينځ كې لعان ځكه واجبيږي. چه﴾ د خاوندد اړخه قذف موجود شوې دې. ﴿او قانون دا دې. چه كله د خاوند د اړخه په ښځه باندې د زنا تهمت اولګي. او خاوند څلور ګواهان پيش نه كې (نكړي). اودغه ډول ښځه دهغه د تهمت تصديق هم نه كوي. نوپه دې صورت كې به لعان واجب وي﴾ او ﴿ددې دوهم احتمال په اعتبارسره يعنى چې ما خوستا نه سوا بل چا ته په خپل ځان قدرت نه دې وركړې. اوتا سره مې وطى كړې ده. كه ته دې ته زنا وائې. نوصحيح ده.﴾ دښځې داړخه په خاوند باندې د زنا نشته. نوهغه حكم ثابت شو. كوم چې موږ بيان كړلو ﴿يعنى دښځې په كلام كې د زنا تهمت داقراراوانكار دواړه احتمالات موجود دي. نو شك پيدا شو. نود شك په وجه به نه لعان واجب وي. اونه حد﴾

دبچي دنسب اقراراويا انكاركول

(وَمَنْ أَقَرَّ بِوَلَدٍ ثُمَّ نَفَاهُ فَإِنَّهُ يُلَاعِنُ) لِأَنَّ النَّسَبَ لَزِمَهُ بِإِقْرَارِهِ وَبِالنَّفْيِ بَعْدَهُ صَارَ قَاذِفًا فَيُلَاعِنُ

ژباړه:- اوچا ﴿زيد﴾ چې د بچي اقراراوكړلو. ﴿چه دا بكر ددې زينب نه زما ځوئې دې﴾ اوبيا ئې دهغه نفي اوكړله. ﴿چه نه دا خو زما ځوئې نه دې﴾ نودې ﴿زيد﴾ به لعان كوي. ﴿نودلته دوې [دوه] خبرې شوې. يوه د بچي د نسب ثبوت اودويمه په ښځه باندې د زنا تهمت لګول. نود بچي نسب هم دده نه ثابتيږي. ځكه چې دده د اقرارپه وجه ﴿دبچي﴾ نسب دده نه ثابت شو. ﴿چه دده ئې اقراراوكړلو﴾ اود اقرارنه روسته په انكار كاوه سره دې ﴿زيد﴾ قاذف اوګرځيدلو. ﴿ځكه چې دزينب د بطن نه كوم بچې پيدا شوې

وو.دهغه د ابنيت اوځوي توب نه ئې انكاراوكړو.اودا انكارمستلزم دى.دې خبرې لره چې دا بچې تا د بل چا سره زنا كړې ده.اوپيدا شوې دې.اودا الفاظ نه دى مګرتهمت د زنا دې.نوهركله چې زيدپه خپله ښځه زينب باندې د زنا تهمت اولګولو .نوپه داسې صورت كې﴾ لعان به كوى.

﴿وَإِنْ نَفَاهُ ثُمَّ أَقَرَّ بِهِ حُدَّ﴾ لِأَنَّهُ لَمَّا أَكْذَبَ نَفْسَهُ بَطَلَ اللِّعَانُ لِأَنَّهُ حَدٌّ ضَرُورِيٌّ صِيرَ إِلَيْهِ ضَرُورَةَ التَّكَاذُبِ، وَالْأَصْلُ فِيهِ حَدُّ الْقَذْفِ. فَإِذَا بَطَلَ التَّكَاذُبُ يُصَارُ إِلَى الْأَصْلِ،

حل اللغة: ① **اكذب**: دروغژن كول ② **التكاذب**: يوبل دروغژن كول

ژباړه:- اوكه ده ﴿زيد﴾ ددې بچې ﴿بكر﴾ نفى اوكړله. ﴿چه دا زما ځوئې نه دې.خود نفى كولونه پس﴾ بيا دده د نسب اقراراوكړو. ﴿چه آودا زما ځوئې دې﴾ نوده ته به حدقذف وركولې شى.ځكه چې ده كله دخپل ځان تكذيب اوكړو. ﴿اوتكذيب دا چې اول ئې د بچى د ابنيت نه انكاركړې وو.اودا انكار مستلزم وو.دې خبرې لره چې ده په زينب باندې د زنا الزام اولګولونوپه دغه صورت كې خولعان وو.خو چې كله ده د ولد د نسب اقراراوكړلو﴾ نولعان باطل شو. ﴿اولعان ځكه باطل شو.ځكه چه﴾ لعان خويوداسې حد دې.چه ښځه او خاوند دواړه د يوبل تكذيب كوى. ﴿خاوندپه ښځه د زنا الزام لګوى.اوښځه خاوند ته دروغژن وائى﴾ نود اړتيا په وجه لعان ته تګ كولې شى. ﴿يعنى لعان جائز شوې دې﴾ ګنى اصل خوپه دې باب كې حدقذف دې. ﴿يعنى پكاردا وه.چه ځنګه خاوند په ښځه د زنا تهمت لګولې وو.چه هغه ته حدقذف وركولې شو.خوداسې ځكه نه كيږى.چه دښځې داړخه دده د قول تكذيب كولې شى.خوچه كله خاوند د بچى د ابنيت اقرار اوكړلو . نو د ښځې او خاوند په مينځ كې چې يوبل دروغژن ګرځول وو.هغه باطل شو﴾اوهركله چې تكاذب ﴿يعنى يوبل دروغژن ګرځول﴾ باطل شو.نو اصل ته به رجوع كولې شى. ﴿چه حدقذف دې.يعنى په خاوند باندې به حدقذف جارى كولې شى﴾

﴿وَالْوَلَدُ وَلَدُهُ﴾ فِي الْوَجْهَيْنِ لِإِقْرَارِهِ بِهِ سَابِقًا أَوْ لَاحِقًا، وَاللِّعَانُ يَصِحُّ بِدُونِ قَطْعِ النَّسَبِ كَمَا يَصِحُّ بِدُونِ الْوَلَدِ

حل اللغة: ① **سابق**: وړاندې ② **لاحق**: مولښتى ،روسته ③ **قطع**: كټ كول

ژباړه:- اوبچې په دواړو صورتونوكې دده ﴿زيد﴾ ځوئې دې.ځكه چې ده ﴿زيد﴾ دهغه ﴿دنسب﴾ اقراركړې دې.كه اول وى ﴿چه اول ئې اقراركړې وى.اوبيا ئې نفى كړې وى﴾ اوكه آخر وى. ﴿چه اول ئې انكاركړې وى. او بيا ئې اقراركړې وى.اوپاتـه كه څوك دا اووائى.چه هركله د زيد نه د ولد نسب ثابت نشو.نوبيا لعان څه لره پكاردې.نوددې ځواب دا دې.چه﴾ لعان دنسب نه ختميدوباوجود هم صحيح كيږى. ﴿يعنى كه د دغه ولد د زيدنه نسب ثابت شى.نوبيا به هم لعان كولې شى.ځكه چې دنسب قطع كيدواولعان په مينځ كې څه منافات نشته.يعنى دا ضرورى نه ده.چه لعان به په هغه صورت كې كيږى.چه دقاذف نه نسب ثابت نه وى. بلكه نسب به ئې ثابت هم وى.اولعان به هم صحيح وى.اود دې لپاره نظيرشته.ګورئ نه﴾ لكه ځنګه چې د ولدنه بغير لعان صحيح كيږى. ﴿يعنى چې زيدپه خپله ښځه باندې د زنا تهمت اولګوى.اګرچه د زينب بچې نه وى پيدا شوې يا ئې اميدواره نه وى.نوبيا هم لعان كولې شى.دغه ډول په دې صورت كې هم اګرچه نسب ئې ثابت دې.خوبيا هم لعان كولې شى﴾

د ليس ((إبني ولا إبنك)) حكم

﴿وَإِنْ قَالَ لَيْسَ بِابْنِي وَلَا بِابْنِكِ فَلَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ﴾ لِأَنَّهُ أَنْكَرَ الْوِلَادَةَ وَبِهِ لَا يَصِيرُ قَاذِفًا.

ژباړه:- اوكه ده ﴿زيد﴾ اووئيل. ﴿چه داماشوم﴾ نه زماځوئې دې اونه ستا ځوئې دې.نو ﴿په دې صورت كې﴾ نه حد شته اونه لعان.ځكه چې ده ﴿زيد﴾ د ولادت ﴿يعنى ابنيت﴾ نه انكاراوكړلو. ﴿چه دا ماشوم نه زما ځوئې دې اونه ستا﴾ اوپه دې باندې دې ﴿زيد﴾ قاذف نه ګرځى. ﴿ځكه چې دا الفاظ د زنا په تهمت لګولو كې صريحى نه دى.بلكه ددې نه دا معنى هم مراد كيداې شى.چه دا ماشوم په رنګ اوشكل كې نه زما ځوئې دې اونه ستا .يا دې په خوئې خصلت كې نه زما ځوئې دې اونه ستا .نوهركله چې د

تهمت الفاظ صريحي نشول.اود زنا نه علاوه د نورو معانيواحتمال په كي هم وجود وو.نوځكه په دې الفاظو سره نه لعان واجبيږي.اونه حد﴾

په بال بچه داره ښځه چې خاوندئې معلوم نه وي.دزنا تهمت لګول

﴿وَمَنْ قَذَفَ امْرَأَةً وَمَعَهَا أَوْلَادٌ لَمْ يُعْرَفْ لَهُمْ أَبٌ أَوْ قَذَفَ الْمُلَاعَنَةَ بِوَلَدٍ وَالْوَلَدُ حَيٌّ أَوْ قَذَفَهَا بَعْدَ مَوْتِ الْوَلَدِ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ﴾

ژباړه:- اوچا ﴿زيد﴾ چې تهمت د زنا اولګولو په يوه ښځه ﴿زينب﴾ باندې.اوددې بچي وي. ﴿خوداسې بچي﴾ چې د هغوی پلار نه وي معلوم.اويا په ملاعنه ښځه باندې چې د بچي په اړه کې ﴿د ښځې او خاوند په مينځ کې﴾ لعان واقع شوې وي ﴿يعنی چې ددې نه وړاندې دغه ښځه ﴿خالده﴾ د بکرپه نکاح کې وي.اوهغه پرې د زنا تهمت لګولې وي.اودهغې په وجه د دغه دواړو په مينځ کې لعان واقع شوې وي.اوزيد راولګی.په دغه خالدې باندې د زنا تهمت اولګوی﴾ اودغه ماشوم ژوندي وي.اويا د بچي دمرګ نه روسته پرې د زنا تهمت اولګوی. ﴿يعنی چې دکوم ماشوم په وجه د زيداوخالدې په مينځ کې لعان واقع شوې وي.هغه ماشوم مړشوې وي.اوددې نه روسته په خالدې باندې د زنا تهمت اولګی﴾ نوپه قاذف باندې حد نشته.

﴿لِقِيَامِ أَمَارَةِ الزِّنَا مِنْهَا وَهِيَ وِلَادَةُ وَلَدٍ لَا أَبَ لَهُ فَفَاتَتِ الْعِفَّةُ نَظَرًا إِلَيْهَا وَهِيَ شَرْطُ الْإِحْصَانِ﴾

حل اللغة: ① **الامارة**:ښنبۀ ،نښانی ② **العفة**:پاکدامنی ③ **الاحصان**:د واده کړی سړی صفت دې يعنی چې حوث واده کړې وي هغه ته محصن وائی او دې صفت ته احصان وائی.

ژباړه:- ﴿په قاذف باندې حدقذف ځکه نه جاري کيږی.چه﴾ د زنا ښنبانه موجود ده.اودغه ښنبانه دا ده.چه بچي شته اوپلار ئې معلوم نه دې. ﴿اوهرکله چې دا صورت حال دې.نود ښځې﴾ پاکدامنی ختمه شوه.اودا ﴿پاکدامنی﴾ د احصان لپاره شرط دې. ﴿يعنی په قاذف باندې به هله حدقذف جاري کولې شی.چه دې په محصنه ښځه باندې د زنا الزام اولګوی.اوپه زيربحث صورت کې چونکه پاکدامنی نشته.نواحصان ثابت نشو.اوچه احصان ثابت نشو.نود قذف لګولوشرط موجود نشو.چه په محصنه ښځه باندې دزنا الزام لګول دي﴾

﴿وَلَوْ قَذَفَ امْرَأَةً لَاعَنَتْ بِغَيْرِ وَلَدٍ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ﴾ لِانْعِدَامِ أَمَارَةِ الزِّنَا.

ژباړه:- اوکه په داسې ښځه باندې د زنا الزام اولګوی.چه بغيرد بچي نه هغې لعان کړی وي. ﴿يعنی په هغې باندې خپل خاوند د زنا تهمت لګولې وي.حالانکه نه دهغې حمل وي.اونه ئې بچي وي.اودهغې په نتيجه کې د دغه ښځې او خاوند په مينځ کې لعان واقع شوې وي.اوس دا کس راولګی.په دغه ښځه ملاعنه ښځه باندې د زنا تهمت اولګوی﴾ نوپه دې قاذف باندې حد قذف دې.ځکه چې د زنا څه ښنبانه نشته. ﴿چه دهغې نه دا معلومه شی.چه واقعی دې ښځې زنا کړې ده.اوهرکله چې د زنا څه علامه او ښنبانه نشته.نودا ښځه محصنه شوه.اوپه محصنه باندې د زنا تهمت لګول موجب دحد قذف دی﴾

د پردي ملك کې وطی کونکی باندې د زنا تهمت لګولوحکم

قَالَ ﴿وَمَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا فِي غَيْرِ مِلْكِهِ لَمْ يُحَدَّ قَاذِفُهُ﴾ لِفَوَاتِ الْعِفَّةِ وَهِيَ شَرْطُ الْإِحْصَانِ، وَلِأَنَّ الْقَاذِفَ صَادِقٌ،

ژباړه:- اوڅوك چې وطی اوکړی.داسې وطی چې هغه حرامه وي.چه دده په ملك کې نه وي. ﴿يعنی نه دده په ملك نکاح کښې وي.اونه ئې په ملك يمين کې وي.اويوکس راولړی.ددې وطی په وجه په ده باندې د زنا تهمت اولګوی﴾نودده قاذف ته به حدنشی ورکولې.د پاکدامنئ د نشتوالی د وجې.ځکه چې عفت د احصان د شرائط ځنی دی. ﴿يعنی په زيربحث مسئله کې چونکه مقذوف په غيرملك کې وطی کړې ده.اوپه غيرملك کې وطی کول حرام وي.نودا زنا شوه.اودې زناکارشو.نوچه چا په ده باندې د زنا تهمت اولګولو.هغه باندې به حدقذف نشی جاري کولې.ځکه چې دقذف لګولو لپاره دا شرط دې.چه مقذوف محصن وي.اوپه دې صورت کې دې محصن نه دې.نوحدقذف به هم نشی لګولې.او دوهم دليل دا دې.چه په قاذف

باندې په هغه صورت كښې حدقذف جاري كولې شي.چه هغه په دغه الزام لګولوكې دروغژن وي.اوپه دې صورت كې﴾ قاذف ربنتوني دې. ﴿نوځكه پرې حدقذف نشي جاري كولې﴾

وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ مَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا لِعَيْنِهِ لَا يَجِبُ الْحَدُّ بِقَذْفِهِ لِأَنَّ الزِّنَا هُوَ الْوَطْءُ الْمُحَرَّمُ لِعَيْنِهِ، وَإِنْ كَانَ مُحَرَّمًا لِغَيْرِهِ يُحَدُّ لِأَنَّهُ لَيْسَ بِزِنَا

ژباړه:- اوپه دې باب كې اصل ﴿اوقاعده﴾ دا ده.چه كوم كس داسې حرامه وطی اوكړله.چه هغه حرامه لعينه وي.نودهغې په قذف باندې حد نه جاري كيږي. ﴿يعنی كه څوك پرې ددغه وطی په وجه د زنا تهمت اولګوي.نودغه قاذف ته به حدقذف نشي وركولې﴾ ځكه چې زنا داسې وطی ده.چه حرام لعينه ده. ﴿يعنی چې د كومې وطی حرمت په ذاتي طور موجود وي.د څه عارض د امله حرمت نه وي راغلې﴾ اوكه ﴿دغه وطی﴾ حرامه لغيره وي. ﴿يعنی داصل په اعتبارسره خو دغه وطی جائز وي.خود يوعارض اومانع د امله حرامه ګرځيدلې وي.لكه په حالت د حيض كې خپلې ښځې سره وطی كول﴾ نو ﴿په دې صورت كې كه يوكس ددغه حرامه لغيره وطی په وجه په ده د زنا الزام اولګولو.هغه قاذف شو.نو﴾ هغه ته به حد ﴿قذف﴾ لګولې شي.ځكه چې دا ﴿وطی حرامه لغيره﴾ زنا نه ده.

فَالْوَطْءُ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ أَوْ مِنْ وَجْهٍ حَرَامٌ لِعَيْنِهِ وَكَذَا الْوَطْءُ فِي الْمِلْكِ، وَالْحُرْمَةُ مُؤَبَّدَةٌ، فَإِنْ كَانَتْ الْحُرْمَةُ مُؤَقَّتَةً فَالْحُرْمَةُ لِغَيْرِهِ،

حل اللغة: ① **مؤبدة** تاييد كونكې، ② **مؤقتة** وختي، ديو وخته پورې

ژباړه:- نو د داسې ښځې سره وطی كول چې هغه په هراعتبارسره دده ﴿زيد﴾ په ملك كې نه وي. ﴿يعنی نه د زيد په ملك نكاح كې وي.اونه په ملك يمين كې وي﴾ اوپه يواعتبارسره د ده په ملك كې نه وي. ﴿لكه چې زيد مشتركې وينځې سره وطی اوكړې.نودا وطی اګرچه په يواعتبارسره په خپل ملك كې ده.خوچه د بل شريك برخه په كې ده.نوپه دغه اعتبارسره دزيد په ملك كې نه ده.نوثابته شوه.چه دا وطی ،،من وجه،، په غيرملك كې ده﴾ نو ﴿په دې دواړو صورتونوكې كه من كل وجه په غيرملك كې وي.اوكه من وجه په غيرملك كې وي﴾ دا وطی حرام لعينه ده.اودغه رنګ ﴿داهم وطی هم حرامه لعينه ده.چه﴾ وطی په ملك كې اوكړې. ﴿مثلاً يا د زيد ښځه وي.يا نې وينځه وي﴾ اوحرمت موبده موجود وي. ﴿يعنی زيد د داسې ښځې سره وطی اوكړې.چه هغه د ده په ملك نكاح كې وي.يا په ملك يمين كې وي.ليكن د هغې او دده په مينځ كې داسې رشته وي.چه دزيد لپاره هغې سره نكاح نه حلاليږي. مثلاً كه زيد د خپلې رضاعي خور سره نكاح اوكړله.اوبيا ورسره وطی اوكړې.نواګرچه ملك نكاح موجود دې. خودغه ښځه دده لپاره حلاله نه ده.يا دا چې زيد داسې وينځه واخلي.چه هغې سره د زيد پلار وطی كړې وي.نودلته اګرچه ملك يمين موجود دې.خوحرمت هم موجود دې.ځكه چې د پلارد موطوءه سره وطی كول حرام دي. لنډيز دا شوه.چه د حرمت لعينه درې صورتونه دي.① چه وطی من كل وجه په غيرملك كې وي.② چه وطی من وجه په غيرملك كې وي③چه وطی په ملك نكاح يا ملك يمين كې وي.ليكن حرمت نكاح موجود وي﴾

موطوءة وَأَبُو حَنِيفَةَ يَشْتَرِطُ أَنْ تَكُونَ الْحُرْمَةُ الْمُؤَبَّدَةُ ثَابِتَةً بِالْإِجْمَاعِ، أَوْ بِالْحَدِيثِ الْمَشْهُورِ لِتَكُونَ ثَابِتَةً مِنْ غَيْرِ تَرَدُّدٍ (وَبَيَانُهُ أَنَّ مَنْ قَذَفَ رَجُلًا وَطِئَ جَارِيَةً مُشْتَرَكَةً بَيْنَهُ وَبَيْنَ آخَرَ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ) لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ مِنْ وَجْهٍ

ژباړه - اودامام ابوحنيفه رحمه الله د حرمت مؤبده لپاره دا شرط كوي.چه ددې حرمت په اجماع يا حديث مشهور سره ثابت وي. ﴿نوكه حرمت مؤبده په اجماع يا حديث مشهورسره ثابت نه وي.په دغه صورت كې كه وطی مؤبده سره حرامه ده.اوددې حرمت ثبوت په حديث مشهور سره شوې دې.اود ثبوت لپاره اجماع يا حديث مشهور ددې امله شرط كړې شو.چه﴾ ددې حرمت ثبوت بغيرد څه شك نه اوشي.اوددې بيان ﴿چه وطی په داسې ملك كې اوكړې.چه من وجه د ده په ملك كې نه وي.دا دې.چه﴾ څوك په داسې سړي باندې د زنا

تهمت اولګوی.چه هغه یوه مشترکه وینځه وطی کړې وی.چه دده اودبل کس په مینځ کښې په شریکه وی.نوپه دې قاذف باندې حد نشته.ځکه چې من وجه پرې دده ملك نشته. «نودقاذف خبره په یوحیثیت سره صحیح شوه.هغه دا چې ده د خپل شریکوال وینځه وطی کړې ده.اګرچه دده خپل ملکیت پرې هم وو»

په حالت دکفرکې زنانه باندې د زنا تهمت لګونکې حکم

(وَكَذَا إِذَا قَذَفَ امْرَأَةً زَنَتْ فِي نَصْرَانِيَّتِهَا) لِتَحَقُّقِ الزِّنَا مِنْهَا شَرْعًا لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ وَلِهَذَا وَجَبَ عَلَيْهَا الْحَدُّ.

ژباړه:- اودغه ډول «حکم دی» کله چې تهمت د زنا اولګوی په یوه ښځه چې هغې زنا کړې وی.په حالت د نصرانیت کې «نوپه قاذف به حدقذف نشی جاری کولې» د امله د تحقق «اوثبوت» د زنا ددې «نصرانیه ښځې» نه،شرعاً «یعنی د شریعت په رڼا کې دا زنا ده.اګرچه ددې فعل صدور د کافر نه شوې وی.اوزنا ځکه ده. چه» ملك «نکاح اوملك رقبه» نشته. «اوددې امله « چې دا زنا ده» په دې «نصرانیه ښځې» باندې حد «زنا» واجبیږی. «که شرائط د ثبوت زنا برابر وو»

(وَلَوْ قَذَفَ رَجُلًا أَتَى أَمَتَهُ وَهِيَ مَجُوسِيَّةٌ أَوِ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ أَوْ مُكَاتَبَةً لَهُ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ) لِأَنَّ الْحُرْمَةَ مَعَ قِيَامِ الْمِلْكِ وَهِيَ مُؤَقَّتَةٌ فَكَانَتِ الْحُرْمَةُ لِغَيْرِهِ فَلَمْ يَكُنْ زِنًا.(¹)

ژباړه:- اوکه «زید» تهمت د زنا اولګولو په یوکس باندې.او هغه خپلې وینځې سره وطی کړې وه.او هغه مجوسیه وه.یا ئې خپلې ښځې سره وطی کړې وه.اوهغه حائضه وه.اویا دده مکاتبه وه. «نوپه دې درې واړو صورتونوکې» په ده «قاذف» باندې حد «قذف» دې.ځکه چې «په دې درې واړو صورتونوکې» حرمت «د وطی» سره دقیام د ملك نه دې. «په اول صورت کې په خپله وینځه باندې ملك رقبی دې.اوپه دوهم صورت کې په خپله ښځه باندې ملك نکاحی دې.اوپه دریم صورت کې ملك رقبی دې.اګرچه فی الحال دکتابت دمعاهدې په وجه پرې د مولی کامل تصرف نشته.خود ملك نه بهر هم نه ده.ځکه چې کتابت داسې آزادئ نه وائی.چه د تصرف په اعتبارسره دستی ثابتیږی.یعنی مکاتب به د بیع اوشراء وغیره اختیارمند وی.اود ذات په اعتبار سره دده آزادی په آخره کې ثابتیږی.چه کله بدل کتابت ادا کړی» اودا حرمت وختی دې. «دائمی اوهمیشه لپاره نه دې» نودا حرمت لغیره شو. «اوپه حرمت لغیره کې قانون دا دې.که زید په بکرباندې د داسې وطی په وجه تهمت د زنا اولګولو.چه هغه وطی حرامه لغیره وه.نوپه قاذف باندې به حد جاری کولې شی.نوپه دې صورتونو کې به هم په قاذف باندې حدقذف جاری کولې شی» نوزنا نشوه «ځکه چې حرمت لعینه نه دې»

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ وَطْءَ الْمُكَاتَبَةِ يُسْقِطُ الْإِحْصَانَ، وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ لِأَنَّ الْمِلْكَ زَائِلٌ فِي حَقِّ الْوَطْءِ وَلِهَذَا يَلْزَمُهُ الْعُقْرُ بِالْوَطْءِ،

حل اللغة: ① **يسقط**:ساقطوی ② **زائل**:ختمونکې ③ **العقر**:مهر

ژباړه:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې.چه د وطی د مکاتبې ساقط کوی احصان «یعنی که یوکس د خپلې مکاتبې وینځې سره وطی اوکړله.نودغه واطی محصن پاتې نشو.» اودا قول «چه دې محصن پاتې نشو» دامام زفر رحمه الله هم دې. «اومحصن ځکه پاتې نشو.چه په مکاتبې باندې» ملك «رقبی» زائله شوې دې. په حق د وطی کې «یعنی مولی دخپلې مکاتبې وینځې سره وطی نشی کولې.بلکه وطی ورسره حرامه ده» او د دې امله «چه په حق د مولی کې حق د وطی زائله شوې دې» لازمیږی په ده «مولی» باندې تاوان په وطی کاوه سره «که مولی دخپلې مکاتبې وینځې سره وطی اوکړه.نومولی به دغې مکاتبې ته بطور تاوان څه پیسې ورکوی.اوهرکله چې دا ثابته شوه.چه د کتابت دمعاهدې نه روسته د مولی د

¹) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى الخانية (٤١٢\٤) وفتح القدير(١٠٦\٥) والعناية (١٠٦\٥) والدر المختار (١٩٢\٣)نقلاً عن القول الراجح (٤٥٥\١)_

مكاتبې وينځې نه حق وطی زائله شوې دې.نودا زنا شوه.اوچه زنا شوه.نوبه هغه كس به حدقذف نشي لګولې.چه د مكاتبې سره د وطی كاوه په وجه ئې په مولی باندې د زنا تهمت لګولې وی﴾

﴿وَنَحْنُ نَقُولُ مِلْكُ الذَّاتِ بَاقٍ وَالْحُرْمَةُ لِغَيْرِهِ إِذْ هِيَ مُؤَقَّتَةٌ﴾

ژباړه:- اومونږ ﴿جمهوراحناف﴾ رحمهم الله وايو.چه په ذات ﴿د مكاتبې باندې﴾ ملك پاتې دې.اوحرمت لغيره دې. ﴿او لغيره ځكه دې.چه﴾ دا حرمت وختي دې. ﴿ځكه چې دا ممكنه ده.چه دا مكاتبه د بدل كتابت ادا كولونه عاجزه شي.نوواپس به وينځه شي.اوهركله چې دا ثابته شوه.چه د مكاتبې وينځې سره وطی كول حرام لغيره ده.نودده په قاذف به حد قذف جاري كولې شي﴾

د هغه وينځې سره د وطی كولوقذف لګول چې هغه دواطی رضاعي خور وي

﴿وَلَوْ قَذَفَ رَجُلًا وَطِئَ أَمَتَهُ وَهِيَ أُخْتُهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ لَا يُحَدُّ﴾ لِأَنَّ الْحُرْمَةَ مُؤَبَّدَةٌ وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ

ژباړه:- اوكه په داسې سړي باندې ئې تهمت د زنا اولګولو.چه هغه دخپلې وينځې سره وطی كړې وی. اوهغه دده رضاعي خوروی.نو ﴿په دې صورت كې به دغه قاذف ته﴾ حد نشي وركولې.ځكه چې حرمت مؤبده دې. ﴿يعنی دغه وينځه چې رضاعي خورده.په مولی باندې هميشه لپاره حرامه ده.ځكه چې نبی ﷺ فرمائيلی دی.په رضاع باندې هغه څوك حراميږی.كوم چې په نسب حرام وی﴾ اودا قول ﴿چه دده په قاذف حدنشي جاري كولې﴾ صحيح دې.

د بدل كتابت نه په عاجز كس باندې د زنا تهمت لګولوحكم

﴿وَلَوْ قَذَفَ مُكَاتَبًا مَاتَ وَتَرَكَ وَفَاءً لَا حَدَّ عَلَيْهِ﴾ لِتَمَكُّنِ الشُّبْهَةِ فِي الْحُرِّيَّةِ لِمَكَانِ اخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ.

حل اللغة: ① الوفاء د بدل ادا كولو په اندازه مال ② تمكن پيدا كيدل

ژباړه:- اوكه يوكس د زنا تهمت اولګولوپه داسې مكاتب چې مړ شي.اود بدل ادا كاوه په اندازه مال ئې پريښولې (پريخودې) وی.په دغه قاذف باندې حد نشته.په حريت كې د شبه د وجود د وجې. ﴿يعنی دده په آزادئ كې شبه پيدا شوه.چه دا پاتې پيسې ده پريښولې (پريخودې) دی.آيا دده د مرګ نه روسته دا به په بدل كتابت كې مولی ته وركولې شي.اوكه نه د ده د مرګ نه روسته دغه مال دده مولی ته رسی.﴾ اوځكه چې صحابو ﷺ په دې كې اختلاف كړې دې. ﴿چه دغه مكاتب چې دمرګ په وخت كې دومره تركه پريږدی.چه په هغې باندې دده بدل كتابت ادا كيداې شي.كه دې غلام دې اوكه آزاد دې.نوپه دې مسئله كې د حضرت علي اوعبدالله بن مسعود ﷺ قول دا دې.چه دې آزاد مړ شو.اودزيد بن ثابت ﷺ قول دې.چه غلام مړ شو﴾

په حالت مجوسيت كې دخپلې مورسره نكاح كولوباندې تهمت لګولوحكم

﴿وَلَوْ قَذَفَ مَجُوسِيًّا تَزَوَّجَ بِأُمِّهِ ثُمَّ أَسْلَمَ يُحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَا: لَا حَدَّ عَلَيْهِ﴾

ژباړه:- اوكه يوكس تهمت د زنا اولګولوپه مجوسي باندې ﴿چه په حالت د مجوسيت كې ئې﴾ د خپلې مور سره نكاح كړې وه.اوبيا ئې اسلام راوړلو. ﴿اوقاذف دا بيان اوكړی.چه ده دخپلې مور سره زنا كړې ده﴾ نوپه دې ﴿قاذف﴾ باندې به دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزحد ﴿قذف﴾ جاري كولې شي.اوصاحبين رحمهما الله فرمائی.چه په ده ﴿قاذف﴾ باندې حد نشته.

﴿وَهَذَا بِنَاءً عَلَى أَنَّ تَزَوُّجَ الْمَجُوسِيِّ بِالْمَحَارِمِ لَهُ حُكْمُ الصِّحَّةِ فِيمَا بَيْنَهُمْ عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا. وَقَدْ مَرَّ فِي النِّكَاحِ.﴾

ژباړه:- اودا ﴿زيربحث﴾ اختلاف په دې اختلاف مبنی دې.چه د مجوسيانو په خپل مينځ كې د محارمو سره نكاح كول دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزصحيح ده. ﴿يعنی كه مجوسی راولګی.دخپلې محرمې سره يعنی خور يا لور وغيره سره نكاح اوكړی.نوچونكه دهغوی په نيزد محارمو سره نكاح جائزده.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدغه نكاح صحيح ده﴾ خلاف ثابت ﴿په دې مسئله كې﴾ د صاحبينو رحمهما الله ﴿ځكه چې دهغوی په نيزلكه څنګه چې د محارمو سره نكاح په مسلمانانوكې ناجائز اوصحيح نه ده.نودغه ډول به په مجوسيانوكې هم صحيح نه وی.اګرچه دهغوی په عقيده كې دا نكاح جائز وی.﴾ اودا مسئله په كتاب

النكاح كې تيره شوې ده. ﴿نو لنډيز دا شوه.چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد مجوسى دخپلې مور سره نكاح كول صحيح دى.نوكه يوكس په دغه مجوسى د زنا الزام اولګوى.دې دروغژن دې.نوحد قذف به پرې جارى كيږى.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزچونكه د مجوسى د خپلې مور سره نكاح صحيح نه ده.نوهغې سره وطى كول زنا شوه.نواوس چې يوكس په ده د زنا تهمت اولګولو.هغه ته به حد قذف نشى وركولې.ځكه چې د شريعت په اصطلاح كې هغه زناكاردې.اوپه زناكاربانديې تهمت د زنا موجب د حدقذف نه دې﴾

د حربى په دارالاسلام كې په مسلمان تهمت د زنا لګول

(وَإِذَادَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَابِأَمَانٍ فَقَذَفَ مُسْلِمًا حُدَّ) لِأَنَّ فِيهِ حَقَّ الْعَبْدِ وَقَدْ الْتَزَمَ إِيفَاءَ حُقُوقِ الْعِبَادِ

حل اللغة: ① التزم: لازم كړې دې ② ايفاء: تمام (پوره) كول

ژباړه:- اوكله چې حربى ﴿هغه كافرچه دهغوى اومسلمانانو په مينځ كې فى الحال جنګ پيل وى﴾ زموږ دارالاسلام ته په امان سره داخل شى. ﴿چه داسلامى حاكم نه دخپل ځان اومال د ساتنه امان واخلى.خوچه كله داخل شى.نوپه دغه مهال كې داسې اوشى.چه﴾ په مسلمان تهمت د زنا اولګوى.ده ته به حد ﴿قذف﴾ وركولې شى.ځكه چې په دې ﴿حدقذف﴾ كې دبنده حق دې.اوده ﴿په ځان باندې د داخليدواو امان غوستلو په وخت كې﴾ دبندګانو دحقوقو پوره كول لازم كړى دى. ﴿چه زه به په دارالاسلام كې د چا حق نه خورم﴾

(وَلِأَنَّهُ طَمِعَ فِي أَنْ لَا يُؤْذِيَ فَيَكُونَ مُلْتَزِمًا أَنْ لَا يُؤْذِيَ وَمُوجِبُ أَذَاهُ الْحَدُّ

حل اللغة: ① طمع: اميد او درلودى ② يؤذى: تكليف رسوى

ژباړه:- اوبله دا چې ﴿دې دارالاسلام ته داخليدلو.نو﴾ ده دا اميد ساتلو.چه ده ته به ﴿په دارالاسلام كې﴾ تكليف نشى وركولې.نودې ﴿په دې خپله معاهده اودغه ډول خپل ځان په امن كنټرلوسره په خپل ځان﴾ لازمونكې دې .چه تكليف به نه رسوى ﴿بل چاته﴾ چې هغه دده د تكليف رسولو سبب شى. ﴿يعنى دې به بل چاته داسې تكليف نه رسوى.چه دهغې په وجه بيا ده ته سزا ملاوېږى.اوپه دې صورت كې چې ده په مسلمان باندې تهمت د زنا اولګولو.نوبل ته ئې داسې تكليف اورسولو.چه په اسلامى معاشره كې كه مسلمان داسې تكليف چاته اورسوى.يعنى د زنا تهمت پرې اولګوى.نوپه هغه حدقذف جارى كولې شى.نودغه ډول به په ده باندې هم حدجارى كولې شى﴾

د محدود فى القذف د ګواهۍ بحث

(وَإِذَاحُدَّ الْمُسْلِمُ فِي قَذْفٍ سَقَطَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ تَابَ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُقْبَلُ إِذَا تَابَ وَهِيَ تُعْرَفُ فِي الشَّهَادَاتِ

ژباړه:- اوكله چې حد وركړې شى.مسلمان ته په قذف كې ﴿چه په چا باندې ئې دزنا تهمت لګولې وى.اوهغه زنا ثابته نشى.اوده ته دهغې په سزا كې اتيا كوړې وركړې شى﴾ نودده شهادت ساقط شو. ﴿يعنى ددې نه روسته به په باب الشهادة كې دده ګواهى نشى قبلولې﴾ اګرچه توبه اوباسى. ﴿چه بيا به په پاكدامن اوبې ګناه كس باندې د زنا تهمت نه لګوم﴾ اوامام شافعى رحمه الله فرمائى.چه شهادت به ئې قبلولې شى.چه توبه اوباسى.اودا مسئله به په باب الشهادات كې اوپيژندې شى. ﴿هلته به بيا پوره تفصيل انشاء الله بيانولې شى﴾

تشريح:- اګرچه ددې مسئلې اصل ځائې كتاب الشهادات دې.خوشارحينو رحمهم الله دلته هم مختصراً بيان كړې ده.ځكه ددې بيان كولې شى. مسئله دا ده.كه په يوكس باندې حدقذف جارى شى.نودا كس كه توبه اوباسى بياهم دده شهادت به نشى قبلولې.اوامام شافعى رحمه الله فرمائى.چه د توبې نه روسته به ئې شهادت قبلولې شى. د امام شافعى رحمه الله دليل دالله تعالى دا ارشاد دې.چه [وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا] يعنى چې په چا باندې حد قذف جارى شى.تاسوكله هم ددوى ګواهى مه قبلوئ.اوهم دغه نفر فاسقان دى.خوددې نه روسته الله تعالى فرمائى[إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا] مګردا چې دوى توبه اوباسى.اوس امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه دا استثناء د [وَلَا تَقْبَلُوا

لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا] نه ده.یعنی که توبه اوباسي.نوبیا نې ګواهي قبلوئ.اوهم دا آیت داحنافو رحمهم الله هم مستدل دي.خودوی په بله طریقه په آیت استدلال کوي.فرمائي.چه دا د فسق نه استثناء ده.یعني که توبه اوباسي.نوبیا دوی فاسقان نه دي.اودامام شافعي رحمه الله داستدلال نه ځواب دا دې.چه دلته استثناء د کلام متصل نه ده.چه [وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ] دي. او امام شافعي رحمه الله چې دکوم حکم نه استثناء کوي.نوهغه کلام غیرمتصل دې.د کلمه استثناء سره،چه [وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا]دي.نواستثناء د کلام متصل نه غوره ده په نسبت سره هغه استثناء ته.چه هغه د کلام سره متصله نه وي.

دکافر محدود في القذف ګواهي د کافر ذمي دپاره

(وَإِذَا حُدَّ الْكَافِرُ فِي قَذْفٍ لَمْ تَجُزْ شَهَادَتُهُ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ) لِأَنَّ لَهُ الشَّهَادَةَ عَلَى جِنْسِهِ فَتُرَدُّ تَتِمَّةً لِحَدِّهِ

حل اللغة: ① **ترد**:واپس کولې شي ② **تتمة**:تمام (پوره) والي

زباړه:- اوکله کافرته په تهمت لګولوکې حد ورکړې شي. «چه په چا نې د زنا تهمت لګولې وي.اوحدپرې جاري شي» نودده ګواهي په ذمیانوباندې جائز نه ده.اګرچه دده لپاره په خپل هم جنس «یعنی نورو کافرانو» باندې دګواهئ اهلیت شته. «مثلاً که دا کافر دبل کافرخلاف ګواهي ورکړي.نوهغه به قبوله وي.خوچه محدود فی القذف وي.نوبه ذمیانوبه دده ګواهي نه قبلیږي.بلکه» د حد قذف دتکمیل لپاره به دده ګواهي رد کیږي. «ځکه چې په حد قذف کې دوې [دوه] سزا ګانې دي.یواتیا کوړې اوبل د شهادت رد کیدل.نوحد قذف به هله پوره په پوره واخستې شي.چه دده شهادت هم نه قبلیږي»

(فَإِنْ أَسْلَمَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ عَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمُسْلِمِينَ) لِأَنَّ هَذِهِ شَهَادَةٌ اسْتَفَادَهَا بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَلَمْ تَدْخُلْ تَحْتَ الرَّدِّ

حل اللغة: ① **استفاد**:حاصل کړې دي

زباړه:- اوکه ده «کافر» اسلام قبول کړلو. «نوداسلام قبلولونه پس» دده ګواهي به په ذمیانو او مسلمانانو «ټولو» باندې قبلیږي. «اودګواهئ دا قبلیدل ددې وجه دی.چه» دا د شهادت یونوې اهلیت «اوسرټیفکیت» دې.چه د اسلام نه روسته ده حاصل کړلو.نودا «نوې شهادت» په رد شوې شهادت کې رانغلو. «بلکه که داسلام نه روسته دې ګواهي ورکوي.نودده شهادت به مقبول وي»

بِخِلَافِ الْعَبْدِ إِذَا حُدَّ حَدَّ الْقَذْفِ ثُمَّ أُعْتِقَ حَيْثُ لَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ لِأَنَّهُ لَا شَهَادَةَ لَهُ أَصْلًا فِي حَالِ الرِّقِّ فَكَانَ رَدُّ شَهَادَتِهِ بَعْدَ الْعِتْقِ مِنْ تَمَامِ حَدِّهِ.

حل اللغة: ① **الرق**:غلامي ② **العتق**:آزادي

زباړه:- په خلاف دغلام «یعني کله چې غلام په چا باندې د زنا تهمت اولګوي.اود زنا شرائط برابرنکړي. نو» کله چې ده ته حدقذف اولګي.اودهغې نه روسته آزاد شي.نو «دآزادئ نه روسته هم» دده شهادت نه قبلیږي. ځکه چې دغلامئ په حالت کې مطلقاً په ده کې د ګواهئ اهلیت نه وو. «نه د اصیل خلاف دده ګواهي قبلیده اونه د غلام دغه ډول نه د مسلمان خلاف اونه دکافرخلاف.اودکافرخو د محدود یت في القذف نه وړاندې په خپلو کافروباندې د ګواهئ اهلیت وو.نوځکه د اسلام نه روسته هغه ته یونوې اهلیت ملاؤ شو» نود آزادئ نه روسته به هم د حد دتکمیل په غرض دده ګواهي نشي قبلولې. «بلکه وړاندې چې تیرشو.چه د قذف دوې [دوه] سزاګانې دي.یو کوړې خوړل اوبل ناقابل شهادت ګرځیدل»

د کافرد یوې درې خوړلو نه روسته اسلام قبلول

(فَإِنْ ضُرِبَ سَوْطًا فِي قَذْفٍ ثُمَّ أَسْلَمَ ثُمَّ ضُرِبَ مَا بَقِيَ جَازَتْ شَهَادَتُهُ) لِأَنَّ رَدَّ الشَّهَادَةِ مُتَمِّمٌ لِلْحَدِّ فَيَكُونُ صِفَةً لَهُ وَالْمُقَامُ بَعْدَ الْإِسْلَامِ بَعْضُ الْحَدِّ فَلَا يَكُونُ رَدُّ الشَّهَادَةِ صِفَةً لَهُ. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ تُرَدُّ شَهَادَتُهُ إِذَا الْأَقَلُّ تَابِعٌ لِلْأَكْثَرِ، وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ

حل اللغة: ① **سوط**:کوړه ② **الاقل**:کم

﴿يعني كافر﴾ په حد قذف کي .اوبيا ﴿د يوې کوړې خوړلو نه روسته ئې﴾

ژباړه:- كه اووهلې شو دې ورته پاته کوړي ورکړې شوې.نودده شهادت به جائز وی.ځکه چې دده ګواهی رد کول اسلام قبول کړلو.اوبيا ورته پاته کوړي ورکړې شوې.نودده شهادت به جائز وی.او ﴿په زيربحث مسئله کي﴾ داسلام نه دده دحد پوره والې وو.نودا ﴿ردكول دشهادت﴾ به حد صفت وی.او ﴿بلكه بعضې حدجاری شوې دې.يعنی يوه کوړه په کي کمه ده﴾ نو رد روسته پوره حد نه دې جاری شوې. ﴿ځکه چې رد د شهادت په هغه صورت کي د حد صفت ګرځي.چه پوره د شهادت ددې صفت نشی کيدې. اوپه دې صورت کي پوره اتيا کوړې نه دی ورکړې شوې. ځکه رد اتيا کوړې په حالت داسلام کي ورکړې شی.اوپه دې صورت کي پوره اتيا کوړې نه دی ورکړې شوې. ځکه رد د شهادت ددې صفت نشو.اوچه رد د شهادت د حد صفت نشو.نوددغه کافرګواهی به قبليږی.چه يوه کوړه ورته په حالت د کفرکي اوپاتـه په حالت داسلام کي ورکړې شوې وی﴾ اوداامام ابويوسف رحمه الله نه دا روايت دې.چه دده شهادت به رد کولې شی. ﴿اودليل دا بيانوی.چه په دې ذکرشوی صورت کي زياتې کوړې په حالت داسلام کي ورکړې شوی دی.اوصرف يوه کوړه په حالت د کفرکي .نوپه حالت داسلام کي چې زياتې کوړې ورکړې شوې.دا داسې شوه.چه ټولې کوړې په حالت د اسلام کي ورکړې شوی وی.اوچه يوکس ته اتيا کوړې په حالت داسلام کي ورکړې شوی وی.نودهغه ګواهی نه قبليږی. دغه ډول به دده هم نه قبليږی. ﴿ځکه چې کم د زيات تابع وی.خواولنې قول ﴿چه دې مردود الشهادت نه ګرځي﴾ اصح دې. ﴿لندېز دا شوه.چه ددې کافرګواهی ځکه قبليږی.چه يوخوګواهی په هغه صورت کي نه قبليږی.چه په قاذف باندې پوره حد جاری شوی وی.اوپه دې صورت کي په قاذف باندې په حالت داسلام کي پوره حد نه دې جاری شوې.اوبل دليل دا هم دې.چه په کافرباندې حدقذف جاری شی.اوبيا دې مسلمان شی.نود ده شهادت قبليږی.نوکوم کس چې په هغه باندې په حالت د کفرکي بعضې حد جاری شوې دې.اودې بيا مسلمان شی .نودده ګواهی خوبه په طريق اولی سره قبليږی﴾

دمختلفو جرمونو سزا باندې د حد جاری کول حکم

قَالَ (وَمَنْ زَنَى أَوْشَرِبَ أَوْقَذَفَ غَيْرَمَرَّةٍ فَحُدَّ فَهُوَلِذَلِكَ كُلِّهِ) أَمَّا الْأَوَّلَانِ فَلِأَنَّ الْمَقْصِدَ مِنْ إقَامَةِ الْحَدِّ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى الِانْزِجَارُ،وَاحْتِمَالُ حُصُولِهِ بِالْأَوَّلِ قَائِمٌ فَتَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ فَوَاتِ الْمَقْصُودِ فِي الثَّانِي،

حل اللغة: ① **الانزجار:** زورنه ورکول ② **يتمكن:** پيدا کيږی ③ **فوات:** فوت کيدل

ژباړه:- صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چا چې د زنا تهمت اولګولو يا ئې زنا اوکړله ﴿اودې ناوادهٔ شوې وی﴾ يا ئې څوځله شراب اوڅکل، ﴿اودا هريو جرم ئې څو څو ځله اوکړلو.يعنی د يونه زيات ځله ئې په مسلمان د زنا تهمت اولګولو.اوبيا ئې د زنا د اثبات شرائط پوره نکړل.يا ئې د يونه زيات ځله زنا اوکړله.يا ئې د يونه زيات ځله شراب اوڅکل﴾او په ده باندې ﴿دهريوجرم دپاره﴾ حد جاری شو.نودغه حد ددغه ټولو جرمونو لپاره شو. ﴿مثلاً که دوې [دوه] ځله ئې تهمت لګولې وی.اويوحد ورکړې شی.دغه يود دواړو الزامونو لپاره کافی دې.دغه ډول زنا او شراب څښل هم واخله﴾ هرچه آخری دوه ﴿جرمونه﴾ دی. ﴿يعنی زنا او شراب څکل.نودا دواړه حقوق الله دی.او﴾ په حقوق الله کي د حد قائمولومقصد تنبيه ورکول وی. ﴿چه مجرم دده جرم دارتکاب نه منع شی.آئنده لپاره داسې حرکت نه کوی.اوس چې يوکس دوې [دوه] ځله شراب اوڅکل.اوپه ده باندې يوځل حد جاری شی. ﴿يعنی اتيا کوړې اووهلې شو﴾ دا احتمال شته.چه په اول ځل حد جاری کيدو سره دا مقصود حاصل شوې وی. ﴿يعنی ده آئنده لپاره د دې جرم نه کولوقصد کړې وی﴾ نواوس په دوهم ځل حد جاری کولوکي شبه د مقصد فوت کيدو ده. ﴿يعنی په حقوق الله کي دحد قائمولومقصد دا دې.چه مجرم د جرم نه منع شی.اوچه ده باندې يوځل حدجاری شو.نوعين ممکن ده.چه په دغه حدجاری کيدو باندې ده توبه ويستې وی.اومقصود حاصل شوې وی.اودوباره په ده باندې هم دغه حد جاری کول عبث دی.ځکه چې مقصود په اول حد سره حاصل شوې دې.نو دوهم ځل حد جاری کولوته ځه اړتيا پاتې نشو﴾

وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا زَنٰى وَقَذَفَ وَسَرَقَ وَشَرِبَ، لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنْ كُلِّ جِنْسٍ غَيْرُ الْمَقْصُوْدِ مِنَ الْآخَرِ فَلَا يَتَدَاخَلُ.

ژباړه:- اودا مسئله په خلاف دهغه صورت ده.چه «زيد» زنا اوكړي.اوقذف اوكړي.اوغلا اوكړي.اوشراب اوڅكي. «نوپه دې صورت كې چې ده مختلف الجنس جرمونه اوكړل.يوحد ددې ټولوجرمونو لپاره نه كافي كيږي.بلكه دهرجرم حد به په ده جاري كولې شي» ځكه چې په دې كې چې ديوجنس جرم حدقائمولوكې كوم مقصود دې.هغه دبل جنس حدجاري كولونه جلا دې. «يعنې په مختلفو جرمونو كې دهريوحد جاري كولوخپل مقصود وي.مثلاً د حدقذف مقصود دا دې.چه آئنده لپاره په چا د زنا تهمت نه لګوي.اودهغه پاكه لمن داغ نه لګوي.دزنا دحد نه مقصود دا دې.چه آئنده لپاره دې او نور خلګ د زنا كاوه نه منع شي.او د غلا دحد قائمولومقصود دا دې.چه آئنده لپاره دې د چا مال په ناحقه باندې نه خوري.اود شرابو دحد نه مقصود دا دې.چه د شرابو نه منع شي.نوپه دې هريوحد كې مقاصد جلا جلا دي.نوځكه به حدهم د هريو لپاره جلا جلا وركولې شي» اوتداخل به په كې نه وي. «چه ديوجرم حد د بل جرم لپاره كافي شي.لكه څنګه چې په اولنی صورت كې وو.چه د جرم جنس يو وو»

وَأَمَّا الْقَذْفُ فَالْمُغَلَّبُ فِيْهِ عِنْدَنَا حَقُّ اللّٰهِ فَيَكُوْنُ مُلْحَقًا بِهِمَا. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنِ اخْتَلَفَ الْمَقْذُوْفُ أَوِ الْمَقْذُوْفُ بِهِ وَهُوَ الزِّنَا لَا يَتَدَاخَلُ، لِأَنَّ الْمُغَلَّبَ فِيْهِ حَقُّ الْعَبْدِ عِنْدَهُ.

حل اللغة: ① **ملحق:** مولښتی روسته يوځائې شوې ② **المغلب:** غالب

ژباړه:- اوپه حدقذف كې «دواړه حقوق يعنې حق الله اوحق العبد جمع شوي دي.خو» زمونږ «داحنافو» رحمهم الله په نيز حق الله غالب دې.نوحدقذف به دحقوق الله سره ملحق كولې شي. «اوكوم احكام چې دحقوق الله په حدودوكې دي.هغه به په حد قذف كې هم وي.اومن جمله ددغه احكامو نه دا هم دې.كه زيد دوي [دوه] خله د زنا تهمت لګولې وي.نوددغه دواړو ځلو لپاره يوحدقذف كافي دې.لكه څنګه چې په حد خمراوحد زنا كې يوحد كافي كيږي» اوامام شافعي رحمه الله فرمائيلي دي.كه مقذوف «په چا چې دزنا تهمت لګيدلې وي» مختلف وي. «يعنې زيد يوځل په بكرد زنا الزام اولګولو.اوبل ځل ئې په خالدباندې د زنا الزام اولګولو .نوپه دې صورت كې قاذف يودې.اومقذوف دوي [دوه] نفر دي» اويا مقذوف به چې زنا ده. «مختلف وي. يعنې په زيد په يوه موقع په خالد باندې د زنا تهمت اولګولو.اوبيا په بله موقع ئې پرې بيا دوباره د بلې زنا تهمت اولګولو.چه په فلانئ موقع دې هم زنا كړې وه.اوپه فلانئ باندې هم.يعنې مقذوف يو وي. خوتعدد دقذف راشي.» نو «په دې صورت كې يوحد» تداخل نه قبلوي. «بلكه دهرمقذوف په بدله كې اودهرځل قذف لګولوپه بدله كې به جلا جلا حد جاري كولې شي» ځكه چې دامام شافعي رحمه الله په نيز په دې «حد قذف» كې حق العبد دې. «اوددې اختلاف پوره تفصيل وړاندې تيرشوي دې»

فَصْلٌ فِي التَّعْزِيْرِ (وَمَنْ قَذَفَ عَبْدًا أَوْ أَمَةً أَوْ أُمَّ وَلَدٍ أَوْ كَافِرًا بِالزِّنَا عُزِّرَ) لِأَنَّهُ جِنَايَةُ قَذْفٍ، وَقَدِ امْتَنَعَ وُجُوْبُ الْحَدِّ لِفَقْدِ الْإِحْصَانِ فَوَجَبَ التَّعْزِيْرُ.

حل اللغة: ① **التعزير:** هغه سزا چې د قاضی په اختيار كښې وي او هغه ئې مقرر كوي د شريعت د اړخه مقرر نه وي

ژباړه:- «دا» فصل «د» تعزير «په بيان» كې دې. «يعنې دهغه سزا په بيان كې دې.كومه چې د داسې جرم په مقابله كې قاضی اوحكومت وخت مقرركړي.چه ددغه جرم لپاره په شريعت كې سزا نه وي مقرر شوې.اوكه شريعت د يوجرم لپاره سزا مقرر كړې وي.نوپه هغې كې تعزيری سزا نشی وركولې» اوچا چې په غلام،يا وينځه يا ام ولده يا كافرباندې د زنا تهمت اولګولونوده ته به تعزير وركولې شي.ځكه چې دا جنايت «فی نفسه» قذف دې. «قطع لحاظ ددې نه چې مقذوف څوك دې.اوچه قذف شو.نود قذف تقاضا دا ده.چه شرائط پوره وي.په قاذف باندې حدقذف جاري شي.اودحدقذف د جاري والی احصان شرط دې.اوپه احصان كې آزادی اواسلام ضروری دې.ځكه موږ وايو.چه» داحصان د شرط فوت كيدو د امله

دحد جاري کول ممتنع شو. «او چه حد ممتنع شو. نودې مجرم داسې پرېښول هم نه دی پکار. ځکه چې ده د جرم ارتکاب کړې دی. او مجرم ته خامخا د خپل جرم سزا ورکول پکار دی. چه په معاشره کې امن پیدا شی. نو» تعزیر واجب شو

مسلمان ته دفاسق، کافر، خبیث، غل وئیلو حکم

(وَكَذَا إِذَا قَذَفَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ الزِّنَا فَقَالَ يَا فَاسِقُ أَوْ يَا كَافِرُ أَوْ يَا خَبِيثُ أَوْ يَا سَارِقُ) لِأَنَّهُ آذَاهُ وَأَلْحَقَ الشَّيْنَ بِهِ، وَلَا مَدْخَلَ لِلْقِيَاسِ فِي الْحُدُودِ فَوَجَبَ التَّعْزِيرُ، إِلَّا أَنَّهُ يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيرِ غَايَتَهُ فِي الْجِنَايَةِ الْأُولَى لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِ مَا يَجِبُ بِهِ الْحَدُّ، وَفِي الثَّانِيَةِ: الرَّأْيُ إِلَى الْإِمَامِ

حل اللغة: ① **الشين**: عیب، ② **غاية**: آخری حد.

ژباړه:- او دغه ډول «به تعزیری سزا ورکولې شی» کله چې مسلمان باندې د زنا نه سوا بل څه الزام اولګوی. لکه ورته اووائی. ای فاسقه او یا ای کافره! یا ای پلیته یا ای غله! «نو تعزیری سزا به ورکولې شی» ځکه چې ده «زید» ورته «عمرته» تکلیف اورسولو. او په ده «عمر» پورې ئې عیب اولګولو. او د قیاس په حدودو کې څه دخل نشته. «چه موږ په ده باندې څه حد جاری کړو. ځکه چې حد به صرف په هغه جرمونو کې قائمولې شی. په کومو کې چې شریعت مقرر کړې وی. نو موږ قیاساً په ده باندې حد نشو جاری کولې. البته زید عمر ته تکلیف رسولې. نو ددې تکلیف لرې کولو د پاره» تعزیر واجب شو. خو په اول صورت کې «چه په غیر محصن باندې د زنا تهمت لګولې شوې وی. نو په هغې کې» به تعزیری سزا آخری حد ته رسی. ځکه چې دا «الزام» د جنس د هغه تهمتونو څنی دې. په کوم کښې چه حد واجبږی. «چه حد قذف دی» او په دوهم صورت کې «چه فاسق وغیره ئې ورته وئیلی وی تعزیر» د قاضی رائې باندې موقوف وی. «چه هغه څومره سزا مناسب ګڼړی. هغه دې ورته ورکړی»

دخر یا خنزیر وئیلو تعزیر

(وَلَوْ قَالَ يَا حِمَارُ أَوْ يَا خِنْزِيرُ لَمْ يُعَزَّرْ) لِأَنَّهُ مَا أَلْحَقَ الشَّيْنَ بِهِ لِلتَّيَقُّنِ بِنَفْيِهِ. وَقِيلَ فِي عُرْفِنَا يُعَزَّرُ لِأَنَّهُ يُعَدُّ شَيْنًا، وَقِيلَ إِنْ كَانَ الْمَسْبُوبُ مِنَ الْأَشْرَافِ كَالْفُقَهَاءِ وَالْعَلَوِيَّةِ يُعَزَّرُ لِأَنَّهُ يَلْحَقُهُمُ الْوَحْشَةُ بِذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ مِنَ الْعَامَّةِ لَا يُعَزَّرُ، وَهَذَا أَحْسَنُ.

حل اللغة: ① **حمار**: خر ② **اشراف**: معزز، عزتمند ③ **العلوی**: سید ④ **الوحشة**: تکلیف

ژباړه:- او که «زید عمرته» اووئیل. ای خره! یا ای خنزیره! ده «زید» ته به تعزیر نشی ورکولې. ځکه چې «چه عمر نه خر دې» ویونکی په ده باندې عیب نه دې لګولې. ځکه چې په یقین سره ددې نفی معلومه ده. «ده ته» تعزیر ورکولې شی. ځکه چې دا اونه خنزیر دې» او وئیلې شوی دی چې زموږ په عرف کې به «ده ته» تعزیر ورکولې شی. ځکه به زید ته تعزیر ورکولې کنځل شمارلې شی. «او چه کنځل شو. نو زید د عمر توهین او بې عزتی اوکړه. ځکه به زید ته تعزیر ورکولې شی» او وئیلې شوی دی. چه چا ته کنځل شوې وی. که هغه د معززینو څنی وی. لکه فقهاء او سیدان شول. نو ده «زید» ته به تعزیر ورکولې شی. ځکه چې ددې الفاظو په وجه دوی ته سخت تکلیف رسی. او که عام سړې وی. «چه ددې الفاظو په وئیلو د هغه څه خاص پرواه نه وی» نو بیا به تعزیر نشی ورکولې. او دا قول ډیره ښه دې. «ځکه چې په دې کې د ساب او مسبوب دواړو رعایت شوې دې»

دتعزیر مقدار

وَالتَّعْزِيرُ أَكْثَرُهُ تِسْعَةٌ وَثَلَاثُونَ سَوْطًا وَأَقَلُّهُ ثَلَاثُ جَلَدَاتٍ. ([1]) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيرِ خَمْسَةً وَسَبْعِينَ سَوْطًا. وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ بَلَغَ حَدًّا فِي غَيْرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنَ الْمُعْتَدِينَ} ([2])

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(۵\۱۱۵) والعناية (۵\۱۱۵) وردالمحتار(۳\۱۹۹) والبحر(۵\۴۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۵۷)-

[2]) من نعمان بن بشير أخرجه البيهقى فى السنن الكبرى ۸۵۶۷) رقم ۱۷۵۸٤ وفى معرفة السنن والآثار ۶٤۹)_

ژباړه:- اودتعزيرزيات مقدار يوكم ځلوېښت كوړې دى.اوكم مقدارئې درې كوړې دى.اوامام ابويوسف رحمه الله فرمائيلى دى.تعزيرترپنځه اويا كوړو ته رسى.اواصل ﴿دليل﴾ په دې ﴿باب﴾ كې د نبى ﷺ ارشاد دې.څوك چې حدته اورسيدلو.په داسې څيزكې چې حد نه وى. ﴿يعنى ديوكس نه څه جرم اوشو.څوهغه جرم داسې نه وى.چه شريعت پرې حدمقرر كړې وى.څوچه څوك ورته تعزير وركوى.نو دجرمونوپه حدودوكې د يوجرم حدته اورسى.مثلاً اتيا كوړې شوې.چه دشرابوحد دې﴾ نودا كس د زياتې كونكوڅنې دې.

وَإِذَا تَعَذَّرَ تَبْلِيغُهُ حَدًّا فَأَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ نَظَرَا إِلَى أَدْنَى الْحَدِّ وَهُوَ حَدُّ الْعَبْدِ فِي الْقَذْفِ فَصَرَفَاهُ إِلَيْهِ وَذَلِكَ أَرْبَعُونَ سَوْطًا فَنَقَصَا مِنْهُ سَوْطًا.

ژباړه:- اوهركله چې د تعزيرى سزا حد ته رسول ناجائز شو.نوامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله كم حد ته نظركړې دې.اوهغه په حدقذف كې دغلام حددې. ﴿چه ځلوېښت كوړې دى﴾ نودوى دا تعزيردې ﴿دغلام حدقذف﴾ ته واړوله. ﴿يعنى دتعزيرى سزا مقابله ئې د غلام د حدقذف پورې اوكړله﴾ اوهغه ځلوېښت كوړې دى.نود هغې نه ئې يوه كوړه كمه كړه. ﴿او د يوكم ځلوېښتو كوړو قول ئې اختياركړلو.چه په تعزيرى سزا كې به د يوكس ځلوېښتوكوړو نه زياتې كوړې نشى وركولې﴾

وَأَبُو يُوسُفَ اعْتَبَرَ أَقَلَّ الْحَدِّ فِي الْأَحْرَارِ إِذِ الْأَصْلُ هُوَ الْحُرِّيَّةُ ثُمَّ نَقَصَ سَوْطًا فِي رِوَايَةٍ عَنْهُ، وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَهُوَ الْقِيَاسُ، وَفِي هَذِهِ الرِّوَايَةِ نَقَصَ خَمْسَةً وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ (١) فَقَلَّدَهُ

ژباړه:- اوامام ابويوسف رحمه الله كم حد په ازادوسړوكې معتبر كړې دې. ﴿اوتعزيرى سزا مقابله ئې د ازادو د حد آخرى سزا سره كړې ده.اوهغه اتيا كوړې دى.اودوى دغلام د حد په ځائې د آزاد حد سره د تعزيرى سزا موازنه اومقابله څكه كړې ده.چه﴾ اصل خو ﴿په انسانيت كې﴾ آزادى ده. ﴿هرانسان الله تعالى آزاد پيدا كړې دې.اوغلامى چې راځى.دا خو يوعارضى څيزدې.نواعتباربه د اصل كولاى شى د عارضى نه﴾ نو يوه كوړه ئې كمه كړې ده. ﴿يعنى د تعزيرى سزا آخرى حد ئې يوكم اتيا كوړې مقرركړى دى﴾ اودا ﴿ديو كم اتيا كوړوقول﴾ دامام زفر رحمه الله قول هم دې.اودا ﴿قول﴾ قياس هم دې. ﴿څكه چې يوه كوړه كمه شى.په حديث باندې عمل راغلو.چه تعزيرى سزا دحد سزا ته اونه رسيدله﴾ اودې روايت ﴿كوم چې په متن كې ذكردې﴾ پنځه كوړې كمې كړې دى. ﴿چه د تعزيرى سزا آخرى حد پنځه اويا كوړې دى﴾ اودا روايت د حضرت على رضي الله عنه نه منقول دې. ﴿امام بغوى دابن ابى ليلى نه په شرح السنة كې هم دا ذكركړى دى﴾ نودهغوى ﴿حضرت على رضي الله عنه﴾ تقليد ئې كړې دې.

ثُمَّ قَدَّرَ الْأَدْنَى فِي الْكِتَابِ بِثَلَاثِ جَلَدَاتٍ لِأَنَّ مَا دُونَهَا لَا يَقَعُ بِهِ الزَّجْرُ، وَذَكَرَ مَشَايِخُنَا أَنَّ أَدْنَاهُ عَلَى مَا يَرَاهُ الْإِمَامُ فَيُقَدِّرُ بِقَدْرِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهُ يَنْزَجِرُ لِأَنَّهُ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ النَّاسِ.

حل اللغة: ① جلدات جمع دجلدة ده كوړه ② ينزجر زوروڼې شى صيغه د مجهول ده

ژباړه:- بيا ئې په كتاب ﴿القدورى﴾ كې دكم تعزير اندازه په درې كوړو باندې كړې ده.څكه چې ددې نه په كم مقدارباندې ﴿چه دوې [دوه] يا يوه كوړې دى﴾ تنبيه ﴿اوزورنه﴾ نه واقع كيږى. ﴿اومقصود خو په تعزيركې تنبيه اوزورنه وى.نوچه مقصود پرې نه حاصليږى.هغه به معتبر نه وى﴾ اوزموږ مشائخو رحمهم الله ﴿د ماوراء النهر﴾ ذكركړى دى.چه كم مقدار د تعزيرهغه دې.كوم چې دقاضى راې وى.نوچه په څومره مقدار سزا ور كاوه اندې هغه ته دا پته لګى.چه تنبيه ورته ملاويږى.هغه مقدار سزا به وركوى.څكه چې دا مقدار د ﴿د تعزيرى سزا﴾ د خلګ ود اختلاف په وجه مختلف كيږى. ﴿څكه چې بعضې خلګ داسې وى.چه هډوعدالت يا تهانړې ته په خپل ژوند كې نه وى تلى.نوداسې كسانو لپاره معمولى سزا هم ډيرلوئې څيزدې.اوبعضې خلګ داسې وى.چه قچرئ اوتهانړو سره ئې روزګاروى.نودهغوى لپاره يوه اودوې [دوه] كوړې څه شى نه دى﴾

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ عَلَى قَدْرِ عِظَمِ الْجُرْمِ وَصِغَرِهِ، وَعَنْهُ أَنْ يُقَرِّبَ كُلَّ نَوْعٍ مِنْ بَابِهِ، فَيُقَرِّبُ الْمَسَّ وَالْقُبْلَةَ مِنْ حَدِّ الزِّنَا، وَالْقَذْفَ بِغَيْرِ الزِّنَا مِنْ حَدِّ الْقَذْفِ.

حل اللغة: ① **عظم**: غټوالي ② **صغر**: ورکوټوالي ③ **اللمس**: ګوتې وراوړل ④ **القبلة**: بوسه اخستل ،کوکۍ اخستل

زباړه:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې.چه دوی دتعزیري سزا اندازه د جرم د لوئې والي اوورکوټوالي په مناسبت سره کړې ده. «یعنی که جرم لوئې وی.نوتعزیري سزا به سخته وی.اوکه جرم معمولي وی.نوتعزیري سزا به کمه وی»اودامام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دا هم دې.نوهرجرم به خپل جنس ته نزدې کولې شي. نو مسه کول اوکوکۍ اخستل به حد زنا ته نزدې کولې شي. «یعنی که یوکس د پردۍ ښځې نه کوکۍ واخستله یا ئې ورته په شهوت سره ګوتې وراوړې.نودې به حدزنا ته نزدې کولې شي.یعنی د سلو کوړو څخه به ورته کمې ورکولې شي» اود زنا نه علاوه دبل څیزتهمت به د حد قذف ته نزدې کولې شي«یعنی که تهمت ئې لګولې وی.یعنی چا ته ئې د زنا کار نه سوا بل څه نوم اخستې وی.لکه فاسق وغیره،نودا تعزیر به حد قذف ته نزدې کولې شي.یعنی د اتیا کوړو څخه به ورته کمې ورکولې شي»

تعزیري سزا کې د قیدکولوحکم

قَالَ (وَإِنْ رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يَضُمَّ إِلَى الضَّرْبِ فِي التَّعْزِيرِ الْحَبْسَ فَعَلَ) لِأَنَّهُ صَلَحَ تَعْزِيرًا وَقَدْ وَرَدَ الشَّرْعُ بِهِ فِي الْجُمْلَةِ

حل اللغة: ① **يضم**: يوځائې کړې ② **الحبس**: قید ،بندیز

زباړه:- ابو الحسین قدوري رحمه الله فرمائی.اوکه امام مناسب ګنړې.چه په تعزیري سزا کې د کوړو سره قیدول هم ګډ کړې.نوداسې دې اوکړې.ځکه چې دا «په بندي خانه کې بندول» دتعزیرصلاحیت لرې. «یعنی دا هم یو ډول تعزیر دې» اویا دا چې د څه حده پورې په شریعت کې قیدول هم ثابت دی.

حَتَّى جَازَ أَنْ يُكْتَفَى بِهِ فَجَازَ أَنْ يُضَمَّ إِلَيْهِ، وَلِهَذَا لَمْ يُشْرَعْ فِي التَّعْزِيرِ بِالتُّهْمَةِ قَبْلَ ثُبُوتِهِ كَمَا شُرِعَ فِي الْحَدِّ لِأَنَّهُ مِنَ التَّعْزِيرِ.

زباړه:- تردې چې هرکله صرف د قید سزا ورکول «چه کوړې په کې نه وی.جائزده» نودا هم جائز دی.چه دا «په جیل کې د بندولوسزا» بلې «سزا» سره یوځائې کړې.اوددې املـه «چه قیدکول هم تعزیردې» دتعزیر په صورت کې د تهمت ثابتیدو نه وړاندې بندول جائز نه دی. «یعنی چې یوکس ته ئې داسې نسبت کړې وی .چه په هغې باندې حدنه لازمیږی.خودمقذوف دل آزاری په کې شوې وی.مثلاً فاسق ئې ورتـه وئیلی وی .نوپه دې صورت کې د دې تهمت د ثابتولو لپاره دا جائز نه دی.چه امام دا کس په قیدکې بند کړی.ځکه چې دا بندول تعزیردې.اوتعزیر په هغه وخت کې جائزکیږی.چه جرم ثابت شي.نوچه جرم لاثابت شوې نه وی. اودې پـه قیـدکـې بنـد کـړی.نـودا خـود جـرم د ثبـوت نـه وړانـدې سـزا ورکـول دی.اودا خبـره د اسـلامي اصولواودانصاف دتقاضا نه خلاف ده.» لکه څنګه چې په حد کې «قیدکول» جائز دی. «یعنی چې په یوکس باندې د زنا الزام اولګی.اود جرم ثابتیدو نه وړاندې هغه په جیل کې بند کړی.نوپه هغه جرائموکې چې موجب د حد وی.د جرم د ثبوت نه وړاندې د مجرم قید کول جائز دی.» ځکه چې دا «بندول» د تعزیرڅنې دې.

قَالَ (وَأَشَدُّ الضَّرْبِ التَّعْزِيرُ) لِأَنَّهُ جَرَى التَّخْفِيفُ فِيهِ مِنْ حَيْثُ الْعَدَدُ فَلَا يُخَفَّفُ مِنْ حَيْثُ الْوَصْفُ كَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَى فَوَاتِ الْمَقْصُودِ، وَلِهَذَا لَمْ يُخَفَّفْ مِنْ حَيْثُ التَّفْرِيقُ عَلَى الْأَعْضَاءِ

حل اللغة: ① **تخفيف**: آسانتیا ② **فوات**: فوت کیدل ③ **التفريق**: جداوالي ④ **الاعضاء**: جمع د عضو ده اندام

زباړه:- ابو الحسین قدوري رحمه الله فرمائی.چه سخت وهل دتعزیرڅنې دې. «یعنی په وهلوکې به سختی کوی» ځکه چې په دې «تعزیر» کې یوځل د شمارپه اعتبارسره تخفیف راغلې دې. «چه دتعزیرد کوړو شمار به د حدد کوړو نه کم وی.اوددې حکم مطابق په تعزیرکې دومره کوړې نشي ورکولې.چه د حدد کوړو مقدارته اورسي» نود وصف په اعتبارسره به په کې تخفیف نشي کولې. «د وصف نه مراد په وهلوکې سختی اونرمی کول دی» د مقصود د فوت کیدو سبب اونه ګرځي. «یعنی د تعزیرد مشروعیت مقصددا دې.چه

مجرم د جرم دارتکاب نه منع شي. اوس موږ يو اړخ ته د تعزيرد کوړو په شمارکي کمی کړې دې. نوکه بل اړخ ته ددې په وصف کي هم کمې اوکړو. چه نرم وهل اوکړو. نوپه دې سره مجرم ته زورنه اوتکليف نه ملاويږي اوچه تکليف ورته نه ملاويږي. نود تعزيرد مشروعيت چې کوم مقصد دې. هغه به فوت شي او ښکاره خبره ده چه دا صحيح نه ده﴾ اوددې امله ﴿چه دتعزيرمقصود فوت نشي﴾ د مختلفواندامو په وهلو په کي تخفيف نه دې شوې ﴿يعنی دا حکم نه دې ورکړې شوې. چه مجرم به په يواندام نشي وهلې بلکه جلاد ته دا اجازت شته چه هم يواندام باندې وارډ حد جاري کړي. خکه که دا حکم اوکړې شي. چه په [illegible] نوپه دې باندې مجرم ته تکليف نه ملاويږي. نودتعزيرمقصود به حاصل نشي [illegible] تعزيرپه تعداد کي قضي ته ختيارحاصل دې. دې په کي کمي زياتې کولي شي. خود تعزيرپه وصف کي ده ته د سختۍ اونرمۍ کولواختيارنشته. بلکه په حد ورکولوکي به سختی کوی﴾

په حدزنا کي دسختۍ مقدار

قَالَ (ثُمَّ حَدُّ الزِّنَا) لِأَنَّهُ ثَابِتٌ بِالْكِتَابِ، وَحَدُّ الشُّرْبِ ثَبَتَ بِقَوْلِ الصَّحَابَةِ، وَلِأَنَّهُ أَعْظَمُ جِنَايَةً حَتَّى شُرِعَ فِيهِ الرَّجْمُ

ژباړه:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائی. بيا ﴿دتعزيرنه پس﴾ به حد زنا سخت وی. خکه چې ددې ﴿حد زنا﴾ ثبوت په کتاب الله سره شوې دې. ﴿چه دا قول دالله تعالی دې. چه زناکار سړي اوزنا کاره ښخه په دې دواړوکي هريوسل کوړي اووهئ. اوپه باب الحدود کي قاعده دا ده. چه دکومې سزا ثبوت په څومره قوی دليل سره شوې وی. دهغې په سزا کي به هغه هومره سختوالې هم کولې شي﴾ اودشرابوحدد صحابو رضي الله عنهم په فيصلې ﴿اجماع﴾ سره ثابت شوې دې. اوددې امله هم ﴿دزنا حد سخت دې. چه﴾ زنا لويه ګناه ده. تردې چې په دې کي ﴿يعنی د زنا په سزاکي﴾ سنګسارهم مقرر شوې دې.

دشرابوڅکلوپه حدکي سختي

(ثُمَّ حَدُّ الشُّرْبِ) لِأَنَّ سَبَبَهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ (ثُمَّ حَدُّ الْقَذْفِ) لِأَنَّ سَبَبَهُ مُحْتَمِلٌ لِاحْتِمَالِ كَوْنِهِ صَادِقًا وَلِأَنَّهُ جَرَى فِيهِ التَّغْلِيظُ مِنْ حَيْثُ رَدُّ الشَّهَادَةِ فَلَا يُغَلَّظُ مِنْ حَيْثُ الْوَصْفُ.

ژباړه:- بيا ﴿دحدزنا نه پس﴾ به د شرابوڅښلو حد سخت وی. خکه چې ددې حد سبب ﴿يعنی شراب څکل﴾ يقينی دې. اوبيا ﴿د شرابوحد نه پس﴾ به حدقذف سخت وی. خکه چې ددې سبب احتمالی دې. خکه چې دا احتمال شته. چه قاذف رښتونې وی. ﴿نوپه دې صورت کي په ده باندې ديانةً حد نه واجب کيدو. خوچونکه دشريعت مطابق ځلورګواهان ضروری وو. اودهغې نه دې عاجزه شو. خکه په ده باندې حدقذف جاری کولې شي﴾ اوبله ددې وجه ﴿هم په مرتبه کي حدقذف د شرابوڅښلو د حد نه روستودې﴾ چې په دې حد ﴿قذف﴾ کي يوڅل سختوالې راغلې دې. چه رد کول د شهادت دی. ﴿يعنی دمحدود فی القذف ګواهی نه قبليږي﴾ نود وصف په اعتبارسره به په کي سختی نشي پيدا کولې. ﴿يعنی دا به نشي ونيلې چه کوړې دې ورته هم نرمې ورکړی﴾

دحد په وجه دمرلې واقع کيدوحکم

(وَمَنْ حَدَّهُ الْإِمَامُ أَوْ عَزَّرَهُ فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدَرٌ) لِأَنَّهُ فَعَلَ مَا فَعَلَ بِأَمْرِ الشَّرْعِ، وَفِعْلُ الْمَأْمُورِ لَا يَتَقَيَّدُ بِشَرْطِ السَّلَامَةِ كَالْفَصَّادِ وَالْبَزَّاغِ،

حل اللغة: ① هدر: بې قيمته، بې ديته ② الفصاد: رګ لګونکې ③ البزاغ: خصی کونکې

ژباړه:- اوکوم کس چې امام پرې حد جاری کړی. يا ورته تعزيری سزا ورکړی. اومړ شو. نودده وينه هدر ده ﴿په ده باندې نې ديت اوقصاص نشته﴾ خکه چې امام څه کړی دی. د شريعت په حکم سره نې کړې دی. ﴿يعنی شريعت ورته دا ونيلی دی. چه په مجرمانوباندې حدود جاری کوه﴾ اودمامور فعل ﴿يعنی چاته چې ديوکارحکم شوې وی. دهغه فعل﴾ د سلامتيا په قيد سره نشی مقيد کولې. ﴿يعنی په مامورباندې دا نشی لازمولې. چه دا کاراوکړه. خوکه څه نقصان په کي پيدا شو. نوذمه وار به نې ته نې﴾ لکه څنګه چې په

رګ لګونکی اوحصی کونکی باندې تاوان نه وی. ﴿یعنی که زید خالد له رګ وهلو.اوهغه ته څه نقصان اورسیدلو.نوزید باندې تاوان نشته.دغه ډول که زیدیوڅاروي خصی کولو.اوهغه ته څه نقصان اورسیدلونوپه زیدباندې څه تاوان نشته﴾

بِخِلَافِ الزَّوْجِ إِذَا عَزَّرَ زَوْجَتَهُ لِأَنَّهُ مُطْلَقٌ فِيهِ، وَالْإِطْلَاقَاتُ تَتَقَيَّدُ بِشَرْطِ السَّلَامَةِ كَالْمُرُورِ فِي الطَّرِيقِ

حل اللغه ① المرور تیریدل ② الطریق لار

زباړه - ﴿دا مسئله﴾ په خلاف د خاوند ﴿ده﴾ چې خاوند ښځي ته تعزیری سزا ورکړی ﴿اوهغې ته څه نقصان اورسی.نو خاوند باندې به دهغې دیت وی﴾ ځکه چې خاوند ته ﴿ښځي ته﴾ د سزا ورکولو اجازت شوې دې. ﴿حکم ورته نه دې شوې.چه ستا په ذمه دا فرض دی.چه ښځي ته به تعزیری سزا ورکوې.یعنی خاوند ماذون دې خومامور نه دې.ځکه پرې د نقصان په صورت کې تاوان راځي.اوقاضی مامور دې.ځکه پرې د نقصان په صورت کې تاوان نه راځي.ځکه چې قانون دا دې.چه﴾د کومو څیزونواجازت ورکړې شوې وی. نو په هغه اجازت د سلامتیا په قید مقید دې. ﴿یعنی که یوکس ته دیوکارکولواجازت ملاؤ شی. نو د هغې اجازت مطلب به دا وی.چه دې به په خپل فعل سره چاته نقصان نه ورکوی.اوکه نقصان ئې ورکړلو .نوبیا به پرې تاوان راځي﴾ لکه په لاره باندې د تیریدو اجازت شته. ﴿خوکه یوکس په لارباندې روان وو.اوچاته ئې نقصان اورسولو.نوده ته به سزا ملاویږی﴾

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ لِأَنَّ الْإِتْلَافَ خَطَأٌ فِيهِ، إِذِ التَّعْزِيرُ لِلتَّأْدِيبِ غَيْرَ أَنَّهُ تَجِبُ الدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ لِأَنَّ نَفْعَ عَمَلِهِ يَرْجِعُ عَلَى عَامَّةِ الْمُسْلِمِينَ فَيَكُونُ الْغُرْمُ فِي مَالِهِمْ قُلْنَا لَمَّا اسْتَوْفَى حَقَّ اللَّهِ تَعَالَى بِأَمْرِهِ صَارَ كَأَنَّ اللَّهَ أَمَاتَهُ مِنْ غَيْرِ وَاسِطَةٍ فَلَا يَجِبُ الضَّمَانُ.

حل اللغة: ① التادیب:ادب ورکول ② غرم:تاوان

زباړه:- اوامام شافعی رحمه الله فرمائیلی دی. ﴿که قاضی دحدجاری کولوحکم اوکړلو.اومحدود مړ شو.نو﴾ په بیت المال کښي دیت واجبیږی.ځکه چې په حدکې ﴿دمحدود﴾ هلاکیدل د حدپه جاری کاوه کې دغلطی ده ﴿یعنی چې محدود د حد ورکولوپه وجه مړ شی.نومعلومه دا شوه.چه دا حد په صحیح طریقه نه وو.ځکه چې په صحیح طریقه باندې حد جاری کول د هلاکت سبب نه ګرځي.اوپه قاضی باندې ددې تاوان ځکه واجبیږی .چه﴾ تعزیر ﴿مجرم ته﴾ د ادب ور کاوه لپاره وی. ﴿البته دا ده.چه چونکه د محدود مرګ د قاضی د تقصیر د امله واقع شو.نوپکاردا ده.چه دیت هم دقاضی دذاتی مال نه پوره کړې شی.﴾ نودیت په بیت المال واجبیږی . ﴿اوپه بیت المال ځکه واجبیږی.چه﴾ دده د عمل نفی عامو مسلمانانوته ملاویږی.نوتاوان به هم د هغوی په مال کې وی. او موږ ﴿احناف (رح)﴾ دا وایو.هرکله چې قاضی د الله تعالی په حکم سره د هغه حق واخستلو . ﴿او محدودکس مړشی.نو﴾ دا داسې شوه.لکه چې الله تعالی په خپله بغیرد څه واسطه نه دغه کس مړ کړلو. ﴿اوچه دا ثابته شوه.چه محدود کس الله تعالی مړ کړلو.نو﴿په بیت المال باندې﴾ ضمان نشته.

كِتَابُ السَّرِقَةِ

زباړه:- ﴿دا﴾ کتاب د غلا ﴿په بیان کې﴾ دې.

دغلا لغوی اوشرعی تعریف

السَّرِقَةُ فِي اللُّغَةِ أَخْذُ الشَّيْءِ مِنَ الْغَيْرِ عَلَى سَبِيلِ الْخُفْيَةِ وَالِاسْتِسْرَارِ، وَمِنْهُ اسْتِرَاقُ السَّمْعِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ} وَقَدْ زِيدَتْ عَلَيْهِ أَوْصَافٌ فِي الشَّرِيعَةِ عَلَى مَا يَأْتِيكَ بَيَانُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

حل اللغة: ① الخفیة:پټوالې ② الاستسرار:پټوالې ③ استراق:غلا کول

زباړه:- د سرقه لغوی معنی ده.دبل چا نه په پټه اوغلا باندې یوڅیزاخستل.اوپه دې معنی کې دالله تعالی

دا قول هم استعمال شوې دې.چه [اِلَّامَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ] «يعنى د زمكې نه شيطانان دا توان نه لري.چه آسمان ته اوخيژي.اود فرشتو خبرو ته غوږ كيږي.اوهغه بيا خپلو كاهنانوته بيان كړي.څكه چې دوى ددې نه منع شوى دى.البته چې څوك په پټه خبرې اوريدو ته غوږ كيږدى.نوپه هغه پسې يوه ښكاره سكروټه شي .دلته هم استرق په پټه خبرې اوريدو لپاره استعمال شوې دې» اوپه شريعت كې په دې لغوى معنى باندې څو نور صفتونه زيات شوى دى.دهغې بيان به انشاءالله تاته راشي. «يعنى سارق ①عاقل وى ②بالغ وى.③ نصاب يا دنصاب برابرڅيزغلا وى④ دمحفوظ ځائې نه غلا شوى وى⑤ دبل ملكيت وى⑥ دبل په ملكيت كې شبه نه وى.⑦دا په پټه باندې حاصل شوې وى» ؟؟ ددې لاندې عبارت ترجمه پاتې ده

وَالْمَعْنَى اللُّغَوِيُّ مُرَاعًى فِيْهَا ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً اَوْ ابْتِدَاءً لَا غَيْرُ، كَمَا اِذَا نَقَبَ الْجِدَارَ عَلَى الْاِسْتِسْرَارِ وَاَخَذَ الْمَالَ مِنَ الْمَالِكِ مُكَابَرَةً عَلَى الْجِهَارِ

حل اللغة: ① **مراعى**:خيال ساتلې شوې ② **نقب ينقب نقبا**: سورې كول ③ **مكابرة**: زبردستى،زور④ **الجهار**:ښكاره

ژباړه:- اوپه غلا كې د لغوى معنى خيال په اول اوآخردواړو كې ساتلې شوې دې. «يعنى شريعت ورته اعتبار وركړې دې.وړاندې تيرشو.چه په لغت كې په پټه دبل څيزاخستلوته سرقه وائي.نودغلا په شرعى تعريف كې ددې معنى خيال ساتلې شوې دې.تردې كه په اول او آخردواړو كې پټوالې وى.هغې ته هم سرقه وائي.لكه چې يوكس په پټه دچا كورته ورداخل شى.اوپه پټه ترې يوڅيز واخلي.اولاړشي.نودلته په اول كې هم په پټه داخليدل دى.اوپه آخركښې دڅيزغلا كول اوتلل دى» يا صرف په اول كې ساتلې شوې دې په بل څه كې نه دې ساتلې شوې. «ددې مثال چې په اول كې پټوالې وى اوپه آخر كې نه وى» لكه كله چې ديوال په پټه سورى كړي.اودمالك نه په زبردستئ باندې مال واخلي. «نوګوره دلته د ديوال سورې كول په پټه دى.نولغوى معنى په كې راغله.اوپه آخركې په كې پټوالې نشته.نولغوى معنى نشته»

د سرقه قسمونه

وَفِى الْكُبْرٰى: اَعْنِىْ قَطْعَ الطَّرِيْقِ مُسَارَقَةُ عَيْنِ الْاِمَامِ لِاَنَّهٗ هُوَ الْمُتَصَدِّىْ لِحِفْظِ الطَّرِيْقِ بِاَعْوَانِهٖ .وَفِى الصُّغْرٰى: مُسَارَقَةُ عَيْنِ الْمَالِكِ اَوْمَنْ يَقُوْمُ مَقَامَهٗ.

حل اللغة: ① **المتصدي**: ذمه وار ② **اعوان**:جمع د عون ده مددګار

ژباړه وتشريح:- «بيا د سرقه دوې [دوه] قسمونه دى.يوه سرقه كبرى اوبله سرقه صغرى» اوپه «سرقه» كبرى كې زما مراد ډاكه ده.په دې كې دلارې شوكول مراد دى. «يعنى ډاكه» دا دامام د سترګو نه غلا ده. «اګرچه مالونه د خلګو لوټ كړي.خودې ته دامام د سترګونه غلا څكه وئيلى شي.چه» امام په خپلو مددګارانو «فوځيانو» بندې د لارې د ساتنه ذمه وار دې. «يعنى دامام دا ذمه وارى ده.چه د لاروحفاظت به كوى. نو چې څوك لاره كې شوكه اوكړي.په حقيقت كې ده دامام نه غلا اوكړله» اوپه سرقه صغرى كې دمالك د سترګو نه غلا ده.يا څوك چې د مالك قائم مقام وى. «يعنى ياد مالك نه غلا اوكړي.اويا دهغه چا نه غلا اوكړي.چه مالك ورته مال حواله كړې وى.لكه بااعتماده نوكروغيره. «لنډيز دا چې كوم څيزدحاكم يا دده قائم مقام نه يا د مالك اويا دده د قائم مقام نه پټه باندې واخستې شى.نوهغه دسرقې په حكم كې دې.

په سرقه كې دلاس كټ كولو لپاره دعقل اوبلوغ شرطيت

قَالَ [وَاِذَا سَرَقَ الْعَاقِلُ الْبَالِغُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ اَوْمَا يَبْلُغُ قِيْمَتُهٗ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ مَضْرُوْبَةً مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ وَجَبَ الْقَطْعُ] وَالْاَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهٗ تَعَالٰى {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا} الْاٰيَةَ وَلَابُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ الْعَقْلِ وَالْبُلُوْغِ لِاَنَّ الْجِنَايَةَ لَا تَتَحَقَّقُ دُوْنَهُمَا وَالْقَطْعُ جَزَاءُ الْجِنَايَةِ،

حل اللغة: ① **يبلغ**:رسيږى ② **مضروبة**:تيارې شوې ③ **حرز**:محفوظ ④ **القطع**:كټ كول ⑤ **الجزاء**:بدله

ژباړه وتشريح:- مصنف رحمه الله فرمائي. كله چې غلا كړي ① عاقل ② بالغ سړی ③ لس روپۍ يا هغه ځيزچه دهغه قيمت د سيكه لس روپو ته رسي. «اودا لس روپۍ يا چې كوم ځيزد لس روپوسره برابر وي» ④ د محفوظ ځائي نه واخلي. ⑤ «اوپه داسې طريقه باندې غلا اوكړي.چه» په هغې كې شبه نه وي. «نوچه دا واړه شرائط په كې وي» واجب شوه په ده «سارق» باندې پرې كول «د لاس» اودليل په دې «قطع د الله قول دې.﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا﴾ يعنى غل سړې اوغله ښځه كټ كړئ يد كې» دالله قول دې. اونشته مخلص د معتبروالى دعقل اوبلوغ نه «يعنى په سارق كې لاسونه ددې دواړو،د ايت اخره پورې. اونشته مخلص د معتبروالى دعقل اوبلوغ نه «يعنى په سارق كې عقل اوبلوغ ضروري شرطونه دي» ځكه چې جنايت نه متحقق كيږي بغيرددې دواړو نه «يعنى چې په چا كې عقل نه وي.نوكه دې گناه اوكړي.دې مجرم نه دې.اوماشوم غيرمكلف وي.نوكه گناه اوكړي.نوهم هغه دده په حق كې گناه نه وي. او پرې كول «يعنى دلاس كټ كول» جزاء د گناه ده «يعنى لاس به هله كټ كيږي.چه جرم ثابت شي.اود ليونى اوماشوم په حق كې غلا جرم نه دې.نودلاس پرې كول هم جائزنشو»

د لاس كټ كولو لپاره نصاب

وَلَابُدَّ مِنَ التَّقْدِيرِ بِالْمَالِ الْخَطِيرِ لِأَنَّ الرَّغَبَاتِ تَفْتُرُ فِي الْحَقِيرِ، وَكَذَا أَخْذُهُ لَا يَخْفَى فَلَا يَتَحَقَّقُ رُكْنُهُ وَلَا حِكْمَةُ الزَّجْرِ لِأَنَّهَا فِيمَا يَغْلِبُ،

حل اللغة: ① **التقدير**: اندازه كول ② **الخطير**: ډير

ژباړه وتشريح:- اونشته مخلص د اندازه كولونه په مال ډيرپورې «يعنى كوم شى چې غلا شوى وي.نودا ضروري ده.چه هغه ډيراوقيمتى وي» ځكه چې كم وى رغبتونه په «غلاكولود» معمولي ځيزكې. «چه ځوك ني ځيزمعمولي وى.نوځوك دهغې دغلا اراده نه كوي» اودغه ډول ددې اخستل هم پټ نه وى. «چه ځوك نى اخلي.نوهغه په پټه باندې معمولي ځيزنه اخلي» نونه متحقق كيږي ركن ددې غلا «يعنى په غلا كې خودا ركن دې.چه دا به په پټه وي.نوچه يوكس يوځيزخه لوئي نه گڼړي.اوپه ښكاره ئې واخلي.نود غلا او سرقه تعريف پرې صادق نشو.نولاس به ئې نشى كټ كولي» اونه «متحقق كيږي» حكمت د زورنې «ځكه چې زورنه اوتنبيه په هغه وخت كې ملاويږي.چه دهغې واقع كيدل زيات وي. «اوښكاره خبره ده.چه اكثر غلا دهغه ځيزكيږي.چه قيمتى وي»

وَالتَّقْدِيرُ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ مَذْهَبُنَا. وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ التَّقْدِيرُ بِرُبْعِ دِينَارٍ. وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ التَّقْدِيرُ بِرُبْعِ دِينَارٍ. وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ التَّقْدِيرُ بِرُبْعِ دِينَارٍ. لَهُمَا أَنَّ الْقَطْعَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ إِلَّا فِي ثَمَنِ الْمِجَنِّ، (1) وَأَقَلُّ مَا نُقِلَ فِي تَقْدِيرِهِ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ، وَالْأَخْذُ بِالْأَقَلِّ الْمُتَيَقَّنِ بِهِ أَوْلَى، غَيْرَ أَنَّ الشَّافِعِيَّ رَحِمَهُ اللَّهُ يَقُولُ: {كَانَتْ قِيمَةُ الدِّينَارِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا} (2) وَالثَّلَاثَةُ رُبْعُهَا.

حل اللغة: ① **ثمن**: قيمت ② **المجن**: ډهال ③ **المتيقن**: يقيني

ژباړه وتشريح:- اوپه لسو روپو پورې «دغلا شوى مال» اندازه كول زمونږ «داحنافو(رح)» مذهب دې. «كه يوكس د لسو درهموپه اندازه غلا اوكړله.نولاس به ئې كټ كولې شي» اودامام شافعي رحمه الله په نيزاندازه كولې به شي په ځلورمه برخه د دينار پورې.اودامام مالك رحمه الله په نيز «اندازه كولې به شي» درې روپو پورې.ددې دواړو «امام شافعي اوامام مالك(رح)» دليل دا دې.چه پرې كول «دلاس» د نبى ﷺ په زمانه كې نه وو.مگرپه پيسود ډهال «دخرمنې» «كه يوكس به د ډهال برابرقيمتى ځيزپټ كړلو.نودهغه لاس به كټ كولې شو» اوكم هغه قيمت چې دده په اندازه كې نقل شوې دې.درې روپۍ دى. «يعنى دنبى ﷺ په زمانه

1) من حديث عائشة رضي الله عنها أخرجه البخاري فى الحدود باب ١٣ رقم ٦٧٩٣ ومسلم فى الحدود رقم ٥ والنسائى فى قطع السارق باب ١٠)_

2) من حديث عائشة اخرجه البخاري في الحدود باب ٣١، رقم ٣٩٧٦ ومسلم فى الحدود رقم ٥ والنسائى فى قطع السارق باب ٠١)

كي د ډهال قيت دري روپۍ وې.ځكه به دري روپۍ د سرقه نصاب ګرځولې شي.﴾ اوپه كموباندې عمل كول ﴿يعنى چې د حدسرقه لپاره كم نصاب مقرركړې شي.﴾ يقيني دې. ﴿نودا د حد سرقه لپاره دا نصاب مقرر كول غوره دى. ځكه كه موږ د حد سرقه لپاره نصاب زيات مقرر كړو.اوعندالله په كم نصاب باندې هم د لاس كټ كيدل واجب كيدل.نوپه دې صورت كي به دالله تعالى په حكم كي تقصيرراغلې وو. اوچه نصاب كم مقرر وى .نود دې خبرې ګنجائش به په كي پاتې نشي.چه كيداې شي.ددې نه په كم مقدارځيزكي هم لاس پرې كول وى﴾ اوامام شافعي رحمه الله ﴿په بله طريقه هم استدلال كوى.هغه دا چې﴾ فرمانى.وو قيمت د ديناريه زمانه د رسول الله ﷺ كي دولس روپۍ اودرې روپۍ د هغې ځلورمه برخه شوه.

وَلَنَا أَنَّ الْأَخْذَ بِالْأَكْثَرِ فِي هٰذَا الْبَابِ أَوْلَى احْتِيَالًا لِدَرْءِ الْحَدِّ. وَهٰذَا لِأَنَّ فِي الْأَقَلِّ شُبْهَةَ عَدَمِ الْجِنَايَةِ وَهِيَ دَارِئَةٌ لِلْحَدِّ، وَقَدْ تَأَيَّدَ ذٰلِكَ بِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {لَا قَطْعَ إِلَّا فِي دِينَارٍ، أَوْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ} ( ) وَاسْمُ الدَّرَاهِمِ يَنْطَلِقُ عَلَى الْمَضْرُوبَةِ عُرْفًا فَهٰذَا يُبَيِّنُ لَكَ اشْتِرَاطَ الْمَضْرُوبِ كَمَا قَالَ فِي الْكِتَابِ وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ رِعَايَةً لِكَمَالِ الْجِنَايَةِ، حَتّٰى لَوْ سَرَقَ عَشَرَةً تِبْرًا قِيمَتُهَا أَنْقَصُ مِنْ عَشَرَةٍ مَضْرُوبَةٍ لَا يَجِبُ الْقَطْعُ،

حل اللغة: ① احتيال: حيله جوړول ② تبرا: ټوټې

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دي.چه عمل كول په اكثرباندې په دې باب ﴿دحدودو﴾ كي غوره دي. لپاره دحيلې جوړلو حد لرې كولوته ﴿يعنى د حدودو په اړه كي بهتره خبره دا ده.چه حد لرې كاوه لپاره څه مانع پيدا كړې شي.اوحد قائم نكړې شي﴾ اودحدسرقه نصاب اكثرمقرركول ځكه غوره دى.چه په كم كي شبه دعدم جنايت ده. ﴿يعنى كه موږ د سرقه نصاب درې روپۍ مقرر كړو.نو كيداې شي.چه دالله تعالى په نيزپه درې روپۍ باندې دلاس كټ كولوحكم نه وى.نوچه درې درهمه نصاب مقرر شي.په دې كي دا شبه پيدا كيږى.چه كيداې شي.دالله تعالى په نيزدرې درهمه نصاب د سرقي نه وى. ﴾اوشبه دفع كونكې ده ﴿يعنى چې په كوم محل كي شبه پيدا شي.حدنه قائميږى نودلته به كم نصاب نه مقرركوو.بلكه زيات نصاب به مقرركوو﴾ اودا خبره ﴿چه كم نصاب ځكه نه دى مقرر كول چې په دې كي شبه د دفع كولود حد ده﴾ د نبي ﷺ په دې قول سره مويده ده.چه نشته پرې كول مګرپه يودينار يا لسو درهمو كي .اواطلاق د درهم په سكه باندې كيږى په عرف كي ﴿يعنى كله چې مطلق درهم ذكر شي.نومراد ترې هغه سكه مراد وى.كومه چې په عرف اومعاشره كي رائج وى﴾نودا حديث تاته دا ښائي.چه ﴿په حدسرقه كي﴾ د سكې روپۍ شرط ده.لكه څنګه چې په كتاب كښې ذكردى.اوهم دا ظاهرروايت دي.اوهم دا ﴿قول﴾ اصح دې.ځكه چې په دې كي د جنايت دكمال خيال ساتل دى. ﴿يعنى دسكې لس روپۍ ئې پټې كړې وى.نودا كامل جنايت دې.اوكه﴾ غلا ئې كړې د سپينو زرو ټكړې چې دهغې قيمت د لسوسكونه كم وو.نونه واجبيږى پرې كول د لاس.

وَالْمُعْتَبَرُ وَزْنُ سَبْعَةِ مَثَاقِيلَ لِأَنَّهُ هُوَ الْمُتَعَارَفُ فِي عَامَّةِ الْبِلَادِ. وَقَوْلُهُ أَوْ مَا يَبْلُغُ قِيمَتُهُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ غَيْرَ الدَّرَاهِمِ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ بِهَا وَإِنْ كَانَ ذَهَبًا،

ژباړه وتشريح:- اومعتبر ﴿په سكوكي﴾ وزن د اووه مثقالودې. ﴿چه دسپينوزروسكه دارو لسو درهمو وزن د اوومثقاله سره برابر وى﴾ځكه چې هم دا په عاموښارونوكي معتبردې.اودابو الحسين قدورى رحمه الله دا وينا څه وى. ﴿يعنى د روپونه سوا بل څه ځيز ﴿غلا كړى﴾ چې دهغې قيمت لس روپۍ وى.په دې كي اشاره ده كه د دراهمونه سوا بل ځيز﴾ ددې ﴿لسودراهم سره.نوكه دهغه ځيزقيمت لس روپۍ وى.په هغې كي به لاس كټ كولې شى.اوكه د نواندازه كولې به شي قيمت دهغې ﴿غلا شوى ځيزئې غلا كړى وى﴾ لس روپونه كم وو.نونه به شي كټ كولې﴾ اګرچه هغه ځيز ﴿كوم چې غلا شوې وى﴾ سره زر وى. ﴿نوكه

سره زر وي.هم به دهغې قيمت د سپينوزرو د روپو په حساب سره کولې شي.که ددغه سرو زرو د څيزقيمت لس درهم وو.نولاس به کټ کولې شي.اوکه نه وو.نونه به شي کټ کولې﴿

ضروري تشريح:- ﴿صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه د سرقه ﴿د غلاکونکې د نصاب په اړه کې په دراهموکې وزن سبعه معتبردې.وزن سبعه دادې.چه لس درهمه،د اووه مثقالو دوزن برابروي.ددې تحقيق دادې.چه په پيل کې درې قسمه درهمه وو.①وزن عشره ②وزن سته ③ وزن خمسه.وزن عشره خو دادې.چه لس درهمه د لسو مثقالو برابر وي.وزن سته دادې.چه لس درهمه د شپږو مثقالو برابر وي.او وزن خمسه دادې.چه لس درهمه د پنځومثقالو برابروي.په دې درې واړه وزنونو کې وزن عشره د ټولو نه ښه دې.او وزن خمسه د ټولونه کم دې.د خلګ وپه درې واړو باندې عمل وو.په درې واړو وزنونو به نې معامله کوله. کله چې حضرت عمرؓ خليفه مقررشو.نودوي اوغوښتل.چه زکاة اوخراج په ښه وزن عشرسره وصول شي.او خلګ په دې کې کمې اوغوښتلو.نو خليفة المسلمين سيدناعمر فاروق د خپلې زمانې حسب کونکې ماهرين راجمع کړل.چه دوی دا درې واړه وزنونه مخې ته کيږدي.او منځنی وزن متعين کړي.چه پکې د دواړو د رعايت خيال اوساتلي شي.نودوی د درې واړه وزنونو مثاقيل راجمع کړل.نودا يويشت شو.او وزنونه چونکه درې دي.په دې وجه يويشت مثاقيله چې کله په دريو باندې ويش کړې شو.نوپه يوه برخه کې درې مثقاله راغلل.يعنی منځنی وزن دا راؤ وتلو.چه لس درهمه د اووه مثقالوبرابر وي.هم دې ته وزن سبعه وئيلې شي.هم په دې دصحابوؓ اجماع ده.اوهم په دې باندې دحضرت عمرؓ په دفتر کې عمل کيدلو اوهم په دې وزن باندې دا امر قائم پاتې شو.

وَلَابُدَّ مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ لِأَنَّ الشُّبْهَةَ دَارِئَةٌ، وَسَنُبَيِّنُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

حل اللغة: ① دارئة: صيغه د اسم فاعل لرې کونکې ،دفع کونکې

ژباړه وتشريح:- او ﴿حد سرقه په حد قائمولوکې﴾ نشته مخلص د ساتنه نه داسې حفاظت چې شبه نه وي په هغې کې ځکه چې شبه د حد قائمولونه منع کونکې ده. ﴿يعنی دا کوم مال چې غلا شوې وي.دا ضروري ده.چه هغه دمحفوظ ځائې نه غلا شوې وي.ځکه چې دغيرمحفوظ ځائې نه غلا شوې وي.بيا په کې دلاس پرې کول نشته.يا داسې څيزغلا کړي.چه په هغې کې شبه وي. نو لاس به نشي کټ کولې﴾ اوموږبه دا روستو ﴿په فصل في الحرز﴾ کې بيان کړو.انشاءالله ﴿چه محفوظ مقام څه ته وائي.اوشبه څه ته وائي﴾

په حد سرقه کې د آزاداوغلام دحکم برابری

قَالَ (وَالْعَبْدُ وَالْحُرُّ فِي الْقَطْعِ سَوَاءٌ) لِأَنَّ النَّصَّ لَمْ يُفَصِّلْ، وَلِأَنَّ التَّنْصِيفَ مُتَعَذِّرٌ فَيَتَكَامَلُ صِيَانَةً لِأَمْوَالِ النَّاسِ.

حل اللغة: ① تنصيف:نيمول ② صيانة:حفاظت

ژباړه وتشريح:- فرمائي.اوآزاداوغلام په کټ کولو ﴿دلاس کې﴾ برابر دی. ﴿دا نه چې د آزاد څخه به پوره لاس کټ کولې شي.اود غلام نه دهغې په نيمه ددوو وجوه نه يوه دا چه﴾ نص قرآنی ﴿چه والسارق والسارقة﴾ څه تفصيل نه دې بيان کړې. ﴿چه د آزاد څخه به پوره لاس کټ کوئ.اودغلام څخه به دهغې په نيمه.او دوهم دليل دا دې.چه﴾ تنصيف ﴿يعنی نيم والی﴾ متعذردی. ﴿غيرممکن دې.يعنی داسې نشي کيدې.چه نيم لاس کټ کړې شي اونيم نه﴾ نوکامل کولې به شي ﴿سزا دغلام﴾ لپاره د ساتنه د مالونود خلګ و. ﴿چه دغلام سزاهم کامله وي.نودې به هم د غلا کولونه ځان ساتی﴾

دغلااقرارکولوباندې دلاس کټ کول

(وَيَجِبُ الْقَطْعُ بِإِقْرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً، وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يُقْطَعُ إِلَّا بِالْإِقْرَارِ مَرَّتَيْنِ) وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُمَا فِي مَجْلِسَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ لِأَنَّهُ إِحْدَى الْحُجَّتَيْنِ فَيُعْتَبَرُ بِالْأُخْرَى وَهِيَ الْبَيِّنَةُ كَذٰلِكَ اعْتَبَرْنَا فِي الزِّنَا

ژباړه وتشريح:- اوواجب دي پريكول ﴿دلاس﴾ په اقراركولودده ﴿غل﴾ يوځل. ﴿كه يوځل هم اقراراوكړي.چه ماغلا كړې ده.دده لاس به كټ كولې شي﴾ اودا ﴿حكم﴾ په نيزدامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله دي.اوفرمائيلي دي امام ابويوسف رحمه الله چې نه به شي كټ كولې مګرپه اقراركولوسره دوې [دوه] ځله،اونقل شوي دي ددوي ﴿امام ابو يوسف (رح)﴾ نه چې دا ﴿اقرار﴾ به په دوو مجلسونو مختلفوكې وي.ځكه چې دا يوحجت دې د دوو حجتونو ځني ﴿يعني د حد قائمولو لپاره دوې [دوه] حجتونه اودليلونه دي.يوګواهي اوبل اقرار.چه كله ديوكس خلاف ګواهان ګواهي وركړي.يا دې په خپله دخپل جرم اقراراوكړي.نوده باندې حد جاري كولې شي﴾نودا ﴿اقرار﴾ به قياس كولاى شي په بل باندې چې ګواهان دي. ﴿يعني لكه څنګه چې په حد سرقه كې دوې [دوه] ګواهان ضروري دي.دغه ډول به دوې [دوه] ځله اقراركول هم ضروري وي﴾ هم دغه ډول موږ قياس كړې دې. په زنا كې ﴿يعني دحد زنا جاري كاوه لپاره دوې [دوه] طريقې دي.يودا چې ځلورګواهان ګواهي وركړي.اودويمه دا چې زاني په خپله د زنا اقرار اوكړي.نوكه دې اقراركوي.ځلور ځله به اقراركوي.ځكه چې لكه څنګه د زنا د ثبوت لپاره ځلورګواهان ضروري دي.دغه ډول به ځلورځله اقراركول هم ضروري وي.نودغه ډول به په باب د سرقه كې هم دوې [دوه] ځله اقراركول ضروري وي﴾

وَلَهُمَا أَنَّ السَّرِقَةَ قَدْ ظَهَرَتْ بِالْإِقْرَارِ مَرَّةً فَيُكْتَفَى بِهِ كَمَا فِي الْقِصَاصِ وَحَدِّ الْقَذْفِ وَلَا اعْتِبَارَ بِالشَّهَادَةِ لِأَنَّ الزِّيَادَةَ تُفِيدُ فِيهَا تَقْلِيلَ تُهْمَةِ الْكَذِبِ وَلَا تُفِيدُ فِي الْإِقْرَارِ شَيْئًا لِأَنَّهُ لَا تُهْمَةَ.

ژباړه وتشريح:- اود طرفينو رحمهما الله دليل دا دې.چه غلا يوځل ښكاره شوې ده په اقراركولوسره ﴿چه غل په خپله د غلا اقراركړې دې. ﴿نودوباره اقرارته څه اړتيا نشته بلكه﴾ اكتفاء به كولاى شي په دې ﴿يوځل اقرار كولو﴾ باندې. لكه څنګه چې په قصاص كې دي. ﴿كه قاتل يوځل اووائي.چه ما قتل كړې دې.دې به قصاص كولې شي.دده څخه به دوباره اقرارنشي اخستې﴾ اوبه حدالقذف كې ﴿چه قاذف يوځل اووائي.چه اوما په ده په دروغه د زنا الزام لګولې دې.نوپه ده به حدقذف جاري كولې شي.دوباره به ترې اقرارنشي اخستې﴾ اوصحيح نه دې قياس كول ﴿د اقرارفي السرقه﴾ په شهادت باندې ﴿يعني امام ابويوسف رحمه الله چې په حدالسرقه كې د اقرارقياس په ګواهئ باندې كوي.چه لكه څنګه دوې [دوه] ګواهان ضروري دي.دغه ډول به دوې [دوه] ځله اقرارهم ضروري وي﴾ ځكه چې زيادت د ګواهئ فائده وركوي په شهادت كې.چه كم والې د تهمت د دروغو دې. ﴿يعني چې ګواهان زيات وي.نوڅوك دا ګمان نه كوي.چه دوې واړه به دروغ وائي.اوچه ګواه يو وي.نودا ګمان كولې شي.چه كيداې شي دا شاهد دروغ وائي﴾ او ﴿تكراردااقرار﴾ په اقراركې څه فائده نه وركوي د هيڅ څيز.ځكه چې ﴿په مقرباندې﴾ د ﴿دروغو﴾ تهمت نه وي. ﴿بلكه دې خوپه خپله په ځان جرم اقراركوي.نودا قياس مع الفارق شو.اوقياس مع ا لفارق صحيح نه دې.﴾

وَبَابُ الرُّجُوعِ فِي حَقِّ الْحَدِّ لَا يَنْسَدُّ بِالتَّكْرَارِ وَالرُّجُوعُ فِي حَقِّ الْمَالِ لَا يَصِحُّ أَصْلًا لِأَنَّ صَاحِبَ الْمَالِ يُكَذِّبُهُ، وَاشْتِرَاطُ الزِّيَادَةِ فِي الزِّنَا بِخِلَافِ الْقِيَاسِ فَيُقْتَصَرُ عَلَى مَوْرِدِ الشَّرْعِ.

حل اللغة: ① ينسد:بنديږي ② التكرار:بيا بيا

ژباړه وتشريح:-او دروازه د رجوع دحد په اړه كې نه بنديږي په تكرارسره ﴿يعني كه څوك څو څوځله په خپل ځان باندې مثلاً د زنا اقراراوكړي.چه ما زنا كړې ده.اوددې نه روسته بيا دخپل اقرارنه رجوع اوكړي.نودې رجوع كولې شي.دحدنه بچ كيداې شي.نوكه په حدالزنا كې اقراركونكې ځلورځله هم اقراراوكړي.بيا هم هغه ته د رجوع دروازه پرانستې ده.رجوع كولې شي.اوحد نه بچ كيداې شي.نوكه په باب الزنا كې د اقرار تكرارضروري ګرځولې شوې دې.نوددغه اقرار څه داسې نقصان نشته.چه تلافي ئې نشي كولې.بلكه د تكرارنه روسته ترې هم رجوع كولې شي﴾ اورجوع كول په حق د مال كې ﴿چه غل اقراراوكړي.چه ما دفلانى نه غلا كړې ده.اوبيا دخپل اقرارنه رجوع كوي﴾ نه صحيح كيږي بيخي. ﴿بلكه ده باندې به حدجاري كولې شي﴾ ځكه چې صاحب د مال دده تكذيب كوي. ﴿چه نه ده زمانه غلا كړې ده.اول ئې

اقراراوكړلو.او اوس بيا انكار كوي.معلومه شوه چې دې دروغژن دي﴾ او شرط كول د زيادت ﴿داقرار﴾ په زنا كې ﴿ثابت شوې دي﴾ خلاف القياس. ﴿يعنې په زنا كې اګرچه مقربالزنا څلور ځله د زنا اقراركوي.خوچونكه په باربار اقراركولوكې څه نوې فائده نشته.بلكه ديوځل اقراراوڅلورځله اقراركولود رجوع په صورت كې يو دې.يعنې كه يوځل د زنا اقراراوكړي.نوهم ترې رجوع كولې شي.اوكه څلورځله اقراراوكړي.هم ترې رجوع كولې شي.نود اقرارد تكرار حكم خلاف القياس ثابت شوې دې.اودا قاعده ده.چه كوم څيزخلاف القياس ثابت شي.نوهغه به مختص وي په خپل مورد پورې.نودلته به هم په زنا كې دتكرارحكم﴾ مختص وي په مورد دشرع پورې ﴿چه صرف په زنا كې به څلورځله اقراركولې شي. بل حكم به په دې باندې نشي قياس كولې.لكه څنګه چې په لمانځه كې په خنداې قهقه سره خاندل اوبه دې باندې اودس ماتيدل خلاف القياس په عام لمونځ كې ثابت شوې دي.نودجنازې لمونځ چې يوخاص لمونځ دې.هغه به په دې عام لمونځ باندې نشي قياس كولې.يعنې كه څوك د جنازې په لمانځه كې اوخاندي.دهغه اودس به نه ماتيږي﴾

دلاس كټ كولو لپاره دګواهانو تعداد

قَالَ (وَيَجِبُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ) لِتَحَقُّقِ الظُّهُورِ كَمَا فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ، وَيَنْبَغِي أَنْ يَسْأَلَهُمَا الْإِمَامُ عَنْ كَيْفِيَّةِ السَّرِقَةِ وَمَاهِيَّتِهَا وَزَمَانِهَا وَمَكَانِهَا لِزِيَادَةِ الِاحْتِيَاطِ كَمَا مَرَّ فِي الْحُدُودِ، وَيَحْبِسُهُ إِلَى أَنْ يَسْأَلَ عَنِ الشُّهُودِ لِلتُّهْمَةِ.

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي.اوواجبيږي ﴿حدسرقه﴾ په شهادت د دووګواهانو ﴿چه دوې [دوه] ګواهان ګواهي وركړي.چه ده غلا كړې ده.اود شهادت وجوب﴾ دښه ښكاره والي لپاره ﴿چه دا خبره په تحقيق سره ثابته شي.چه ده غلا كړې ده﴾لكه څنګه چې په ټولو حقوقوكې ﴿كه حقوق الله دي اوكه حقوق العباد﴾ ګواهي واجب شوې ده.اومناسب دي چې پوښتنه اوكړي ددې دواړوګواهانونه امام د غلا دطريقې ﴿چه ده په كومه طريقه غلا كړې ده﴾ اودماهيت دهغې ﴿چه غلا څه ته وائي﴾ اود زمانې د هغې ﴿چه غلا ئې كله كړې ده﴾ اودهغې د ځائې ﴿چه غلا ئې په كوم ځائې كې كړې ده﴾ لپاره د زيات احتياط لكه څنګه چې تيرشوي د حدودو دفع كولوپه بيان كې. ﴿يعنې دا احتياط به ځكه كوي.كه چرته په ګواهئ كې څه نقصان وي. نو حدبه ساقط شي.اوپه شريعت كې په جائزه طريقه د حد ساقط كول مطلوب دي﴾اوقيد كوي به دې ﴿يعنې غل په بندي خانه كې﴾ تردې چه پوښتنه اوكړي د ګواهانو نه د امله د تهمت نه﴿كيداې شي.چه دې ګواهانوپه ده دغلا تهمت لګولې وي.ده غلا نه وي كړې.نوچه د ګواهانونه تحقيق اوكړي.دده حال به معلوم شي.اوكه بالفرض د ګواهانود ګواهئ نه روسته ترې دستي لاس كټ كړي.نوپه دې كې دا احتمال شته.چه دا ګواهان دورغژن وي﴾

دغلا په وارداتوكې دګڼروكسانوشركت

(قَالَ وَإِذَا اشْتَرَكَ جَمَاعَةٌ فِي سَرِقَةٍ فَأَصَابَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ قُطِعَ، وَإِنْ أَصَابَهُ أَقَلُّ لَا يُقْطَعُ) لِأَنَّ الْمُوجِبَ

سَرِقَةُ النِّصَابِ وَيَجِبُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ بِجِنَايَتِهِ فَيُعْتَبَرُ كَمَالُ النِّصَابِ فِي حَقِّهِ

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي.اوكله چې شريك شي يوه ډله په غلا كې .اواورسيږي هريوكس ته په دوي كې لس روپئ . ﴿يعنې دمال مسروق قيمت اولګولې شي.اوهغه قيمت په دغه غلو باندې ويش كړې شي.نودهريوغل په برخه كې لس روپئ راځي﴾ نوقطع كولې به شي ﴿لاس دهريوكس﴾ اوكه اورسيږي ﴿هريوكس ته په دوي كې﴾ كمې د لسو روپو نه،نونه به شي كټ كولې ﴿لاس﴾ ځكه چې واجبونكې ﴿دلاس كټ كولو﴾ غلا دنصاب ده. ﴿يعنې كوم څيزغلا كړي.هغه لس روپئ يا ددې برابر وي.﴾اوواجبيږي ﴿قائمول دحد﴾ په هريوكس ددوي نه موافق دهغه د جرم.نومعتبر به وي كامل نصاب دده په حق كې ﴿يعنې حدبه هله جاري كولې شي.چه دهركس په برخه كې كامل جرم يعنې د سرقه دنصاب غلا

راشي .چه لس روپۍ دی.اوپه دې صورت کې چونکه دهريوه برخه کې دلسو نه کمې روپۍ راځی.نولاس به ئې نشی کټ کولې»

بَابُ مَا يُقْطَعُ فِيهِ وَمَا لَا يُقْطَعُ

ژباړه:- «دا» باب «د دې په بيان کې دې.چه» په کوم مال کې به لاس کټ کولای شی اوپه کوم کې نه.

دکوموځيزونوپه غلا کې چې لاس کټ کول نشته

(وَلَا قَطْعَ فِيمَا يُوجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ كَالْخَشَبِ وَالْحَشِيشِ وَالْقَصَبِ وَالسَّمَكِ وَالطَّيْرِ وَالصَّيْدِ وَالزِّرْنِيخِ وَالْمَغْرَةِ وَالنُّورَةِ)

حل اللغة: ① تاف: حقير،معمولی ② الخشب: لرګي ③ الحشيش: ګياه ④ القصب: نل ⑤ السمک: کب ⑥ الطير: چوغکه ⑦ الصيد: ښکار ⑧ الزرنيخ: هړتال يو ډول بوټې دې چې دوايانو کښې استعماليږی ⑨ المغرة: ملتانئ خاوره ⑩ النورة: چونه.

ژباړه وتشريح:- او پرې کول «دلاس» به نشی کولې په هغه ځيزکې چې مونـدې شی حقيرمباح په دارالاسلام کې لکه لرګی اوګیاه،اونل «دورمې) اوکب اومارغه اوښکار اوهړتال «يو ډول بوټې چې حکيمان ئې په دوايانوکې هم استعمالوی» اوملتانی خاوره اوچونه، «نوکه يوکس دا شيان (ځيزونه) غلا کړل.په دې کې لاس پرې کول نشته.البته که په دې خام اوکچه مال باندې کاريګری اوکړې شی.اوددې نه په محنت سره بل څه ځيزجوړکړې شی.نوهغه بيا معمولی مال نشی ګنړلې.بلکه دهغې په غلا به لاس کټ کولې شی.لکه د لرګی نه چې دروازې جوړيږی.فرنيچرترې جوړيږی داسې وريسې دا نور شيان (ځيزونه) راواخله»

وَالْأَصْلُ فِيهِ حَدِيثُ (عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَتِ الْيَدُ لَا تُقْطَعُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي الشَّيْءِ التَّافِهِ} (١)،أَي الْحَقِيرِ، وَمَا يُوجَدُ جِنْسُهُ مُبَاحًا فِي الْأَصْلِ بِصُورَتِهِ غَيْرَ مَرْغُوبٍ فِيهِ حَقِيرٌ تَقِلُّ الرَّغَبَاتُ فِيهِ وَالطِّبَاعُ لَا تَضِنُّ بِهِ،فَقَلَّمَا يُوجَدُ أَخْذُهُ عَلَى كُرْهٍ مِنَ الْمَالِكِ فَلَا حَاجَةَ إِلَى شَرْعِ الزَّاجِرِ،

ژباړه وتشريح:- اودليل په دې کې «چه ددې ځيزونوپه غلا کې دلاس پرې کول نشته» د حديث دحضرت عائشې(رض) دې.دوی فرمائيلی دی.وو لاس چې څخه به شو کټ کيدای په زمانه د رسول الله ﷺ کې په شی معمولی کې .يعنی حقيرکې .اودکوم ځيزاصل «خلګ ت کښې» چې مباح بيا مونډې شی. «لکه اوبه اوګیاه» اورغبت نشی کولې په هغې کې نوهغه به حقير وی.اوکم وی رغبتونه اوطبيعتونه «د خلګ وبه هغې کې .که يوکس دا شيان (ځيزونه) غلا کړی.نو» نه به شی ضامن کولې ددې اخستونکې.څکه چې ډيرکم داسې کيږی.چه په ناخوښۍ سره د مالک نه اخستې شی. «بلکه اکثردا وی.چه مالک ئې بغيردبخل کولونه خلګو ته ورکوی . نو هر کله چې خلګ ددې په حاصلولوکې رغبت نه کوی.اومالکان ئې د ساتنه خيال نه ساتی.نو» نشته حاجت د شريعت سزا ته. «چه څوک دا شيان (ځيزونه) واخلی.اوهغه ته سزا ورکړی»

تشريح:- ((وما يوجد جنسه مباحاً)) دحقير شی په غلا کې دلاس پرې کول نشته.او حقيرځيزبه هغه وی.چه خلګ هغه معمولی ګنړی.دهغې د ساتنه څه خيال نه ساتی.اودهغې په استعمال کې بخل نه کوی.نوکه يو ځيزداسې وی.نوهغه به حقيروی.اوپه دې مقام کې چې مصنف رحمه الله کوم شيان (ځيزونه) بيان کړی دی.چه ددې په غلا کې دلاس پرې کول نشته.نودا هم په دې صورت کې چې خلګ ئې حقيراومعمولی ګنړی.اوکه بالفرض پهيوخانې کې دا شيان (ځيزونه) قيمتی ګنړلی شی.او خلګ ئې ساتنه کوی.او خلګ وته ئې په ورکولوکې بخل کوی .نوکه دا شيان (ځيزونه) غلا کړې شی.دلاس پرې کول به په کې وی.

وَلِهَذَا الْمَعْنَى يُحِبُّ الْقَطْعُ فِي سَرِقَةِ مَا دُونَ النِّصَابِ وَلِأَنَّ الْحِرْزَ فِيهَا نَاقِصٌ، أَلَا يُرَى أَنَّ الْخَشَبَ يُلْقَى عَلَى الْأَبْوَابِ وَإِنَّمَا يُدْخَلُ فِي

(١) هو من حديث عائشة رضي الله عنها أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه وعبدالرزاق في مصنفه مرسلاً نصب الراية ٥٥٢/٣_

الدَّارِ لِلْعِمَارَةِ لَا لِلْإِحْرَازِ

حل اللغة: ① **الحرز:** حفاظت ② **الخشب:** لرګی ③ **يلقى:** غورځولې شی

ژباړه وتشريح:- اوهم دا وجه ده. ﴿چه دحقیراوکم څیزپه اخستلوکي څوك بخل نه کوی﴾ نه واجبیږی پرې کول ﴿دلاس﴾ په غلا دهغه څیزکي چې کم وی ﴿قیمت دهغې﴾ د نصاب ﴿د غلا﴾ نه ﴿چه لس روپۍ دی. اوبله ددې امله ﴿هم لاس پرې کول نه واجبیږی﴾ چه ساتنه په دې ﴿څیزونو﴾ کي ناقص دې. ﴿اوحدسرقه جاری کولوپه شرطونوکي یوشرط دا دې.چه محفوظ مال ئې غلا کړې وی.اوپه انتفاء د شرط سره انتفاء دمشروط راځی.نوچه ساتنه نشته.دحد جاری کول به هم نه وی.اوپه دې باندې دلیل چې په دې څیزونو کي ساتنه ناقص دې.دا دې.چه﴾ ددې مشاهده نشی کولې چې لرګی د دروازو سرد ﴿دکورنه بهر﴾ غورځولی شي. او کورداخلولې شی لپاره دآبادۍ ﴿چه دکور فرنیچر یا دروازې ترې جوړې کړی﴾ نه لپاره د ساتنه ﴿یعنی عام طورلرګی دکور نه بهرپراته وی.اوکه څوك ئې کورته دننه کوی.نودغلانه د ساتنه په غرض نه وی.بلکه په کورکي ورته اړتیا وی.لکه دروازې یا فرنیچر ترې جوړوی.یا د بل څه څیزدپاره﴾

وَالطَّيْرُ يَطِيرُ وَالصَّيْدُ يَفِرُّ وَكَذَا الشَّرِكَةُ الْعَامَّةُ الَّتِي كَانَتْ فِيهِ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الصِّفَةِ تُورِثُ الشُّبْهَةَ، وَالْحَدُّ يَنْدَرِئُ بِهَا

ژباړه وتشريح:- اومارغان ﴿ددوی په غلا باندې ځکه حدنشته.چه﴾ الوځی. ﴿په ساتنه کي ئې نقص دې﴾ اوښکار تختی. ﴿نوددې په ساتنه کي هم کمې دې.اووړاندې تیرشو.چه حدسرقه به د مال محفوظ په غلاکي جاری کیږی﴾ اودغه ډول شرکت عامه هغه چې په دې کي دې. ﴿هغه هم ددې تقاضا کوی.چه ددې څیزونوپه غلا دې حدجاری نکړې شی.یعنی په عامه توګه خلګ دا شیان (څیزونه) مشترك استعمالوی.بخل په کي نه کوی﴾ اودا شیان (څیزونه) په دې صفت سره پیدا کوی شبه. ﴿چه دا شیان (څیزونه) مباح الاصل دی.نوهرکله چې شبه پیدا شوه.نوقانون دا دې.چه﴾ حد دفع کولای شی په شبه سره. ﴿نوځکه ددې څیزونوپه غلا حد نه جاری کیږی.البته که یوڅیزمباح الاصل وی.لکه لرګی.اوپه هغې باندې خواری اومحنت اوشی.اوبل څیزترې جوړ شی.نوبیا مباح الاصل پاتې نشو.دهغې په غلا به حدجاری کیږی﴾

.وَيَدْخُلُ فِي السَّمَكِ الْمَالِحُ وَالطَّرِيُّ، وَفِي الطَّيْرِ الدَّجَاجُ وَالْبَطُّ وَالْحَمَامُ لِمَا ذَكَرْنَا وَلِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا قَطْعَ فِي الطَّيْرِ}(١)

حل اللغة: ① **المالح:** مالګین ② **الطری:** تازه ③ **الدجاج:** چرګ ④ **البط:** بطح ⑤ **الحمام:** کونتره

ژباړه وتشريح:- او ﴿په متن کي چې دکب په غلا باندې د حدنه جاری کیدو خبره ده.نو﴾ داخلیږی په کب کي مالګین اوتازه ﴿که کب وچ وی اوکه تازه وی.ددې په غلا حدنه جاری کیږی﴾ اوپه مارغانوکي ﴿داخلیږی﴾ چرګه اوبطح اوکونتره ﴿ځکه د مارغانوصفتونه په دې کي موجود دی.لکه الوتل شو.نولکه څنګه چې د الوتونکومارغانوپه غلا حد نه واجبیږی.دغه ډول به ددې په غلا باندې هم حد نه واجبیږی﴾ او ﴿بل﴾ داطلاق د قول د نبی ﷺ نه چې نشته پرې کول ﴿دلاس﴾ په مارغانوکي. ﴿نو دلته د طیرلفظ مطلق دې.هرې چوغکه ته وئیلی شی.نوپه دې اطلاق کي چرګه، بطحه اوکونتره هم راغله﴾

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَجِبُ الْقَطْعُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا الطِّينَ وَالتُّرَابَ وَالسِّرْقِينَ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِمَا مَا ذَكَرْنَا.

ژباړه وتشريح:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه واجبیږی پرې کول ﴿د لاس﴾ په هریوڅیزکي مګرنه واجبیږی په خټه اوخاوره اوغشیانو ﴿هغه ډیران چې د فصل دترقۍ لپاره په پټی کي اچولې شی﴾ کي. ﴿ځکه چې دا شیان (څیزونه) حقیرګنړلی شی.نوپه دې کي پرې کول نشته.اوپه پاته نوروتوکوکي شته﴾

---

١) غربه الزيلعي رحمه الله مرفوعاً ثم نقله موقوفاً عن عثمان رضي الله عنه وعزاه إلى مصنف ابن أبي شيبة وعبدالرزاق نصب الراية ٣/٥٥٣)_

اوداً دامام شافعي ﷫ قول هم دې. اوحجت په ده ﴿امام ابويوسف (رح)﴾ باندې هغه ﴿حديث﴾ دې کوم چې موږ ذکر کړلو. ﴿چه په مارغانوکي پرې کول دلاس نشته﴾

قَالَ: (وَلَا قَطْعَ فِيمَا يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ كَاللَّبَنِ وَاللَّحْمِ وَالْفَوَاكِهِ الرَّطْبَةِ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا فِي كَثَرٍ} (١) وَالْكَثَرُ الْجُمَّارُ، وَقِيلَ الْوَدِيُّ.

حل اللغة: ① يتسارع زر راځي ② اللبن شيدې ③ اللحم غوښه ④ التراب خاوره

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوري ﷫ فرمائي. اونشته پرې کول ﴿دلاس﴾ په هغه څه کې چې زر راځي هغې ته فساد ﴿يعنې زرخرابيږي﴾ لکه شيدې اوغوښه اوتازه ميوې. ﴿ځکه چې دا شيان (څيزونه) د ذخيره کيدو نه دي. بلکه زر خرابيږي﴾ په وجه د دې قول د نبي ﷺ چې نشته پرې کول ﴿دلاس﴾ په ميوه کې اوپه کثرکې. اوکثردخرما ګونډته وائي. ﴿کوم چې د وازګې پشان وي﴾ او وئيلې شوي دي. چه دخرما وړکي بوټي ته وائي. ﴿اودامام محمد ﷫ نه دا نقل دي. چه ثمرهغه ميوه ده. چه د قجوروپه ونو کې وي. اوکثردهغه خرما ونه ده﴾

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا قَطْعَ فِي الطَّعَامِ} (٢) وَالْمُرَادُ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ مَا يَتَسَارَعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ كَالْمُهَيَّإِ لِلْأَكْلِ مِنْهُ وَمَا فِي مَعْنَاهُ كَاللَّحْمِ وَالتَّمْرِ لِأَنَّهُ يُقْطَعُ فِي الْحِنْطَةِ وَالسُّكَّرِ إِجْمَاعًا

حل اللغة: ① المهيا تيار شوي ② الثمر ميوه ③ الحنطة غنم ④ السكر ګوره

ژباړه وتشريح:- اونبي ﷺ فرمائيلي دي. نشته کټ کول ﴿دلاس﴾ په ﴿غلاد﴾ طعام کې اومراد د طعام نه الله ښه پوهيږي. هغه څيزدې چې زرورځي هغې ته فساد ﴿يعنې زرخرابيږي﴾ لکه هغه طعام دخوراك لپاره تيارشوي وي. ددې نه ﴿يعنې طعام نه﴾ اوهغه چې په معنی ددې کې وي. لکه غوښه اوميوه. ﴿ځکه چې دا هم زرخرابيږي. ذخيره کيږي نه. اويه حديث کې د طعام نه ځکه هغه څيزمراد دي. چه زرخرابيږي.﴾ ځکه چې کټ کولای شي ﴿لاس په غلا د﴾ غنمو اوګوړې کې په اجماع سره. ﴿حالانکه هغه دخوراك شيان (څيزونه) چې زر خرابيږي. هغه هم طعام دې. نوددې اجماع نه معلومه شوه. چه دلته په حديث کې د طعام نه هغه طعام مراد دې. چه زرخرابيږي. اوغنم اوګوره چونکه نه خرابيږي. ځکه په حديث کې هغه داخل نشول﴾

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ فِيهِمَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ فَإِذَا آوَاهُ الْجَرِينُ أَوِ الْجِرَانُ قُطِعَ}

حل اللغة: ① الجرين درمن

ژباړه وتشريح:- اوامام شافعي ﷫ فرمائي. چه په دې څيزونوکې ﴿کوم چې وړاندې تيرشو﴾ به هم لاس کټ کولې شي. د وجې د قول د نبي ﷺ نه چې نشته کټ کول ﴿دلاس﴾ په ميوه اوکثرکې، خوکله چې ئې هغه په درمن کې کيخودې شي. نوګټ کولې به شي. ﴿نوددې حديث د امله کوم شيان (څيزونه) چې وړاندې تيرشو. که هغه قابل د ذخيرې وي اوکه نه وي. چه د پټي نه درمن ته يا بل محفوظ ځائې ته منتقل شوي وي. نود هغې په غلا کې دامام شافعي ﷫ په نيز پرې کول شته﴾

قُلْنَا: أَخْرَجَهُ عَنْ وِفَاقِ الْعَادَةِ، وَالَّذِي يُؤْوِيهِ الْجَرِينُ فِي عَادَتِهِمْ هُوَ الْيَابِسُ مِنَ الثَّمَرِ وَفِيهِ الْقَطْعُ.

---

١) من حديث رافع بن خديج ﷺ أخرجه الترمذي في الحدودباب ١٩ والنسائي في قطع السارق باب ١٣ رقم ٤٥٩٥ وابن ماجه في الحدود باب ٢٧ رقم ٢٥٩٣ والدارمي في الحدود باب وأحمد في المسند ١٤٠/٤ والشافعي في الأم ١٤٨/٦) والبغوي في شرح السنة ٣١٨/١) والبيهقي في السنن الكبرى ٤٥٧/٨) رقم ١٧٢٠٠) وكذا في معرفة السنن والآثاررقم ٥١٥٤) ومالك في الحدود رقم ٣٢)_

٢) غربه الزيلعي ﷫ بهذا اللفظ ثم أخرج ما هو بمعناه من حديث عبدالله بن عمرو ﷺ أن النبي ﷺ سئل عن الثمر المعلق فقال من أصاب بفية من ذي حاجة غير متخذ خبنة فلا شئ عليه ومن سرق منه شيأ بعد أن يؤويه الجرين فبلغ ثمن المجن فعليه القطع وعزاه إلى مراسيل أبي داود رقم ٢١٥ كذا في نصب الراية ٥٥٥/٣)_

حل اللغة: ① **اليابس:** وچ

ژباړه وتشريح:- مونږ وايو.چه نبی ﷺ دا ارشاد فرمائيلې موافق د عادت «د خلګ وو» اوکومو شيان (څيزونه) چې د خلګ وبه عادت کې درمن کې کيخودې شو.هغه به وچه ميوه وه.اوبه دې «وچه ميوه اوغله» کې پرې کول شته. «يعنی دا حديث د احنافو ﷺ خلاف مستدل نشی جوړيدې.ځکه چې «زموږ په نيزهم» پرې کول شته. «زموږ په نيزهم» هغه غله اوميوه جمع کوله.کومه چې به وچولې شوه.نونبی ﷺ دهغوی خلګ وبه په خپلو درمندونوکې هغه غله اوميوه جمع کوله.کومه چې به وچولې شوه.نونبی ﷺ دهغوی دعادت مطابق فيصله واوروله.چه چونکه دا شيان (څيزونه) قابل د ذخيرې دی.ځکه ددې په غلا کې پرې کول دلاس شته»

تشريح:- اګرچه صاحب دهدايه رحمه الله دامام شافعی رحمه الله د مستدل نه دا ځواب کړې دې.چه نبی ﷺ په درمن کې کيخودې شوې څيزپه غلا کې د لاس کټ کولوحکم کړې دې.نودا ځکه چې خلګ وبه په درمندونوکې وچ شيان (څيزونه) کيخودل.خوامام الهمام رحمه الله فرمائيلی دی.چه جرين هغه ځائې وی.چرته چې کچه قجورې جمع کولې شی.چه وچې شی.نوددې تعريف نه دا معلومه شوه.چه د نبی ﷺ په وخت کې چې خلګ وبه درمن کې کومې قجورې کيخودې.هغه به تازه وې.نوصاحب دهدايه چې کوم تاويل کړې دې.هغه صحيح نشو.ددې أمله زيات مناسب ځواب دا دې.چه دامام شافعی رحمه الله مستدل دهغه حديث سره معارض دې.په کوم کې چې نبی ﷺ فرمائيلی دی.((لاقطع فی ثمر ولاكثر)) نوهركله چې دواړه احاديث يو بل سره متعارض شو.نوپه دې کې شبه پيدا شوه.اوحدودو په باب کې به هغه حديث قابل ترجيح وی.چه دهغې په وجه حد ختميږی.

دونې دميوې اوډېټې دفصل په غلا د حد جاري كولوحكم

قَالَ (وَلَاقَطْعَ فِي الْفَاكِهَةِ عَلَى الشَّجَرِ وَالزَّرْعِ الَّذِي لَمْ يُحْصَدْ) لِعَدَمِ الْإِحْرَازِ (وَلَاقَطْعَ فِي الْأَشْرِبَةِ الْمُطْرِبَةِ) لِأَنَّ السَّارِقَ يَتَأَوَّلُ فِي تَنَاوُلِهَا الْإِرَاقَةَ، وَلِأَنَّ بَعْضَهَا لَيْسَ بِمَالٍ، وَفِي مَالِيَّةِ بَعْضِهَا اخْتِلَافٌ فَتَتَحَقَّقُ شُبْهَةُ عَدَمِ الْمَالِيَّةِ.

حل اللغة: ① **الشجر:** ونه ② **يحصد:** ريبلې شی ③ **المطربة:** نشه كونكی ④ **الاراقة:** تويول

ژباړه وتشريح:- فرمائی.اونشته پرې كول «دلاس» په «غلا د» ميوه كې «چه وی دا ميوه» په ونه باندې.اودهغه فصل «په غلاكې پرې كول دلاس نشته» نه وی ريبلې شوې «په دې دواړوڅيزونوكې دلاس پرې كول نشته» ځكه چې ساتنه نشته. «ددې څيزونو دېټ اود ونې څخه به څوك څوك منع كوې» اونشته پرې كول «دلاس» په شربوتونشه كونكوكې ،ځكه چې غل تاويل كوی په اخستلوددې كې د تويولو، «يعنی غل دا وئيلی شی.چه ما دا څيزدغلا په نيت نه دې اخستې.بلكه د تويولوكولوپه نيت مې اخستې دی.نوپه دې سره دده په غلا كې شبه پيدا شوه.اوحدود په شبه سره دفع كولی شی» اوبله دا چې ددې دا «نشه راوستونكی شيان (څيزونه) دشريعت په نيز» مال نه دې. «اوحدخود هغه څيزپه غلا كې جاری كولې شی.چه مال وی» اود بعضې «حرامو» مشروباتوپه اړه كې «دعالمانو» اختلاف دې.نوثابتيږی «په دې نشه راوستونكی څيزكې» شبه دعدم ماليت. «اوچه په ماليت كې نې شبه راغله.نوحدساقط شو.چه حدود په شك سره دفع كولی شی»

د ستاراومصحف په غلا باندې د حد جاری كيدل

قَالَ (وَلَافِي الطُّنْبُورِ) لِأَنَّهُ مِنَ الْمَعَازِفِ (وَلَافِي سَرِقَةِ الْمُصْحَفِ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حِلْيَةٌ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ لِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوَّمٌ حَتَّى يَجُوزَ بَيْعُهُ. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ مِثْلُهُ. وَعَنْهُ أَيْضًا أَنَّهُ يُقْطَعُ إِذَا بَلَغَتِ الْحِلْيَةُ نِصَابًا لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنَ الْمُصْحَفِ فَتُعْتَبَرُ بِانْفِرَادِهَا.

حل اللغة: ① **الطنبور:** ستارد كوم نه چې آواز راويستلې شی ② **المعازف:** آلات د سرود ③ **المصحف:** قرآن پاک

ژباړه وتشريح:- فرمائی.اونشته كټ كول «دلاس په غلا كولود» ستاركې.ځكه چې دا سرود دې.اونشته په غلا كولود مصحف كې «دلاس كټ كول» اګركه په دې باندې سره زر وی.اوامام شافعی رحمه الله فرمائی.چه «د مصحف په غلاكې به لاس» كټ كولې شی.ځكه چې مصحف مال متقوم دې. «اود مال متقوم دليل

دا دي.﴾ ترديٍ چې جائز دی خرڅول ددې ﴿مصحف﴾ اوداِمام ابویوسف رحمه الله ددې ﴿قول﴾ پشان نقل دی.
﴿چه دمصحف په غلا کې دلاس پرې کول نشته﴾اوداِمام ابویوسف رحمه الله نه ﴿دوهم روايت﴾ دا هم نقل دې.چه کټ کولې به شی ﴿لاس﴾ کله چې رسیږی سره زر ﴿کوم چې په دې باندې دی﴾ نصاب ﴿د سرقه﴾ ته.ځکه چې دا سرزرد مصحف نه نۀ دی. ﴿بلکه مستقل ځیزدی﴾ نومعتبربه وی ځانله.
﴿دمصحف تابع به نه وی﴾

وَوَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ الْآخِذَ يَتَأَوَّلُ فِي أَخْذِهِ الْقِرَاءَةَ وَالنَّظَرَ فِيهِ، وَلِأَنَّهُ لَا مَالِيَّةَ لَهُ عَلَى اعْتِبَارِ الْمَكْتُوبِ وَإِحْرَازُهُ لِأَجْلِهِ لَا لِلْجِلْدِ وَالْأَوْرَاقِ وَالْحِلْيَةِ وَإِنَّمَا هِيَ تَوَابِعُ وَلَا مُعْتَبَرَ بِالتَّبَعِ، كَمَنْ سَرَقَ آنِيَةً فِيهَا خَمْرٌ وَقِيمَةُ الْآنِيَةِ تَرْبُو عَلَى النِّصَابِ.

حل اللغة: ① الجلد وقایه ② الحلية:کالی،سره زر ③ انية:لوښی ④ تربو:زیاتیږی

ژباړه وتشریح:- اووجه د ظاهر روايت ﴿چه د مصحف په غلا کې دلاس پرې کول نشته.دا ده.چه﴾ ﴿مصحف﴾ په اخستلوکې تاویل دقراءت کولې شی.اوپه دې کې دکتلو. ﴿نوپه دې تاویل سره دغلا په تعریف کې شبه راغله.اوپه شبه سره حدساقطیږی.نوځکه د مصحف په غلا سره حدنه جاری کیږی. او ﴿دمصحف په غلا باندې حدځکه هم نه جاری کیږی.چه﴾ دمصحف مالیت نشته.په اعتبارد مکتوب سره ﴿یعنی دمصحف الفاظ مال نه دې.بلکه دا خودالله تعالی کلام دې.اوچه مال نشو.نوحدبه په کې هم نه وی. ځکه چې مال نه دې.اوکه ته دا وائې.چه مصحف خوصرف کلام نه وی.بلکه په هغې کې پاڼړې وی. نو پکارده چې ددې پاڼړو اوجلدپه وجه دمصحف په غل باندې حدجاری شی.نوموږ وایو.چه﴾ د مصحف حفاظت د کلام د امله کیږی. ﴿چه دا دالله تعالی کلام دې﴾ د ټوک اوپاڼړو او سرو زرو د امله نه کیږی.بلکه دا شیان (ځیزونه) ﴿پاڼړې جلداوسره زر﴾ توابع دی. ﴿دمحصف﴾ اوتابع لره څه اعتبارنه وی. ﴿اوددې مسئلې نظیردا دې﴾ که یوکس لوښې غلا کړی.اوپه هغې کې شراب وی.اوقیمت د لوښی په نصاب باندې زیاتیږی. ﴿نوپه دې صورت کې هم حدسرقه نه واجبیږی.ځکه چې لوښې تابع وی.اواعتبارمتبوع لره وی.تابع لره نه وی.

دجمات دروازې غلا کولوحکم

(وَلَا قَطْعَ فِي أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ) لِعَدَمِ الْإِحْرَازِ فَصَارَ كَبَابِ الدَّارِ بَلْ أَوْلَى، لِأَنَّهُ يُحْرَزُ بِبَابِ الدَّارِ مَا فِيهَا وَلَا يُحْرَزُ بِبَابِ الْمَسْجِدِ مَا فِيهِ حَتَّى لَا يَجِبُ الْقَطْعُ بِسَرِقَةِ مَتَاعِهِ

ژباړه وتشریح:- اونشته پرې کول ﴿په غلا د﴾ دورازو د مسجد حرام،دنشتوالی د ساتنه نه ﴿ځکه چې جماتونه کولاؤ وی.- خلګ دلمانځه لپاره ځی راځی.اوچه ساتنه نشته.حدهم نشته﴾ نودا ﴿دجماتونودروازې﴾ اوګرځیدلې پشان د دروازو د کور.بلکه دهغې نه هم زیاتې ﴿غیرمحفوظ شوې﴾ ځکه چې د کور په دروازه باندې هغه څه محفوظ کیږی.کوم چې په هغې کې وی.اونه محفوظ کیږی په دروازه د. جمات هغه څه چې په جمات کې وی.تردې چې واجب نه دی کټ کول ﴿دلاس په غلا کولود﴾ سامان د جمات.

د سرورو صلیب شطرنج منزری په غلا دلاس کټ کولوحکم

قَالَ (وَلَا الصَّلِيبِ مِنْ الذَّهَبِ وَلَا الشِّطْرَنْجِ وَلَا النَّرْدِ) لِأَنَّهُ يَتَأَوَّلُ مَنْ أَخَذَهَا الْكَسْرَ نَهْيًا عَنْ الْمُنْكَرِ، بِخِلَافِ الدِّرْهَمِ الَّذِي عَلَيْهِ التِّمْثَالُ لِأَنَّهُ مَا أُعِدَّ لِلْعِبَادَةِ فَلَا تَثْبُتُ شُبْهَةُ إبَاحَةِ الْكَسْرِ.(١)

---

١) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(١٣٣\٥) والعناية (١٣٣\٥) والهندية (١٧٧\٢) والدر المختار (٢١٧\٣) البحرالرائق (٥٤\٥) نقلاً عن القول الراجح (٤٥٨\١)-

حل اللغة: ① الصليب: دعیسایانو هغه مذهبی نښنه کومه چې هغوی په خپلو عبادتخانو سربیره لګولی وی ② نرد:منزرې ③ الکسر: تاتول ④ التمثال:عکس

زباړه وتشریح:- دسرو زرود صلیب،شطرنج منزری ﴿په غلا د لاس پرې کول نشته﴾ ځکه چې تاویل کوی ځوک چې واخلی ده ﴿په اخستلودې کې﴾ د ماتولود امله د منع کولو ﴿د خلګ و﴾ د ممنوع شرعی ځیزنه. ﴿یعنی غل دا وئیلی شی.چه دا ما دځیزځکه غلا کړلو.چه خلګ د یوداسې ځیزنه منع کړم.دکوم نه چې شریعت دوی منع کړی دی.نوپه دې سره شبه اباحت پیدا شوه.ځکه چې د ناروا شی ضائع کول مباح دی.اوپه شبه باندې حد دفع کولې شی﴾ په خلاف د روپئ هغې چې په هغې باندې عکس وی. ﴿یعنی که ځوک روپئ پټه کړی.اوپه هغې باندې عکس وی.نوده باندې به دهغې په وجه حدسرقه جاری کولې شی.اودهغه دا وینا به معتبر نه وی.چه ما دا روپئ ددې امله غلا کړه.چه په دې باندې تصویردې.اوشریعت د تصویرنه منع کړې ده﴾ ځکه چې دغه تصویر ﴿کوم چې په روپئ جوړ شوې وی﴾ نه دې جوړشوې لپاره دعبادت ﴿بلکه دا خود ملك یوه نښانه وی﴾ نوشبه د اباحت د ماتولوپه کې پیدا نشوه. ﴿اوچه شبه دا باحت په کې پیدا نشوه.نوپه غل باندې به ئې حد جاری کولې شی.

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ إِنْ كَانَ الصَّلِيبُ فِي الْمُصَلَّى لَا يُقْطَعُ لِعَدَمِ الْحِرْزِ، وَإِنْ كَانَ فِي بَيْتٍ آخَرَ يُقْطَعُ لِكَمَالِ الْمَالِيَّةِ وَالْحِرْزِ

زباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه چرته صلیب په عبادتګاه کې وی.نونه به شی کټ کولې ﴿لاس په غلا د دې﴾ د امله د نشتوالې د ساتنه نه ﴿ځکه چې عبادتګاه ته خلګ ځی راځی.ځیزبه کې محفوظ نه وی.اوپه حد سرقه کې دا شرط دې.چه مسروق ځیزبه د محفوظ ځائې نه غلا شوې وی﴾ اوکه په بل کور کې وی.نوبیا به کټ کولای شی ﴿لاس دغل په غلا کاوه د صلیب﴾ د امله دکمال مالیت ساتنه د امله ﴿یعنی چې دا صلیب چې په کورکې دې.نوددې مالیت هم پوره دې.اومحفوظ هم دې.نوددې په غلا به لاس کټ کولې شی﴾

دآزاد ماشوم په غلا باندې دحدجاری کیدوحکم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى سَارِقِ الصَّبِيِّ الْحُرِّ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ) لِأَنَّ الْحُرَّ لَيْسَ بِمَالٍ وَمَا عَلَيْهِ مِنَ الْحُلِيِّ تَبَعٌ لَهُ، وَلِأَنَّهُ يَتَأَوَّلُ فِي أَخْذِهِ الصَّبِيَّ إِسْكَاتَهُ أَوْ حَمْلَهُ إِلَى مُرْضِعَتِهِ.

حل اللغة: ① الحلي: کالی ② اسکات:چپ کول ③ حمل:اوړل،بوتلل

زباړه وتشریح:- اونشته پرې کول په غلا د ماشوم آزاد.اګرچه په هغه کالی اچولې وی.ځکه چې آزاد انسان مال نه دې. ﴿اوحدد مال په غلا باندې واجبیږی.اوکه ته دا وائې.چه سره زر خومال دې.نود ماشوم سره خوهغه هم دی.دهغې په وجه دې پرې حدجاری کړې شی.نوموږ وایو.چه﴾ څه په هغه ﴿ماشوم﴾ باندې وی. ﴿هغه اچولې وی﴾ دکالو نه.نوتابع دی دهغه ﴿ماشوم﴾ اوبله دا چې دې ﴿غل﴾ تاویل کولې شی په اخستو دماشوم کې دچوپ کولودهغه. ﴿یعنی دا وئیلی شی.چه دې ماشوم ژړل.ځکه ما راواخستل.چه قلار شی.نوپه دې سره په غلا کې شبه پیدا شوه﴾ اویا د اوړلوددہ خپلې تی ورکونکې ته ﴿یعنی غل دا وئیلی شی.چه دا ماشوم ما دې لپاره راواخستلو.چه شیدې ورکونکې ته ئې بوځم.اوهغه ورته شیدې ورکړی﴾

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُقْطَعُ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ هُوَ نِصَابٌ لِأَنَّهُ يَجِبُ الْقَطْعُ بِسَرِقَتِهِ وَحْدَهُ فَكَذَا مَعَ غَيْرِهِ، وَعَلَى هَذَا إِذَا سَرَقَ إِنَاءَ فِضَّةٍ فِيهِ نَبِيذٌ أَوْ ثَرِيدٌ. وَالْخِلَافُ فِي الصَّبِيِّ لَا يَمْشِي وَلَا يَتَكَلَّمُ كَيْ لَا يَكُونَ فِي يَدِ نَفْسِهِ.

حل اللغة: ① اناء:لوښې ② فضة:سپین زر ③ نبیذ:د قجورو اوبه ④ یرید: په ښوروا ه کښې ماته شوې روټئ

زباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه کټ کولې به شی ﴿لاس دغل﴾ کله چې وی په ماشوم باندې کالی اووی هغه نصاب ﴿یعنی د حد سرقه د نصاب برابر وی.چه لس درهمه دی﴾ ځکه چې

واجبيږي پرې كول ﴿دلاس﴾ په غلا كولو د كالو چې ځانله وي.نودغه ډول به ﴿كټ كولې شي﴾ چې وي دبل شي سره.اوهم دغه ډول ﴿اختلاف دې په مينځ د طرفينو اوامام ابويوسف رحمهم الله كې﴾ كله چې غلا كړي لوښې د سپينو زرو اوپه هغې كې نبيذ يا ثريد وي. ﴿يعني دطرفينو رحمهما الله په نيزلاس نشي كټ كولې اودامام ابويوسف رحمه الله په نيزكه لوښې د سرقه نصاب ته رسي.نودلاس پرې كول په كې واجب دي﴾ اودا اختلاف په هغه ماشوم كې دې.چه تلې نشي اوخبرې نشي كولې.ځكه دې په خپل ذاتي اختياركې نه وي. ﴿اوكه ماشوم تلې شي اوخبرې كولې شي.نودهغه په غلاباندې په اتفاق سره لاس نشي كټ كولې﴾

دلوي يا ماشوم غلام په غلا باندې دلاس كټ كولوحكم

(وَلَا قَطْعَ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ الْكَبِيرِ) لِأَنَّهُ غَصْبٌ أَوْ خِدَاعٌ (وَيُقْطَعُ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ) لِتَحَقُّقِهَا بِحَدِّهَا إلَّا إذَا كَانَ يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ لِأَنَّهُ هُوَ وَالْبَالِغُ سَوَاءٌ فِي اعْتِبَارِ يَدِهِ.(¹)

حل اللغة: ① **خداع**:دهوكه ② **يعبر**:تعبير كولې شي

ژباړه وتشريح:- اونشته كټ كول ﴿دلاس﴾ په غلا د غلام لوئې كې ،ځكه چې دا غصب يا دهوكه ده. ﴿غلا نه ده.غلا ځكه نه ده.دغلا په تعريف كې ديوځيزپه پټه باندې اخستل دي.اودلته لوئې غلام په پټه نه دې اخستې شوې.بلكه په زبردستئ اغوا كړې شوې دې.نوچه زبردستي شوه.دا غصب شو.يا دا چې په زبردستئ اوزورباندې ئې نه وي بوتلې.بلكه په څه بهانه باندې ئې دخپل ځائې بوتلې وي.نودا دهوكه شوه.اودغصب يا دهوكه سزا لاس پرې كول نه دي﴾ اوكټ كولې به شي ﴿لاس﴾ په غلا د غلام ماشوم كې .د املې د واقع كيدو دغلا نه د خپل تعريف سره ﴿يعني دغلا چې څه تعريف دې.هغه د ماشوم غلام په غلاكولوكې موجود دې﴾ البته دا كه دا غلام دخپل نفس نه تعبيركولې شي. ﴿چه خپل نوم خودلې شي.نوبيا به دغل لاس نشي كټ كولې﴾ځكه چې دې ﴿يعني داسې ماشوم چې خپل نوم خودلې شي﴾ اوبالغ برابر دي.په معتبروالې دخپل لاس كې ﴿يعني كه بالغ وي اوكه نابالغه خوخبرې كولې شي.نودا دواړه دخپل ځان په اختياركې برابر دي .يعني خپل ښه بد پيژني.اوچه څه كوي هغه كولاى شي دبل محتاج نه وي﴾

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يُقْطَعُ وَإِنْ كَانَ صَغِيرًا لَا يَعْقِلُ وَلَا يَتَكَلَّمُ اسْتِحْسَانًا لِأَنَّهُ آدَمِيٌّ مِنْ وَجْهٍ مَالٌ مِنْ وَجْهٍ،

ژباړه وتشريح:- اوامام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه نه به شي كټ كولې ﴿لاس دغل په غلا دغلام كې﴾ اگرچه وي ﴿دغه مسروقه غلام﴾ ماشوم،چه نه پوهيږي اونه خبرې كولې شي.د املې داستحسان نه، ﴿ځكه چې دې ماشوم غلام كې دوې [دوه] حيثيتونه جمع شوې دي﴾ دې بنيادم دې په يوحيثيت سره.اومال دې په يوحيثيت سره ، ﴿نوهركله چې دده په ماليت اوعدم ماليت كې اشتراك راغلو.نوپه دې سره دده په ماليت كې شبه پيدا شوه.اوپه شبه سره حدساقطيږي.نودماشوم غلام چې نه پوهيږي.اوخبرې نشي كولې دده په غلا سره حدنه جاري كيږي﴾

وَلَهُمَا أَنَّهُ مَالٌ مُطْلَقٌ لِكَوْنِهِ مُنْتَفَعًا بِهِ أَوْ بِعَرْضِ أَنْ يَصِيرَ مُنْتَفَعًا بِهِ إلَّا أَنَّهُ انْضَمَّ إلَيْهِ مَعْنَى الْآدَمِيَّةِ.

حل اللغة: ① **منتفعا به**: هغه څيزچه فائده ترې اخستې شي ② **يعرض**:نزدې دې

ژباړه وتشريح:- اودطرفينو رحمهما الله دليل دا دې.چه دا ﴿ماشوم غلام چې نه پوهيږي﴾ مال دې مطلقاً ځكه چې نفع اخستې شي دده نه، ﴿في الحال.يعني داسې كارونه پرې كولې شي.كوم چې ماشومان كوي.لكه د دوكان نه څه معمولې شي راوړل﴾ اويا نزدې دې چې اوگرځي داسې چې فائده به اخستې شي دده نه ﴿يعني چې غټ شي.نودكور اودبهركار روزگاراوخدمت به كولې شي.دغه ډول كه مولى ئې خرڅوي.نو خرڅولې ئې شي﴾ البته دا ده.چه يوځائې شوې ده.ده سره معنى د آدميت. ﴿نوچه د انسان نوم ورته اخستې شي.په دې

¹) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(١٣٤\٥) وردالمحتار(٢١٨\٣) والهندية (١٧٧\٢) والبحرالرائق (٥٤\٥) نقلاً عن القول الراجح(٤٦٠\١١)-

سره دده په ماليت كي څه توپير نه راځي. اوچه په ماليت كي ئې توپير نه راځي.نودده په غلا به حدجاري كولې شي.

د دفترې رجسټرو او فائلونو غلا كولوبانديې دحدجاري كولوحكم

(وَلَا قَطْعَ فِي الدَّفَاتِرِ كُلِّهَا) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مَا فِيهَا وَذَٰلِكَ لَيْسَ بِمَالٍ (إِلَّا فِي دَفَاتِرِ الْحِسَابِ) لِأَنَّ مَا فِيهَا لَا يُقْصَدُ بِالْأَخْذِ فَكَانَ الْمَقْصُودُ هُوَ الْكَوَاغِدَ.

حل اللغة: ① الدفاتر: جمع د دفتر، رجسټر ② كواغد: جمع د كاغذ ده

زياده وتشريح:- اونښته كټ كول «د لاس په غلا كولو» د دفترې رجسټرو «او فائلونو» ټولوكي ،څكه چې مقصود هغه څه وي.چه په هغې كښې «ليكلې شوي» وي.اوهغه «څه چې په كي ليكلې شوي وي.نوهغه» مال نه وي.البته «د لاس پرې كول شته» په رجسټرود حساب كي .څكه چې په دغه رجسټروكي څه ليكلي وي.په اخستلوكي هغه مقصود نه وي.نومقصود «هغه» كاغذونه شول. «په كوم كي چې ليكل شوي وي .نوكه دهغې قيمت د سرقه نصاب ته رسي.په هغې كي دلاس پرې كول وي.اوكه نه رسي.نوپه هغې كي به د لاس پرې كول نه وي»

تشريح:- دلته دا پيژندل پكاردي.چه دخپل معيارپه اعتبارسره فائلونه اوكاغذونه په پنځه قسمه دي.① چه شرعي مواد په كي وي.لكه قرآن پاك تفاسير ،داحاديثوكتابونه وغيره چونكه ددې كتابونوپه كتلوسره د انسان دعقيدې اوعمل اصلاح كيږي.نود فائدې په لحاظ سره دا د قرآن پاك پشان شو.نولكه څنګه چې دقرآن پاك په غلا كي حدنشته.دغه ډول ددې په غلا كي هم حدنشته.دغه ډول مذهبي كيسټواو سي ډي ګانوهم دا حكم دې.څكه چې په دې كي مقصود دغه كيسټې نه وي.بلكه كوم موضوعات چې په هغې كي وي.هغه مقصود وي.اوهغه مال نه دې.نوځكه دهغې غلا موجب دحد نه دې.② دوهم ډول غير اسلامي ناولې لټريچرې ډائجسټې كوم چې په غيراسلامي بلكه په غيرمهذب اوبې حيائې په موادو باندې مشتمل وي.نوددې په غلا كي هم لاس پرې كول نشته.څكه چې دا شيان (څيزونه) د منكراتود خورولوذرايع دي. نوددې ضائع كول دنهي عن المنكرپه زمره كي راځي.نوځكه موجب د حدسرقه نه دي.③ هغه عدالتي يا دفترې رجسټرې چې په هغې كي مقدمات يا د آمدن او خرچ تفصيل وي.يا د زمكې اوكورونود مالكانونومونه موجود وي.نوداسې قيمتي دستاويزاتو اوكاغذاتو غلا موجب دحد ده.دغه ډول كه يوفائل داسې وي.چه په هغې كي ديوكس د راز خبرې وي.يا ديوملك اهم ملكي رازونه وي.نو ددغه فائلونو په غلا باندې هم حد واجبيږي.دغه ډول په عامومحكموكي چې كوم ريكارډ وي.دهغې غلا هم موجب د حد ده.البته داسې فائلونه يا كاغذونه چې ردي وي.يعني بيكاره شوي وي.لكه په بينك كي داخل شوې بلونه.يا په يونيورسټويابورډونوكي د تيرو كلونو زړې پرچې نو چونكه په دې څيزونو كي مقصود هم كاغذ وي.لكه نن صبا چې په لاروكوڅوكي نفر ګرځي.اوردي كاغذونه راغونډوي.اوهغه بيا په كباړي باندې خرڅوي.اوكباړي ئې بيا په كارخانه باندې خرڅه وي،اوكارخانه ترې بيا اخباري كاغذ وغيره جوړوي.نوداسې شيان (څيزونه) چونكه مال دې.څكه چې باقاعده په معاشره كي ډير خلګ داسې دې.چه دهغوي دا كاروباردې.چه رد كاغذونه اخلي.اوبيا ئې په لويوكارخانه داروباندې خرڅوي.نوددې كاغذونو قيمت كه حدسرقه ته رسي.په دې كي به پرې كول وي.

د سپي اومنزرې د غلا حكم

قَالَ (وَلَا فِي سَرِقَةِ كَلْبٍ وَلَا فَهْدٍ) لِأَنَّ مِنْ جِنْسِهَا يُوجَدُ مُبَاحُ الْأَصْلِ غَيْرَ مَرْغُوبٍ فِيهِ وَلِأَنَّ الِاخْتِلَافَ بَيْنَ الْعُلَمَاءِ ظَاهِرٌ فِي مَالِيَّةِ الْكَلْبِ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً.

حل اللغة: ① **كلب** سپې ② **فهد** زمرى

ژباړه وتشريح:- صاحب دقدورى رحمه الله فرمائى. نشته پرې كول «د لاس» په غـلا دسپى كې اود زمرى كې، ځكه چې د جنس ددې دواړو نه موندلې شى مباح الاصل، اورغبت نشى كولې په «حاصلولو د» هغې كې، «او كوم ځيزچه مباح الاصل وى. دهغې په غلاكې حد نشته» اوبله داچه اختلاف ښكاره دې په مينځ د عالمانوكې په ماليت دسپى كې. «هغه دا» چې امام شافعى رحمه الله فرمائى. كه سپې ښكارى وى او كوځه ډب وى. نودا مال نه دې. اوددې اخستل اوخرڅول جائزنه دى. اوامام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى. چه سپې مال متقوم دې. په اصل كې دا اختلاف په دې قاعده باندې مبنى دې. چه څوك سپې نجس العين گنړى. هغه ئې مال نه گنړى. اوچه څوك ئې نجس العين نه گنړى. نوهغه ئې مال گنړى» نودې «اختلاف» پيدا كړه. شبه «په ماليت د سپى كې اودا خبره معلومه شوې ده. چه حد په شبه سره دفع كيږى»

تشريح:- دا مسئله بيان شوه. چه كوم ځيزمباح الاصل وى. نودهغې په غلا كې پرې كول نشته. اوس مباح الاصل څه ته وائى. نوپه مباح الاصل كې پنځه خبرې دى. ① چه هغه ځيزد خلگو په نظركې مرغوب اوخوښ نه وى. ② چې هغه ځيزسپك اوحقيرگنړلې شى. ځكه چې فائده په كې نه وى ③ چې دهغې چاته په وركاوه كې بخل نشى كولې ④ كه څوك هغه واخلى. نومالك پرې بد نه گنړى. ⑤ چې غيرمحفوظ وى. يعنى چې يو ځيزدځپل معمولى والى د امله دهغې ساتنه نشى كولې. كله چې په دې پنځه ځيزونوكې يوځيزهم په يو ځيز كې موجود شو. نوهغه مباح الاصل دې.

د سرود آلاتو غلا كولوحكم

(وَلَا قَطْعَ فِي دُفٍّ وَلَا طَبْلٍ وَلَا بَرْبَطٍ وَلَا مِزْمَارٍ) ([1]) لِأَنَّ عِنْدَهُمَا لَا قِيمَةَ لَهَا وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ آخِذُهَا يَتَأَوَّلُ الْكَسْرَ فِيهَا.

حل اللغة: ① **دف** طمبل ② **طبل** ډول ③ **مزمار** باجه ④ **الكسر** ماتول

ژباړه وتشريح:- اونشته كټ كول «د لاس» په طمبل، ډول باجه اوآلاتود سرود كې، ځكه چې په نيزد صاحبينو رحمهما الله نشته قيمت ددې «يعنى عندالشرع دا مال متقوم نه دې» اوپه نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله په اخستلوددې كې تاويل كولاى شى د ماتولو. «يعنى پټونكې دا وئيلى شى. چه دا شيان (ځيزونه) ما د ماتولوپه غرض اخستې دى. نودا دنهى عن المنكرپه زمره كې راغلو. ځكه پرې حد نشته. يعنى ددې ځيزونوپه غلا باندې په اتفاق سره لاس نشى كټ كولې. البته په وجه عدم قطع كې اختلاف دې. صاحبين دا شيان (ځيزونه) مال نه گنړى. ځكه پرې قطع نه واجبوى. اوابوحنيفه رحمه الله ددې امله دقطع قائل نه دى. چه دا غل ددې په غلا كولوكې دا وئيلى شى. چه ما د ماتولو لپاره دا غلا كول. نوپه دې سره شبه پيدا شوه. اوشبه دافع د حد دى»

دقيمتى لرگې په غلا كې دلاس كټ كول

(وَيُقْطَعُ فِي السَّاجِ وَالْقَنَا وَالْآبَنُوسِ وَالصَّنْدَلِ) لِأَنَّهَا أَمْوَالٌ مُحْرَزَةٌ لِكَوْنِهَا عَزِيزَةً عِنْدَ النَّاسِ وَلَا تُوجَدُ بِصُورَتِهَا مُبَاحَةً فِي دَارِ الْإِسْلَامِ

حل اللغة: ① **الساج** دا يو ډول د سور رنگ لرگې دې ② **ابنوس** يو قيمتى د تور رنگ سخت لرگې ③ **الصندل** هغه لرگې چې په نيزه كې لگولې شى

ژباړه وتشريح:- اوكټ كولې به شى «لاس په غـلا د» ساج «يوقيمتى د سور رنگ سخت لرگې» اوآبنوس «يو قيمتى د تور رنگ سخت لرگې» اوصندل «هغه لرگې چې په نيزه كې لگولې شى» كې ځكه چې

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا فى ردالمحتار(۲۱۷\۳) والبحرالرائق (۵۵\۵) والهندية (۱۷۷\۲) نقلاً عن القول الراجح (۱۶۰\۱٤)-

دا مالونه دی محفوظ. ﴿یعنی خلک ددې ساتنه کوی.او ساتنه ئې ښکه کوی.چه﴾ دا قیمتی دی.په نیزد خلګ و،اونشی موندې په اصلی صورت کې مباح په دارالاسلام کې. ﴿نوهرکله چې دا شیان (څیزونه) مال دې. محفوظ دې.مرغوب دی.مباح الاصل نه دې.نوددې په غلا کولوکي به لاس کټ کولې شی.لکه څنګه که په بل څیزکي دا صفات وی.نودهغې په غلا کولوکي چې لاس کټ کولې شی﴾

دقیمتی کاڼرو په غلا کې دلاس کټ کول

قَالَ (وَيُقْطَعُ فِي الْفُصُوصِ الْخُضْرِ وَالْيَاقُوتِ وَالزَّبَرْجَدِ) لِأَنَّهَا مِنْ أَعَزِّ الْأَمْوَالِ وَأَنْفَسِهَا وَلَا تُوجَدُ مُبَاحَةَ الْأَصْلِ بِصُورَتِهَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ غَيْرَ مَرْغُوبٍ فِيهَا فَصَارَتْ كَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ.

حل اللغة: ① الفصوص: جمع د فص غمې ② الخضر: شین ③ الذهب: سرۀ زر ④ الفضة: سپین زر

ژباړه وتشریح:- ﴿امام محمد رحمه الله په جامع صغیرکي﴾ فرمائی.اوکټ کولې به شی ﴿لاس﴾ په شنو غمو،یاقوتو زبرجدو کي ،ځکه چې دا قیمتی اومرغوب مالونه دی.اونه موجودیږی مباح الاصل په دارالاسلام کي اوغیرمرغوب هم نه دی. ﴿هرکله چې قیمتی،مرغوب،غیرمباح الاصل دی.﴾ نواوګرځیدل پشان د سرو زرو او سپینو زرو، ﴿اود سرو او سپینو زرو په غلا کي پرې کول دلاس شته.نوددې په غلا کي به هم پرې کول دلاس وی﴾

دلرګی نه جوړشوی په قیمتی څیزکې دلاس کټ کولوحکم

(وَإِذَا اتُّخِذَ مِنْ الْخَشَبِ أَوَانِي وَأَبْوَابًا قُطِعَ فِيهَا) لِأَنَّهُ بِالصَّنْعَةِ الْتَحَقَ بِالْأَمْوَالِ النَّفِيسَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّهَا تُحْرَزُ

حل اللغة: ① الخشب: لرګي ② اواني: لوښی ③ ابواب: جمع د باب، دروازه ④ النفيسة: ښه قیمتی

ژباړه وتشریح:- اوکله چې جوړکړې شی د لرګی نه لوښی یا دروازې نوکټ کولې به شی ﴿لاس په غلا ددې﴾ کي ،ځکه چې دا لرګې په کاریګرئ سره ملحق شو داموال مرغوبو سره، ﴿نولکه څنګه چې د اموال مرغوبو په غلا کي لاس کټ کولې شی.نودغه ډول به.ددې په کټ کولوکي هم لاس کټ کولې شی.اوددې دقیمتی والی دلیل دا دې.چه﴾ ته ګورې نه چې ددې ساتنه کولې شی.

بِخِلَافِ الْحَصِيرِ لِأَنَّ الصَّنْعَةَ فِيهِ لَمْ تَغْلِبْ عَلَى الْجِنْسِ حَتَّى يُبْسَطَ فِي غَيْرِ الْحِرْزِ، وَفِي الْحُصْرِ الْبَغْدَادِيَّةِ قَالُوا يَجِبُ الْقَطْعُ فِي سَرِقَتِهَا لِغَلَبَةِ الصَّنْعَةِ عَلَى الْأَصْلِ

حل اللغة: ① الحصير: پوزکې ② يبسط: خوړولې شی ③ الصنعة: کاریګری ،استاذی،دلاس کار

ژباړه وتشریح:- په خلاف د پوزی ﴿یعنی که د میزرو نه پوزې جوړشی.اوهغه غلا کړې شی.نوپه هغې کي دلاس پرې کول نشته﴾ ځکه چې کاریګری په دې کې نه ده غالبه په جنس ﴿یعنی په هغه میزرو دکومو نه چې پوزې جوړ شوې وی.یعنی د میزرونه چې پوزې جوړ شی.په دې باندې مال نفیس نه ګرځی.اودعدم نفاست اوقیمتی توب دلیل ئې دا دی﴾ تردې چې خورولې شی په غیرمحفوظ ځائې کې ﴿نوکه میزری د پوزی جوړولونه روسته قیمتی ګرځیده.نو خلګ وبه په غیرمحفوظ ځائې کې نه اچول﴾ آوپه بغدادی پوزی کې عالمانو رحمهم الله وئیلی دی.چه واجب دی پرې کول ﴿دلاس﴾ په غلا ددې کې ،د امله دغلبې د کاریګرئ نه په دې باندې ﴿یعنی په بغدادی پوزی باندې خواری ډیره شوې وی.تردې چې د خوارئ قیمت د میزرودقیمت نه زیات وی﴾

وَإِنَّمَا يَجِبُ الْقَطْعُ فِي غَيْرِ الْمُرَكَّبِ، وَإِنَّمَا يَجِبُ إِذَا كَانَ خَفِيفًا لَا يَثْقُلُ عَلَى الْوَاحِدِ چور لِأَنَّ الثَّقِيلَ مِنْهُ لَا يُرْغَبُ فِي سَرِقَتِهِ

حل اللغة: ① المركب: جوړشوې ② خفيف: سپک ③ يثقل: درنیږی

ژباړه وتشریح:- اوواجبیږی پرې کول ﴿دلاس﴾ په غیرمرکبه دروازه کې ﴿چه په دیوال کې لګیدلې نه وی. نوکه په دیوال کې لګیدلې وی.اوهغه څوك ددیوال نه اوباسی.په هغې کې دلاس پرې کول نشته. ځکه چې خلګ د لګیدلې دروازې په غلا کې رغبت نه کوی﴾ اوواجبیږی ﴿پرې کول دلاس په غلا د دروازه کې﴾

چې وې سپكه په يوكس باندې دهغې اوړل ګران نه وي.ځكه چې د درونډ څيزپه غلا كې رغبت نشي كولې ﴿بلكه خلګ سپك څيزخوښوي.چه په اوړوكې آسان وي﴾

په خيانتګر،لوټكونكي تختونكي باندې د حدله جاري كول

(وَلَا قَطْعَ عَلَى خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ) لِقُصُورٍ فِي الْحِرْزِ (وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا مُخْتَلِسٍ)

حل اللغة: ① خائنة:خيانګره ② الحرز:حفاظت ③ منتهب:لوټ كونكې ④ مختلس: تختونكې

زباره وتشريح:- اونشته پرې كول ﴿د لاس﴾ په خيانتګرسړي اوخيانتګرې ښځې ﴿چه چا ورسره يوڅيزامانت كيخودې وي.اوهغه ترې پټ كړي﴾ د امله د نقصان په ساتنه كې ، ﴿ځكه چې كله مالك خپل څيزداسې بې اعتماده سړي يا ښځې سره امانت كيخودو.چه په هغه باندې اعتماد نه وو.يكار نو ده پخپله خپل مال غير محفوظ اوګرځولو﴾ اونه په لوټ كونكي ﴿چه دچا كوريا دوكان ته ورداخل شي.اوپه زور يوڅيز راواخلي. او لاړ شي.نوپه ده هم دلاس پرې كول نشته﴾ اونه په تختونكي ﴿چه د چا دلاسه يوڅيزاوتختوي.لكه څنګه چې نن سهار په بازارونوكي داسې كيږي﴾

لِأَنَّهُ يُجَاهِرُ بِفِعْلِهِ، كَيْفَ وَقَدْ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا قَطْعَ فِي مُخْتَلِسٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا خَائِنٍ} (١)

زباره وتشريح:- ځكه چې دې ﴿يعني هرواحد د لوټكونكي اوتختونكي نه﴾ ښكاره والې كونكي دې په خپل فعل ﴿يعني لوټكونكې اوتختونكې څه په پټه مال نه اخلي.بلكه په ښكاره باندې دبل نه مال اخلي.نوپه دې كې د غلا معنى رانغله.ځكه چې غلا خوپه پټه د چا نه مال اخستل دي.نوهركله چې پرې د غلا تعريف نه صادقيږي. پرې كول دلاس به په كې هم نه وي.ځكه چې قطع صرف په غلا كې راغلې ده.په خيانت نهب اواختلاس كې نه ده راغلي﴾ څنګه به داسې اوشي ﴿يعني ددوى لاس به كټ كړې شي﴾ حالانكه نبي ﷺ فرمانيلي دي.نشته پرې كول ﴿د لاس﴾ په تختونكي،اونه په لوټكونكي اونه په خيانتګر . ﴿نوددوو وجوه نه په دې كسانوباندې حدسرقه نشي جاري كولې.يوخوددوى په فعل باندې د غلا تعريف نه صادقيږي.نودا غلا نشوه.اوبله دا چې صريحى حديث موجود دې.چه په دوى باندې حدسرقه نشته﴾

دكفن كښ په لاس كټ كولوكې اختلاف

(وَلَا قَطْعَ عَلَى النَّبَّاشِ) وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ.(٢) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَالشَّافِعِي: عَلَيْهِ الْقَطْعُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ نَبَشَ قَطَعْنَاهُ} (٣) وَلِأَنَّهُ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ مُحْرَزٌ بِحِرْزٍ مِثْلِهِ فَيُقْطَعُ فِيهِ.

حل اللغة: ① النباش: كفن چور

زباره وتشريح:- اونشته پرې كول ﴿د لاس﴾ په كفن كښ باندې، ﴿چه دمړي نه كفن اوباسي﴾ اودا ﴿حكم چې په ده دلاس پرې كول نشته﴾ په نيزدامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله دې.اوفرمانيلي دي امام ابويوسف اوشافعي رحمهما الله چې په ده باندې دلاس پرې كول شته.د امله د وينا د نبي ﷺ نه چې چا قبرپرانسته اودمړي كفن ئې پټ كړلو . نو موږ به ئې لاس كټ كوو. ﴿نويوخودا دليل نقلي شو.اوبل دليل عقلي دا چه﴾ كفن مال متقوم دې.محفوظ دې په داسې ساتنه سره چې ددې سره مناسب دې. ﴿يعني دكفن لپاره قبريومحفوظ ځاى دې.ځكه چې كفن هم په قبركې پكارراځي.دقبرنه بهرخوك په ژوندوني كفن نه

---

١) من حديث جابر رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الحدود باب ١٤ رقم ٤٣٩١ مقطعاً والترمذي في الحدود باب ١٨ والنسائي في قطع السارق باب ١٣ رقم ٤٦٢٦ وابن ماجه في الحدود باب ٢٦ رقم ٢٥٩١ والدارمي في الحدود باب ٨)_

٢) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(٢١٩\٣) والهندية (١٧٨\٢) وفتح القدير(١٣٨\٥) والكفاية (١٣٨\٥) والبحرالرائق (٥٥\٥)نقلاً عن القول الراجح (٤٦٢\١)-

٣) من حديث براء بن عازب رضي الله عنه أخرجه البيهقي في كتاب معرفة السنن والآثار كذا قال الزيلعي رحمه الله نصب الراية ٥٦١/٣)-

اچوي﴾نوكښ كولې به شي ﴿لاس﴾ دكفن په غلا كې ، ﴿ځكه چې دمحفوظ ځائې نه مال متقوم په پټه باندې غلا شوي دې.اوسرقه وائې هم دې ته.چه د محفوظ ځائې نه مال متقوم په پټه باندې غلا شي.نويه دې باندې تعريف دسرقه صادق شو.نوچه څه حكم د سرقه وي.هغه به د نبش هم وي﴾

وَلَهُمَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَاقَطْعَ عَلَى الْمُخْتَفِي} (١) وَهُوَ النَّبَّاشُ بِلُغَةِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، وَلِأَنَّ الشُّبْهَةَ تَمَكَّنَتْ فِي الْمِلْكِ لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لِلْمَيِّتِ حَقِيقَةً وَلَا لِلْوَارِثِ لِتَقَدُّمِ حَاجَةِ الْمَيِّتِ، وَقَدْ تَمَكَّنَ الْخَلَلُ فِي الْمَقْصُودِ وَهُوَ الِانْزِجَارُ لِأَنَّ الْجِنَايَةَ فِي نَفْسِهَا نَادِرَةُ الْوُجُودِ

حل اللغة: ① **المختفي**:په پټه غلا كونكې ② **نادرة الوجود**:كمه پيښېدونكې ③ **الخلل**: ركاوټ

ژباړه وتشريح:- اودطرفينو رحمهما الله دليل د نبي ﷺ ارشاد دې.چه نشته كټ كول ﴿دلاس﴾ په مختفي باندې،اومختفي كفن كښ ته وائي په لغت د اهل مدينه كې ، ﴿داخونقلي دليل شو.اوبل عقلي دليل دا دې.چه﴾ اوشبه پيدا شوې ده په ملك كې ،ځكه چې نشته ملك د مړي لپاره په حقيقت كې ﴿ځكه چې ده كې د ملكيت اهليت پاتې نه دې﴾اونشته ملك د وارث دپاره،د امله د وړاندې والي د حق د مړي ﴿ځكه چې كله څوك مړ شي.نواول به دهغه په مال كې دهغه دكفن انتظام كولې شي.چه دكفن نه زياتي شي.بيا به هغه په وارثانوويش كولې شي.نواوس په دې صورت كې نه وارث دكفن مالك دې.اونه مړې.نويه ملكيت كې شبه راغله.يعنې دا داسې شوه.لكه چې غيرمملوك شي اخستې شوي وي.اوچه غيرمملوك وي.هغه مباح وي.اودمباح خيزپه غلا باندې پرې كول نشته.نودغه ډول به په نبش كې هم پرې كول نه وي﴾ اويقيناً واقع شوخلل په مقصود كې اومقصود تنبيه ده﴿چه په سارق باندې حدجاري شي.نوسارق او خلگ به دغلا نه منع شي.اودلته په تنبيه كې ددې امله خلل واقع دې.چه﴾ دا جنايت د كفن كښ دخپل ذات په اعتبارسره ډيركم پيښيږي. ﴿يعنې كه په نباش باندې حدقائم نكړې شي.نوهم خلگ د مړي نه كفن ويستلونه ځان ساتي.اونفرت ترې كوي.نوبغيرد تنبيه نه دلته تنبيه موجود ده.ځكه به دنباش لاس نشي كټ كولې﴾

وَمَا رَوَاهُ غَيْرُ مَرْفُوعٍ أَوْ هُوَ مَحْمُولٌ عَلَى السِّيَاسَةِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿پاتې شوځواب د مستدل دامام ابويوسف رحمه الله چې د نبي ﷺ ارشاد ئې نقل كړې دې.چه په چا كفن غلا كړلو.مونږ به ئې لاس كټ كوو.نوهغې نه ځواب دا دې.چه﴾ هغه حديث چې روايت ئې كړې دې.امام ابويوسف رحمه الله مرفوع نه دې. ﴿اومونږ چې دنباش په اړه كې كوم حديث ذكركړې دې.چه په مختفي باندې پرې كول نشته.هغه مرفوع دې.نوغيرمرفوع حديث د مرفوع په مقابله كې حجت نشي جوړيدې﴾ يا دا چې هغه حديث محمول دې په سياست باندې ﴿يعنې اګرچه دنباش اصلي حكم دا دې.چه دده لاس كټ نكړې شي.البته كه امام اوحكمران دځه مقصد لپاره د نباش لاس كټ كړي.لكه په يوه علاقه كې كفن چور زيات شوي وي.نود هغوى د عبرت لپاره كه امام دنباش لاس كټ كړي.دا جائزدي.نودنبي ﷺ دغه حكم چې مونږ به د نباش لاس كټ كړو.په دې سياست باندې محمول دې﴾

وَإِنْ كَانَ الْقَبْرُ فِي بَيْتٍ مُقْفَلٍ فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ فِي الصَّحِيحِ لِمَا قُلْنَا وَكَذَا إِذَا سَرَقَ مِنْ تَابُوتٍ فِي الْقَافِلَةِ وَفِيهِ الْمَيِّتُ لِمَا بَيَّنَّاهُ.

حل اللغة: ① **مقفل**:جرنده شوې ② **تابوت**:صندوق

ژباړه وتشريح:- اوكه چرته وي قبر په اطاق كې چې قلف (تاله) وي. ﴿قلف (تاله) ورته لګيدلې وي.او محفوظ وي﴾ نودا مسئله په خلاف ده.دصحيح قول مطابق ﴿يعنې كوم اختلاف چې د طرفينواوامام ابويوسف رحمه الله په مينځ كې دهغه نباش په اړه كې دې.چه دعام قبرد مړي نه كفن اوباسي.نوهم دغه اختلاف په هغه قبركې

---

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج من أثرابن عباس رضي الله عنهما قال ليس على النباش قطع وعزاه إلى ابن ابى شيبة نصب الرأية ٥٦٣/٣_

هم دي. چې هغه په اطاق کي محفوظ وي﴾ د امله دهغه دلائلوکوم چې مونږ ﴿دجانبينو دارخه﴾ بيان
کړل.اودغه ډول حکم دي که غلا اوکړی ﴿دکفن﴾ د صندخ نه، ﴿چه صندخ وي﴾ په قافله کي،اوپه دغه
صندخ کي مړي وي. ﴿يعنی دطرفينو ﷺ په نيزپه نباش باندي لاس پرې کول نشته.اودامام ابويوسف
اوامام شافعی ﷺ په نيزپرې دلاس پرې کول شته﴾ د امله دهغه دلائلوکوم چې مونږ ﴿دجانبينو
ارخه﴾ بيان کړل.

دبيت المال نه په غلا کولودلاس کټ کولوحکم

(وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ) لِأَنَّهُ مَالُ الْعَامَّةِ وَهُوَ مِنْهُمْ. قَالَ (وَلَا مِنْ مَالٍ لِلسَّارِقِ فِيهِ شَرِكَةٌ) لِمَا قُلْنَا.

ژباړه وتشريح:- اونه به شي کټ کولي ﴿لاس د﴾ غل ﴿په غلا کولوسره﴾ د بيت المال نه،ځکه چې دا مال د
عوامو دي.اودې ﴿غل﴾ ددوی نه ﴿يوفرد﴾ دي. ﴿نوپه ملك کي شبه پيدا شوه.اوپه شبه باندي حد
ساقط کيږي.نودده نه حدساقط شو﴾ اونشته ﴿دلاس کټ کول﴾ په غلا دهغه مال چې په هغې کي د غل
برخه وي.د امله دهغه دليل نه چې مونږ بيان کړلو. ﴿يعنی چې په دې مال مسروقه کي د دې غل برخه ده
نوپه ملك کي شبه پيدا شوه .اوپه شبه باندې حد ساقط کيږي.نودده نه حدساقط شو﴾

د دائن دمديون نه دخپل پور په مقدارغلا کولوباندې دلاس کټ کولوحکم

(وَمَنْ لَهُ عَلَى آخَرَ دَرَاهِمُ فَسَرَقَ مِنْهُ مِثْلَهَا لَمْ يُقْطَعْ لِأَنَّهُ اسْتِيفَاءٌ لِحَقِّهِ) وَالْحَالُّ وَالْمُؤَجَّلُ فِيهِ سَوَاءٌ اسْتِحْسَانًا لِأَنَّ التَّأْجِيلَ لِتَأْخِيرِ الْمُطَالَبَةِ

حل اللغة: ① التاجيل په نښته ② استيفاء حاصدرل

ژباړه وتشريح:- اودچا ﴿زيد﴾ چې په بل چا ﴿بکر﴾ باندې څه روپۍ ﴿قرض﴾ وي.نوغلا کړلي دائن
﴿زيد﴾ د مديون ﴿بکر﴾ نه په برابری دهغې ﴿خپل قرض.مثلاً زر روپۍ د زيد په بکر پور وو.اوزيد
راولګيدلو.د بکرنه ني زر روپۍ غلا کړې﴾ نونه به شي کټ کولي ﴿لاس د سارق چې دائن دې﴾ځکه چې
دا ﴿غلا﴾ حاصلول دخپل حق دی .اوحال اونيټه په دې ﴿خپل حق کي﴾ برابر دی. ﴿يعنی که زيدد
بکرنه فی الحال زر روپۍ واخلی.نوهم دغه زر روپۍ دده حق دي.اوکه روستو ني ورله ورکوی.نوهم د زيد
حق دي.په مخکي اخستود زيد په حق کي څه کمې نه راځي.اوپه روستواخستو د زيد په حق کي څه زياتې نه
راځي.ځکه چې څه سود خو نه دې پور دې﴾ استحساناً ﴿يعنی دا حکم داستحسان دې.قياس دا وائي.چه
داغلا ده اودده لاس دې کټ کړې شي﴾ ځکه چې نيټه ورکول ﴿چه مديون دائن ته يوه نيټه ورکړي﴾ د
روستوالی د مطالبې لپاره دې. ﴿چه دائن رانه د پور مطالبه روسته اوکړی.دا مطلب نه دې.چه وخت پرې
تيرشی.نود پور په پيسو کي به څه کمې راشي﴾

وَكَذَا إِذَا سَرَقَ زِيَادَةً عَلَى حَقِّهِ لِأَنَّهُ بِمِقْدَارِ حَقِّهِ يَصِيرُ شَرِيكًا فِيهِ

ژباړه وتشريح - اودغه ډول حکم دې ﴿يعنی دلاس پرې کول دائن باندې نشته.چه دمديون نه روپۍ کښت
کړی﴾ زياتی دحق خپل نه. ﴿مثلاً د زيد پرې زر روپۍ پور وو .اوده د بکرنه يونيم زر روپۍ کښت کړې﴾
ځکه چې دې ﴿يعنی دائن﴾ په اندازه د حق خپل ګرځی شريك په هغې کي ﴿چه زر روپۍ دی.او وړاندې
تيرشو چه يوکس دخپل شريکوال نه غلا اوکړی نوپه ملك کي د شبه راتلو په وجه دهغه لاس نشي کټ
کولي﴾

دمديون نه دسامان په غلا باندې دلاس کټ کول

(وَإِنْ سَرَقَ مِنْهُ عُرُوضًا قُطِعَ) لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ الِاسْتِيفَاءِ مِنْهُ إِلَّا بَيْعًا بِالتَّرَاضِي.

ژباړه وتشريح - اوکه غلا ني کړلو دده نه ﴿يعنی دائن د مديون نه غلا کړل﴾ سامان کټ کولي به شي ﴿لاس
[illegible] سارق﴾ ځکه چې نشته دده ﴿دائن﴾ لپاره ولايت دحاصلولو ﴿دخپل حق﴾ ددې سامان نه مګر

په بيعې سره چې رضامندي وي د دواړو طرفونو نه ﴿يعني دائن د مديون د سامان نه خپل حق نشي وصول کولې. البته په دې صورت کې ورلـه د مـديون د سامان نه خپل حق حاصلول جائز دی. چه مديون پرې دغه سامان خرڅ کړي. اوپـه خرڅولوباندې هغـه راضـي وي. اودلتـه نـه خرڅول شـته اونـه د مـديون د اړخـه رضا شته. نودا دائن غل شو. اودغل سزا لاس پرې کول وي﴾

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ () لِأَنَّ لَهُ أَنْ يَأْخُذَهُ عِنْدَ بَعْضِ الْعُلَمَاءِ قَضَاءً مِنْ حَقِّهِ أَوْرَهْنًا بِحَقِّهِ.

ژباړه وتشريح:- اودامام ابويوسف رحمه الله نه نقل دی. چه نه به شي کټ کولې ﴿لاس د سارق چې دائن وي﴾ ځکه چې ددې دائن لپاره جائزده چې واخلي ترې سامان په نيزد بعضې عالمانو رحمهم الله لپاره د وصولو دحق خپل يا د ګانړه کولو ﴿يعني دبعضې عالمانوپه نيزدا جائزدی. چه دائن دمديون نه دخپل پور په بدلـه کې سامان قبضه کړي. يا سامان خپل ځان سره ګانړه کيږدي. اوهغـه تـه اووائـي. چـه دا سامان ستا امانت دې. چه کله دې مانه خپل پـور واپس راکړلـو. نودا سـامان بـه درتـه درکړم. اواختلاف دعالمانودا شبه پيدا کوي. اوحدود په شبهاتوباندې سـاقط کيـږي. نوځکـه بـه ددې دائـن لاس چـې د مـديون سـامان ئې غـلا کـړې دې. نشي کټ کولې﴾

قُلْنَا: هَذَا قَوْلٌ لَا يَسْتَنِدُ إِلَى دَلِيلٍ ظَاهِرٍ فَلَا يُعْتَبَرُ بِدُونِ اتِّصَالِ الدَّعْوَى بِهِ، حَتَّى لَوِ ادَّعَى ذَلِكَ دُرِئَ عَنْهُ الْحَدُّ لِأَنَّهُ ظَنَّ فِي مَوْضِعِ الْخِلَافِ.

ژباړه وتشريح:- ﴿صـاحب دهدايـه دامـام ابويوسف رحمه الله دا اختلاف غيرمعتبر ګرځوی. ځکه چې دې په احنافوفقهاؤ کې د صاحب الترجيح نه دې. اوصاحب ترجيح هغه ته وائي. چه کله په مذهب کې مختلف اقوال نقل شوی وي. نودې په هغې کې ديوپه اړه کې اووائـي. دا صحيح دې يا اصح دې وغيره الفاظو سره دهغې تائيد اوکړي. نوفرمائي﴾ مونږ ﴿عـام احنـاف﴾ وايو. چه دا قـول ﴿چه دائـن لـره په خپـل پـور کـې د مديون سامان غلا کول يا ګانړه کول جائز دی. اوډانه اوتکيـه ئې نـشته څه دليـل ظاهری تـه، نومعتبر بـه نـه وی بغيرد يوځائې کيدود دعوه نه ددې پورې ﴿يعني ددې قول لپاره څه دليـل نشته. نوچه ترڅو ددې دعوه لپاره چې په دې دائن سارق باندې حد نشته. څه دليل نه وي. نودا دعـوه بـه غيرمعتبره وي. اود دائـن سـارق لاس بـه کټ کيږي﴾ تردې که غل دعوه اوکړله په دليل سره ﴿يعني غل دا اووئيل. چه ما دا سامان ځکه غـلا کـړې دې. چه زما په ده باندې پور دې. په هغه پور کې ترې ما دا مال وصول کړل. يا ما دا مال دکانړه په اراده باندې دده نه غلا کړې دې. چه کلـه زمـا پـور راکـړی. نـوزه بـه ورتـه خپـل سـامان واپـس ورکړم. نوپـه دې صـورت کـې﴾ لـرې کولې به شي دده نه حد ځکه چې دا دده غـلا کـول ګمـان دې پـه ځـائې د خلاف کـې ﴿يعني غـل دخپلې غـلا دجواز لپاره دا دليل پيدا کړلو. چه چونکه زما په ده باندې پور دې. زمـا لپـاره جائز دی. چه په دغې کې ترې سامان واخلم. يا زما لپاره جائزدی. چه ترڅوئې ماته خپل پور نه وي راکړې. نومـا سره به دده مـال ګانړه پروت وی. نودا دده دادړخه يواجتهـاد دې. خواجتهـاد نـه دې بلکـه ګمـان دې. ځکـه چـې داجتهـاد لپـاره خوڅـه دليـل وی. اودده د قول لپاره دليل نشته. بهرصورت چونکه په دې کې يو ډول اختلاف پيدا شو. نودې اختلاف شبه پيدا کړله. اوچه شبه پيدا شوه. نوحد ساقط شو﴾

وَلَوْ كَانَ حَقُّهُ دَرَاهِمَ فَسَرَقَ مِنْهُ دَنَانِيرَ قِيلَ يُقْطَعُ لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ حَقُّ الْأَخْذِ، وَقِيلَ لَا يُقْطَعُ لِأَنَّ النُّقُودَ جِنْسٌ وَاحِدٌ

ژباړه وتشريح:- اوکه وی حق دده ﴿دائن چې زيد دې﴾ دراهم اوده ﴿زيد﴾ غلا کړې دهغه ﴿بکر﴾ نه دينارونه، نو ونيلې شوی دی. چه کټ کـولې بـه شـي ﴿لاس دسارق دائن﴾ ځکه چې نه ده حاصل ده تـه حق داخستلو ﴿د ديناورونو﴾ اوونيلې شوی دی. چه نه به شي کټ کولې ﴿لاس د سارق دائن﴾ ځکه چې نقود

() القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في بحرالرائق (۵۶/۵) ورد المحتار (۲۲۰/۳) والدرالمختار (۲۲۰/۳) وتبيين (۲۱۸/۳) نقلاً عن القول الراجح (۴۶۳/۱)_

جنس دې يو ﴿كه درهم وي او كه دينارونه، دواړه ثمن دی. خرڅول او اخستل پرې كيږي. او د كرنسئ په طور استعماليږي. نو دا دوهم قول معتبر شو. ځكه چې په دې مسئله د دراهمو او دنانيرو كې اختلاف پيدا شو. او اختلاف حد ساقط كوي. نو ددې دائن سارق نه په دې صورت كې حد ساقط شو﴾

په غلا شوي مال باندې دلاس كټ كيدل اودوباره دهغه مال غلا كول

وَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا فَقُطِعَ فِيهَا فَرَدَّهَا ثُمَّ عَادَ فَسَرَقَهَا وَهِيَ بِحَالِهَا لَمْ يُقْطَعْ) وَالْقِيَاسُ أَنْ يُقْطَعَ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ

ژباړه وتشريح:- او چا چې غلا كړلو. عين مال ﴿هغه مال چې يو ځل غلا كړې شي. او بيا مالك ته واپس شي﴾، نو كټ كړې لاس ﴿د غل﴾ په هغې كې، او واپس ئې كړه ﴿هغه مسروق مال خپل مالك ته﴾ بيا واپس شو ﴿دا غل﴾ او غلا ئې كړه هغه څيز ﴿په كوم كې چې ئې په اول ځل لاس كټ شوې وو﴾ او هغه مال هم په هغه حالت وو. ﴿ځنګه چې وړاندې وو﴾ نو نه به شي كټ كولې ﴿لاس ددې غل دوباره﴾ او قياس دا وائي. چه كټ دې كړې شي. ﴿دوباره بل لاس دده﴾ او دا ﴿د دوهم لاس كټ كول﴾ روايت دې د امام ابويوسف رحمه الله نه، او دا قول د امام شافعي رحمه الله دې.

(لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوهُ} (١) مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ، وَلِأَنَّ الثَّانِيَةَ مُتَكَامِلَةٌ كَالْأُولَى بَلْ أَقْبَحُ لِتَقَدُّمِ الزَّاجِرِ،

حل اللغة: ① **متكاملة:** تمام (پوره)، كامله ② **اقبح:** زيات قبيح ③ **الزواجر:** جمع د زاجر، منع كونكې، زورنه وركونكې

ژباړه وتشريح:- د امله د قول د نبي ﷺ نه چې ﴿د غل په اړه كې﴾ كه واپس شو ﴿غل غلا كولو ته او دوباره ئې غلا او كړله﴾ نو لاس ئې كټ كړئ. بغير د څه تفصيل نه ﴿يعنې په دې حديث كې مطلقاً دا ذكر دې. كه يو كس يو ځل غلا او كړله. او حد پرې جارې شو. او بيا ئې دوباره غلا او كړله. نو نبي ﷺ مطلقاً د هغه د لاس كټ كولو حكم كړې دې. دا تفصيل ئې نه دې كړې. كه هغه مسروقه مال ورسره په خپل زوړ حالت وي. نو بيا ئې لاس مه كټ كوئ. ددې نه معلومه شوه. چه په دوهم ځل غلا كولو كې به ئې بل لاس كټ كولې شي.﴾ دا خو نقلي دليل وو. او عقلي دليل دا دې. چه﴾ او په دوهم ځل غلا كول كامل جنايت دې پشان د اولني ځل بلكه زيات قبيح دې ﴿د اولني ځل غلا كولو نه﴾ ځكه چې وړاندې سزا تيره شوې ده. ﴿يعنې يو ځل ئې سزا اوخوړله. او بيا هم دهغه څيز غلا كوي. چه لاس ئې په كې كټ شوې دې﴾

وَصَارَ كَمَا إِذَا بَاعَهُ الْمَالِكُ مِنَ السَّارِقِ ثُمَّ اشْتَرَاهُ مِنْهُ ثُمَّ كَانَتِ السَّرِقَةُ

ژباړه وتشريح:- او دا داسې شوه لكه چې خرڅ كړي مالك په غل باندې ﴿يعنې بكر د زيد نه څه څيز غلا كړي. او زيد دغه څيز په غل باندې خرڅ كړلو﴾ او بيا ئې واخلي ﴿اولني مالك﴾ دده ﴿غل﴾ نه، او بيا واقع شي غلا ﴿يعنې بكر بيا دغه څيز د زيد نه غلا كړي. كوم چې ئې ترې يو ځل غلا كړې وو. او يو ځل ئې ترې په پيسو اخستې وو. او دا په دريم ځل ئې ترې بيا غلا كړلو. نو په دې صورت كې به لاس كټ كولې شي. نو دغه ډول په زيربحث مسئله كې هم پكار ده. چه په دوباره غلا باندې د غل دوهم لاس كټ كړې شي﴾

وَلَنَا أَنَّ الْقَطْعَ أَوْجَبَ سُقُوطَ عِصْمَةِ الْمَحَلِّ عَلَى مَا يُعْرَفُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى، وَبِالرَّدِّ إِلَى الْمَالِكِ إِنْ عَادَتْ حَقِيقَةُ الْعِصْمَةِ بَقِيَتْ شُبْهَةُ السُّقُوطِ نَظَرًا إِلَى اتِّحَادِ الْمِلْكِ وَالْمَحَلِّ، وَقِيَامُ الْمُوجِبِ وَهُوَ الْقَطْعُ فِيهِ،

ژباړه وتشريح:- او زموږ دليل دا دې. چه كټ كولو ﴿د لاس﴾ پيدا كړه دا خبره چې ساقط ئې كړلو عصمت د محل ﴿يعنې كوم مال چې غلا شو. نو دغه مال هغه شان محترم پاته پاتې نشو. ځنګه چې د غلا نه وړاندې وو﴾ لكه چې او به پيژندې شي روستو انشاء الله تعالى او په واپس كولو سره مالك ته ﴿يعنې د كوم مال په

(١) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه الدارقطني في سننه (١٨١/٣)_

وجه چې د سارق لاس کټ کړې شي.اوهغه مال بيا خپل مالك ته واپس شي﴾اګرچه راګرځيدل حقيقت دعصمت ﴿يعنى هغه مال چې څنګه وړاندې معصوم اومحترم وو.نوچه دغلا نه روسته بيا مالك ته راورسي.نوبيا په حقيقت کې هغه شان معصوم اومحترم شو.څنګه چې دغلا نه وړاندې وو﴾البته دومره ده چې په پاتې ده شبه د زائله کيدو ﴿داحترام اوعصمت دمال مسروقه،يعنى اګرچه په ظاهره باندې دغه مال چې دمالك لاس ته راغلو.نوبيا محفوظ شو.ليکن دا يوه شبه پاته ده.چه کيداې شي.دغه مال اوس هغه شان معصوم اومحترم نه وى.څنګه چې د غلا نه وړاندې وو.اوددې شبهې دپاته پاتېدوکيدو ګمان ځکه ګولې شي﴾چه کتلې شي اتحاد دملك ته ﴿يعنى هم دا مال مسروقه اول هم ددې مالك په ملك کې وو.اواوس هم دده په ملك کې دې.اوکتل کولې شي﴾ اتحاد د محل ته، ﴿ځکه چې دا مال مسروقه چې وړاندې دکوم کور نه غلا شوې وو.هم هغه ځاې ته واپس راغلو.اوکتل کولې شي﴾ قيام د موجب ته کوم چې پرې کول دلاس دى.په دغه مال مسروقه کې ﴿يعنى ددې مال عين دغلا په وجه چې دلاس کټ کيدو کوم حکم صادر شوې وو. نودهغه حکم نتيجه چې کټ شوې لاس دې.اوس هم پاته دې.هرکله چې دا درې واړه خبرې موجود دى.نودا شبه پيدا کيږى.چه اوس دغه مال هغه شان معصوم اومحترم پاتې نه وى.څنګه چې وړاندې وو.اوچه دا شبه پيدا شوه.نوبه دوهم ځل غلا کولوکې حدساقط شو﴾

بِخِلَافِ مَا ذُكِرَ لِأَنَّ الْمِلْكَ قَدْ اخْتَلَفَ بِاخْتِلَافِ سَبَبِهِ، وَلِأَنَّ تَكَرَّارَ الْجِنَايَةِ مِنْهُ نَادِرٌ لِتَحَمُّلِهِ مَشَقَّةَ الزَّاجِرِ فَتَعَرَّى الْإِقَامَةُ عَنْ الْمَقْصُودِ وَهُوَ تَقْلِيلُ الْجِنَايَةِ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دهغه صورت کوم چې امام ابويوسف ﷫ ذکرکړې دې. ﴿چه غل دمالك نه يوځيزغلا کړى.اوبيا مالك هغه ځيزپه غل باندې خرڅ کړى.اوبيا غل دغه ځيزدوباره د مالك نه غلا کړى.نوپه دغه صورت کې به دوباره غلا باندې دغل دوهم لاس کټ کولې شي﴾ ځکه چې ملك مختلف شوې دې ﴿په هغه صورت کې﴾ په اختلاف د سبب سره ﴿يعنى د بيع په صورت کې صحيح ده په دوبارد غلا باندې دوهم لاس کټ کولې شي.خوپه هغه صورت اودې زيربحث مسئله کې توپير دې.ځکه چې د بيع په صورت کې چې په کوم سبب باندې ملکيت راغلې دې.نوهغه جلا جلا بيع اوآخستل دى.اوپه زيربحث مسئله کې د ملك سبب هم يودې.چه سابقه مالکانه قبضه ده.يعنى مالك ته که غلا شوې ځيزواپس شوې دې. نوهم په هغه ملك باندې ورته واپس شوې دې.کوم چې دغلا نه وړاندې دده په دغه مسروقه مال باندې وو. اودبيع په صورت کې خوهغه د بيع په نوى عقد باندې مال مسروقه دوباره حاصل کړې دى.نوپه دواړو مسئلوکې توپير دې.دا په هغې باندې قياس کول صحيح نه دى.اوزمونږ دليل دا هم دې.چه﴾ تکرارد جنايت ﴿چه غلا ده﴾ د سارق نه نه کيږى.د امله د برداشت کولودده ﴿سارق﴾ مشقت د زاجر ﴿چه حد دې يعنى سرې چې په يوجرم کې يوځل سزا اوخورى.نودوباره دغه جرم نه کوى.ځکه چې ده د اولنى جرم مشقت او سزا خوړلې وى﴾ نوخالي شو اقامت د حد دخپل مقصود نه اوهغه ﴿مقصود ئې﴾ کمول د جنايت دى. ﴿يعنى کله چې کله داسې کيږى.چه سرې يوځل په جرم کې سزا اوخورى.اودوباره بيا هغه جرم اوکړى. نوقانون دا دې.چه کومه خبره کله کله پيښيږى.نودهغې لپاره حد د بندولو لپاره حد ذريعه د انسداد نشى ګرځولې.ځکه چې حد يوسخته سزا ده.دا په هغه جرمونوکې مشروع شوې دې.دکومو د واقع کيدو امکانات چې زيات وى.اوپه معاشره کې ترې فساد زيات خوريږى﴾

وَصَارَ كَمَا إِذَا قُذِفَ الْمَحْدُودُ فِي قَذْفِ الْمَقْذُوفِ الْأَوَّلِ.

ژباړه وتشريح:- نودا صورت ﴿چه زيربحث مسئله ده﴾ داسې شوه.کله چې د زنا تهمت اولګوى هغه کس چې د زنا تهمت ئې لګولې وى په اول مقذوف باندې﴿يعنى زيد راولګيدلو.په بکرئې د زنا تهمت اولګولو.اود زنا د ثبوت شرائط ئې پوره نکړل.نودهغې د امله زيد ته کوړې ورکړې شوې.څه موده روسته بيا

زید راولګیدلو.هم په هغه بکرئې دوباره د زنا تهمت اولګولو.اوبیا ئې د زنا د ثبوت شرائط پوره نکړې شو.نوپه دې صورت کې دوباره دې زیدباندې حد قذف نشی لګولې﴾

د مال داولنی حالت نه د بدلیدو حکم

قَالَ ﴿فَإِنْ تَغَيَّرَتْ عَنْ حَالِهَا مِثْلُ أَنْ يَكُونَ غَزْلًا فَسَرَقَهُ وَقُطِعَ فَرَدَّهُ ثُمَّ نُسِجَ فَعَادَ فَسَرَقَهُ قُطِعَ﴾ لِأَنَّ الْعَيْنَ قَدْ تَبَدَّلَتْ

حل اللغة: ① **غزل**: غیر ګنډلې شوې ② **نسج**: اودلې شوې

صاحب دقدوري رحمه الله فرمائی.که بدل شو ﴿عین مال﴾ دخپل حالت نه، ﴿یعنی غل چې کوم مالوچ ﴿دمالك سره﴾ نودې ﴿سارق﴾ ئې غلا کړې.او ﴿ددغه مالوچوپه غلا کې﴾ دده لاس کټ کړې شی.اوواپس ئې کړی ﴿خپل مالك ته﴾ اوبیا اودلې شی. ﴿یعنی کپړه تری جوړه شی﴾ نو بیرته اوګرځی غل غلا دهغې ته﴿اودا غل هغه کپړه غلا کړی.کومه چې داولنومالوچونه جوړه شوې وه.نوپه دې صورت کې به ئې﴾ کټ کولای شی ﴿لاس﴾ ځکه چې عین مال ﴿مسروقه ځیز﴾ بدل شو. ﴿نودا داسې شوه.لکه چې غل په دوباره یونوې ځیزغلا کړلو.﴾

وَلِهٰذَا يَمْلِكُهُ الْغَاصِبُ بِهِ، وَهٰذَا هُوَ عَلَامَةُ التَّبَدُّلِ فِي كُلِّ مَحَلٍّ،

ژباړه وتشریح:- اوددې امله ﴿چه دحالت په بدلیدو باندې عین مال هغه نه پاتې کیږی.ځنګه چې وړاندې وو﴾ مالك کیږی ﴿د وړی﴾ غاصب په دې ﴿اودلو﴾ سره ﴿یعنی که زید دبکرنه وړئ غصب کړه.اودهغې نه ئې جامې جوړې کړې.نواوس به بکرته صرف د وړئ قیمت ورکوی.دهغې تاوان به ورکوی.د وودلی شوې کپړې قیمت به نه ورکوی.ځکه چې وړئ د ودلونه روسته وړئ پاتې نشوه.بلکه دا داسې شوه.چه غاصب دغه مغصوب ځیزهلاك اوضائع کړلو.اوکله چې دغاصب سره مغصوبه هلاکه شی.نوپه غاصب باندې.د هغې تاوان وی.دغه ډول به دلته په غاصب باندې د وړئ ضمان اوتاوان وی.اودهغې نه جوړه شوې کپړه به دغاصب شی﴾ اوهم دا نښانه د تبدیلئ ده په هرمحل کې، ﴿یعنی کله چې د یوځیزپه صفت کې توپیر راشی.نوهغه بدل شو.اول ځیزپاتې نشو﴾

وَإِذَا تَبَدَّلَتْ انْتَفَتْ الشُّبْهَةُ النَّاشِئَةُ مِنْ اتِّحَادِ الْمَحَلِّ، وَالْقَطْعُ فِيهِ فَوَجَبَ الْقَطْعُ ثَانِيًا، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

ژباړه وتشریح:- اوکله چې ځیزبدل شو.نوختمه شوه هغه شبهه چې پیدا شوې وه داتحاد د محل نه اود لاس کټ کیدونه په دې عین مال کې، ﴿یعنی په اولنی صورت کې چې غل یوځیزغلا کړی.اودهغې په غلا کې تری لاس کټ کړې شی.اوهغه ځیزمالك ته واپس شی.اودا مقطوع الید غل دوباره هم هغه ځیزدوباره غلا کړی.نو وړاندې تیرشو.چه چونکه په دې صورت کې مال مسروقه هم یودې.اومحل یعنی دمالك قبضه هم یوه ده.اولاس هم په دغه ځیزکې یوځل کټ شوې دې.نودوباره به ددغه غل لاس نشی کټ کیدې.خوپه دې دوهم صورت کې چې د ځیزد اتحاد کومه شبه وه.هغه ختمه شوه.نوچه هغه ختمه شوه.نوکه دوباره ئې بل لاس کټ کولې شی.دا به هم دهغه ځیزپه غلاکې نه وی.دکوم ځیزپه غلا کې چې ئې اول بل لاس کټ شوې وو.هرکله چې داسې شوه﴾ نو واجب شو لاس پرې کول دوباره.

فَصْلٌ فِي الْحِرْزِ وَالْأَخْذِ مِنْهُ

ژباړه:- ﴿دا﴾ فصل دې ﴿په بیان﴾ د محفوظ ځائې اودهغې نه داخستلو ﴿په بیان کې﴾

تشریح:- حرزچه دباب کرم یکرم نه وی.نومحفوظ ځائې بچ کیدل، اوډپناهګاه معنی ورکوی.اوپه فقهی اصطلاح کې حرز هغه ځائې ته وائی.کوم چې خاص کرد ساتنه په غرض باندې تیار شوې وی.اودغه خاص ځائې ته د اجازت نه بغیرداخلیدل منع وی.لکه کور، کمره، صندخ، دوکان، خیمه خزانه وغیره.

دمورپلار،اولاد اونزدې رشته دارونه دغلا كولوحكم

(وَمَنْ سَرَقَ مِنْ أَبَوَيْهِ أَوْوَلَدِهِ أَوْذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ لَمْ يُقْطَعْ) فَالْأَوَّلُ وَهُوَالْوِلَادُ لِلْبُسُوطَةِ فِي الْمَالِ وَفِي الدُّخُولِ فِي الْحِرْزِ.

حل اللغة: ① **البسوطة**:فراخي،

ژباړه وتشريح:- اوڅوك چې غلا اوكړي دخپل مورپلارنه،يا دخپل اولاد نه،يادرشته دارنه چې حرام وي په دې باندې، «يعنى نكاح نېې ورسره نه كيږي» نونه به شي كټ كولې لاس،په اول صورت كې «يعنى چې اولاد د والدينونه غلا اوكړي.يا والدين داولاد نه غلا اوكړي.نولاس نشي كټ كولې» د املهٔ د فراخ دلئ نه په مال كې «يعنى دوى بغيردخفگان نه ديوبل مال اخلي.اوپه دې باندې خفه كيږي نه.ځكه چې د والدينود اوخه د اولاد لپاره شفقت موجود وي.او اولاد ته دخپلو والدينومال خپل مال ښكاري» اود املهٔ د داخليدو نه په محفوظ ځائې كې «يعنى په كوم ځائې كې چې مال پروت وي.اگرچه فى نفسه هغه محفوظ ځائې وي.خود والدينو اود اولاد په حق كې غيرمحفوظ وي.ځكه چې هغوى دغه ځائې ته داخليږي راداخليږي.نوپه حد سرقه كې چې كوم شرط دې.چه غلا به د محفوظ ځائې نه شوې وي.هغه شرط مفقودشو.اوپه انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځي»

وَالثَّانِي لِلْمَعْنَى الثَّانِي،وَلِهَذَا أَبَاحَ الشَّرْعُ النَّظَرَ إِلَى مَوَاضِعِ الزِّينَةِ الظَّاهِرَةِ مِنْهَا،بِخِلَافِ الصَّدِيقَيْنِ لِأَنَّهُ عَادَاهُ بِالسَّرِقَةِ.

حل اللغة: ① **الصدقين**:جمع د صديق دوست ته وائي

ژباړه وتشريح:- اوپه دوهم صورت كې «يعنى كه سرې دمحرم نه څه څيزغلا كړي.نوهم پرې لاس پرې كول نشته» د دويمې املهٔ «يعنى چونكه د محرم په حق كې دځائې ساتنه نشته.ځكه چې مثلاً په يوكور كې خوراو وررو اوسيږي.نوپه كوم ځائې كې چې مال پروت وي.هغه اگرچه فى نفسه محفوظ ځائې دې.خود محرم په حق كې غيرمحفوظ دې.نوهم هغه خبره شوه.چه دحدسرقه جارى كولوشرط چې د ساتنه دځائې دې.هغه فوت شو.نومشروط چې حدجارى كول دى هغه به هم فوت شي» هم ددې وجې «چه محرم خپلوانوپه خق كې مال غيرمحفوظ دى» مباح كړې دى شريعت نظركول «دمحرم دپاره» ځايونود زينت ته چې ظاهرى وي په اندامونوكې «يعنى د محرم لپاره دا جائز دى.چه دخپلې محرم خور يا لور وغيره ظاهرى چې كوم اندامونه د زينت دى.لكه لاسونه،مخ اوقدمونه دې ته گورى» په خلاف د دوستانو «يعنى كه يودوست دبل دوست نه غلا اوكړي.نودهغه دوست لاس به كټ كولې شي» ځكه چې دا دوست ورسره دشمنى كوى په غلا كولوسره «يعنى اگرچه دوستان وي.خوچه كله يودوست ته پته اولگى.چه دې بل دوست زما نه غلا كړې ده. نو دغه دوستي په دشمنئ بدليږي.اوپه اول صورت كې يعنى د والدينواواولاد په مينځ كې اودغه ډول د محرم خپلوپه مينځ كې چې كوم تعلق دې.هغه په غلا باندې په دشمنئ نه بدليږي.بلكه دغلا عمل واقع شي.بيا هم دهغوى همدرديانې د يوبل سره وي»

وَفِي الثَّانِي خِلَافُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ لِأَنَّهُ أَلْحَقَهَا بِالْقَرَابَةِ الْبَعِيدَةِ،وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الْعَتَاقِ

ژباړه وتشريح:- اوپه دوهم صورت كې «چه محرم دخپل محرم نه غلا اوكړي» خلاف ثابت دې دامام شافعى رحمه الله «ځكه چې دهغوى په نيزپه دې صورت كې به لاس كټ كولې شي» ځكه چې امام شافعى رحمه الله ملحق كړې دې تعلق د محرميت د رشته دراې لرې پورې «يعنى هغوى دا فرمائى.چه د مال په حق كې محرمين خپلوان د لرې رشته دارانوپشان دى.نولكه څنگه چې د لرې رشته دارو نه په غلا كولوسره لاس كټ كولې شي.دغه ډول به د محرمينو نه په غلا كولوسره هم لاس كټ كولې شي» اويقيناً موږ بيان كړې دې دا اختلاف په كتاب العتاق كې ،

دمحرم دكورنه د بل چا مال غلا كول اوددې په عكس

(وَلَوْسَرَقَ مِنْ بَيْتِ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مَتَاعَ غَيْرِهِ يَنْبَغِي أَنْ لَا يُقْطَعَ،وَلَوْسَرَقَ مَالَهُ مِنْ بَيْتِ غَيْرِهِ يُقْطَعُ) اعْتِبَارًا لِلْحِرْزِ وَعَدَمِهِ

ژباړه وتشريح:- اوكه غلا ئې كړلو د كور د محرم نه سامان د بل چا، «چه غيرمحرم وي» نوبېكارده چې لاس ئې كټ نشي.اوكه غلا ئې كړلو مال د محرم د بل چا «غيرمحرم» د كورنه،نولاس به ئې كټ كولې شي.د املٖه د معتبروالى د ساتنه اوعدم ساتنه نه يعنى په دې دواړو مسئلوكي به د حرز اوځائې ساتنه ته كتلې شي.اوپه دې باندې به فيصله كولې شي.نوپه اول صورت كي اګرچه مال د بل چا دې.خوغلاشوې د غيرمحفوظ ځائې نه دې.ځكه په كي دلاس پرې كول نشته.اوپه دوهم صورت كي اګرچه مال دخپل محرم دې.خود محفوظ ځائې نه غلا شوې دې.نوځكه په كي د لاس پرې كول شته»

د رضاعي مور نه دغلا كولوحكم

(وَإِنْ سَرَقَ مِنْ أُمِّهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ قُطِعَ) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ لِأَنَّهُ يَدْخُلُ عَلَيْهَا مِنْ غَيْرِ اسْتِئْذَانٍ وَحِشْمَةٍ، بِخِلَافِ الْأُخْتِ مِنَ الرَّضَاعِ لِانْعِدَامِ هَذَا الْمَعْنَى فِيهَا عَادَةً.

حل اللغة: ① **حشمة**: ركاوټ،مانع،ويره

ژباړه وتشريح:- اوكه غلا اوكړى د رضاعى مورنه، نوكټ كولې به شى «لاس دغل» ودامام ابويوسف رحمه الله نه نقل دى.چه نه به شى كټ كولې «لاس دده» ځكه چې دې «رضاعى ځوى» داخلېږى په هغې باندې بغيرد استيذان «اجازت غوستو» نه،اوبغيردځه ركاوټ نه «نودغه مال د رضاعى ځوى په حق كي محفوظ پاتې نشو.اوچه مال محرزنشو.نوحدساقط شو» په خلاف د رضاعى خور د املٖه د نشتوالى ددې معنى په عادت كي ، «يعنى كه د رضاعى خورنه غلا اوكړى.نود غل لاس به كټ كولې شى.ځكه چې دې دهغې رضاعى خوركورته بغيراجازته اوبغيرركاوټه نه داخلېږى.نود رضاعى ورور په حق كي د رضاعى خور مال محرزاومحفوظ شو.اودمحرزمال په غلا باندې جارى كېږى.نودده لاس به كټ كولې شى»

اجارة وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّهُ لَا قَرَابَةَ وَالْمَحْرَمِيَّةُ بِدُونِهَا لَا تُحْتَرَمُ كَمَا إِذَا ثَبَتَتْ بِالزِّنَا وَالتَّقْبِيلِ عَنْ شَهْوَةٍ،

حل اللغة: ① **التقبيل**:ښكلول

ژباړه وتشريح:- وجه د ظاهرروايت «چه لاس به كټ كولې شى» دا ده.چه نشته خپلولى په مينځ ددې دواړو كي «رضاعى موراوځوى» كي ، «اګرچه صرف حرمت نكاح شته.خو» حرمت نكاح بغيرد رشته دارئ نه محترم نه وى. «يعنى د رضاعى موراوځوى په مينځ كي داسې فراخدلى اوچشم پوشى نه وى.ځكه چې د نسبى مور اوځوى په مينځ كي وى.نوحدنه ساقطيږى.اوددې لپاره نظيرچه حرمت نكاح وى.اواحترام نه وى»لكه څنګه چې ثابت شى حرمت په زنا سره «چه زيد د زينب سره نكاح اوكړى.نود زينب مورپه زيد باندې حرامه شوه.خودې حرمت د زيد په زړه كي د زينب د مور لپاره د مورولئ احترام پيدا نكړلو .يعنى څنګه چې خونې دمورقدر كوى.دغه ډول د مزنيه د مورقدر اواحترام نه كوى» او «لكه څنګه چې ثابتېږى حرمت» په ښكلولو سره په شهوت باندې «يعنى چې زيد زينب په شهوت سره ښكل كړى.نود زينب مورپه زيدباندې حرامه شوه.خودا د زيد په زړه كي د زينب د مور لپاره د مورولئ احترام نه پيدا كوى»

وَأَقْرَبُ مِنْ ذَلِكَ الْأُخْتُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، وَهَذَا لِأَنَّ الرَّضَاعَ قَلَّمَا يَشْتَهِرُ فَلَا بُسُوطَةَ تَحَرُّزًا عَنْ مَوْقِفِ التُّهْمَةِ بِخِلَافِ النَّسَبِ.

اودې «رضاعى مور» ته نزدې رضاعى خور ده. «يعنى كه رضاعى ورور د رضاعى خورنه څه څيزغلا كړى. نوپه رضاعى ورور سارق باندې د لاس پرې كول شته» اودا حكم «چه كټ پرې شته» ځكه دې.چه رضاعت ډيركم په خلګ وكي مشهور كېږى.نونه وى فراخدلى «ګډون په مينځ د رضاعى ورور اوخور» كي د املٖه د ځان ساتلود تهمت نه «يعنى كه رضاعى ورور درضاعى خور سره ډيرګډون كوى.نو خلګ پرې غلط ګمانونه كوى.ځكه چې عامو خلګ وته ددوى د رضاعى رشتې څه پته نه وى.نوځكه دوى د زيات اختلاط اوګډون نه ځان ساتى.اوچه ګډون اواختلاط نه وى.د رضاعى ورور په حق كي د رضاعى خور مال محرز اومحفوظ شو.اوچه په حدالسرقه كي د محفوظ مال په غلا باندې حد جارى كولې شى.نوپه دې رضاعى وروربه حدجارى كولې شى» په خلاف د نسب «يعنى كه نسبى ورور د نسبى خورنه څه غلا

نويه سارق به حدنشی جاري کولې.ځکه چې د دوی په مينځ کې ګډون اواختلاط زيات وی.ځکه چې کړی.
ځلګو ته ددوی د اخوت د رشتې پته وی.نود غلط ګمانځ ويره هم نه وی.نود نسبی وررور په حق کې د نسبی
خور مال غيرمحفوظ شو.اوچه غيرمحفوظ شو.نوکه نسبی وررورد خور نه غلا اوکړی.په ده د لاس پرې کول
نشته﴾

د ښځې خاوند يا دغلام دمولی نه د غلا حکم

(وَإِذَا سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنَ الْآخَرِ أَوِ الْعَبْدُ مِنْ سَيِّدِهِ أَوْ مِنِ امْرَأَةِ سَيِّدِهِ أَوْ مِنْ زَوْجِ سَيِّدَتِهِ لَمْ يُقْطَعْ) لِوُجُودِ الْإِذْنِ بِالدُّخُولِ عَادَةً.

ژباړه وتشريح:- اوکله چې غلا اوکړی احدالزوجين دبل نه ﴿يعني يا ښځه د خاوندنه غلا اوکړی.يا خاوندد ښځې نه غلا اوکړی﴾ اوغلام د مولی نه ﴿غلا اوکړی﴾ اويا دښځې دخپل مولی نه ﴿غلا اوکړی﴾ او ياغلام ﴿غلا اوکړی﴾ دخپل مولی نه او يا ښځه ﴿غلا اوکړی﴾ د خاوند ښځه ﴿نويه دې اوکړی﴾ به شی کټ کولې ﴿لاس د سارق﴾ د امله د موجودوالی د اجازت نه په داخليدوکې ټولوصورتونوکې ﴿يعني په عامه توګه دا وی.چه دا نفر بغيرد اجازت نه ديوبل کورته ورداخليږی.نود دوی په حق عام طور کې مال محفوظ نشو.اولاس پرې کول خود مال محفوظ په غلا کې وی﴾

(فَإِنْ سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنْ حِرْزِ الْآخَرِ خَاصَّةً لَا يَسْكُنَانِ فِيهِ فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا

ژباړه وتشريح:- اوکه غلا اوکړله يو په ښځې خاوند کې د بل د محفوظ اوخاص ځائې نه چې اوسيږی دا دواړه په هغې کې ،نوهم دغه ډول حکم دې زموږ په نيز ﴿يعني په سارق باندې دلاس پرې کول نشته﴾

خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ لِبُسُوطَةٍ بَيْنَهُمَا فِي الْأَمْوَالِ عَادَةً وَدَلَالَةً وَهُوَ نَظِيرُ الْخِلَافِ فِي الشَّهَادَةِ.

ژباړه وتشريح:- خلاف ثابت دې دامام شافعی رحمه الله ﴿دهغوی په نيزيه دې صورت کې په سارق باندې حد شته﴾ د امله د فراخدلئ نه ددې دواړو په مينځ کې په مالونوکې دعادة په وجه اود دلالت په وجه، ﴿د دلالت نه مراد دا دې.چه دښځې خاوندپه خپل مينځ کې تعلقات په دې دلالت کوی.چه دوی که ديوبل شی استعمال کړی.نوخوک پرې بدنه ګنړی.نويه دې صورت کې هم دسارق لاس کټ کول نشته.اګرچه دې صورت کې دمحفوظ ځائې غلا شوې ده.که دې ته ګوري نو پکارده چې دسارق لاس کټ کړې شی .خودلته د بلې امله حدنه جاری کيږی.هغه دا چې په عامه توګه دښځې او خاوند په مال کې يوبل ته زړه فراخه وی.بخل نه کوی.که خاوند دښځې مال خرچ کړی اوکه ښځه دخاوند ،نوپه دې سره په ملك کې شبه پيدا شوه.اوپه شبه سره حدساقط کيږی.نوپه دې سارق باندې به حدنشی جاری کولې.اودا اختلاف ﴿په دې مسئله کې﴾ نظيرد اختلاف دې په مسئله د ګواهئ کې ، ﴿يعني که احدالزوجين دبل لپاره ګواهي ورکړی.نوزموږ په نيز دا ګواهی نه قبليږی.اوداما شافعی رحمه الله په نيزيه يو روايت کې دا ګواهی قبليږی.نودغه ډول دلته هم زموږ په نيزد زوجينوپه مينځ کې دکمال موانست په وجه که احدالزوجين دبل نه غلا اوکړی.لاس به ئې نشی کټ کولې﴾

د مولی دخپل مکاتب نه نه دغلا حکم

(وَلَوْ سَرَقَ الْمَوْلَىٰ مِنْ مُكَاتَبِهِ لَمْ يُقْطَعْ) لِأَنَّ لَهُ فِي أَكْسَابِهِ حَقًّا

ژباړه وتشريح:- اوکه غلا اوکړله مولی د مکاتب خپل نه نونه به شی کټ کولې ﴿لاس دمولی﴾ ځکه چې دمولی لپاره برخه ده په ګټه د مکاتب کې ، ﴿نوپه دې سره په ملکيت کې شبه پيدا شوه.اوپه شبه باندې حدساقط کيږی﴾

دغوڅې د بيت المال نه دغلا حکم

(وَكَذٰلِكَ السَّارِقُ مِنَ الْمَغْنَمِ) لِأَنَّ لَهُ فِيهِ نَصِيبًا، وَهُوَ مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ (١) دَرْءًا وَتَعْلِيلًا.

حل اللغة: ① **المغنم**: مال غنيمت ② **درءا**: لېاره د لرې کولو

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول د «فوځې» حکم دې.چه غلا اوکړی د بيت المال نه، «نودهغه لاس به نشی کټ کيږی» اودا حکم منقول دې د حضرت علی﷜ نه په دفع کولود حد کې «يعنی حضرت علی نه د حد ساقط کولوقول نقل دې» اوپه علت بيانولوکې «يعنی حضرت علی﷜ دحد ساقط کاوه لېاره هم دا علت بيان کړې دې.چه په دې مال غنيمت کې د سارق هم برخه ده دحضرت علی﷜ نه ددې روايت تفصيل دا دې.چه دوی ته يوپه جهاد کې يوفوځی راوستې شو.چه هغه د مال غنيمت نه داوسپې ټوپئ يعنی خول پټ کړې وو.نوحضرت علی﷜ اوفرمائيل.په دې مال غنيمت کې دده هم څه برخه ده.ددې نه روسته ئې دهغه لاس کټ نکړلو»

دحفاظت قسمونه

وَقَالَ (وَالْحِرْزُ عَلٰى نَوْعَيْنِ حِرْزٌ لِمَعْنًى فِيهِ كَالْبُيُوتِ وَالدُّورِ، وَحِرْزٌ بِالْحَافِظِ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: الْحِرْزُ لَا بُدَّ مِنْهُ لِأَنَّ الِاسْتِسْرَارَ لَا يَتَحَقَّقُ دُونَهُ،

حل اللغة: ① **الاستسرار**: پټوالې

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوری ﷫ فرمائی.او ساتنه په دوې [دوه] قسمه دې.يو ساتنه دڅه معنی د امله وی.چه هغه معنی موجود وی.په دغه ځيزکې ،لکه کوټې،کورونه، «صندخ ،الماریٔ وغيره» اوبل ساتنه دې په محافظ سره، «يعنی هغه ځيزکې داسې څه معنی نه وی.چه محفوظ وی.بلکه دهغې د ساتنه لېاره محافظ مقررکړې شوې وی» وابی بنده ضعيف «يعنی صاحب دهدايه» حفاظت چې دې نشته مخلص «دغلاتابتولودپاره» د دې نه، «ځکه چې دغلاپه تعريف کې په پټه د يوځيزاخستل رکن دې.او» پټوالې نه متحقق کيږی بغيرد ساتنه نه، «يعنی يوځيزمحفوظ وی.نوغل د هغې دغلا لېاره دپټوالی طريقه اختياروی.اوچه يوځيزښکاره اوغيرمحفوظ وی.دهغې د غلا لېاره د کښت تدبيرونه نشی کولې»

ثُمَّ هُوَ قَدْ يَكُونُ بِالْمَكَانِ وَهُوَ الْمَكَانُ الْمُعَدُّ لِإِحْرَازِ الْأَمْتِعَةِ كَالدُّورِ وَالْبُيُوتِ وَالصُّنْدُوقِ وَالْحَانُوتِ، وَقَدْ يَكُونُ بِالْحَافِظِ كَمَنْ جَلَسَ فِي الطَّرِيقِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ وَعِنْدَهُ مَتَاعُهُ فَهُوَ مُحَرَّزٌ بِهِ،

حل اللغة: ① **الامتعة**: جمع د متاع، سامان ② **الدور**: جمع د دار، کور ③ **الحانوت**: دوکان

ژباړه وتشريح:- بيا دا ساتنه کله په مکان سره وی.اودا هغه ځائې وی چې تيار شوې وی لېاره د ساتنه د سامان،لکه کوټې،کورونه، صندخ ،دوکان «وغيره» او«حفاظت» کله وی په محافظ سره «يعنی هغه چې په کوم ځائې کې وی.محفوظ نه وی.بلکه دمحافظ اوڅوکيداړپه ذريعه محفوظ ګرځيدلې وی» لکه څوک چې کښينی په لار کې يا په جمات کې اوده سره د ده سامان وی.نودغه سامان محفوظ وی په ده باندې،

وَقَدْ {قَطَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَقَ رِدَاءَ صَفْوَانَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ} (٢)

ژباړه وتشريح:- اويقيناً کټ کړې وو رسول الله ﷺ لاس دهغه چا چې غلا کړې ئې وو پټو (څادر) د صفوان﷜ کوم چې دده د سر دلاندې وو.اودې ويده (اوده) وو په جمات کې ، «ځکه چې جمات اګرچه غيرمحفوظ ځائې

---

١) أخرجه عبدالرزاق فی مصنفه والدارقطنی فی المؤتلف والمختلف کذا قاله الزيلعی ﷫ نصب الرأية ٣/٥٦٣)_

٢) من حديث صفوان بن أمية﷜ أخرجه أبوداودفی الحدود باب ١٥ رقم ٤٣٩٤ والنسائی فی قطع السارق باب ٥ رقم ٤٥٣٢ وابن ماجه فی الحدود باب ٢٨ رقم ٢٥٩٥ والدارمی فی الحدود باب ٣ والحاکم فی المستدرک ٤/٣٨٠) ومالک فی الحدود رقم ٢٧)_

دي.لیکن په صفوانﷺ باندې دده پټو (څادر) محفوظ ګرځیدلې وو.نوکوم کس چې هغه پټو (څادر) اخستې وو.دهغه غلا ثابته شوه.چه محفوظ شی ئې غلا کړې وو.نونبی ﷺ ئې لاس کټ کړلو﴾

تشریح:- مصنف رحمه الله چې دکوم حدیث حواله ورکړې ده.دهغې تفصیل دا دې.چه صفوان بن امیهﷺ په مکه کې چه چا هجرت اونکړلو.نوهغه تباه اوبرباد شو.ددې امله دوی د هجرت په اراده مدینې منورې ته روان شو.چه دلته راغلو.نوپه جمات کې ویده (اوده) شو.اودسرلاندې ئې پټو (څادر) کیخودلو.په دې کې یوغل راغلو.اوهغه پټو (څادر) ئې غلا کولو.په دې کې پرې حضرت صفوانﷺ راویښ شو.اوهغه غل ئې لاس نیولې نبیﷺ ته بوتلو.نبیﷺ دهغه دلاس کټ کولوحکم اوکړلو.صفوانﷺ عرض اوکړلو.زما دا غرض نه وو.چه دده لاس دې کټ شی.زه دا پټو (څادر) ده ته صدقه ورکوم.نبیﷺ ورته اوفرمائیل.اوس په دې کې څه نه کیږی.تابه ماته د راوستو نه وړاندې دې معاف کړې وو.

په محفوظ ځائې د محافظ داعتبار حکم

وَفِي الْمُحْرَزِ بِالْمَكَانِ لَا يُعْتَبَرُ الْإِحْرَازُ بِالْحَافِظِ هُوَ الصَّحِيحُ) لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ بِدُونِهِ وَهُوَ الْبَيْتُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ بَابٌ أَوْ كَانَ وَهُوَ مَفْتُوحٌ حَتَّى يُقْطَعَ السَّارِقُ مِنْهُ، لِأَنَّ الْبِنَاءَ لِقَصْدِ الْإِحْرَازِ إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ الْقَطْعُ إِلَّا بِالْإِخْرَاجِ مِنْهُ لِقِيَامِ يَدِهِ فِيهِ قَبْلَهُ.

ژباړه وتشریح:- اوچه محفوظ وی په یوځائې کې نونشته ﴿په دغه محرزبالمکان کې﴾ اعتبارمحافظ لره،اودا قول صحیح دې.ځکه چې دغه ځیزبغیردمحافظ نه محفوظ دې.اودغه ﴿محفوظ ځائې﴾ کور دې.اګرچه ددغه کور دروازه نه وی.اویا دروازه وی. خوکولاؤ وی.هم دا وجه ده.چه کټ کولې لاس د سارق ددې نه ﴿یعنی چې سارق دهغه کورنه غلا اوکړی.چه دهغې دروازه نه وی.یا ﴿چه غلا ئې کړې وی.﴾ ځکه چې آبادې په غرض د ساتنه وی.البته دومره دروازه ئې کولاؤ وی.نوهم به دهغه لاس کټ کولې شی﴾ مګر په ویستلو سره ددې نه ﴿یعنی د غل لاس به هله کټ ده.چه نه واجبیږی پرې کول د لاس ﴿دسارق﴾ مګر په ویستلو سره ددې نه ﴿یعنی چې غل کولې شی.چه د کور نه ځیزاوباسی﴾ د امله دقیام د لاس د مالك وړاندې د راویستو نه ﴿یعنی چې غل یوځیزد کور نه نه وی راویستې.نوپه ده باندې غلا نه ثابتیږی.ځکه چې په کورکې دننه وی.نوهغه دمالك په قبضه کې وی﴾

(بِخِلَافِ الْمُحْرَزِ بِالْحَافِظِ حَيْثُ يَجِبُ الْقَطْعُ فِيهِ، كَمَا أُخِذَ لِزَوَالِ يَدِ الْمَالِكِ بِمُجَرَّدِ الْأَخْذِ فَتَتِمُّ السَّرِقَةُ

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه ځیزچه محفوظ وی په محافظ سره،واجبیږی پرې کول د لاس په دې کې.چه ځنګه ئې غل په لاس کې واخلی. ﴿یعنی چې یوځیزباندې محافظ مقرروی. اوغل هغه غلا کړی.نودغل لاس به کټ کولې شی.اګرچه لا وړې ئې نه وی﴾ ځکه ختمیږی قبضه د مالك ﴿دهغه ځیزنه﴾ صرف په اخستلوسره ﴿چه ځنګه ئې غل واخلی.نودمالك دلاس نه اووتل﴾ نوپوره شوه غلا ﴿کورئ نه که چرته په یو ځائې کې یوکس ویده (اوده) وی.اوهغه سره یوځیزوی.غل هغه شی راواخلی.په دې کې پرې مالك راویښ شی. اوس دا دواړه په جګړه شی.غل وائی.چه دا شی زما دې.اومالك وائی.چه دا شی زما دې.نودریم ګړې سړې په دې کې توپیر نشی کولې.چه دا ځیزدچا دې.اوکه ددې په ځائې یوغل دچا کورته ورداخل شی. اوپه کورکې د غلا په مهال کې هغه اونیوې شی.اوهغه دا جګړه پیل کړی.چه دا شی زما دې. نو هرسړې به دا وائی.چه دې دروغژن دې.ځکه چې کورد چا وی.ځیزبه هم دهغه وی﴾

وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَكُونَ الْحَافِظُ مُسْتَيْقِظًا أَوْ نَائِمًا وَالْمَتَاعُ تَحْتَهُ أَوْ عِنْدَهُ هُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّهُ يُعَدُّ النَّائِمُ عِنْدَ مَتَاعِهِ حَافِظًا لَهُ فِي الْعَادَةِ. وَعَلَى هَذَا لَا يَضْمَنُ الْمُودَعُ وَالْمُسْتَعِيرُ بِمِثْلِهِ لِأَنَّهُ لَيْسَ بِتَضْيِيعٍ، بِخِلَافِ مَا اخْتَارَهُ فِي الْفَتَاوَى.

حل اللغة: ① مستقیظ:ویښ سړې ② نائم:اوده ③ تضییع:ضائع کول

ژباړه وتشریح:- اونشته توپیر په دې کې چې وی محافظ ویښ یا ویده (اوده) ،او ﴿برابره ده﴾ که وی سامان دده لاندې یا دده سره نزدې،هم دا قول صحیح دې. ﴿اوددې قول دلیل دا دې﴾ چې شمارلې شی ویده (اوده) سړې دخپل سامان سره محافظ په عادت کې ﴿یعنی چې یوسړې خپل سامان سره اوده وی.نوهم

خلک ده ته محافظ وی.ځکه چې کس دغه څیزغلا کوی.نودهغه په زړه کې دا ویره وی.چه هسې نه دا کس
راباندې راویخ شی﴾ هم دا وجه ده. ﴿چه ویده (اوده) سړې محافظ شمارلې شی﴾ نه ضامن کیږی امانت
دار سړې اوپه خواست سره غوستونکې سړې په داسې صورت کې ،ځکه چې دې نه دې ضائع کونکې
﴿دهغه څیزیعنی چې زید د بکرسره یوڅیزامانت کیخودلو.یا بکرد زید نه یوڅیزپه استعاره اوخواست سره
واخست،اودغه شی سره بکرنزدې ویده (اوده) شو.اوغل راغلو.دغه څیزئې غلا کړلو.نوپه امین
اومستعارباندې ددغه څیزتاوان نشته.ځکه چې ده دهغې خیز ساتنه نه دې پریښولې (پریخودې).بلکه ویده
(اوده) وو ورسره﴾ په خلاف دهغه څه چې غوره کړې ئې دې په فتاوو کې ، ﴿یعنی په متونوکې هم دا خبره
ده.چه په ویده (اوده) امانـدار اومستعارباندې ضمان نشته.البته په فتاووکې ددې خلاف قول راغلې
دې.لکه په فتاوی ظهیریه کې دی.یوامین امانت سره نزدې په ولاړه ویده (اوده) شو.اوغل امانت غلا
کړلو.نوپه ده ضمان نشته.اوکه دې په ډده ویده (اوده) شوې وی.نوبیا پرې ضمان شته.بهرصورت په
متونوکښې ذکرشوې قول د زیربحث مسئلې لپاره موئد دې﴾

د محفوظ مقام یا محافظ نه د غلا په کولودلاس کټ کولوحکم

قَالَ (وَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا مِنْ حِرْزٍ أَوْمِنْ غَيْرِحِرْزٍ وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ يَحْفَظُهُ قُطِعَ) لِأَنَّهُ سَرَقَ مَالًا مُحْرَزًا بِأَحَدِ الْحِرْزَيْنِ

ژباړه وتشریح:- صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چا چې غلا کړلو یو شی د محفوظ ځائې نه یا دغیرمحفوظ
نه،اومالك د شی موجود وود هغې مال سره،چه ساتنه ئې کولو ﴿دهغې﴾ نوکټ کولې به شی ﴿لاس
دسارق﴾ ځکه چې ده غلا کړلو مال چې محفوظ وو په یو د دوو طریقو دحفاظت، ﴿یعنی په اول صورت
کې مال په محفوظ مکان کې وو.اوده غلا کړلو.اوپه دوهم صورت کې د مال سره محافظ موجود وو.اوده
غلا کړلونود غلا تعریف پرې صادق شو.چه محفوظ شی غلا کول دی. نودې غل شو.اودغل سزا لاس پرې
کول وی﴾

دحمام نه دغلا په کولودلاس کټ کولوحکم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى مَنْ سَرَقَ مَالًا مِنْ حَمَّامٍ أَوْمِنْ بَيْتٍ أَذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ) لِوُجُودِ الْإِذْنِ عَادَةً أَوْحَقِيقَةً فِي الدُّخُولِ فَاخْتَلَّ الْحِرْزُ

ژباړه وتشریح:- اونشته پرې کول ﴿دلاس﴾ په هغه چا چې غلا کې مال د حمام نه،اویا د داسې کورنه چې
اجازت شوې وی خلگ وته په داخلیدوکې هغې ته،د امله د موجودوالی د اجازت نه په عادت کې ﴿یعنی
بعضې داسې کورنه وی.چه عامو خلگو ته هغې ته د ورداخلیدو اجازت وی.لکه د پښتنو په کلو کې حجره
راواخله﴾ د امله د وجود د اجازت نه عادة یا حقیقة په د داخلیدو کې ﴿یعنی حمام ته د داخلیدو اجازت د
خلگو په عادت کې جاری دې.نوعادت په دې باندې قرینه ده.چه اجازت شته،اوکورته د داخلیدو لپاره
حقیقی اجازت ضروری دې.چه دا ونیلې شوی وی.که څوك دې کورته داخلیږی.اجازت ورته شته﴾
نونقصان راغلوپه ساتنه ﴿دمال﴾ کې ، ﴿اوچه په ساتنه کې نقصان راغلو.نوددې نه په غلا کولوسره دلاس
پرې کول نه واجبیږی.ځکه چې حدالسرقه په هغه وخت کې جاری کیږی.چه د محفوظ ځائې
نه شی غلا شوي وی﴾

وَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ حَوَانِيتُ التُّجَّارِ وَالْخَانَاتُ، إِلَّا إِذَا سَرَقَ مِنْهَا لَيْلًا لِأَنَّهَا بُنِيَتْ لِإِحْرَازِ الْأَمْوَالِ، وَإِنَّمَا الْإِذْنُ يَخْتَصُّ بِالنَّهَارِ

حل اللغة: ① **حوانیت** جمع د حانوت:دوکان ② **خانات**: مسافرخانې

ژباړه وتشریح:- اوداخلیږی په دې حکم کې دوکانونه د تجارت، ﴿لکه په بازارونوکې چې کوم لوئې لوئې
دوکانونه وی. خلگ ورته دننه داخلیږی.اوسوداګانې په کې کوی﴾ اومسافرخانې، ﴿یعنی که د تجارتی
دوکانونونه یا د مسافرخانونه څوك غلا اوکړی.دهغه لاس به نشی کټ کولې.ځکه چې ساتنه ناقص دې﴾

البته كله چې غلا اوشي ددې ﴿تجارتي دوكانونو﴾ نه د شپې ﴿نوبيا به د غل لاس كټ كولې شي﴾ ځكه چې دا دوكانونه د مالونو د ساتنه لپاره جوړ شوي دي.اواجازت دداخليدو خاص دې په ورځ پورې. ﴿يعنى دشپې دغه دوكانوته د داخليدو اجازت نشته.نو ساتنه ناقص نه شو.اوچه ساتنه ناقص نه شو.نوبه غلا كولوبه دلاس پرې كول واجبيږي)

په جمات كې د موجود مالك نه په غلا كولود لاس كټ كولوحكم

(وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ قُطِعَ) لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ بِالْحَافِظِ لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مَا بُنِيَ لِإِحْرَازِ الْأَمْوَالِ فَلَمْ يَكُنِ الْمَالُ مُحْرَزًا بِالْمَكَانِ،

ژباړه وتشريح:- اوڅوك چې پټ كړي د جمات نه سامان اومالك دهغې موجود وي دهغې سره،كټ كولې به شي ﴿لاس د سارق﴾ ځكه چې دا سامان محفوظ دې په محافظ سره، ﴿اګرچه د ځائې په اعتبارسره داسامان محفوظ نه دې﴾ ځكه چې جمات نه دې جوړ شوې لپاره د ساتنه د مالونو﴿د خلګ و﴾ نومال نشو محفوظ په اعتبارد مكان سره، ﴿بلكه جمات دعبادت لپاره جوړشوې دې.او خلګ ورته ځي راځي﴾

بِخِلَافِ الْحَمَّامِ وَالْبَيْتِ الَّذِي أُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ حَيْثُ لَا يُقْطَعُ لِأَنَّهُ بُنِيَ لِلْإِحْرَازِ فَكَانَ الْمَكَانُ حِرْزًا فَلَا يُعْتَبَرُ الْإِحْرَازُ بِالْحَافِظِ()

ژباړه وتشريح:- په خلاف د حمام اوكور هغه چې اجازت شوې وي خلګ وته د داخليدو هغې ته،نونشي كټ كولې ﴿لاس دغل﴾ ځكه چې دا ﴿كور اوحمام د خپل اصل په اعتبارسره﴾ جوړشوي دي لپاره د ساتنه ﴿دمال اوسامان﴾ نوشومكان محفوظ نونشته اعتبار ساتنه لره په محافظ باندې﴿يعنى كه په حمام يا داسې كوركي چې خلګ وته هغې ته د داخليدو اجازت شوې وي﴾

تشريح:- دمكان اومحافظ په ذريعه په ساتنه كې توپير دې.په جمات كې د محافظ وجود معتبر دې.اوپه حمام كې د حرزبغيره اعتبارنشته.ځكه چې حمام اوهغه كوركوم كې چې عامو خلګو ته د داخليدو اجازت شوې وي.دا د ساتنه لپاره جوړشوی وی.نوپه دې كې دمحافظ وجود اوعدم وجود دواړه سره برابر دی. او دجمات جوړول د ساتنه لپاره نه وي.نولكه د صحراء اوميدان پشان په جمات كې هم د محافظ وجود معتبر دې.نوكه يوكس د صاحب مال په موجودګئ كې دسامان غلا اوكړله.نودهغه لاس به نشي كټ كولې .اوكه په جمات كې نې د مالك په وجود كې مال پټ كړلو.نودده لاس به كټ كولې شي.

د ميلمه د كوربه نه په غلا كولودلاس كټ كولوحكم

(وَلَا قَطْعَ عَلَى الضَّيْفِ إِذَا سَرَقَ مِمَّنْ أَضَافَهُ) لِأَنَّ الْبَيْتَ لَمْ يَبْقَ حِرْزًا فِي حَقِّهِ لِكَوْنِهِ مَأْذُونًا فِي دُخُولِهِ، وَلِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ أَهْلِ الدَّارِ فَيَكُونُ فِعْلُهُ خِيَانَةً لَا سَرِقَةً.

ژباړه وتشريح:- اونشته پرې كول ﴿دلاس﴾ په ميلمه باندې،كله چې دې غلا اوكړي دهغه چا نه چې ميلمه كړې وی هغه دې.ځكه چې كور محفوظ پاتې نشو په حق د ده ﴿ميلمه﴾ كې، ځكه چې ده ته كورته د داخليدو اجازت شوې دې. ﴿اوپه حد سرقه كې د مال ساتنه ضروری﴾ اوبله دا چې دې پشان د كوربه دې. ﴿ځكه چې دې هم په كوركي دننه دې﴾ نودده دا كارخيانت شو غلا نشوه. ﴿اوپه خيانت كې دلاس پرې كول نشته﴾

[1] القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله لكن فى الهندية عن ابى حنيفة رواية ان سرق من تحت رجل فى الحمام يقطع كما لو سرق من المسجد متاعا وصاحبه عنده الخ راجع للتفصيل القول الراجح ...كذا فى فتح القدير(۱۴۵\۵) والكفاية (۱۴۷\۵) والهندية (۱۷۹\۲)نقلاً عن القول الراجح (۴۶۵\۱)-

چه سامان ئې د كورنه بهر كړې نه وي نودلاس كټ كولوحكم

(وَمَنْ سَرَقَ سَرِقَةً فَلَمْ يُخْرِجْهَا مِنَ الدَّارِ لَمْ يُقْطَعْ) لِأَنَّ الدَّارَ كُلَّهَا حِرْزٌ وَاحِدٌ فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِخْرَاجِ مِنْهَا، وَلِأَنَّ الدَّارَ وَمَا فِيهَا فِي يَدِ صَاحِبِهَا مَعْنًى فَتَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ عَدَمِ الْأَخْذِ

ژباړه وتشريح:- اوچاچه غلاوكړله.په غلا كولوسره،اوويستې ئې نه وي سامان دكورنه،نه به شي كټ كولې «لاس ددهٔ» ځكه چې كورواړه محفوظ دي.نونشته مخلص د ويستلودهغې نه«يعنې دا ضروري ده.چه سامان به دكورنه اوباسي.ځكه چې كورمحفوظ دی» اوبله دا چې كور اوپه هغې كي چې څه وي.هغه دخپل مالك په قبضه كي وي معنی. «اګرچه په ظاهره په دغه وخت كي د غل په لاس كي وي» نوپيدا شوه شبه د نه اخستلو«د سامان، يعنې چې سامان غل راجمع كړې دي.خودكور نه ئې بهرنه دي ويستې.نوپه دې كي شبه پيدا شوه.چه دا غلا ده اوكه نه ده.اوپه شبه باندې حد ساقط كيږی.ځكه به د غل لاس نشی كټ كولې»[1]

په لوئي كوركي د كوټې نه غولي ته سامان راويستل اوپه دې دقطع حكم

(فَإِنْ كَانَتْ دَارٌ فِيهَا مَقَاصِيرُ فَأَخْرَجَهَا مِنَ الْمَقْصُورَةِ إِلَى صَحْنِ الدَّارِ قُطِعَ) لِأَنَّ كُلَّ مَقْصُورَةٍ بِاعْتِبَارِ سَاكِنِهَا حِرْزٌ عَلَى حِدَةٍ (وَإِنْ أَغَارَ إِنْسَانٌ مِنْ أَهْلِ الْمَقَاصِيرِ عَلَى مَقْصُورَةٍ فَسَرَقَ مِنْهَا قُطِعَ) لِمَا بَيَّنَّا.

حل اللغة: ① مقاصير جمع د مقصورة كوټه

ژباړه وتشريح:- كه چرته وی كور لوئې،په هغې كي كوټې وی،نوراوباسی «غل» مال لره د كوټې نه،غولي ته، «نوپه دې صورت كي به» كټ كولې شی «لاس د سارق» ځكه چې هره يوه اطاق په اعتبارد خپل اوسيدونكی محفوظ خانې دې.اوكه داخل شو يوانسان په اوسيدونكو د كوټوكي يوې كوټې ته،اوغلا ئې اوكړله.نوكټ كولې به شی «لاس دهغهٔ» د امله دهغه دليل نه چې موږ بيان كړلو«چه په دې كوټوكي هره يوه اطاق مستقل اوجدا محفوظ خانې دې.نوغلا شوې ده حرز نه.اود حرز نه په غلا كولوسره لاس كټ كيږی»

كورته داخل اودكورنه خارج غل په شريكه غلا كولوباندې دقطع حكم

(وَإِذَا نَقَبَ اللِّصُّ الْبَيْتَ فَدَخَلَ وَأَخَذَ الْمَالَ وَنَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ الْبَيْتِ فَلَا قَطْعَ عَلَيْهِمَا) لِأَنَّ الْأَوَّلَ لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ الْإِخْرَاجُ لِاعْتِرَاضِ يَدٍ مُعْتَبَرَةٍ عَلَى الْمَالِ قَبْلَ خُرُوجِهِ. وَالثَّانِي لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ هَتْكُ الْحِرْزِ فَلَمْ تَتِمَّ السَّرِقَةُ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ(1)

حل اللغة: ① نقب سورې اوكړی ② اللص غل ③ هتك بې عزتي

ژباړه وتشريح:- اوكله چې سورې اوكړی غل په كوركي ،نوداخل شی او راواخلی مال،او ورئې كړی بل كس ته چې بهروی د كورنه،نونشته دلاس پرې كول په دې «دواړو غلا كي» ځكه چې اولنې غل نه دی موجود شوې دده بهرته ويستل د مال د امله د وجود دقبضې معتبرې په مال باندې وړاندې د وتلود غل نه«يعنې ترڅوچه سامان د كورنه نه وی بهرشوې.نوپه مال باندې د مالك قبضه برقرارده» او دوهم كس «چه دكورنه بهروی» نه دی موجود شوې دده نه ماتول د حفاظت. «يعنې دې هغه خانې ته نه دي ورداخل شوې.كوم چې محفوظ وو» نوپوره نشوه غلا دهريو نه«كه خارج وی اوكه داخل.نوچه دهريوپه حق كي غلا په كامله طريقه ثابته نشوه نولاس پرې كول به هم نه كيږی»

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ. إِنْ أَخْرَجَ الدَّاخِلُ يَدَهُ وَنَاوَلَهَا الْخَارِجَ فَالْقَطْعُ عَلَى الدَّاخِلِ، وَإِنْ أَدْخَلَ الْخَارِجُ يَدَهُ فَتَنَاوَلَهَا مِنْ يَدِ الدَّاخِلِ فَعَلَيْهِمَا الْقَطْعُ. وَهِيَ بِنَاءٌ عَلَى مَسْأَلَةٍ تَأْتِي بَعْدَ هَذَا إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

---

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في مجمع الأنهر(۱۱‏/۶۳۰) وفتح القدبر(۱۵‏/۱۵۰) وردالمحتار(۱۳‏/۳۲۳) والكفاية (۱۵‏/۱۵۰) البحر(۱۵‏/۶۰) نقلاً عن القول الراجح (۱۱‏/۴۶۶)-

زباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دی.که راویستلو دننه کس لاس خپل او ورننی کړلو بهرکس ته،نو پرې کول ﴿دلاس دی﴾ په داخل باندې،اوکه وردننه کړلو بهرکس لاس خپل او وانې خستلو د لاس د داخل نه،نوپه دواړو باندې ﴿که داخل دې اوکه خارج﴾ پرې کول ﴿دلاس﴾ دی.اودا ﴿اختلافی﴾ مسئله بنا ده په هغه مسئله چې رابه شي روسته انشاءالله تعالی،

(وَإِنْ أَلْقَاهُ فِي الطَّرِيقِ وَخَرَجَ فَأَخَذَهُ قُطِعَ) وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا يُقْطَعُ لِأَنَّ الْإِلْقَاءَ غَيْرُ مُوجِبٍ لِلْقَطْعِ كَمَا لَوْ خَرَجَ وَلَمْ يَأْخُذْ، وَكَذَا الْأَخْذُ مِنَ السِّكَّةِ كَمَا لَوْ أَخَذَهُ غَيْرُهُ.

حل اللغة: ① الالقاء: غورځول ② السكة: کوڅه

زباړه وتشریح:- اوکه وې غورځول مال په لارکې ﴿یعنی داخل کس د کورنه مال په لاره کې اوغورځولو﴾ اوبیا روسته راوبهرشواو راوانې اخستلو.نوکټ کولی به شی ﴿لاس دده﴾ اوفرمائی امام زفر رحمه الله نه به شی ﴿کټ کولی﴾ ځکه چې غورځول ﴿دمال﴾ نه دې واجبونکې د کټ کولو ﴿دلاس یعنی چې یوغل مال اوغورځوی.نوپه دې باندې دده لاس نشی کټ کولی﴾ دا صورت داسې شو.لکه چې رابهر شی.او وانې نخلی. ﴿یعنی چې غل دکورنه بهرلارې ته سامان راوغورځوی.اوبیا په خپله رابهرشی.خوهغه مال وانخلی.دغه ډول لاړ شی.نوپه دې صورت کې د لاس پرې کول نشته.نودغه ډول به په زیربحث مسئله کې هم دلاس پرې کول نه وی﴾ اودغه ډول راخستل دی د لارې نه ﴿یعنی په لار کې مال پروت وی. او غل ئې د لارې نه راواخلی.اوپټ ئې کړی.نوپه دې صورت کې هم دامام زفر رحمه الله په نیزدلاس پرې کول نشته﴾ یا چې ئې یوسی دغل نه سوا بل څوك ﴿یعنی غل ئې د کورنه بهرته راوغورځوی.اوبل کس ئې دلارې نه یوسی.نوپه دې صورت کې د داخل غل لاس پرې کول نشته په اتفاق سره﴾

وَلَنَا أَنَّ الرَّمْيَ حِيلَةٌ يَعْتَادُهَا السُّرَّاقُ لِتَعَذُّرِ الْخُرُوجِ مَعَ الْمَتَاعِ، أَوْ لِيَتَفَرَّغَ لِقِتَالِ صَاحِبِ الدَّارِ أَوْ لِلْفِرَارِ وَلَمْ تَعْتَرِضْ عَلَيْهِ يَدٌ مُعْتَبَرَةٌ فَاعْتُبِرَ الْكُلُّ فِعْلًا وَاحِدًا، فَإِذَا خَرَجَ وَلَمْ يَأْخُذْهُ فَهُوَ مُضَيِّعٌ لَا سَارِقٌ.

حل اللغة: ① الرمی: ویشتل ② یعتاد: عادت دی ③ الفرار: تیختنه ④ مضیع: ضائع کونکې

زباړه وتشریح:- اوزموږ دلیل دا دې.چه راغوځول ﴿دمال د کورنه بهرلارې ته﴾ یوه حیله اوچل دې.چه بلد دی پرې غلهٔ خلگ ،ځکه چې گران ورته وتل سره د سامانه،اویا ددې لپاره ﴿سامان لارې ته راوغوځوی﴾ چې فارغ شی جګړې ته د مالك د کور سره ﴿یعنی کله غل سامان د کورنه بهرلارې ته راغورځوی.که دکور مالك پرې رابیدار شی.چه هغه سره جګړه کولې شی.اوخان ترې بچ کولې شی﴾ اونه ده راغلې په دې مال باندې قبضه معتبره. ﴿یعنی داسې نه ده.چه ده لارې ته راوغورځولو.اوبل کس دغه مال د لارې نه اوچت کړلو.بلکه هم دا غل رابهرشوې دې.اوهغه مال ئې وړې دې﴾ نوحساب شو واړه کارونه یوکار ﴿دغلا،یعنی که دکورنه بهرته دمال راغورځول دی.اوبیا پخپله راوتل دی.اودا مال په خپله قبضه کې راوستل دی.نودا واړه یوفعل حسابیږی.چه غلا ده.یعنی ددې ټولوکارونو مجموعه یوه غلا شوه﴾ اوهرکله چې رابهرئې کړی.او وانې نخلی.نودا کس ﴿دمال﴾ ضائع کونکې شو.غل نشو. ﴿دا دامام ابویوسف رحمه الله د مقیس علیه نه ځواب وو.هغوی په قیاس کې دا صورت پیش کړې وو.چه په زیربحث مسئله کې دلاس پرې کول داسې نشته.لکه څنګه چې ئې دکورنه رابهرکړی.اوبل دې ئې وانخلی.نودلاس پرې کول نشته.نودغه ډول په زیربحث مسئله کې هم،نومصنف رحمه الله دهغې نه ځواب کوی.چه دغه مقیس علیه کې دغه کس غل نه دې بلکه د مال ضائع کونکې دې.ځکه چې دمالك د قبضې نه ئې هم رابهرکړلو.اوپه خپله بنه ئې هم رانه وستل﴾

دبارشوی خرپه شرلو دغلا کولوحکم

قَالَ (وَكَذَلِكَ إِنْ حَمَلَ عَلَى حِمَارٍ فَسَاقَهُ وَأَخْرَجَهُ) لِأَنَّ سَيْرَهُ مُضَافٌ إِلَيْهِ لِسَوْقِهِ.

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي.اودغه ډول كه بارکړي سامان په خرباندئ،اووي شړي او راويباسي. «نوهم به دده لاس كټ كولي شي» ځكه چي ددې «خر» مزل مضاف دي ددې شړونكي ته، «يعنى كه دغه كس دا خرشړلي نه وو.نوسامان به په هغه باندئ په كوركي دننه پروت وو.اوچه دننه وو.نودمالك په قبضه كي وو.نودغلا تعريف پرې نه صادق كيدلو.خوهركله چي ده اوشړل،اوسامان بهرته اووتل.نودا هم ددې شړونكي فعل شونوځكه به دده لاس كټ كولي شي»

دبوي ډلي په شريكه دغلا كولوحكم

(وَإِذَادَخَلَ الْحِرْزَ جَمَاعَةٌ فَتَوَلَّى بَعْضُهُمُ الْأَخْذَ قُطِعُوا جَمِيعًا) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هَذَا اسْتِحْسَانٌ وَالْقِيَاسُ أَنْ يُقْطَعَ الْحَامِلُ وَحْدَهُ وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ رَحِمَهُ اللَّهُ، لِأَنَّ الْإِخْرَاجَ وُجِدَ مِنْهُ فَتَمَّتْ السَّرِقَةُ بِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوكله چي داخل شي محفوظ ځائي ته يوه ډله نوبعضي په دوى كي راخستل اوكړي «دسامان» نو كټ كولاى شي «لاسونه» د ټولو،وائي بنده كمزوري «صاحب دهدايه(رح)» دا «حكم» استحسان دي.اوقياس دا دي.چه كټ دي كړې شي «لاس» د راوړونكي صرف اودا «قياس» قول د امام زفر رحمه الله دي. «دهغوى په نيزبه صرف دحامل لاس كټ كولي شي.اودليل د قياس دا دي.چه» راويستل «دمال» موجود شوى دى دده «حامل» نه، نوپوره شوه غلا په ده «حامل» باندې،

وَلَنَا أَنَّ الْإِخْرَاجَ مِنَ الْكُلِّ مَعْنًى لِلْمُعَاوَنَةِ كَمَا فِي السَّرِقَةِ الْكُبْرَى، وَهَذَا لِأَنَّ الْمُعْتَادَ فِيمَا بَيْنَهُمْ أَنْ يَحْمِلَ الْبَعْضُ الْمَتَاعَ وَيَتَشَمَّرَ الْبَاقُونَ لِلدَّفْعِ، فَلَوِ امْتَنَعَ الْقَطْعُ لَأَدَّى إِلَى سَدِّ بَابِ الْحَدِّ.

حل اللغة:① المعاونة:يوبل سره كومك كول ② يتشمر: خپاره واره كيږي

ژباړه وتشريح:- اوزموږ دليل دا دي.چه راويستل موجود شوې دى د ټولو نه په اعتبارد معنى سره «يعني اګرچه په حقيقت كي دسامان راويستونكي يودې.دغلا په دې كاركي ورسره دا نورهم شريك دى.نومعنى ورسره دوى هم غله شول» د امله د امداد كولو «دنورودې حامل سره په كاردغلا كي» لكه څنګه چي سرقه كبرى كي وى «د سرقه كبرى نه شوكه مراد ده.چه په لاره څو نفر راجمع شوى وى.اوبه هغوى كي واړه نفر يوكس اودروى.اوهغه سره څه وى.صرف يوكس ترې هغه واخلي.نودا واړه غله شول.ددې ټولولاسونه به كټ كولي شي.اګرچه مال ترې صرف يوكس اخستى وى» اودا حكم ځكه دې.چه عادت په دې جارى دې دغلو په مينځ كي «چه واړه نفر سامان نه بهركوى بلكه» راواخلي بعضي نفر سامان «دكورنه» او خپاره واړه شى پاتـه نفر لپاره د دفع كولو «اودځان دحفاظت» نوكه چرته منع كړې شى پرې كول «دلاسونود نورو غلودحامل نه سوا» نومفضى به شي دا خبره بنديدو باب د حد لره «يعني كه په جمع باندې ډير نفر غلا اوكړي.اوموږ صرف دهغه كس لاس كټ كوو.چا چي سامان رابهركړې وى.نوبه دې كي به دحد جارى كولودروازه بنده شي.او خلګ به جرمونه كوى.اوچه ټولوته سزا ملاؤ شي.نوبيا به واړه دغلا نه منع شي»

كورته بغيرد داخليدونه غلا كولوباندې دحد حكم

قَالَ (وَمَنْ نَقَبَ الْبَيْتَ وَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ وَأَخَذَ شَيْئًا لَمْ يُقْطَعْ) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِي الْإِمْلَاءِ أَنَّهُ يُقْطَعُ لِأَنَّهُ أَخْرَجَ الْمَالَ مِنَ الْحِرْزِ وَهُوَ الْمَقْصُودُ فَلَا يُشْتَرَطُ الدُّخُولُ فِيهِ، كَمَا إِذَا أَدْخَلَ يَدَهُ فِي صُنْدُوقِ الصَّيْرَفِيِّ فَأَخْرَجَ الْغِطْرِيفِيَّ.

حل اللغة:① الصيرفي: صراف ② الغطريفي:اشرفئ

ژباړه وتشريح:- اوچاچه كنډراوكړلو دكور،اوداخل ئې كړلو لاس خپل په هغې كي ،اوروائې اخستل څه څيز،نو نه به شي كټ كولي لاس، «دغل» اودامام ابويوسف رحمه الله نه داملاء په روايت كي دى.چه كټ كولي به شي «لاس دده» ځكه چي ده راويستې دې مال دمحفوظ ځائي نه،اودمال راويستل مقصود دې. «يعني دغل مقصددا وى.چه سامان په خپله قبضه كي راولي.اودا مقصود حاصل شو.اګرچه كورتـه د ورداخليدو نه بغيروى» نونشى شرط كولي دخول دې «كور» تـه «ځكه چي د داخليدو نه بغيرمقصود حل كيږي»

اواوګرځیدلو دا لکه څنګه چې ﴿صراف﴾ داخل کړی لاس خپل په صندخ ﴿سیف﴾ کي .او راوباسی اشرفئ ﴿نوپه دې صورت کي دده لاس کټ کولې شی.دغه ډول به په زیربحث مسئله کي هم دده لاس کټ کولې شی﴾

تشریح:- دمتقدمینو رحمهم الله په اصطلاح کي امالی هغه علمی افاداتو ته وائی.چه استاذ ئې بیانوی.اوشاګردان ئې لیکی.دامام ابویوسف رحمه الله دامالی په نوم باندې هم یوکتاب په درې ټوکونو کي موجود دې.په دې کي هم هغه روایات دی.کوم چې امام ابویوسف رحمه الله بیان کړی دی.اوشاګردانو ئې راجمع کړی دی.دلته دهدایه په متن کي د امام ابویوسف رحمه الله د دغه امالی حواله ورکړې شوې ده.

وَلَنَا أَنَّ هَتْكَ الْحِرْزِ يُشْتَرَطُ فِيهِ الْكَمَالُ تَحَرُّزًا عَنْ شُبْهَةِ الْعَدَمِ وَالْكَمَالُ فِي الدُّخُولِ، وَقَدْ أَمْكَنَ اعْتِبَارُهُ وَالدُّخُولُ هُوَ الْمُعْتَادُ.

ژباړه وتشریح:- اوزمونږ ﴿دجمهورواحنافو﴾ دلیل دا دې.چه بې عزتی د محفوظ ځائې.شرط کړلای شی په دې کي کمال ﴿چه پوره داخلیدل واقع شوې وی.اودپوره داخلیدو شرط لګول﴾ لپاره دځان ساتلو د شبه دعدمیت نه ﴿یعنی دا پوره دخول ځکه شرط کړې شو.چه دا شبه په کي پاتې نشی.چه بغیرد داخلیدو نه د سامان راویستل غلا ده اوکه نه ده.اوچونکه شبه حدساقط کوی.ځکه مو په سرقه کي حرز ته داخلیدل شرط اوګرځول﴾ اوکمال ﴿دسرقه راځی﴾ په دخول سره، ﴿چه محفوظ ځائې ته ورداخل شی.اوغلا اوکړی﴾ اوممکن دې اعتبارد داخلیدو ځکه چې ﴿د غلا کولوپاره﴾ داخلیدل عادتی څیزدې. ﴿یعنی کله چې هم خوك د محفوظ ځائې نه څه څیزراوباسی.نوهغې ته ورداخلیږی.نوحرز ته ورداخلیدل غیرممکن نه دی.بلکه ممکن دی.نوچه ممکن دی.په حدسرقه کي ئې شرط کول هم صحیح شو﴾

بِخِلَافِ الصُّنْدُوقِ لِأَنَّ الْمُمْكِنَ فِيهِ إِدْخَالُ الْيَدِ دُونَ الدُّخُولِ، وَبِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ مِنْ حَمْلِ الْبَعْضِ الْمَتَاعَ لِأَنَّ ذَلِكَ هُوَ الْمُعْتَادُ.

ژباړه وتشریح:- اوبه خلاف د ګله ﴿یعنی هغه صندخ چې دوکانداران په کي په دوکان کي پیسې ږدی .یعنی پاته که امام ابویوسف رحمه الله ګله ته د داخلیدو په مسئله قیاس کړې دې.که یوکس ګله کي لاس ورننه کړلو.اوپیسې ئې راویستلې.نودده لاس کټ کولې شی.نودهغې نه ځواب دا دې﴾ ممکن دې په ګله کي داخلول د لاس ،نه په خپله داخلیدل ﴿یعنی که ګله کي لاس ورداخل کړی.اوپیسې کښت کړی.نوپه هغې باندې ځکه لاس کټ کولې شی.چه ګله ته سرې ورننوتې نشی.بلکه هم د لاس په ذریعه ترې پیسې راخلی.نو ګله ته ورداخلیدل نامکن شو.اوکورته ورداخلیدل ممکن.نودا ناممکن په ممکن باندې قیاس کول قیاس مع الفارق شو.کوم چې صحیح نه دې﴾ اوبه خلاف دهغه مسئلې چې وړاندې تیره شوه.چه راویستل د بعضې کسانو ﴿مال لره.نوپه هغې کي که کوم نفر نه وی ورداخل شوې بیا هم د هغوی لاس کټ کولې شی﴾ ځکه چې دغه ﴿داخلیدل د څه غلو اودڅه غلو بهر ودریدل﴾ عادت دې ﴿نوداسې څوك نشی وئیلې.چه کوره په دغه مسئله کي چې کوم نفر کورته ورداخل شوې نه وی.نوهم دهغوی لاسونه کټ کولې شی.دغه ډول دې په زیربحث مسئله کي هم چې کورته ورداخل شوې نه وی.خوغلا ئې کړې وی.دده لاس دې کټ کړې شی.ځکه چې فرق تاته واضح اوښکاره شو.چه دغلوعادت هم په دې جاری دې.نوکه موږ بهرنی نفر د لاس کټ کولونه مستثنی کړو.په دې کي دحدد نفاذ ضائع کیدل دی﴾

دګنډکې په تیلۍ غلا کولودلاس کټ کولوحکم

قَالَ (وَإِنْ طَرَّ صُرَّةً خَارِجَةً مِنَ الْكُمِّ لَمْ يُقْطَعْ، وَإِنْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْكُمِّ يُقْطَعُ) لِأَنَّ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ الرِّبَاطَ مِنْ خَارِجٍ، فَبِالطَّرِّ يَتَحَقَّقُ الْأَخْذُ مِنَ الظَّاهِرِ فَلَا يُوجَدُ هَتْكُ الْحِرْزِ. وَفِي الثَّانِي الرِّبَاطُ مِنْ دَاخِلٍ، فَبِالطَّرِّ يَتَحَقَّقُ الْأَخْذُ مِنَ الْحِرْزِ وَهُوَ الْكُمُّ،

حل اللغة: ① صرة: همیانئ (بټوه) ② الکم: لستوڼې ③ الرباط: تړل ④ هتک: بې حرمتی ⑤ طر: کټ کړه

ژباړه وتشریح:- اوکه کټ نې کړله تیلۍ چې بهروی د لستونړی نه،نو نه به شی کټ کولې اوکه داخل نې کړلو لاس خپل په لستونړی کې ،نوکټ کولې به شی لاس د «کنړکپ» «لاس د کنړکپ» صورت کې «چه تیلۍ د لستونړی نه بهر وی» غوټه بهروی،نوپه کټ کولوسره متحقق کیږی اخستل «پټـول» د بهرنه،نونـه موجودیـږی تـوهین د محفـوظ ځـائې، «یعنـی چـې تیلـۍ دلـستونړی نـه بهروی،نوبښکـاره خبره ده.چـه دهغـې بټـن بـه هـم بهـروی.اوچـه غـوټـه نـې بهرشـوه.نوکـه کنړکپ نې پټـه کړی.نوچونکه دا پـه محفوظ ځائې کې نـه وه.یعنـی لـستونړی «دغـه ډول جیب اوواسکټ» کې دننـه نـه وه.ځکه محفوظ نشوه.اوچه محفوظ نـشوه .نودغلا د تحقق پـه شرطونوکې یوشرط دا هـم دې.چـه دمحفوظ ځائې ځخه به غلا شوې وی.نودا شرط موجود نشو.اوچـه شرط موجـود نـشو.نومشروط چـې دلاس پرې کول دی.هغه به هم نه وی» اوپه دوهـم صورت کې «چـه تیلۍ پـه لـستونړی کې دننـه وی» نوغوټه بهروی،نوپه کټ کولوسره متحقق کیږی اخستل د محفوظ ځائې نه،چه لـستونړې دې. «نوځکـه پـه دې کـي دلاس پرې کول شته»

وَلَوْ كَانَ مَكَانَ الطَّرِّ حَلُّ الرِّبَاطِ، ثُمَّ الْأَخْذُ فِي الْوَجْهَيْنِ يَنْعَكِسُ الْجَوَابُ لِانْعِكَاسِ الْعِلَّةِ.[1]

حل اللغة: ① **حل**: پرانستل ② **الرباط**: رسۍ

اوکه چرته وی په ځائې دکټ کاوه پرانستل د غوټې،اوبیا نې واخلی. «یعنی په اولنودوو صورتونوکې خونې تیلۍ کټ کړې ـوه.اوپـه دې اوسنی صورت کې تیلۍ نـه کـټ کـوی.بلکـه دهغـې چـې کومـه غـوټـه وی.هغـه پرانیزی» نوپه دواړو صورتونوکې مختلف کیږی حکم، «یعنی که غوټه نې دبهرنـه پرانستې وی.نولاس به نه، «ځکه چې غوټـه بهروی.نوروپۍ به دننه وی.نوپه دې صورت کې لاس کټ کولې شی. ځکه چې روپۍ د بهروی.نوپه دې صورت کې چونکه غلا خود روپوشوې ده.اوهغـه بهـردی.نوپـه کنړکپ باندې دلاس پـرې کـول نشته.ځکه چې د محفوظ ځائې بې حرمتی نه ده شوې.

کټ کولې شی.اوکه د دننه نه نې پرانستې وی.نولاس بـه نـشی کـټ کـولې» د املـه د منعکس کیدو د علت محفوظ ځائې نـه اخـستې شـوې دی.اګرچـه ده غـوټـه د بهرنـه پرانـستې ده.اوکـه غـوټـه دننـه وی.نـو روپـۍ بـه

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ يُقْطَعُ عَلَى كُلِّ حَالٍ لِأَنَّهُ مُحْرَزٌ إِمَّا بِالْكُمِّ أَوْ بِصَاحِبِهِ.

ژباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې.چه په هرحال کې به لاس کټ کولې شی. «که تیلۍ بهر وی.اوکه دننه،دغه ډول که د تیلۍ غوټه بهر وی اوکه دننه» ځکه چې دا مال محفوظ دې په لستونړی سره، «په اولنی صورت کې» اویا په مالك دهغه «یعنی په ټولوصورتونوکې به لاس کټ کولې شی.ځکه چې دا مال په هرحالت کې محفوظ دې.یا په تیلۍ سره محفوظ دې.اویا دمال په مالك سره محفوظ دې.چه مالك نې ساتنه کوی.اوکله چې ددې حرز او ساتنه ثابت شو.نوددې په غلا کولوبه لاس کټ کولې شی»

قُلْنَا: الْحِرْزُ هُوَ الْكُمُّ لِأَنَّهُ يَعْتَمِدُهُ، وَإِنَّمَا قَصْدُهُ قَطْعُ الْمَسَافَةِ أَوِ الِاسْتِرَاحَةِ فَأَشْبَهَ الْجُوَالِقَ.

حل اللغة: ① **المسافة**: فاصله ② **الاستراحة**: آرام ③ **الجوالق**: داوښانو بار

ژباړه وتشریح:- مونږ «جمهوراحناف» وایو.چه حرز «یعنی محفوظ ځائې» لستونړې دې.ځکه چې دا مالك په هغې باندې اعتماد کوی. «چه ما دا مال په دې تیلۍ کې اچولې دې.دا بـه محفـوظ وی.اومالك په خپله محافظ نه دې.ځکه» مالك قصد کړې دې د پوره کولود مزل «په سفرکې یعنی مالك چې په سفر روان وی. نودده مقصد دخپل مال ساتنه نـه وی.ځکه چې ده خوهغه په محفوظ ځائې یعنی تیلۍ کې کیخودې دې. د ده مقصد دا وی.چه زر خپل منزل مقصود تـه اورسم.نوهرکله چې مالك محافظ نشو.نوچه په کومو

---

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(١٥١\٥) وردالمحتار(٢٢٤\٣) والهندية (١٨١\٢) والعناية (١٥١\٥) نقلاً عن القول الراجح (٤٦٦\١)-

صورتونو كي روپئ محفوظ وي.په هغې كي به لاس كټ كولې شي.اوچه په كوموكي چي روپئ غيرمحفوظ وي.نوپه هغې كي به نشي كټ كولې﴾ نومشابه شوه ﴿دا تيلئ﴾ د اوښانود بار سره، ﴿يعنى په اوښانوچه كوم باربروت وي.اودوى په سفر روان وي.مزل كوى.نوپه دې كي مقصود مزل وي.دبار ساتنه نه وي. ددې امله اكثرمالك په يوځائې كي وي.اواوښ چې باربړې سربيره پورت وي.هغه تري ډيرلرې وي.نوكه غل دغه بار غلا كړلو.د هغه لاس به نشى كټ كولې.اگرچه مالك ورسره وي.ځكه چې دغه بارغيرمحفوظ دې.او دغيرمحفوظ څيزپه غلابانـدې حدنـه واجبيـږي.نـودغـه ډول پـه زيربحث مسئله كي هم مالك لـره څه اعتبارنشته.بلكه تيلئ اوپه هغې كي د پرتو روپو حالت ته به كتلى شي. كه محفوظ وې اوغلا شوى وي.په سارق باندې پرې كول شته.اوكه غير محفوظ وې.نو پرې كول نشته﴾

داوښانودقطارنه داوښ يا سامان په دحدجاري كولوحكم

(وَإِنْ سَرَقَ مِنَ الْقِطَارِ بَعِيرًا أَوْ حِمْلًا لَمْ يُقْطَعْ) لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُحْرَزٍ مَقْصُودًا فَتَتَمَكَّنُ شُبْهَةُ الْعَدَمِ،

حل اللغة: ① **القطار**: د اوښانوقطارچه يو بل پسې اوښان روان وي ② **بعير**: اوښ

زباره وتشريح:- اوكه غلا ئې كړلود قطارنه اوښ يا بار ﴿يعنى په قطار كي ډيراوښان روان وو.اوغل تري يواوښ يا د يواوښ سربيره چې كرم باروو هغه غلا كړل﴾ نونه به شى كټ كولې ﴿لاس د غل﴾ ځكه چې دا قطار نه دې محفوظ په اعتبارد مقصود سره.نوپيدا شوه شبه دعدم حفاظت، ﴿يعنى كيداې شى.چه دا اوښ يا په ده باندې چې كوم بار وى.محفوظ نه وى.نوددې شبه د امله چې په حرزكي شبه راغله.لاس نشى كټ كولې

وَهَذَا لِأَنَّ السَّائِقَ وَالْقَائِدَ وَالرَّاكِبَ يَقْصِدُونَ قَطْعَ الْمَسَافَةِ وَنَقْلَ الْأَمْتِعَةِ دُونَ الْحِفْظِ. حَتَّى لَوْ كَانَ مَعَ الْأَحْمَالِ مَنْ يَتْبَعُهَا لِلْحِفْظِ قَالُوا يُقْطَعُ

حل اللغة: ① **السائق**: شړونكې ② **القائد**: راښكونكې ③ **امتعة**: جمع د متاع ده سامان ④ **احمال**: جمع د حمل بار

زباره وتشريح:- اودا شبه دعدم ساتنه ځكه پيدا كيږى.چه شړونكي ﴿چه په قطار كي اوښان شړي﴾ او راښكونكي ﴿چه داوښانونه وړاندې روان وي﴾ او سور ﴿چه په اوښ باندې سور وي﴾ دوى قصد اوكوى د خلاصولو دمسافت، اونقل كول د سامان نه د ساتنه ﴿يعنى په قطار كي چې ډير اوښان روان وي. نو دقافلووالـه مقصود داوښـانواودهغې د سامان ساتنه نـه وى.بلكـه ددوى مقصود هغـه ځائې تـه رسيدل وى.چرته چې دوى روان شوى وى.نودا اوښان اوپه دې بارشوې سامان محفوظ نه شو.نوځكه ددې نه په غلا سره لاس نـه كـټ كيـږى﴾ او كـه د بـارونو سره څوك روان وى وريسـې لـپـاره د ساتنه ﴿يعنى د اوښانوپـه قطاركي څوك ددې لپاره مقررشوې وى.چه اوښانواوپـه دې بانـدې چې كوم سامان باردې.دهغې ساتنه كـوى.نوپـه دې صـورت كـي دا اوښـان اوسامان پـه محـافظ سـره محفـوظ شـو.اوچـه محفـوظ شـو.نـو﴾ عالمانوفرمائيلى دى.چه كټ كولې به شى ﴿لاس ددې په غلا كي﴾

بارپه سوري كولودهغې نه دغلا په كولود لاس كټ كولوحكم

(وَإِنْ شَقَّ الْحِمْلَ وَأَخَذَ مِنْهُ قُطِعَ) لِأَنَّ الْجَوَالِقَ فِي مِثْلِ هَذَا حِرْزٌ لِأَنَّهُ يَقْصِدُ بِوَضْعِ الْأَمْتِعَةِ فِيهِ صِيَانَتَهَا كَالْكُمِّ فَوُجِدَ الْأَخْذُ مِنَ الْحِرْزِ فَيُقْطَعُ

حل اللغة: ① **شق**: څيرې كړو ② **جوالق**: د اوښانو بارونه ③ **صيانة**: حفاظت

زباره وتشريح:- اوكه سورې ئې كړلوبار،اووائې خستل دهغې نه ﴿سامان﴾ نوكټ كولې به شى ﴿لاس﴾ ځكه چې بارونه په داسې صورت كي ،محفوظ وى.ځكه چې قصد كولاى شى په كيخودلو د سامان په دې كي ، ساتنه ددې ﴿يعنى په بارونوكي چې كوم سامان كيخودې شى.نود ساتنه لپاره وى.لكه په موجوده وخت كي چې سوداگرديو ښارنه بل ښارته د بيلټئ په ذريعه مالونه ليګى.نوهغه هم په بوجونو كي بندوى.اوليږى ئې.ځكه چې دغه بوجونه دهغې لپاره ساتنه گنړى﴾ پشان د لستوڼى ﴿يعنى لكه څنگه

چې تیلۍ په لستوڼي كې پرته وي.نودا لستوڼي دهغې لپاره ساتنه وي.تردې كه څوك دغه تیلۍ غلا كړي. لاس نې كټ كولې شي﴾نوپه زیربحث مسئله كې موجود شو اختسل ﴿دسامان﴾ د محفوظ ځاني نه،نوكټ كولې به شي ﴿لاس.څكه چې دمحفوظ ځاني نه یوځیزغلاشي.دغل لاس كټ كولې شي﴾

باره غلا كولود لاس كټ كولوحكم

(وَإِنْ سَرَقَ جُوَالِقًا فِيهِ مَتَاعٌ وَصَاحِبُهُ يَحْفَظُهُ أَوْنَائِمٌ عَلَيْهِ قُطِعَ) وَمَعْنَاهُ إِنْ كَانَ الْجُوَالِقُ فِي مَوْضِعٍ هُوَلَيْسَ بِحِرْزٍ كَالطَّرِيقِ وَنَحْوِهِ حَتَّى يَكُونَ مُحْرَزًا بِصَاحِبِهِ لِكَوْنِهِ مُتَرَصِّدًا لِحِفْظِهِ،

حل اللغة: ① مترصد: تیار، مستعد

ژباړه وتشریح:- اوكه پټ نې كړل بارونه چې په هغې كې سامان وو.اومالك دهغې دهغه بارونو ساتنه كولو،اویا ویده (اوده) وو په هغې باندې،نوكټ كولې به شي ﴿لاس دهغه﴾ ددې مطلب دا دې.چه بارونه په داسې ځانې كې وي.چه هغه محفوظ نه وي.لكه لار اوددې پشان بل ځانې،نوګرځي محفوظ په مالك خپل سره،څكه چې دې تیاردې د ساتنه دهغې دپاره.

وَهٰذَا لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَالْحِفْظُ الْمُعْتَادُ وَالْجُلُوسُ عِنْدَهُ وَالنَّوْمُ عَلَيْهِ يُعَدُّ حِفْظًا عَادَةً وَكَذَا النَّوْمُ بِقُرْبٍ مِنْهُ عَلَى مَا اخْتَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ .وَذُكِرَفِي بَعْضِ النُّسَخِ، وَصَاحِبُهُ نَائِمٌ عَلَيْهِ أَوْحَيْثُ يَكُونُ حَافِظًا لَهُ،وَهٰذَا يُؤَكِّدُ مَا قَدَّمْنَاهُ مِنَ الْقَوْلِ الْمُخْتَارِ،وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

ژباړه وتشریح:- اودا ځیزځكه محفوظ ګڼرلې شي.چه معتبر هغه ساتنه دې.چه په عادت كې وي. ﴿یعنی په دې صورت كې دمحفوظ ځیزغلا شوې ده.البته ساتنه نې د مكان په اعتبارسره نه دې.بلكه د محافظ په ذریعه دې.نوجونكه دمحفوظ ځانې نه غلا شوې ده.څكه به لاس كټ كولې شي﴾ اوچه دې پرې سربیره ناست وي.یا پرې خوب كوي.نودا شمارلې شي ساتنه په عادت كې ،اودغه ډول خوب نزدې د سامان سره ﴿حفاظت﴾ دې. لكه څنګه چې موږ دا خبره غوره كړې ده.وړاندې ﴿یعنی ددې بیان وړاندې شوې دې.چه دسامان سره نزدې ویده (اوده) وي.نودغه سامان په دې اوده باندې محفوظ ګڼرلې شي﴾ اوپه بعضې نسخو ﴿دقدوري﴾ كې ذكرشوي دي.چه وي مالك دهغې ﴿سامان﴾ ویده (اوده) په دې ﴿سامان﴾ دپاسه،اویا وي محافظ د هغې ﴿نوددې نسخې نه دا معلومه شوه.چه ویده (اوده) سړې هم محافظ ګڼرلې شي﴾ اودا نسخه موكد كوي هغه چې موږ وړاندې بیان كړل دمختار قول نه ﴿یعنی موږ وړاندې دې خبرې ته ترجیح وركړه.چه ویده (اوده) سړې محافظ ګڼرلې شي.نوددې دویمې نسخې په عبارت سره زموږ د خبرې تائید كیږي.چه په محافظ باندې ساتنه كول معتبر دې.اوچه معتبر دې.نوددې په غلا به لاس كټ كولې شي﴾

دغل دلاس كټ كولومحل

فَصْلٌ فِي كَيْفِيَّةِ الْقَطْعِ وَإِثْبَاتِهِ قَالَ (وَيُقْطَعُ يَمِينُ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ وَيُحْسَمُ) فَالْقَطْعُ لِمَا تَلَوْنَاهُ مِنْ قَبْلُ،وَالْيَمِينُ بِقِرَاءَةِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

حل اللغة: ① یحسم: داغ وركولې شي ② یقطع: كټ كولې شي ③ الزند: جوړ

ژباړه وتشریح:- ﴿دا﴾فصل په طریقه دكټ كولو ﴿دلاس كې﴾ اوپه اثبات ددې ﴿كټ كولو﴾ كې دې. مصنف رحمه الله فرمانې.اوكټ به كړې شي راسته لاس د غل ترجوړه پورې، ﴿یعنی د مړوند دجوړه پورې﴾ اوداغ به وركولې شي. ﴿دغه كټ شوي ځاني ته﴾ نوكټ ﴿دلاس﴾ ثابت دی دهغه دلیل نه كوم چې موږ تلاوت كړې دې وړاندې ﴿یعنی دا آیت چې ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا ﴾ اود ښی لاس ثبوت كیږي دقراءت دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ﴿څكه چې دهغوی په قراءت كې داسې دی.چه ﴿ فاقطعوا ایمانهما ﴾

وَمِنَ الزَّنْدِ لِأَنَّ الِاسْمَ يَتَنَاوَلُ الْيَدَ إِلَى الْإِبِطِ، وَهٰذَا الْمَفْصِلُ: أَعْنِي الرُّسْغَ مُتَيَقَّنٌ بِهٖ، كَيْفَ وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَمَرَ بِقَطْعِ يَدِ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ،(۱)

حل اللغة: ① يتناول: شامليږي ② الابط: تيخرګ ③ الرسغ: مړوند

ژباړه وتشريح:- اودچوړنه پرې کول ځکه دي.چه د، يد ، لفظ شامليږي ترترخه پورې «يعنی د يداطلاق د ګوتو د سرنه واخله ترترخه پورې کيږي» اودا جوړ يعني مړوند په يقين سره شامل دې په «تعريف د لاس» کې ، «نوداحياط لپاره به په دې باندې عمل کولې شي.چه چونکه دومره اندازې ته هم لاس وئيلی شی.نوزمونږ به دا کوښښ وی.حدهم قائم شي.اوسارق ته زيات نقصان هم اونه رسی.دا خوعقلي دليل وو.اونقلي دليل دا دې.چه» اوپه صحت سره ثابت شوی دی.چه نبیﷺ حکم کړې وو.دکټ کولود لاس دغل د مړوند نه،

وَالْحَسْمُ لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {فَاقْطَعُوْهُ وَاحْسِمُوْهُ،} (۲) "وَلِأَنَّهٗ لَوْ لَمْ يُحْسَمْ يُفْضِي إِلَى التَّلَفِ وَالْحَدُّ زَاجِرٌ لَا مُتْلِفٌ

حل اللغة: ① التلف: هلاکت

ژباړه وتشريح:- اوداغ ورکول هم شته.د املہ د ارشاد د نبیﷺ نه، «په اړه دغل کې» کټ نې کړئ «لاس» اوداغ ورته ورکړئ. «داخود داغ ور کاوه نقلي دليل شو.اوعقلي دليل دا دې.چه» اوکه چرته داغ ورنکړې شي. «نوددې ځخه به وينه روانه وی.اوچه وينه تري روانه وی» نو مفضی به شی «دا پرې کول دلاس» هلاکت د غل ته، «يعنی غل به هلاك شي» اوحد تنبيه ورکونکې دې. «چه مجرم ته په خپل جرم تنبيه ورکړی» هلاکونکې نه دې. «چه مجرم هلاك کړی»

څو ځوځله دغلا کونکی کس حکم

{فَإِنْ سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، فَإِنْ سَرَقَ ثَالِثًا لَمْ يُقْطَعْ وَخُلِّدَ فِي السِّجْنِ حَتّٰى يَتُوْبَ} وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ وَيُعَزَّرُ أَيْضًا، ذَكَرَهُ الْمَشَايِخُ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ.

حل اللغة: ① السجن: جيل ② رجل: پښه

ژباړه وتشريح:- که غلا ئې اوکړله دوباره کټ به کړې شی پښه ګسه دده،که غلا ئې اوکړله په دريم ځل،نه به شی کټ کولې «دده هيڅ اندام» اوهميشه لپاره به واچولې شی په قيد کې ،تردې چه توبه اوباسی.اودا حکم«چه په دريم ځل به پرې کول نه وی.بلکه هميشه لپاره به په جيل کې اچولې شي» داستحسان دې. «ځکه چې قياس دا وائی.په دريم ځل دې هم پرې کول اوکړې شي.ځکه سبب دحد جاری کولوموجود شوې دې .چه غلا ده.نومسبب چې دلاس پرې کول دی.هغه به هم جاری کولې شي» اوتعزيری سزا به ورته ور کولای شی هم دغه ډول ذکرکړی دی مشائخو رحمهم الله

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ: فِي الثَّالِثَةِ تُقْطَعُ يَدُهُ الْيُسْرَى، وَفِي الرَّابِعَةِ تُقْطَعُ رِجْلُهُ الْيُمْنَى لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْهُ، فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوْهُ، فَإِنْ عَادَ فَاقْطَعُوْهُ} (۳) وَيُرْوٰى مُفَسَّرًا (۴) كَمَا هُوَ مَذْهَبُهٗ، وَلِأَنَّ الثَّالِثَةَ مِثْلُ الْأُولٰى فِي كَوْنِهَا جِنَايَةً بَلْ فَوْقَهَا فَتَكُوْنُ أَدْعٰى إِلٰى شَرْعِ الْحَدِّ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائی امام شافعیؒ چې «په اول ځل به راسته لاس اوپه دوهم ځل چپه لاس او» په دريم ځل کې به کټ کولای شی ګسه پښه د ده،اوپه څلورم ځل کټ کولې به شی ښئ پښه دده، «اودامام شافعیؒ دا قول» د نبیﷺ د ارشاد د املہ دې.چا چې غلا اوکړله.نو پرې کول اوکړئ.که واپس

۱) من عمروبن شعيب عن أبيه عن جده ؓ أخرجه الدارقطني في سننه ۳/۲۰۴)-
۲) من حديث أبی هريرة ؓ أخرجه الحاكم فی المستدرک ۴/۳۸۱)_
۳) من حديث جابر ؓ أخرجه أبوداود فی الحدود باب ۲۱ رقم ۴۴۰۱)_
۴) من حديث عصمة بن مالك أخرجه الدارقطنی فی سننه ۳/۱۳۷) والطبرانی معجمه عزاه إلی الهيثمی فی مجمع الزوائد ۶/۲۷۵)_

شو ﴿اودوباره ئې غلا اوكړله﴾ نو پرې كول اوكړئ.كه واپس شو. ﴿اوپه دريم ځل ئې بيا غلا اوكړه﴾ نوكټ كړئ.او روايت شوې دې اودا حديث نقل شوې هغه شان په تفصيل سره څنګه چې دامام شافعي رحمه الله مذهب دې. ﴿يعنى دحضرت جابر رضي الله عنه په روايت كې هم داسې دى.چه څلورځله په غلا كولوكې دغل دواړه لاسونه اودواړه پښې كټ كړې شوې وې.دا خودامام شافعي رحمه الله نقلى دليل وو.اوعقلى دليل ئې دا دې. چه﴾ په دريم ځل غلا پشان د لومړنى غلا ده.په ګناه كې ،بلكه دهغې نه زياته ده ﴿ځكه چې سزا ئې اوخوړله.اودهغې باوجود دې د غلا نه منع نشو.نودې د زياتې سزا مستحق دې.نودا ﴿په دريم ځل غلا كول﴾ زيات دعوت وركوى مشروعيت د حد ته ﴿يعنى چې په دريم ځل غلا اوكړى.نودده دا عمل ددې تقاضا كوى.چه په ده حكم شرعي يعنى حدجارى شى﴾

وَلَنَا قَوْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِيهِ: إِنِّي لَأَسْتَحِي مِنَ اللَّهِ تَعَالَى أَنْ لَا أَدَعَ لَهُ يَدًا يَأْكُلُ بِهَا وَيَسْتَنْجِي بِهَا وَرِجْلًا يَمْشِي عَلَيْهَا »(١) وَبِهَذَا حَاجَّ بَقِيَّةَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ فَحَجَّهُمْ فَانْعَقَدَ إِجْمَاعًا، (٢)

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره قول دحضرت على رضي الله عنه دې.په داسې غل كې ، ﴿چه په اولنى ځل ئې دغل راسته لاس كټ كړلو.اوپه دوهم ځل ئې ګسه پښه كټ كړله.اوچه په دريم ځل ورته راوستې شو. وې فرمائيل﴾ ماله دالله تعالى نه حيا راځى.چه زه دده يولاس هم پرې نږدم.چه دې پرې خوراك كوى.اواستنجا پرې كوى اوپوه پښه ورله هم پرې نكدم.چه دې پرې تلل كوى.اوپه دې مسئله كې خبرې اوكړې دوى ﴿حضرت على رضي الله عنه﴾ سره نورصحابو رضي الله عنهم نوقائل كړل هغوى په دې دليل سره ﴿چه زه ترې بل لاس اوبله پښه هم پرې كړم.نودې به په څه خپل ضروريات پوره كوى؟.نوپه دې باندې ورسره هغوى متفق شول.﴾ نوپه دې اجماع منعقد شوه. ﴿چه دغل څخه به په دريم ځل لاس يا پښه نشى كټ كولې.بلكه په جيل كې به اچولې شى﴾

وَلِأَنَّهُ إِهْلَاكٌ مَعْنًى لِمَا فِيهِ مِنْ تَفْوِيتِ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ وَالْحَدُّ زَاجِرٌ، وَلِأَنَّهُ نَادِرُ الْوُجُودِ وَالزَّجْرُ فِيمَا يَغْلِبُ وُقُوعُهُ

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې دا ﴿د دواړو پښو اودواړولاسونوكټ كول﴾ هلاكول دى معنى، ﴿يعنى اګرچه په ظاهره ژوندې دې.ليكن داسې بيكاره دې.چه په مړو حساب دې﴾ ځكه چې په دې فوت كيدل د جنس منفعت دى. ﴿يعنى په انسان كې چې كوم اندامونه دوې [دوه] دوې [دوه] دى.كه يوپه كې ضائع شى.نوبل دهغې كار وركوى .اودې ترې فائده اخلى.لكه دوې [دوه] سترګې دى.اودوې [دوه] غوږونه دى.دغه ډول دوې [دوه] لاسونه اودوې [دوه] پښې دى.نوكه يو لاس يا يوه پښه كټ كړې شى.نوبيا هم جنس منفعت نه فوت كيږى.بلكه دې په بل لاس اوپه بله پښه باندې د نيولو اوتګ كاركولې شى.خوچه كله دواړه لاسونه يا دواړه پښې كټ كړې شى.نوجنس منفعت چې نيول اوتلل دى.هغه فوت كيږى.نودا يو ډول معنوى هلاكت شو.﴾ اوحد تنبيه وركول دى. ﴿هلاكول نه دى.يعنى حد د وژلونوم نه دې.بلكه په دې باندې مجرم ته تنبيه وركولې شى﴾ اوبل دليل دادې.چه داسې واقعه ﴿چه د يوسړى يولاس او يوه پښه په غلا كې كټ شوې وى.اوبيا هم دې غلا كوى﴾ كله كله پيښيږى.او زورنه په هغه كار كې وى.چه زيات پيښيږى. ﴿ځكه چې زيات پيښيږى.نود خلګ ود منع كاوه لپاره پرې الله تعالى د حد سزا مقرر كړې ده.چه خلګ ترې منع شى.اوپه داسې واقعه كې چې دوې [دوه] خله پرې حد سرقه جارى شوې وى. مجرم په خپله د غلا نه منع كيږى﴾

بِخِلَافِ الْقِصَاصِ لِأَنَّهُ حَقُّ الْعَبْدِ فَيُسْتَوْفَى مَا أَمْكَنَ جَبْرًا لِحَقِّهِ. وَالْحَدِيثُ طَعَنَ فِيهِ الطَّحَاوِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ أَوْ نَحْمِلُهُ عَلَى السِّيَاسَةِ

حل اللغة: ① طعن عيب بيان كړې دې ② الجبر تمام (پوره) كول

ژباړه وتشريح:- په خلاف دقصاص،ځكه چې قصاص دبنده حق دې.نو پوره به اخستې شى څومره چې ممكن

---

١) أخرجه محمدبن الحسن فى كتاب الآثاروالدارقطنى فى سننه ٣/ ١٨٠) رمق ٢٨٨)_
نقله الزيلعى رحمه الله بالتفصيل وعزاه إلى التنقيح نصب الرأية ٣ ٥٧)_

وی. لیاره د پوره کولو دنقصان دحق العبد «یعنی که زید دبکر لاس کټ کړلو.نوقصاصا به دده لاس هم کټ کیږی.که بیا ئې د بکرلاس کټ کړلو.نوقصاصاً به دده دوهم لاس هم کټ کیږی.دغه ډول که دچا یوه پښه ئې ماته کړه.نوقصاصاً به دده پښه هم کټ کولې شی.اوکه دهغه یا دبل چا پښه ئې ماته کړه.نوقصاصاً به دده بله پښه هم کټ کولې شی.تردې چې بې لاسو اوبې پښو پاتې شی.نوپه دې صورت کې اګرچه جنس منفعت فوت کیږی.خوبیا هم دده لاسونه اوپښې کټ کولې شی.ځکه چې قصاص حق العبد دې.نوچه څومره پورې ممکنه وی.بنده ته به خپل حق پوره کولې شی.اوپه زیربحث مسئله کې حق الشرع دې.ددې امله به جنس منفعت نشی فوت کولې» اوحدیث «کوم چې دامام شافعی رحمه الله مستدل دې» کلام کړې دې په هغې کې امام طحاوی «فرمائیلی ئې دی موږ ددې آثارو چې د سارق د دواړو لاسونو اودواړو پښو د پرې کول حکم په کې شوې دې.لټون اوتتبع اوکړله.خوددې لپاره مو څه اصل بیا نه موندل کذا فی البنایه ، نودا دهغې نه یوځواب شو.هغه حدیث قابل استدلال نه دې.ځکه چې ضعیف دې.او دوهم ځواب دا دې.چه» یا موږ حمل کوو دغه حدیث په سیاست باندې «چه نبی ﷺ سیاسة د دغه غل دواړه لاسونه او دواړه پښې کټ کړې وې. او سیاسة امام ته ددې اجازت زموږ په نیزهم شته»

غل چې په پښو لاسو کې شل یا کټ وی.نودده دحد حکم

(وَإِذَا كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرَى أَوْ أَقْطَعَ أَوْ مَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنَى لَمْ يُقْطَعْ) لِأَنَّ فِيهِ تَفْوِيتَ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ بَطْشًا أَوْ مَشْيًا، وَكَذَا إِذَا كَانَتْ رِجْلُهُ الْيُمْنَى شَلَّاءَ لِمَا قُلْنَا

حل اللغة: ① **بطش:** چور کل ،سوک ورکول ② **مشي:** تلل ③ **تفویت:** فوت کول

زباره وتشریح:- اوکله چې وی غل چې چپه لاس ئې شل وی.اوپرې کړې شوې وی.پښه نښۍ،نو «په دې صورتونو کې به» نشی کټ کولې «لاس یا پښه دده» ځکه چې په دې کې فوت کیدل د جنس منفعت د نیولواوتګ دی. «یعنی بیخی دې د نیولواود تللونه محرومه کیږی.اودا د جنس منفعت فوت کیدل دی.اووراندې تیر شوی دی.چه دجنس منفعت فوت معنوی هلاکت دې.نودا جائزنه شو» اودغه ډول حکم دې «یعنی پښه یا لاس به ئې نشی کټ کولې» کله چې وی پښه ګسه دده شله،د هغې دلیل د امله کوم چې موږ بیان کړلو. «چه په دې کې دجنس منفعت فوت کیدل دی.اودا جائز نه دی»

(وَكَذَا إِذَا كَانَتْ إِبْهَامُهُ الْيُسْرَى مَقْطُوعَةً أَوْ شَلَّاءَ أَوْ الْأُصْبُعَانِ مِنْهَا سِوَى الْإِبْهَامِ) لِأَنَّ قِوَامَ الْبَطْشِ بِالْإِبْهَامِ

حل اللغة: ① **ابهامة:** قتبه ګوته ② **اصبعان:** تثنیه د اصبع ،ګوته ③ **قوام:** دارومدار

زباره وتشریح:- اودغه ډول حکم دې کله چې وی خمچه (قچه) ګوته د چپه لاس کټ شوې وی.یا شله یا دوې [دوه] ګوتې ددې نه سوا د قتې نه، «یعنی یا خمچه (قچه) ګوته کټ شوي یا شله وی.خمچه (قچه) ګوته خوکټ یا شله نه وی.البته نور دوې [دوه] ګوتې کټ یا شلې وی» ځکه چې دارومدار د نیولو «د یوڅیز» په خمچه (قچه) ګوته وی. «نوچه خمچه (قچه) ګوته نه وی.دا حکماً داسې شوه.چه دده چپه لاس نشته.اودواړه لاس په نشتوالی کې وړاندې تیرشو.که موږ بل لاس کټ کوو.نوفوت کول د جنس منفعت دی.کوم چې جائز نه دی»

(فَإِنْ كَانَتْ أُصْبُعٌ وَاحِدَةٌ سِوَى الْإِبْهَامِ مَقْطُوعَةً أَوْ شَلَّاءَ قُطِعَ) لِأَنَّ فَوَاتَ الْوَاحِدَةِ لَا يُوجِبُ خَلَلًا ظَاهِرًا فِي الْبَطْشِ،

زباره وتشریح:- که چرته وه یوه ګوته سوا د خمچه (قچه) نه شله «نوپه دې صورت کې» کټ کولې به شی «لاس» ځکه چې نشتوالې دیوې ګوتې نه واقع کول خلل ظاهری په نیولوکې «نودا حکماً د لاس پرې کول نشو.لکه څنګه چې په وړاندې صورت کې موږ بیان کړی وو.اوچه حکماً دلاس پرې کول نشو.نودبل لاس پرې کول تفویت د جنس منفعت نشو.اوچه تفویت د جنس منفعت نشو.نوجائزشو پرې کول دبل لاس»

بِخِلَافِ فَوَاتِ الْأُصْبُعَيْنِ لِأَنَّهُمَا يَنْزِلَانِ مَنْزِلَةَ الْإِبْهَامِ فِي نُقْصَانِ الْبَطْشِ.

ژباړه وتشريح:- په خلاف د فوت کيدو دوو ګوتو ﴿يعنى چې دغل د قتې ګوتې نه سوا نورې دوې [دوه] ګوتې دلاس کټ وی. ﴾نويه دې صورت کې به بل لاس نشی کټ کولې﴿ ځکه چې دوې [دوه] ګوتې په شان د قتې ګوتې دی. په نقصان د نيولوکې ﴿يعنى لکه څنګه چې خمچه (قچه) ګوته نه وی.نوسرې نيول نشی کولې.دغه شان چې د يولاس دوې [دوه] ګوتې نه وی.نوهم څه نيولې نشی.نودوې [دوه] ګوتې پشان د قتې ګوتې شوې.اوبه خمچه (قچه) ګوته کې پرې کول نشته.نودغه ډول به دوو ګوتود نشتوالی په صورت کې هم پرې کول نه وی.

ديولاس په ځائې دبل لاس په کټ کولودجلاد په اړه کې حکم

قَالَ (وَإِذَا قَالَ الْحَاكِمُ لِلْحَدَّادِ اقْطَعْ يَمِينَ هَذَا فِي سَرِقَةٍ سَرَقَهَا فَقَطَعَ يَسَارَهُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى،[1] وَقَالَا لَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي الْخَطَإِ وَيَضْمَنُ فِي الْعَمْدِ) وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ: يَضْمَنُ فِي الْخَطَإِ أَيْضًا وَهُوَ الْقِيَاسُ،

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائی.کله چې وواييې حاکم جلاد ته کټ کړه راسته لاس ددې کس په غلا کې چې کړې ئې ده.نوهغه کټ کړی چپه لاس دهغه،په قصد يا په خطا نو نشته څه څيزيه هغه باندې،په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوصاحبين رحمهما الله فرمائی نشته څه څيزيه ده باندې په خطا کې اوضامن کيږی به ﴿د لاس دديت﴾ په قصد کې ﴿چه قصداً عمداً دهغه چپه لاس کټ کړی﴾ اوفرمائی امام زفر رحمه الله ضامن کيږی به په خطا کې هم ﴿يعنى په غلطئ سره ئې د ښی لاس په ځائې چپه کټ کړلو.نوهم به دده نه تاوان اخستې شی﴾ اودا ﴿د خطا په صورت کې پرې ضمان راوستل﴾ قياس دی.

وَالْمُرَادُ بِالْخَطَإِ هُوَ الْخَطَأُ فِي الِاجْتِهَادِ، وَأَمَّا الْخَطَأُ فِي مَعْرِفَةِ الْيَمِينِ وَالْيَسَارِ لَا يُجْعَلُ عَفْوًا وَقِيلَ يُجْعَلُ عُذْرًا أَيْضًا.

حل اللغة: ① **اليمين**:ښي لاس ② **اليسار**:کس لاس

ژباړه وتشريح:- اومراد په خطا سره اجتهادی خطائی ده. ﴿يعنى چې جلاد وائی.دده چپه لاس پرې کول واجب دی.نو چپه لاس کټ کړی.حالانکه واجب د ښی لاس پرې کول وی﴾ هرچه خطا په پيژندګولود ښی اود چپه لاس کې ﴿چه غل دا وائی.چه زه راسته لاس کټ کوم.خوکله چې پرې کول کوی.نويه غلطئ سره د ښی لاس په ځائې چپه لاس کټ کړی﴾ نونشی ګرځولې دا عمل عفو ﴿بلکه په دې صورت کې به په ده باندې ضمان وی﴾ اووئيلې شوی دی چې ګرځولې به شی عذر ﴿په دې صورت کې﴾ هم. ﴿نوچه عذراوګرځولې شی.ضمان به پرې واجب نه وی﴾

لَهُ أَنَّهُ قَطَعَ يَدًا مَعْصُومَةً وَالْخَطَأُ فِي حَقِّ الْعِبَادِ غَيْرُ مَوْضُوعٍ فَيَضْمَنُهَا.

ژباړه وتشريح:- دامام زفر رحمه الله دليل دا دې.چه ده کټ کړې دې لاس معصوم ﴿يعنى شرعاً دده لاس پرې کول واجب نه وو.نوګويا چې دغه لاس بې ګناه شو﴾ او خطا په حق د بندګانوکې نه وی معاف ﴿ګورئ نه که يوکس په خطا باندې د بل کس مال هلاك کړل.نودې به ضامن وی.﴾ نوضامن کيږی به د لاس د تاوان ﴿په دې صورت کې هم﴾

قُلْنَا إِنَّهُ أَخْطَأَ فِي اجْتِهَادِهِ، إِذْ لَيْسَ فِي النَّصِّ تَعْيِينُ الْيَمِينِ، وَالْخَطَأُ فِي الِاجْتِهَادِ مَوْضُوعٌ.

ژباړه وتشريح:- مونږدا وايو.چه دې خطا شو په اجتهاد خپل کې ، ﴿چه موجب دحد ئې چپه لاس ګنړلو.اودده د دې غلطئ ګنجائش هم شته﴾ځکه چې نشته په نص ﴿قرآنی﴾ معين کول د ښی لاس ﴿بلکه په نص کې خو مطلقاً دا ذکر دی.چه ﴿ فَاقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا ﴾ او يد ښی او چپه دواړو لاسونو ته وئيلی شی﴾ اوخطا په

[1] القول الراجح هو قول الإمام كذا فى الدرالمنتقى (۱\۶۳۳) وفتح القدير(۵\۱۵۷) وردالمحتار(۳\۲۲۷) والهندية (۲\۱۸۳) والبحر الرائق (۵\۶۲)نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۶۹)-

ځلورم ټوك

اجتهاد کې پورته شوې ده. ﴿يعنې معاف ده﴾

وَلَهُمَا أَنَّهُ قَطَعَ طَرَفًا مَعْصُومًا بِغَيْرِ حَقٍّ وَلَا تَأْوِيلٍ لِأَنَّهُ تَعَمَّدَ الظُّلْمَ فَلَا يُعْفَى وَإِنْ كَانَ فِي الْمُجْتَهَدَاتِ،

ژباړه وتشريح:- او ﴿خپله مدعا باندې که په قصد باندې د ښي په ځائې چپه لاس کټ کړي.نوضمان پرې شته﴾دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه ده ﴿جلاد﴾ کټ کړلو يواندام معصوم بغيردځه حق نه، ﴿يعنې په شريعت کې ددې لاس پرې کول نه وو.اوده کټ کړلو.نودا يومعصوم لاس په ناحقه باندې کټ کړلو.يعنې داسې نه ود چې ده دبل ځا لاس چپه لاس کټ کړې وو.اودهغې په مقابله کې دده چپه لاس کټ کړې شو﴾ اوبغيردځه تاويل نه ﴿يعنې چې جلاد دا تاويل اوکړې.چه قرآن پاك کې د مطلق لاس کټ کاوه حکم راغلې دې.دښي اود چپه تعين په کې نشته.نود قرآن پاك د اطلاق په وجه په دواړولاسونوکې دهريودکټ کاوه اختيار شته﴾ ځکه چې ده قصد کړې دې د ظلم ﴿ظلم ځکه دې.چه حاکم ورته يولاس ياد کړې لدې.اودې بل لاس کټ کوي.اوپه قصد داسې کوي﴾ نونشي معاف کولې. ﴿بلکه په جلاد به تاوان راځي﴾ اګرچه په دې مسئله کې د اجتهاد ګنجائش شته.

وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يَجِبَ الْقِصَاصُ إِلَّا أَنَّهُ امْتَنَعَ لِلشُّبْهَةِ. وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ أَتْلَفَ وَأَخْلَفَ مِنْ جِنْسِهِ مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ فَلَا يُعَدُّ إِتْلَافًا

ژباړه وتشريح:-اومناسب خودا وو.چه واجب شوې وې په ده ﴿جلاد﴾ باندې قصاص ﴿اود جلاد چپه لاس هم کټ کړې شوې وې﴾ خوقصاص ممتنع شو.د امله د شبه نه ﴿چه دا شبه کيداې شي.چه په غلا کې که د ښي لاس په ځائې د چپه لاس پرې کول هم جائز وي.نوددې شبه د امله د جلاد نه حد ساقط شو﴾ اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه ده هلاك کړلو ﴿چپه لاس﴾ اوبيرې ئې خودلو دجنس دهغې لاس نه هغه چې بهتر دې دهغې نه﴿يعنې جلاد د ښي لاس په ځائې چې اکثرکارونه هم په ښي لاس کيږي.هغه پريښولو .او چپه لاس ئې کټ کړلو.نوده د سارق سره ښه اوکړلو.بد نه،ځکه چې د ښي لاس په ځائې چې واړه کارونه پرې کيږي. چپه لاس کټ کړلو.چه ډيرکارونه پرې سرې نشي کولې.لکه دخط ليکل وغيره شو﴾ نودا ﴿د چپه لاس کټ کول﴾ نشي شمارلې هلاکول،

كَمَنْ شَهِدَ عَلَى غَيْرِهِ بِبَيْعِ مَالِهِ بِمِثْلِ قِيمَتِهِ ثُمَّ رَجَعَ، وَعَلَى هَذَا لَوْ قَطَعَهُ غَيْرُ الْحَدَّادِ لَا يَضْمَنُ أَيْضًا هُوَ الصَّحِيحُ.

حل اللغة: ① حداد: جلاد ،پرې کونکې

ژباړه وتشريح:- ﴿ددې نظيردا دې﴾ لکه څوك ﴿زيد﴾چه ګواهي ورکړي په بل ﴿بکر﴾باندې په خرڅولودمال دهغه ﴿ يعنې زيد دا ګواهي ورکړي.چه بکردا مال خرڅ کړې دې.اوهغه قيمت ياد کړي.کوم چې دهغې عام قيمت وي﴾ اوبيا رجوع اوکړي. ﴿چه ما ګواهي نه ده ورکړې يا مې په دروغه ګواهي ورکړې وه.بکر دا مال نه ووخرڅ کړې.نواوس په دې صورت کې په زيدباندې د دغه مبيعه تاوان نشته.ځکه چې بکرته دهغې عوض د قيمت په صورت کې ملاؤ شوې دې.نودغه ډول دلته هم په جلاد باندې تاوان نشته﴾ اوبناء په دې مسئله ﴿يعنې په دې مسئله کې چې دامام ابوحنيفه رحمه الله کوم موقف اودلائل دې.دهغې په رڼا کې﴾ که کټ کړي لاس سوا د جلاد نه بل کس نونه ضامن کيږي هغه هم دا قول صحيح دې. ﴿په هوالصحيح سره دهغه قول نه احترازدې.کوم چې په شرح دطحاوي کې ذکرشوې دې.که دجلاد نه سوا بل ځا دښي په ځائې چپه لاس کټ کړلونوکه په قصد ئې کټ کړې وي.په هغه به قصاص وي.يعنې دهغه لاس به هم کټ کولې شي.اوکه په خطا ئې کټ کړې وي.نود لاس ديت به پرې وي﴾

وَلَوْ أَخْرَجَ السَّارِقُ يَسَارَهُ وَقَالَ هَذِهِ يَمِينِي لَا يَضْمَنُ بِالِاتِّفَاقِ لِأَنَّهُ قَطَعَهُ بِأَمْرِهِ. ثُمَّ فِي الْعَمْدِ عِنْدَهُ عَلَيْهِ ضَمَانُ الْمَالِ لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ حَدًّا. وَفِي الْخَطَأِ كَذَلِكَ عَلَى هَذِهِ الطَّرِيقَةِ، وَعَلَى طَرِيقَةِ الِاجْتِهَادِ لَا يَضْمَنُ

ژباړه وتشريح:- اوکه راوړاندې کړلوغل چپه لاس خپل او وې وئيل.چه دا راسته لاس دې زما، ﴿اوجلاد دهغه چپه لاس کټ کړلو﴾نونه ضامن کيږي ﴿جلاد﴾ په اتفاق سره،ځکه چې جلاد پرې کول کړي دي په حکم

دهغه،بیا په صورت د قصد کي ﴿چه جلاد په قصد باندې دسارق چپه لاس کټ کړې وي﴾ په ده یعنی غل
باندې تاوان دمال دې. ﴿چه مالك ته به خپل مال مسروقه ورکوي﴾ خکه چې دا ﴿پرې کول د چپه لاس﴾
نه دې واقع شوي حد ﴿نوچه حد واقع نشو.په سارق باندې به د مال تاوان واجب وي.خکه چې د سارق نه
خودمالك لپاره دمال تاوان په هغه صورت کي ساقط کیدلو.چه په هغه باندې حد جاري شوې وو.او اوس په
دې صورت کي خود غل لاس پرې کول حد نه دې﴾ اوپه صورت د خطاء کي ﴿یعنی چې جلاد په غلطۍ
کي د ښی په ځاني چپه لاس کټ کړي﴾ هم دغه ډول حکم دې. ﴿یعنی په سارق باندې تاوان واجب دې.چه
مالك ته به د مسروقه مال قیمت ورکوي﴾ په دې طریقه باندې ﴿چه د چپه لاس پرې کول حد نه وي واقع
شوې﴾ اوپه طریقه د اجتهاد کي ﴿چه جلاد په اجتهاد کي دهوکه شوې وي.اود چپه لاس د کټ کولود جواز
قائل وي﴾ به نه ضامن کیږي. ﴿بلکه دغه د چپه لاس پرې کول به د ښی لاس د کټ کولوپه ځائې حساب
شي﴾

دلاس کټ کولوپه وخت کي دمسروق منه حاضرول

(وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبُ بِالسَّرِقَةِ) لِأَنَّ الْخُصُومَةَ شَرْطٌ لِظُهُورِهَا، وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الشَّهَادَةِ وَالْإِقْرَارِ عِنْدَنَا

ژباړه وتشریح:- اونه به شی کټ کولي لاس مګرپه داسې حالت کي چې حاضر وي هغه کس چې غلا ترې شوې
وی.نوهغه ﴿مسروق منه﴾ به مطالبه اوکړي دغلا ﴿چه ده زما نه غلا کړې ده﴾ خکه چې خصومت
﴿یعنی د خپل غلاشوی څیزمطالبه کول﴾ شرط دې. لپاره دښکاره کولود غلا، ﴿یعنی غلا به هله ښکاره
کیږي.چه مسروق منه دخپل غلاشوی څیزمطالبه اوکړي.اوکه بالفرض دچا نه چې غلا شوې وي.هغه نه وي
حاضرشوې.اوهغه دعوه نه وی کړې.نوپه دې کي دا احتمال شته.چه مسروق منه خپل مال مباح کړې وي.یا
ئې سارق ته بخلی وی.نوددې امله دهغه وجود اومطالبه ضروري ده﴾ اونشته توپیر په مینځ د شهادت
اواقرارکي زموږ په نیز ﴿یعنی که دغل غلا دګواهانوپه ګواهۍ ثابته شوې وي.اوکه غل په خپله دغلا
اقرارکړې وي.په دواړو صورتونوکښي به لاس هله کټ کولي شي.چه مسروق منه حاضر شي﴾

خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِي الْإِقْرَارِ، لِأَنَّ الْجِنَايَةَ عَلَى مَالِ الْغَيْرِ لَا تَظْهَرُ إِلَّا بِخُصُومَتِهِ،

ژباړه وتشریح:- خلاف ثابت دې دامام شافعی رحمه الله داقرار په صورت کي ﴿یعنی چې غل دخپلې غلا اقرارکړې
وي.نوبیا دامام شافعی رحمه الله په نیزدلاس کټ کولوپه وخت کي دمسروق منه حاضري ضروري نه ده.اودا خبره
چې په شهادت اواقرار کي توپیر نشته.خکه ده﴾ چې جرم ﴿چه غلا ده﴾ په مال دغیرکي نه ښکاره
کیږي.مګرپه خصومت دهغه سره ﴿یعنی که خالد د زید نه د غلا کولواقرارکړې وي.خوبیا هم په دې
اقرارسره دا نه ثابتیږي.چه دې غل دې.اودده لاس به کټ کولي شی.خکه چې کیداې شی.هغه دده تکذیب
اوکړي.چه نه تا زما نه غلا نه ده کړې.نوددې تکذیب د احتمال په وجه په ثبوت د غلا کي شبه پیدا شوه.اوپه
شبه سره حد ساقطیږي﴾

وَكَذَا إِذَا غَابَ عِنْدَ الْقَطْعِ عِنْدَنَا، لِأَنَّ الِاسْتِيفَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي بَابِ الْحُدُودِ

ژباړه وتشریح:- اودغه ډول حکم دې ﴿چه دغل لاس به نشی کټ کولي﴾ کله چې غائب وي ﴿مسروق منه﴾
په وخت دکټ کولوکي په نیز زموږ.،خکه چې د حد قائمول دقاضي په فرائضو کي ده.په باب د حدودو کي
.﴿یعنی دحد قائمولو لپاره د قاضی حکم ضروري دې.چه قاضي حکم اوکړي نوهله به حد جاري کولې
شی.اودقاضي دحکم لپاره دمسروق منه حاضري ضروري ده.چه مسروق منه حاضر نه وي.نوقاضي حکم
نشی کولې.خکه چې په دې کي دا احتمال شته.چه کیداې شي مسروق منه سارق ته دغه مال بخلې وي.نوپه
دې کي شبه د ملکیت راغله.اوپه حدودوکي شبه مانع د حد ده.نوخکه چې مسروق منه
موجود نه وی.حد به نشی جاري کولې﴾

دمستودع،غاصب،صاحب ودیعت لپاره دلس لاس کټ کولوحکم

(وَلِلْمُسْتَوْدَعِ وَالْغَاصِبِ وَصَاحِبِ الرِّبَا أَنْ يَقْطَعُوا السَّارِقَ مِنْهُمْ) وَلِرَبِّ الْوَدِيعَةِ أَنْ يَقْطَعَهُ أَيْضًا، وَكَذَا الْمَغْصُوبُ مِنْهُ. وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يُقْطَعُ بِخُصُومَةِ الْغَاصِبِ وَالْمُسْتَوْدَعِ،

ژباړه وتشريح:- اوجائز دی لپاره د مستودع ﴿چه امانت ورسره کیخودې شوې وی﴾ اوغاصب ﴿چه دچا نه په زور یوشیزواخلی﴾ اود سودی کس ﴿یعنی چې د سود مال ورسره پروت وی.اوهغه ترې غلا شی﴾ چې کټ کړی لاس د غل ﴿یعنی چې دوی دقاضی په عدالت کې د غل دلاس کټ کولومطالبه اوکړی.دا مطلب نه چې دوی په خپله واك اختیاردغل لاس کټ کړی.او چې غلا ئې کړې وی﴾ ددوی نه.او لپاره د مالك د امانت ﴿یعنی چې دچا امانت وی.دهغه لپاره هم د غل لاس کټ کولومطالبه جائز ده﴾ اودغه شان چې د چا نه غصب شوې وی. ﴿دهغه لپاره هم د غل دلاس کټ کاوه مطالبې حق شته﴾اوفرمائیلی دی امام زفراوامام شافعی رحمهما الله چې لاس به نشی کټ کولې په جګړې ﴿یعنی مطالبې﴾ د غاصب اومتسودع. ﴿یعنی که غاصب د غل لاس کټ کولومطالبه اوکړی.یا چا سره چې یوشیزامانت کیخودې شوې وی.هغه مطالبه اوکړی.نودغل لاس به نشی کټ کولې﴾

وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ الْمُسْتَعِيرُ وَالْمُسْتَأْجِرُ وَالْمُضَارِبُ وَالْمُسْتَبْضِعُ وَالْقَابِضُ عَلَى سَوْمِ الشِّرَاءِ وَالْمُرْتَهِنُ وَكُلُّ مَنْ لَهُ يَدٌ حَافِظَةٌ سِوَى الْمَالِكِ،

حل اللغة: ① **المستعير**:په عاریه سره غوستونکې ② **المستاجر**:په مزدورئ سره نیونکې ③ **المستبضع**:رنګساز ④ **سوم**:نرخ

ژباړه وتشريح:- اوپه دې خلاف باندې مستعیر ﴿چه دچا نه ئې په درخواست سره لږ وخت لپاره یوشیزغوستې وی.اودده نه غلا شی﴾ اومستاجر ﴿چه چانه په کرایه سره یو شیزواخلی.اوهغه دده نه غلا شی.لکه دکراکرئ سامان شو﴾اومضارب ﴿چه چا ورته څه روپئ ورکړې وی.چه په دې باندې کارکوو.پیسه به زما وی.اوعمل به ستا وی.اوهغه مال د مضارب نه غلا شی﴾ ﴿یعنی دچا نه چې ئې روپئ اخستې وی.اوپه خپل کاروبارکې ئې اچولې وی.اوچه څه ګټه کیږی.هغه ټوله د روپومالك ته ورکوی.اوهغه سرد احسان کوی﴾ اوقبض کونکې په غرض د اخستو ﴿یعنی مشتری چې دبائع نه مبیع واخلی.په هغې باندې قبضه اوکړی. خولا پیسې ئې نه وی ورکړې.اوپه دغه مهال کې دغه مبیعه غلا شی﴾ اومرتهن ﴿یعنی زیدپه بکرباندې پیسې دی.اودهغې په بدله کې ترې څه سامان ایسارکړی.چه کله ماته زما پیسې واپس کړې.تاته به خپل سامان واپس کړم.اودغه ډول دزید نه غلا شی. لنډیز دا چې﴾ دا حکم دهرهغه چا دې.چه دهغه یدحافظه وی.بغیردمالك نه، ﴿یعنی هرهغه څوك چې غلا شوې شیزدهغه نه وی.بلکه صرف دهغه په ساتنه اوقبضه کې وی.اودهغه نه غلا شی.نوهغه ته دغل دلاس کټ کولودمطالبې حق حاصل دې.﴾

مُطَالَبَةٌ وَيُقْطَعُ بِخُصُومَةِ الْمَالِكِ فِي السَّرِقَةِ مِنْ هَؤُلَاءِ إِلَّا أَنَّ الرَّاهِنَ إِنَّمَا يُقْطَعُ بِخُصُومَتِهِ حَالَ قِيَامِ الرَّهْنِ بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لَهُ فِي الْمُطَالَبَةِ بِالْعَيْنِ بِدُونِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوکټ کولې به شی په جګړه ﴿اومطالبه﴾ دمالك ﴿یعنی لکه څنګه چې دې کسانوته د مطالبې حق شته.دغه ډول څوك چې د دغه مال مسروقه مالکان وی.هغوی ته هم دا حق حاصل دې.چه د سارق د لاس کټ کولومطالبه ا وکړی﴾ البته ﴿په راهن کې یوشرط شته.یعنی راهن ته د لاس کټ کاوه د مطالبې حق شته.نوفرمائی﴾ راهن چې دې دده په مطالبه به لاس کټ کولای شی په حال دقیام د مرهونې روسته دادا کولود پور نه ﴿یعنی راهن ته په هغه صورت کې د لاس کټ کولودمطالبې حق شته.چه راهن مرتهن ته خپل پور واپس کړې وی.اومرتهن ورته لاخپل سامان نه وی واپس کړې.اوپه دې کې ترې غلا اوشی﴾ ځکه چې نشته د ده لپاره حق د مطالبې د عین ﴿یعنی د مرهون﴾ بغیردې نه ﴿یعنی بغیرد

پور واپس كولونه.اوكه راهن مرتهن ته دهغه پور نه وي واپس كړې.اوبه دغه مهال كي د مرتهن نه مال مرهونه غلا شو.نوراهن ته دغل دلاس كښې كولوحق نه دې حاصل﴾

وَالشَّافِعِي بَنَاهُ عَلَى أَصْلِهِ أَنْ لَا خُصُومَةَ لِهَؤُلَاءِ فِي الِاسْتِرْدَادِ عِنْدَهُ.

حل اللغة: ① **الاسترداد:** واپس اخستل

ژباړه وتشريح:- اوامام شافعي ﷫ بناء كړه دا مسئله په خپل اصل باندې﴿يعنى دامام شافعي ﷫ په نيزاصل اوقانون دا دې.چه﴾ نشته حق د خصومت ددې خلګو ﴿مستودع، غاصب، مستعير، مستاجر ،مضارب، مستبضع.اوقابض على سوم الشراء﴾په واپس اخستلوكي ﴿دمسروقه مال﴾ په نيزد دوى﴿امام شافعي﷫ يعنى دامام شافعي ﷫ په نيزدا خلګ ددې حقدارنه دى.چه كوم مال ددوى نه غلا شوې دې.دغل نه د هغې د واپس كولومطالبه اوكړي﴾

وَزُفَرُ يَقُولُ: وِلَايَةُ الْخُصُومَةِ فِي حَقِّ الِاسْتِرْدَادِ ضَرُورَةُ الْحِفْظِ فَلَا تَظْهَرُ فِي حَقِّ الْقَطْعِ لِأَنَّ فِيهِ تَفْوِيتَ الصِّيَانَةِ.

حل اللغة: ① **تفويت** فوت كول ② **خصومة** جګړه ③ **الصيانة** حفاظت

ژباړه وتشريح:- اوامام زفر﷫فرمائي. ﴿چه دې خلګو ته دا حق حاصل دې.چه د غل نه د مال مسروقه د واپس كولومطالبه اوكړي.خودومره ده.چه﴾ حق دخصومت د واپس كولو ﴿دمسروقه مال د سارق نه﴾ ثابت شوې دې د اړتيا د ساتنه دپاره ﴿يعنى ددې كسانوپه مال مسروقه باندې حقيقي ملك نشته.البته د ساتنه ملك ئې پرې شته.هغه دا چې دا نفر به ددغه مال مسروقه ساتنه كوى.چه خپل اصلي مالك ته ئې واپس كړي.او چې چرته مونږته دا اووائي.چه ددې كسانونه ثوك دغه څيزغلا كړي.اوده ته دا حق نه وى حاصل.چه د سارق نه دهغې مسروقه مال دواپس كاوه مطالبه اوكړي.نوهرسړې به راخى.اود مستودع وغيره څخه به امانت وغيره غلا كوى.څكه چې د دوى د اړخه به په هغې د واپس كولوويره نه وى﴾ نونه به ثابتيږى حق ولايت په حق د كټ كولو ﴿دلاس﴾ كي .څكه چې په دې كي فوت كيدل د ساتنه ﴿ددې مختلف ډول مالونو﴾ دې. ﴿اودې كسانوته د لاس كټ كولوحق څكه نه وركوو.چه د سارق نه د مال واپس اخستلواختيار دوى ته ددې لپاره وركړې شوې دې.چه دوى د سارق نه مال مسروقه واپس واخلى.نوخپلومالكانوته به ئې واپس كړى.اوكه بالفرض موږ دې كسانوته د لاس كټ كولواختيارهم وركړو.نوچه د سارق لاس كټ كړې شي.بيا دهغه نه د مال مسروقه مطالبه نشى كولې.نودلاس كټ كولواختيار وركولوكي چونكه هغه مال محفوظ نه پاتې كيږى.دكوم مال چې به خپلو مالكانوته واپس كول وى.ددې امله موږ دوى ته دلاس كټ كاوه اختيارنه وركوو﴾

وَلَنَا أَنَّ السَّرِقَةَ مُوجِبَةٌ لِلْقَطْعِ فِي نَفْسِهَا، وَقَدْ ظَهَرَتْ عِنْدَ الْقَاضِي بِحُجَّةٍ شَرْعِيَّةٍ وَهِيَ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَقِيبَ خُصُومَةٍ مُعْتَبَرَةٍ مُطْلَقًا إذْ الِاعْتِبَارُ لِحَاجَتِهِمْ إلَى الِاسْتِرْدَادِ فَيَسْتَوْفِي الْقَطْعَ.

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره دليل دا دې.چه غلا واجبونكې د كټ كولوده په اعتبار دخپل ذات﴿يعنى قطع نظرددې نه چې مسروقه مال دچا نه غلا شوې دې.بلكه موږ به صرف دې ته ګورو.چه غلا ثابته شوې ده. نو د دې په سزا كي د لاس پرې كول واجبيږى﴾ اوبه يقين سره ثابته شوې ده غلا په نيز د قاضى په حجت شرعي سره،اوحجت شرعي ګواهي ده د دوو سړو، روسته دخصومت معتبره نه ﴿اود دوى خصومت څكه معتبر دې. كه د اصلي مالك نه څوك غلا اوكړي.نوهغه ته دخصومت اودعوه حق حاصل دې.چه قاضى ته مقدمه وړاندې كړي.چه دې فلاني زما نه دا څيزغلا كړې دې.اودا حق ورته څكه حاصل دې.چه په دغه مال باندې دده كومه قبضه وه.هغه دغلا په وجه ختمه شوه.چه دغه قبضه بيا دده ته حاصله شي.څكه چې دده ته قبضه حاصله وى.نودې ددغه مقبوضه شى نه خپل مقاصد پوره كولې شى.نواصلي مالك ته چې دكوم علت د امله د خصومت حق حاصل دې.هغه علت په دې كسانوكي هم شته.څكه چې مستاجراومستعيرچه داصلي مالك نه دغه څيزاخستل.ددې لپاره چې دوى تري څه وخته پورې فائده واخلى.نوچه هغه تري غل

غلاكړلو.نودغه فائده فوت شوه.دغه ډول مرتهن اومودع باندې خپل مالك ته ددې څيزواپس كول دي.نودده ته د خصومت حق ځكه حاصل دې.چه دا څيزخپل اصل مالك ته حواله كړي.اوچه غل ترې دا غلا كړې وي.نوبيا به نې څه خپل مالك ته واپس كړي﴾ مطلقاً ﴿د مطلقاً په قيد سره دامام زفر رحمه الله د قول رد دې.هغوی فرمائي.چه دوی ته چې دوی ته صرف حق د استرداد ضرورة حاصل دې. د قطع حق ورته نه دې حاصل﴾ ځكه چې اعتبارحاجت د دوی لره دې واپس كاوه ته ﴿يعني دوی دې ته محتاج دی.چه دا شيان (څيزونه) خپلو مالكانوته واپس كړي.نودوی په دې حق دخصومت كي د مالك پشان دی﴾ نوقاضی به دلاس كټ كولوحق پوره واخلي.

وَالْمَقْصُودُ مِنَ الْخُصُومَةِ إِحْيَاءُ حَقِّهِ وَسُقُوطُ الْعِصْمَةِ ضَرُورَةُ الإِسْتِيفَاءِ فَلَمْ يُعْتَبَرْ،

حل اللغة: ① احياء: ژوندي كول ② الاستيفاء: تمام (پوره) حاصلول

ژباړه وتشريح:- اومقصود دخصومت نه ژوندي كول دحق خپل دمالك ﴿يعني كه دا قابضين يعنی مستودع، مستعير، اجير وغيره كه جګړه كوی.نودمالك دحق لپاره كوی.چه كوم مال زموږ نه غلا شو.دا موږ ته واپس شي.اوخپل اصل مالكانوته اورسی.وړاندې لدامام زفر رحمه الله دقول ځواب كوی.هغوی دا فرمائيلي وو.چه پدې كسانو باندې خپلو مالكانوته د هغوی د مالونو واپس كول واجب دی.اوس كه موږ دوی ته د غل د لاس كټ كاوه اختياروركړو.نودا مسئله ده.چه كله د غل لاس كټ كړې شی.بيا دهغه نه د مال مسروقه مطالبه نشی كولې.نواوس چې دوی د لاس كټ كولونه روسته د مال مسروقه د واپس كولومطالبه نشی كولې. نو خپلو مالكانوته به څه واپس كوی.نوچونكه د لاس په كټ كولوكي د مالكانود مال ساتنه ختميږی.ځكه به دوی ته د لاس كټ كاوه حق نشی وركولې.نوځواب وركوی.چه﴾ ﴿ اوختميدل د عصمت ﴿دمال په غلا كاوه د غل سره،يعنی چې غل غلا اوكړله.نومال محفوظ پاتې نشو﴾ سبب دې دپوره اخستلو دحد ﴿يعني هركله چې مال محفوظ پاتې نشو.نوپكارده چې ددې عدم عصمت سزا سارق ته ملاؤ شی.اودلاس كټ كيدل واقع شی﴾ نودعصمت ختميدل معتبر نه دی. ﴿يعني په لاس كټ كولوسره عصمت ساقط نشو.بلكه يو ډول د مال مسروقه عصمت بحال شو﴾

وَلَا مُعْتَبَرَ بِشُبْهَةٍ مَوْهُومَةِ الإِعْتِرَاضِ كَمَا إِذَا حَضَرَ الْمَالِكُ وَغَابَ الْمُؤْتَمَنُ فَإِنَّهُ يُقْطَعُ بِخُصُومَتِهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَإِنْ كَانَتْ شُبْهَةُ الإِذْنِ فِي دُخُولِ الْحِرْزِ ثَابِتَةً

ژباړه وتشريح:- اونشته اعتبارهغه شبه ته چې ګمان ئې كيداې شی د واقع كيدو ﴿دا په اصل كي د يوتقديری سوال ځواب دې.د سوال تقديردا دې.پكاردا وه.چه ترڅو پورې مالك نه وو حاضر شوې.نو دغل لاس دې نشو كټ كولې.ځكه چې دا احتمال په كي شته.چه كيداې شی.مالك د سارق لپاره د مال اقراراوكړی.چه دا مال مسروقه نه دې.بلكه ما دې سارق ته صدقه كړې يا هبه كړې وو.نوپه دې باندې حدساقطيږی.لكه وړاندې چې هم دا مسئله ذكرشوې ده.چه ترڅو مالك نه وی حاضر،لاس به نشی كټ كولې.نودلته ددغه تقديری سوال نه ځواب كوی.چه نشته اعتبارهغه شبه ته چې ګمان ئې كيداې شی د واقع كيدو.اوځكه ورله اعتبارنشته.چه اعتبارهغه شبه ته وی.دكومې دوجود چې فی الحال ګمان كيداې شی.پاته كومه شبه چې په مستقبل كي دهغې د وجود ګمان كيداې شی.هغې لره څه اعتبارنشته.اودلته چې په تقديری سوال كي دكومې شبه د واقع كيدو احتمال شوې دې.دا د مستقبل سره تعلق ساتی. نومعتبرنشوه﴾ لكه ځنګه چې كله حاضر وی ﴿وخت د لاس كټ كاوه كي﴾ مالك اوغائب وی هغه كس چې امين ګرځولې شوې وی. ﴿يعني دلته د امين عدم وجود ته څه اعتبارنشته﴾ په ظاهرروايت كي ﴿يعني په ظاهر روايت كي هم دا حكم دې.كه امين حاضرنه وی.نوهم به لاس كټ كولې شی.البته محمدبن سماعه د امام محمد رحمه الله نه دا روايت هم كړې دې.چه مالك ته ددې اختيارنشته.چه د امين په عدم حضوركي لاس كټ كړی﴾ اګرچه وی شبه د داخليدو محفوظ ځائې ته ثابته ﴿ددې باوجودچه دلته هم ددې شبه ګمان كيداې شی.چه امين

حاضر كړې شي.اوهغه دې سارق ته د محفوظ ځائې داخليدو اجازت كړې وي.نوكه اجازت ئې كړې وي.دسارق نه لاس نشي كټ كولې.خوددې باوجود دې شبه ته مورږ څه اعتبارنه وركوو.نودغه دول به په زيربحث مسئله كي هم دمالك عدم حضورته څه اعتبارنه وي﴾

داول مقطوع اليدنه مسروقه مال بل كس غلا كول

(وَإِنْ قُطِعَ سَارِقٌ بِسَرِقَةٍ فَسُرِقَتْ مِنْهُ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَا لِرَبِّ السَّرِقَةِ أَنْ يَقْطَعَ السَّارِقَ الثَّانِيَ) لِأَنَّ الْمَالَ غَيْرُ مُتَقَوِّمٍ فِي حَقِّ السَّارِقِ حَتَّى لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الضَّمَانُ بِالْهَلَاكِ فَلَمْ تَنْعَقِدْ مُوجِبَةً فِي نَفْسِهَا، وَلِلْأَوَّلِ وِلَايَةُ الْخُصُومَةِ فِي الِاسْتِرْدَادِ فِي رِوَايَةٍ لِحَاجَتِهِ إذْ الرَّدُّ وَاجِبٌ عَلَيْهِ

حل اللغة: ① **متقوم:** كوم څيزچه قابل د قيمت وي

ژباړه وتشريح:- اوكه كټ كړې شي لاس دغل ﴿زيد﴾ په يوه غلا كي ،اوبيا غلا كړې شي ﴿دغه مال مسروقه﴾ دده ﴿زيد﴾ نه،نو نشته دده ﴿زيد﴾ اود نه د مالك د مسروقه مال دپاره، چې لاس كټ كړې د دوهم غل، ﴿دوهم چې خالد دې﴾ ځكه چې دا مال غيرمتقوم دې په حق د غل كي ﴿چه زيد اود غيرمتقوم دليل ئې دا دې چې﴾ نه لازميږي په ده ﴿زيد﴾ باندې ضمان، په هلاك ددې ﴿مسروقه مال،يعنى كه زيددغه مال مسروقه هلاك كړي.نومسروق منه دده نه ددغه مال مسروقه تاوان نشي اخستي﴾ نومنعقده نشوه دا غلا موجبه ﴿دحد﴾ په اعتبارد ذات خپل سره ﴿يعنى په دې مال مسروقه كي د لاس كټ كيدو نه روسته دا صلاحيت پاتې نشو.چه د دې په غلا دوباره حد واجب شي﴾ اوداولنى غل لپاره ﴿چه زيددې﴾ اختيار دخصومت شته د رد كاوه په يو روايت كي ، ﴿دمال مسروقه د سارق ثانى نه.يعنى زيد چې سارق اول دې.كه دده نه خالدغلا اوكړله.نوددې غلا په وجه زيد سارق اول د خالد سارق ثانى د لاس كټ كولومطالبه نشي كولې.البته د دغه مال مسروقه چې اوس دسارق ثانى خالد په لاس كي دې.دهغې د واپس كولومطالبه كولې شي﴾ د امله د حاجت دده ﴿زيد دې مال مسروقه ته﴾ ځكه چې واپس كول ﴿ددې مال مسروقه خپل مالك ته﴾ واجب دي په ده ﴿زيد﴾ باندې،

(وَلَوْ سَرَقَ الثَّانِي قَبْلَ أَنْ يُقْطَعَ الْأَوَّلُ أَوْ بَعْدَ مَا دُرِئَ الْحَدُّ بِشُبْهَةٍ يُقْطَعُ بِخُصُومَةِ الْأَوَّلِ) لِأَنَّ سُقُوطَ التَّقَوُّمِ ضَرُورَةُ الْقَطْعِ وَلَمْ يُوجَدْ فَصَارَ كَالْغَاصِبِ

ژباړه وتشريح:- اوكه غلا كړلو دوهم غل ﴿مال مسروقه د زيد نه﴾ وړاندې ددې نه چې لاس كټ كړې شي د اولنى ﴿زيد﴾ اويا روسته ددې نه چې لرې كړې شوې وي حد ﴿د زيد نه﴾ په شبه سره،نوكټ كولې به شي ﴿لاس د سارق ثانى چې خالد دې﴾ په جګړه ﴿اومطالبه﴾ داول غل ﴿چه زيددې﴾ ځكه چې ساقط كيدل د تقوم خو د اړتيا دكټ كاوه د امله راغلى وو.او پرې كول رانغلو. ﴿يعنى مورږ په اولنى صورت كي دا اووئيل.چه هركله په سارق اول باندې حدقائم شي.نوددې نه روسته دغه مال متقوم پاتې نشو.يعنى په هغې كي دا صلاحيت پاتې نشو.چه ددې مال په سرقه كولوسره دې د دوهم غل لاس هم كټ شي.ليكن اوس په دې صورت كي چې داول سارق نه حد د شبه په وجه ساقط شو.مثلاً سارق اول مال مسروقه د داسې ځائې نه غلا كړې وو.چه هغه غيرمحفوظ وو.نوبه دې شبه دهغه نه حد ساقط شو.خوسارق ثانى خالد راولګيدلو.هم دغه مال ئې د زيدنه غلا كړلو.نوپه دې صورت كي دا مال متقوم دې.ځكه چې ددې په وجه حدنه دې نافذ شوې.اوچه مال متقوم شو.نوسارق اول زيد ته دا حق حاصل دې.چه دسارق ثانى خالد دلاس كټ كولومطالبه اوكړي﴾ نودا شويشان دغصب﴿يعنى كه بكرد ماجدنه يوڅيزيه زور باندې قبضه كړلو.اوغل راولګيدلو.دغه مال مغصوبه ئې غلا كړلو.نوپه دې صورت كي بكرغاصب ته دا حق حاصل دې.چه د غل دلاس كټ كاوه مطالبه اوكړي﴾

غل قاضى ته پيش كيدونه وړاندې مال مسروقه واپس كړل

بَعْدَ الْمُرَافَعَةِ.

حل اللغة: ① **الارتفاع**: پورته كول ② **المرافعة**: قاضي ته جګړه اوړل

ژباړه وتشريح:- اوچاچه غلا اوكړله په غلا كولوسره، اوواپس ئې كړلو ﴿مال مسروقه﴾ مالك ته وړاندې د مقدمه نه قاضي ته، ﴿يعني قاضي ته لامقدمه نه وه تلې.چه غل خپل مالك ته غلا شوې مال پيش كيدو كړلو﴾ نو نه به شي كټ كولې ﴿لاس د سارق﴾ اودامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه ﴿به دې واپس كړي﴾ به هم كټ كولې شي.د امله دقياس نه په هغه صورت چې واپس كړي ورته مال روسته د پيش كيدونه ﴿قاضي ته يعني دامام ابويوسف رحمه الله په نيزلكه څنګه چې قاضي ته مقدمه پيش شي.اودهغې نه روسته غل مالك ته مال واپس كړي.نوحد نه ساقطيږي.دغه ډول په دې صورت كې هم نه ساقطيږي﴾

وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ الْخُصُومَةَ شَرْطٌ لِظُهُورِ السَّرِقَةِ، لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ إِنَّمَا جُعِلَتْ حُجَّةً ضَرُورَةَ قَطْعِ الْمُنَازَعَةِ وَقَدْ انْقَطَعَتْ الْخُصُومَةُ،

حل اللغة: ① **قطع**: ختمول ② **المنازعة**: جګړه

ژباړه وتشريح:- وجه دظاهرروايت ﴿چه دمقدمه پيش كيدونه وړاندې د مال په واپس كولوكي پرې كول نشته﴾ دا ده.چه خصومت ﴿مالك﴾ شرط دې لپاره د ښكاره كيدو د غلا ﴿يعني غلا به هله ثابتيږي.چه مسروق منه په سارق باندې په عدالت كي دغلا دعوه اوكړي.اوغلا نه ثابتيږي صرف په دعوه باندې ترڅوچه ګواهان قائم شوى نه وي﴾ځكه چې ګواهان حجت ضروريه دې د ختمولود جګړې دپاره ﴿يعني ګواهان صرف ددې لپاره حجت ګرځولې شوې دې.چه ددوى په ګواهئ سره به جګړه ختمه شي.يعني د مدعي په حق كي به فيصله اوشي﴾ اوختمه شوه جګړه ﴿نوچه جګړه ختمه شوه.نودعوې كاوه ته اړتيا پاتې نشو.اوچه دعوه ته اړتيا پاتې نشو.نوګواهانو ته هم اړتيا پاتې نشونوچه نه جګړه شته،نه دعوه شته،نه ګواهان شته،نو پرې كول دلاس څنګه راشي!﴾

بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْمُرَافَعَةِ لِانْتِهَاءِ الْخُصُومَةِ لِحُصُولِ مَقْصُودِهَا فَتَبْقَى تَقْدِيرًا

ژباړه وتشريح:- په خلاف دهغه صورت ﴿چه وى واپس كول د مال مسروقه﴾ روسته د مقدمه پيش كاوه نه ﴿نوامام ابويوسف رحمه الله كه زيربحث مسئله په دغه صورت باندې قياس كوى.نودا قياس صحيح نه دې﴾ ځكه چې رسي خصومت خپل آخرى حد ته،د وجې د حاصليدو د مقصود نه، ﴿يعني كله چې مسروق منه مقدمه قاضي ته پيش كړي.نوددې مقدمې د درج كاوه مقصد دا وى.چه مسروق منه ته خپل مال واپس كړې شي.اوچه سارق ورته خپل مال واپس كړلو.نود مقدمه درج كولومقصود پوره شو.يعني كوم كارچه به د مقدمې دتولې كاروائى كيدو نه روسته كيدلو.چه مسروق منه ته دخپل مال واپس كول دى،نوهغه مقصود دمقدمې په مينځ كي پوره شو.بهرصورت د لاس كټ كاوه لپاره ثبوت د سرقه شرط وو.اوثبوت د سرقه راتلو په جګړه اودعوه باندې،چه مسروق منه د قاضي په عدالت كي جګړه اودعوه اوكړي.نوبس چې دعوه درج شوه.نود لاس كټ كاوه شرط موجود شو.چه جګړه اودعوه درج كول دى.اوددې جګړې لپاره آخره پورې پاته پاتې كيدل ضروري نه دى.بلكه كه د دعوه درج كولونه روسته جګړه ختمه هم شي.نوچونكه د لاس كټ كاوه شرط موجود شوې دې.چه دعوه اوجګړه ده.اوپه وجود د شرط سره وجود د مشروط راځي.نوځكه به په دې صورت كي لاس كټ كولې شي﴾ اوخصومت تقديراً پاته پاتې شو ﴿دتقديراً پاته پاتې كيدو مطلب دا دې.چه دغه خصومت كوم چې مسروق منه د سارق نه دخپل حق اخستلو لپاره كړې وو.اګرچه مالك ته د مال واپس كولونه روسته دغه جګړه ختمه شوه.خوچونكه يوځل دا مقدمه درج شوې ضرور ده.اوچه مقدمه درج شي.نوبيا به دوې [دوه] خبرې وى.يا به لاس پرې كول وى كه غلا ثابته شي.اويا به برى كيدل وى كه غلا ثابته نشي.اوپه دې صورت كي چې سارق مال مسروق منه ته واپس كړلو.نوغلا ثابته شوه.اوچه غلا ثابته شوه.نودغلا چې لاس پرې كول دى هغه به هم نافذ كيږي﴾

تشريح:- اوپه زيربحث مسئله كې د طرفينو ﷺ نقلي دليل د صفوان رضي الله عنه حديث دې. هغه دا چې صفوان بن اميه رضي الله عنه په مكه كې خبرشو.چه چا هجرت اونكړلو.نوهغه تباه اوبرباد شو.ددې امله دوى د هجرت په اراده مدينې منورې ته روان شو.چه دلته راغلو.نوپه جمات كې ويده (اوده) شو.اودسرلاندې ئې پټو (څادر) كيخودلو.په دې كې يوغل راغلو.اوهغه پټو (څادر) ئې غلا كولو.په دې كې پرې حضرت صفوان رضي الله عنه راويخ شو.اوهغه غل ئې لاس نيولې نبى ﷺ ته بوتلو.نبى ﷺ دهغه دلاس كټ كولوحكم اوكړلو.صفوان رضي الله عنه عرض اوكړلو.زما دا غرض نه وو.چه دده لاس دې كټ شي.زه دا پټو (څادر) ده ته صدقه وركوم.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.اوس په دې كې څه نه كيږي.تابه ماته د راوستو نه وړاندې دې معاف كړې وو.ګورئ ددې حديث نه دا ثابتيږي.كه مسروق منه غل ته د مقدمه درج كاوه نه وړاندې مال مسروقه هبه كړي.يااوبخى يا ئې په بله طريقه مالك جوړ كړي.نود سارق نه حد ساقطيږي.اوچه مقدمه يوځل قاضى ته پيش شي .نودهغې نه روسته كه مالك د هبه يا بله ذريعه باندې سارق د دغه مال مسروقه مالك جوړ كړي.نودهغه نه حدسرقه نه ساقطيږي.

دقاضي دفيصلې نه روسته دغل په مال مسروقه باندې ملك راتلل

﴿وَإِذَاقُضِيَ عَلَى رَجُلٍ بِالْقَطْعِ فِي سَرِقَةٍ فَوُهِبَتْ لَهُ لَمْ يُقْطَعْ﴾ مَعْنَاهُ إِذَا سُلِّمَتْ إِلَيْهِ ﴿وَكَذَلِكَ إِذَا بَاعَهَا الْمَالِكُ إِيَّاهُ﴾

ژباړه وتشريح:- اوكله چې حكم اوكړى قاضى په يوسړي باندې دلاس كټ كاوه په غلا كې ﴿چه دغه كس غلا كړې وى.اوغلا پرې ثابته شي﴾ نواوبخلې شى ده ﴿سارق﴾ ته ﴿مال مسروقه﴾ نه به شى كټ كولې ﴿لاس ددې سارق﴾ معنى ددې دا ده.چه كله ئې اوسپارى ده ته ﴿يعنى دغل پرې صحيح قبضه راشي﴾ اودغه ډول حكم دې ﴿چه لاس به ئې نشى كټ كولې﴾ كله چې خرڅ كړي مالك په ده ﴿سارق﴾ باندې.

وَقَالَ زُفَرُوَالشَّافِعِيُّ: يُقْطَعُ، وَهُوَرِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ، لِأَنَّ السَّرِقَةَ قَدْ تَمَّتْ انْعِقَادًا وَظُهُورًا، وَبِهَذَا الْعَارِضِ لَمْ يَتَبَيَّنْ قِيَامُ الْمِلْكِ وَقْتَ السَّرِقَةِ فَلَا شُبْهَةَ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائى امام زفراوشافعى رحمه الله چې كټ كولې به شي ﴿لاس د سارق﴾ اودا يو روايت دامام ابويوسف رحمه الله نه هم دې. ﴿چه لاس به ئې كټ كولې شي.اوددې لاس كټ كاوه دليل دا دې.چه﴾ سرقه پوره شوې ده.دخپل انعقاد په وجه ﴿يعنى دده دې فعل ته سرقه اوغلا وئيلې شي﴾ اوظهور په وجه ﴿يعنى كله چې ددې غلا مقدمه درج شوه.اوقاضى پرې فيصله اوكړله.نودا غلا ثابته شوه﴾ اوپه دې عارض سره ﴿چه د قاضى دفيصلې نه روسته په مال مسروقه باندې د سارق ملكيت راشي﴾ نه ثابتيږي قيام د ملك په وخت د غلا كې ﴿يعنى دقاضى دفيصلې نه روستو په مال مسروقه باندې ملك راتګ د سرقه په وخت كې ملك نشى شمارلې﴾ نودا شبه نشوه. ﴿چه حد به پرې ساقط شي﴾

وَلَنَا أَنَّ الْإِمْضَاءَ مِنَ الْقَضَاءِ فِي هَذَا الْبَابِ لِوُقُوعِ الِاسْتِغْنَاءِ عَنْهُ بِالِاسْتِيفَاءِ، إِذِ الْقَضَاءُ لِلْإِظْهَارِ وَالْقَطْعُ حَقُّ اللَّهِ تَعَالَى وَهُوَ ظَاهِرٌ عِنْدَهُ، وَإِذَا كَانَ كَذَلِكَ يُشْتَرَطُ قِيَامُ الْخُصُومَةِ عِنْدَ الِاسْتِيفَاءِ وَصَارَ كَمَا إِذَا مَلَكَهَا مِنْهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ.

حل اللغة: ① الامضاء د حد جارى كول ② الاستغناء بې پرواه كيدل

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿دجمهورواحنافو(رح)﴾ لپاره دليل دا دې.چه دحد جارى كول دقاضى دفيصلې پوره والې دې په دې باب ﴿دحدودو﴾ كې ،ځكه چې واقع كيږى بې پرواهى د دې قضاء نه په حد اخستلو سره. ﴿يعنى قاضى چې دا اووائى.چه ما د رجم يا د لاس كټ كاوه يا د كوړو ور كاوه حكم وركړلو.نولكه څنګه چې دا الفاظ فيصله ده.دغه ډول ددې الفاظو مطابق عمل كول اوحدجارى كول هم دقاضى فيصله ده. بالفرض كه قاضى فيصله واوروى.خوپه هغې باندې عمل اونشى.نود قاضى فيصله نافذه نشوه﴾ ځكه چې فيصله ﴿دقاضى﴾ لپاره د ښكاره كاوه ده ﴿چه خلګو ته ښكاره شي.چه فلانى غلاكړې وه.اودهغې سزا ورته دلاس كټ كولوپه صورت كې ملاؤ شوه.﴾ اوددې ﴿قاضى د فيصلې اورولو نه پس﴾ دلاس پرې كول دالله تعالى حق دې.اودا ﴿حق دالله تعالى﴾ ښكاره كيږى په وخت د لاس كټ كولوكې ،اوهركله

چې داسې شوه. ﴿یعنی دا چې دلاس پرې کول دقاضی د فیصلې پوره والې دې.که کټ والې اونشی.نودقاضی فیصله بې فائدې شوه﴾ نوشرط کولې به شی قیام دخصومت په وخت د حدجاری کولوکې ﴿یعنی لکه څنګه چې د فیصلې په ابتداء کې خصومت شرط دې.دغه ډول دا هم شرط دې.چه دا خصومت د حدجاری کولوپه وخت کې هم وی.خوکه خصومت د فیصلې په اول کې وی.چه مالك د سارق دلاس کټ کولومطالبه کوی.اوبیا کله چې د لاس کټ کولووخت راشی.دهغه دارخه مطالبه نه وی.ځکه چې سارق ترې هغه مال مسروقه یا اخستې وی.یا ورته مالك هغه مال مسروقه بخلې وی.نودحدجاری کولوشرط مفقود شو.چه خصومت دې،اودا قاعده ده.چه کوم څیزد قضاء لپاره شرط وی.هغه څیزبه په هغه وخت کې هم شرط وی.چه کله په دغه قضاء باندې عمل کولې شی.اوحدجاری کولې شی.خوچونکه په موجوده صورت کې د حدجاری کولوپه وخت کې خصومت نشته.ځکه چې مالك لسارق ته مال مسروقه هبه کړې دې.یا نې پرې خرڅ کړې دې﴾ نودا داسې شوه.لکه چې مالك شوې ئې وی سارق وړاندې د قضاء نه.﴿اودا مسئله وړاندې تیره شوې ده.چه مقدمه قاضی ته پیش شوې نه وی.سارق په څه طریقه باندې د مال مسروقه مالك جوړ شی.نوپه ده باندې د لاس پرې کول نشته.نودغه ډول دلته په زیربحث مسئله کې به هم په سارق باندې دلاس پرې کول نه وی.دهغه تقریرد امله کوم چې موږ بیان کړلو﴾

دلاس کټ کولونه وړاندې دمال مسروقه دنصاب نه قیمت کمیدل

قَالَ (وَكَذَا إِذَا نَقَصَتْ قِيمَتُهَا مِنَ النِّصَابِ) يَعْنِي قَبْلَ الِاسْتِيفَاءِ بَعْدَ الْقَضَاءِ.

ژباړه وتشریح:- ابو الحسین قدوری ﷫فرمائی.اودغه ډول ﴿حکم دې.یعنی لاس به نشی کټ کولې﴾ کله چې کم شی قیمت د مال مسروقه دنصاب نه یعنی دلاس کټ کولونه وړاندې اود قضاء نه پس ﴿مثلاً مال مسروقه د لسو روپو وو.اوچونکه لس روپۍ نصاب ته رسی.نوقاضی د سارق دلاس کټ کولوحکم اوکړلو.لا دده لاس کټ شوې نه وو.چه په بازارکې دهغه مال مسروقه قیمت اته روپۍ شو.نوپه دې صورت کې به دغل لاس نشی کټ کولې﴾ اودامام محمد﷫ نه روایت دې.چه کټ کولې به شی ﴿لاس د سارق په دې صورت کې هم﴾ اودا ﴿دلاس کټ کول﴾ قول دامام زفراوامام شافعی﷫ هم دې.د امله د قیاس نه په نقصان باندې په ذات دمال مسروقه کې. ﴿یعنی دا مسئله ده.د مال مسروقه په ذات کې کمې راشی.اوهغه دنصاب نه کم شی.نوپه دغه صورت کې به هم لاس کټ کولې شی.مثلاً یوکس د لسو درهمو غلا اوکړه.اوقاضی دده دلاس کټ کولوحکم اوکړلو.لا لاس ئې کټ شوې نه وو.چه په هغه لسو درهموکې یوه روپۍ ورکه شوه.نودلته د مال مسروقه ذات د نصاب نه کم شو.خوددې باوجود به دغل لاس کټ کولې شی.نودغه ډول به په زیربحث مسئله کې هم د سارق لاس کټ کولې شی﴾

وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يُقْطَعُ وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ اعْتِبَارًا بِالنُّقْصَانِ فِي الْعَيْنِ. وَلَنَا أَنَّ كَمَالَ النِّصَابِ لَمَّا كَانَ شَرْطًا يُشْتَرَطُ قِيَامُهُ عِنْدَ الْإِمْضَاءِ لِمَا ذَكَرْنَا،

ژباړه وتشریح:- اوزموږ دلیل دا دې.چه کمال دنصاب هرکله چې شرط وو ﴿په وخت د قضاء دقاضی کې.یعنی قاضی به هله دلاس کټ کولوفیصله کوی.چه مال مسروقه دسرقه نصاب ته رسی.که نه رسی.نوبیا دلاس کټ کولوحکم نشی کولې.نودغه شان﴾ شرط کولای شی قیام ددې نصاب په وخت د پوره کولودحد ﴿یعنی دلاس کټ کولوپه وخت کې هم دا شرط دې.چه مال مسروقه به نصاب ته رسی.اوچه نه رسی.نولاس به نشی کټ کولې﴾ د امله دهغه تفصیل نه چې موږ ذکرکړلو. ﴿یعنی دحدجاری کول د قاضی د فیصلې یوه برخه ده.اودقاضی ذمه واری ده﴾

بِخِلَافِ النُّقْصَانِ فِي الْعَيْنِ لِأَنَّهُ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ فَكَمُلَ النِّصَابُ عَيْنًا وَدَيْنًا، كَمَا إِذَا اسْتُهْلِكَ كُلُّهُ، أَمَّا نُقْصَانُ السِّعْرِ فَغَيْرُ مَضْمُونٍ فَافْتَرَقَا.

حل اللغة: ① السعر:نرخ ② مضمون:تاوانی

په خلاف دنقصان راتلوپه ذات «دمال مسروقه» كي «دامام زفرو غيره امامانو رحمهم الله دقياس نه ځواب كوي.چه دا دمال مسروقه د قيمت نقصان د ذات په نقصان باندې قياس كول صحيح نه دى» ځكه چې دغه مال مسروقه تاوان دې په سارق باندې «يعنى كه غل لس روپۍ پټ كړې وى.اويوه روپۍ د هغه نه وركه شى.يا ئې هغه هلاكه كړى.نوپه هغې سره په حقيقت كي په نصاب كي كمې نه راځى.ځكه چې مالك ته مال واپس كوى.نو پوره لس روپۍ به ورته واپس كوى.كوم نقصان چې راغلې دې.هغه به دغه غل جيبه پوره كوى.نودا داسې شوه.چه هډو په نصاب كي كمې نه دې راغلې.اوپه زيربحث مسئله كي خوچونكه په نصاب كي نقصان د منډۍ د امله راغلې دې.د سارق د امله نه دې راغلې.ځكه به په دې صورت كي د سارق لاس نشى كټ كولې» نوكامل شو نصاب په اعتبارد ذات سره «كه مال مسروقه د ذوات الامثال نه وى.مثلاً غل لس كتابونه پټ كړى وى.چه دهركتاب قيمت يوه روپۍ وه. او يو كتاب ترې ورك شو.نوغل به مالك ته هم دغه ډول بل كتاب وركوى.اولس به ورته برابره وى» اوپه اعتبار د پور سره. «يعنى كه مال مسروقه د ذوات القيم نه وى.مثلاً لس روپۍ وى.اويوه روپۍ ترې وركه شى.نودې په سارق باندې د مالك لپاره دغه يوه روپۍ پور شوه» اودا صورت «د مقيس عليه» داسې شو.لكه چې كله هلاك كړى سارق واړه مال لره، «يعنى چې غل ځومره مال غلا كړې وى.هغه واړه هلاك كړى. نوپه دغه صورت كي هم دهغه لاس كټ كولې شى» اوهرچه نقصان د نرخ دې «په منډۍ اوبازاركي» نوتاوان نه دې «يعنى كه سارق د لسو درهمو ځيزغلا كړلو.اودغلا نه روسته دهغه مال مسروقه قيمت په بازاركي اته روپۍ شو.نومالك د سارق نه دا مطالبه نشى كولې.چه ماته به يودا مال مسروقه واپس راكوې. اودې سره به راته دوې [دوه] روپۍ نورې هم راكوې.ځكه چې دده په قيمت كي دوې [دوه] روپۍ نقصان راغلې دې.بلكه صرف هغه مال مسروقه به ورته واپس كوى» نودواړه صورتونه «يعنى نقصان په قيمت د مال مسروقه كي اونقصان په ذات د مال مسروقه كي» مختلف شول. «نو د يوپه بل باندې قياس كول صحيح نشو»

دسارق د مال مسروقه دملكيت دعوه كول

(وَإِذَا ادَّعَى السَّارِقُ أَنَّ الْعَيْنَ الْمَسْرُوقَةَ مِلْكُهُ سَقَطَ الْقَطْعُ عَنْهُ وَإِنْ لَمْ يُقِمْ بَيِّنَةً) مَعْنَاهُ بَعْدَمَا شَهِدَ الشَّاهِدَانِ بِالسَّرِقَةِ

ژباړه وتشريح:- اوكله چې دعوه اوكړى غل چې د عين مسروقه دې مالك دې.نوساقط كيږى دلاس پرې كول دده نه اګرچه دې قائم نه كى (نكړى)ګواهان «په خپله دعوه باندې» مطلب ددې دا دې. «چه سارق د عين مسروقه د ملكيت دعوه اوكړى.» روسته ددې نه چې ګواهى كړې وى دوو ګواهانوپه غلا باندې «چه ده غلا كړې ده.اودې سارق دعين مسروقه د ملكيت دعوه كوى»

وَقَالَ الشَّافِعِي: لَا يَسْقُطُ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوَى لِأَنَّهُ لَا يَعْجِزُ عَنْهُ سَارِقٌ فَيُؤَدِّي إِلَى سَدِّ بَابِ الْحَدِّ.

ژباړه وتشريح:- اوامام شافعى رحمه الله فرمانى.چه نه ساقط كيږى «دلاس پرې كول دغل نه» صرف په دعوه كاوه سره،ځكه چې عاجزنه دې ددې «دعوه» نه هيڅ يوغل. «بلكه هريوغل دا دعوه كولې شى.چه دا عين مسروقه زما دې» نومفضى كيږى دا حكم بندولو دروازې د حد لره «يعنى هرغل به د عين مسروقه د ملكيت دعوه كوى.اودهغه ځخه به حد ساقطيږى.نود حدود قائمولودروازه به بنده شى»

وَلَنَا أَنَّ الشُّبْهَةَ دَارِئَةٌ وَتَتَحَقَّقُ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوَى لِلِاحْتِمَالِ، وَلَا مُعْتَبَرَ بِمَا قَالَ بِدَلِيلِ صِحَّةِ الرُّجُوعِ بَعْدَ الْإِقْرَارِ

ژباړه وتشريح:- اوزموږ دليل دا دې.چه شبه لرې كونكې د حد ده.اوثابتيږى شبه صرف په دعوه كولوسره د امله د احتمال نه «چه كيداې شى دا سارق رښتيا وائى.دا عين مسروقه هم دده خپل ملكيت وى.اوپه شبه باندې حدساقطيږى.نوپه دې صورت كي به هم حد ساقط وى» اونشته اعتبارهغه دليل ته كوم چې امام شافعى رحمه الله فرمانيلې دې.په دليل د صحت د رجوع كولونه روسته داقرارنه «يعنى كه غل د غلا اقراركولونه روسته هم واپس شى.اودا اووائى.چه ما غلا نه ده كړې.نودده نه حد ساقطيږى.حالانكه هيڅ يوغل داقرارنه روسته دانكاركولونه عاجز نه دې.نولكه ځنګه چې د اقرار په صورت كي موږ د اقراركونكى د رجوع د امله

حدساقط كوو.ددې باوجود چې هراقراركونكې د اقرارنه روسته رجوع كولې شي.نودغه ډول په زيربحث مسئله كې به هم كه سارق د عين مسروقه د ملكيت دعوه اوكړي.نودده څخه به حد ساقط كولې شي.ددې باوجود چې هرسړې د عين مسروقه د ملكيت دعوه كولې شي.خودا خبره يادساتل پكار دي.چه صاحب دهدايه چې په متن كې امام شافعي‌رحمه‌الله ته ددې قول نسبت كړې دې.نودا د هغوی نه يو روايت دې.دهغوی صحيح قول دامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله پشان دې.بلكه دامام احمدرحمه‌الله قول هم داحنافو رحمهم‌الله موافق دې.﴾

په سارقينوكې ديوپه مال مسروقه باندې د ملك دعوه

(وَإِذَا أَقَرَّ رَجُلَانِ بِسَرِقَةٍ ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا هُوَ مَالِي لَمْ يُقْطَعَا) لِأَنَّ الرُّجُوعَ عَامِلٌ فِي حَقِّ الرَّاجِعِ وَمُورِثٌ لِلشُّبْهَةِ فِي حَقِّ الْآخَرِ لِأَنَّ السَّرِقَةَ تَثْبُتُ بِإِقْرَارِهِمَا عَلَى الشَّرِكَةِ

ژباړه وتشريح:- اوكله اقراراوكړی دوې [دوه] نفر د يوې غلا،اوبيا ووايي يوپه دواړوكې چې دا ﴿مال مسروقه﴾ زما مال دې.نود دواړولاس به نشي كټ كولې.ځكه چې رجوع ﴿دخپل اقرارنه﴾ عمل كونكې ده د رجوع كونكي په حق كي ﴿يعنی كوم مقرچه دخپل اقرارنه رجوع اوكړه.نودهغه نه حدساقط شو﴾ اوپيدا كونكې د شبه دې په حق د بل كي ﴿چه دخپل اقرارنه ئې رجوع نه وی كړې﴾ځكه چې غلا ثابته شوې ده په اقرار ددې دواړو په شريكه ﴿نولكه څنګه چې په اول كي د دواړو په اقرارغلاثابته شوې ده.دغه ډول به په آخركې هم د دواړو اقراربرقرار وی.لكه څنګه چې دا مسئله وړاندې تيره شوه.چه كوم ځيزداثبات د سرقه لپاره شرط وی.نودا هم ضروری ده.چه هغه ځيزبه دحد قائمولوپه وخت كې ثابت وی.نوهركله چې په آخره كې د دواړو اقرارپاته پاتې نشو.نوپه كوم ځيزچه د سرقه د اثبات بنا (بنياد) وو.هغه ختم شو.چه هغه ختم شو.نوحدبه هم ختميږی﴾

په سارقينوكې ديودغائب كيدونه روسته دشاهدينوګواهي وركول

(فَإِنْ سَرَقَا ثُمَّ غَابَ أَحَدُهُمَا وَشَهِدَ الشَّاهِدَانِ عَلَى سَرِقَتِهِمَا قُطِعَ الْآخَرُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ الْآخِرِ وَهُوَ قَوْلُهُمَا) وَكَانَ يَقُولُ أَوَّلًا: لَا يُقْطَعُ، لِأَنَّهُ لَوْ حَضَرَ رُبَّمَا يَدَّعِي الشُّبْهَةَ.

ژباړه وتشريح:- كه غلااوكړله دووكسانو، ﴿زيداوبكر﴾اوبيا غائب شويو ﴿زيد﴾په دواړوكي اوبيا ګواهي وركړله دووګواهانود غلا دواړو ﴿چه زيداوبكردی﴾ نوكټ كولې به شي لاس د دويم ﴿چه بكردې﴾ په قول دامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله روستني كي ﴿يعنی دامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله نه.دوې [دوه] روايتونه دی.اولني روايت دا وو.چه حاضرنه به لاس نشي كټ كولې.خوبيا ئې ددې نه رجوع اوكړله.اوددې قائل شو.چه دحاضرنه به لاس كټ كولې شي﴾ او دا ﴿پرې كول د لاس دحاضر﴾ قول دصاحبينو رحمهما‌الله دې.او وو امام ابوحنيفه‌رحمه‌الله چې فرمائيل به ئې اول چې نه به شي كټ كولې لاس د حاضر، ﴿اوددې وجه به ئې دا بيانوله﴾ځكه حاضرشي ﴿غائب﴾.نو كيداې شي چې هغه دعوه اوكړی د شبه ﴿يعنی داسې دعوه اوكړي.چه په دې سره د حاضرچه بكردې دده په غلا كې شك پيدا كيږی.لكه څنګه چې په وړاندينی صورت كې تيرشو.كه دوو كسانودغلا اقراراوكړلو.اوبيا يورجوع اوكړله .نودبل لاس به نشي كټ كولې.ځكه چې ديوداقرارنه په رجوع كولوسره شبه پيدا شوه.اوشبه سره حد ساقطيږی.نوهغه شان په زيربحث صورت كې هم كيداې شي.چه غائب بكر حاضرشي.اوهغه داسې څه خبره اوكړي.چه دهغې په وجه د غلا په ثبوت كې شبه پيدا شي.لكه دا اووائي.چه مونږ دا ځيزدغيرمحفوظ ځائې نه غلا كړې دې.يا دا چې دا شي زما ملكيت دې.وغيره﴾

وَجْهُ قَوْلِهِ الْآخَرِ أَنَّ الْغَيْبَةَ تَمْنَعُ ثُبُوتَ السَّرِقَةِ عَلَى الْغَائِبِ فَيَبْقَى مَعْدُومًا وَالْمَعْدُومُ لَا يُورِثُ الشُّبْهَةَ وَلَا مُعْتَبَرَ بِتَوَهُّمِ حُدُوثِ الشُّبْهَةِ عَلَى مَا مَرَّ

ژباړه وتشريح:- اووجه د بل قول دامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله ﴿چه دحاضرنه به لاس كټ كولې شي﴾چه غيرموجوګی منع كوی ثبوت دغلا په غائب باندې نوپاتې شوه هغه غائب معدوم ﴿يعنی كوم كس چې غائب وی.نوپه هغه باندې دهغه په غيرموجودګئ كي دغلا اثبات نشي كولې.يعنی هغه غل نشي ګرځولې.ترڅوچه هغه

حاضرشوې نه وي.ځكه چې په دې كې داسې ډيراحتمالات دي.چه دهغې په وجه يا هغه غل نه وي.يا دا چې غل وي. خو داسې څه شبه موجود وي.چه دهغې د امله په غل باندې حدنشي جاري كولې.نوهركله چې هغه باندې د غلا ثبوت نشته.نودا داسې شوه.چه هډوهغه غل نه دي.نوددې ګواهانوګواهي د حاضر په حق كې معتبر شوه.اودده لاس به كټ كولې شي.اوهركله چې غائب معدوم شو.نو﴿ معدوم نه پيدا كوي شبه ﴾يعنى شبه خوپه هغه وخت كې راځي.چه د ګواهانوپه ګواهئ سره په دواړو غلو باندې غلا ثابته شوې وي.اوبيا په كې يو غايب شي.اودلته خوپه غائب باندې دهغه په عدم وجودكې هډو غلا ثابته شوې نه ده.نوشبه به د كومې راشي﴾ اونشته اعتبارګمان د پيدا كيدو د شبه لره.لكه څنګه چې وړاندې تيرشو﴿يعنى كه څوك دا اووائي.چه كيداې شي.دغه غائب حاضر شي.اوپه هغه باندې نشي.ياثابته شي خوداسې چې موجب دحد نه وي.نودغه ګمان لره څه اعتبارنشته.ځكه چې دهغه ګمان به لحاظ ساتلې شي.كوم چې في الحال موجود وي.اودا ګمان چې كيداې شي.په هغه غائب باندې غلا ثابته نشي.داسې ګمان دې چې د مستقبل سره تعلق ساتي﴾

دعبدمحجوريا ماذون دعين متعين يا مستهلك دغلا په كولو اقراركول

﴿وَإِذَا أَقَرَّ الْعَبْدُ الْمَحْجُورُ عَلَيْهِ بِسَرِقَةِ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ بِعَيْنِهَا فَإِنَّهُ يُقْطَعُ وَتُرَدُّ السَّرِقَةُ إِلَى الْمَسْرُوقِ مِنْهُ﴾ وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ.[1]

ژباړه وتشريح:- اوكله چې اقراراوكړي عبدمحجور ﴿هغه غلام چې مالك د تجارت كولونه منع كړې وي.چه ته به تجارت نه كوې﴾ په غلا د لسو روپومعينو ﴿چه معلومې وي.نوكه دلسونه كمې وي.يا غيرمعين وي.بيا به لاس پرې كول نه وي﴾ ① نودده لاس به كټ كولې شي.اوواپس كولې به شي مال مسروقه مسروق منه ﴿مالك﴾ ته.اودا ﴿حكم﴾ په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله ،دي.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يُقْطَعُ وَالْعَشَرَةُ لِلْمَوْلَى وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يُقْطَعُ وَالْعَشَرَةُ لِلْمَوْلَى وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ. وَمَعْنَاهُ إِذَا كَذَّبَهُ الْمَوْلَى

ژباړه وتشريح:- ② اوفرمائيلي دي امام ابويوسف رحمه الله چې كټ كولې به شي ﴿لاس د عبدمحجور﴾ اولس روپۍ د مالك دي.③ اوفرمائي امام محمد رحمه الله نه به شي كټ كولې ﴿لاس د عبدمحجور﴾ اولس روپۍ دمالك دي.اودا قول دامام زفر رحمه الله دې.اومطلب ددې ﴿چه په عبدباندې دلاس پرې كول نشته.اومال هم د مولى دې.په هغه صورت كې﴾ كله چې تكذيب اوكړي دده ﴿عبدمحجور﴾ مولى ﴿اوهغه اووائي.دا زما غلام دروغ وائي.ده غلا نه ده كړې.بلكه دا مال زما دې﴾

تشريح:- كله چې عبدد سرقه اقراراوكړي.نودې به خالي نه وي يا به عبدماذون في التجارة وي يا غير ماذون.اوبيا به په دې دواړو صورتونوكې هريوصورت خالي نه وي.يا به ئې اقراركړې وي په داسې څيزچه هغه به معلوم اوموجود وي.يا به هلاك شوې وي.بيا په دې كې هم هريوپه دوو صورتونودې.يا به مولى د غلام تكذيب كوي اويابه ئې تصديق كوي.نوواړه صورتونه دا شول.① كه مولى ئې تصديق كوي. چې آو دغه غلا كړې ده.نوپه ټولوصورتونوكې به دغل لاس كټ كولې شي.ځكه چې دكټ كولومقتضى شته.چه غلا ده.اومانع نشته. ﴿چه دمولى تكذيب دې﴾ ②اوكه مولى دده تكذيب كوي.چه ده غلا نه ده كړې.اودې ماذون له وي.نود درې واړو امامانوپه نيزبه په دې صورت كې دده لاس كټ كولې شي.برابره ده كه اقرارئې په داسې مال كړې وي.چه موجود وي.اوكه په داسې مال چې هلاك شوې وي.نوكه مال موجود وي.هغه به مسروق منه ته وركولې شي.③ اوكه محجوروي.نوكه په مال مستهلك باندې اقرار اوكړي.د درې واړه امامانوپه نيزبه ئې لاس كټ كولې شي.④ اوكه اقرار په داسې مال اوكړي.چه هغه دده په لاس كې موجود

[1] القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(١٦٨\٥) والدرالمنتقى (٦٣٤\١) والعناية (١٦٦\٥) وردالمحتار (٣\ ٢٣٠) والهندية (١٨٤\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٦٩\١)_

وي.نوامام ابوحنيفهؒ فرمائي.چه دده لاس به کټ کولي شي.اومسروق منه ته به خپل مال واپس کولي شي.اوامام ابويوسفؒ فرمائي.چه دده لاس به کټ کولي شي.اومال به د مولي وي.اوامام محمدؒ فرمائي.چه د ده لاس به نشي کټ کولي.اومال به د مولي وي.

(وَلَوْ أَقَرَّ بِسَرِقَةِ مَالٍ مُسْتَهْلَكٍ قُطِعَتْ يَدُهُ وَلَوْ كَانَ الْعَبْدُ مَأْذُونًا لَهُ يُقْطَعُ فِي الْوَجْهَيْنِ) وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُقْطَعُ فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا

ژباړه وتشريح:- اوكه اقرارئې اوكړلو.په مال مستهلك ﴿چه په اختياري يا غيراختياري وجه باندې هلاك شوې وي.اود عبدمحجورسره په قبضه کې نه وي﴾ نوکټ کولي به شي لاس د ده،اوكه وي غلام عبد ماذون ﴿چه مولي ورته د تجارت اجازت کړې وي﴾ نوکټ به شي ﴿لاس دده﴾ په دواړو صورتونوکې ﴿يعني كه دغه مال معين موجود وي.اوكه هلاك شوې وي.﴾ اوامام زفرؒ فرمائي.چه کټ کولي به شي په ټولوصورتونوکې ﴿كه عبدمحجور وي اوكه ماذون،دغه ډول كه مال مسروقه معين موجود وي اوكه مستهلك﴾

لِأَنَّ الْأَصْلَ عِنْدَهُ أَنَّ إِقْرَارَ الْعَبْدِ عَلَى نَفْسِهِ بِالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ لَا يَصِحُّ لِأَنَّهُ يَرِدُ عَلَى نَفْسِهِ وَأَطْرَافِهِ وَكُلُّ ذَلِكَ مَالُ الْمَوْلَى، وَالْإِقْرَارُ عَلَى الْغَيْرِ غَيْرُ مَقْبُولٍ

ژباړه وتشريح:- ځکه چې اصل په نيزدده ﴿امام زفر(رح)﴾ دا دې.چه اقرارد غلام ﴿محجور﴾ په خپل نفس باندې په حدودو اوقصاص کې نه صحيح کيږي.ځکه چې دا ﴿اقراردده﴾ واقع کيږي په نفس دده ﴿په صورت د قتل کې چې ديوکس د قتل اقراراوکړي.نودده نفس به دهغې په بدله کې قتلولي شي﴾ اوپه اندام ﴿غلام﴾ کې . ﴿چه مثلاً دا اووائي.ما د فلاني ستر گه ويستې ده.يا ما د فلاني نه غلا کړې ده.نوپه دده ﴿كه دده نفس دې اوكه اندام﴾ دواړو صورتونو کې بالترتيب دده ستر گه اولاس کټ کولي شي﴾ اودا واړه ﴿تردې که مال دمولي دې. ﴿او داقانون دې.چه﴾ اقرارپه بل باندې غيرمقبول وي ﴿يعني نه صحيح کيږي.تردې که غلام دا اقراراوكړي.چه زه د فلاني غلام يم.يعني دخپل مولي نه سوا بل كس اوبنائي.نودده دا اقرارپه نشي قبلولي.ځکه چې دا په غيرباندې اقراردې.چه دده مولا دې.﴾

إِلَّا أَنَّ الْمَأْذُونَ لَهُ يُؤَاخَذُ بِالضَّمَانِ وَالْمَالِ لِصِحَّةِ إِقْرَارِهِ بِهِ لِكَوْنِهِ مُسَلَّطًا عَلَيْهِ مِنْ جِهَتِهِ. وَالْمَحْجُورُ عَلَيْهِ لَا يَصِحُّ إِقْرَارُهُ بِالْمَالِ أَيْضًا،

ژباړه وتشريح:- البته دومره ده.چه عبدماذون ﴿چه دتجارت اجازت ورته شوې وي﴾ دده مواخذه به کولای شي په ضمان ﴿لكه دمال مستهلك د غلا اقراراوكړي.نوپه دې صورت کې به په ده باندې تاوان وي﴾ اومال کې ﴿لكه دده په قبضه کې يوڅيزموجود دې.اودې د هغې د غلا اقرارآوكړي.نودغه څيزبه مالك ته واپس كولي شي﴾ د امله دصحت داقرار دده نه په مال باندې،ځکه چې دې ﴿عبدماذون﴾ مقرر شوې دې په ﴿تصرف فی﴾ مال د اړخه د مولي نه، ﴿يعني مولي ورته په مال کې د تصرف واك اختياروركړې دې.نوپه دغه واك اختياركې په ځان باندې دبل د مال اقراركول هم گډ دې﴾

وَنَحْنُ نَقُولُ يَصِحُّ إِقْرَارُهُ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ آدَمِيٌّ ثُمَّ يَتَعَدَّى إِلَى الْمَالِيَّةِ فَيَصِحُّ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ مَالٌ،

حل اللغة: ① يتعدى:تجاوز اوكړي

ژباړه وتشريح:- اومونږ ﴿جمهوراحناف(رح)﴾ وايو.چه صحيح کيږي اقرار دده ﴿عبدمحجور﴾ په دې حيثيت چې دې انسان دې. ﴿نه په دې حيثيت چې دې مال دې.اوهركله چې دا خبره ثابته شوه.چه دده اقرارپه دې حيثيت سره صحيح دې.چه دې بنيادم دې.﴾ نوبيا متعدی کيږي ماليت ته.په دې حيثيت چې دې مال دې. نومتعدی کيږي دا حکم ماليت ته،نوصحيح کيږي ﴿اقراردده.په دې حيثيت چه﴾ دې مال دې. ﴿يعني په عبد محجور کې دوې [دوه] حيثيتونه دي.يود آدميت اوبل د ماليت.نومونږ اول دده د آدميت حيثيت ته اوکتل.نودا مو اووئيل. چې دده اقرارپه خپل ځان باندې صحيح کيږي. لکه څنگه چې د يوآزاد

سرې اقرار په خپل ځان باندې صحيح كيږي.مثلاً چې ما قتل كړې دې.نودې به په دغه اقرارباندې قتلولې شي.نودغه ډول به دآدميت په حيثيت ددې عبدمحجوراقرارهم صحيح كيږي.اوهركله چې د آدميت په حيثيت دده اقرار صحيح شو.نوددې صحت په ضمن كې يوه بله خبره هم حاصله شوه.هغه دا چې په دې حيثيت باندې هم دده اقرارصحيح شو.چه دې مال دې.ددې مثال به زه داسې وركړم.چه زيد د بكر د نسب اقرار اوكړي.چه دې زما ځوئې دې.نودلته يوخو د زيد اود بكرپه مينځ كې يوخود نسب اثبات اوشو.اوددې په ضمن كې يوه بله مسئله هم راغله.هغه دا چې دې بكرته به هغه واړه حقوق حاصل وي.كوم چې يوخوى ته حاصل وي.لكه ميراث اوړل شو.نودلته د ميراث ثبوت ارادة اوقصداً نه دې راغلې.بلكه د ثبوت نسب په ضمن اوتبعيت كې راغلې دې.دغه ډول په زيربحث مسئله كې دعبدمحجورپه خپل ځان باندې اقراردمال په حيثيت سره ارادة نه دې راغلې.بلكه ددې په ضمن كې راغلې دې.چه هركله به حيثيت د يوانسان دده په خپل ځان باندې اقرار صحيح دې.نودغه ډول كه په دې انسان كې صفت د ماليت وي.هم به اقرارمعتبر وي﴾

وَلِأَنَّهُ لَا تُهْمَةَ فِي هٰذَا الْإِقْرَارِ لِمَا يَشْتَمِلُ عَلَيْهِ مِنَ الْأَضْرَارِ، وَمِثْلُهُ مَقْبُولٌ عَلَى الْغَيْرِ.

ژباړه وتشريح:- اوبله ددې وجه ﴿هم د عبدمحجورپه خپل ځان باندې اقرارصحيح كيږي﴾ چې نشته تهمت ﴿په عبدمحجورباندې﴾ په دې اقراركې ،ځكه چې دا اقرار راولې په ده باندې ضرر ﴿يعنې چې عبدپه خپل ځان باندې د غلا اقراراوكړي.نوپه دې كې خوپه خپله دده تاوان اونقصان دې.چه لاس به ئې كټ كولې شي﴾ او پشان د داسې ﴿اقرارچه مقرته په كې پخپله ضرر اونقصان وي﴾ مقبول وي په بل باندې ﴿لكه چې كله په آسمان كې وريځ وي.اويوكس دا ګواهي وركړي.چه ما د رمضان مياشت ليدلې ده.نوامام به دده شهادت قبلوي .ځكه چې په دې شهادت كې په دې شاهد باندې څه تهمت نشته.چه دې به دروغ وائي.ځكه چې په شهادت كې ده ته په خپله تكليف رسي.چه روژه نيول به پرې فرض كيږي.نوهركله چې ده ته په خپله په دې شهادت باندې تكليف رسي.نوكه بل ته اورسي.نوخه خبره نه ده.نور نفر دې هم د روژې مشقت برداشت كړي.دغه ډول په زيربحث مسئله كې هركله چې غلام ته په خپله تكليف رسي.چه لاس ترې كټ كولې شي.نوكه مولې ته نقصان اورسي.چه دهغه ماليت چې د عبدپه صورت كې موجود دې.هغه ختميږي.ختم دې شي﴾

لِمُحَمَّدٍ فِي الْمَحْجُورِ عَلَيْهِ أَنَّ إِقْرَارَهُ بِالْمَالِ بَاطِلٌ، وَلِهٰذَا لَا يَصِحُّ مِنْهُ الْإِقْرَارُ بِالْغَصْبِ فَيَبْقَى مَالُ الْمَوْلَى، وَلَا قَطْعَ عَلَى الْعَبْدِ فِي سَرِقَةِ مَالِ الْمَوْلَى.

ژباړه وتشريح:- دامام محمد رحمه الله لپاره په محجور عليه غلام كې ﴿چه لاس به ئې نشي كټ كولې.اولس روپۍ به د مولې وي﴾ دليل دا دې.چه محجورعليه ﴿چه د تجارت ازجانب ورته نه وي﴾ چې اقرار دده باطل دې.په مال سره ﴿يعنې كه عبدمحجوردبل چا لپاره په ځان باندې د مال اقراراوكړي.چه د فلانى په ما باندې دومره روپۍ پور دي.يا داسې بل څه د ملكيت سبب ياد كړي.نودا وصيت باطل دې﴾ او ددې امله ﴿چه د عبد محجوراقرار باطل دې﴾ نه صحيح كيږي اقرار ﴿د عبدمحجور﴾ په غصب باندې ﴿يعنې چې عبد محجوردا اقراراوكړي.چه دا زما په قبضه كې چې څه دي.دا ما د فلانى نه په زور اخستي وو.نودا اقرارنه صحيح كيږي.نوهركله چې د مال په اړه كې د عبدمحجوراقرار صحيح نشو﴾ پاتې پاتې شو مال دمولې ﴿يعنې كوم مال چې عبدمحجورغلا كړي وو.هغه د ده دمالك شو﴾ اونشته پرې كول د لاس په غلام باندې په غلا دمال د مولې كې . ﴿يعنې غلام اقرار د غلا په داسې مال كې كړې دې.چه هغه دده مال نه دې.اود غيرپه مال كې دغلا اقرار كول صحيح نه وي.يعنې بكرسره په لاس كې يو شي دې. او بكر اووائي.چه فلانې ځيزما غلا كړې دې.نوپه دې اقرارسره به دده لاس نشي كټ كولې.ځكه چې مال د بل چا دې.فائده خوئې دغه مقر ته نه ملاويږي﴾

يُؤَيِّدُهُ أَنَّ الْمَالَ أَصْلٌ فِيهَا وَالْقَطْعُ تَابِعٌ حَتَّى تُسْمَعَ الْخُصُومَةُ فِيهِ بِدُونِ الْقَطْعِ وَيَثْبُتُ الْمَالُ دُونَهُ، وَفِي عَكْسِهِ لَا تُسْمَعُ وَلَا يَثْبُتُ، وَإِذَا بَطَلَ فِيمَا هُوَ الْأَصْلُ بَطَلَ فِي التَّبَعِ،

ژباړه وتشريح:- مونډكوى دا ﴿قول دامام محمد (رح)﴾ دا خبره چې مال اصل دې په دې ﴿باب د سرقه﴾ كې. كول تابع دى.تردې چې اوريدې شى خصومت په دې ﴿مال كې﴾ بغيرد كټ كاود نه ﴿مثلاً چې او پرې مطالبه كوم.ماته دې خپل مال راكړې شى.د لاس كټ كاود مطالبه نه كوم.چه د مسروق منه اووانى.زه د مال مطالبه كوم.ماته دې خپل مال راكړې شى.د لاس كټ كاود مطالبه نه كوم.چه د سارق لاس دې كټ كړې شى.نودده دا خصومت اودا دعوه به معتبر وى.اوپه دې به كړوانى كولې شى﴾ اوثابتيږى مال بغيرد لاس كټ كاوه نه ﴿لكه چې دوى [دوه] نفر ديوكس خلاف د غلا ګواهى وركړى چه ده غلا كړې ده.يا غل په خپله د غلا اقراراوكړى.اوبيا په ګواهانوكي يونه دواړه ګواهن دخپل شهادت نه رجوع اوكړى.دغه مقردخپل اقرارنه رجوع اوكړى.نوپه دې صورت كي به په ده باندې د مال مسروقه ضمان وى.چه هغه به مالك اومقر له ته وركوى.اولاس به ئې نشى كټ كولې﴾ اوپه عكس ددې صورت كي ﴿چه دا اووائى.زه د لاس كټ كاوه مطالبه كوم.چه ددې غل لاس دې كټ كړې شى.د مال مسروقه مطالبه نه كوم﴾ نه به شى اوريدلې ﴿خصومت اودعوه دده﴾ اونه به ثابتيږى پرې كول ﴿دلاس بغيرد مال نه.ځكه چې دده په دعوه كي د اصل مطالبه نشته.چه مال دې.اود تابع مطالبه ده.چه قطع ده.حالانكه اعتباراصل لره وى تابع لره نه وى.ددې نه معلومه شوه.چه په باب د سرقه كښې اصل مال دې دلاس پرې كول نه دى﴾ نوهركله چې باطل شو خصومت ﴿اودعوه﴾ په هغه څه كي چې اصل وو ﴿يعنى مال﴾ نوبطليږى به په تابع كي ﴿چه د لاس پرې كول دى.

بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ لِأَنَّ إِقْرَارَهُ بِالْمَالِ الَّذِي فِي يَدِهِ صَحِيحٌ فَيَصِحُّ فِي حَقِّ الْقَطْعِ تَبَعًا

ژباړه وتشريح:- په خلاف د عبدماذون ﴿يعنى كه عبدماذون په خپل خان باندې د غلا اقرار اوكړى. نو دهغه لاس به كټ كولې شى﴾ ځكه چې ده اقراراوكړلو.په مال هغه مال چې په لاس دده كي دې. نو صحيح كيږى به په حق د كټ كولو ﴿دلاس كي﴾ تبعاً ﴿يعنى هركله چې د عبدماذون په مال باندې اقراركول صحيح شو.چه دې اووائى.ما دا مال د فلانى نه غلا كړې دې.نودغه مال به د فلانى مقرله وى.نولكه ځنګه چې ددد اقرارد مال په اړه كي صحيح شو.چه مال اصل دې.نودغه ډول به د لاس كټ كولوپه حق كي هم صحيح شى. ځكه چې دلاس پرې كول په باب د سرقه كي تابع دې.نود عبدماذون لاس به كټ كولې شى.ځكه چې د ده اقرار په اصل باندې چې مال دې صحيح شو.نوپه تبع چې د لاس پرې كول دى.به په طريقه اولى سره صحيح وى﴾

وَلِأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ أَقَرَّ بِشَيْئَيْنِ: بِالْقَطْعِ وَهُوَ عَلَى نَفْسِهِ فَيَصِحُّ عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ. وَبِالْمَالِ وَهُوَ عَلَى الْمَوْلَى فَلَا يَصِحُّ فِي حَقِّهِ فِيهِ، وَالْقَطْعُ يُسْتَحَقُّ بِدُونِهِ، كَمَا إِذَا قَالَ الْحُرُّ الثَّوْبُ الَّذِي فِي يَدِ زَيْدٍ سَرَقْتُهُ مِنْ عَمْرٍو وَزَيْدٌ يَقُولُ هُوَ ثَوْبِي يُقْطَعُ يَدُ الْمُقِرِّ وَإِنْ كَانَ لَا يُصَدَّقُ فِي تَعْيِينِ الثَّوْبِ حَتَّى لَا يُؤْخَذَ مِنْ زَيْدٍ.

ژباړه وتشريح:- اودامام ابويوسف رحمه الله دليل دا دې.چه ده ﴿عبد﴾ اقراركړې دې د دوو څيزونو ﴿يو﴾ په كټ كولو ﴿دلاس﴾ اودا ﴿كټ كول﴾ په نفس دده ﴿غلام﴾ باندې واقع كيږى.نودا به صحيح شى.بناء په هغه چې موږ ذكر كړلو ﴿چه دكټ كولوپه حق كي دده اقرارصحيح كيږى.اودويم﴾ په مال باندې ﴿ئې اقراركړې دې﴾ اودا ﴿اقراربالمال﴾ په مولى باندې واقع كيږى.نونه صحيح كيږى ﴿دا اقرار﴾ په حق د ده ﴿مولى كښې﴾ په دې ﴿مال﴾ كي .او پرې كول واجبيږى بغيرد دې ﴿مال﴾ نه،لكه كله چې اووائى.آزاد سړې كالى هغه چې په لاس د زيد كي ده.غلا كړې وه ما د بكر نه،اوزيد وائى چې دا زماكالى ده.نوكټ كولې به شى په دې ﴿اقرار﴾ باندې ﴿لاس د﴾ اقراركونكى،اګرچه ﴿دغلام﴾ تصديق نشى كولې په تعين دكالى كي هم دا وجه ده.چه نشى اخستې دغه كالى ﴿چه مقرغلام پرې دعوه كړې ده﴾ د زيد نه، ﴿يعنى كه زيددا اووئيل.چه دبكرپه لاس كي كومه كالى ده.دا ما غلا كړې ده.اوزيد وائى.چه دا زماكالى

ده.نوپه دې صورت کې به د مقرلاس کټ کولې شی.اګرچه د کالی په تعین کې د غلام تصدیق نشی کولې.چه هم هغه کالی به مقرغلا کړي وی.دکومې دغلا چې هغه اقرارکړې وی.نوکه دې ته اوکتلې شی.چه د جامې په تعین کې د مقر تصدیق نشی کولې.نوبیا پکار دا ده.چه دده لاس هم نشی کټ کولې.ځوددې باوجود دجامې په حق کې به دده تصدیق نشی کولې.اولاس به ئې کټ کولې شی﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الْإِقْرَارَ بِالْقَطْعِ قَدْ صَحَّ مِنْهُ لِمَا بَيَّنَّا فَيَصِحُّ بِالْمَالِ بِنَاءً عَلَيْهِ

ژباړه وتشریح:- اودامام ابوحنیفهؒ لپاره دلیل دې.چه اقرارپه ﴿حق د﴾ کټ کولوکې صحیح کیږی دده ﴿غلام﴾ د هغې امله چې موږ بیان کړلو ﴿یعنی دآدمیت په حیثیت سره که غلام په خپل ځان باندې د غلا کاوه اقراراوکړی.نودده اقراربه صحیح ګڼړلې شی.اوددې اقرارپه وجه به د ده لاس کټ کولې شی.نوهرکله چې د کټ کولوپه حق کې دغلام اقرارصحیح کیږی.﴾ نوصحیح کیږی به ﴿اقراردده﴾ په حق د مال کې د امله د بناء نه په دې ﴿کټ کولو﴾ باندې ﴿یعنی په باب د سرقه کې دامام ابوحنیفهؒ په نیز پړې کول اصل دې.اومال تابع دې.نوهرکله چې داصل چې پړې کول دی.په اړه کې د غلام اقرارصحیح دې.نود.غه ړول به د تابع چې مال دې په حق کې هم دده اقرار صحیح وی﴾

لِأَنَّ الْإِقْرَارَ يُلَاقِي حَالَةَ الْبَقَاءِ، وَالْمَالُ فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ تَابِعٌ لِلْقَطْعِ حَتَّى تَسْقُطَ عِصْمَةُ الْمَالِ بِاعْتِبَارِهِ وَيُسْتَوْفَى الْقَطْعُ بَعْدَ اسْتِهْلَاكِهِ

ژباړه وتشریح:- ځکه چې اقرارملاقات کوی د حالت د بقاء سره ﴿یعنی اقراربه هله صحیح کیږی.چه مقربه موجوداوپاته وی.اوکه مقربه موجود نه وی.نوبیا به اقرارنه صحیح کیږی﴾اومال په حالت د بقاء کې تابع دې د کټ کولونوساقطیږی عصمت د مال په اعتبارد کټ کولو ﴿یعنی په باب د سرقه کې مال تابع دې. او پړې کول اصل دې.اوپه دې باندې دلیل دا دې.چه کله د غل لاس کټ کړې شی.نودغه مال چې وړاندې محفوظ وو اومتقوم وو.غیرمتقوم اوګرځیدلو.تردې دغه مال چې یوځل پړې د سارق لاس کټ شوې وی. دوباره ئې سارق غلا کړی.نودوباره به دهغه لاس نشی کټ کولې.نوهرکله چې د قطع په وجه مال متقوم او غیر متقوم په نورو الفاظوکې معصوم اوغیرمعصوم ګرځی.نومعلومه شوه.چه په دې باب کې قطع اصل دې اومال تابع دې﴾ اوکټ کولې به شی لاس روسته دهلاکت د مال نه ﴿اود قطع په اصلیت باندې دوهم دلیل دا دې.که سارق غلا اوکړی.اوپه ده باندې د قطع حکم جاری شی.اوددې نه روسته مال مسروق، هلاک شی.نوهم به لاس کټ کولې شی.نوکه چرته مال اصل وو.اوقطع تبع وه.نوپکاردا وه.چه د مال دهلاکت نه روسته قطع هم ساقط شوې وه.ځکه چې اصل هلاک شی.نود تبع حکم خوپه هغې مرتب وی.د تبع حکم هم ختمیږی.خودلته داسې نه ده.نومعلومه شوه.چه قطع اصل اومال تبع ده﴾

بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْحُرِّ لِأَنَّ الْقَطْعَ إِنَّمَا يَجِبُ بِالسَّرِقَةِ مِنَ الْمُودَعِ. أَمَّا لَا يَجِبُ بِسَرِقَةِ الْعَبْدِ مَالَ الْمَوْلَى فَافْتَرَقَا

ژباړه وتشریح:- په خلاف د مسئله د آزاد ﴿دا دامام ابویوسفؒ دهغه مسئلې نه ځواب دې.کومه چې هغوی د خپلې مدعاد تائید لپاره د نظیرپه شکل پیش کړې وه. که یوآزاد سړی دا اووئیل.چه د زید په لاس کې کومه کالی ده.دا ما غلا کړې وه.اوزیدوائی.چه نه دا زما خپله کپړه ده.نوپه دې صورت کې به ددې مقرلاس کټ کولې شی.اودغه کپړه به د بکرنه نشی اخستې.نومصنفؒ دهغې نه ځواب کوی.چه د آزاد مسئله د غلام د مسئلې نظیرنشی جوړیدې﴾ ځکه چې کټ کول ﴿دلاس﴾ واجبیږی په غلا کولوسره د امانت دار نه ﴿نودا ممکن ده.چه آزاد سړی دکوم کس نه غلا کړې وی.جامه دهغه نه وه.بلکه د دغه زیدوه.د چا په لاس کې چې دې اقرارکونکی لیدلې وه.خوهغه د زید سره امانت کیخودې وه.اودې اقرارکونکی دهغه نه غلاکړې وی.اودا مسئله ده.که د امانتدارنه غلا اوشی.نوهم به د غل لاس کټ کولې شی﴾ حالانکه نه واجبیږی پړې کول ﴿دلاس﴾ په غلا کولوسره د مولی نه نودواړه صورتونه جلا شو. ﴿نویودبل نظیرنشی جوړیدې.ځکه چې آزاد په مسئله کې د امانتدارنه په غلا کولوسره دلاس پړې کول واجبیږی. او د غلام په

مسئله کي د مولى نه په غلا کولوسره لاس پرې کول نه واجبيږى

وَلَوْصَدَّقَهُ الْمَوْلَى يُقْطَعُ فِي الْفُصُولِ كُلِّهَا لِزَوَالِ الْمَانِعِ.

ژباړه وتشريح:- اوکه تصديق ئې اوکړى مولى «يعنى مولى ورسره هم دا اومنى.چه آو دا څيزده غلا کړې دې» نولاس به ئې کټ کولای شى په صورتونو ټولوکي «يعنى که عبدماذون وى اوکه غيرماذون وى.دغه دول که مال مسروقه هلاك شوې وى اوکه پاته وى» د امله د ختميدو د مانع «دقطع اود وجود د مقتضى د قطع.چه اقراردې.يعنى په دې صورتونوکي لاس څکه کټ کولې شى.چه اقرارموجود شوې دې.اود غلا اقرارکول موجب د قطع دې.اومانع هم ختم شو.څکه دغلام اقرار به هله غيرمعتبر وو.چه مولى ئې تکذيب کولو.څکه چې دهغه حق وربورې متعلق وو.اوچه هغه ئې تصديق کوى.نومانع هم نشته.نوچه موجب دقطع وى.اومانع نه وى. قطع به لازماً راځى»

دلاس کټ کولونه روسته د مال مسروقه مالك ته دواپس کولواحکام

قَالَ (وَإِذَا قُطِعَ السَّارِقُ وَالْعَيْنُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ رُدَّتْ عَلَى صَاحِبِهَا) لِبَقَائِهَا عَلَى مِلْكِهِ (وَإِنْ كَانَتْ مُسْتَهْلَكَةً لَمْ يَضْمَنْ) وَهَذَا الْإِطْلَاقُ يَشْمَلُ الْهَلَاكَ وَالْاِسْتِهْلَاكَ، وَهُوَ رِوَايَةُ أَبِي يُوسُفَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَهُوَ الْمَشْهُورُ. وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْهُ أَنَّهُ يَضْمَنُ بِالْاِسْتِهْلَاكِ.

حل اللغة: ① **الهلاک:** په خپله د يو څيز هلاکيدل ② **الاستهلاک:** د بل څيز هلاکول متعدى صيغه ده

ژباړه وتشريح:- اوکله چې کټ کړې شى لاس دسارق،اوعين «مسروقه» موجود وى په لاس دده «سارق» کي .نوواپس کولې به شى صاحب خپل ته «مسروق منه»د امله د پاته پاتې کيدو ددې «مال مسروقه» په ملك دهغه «مسروق منه» کي ،اوکه وى «مال مسروقه» هلاك شوې نه به شى تاوانى کولې «سارق» اودا اطلاق «دابو الحسين قدورى چې وان کانت چې مسروقه منه ترې د مال مسروقه تاوان واخلى» اودا اطلاق «دابو الحسين قدورى چې وان کانت هالکه» شامليږى هلاك «چه مال مسروقه په خپله هلاك شوې وى.لکه څه څناوروى.اومړشى» اوداستهلاك ته «چه سارق هلاك کړې وى.لکه مال مسروقه ګډ وى.اودې ئې مړکړى» اودا «برابرى په حکم د هلاك او استهلاك کي» روايت دابويوسفﷺ دې د امام ابوحنيفهﷺ نه،اوهم دا روايت مشهور دې. «چه دهلاك اواستهلاك په مينځ کي څه توپير نشته» اوروايت کړې دې امام محمدﷺ د ابوحنيفهﷺ نه .چې داغل ضامن کيږى په صورت د استهلاك کي «يعنى چې مال مسروقه په خپله نه وى هلاك شوې.بلکه سارق هلاك کړې وى. نوپه سارق باندې به دمال مسروقه تاوان وى.هغه به مسروق منه ته ورکوى»

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَضْمَنُ فِيهِمَا لِأَنَّهُمَا حَقَّانِ قَدْ اخْتَلَفَ سَبَبَاهُمَا فَلَا يَمْتَنِعَانِ فَالْقَطْعُ حَقُّ الشَّرْعِ وَسَبَبُهُ تَرْكُ الْاِنْتِهَاءِ عَمَّا نُهِيَ عَنْهُ. وَالضَّمَانُ حَقُّ الْعَبْدِ وَسَبَبُهُ أَخْذُ الْمَالِ فَصَارَ كَاسْتِهْلَاكِ صَيْدٍ مَمْلُوكٍ فِي الْحَرَمِ أَوْ شُرْبِ خَمْرٍ مَمْلُوكَةٍ لِذِمِّيٍّ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلى دى امام شافعىﷺ چې ضامن کيږى «سارق» په دواړوکي «که صورت د هلاك دې اوکه د استهلاك.اودليل دا بيانوى.چه» دا دواړه «قطع اوضمان» دوې [دوه] حقونه دى.چه مختلف دى سببونه ددې.نونه به منع کيږى يوحق په بل باندې، «يعنى که لاس کټ شى.ددې امله ضمان نه ساقطيږى.اوکه په سارق باندې ضمان راشى.نوددې امله به پرې کول نه ساقطيږى.اود سبب د اختلاف بيان دا دې.چه» پرې کول «دلاس» حق دشرع دې.اوسبب ددې «قطع» نه منع کيدل دهغه څه نه چې دى منع شوى ده دهغې نه «چه غلا ده» اوضمان حق د بنده دې،اوسبب ددې «ضمان» اخستل د مال دى. «چه سارق د يوبنده مال په ناجائزه واخستل.اوهغه ضائع شو.نودې به ئې تاوان منى» نوشو «حکم ددې صورت څنګه چې ذکرشو» پشان د هلاکاوه د ښکارمملوك په حرم کي ، «يعنى څوك چې په حرم کي دچا مملوك ښکار قتل کړى.نوپه هغه باندې يودهغه ښکارتاوان دې.چه مالك ته به ئې ورکوى.اوبل پرې دم جنايت دې.څکه چې د حرم توهين ئې اوکړلو» اويا «شو دا مسئله زيربحث» پشان د څښلو د شرابو چې

مملوك وی د ذمی ﴿په نیز د احنافو رحمهم الله یعنی داحنافودا مسلك دې.که یوکس د ذمی شراب هلاك کړلو.نو په هغه باندې د شرابو تاوان شته.چه د شرابو قیمت به ذمی ته ورکوی﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا غُرْمَ عَلَى السَّارِقِ بَعْدَ مَا قُطِعَتْ يَمِينُهُ} (١) وَلِأَنَّ وُجُوبَ الضَّمَانِ يُنَافِي الْقَطْعَ لِأَنَّهُ يَتَمَلَّكُهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ مُسْتَنِدًا إلَى وَقْتِ الْأَخْذِ، فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ فَيَنْتَفِي الْقَطْعُ لِلشُّبْهَةِ وَمَا يُؤَدِّي إلَى انْتِفَائِهِ فَهُوَ الْمُنْتَفِي،

ژباړه وتشریح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.چه نشته تاوان په غل باندې روسته ددې نه چې کټ کړې شی راسته لاس دده، ﴿دا دلیل نقلی شو.اودلیل عقلی دا دی﴾ اوبله دا چې وجوب تاوان ﴿په سارق باندې﴾ منافی دې د کټ کولو ﴿دلاس﴾ سره، ځکه چې دا سارق مالك جوړیږی د مال مسروقه په ادا کاوه د تاوان نسبت به کولای شی ددې ﴿ملکیت﴾ وخت د اخستلو ﴿اوغلاکولو﴾ ته، ﴿یعنی چې مال مسروقه هلاك شی. او سارق دهغې تاوان ورکړی.نودې د مال مسروقه مالك شو.خوددې ملکیت نسبت به هغه وخت ته کیږی.په کوم وخت کې چې ده دغه مال مسروقه غلا کړې وو.﴾ نوښکاره شوه.چه دا واقع شوې ده په ملکیت دده کې ، ﴿یعنی داسې به ګنړلې شی.چه دا مال مسروقه د سارق په ملکیت کې دغلا په وخت کې راغلې وو﴾ نونفی به شی پرې کول ﴿دلاس﴾ د امله د شبه نه ﴿یعنی دا شبه پیدا شوه.چه سارق د داسې مال غلا کړې دې.چه هغه دده خپل ملکیت وو.ځکه چې دهغې تاوان ئې ادا کړلو﴾ اوکوم څیزچه سبب وی د نفی کاوه ددې ﴿قطع﴾ نوهغه به ﴿په خپله﴾ منتفی وی. ﴿یعنی په باب د سرقه کې که یو شی داسې وی.که هغه مونږ لازم کړو.نودهغې په وجه دلاس پرې کول ساقطیږی.نوهغه څیزبه په خپله ساقط الاعتباروی.دا نه چې هغه دې لازم کړې شی.اودهغې په وجه دې حدساقط کړې شی﴾

وَلِأَنَّ الْمَحَلَّ لَا يَبْقَى مَعْصُومًا حَقًّا لِلْعَبْدِ، إذْ لَوْ بَقِيَ لَكَانَ مُبَاحًا فِي نَفْسِهِ فَيَنْتَفِي الْقَطْعُ لِلشُّبْهَةِ فَيَصِيرُ مُحَرَّمًا حَقًّا لِلشَّرْعِ كَالْمَيْتَةِ وَلَا ضَمَانَ فِيهِ

اوبله ددې امله ﴿په سارق تاوان نشته چې دې مال مسروقه هلاك کړی﴾ چې محل ﴿چه مال مسروقه دې﴾ نه پاتې کیږی محترم، ﴿پس د قطع نه په داسې حال کې﴾ چې دا حق د عبدشی.ځکه که چیرته دا پاتې شی معصوم د امله د حق العبد نه نووو به ﴿دا مال﴾ مباح فی نفسه ﴿وړاندې دقطع نه.ځکه چې دا مباح وی. ځکه چې اصل په ټولو څیزونوکې اباحت دې.الله تعالی فرمائیلی دی ((هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا)) نو مال مسروقه دبنده دحق راتلونه وړاندې مباح وو.نومنتفی کیږی به پرې کول دلاس د امله د شبه ﴿اباحت نه،چه دې سارق داصل په اعتبار سره یومباح څیزغلا کړې دې.اګرچه د بنده د ملکیت راتلونه روسته هغه محترم اوګرځیدلو.خوپه اول کې خو مباح وو،نوددې امله په دغه مال مسروقه کې دوې [دوه] حیثیتونه شو.قبل الملك اباحت،اوبعدالملك تحریم،نوهرکله چې اباحت اوتحریم جمع شو.په دې سره شبه پیدا شوه.اوپه شبه باندې حد ساقطیږی﴾ نوګرځی حرام د امله دحق الشرع،پشان د مردارې، ﴿یعنی لکه څنګه چې د مردارې نه خوړل حق الشرع ده.نودغه ډول دلته هم د بل چا مال سرقه کول د حق الشرع په وجه حرام دی.چه شریعت دا حکم کړې دې.چه دچا مال به نه غلا کوئ﴾ اوپه حق الشرع کې ضمان نه وی. ﴿مثلاً که یوکس مرداره اوخوړه.نودا حق الشرع دې.په ده باندې ضمان او تاوان نشته.نودغه ډول دلته چې سارق کوم مال غلا کړې اودهغې په بدله کې د سارق لاس کټ کړې شی.اود قطع نه روسته سارق سره هغه

---

١) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج ما هو بمعناه من حديث عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال لا يغرم صاحب السرقة إذا أقيم عليه الحدأخرجه النسائی فی قطع السارق رقم ٤٩٨٤ كذا فی نصب الرأية ٣/٥٧٧)_

مال هلاك شي.په ده باندې به ضمان نه وي.ځکه چې ددې څيزمعصوميت د حق الشرع د امله وو.اوپه حق الشرع کې ضمان نه وي﴾

إِلَّا أَنَّ الْعِصْمَةَ لَا يَظْهَرُ سُقُوطُهَا فِي حَقِّ الِاسْتِهْلَاكِ لِأَنَّهُ فِعْلٌ آخَرُ غَيْرُ السَّرِقَةِ وَلَا ضَرُورَةَ فِي حَقِّهِ، وَكَذَا الشُّبْهَةُ تُعْتَبَرُ فِيمَا هُوَ السَّبَبُ دُونَ غَيْرِهِ.

زباړه وتشريح:- ﴿دا راروان ځواب دسوال مقدر دې.تقديردسوال دا دې چه کله عصمت الله تعالى ته منتقل شو.اومال مسروقه د مرداري پشان شو.نوپکاردا ده.چه د استهلاك په صورت کې په سارق باندې ضمان نه واجب کيدلو.حالانکه امام محمد رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل کړې دي.چه د استهلاك په صورت کې به په سارق باندې ضمان وي.نوددې تقديري سوال ځواب ورکوي اوفرمائي﴾ البته دومره ده.چه عصمت نه ښکاره کيږي په ساقط کيدو ددې ﴿ضمان﴾ په حق د استهلاك کې . ﴿يعنى چې سارق مال مسروقه هلاك کړي.نوپه هغه باندې ضمان راځي﴾ ځکه چې دا ﴿يعنى استهلاك﴾ فعل دې بل سوا د سرقه نه ﴿يعنى په سارق باندې چې د استهلاك په صورت کې ضمان راځي.نود سرقه په وجه نه راځي بلکه دا خود سرقه نه علاوه يوبل جرم دې.چه ده د غيرڅيزهلاك کړلو﴾ او نشته اړتيا په حق دبل فعل کې اوغه شان شبه ﴿چه دا مباح فى نفسه وي﴾ هم معتبره وي په هغه ځيزکې چې هغه سبب ﴿دلاس کټ کولو﴾ وي. ﴿چه په دې صورت کې غلا ده﴾ په بل څه کې به ﴿شبه﴾ معتبر نه وي. ﴿يعنى حد به پرې نه ساقطيږي.لکه په دې صورت کې چې استهلاك دې يعنى جرم کې چې استهلاك دې. لنډيز دا چې دمال مسروقه عصمت زيربحث مسئله کې چې زائله شوې دې.د لاس کټ کاوه د اړتيا د وجې،يعنى چې لاس کټ شي. نودلاس په کټ کولوباندې مال معصوم پاتې نشو.بلکه عصمت ئې زائله شو.ترديې که دغه مال مسروقه بيا غلا کړي.نوپه دوهم ځل به دهغې په غلا د سارق لاس نشي کټ کولي.ځکه چې هغه غيرمحترم پاتې شوې دې.اودا قاعده ده.چه کوم څيزد اړتيا په وجه ثابت شي.هغه به د اړتيا پورې محدود وي.بل څيزته به هغه حکم نه متعدي کيږي.نودلته په زيربحث مسئله کې دقطع نه روسته مال غيرمعصوم دې.په سارق ضمان نه راځي.خوچه کله سارق په خپله مال هلاك کړي.نوپه دې صورت کې چونکه د ضمان لپاره استهلاك يوجدا سبب موجود شو.ځکه به د استهلاك په صورت کې ضمان واجب وي﴾

وَوَجْهُ الْمَشْهُورِ أَنَّ الِاسْتِهْلَاكَ إِتْمَامُ الْمَقْصُودِ فَتُعْتَبَرُ الشُّبْهَةُ فِيهِ، وَكَذَا يَظْهَرُ سُقُوطُ الْعِصْمَةِ فِي حَقِّ الضَّمَانِ لِأَنَّهُ مِنْ ضَرُورَاتِ سُقُوطِهَا فِي حَقِّ الْهَلَاكِ لِانْتِفَاءِ الْمُمَاثَلَةِ.

حل اللغة:الانتفاء:نفى کول ② المماثلة:يوشان والي

زباړه وتشريح:- اووجه دمشهو روايت ﴿چه داستهلاك په صورت کې هم په سارق باندې تاوان نشته.لکه څنګه چې د هلاك په صورت کې نشته﴾ دا ده.چه استهلاك پوره کول د مقصود دى. ﴿يعنى سارق چې يو شى غلا کوي.ددې لپاره ئې غلا کوي.چه زه دا په خپله فائده راولم. نو غل چې مال مسروقه هلاك کړي.دا څه جلا جرم نه دې.بلکه هم د سرقه جرم اتمام ته اورسيدلو.نوهرکله چې جدا فعل نشو.بلکه هم د سرقه تکميل شو﴾نومعتبره به وي شبه په دې استهلاك کې ﴿يعنى که داستهلاك په صورت کې داباحت شبه راشى.نوچونکه استهلاك څه جلا جرم نه دې.بلکه د مقصد په اعتبار سره د سرقه تکميل دې.اوسرقه سبب د کټ کولودلاس دې.نوپه استهلاك کې شبه راتګ په ثبوت سرقه کې شبه راتګ دى﴾ اودغه ډول ښکاره کيږي سقوط د عصمت په حق د ضمان کې ﴿په صورت د استهلاك کې﴾ ځکه چې دا ﴿سقوط دعصمت﴾من جمله د ضروورياتو د ددې ﴿عصمت﴾ دې په صورت د هلاك کې ،د املـه د نشتوالى د مماثلت نه ﴿په مينځ د مال مسروقه اوضمان کې ،ځکه چې ضمان مال معصوم دې لپاره دحق العبد په دواړو صورتونوکې هلاك او استهلاك کې .اومال مسروق د حق العبد په وجه صرف په صورت د استهلاك کې معصوم دې.نوهرکله چې مماثلت نشته.نوضمان هم منتفي شو﴾

په ګڼو غلاګانو کښې د لاس کټ کولو حکم

قَالَ (وَمَنْ سَرَقَ سَرِقَاتٍ فَقُطِعَ فِي إِحْدَاهَا فَهُوَ لِجَمِيعِهَا، وَلَا يَضْمَنُ شَيْئًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ()وَقَالَا: يَضْمَنُ كُلَّهَا إلَّا الَّتِي قُطِعَ لَهَا) وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ إذَا حَضَرَ أَحَدُهُمْ، فَإِنْ حَضَرُوا جَمِيعًا وَقُطِعَتْ يَدُهُ لِخُصُومَتِهِمْ لَا يَضْمَنُ شَيْئًا بِالِاتِّفَاقِ فِي السَّرِقَاتِ كُلِّهَا.

ژباړه وتشریح:- اوچا چې اوکړې غلاګانې نوکټ کړې شو «لاس دهغه» په یوه غلا کې ددغو نه، نودغه «پرې کول د لاس واقع کیږی» د ټولو دپاره، «په اتفاق دامامانو ﷺ، ځکه چې قطع تداخل قبلوی په اجماع سره» اونه ضامن کیږی د هیڅ څیزپه نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائی صاحبین رحمهما الله چې ضامن کیږی په ټولوغلاګانوکې «یعنی سارق به نورو مالکانوته تاوان ورکوی» مګرپه هغه «سرقه» کې چې کټ شوی وی «لاس دسارق» په هغې کې ،اومطلب د مسئلې دا دې.چه کله حاضروی «په وخت د کټ کولو کې» یوپه دوی «مسروق منهم» کې ، «اوهغه دعوه د سرقه اوکړی.چه ده زما نه غلا کړې ده» نوکه چرته حاضر وی واړه «مسروق منهم» اوکټ کړې شو «لاس د سارق» د امله د خصومت «مقدمه درج کولو» ددوی نه، «یعنی دغه ټولومالکانوپه سارق باندې دغلا دعوه کړې وه» نو نه ضامن کیږی «سارق» د هیڅ څیزپه اتفاق سره په ټولو «غلاګانو» کې .

لَهُمَا أَنَّ الْحَاضِرَ لَيْسَ بِنَائِبٍ عَنْ الْغَائِبِ. وَلَا بُدَّ مِنْ الْخُصُومَةِ لِتَظْهَرَ السَّرِقَةُ فَلَمْ تَظْهَرْ السَّرِقَةُ مِنْ الْغَائِبِينَ فَلَمْ يَقَعْ الْقَطْعُ لَهَا فَبَقِيَتْ أَمْوَالُهُمْ مَعْصُومَةً.

حل اللغة: ① الخصومة جګړه ② معصومة محفوظ

ژباړه وتشریح:- د دواړو «صاحبینو(رح)» لپاره دلیل دا دې.چه حاضرنه دې نائب د غائب نه «چه د حاضر خصومت د غائبینونه اوګرځو.ځکه چې مسئله دا ده» نشته مخلص د خصومت نه چې ښکاره شی سرقه «یعنی داثبات د سرقه لپاره دا ضروری ده.چه مالك به دسرقه خلاف دقاضی په عدالت کې دعوه کړې وی چه غلاثابته شی.اوپه زیربحث مسئله کې دغائبینومالکانود اړخه دعوه نشته.» نونه ښکاره کیږی سرقه دغائبینو داړخه «ځکه چې هغوی دعوه نه ده کړې.اوچه دهغوی د اړخه د سرقه ثبوت نشته» نوواقع نشو پرې کول دهغې سرقه لپاره «یعنی د غائبینود سرقه په سزا کې دغل لاس کټ نشو.اوهرکله چې د هغوی د مالونوپه سزا کې قطع واقع نشو» نوپاته پاتی شو مالونه دهغوی معصوم «ځکه چې د دغه مالونوپه سزا کې قطع نه ده واقع شوې.نو لنډیز دا چې دا لاس پرې کول صرف د هغه سرقه لپاره شو.کومه چې د مسروق منه په دعوه اوخصومت سره ثابته شوې وه»

وَلَهُ أَنَّ الْوَاجِبَ بِالْكُلِّ قَطْعٌ وَاحِدٌ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى لِأَنَّ مَبْنَى الْحُدُودِ عَلَى التَّدَاخُلِ وَالْخُصُومَةُ شَرْطٌ لِلظُّهُورِ عِنْدَ الْقَاضِي، فَإِذَا اسْتَوْفَى فَالْمُسْتَوْفَى كُلُّ الْوَاجِبِ، أَلَا يُرَى أَنَّهُ يَرْجِعُ نَفْعُهُ إلَى الْكُلِّ فَيَقَعُ عَنْ الْكُلِّ،

ژباړه وتشریح:- اودامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې چه واجب په ټولوغلاګانو پرې کول دی یوځل، «یعنی که سارق یوه غلا کړې وی اوکه شل غلاګانې ئې کړې وی د ټولوپه بدله کې به صرف یولاس کټ کیږی» دالله تعالی د حق دپاره «یعنی لاس پرې کول حق الله اوحق الشرع دې.اود ټولوسرقاتو لپاره یوځل لاس پرې کول ځکه کافی کیږی.چه» بناء د حدودو په تداخل دې «یعنی که د یوجنس د یرجرمونه وی.نود هغې ټولو لپاره چې یوځل حد قائم شی.د نورو لپاره هم دغه حدحسابیږی.مثلاً یوکس لس ځله شراب اوڅکل.اوپه لسم ځل ورته اتیا کوړې ملاؤ شوې.نودا اتیا د لس واړو لپاره کافی دی» اوخصومت شرط د ښکاره کیدودې په حضوردقاضی «یعنی د سرقه د اثبات لپاره د قاضی په عدالت کې د مسروق منه دعوه

---

[1] القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۱۷۲\۵) وردالمحتار(۲۳۱\۳) والهندية (۱۸۵\۲) نقلاً عن القول (۴۷۱\۱)-

اوخصومت شرط ده.اوپه مجموعی طوردقاضی په عدالت کي خصومت شوې دي.مثلا ده لس غلاګاني کړې اوخصومت شرط د ښكاره كيدو دي په حضور دقاضی کي ﴿يعني د سرقه د اثبات لپاره دقاضی دي﴾ اوخصومت اودعوه كول شرط دی.اوچه مجموعی سرقاتوته نظراوكړې.نودا شرط هم موجود په عدالت كي. مثلاً زيد د لسو كسانو نه غلاګاني كړې وی.اوپه دغه لسوکي يومسروق منه دعوه اوکړله .نو ګويا شوې دي په ضمن کي د ټولومسروق منهم د اړخه خصومت موجود شو.ځكه چې دا يو مسروق منه هم د چې د دې يو ﴿نه يوكس دې﴾ هرچه وجوب ﴿دلاس كټ كولو﴾ دي. نو هغه په جنايت سره دغه پاته نهه مسروق منهم جنايت دي.چه غلا ده﴾ نوهركله چې پوره شو ﴿دلاس پرې كول يوځل﴾ دي. ﴿يعني دلاس كټ كولوسبب لپاره شو. ﴿يعني دا يوځل لاس پرې كول داسې شو.لكه چې د نو دلاس پرې كول دټولوواجباتو ﴿اې مخاطبه﴾ چې رسيږی فائده ددې ټولوسرقاتوپه سزا کي ورنه لاس كټ كړې شو﴾ ته ګورې نه لاس كټ كولو.چه غل ته سزا وركول دی﴾ ټولو ته.نوواقع كيږی به ﴿دلاس كټ كول﴾ د ټولو سرقانوپه سزا كي ، ﴿يعني دا يوځل لاس كټ كيدل د ټولوسرقاتو لپاره يوه سزا اوتنبيه شوه﴾

وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا كَانَتِ النُّصُبُ كُلُّهَا لِوَاحِدٍ فَخَاصَمَ فِي الْبَعْضِ، وَاللّٰهُ تَعَالٰى أَعْلَمُ.

حل اللغة: ① نصب: جمع د نصيبة برخه

زباړه وتشريح:- اوپه دې خلاف ﴿باندې په مينځ د ابوحنيفه اوصاحبينو رحمهم الله ايشان دا مسئله ده﴾ كله چې وی حصې ټولې ﴿يعني اموال مسروقه چې وی﴾ هغه واړه ديوكس وی.نوهغه ﴿مسروق منه﴾ مخاصمه ﴿دعوه﴾ اوكړی په بعضې کي ﴿مثلاً زيد د بكر نه يوځل دوې [دوه] سوه درهمه،دوباره يوه توله سره زر،اودريم ځل درې تولې سپين زرغلا كړل.اوبكردقاضی په عدالت کي صرف د يوځيزدعوه اوكړی.چه زيد زما نه دوې [دوه] سوه روپۍ كنبت كړی دی.نوپه دې مسئله كي هم دامام ابوحنيفه رحمه الله صرف د دوې [دوه] سوه درهمو په سزا كي به دده لاس كټ كړې شی.اود پاته دوو مسروقو به سارق باندې ضمان نه وی.اوصاحبين رحمهما الله فرمائی.چه دپاته دوو ځيزونوبه په سارق باندې ضمان اوتاوان وی﴾

(بَابُ مَا يُحْدِثُ السَّارِقُ فِي السَّرِقَةِ)

زباړه:- ﴿دا﴾ باب ﴿ثابت دي﴾ په هغه څه کي دي.چه پيدا كيږی غل ته په غلاكي.

(وَمَنْ سَرَقَ ثَوْبًا فَشَقَّهُ فِي الدَّارِ بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ أَخْرَجَهُ وَهُوَ يُسَاوِي عَشَرَةَ دَرَاهِمَ قُطِعَ) [1] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يُقْطَعُ لِأَنَّ لَهُ فِيهِ سَبَبَ الْمِلْكِ وَهُوَ الْخَرْقُ الْفَاحِشُ فَإِنَّهُ يُوجِبُ الْقِيمَةَ وَتَمَلُّكَ الْمَضْمُونِ وَصَارَ كَالْمُشْتَرِي إِذَا سَرَقَ مَبِيعًا فِيهِ خِيَارٌ لِلْبَائِعِ

حل اللغة: ① شق: وې شلول ② الخرق: ځيرېوالې ③ الفاحش: زيات

زباړه وتشريح:- اوچاچه غلا كړله كپړه،نو ځيرې ئې كړه په كوركي په مينځ،اوبيا ئې راوويستله.اووه دغه ﴿ځيرې شوې﴾ برابره د لسو روپو سره، ﴿يعني دكټ كولونه روسته هم دهغې قيمت لس روپۍ وو﴾ كټ كولې به شی ﴿لاس دده﴾ اود نيزدامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه نه به شی كټ كولې ﴿لاس د دې سارق﴾ ځكه چې د ده﴿سارق﴾ لپاره په دې ﴿كپړه مسروقه﴾ كي سبب د ملك دې.اوهغه ﴿سبب د ملك﴾ ځيرې والې ډير دې.اودا ﴿ډيرځيرې والې﴾ واجبوی قيمت ﴿د دغه مال مسروقه په سارق باندې﴾ اومالك كيږی ئې ﴿سارق﴾ په ضمان سره ﴿يعني هركله چې سارق په دغه مسروقه كپړه کي ډيرتصرف اوكړلو.نودغه كالی داسې پاتې نشوه.چه مالك ته ئې واپس كړی.ځكه چې دهغه نه په جوړحالت كي غلا شوې وه.اواوس دوې [دوه] ټكړې ده.نوپه دې سارق باندې به د دغه جامې تاوان لازميږی.چه دهغې

[1] القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(۱۷۳\۵) وردالمحتار(۲۳۱\۲) والهندية (۱۸۵\۱) والبحرالرائق (۶۶\۵) نقلاً عن القول الراجح (۴۷۲\۱)-

څه قیمت وی.هغه به مالك ته ورکوی.اوددغه قیمت په اداکولوبه دا سارق د مسروقه مالك جوړ شی.نوهرکله چې دې ئې مالك شو.نوپه مال مسروقه باندې د مسروق منه په ملکیت کې شبه راغله.اوپه شبه باندې حدساقطیږی.ځکه به دده لاس نشی کټ کولې﴾ اواوګرځیدلو دا صورت پشان د اخستونکی کله چې دې ﴿مشتری﴾ غلا کړی ﴿داسې﴾ مبیعه چې اختیاروی په هغې کې د بائع لپاره ﴿یعنی چې زید بکرته اووائی.دا کپړه ما په تاباندې خرڅه کړه.خوماته به درې ورځې اختیاروی.که غوارم درکړم.اوکه غوارم.نونه به ئې درکوم.په دې مهال کې مشتری دغه مبیعه پټه کړله.نوپه دې سرقه باندې د مشتری لاس نشی کټ کولې.ځکه چې دلته د ملکیت سبب، موجود دي.دغه ډول به په زیربحث مسئله کې هم لاس نشی کټ کولې.ځکه چې د ملکیت سبب موجود دې.چه مسروق منه ته د کپړې قیمت دتاوان په طور ادا کول دی﴾

(وَلَمَّا أَنَّ الْأَخْذَ وُجِدَ سَبَبًا لِلضَّمَانِ لَا لِلْمِلْكِ، وَإِنَّمَا الْمِلْكُ يَثْبُتُ ضَرُورَةَ أَدَاءِ الضَّمَانِ كَيْ لَا يَجْتَمِعَ الْبَدَلَانِ فِي مِلْكٍ وَاحِدٍ وَمِثْلُهُ لَا يُورِثُ) الشُّبْهَةَ

ژباړه وتشریح:- اودطرفینو رحمهما الله لپاره دا دلیل دې.چه اخستل ﴿داسې چې په هغې کې غبن فاحش وی﴾ مقررشوې دې چې دا سبب شی د تاوان ﴿یعنی چې زید دبکرنه څه څیزواخستل.اوپه هغې کې ئې غبن فاحش راوستلو.نوپه غبن فاحش راتلوسره په زیدباندې تاوان لازمیږی﴾ نه د ملك ﴿یعنی غبن فاحش راوستل د ملکیت سبب نه دې.بلکه د تاوان سبب دې.که د ملکیت سبب وې.نوبیا که به د یوکس د بل کس سره یوڅیز خوښ نه وو.هغه به ئې تری اخستل،اوپه هغې کې به ئې غبن فاحش راوستلو.اوورته به ئې وئیل.چه دا شی زما شو.تاته به زه تاوان درکړم.حالانکه داسې نه ده.اوکه ته وائې.چه ملکیت پرې ولې نه راځی.نوموږ وایو.چه﴾ ملك ثابتیږی ﴿په دغه مال ماخوذه یا مسروقه باندې﴾ دسارق لپاره د امله د اړتیا نه چې ادا کول د تاوان دی. ﴿مسروق منه ته.یعنی صحیح ده چې په مال مسروقه باندې د سارق ملکیت راغلو.خوددې امله نه چې غبن فاحش ئې په کې راوستلو.بلکه ددې امله چې تاوان ئې ورته ورکړلو.اودا دتاوان اداکولونه روسته په مسروقه باندې موږ د سارق ملکیت ځکه ثابت کړلو.چه﴾ جمع نه دی دوې [دوه] بدله په یو ملك کې، ﴿چه ملك د سارق دې.یعنی که کپړې هم د مسروق منه ته واپس کړی.اوتاوان ورته هم ورکړی.نودا به د مسروق منه په قبضه کې دوې [دوه] شیان (څیزونه) راشی.بدل چې ضمان دی.اومبدل منه چې کپړې دی.اودا ناجائزده﴾ اوپه مثل ددې ﴿یعنی د داسې اخستلوچه سبب د ضمان وی﴾ نه پیدا کوی شبه ﴿ځکه چې دا غبن فاحش راوستل دملیکت لپاره نه دې مقرر شوی﴾

كَنَفْسِ الْأَخْذِ، وَكَمَا إِذَا سَرَقَ الْبَائِعُ مَعِيبًا بَاعَهُ،

ژباړه وتشریح:- لکه څنګه چې صرف اخستل ﴿سبب د ملك نه دې.چه غبن فاحش په کې نه وی راغلې.نودا شبه معتبر نشوه.اوچه شبه معتبر نشوه.نولاس به کټ کولې شی﴾ اولکه څنګه چې غلا کړی بائع عیب داره مبیعه چې خرڅه کړې ئې وی. ﴿یعنی که زید په بکرباندې یو څیزخرڅ کړلو.خوپه هغې کې عیب وو.اوهغه عیب ئې ورته نه وو خودلې.اود خرڅولو نه روسته زید د بکرنه هم هغه مبیع غلا کړله.نوپه دې غلا کې به د زیدبائع لاس کټ کولې شی.اګرچه دا شبه موجود ده.که مشتری په عیب باندې خبرشوې وو. کیدای شی.چه ده ته ئې واپس کړې وو.نولکه څنګه چې دې شبه ته څه اعتبارنشته.دغه ډول په زیربحث مسئله کې د ملکیت شبه ته هم څه اعتبارنشته.لکه څنګه اعتبارچه ورته امام ابویوسف رحمه الله ورکوی﴾

بِخِلَافِ مَا ذَكَرَ، لِأَنَّ الْبَيْعَ مَوْضُوعٌ لِإِفَادَةِ الْمِلْكِ، وَهٰذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَا اخْتَارَ تَضْمِينَ النُّقْصَانِ وَأَخْذَ الثَّوْبِ، فَإِنْ اخْتَارَ تَضْمِينَ الْقِيمَةِ وَتَرْكَ الثَّوْبِ عَلَيْهِ لَا يُقْطَعُ بِالِاتِّفَاقِ، لِأَنَّهُ مَلَكَهُ مُسْتَنِدًا إِلَى وَقْتِ الْأَخْذِ فَصَارَ كَمَا إِذَا مَلَكَهُ بِالْهِبَةِ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً،

حل اللغة: ① **موضوع**:مقررشوې ده ② **تضمین**:تاوانی کول

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه صورت چې ذکرکړې دې امام ابویوسف رحمه الله ﴿هغه امام ابویوسف رحمه الله د مقیس

علیه نه خواب کوی. کومه چې په دې قول سره ذکرشوې چې ((وصارکالمشتری إذا سرق معیباً فیه خیارللبائع)) عبارت دې﴾ ځکه چې بیع وضع شوې ده لپاره د پیدا کولو د ملك ﴿اوپه زیربحث مسئله کې خوملکیت په وجه د تاوان ادا کولوپه وجه راغلې دې. نوددې قیاس په هغې باندې صحیح نه دې﴾ اودا دغبن فاحش ﴿په مینځ د طرفینواوامام ابویوسف(رح)» په هغه صورت کې دې. چه غوره کړی ﴿مشتری﴾ تاوان اختلاف ﴿په مینځ اواخستل د جامې ﴿یعنی چې مسروق منه دا اووانی. چه دا کپړه دې په مینځ دوې [دوه] اخستل د نقصان اواخستل د جامې ﴿یعنی چې مسروق منه دا اووانی. چه دا کپړه دې په مینځ دوې [دوه] کړې ده. په دې سره ددې قیمت کم شوې دې. دقیمت د کمیدو تاوان به راکوې. اوخپله کالی به راکوې﴾ اوکه ده ﴿مسروق منه﴾ غوره کړلو ضامن کول په قیمت سره اوپرېښول د جامې ﴿یعنی چې سارق ته نې اوونیل. بس ماته د جامې قیمت راکړه. اوجامې ستا شوې. نوپه دې صورت کې﴾ نه به شي کټ کولې ﴿لاس د سارق﴾ په اتفاق سره. ځکه سارق مالك شو د مال مسروقه اضافت کولای شی ددې ملکیت وخت د اخستلو ﴿او غلا کولوته﴾ یعنی دا داسې شوه لکه چې مالك شوې ئې وی دې ﴿سارق﴾ په بخلوسره ﴿یعنی چې غل غلا اوکړی. او مسروق منه ورته دغه شی اوبخی. نوپه هغه صورت کې دا سارق په هبه سره د مال مسروقه مالك شو﴾ او پیدا ئې کړه شبه ﴿په ملکیت کې. چه د غلا کولوپه وخت کښې دا د سارق په ملك کې وو اوکه نه. اوپه شبه سره حد ساقطیږی. نودده لاس به نشی کټ کولې﴾

> وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ النُّقْصَانُ فَاحِشًا، فَإِنْ كَانَ يَسِيرًا يُقْطَعُ بِالْإِتِّفَاقِ لِإِنْعِدَامِ سَبَبِ الْمِلْكِ إِذْ لَيْسَ لَهُ اخْتِيَارُ تَضْمِينِ كُلِّ الْقِيمَةِ

ژباړه وتشریح:- اودا واړه ﴿اختلاف سره دواړه تفصیل نه﴾ په هغه وخت کې دې. چه وی نقصان ﴿په مال مسروقه کې﴾ فاحش ﴿اوفاحش هغې ته وائی. چه په هغې باندې د څیزبعضې برخه ضائع شی. لکه لس ګزه کپړه وی. اویوګز په کې اوسوزی. یا بعضې منفعت فوت شی. لکه اووه ګزه کپړه وی. اویوګز تړې ضائع شی. نو د اووه نه د سړی جامې کیږی. اودشپږو نه نه کیږی. نوپه دې صورت کې بعضې منفعت فوت شو﴾ اوکه چرته وی معمولی نوکټ کولې به شی ﴿لاس﴾ په اتفاق سره ﴿په مینځ د درې واړه امامانوکې﴾ د امله د نشتوالی د سبب د ملکیت ﴿دسارق﴾ ځکه چې نشته د مسروق منه لپاره اختیار د ضامن کاوه ﴿سارق لره﴾ د واړه قیمت ﴿یعنی په وړاندینی صورت چې غبن فاحش وی. نوامام ابویوسف رحمه الله ددې امله د عدم قطع قائل وو. چه مسروق منه ته دا اختیار وو. چه هغه د مال مسروقه په ځائې دهغې قمیت د سارق نه واخلی. اومالك ته په تاوان ورکولوسره سارق د مال مسروقه مالك جوړیدو. خوپه دې صورت کې چې غبن یسیروی. داسې نه ده﴾ ځکه چې نشته ده ﴿مسروق منه﴾ ته اختیار د ضامن کولو ﴿سارق له﴾ د واړه قیمت ﴿دمال مسروقه. بلکه مسروق منه به په سارق هغه هومره تاوان راولی. دخومره نقصان چې په مال مسروقه کې راغلې وی﴾

د مسروقه وزه (چیلۍ) ذبح کولونه روسته دقطع حکم

> (وَإِنْ سَرَقَ شَاةً فَذَبَحَهَا ثُمَّ أَخْرَجَهَا لَمْ يُقْطَعْ) لِأَنَّ السَّرِقَةَ تَمَّتْ عَلَى اللَّحْمِ وَلَا قَطْعَ فِيهِ

ژباړه وتشریح:- اوکه ده غلا کړله وزه اوذبح ئې کړه هغه ﴿بس د پټولو نه﴾ بیا ئې راویستله ﴿دکورنه﴾ نو نه به شی کټ کولې ﴿لاس دده﴾ ځکه چې غلا تمامه شوه په غوښه باندې، ﴿وړاندې تیرشوی دی. چه د داسې څیزپه غلا کولوکې دلاس پرې کول نشته. چه هغه ذخیره کیدای نشی. لکه سبزی وغیره. اوغوښه هم نشی ذخیره کیدې﴾ نونشته دلاس پرې کول په دې ﴿غوښه﴾ کې.

د سرویا سپینوزرغلا کولونه روسته دهغې نه روپۍ یا اشرفۍ جوړول

> (وَمَنْ سَرَقَ ذَهَبًا أَوْفِضَّةً يَجِبُ فِيهِ الْقَطْعُ فَصَنَعَهُ دَرَاهِمَ أَوْدَنَانِيرَ قُطِعَ فِيهِ وَتَرَكَ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ إِلَى الْمَسْرُوقِ مِنْهُ،

وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(١) وَقَالَا: لَا سَبِيلَ لِلْمَسْرُوقِ مِنْهُ عَلَيْهِمَا) وَأَصْلُهُ فِي الْغَصْبِ فَهَذِهِ صَنْعَةٌ مُتَقَوِّمَةٌ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لَهُ،

حل اللغة: ① **صنعة**: كاريګري ② **متقومة**: هغه څيز چې د قيمت قابل وي

ژباړه وتشريح:- اوچاچه غلا کړل سره زريا سپين زر، «دومره سره زر اوسپين زر» چې واجبيدلو په هغې کې پرې کول «د لاس» نوجوړې کړې ده دهغې «سپينو زورن» نه روپۍ يا «دسرو زرونه» اشرفۍ، نوکټ کولې به شي په دې «روپو اواشرفوکې لاس دده» اوواپس کولې به شي روپۍ «دسپينوزرو» اواشرفۍ «د سرو زرو» مسروق منه ته، اودا «حکم» د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدې. اوصاحبين رحمهما الله فرمائي. چه نشته د مسروق منه لپاره څه حق په دې دواړو «روپو اواشرفو» باندې، اواصل ددې «مسئلې» په كتاب الغصب کې دې. «يعنې دا اختلاف د کتاب الغصب سره تعلق ساتي. اودا دلته مسئله په هغې مسئله باندې متفرع ده. وجه دا اختلاف دا ده. چه» دا «د سپينو زرو نه روپۍ اود سروزو نه اشرفۍ جوړول» کاريګري ده قيمت لرې په نيز د صاحبينو رحمهما الله. «يعنې د صاحبينو رحمهما الله په نيزددې زرګرۍ د مزدورۍ قيمت شته. نوچه هغه په کې خپله کاريګري اوکړله. نواوس دغه سره زر اوسپين زر په خپل حالت پاتې نشو. بلکه دهغې په قيمت کې زيادت راغلو. نوکه دا سره او سپين زر د روپواو اشرفوپه شکل کې مسروق منه ته واپس کړې شي. په دې کې د مسروق منه ګټه اودسارق تاوان دې» خلاف ثابت دې داامام ابوحنيفه رحمه الله «يعنې دهغوی په نيزد زرګرۍ کارڅه قيمت نه لرې. څکه به ورته دغه سره او سپين زرد روپواو اشرفوپه شکل کښې واپس کوي»

ثُمَّ وُجُوبُ الْحَدِّ لَا يُشْكِلُ عَلَى قَوْلِهِ لِأَنَّهُ لَمْ يَمْلِكْهُ، وَقِيلَ عَلَى قَوْلِهِمَا لَا يَجِبُ لِأَنَّهُ مَلَكَهُ قَبْلَ الْقَطْعِ، وَقِيلَ يَجِبُ لِأَنَّهُ صَارَ بِالصَّنْعَةِ شَيْئًا آخَرَ فَلَمْ يَمْلِكْ عَيْنَهُ

ژباړه وتشريح:- بيا وجوب دحد «په سارق باندې په دې صورت کې» څه ګران نه دی په قول داامام ابوحنيفه رحمه الله کې، «يعنې که امام ابوحنيفه رحمه الله دا فرمائي. چه د غل لاس به کټ کولې شي. نوپه دې کې څه اشکال څکه نشته. چه» غل نه مالک کيږي د دې «مال مسروقه. بلکه هغه به مسروق منه ته ورکوي. نوهرکله چې مالك نه شو. نوشبه د ملکيت ختمه شوه. اوچه شبه ختمه شوه. نوحد به قائمولې شي» اوونيلې شوې دی. چه دصاحبينو رحمهما الله د قول مطابق به نه واجبيږي «پرې کول دلاس د سارق» څکه چې دې «سارق» مالك شو د دې «مال مسروقه» وړاندې د کټ کيدو «دلاس نه. نودا داسې شوه. لکه چې دې د غلا په وخت کې د مال مسروقه مالك وو. نوپه دې کې شبه د ملکيت پيدا شوه. څکه په کې د صاحبينو رحمهما الله د قول مطابق دلاس پرې کول نشته» اوونيلې شوې دی. چه واجبيږي «پرې کول د لاس دصاحبينو رحمهما الله د قول مطابق هم» څکه چې دغه «مال مسروقه» په کاريګرۍ سره اوګرڅيدلو يوبل څيز «يعنې دهغه سرو اوسپينو زرونه بل څيزجوړ شو» نومالك نشو «سارق» د ذات د مال مسروقه «چه سره اوسپين زر وو. بلکه د دراهم اواشرفومالك شو. نوشبه د ملکيت پيدا نشوه. څکه چې شبه خوبه په هغه وخت کې راتله. چه د عين مال مسروقه مالك جوړ شوې وو. حالانکه په زيربحث صورت کې دهغې په ذات کې توپير راغلې ده. نوملکيت په روپواو اشرفود سرو زرو اوسپينو زرو ملکيت نشي شمارلې»

د مسروقه جامورنګ کولونه روسته د قطع حکم

(فَإِنْ سَرَقَ ثَوْبًا فَصَبَغَهُ أَحْمَرَ لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ الثَّوْبُ وَلَمْ يَضْمَنْ قِيمَةَ الثَّوْبِ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ.(٢)

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الإمام رحمه الله كذا في فتح القدير(١٧٥\٥) وكنز(١٨٢\٢) وشرح الوقاية (١٩٢\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٧٣\١)-

[2] القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(١٧٦\٥) وردالمحتار(٢٣٢\٣)و البحرالرائق (٦٦\٥) نقلاً عن القول الراجح (٤٧٤\١)_

حل اللغة: ① صبغه: رنګ ئې کړو ② احمر: سور

زیاره وتشریح: - که غلا ئې کړله کالي ﴿او د غلاکولونه پس﴾ سور رنګ ئې ورکړلو هغې ته، نوکټ کولې به شي ﴿لاس د سارق﴾ اونه به شي اخستې دده نه جامه، اونه به شي ضامن کولې د قیمت د جامې، اودا ﴿حکم﴾ په نیزد امام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله دې.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُؤْخَذُ مِنْهُ الثَّوْبُ وَيُعْطِي مَا زَادَ الصَّبْغُ فِيهِ) اعْتِبَارًا بِالْغَصْبِ، وَالْجَامِعُ بَيْنَهُمَا كَوْنُ الثَّوْبِ أَصْلًا قَائِمًا وَكَوْنُ الصَّبْغِ تَابِعًا.

زیاره وتشریح: - او فرمائیلي دی امام محمد رحمه الله چې اخستې به شي دده نه جامه، او ورکولې به شي ﴿سارق﴾ هغه قیمت چې زیات کړې دې رنګ ور کاوه په هغې کې. د امله د قیاس نه په ﴿مسئله د﴾ صابغ ته﴾ اوبیا ئې هغې ته رنګ ورکړلو. نوزید به دغه رنګ غصب باندې، ﴿زید د بکر نه یوه جامعه غصب کړه. اوبیا ئې هغې ته رنګ ورکړلو. نوزید به دغه رنګ شوې کالي بکر ته واپس کوی. او د رنګ په وجه چې په هغې کې کوم زیادت راغلې وی. دهغې قمیت به د بکرنه اخلې﴾ اوعلت کالي په مینځ د دواړو مسئلو ﴿د سرقه او غصب﴾ کې دا دې. چه کالي اصل ده. او وجود لرې. اورنګ تابع دې. ﴿مستقل وجود نه لرې﴾

وَلَهُمَا أَنَّ الصَّبْغَ قَائِمٌ صُورَةً وَمَعْنًى، حَتَّى لَوْ أَرَادَ أَخْذَهُ مَصْبُوغًا يَضْمَنُ مَا زَادَ الصَّبْغُ فِيهِ، وَحَقُّ الْمَالِكِ فِي الثَّوْبِ قَائِمٌ صُورَةً لَا مَعْنًى، أَلَا تَرَى أَنَّهُ غَيْرُ مَضْمُونٍ عَلَى السَّارِقِ بِالْهَلَاكِ فَرَجَّحْنَا جَانِبَ السَّارِقِ،

زیاره وتشریح: - اوشیخینو رحمهما الله لپاره دلیل دا دې. چه رنګ قائم دې صورة ﴿لکه چې ښکاره په نظر ښکاری. چه دغه کالي سره ده﴾ اومعنی ﴿د قیمت په اعتبار سره﴾ تردې که اراده اولری ﴿مالك﴾ داخستلو دې جامې په داسې حال کې چې وی﴾ رنګ شوې، نوضامن کیږی به دهغه قیمت چې زیاتی کړې وی رنګ په هغې کنبې. ﴿یعنی که مالك د سارق نه خپله کالي اخلې. نوبیشکه اخستې شی. لیکن د رنګ په وجه چې دهغې په قیمت کې کوم زیادت راغلې دې. دهغې تاوان به ورته ورکوی﴾ اوحق د مالك قائم دې په کالي کې صورة ﴿یعنی په ظاهره ښکاره چې کالي موجود ده﴾ نه معنی ﴿یعنی د مالك حق په کالي کنبې معنی نشته. دا دې. چه﴾ ته ګوری نه چې داکالي نشته. اوپه دې باندې دلیل چې په کالي باندې معنی د مالك حق نشته دا دې. ﴿یعنی که کالي د سارق په لاس کې په خپله ضائع نه تاوانی کیږی په سارق باندې په هلاکت یا په استهلاك. ﴿یعنی که کالي د سارق په لاس کې په خپله ضائع شی. یا ئې سارق ضائع کړی. مثلاً وې سوزوی. نوپه دې دواړو صورتونوکې سارق باندې د دغه جامې تاوان نشته. ددې نه دا معلومه شوه. چه د مالك حق په کالي باندې صرف صورة دې معنی نشته. ځکه که چرته معنی وې. نوبیکاردا ده. چې سارق د هلاك یا استهلاك په صورت کې دمالك لپاره ضامن کیدې. لکه څنګه چې مالك د سارق لپاره د رنګ په وجه د زیاتی شوې قیمت ضامن کیږی. نو هر کله چې دسارق حق صورة اومعنی قائم دې. او د مالك حق صرف صورة قائم دې معنی نه دې قائم﴾ نوموږ راجح کړلو اړخ د سارق. ﴿اودا مو اوونیل. چه د سارق لاس به کټ کولې شی. اودده څخه به کپړه نشی اخستې. چه مسروقه منه ته ورکړې شی. اودغه ډول مسروق منه ته به د هغې تاوان هم نه ورکوی. ځکه چې د سارق حق د کپړې په رنګ کولوکې مال متقوم دې. ځکه چې دده د کاریګرۍ په وجه دهغې په قیمت کې زیادت راغلو. اودغه کپړه د مسروق منه په حق کې مال متقوم پاتې نه دې. ځکه چې کله د سرقه په وجه د سارق لاس کټ کړې شی. نومال مسروقه متقوم نه پاتې کیږی. هم دا وجه ده. که مال مسروقه د سارق سره هلاك شی. نومسروق منه ته به څه تاوان نه ورکوی﴾

بِخِلَافِ الْغَصْبِ، لِأَنَّ حَقَّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا قَائِمٌ صُورَةً وَمَعْنًى فَاسْتَوَيَا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ فَرَجَّحْنَا جَانِبَ الْمَالِكِ بِمَا ذَكَرْنَا

زیاره وتشریح: - په خلاف د غصب ﴿د مسئلې دا دامام محمد رحمه الله د مقیس علیه نه ځواب دې. چه په غصب باندې د سرقه د مسئله قیاس صحیح نه دې﴾ ځکه چې حق دهریو ﴿که مغصوب منه دې اوکه غاصب دې﴾ قائم دې صورة اومعنی. ﴿دا خبره خوښکاره ده. چه د دواړو حق صورة قائم دې. اود غاصب لپاره

معنى حق په هغه طريقه ثابتيږي.څنګه چې موږ د سرقه په مسئله كې د سارق لپاره ثابت كړې وو.البته د مغصوب منه لپاره د معنى حق اثبات په دې طريقه دې.كه مال مغصوبه دغاصب سره هلاك شي. نو غاصب به مغصوب منه ته دهغې د قيمت ضامن وي.اودهغې تاوان به وركوي﴾ نودواړه ﴿غاصب او مغصوب منه﴾ برابر شو.په دې اعتبار سره ﴿چه دواړوته صورة اومعنى حق حاصل دې﴾ نوموږ راجح كړلو اړخ دمالك ﴿په باب د غصب كې يعنى مغصوب منه به د غاصب نه كالى واخلي.اود رنګ په وجه چې د هغې په قيمت كې څه زياتې راغلي دې.دهغې قيمت به غاصب ته واپس كړي.اوداسې به نشي كولې. چې غاصب د رنګ د امله د مغصوبه كپړې مالك شي.اومغصوب منه ته د هغې تاوان وركړي﴾ د هغې امله نه كومه چې موږ ذكر كړله. ﴿چه كالي اصل دې چې قائمه ده.اورنګ تابع دې.نوترجيح به اصل ته وي تبع ته به نه وي.يعنى په دغه كپړه كې دوې [دوه] شيان (څيزونه) دي.يود كپړې ذات دې.چه اصل اوپه وجود كې بل څيزته محتاج نه دې.اودا كپړه د مغصوب منه ده.اوبل څيزپه كې رنګ دې.كوم چې تابع دې.اوپه وجود كې كپړې ته محتاج دې.كه كپړه نه وى نو رنګ به هم نه وي.اورنګ د غاصب دې.نوموږ مغصوب منه ته په غاصب باندې ترجيح وركړله﴾

مسروقه كپړې ته د تور رنګ وركولو نه روسته د قطع حكم

(وَإِنْ صَبَغَهُ أَسْوَدَ أُخِذَ مِنْهُ فِي الْمَذْهَبَيْنِ) يَعْنِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ،() وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ هَذَا وَالْأَوَّلُ سَوَاءٌ لِأَنَّ السَّوَادَ زِيَادَةٌ عِنْدَهُ كَالْحُمْرَةِ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ زِيَادَةٌ أَيْضًا كَالْحُمْرَةِ وَلَكِنَّهُ لَا يَقْطَعُ حَقَّ الْمَالِكِ، وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ السَّوَادُ نُقْصَانٌ فَلَا يُوجِبُ انْقِطَاعَ حَقِّ الْمَالِكِ.

حل لغات: ① أسود:تور ② السواد:توروالي ③ الحمرة:سوروالي ④ انقطاع:ختمول

ژباړه وتشريح:- اوكه رنګ ئې ورته وركړلو تور،نواخستې به شي ﴿جامې﴾ دده ﴿سارق﴾ نه په دواړو مذهبينو كې يعنى دامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله په نيزاودامام يوسف رحمه الله په نيز،دا صورت اواولنې ﴿چه سور رنګ ئې وركړې وي﴾ برابر دى. څكه چې توروالي زيادت دې ﴿په قيمت د مصبوغه﴾ كې د ده ﴿امام ابويوسف(رح)﴾ په نيز پشان د سوروالى. ﴿نولكه څنګه حكم چې د سور رنګ وو.هم هغه حكم به د تور رنګ وي﴾ اودامام محمد رحمه الله په نيزهم زيادت دې ﴿په قيمت د كپړه كې﴾ خودومره ده چې دا ﴿تور رنګ﴾ نه ختموي حق د مالك ﴿نود سارق څخه به كپړه مسروقه واخستې شي.اومالك ته به وركړې شي﴾ اوپه نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله ﴿دا تورنګ﴾ عيب دې ﴿په كالي باندې﴾ نو واجبوى ختمول د حق د مالك ﴿يعنى امام ابوحنيفه رحمه الله هم دا فرمائي.چه چونكه په تور رنګ سره دا كپړه نقصانى اوعيب داره شوه.نود مالك حق ترې نه ختميږي.بلكه مالك ته به واپس كولې شي.

ضروري تشريح:- محققينو رحمهم الله عالمانو رحمهم الله فرمائيلي دى.چه ددې اختلاف بنا (بنياد) عرف دې.يعنى امام ابوحنيفه اوصاحبينو رحمهم الله دخپلې خپلې زمانې حالت ته كتلې وو.اودهغې مطابق ئې فيصله كړې وه.څكه چې د امام ابوحنيفه رحمه الله په زمانه كې د بنواميه حكومت وو.اوهغوى به سور رنګ ته اهميت وركولو.اوتور رنګ به يو ډول عيب ګنړلې شو.خودصاحبينو رحمهما الله په زمانه كې د عباسيانوحكومت وو.دهغوى په زمانه كې به تور رنګ ته د عزت په نظرسره كتلې شو.نودا اختلاف د زمانې اوعرف په اعتبارسره دې.بنيادى اختلاف نه دې. لكه زموږ ملك اووطن كې د ښځو لپاره سره جامې دعزت ګنړلې شي.دغه ډول تورې جامې هم بعضې زنانه اچوي.اود سرې او تورې جامې سړى بدګنړي.نوكه دزنانوجامې سارق غلا كړي.اوهغې ته سور يا تور رنګ وركړي.نوپه دې سره به ددغه جامو قيمت زياتيږي.اوكه د نارينوْ جامې غلا كړي.اوهغې ته سور يا تور رنګ وركړي.نودا به نقصان اوعيب ګنړلې شي.

(١) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(١٧٦\٥) وردالمحتار(٢٣٢\٣) والهندية (١٨٦\٢) لكن قال ابن الهمام [ا]ختلاف عصر و زمان فإن الناس كانوا يلبسون السواد زمنه ويلبسونه فى زمنهما إلخ) نقلاً عن القول الراجح (٤٧٥\١)

(بَابُ قَطْعِ الطَّرِيْقِ):

دا ﴿ باب ﴾ په بيان ﴿ د شوکولود لاره کي دي.

تشريح:- د قطع الطريق ته سرقه کبرى هم وئيلى شى.اوکبرى ورته ځکه وئيلى شى.چه ددې ضرر عامو مسلمانانوته ګډ دې.ځکه چې دهغوى امن خاورو سره خاورې کړى.اوبله دا چې ددې سزا هم سخته ده.لاسونه اوپښې ئې کټ کولې شى.اوپه سرقه صغرى کي صرف لاس کټ کولې شى. اود قطع الطريق لپاره څوشرطونه دى.① چې ډاکوانوته دومره قوت اوغلبه حاصله وى.چه په لاره تلونکى نفر د هغوى مقابله نشى کولې.برابره خبره ده چې دغه خلګ وته دا غلبه په وسله سره حاصله وى.يا په بل څه سره.② چې د شوکه مقام د ښارنه لرې وى.په شرح طحاوى کي دى.چه د سفرد مسافه په اندازه باندې وى.③ چه شوکه په دارالاسلام کي وى.④ چه دومره مال ئې لوټ کړي وى.چه هغه نصاب د سرقه ته رسى.د امام شافعى اواحمد ﷫ هم دا مذهب دې.اوامام مالک﷫ فرمائى.چه د سرقه نصاب ته رسيدل شرط نه دى.⑤ دا چې واړه ډاکوان د خلګو نه پردى وى.تردې که په ډاکوانوکي ديوکس د دغه خلګو سره د محرميت رشته وى.نوبيا به دقطع الطريق سزا نشى ورکولې⑥ چې ډاکوان د توبه ويستلو نه وړاندې ګرفتارشى.ځکه که د توبه ويستلو نه روسته ګرفتارشى.نوبه دوى باندې به حد د قطع الطريق نه وى.

د ډاکې تعريف

قَالَ (وَإِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمْتَنِعِيْنَ أَوْوَاحِدٌ يَقْدِرُعَلَى الْإِمْتِنَاعِ فَقَصَدُوا قَطْعَ الطَّرِيْقِ فَأُخِذُوا قَبْلَ أَنْ يَأْخُذُوا مَالًا وَيَقْتُلُوا نَفْسًا حَبَسَهُمُ الْإِمَامُ حَتَّى يُحْدِثُوا تَوْبَةً،

حل اللغة: ① ممتنعين:جمع د ممتنع:منع کونکې ② الحبس:بندول ③ يحدثوا:نوې کړى

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدورى ﷫فرمائى.کله چې اوځى ﴿دتابعدارئ دامام نه﴾ يوه ډله ﴿که په دغه ډله کي مسلمان وى اوکه ذمى که آزاد وى اوکه غلام﴾ چې منع کونکى ﴿يعنى کوم کسان.چې دوى سره مقابلې کاوه لپاره کول غواړى.چه دهغوى مقابله کولې شى﴾ يا يوکس وى.اوقادر وى په منع کولو ﴿يعنى په يواځې ورته دومره غلبه حاصله وى.چه د خلګو مقابله کولې شى.لکه دې مسلح وى.او خلګ خالى لاس وى﴾ نواراده اوکړى دوى د شو کاوه دلارې ﴿يعنى چې د خلګ ونه هغه څه واخلى.چه هغوى سره وى﴾ اودوى اونيولى شول وړاندې ددې نه چې مال واخلى.اويا قتل کړى يوکس ﴿يعنى چې نه ئې د خلګو نه مال اخستې وى.اونه ئې په هغوى کي څوک قتل کړې وى﴾ نوګرفتاربه کړى دوى لره امام تردې چې اوباسى توبه،

د ډاکوانود جرم مختلف صورتونه

وَإِنْ أَخَذُوا مَالَ مُسْلِمٍ أَوْذِمِّيٍّ ،وَالْمَأْخُوذُ إِذَا قُسِمَ عَلَى جَمَاعَتِهِمْ أَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ فَصَاعِدًا أَوْمَا تَبْلُغُ قِيْمَتُهُ ذٰلِكَ قَطَعَ الْإِمَامُ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ،

ژباړه وتشريح:- ①اوواخلى دوى مال د مسلمان ياد ذمى اوچه اخستې شوې مال ﴿يعنى کوم مال چې دوى اوشوکوى﴾ کله ويش کړې شى په ډله ددوى ﴿ ډاکوانو﴾ نو رسى هريوته په دوى کي لس درهم يا زياتې اويا هغه شى وى چې رسيږى قيمت دهغې دې ﴿لسو روپوته يعنى د سرقه نصاب ته﴾ نوکټ به کړى امام لاسونه ددوى اوپښې ددوى ادل بدل ﴿يعنى راسته لاس اوګسه پښه.دا يوحالت شو.چه دوى صرف مال لوټ کړى﴾

وَإِنْ قَتَلُوا وَلَمْ يَأْخُذُوا مَالًا قَتَلَهُمُ الْإِمَامُ حَدًّا) وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى {إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ} الْآيَةَ. وَالْمُرَادُ مِنْهُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ التَّوْزِيعُ عَلَى الْأَحْوَالِ وَهِيَ أَرْبَعَةٌ: هَذِهِ الثَّلَاثَةُ الْمَذْكُورَةُ، وَالرَّابِعَةُ نَذْكُرُهَا إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى وَلِأَنَّ الْجِنَايَاتِ تَتَفَاوَتُ عَلَى الْأَحْوَالِ فَاللَّائِقُ تَغَلُّظُ الْحُكْمِ بِتَغَلُّظِهَا.

حل اللغة: ① **التوزيع:** ويش ② **تتفاوت:** مختلف كيږي ③ **تغلظ:** سختيږي ④ **لائق:** لوئي

ژباړه وتشريح:- «② دوهم صورت دا دي.» اوكه دوى قتل اوكړى.اوو انخلي مال،نوقتل به كړى دوى لره امام حداً «يعني د دوى دا قتلول به د قطع الطريق د سزا په طورنه وي.بلكه دقصاص په طوربه وي.ځكه چې دوى مسلمان قتل كړي دي.نويوكس به د بل كس په مقابله كي قتل كولي شي» اودليل په دې كي قول دالله تعالى دي. «إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُ» الايه «يعني سزا دهغه كسانوچه جګړه كوى الله سره يعني دهغه دوستانومسلمانانو سره،اودهغه پيغمبرسره،① چه قتل كړې شى.② اويا په سولۍ كړې شى.③ اويا كټ كړې شي لاسونه اوپښې ددوى ادل بدل ④اويا اوشړلى شي د زمكې نه» اومراد ددې «څلورقسمه سزاګانونه» الله ښه پوهيږى.ويش دې په حالاتو، «د ډاكوانو» كوم چې څلور دى. «يعني په آيت كي څلور قسمه سزاګانې ذكردى.هره يوه سزا دجرم د غټوالي او وړكوټي والي په مناسبت سره ده» درې خودا كوم چې ذكرشول. «①چه د شوكولونه وړاندې ګرفتار شى.نوترتوبې ويستلوپورې په جيل كي بند دې.② چه مال ئې اخستې وى.نودلاسونواوپښې ادل بدل پرې كول دى.③ چه مال ئې نه وى اخستې.اوقتل ئې كړې وى.نوبه قصاص كي د دوى قتلول دى» اوڅلورم حالت «د ډاكوانو» موږ به ئې ذكركړو.انشاءالله تعالى. «يعني چې مال هم واخلي.اوقتل هم اوكړى» او «دا څلور ډول سزاګانې ځكه پكاردى.چه» جرمونه مختلف كيږى په اعتبارد حالاتوسره،نودلوئې جرم سزا به سخته وى.

أَمَّا الْحَبْسُ فِي الْأُولَى فَلِأَنَّهُ الْمُرَادُ بِالنَّفْيِ الْمَذْكُورِ لِأَنَّهُ نَفْيٌ عَنْ وَجْهِ الْأَرْضِ بِدَفْعِ شَرِّهِمْ عَنْ أَهْلِهَا، وَيُعَزَّرُونَ أَيْضًا لِمُبَاشَرَتِهِمْ مُنْكَرَ الْإِخَافَةِ.

حل اللغة: ① **المباشرة:** ګډون ② **الاخافة:** ويرول متعدى صيغه ده

ژباړه وتشريح:- هرچه قيدول دى په اولنى صورت كي «چه د ډاكي كولونه وړاندې ګرفتاركړې شى.نوپه دې باندې صرف په بندى خانه كي د اچولوسزا مقررشوې ده» ځكه چې هم دا «په جيل كي اچول» مراد دى په ،،نفى،، سره چې ذكرده په آيت كي ،،،يعنى أوينفوا من الأرض،، كي .يعنى په آيت كي چې الله تعالى فرمائيلى دى.چه اوينفوا من الارض نودلته د نفى نه مراد قيدول دى» ځكه چې دا ترتيل دى د مخ د زمكې چې لرې شى شر ددوى داوسيدونكو ددې نه «يعني ددوى لپاره د قيد سزا ځكه مقررشوه.چه دوى د خلګ وامن تباه كړې وو.چه په مخكه كي دګرځيدو راګرځيدنه بندشى.نوامن به پيدا شى» اوتعزيرى سزا به ورته وركړې شى.هم «يعني صرف دا به نه وى.چه په جيل كي ئې واچوى.بلكه امام اوقاضى چې څه مناسب ګنړى.هغه د قيد نه سوا هغه سزا دې ورته هم وركړى» د املـه د مباشرت ددوى نه ناروا كارسره چې ويريول دى. «يعني ددوى يوه ناروا كارسره مخكې شوى دى.چه خلګ ئې ويرولې دى.اودهغوى امن ته ئې نقصان رسولې دى.نوتعزيرى سزا به ورته هم وركړې شى»

وَشَرْطُ الْقُدْرَةِ عَلَى الِامْتِنَاعِ لِأَنَّ الْمُحَارَبَةَ لَا تَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالْمَنَعَةِ. وَالْحَالَةُ الثَّانِيَةُ كَمَا بَيَّنَّاهَا لِمَا تَلَوْنَاهُ.

حل اللغة: ① **الامتناع:** منع كول ② **المحاربة:** جګړه ③ **المنعة:** جماعت، ډله

ژباړه وتشريح:- اوشرط كړې ئې دې قدرت دمقابله «يعني په ډاكوانوكي دا شرط دې.چه داسې ډاكوانو وى.چه چاسره مخكې كيږى.دهغوى مقابله كولي شى» ځكه چې جنګ نه «په مينځ دډاكوانواو خلګ وكي» نه متحقق كيږى.مګرپه توان سره «يعني په قران پاك كي الله تعالى فرمائيلى دى.چه كوم نفر الله تعالى د دوستانواوپيغمبرسره محاربه يعني جنګ كوى.ددې نه دا معلومه شوه.چه قطاع الطريق به هغه نفر

وي.چه دجنګ توان اوقوت ورسره وي.كه دا ورسره نه وي.نودې په قطاع الطريق كې به داخليږي.اوچه په قطاع الطريق كې داخل نشو.نودقطع الطريق سزا به ورته هم نشي وركولې﴾ او دوهم حالت هغه دې.كوم چې مونږ بيان كړلو. ﴿يعنى چې مال واخلي.اوقتل اونكړي.نويه دې صورت كې به تري راسته لاس اوګسه پښه كټ كولي شي﴾ د امله د هغه آيت نه كوم چې مونږ تلاوت كړلو. ﴿چه ((إِنَّمَا جَزَآؤُا الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوٓا أَوْ يُصَلَّبُوٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ط))

د ډاكه شوي مال شرطونه

وَشَرْطُ أَنْ يَكُونَ الْمَأْخُوذُ مَالَ مُسْلِمٍ أَوْذِمِّيٍّ لِتَكُونَ الْعِصْمَةُ مُؤَبَّدَةً، وَلِهٰذَا لَوْقَطَعَ الطَّرِيقَ عَلَى الْمُسْتَأْمَنِ لَايَجِبُ الْقَطْعُ.

ژباړه وتشريح:- اوشرط كړي دى ابو الحسين قدوري رحمه الله.چه وى اخستې شوې مال د مسلمان اوياد ذمى، ﴿دا شرط اولګولې شو﴾ دې لپاره چې وى عصمت ﴿د مال﴾ هميشه دپاره، ﴿اونشته هميشه لپاره عصمت مګردمال د مسلمان يا د ذمى دپاره﴾ اوددې املـه ﴿يعنى د املـه د شرطيت د مال ماخوذه چې دا د مسلمان يا د ذمى وي﴾ كه اوشكوى لار په مستامن باندې ﴿يعنى كه ډاكوان داسې كس اوشوكوي.چه هغه كافر وي.خوامان ئې اخستې وي.اودارالاسلام ته داخل شوې وي﴾ نونه واجبيږي پرې كول ﴿دلاس.خكه چې د مستامن مال هميشه لپاره محفوظ نه دې.بلكه چې ترڅوپورې دې په مسلمانانوپه امن كښې وي.مال به ئې محفوظ وي.چه كله ئې امن ختم شو.نومال ئې غيرمعصوم اوګرځيدلو﴾

وَشَرْطُ كَمَالِ النِّصَابِ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ كَيْ لَايُسْتَبَاحَ طَرَفُهُ إِلَّا بِتَنَاوُلِهِ مَالَهُ خَطَرٌ.

حل اللغة: ① يستباح: مباح ګڼړل ② طرف: اندام ③ خطر: عظمت، قيمت

ژباړه وتشريح:- اوشرط كړې دې ﴿ابو الحسين قدوري (رح)﴾ كمال د نصاب په حق دهريوكس ﴿يعنى وړاندې ددې بيان اوشو.چه په ډاكه كې به هله حدجاري كولې شي.چه كوم مال ډاكوانواخستې وي.كه هغه په هغوى باندې ويش كړې شي.چه ديوكس په برخه كې دومره مال راځي.چه د سرقه نصاب ته رسي.اوكه نه رسي.نوبيا به د قطع الطريق حدنشي جاري كولې.نوددې وجه دا دې﴾ دې لپاره چې مباح نشي اندام دده ﴿يعنى چې د قاطع الطريق لاس اوپښې پرې كول مباح اونه ګرځي﴾ مګرپه اخستلودده ﴿ډاكو﴾ هغه مال چې قيمتي وي. ﴿اودقيمتي مال ادنى مقدارد شريعت په رڼا كې لس روپئ دى.لكه وړاندې چې تفصيل تيرشوي دې﴾

وَالْمُرَادُ قَطْعُ الْيَدِ الْيُمْنٰى وَالرِّجْلِ الْيُسْرٰى كَيْ لَايُؤَدِّيَ إِلَى تَفْوِيتِ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ.

حل اللغة: ① تفويت: فوت كول، ختمول

ژباړه وتشريح:- اومراد د ﴿الله تعالى ددې قول نه چه﴾ ((أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ)) پرې كول د ښى لاس اود ګسې پښې دى. ﴿اود عالمانوپه مينځ كې په دې حكم كې څه اختلاف نشته.اوبله دا چې دا جنايت د خپل سنګينئ د املـه د دوو غلاګانوپشان اوګرځيدل،اوپه دووغلاګانوكې هم دا حكم دې.كه په اول ځل غلا اوكړي.ښې لاس به ئې كټ كولې شي.كه دوباره اوكړي.نوګسه پښه به ئې كټ كولې شي.اوكه څوك دا اووائي.چه ډاكه د دوو غلاګانوپشان ده.نويكارده چې نصاب د سرقه په كې شل روپئ وي.دهرې يوې غلا لپاره به لس لس روپئ وي.نومونږ ځواب وركوو.چه په ډاكه كې سختوالې د ډاكوانود فعل په اعتبارسره دې.خكه چې دا دالله تعالى اودهغه د رسول سره جنګ دې.دماليت په اعتبار سره نه دې.تردې كه لس درهمئ اوشكوي.نوهم به د قطع الطريق سزا وركولې شي.اودا د ښى لاس اوګسې پښې د كټ كولوحكم خكه وركړې شوې دې﴾ چې اونه ګرځي دا پرې كول فوت كيدل جنس منفعت لره، ﴿يعنى داسې

مواونکړلو.چه د دواړو لاسونو یا د دواړو پښو کټ کولوحکم موکړې وې.ځکه چې په هغې کې جنس منفعت فوت کیږي.یعنی که دواړه لاسونه کټ کړې شي.نود نیولوصلاحیت به ختم شي.اوکه دواړه پښې کټ کړې شي.نود تللو صلاحیت به ختم شي.اودا دجنس منفعت فوت کیدل دي.کوم چې جائز نه دی.ددې امله مو د یولاس اود یوې پښې کټ کولوحکم اوکړلو.چه قوت د نیولواودقوت د تللو پاته پاتې وی.ځکه چې په یولاس باندې هم نیول کولې شي.اوپه یوه پښه باندې هم تلل کیداې شي.

(وَالْحَالَةُ الثَّالِثَةُ كَمَا بَيَّنَّاهَا لِمَا تَلَوْنَاهُ (وَيُقْتَلُونَ حَدًّا،حَتَّى لَوْعَفَا الْأَوْلِيَاءُ عَنْهُمْ لَايُلْتَفَتُ إِلَى عَفْوِهِمْ) لِأَنَّهُ حَقُّ الشَّرْعِ.

حل اللغة: ① **يلتفت**:کتلې شی ② **العفو**:معافی کول

ژباړه وتشریح:- اودریم حالت «د ډاکوانو» هغه شان دې.کوم چې موږ بیان کړلو. «یعنی که مال ئې نه وی اخستې،او قتل ئې کړې وی.نودوی به قصاصاً قتل کولی شي.اودا قتلول کولې شي» د امله دهغه آیت نه چې موږ تلاوت کړې دې. «چه (أويقتلوا) یعنی یا دې دوی قتل کړې شي» اوقتلولې به شي دوی «په دریم صورت کې» دحد په وجه،تردې که معافی اوکړله په اولیاؤ د مقتول کې دوی «د ډاکوانو» ته، نه به شي کتلې معافئ د دوی ته «بلکه حدبه پرې جاری کولې شي» ځکه چې دا «د دوی قتلولول» حق د شرع دې. «اوپه حق الله کې د بنده معافی معتبر نه ده.تردې چې پیغمبر ﷺ هم د چا نه حدنشی ساقط کولې.اوپه دې خبره باندې د ټولوعالمانو اتفاق دې»

دقتل اومال لوټ کولواجتماعی سزا

(وَ) الرَّابِعَةُ (إِذَا قَتَلُوا وَأَخَذُوا الْمَالَ فَالْإِمَامُ بِالْخِيَارِ،إِنْ شَاءَ قَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ وَقَتَلَهُمْ وَصَلَبَهُمْ،وَإِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ صَلَبَهُمْ.()

حل اللغة: ① **صلب**:په سولئ کړلو

ژباړه وتشریح:- اودځلورم «صورت دا دې» کله چې قتل کړی «ډاکوان خلګو لره» او واخلی مال «د هغوی» نوامام ته اختیاردې. «په یوددرې کارونوکې» ① که خوښه ئې وی.نوکټ دې کړی لاسونه ددوی اوپښې ددوی ادل بدل اوقتل دې کړی دوی یا دې په سولئ کړی «دا یو ډول سزا شوه» ② اوکه خوښه ئې شي.نوقتل دې کړی دوی «بغیرد کټ کولودلاسونواوپښو نه، دا دویمه ډول سزا شوه» ③اوکه اوغواړي.نو په سولئ دې کړی دوئ، «دا د شیخینواودامام احمد رحمهم الله قول دې»

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُقْتَلُ أَوْيُصْلَبُ وَلَا يُقْطَعُ) لِأَنَّهُ جِنَايَةٌ وَاحِدَةٌ فَلَا تُوجِبُ حَدَّيْنِ،وَلِأَنَّ مَا دُونَ النَّفْسِ يَدْخُلُ فِي النَّفْسِ فِي بَابِ الْحَدِّ كَحَدِّ السَّرِقَةِ وَالرَّجْمِ.

ژباړه وتشریح:- اوفرمائیلی دی.امام محمد رحمه الله چه قتل کولی به شي یا به په سولئ کولی شي.اوکټ کولې به نشی «لاس اوپښې» ځکه چې دا «ډاکه» ګناه ده یوه نو نه به واجبیوی دوې [دوه] حدونه «چه حدسرقه اوقصاص دې. ځکه چې جرم یووی.نوحد به هم یو وی.اوبل دلیل دا دې.چه» کم د نفس نه داخلیږی په نفس کې په باب د حدودو کې ، «یعنی چې په کس باندې دوې [دوه] حدونه لازم شوی وی.یود نفس دقتل وی.اوبل دقتل نه کمه سزا وی .نو وړه سزا په غټ سزا کې شاملولې شي.اووړه سزا مستقله نشی اخستې» لکه حد د سرقه او رجم «کې چې تداخل راځی.مثلاً په زیدباندې دغلا په وجه د لاس پرې کول واجب شوی دی.اود زنا په وجه ئې سنګسارواجب شوې دې.نوپه دې صورت کې به صرف سنګسار ورکولې شي.دا نه

() القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا فى العناية (۱۸۰\۵) والخانية (۴۱۵\۴) والبحرالرائق (۶۶\۵) والهندية (۱۸۶\۲) نقلاً عن القول الراجح (۴۷۷\۱)-

چې اول به نې لاس کټ کړې شي.اوبيا به سنګسار کولې شي.بلکه دلاس کټ کولوسزا په رجم کې داخله شوه﴾

وَلَهُمَا أَنَّ هٰذِهٖ عُقُوبَةٌ وَاحِدَةٌ تَغَلَّظَتْ لِتَغَلُّظِ سَبَبِهَا،وَهُوَ تَفْوِيتُ الْأَمْنِ عَلَى التَّنَاهِي بِالْقَتْلِ وَأَخْذِ الْمَالِ،وَلِهٰذَا كَانَ قَطْعُ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مَعًا فِي الْكُبْرٰى حَدًّا وَاحِدًا

حل اللغة:① عقوبة:سزا ② تغلظت:سخته شوې ده ③ التناهي منع کول

ژباړه وتشريح:- اودشيخينو ﷫ دليل دا دې.چه دا يوه ګناه ده. ﴿ځکه چې مجموعي دې ته ډاکه ونيلې شي. اګرچه قتل اومال لوټ کول دواړه په کې جمع شوې وې.البته دومره ده چه﴾ دا سزا سخته ده.د امله د سختوالي د سبب ددې نه ﴿چه ډاکه ده﴾ اودا ﴿ډاکه﴾ فوت کول د امن دې په اعتبارد انجام.چه قتل کول اود مال لوټ کول دې.اوددې امله ﴿چه دا يوه ګناه ده﴾ وې پرې کول دلاس اودپښې په يوځاې په ډاکه کې ،حد يو،اګرچه دې دا دواړه سزاګانې په سرقه صغرى کې دوې [دوه] حدونه ﴿يعنې دلاس پرې کول د يو ځل غلا حد دې.اوپښه پرې کول د دوباره غلا دې﴾ اوتداخل راځي په حدودو کې نه په يو حد کې ، ﴿اودلته دلاس پرې کول اوقتل کول دواړه يوحد دې.نوتداخل په يوبل کې نشته.اوکه ته دا اووائې.چه دلاس پرې کول اوقتل کول دواړه يوحد دې.نوبيا خودقاضي لپاره دا جائز نه ده.چه په يوحد کې څه قائم کړې.اوڅه پريږدې.نوموږ وايو.چه دا يوحد دې.خوترتيب په کې لازم نه دې.چه اول به لاس کټ کولې شي.اوبيا به قتل کولاې شي .نوچه ترتيب لازم نشو.اوده په قتل پيل اوکړله.نودلاس پرې کول په خپله ختم شو.ځکه چې د مرګ نه روسته د لاس په کټ کولوکې څه فائده نشته.لکه څنګه چې په حدقذف کې چاته کوړې ورکولې شي.اودکوړو ورکولوپه مينځ کې هغه مړشي.نوپاته چې کومې کوړې پاتې وې.هغه ساقطې شوې.ځکه چې د مرګ نه روسته کوړو ورکولوکې څه فائده نشته﴾

وَإِنْ كَانَا فِي الصُّغْرٰى حَدَّيْنِ،وَالتَّدَاخُلُ فِي الْحُدُودِ لَا فِي حَدٍّ وَاحِدٍ.ثُمَّ ذَكَرَ فِي الْكِتَابِ التَّخْيِيرَ بَيْنَ الصَّلْبِ وَتَرْكِهٖ،وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ.

حل اللغة:① التخيير:اختيار ورکول ② الصلب:په سولۍ کول

ژباړه وتشريح:- بيا ذکرکړې دې ابو الحسين قدوري ﷫ په کتاب کې اختيار ﴿امام ته﴾ په مينځ د سولۍ کاوه او پريښولو کې ، ﴿يعنې امام ته نې دا اختيار ورکړې دې.که قتل اوسولۍ کول دواړه کوي.اوکه صرف په قتل اکتفا کوي﴾ اودا ﴿اختيار﴾ ظاهر روايت دې.اودامام ابويوسف﷫ نه دا روايت دې.چه قاضي به نه پريږدې په سولۍ کول ځکه چې دا په سولۍ کولوباندې نص وارد شوې دې. ﴿الله تعالى فرمائيلي دې.چه (أويصلبوا) يعنې يا دې په سولۍ کړې شي﴾ اومقصود ﴿په سولۍ کولوکې﴾ شهرت دې. ﴿چه دډاکوانوسزا په خلګ وکې مشهوره شي﴾ چې عبرت واخلي په دې ﴿سزا سره﴾ سوا دده ﴿قاطع الطريق﴾ نه،

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهٗ لَا يَتْرُكُهٗ لِأَنَّهٗ مَنْصُوصٌ عَلَيْهِ،وَالْمَقْصُودُ التَّشْهِيرُ لِيَعْتَبِرَ بِهٖ غَيْرُهٗ.وَنَحْنُ نَقُولُ أَصْلُ التَّشْهِيرِ بِالْقَتْلِ وَالْمُبَالَغَةُ بِالصَّلْبِ فَيُخَيَّرُ فِيهِ.

حل اللغة:① التشهير:شهرت ورکول ② يعتبر:عبرت حاصل کړې

ژباړه وتشريح:- اوموږ وايو.اصلي شهرت پيدا کيږي په قتل سره، ﴿چه ډاکوقتل کړې شي.نوپه خلګ وکې د هغه خبره مشهوره شي.چه فلانې ډاکوقتل کړې شو﴾ اومبالغه ده په سولۍ کولوکې .نواختياربه ورکولې شي﴿امام ته﴾ په دې ﴿سولۍ کولو﴾ کې ، ﴿ځکه چې اعتباراصل لره وې.مبالغه لره نه وې.لکه په غسل کې په خوله اوپزه کې اوبه اچول فرض دې.اود مبالغه لپاره په کې غړ غړې هم راغلې دې.نوکه يوکس صرف خوله اوپزه وينځي.اوغړغړې اونکړې. هم صحيح ده.ځکه چې مبالغه اصل حکم نه وې.بلکه د اصل حکم په ادا کولوکې کوښښ وې﴾

د حدجاري کولوطريقه

ثُمَّ قَالَ (وَيُصْلَبُ حَيًّا وَيُبْعَجُ بَطْنُهُ بِرُمْحٍ إِلَى أَنْ يَمُوتَ) وَمِثْلُهُ عَنِ الْكَرْخِيِّ. وَعَنِ الطَّحَاوِيِّ أَنَّهُ يُقْتَلُ ثُمَّ يُصْلَبُ تَوَقِّيًا عَنِ الْمُثْلَةِ. وَجْهُ الْأَوَّلِ وَهُوَ الْأَصَحُّ أَنَّ الصَّلْبَ عَلَى هَذَا الْوَجْهِ أَبْلَغُ فِي الرَّدْعِ وَهُوَ الْمَقْصُودُ بِهِ.

حل اللغة: ① **يبعج**: څیرې کولې شی ② **بطن**: خیټهٔ ③ **توقیا**: لپاره د ځان ساتلو ④ **الردع**: زورنه

ژباړه وتشریح:- بیا فرمائی «ابو الحسین قدوری» اوبه سولئ به کړې شی. «ډاکو» په ژوندونی، اوڅیرې به کړې شی نس دده په نیزه باندې تردې چې «په دغه حالت کې» مړشی. اودغه ډول نقل دی دامام کرخی رحمه الله نه «ځکه چې ابو الحسین قدوری رحمه الله ذکرکړی دی» اونقل شوی دی دامام طحاوی رحمه الله نه چې دې «ډاکو» به قتلولې شی. او «دقتل نه پس» بیا به په سولئ کولې شی. لپاره دځان ساتلود مثلې نه «ځکه چې د نس څیرې کول مثله ده. اوپه شریعت کې د مثله نه منع شوې ده» وجه د اولنی روایت «چه په سولئ کولې به شی. اوپه نس کې به په نیزه وهلې شی» اودا «اولنی روایت» اصح دې. دا ده. چه سولئ کول په دې طریقه په دې کې زیاته مبالغه دد. په حیثیت د زجر «اوزورنې» اوهم دا «زجراوتنبیه» مقصود ده په دې «حد» سره،

په سولئ د پریخودو موده

قَالَ (وَلَا يُصْلَبُ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ) لِأَنَّهُ يَتَغَيَّرُ بَعْدَهَا فَيَتَأَذَّى النَّاسُ بِهِ. وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُتْرَكُ عَلَى خَشَبَةٍ حَتَّى يَتَقَطَّعَ فَيَسْقُطَ لِيَعْتَبِرَ بِهِ غَيْرُهُ. قُلْنَا: حَصَلَ الِاعْتِبَارُ بِمَا ذَكَرْنَاهُ وَالنِّهَايَةُ غَيْرُ مَطْلُوبَةٍ.

حل اللغة: ① **تتغير**: بدلیږی ② **يتاذى**: ضرر رسیږی ③ **خشبة**: لرګي ④ **النهاية**: آخری حد ته رسیدل

ژباړه وتشریح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری (رح)» اونه شی پریښولې (پریخودې) په سولئ زیات د درې ورځونه، ځکه چې دې «مړې» متغیرکیږی روسته ددې نه، نو «که داسې پریښولې (پریخودې) شي» تکلیف به رسی خلګ وته په ده «یعنی دده په بدبوئې» اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې. چه پریښولې (پریخودې) به شی «لاش» په لرګی «د سورلئ» باندې، تردې چې اورژیږی. بعضې برخه دده، چه عبرت واخلی دده نه نور خلګ، موږ «جمهوراحناف» وایو. چه حاصلیږی عبرت په هغه څه چې مونږبیان کړلو. «چه درې ورځې دی» اوآخری حد ته رسیدل مقصود نه دې. «یعنی په حد قائمولو کې صرف تنبیه او زورنه مقصود ده. هغه په درې ورځوسره حاصلیږی»

د ډاکودقتل صورت کې دقطع حکم

قَالَ (وَإِذَا قَتَلَ الْقَاطِعُ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ فِي مَالٍ أَخَذَهُ) اعْتِبَارًا بِالسَّرِقَةِ الصُّغْرَى وَقَدْ بَيَّنَّاهُ.

فرمائی. اوکله چې قتل کړې شی ډاکو، نونشته تاوان «دمال» په ده «مقتول ډاکو» باندې، په هغه مال کې چې اخستې ئې وی. د امله دقیاس کولونه په سرقه صغری باندې، اویقیناً موږ بیان کړې ده. دا مسئله «یعنی وړاندې په سرقه صغری کې دا مسئله تیره شوې ده. که د سارق لاس کټ کړې شی. نوکه څه چې هغه اخستې وی. که هغه ضائع شوې وی. نوبه سارق باندې د هغې تاوان نشته. چه دهغې تاوان به مسروق منه ته ورکوی. نودغه ډول په سرقه کبری هم»

په ډاکوانوکې دیوکس په قتل دقصاص حدحکم

(فَإِنْ بَاشَرَ الْقَتْلَ أَحَدُهُمْ أُجْرِيَ الْحَدُّ عَلَيْهِمْ بِأَجْمَعِهِمْ) لِأَنَّهُ جَزَاءُ الْمُحَارَبَةِ، وَهِيَ تَتَحَقَّقُ بِأَنْ يَكُونَ الْبَعْضُ رِدْءًا لِلْبَعْضِ حَتَّى إِذَا زَلَّتْ أَقْدَامُهُمْ انْحَازُوا إِلَيْهِمْ، وَإِنَّمَا الشَّرْطُ الْقَتْلُ مِنْ وَاحِدٍ مِنْهُمْ وَقَدْ تَحَقَّقَ

حل اللغة: ① **اجمعهم**: په ټولوباندې ② **المحاربة**: جنګ کول ③ **انحازوا**: واپس کیږی

څلورم توك

ژباړه وتشريح:- كه اوكړلو قتل يوكس په دوى ﴿داكوانو﴾ كي ،نوجارى كولي به شي حد په هغوئ ټولو باندي،ځكه چي دا ﴿قتل﴾ جزاء د ډاكي ده.اودا ډاكه كيږى په داسي طريقه چي وى بعضي مددګارد نورو، ﴿يعنى ډاكه اكثرپه يواځي نه كيږى.بلكه ډير نفر راجمع شوى وى.اودوى د يوبل سره كومك كوى. مثلاً يوكس خلګ وته د اودريدو اشاره اوكړى. دوهم كس پرې وسله كيږدى.اود دريم كس تري مال اخلى. او څلورم كس ئې جمع كوى.اوپنځم كس ددوى څوكئ كوى.داسي وريسي څه﴾ ترديې كه زائله شى قدمونه د دوى ﴿اومغلوبه شي﴾ نو واپس كيږى دوئ ته ﴿يعنى كه دوى مغلوبه شى.نوبيا واړه په خپلوكي يوځائي كيږى.اوديوبل لپاره د دفاع او ساتنه سبب جوړيږى﴾ اوشرط كړې شوې دې ﴿د دوئ ټولودقتلولودپاره﴾ قتل د يو د دوئ ﴿داكوانو﴾ نه، ﴿يعنى چي په ډاكوانوكي يوهم قاتل وى.نوواړه به قتل كولى شى﴾ اوثابت شوې دې هغه ﴿يعنى يوپه دوئ كي قاتل دې.نوځكه به واړه قتلولى شى﴾

په ډاكه كې دقتل اعتباردې نه د آله قتل

قَالَ (وَالْقَتْلُ وَإِنْ كَانَ بِعَصًا أَوْ بِحَجَرٍ أَوْ بِسَيْفٍ فَهُوَ سَوَاءٌ) لِأَنَّهُ يَقَعُ قَطْعًا لِلطَّرِيقِ بِقَطْعِ الْمَارَّةِ

حل اللغة: ① **عصا**: كونتئ ② **حجر**: كانړي ③ **سيف**: توره ④ **المارة**: تلونكى

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى (رح)﴾ اوقتل كه وى په همسا ،اويا په كانړى اويا په توره،نودا ﴿واړه صورتونه﴾ برابردى. ﴿يعنى كه ډاكوانودا قتل په هرڅه كړې وى.هغې ته به نشى كتلې.بلكه قتل ته به كتلې شى.كه قتل واقع شوى وى.نوپه ټولوصورتونوكي به دوى قتل كولى شى.ځكه چي دا حد دې قصاص نه دې.چه د قتل د آله اعتباربه په كي كولې شى.بلكه په دې كي به غيرقاتل هم قتل كولې شى﴾ ځكه چي دا واقع شوې ده ډاكه چي لوټ كړى ئې دى د لارې تيريدونكى ﴿يعنى كه قتل په هرڅه شوې وى. خودوى به قتل كولى شى.ځكه چي د دوى دا قتل حد د ډاكي دې. اوډاكه موجوده شوې ده﴾

چه ډاكوصرف جارح وى.قاتل يا أخذدمال نه وى

(وَإِنْ لَمْ يَقْتُلِ الْقَاطِعُ وَلَمْ يَأْخُذْ مَالًا وَقَدْ جَرَحَ اُقْتُصَّ مِنْهُ فِيمَا فِيهِ الْقِصَاصُ، وَأُخِذَ الْأَرْشُ مِنْهُ فِيمَا فِيهِ الْأَرْشُ وَذَلِكَ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ) لِأَنَّهُ لَا حَدَّ فِي هَذِهِ الْجِنَايَةِ فَظَهَرَ حَقُّ الْعَبْدِ وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ فَيَسْتَوْفِيهِ الْوَلِيُّ

حل اللغة: ① **جرح**: زخم شوې ② **الارش**: ديت ③ **الجناية**: ګناه ④ **يستوفي**: تمام (پوره) اخلى

ژباړه وتشريح:- اوكه قتل اونكړلو ډاكواو وا ئې نخستل مال،اوزخمى ئې كړلو، ﴿يعنى په كوموكسانوچه دوئ ډاكه غورځولې وى.نه په هغوى كي څوك قتل شوى وى.اونه دوى مال لوټ كړې وى.البته بعضي نفرپه كي زخميان شوى وى﴾ نوقصاص به اخستې شى دده ﴿ډاكو﴾ نه په هغه ﴿ځيز﴾ كي چي په هغې كي قصاص وى. ﴿لكه چي سارق حشفه كټ كړې وى.نوپه دې كي قصاص دې.ځكه چي لكه څنګه ډاكوحشفه كټ كړې ده.دغه ډول هغه هم دده حشفه كټ كولې شى.يعنى مماثلت په كي راتلى شى﴾اومالى جرمانه به اخستې شى په هغه څه كي چي په هغيي كي مالى جرمانه وى. ﴿لكه كه ژبه ئې كټ كړې وى.نوپه دې كي به قصاص نشى اخستى.بلكه جرمانه به وى﴾اودا ﴿قصاص اود جرمانه اخستل﴾ به حواله وى خپلوانو ﴿د مقتول﴾ ته،ځكه چي نشته حد په دې جنايت كي ، ﴿چه حق د شرع دې﴾ نوثابت به شى حق دعبد ﴿په نفس اومال كي﴾ اوهغه ﴿يعنى حق﴾ هغه دې.كوم چي موږ ذكركړل. ﴿يعنى په كوم ځيزكي چي قصاص اخستې شى.په هغې كي به قصاص واخلى.اوچه په كوم كي جرمانه اخستې شى.په هغې كي به جرمانه واخلى﴾ نووابه ئې خلى ولى ﴿دمقتول﴾

دمال اخستلواوزخمى كولوحكم

وَإِنْ أَخَذَ مَالًا ثُمَّ جَرَحَ قُطِعَتْ يَدُهُ وَرِجْلُهُ وَبَطَلَتِ الْجِرَاحَاتُ) لِأَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ الْحَدُّ حَقًّا لِلَّهِ سَقَطَتْ عِصْمَةُ النَّفْسِ حَقًّا لِلْعَبْدِ كَمَا تَسْقُطُ عِصْمَةُ الْمَالِ

زباړه وتشريح:- اوكه وا ئې خستل مال ﴿اول﴾ اوبيا ئې زخمي كړلو. ﴿يوكس په خلګ وكي﴾ نوكټ كولې به شي لاس اوپښه دده ﴿اول بدل﴾ اوباطل شول زخمونه ﴿ځكه چې حداوجرمانه زموږ په نيزنه جمع كيږي﴾ ځكه چې هركله واجب شو حد لپاره د حق دالله تعالى نوساقط شو عصمت دنفس د املې دحق دعبد لپاره ﴿يعني چونكه ډاكو بل كس مال لوټ كړې وو.نوهغه حق د بنده حق وو.د هغې په سزا كې د ډاكولاس كټ شو. نودغه لاس معصوم اومحترم پاتې نشو.بلكه غيرمعصوم شو﴾ لكه څنګه چې ساقطيږي عصمت د مال. ﴿يعني كه يوڅيزيوځل غلا شو.اوپه هغې باندې د سارق لاس كټ شو.اوسارق دوباره دغه څيزغلا كړلو.نودهغه لاس به نشي كټ كولې.ځكه چې د دغه مال په بدله كې يوځل لاس كټ شوې دې.نوهغه غيرمعصوم شو﴾

دتوبه ويستلونه روسته د ډاكوګرفتاري

(وَإِنْ أُخِذَ بَعْدَمَا تَابَ وَقَدْ قَتَلَ عَمْدًا فَإِنْ شَاءَ الْأَوْلِيَاءُ قَتَلُوهُ وَإِنْ شَاءُوا عَفَوْا عَنْهُ) لِأَنَّ الْحَدَّ فِي هَذِهِ الْجِنَايَةِ لَا يُقَامُ بَعْدَ التَّوْبَةِ لِلِاسْتِثْنَاءِ الْمَذْكُورِ فِي النَّصِّ،

زباړه وتشريح:- اوكه ګرفتاركړې شو ﴿ډاكو﴾ روسته ددې نه چې توبه ئې ويستې وه.اوده قتل كړې وي په قصد سره،نوكه غواړي خپلوان ﴿دمقتول﴾ قتل دې كړې دې ﴿قاطع قاتل تائب لره﴾ اوكه غواړي نومعافي دې اوكړې ده ته،ځكه چې حد ﴿قطع الطريق﴾ په دې جنايت كې نشي قائمولې روسته د توبې نه،د امله د استثناء مذكور نه په نص كې ﴿يعني قرآن پاك كې الله تعالى څلورقسمه سزاګانې ذكركړې دې.خوپه آخركې فرمائي.((إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ)) يعني مګردا چې ډاكوان توبه اوباسي.وړاندې ددې نه چې تاسو غالب شئ په دوى باندې،ګورئ دلته د توبه په وجه د حد قطع الطريق ساقط كيدو حكم دې﴾

وَلِأَنَّ التَّوْبَةَ تَتَوَقَّفُ عَلَى رَدِّ الْمَالِ وَلَا قَطْعَ فِي مِثْلِهِ، فَظَهَرَ حَقُّ الْعَبْدِ فِي النَّفْسِ وَالْمَالِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْوَلِيُّ الْقِصَاصَ أَوْ يَعْفُوَ، وَيَجِبُ الضَّمَانُ إِذَا هَلَكَ فِي يَدِهِ أَوِ اسْتَهْلَكَهُ

زباړه وتشريح:- اوددې املې هم ﴿په تائب باندې حد قطع الطريق نشته﴾ چې توبه موقوف ده په واپس كولو د مال ﴿يعني توبه هله صحيح كيږي.چه دچاحق وى.هغه ته خپل حق وركړي﴾ اونه وى دلاس پرې كول په مثل ددې صورت كې ﴿يعني كله چې ډاكوتوبه اوباسي.اوكوم مال چې ئې اخستې وى.هغه خپل مالك ته واپس كړى.نوپه دې كې حدنه جارى كيږي.ځكه چې دكوم څيزپه وجه په ده حدقائمولې شو.هغه ده خپل مالك ته واپس كړلو﴾ نوښكاره شوحق د بنده په نفس اومال ﴿دواړو﴾ كې ،نواخلي به ولي ﴿دمقتول﴾ قصاص ﴿د ډاكونه ځكه چې ده يونفس معصوم قتل كړې دې.اودنفس معصوم په قتل كې قصاص شته﴾ اويا به عفو كوى. ﴿وليانود مقتول﴾ اويا به واجبيږي ضمان ﴿په ډاكو﴾ كله چې هلاك شي ﴿مال لوټ شوې﴾ په دې صورت كې ،اويا ئې ﴿ډاكو﴾ هلاك كړي.

په ډاكوانوكې دغيرمكلف يا محرم وجود

(وَإِنْ كَانَ مِنَ الْقُطَّاعِ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِ سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْبَاقِينَ) فَالْمَذْكُورُ فِي الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَزُفَرَ.(¹) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَوْ بَاشَرَ الْعُقَلَاءُ يُحَدُّ الْبَاقُونَ وَعَلَى هَذَا السَّرِقَةُ الصُّغْرَى.

زباړه وتشريح:- اوكه وى په ډاكوانوكې ماشوم يا ليونې يا محرم دهغه چا لپاره چې شوكولې ئې وى څوك، ﴿يعني په ډاكوانوكې څوك داسې وى.چه څوك لوټ شوې وى دهغه محرم وى.لكه پلار،څوئې وغيره﴾ نوساقطيږي حدد نوروڼه، نوذكرشوې په ماشوم اوليونى كې قول دامام ابوحنيفه اوزفر رحمهما الله دې.اوامام

(¹) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۱۸٤\۵) والعناية (۱۸٤\۵) وردالمحتار(۲۳۵\۳) والبحرالرائق (٦\...) نقلاً عن القول الراجح (۱\٤٧٨)۔

اوداماماابویوسف رحمه الله نه روایت دی.که کړی وی مباشرت «دقتل سره» عاقلانو «یعني په ډاکوانوکي ماشوم اولیونی هم وی.لیکن چا چي قتل کړی وی.هغه عاقلان یعني مکلف وی» نوحد به ور کولای شی نورډاکوانوته.اوهم په دی اختلاف ده سرقه صغری «مثلاً که دوی [دوه] نفر د زید نه غلا اوکړی.اوپه هغو کي یولیونی یا ماشوم یا د مسروق منه محرم وی.نودطرفینو رحمهما الله په نیز به د سارقانولاس نشي کټ کولی.اودامام ابویوسف رحمه الله په نیزکه غیرمحرم،عاقل اوبالغ غلا کړی وی.نودهغه لاس به کټ کولی شی»

لَهُ أَنَّ الْمُبَاشِرَ أَصْلٌ، وَالرِّدْءَ تَابِعٌ وَلَا خَلَلَ فِي مُبَاشَرَةِ الْعَاقِلِ وَلَا اعْتِبَارَ بِالْخَلَلِ فِي التَّبَعِ، وَفِي عَكْسِهِ يَنْعَكِسُ الْمَعْنَى وَالْحُكْمُ.

ددہ «امام ابویوسف(رح)» لپاره دلیل دا دی.چه مباشر «دفعل دقتل سره» اصل دی. «ځکه چي جرم دقتل د ده نه صادرشوی دی» اومدګار تابع دی. «داصل» اونشته څه خلل په مباشرة د عاقل کي «یعنی په قاتل کي داسي څه علت نشته.چه دهغي د امله دهغه په جرم کي نقص راشی.اومونږ دهغه نه حدساقط کړو.ځکه هغه په خپله ماشوم نه دی لیونی نه دی» اونشته اعتبارخلل لره په تبع کي «یعنی دی قاطع قاتل سره که په ډله کي ماشوم یا لیونی وی.نوپه هغوی کي دعقل د نیشتوالي یا د عقل د نقص د امله خلل شته . خو د هغوی خلل چي تابعین دی.د اصل په جرم کي چي قاتل دی څه نقص نه راولی.یعنی نقص د عقل په تابع کي دی په اصل کي نه دی.اومونږ حد جاری کوو په اصل باندی نه په تبع باندی» اوپه عکس ددی صورت کي «یعنی چي مجنون او ماشوم قتل اوکړی» بدلیږی معنی «چه ساقطیدل د حددی اود حکم «چه دنوروکسانونه د حد ساقط کیدل دی.یعنی کله چي د اصل نه چي لیونی اوماشوم دی» نوپه دی صورت کي چونکه دوی مباشرت دقتل سره کړی دی.اوهم دوی اصل دی.اوپه دوی کي دعقل کموالي یا نشتوالي دی.ځکه په کي خلل راغلو.نوچه خلل په کي راغلو.ددوی نه حد ساقط شو. اوچه د دوی نه حدساقط شو.حالانکه دوی اصل دی.نود نوروډاکوانونه خو به خامخا ساقطیږی.ځکه چي هغوی فرع دی»

وَلَهُمَا أَنَّهُ جِنَايَةٌ وَاحِدَةٌ قَامَتْ بِالْكُلِّ، فَإِذَا لَمْ يَقَعْ فِعْلُ بَعْضِهِمْ مُوجِبًا كَانَ فِعْلُ الْبَاقِينَ بَعْضَ الْعِلَّةِ وَبِهِ لَا يَثْبُتُ الْحُكْمُ فَصَارَ كَالْخَاطِئِ مَعَ الْعَامِدِ.

ژباړه وتشریح:- اودهغوی دواړو «طرفینو(رح)» لپاره دلیل دا دی.چه دا «ډاکه» جنایت دی یو،چه قائم دی په ټولوډاکوانوپوری «یعنی واړه ډاکوان د ډاکه په دی فعل کي شریك دی» نوهرکله چي نه واقع کیږی جرم د بعضي کسانو ددوی «چه ماشوم اومجنون دی» موجب «دحد.دشبه د امله نه» نووی به فعل د نورو «ډاکوانو» بعضي علت «یعنی ډاکه ټوله یو جرم دی.اوواړه په دی جرم کي شریك دی.نوددوی دا جرم به په ټولو تقسیمولي شی.خوچه دجرم بعضي برخه د ماشوم اولیونی په حق کي موجب د حد نشوه.نود نورو په حق کي به هم موجب د حد نه وی.ځکه چي حدسرقه خوتجزی نه قبلوی.چه دخپل جرم په سزا کي ترې څه لاس کټ کړی شی.اودنورود سزا په حساب دی پریښولي (پریخودي) شی.بلکه لاس به یا واړه کټ کولای شی اویا به پریښولي (پریخودی) شی» اوپه دی «بعضي علت» سره نه ثابتیږی حکم «دقتل کولو» نوشوه دا مسئله پشان د خطا کار سره د قصدکونکی نه، «یعنی چي دوی [دوه] نفر غشی اولی.یوکس پری ښکار ولی. او زید پری اولګی.اوبل کس پری هم زید وولی.اوهغه د دواړو غشود ګذارنه مړ شو.نوپه دی صورت کي په هغه کس باندی هم قصاص نشته.چا چي د زید دویشتلو قصد کړی وی.ځکه چي د مقتول قتل د خاطی اوعامد دواړو په فعل سره واقع شوی دی.نود خاطی فعل په قتل کي شبه پیدا کړه.دهغي د امله د عامدقصاص هم ساقط شو»

وَأَمَّا ذُو الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ فَقَدْ قِيلَ تَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ الْمَالُ مُشْتَرَكًا بَيْنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِمْ،

ژباړه وتشریح:- اوهرچه وی په خپلوانوکي محرم، «نودا خبره چي کومه ذکرشوه.چه د ټولوډاکوانونه حد ساقطیږی» نو وئیلي شوی دی. «قائل امام جصاص رحمه الله دی» چي ددی «سقوط حد» تاویل دا دی.چه

وى مال ﴿لوټ شوي﴾ مشترك په مينځ د هغه كسانوچه مال ئې لوټ شوي وى. ﴿مثلا د درې نفر په يوځيزكي شريك دى.اوډاكوانو ددوى دغه مشترك شى لوټ كړلو.خوبيا ښكاره شوه.چه په ډاكوانوكي يوكس د دغه درې كسانومحرم دې.لكه پلارئې وو.نوپه دغه ډاكوباندې دخپل محرم په مال كي حدنه واجبيږى. نوهركله چې د دغه يو ډاكونه دخپل محرم د برخې په برابر حد نه واجبيږى.نوددې د امله په ملكيت كې شبه پيدا شوه.اودغه شبه په وجه د نور ډاكوانونه هم حد نه واجبيږى.ځكه چې كوم ځيزلوټ كړې شوې دې.هغه يودې.نوچه ديوپه حق كي دهغه په برخه كي د محرميت په وجه حدواجب نشو. نو د نورو ډاكوانو نه هم حدساقط شو.او دوهم صورت دا دې.كه مال ماخوذه مشترك نه وى.بلكه په مثال كي چې موږ كوم درې نفر ذكركړې دى.د يوځانله شي وى.نوكه ډاكوانود محرم مال اخستې وى.نوهم پرې حد نه واجبيږى.اوكه دمحرم مال ئې نه وى اخستې.بلكه دغيرمحرم مال ئې اخستې وى.چه په هغې ورسره محرم شريك نه وى.نوبه دې صورت كي به ډاكوانوته حد وركولې شي.ځكه چې شبه دشركت په كي نشته﴾

وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مُطْلَقٌ لِأَنَّ الْجِنَايَةَ وَاحِدَةٌ عَلَى مَا ذَكَرْنَاهُ فَالِامْتِنَاعُ فِي حَقِّ الْبَعْضِ يُوجِبُ الِامْتِنَاعَ فِي حَقِّ الْبَاقِينَ،

ژباړه وتشريح:- خواصح قول دا دې.چه دا حكم ﴿دعدم وجود حد﴾ مطلق دې. ﴿په خپل اطلاق به جارى كيږى. يعنى دوى ته به په هرحال كي حد نشي وركولې﴾ ځكه چې جنايت ﴿دډاكه﴾ يو دې. ﴿ځكه چې دټولې قافلې مال په حق د ډاكه كي يو دې.ځكه چې دا واړه مال په يو ساتنه سره محفوظ دې.چه قافله ده﴾ لكه څنګه چې موږ وړاندې ذكركړې دى. ﴿چه په يوه شوكه اوډاكه كي كه مختلف وارادات اوشى.هغه واړه دې يوې ډاكه ته راجع كيږى. خلګ وائى.په فلانئ شوكه كي دومره مال لوټ شوې وو.اګرچه دغه لوټ شوې مال د مختلفوكسانو وى﴾ نومنع د وجوب حد په حق د بعضوكي ﴿چه محرم دې﴾ واجبوى منع دوجوب حد په حدد نوروكي ﴿يعنى هركله چې د ډاكه جنايت يودې.نوكوم مال چې اخستې شوې دې.كه په هغې كي دمحرم برخه وى.اودهغه د وجه دهغه په برخه كي حد نه واجبيږى.نوددې امله د هغه په نورو ډاكوانو باندې هم حد نه واجبيږى.ځكه چې مال مقطوعه په يوه ډاكه كي لوټ شوې دې.نوداسې نشى كيدې.چه جنايت دې يووى.اودچا په حق كي دې موجب دحد نه وى اودچا په حق كي دې وى﴾

بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِيهِمْ مُسْتَأْمَنٌ، لِأَنَّ الِامْتِنَاعَ فِي حَقِّهِ لِخَلَلٍ فِي الْعِصْمَةِ وَهُوَ يَخُصُّهُ، أَمَّا هُنَا الِامْتِنَاعُ لِخَلَلٍ فِي الْحِرْزِ، وَالْقَافِلَةُ حِرْزٌ وَاحِدٌ

ژباړه وتشريح:- ﴿دا راروان عبارت په اصل كي د يوسوال مقدرځواب دې.سوال دا دې.چه د مستامن مال لوټ كول حد نه واجبوى.چه په قابله كي نه وى.بلكه خانله وى.لكه څنګه چې د محرم كس مال لوټ كول حد نه واجبوى.نوپه دې مسئله كي خومستامن او محرم دواړه برابر شو.چه ددوى دمال په لوټ كولوحد نه واجبيږى .خوبيا چې دا شوكه په قافله كي اوشى.يعنى په قافله كي د مستامن اود محرم مال لوټ شي. نو د محرم وجود په ډاكوانوباندې حد نه واجبوى.اود مستامن وجود لره څه اعتبارنشته.بلكه كه په قافله كي مستامن موجود هم وى.په ډاكوانوباندې حد واجبيږى.ددې څه وجه ده.چه په انفرادى صورت كي د محرم اودمستامن حكم يوشان دې.اوپه قافله كي دمحرم وجود مانع د حد دې اودمستامن وجود مانع د حد نه دې؟ نومصنف ﷫ ددې توپير بيان كوى.اوفرمائى.چه﴾ په خلاف د هغه صورت چې وى په دوئ ﴿مقطوع عليهم﴾ كي مستامن،ځكه چې منع كيدل ﴿دوجوب حدپه ډاكوباندې﴾ په حق دده ﴿مستامن﴾ كي د امله د نقصان نه په عصمت ﴿دمال دده﴾ كي ، ﴿ځكه چې د مستامن مال هميشه لپاره محفوظ نه وى.بلكه د څومره ورځو لپاره چې ده امن غوستې وى.اودارالاسلام ته داخل شوې وى.نوهغه وخته پورې به دده مال محفوظ وى.اود نورومسلمانانويا ذميانومال په دارالاسلام كي هميشه لپاره محفوظ دې.نوځكه ددوى د مال په ساتنه كي نقصان نشته﴾ اودا نقصان خاص دې په مستامن پورې، ﴿نوصرف ده په حق كي به ډاكوانوحدنه واجبيږى.يعنى كه ډاكوان صرف دده مال لوټ كړى. نوپه هغوئ به حدنه واجبيږى.داسې نه ده.چه دده په وجه به دقافلې د نورو خلګ ومالونه هم غيرمحفوظ ګرځى.اودهغوى په لوټ به هم په

ډاکوانوحد نه واجبيږي﴾ هرچه په دې صورت ﴿د محرم﴾ کښي امتناع ﴿وجوب حد چې دمحرم د امله په ډاکوانوحد نه واجبيږي﴾ نودا وجه د نقصان نه ده.په ساتنه کې، ﴿يعني دمحرم په حق کې ځائې ټولوډاکوانو نه وي.ددې امله که د سړي نه ورور غلا اوکړي.نوپه ورور باندې حد سرقه نه واجبيږي.ځکه چې دده محفوظ نه وي.حرز او ساتنه نشته.اوپه سرقه کې دحد جاري کاو لپاره حرز شرط دې.نودغه ډول که په قافله کې په حق کې حرز نودمحرم مال د ډاکوپه حق کې غيرمحفوظ شو﴾ اوقافله ټوله يوحرز ﴿حفاظت﴾ دې. ﴿نوچه محرم وي.نودمحرم په حق کې غيرمحفوظه شوه.نوپه قافله کې چې نورکوم نفر دي.دهغوی په حق کې هم غيرمحفوظه شوه.ځکه چې هم قافله د قافلې د خلګو لپاره حرز او ساتنه دې﴾

دحدساقط کيدو په صورت کې دقصاص حکم

(وَإِذَاسَقَطَ الْحَدُّصَارَالْقَتْلُ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ) لِظُهُورِحَقِّ الْعَبْدِعَلَى مَاذَكَرْنَاهُ(فَإِنْ شَاءُواقَتَلُوا وَإِنْ شَاءُواعَفَوْا)

ژباړه وتشريح:- اوکله چې ﴿په څه وجه باندې﴾ حد ساقط شي. ﴿د ډاکوانو نه﴾ نوګرځي حق دقصاص اولياؤ ﴿د مقتول ته﴾ د امله دښکاره کيدود حق العبد نه،لکه څنګه چې مونږ ذکرکړې دی. ﴿په دې کې اشاره ده.دې عبارت ته ((ولاقطع في مثله فظهرحق العبدفي النفس والمال حتى يستوفي الولي القصاص﴾ نوکه غواړي ﴿اولياء دمقتول﴾ قتل دې کړي ﴿قاتل﴾ اوکه غواړي نو معافي دې اوکړي. ﴿قاتل ته دالله دپاره﴾

دقافلې دخلقو په خپل مينځ کې ديوبل شوکه کول

(وَإِذَاقَطَعَ بَعْضُ الْقَافِلَةِ الطَّرِيقَ عَلَى الْبَعْضِ لَمْ يَجِبِ الْحَدُّ) لِأَنَّ الْحِرْزَوَاحِدٌ فَصَارَتِ الْقَافِلَةُ كَدَارٍوَاحِدَةٍ

ژباړه وتشريح:- اوکه لوټ کړې ديوې قافلې بعضې خلګ بعضې نورو لره،نونه واجبيږي حد ﴿قطع الطريق په چور کونکو﴾ ځکه چې حرز ﴿حفاظت چې قافله ده﴾ يو دې.نوشوه ﴿ټوله قافله﴾ پشان د يو کور،ا ﴿وچه په يوکورکې يوکس د بل نه غلا اوکړي.نوپه هغه حدسرقه نه واجبيږي.دغه ډول دلته هم چې چا شوکول کړې دی.په هغوی حد قطع الطريق نه واجبيږي﴾

په ښارياد ښارسره نزدې دورځې يا دشپې شوکه کول

(وَمَنْ قَطَعَ الطَّرِيقَ لَيْلًا أَوْنَهَارًافِي الْمِصْرِأَوْبَيْنَ الْكُوفَةِ وَالْحِيرَةِ فَلَيْسَ بِقَاطِعِ الطَّرِيقِ) اسْتِحْسَانًا.وَفِي الْقِيَاسِ يَكُونُ قَاطِعَ الطَّرِيقِ وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ لِوُجُودِهِ حَقِيقَةً.

ژباړه وتشريح:- اوڅوك چې ډاکه اوکړي دشپې يا د ورځې په ښارکې يا ﴿ډاکه اوکړي﴾ په مينځ دکوفه اوحيره کې، ﴿اوحيره هغه ځائې دې چې نعمان بن منذربه په کې اوسيدلو.اودا دکوفې اولنې کور وو﴾ چې د کوفې نه ديوميل په فاصله کې پروت وو﴾ نونه دي دا کس ډاکود امله د استحسان نه،اوپه قياس کې کيږي دې ډاکو، ﴿يعني دې استحساناً ډاکو نه دې.اوپه قياس کې ورته ډاکو ونيلی شي﴾اودا ﴿چه دې ډاکودې﴾ قول دامام شافعي رحمه الله دې.د امله د وجود د ډاکه په حقيقت کې، ﴿يعني په حقيقت کې شوکه واقع شوې ده.ځکه چې مال لوټ شوې دې﴾ اودامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه واجبيږي حد ﴿دقاطع الطريق﴾ کله چې شوې وي ﴿شوکه﴾ بهرد ښار نه،اګرچه نزدې وی ورسره، ﴿يعني اګرچه دښارسره نزدې وي﴾ ځکه چې نشي راتلې ده ته مددګار،

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَجِبُ الْحَدُّ إِذَاكَانَ خَارِجَ الْمِصْرِوَإِنْ كَانَ بِقُرْبِهِ،(١) لِأَنَّهُ لَايَلْحَقُهُ الْغَوْثُ.وَعَنْهُ إِنْ قَاتَلُوانَهَارًابِالسِّلَاحِ أَوْلَيْلًا بِهِ أَوْبِالْخَشَبِ فَهُمْ قُطَّاعُ الطَّرِيقِ لِأَنَّ السِّلَاحَ لَايَلْبَثُ وَالْغَوْثُ يُبْطِئُ بِاللَّيَالِي.

حل اللغة: ① غوث: امداد کونکې ② يبطئ: روستو راسيږي ③ السلاح: وسله ④ يلبث: وخت تيروی

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في فتح القدير(١٨٥\٥) وردالمحتار(٢٣٥\٣) وتبيين الحقائق (٢٤٠\٥) والبحرالرائق (٦٧\٥) نقلاً عن القول الراجح (٤٧٩\١)-

زباړه وتشريح:- اوداامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.كه دوى قتل اوكړلو د ورځې ﴿په ښاركي﴾ په وسله سره، اويا دشپې په دې ﴿وسله﴾ سره،اويا په لرګي سره،نودوى ډاكوان دى.ځكه چې وسله وخت نه اخلي ﴿بلكه چې څا سره وسله وى.نوپه ان فن كي خلګ لوټ كوى.اوتختى﴾ اوامدادى رارسى روسته په شپه كي ، ﴿يعنى كه دشپې څوك چاته آواز هم اوكړى.نو خلګ څه وخت روسته رارسى﴾ نوثابتيږى شوكه په دې ﴿يعنى چې د وسله په زور باندې شوكه كوى.نوكه ورځ وى اوكه شپه،كه په ښاركي وى اوكه بهرپه ټولوصورتونوكي دوى ډاكوان دى.اود ډاكوانوحدبه پرې جارى كولې شي﴾

وَنَحْنُ نَقُولُ: إِنَّ قَطْعَ الطَّرِيقِ بِقَطْعِ الْمَارَّةِ وَلَا يَتَحَقَّقُ ذٰلِكَ فِي الْمِصْرِ وَيَقْرُبُ مِنْهُ، لِأَنَّ الظَّاهِرَ لُحُوقُ الْغَوْثِ، إِلَّا أَنَّهُمْ يُؤْخَذُونَ بِرَدِّ الْمَالِ أَيْضًا لِلْحَقِّ إِلَى الْمُسْتَحِقِّ، وَيُؤَدَّبُونَ وَيُحْبَسُونَ لِارْتِكَابِهِمُ الْجِنَايَةَ، وَلَوْ قَتَلُوا فَالْأَمْرُ فِيهِ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ لِمَا بَيَّنَّا

زباړه وتشريح:- اوموږ وايو.چه شوكه متحقق كيږى په لوټ كولود تيريدونكو ، ﴿چه كوم نفر په لاره باندې تيريږى.اوڅوك په هغوى باندې راپاسى.اولوټ ئې كړى.نودې ته شوكه اوډاكه وائى﴾ اونه متحقق كيږى ﴿دا تعريف د شوكه﴾ په ښاركي ،اوپه نزدې ځانې كي دې ته،ځكه چې ظاهره دا ده. ﴿كه دوى چاته دمدد لپاره چغه اووهى.نو﴾ رارسيږى مددګار ﴿ده ته په ښاركي .نوحد دقطع الطريق پرې نه جارى كيږى. خو داسې به هم نشى پريښولې (پريخودې) ﴾البته دومره ده.چه دوى ﴿ډاكوان﴾ به ګرفتارولى شى. ﴿كه په ښاريا ښارسره نزدې داسې اوكړى﴾ لپاره د وركولودحق خپل مستحق ته﴿يعنى چې دڅا نه ئې مال اخستې وى.چه هغوى ته خپل مال واپس كړې شى﴾ اودوئ ته به سزا وركولې شى.اوقيدكولى به شى.ځكه چې دوى ارتكاب د ګناه كړې ده.اوكه قتل ئې كړې وى. ﴿په داسې شوكه كي چې هغه په ښاريا دښارسره نزدې شوې وى﴾ نو اختيارپه دې ﴿صورت﴾ كي اولياؤ ﴿دمقتول﴾ ته دې. ﴿كه غواړى قصاص دې ترې واخلى.اوكه غواړى.نومعاف دې كړى﴾ د املة دهغه څه نه چې موږ بيان كړل. ﴿يعنى چې حدقطع الطريق پرې جارى نشو.نوحق د بنده په كي ښكاره شو.اود دوى وينه غيرمحفوظه اونه ګرځيدله.اود معصومه وينې په تويولوكي قصاص وى.نودوى نه هم كه اولياء دمقتول اوغواړى.قصاص اخستې شى﴾

دمرئ په خفه كولودقتل كولواحكام

(وَمَنْ خَنَقَ رَجُلًا حَتَّى قَتَلَهُ فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ) وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْقَتْلِ بِالْمُثَقَّلِ، وَسَنُبَيِّنُ فِي بَابِ الدِّيَاتِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى

حل اللغة:① خنق:مرئ خفه كول،په مرئ زور كول ② المثقل:دروند څيز

زباړه وتشريح:- اوڅوك چې مرئ خفه كړى دبل تردې چې قتل ئې كړى نوديت په عاقله دده ﴿خانق﴾ باندې دې.په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اودا مسئله د قتل دده په وزنى څيزباندې ﴿يعنى چې يوكس راولګى.بل كس په درون څيزباندې قتل كړى.لكه غټه ګټه شوه﴾ اوزرده چې موږ به ئې بيان كړو ﴿احكام﴾ په باب د ديات كښې ،انشاءالله تعالى.

(وَإِنْ خَنَقَ فِي الْمِصْرِ غَيْرَ مَرَّةٍ قُتِلَ بِهِ) لِأَنَّهُ صَارَ سَاعِيًا فِي الْأَرْضِ بِالْفَسَادِ فَيُدْفَعُ شَرُّهُ بِالْقَتْلِ، وَاللّٰهُ تَعَالَى أَعْلَمُ. وان خنق في المصر غير مرة قتل به لأنه صار ساعيا في الأرض بالفساد فيدفع شره بالقتل والله تعالى أعلم بالصواب

زباړه وتشريح:- اوكه مرئ ئې خفه كړه ﴿د خلګ و﴾ په ښاركي څو څوكرته،نوقتلولې به شى ﴿خانق﴾ په دې ﴿فعل﴾ باندې،ځكه چې دې اوګرځيدلو په مځكه كي فساد كونكې،نولرې كولې به شى شرد ده په قتل سره ﴿چه دې قتل كړې شى.نو خلګ به دده د شرنه محفوظ شى﴾ اوالله تعالى ښه پوهيږى.

(كِتَابُ السِّيَرِ)

ژباړه:- «دا» كتاب د جهاد «په بيان كې» دی.

السِّيَرُ جَمْعُ سِيرَةٍ، وَهِيَ الطَّرِيقَةُ فِي الْأُمُورِ، وَفِي الشَّرْعِ تَخْتَصُّ بِسِيَرِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي مَغَازِيهِ.

ژباړه وتشريح:- السير جمع د «سيرة» ده. اودا طريقې ته وائې په كارونوكې، «يعني كارونه چې په كومه طريقه باندې كولی شی. هغې ته «السيرة» وائی. اوپه شريعت كې خاص دې په طريقې دنبی ﷺ پورې په غزواتو خپلو كې، «يعني نبی ﷺ چې په كومه طريقه جهاد كړې دې. هغه طريقې ته سيرة وائی»

دجهاد حكم

قَالَ (الْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِينَ) أَمَّا الْفَرْضِيَّةُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ} وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الْجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ} (۱) وَأَرَادَ بِهِ فَرْضًا بَاقِيًا،

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائی. جهاد «په عامو حالاتوكې» فرض كفايه دی. كله چې اودريږی په دې باندې يوه ډله د خلگ ونه، نوساقطيږی د نورو نه «يعني جهادفرض كفايه دی. ځكه چې د فرض كفايه تعريف دا دی. چه په مسلمانانوكې يوه ډله هغه كوی. نود ټولوغاړه لنډيز وی. اوكه څوك ئې هم نه كوی. نوواړه به گناهگاروی. لكه دجنازې لمونځ راواخله. په متن كې دوې [دوه] خبرې دی. يو دا چې جهاد فرض دی. اوبله دا چې على الكفايه دی. نود لومړئی خبرې تفصيل دا دی» هرچه فرضيت «دجهاد» دی. نودالله تعالى د دې ارشاد د امله چې «وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً» جنگيږئ مشركانو سره تاسو واړه لكه څنگه چې جنگيږی دوئ تاسو سره ټول، «نواصل په كتاب الله سره د جهاد فرضيت ثابت دی. او احاديث هم ددې تائيد كوی. نوځكه فرمائی» اود قول د نبی ﷺ نه «دجهاد فرضيت ثابت دی» چې جهاد به جاری وی ترقيامته پورې او «دنبی ﷺ دحديث مطلب دا دی. چه» نبی ﷺ اراده كړې ده په دې ارشاد سره چې جهادبه فرض وی چې پاته به وی. «دمكې نه دهجرت پشان به ددې فرضيت دخه وخته پورې نه وی»

وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ، لِأَنَّهُ مَا فُرِضَ لِعَيْنِهِ إِذْ هُوَ إِفْسَادٌ فِي نَفْسِهِ، وَإِنَّمَا فُرِضَ لِإِعْزَازِ دِينِ اللَّهِ وَدَفْعِ الشَّرِّ عَنِ الْعِبَادِ، فَإِذَا حَصَلَ الْمَقْصُودُ بِالْبَعْضِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِينَ كَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَرَدِّ السَّلَامِ

ژباړه وتشريح:- اودا «جهاد» فرض على الكفايه دی. «لكه مړی ته غسل وركول اوپه هغه جنازه كول وغيره چې فرض على الكفايه دی. اودا فرض كفايه ځكه دی» چې دا نه دی فرض شوی په اعتباردخپل ذات سره «يعني دجهاد په ذات كې داسې څه معنی نشته. چه هغه مطلوب وی. لكه لمونځ راواخله. لمونځ يو داسې عمل دی. چه د اول نه ترآخره پورې دالله تعالى بندگی ده. ددې په ذات كې داسې څه شی نشته. چه خلگ وته په كې نقصان وی. اوجهاد دلمانځه پشان نه دی» ځكه چې دا «جهاد» فساد پيدا كول دی په اعتباردخپل ذات سره «ځكه چې دا خودالله تعالى بندگانوته عذاب وركول دی. اوښارونه تباه كول دی.» اوفرض شوی دی. د اعزازد دين دالله تعالى دپاره، او لرې كاوه د شر «دكافرانو» د بندگانو «مسلمانانو» نه، «يعني جهادته كه په ظاهره نظركوی. نودا قتل وغارت دی. ليكن ددې مقصد ډيراوچت دی. چه دالله تعالى د دين ترقی او د ظالمانودشرنه ساتنه دی» نوكله چې حاصليږی مقصود په بعضې كسانو، ساقطيږی «فرضيت ددې» د نور «مسلمانانو» نه، لكه لمونځ دجنازې «چه فرض كفايه دی. كه بعضې مسلمانان ئې اوكړی. دټولوغاړه خلاصيږی» اوځواب وركول د سلام «چه څنگه فرض كفايه دی. كه يوكس په ډيرو خلگ وباندې سلام واچوی. اوپه دغه ډله كې يوكس دسلام ځواب وركړی. دټولوغاړه لنډيز شوه»

---

۱) من حديث أنس ﷺ أخرجه أبوداو فى الجهاد باب ۳۳ رقم ۲۵۳۲)_

دجهاد پريښودو ګناه

(فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ) لِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْكُلِّ، وَلِأَنَّ فِي اشْتِغَالِ الْكُلِّ بِهِ قَطْعَ مَادَّةِ الْجِهَادِ مِنَ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ فَيَجِبُ عَلَى الْكِفَايَةِ.

حل اللغة: ① الكراع: اسونه

ژباړه وتشريح:- اوكه اهتمام اونكړلوددې ﴿جهاد﴾ هيڅ كس ﴿په مسلمانانوكې﴾ نوګناهګاريږي واړه خلګ په پريخودو ددې ﴿جهادچه فرض كفايه دې﴾ ځكه چې وجوب په ټول ﴿خلګ وو﴾ دې. ﴿اوپه ترك د خلګ و﴾ په دې ﴿جهاد﴾ كې ختميدل د سامان د جهاد دي.لكه اسونه،اووسله شوه، ﴿نوهركله چې سامان اوآلات د جهاد ختم شي.نولازمي خبره ده.چه جهادبه په څه كيږي؟ددې امله ضروري ده.چه څه مسلمان په جهاد كې بوخت وي.اوڅه نفر په هغه كارونوكې بوخت وي.چه دجهاد لپاره داسبابواوذرايعو حيثيت لري. لكه په موجوده وخت كې سائنسي علوم،اقتصادي علوم وغيره شول.هركله چې د جهاد اسبابو او آلاتو پيدا كول هم ضروري دي.اوبعضې خلګ وبه دې كې بوخت كيدل ضروري دي.نونتيجه دا راووتله. چه﴾ واجبيږي ﴿جهاد﴾ على الكفايه، ﴿يعنى چې بعضې مسلمانان په كې بوخت وي.نود نوروغاړه لنډيز شوه﴾

دعام اعلان په وخت كې دجهاد حكم

(إِلَّا أَنْ يَكُونَ النَّفِيرُ عَامًّا) فَحِينَئِذٍ يَصِيرُ مِنْ فُرُوضِ الْأَعْيَانِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا} الْآيَةَ.

حل اللغة: ① النفير: اعلان ② الاعيان: جمع د عين ،فرض عين ③ خفاف: جمع د خفيف ،سپك ④ ثقال: جمع د ثقيل، درروند.

ژباړه وتشريح:- مګردا چې وي اعلان عام ﴿يعنى جهاد فرض على الكفايه دې.مګردا كه دكافرانوشريه بعضې مسلمانانوباندې نه دفع كيږي.مثلاً هغوى په مسلمانانو چور اوكړي.اوپه بعضې مسلمانانوكې دهغوى دمقابله قوت نه وي.اوحاكم عامو مسلمانانوته اعلان اوكړي.چه هرسړې دې په جهاد كې برخه واخلي.نوپه دغه وخت كې جهاد فرض عين ګرځي.﴾ دالله تعالى ددې ارشاد د وجې. ﴿په داسې حالت كې جهادفرض عين ګرځي﴾ اوځئ سپك اودرانه ﴿دالله تعالى په لاركې په هرحالت كې كه سوارۀ اوپيدل،خوانان او بوډاګان،تېږ اوخاربه،جوړ اوناجوړه،اوزګاراوناوزګاره،ناوادۀ شوې اووادۀ شوې، شتمن اوفقيران.اوكه څوك اعتراض اوكړي.چه آيت عام دې.پكارده چې په هرحالت كې جهاد فرض عين وي.نوعقلي ځواب دا دې.چه په دې صورت كې ډيرحرج دي.اوحرج په دين كې نشته، دوهم دا چې د نبي ﷺ عمل د قرآن پاك تفسير دې.نبي ﷺ به جهاد ته تشريف اوړل ،اوډيرصحابه كرام ﷺ به په مدينه كې پاتې كيدل.كه فرض عين وي .نوبيا به ولې څه صحابه ﷺ په مدينه كې پاتې كيدل﴾

وَقَالَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: الْجِهَادُ وَاجِبٌ إِلَّا أَنَّ الْمُسْلِمِينَ فِي سَعَةٍ حَتَّى يُحْتَاجَ إِلَيْهِمْ، فَأَوَّلُ هَذَا الْكَلَامِ إِشَارَةٌ إِلَى الْوُجُوبِ عَلَى الْكِفَايَةِ وَآخِرُهُ إِلَى النَّفِيرِ الْعَامِّ، وَهَذَا لِأَنَّ الْمَقْصُودَ عِنْدَ ذَلِكَ لَا يَتَحَصَّلُ إِلَّا بِإِقَامَةِ الْكُلِّ فَيُفْتَرَضُ عَلَى الْكُلِّ

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلي دي ﴿امام محمد﴾ رحمه الله په جامع صغيركې چې جهاد واجب دي.مګردومره ده چې مسلمانان په فراخئ كې دي.ترڅو چې حاجت پريوځي دوئ ته، ﴿په عام اعلان كې يعنى په دوئ كې د بعضو لپاره جائز دي.چه جهاد پريږدي.چه كوم نفر په جهاد كې شريك وي.اوپه هغوى باندې مقصود حاصليږي﴾ نواول ددې كلام ﴿چه ((الجهاد واجب إلا أن المسلمين في سعة)) اشاره ده وجوب على الكفايه ته، ﴿ځكه چې په دې كې اول د وجوب جهاد بيان كوي.اوبيا په جهاد كې د عدم شركت اجازت وركوي نو معلومه شوه چه جهاد فرض كفايه دې.ځكه كه چيرته فرض عين وي.نوبيا به هيڅ چا ته د پريخودو اجازت

نه وو﴾ اواخر ددې ﴿کلام دامام محمدؒ کې﴾ اشاره ده عامو وتلو﴿يعنی په ((حتی يحتاج إليهم)) سره دې ته اشاره ده.چه جهاد دعام اعلان په وخت کې فرض عين دې.ځکه چې که عام اعلان اوشی.نوبيا دوئ لپاره د جهاد پرېښول جائز نه دی﴾ اودا ﴿وجوب د جهاد په ټولوباندې﴾ ددې وجې دې.چه مقصود ﴿دجهاد چې د دشمن د شردفع کول يا داسلام ترقی ده﴾ په دغه وخت کې ﴿چه عام اعلان دجهاد اوشی﴾ نه حاصليږی په کولودبعضو ﴿مسلمانانو.نوهرکله چې دعام اعلان په وخت کې دجهاد مقصود په بعضې کسانو نه حاصليږی﴾ نوفرض کيږی جهاد په ټولو باندې ﴿ترډې که ددغه ځائې په مسلمانانوکې د دشمن دمقابلې توان نه وی.نوورسره چې نورکوم نزدې مسلمانان دی.په هغوی باندې جهاد فرض عين ګرځی.اوهم دغه ډول سلسله راواخله.ترډې که د دنيا ټولو مسلمانانوته حاجت پيښ شی.نوپه ټولوباندې جهاد فرض عين ګرځی.په موجوده حالاتوکې چې امريکه په افغانسان اودهغه نه روسته ده په عراق باندې چور اوکړله.اوپه دې باندې ئې قبضه اوکړله.ددې اهمه وجه دا ده.چه په افغانستان باندې د حملې کولوپه وخت کې په طالبانو کې د امريکې د مقابلې صلاحيت نه وو.ددې املې په نزدې مسلمانانو يعنی د پاکستان،بهارت،اوايران په حکمرانانوباندې د امريکه خلاف د جهاد اعلان کول اوهلته فوځونه ليګل فرض عين وو.ليکن ددې فرض پوره کولوپه ځائې پاکستان امريکې ته اډې ورکړې.نونتيجه ئې دا شوه.چه افغانسان غلام شو.دغه ډول د عراق حالت هم په دې قياس کړه﴾

داقدامی جهاد حکم

﴿وَقِتَالُ الْكُفَّارِ وَاجِبٌ﴾ وَإِنْ لَمْ يَبْدَءُوا لِلْعُمُومَاتِ

ژباړه وتشريح:- اوجنګ کول د کافرانوسره واجب دې اګرچه هغوی چور نه وی کړې په موږ باندې ﴿يعنی کله چې کافران د اسلام قبلولواودجزيه ورکولونه انکاراوکړی.نوددې نه روسته دوئ سره جهاد کول واجب دی. اګر چې ددې دواړوخيزونو نه منلونه روسته هغوئ په مسلمانانو چور نه وی کړې﴾ د املې د عموماتونه ﴿يعنی د جهاد په فرضيت چې کوم آياتونه اواحاديث راغلی دی.لکه دالله تعالی قول چې جنګيږئ کافرانوسره ټول، دغه ډول نبیﷺ فرمائيلی دی.جهاد به ترقيامته پورې جاری وی.اوددې بيان په کې نشته.چه هله به تاسوجهد د لازميږی.چه کافران په تاسو چور اوکړی. نو ددې نصوصوعموم د املې اقدامی جهادهم جائز دی﴾

په چاچه جهادفرض نه دې

﴿وَلَا يَجِبُ الْجِهَادُ عَلَى صَبِيٍّ﴾ لِأَنَّ الصِّبَا مَظِنَّةُ الْمَرْحَمَةِ ﴿وَلَا عَبْدٍ وَلَا امْرَأَةٍ﴾ لِتَقَدُّمِ حَقِّ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ ﴿وَلَا أَعْمَى وَلَا مُقْعَدٍ وَلَا أَقْطَعَ﴾ لِعَجْزِهِمْ

حل اللغة: ① **الصبا**:ماشومتوب ② **مظنة**:ځائې د ګمان ③ **المرحمة**:نرمی ،شفقت ④ **اعمی**:ړوند ⑤ **مقعد**:شل ⑥ **اقطع**:لاس کټ شوې

ژباړه وتشريح:- اونه واجبيږی ﴿جهاد﴾ په ماشوم باندې ځکه چې ماشومتوب ځائې د شفقت دې. ﴿يعنی پکارده چې ماشوم باندې آسانتيا اوشفقت اوکړې شی.اوکه موږ په ده جهاد واجب کړو. نوجهاد چونکه ګران کاردې.نودې په مشقت کې اخته کيږی.اوشفقت د مشقت تقاضا نه کوی.اوبله دا چې ماشوم مرفوع القلم دی﴾ اونه ﴿واجبيږی﴾ په غلام اوپه ښځه د املې د تقدم دحق د مولی اود خاوند ﴿يعنی په عامو حالاتو کې په غلام دخپل مولی اوپه ښځه باندې د خپل خاوندحق مقدم دې.البته که دجهاد لپاره عام اعلان اوشی.نوبيا به د مولی اود خاوند اجازت نه بغيرجهاد ته ځی﴾اونه ﴿واجبيږی﴾ په ړونداوپه شل اوچه ښه ئې کټ شوې وی. د املې دعجز ددوئ نه﴿يعنی په جهاد کې شرکت ددې لپاره وی.چه ددشمن مقابله اوکړی. يا د مجاهدينومدد اوکړی.اودا نفر په خپله د نورو دخدمت محتاج دی.نودوئ به په خپله څه جهاد اوکړی﴾

دشمن د حملې په صورت کښې دجهادحکم

(فَإِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ وَجَبَ عَلَى جَمِيعِ النَّاسِ الدَّفْعُ تَخْرُجُ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا وَالْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمَوْلَى) لِأَنَّهُ صَارَ فَرْضَ عَيْنٍ، وَمِلْكُ الْيَمِينِ وَرِقُّ النِّكَاحِ لَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ فُرُوضِ الْأَعْيَانِ كَمَا فِي الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ،

حل اللغة: ① **هجم** چور ② **العدو** دشمن ③ **بلد** ښار

ژباړه وتشریح:- که چور اوکړله دشمن ﴿یا ناڅاپه چور ئې اوکړله﴾ په یوښار ﴿د مسلمانانو﴾ باندې واجب شوه په ټولو خلګو باندې، دفاع کول ﴿اومقابله کول اومقابله کول د دشمن.نو﴾ اوځی به ښځه بغیرداجازت د خاوند نه اوغلام بغیرداجازت د مولی نه، ﴿اودلیل دا دې.چه﴾ اوګرځیدلو جهاد فرض عین،اوملك یمین ﴿په غلام اووینځه کې﴾ اورقیت د نکاح ﴿په ښځه کې﴾ نه ښکاره کیږی په مقابله د فرض عین ځیزونوکې. ﴿یعنی چې کله د مولی اودخاوند دحق مقابله د فرض عین سره راشی.نوفرض عین به مقدم وی د دوی په حقوقو باندې.اول به فرض عین ادا کولې﴾ لکه په لمونځ اوروژه کې ﴿یعنی که مولی یا خاوند ښځه د فرضی لمونځ یا روژې نه منع کوی.نودوی به په دې کې دهغویٔ تابعداری نه کوی.ځکه چې دمخلوق تابعداری به په شی کې نه کوی.چه د خالق په کې نافرمانی وی﴾

بِخِلَافِ مَا قَبْلَ النَّفِيرِ لِأَنَّ بِغَيْرِهِمَا مَقْنَعًا فَلَا ضَرُورَةَ إِلَى إِبْطَالِ حَقِّ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ

حل اللغة: ① **مقنع** اطمینان ورکونکې

ژباړه وتشریح:- په خلاف دعام اعلان نه وړاندې ﴿یعنی چې د جهاد لپاره عام اعلان نه وی شوې. نوپه هغه صورت کې د غلام لپاره د مولی نه اودښځې لپاره د خاوندنه اجازت غوښتل ضروری دی﴾ ځکه چې بغیرددې دواړو ﴿غلام اوښځې﴾ نه ګذاره کیږی ﴿ددشمن دمقابلې.نودعام اعلان نه وړاندې چونکه غلام اوښځې ته څه اړتیا نه وی﴾ نونشته اړتیا باطل کولوحق دمولی اودخاوندته ﴿بغیرد ضرورته﴾

دجهاد لپاره دخلقونه د چنده اخستلوحکم

(وَيُكْرَهُ الْجُعْلُ مَا دَامَ لِلْمُسْلِمِينَ فَيْءٌ) لِأَنَّهُ يُشْبِهُ الْأَجْرَ، وَلَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ لِأَنَّ مَالَ بَيْتِ الْمَالِ مُعَدٌّ لِنَوَائِبِ الْمُسْلِمِينَ. قَالَ (فَإِذَا لَمْ يَكُنْ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُقَوِّيَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا) لِأَنَّ فِيهِ دَفْعَ الضَّرَرِ الْأَعْلَى بِإِلْحَاقِ الْأَدْنَى،

حل اللغة: ① **الجعل** چنده ② **فئ** په مال غنیمت کښې مال فئ ③ **نوائب** جمع د نائبة مصیبت،حادثه ④ **الاعلی** سخت ،زیات ⑤ **الادنی** معمولی

ژباړه وتشریح:- اومکروه دی اخستل دچنده ﴿دامام لپاره د خلګ ونه﴾ ترڅوچه وی د مسلمانانو لپاره ﴿په بیت المال کې﴾ مال فئ ﴿یعنی هغه مال چې دکافرانوسره د جنګ نه بغیرحاصل شوې وی.لکه جزیه، او خراج شو.نوچونکه بیت المال د خلګ ودحاجتونوپوره کاوه لپاره وی.نوچه په بیت المال کې پیسې وی.په دې باندې دمجاهدینوضروریات پوره کیداې شی.اوکه موږ په داسې صورت کې چې په بیت المال کې د مسلمانانوپیسې وی.اوامام دمجاهدینو لپاره د خلګ ونه چنده اخلی. نو ﴿دا مشابه کیږی د اجرت سره، ﴿یعنی ظاهرصورت ئې داسې ښکاری.چه مجاهد جهاد ته ځی. اوامام ورته دخپلو ضروریاتوپوره کاوه لپاره څه ورکړی.نودا یو ډول اجرت شو.اوپه طاعاتو باندې بغیردضرورته اجرت اخستل جائزنه دی.اوبله دا چه﴾ بیت المال تیارشوې دې لپاره دلرې کولودمصیبتونود خلګ و،نوهرکله چې نه وی ﴿په بیت المال کې څه ځیز﴾ نونشته څه باك چې مضبوط کړې شی بعضې ﴿مسلمانان﴾ په بعضې ﴿یعنی دمجاهدینو لپاره د غیرمجاهدینو نه چنده راغونډه کړی﴾ لپاره دلرې کولوضرراعلی ﴿چه دکافرانودشردفع کول دی﴾ په ملحق کولود ضررادنی. ﴿یعنی دلته دوې [دوه] ضررونه دی.یوضرر دا چې دکافرانوغلبه په مسلمانانو راشی. نو اسلامی حکومت به ختم شی.مسلمانان به ګرفتارشی.اوبل ضرر دادې. چې د خلګ ونه د مجاهدینو لپاره چنده واخستې شی. نو اګرچه په دې کې دغه مسلمانانوته ضرر دې.چه د دویٔ نه

محبوب مال اخستې شي. ليکن دا ضرر دهغه ضرر په مقابله کې معمولي دې. کله چې کفاران په مسلمانانو غلبه اوکړي. نو ددې لوئي ضرر لرې کاوه لپاره به دچنده دا ضرر برداشت کولې شي﴾

يُؤَيِّدُهُ {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَخَذَ دُرُوعًا مِنْ صَفْوَانَ } (١) وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ يُغْزِي الْأَعْزَبَ عَنْ ذِي الْحَلِيلَةِ، وَيُعْطِي الشَّاخِصَ فَرَسَ الْقَاعِدِ. (٢)

حل اللغة: ① دروع جمع د درع، زغره ② الاعزب ناواده شوې ③ ذی الحليلة واده شوې ④ الشاخص هغه کس چې جهاد ته ځي ⑤ القاعد هغه څوک چې جهاد ته نه وي تلي

ژباره وتشريح:- او تائيد کيږي ددې خبرې ﴿چه په سخت وخت کې به د مسلمانانو نه چنده اخستې شي﴾ چې نبي ﷺ اخستې وې زغرې د صفوان نه ﴿په ورځ دحنين کله نې چې ترې زغرې واخستې. نو صفوان ورته اووئيل. دا تاسو زما نه په زور واخستې. نبي ﷺ ورته اوفرمائيل. نه بلکه تاته درخواست کوو. چه دا راته راکړه. او که ضائع شوې. نو ددې تاوان به درکوو﴾ او عمر ﷺ وو. چه ليږل به ئې ناواده شوي د واده شوي په ځاني ﴿يعنی که يو کس به واده کړې وو. نو دهغه په ځانې به ئې هغه کس جهاد ته ليږلو. چاچه به واده نه وو کړې﴾ او ورکول به ئې شاخص ته ﴿هغه کس ته چې جهاد ته به تلو﴾ اس دقاعد ﴿هغه کس چې جهاد ته به نه تلو. ددې نه هم دا معلومه شوه. چه دامام لپاره په وخت د اړتيا دهغه خلګ ونه چنده اخستل جائز دي. څوک چې په خپله جهادته نه ځي﴾

(بَابُ كَيْفِيَّةِ الْقِتَالِ)

ژباره وتشريح:- ﴿هرکله چې فارغ شو مصنف ﷫ د بيان د فرضيت دجهاد اودشرطونو ددې نه. نو اوس پيل کوي په بيان د طريقې ددې کې نو فرمائي. چه دا﴾ باب ﴿دې په بيان﴾ د طريقې د جهاد کې

(وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُونَ دَارَ الْحَرْبِ فَحَاصَرُوا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ) لِمَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا "{أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا قَاتَلَ قَوْمًا حَتَّى دَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ} (٣)

حل اللغة: ① حاصروا کيراؤ واچوی ② مدينة ښار ③ حصن قلعه

ژباره وتشريح:- کله چې داخل شي مسلمانان دارالحرب ﴿دکافرانو ملک﴾ ته، او محاصره کړي ﴿کيرکړي﴾ يو ښار يا قلعه، ﴿يعنی هرهغه ځانې چې دهغې مينځ ته بغيراجازته ورتلل نشی کيدې. نو دتولونه اول﴾ رابلی به دوی اسلام ته ﴿چه تاسو اسلام قبول کړئ﴾ د دې امله چې فرمائيلي دی حضرت ابن عباس (رض) چې نبي ﷺ هيڅ يو قوم سره جهاد نه دې کړې. تر دې چې راوبلل به ئې دوئ اسلام ته ﴿چه تاسو ايمان راوړئ﴾

قَالَ (فَإِنْ أَجَابُوا كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ) لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ، وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ} (٤) الْحَدِيثَ.

ژباره وتشريح:- که دوی قبول کړلو دعوت ﴿او اسلام ئې قبول کړلو﴾ نو منع به شي ﴿مسلمانان يا منع به کړي مسلمانان ځانونه خپل﴾ د جنګ ددوئ نه ﴿يعنی دوئ سره به جنګ نه کوی﴾ د امله د حاصليدو د

---

١) من حديث أمية بن صفوان عن أبيه أميه أخرجه أبوداود فی البيوع باب ٨٨ رقم ٣٥٥٢ وأحمد فی المسند (٤٠١\١٣) والنسائی فی السنن الكبری (٣٤١٠) رقم ٥٧٧٩) والحاكم فی المستدرک (٤٧\٢)_

٢) من أثر أبی مجلز رحمه الله أخرجه ابن أبی شيبة رحمه الله فی مصنفه (٢٧٨\١٣)_

٣) من حديث ابن عباس رضی الله عنهما أخرجه عبدالرزاق رحمه الله فی مصنفه والحاكم فی المستدرک (١٥\١) وأحمد فی المسند (٢٣١\١)_

٤) من حديث أبی هريرة رضی الله عنه أخرجه البخاری فی الجهاد باب ١٠٢ ومسلم فی الجهاد رقم ١) وأبوداود فی الجهاد باب ٩٢) وأحمد فی المسند (٣١\٢)_

مقصود ﴿د جهاد چه کوم مقصد دي.هغه په دارالکفر کي دالله تعالى د دين غلبه ده. نو چي دوى ايمان راوړل هغه مقصود بغير دقتال نه حاصل شو.نوقتال ته څه حاجت پاتي نشو .اوددوئ سره به د جنګ کولونه خکه منع کيږي﴾ يقيناً فرمائيلي دى نبي ﷺ ماته حکم شوي دي چي جنګيږه خلګو سره تردې چي دوئ اووائي. نشته لائق دعبادت سوا دالله نه حديث ترآخره پوري اولوله، ﴿يعنى اوچاچه لااله الا الله اووئيل.نوده محفوظ کړل زما نه مال خپل اونفس خپل مګر په حق دشريعت سره، يعنى که دې يومسلمان قتل کړى.يا زنا اوکړى.نوبيا به دده وينه محفوظ نه وى.اودده حساب په الله تعالى دي.نوکه په ظاهره ئي کلمه وئيلې وى.اوپه باطن کي کافر وى. زه به ظاهرته ګورم.دنفاق حساب به ورسره الله تعالى دقيامت په ورځ کوى﴾.

دجزيه مطالبه کول

﴿وَإِنِ امْتَنَعُوا دَعَوْهُمْ إِلَى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ﴾ بِهِ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أُمَرَاءَ الْجُيُوشِ،(١)و لِأَنَّهُ أَحَدُ مَا يَنْتَهِي بِهِ الْقِتَالُ عَلَى مَا نَطَقَ بِهِ النَّصُّ، وَهَذَا فِي حَقِّ مَنْ تُقْبَلُ مِنْهُ الْجِزْيَةُ،

حل اللغة:① **الامراء**:جمع د امير،مشر② **جيوش**:جمع د جيش ،لښکر③ **نطق**:چه ګويا دي

زباړه وتشريح:- اوکه منع شو ﴿کافران يعنى دايمان راوړلونه ئي انکاراوکړلو﴾ راوبه بلي دوى ﴿کافران﴾ ادا کاوه دجزيه ته په دې ﴿دعوت ورکولوباندې﴾ حکم کولورسول الله ﷺ دلښکرواميرانو ته ﴿چه اول به تاسو دوئ ته دايمان دعوت ورکوئ.خوکه دايمان راوړلونه انکاراوکړى.نودا به ورته وائي.چه جزيه قبوله کړئ.يعنى تاسوبه موږ ته ټيکس راکوئ.اودهغې په بدله کي به اسلامى حکومت تاسوته د جان اومال امن درکوى﴾ اوبله دا ﴿جزيه﴾ يوخيزدي په هغو خيزونوکي چي ختميږي په دې باندې جنګ لکه څنګه چي ګويا دي په دې باندې نص ﴿قرآنى.چه قول دالله تعالى دي((قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ)) اودا ﴿د جزيه مطالبه کول﴾ په حق دهغه چا کي دى.چه قبلولې شى دهغوئ نه جزيه، ﴿لکه يهود او نصارى وغيره﴾

تشريح:- نبى ﷺ چي به لښکروته کوم وصيت کولو.نودهغې تفصيل دحضرت بريده رضي الله عنه په حديث کي ذکر دې. دحضرت بريده رضي الله عنه نه روايت دې.چه رسول الله به کله په يولښکر يا په سريه باندې، څوک اميرمقرر کولو،نوهغه ته به ئي په خصوصيت سره او نورو مسلمانانوته په عموم سره دهغوئ د خيګړې لپاره وصيت کولوچه دالله تعالى نه ويريږئ.اوبيا ئي ورته اوفرمائيل.کله چي دالله تعالى په نوم باندې دالله تعالى په لاره کي جهاد کوئ.جنګ کوئ هغه کسانوسره چي کفرکوى په الله تعالى باندې،جهاد کوئ خوظلم مه کوئ.اودهوکه مکوئ.اومثله مکوئ.اوماشوم مه قتلوئ.اوکله چي ته دخپلو مشرکانودشمنانو سره ملاؤ شې.نودوئ ته د درې خبرودعوت ورکوه.نوچه کومه يوه خبره دوئ قبوله کړى.نودهغې قبلول ورسره منه.اوددوئ نه منع شه. ﴿هغه درې خبرې ترتيب وار دا دى﴾ ① دوئ اسلام ته راوبله.که دوئ اسلام قبول کړى.نوددوئ اسلام قبول کړه.اوبيا ورته دعوت ورکړه.چه د خپل وطن نه دمهاجرينو وطن ﴿مدينې﴾ ته راشى.اوددې خبر ورته ورکړه.که دوئ هجرت اوکړله.نوددوئ لپاره به هغه حقوق وى.کوم چي د مهاجرينو لپاره دى.اوپه دوئ باندې به هغه پابندئ وى.کومې چي په مهاجرينوباندې دى.که دوئ دهجرت کولونه انکاراوکړلو.نودوئ ته خبر ورکړه.چه دوئ د بانډيچيانومسلمانانو پشان دى.په دوئ باندې به دالله تعالى حکم هغه شان جارى کيږى.څنګه چي په مسلمانانوباندې جارى کيږى.اوددوئ لپاره به په مال غنيمت اومال فئ کي څه برخه نه وى.البته دا چي دوئ دمسلمانانوپه ملګرتيا کي جهاد اوکړى.که دوئ ددې نه

١) من حديث بريدة رضي الله عنه أخرجه مسلم فى الجهاد رقم ٢ وأبوداود فى الجهاد باب ٨٢ رقم ٢٦١٢ والترمذي ى السير باب ٤٧ وابن ماجه فى الجهاد باب ٣٨ رقم ٢٨٥٨ والنسائي فى السنن الكبرى (١٧٢١٥)رقم ٨٥٨٦) والدارمى فى السير باب ٨ وأحمد فى المسند (٣٥٨١٥)_

انكار اوكړلو.نوددوئ نه د جزيه غوښتنه اوكړئ.كه دوئ دې ته غاړه كيخودله.نوددوئ سره دجنګ كاوه نه منع شئ.اوكه دوئ دجزيه وركولونه انكار اوكړلو.نوداللہ تعالى نه مدد غواړه.اوددوئ سره جنګ كوه. الحديث.

وَمَنْ لَا تُقْبَلُ مِنْهُ كَالْمُرْتَدِّينَ وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَرَبِ لَا فَائِدَةَ فِي دُعَائِهِمْ إِلَى قَبُولِ الْجِزْيَةِ لِأَنَّهُ لَا يُقْبَلُ مِنْهُمْ إِلَّا الْإِسْلَامُ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ}

حل اللغة: ① عبدة:جمع د عابد ،عبادت كونكي ② الاوثان:جمع د وثن ،بت

ژباړه وتشريح:- اوهغه څوك چې نشي قبلولې جزيه د هغوئ نه لكه مرتدين اوعبادتكونكى د بتانوپه جزيرة العرب كي ﴿څكه چه﴾ نشته فائده په بلنه ددوئ كي قبلولو دجزيه ته، ﴿اوفائده څكه نشته.چه﴾ نه قبليږي د دوئ نه مګر اسلام، ﴿يعنى كه دجزيرة العرب مشركان جزيه قبلولوته غاړه ږدي.نوهم به دوئ ته د جزيه قبلولودعوت نشي وركولې.څكه چې ددوئ نه جزيه قبلول جائزنه دي.اودليل پرې دا دې﴾ الله تعالى فرمائيلي دي.تاسوجنګيږئ دوئ سره تردې چې اسلام قبول كړي. ﴿دلته الله تعالى داسې اونه فرمائيل.چه ((أويؤمنوا)) څكه چې په ظاهره داسلام قبول كړي.نودوئ سره دجهاد جواز ختم شو.اګرچه په باطن كي دوئ كافران وي. په دې آيت كي دمشركانوپه اړه كي الله تعالى صرف دوې [دوه] شيان (څيزونه) ذكركړي دي.چه يا به ايمان راوړي . او يا به ورسره جنګ كوئ.دغه ډول نبى ﷺ په مرض الوفات كي دا حكم كړي وو.چه مشركان د جزيرة العرب نه اوباسئ.ګورئ په دې حديث كي هم نبى ﷺ صرف د ويستلو ذكركړې دې.دا ئې نه دي فرمائيلي.البته دا كه تاسوته جزيه دركوي.نوخيردې بيا ئې مه اوباسئ﴾

جزيه وركولوته تيارېدل

(فَإِنْ بَذَلُوهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ) لِقَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِنَّمَا بَذَلُوا الْجِزْيَةَ لِيَكُونَ دِمَاؤُهُمْ كَدِمَائِنَا وَأَمْوَالُهُمْ كَأَمْوَالِنَا،(١)

حل اللغة: ① بذل:وركول ② دم:وينه

ژباړه وتشريح:- كه دوئ قبوله كړي دا ﴿جزيه مسلمانانوته،يعنى په وركولوباندې راضي شي.اګرچه وركړې ئې نه وي﴾ نودوئ لپاره به هغه ﴿حقوق﴾ وي.كوم چې د مسلمانانو لپاره وي. ﴿اسلامي حكومت به د دوئ د مال او جان ساتنه كوي﴾اوپه دوئ باندې به وي هغه ذمه واري وي.كومه چې په مسلمانانو وي. ﴿لكه دحاكم اطاعت كول وغيره.اودوئ ته به په جزيه وركولود مال اوجان ساتنه ملاويږي﴾ د قول د علي﷜ د امله ﴿هغوئ فرمائيلي دي﴾ يقيناً دوئ ﴿كافران﴾ وركوي جزيه دې لپاره چې شي چې وينې ددوئ ﴿په ساتنه كي﴾ پشان د وينو زمونږ.اوشي مالونه د دوئ پشان د مالونو زمونږ.﴿نولكه څنګه چې د مسلمان دمال اوجان ساتنه د اسلامي حكومت ذمه واري ده.دغه ډول به د هغه كافرانودجان اومال ساتنه هم داسلامي حكومت ذمه واري وي.څوك چې جزيه وركوي﴾

وَالْمُرَادُ بِالْبَذْلِ الْقَبُولُ وَكَذَا الْمُرَادُ بِالْإِعْطَاءِ الْمَذْكُورِ فِيهِ فِي الْقُرْآنِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ

ژباړه وتشريح:- اومراد په ((بذل)) سره ﴿په كتاب القدوري كي چې ((فإن بذلوها)) قبلول دي.يعنى كه دوى جزيه وركول قبول كړل﴾ اودغه ډول مراد د اعطاء نه كومه چې ذكر ده په اړه ددې ﴿جزيه﴾ كي په قرآن پاك كي ، ﴿يعنى دالله تعالى په دې قول كي چې (حتى يعطوا الجزية)نوپه دې كي د اعطاء نه مراد قبلول دي. الله تعالى ښه پوهيږي.

١) غربه الزيلعى رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل رواية أبي الجنوب الأسدي قال قال علي بن أبي طالب ﷺ من كانت له ذمتنا فدمه كدمنا وديته كديتنا،وعزاه إلى دارقطني (نصب الراية ٣\٥٨٧)_

ددعوت اسلام نه وړاندې دجهادكولوممانعت

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُقَاتِلَ مَنْ لَمْ تَبْلُغْهُ الدَّعْوَةُ إِلَى الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ يَدْعُوَهُ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي وَصِيَّةِ أُمَرَاءِ الْأَجْنَادِ {فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ} (١)

حل اللغة: ① امراء جمع د امير، مشر ② الاجناد جمع د جند ،لښکر

ژباړه وتشريح:- اوجائزنه دی چې جنګ اوکړې شی دهغه چا سره چې نه وی رسيدلې هغه ته دعوت داسلام «يعني چا ورته د اسلام دعوت نه وی ورکړې.مګردا چې راوې بلی دې «اسلام» ته،د امله د وينا دنبی ﷺ نه په وصيت کولوکښي د لښکرواميرانوته «يعني کله چې به نبی ﷺ دجهاد لپاره لښکر ليږل. نودهغوی اميرته به ئې داحکم کولو.چه» دوئ «کافران» راوبله،ګواهئ ددې خبرې ته چې نشته لائق دعبادت سوا دالله تعالی نه «يعني دالله تعالی وحدانيت اړخ ته دعوت ورکړه .داخونقلی دليل شو.اوبل عقلی دا هم دې.چه»

وَلِأَنَّهُمْ بِالدَّعْوَةِ يَعْلَمُونَ أَنَّا نُقَاتِلُهُمْ عَلَى الدِّينِ لَا عَلَى سَلْبِ الْأَمْوَالِ وَسَبْيِ الذَّرَارِيِّ فَلَعَلَّهُمْ يُجِيبُونَ فَنُكْفَى مُؤْنَةَ الْقِتَالِ،

حل اللغة ① سلب اخستل ② سبی بندی کول ③ الذراری ماشومان ④ تكفى كافی كيږی ⑤ مونة مشقت

ژباړه وتشريح.- په دعوت ورکولوسره به دوئ پوښه شی.چه موږ «مسلمانان» دوئ «کافرانو» سره د دين لپاره جنګ کوو.د دوئ د مالونو اخستلو لپاره ورسره نه کوو. «چه ددوئ ښځه به ددوئ مالونه اخلو» اود قيدکولود اهل وعيال ددوئ دپاره «يعني زموږ مسلمانانو د جهاد مقصد د نورو قومونوپشان د مال اودولت لوټ کول اود دښمن غلام جوړول نه دی.بلکه موږ صرف دالله تعالی د دين د غلبه لپاره جهاد کوو.نودوئ به ددې نه متاثره شی.چه دا خلګ د مال دولت لالچيان نه دی» نو کيداې چې دوئ قبول کړی «دعوت داسلام» نوموږ به خلاص شود مشقت دجنګ نه «ځکه چې د کوم مقصد لپاره موږ جهاد کولو.هغه مقصد د جهاد نه بغيرحاصل شو»

وَلَوْ قَاتَلَهُمْ قَبْلَ الدَّعْوَةِ أَثِمَ لِلنَّهْيِ، (٢) وَلَا غَرَامَةَ لِعَدَمِ الْعَاصِمِ وَهُوَ الدِّينُ أَوِ الْإِحْرَازُ بِالدَّارِ فَصَارَ كَقَتْلِ النِّسْوَانِ وَالصِّبْيَانِ

حل اللغة: ① غرامة تاوان ② العاصم بچ کونکې ③ الاحراز حفاظت ④ النسوان زنانه ⑤ الصبيان : جمع د صبی،ماشومان

ژباړه وتشريح:- اوكه دوئ ورسره جنګ اوكړلو وړاندې د دعوت نه «چه لا هغوئ ته ئې داسلام دعوت نه وو ورکړې.او چور ئې پرې اوکړه.نوګناهګاردې. «دغه چور کونکې مسلمان» د امله د نهی نه «چه نبی ﷺ دهغه کسانو سره جنګ کولونه منع فرمائيلې ده.چا ته چې داسلام دعوت نه وی رسيدلې.اوكه په دغه جنګ کې دا چور كونكی مسلمانان بعضې كافران مړه کړی.يا دهغوی مالونوته نقصان اورسوی.نو» نه به وی تاوان په دوئ باندې.ځکه موجب د عصمت «اود ساتنه څه نشته» اوهغه «موجب دعصمت او د حفاظت» دين «اسلام» يا دارالاسلام دې. «يعني په دغه مسلمانانوباندې په زيربحث مسئله کې د کافرانو د مالونوتاوان دغه ډول كه هغوئ قتل کړی.دهغوئ ديت نه واجبيږی.ځکه چې دکوم څيزد امله د هغوی جان اومال محفوظ ګرځيدل.هغه اسلام يا دا چې د ذمی په حيثيت په دارالاسلام کې وخت تيروی.اودا دواړه شيان (څيزونه) په دوئ کې نشته.ځکه که ددوئ مال اوجان ته نقصان اورسيږی.دهغې به څه تاوان نه وی» نواوګرځيدل «د دوئ قتل» پشان د قتل د ښځواو ماشومانو «يعني په جهادکې دهغه ښځو او ماشومانو قتل ناجائزدې.کوم چې په جنګ کې برخه نه اخلی.ځوکه چرته دمسلمانانودلاسه په جنګ

١) تقدم تخريجه في حديث بريرا رضي الله عنه)_

٢) من حديث فروة بن مسيك رضي الله عنه أخرجه أحمد في مسنده قال أتيت رسول الله ﷺ فقلت يا رسول الله ﷺ أقاتل بمقبل قومى مدبرهم [illegible]ل ﷺ نعم فلما وليت دعاني فقال لا تقاتلهم حتى تدعوهم إلى الإسلام (نصب الراية (٣/٥٨٤)_

کي ښځې يا ماشومان قتل شو. نوپه دې مسلمانانو دهغوی ديت نشته.نودغه ډول دلته هم په مسلمانانود ديت يا د تاوان په صورت کې څه ضمان نشته﴾

ددوباره دعوت ورکولواستحباب

(وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَدْعُوَ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ) مُبَالَغَةً فِي الْإِنْذَارِ، وَلَا يَجِبُ ذَلِكَ لِأَنَّهُ صَحَّ { أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَغَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّونَ } . (١) { وَعَهِدَ إلَى أُسَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنْ يُغِيرَ عَلَى أُبْنَى صَبَاحًا ثُمَّ يُحَرِّقَ } (٢) وَالْغَارَةُ لَا تَكُونُ بِدَعْوَةٍ.

حل اللغة: ① انذار: ويرول ② اغار: ناڅاپه چور ③ يحرق: سوزولې شي ④ صباحا: په وخت دصبا کښې

زباره وتشريح:- اومستحب دی چې دعوت ورکړی هغه چاته چې رسيدلې وی ورته دعوت ﴿د دين اسلام﴾ لپاره د مبالغه کولوپه ويرولوکې ، ﴿يعنی چې دوئ ته دوباره اوونيلي شي.چه تاسوايمان راوړئ.کنې بيا به ستا د مال اوجان خيرنه وی﴾اوواجب نه دی دا ﴿دوباره دعوت ورکول﴾ ځکه چې په صحت سره ثابته شوې ده.چه نبی ﷺ ناڅاپه چور کړې کړی وه په بنی مصطلق ﴿چه د بنوخزاعه يوه قبيله وه﴾ په داسې حال کې چې هغوئ غافله وو.اودغه ډول اسامه بن زيد ﷺ ته ئې حکم کړې وو.چه ناڅاپه چور اوکړی په ﴿فلسطين کې﴾ په ابنا مقام باندې په وخت د صبا ،اوبيا پرې هور اولګوی. او ناڅاپه چور نه وی ﴿پس د﴾ دعوت نه، ﴿ددې دواړو احاديثونه معلومه شوه.چه چاته د اسلام دعوت رسيدلې وی.اوپه هغه باندې ددوباره دعوت ورکاوه نه وړاندې چور اوکړی.دا جائز ده.البته که په دوباره دعوت ورکولوکې په غالب ګمان سره دا ويره وی.چه دوی به خپل ځان برابر کړی.اومقابله ته به ځان تيارکړی.نوبيا دوباره دعوت ورکول جائزنه دی﴾

داسلام اوجزيه ورکولونه دانکارصورت

قَالَ (فَإِنْ أَبَوْا ذَلِكَ اسْتَعَانُوا بِاَللَّهِ عَلَيْهِمْ وَحَارَبُوهُمْ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ { فَإِنْ أَبَوْا ذَلِكَ فَادْعُهُمْ إلَى إعْطَاءِ الْجِزْيَةِ، (٣)

حل اللغة: ① استعانة: مدد غوښتل

زباره وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوری ﷫﴾ فرمائی.که دوئ ﴿کافرانو﴾ انکاراوکړلو ﴿د جزيه ورکولونه﴾ نومدد به اوغواړی ﴿مسلمانان﴾ دالله تعالی په دوئ ﴿کافرانو﴾باندې،اوجنګ به اوکړئ دوئ ﴿کافرو﴾ سره،د امله د وينا د نبی ﷺ نه په حديث د سليمان بن بريده ﷺ ﴿کوم چې وړاندې په شرح کې تيرشو.په هغې کې دا هم دی﴾ که دوئ ﴿کافرانو﴾ انکاراوکړلو ددې ﴿ايمان راوړولو﴾ نه،نو راوبلله دوئ ورکولود جزيه ته ﴿چه ايمان نه راوړئ نوجزيه راکړئ﴾

إلَى أَنْ قَالَ: فَإِنْ أَبَوْهَا فَاسْتَعِنْ بِاَللَّهِ عَلَيْهِمْ وَقَاتِلْهُمْ } وَلِأَنَّهُ تَعَالَى هُوَ النَّاصِرُ لِأَوْلِيَائِهِ وَالْمُدَمِّرُ عَلَى أَعْدَائِهِ فَيُسْتَعَانُ بِهِ فِي كُلِّ الْأُمُورِ.

حل اللغة: ① المدمر: هلاکونکې ② يستعان: مدد غوښتې شي

زباره وتشريح:- تردې چې ﴿په دغه حديث کې﴾نبی ﷺ فرمائيلې دی.که دوئ ﴿کافران﴾ انکاراوکړی ددې ﴿جزيه ورکولو﴾ نه،نومدد غواړه دالله تعالی نه په دوئ باندې،اوجنګيږه دوئ سره،اوددې ﴿امله هم دالله تعالی نه کومک غوستل پکار دی.يا ددې امله هم پرې چور کول پکار دی﴾ چې الله تعالی مددګاردې

١) من حديث ابن عون ﷺ أخرجه البخاري فی الجهاد باب ١٠٢ ومسلم فی الإيمان رقم ٣٣)_
٢) من حديث أسامة بن زيد ﷺ أن رسول الله ﷺ كان عهد إليه.فقال أغرعلى أبنى صباحاً وحرق أخرجه أبوداود فی الجهاد رقم ٢٦١٦ وابن ماجه فی الجهاد رقم ٢٨٤٣)_
٣) تقدم تخريجه فی حديث بريدة ﷺ)_

دخپلو دوستانو ،اوهلاکونکې دخپلو دشمنانودې.نوځکه به کومك غوښتې شی.په الله تعالی سره په ټولو کارونو کي ،

دمچونړې لګولوحکم

قَالَ (وَنَصَبُوا عَلَيْهِمُ الْمَجَانِيقَ) كَمَا نَصَبَ رَسُولُ اللّٰهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى الطَّائِفِ([1]) (وَحَرَّقُوهُمْ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَحْرَقَ الْبُوَيْرَةَ. ([2])

حل اللغة: ① **نصب:** اودرول، ② **مجانيق:** جمع ده هغه لویه لینده چې غټ کاڼړی په کښې ویشتلې شی ③ **البويرة:** دا د یو ځائې نوم دې

اواوبه لګوئ په دوئ «کافرانو» باندې «دمقابله په غرض» مچونړه، «دا یوه غټه لینده ده.چه په دې کي غټ کاڼړې کیخودې شی.اوبیا پرې په دشمن باندې ګزارکولې شی.په پخوانئ زمانه کي به ددې نه د قلعه ګانوماتولو کاراخستې شو.اوپه موجوده زمانه کي د توپواو میزائلونه دا کاراخستې شی.ددې امله د منجنیق استعمال ترك شوې دې» لکه څنګه چې لګولې وې رسول اللهﷺ په اهل طائف باندې «په غزوه حنین کي» اواوبه سوزوی دوئ «یعنی د دشمن علاقې» ځکه چې نبیﷺ سوزولې وو مقام بویره «هغه دا چې نبیﷺ د یهودواوبنونضیرود قجورووني سوزولې وې.اوکټ کړې وې.خوددې نه دا نه معلومیږی.چه د کافرانوسوزول هم جائز دی.ځکه چې په بل حدیث کي ددې نه منع راغلې ده.چه په اورباندې به صرف هغه ذات عذاب ورکوی.چه مالك اوخالق د اوردې»

داوبوپربښولو ونوکټ کولواوپټوخرابولوحکم

قَالَ (وَأَرْسَلُوا عَلَيْهِمُ الْمَاءَ وَقَطَعُوا أَشْجَارَهُمْ وَأَفْسَدُوا زُرُوعَهُمْ) لِأَنَّ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ إِلْحَاقَ الْكَبْتِ وَالْغَيْظِ بِهِمْ وَكَسْرَةَ شَوْكَتِهِمْ وَتَفْرِيقَ جَمْعِهِمْ فَيَكُونُ مَشْرُوعًا

حل اللغة: ① **ارسال:** لیږل ② **اشجار** جمع د شجر،ونه ③ **زرع:** فصل ④ **الكبت:** ذلت ⑤ **الغيظ:** غصه ⑥ **كسر:** ختمول،ماتول ⑦ **شوكة:** رعب دبدبه ⑧ **جمع:** ډله

زياره وتشريح:- «ابو الحسین قدوری» رحمه الله فرمائی.او راخوشې به کړی په دوئ «کافرانو» باندې اوبه،اوکټ به کړی ونې ددوئ اوخراب به کړی فصلونه د دوئ ځکه چې په دې ټولو «کارونو» کي ددوئ «کافرانو» ذلت، ددوئ غصه کول، او د دوئ توان ختمول،ددوئ د ډلې منتشرکول دی. «اګرچه في نفسه دا کارونه جائزنه دی. لیکن ددې په کولوکي مقصود دا دې.چه کافران دې ته اوګوری.نودهغوی حوصله به کمزورې شی. او هم دا شیان (خیزونه) به دهغوی د شکست اوماتی سبب اوګرځی» نوکیږی «کول ددې کارونو» جائز.

دمسلمان په وجه په کافرانودکاڼروګذارونه نشی بندولې

(وَلَا بَأْسَ بِرَمْيِهِمْ وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْ تَاجِرٌ) لِأَنَّ فِي الرَّمْيِ دَفْعَ الضَّرَرِ الْعَامِّ بِالذَّبِّ عَنْ بَيْضَةِ الْإِسْلَامِ، وَقَتْلُ الْأَسِيرِ وَالتَّاجِرِ ضَرَرٌ خَاصٌّ،

زياره وتشريح:- اونشته څه باك په کاڼروویشتلود دوئ «کافرانو» کي اګرچه وی په دوئ کي مسلمان قیدی یا «مسلمان» سوداګروی. «اودوئ هغه مسلمان د ډال په طوردخپل لښکرورانډې کړی.که دوی په موږ ګذارکوی.نودا خپل مسلمان ورور به اولی.بلکه که داسې وی.نوهم به مسلمانان په کافرانود کاڼرو ګزارونه کوی» ځکه چې په ویشتلوکي «مقصد» لرې کول د ضرر عام دې.د ډلې دمسلمانانونه «یعنی مسلمانان

---

1) من حديث نوربن يزيد رضي الله عنه أخرجه الترمذى فى الإستيذان وأخرجه ابوداود فى المراسيل برواية مكحول (نصب الراية ۳\۵۸۹)-

2) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخارى فى المغازى باب ۱٤ومسلم فى الجهاد رقم ۲۹ وأبوداود فى الجهاد باب ۸۳ رقم ۲٦۱۵ ...مذى فى السيرباب ٤ وابن ماجه فى الجهااد باب ۳۱ رقم ۲۸٤٤ وأحمد فى المسند (۲\۱۲۳)_

ځلورم ټوك چې په کافرانو باندې د کاڼو ګذارونه کوي. په دې کې د دوئ مقصد دا وي. چه واړه مسلمانان د کافرو د شرنه محفوظ شي. او د مسلمانانو په ګذار مسلمان قیدی یا سوداګر مړشي. نو« په قتل کولو د «مسلمان» قیدی او سوداګر کي ضرر خاص دې. «چه صرف دغه قیدی او سوداګر ته رسي. ځکه چې قاعده دا ده. که د خلګو د فائدې لپاره یوکس ته نقصان وی. نو د هغه د نقصان د امله به د عامو خلګ وفائده نشي عامو خلګو (پریخودې). مثلاً د غل په لاس کټ کولو کي عامو خلګ وته دا فائده ده. چه ځوك دې ته ګوري. که پرېښولې (پریخودې). مثلاً د غل په لاس کټ کولو کي عامو خلګ وته دا فائده ده. چه ځوك دې ته ګوري. که غلا او کړم. نو لاس به مې کټ کیږي. د دې امله به ځوك د غلا جراءت نشی کولې. او په معاشره کي به خلګ وته امن ملاؤ شي. او س په لاس کټ کولو کي اګرچه د غل نقصان دې. خو د عامو خلګ و د فائدې په مقابله کي به دده نقصان نه نشی کتې.»

وَلِأَنَّهُ قَلَّمَا يَخْلُو حِصْنٌ عَنْ مُسْلِمٍ، فَلَوِ امْتَنَعَ بِاعْتِبَارِهِ لَانْسَدَّ بَابُهُ

حل اللغة: ① یخلو: خالی کیږي ② انسد: بندول

زیاره وتشریح:- «او ددې لپاره بل عقلی دلیل که د کافرانو په ډله کي مسلمان موجود وي. نو هم به په هغوی چوړ کولې شي. او دهغه مسلمان د امله به چور او د کاڼو ویشتل نشی بندولې. دا بیانوی» اوبله دا چې ډیرکم کرته داسې وي. چه خالی وی یوه قلعه «د کافرانو» د مسلمان نه، نو که چرته منع او کړې «د حملې کولو او د کاڼو ویشتلو نه» دده «مسلمان» په وجه، نو بند به شی دروازه د جهاد «حالانکه نبی ﷺ فرمائیلی دی. چه جهاد به تر قیامته پورې جاری وی.»

د مسلمانانو ماشومانو او قیدیانو نه ډال جوړولو په صورت کي د حملې حکم

(وَإِنْ تَتَرَّسُوا بِصِبْيَانِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ بِالْأُسَارَى لَمْ يَكُفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ) لِمَا بَيَّنَّاهُ (وَيَقْصِدُونَ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارَ) لِأَنَّهُ إِنْ تَعَذَّرَ التَّمْيِيزُ فِعْلًا فَلَقَدْ أَمْكَنَ قَصْدًا، وَالطَّاعَةُ بِحَسَبِ الطَّاقَةِ،

حل اللغة: ① ترسل: ډال جوړول ② رمي: ویشتل

زیاره وتشریح:- او که «کافران» ډال جوړ کړی د ماشومانو د مسلمانانو نه یا «مسلمانانو» قیدیانونه. نه به منع کیږي «مسلمانان» د ویشتلو د دوئ نه. «بلکه په دوئ به ګذارونه کوي» دهغې امله نه کومه چې مونږ بیان کړه «چه په ویشتلو کي د عامو مسلمانانو فائده ده. او په نه ویشتلو کي د دغه مخصوص ماشومانو او قیدیانو فائده. او انفرادی فائدې لپاره به اجتماعی فائده نشی پرېښولې (پریخودې). البته دومره ده. چه کله دوئ په کافرانو باندې ګذار کوی. نو» قصد کوی به په ویشتلو کافران «یعنی دوئ به دا وائی. چه دا موږ کافران او لو. د مسلمان د ویشتلو قصد به په زړه کي نه راولی» ځکه چې په دې صورت کي «چه مسلمانان ماشومان یا قیدیان د کافرو په ډله کي د ډهال په طور استعمالیږی» که متعذر «او ګران» وی توپیر کول «د کافر او مسلمان په مینځ کي چې په دې کي کافر کوم دې او مسلمان کوم دې؟ چې په کافر ګذار او کړی. او مسلمان بچ کړی» خو ممکن ده پیژند ګلو کول په قصد او اراده کي. «چه په نیت کي دا راولی. چه زه په دې خپل ګذار باندې کافر اولم. مسلمان نه اولم. او په دې قاعده به عمل کولې شی. ((ما لا یدرك کله لا یترك کله)) یعنی چې واړه نشی رالاندې کولې. نو واړه به پریخوې هم نشی. «او د کافرانو د ویشتلو او د مسلمان د بچ کولو قصد به ځکه کوی. چه جهاد لوې عبادت او تابعداری ده» او تابعداری په اندازه د قدرت وی. «یعنی سړې هغه هومره تابعداری کولې شی. او په هغه هومره تابعداریٔ مکلف دې. خومره چې دده په وس او قدرت کي وی. او په موجوده صورت کي دې په دې نه دې قادر. چه د کافرو په صف کي مسلمان د خپل ګذار نه بچ کړی. خو په دې قادر دې. چه په ګذار کولو کي د کافر د ویشتلو نیت او کړی»

په مسلمانانو باندې د دیت او کفاره عدم وجوب

وَمَا أَصَابُوهُ مِنْهُمْ لَا دِيَةَ عَلَيْهِمْ وَلَا كَفَّارَةَ لِأَنَّ الْجِهَادَ فَرْضٌ وَالْغَرَامَاتُ لَا تُقْرَنُ بِالْفُرُوضِ.

ژباړه وتشريح:- اوهغه «زخم يا قتل» چې اورسوى ئې دوئ «دمسلمانانولښكر اوقيديانو» ته نونشته ديت په دوئ «دمسلمانانوپه لښكرپه صورت د يوانداد ضائع كيدوكي مثلاً په دغه ويشتلو كي په بندى ماشومانواوقيديانوكي د يوكس پښه يا لاس يا بل اندام ضائع شى.نود مسلمانانو لښكردهغې ديت نشته.حالانكه په عامو حالاتوكي كه يومسلمان د بل مسلمان لاس يا ستركه وغيره ضائع كړل.نوپه ده باندې ديت واجبيږى» اونه كفاره، «د قتل خطاء يعنى كه په دغه ماشومانو او قيديانو كي څوك دمسلمانانوپه ويشتلو او چور باندې قتل شى.نوپه دې مسلمانانودهغې قتل په بدله كي دقتل خطاء كفاره نشته.چه دوې [دوه] مياشتې بلا ناغه روژې اوهغه مقتول خاندان ته ديت وركول دى.اوعدم وجوب ديت اوكفاره دليل دا بيانوى» ځكه چې جهاد فرض دې.او «قاعده داده.چه» تاوانونه نه لازميږى په فرائضو كښي، «ځكه چې فرض ماموربه دى.اوپه كولوئې ثواب ملاويږى.اوسبب د تاوان اوضمان خو سراسر نافرمانى وى .چه منع ترې شوي وى.اوپه كولوئې عذاب ملاويږى.اود ماموربه اومنهى عنه په مينځ كي ښكاره توپير دى»

بِخِلَافِ حَالَةِ الْمَخْمَصَةِ لِأَنَّهُ لَا يَمْتَنِعُ مَخَافَةَ الضَّمَانِ لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَاءِ نَفْسِهِ. أَمَّا الْجِهَادُ فَمَبْنِيٌّ عَلَى إِتْلَافِ النَّفْسِ فَيَمْتَنِعُ حِذَارَ الضَّمَانِ

حل اللغة: ① **المخمصة**:هغه اولوږه چې هلاكت ته نږدې وى ② **الاتلاف**:هلاكول ③ **الحذر**:ويره

ژباړه وتشريح:- په خلاف دحالت دمخمصه «سختې لوږې.دا په اصل كي د يوتقديرى سوال ځواب دى.سوال دا دې.چه دجهاد د اړتيا د امله كه په زيربحث صورت كي مسلمان قتل شى يا دهغه يواندام ضائع شى .نو پكارده چې په دغه مجاهدينومسلمانانوباندې د هغه مسلمانانوديت واجب شى.كوم مسلمانان چې كافرانوډال جوړ كړى وو.اودې مسلمانانوهغوى قتل كړل.اوكه څوك دا وائى.چه په مجاهدينودې د متقولينو مسلمانانوديت واجب نشى.ځكه چې دوى خود جهاد د اړتيا د امله هغه ډال شوى مسلمانان قتل كړى دى.نوپكاردا ده.چه په دوى ديت اوتاوان رانشى.خوداسې نه ده.اګرچه د جهاد د اړتيا د امله دا چور شوي ده.خوبيا هم په مسلمانانو باندې ضمان لازميږى.ددې لپاره مثال هم شته.هغه دا چې يوسړې سخت وږې دې.چه د ډيرې لوږې د امله هلاكيږى.نودې په دغه وخت كي د بل مال بغيردهغه داجازته خوړلې شى.اوبيا ددې باوجود به ورته دهغه څيزتاوان وركوى.نولكه څنګه چې د هلاكت د ضرورته ده لپاره د بل مال خوړل جائز شو.ليكن دوئ ته ددغه مسلمانانوويشتل چې كافرانو د ډال په طور استعمالول جائز شوې وو د جهاد د ضرورته صورت كي په دوئ باندې ديت اوكفاره دقتل خطاء لازميږى. نوددې ځواب وركوى» په خلاف دحالت مخمصه، ځكه چې نه منع كيږى «يوكس په حالت د مخمصه كي دبل دمال خوړولو نه» د امله د ويرې د تاوان نه «چه په ما باندې به تاوان راشى.بلكه هغه په هرقيمت ځان بچ كول غواړى .چه زه بچ شم.نوچه كوم څيزاوخورم.دهغې تاوان به وركړم.اود شريعت مطابق هم په ده باندې د غيرمال خوړل اوځان دهلاكت نه بچ كول واجب دى» ځكه چې په دې «خوراك» كي ژوندې كول د خپل نفس دى. «نودمخمصه په حالت كي چې دې د بل چا مال اوخورى.اوضمان به ئې وركړى» هرچه جهاد دې،نوددې بنا (بنياد) په هلاكولود نفس «د كافرانو» دې. «نه چې په بچ كولودنفس» نومنع كيږى به «مجاهدين په كافرانوباندې د حملې كولونه» د ويرې د ضمان نه «كه زما د لاسه مسلمان قيدى يا مسلمان ماشوم مړ شى.نوضمان به رابانديې راشى.حالانكه په جهاد كي خود دشمن مقابله كول پكاردى.اود مقابله لپاره د حملې كولو اړتيا وى.اوچه مجاهدين د ضمان د ويرې د حملې نه ويريږى.نوڅه به چور اوكړى.اوچه چور نه كوى.نوڅه به فتح حاصله كړى»

ځان سره دارالحرب ته د زنانوا و مصاحفو بوتلل اواورل

قَالَ (وَلَا بَأْسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ وَالْمَصَاحِفِ مَعَ الْمُسْلِمِينَ إِذَا كَانُوا عَسْكَرًا عَظِيمًا يُؤْمَنُ عَلَيْهِ) لِأَنَّ الْغَالِبَ هُوَ السَّلَامَةُ وَالْغَالِبُ كَالْمُتَحَقَّقِ

ژباړه وتشریح:- ﴿ابو الحسین قدوری﴾ رحمه الله فرمائي. اونشته باك په بوتلود زنانو ﴿دارحرب ته اوپه اوړلود﴾ مصاحفو سره د مسلمانانوچه وی لښکر ﴿دمسلمانانو﴾ لوئي چي ﴿غالب ګمان د﴾ امن وی دهغې ﴿ دوایس راتلو. او د غالب قید موخکه کیخودلو.چه﴾ غالبه ﴿په لوئي لښکر کي﴾ سلامتیا وی. ﴿چه دا لوئي لښکرچونکه د خپل تعداد اواسبابوپه وجه طاقتوردي.نوغالب ګمان هم دا وی.چه دوئ ته به فتح اوغالب پشان د متحقق وی. ﴿یعنی کوم څیزچه په غالب ګمان سره حاصل وی.دا حکما حاصلیږي﴾ لکه چې په حقیقت کي حاصل وی.لکه که د یوکس دا غالب ګمان وی.چه په دغه ځائي کي به اوبه داسې ده.لکه چې په حقیقت کې حاصل وی. اوبه تیمم باندي لمونځ اوکړی.دده تیمم نه صحیح کیږی.اګرچه دا احتمال وی.اودې داوبولټهون اونکړی.اوپه تیمم باندي لمونځ اوکړی.دده تیمم نه صحیح کیږی.اګرچه دا احتمال شته.چه هلته کي اوبه نه وی.خوچونکه غالب ګمان داسې دی.لکه چي موجود وی.ددې امله دده تیمم نه صحیح کیږی.دغه ډول په زیربحث مسئله کي هم چې غالب ګمان ددوئ غلبه وی.نودذې نه دا هم معلومیږی.چه دوئ به واپس شی﴾

(وَيُكْرَهُ إِخْرَاجُ ذَلِكَ فِي سَرِيَّةٍ لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا) لِأَنَّ فِيهِ تَعْرِيضَهُنَّ عَلَى الضَّيَاعِ وَالْفَضِيحَةِ وَتَعْرِيضَ الْمَصَاحِفِ عَلَى الِاسْتِخْفَافِ فَإِنَّهُمْ يَسْتَخِفُّونَ بِهَا مُغَايَظَةً لِلْمُسْلِمِينَ، وَهُوَ التَّأْوِيلُ الصَّحِيحُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ} (۱)

حل اللغة: ① تعریض: پیش کول،وړاندې کول ② الضیاع: ضائع کول ③ الفضیحة: رسوائی ④ الاستخفاف: سپکوالي،بې حرمتي ⑤ مغایظة: غضب،غصه

ژباړه وتشریح:- اومکروه دی بوتلل ددې ﴿ښځواومصاحفو﴾ په هغه سریه ﴿ورکوټي لښکر﴾ کي چي ﴿غالب ګمان د﴾ امن نه وی په هغې باندې. ﴿بلکه دکم والی د امله دا ویره موجود وی.چه کیداې شی.مشکلاتو سره مخکې شی﴾ځکه چې په دې ﴿صورت کي چي غالب ګمان دامن نه وی بلکه دخطرې پیش کیدووی﴾ ورمخکې کول ددوئ ﴿ښځو﴾ دی ضائع کیدو ته اورسوائي ته ﴿چه مسلمانان دکافرومقابله کوی.اوخدائې دې نه کی (نکړی)دوئ ته شکست ملاؤ شی.نوکومې زنانه چې ئې ځان سره بوتلې وی.هغوی به دکافروپه قبضه کي راشی.دهغوی عصمت اوعزت به محفوظ پاتې نشي.اودا لویه رسوائي ده﴾ اومخکې کول د مصاحفو دی بې عزتئ ته ﴿یعنی کوم قرآن شریفونه چي ئې وړی وی.هغه به ورك شی.یا به ئې دشمن بې حرمتي اوکړی﴾ ځکه چې کافران سپکوالي کوی ددې ﴿مصاحفو﴾ لپاره دغصه کولو د مسلمانانو.اوهم دا تاویل دې صحیح د قول د نبی ﷺ لپاره چې سفرمه کوئ د قرآن سره زمکې د دشمن ته. ﴿یعنی دا منع چې راغلې ده.په هغه صورت کي چې دقرآن پاك د ضائع کیدو خطره وی.اوکه غالب ګمان دا وی.چه په دغه ځائي کي به مسلمانانوته کامیابی ملاویږی.نوبیا د ښځوپه بوتلواود مصاحفوپه وړولوکي څه کراهت نشته﴾

وَلَوْ دَخَلَ مُسْلِمٌ إِلَيْهِمْ بِأَمَانٍ لَا بَأْسَ بِأَنْ يَحْمِلَ مَعَهُ الْمُصْحَفَ إِذَا كَانُوا قَوْمًا يُوفُونَ بِالْعَهْدِ لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَدَمُ التَّعَرُّضِ،

۱) من حدیث ابن عمر رضی الله عنهما أخرجه البخاری فی الجهاد باب ۱۲۹ رقم ۲۹۹۰ ومسلم فی الإمارة رقم ۹۲ وأبوداود فی الجهاد باب ۸۱ رقم ۹۲ وأبوداود فی الجهاد باب ۸۱ رقم ۲۶۱۰ وابن ماجه فی الجهاد باب ٤٥ رقم ۲۸۷۹ ومالک فی الجهاد رقم ۷ وأحمد فی المسند (۶۱) والنسائی فی السنن الکبری (۲۳۱۵) ورقم (۸۰۶۰)_

زباړه وتشريح:- اوكله چي داخل شي مسلمان ددوئ «وطن» ته په امان سره «لكه په موجوده وخت كي چي مسلمانان دكافرانوملك ته ويزه اخلي.اوخي» نونشته باك چي واخلي ځان سره مصحف، «دغه ډول حكم د نورودينې كتابونوهم دي.لكه تفسيرحديث فقه» چي وى «دغه كافران» داسي خلگ چي وفا كوى د وعدي «يعنى چي مسلمان سره ئي دامن لوظ كړې وى.چه تاته به دلته څه نقصان نه رسي.اوهغوى دلوظ خلاف ورزى نه كوى.نوبيا د دغه كافرو ملك ته دقرآ پاك وړل جائزدى»ځكه چي ظاهرعدم تعرض دې «چه كله سړې يوملك ته په ويزه باندې داخل شي.نوغالب گمان هم دا وى.چه هغوى به ده ته څه نه وائي.اوكه داسي خلگ وى.چه د وعدي پابند نه وى.نوبيا دداسې كسانوملك ته ځان سره قرآن شريف اوړل جائزنه دى»

وَالْعَجَائِزُ يَخْرُجْنَ فِي الْعَسْكَرِ الْعَظِيمِ لِإِقَامَةِ عَمَلٍ يَلِيقُ بِهِنَّ كَالطَّبْخِ وَالسَّقْيِ وَالْمُدَاوَاةِ، فَأَمَّا الشَّوَابُّ فَمَقَامُهُنَّ فِي الْبُيُوتِ أَدْفَعُ لِلْفِتْنَةِ، وَلَا يُبَاشِرْنَ الْقِتَالَ لِأَنَّهُ يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى ضَعْفِ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا عِنْدَ ضَرُورَةٍ،

حل اللغه: ① **العجائز** جمع د عجوزة سپين سرې (بوډئ) ② **الطبخ** پخول ③ **السقي** څړوبول ④ **المداواة** دوائي كول ،علاج كول ⑤ **الشواب** جمع د شابة:ځوانه

زباړه وتشريح:- او بوډئگانې به ووخى «دارالحرب ته» په لښكرلوئي كي ،دكولودهغه كار لپاره چي مناسب وي دحالت ددوئ سره،لكه «دخوراك شيان (څيزونه)» پخول،او «مجاهدينوته» اوبه وركول،او «د زخميانو» دوائي كول ،هرچه ځوانانې دي.نوحصاريدل ددوئ «زيات بهتردى» په كورونوكي «اگرچه لوئي لښكروى» لپاره د لرې كولودفتنه، «ځكه چي ددوئ په وتلوكي دا فتنه ده. كيداې شي. ځوك ئې عزت لوټ كړي.دغه ډول د مجاهدينو لپاره هم د فتنه سبب جوړيدې شي.ځكه چي زنانه د شيطان جالونه دي.اوكه بالفرض دا بوډئ گانې په اسلامى لښكركي اوخي.نو» مباشرت به نه كوى جنگ سره «يعنى ښځې به جنگ نه كوى» ځكه چي استدلال كولاى شي په دې باندې «چه ښځې دكافرانوسره جنگيږي» په كمزورئ د مسلمانانو «يعنى كافران به دا وائي.چه مسلمانان دومره كمزورى دى.چه خپلې ښځې زموږ دمقابله لپاره راوباسي» مگرپه وخت د اړتيا كي «كه دوئ جنگ كوى.نوڅه باك په كي نشته.بلكه پكارده.چه اړتيا پيښ شي. او د مسلمانانود شكست ويره شي.نوښځو لپاره ډگر جنگ ته وتل ضرورى دى ځكه چي كيداې شي. د دوئ په وجه مسلمانانو ته خيراورسي.اودشكست اوغلامئ د ذلت نه بچ شي»

وَلَا يُسْتَحَبُّ إِخْرَاجُهُنَّ لِلْمُبَاضَعَةِ وَالْخِدْمَةِ، فَإِنْ كَانُوا لَا بُدَّ مُخْرِجِينَ فَبِالْإِمَاءِ دُونَ الْحَرَائِرِ

حل اللغه ① **المباضعة** جماع كول ② **الاماء** جمع د امة:وينځه ③ **الحرائر** جمع د حرة:اصيله ښځه

زباړه وتشريح - اومستحب نه دى ويستل «په جهاد كي» ددوئ «ښځو» لپاره د جماع كولو «چه خپل خاوندان ورسره په وخت د اشتهاء جماع كوى» اوخدمت لپاره «چه دخپلو خاوندانو او محرموخدمت كوى» كه چرته نه وى مخلص «بلكه ددوئ بوتلوته سخت اړتيا وى.ځكه چي دخدمت لپاره څوك نه وى» نو بوخى دې وينځې نه آزادې «ښځې اگركه بوډئگانې وى»

دخاونداومولى نه د اجازت غوښتلوحكم

وَلَا تُقَاتِلُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَلَا الْعَبْدُ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ) لِمَا بَيَّنَّا (إِلَّا أَنْ يَهْجُمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ لِلضَّرُورَةِ)

حل اللغه ① **يهجم** ناڅاپى چور ② **بلد** ښار

زباړه وتشريح:- اوجهادبه نه كوى ښځه مگرپه اجازت د خاوند خپل،اونه «به جهاد كوى» غلام مگرپه اجازت د مولى خپل،دهغه امله نه كومه چي موږ بيان كړه. «چه په حقوق الله باندې حقوق العباد مقدم دى» البته دا چي چور اوكړى دشمن په وطن زموږ «نوپه دغه وخت كي د خاونداومولى داجازت نه بغيرهم د ښځې اوغلام لپاره په جهاد كي شركت كول جائزبلكه ضرورى دى» د امله د اړتيا نه،

ددهوکه، خیانت اومثله ممانعت

وَيَنْبَغِي لِلْمُسْلِمِينَ أَنْ لَا يَغْدِرُوا وَلَا يَغُلُّوا وَلَا يُمَثِّلُوا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تُمَثِّلُوا} () وَالْغُلُولُ: السَّرِقَةُ مِنَ الْمَغْنَمِ، وَالْغَدْرُ: الْخِيَانَةُ وَنَقْضُ الْعَهْدِ،

حل اللغة: ① الغدر: دهوکه کول ② المثلة انسانی اندامونه کټ کول

زیاره وتشریح:- اومناسب دی ﴿یعنی حرام دی﴾ دمسلمانانو لپاره چې نه کوی دهوکه اونه ﴿به کوی﴾ خیانت ﴿په مال غنیمت کي﴾ اونه ﴿به کوی﴾ مثله ﴿ځکه چې دا کارونه دمسلمان د شان سره نه بنائي. اوبل دلیل دا بیانوی﴾ د امله د وینا د نبی ﷺ چې تاسو به ﴿مال غنیمت کي﴾ خیانت مکوئ. اودهوکه مه کوئ ﴿ددشمن سره﴾ اومثله مکوئ. ﴿ددشمنانو به لاشونو﴾ اوغلول غلا ته وائی. د مال غنیمت نه ﴿ورانديد ویش نه﴾ اوغدرخیانت اودوعدې ماتولوته وائي.

وَالْمُثْلَةُ الْمَرْوِيَّةُ فِي قِصَّةِ الْعُرَنِيِّينَ (٢) مَنْسُوخَةٌ بِالنَّهْيِ الْمُتَأَخِّرِ هُوَ الْمَنْقُولُ

زیاره وتشریح:- ﴿دا پورتنې عبارت په اصل کي د یوتقدیری سوال ځواب دی. سوال دا دی. چه تاسو څنګه مثله ته ناجائز وائي. حالانکه په احادیثوکي د عرنیینو قصه راغلي ده. چه په هغې کي نبی ﷺ حکم کړی وو. چه ددوئ لاسونه اوپښې کټ کړئ. اوسترګې ترې اوباسئ. اوپه حره مقام کي ئې داسې پریږدئ. چې روحونه ترې اوخي. نوځواب ورکوی. چه﴾ اومثله هغه چې نقل شوې ده په قصه د عرنیینوکي، منسوخ ده په نهی متاخره باندې هم دا خبره نقل شوې ده. ﴿یعنی دعرنیینود قصې نه اګرچه د مثله جواز معلومیږی. لیکن روسته نبی ﷺ د مثله نه منع فرمائیلي ده. لکه دحضرت عمران بن حصین ﷺ نه روایت دی. فرمائی د عرنیینود واقعه نه روسته چې کله به هم نبی ﷺ خطبه ورکوله. نوپه خصوصیت سره به ئې موږ ته د صدقه کولوترغیب راکولو. اود مثله څخه به ئې منع کولو. ددې حدیث نه د مثله نسخ معلومه شوه.

تشریح:- عرنیین د ((عرینه)) تصغیر دی د ((عرنة)). او عرنی عرفات سره نزدې د یوخوږ نوم دی. دغه اړخ ته ئې نسبت شوې دی. نودې خلګو ته عرنیین وائی. واقعه دا وه. چه عرینه خلګ مدینې منورې ته راغلل. او په اسلام مشرف شو. لیکن په هغوی باندې د مدینې منورې آب هوا موافق رانغله. او دهغوی خیټې اوپړسیدې. نو نبی ﷺ هغوی ته حکم اوکړلو. چه د صدقې د اوښانو بولې او شیدې څکئ. دغه خلګ وهم داسې اوکړلو. نو صحت یاب شول. بیا دوی مرتد شو. او څرونکې ئې قتل کړلو. او اوښان ئې ځان سره اوشړل. نبی ﷺ وریسې د صحابه کرامو ﷺ یوه ډله اولیږله. او هغوی ئې په لار کي اونیول. بیا ئې د هغوی لاسونه او پښې کټ کړلې. اودهغوی په سترګوکي ئې ګرم سیخونه اومنډل. اوپه ګرمه شګه باندې ئې هغوی څملول. تردې چې دا واړه مړه شول.

دجهادنه معذوره خلقوپه جهادکي دنه قتلولوحکم

(وَلَا يَقْتُلُوا امْرَأَةً وَلَا صَبِيًّا وَلَا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا مُقْعَدًا وَلَا أَعْمَى) لِأَنَّ الْمُبِيحَ لِلْقَتْلِ عِنْدَنَا هُوَ الْحِرَابُ وَلَا يَتَحَقَّقُ مِنْهُمْ، وَلِهَذَا لَا يُقْتَلُ يَابِسُ الشِّقِّ وَالْمَقْطُوعُ الْيُمْنَى وَالْمَقْطُوعُ يَدُهُ وَرِجْلُهُ مِنْ خِلَافٍ.

حل اللغة: ① **شیخ فانی.** هغه سپین ږیری (بوډا) چې ډیر کمزوری وی ② **یابس.** وچ ③ **الشق.** طرف ④ مقطوع کټ کړې شوې

زیاره وتشریح:- اونه به قتلوی ﴿مسلمانان په جنګ کي﴾ ښځه اونه ماشوم اونه شیخ فانی ﴿چه ډیر بوډا شوې اوکمزورې شوې وی﴾ اونه شل اونه ړوند، ځکه چې مباح ګرځونکې دقتل هغه جنګ دی. ﴿چه کوم

---

۱) کذا فی حدیث بریدة ﷺ تقدم تخریجه)_

۲) من حدیث أنس ﷺ أخرجه البخاری فی الحدود باب ۱۵ ومسلم فی القیامة رقم ۹ وأبوداود فی الحدود باب ۳ والترمذی فی الطهارة باب ۵۵ والنسائی باب ۷ وابن ماجه فی الحدود باب ۲۰ وأحمد فی المسند (۱٦۳\۳)-

نفر د مسلمانانوسره مقابله كوی.صرف هغه به په جهاد كي قتلولي شي« اونه متحقق كيږی د
«جنګ» او ددې امله «چه څوك جنګ نشی كولي هغه به نشی قتلولي» نشی قتلولي هغه كس چي
ارخ ئي وچ شوې وی. «لكه فالج وهلي وی» اوچه راسته لاس ئي كټ شوي وی.اوهغه كس چي يو
لاس اوكسه پښه ئي كټ شوي وی.ادل بدل.

وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ يُخَالِفُنَا فِي الشَّيْخِ الْفَانِي وَالْمُقْعَدِ وَالْأَعْمَى لِأَنَّ الْمُبِيحَ عِنْدَهُ الْكُفْرُ وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا بَيَّنَّا،

ژباړه وتشريح:- اوامام شافعي رحمه الله مخالفت كوی زموږ سره په شيخ فاني،شل اوړوندكي ،څكه چي مباح
ګرخونكي «دقتل دكافرانو» په نيزدده «امام شافعي» رحمه الله كفردې. «نه عجز دقتال نه.اودا نفر كافران
دی. د دې امله ددوئ قتل كول جائزدی» اوحجت په دوئ «امام شافعي» رحمه الله باندې هغه «دليل»
دې.كوم چي موږ بيان كړلو. «چه دا نفر دجنګ كولونه عاجز دی.حالانكه دكافرانوقتل ددې وجه مباح
ګرځولي شوي دې.چه دوئ دمسلمانانومقابله كوی.اودغه مقابله په دوئ كي نشته.څكه به دوئ قتلولي هم
نشي»

وَقَدْ صَحَّ {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ قَتْلِ الصِّبْيَانِ وَالذَّرَارِيِّ} (۱) "{وَحِينَ رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً مَقْتُولَةً قَالَ: هَاهْ، مَا كَانَتْ هَذِهِ تُقَاتِلُ فَلِمَ قُتِلَتْ؟} (۲)

ژباړه وتشريح:- اوبه صحت سره ثابته شوې ده.چه چي نبی ﷺ منع كړې ده د قتلولو دماشومانو اوښځونه،
«اوبل نقلی دليل دا هم دې» اوبه كوم وخت كي چي اوليدله رسول الله ﷺ يوه ښځه قتل شوې نووې
فرمائيل . افسوس، نه وه دا چي جنګ ئي كولي شونوولي قتل شوې ده؟

قَالَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدُ هَؤُلَاءِ مِمَّنْ لَهُ رَأْيٌ فِي الْحَرْبِ) لِأَنَّهُ كَانَ صَاحِبَ رَأْيٍ

حل اللغة: ① **ملكة**:بادشه ② **تعدی**:خوريږی

ژباړه وتشريح:- «ابو الحسين قدوری رحمه الله» فرمائی.مګردا چي وی يوكس په دې مذكورينوكي چي دهغه
رائې «اوتجربه» وی په جنګ كي ، «اودخپلي اوتجربه په بنا (بنياد) خپلوكافروته داسي تجويزونه
اومشورې وركوی.چه هغوی ته پرې فائده رسی» يابښځه بادشه وی «نوددې قتل كول جائزدی» د امله د
رسيدو د ضرر ددې بندګانوته «چونكه په كافرلښكركي ددې عزت وی.اودا چي څه حكم كوی.نوكافرددې
حكم منی.نوهغوی به مسلمانانوته تكليف رسولوكي او ددوئ په قتلولوكي كوښښ كوی.نوچه دا قتل كړې
شی.په دې سره به دهغوئ حوصلي كښته شی.اومسلمانانوته به فتح نصيب شی»

وكذا يقتل من قاتل من هولاء دفعا لشره ولان القتال مبيح حقيقة

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول قتلولي به شی هغه څوك چي جنګيږی ددې كسانونه «معذورينو نه په ملګرتيا
دكافرانوكي د مسلمانانوسره» لپاره د لرې كاوه د شر ددوئ اوبله دا چي جنګ مباح كونكي «دقتل»
دې په حقيقت كي ، «يعنی وړاندې تيرشوی وو.چه دكافرانود قتل اباحت د دې امله دې.چه ددوئ د شرنه
مسلمانان محفوظ پاتې شی.اوس چي دا معذورين نفر په جنګ كي برخه واخلی.نودكوم څيزد امله چي د

۱) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب بهذا اللفظ وأخرج الجماعة إلا ابن ماجه (أي البخاري في الجهاد باب ۱۴۷ ومسلم في الجهاد رقم ۲۵ وأبوداود في الجهاد باب ۱۱۱ رقم ۲۶۶۸ والترمذي في السير باب ۱۹ والدارمي في السيرباب ۲۴ ومالک في الجهاد رقم ۹ وأحمد في المسند (۲۲\۲) والنسائي في السنن الكبرى (۱۸۵\۵) رقم ۸۶۱۸)_

۲) من حديث رباح بن الربيع الصيفي رضي الله عنه قا ل كنا مع رسول الله ﷺ في غزوة فرأى الناس مجتمعين على شئ فبعث رجلاً فقال :أنظر على ما اجتمع هولاء ؟فجاء فقال:إمرأة قتيل فقال :ما كانت هذه لتقاتل أخرجه أ بوداود في الجهاد باب ۱۱۱ رقم ۲۶۶۹ والحاكم في المستدرک (۱۲۲\۲) وأحمد في المسند (۴۸۸\۳)_

ځلورم توك
مسلمانانو مقابله اومقاتله وه.هغه په دوئ کي هم راغلو.ځکه په ددوئ
کافرقتل مباح ګرځيدلي وو.چه د
قتلول هم جائزوی»

په ډګر جهاد کې د ليونی د قتل ممانعت

(وَلَا يَقْتُلُ مَجْنُونًا) لِأَنَّهُ غَيْرُ مُخَاطَبٍ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلَ فَيُقْتَلَ دَفْعًا لِشَرِّهِ، غَيْرَ أَنَّ الصَّبِيَّ وَالْمَجْنُونَ يُقْتَلَانِ مَادَامَا يُقَاتِلَانِ، وَغَيْرُهُمَا لَا بَأْسَ بِقَتْلِهِ بَعْدَ الْأَسْرِ لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْعُقُوبَةِ لِتَوَجُّهِ الْخِطَابِ نَحْوَهُ، وَإِنْ كَانَ يُجَنُّ وَيُفِيقُ فَهُوَ فِي حَالِ إِفَاقَتِهِ كَالصَّحِيحِ

حل اللغة: ① يجن ليونی کيږی ② يفيق: د ليونتوب نه صحيح کيږی

زياره وتشريح:- اونه به قتلوی شی ليونی ځکه چې دې نه دې مخاطب «په احکامود شريعت.نودده کفرهم معتبرنشو.اوچه کفرئي معتبر نشو.نوجهادخود کافرسره کيږی» البته دا که دې جنګ کوی «دکافرانوپه ملګرتيا کي د مسلمانانوسره» نوقتل کولې به شی لپاره د دفع کاوه د شره دده «چه مسلمانان دده د شرنه محفوظ شی» البته دا ده.چه ماشوم اوليونې دواړه به قتل کولای شی چې تر څو پورې دوئ جنګ کوی. «نوکه دجنګ په مهال کي ماشوم يا ليونې قيد شی.دقيد نه روسته به دوئ نشی قتلولې» اوسوا ددې دواړو «ماشوم اوليونی» نه،نشته باك په قتلولودهغوی روسته د قيد نه «يعنی که د ليونی اوماشوم نه علاوه نورمعذورين کسانوکي که څوك قيد کړې شی.نودقيد په زمانه کي اګرچه هغه په حالت جنګ کي نه وی.خوقتلول ئې جائزدی» ځکه چې دې مستحق د سزا دي.د امله د متوجه کيدو د خطاب «دالله تعالی اړخ دهغه ته،اوکه چرته وی ليونې چې ليونتوب پرې راځي. او صحيح کيږی. نو دې په حالت د صحت کي پشان د روغ دې. چي ايمان راوړی. او دا کاراوکړئ اودا مکوئ»

په پلارباندې په چور کې د وړاندې والی ممانعت

(وَيُكْرَهُ أَنْ يَبْتَدِئَ الرَّجُلُ أَبَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَيَقْتُلَهُ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا} وَلِأَنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِ إِحْيَاؤُهُ بِالْإِنْفَاقِ فَيُنَاقِضُهُ الْإِطْلَاقُ فِي إِفْنَائِهِ

حل اللغة: ① الاحياء: ژوندې کول ② الافناء: فنا کول

زياره وتشريح:- اومکروه دی چې پيل اوکړی سړې «مجاهدپه چور کولوکښې» په پلارخپل دمشرکانونه اوهغه قتل کړی. «يعنی که دمجاهد پلار دکافرانوپه لښکرکي راشي. او د مسلمانانوپه لښکرکي دهغه ځوئې وی.نودا ځوئې به په هغه باندې وړاندې ګذار نه کوی.البته که هغه پرې اول چور اوکړله. نوبيا ده لره دخپلې دفاع لپاره دخپل پلارقتل کول جائز دی» د امله دوينا دالله تعالی نه،اوژوند تيروه دوئ سره په دنيا کي په ښکلې طريقه،او «بل دليل ددې لپاره چې ځوئې به په پلارباندې چور نه کوی.دا دې.چه» واجب دې په ده «ځوئې باندې ژوندې ساتل د ده «خپل پلار.چه دهغه د نان نفقه انتظام به کوی.چه هغه دهلاکت نه بچ شي» په اتفاق سره «د عالمانو» نومنافی دې ددې «ژوندی ساتلودپلارسره» اجازت «ورکول ځوئې ته» په فناء کولو «يعنی قتل کولو» دده «پلارکي .يعنی که مور ځوئې ته دا اجازت ورکړو.چه تاپه خپل پلارباندې په چور کولوکي وړاندې والې کولې شی.نودا خبره ددې نه خلاف ده.چه يو اړخ ته خوشريعت په ځوئې باندې دا لازمه کړې ده.چه ته به دخپل پلارخدمت کوې.اودهغه شرعی ضروريات به پوره کوې.چه هغه د هلاکت نه بچ شی.نوکه بل اړخ ته مور ده ته د پلاردقتل کولواجازت ورکړو.نوپه احياء اوافناء کي منافات دې.ددې امله دا اجازت نه صحيح کيږی»

دمسلمان اوکافرپوبل ته په جنب کې مخکې کېدل

(فَإِنْ أَدْرَكَهُ امْتَنَعَ عَلَيْهِ حَتَّى يَقْتُلَهُ غَيْرُهُ) لِأَنَّ الْمَقْصُودَ يَحْصُلُ بِغَيْرِهِ مِنْ غَيْرِ اقْتِحَامِهِ الْمَأْثَمَ،

حل اللغة: ① الاقتحام: ګډون کول، مباشرت کول، ② الماثم: ګناه

ژباړه وتشريح:- كه وې موندلودې ﴿يعنى ځوى پلارپه ډګر جنګ كي بيامونډلو﴾ نومنع كيږي به ﴿ځوني دحملې كولونه﴾ په دده ﴿پلار﴾ باندې،تردې چي قتل كړي هغه ﴿پلارلره﴾ بل څوك، ﴿يعنى كه پلار دځوني سره مقابله كول غواړي.اوځوني قتلول غواړي.نوهم به ځوني دا كوښښ كوي.چه په څه طريقه باندې په خپله خپل پلارقتل نكړي.بلكه مقابله ورسره كوي.مثلاً دهغه د اس پښي كټ كړي.چه هغه راوغورځيږي.تردې چي بل مسلمان ته داموقع په لاس وركړي.چه هغه دده پلارقتل كړي﴾ ځكه چي مقصود ﴿چه د كافر پلار د مسلمانانو نه ضرر لرې كول دي﴾ حاصليږي په بل باندې بغيرد داخليدو دده نه په ګناه كي ، ﴿يعنى دا كيداې شي. چې بل مسلمان دده پلارقتل كړي.اوزوې دپلارقتلولود ګناه نه بچ شي﴾

وَإِنْ قَصَدَ الْأَبُ قَتْلَهُ بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُهُ دَفْعُهُ إِلَّا بِقَتْلِهِ لَا بَأْسَ بِهِ، لِأَنَّ مَقْصُودَهُ الدَّفْعُ،

ژباړه وتشريح:- اوكه قصد اوكړلو.پلار دقتل دده ﴿ځوني﴾ په داسي شان چي ممكن نه وه دده ﴿ځوني لره﴾ لرې كول دهغه مګرپه قتل سره نونشته باك په دې كي ﴿يعنى كه كافرپلارد مسلمان ځوني دقتل كاوه قصد كړې وو.اوځوني ډير كوښښ اوكړلو.چه پلارددده دلاسه قتل نشي.خوبيا هم دې مجبوره شو .اوهغه ئې قتل كړلو. نوبه دې كي به قاتل ځوني باندې څه ګناه نشته﴾

أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ شَهَرَ الْأَبُ الْمُسْلِمُ سَيْفَهُ عَلَى ابْنِهِ وَلَا يُمْكِنُهُ دَفْعُهُ إِلَّا بِقَتْلِهِ يَقْتُلُهُ لِمَا بَيَّنَّا فَهَذَا أَوْلَى، وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

حل اللغة: ① شهرا:راويستله ② سيف:توره

ژباړه وتشريح:- آيا ته نه ګورې ﴿اې مخاطبه﴾ كه چيرته راوباسي پلارمسلمان خپله توره په خپل ځوني باندې اوممكن نه وي دده ﴿ځوني﴾ لپاره لرې كول دده ﴿خپل پلار.چه دهغه نه ځان بچ كړي﴾ مګرپه قتلولودهغه ﴿خپل پلار﴾ سره،نوقتلوي به ئې. ﴿يعنى ځوني اوس مجبوره دې.چه دخپل ځان د ساتنه لپاره خپل پلارقتل كړي﴾ نودا ﴿چه په ډګر جنګ كي داسي صورت پيښ شي.چه كافرپلار دمسلمان ځوني دقتل قصد كړې وي. او مسلمان ځوني ته دپلارقتل كولونه دخلاصي بله لاربه نظرنه ورځي.نومسلمان ځوني ته كافرپلاردقتل اجازت ملاويدل﴾ په طريق اولى سره جائزده. ﴿ځكه چي مذكوره صورت كي دمسلمان پلارقتل جائز دى. نو د كافر پلارقتلول خوبه خامخا جائز وي﴾

(بَابُ الْمُوَادَعَةِ وَمَنْ يَجُوزُ أَمَانُهُ)

﴿دا﴾ باب ﴿ثابت ديګ په بيان﴾ د مصالحت اودهغه چا چي جائزديګ امان وركول دهغه،

كافرفرسره د صلح كولو جواز

(وَإِذَا رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ ذَلِكَ مَصْلَحَةً لِلْمُسْلِمِينَ فَلَا بَأْسَ بِهِ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ}

حل اللغة: ① الاجناح:ډډه كول،غاړه كيخودل

ژباړه وتشريح:- اوكله چي اووينى ﴿مناسب اوګنړي﴾ امام چي صلح اوكړي د حربيانو ﴿كافرانو﴾ سره يا يوې ډلې سره په دوئ كي ،اووى په دې ﴿صلح﴾ كي مصلحت ﴿اوخيكره﴾ لپاره دمسلمانانو نونشته څه باك په دې ﴿صلح﴾ كي ،د املـه دوينا د الله تعالى نه،اوكه دوئ ﴿كافران﴾ تيټ ﴿يعنى اماده﴾ شي.صلحي ته،نو ﴿اې پيغمبره!﴾ ته هم ﴿دمسلمانانودمصلحت دپاره﴾ غاړه كيږده دوئ ته ﴿اومصالحت ورسره اوكړه.او ﴿كه ته ددې نه ويريږې.چه هسې نه دوئ دهوكه اوكړي.اوپه صلح اواعتماد كي راته نقصان اورسوى.نوددې پرواه مكوه . بلكه﴾ بهروسه اوكړه ﴿په راروانو حالاتوكي﴾ په الله تعالى باندې،

{وَوَادَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ مَكَّةَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى أَنْ يَضَعَ الْحَرْبَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ عَشْرَ سِنِينَ} (١) وَلِأَنَّ الْمُوَادَعَةَ جِهَادٌ مَعْنًى إِذَا كَانَ خَيْرًا لِلْمُسْلِمِينَ لِأَنَّ الْمَقْصُودَ وَهُوَ دَفْعُ الشَّرِّ حَاصِلٌ بِهِ،

حل اللغة: ① **الوداعة:** صلح كول ② **الحرب:** جنګ

زیاره وتشریح:- اوصلح کړې رسول الله ﷺ داهل مکه ﴿دمکې کافرانو﴾ سره په کال د حدیبیه ﴿چه شپږم کال د هجرت وو﴾ په دې چې نه به وی جنګ په مینځ دده ﴿نبی ﷺ﴾ اودوئ ﴿کافرانو﴾ کې لس کاله. نوصلح کول جائزبلکه افضل دی او دا ثابته شوه. که په مصالحت کې دمسلمانانو خیروی.
﴿نودددې نه هم دا ثابته شوه. که په مصالحت کې دمسلمانانوخیروی. نوصلح کول جائزبلکه افضل دی.اودصلح په جواز باندې عقلی دلیل دا بیانوی﴾اوځکه چې مصالحت جهاد دې معنی چې د مسلمانانو په کې خیروی ﴿او صلح معنی جهاد دې﴾ځکه چې مقصود ﴿دجهاد﴾لرې کول د شر دې ﴿چه مسلمانان دکافرودشرنه محفوظ شی﴾حاصل دې په دې ﴿صلح﴾ سره، ﴿ځکه چې کله د کافرانواومسلمانانو په مینځ کې دامن معاهده اوشی. نومسلمانان به دکافردحملې کولونه په امن کې وی.نود معنی اومقصود په اعتبارسره دا هم جهاد شو﴾

وَلَا يُقْتَصَرُ الْحُكْمُ عَلَى الْمُدَّةِ الْمَرْوِيَّةِ لِتَعَدِّي الْمَعْنَى إِلَى مَا زَادَ عَلَيْهَا، بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ خَيْرًا، لِأَنَّهُ تَرْكُ الْجِهَادِ صُورَةً وَمَعْنًى

زیاره وتشریح:- اونه دی خاص کول دحکم ﴿داجازت د صلح﴾ په هغه مودۀ چې نقل شوې دد ﴿په حدیث کې یعنی وراندې چې دصلح حدیبیه د حدیث په حواله سره دا ذکرشو.چه په دې کې نبی ﷺ دمشرکانوسره د لس کالو لپاره صلح کړې وه.نوددې مطلب دا نه دې.چه صرف دلسوکالوصلح کولې شی.ددې نه کمه یا زیاته نشی کولې.بلکه ددې نه د زیاتې مودې لپاره هم که دمسلمانانومصلحت په کې وی.صلح کولې شی﴾ د امله د تجاوزد معنی ﴿چه دکافرانوشرلرې کول دی﴾ هغه مودې ته چې زیاته وی ددې ﴿لسوکالو﴾ نه، ﴿یعنی دکوم علت د امله چې موږ د کافرانوسره صلح جائزکړه.چه دکافرانو د شرنه مسلمانان محفوظ پاتې شی.نو کیداې شی.چه مسلمانان دومره کمزوری وی.چه دحالاتوپه تناظرکې دا نشی وئیلی.چه ترلسو کالو پورې به هم مسلمانانوکې دومره قوت پیدا شی.چه دوئ به د کافرانودحملواوسازشونونه محفوظ شی. نو په داسې صورت کې دلسوکالونه دزیاتې مودۀ پورې مصالحت کول هم جائزدې﴾ په خلاف دهغه صورت کې چې نه وی ﴿په صلح کولوکې دمسلمانانودپاره﴾ خیر، ﴿نوپه دې صورت کې د کافرانوسره صلح کول جائزنه دی﴾ځکه چې دا ﴿صلح کول﴾پریښول دجهاد دی.صورة ﴿ځکه چې په ښکاره باندې جهاد بند شو. مسلمانان په کافرانو چور نشی کولې.اوپریښول دجهاد دی﴾ معنی ﴿ځکه چې مصالحت خودددې لپاره جائز وو.چه مسلمانانوته په کې خیروی.اوچه د دوئ په کې خیرنه وی.نود دې نه دا معلومه شوه.چه په دې مصالحت کې د دوئ شردې.اودجهاد د مشروعیت مقصود دا دې.چه مسلمانان دکافرود شرنه محفوظ شی.اودا مقصود په مصالحت سره نه حاصلیږی.نومعلومه شوه.چه دا معنی د جهاد پریښول دی.یعنی د جهاد د مقصود پریښول دی.اود مقصود فوت کیدل نه دې مګر پریښول دجهاد﴾

دصلح ماتولواعلان

{وَإِنْ صَالَحَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ رَأَى نَقْضَ الصُّلْحِ أَنْفَعَ نَبَذَ إِلَيْهِمْ وَقَاتَلَهُمْ} {لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَبَذَ الْمُوَادَعَةَ الَّتِي كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِ مَكَّةَ} (٢)

حل اللغة: ① **النقض:** ماتول ② **نبذا:** ماتول ③ **الموادعة:** په خپل مینځ کښې صلح کول

١) من حديث مسور بن مخرمه رضی الله عنه أخرجه أبوداود فی الجهاد باب ١٥٦ رقم ٢٧٦٦)۔
٢) من حديث مسوربن مخرمة ومروان بن الحكم رضی الله عنه أخرجه البيهقی فی دلائل النبوة والطبرانی فی المعجم الكبيروالصغيرمن حديث ميمونة رضی الله عنها وابن ابی شيبة مرسلاً من حديث عروة رحمه الله (نصب الرأية ٣\٥٩٧)۔

ژباړه وتشریح:- اوکله چې مصالحت اوکړی ﴿امام﴾ دوئ سره دځه مودۀ دپاره،بیا اووینی ماتول د صلحې زیات بهتر ﴿دمسلمانانو لپاره یعنی د صلحې په ماتولوکې دمسلمانانوزیات خیروی﴾ نوصلح به ماتۀ کړی دوئ سره ﴿یعنی هغوئ ته به خبر ورکړی.چه زموږ اوستاسوپه مینځ کې چې کومه صلح شوې وه.هغه ختمه شوه .اوس تاسوهم آزاد ئې اوموږ هم.اوصلح ماتول جائزدی﴾ځکه چې نبیﷺ ماته کړې وه صلح هغه چې وه په مینځ د ده ﴿نبیﷺ﴾ اوپه مینځ داهل مکه کې ، ﴿دلسو کالو دپاره، وړاندې ددغه مودۀ نه﴾

تشریح:- دصلح حدیبې په شرطونو کې یو شرط دا هم وو.چه دکومې قبیلې سره د مشرکانو معاهده وی. مسلمانان به د دهغوی سره جنګ نه کوی.او نه به دهغوی خلاف چا سره کومك کوی. او د کومو قبیلو سره چې د مسلمانانو معاهده وی مشرکان به د هغوی سره جنګ نه کوی.او نه به د هغوی خلاف چا سره کومك کوی.دصلح حدیبې نه روسته قبیله بنو خزاعه د مسلمانانو او قبیله بنو بکر دقریشو اندیوالان شو. دے دواړو قبیلو کښې د پخوا نه د شمنې را روانه وه. د دے وجې بنو بکر په بنو خزاعه باندې چوړ اوکړه. قریشو د وعدې خلاف ورزی اوکړه او بنو بکر سره امداد اوکړو. د بنو خزاعه مشر عمرو بن سالم مدینې منورې ته لاړلو.او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ئې د قریشو د خلاف ورزئ نه خبر کړو.چه قریشو تاسو سره معاهده کړې وه.چه موږ به دهغه چا خلاف د هغوی د دشمن سره کومك نه کوو.دچا سره چې ستاسو معاهده وی.او اوس بنوبکر په موږ چوړ اوکړه.اومشرکانو ورسره کومك اوکړلو.او تاسو سره چې ئې کومه معاهده کړې وه.دهغې خلاف ورزی ئې اوکړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم قریشو ته خبر او لیګلو چې د بنو خزاعه د قتل شوو کسانو دیت ﴿تاوان﴾ ورکړئ. یا د بنو بکر د معاهدې نه لاس واخلئ. او که داسې نه کوئ. نو بیا د صلح حدیبې ماتولو اعلان اوکړئ. قریشو د صلح حدیبې د ماتولو اعلان اوکړو. بیا روستو په خپلو کړو پښیمانه شو. او د معاهدې نوې کول ئې اوغوښتل. خو نبی علیه السلام ترې انکار اوکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم په لسم د رمضان المبارك سنه ۸ هـ ﴿جنوری ۶۳۰عیسوی﴾ په ورځ د چهار شنبې ﴿بدهه﴾ لس زره اسلامی لښکرخان سره روان کړلو. او مکې اړخ ته روان شو.اوالله تعالی ورته په مکه فتح ورکړله.

وَلِأَنَّ الْمَصْلَحَةَ لَمَّا تَبَدَّلَتْ كَانَ النَّبْذُ جِهَادًا وَإِيفَاءُ الْعَهْدِ تَرْكُ الْجِهَادِ صُورَةً وَمَعْنًى ، وَلَا بُدَّ مِنَ النَّبْذِ تَحَرُّزًا عَنِ الْغَدْرِ ، وَقَدْ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {فِي الْعُهُودِ وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ} (١)

حل اللغة: ① التحرز:خان ساتل ② الغدر:دهوکه

ژباړه وتشریح:- اوبله دا چې ﴿دصلح جواز خوپه هغه وخت کې وو.چه په صلح کې د مسلمانانو فائده وه. مثلاً دصلحې د معاهدې باوجود دکافرو نه دعهد شکنئ ویره وه.نوپه دې صورت کې مصلحت په دې کې دې.چه صلح ماته شی.نوځکه فرمائی.خوچه﴾ مصلحت ﴿دمسلمانانو﴾ کله بدل شو.نو ﴿په دې صورت کې﴾ ماتول ﴿دمعاهدې د صلحې﴾ جهاد دې. ﴿دکافرانوشر دفع کول دی﴾ اوپوره کول د وعدې ﴿چه یوبل ته به تعرض نه کوو﴾ پرېښودل دجهاد دی.صورۃ ﴿اوصورۃ پرېښودل خوښکاره خبره ده.چه دوئ به ورسره دمعاهدې د امله جهاد نشی کولې﴾ اومعنیً ﴿هم پرېښودل دجهاد دی.ځکه چې دجهاد کوم مقصود دې.چه د کافرودشرنه ساتنه دې.دهغې ویره به وی.اوچه کله دصلحې معاهده ماته شی.نودهغوئ دشرنه به دخان ساتلو تدبیرونه کوی﴾ نونشته مخلص د ماتولو ﴿معاهدې دصلحې،یعنی مسلمانان به دا اعلان اوکړی. چې زموږاوستاسوپه مینځ کې کومه معاهده دصلحې وه.هغه ختمه شوه.تاسوزموږ نه خان محفوظ مه ګڼړئ .اوموږ به ستاسونه خان محفوظ نه ګڼړو﴾ لپاره دخان ساتلودهوکه نه، ﴿ځکه که د صلحې معاهده شوې وی.اوهغوی ته دمعاهدې د ماتولواعلان نه وی شوې.اوپه هغوئ چوړ اوکړې شی.نودا به دهوکه اوغدر وی﴾ اویقیناً فرمائیلی دی.رسول اللهﷺ چې په وعدې پوره کولوبه وفا وی. ﴿یعنی چې کومه وعده

اوکړي. هغه به پوره کوي.نوکه د صلحې دمعاهدې د ماتولواعلان نه بغيرپه دشمن چور اوکړي. نودا به دهوکه وي﴾

وَلَابُدَّ مِنْ اعْتِبَارِ مُدَّةٍ يَبْلُغُ فِيهَا خَبَرُ النَّبْذِ إِلَى جَمِيعِهِمْ، وَيَكْتَفِي فِي ذٰلِكَ بِمُضِيِّ مُدَّةٍ يَتَمَكَّنُ مَلِكُهُمْ بَعْدَ عِلْمِهِ بِالنَّبْذِ مِنْ إِنْفَاذِ الْخَبَرِ إِلَى أَطْرَافِ مَمْلَكَتِهِ، لِأَنَّ بِذٰلِكَ يَنْتَفِي الْغَدْرُ.

ژباړه وتشريح:- اونتشه مخلص د اعتبارد مودهٔ چې رسيدې شي په هغې ﴿مودهٔ﴾ كې خبرد ماتولود صلح هغوئ ټولو ﴿كافرانو﴾ ته، ﴿يعني كله چې دمعاهدې د ماتولواعلان اوشي.نودا نه ده.چه دصلح ماتولود اعلان نه روسته دستي په دشمن چور اوكړي.بلكه دا ضروري ده.چه د اعلان نه روسته دومره وخت وي.چه په هغې كې دغه كافرانوته د صلح د ماتيدوخبر اورسي.﴾ اوكافي كيږي په دې ﴿مودهٔ﴾ كې تيريدل ددومره مودهٔ چې قدرت ملاؤ شي بادشاه دهغوي ته،پس د علم د هغه نه ﴿چه دصلح معاهده ماته شوه﴾ چې رسولې شي خبر ﴿د صلح ماتولو﴾ علاقود ملك خپل ته.ځكه چې په دې باندې نفي كيږي دهوكه ﴿يعني چې د معاهدې ماتولو نه روسته دومره مودهٔ تيره شي.چه په هغې كې بادشاه ددغه صلح ماتولوخبر خلګ وته رسولې شي. اګرچه په حقيقت كې هغوئ ته خبر نه وي رسيدلې﴾ ځكه چې په دې ﴿دومره مودهٔ تيريدو﴾ نفي كيږي دهوكه﴿ يعني چې دصلح نامه د ماتولواعلان نه روسته دومره مودهٔ تيره شي.چه دشمن ته دهغې خبر اورسي.اوهغه دځان د ساتنه بندوبست كولې شي.نودې ته څوك دهوكه نه وائي.اوكه دومره مودهٔ نه وي تيره.بلكه د معاهدې د ماتولونه روسته په دشمن چور اوكړي.نودا دهوكه ده.

تشريح:- په دې مقام كې د اسلامي تاريخ نه يوه واقعه د عبرت لپاره نقل كوم.كومه چې مفتي تقي عثماني مدظله په خپل كتاب ((تقريرترمذي)) كې نقل كړې ده. حضرت سليم بن عامر رضي الله عنه فرمائي. چې دحضرت اميرمعاويه رضي الله عنه اود اهل روم په مينځ كې د جنګ بندئ يوه معاهده وه.حضرت امير معاويه په هغه وخت كې دشام ګورنر وو يا خليفه وو.داهل روم سره به دهغه جنګونه كيدل.يو ځل د يوې مدې پورې دجنګ بندئ معاهده اوشوه.حضرت امير معاويه رضي الله عنه ډيرسياستدان سړې وو.د جنګ بندئ په مهال كې ئې دجنګ تياري كولو.اوچه كله د معاهدې د ختميدو وخت بالكل رانزدې شو.نو په هغه وخت كې هغه سوچ اوكړلو.چه د معاهدې د مودې په مهال كې خو چور نشو كولې.خود اهل روم په ملك كې د داخليدو څه ممانعت خو نشته.ددې وجه هغوي د جنګ بندئ د مودې ختميدو نه وړاندې خپل فوځونه واخستل.او د هغوي په ملك كې داخل شو.او د تګ په مهال كې ئې جنګ نه كولو.اودا سوچ ئې اوكړلو.چه اهل روم خو به په دې خيال وي.چه كله دجنګ بندئ موده ختمه شي.نوددې نه روسته به لښكر دهغه ځائې نه څي.نوهلته په رسيدو رسيدوكې به ډير وخت لګي.نوهغوي به په غفلت كې وي. او موږ به چور اوكړو.چه څنګه د معاهدې موده ختمه شي.اوددغه ورځ لمر پريوځي.نو دستي به چور كوو .نوحضرت امير معاويه دهغوي په ملك كې روان وو.تردې چې كله دمعاهدې موده ختمه شوه.چونكه هغه خلګ په غفلت كې وو.نوځكه ده دهغوئ ډيرې علاقې فتح كړې.فتح ئې كوله اوبه وړاندې روان وو.څه ګورې چې يو سړې په يوه دابه يا په اس باندې سور دې.او هغه دا وائي.((الله اكبر وفاء لا غدر)) يعني دمومن شان وفاداري ده.غداري نه ده.هغه سړې چې نزدې راغلو.نومعلومه شوه.چه هغه حضرت عمربن عبسه رضي الله عنه دې.حضرت امير معاويه رضي الله عنه ترې پوښتنه اوكړه .څه خبره ده؟يعني موږ كومه غداري كړې ده؟حضرت عمربن عبسه رضي الله عنه اوفرمائيل.ما د نبي عليه السلام نه اوريدلي دي.چه فرمائيلي ئې دي.كله چې د يو قوم د بل قوم سره معاهده وي.نوهغه دې نه پرانيزي اونه دې ترې.يعني په دغه معاهده كې دې څه تصرف نه كوي.اود دغه معاهدې خلاف دې څه كار نه كوي.تردې چې دهغې موده ختمه شي.يا دا چې هغوي اړخ ته معاهده په برابري سره پيش كړې شي.يعني دا اعلان اوكړي.چه موږ دا معاهده ختمه وو.اوموږ ددې معاهدې پابند نه يو.چه تر څو پورې دا كار اونكړي.نوتر هغه وخته پورې به د دغه معاهدې خلاف څه تصرف كول جائز نه وي. او چونكه تاسو د معاهدې د مودې په مهال كې د هغوي ملك ته ورداخل

شوي وي. نوځكه ستا دا عمل د شريعت مطابق نه دي راوي فرمائي. چه حضرت امير معاويه رضى الله عنه چې كله دا واوريدل نو فوج ئې واپس كړلو او سوچ خواوكړي. چه يو لښكر په ښار پسې ښار اوپه كلي پسې كلي قبضه كوي په وړاندې روان وي. اود فتح په نشه كې مست وي. او كاميابي ورته حاصليږي. هم په دغه حالت كې يو سړي د روستونه راځي او د نبي عليه السلام دا حديث بيانوي. په دغه وخت كې به د يو فاتح خه حالت وي نن د دې تصور كول چې يو فاتح په دومره خبره باندې خپل واړه پروګرام ختم كړي. او خپله توله منصوبه پريږدي دا د ايثار اعلى ترينه مرتبه ده چه د نبي عليه السلام دا حديث واوري. نو مفتوحه علاقه دشمن ته واپس كړي. كيداي شي د دنيا په تاريخ كې ددې څه مثال نه وي. كه زما پښان څوك وو. نو په زړګونو تاويلونه به ئې كړي وو چه روزه موږ د معاهدې د مودې په مهال كې چور نه ده كړې. بلكه ديوعام ښهري په حيثيت دهغوي په ملك كې داخل شوي يو ليكن حضرت امير معاويه رضى الله عنه چې كله د نبي عليه السلام دا ارشاد واوريدلو نو تاويل ئې اونكړلو. بلكه سر ئې ټيټ كړلو. او فوځ ئې واپس واخستلو روان وو ځكه چې كله ورته شك پيدا شو چه زموږ دا عمل معلومه نه ده چه دالله تعالى د رضا مطابق دې كه نه دې اصله كې ئې جهاد اوجنګ پرسولې پريخودې دي

دغه فروداړخه دغداري صورت

وَإِنْ بَدَءُوا بِخِيَانَةٍ قَاتَلَهُمْ وَلَمْ يَنْبِذْ إِلَيْهِمْ إِذَا كَانَ ذَلِكَ بِاتِّفَاقِهِمْ لِأَنَّهُمْ صَارُوا نَاقِضِينَ لِلْعَهْدِ فَلَا حَاجَةَ إِلَى نَقْضِهِ

ژباړه وتشريح - ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي كه پيل اوكړه هغوي (كافرانو) په خيانت (او د وعدي باندې ئې اونكړله) نو جنګېږي به دوي سره او اعلان د ماتولو د معاهدې د صلح به نه كوي. دوي ته (چه زموږ او ستاسو په مينځ كې ستاسو غدارئ د امله د صلحې معاهده ماته شوه) كله چې وي دا (د معاهدې ماتول) په اتفاق دهغوي سره. ځكه چې (د اتفاق په صورت كې) دوي او ګرځيدل ماتونكي د معاهدې. نو ښه حاجت د ماتولو د معاهدې نه (چه مسلمانان ورته د معاهدې ختمولو اعلان اوكړي. ځكه چې هغوي په خپله د معاهدې حبال اوپه ساتل)

بِخِلَافِ مَا إِذَا دَخَلَ جَمَاعَةٌ مِنْهُمْ فَقَطَعُوا الطَّرِيقَ وَلَا مَنَعَةَ لَهُمْ حَيْثُ لَا يَكُونُ هَذَا نَقْضًا لِلْعَهْدِ، وَلَوْ كَانَتْ لَهُمْ مَنَعَةٌ وَقَاتَلُوا الْمُسْلِمِينَ عَلَانِيَةً يَكُونُ نَقْضًا لِلْعَهْدِ فِي حَقِّهِمْ دُونَ غَيْرِهِمْ

حل اللغة ① النقض ماتول ② منعة ډله، جماعت ③ علانية ښكاره

ژباړه وتشريح - په خلاف دهغه صورت كله چې داخله شي يوه ډله ددوي نه (دار الاسلام ته) او او شوكوي لار اوپه وي حاصل دوي ته يوره طاقت. نو په كېږي دا (حركت ددوي) ماتول د معاهدې. او كه چرته وي ددوي لپاره قوت او جنګېږي مسلمانانو سره په ښكاره. نو كېږي دا (حركت ددوي) ماتول د معاهدې په حق ددوي (يعنې صرف ددغه جماعت كې) نه د نورو (كافرانو) په حق كې. ځكه چې (ددوي) دا عمل شوې دې بغير د اجازت د بادشاه دهغوي نه. نو ددوي فعل (چه د مسلمانانو سره جنګ كول دي) نه لازميږي (نورا ددې) په نورو (كافرانو) باندې.

حَتَّى لَوْ كَانَ بِإِذْنِ مَلِكِهِمْ صَارُوا نَاقِضِينَ لِلْعَهْدِ لِأَنَّهُ بِاتِّفَاقٍ مِنْهُمْ مَعْنًى

البته دا كه وو دا فعل (يعني جنګ د مسلمانانو سره) په اجازت د بادشاه دهغوي نو (په دې صورت كې) ګرځي هغوي ماتونكي د معاهدې. (په حق د ټولو كې) ځكه چې دا (فعل دغه ډله صادر شوې دې) په اتفاق د دوي سره معنى (يعني هر كله چې بادشاه دوي نه ددې فعل عهد اجازت كړې وي نو دا داسې شوه لكه چې ددې فعل كافرانو معاهده ماتونكو ټولو په اتفاق سره شوې دي اګرچه په ظاهره هو هغوي ... كړې وي او هغه چې څه كوي دهغې ... قوم ته كېږي ددې امله دا داسې شوه لكه چې دوي په اتفاق

خلورم توك

سره نقض د عهد کړې دي.اوپه متن کي د معنی هم دا مطلب دي.چه د بادشاه د اجازت نسبت دوئ ته کېږی نوددې معنی دا شوه.چه واړه پرې راضي دی﴾

د مال په عوض صلح کول

﴿وَإِذَا رَأَى الإِمَامُ مُوَادَعَةَ أَهْلِ الْحَرْبِ وَأَنْ يَأْخُذَ عَلَى ذَلِكَ مَالًا فَلَا بَأْسَ بِهِ) لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَتِ الْمُوَادَعَةُ بِغَيْرِ الْمَالِ فَكَذَا بِالْمَالِ،

ژباړه وتشریح - اوکله چې اووینی امام ﴿یعنی مناسب اوګنړی﴾ مصالحت د حربیانوسره اوچه واخلی چې په دې ﴿مصالحت﴾ باندې مال ﴿دهغوئ نه﴾ نونشته باك په دې کي ، ﴿یعنی که کافران مسلمانانوته ووائی موږ صلح اوکړئ.اودومره روپئ به درکړو.اوامام ته په دې کي دمسلمانانوفائده ښکاری نودصلحې په عوض دهغوئ نه څه اخستل جائزدی﴾خکه چې هرکله جائزدې مصالحت ﴿دحربیانوسره﴾ بغیرد مال نودغه ډول به ﴿جائز وی﴾ په مال سره ﴿هم﴾

لٰكِنْ هٰذَا إِذَا كَانَ بِالْمُسْلِمِينَ حَاجَةٌ، أَمَّا إِذَا لَمْ تَكُنْ لَا يَجُوزُ لِمَا بَيَّنَّا مِنْ قَبْلُ،

ژباړه وتشریح - خودا حکم ﴿دصلح په عوض کي دمال اخستلوجواز﴾ په هغه صورت کي دې.چه وی د مسلمانانو اړتیا ﴿مال ته﴾ اوچه نه وی ﴿اړتیا مال ته﴾ نوجائزنه دې ﴿مصالحت په مال باندې﴾ وهغه دلیل چې موږ بیان کړې ده وړاندې، ﴿یعنی چې دا صورة اومعنی د جهاد پرېښول دی.کوم چې جائزنه دی﴾

وَالْمَأْخُوذُ مِنَ الْمَالِ يُصْرَفُ مَصَارِفَ الْجِزْيَةِ، هٰذَا إِذَا لَمْ يَنْزِلُوا بِسَاحَتِهِمْ بَلْ أَرْسَلُوا رَسُولًا، لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْجِزْيَةِ،

حل اللغة ① الساحة میدان ،علاقه

ژباړه وتشریح - اواخستې شوې مال ﴿چه دصلح په عوض کي چې دحربیانونه کوم مال واخستې شی﴾ هغه به خرچ کولای شی په مداتود جزیه کي ، ﴿یعنی دکافرونه چې جزیه اخستې شی.اوهغه جزیه په کومو کارونو کي خرچ کول جائزدی.دغه ډول به دا مال هم په هغه کارونوکي خرچ کول جائز وی﴾ خودا حکم ﴿چه ددوئ نه اخستې شوې مال به دجزیه په مصارفوکي خرچ کولې شی﴾ په هغه صورت کي دې.چه نه وی ورغلې ﴿مسلمانان﴾ دهغوئ علاقې ته،بلکه رالیږلې وی هغوی یوقاصد ﴿مسلمانانوته،چه تاسوپه موږ باندې چور مکوئ بلکه موږ سره صلح اوکړئ.تاسوته به مال درکړو﴾ خکه چې دا ﴿مال په داسې صورت کي﴾ په معنی دجزیه کي دې. ﴿خکه چې جزیه کي هم دجزیه په ورکولودوئ د مسلمانانو دحملې نه بچ کیږی.اوپه دې صورت کي هم د مال ور کاوه په وجه دوئ دمسلمانانودحملې نه بچ کیږی. نوچه کوم مصارف دجزیه وی هغه به دمال صلح وی﴾

أَمَّا إِذَا أَحَاطَ الْجَيْشُ بِهِمْ ثُمَّ أَخَذُوا الْمَالَ فَهُوَ غَنِيمَةٌ يُخَمِّسُهَا وَيَقْسِمُ الْبَاقِيَ بَيْنَهُمْ لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌ بِالْقَهْرِ مَعْنًى

حل اللغة ① الجیش لښکر ② القهر زبردستی،زور

ژباړه وتشریح - اوهغه صورت چې احاطه کړې وی ﴿اسلامی﴾ لښکرپه دوئ ﴿یعنی دوئ ئې راګیرکړی وی﴾ وبیا واخلی دوئ ﴿مسلمانان دحربیانو نه﴾ مال ﴿یعنی چې مسلمانان په حربیانو چور اوکړی.وهغوئ راګیر کړی اوبیا هغوئ دمال په عوض د صلح درخواست اوکړی.نوپه دې صورت کي چې کوم مال دهغوئ نه واخستې شی﴾ هغه به غنیمت وی.خمس به ورکوی په هغې کي ﴿یعنی خمس به ترې اوباسی وتقسیموئې به شی باته ﴿خلورحصې﴾ په مینځ ددوئ ﴿اسلامی لښکر﴾ کي ،خکه چې دا اخستې شوې دې به زور سره معنی ﴿یعنی اګرچه په ظاهره خودا ښکاری .چه دا مال هغوئ په خپله رضا سره ورکوی ځکه که په حقیقت نظر واچولې شی.نو دا هغوئ چې صلحې ته غاړه کیخودلې ده.نود مجبورئ د مخې ئې کیخودې ده که صلح نه کوو.اولړ مال نه ورکوو . نو دمال اوجان نه هم خلاصیږو.نومعنی دا سې شوه ځکه چې دوئ نه په زور سره دا مال اخستې شوې وی.اوکوم مال چې په زورسره واخستې

شي.هغه غنيمت وي.نودددې مصارف به هم دمال غنيمت وي﴾

دمرتدانوسره د صلح كولوحكم

﴿وَأَمَّا الْمُرْتَدُّونَ فَيُوَادِعُهُمُ الْإِمَامُ حَتَّى يَنْظُرَ فِي أَمْرِهِمْ﴾ لِأَنَّ الْإِسْلَامَ مَرْجُوٌّ مِنْهُمْ فَجَازَ تَأْخِيرُ قِتَالِهِمْ طَمَعًا فِي إِسْلَامِهِمْ ﴿وَلَا يَأْخُذُ عَلَيْهِ مَالًا﴾ لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ مِنْهُمْ لِمَا نُبَيِّنُ

زباړه وتشريح:- اوهرچه مرتديان دي.نومصالحت دې كوي دوئ سره امام ﴿دمسلمانانو﴾ تردې چې دې سوچ اوكړي په كارخپل كې ﴿چه دا مصالحت كاوه ورسره پكاردې كه نه﴾ ځكه چې داسلام ﴿قبلولو﴾ اميد كيداې شي ددوئ نه ﴿او ولې به نشي ځكه چې دوئ څه وخت داسلام په دائره كې تيركړې دې.داسلام دحقانيت او صداقت دلائل به ورته ښكاره شوي وي.دا بيله خبره ده.چه دڅه شبه د املة يا وختي حالت د املة دوئ د اسلام نه اوړيدلي وي.نودمهلت وركولوصورت به دا وي.چه دمسلمانانوامام به ورته اووائي.تاسو توبه اوباسئ.نوپه تاسو چور نه كوو.اوكه ستاسودٌ اسلام په حقانيت كې څه شكوك اوشبهات وي. د هغې ازاله به موږ اوكړو﴾ نوجائزدې روستووالې دجنګ دوئ سره،د املة داميدنه په ايمان ددوئ كې ، ﴿يعنى كه دا اميد كيداې شي.كه دوئ ته موږ مهلت وركړو.اودوئ دكومو شبهاتو د املة كفرته اوړيدلي دي.هغه شبهات به ئې لرې كړو.نودوئ سره په جنګ كولوكې تاخيرجائزدې﴾.اونه به اخلي ﴿امام﴾ د دوئ نه په دې ﴿مصالحت باندې﴾ مال،ځكه چې جائزنه ده اخستل دجزيه د دوئ نه دهغه املة چې موږ به ئې بيان كړو ﴿په باب الجزيه كې انشاءالله﴾

دمرتدانونه دمال اخستل

﴿وَلَوْ أَخَذَهُ لَمْ يَرُدَّهُ﴾ لِأَنَّهُ مَالٌ غَيْرُ مَعْصُومٍ وَلَوْ حَاصَرَ الْعَدُوُّ الْمُسْلِمِينَ وَطَلَبُوا الْمُوَادَعَةَ عَلَى مَالٍ يَدْفَعُهُ الْمُسْلِمُونَ إِلَيْهِمْ لَا يَفْعَلُهُ الْإِمَامُ

اوكه چيرته واخلي ﴿مال دمرتديانونه دمسلمانانوامام﴾ نونه به ئې واپس كوي ځكه چې دا مال غيرمعصوم دې. ﴿دغيرمعصوم حقيقت دا دې.چه كله دمعصوم اضافت مال ته اوشي.نوددې نه مراد د مال قيمتي كيدل وي.اومال په هغه وخت كې قيمتي وي.كله چې دا دچا په ملكيت كې وي.اوكوم مال چې دچا په ملكيت كې نه وي.يا په څه وجه دهغې نه ملكيت زائله شوې وي.نوهغې ته مال غيرمعصوم وائي.چونكه مرتد اسلام پريښولې (پريخودې) دې.نود ارتداد په وجه د مال نه دده ملكيت زائله شو.نودمرتدمال غيرمعصوم شو.اومال غيرمعصوم په اخستلوكې چاته واپس كول نه وي﴾ اوكه چيرته محاصره اوكړي دشمن دمسلمانانونه ﴿او مسلمانان راګير كړي﴾ اومطالبه اوكړي ﴿حاربين دمسلمانانونه﴾ دمصالحت په مال باندې، ﴿چه تاسوسره صلح كوو.اومحاصره موپريږدو.خوپه دې شرط چې موږ ته به مال راكوئ﴾ چې ور ئې كړي مسلمانان هغوئ ﴿محاربينو﴾ ته،نه به كوي امام ﴿دا كار﴾ .

لِمَا فِيهِ مِنْ إِعْطَاءِ الدَّنِيَّةِ وَإِلْحَاقِ الْمَذَلَّةِ بِأَهْلِ الْإِسْلَامِ إِلَّا إِذَا خَافَ الْهَلَاكَ، لِأَنَّ دَفْعَ الْهَلَاكِ وَاجِبٌ بِأَيِّ طَرِيقٍ يُمْكِنُ

حل اللغة: ① **الالحاق:** مولښتي كيدل، ② **المذلة:** ذلت،رسوائي ③ **الاعطاء:** وركول

زباړه وتشريح:- ځكه چې په دې كې وركول ددېت دي.او ﴿اهل﴾ مولښتي كيدل د ذلت ﴿اورسوائي دي﴾ په مسلمانانو پورې. ﴿يعنى دا دمسلمانانو لپاره رسوائي.اوذلت دې.چه دوئ مرتديانوته مال وركړي﴾ مګردا چې ويريږي ﴿امام﴾ دهلاكت ﴿دمسلمانانو،كه صلح ورسره په مال باندې نه كوي.نودوئ هلاكيږي.نوپه داسې صورت كې ورله په مال باندې مصالحت جائزدې﴾ ځكه چې لرې كول دهلاكت واجب دی چې په هره طريقه ممكن وي. ﴿اوس په دې صورت كې په مال باندې دصلح كولونه بغيرددوئ هلاكت نه دفع كيږي.ځكه به مال وركوي﴾

په حربیانو کافرانوباندې د وسله خرڅولوممانعت

(وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُبَاعَ السِّلَاحُ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَلَا يُجَهَّزَ إِلَيْهِمْ) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ بَيْعِ السِّلَاحِ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَحَمْلِهِ إِلَيْهِمْ (١)، وَلِأَنَّ فِيهِ تَقْوِيَتَهُمْ عَلَى قِتَالِ الْمُسْلِمِينَ فَيُمْنَعُ مِنْ ذَلِكَ وَكَذَا الْكُرَاعُ لِمَا بَيَّنَّا، وَكَذَلِكَ الْحَدِيدُ لِأَنَّهُ أَصْلُ السِّلَاحِ،

حل اللغة: ① التجهيز: تیارې کول ،اوړل ② التقوية: مضبوطول ③ الكراع: اوسپنه

ژباړه وتشریح:- اومناسب نه دی. ﴿یعنی حرام دی﴾ چې خرڅه کړې شی وسله په حربی کافرانوباندې ،اونه به دوئ ته، ﴿یعنی مسلمانان سوداګردې په حربی کافرانووسله نه خرڅوی﴾ ځکه چې نبی ﷺ منع کړې ده.دخرڅولود وسلې نه په حربی کافرانوباندې،اوداوړلونه هغوئ ته،اوبله دا چې په دې کې مضبوطول د هغوئ دی په جنګ دمسلمانانو،نوددې امله به منع کولای شی د دې ﴿خرڅولواواړلو﴾ نه، او شی وړلې ﴿وسله﴾ اودغه ډول اسونه دی.دهغې امله چې موږ بیان کړه. ﴿یعنی په دې کې په مسلمانانوباندې دهغوئ غالب کول دی﴾ اودغه ډول اوسپنه ده ﴿یعنی دا به هم په کافرانونشی خرڅولې اونه به هلته اوړلې شی﴾ ځکه چې دا ﴿اوسپنه﴾ اصل د وسله دې. ﴿ددې نه وسله جوړیږی﴾

وَكَذَا بَعْدَ الْمُوَادَعَةِ، لِأَنَّهَا عَلَى شَرَفِ النَّقْضِ أَوِ الِانْقِضَاءِ فَكَانُوا حَرْبًا عَلَيْنَا، وَهَذَا هُوَ الْقِيَاسُ فِي الطَّعَامِ وَالثَّوْبِ، إِلَّا أَنَّا عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ {فَإِنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَمَرَ ثُمَامَةَ أَنْ يَمِيرَ أَهْلَ مَكَّةَ وَهُمْ حَرْبٌ عَلَيْهِ}. (٢)

حل اللغة: ① يمير: غله لیږی

ژباړه وتشریح:- اودغه ډول حکم دې روسته د مصالحت نه ﴿یعنی چې صلح ورسره شوې وی.نوددې نه روسته به هم ورباندې وسله نشی خرڅولې﴾ ځکه چې دا صلح نزدې ده ماتیدو ته ﴿یوددې امله چې په حربی کافرانوباندې څه اعتمادهم نه دې پکار.چه دوئ دجنګ نه کولوپه وعده باندې قائم پاتې شی که نه،اوبله دا چې دا هم کیدای شی.مسلمانان په صلح ماتولوکې مصلحت اووینی.اوصلح ماته کړی.نوپه دواړو صورتونوکې دوئ دحربی کافرانوپشان شو.نولکه څنګه چې په حربی کافرانو وسله خرڅول ناروا دی.دغه ډول په دې مصالحینوباندې﴾ یا دا چې په خپله موده به ختمه شی. ﴿اودصلحې مودې تیریدونه روسته بیا هغوئ حربیان کافران شو.اوپه حربی کافرباندې وسله خرڅول ناجائزدی.نوپه دوئ هم ناجائز شو﴾ نودوئ به شی غالب په موږ باندې، ﴿اودشمن ته دخپله لاسه د غلبې موقع نه دی ورکول پکار﴾ اودا ﴿نه ورکول﴾ قیاس دې دخوراك اوڅکاك په څیزونو کې ، ﴿یعنی دقیاس تقاضا دا ده.چه حربی کافرانوباندې دې دخوراك څکاك شیان (څیزونه) هم خرڅ نکړې شی. ځکه چې په دې باندې هم هغوئ ته تقویت ملاویږی﴾ البته دا چې موږ دا ﴿خرڅول﴾ پیژندلی دی په نص سره، ﴿یعنی په نص حدیثی کې حربی کافرانوته دغله ورکولواجازت موجود دې.ځکه موږ دا قیاس پریښولې (پریخودې) دې.اوهغه نص دا دې.چه﴾ نبی ﷺ حکم کړې وو،ثمامه رضی الله عنه ته غله اولیږی اهل مکه ؤ ته،حالانکه هغوی جنګ کونکی وو هغه ﴿نبی ﷺ﴾ سره، ﴿نوددې امله موږ په طعام اوشراب کې قیاس پریخودو﴾

تشریح:- په متن کې دحضرت ثمامه بن آثال په حدیث باندې استدلال شوې دې.ددې مختصر وضاحت دا دې.چه ثمامه بن آثال رضی الله عنه دخپلې قبیلې یونامورسردار وو.اودنبی ﷺ دقتل اراده ئې کړې وه.په یوه موقع باندې مسلمانانوته په لاس راغلو.اوهغوی نبی ﷺ ته راویستلو.نبی ﷺ دجمات په ستن پورې د تړلوحکم اوکړلو.په

(١)قال الزيلعی(رح) غريب بهذا اللفظ روی البيهقی فی سننه والبزارفی مسنده والطبرانی فی معجمه من حديث ... عمران بن حصين رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ نهی عن بيع السلاح فی الفتنة (نصب الرأية ٣\٥٩٩)_
٢) قال الزيلعی رحمه الله قلت رواه البيهقی فی دلائل النبوة فی آخرباب حديث الإفک من طريق ابن إسحاق حدثنی سعيدالمقبری عن ابی هريرة رضی الله عنه فذكرقصة إسلام ثمامة بلفظ الصحيحين (نصب الرأية ٣\٦٠٠)_

اول ورځ چې کله ده په جمات کي د مسلمانانو معمولات حسن معاشرت اوليدل. نو ددې نه روسته نبي ﷺ اوفرمائيل. ثمامه ستا څه خيال دې. چه مونږ به تاسره څه کوو؟ دوئ ورته عرض اوکړلو. که د خلاصولو په بدله کي مال غواړې. چه څومره غواړې نو هغه هومره به درته درکړم. او که بغير د څه عوض دې زه آزاد کړم. نوزه احسان هيرونکې نه يم. په دويمه ورځ بيا دنبي ﷺ دغه سوال اودده دغه ځواب وو. په دريمه ورځ بيا هم دغه سوال اوځواب وو. نونبي ﷺ حکم اوکړلو. چه دې آزاد کړئ. کله چې دې آزاد کړې شو. نو د جمات نه بهرته لاړلو غسل ئې اوکړلو. او دنبي ﷺ په خدمت کي حاضر شو. ايمان ئې راوړلو. او بيا خپلې قبيلې ته واپس شو. د مکې مشرکان چې دده دايمان نه خبر شو. نو په ده پسې ئې خبرې پيل کړې. چه او ويريدلو. او دخپل پلار نيکه دين ئې پريښولو. بې دينه شو. دوئ ورته ځواب اوليږلو. چه ما غلط دين پريښولي (پريخودې) دې. او صحيح دين چې دمحمد ﷺ دين دې. هغه مې قبول کړې دې. او ورسره ئې دا قسم هم اوخوړلو. چه ترڅو پورې ماته نبي ﷺ اجازت نه وي کړې. نود يمامه څخه به دغله يوه دانه هم تاسوته ملاؤ نشي. ددې نه روسته اهل مکه په خپلو خبرو ډير پښيمانه شول. او په هغوئ باندې سختې پيل شوې. ځکه چې مکې ته به د يمامه نه غله تله. آخردا چې هغوي مجبوره شو. اونبي ﷺ ته ئې د خپلولئ واسطه ورکړه. چه ته ثمامه ﷺ ته د غلې راليږلو حکم اوکړه. ددې نه روسته نبي ﷺ ثمامه ته دا اجازت اوکړلو. چه ته په اهل مکه باندې غله ځرڅوه. حالانکه اهل مکه حربي کافران وو. ﴿سيرة ابن هشام﴾

په مسلمانانوکې ديوکس کافرته امان ورکول

(فَصْلٌ) ﴿إِذَا أَمَّنَ رَجُلٌ حُرٌّ أَوِ امْرَأَةٌ حُرَّةٌ كَافِرًا أَوْ جَمَاعَةً أَوْ أَهْلَ حِصْنٍ أَوْ مَدِينَةٍ صَحَّ أَمَانُهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قِتَالُهُمْ﴾ وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ} (۱) أَيْ أَقَلُّهُمْ وَهُوَ الْوَاحِدُ

حل اللغة: ① **تتكاف**: بچ کولې شي ② **الادنى**: معمولي، کمزورې

ژباړه وتشريح: - کله چې امان ورکړي سړې آزاد، يا ښځه آزاده ﴿امان ورکړي﴾ يو کافرته، يا يوې ډلې ﴿د کافرانو ته﴾ او اوسيدونکو د قلعې ته ﴿امان ورکړي﴾ يا اسيدونکو د ښارته ﴿امان ورکړي﴾ نو صحيح دې امان ورکول د دوئ، او جائز نه دی د هيڅ يوکس د مسلمانانو دپاره، جنګ کول د هغوئ سره، ﴿اګرچه کوم کس امان ورکړې وی. هغه شل يا ړوند يا ګوډ وی﴾ او اصل ﴿دليل﴾ په ﴿صحت د﴾ دې ﴿امان﴾ کي قول دنبي ﷺ دې. چه مسلمانان برابر دی. وينې ددوئ، ﴿په قصاص او ديت کي. په توانګر او فقير دغه ډول په معزز او غير معزز کي توپير نشته. که شريف قاتل وی. نو د غير شريف مقتول په بدله کي به قصاص کولې شي﴾ او کوښښ به کوی د ذمه ورائ ددوئ دپاره، ادنی په دوئ کي، يعنی کم مقدار چه يوکس دې. ﴿يعنی که په مسلمانانوکي يوکس يوه ذمه واری واخستله. نو واړه مسلمانان به دهغه ذمه وارئ پوره کولو کوښښ کوی. نو ددې حديث مطابق که آزاد سړی يا ښځې کوم حربی ته امان رکړلو. په نورو مسلمانانو دده د امان ورکولو احترام واجب دې. چه دغه کافرته به څه نه وائي﴾

وَلِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْقِتَالِ فَيَخَافُونَهُ إِذْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْمَنَعَةِ فَيَتَحَقَّقُ الْأَمَانُ مِنْهُ لِمُلَاقَاتِهِ مَحَلَّهُ ثُمَّ يَتَعَدَّى إِلَى غَيْرِهِ،

ژباړه وتشريح: - او ﴿ددې قياسي دليل د امله چې ديو په ذمه واری د ټولو ذمه واری جوړيږی. چه﴾ دا ﴿امان ورکونکې چې آزاد سړې او آزاده ښځه ده﴾ جنګ کونکی ﴿مجاهدين﴾ دی. نو هغوئ ﴿حربيان﴾ به ويريږی دده ﴿امان ورکونکی﴾ نه، ﴿چه ښځه او سړې دی. او ځکه به ترې ويريږی. چه﴾ دا ﴿امان ورکونکې﴾ د توان خاوند دې. ﴿نو هر کله چې دې جنګ کوی. کافران ترې ويريږی. په ده کي قوت او توان شته. نو ددې ټولو صفتونو په تقاضا﴾ متحقق کيږی امان دده ﴿امان ورکونکی﴾ د امله د ملاقات ددې

1) من حديث على بن أبى طالب ﷺ أخرجه البخارى فى المغازى باب ٠ ومسلم فى الجهاد رقم ٥٩ وأبوداود فى الجهاد باب ١١٤ وأحمد فى المسند (٢٤٦\٢)_

ځلورم ټوك نه خپل محل سره ﴿يعنی چې ويريدونكي كافردي﴾ بيا متعدی كيږی ﴿امان د دې امان ﴿امان﴾ نه ﴿نوره ﴿مسلمانانو﴾ ته، ﴿يعنی چې دده په امان كي شو.نود نورو مسلمانانو په امان كي وركونكی نه﴾ نورو ﴿مسلمانانو﴾ ته.﴿يعنی چې دده په امان كي شو.نود نورو مسلمانانو په امان كي هم راغلو.اود امان متعدی كيدو مثال دا دې.چه په رمضان مبارك كي د رمضان مياشت د يوكس په رؤيت سره ثابته شی.په ده باندې روژه فرض شی.اوبيا دا لزوم دده نه نورو مسلمانانوته متعدی شی.په هغوی باندې هم روژه نيول فرض شی﴾

وَلِأَنَّ سَبَبَهُ لَا يَتَجَزَّأُ وَهُوَ الْإِيمَانُ، وَكَذَا الْأَمَانُ لَا يَتَجَزَّأُ فَيَتَكَامَلُ كَوِلَايَةِ الْإِنْكَاحِ.

ترجمه وتشريح:- اوبله ﴿ددې﴾ امله ددې امان وركونكی امان صحيح دې﴾ چې سبب د دې ﴿امان﴾ نه ﴿ددې﴾ ايمان دې. ﴿يعنی امان وركونكی ته چې دا سرټيفكيټ ملاؤ شوي دې.كه دې چاته امان وركړی.نودده امان به معتبروی.دا دايمان په وجه دې.چه دې ايمانداردې.اوايمان برخې حصې نشی تقسيميږی .كوم چې ايمان دې. كيدې.چه دامان وركونكی دايمان په وجه دې ورته دهغې په اندازه امان ملاؤ شی. اوكومو نورو مسلمانانوچه ورته امان نه وی وركړې.دهغوی د برخو په حساب دې ورته امان ملاؤ نشی.﴾ اودغه ډول امان هم نه تقسيميږی. ﴿نوهركله چې د بعضې كسانونه ورته امان ملاؤ شو.اوس به په دوو خبروكي يوه خبره كيږی.يا خوبه ددغه بعضوكسانوامان هم باطل اوګرځولې شی.اويا به دبعضوكسانوامان پوره كړې شی.اوټولوپه حق كي به امان تسليم كړې شی.اوداسې خو كيدای نشی.چه كومو بعضوكسانوامان وركړې دې.دهغوئ امان هم باطل شی.ځكه چې امان تحقق راغلې.ځكه ئې تحقق راغلې.چه دامان وركولوكوم شرطونه دی.هغه په دغه بعضوكسانوكي موجود دی.چاچه امان وركړې دې.نودامان سبب موجود شو.چه سبب موجود شو.مسبب به خامخا موجوديږی.﴾ نوكامل به وی ﴿امان دهريوكس ځكه چې سبب دامان چې ايمان دې.هغه دده په حق كي كامل دې.نولكه څنګه چې سبب دامان دهريومسلمان په حق كي كامل دې.چه دده ايمان برخې حصې نشی كيدې.دغه شان چې ددغه ايمان په وجه كوم امان ملاويږی.هغه به هم كامل وی.اودده په امان وركولوبه ورته پوره امان ملاويږی.دا نه چې دده دحصې په برابری به ورته امان ملاويږی.اود نورو مسلمانانو د برخو برابربه ورته امان نه ملاويږی﴾ پشان د ولايت دنكاح ﴿يعنی لكه څنګه چې دانجلی څه وليان په درجه د ولايت كي برابر وی.مثلاً واړه رونړه وی.اوپه دوئ كي يو ورو چا سره دخپلې خور نكاح اوكړی.نودا نكاح د ټولوپه حق كي صحيح ده.ځكه چې سبب د ولايت چې خپلولی ده.هغه ويش نه قبلوی.نودغه ډول به ولايت دنكاح هم ويش نه قبلوی.چه كوم ورر ورله نكاح كړې ده.دهغه د ولايت په اندازه دا نكاح صحيح شی.اودنورو دولايت په اندازه صحيح نه وی.بلكه ديوپه انكاح سره به د ټولود اړخه نكاح صحيح وی.نودغه ډول په زيربحث مسئله كي ديوپه امان وركولوسره به دټولود اړخه امان وی﴾

په امان كې دمسلمانانودنقصان په صورت كې امان ماتول

قَالَ (إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي ذَلِكَ مَفْسَدَةٌ. فَيَنْبِذُ إِلَيْهِمْ) كَمَا إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ بِنَفْسِهِ ثُمَّ رَأَى الْمَصْلَحَةَ فِي النَّبْذِ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ.

ژباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله فرمائی.مګردا چې وی په دې ﴿امان وركولوديومسلمان كي﴾ نقصان ﴿د مسلمانانو﴾ نوماته به كړی وعده ﴿دامان﴾ هغوئ سره، ﴿اواعلان به ورته اوكړی.چه زمونږ فلانی مسلمان چې تاسوته امان دركړې وو..هغه امان مونږ ماتوو.اوددې امان ماتولومثال دا دې.دې﴾لكه څنګه چې امان وركړی امام ﴿دمسلمانانو حربيانوته﴾ په خپله اوبيا اووينی مصلحت ﴿دمسلمانانو﴾ په ماتولو﴿دامان﴾ كي ، ﴿نودامان وركولومعاهده به ماتوی.دمسلمانانو نه د ضرر لرې كاوه په غرض﴾ اويقيناً مونږ بيان كړې ده دا خبره، ﴿د باب الموادعة په اول كي د دې قول ((وإن صالحهم مدة ثم رأى نقض الصلح أنفع إليهم)) په بيان كي﴾

وَلَوْ حَاصَرَ الْإِمَامُ حِصْنًا وَأَمِنَ وَاحِدٌ مِنَ الْجَيْشِ وَفِيهِ مَفْسَدَةٌ يَنْبِذُ الْإِمَامُ لِمَا بَيَّنَّا، وَيُؤَدِّبُهُ الْإِمَامُ لِافْتِيَاتِهِ عَلَى رَأْيِهِ،

حل اللغة: ① حصن: قلعه ② الجيش: لښکر ③ يودب: ادب ورکوي

ژباړه وتشريح:- او که محاصره کړلو امام ﴿د مسلمانانو﴾ يوه قلعه او امان ورکړلو يو کس د لښکر نه ﴿د قلعه خلګو ته﴾ او وي په دې ﴿امان ورکولو﴾ کې نقصان ﴿د مسلمانانو﴾ نو مات به کړي امام ﴿معاهده د﴾ امان، دهغه امله چې موږ بيان کړه. ﴿په دې قول ((وإن صالحهم مدة ثم رأى نقض الصلح أنفع إليهم)) په بيان کې﴾ او تاديبي سزا به ورکړي ده ﴿دغه فوځي﴾ ته، د امله د وړاندې والی دده نه ﴿په رائې دامام يعني امام د دغه قلعه د محاصره کاوه لپاره څومره منصوبه بندي کړې وه. مسلمانان ئې په مشقت کې اچولي وو. اودا يو مسلمان فوځي راولګيدلو. داميرپه دغه کوششونې د اوبو اچولو ارتکاب اوکړو. اوپه دومره لوئې اقدام کې ئې د خپل اميرنه مشوره قدرته هم وانخستله﴾

بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِيهِ نَظَرٌ لِأَنَّهُ رُبَّمَا تَفُوتُ الْمَصْلَحَةُ بِالتَّأْخِيرِ فَكَانَ مَعْذُورًا

ژباړه وتشريح:- په خلاف دهغه صورت کې چې وي په دې ﴿امان ورکولو ديو فوځي﴾ کې، مصلحت، ﴿نو په دې صورت کې ديو فوځي امان ورکول جائزدي. اوامام به دده دغه امان نافذ کوي﴾ څکه چې کله کله فوت کيږي ﴿موقع د﴾ مصلحت په تاخير ﴿او روستوالي﴾ سره، او وي به دې ﴿فوځي﴾ معذور ﴿په امن ورکولوکې يعني بعضې وخت کې داسې اوشي. چه په امان ورکولوکې فائده وي. خوکه په دغه امان ور کاوه کې روستوالې اوشي. نود امان ور کاوه موقع دلاس نه اوځي. مثلاً دې مسلمان فوځي ته په څه واسطه دا خبره راورسي. چه د قلعې خلګ ايمان راوړلو ته تيار دی. خو چونکه هغوی په قلعه کې دننه دي. دهغوی دا خبره مسلمانانوته نشې رارسيدلې. بل اړخ ته د مسلمانانو فوځيانو امير دا حکم اوکړي. چه لږ وخت روسته به په قلعه چور کوو. اوس په داسې صورت کې که دغه مسلمان فوځي خپل اميرته د هغوی د ايمان راوړو خبره رسول غواړي. اودوی دحقيقت حال نه خبروي. نو کيداې شي. دده د خبروولو نه وړاندې اسلامي فوځ په قلعه چور اوکړي. نودهغوی دايمان راوړلوموقع به ضائع شي﴾

د ذمي امان ورکول

(وَلَا يَجُوزُ أَمَانُ ذِمِّيٍّ) لِأَنَّهُ مُتَّهَمٌ بِهِمْ، وَكَذَا لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ.

ژباړه وتشريح:- اونه دی جائز امان ورکول ﴿حربيانوته﴾ د ذمي څکه چې دې ﴿ذمي﴾ متهم دې په دوی ﴿حربيانو﴾ باندې ﴿چوکه ذمي هم کافر دې نودده په امان ورکولوبه ده باندې دا تهمت لګيدې شي. چه دا امان دې دخپل مذهبي تعصب په امله ورکوی دغه ډول ﴿بله وجه د ذمي د امان عدم جواز دا ده. چه﴾ نشته ولايت دده ﴿ذمي﴾ په مسلمانانو باندې ﴿څکه چې الله تعالی فرمائيلي دی ((وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا)) اود ذمي دامان ورکولود امله په نوروسلمانانوباندې دده د امان احترام لازمول هم ولايت دې. کوم چې جائزنه دې﴾

دقيدي اوسوداګر امان ورکول

قَالَ (وَلَا أَسِيرٍ وَلَا تَاجِرٍ يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ) لِأَنَّهُمَا مَقْهُورَانِ تَحْتَ أَيْدِيهِمْ فَلَا يَخَافُونَهُمَا وَالْأَمَانُ يَخْتَصُّ بِمَحَلِّ الْخَوْفِ

ژباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله فرمائي. اونه ﴿دې جائز امان ورکول﴾ دقيدي ﴿چه د حربيانو په قيد کې وي﴾ اونه د سوداګرچه داخل شوې وي په هغوئ باندې ﴿يعني دهغوئ ښارته د تجارت دپاره. يعني که مسلمان قيدي يا سوداګرحربيانوته امان ورکړي. نوددوئ دامان ورکولود امله په مسلمانانوباندې د هغوئ دامان احترام ضروري نه دې﴾ څکه چې دا دواړه ﴿که مسلمان قيدي دې اوکه سوداګردې﴾ مغلوب دي په لاسونو د هغوئ کې، نونه ويريږي ﴿حربيان﴾ ددوئ ﴿قيدي اوسوداګر﴾ نه، اوامان خاص دې په محل د ويرې پورې. ﴿يعني کوم کس چې دده اهليت لري. چه دې حربيانوته امان ورکړي. اوپه نورو مسلمانانودده د امان احترام لازم وي. نودهغې په شرطونوکې يوشرط دا هم دې. چه دغه امان ورکونکې

ځلورم تول: داسې وي.چه کافران دهغه نه ویریږي.اوپه زیربحث صورت کې قیدي اوسوداګردواړه مغلوب دي.کافران د دوئ نه نه ویریږي.نوځکه د دوئ امان ورکول معتبر نشو.

ولأنهما يجبران عليه فيعري الأمان عن المصلحة، ولأنهم كلما اشتد الأمر عليهم يجدون أسيرا أو تاجرا فيتخلصون بأمانه فلا ينفتح لنا باب الفتح.

حل اللغة: ① يعرى: خالي كيږي ② اشتد: سخت شو ③ اسير: قيدي

زیاده وتشریح:- اودویم عقلي دلیل دا بیانوي اوځکه چې دا دواړه (قیدي اوسوداګر) مجبورولې شي په امان ورکولو باندې (چه حربیان ئې مجبوره کړي.چه تاسو موږ ته امان راکړئ.ګنې تاسو قتل کړو) نوخالي کیږي امان د مصلحت (د مسلمانانو نه.اوکله چې په امان ورکولو کې د مسلمانانوخیرنه وي.نوکه یوکس امان ورکړې هم وي.امام به دهغه امان ماتوي.نوپه دې صورت کې چونکه د دوئ امان ورکول هم د مسلمانانودخیرنه خالي دي.ځکه به نشي قبلولې) اوبله دا چې کله سخته راشي په هغوئ (حربیانو) باندې،نوموږ به قیدي،اوياسوداګر، (يعني قيدي به ئې خان سره په خپل جيل کې ساتلې وي. او سوداګر به ئې په خپل وطن کې ایسارکړي وي.چه کله پرې سخته راشي.نودهغوئ په ذریعه به ځان لپاره امان اخلي) نوخلاصیږي به (د مسلمانانودګرفت نه) په امان دهغه (قیدي اوسوداګر) سره، اوهرکله چې داسلسله روانه شي) نونه به کولاویږي موږ ته دروازه د فتحې (اوکامیابۍ)

ومن أسلم في دار الحرب ولم يهاجر إلينا لا يصح أمانه لما بينا

زیاده وتشریح:- اوچاچه ایمان راوړلوپه دارالحرب کې اوهجرت ئې نه وي کړې موږته (یعني زموږ وطن ته) نو نه صحیح کیږي امان دده (چه دې حربیانوته امان ورکړي) دهغه امله کومه چې موږ بیان کړه (یعني دا چې دغه مومن دهغوئ د حکم لاندې دې.هغوئ ئې په امان ورکولومجبوره کولې شي.بله دا چې دهغوئ ددغه مومن نه ویره هم نه کیږي.ځکه هغه په دارالحرب کې کمزورې دې) اوبل دلیل دا دې.چه سوداګر او د کافرو په لاس کې قیدي ته د مسلمانانومجاهدینو داندروني حالاتوپته نه لګي.چه هغوئ په کوم حالت کې دي.نو کیداې شي.دې امان ورکړي.اوهغه امان ورکول د مسلمانانوپه حق کې نقصان وي.ددې امله د هغه کس امان معتبر نه دې.چه هغه د مسلمانانود حالاتونه خبر نه وي.

دعبدمحجوردامان مسئله

ولا يجوز أمان العبد المحجور عند أبي حنيفة إلا أن يأذن له مولاه في القتال.(١) وقال محمد يصح وهو قول الشافعي، وأبو يوسف معه في رواية، ومع أبي حنيفة في رواية

زیاده وتشریح:- اونه دې جائز امان ورکول د عبدمحجور (چه دې دتجارت کولونه منع شوې وي) په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله البته دا چې اجازت کړي وي ده ته مولی دده په جنګ کولوکې، (چه ته په جهاد کې شرکت کولې شې) اوفرمائي امام محمد رحمه الله چه صحیح کیږي (امان ورکول د عبدمحجور) اودا قول دامام شافعي هم دې.اوامام ابویوسف رحمه الله دده (محمد رحمه الله) سره دې په یو روایت کې،اودامام ابوحنیفه رحمه الله سره دې په یو روایت کې.

لمحمد قوله عليه الصلاة والسلام {أمان العبد أمان} رواه أبو موسى الأشعري، (٢) ولأنه مؤمن ممتنع فيصح أمانه اعتبارا بالمأذون له في القتال وبالمؤبد من الأمان،

١) القول الراجح هوهذا قول الإمام كذا في فتح القدير(٥\٤١٤)والعناية (٥\٤١٤)و الخانية (٤٦١\١٤) وردالمحتار(٢٥٠١٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٨٠)ـ

٢) قال الزيلعي رحمه الله غريب وروى عبدالرزاق في مصنفه ...عن فضيل بن يزيد الرقاشي قال شهدت قرية من قرى فارس يقال لها :شاهرتا فحاصرناها شهراً حتى إذا كنا ذات يوم وطمعنا أن نصبحهم إنصرفنا عنهم عند المقيل فتخلف عبدمنا،فاستأمنوه فكتب إليهم

حل اللغة: ① **الماذون:** هغه كس چې اجازت ورته شوې وی

زباره وتشريح:- دامام محمد رحمه الله دليل قول دنبي ﷺ دې.چه امان د غلام امان دې. «يعني كه مسلمان غلام چاته امان وركړی.نوبه نوروم‌سلمانانودده دامان احترام لازم دې.اودده امان صحيح دې» ابوموسى اشعری رضی الله عنه ددې «حديث» روايت كړې دې.اوبل ددې امله «دغلام امان صحيح دې.چه دې «غلام» مومن دې اوصاحب دقوت دي. «اودامان داهليت په شرطونوكي ايمان اوقوت هم شرط دی» نوصحيح كيږی امان دده د امله دقياس نه په عبدماذون باندې. «لكه څنګه چې د عبدماذون چې مولی ورته د دجهاد كولواجازت كړې وی. او هغه چاته امان وركړی.نودهغه امان صحيح دې.دغه ډول به دعبد محجورامان هم صحيح وی» اود امله د قياس نه په امان مؤبد باندې «يعني كه يوغلام حربی كافرته په دې امان وركړی.چه هغه به په اسلامي ملك كې اوسيږی. اوجزيه به وركوی.نود غلام دا امان وركول صحيح دې.اودغه حربی كافردغلام په امان وركولوسره ذمی ګرځي.نودغه ډول په زيربحث مسئله كې هم دغلام امان وركول صحيح دی» نوايمان «شرط دې لپاره دامان،په دې كې هغه قيد ته اشاره ده.چه ((لأنه مؤمن)) يعنی د عبد محجورامان صحيح كيږی.ځكه چې دې مومن دې.اودا ايمان د امان لپاره شرط دې» ځكه چې

> فَالْإِيمَانُ لِكَوْنِهِ شَرْطًا لِلْعِبَادَةِ، وَالْجِهَادُ عِبَادَةٌ، وَالِامْتِنَاعُ لِتَحَقُّقِ إزَالَةِ الْخَوْفِ بِهِ، وَالتَّأْثِيرُ إعْزَازُ الدِّينِ وَإِقَامَةُ الْمَصْلَحَةِ فِي حَقِّ جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ، إذْ الْكَلَامُ فِي مِثْلِ هَذِهِ الْحَالَةِ،

حل اللغة: ① **الازالة:** زائله كول ،لرې كول ② **الاعزاز:** عزت وركول

زباره وتشريح:- دا «ايمان» شرط دې لپاره دعبادت اوجهاد عبادت دې. «نوايمان به د جهاد لپاره هم شرط وی» اوقوت «هم شرط دامان دې.په دې كې هغه قول ته اشاره ده.چه ((ممتنع)) يعنی دعبدمحجور امان ځكه صحيح كيږی.چه دې ممتنع دې.يعنی هغه ځوك به امان وركولې شی.چه دې صاحب دقوت وی» د امله د تحقق دازاله د ويرې په دې «قوت سره يعنی چې صاحب قوت كس كافرته امان وركړی.نودهغه ويره په دې قوت سره ختميږی.چه اوس به راته ځوك ځكه څه نشی وئيلې.چه فلانی راته امان راكړې دې.اوكه ځوك راته تكليف اورسوی.هغه به مې پوښتنه كوی» اوتاثير «يعنی علت مشتركه په قياس كولود عبدمحجورپه عبدماذون فی القتال كې» عزت د دين دې، «ددين عزت په دې وجه دې.چه غيرمذهبه به ددې نه متاثره شی.چه ګوره اسلام څومره د قدراوعزت مذهب دې.چه يوغلام ته هم دا حق حاصل دې.چه دې كافرته امان وركړی» او قائمول دمصلحت دې په حق د جماعت دمسلمانانوكې «يعنی عبدمحجورچه چاته امان وركوی .نوپه هغې كې به دمسلمانانومصلحت اوخيروی» ځكه كلام «زمونږ» په شان د داسې حالت كې دې. «يعنی موږ چې عبدمحجورته اهليت د امان وركوو.نوپه هغه صورت كې چې ده داسې چاته امان وركړې وی.چه هغه ته امان وركول دمسلمانانو لپاره سبب دخيراوفائدې وی.اوكه بالفرض د عبد محجور امان داسې كس ته وی.چه په هغې كې دمسلمانانوفائده نه وی.نوبيا دغه امان صحيح نه دی»

> وَإِنَّمَا لَا يَمْلِكُ الْمُسَايَفَةَ لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْطِيلِ مَنَافِعِ الْمَوْلَى وَلَا تَعْطِيلَ فِي مُجَرَّدِ الْقَوْلِ.

حل اللغة: ① **المسايفة** مقابله كول ② **تعطيل** بې كاره كول ③ **مجرد:** صرف

زباره وتشريح:- «دلته يوتقديری سوال كيداې شی.هغه دا چې امان به دهغه چا معتبروی.چه هغه جهاد كولې شی.اوعبدمحجورجهاد نشی كولې.ځكه چې مالك دجهاد كولونه منع كړې دې.نوهركله چې جهاد نشی

فی سهم أماناً ثم رمی به إليهم فلما رجعنا إليهم خرجوا فی ثيابهم ووضعوا أسلحتهم فقلنا ماشأنكم ؟فقالوا: لا ندری عبدكم من حركم وقد خرجنا بأمان فكتبا إلى عمر رضی الله عنه فكتب عمر رضی الله عنه إن العبد المسلم من المسلمين وأمانه أمانهم رواه ابن أبی شيبة فی مصنفه وزاد أجاز عمر رضی الله عنه أمانه (نصب الرأية ۳\۶۰۶)_

کولې .نودده امان دې هم صحیح نه وی.نوددغه تقدیری سوال نه ځواب کوی.چه﴿ اونه دې مالك د جهاد﴾یعنی دمولی داجازت نه بغیرعبدمحجورجهاد نشی کولې﴿ ځکه چې په دې ﴿عبدمحجور﴾ کې بیکاره کیدل دی د منافعو دمولی، ﴿یعنی چې غلام جهاد ته ځی.نوپه ده پورې د ﴿جهاد کولو﴾ کې بیکاره کیدل دی د منافعو دمولی... مولی حقوق متعلق دی.لکه خدمت وغیره شو.نوپه جهاد کې شرکت کولوسره دغه منافع ضائع کیږی. او عبدمحجورته دا اختیارنشته.چه دې دمولی منافع ضائع کړی.اوپه زیربحث مسئله کې چې صرف امان ورکول دی.نوامان ورکول په قول سره کیږی﴾ اونشته ضائع کیدل ﴿دمنافعودمولی﴾ صرف په وینا ﴿چه عبدمحجورحربی ته امان ورکړی.یعنی امان ورکول څه د جهاد پشان ګران کارنه دې.چه سرې په کې بوخت وی.اود مولی خدمت ورسره نشی کولې .بلکه دا خوصرف په خولې باندې دا وینا ده.چه ماتاته امان درکړلو.نوهرکله چې په امان کې د مولی د منافعوفوت کیدل نشته.نودده امان صحیح شو﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ مَحْجُورٌ عَنِ الْقِتَالِ فَلَا يَصِحُّ أَمَانُهُ لِأَنَّهُمْ لَا يَخَافُونَهُ فَلَمْ يُلَاقِ الْأَمَانُ مَحَلَّهُ،

حل اللغة: ① يلاق: ملاویږی

زیاده وتشریح:- اودامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه دې ﴿عبد﴾ بندکړې شوې دې دجنګ کولونه ﴿ځکه چې مولی منع کړې دې﴾ نونه صحیح کیږی امان ورکول دده،ځکه چې دوئ ﴿حربیان﴾ نه ویریږی دده ﴿عبد محجور﴾ نه، ﴿ځکه چې هغوئ ته دا پته ده.چه دې زمونږ سره جنګ نشی کولې.ځکه چې مولی منع کړې دې﴾ نوملاقات اونکړلو امان دمحل خپل سره ﴿اومحل د هغې ویره ده.یعنی د امان لپاره دا شرط دې.چه څوك امن ورکوی.هغه داسې وی.چه حربی دهغه نه ویریږی.اوپه زیربحث مسئله کې کافران دده نه ځکه نه ویریږی.چه مولی دې دجهاد کولونه منع کړې دې.نوځکه دده امان نه صحیح کیږی﴾

بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ لَهُ فِي الْقِتَالِ لِأَنَّ الْخَوْفَ مِنْهُ مُتَحَقِّقٌ، وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا لَا يَمْلِكُ الْمُسَايَفَةَ لِمَا أَنَّهُ تَصَرُّفٌ فِي حَقِّ الْمَوْلَى عَلَى وَجْهٍ لَا يَعْرَى عَنْ احْتِمَالِ الضَّرَرِ فِي حَقِّهِ،

حل اللغة: ① يعرى: خالی کیږی

زیاده وتشریح:- په خلاف دهغه غلام چې اجازت ورته شوې وی د جهاد کولو، ﴿دا دامام محمد رحمه الله دقیاس نه ځواب ورکوی.چه دعبدمحجور عن القتال قیاس په عبدماذون فی القتال باندې صحیح نه دې.ځکه عبد ماذون ته دقتال اجازت شته﴾ځکه چې ویره دده نه متحقق ده. ﴿ځکه چې دې په جهاد کې شرکت کولې شی.نوحربیان ترې ویریږی.چه په مونږ به چور اوکړی.اودا څیزپه عبدمحجورکې نشته. نو دا قیاس مع الفارق شو.کوم چې جائز نه دې﴾ اوبله دا چې دې ﴿عبدمحجور﴾ مالك نه دې د جهاد ﴿چه د کافرانوسره اوجنګیږی﴾ځکه چې دا ﴿په جهادکې شرکت کول﴾ تصرف دې په حق د مولی کې ، په داسې طریقه چې خالی نه دې د حمل کولود ضررنه په حق د مولی کې ﴿یعنی عبدمحجورپه جهاد کښې دشرکت اختیارنه لری. ځکه چې دده شرکت د مولی د ضررنه خالی نه دې.ځکه چې دې دهغه د منع کولوباوجود په جهاد کې شرکت اوکړی. نو یوخوده دهغه نافرمانی اوکړله.بله دا چې په جهاد کې شرکت کولوسره د مولی بعضې حقوقو کې خلل راځی.لکه دهغه خدمت شو﴾

وَالْأَمَانُ نَوْعُ قِتَالٍ وَفِيهِ مَا ذَكَرْنَاهُ، لِأَنَّهُ قَدْ يُخْطِئُ بَلْ هُوَ الظَّاهِرُ، وَفِيهِ سَدُّ بَابِ الِاسْتِغْنَامِ، بِخِلَافِ الْمَأْذُونِ لِأَنَّهُ رَضِيَ بِهِ وَالْخَطَأُ نَادِرٌ لِمُبَاشَرَتِهِ الْقِتَالَ،

حل اللغة: ① الاستغنام: غنیمت

زیاده وتشریح:- ﴿اوکه ته دا اووایه.چه امان ورکول خوجهاد نه دې.اوپه دې کې خود مولی دحقوقو په ادا کولوکې خلل نه واقع کیږی.نودهغې ځواب ورکوی﴾اوامان ورکول یو ډول قتال دې. ﴿ځکه چې په قتال کې مقصود دحربیانود شر دفع کول دی.اودا مقصود په امان ورکولوسره هم حاصلیږی.نوامان ورکول دمقصود په اعتبارسره یو ډول قتال شو﴾اوپه دې ﴿قتال﴾ کې هغه څه دی.کوم چې مونږ ذکرکړل. ﴿اشاره

ده دي ((من أنه تصرف في حق المولى على وجه لا يعري عن إحتمال الضرر في حقه)) قول ته﴾ ځکه چې دي ﴿عبد محجور﴾ کله کله خطاء کیږي ﴿په امان ورکولو کې﴾ بلکه دا ﴿د عبد محجور خطاء کیدل﴾ بنکاره دي. ﴿ځکه چې هرکله ده ته د مولى د اړخه دجهاد کولو اجازت نه وي. نو دي به دجهاد په کارونو پوهیږي. او هرکله چې دجهاد دکارونو واقف نه وي. نو عین ممکن ده. چه دي امان ورکړي. او هغه امان د شکست سبب اوګرځي﴾ اوپه دي ﴿امان ورکولو ده﴾ کي بنديدل د دروازې د غنيمت دي. ﴿یعنی کیدي شي. چه دي امان ورکړي. او دده دامان د املـه مسلمانانو ته شکست ملاؤ شي. نو کوم غنيمت چې به مسلمانانوته د فتح په صورت کي ملاويدل .د هغي دروازه به بنده شي. اودا خبره د مولى او مسلمانانو لپاره د نقصان ده. ددي املـه عبد محجور د امان ورکاوه اهل نه دي﴾ په خلاف د عبد ماذون ﴿یعنی عبد محجور په عبد ماذون باندې قیاس کول صحیح نه دي. لکه څنګه چې امام محمد رحمه الله قیاس کړي دي﴾ ځکه چې مالك راضي دي په دي ﴿جهاد کولو د غلام خپل چې دي په جهاد کي شرکت اوکړي﴾ او غلطي نادره ده. ﴿یعنی د عبد ماذون في القتال نه غلطي کله کله کیږي﴾ د املـه د ګډون دده قتال سره ﴿یعنی دا عبد ماذون في القتال چونکه د وړاندې نه د جنګ په کولو باندې پوهیږي. ځکه چې مولى ورته اجازت د قتال ورکړې وي. نو خامخا به ئې څه نه څه دجنګ طریقه زده کړې وي. نو که دي امان ورکوي. هغه امان به د مسلمانانو په حق کي سبب د خیر وي﴾

وَبِخِلَافِ الْمُؤَيَّدِ لِأَنَّهُ خَلَفٌ عَنِ الْإِسْلَامِ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الدَّعْوَةِ إِلَيْهِ، وَلِأَنَّهُ مُقَابَلٌ بِالْجِزْيَةِ وَلِأَنَّهُ مَفْرُوضٌ عِنْدَ مَسْأَلَتِهِمْ ذَلِكَ، وَإِسْقَاطُ الْفَرْضِ نَفْعٌ فَافْتَرَقَا.

زیاره وتشریح:- اوپه خلاف د ﴿امان﴾ مؤبد، ﴿دا د امام محمد رحمه الله دقیاس نه ځواب دي﴾ ځکه چې دا ﴿کافر ته په خپل ملك کي امان ورکول﴾ قائم مقام دي د اسلام ﴿یعنی کافر چه ذمي شي. نو ګویا چې د ده ذمیت یو ډول اسلام دي. په دي اعتبار چه دي په اسلامي معاشره کي اوسیږي. نو د اسلامي تعلیماتو او اصولونه به متاثره شي. او او اسلام به راوړي.﴾ نو دا ﴿چه غلام کافر ته په خپل وطن کي امان ورکړي﴾ په منزله د دعوت دي. هغه ﴿کافر﴾ ته ﴿ځکه چې دي ئې اسلام ماحول ته راوستل. نو کیداې شي د مسلمانانو دعملي ژوند نه متاثره شي .او ایمان راوړي. نو دده اسلام د مسلمانانو لپاره فائده ده. ځکه که هغه غلام امان ورکړي. نو مقبول دي﴾ او بله دا چې دا ﴿امان﴾ په مقابله د جزيه کي دي. ﴿یعنی عبد کافر ته امان ورکوي. خو کافر ورته دا وائي. چه زه به اسلامي حکومت ته جزيه ورکوم. او جزيه اخستل د مسلمانانو په حق کي ده﴾ او بله دا چې دا ﴿امان ورکول﴾ فرض دي. په وخت د طلب کولو د کافرانو د دي امان ﴿یعنی کله چې کافران د مسلمانانو نه په خپل ملك کي د ذمیت په طور د استوګني درخواست اوکړي. نو هغوی ته امان ورکول په مسلمانانو فرض دي﴾ او ساقط کول د فرض نفع ده ﴿لپاره د مسلمانانو، ځکه چې غاړه ئې خلاصیږي. ځکه چې که عبد کافر ته د ذمیت په طور امان ورکړي. هغه مقبول دي﴾ نو دواړه صورتونه جلا جلا شو. ﴿یعنی امام محمد رحمه الله چې د عبد محجور قیاس په امان مؤبد باندې کړې دي. دا قیاس صحیح نه دي﴾

دماشوم امان ورکول

وَلَوْ أَمِنَ الصَّبِيُّ وَهُوَ لَا يَعْقِلُ لَا يَصِحُّ كَالْمَجْنُونِ وَإِنْ كَانَ يَعْقِلُ وَهُوَ مَحْجُورٌ عَنِ الْقِتَالِ فَعَلَى الْخِلَافِ، وَإِنْ كَانَ مَأْذُونًا لَهُ فِي الْقِتَالِ فَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَصِحُّ بِالِاتِّفَاقِ.

ژباړه وتشریح:- اوکه امان ورکړلو ماشوم ﴿کافرانو ته﴾ اودي نه پوهیدلو. ﴿په بنه والي او بدوالي دامان﴾ نو نه صحیح کیږي ﴿امان ورکول دده﴾ اوکه پوهیدلو، خو وو دي بند شوې د جنګ نه ﴿یعنی عمرئې دومره کم، چه امیر ورته د جهاد کولو اجازت نه ورکوي﴾ نو دا مسئله په خلاف ده. ﴿یعنی دا امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدده امان صحیح نه دي. ځکه چې نابالغه ماشوم دامان ورکولو په اعتبار سره په اهل امان کي نه

حسابيږي.ځکه چې دامان ور کاوه لپاره دا لازمي ده.چه دمسلمانانود پټو حالاتونه خبر وي.او د سوچ اوفکرصلاحيت لري.اوپه نابالغه ماشوم کي دا صفات نه وي.اوامام محمد رحمه الله اونورو امامانوپه نيزدده امان صحيح دئ.ځکه چې دامان اهليت د ايمان په اهليت باندې مبنی دي.اوکوم نابالغه ماشوم چې داسلام په به اوبد باندې پوهيږي.هغه د اهل ايمان په زمره کي راځي.نولکه څنګه چې بالغ مسلمان ته دامان ور کاوه حق حاصل دي .دغه ډول به دغه نابالغه ماشوم ته هم حاصل وي﴿ اوکه وي چې اجازت ورته شوې وي . دجهاد ﴾يعنی چې پوهيږي هم.اوپه جهاد کي ورته د شرکت اجازت هم شوې وي﴿ نواصح قول دا دي.چه صحيح کيږي امان د ده.

(بَابُ الْغَنَائِمِ وَقِسْمَتِهَا)

تشریح:- غنائم جمع د غنيمة ده.غنيمت په لغت کي هغه مال ته وائي.چه بغيرد مشقت نه حاصل شوې وي. اوپه فقهی اصطلاح کي مال غنيمت داسي مال ته وائي.چه کوم چې مسلمان مجاهدينود تورې اولاس په زور د کافرانونه حاصل کړې وي.اوفئ هغه مال دې.چه دصلح په ذريعه بغيرد جنګ نه مسلمانانوته حاصل شوې وي.

(وَإِذَا فَتَحَ الْإِمَامُ بَلْدَةً عَنْوَةً) أَيْ قَهْرًا (فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَسَّمَهُ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ) كَمَا فَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ([1])

حل اللغة:① العنوة: بغيرد جنګ نه فتح

ژباړه وتشريح:- اوکله چې فتح کړي امام ﴾دمسلمانانو﴿ يوښارپه توان سره يعني په زور ﴾يعني جنګ اوشي.اوپه جنګ کي کافرمغلوبه شي.اومسلمانانوته فتح نصيب شي﴿ نودې ﴾امام﴿ ته اختياردې.که خوښه ئې شي.نوويش دې کړي دغه ښارپه مينځ د ﴾مجاهدينو﴿ مسلمانانو کي ، لکه څنګه چې کړې وو رسول الله ﷺ په جنګ خيبرکي ،

تشریح:- د خيبردفتح نه روسته رسول الله ﷺ خيبرپه اتلسو حصوکي ويش کړې وو.اوپه هره يوه برخه کي ئې دسلوسړو برخه داخله کړې وه.که داسلامي لښکرفوځيان اړتيا مند وي.نوبهتره هم داده.چه دغه ښارپه هغوئ کي ويش کړي.

يادساتئ کله چې مسلمان حکمران دکافروپه علاقه چور اوکړي.اوهغه قبضه کړي.نوپه داسې صورت کي حاصل شوي مال په درې قسمه وي.① سازوسامان،نوددې ډول څخه به اول پنځمه برخه اوباسي. اوپاته څلورحصې به په هغه مجاهدينوويش کړې.چاچه په دغه جهاد کي برخه اخستې وي.اوپه دغه مال کي مسلمان حکمران ته دتصرف اختيارنشته. چې دخمس او مجاهدينونه سوا په بل مصرف کي ئې اولګوي. ②زمکي،اودمفتوحه علاقې زمکي په ويش کي به د فقه حنفي مذهب مطابق اول ددې نه خمس اوباسي.اوپاته زمکې به د اسلامي لښکرپه شريکو مجاهدينوويش کړي.اوکه د اهل ذمه کيدو شرط موجود شي.نوپه دې صورت کي به دغه مفتوحه زمکې دسابقه مالکانوپه ملکيت کي پريښنولې (پريخودې) شي.اوپه دغه زمکو به خراج مقرر کړې شي.اوپه دغه کسانوبه جزيه مقررکړې شي.③ قيديان،اودقيديانوپه اړه کي امام ته درې قسمه اختياردي. ① سرې دې قتل کړي.اوماشوم اوښځې دې قيديانې کړي② داسلامي حکومت حکمران ته دا اختيارهم حاصل دې.چه کافران قيديان غلام جوړ کړي.په دې صورت کي به پنځه برخه غلام ترې جلا کړي.اوپاته غلامان به په اسلامي غازيانوباندې ويش کړي.ځکه چې دوئ هم د مال

[1]) من حديث زيدبن أسلم أن عمر رضي الله عنه قال والذى نفسي بيده لولا أن أترک آخرالناس بياناً ليس لهم شئ مافتحت على قرية إلا قسمتها کما قسم رسول الله ﷺ خيبر ولکن أترکها لهم خزانة يقتسمونها أخرجه البخاری فی المغازی باب ۳۸)۔

غنيمت په معنی کي دی.نوددوئ ويش به هم د مال غنيمت پشان وی.البته په غلامانو جوړولو کي دا شرط شته.چه قيديان عرب نه وی.اويا مرتد نه وی.ځکه چې دوئ نه غلامان نشي جوړولې.بلکه دوئ به قتل کولې شي.اويا به ترغيب ورکولې شي.چه اسلام دوباره قبول کړی. ③ که اسلامي حکمران غواړی.نودوئ دې بغير څه عوض نه داحسان په طورپريږدی.

دمفتوحه علاقې زمکې دخپلومالکانو په قبضه کي پريښودل

(وَإِنْ شَاءَ أَقَرَّ أَهْلَهُ عَلَيْهِ وَوَضَعَ عَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ وَعَلَى أَرَاضِيهِمُ الْخَرَاجَ) كَذَلِكَ فَعَلَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِسَوَادِ الْعِرَاقِ بِمُوَافَقَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ وَلَمْ يُحْمَدْ مَنْ خَالَفَهُ،(١) وَفِي كُلٍّ مِنْ ذَلِكَ قُدْوَةٌ فَيَتَخَيَّرُ.

حل اللغة: ① **يتخير**: اختيارورکولې شي ② **السواد**: کلې

ژباړه:- اوکه اوغواړي ﴿امام﴾ نوبرقراردې اوساتي مالکان دهغې په هغه مال باندې،اومقرر دې کړی په هغوئ باندې جزيه، ﴿يعني هغه ټيکس چې دوئ به ئې مسلمان حاکم ته ورکوی.اودهغې په بدله کي به اسلامي حکومت ددوئ د جان اومال ساتنه کوی﴾ اودهغوئ په زمکوباندې خراج ﴿يعني دکافر دزمکو په پيداوار کي به اسلامي حکومت څه برخه اخلي دې ته خراج وائي﴾ دغه ډول کړی وو حضرت عمرؓ دعراق د کلو په زمکو،په موافقت د صحابوؓ اوتعريف نه وو بيان شوی دهغه چا چې مخالفت ئې کړې وو ددوئ ﴿حضرت عمرؓ چې حضرت بلال اوسلمان فارسي(رض) وو﴾ اوپه دې ټولوکي ﴿که دغه زمکې په مسلمانانو غازيانوباندې تقسيمول وی.اوکه دهغې دمالکانو په قبضه کي پريښول وی.اودهغې په بدله کي په هغوئ خراج مقرر کول وی﴾ اقتداء ده ﴿په نبیﷺ پسې اوپه حضرت عمرؓ پسې دغه ډول په هغه صحابوؤ پسې چاچه د حضرت عمرؓ سره موافقت کړې وو﴾ نواختياربه حاصل وی ﴿امام ته په دې دواړو کارونوکي﴾

تشريح:- دعربودعلاقوفتح کولونه روسته د عراق فتح دټولو نه لويه فتح وه.کله چې عراق فتح شو.نوحضرت عمرؓ د عراق دکلود زمکو د ويش په اړه کي د صحابه کرامو ؓ سره مشوره اوکړله.چه دې زمکو سره څه اوکړو.① حضرت علیؓ اوفرمائيل.دعراق د کلوزمکې دې نشي ويش کولې.بلکه دا دې دټولومسلمانانويوه مشترکه سرمايه پريښولې (پريخودې) شي.② حضرت معاذؓ اوفرمائيل.که د عراق دکلو مځکه ويش کړې شي.نوداسې به مسلمانانوته ډيره لويه مځکه په لاس راشي.خوهسې نه چې روسته دا مځکه د يوکس په ملکيت کي راشي.اود روسته راتلونکی مسلمانانو لپاره څه لاره پاتې نشي.③ حضرت بلالؓ اوسلمان فارسيؓ اوفرمائيل.چه دخيبرد ويش پشان دې دا زمکې هم په مجاهدينوويش کړې شي.دکافی بحث نه روسته دا فيصله اوشوه.چه دعراق زمکې دې هم دخپلومالکانوپه قبضه کي پريښولې (پريخودې) شي.اوددوئ په نفسونودې جزيه مقرر کړې شي.اوپه زمکو خراج،نوټولوصحابه کرامؓ په دې فيصله باندې اتفاق اوکړلو.البته حضرت بلال اوسلمان فارسي رضي الله عنهما نه په اول کي اختلاف کړې وو. خو امام محمدؒ په سيرکبيرکي ذکرکړی دی.چه حضرت بلال اوسلمان فارسي (رض) دخپلې رائې نه رجوع کړې وه.

دمفتوحه خلقواوزمکوپه اړه کي افضل کردار

وَقِيلَ الْأَوْلَى هُوَ الْأَوَّلُ عِنْدَ حَاجَةِ الْغَانِمِينَ، وَالثَّانِي عِنْدَ عَدَمِ الْحَاجَةِ لِيَكُونَ عِدَّةً فِي الزَّمَانِ الثَّانِي، وَهَذَا فِي الْعَقَارِ.

حل اللغة: ① **العقار**: مځکه

ژباړه وتشريح:- اووئيلې شوی دی.چه افضل لومړنی طريقه ده.په وخت دحاجت د غنيمت اوړونکو، ﴿يعني که

١) قال الزيلعيؒ روى ابن سعد في الطبقات في ترجمة عثمان بن حنيف ...عن الحكم ومحمد بن الميسر(نصب الراية ٣/١٠٤)۔

څلورم توک

مجاهدین غریبانان وی. اوددوئ زمکو ته اړتیا وی. نوبیه داسې صورت کې غوره دا ده. چه زمکې په مجاهدینو ویش کړې شي﴾ اودویمه طریقه ﴿افضله ده﴾ په وخت د عدم حاجت ﴿دمجاهدینو یعنی که مجاهدینو گذاره کیږي. اوددوئ زمکو ته څه خاص اړتیا نه وي. نوبیا غوره اوافضله دا ده. چه زمکې هم دمجاهدینو قبضه کي پریږدي. اوپه هغوئ جزیه اوخراج مقرر کړي﴾ چه ذخیره شي په دوهم وخت کې ﴿ دخپلومالکانوپه قبضه کي پریښودل به ددغه زمکونه په بل وخت کې څه فائده واخلي﴾ او دا ﴿دویمه طریقه﴾ په زمکو کي ده. ﴿یعنی چې داسې څیزوی. چه هغه دیوځائ نه بل ځائ ته منتقل کیدای نشي یعني که اړتیا پیښ شي. نودا مسلمانان به ددغه څیزونوکي غوره دا ده. چه هغه دخپلومالکانو په قبضه کي پریښودلې (پریخودې) لکه مځکه نوبه دغه جزیه اوخراج مقرر کړې شي﴾

شي. اوپه هغوئ جزیه اوخراج مقرر کړې شي﴾

أَمَّا فِي الْمَنْقُولِ الْمُجَرَّدِ لَا يَجُوزُ الْمَنُّ بِالرَّدِّ عَلَيْهِمْ، لِأَنَّهُ لَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ فِيهِ،

ژباړه وتشریح:- هرچه منقول وی صرف ﴿یعنی د مجاهدینولاس ته صرف داسې شي راغلي وی. چه هغه د یو ځائ نه بل ځائ ته منتقل کیدای شی. لکه سره زر سپین زر وغیره﴾ نو نه دي جائز احسان کول په واپس کولو ﴿ددغه مال منقوله﴾ هغوئ ته، ﴿یعنی کله چې داسې څیزد مجاهدینوپه قبضه کي راشی. چه هغه دوئ خان سره اوړي شي. نوپه داسې مال کي دا نه دی جائزچه هغه خپلو مالکانو ته واپس کړې شی. بلکه هغه به په مجاهدینو باندې تقسیمولې شی﴾ ځکه چې نه ده وارده شوې په دې ﴿واپس کولو﴾ باندې شرع ﴿په مال منقول کي﴾

وَفِي الْعَقَارِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ لِأَنَّ فِي الْمَنِّ إِبْطَالَ حَقِّ الْغَانِمِينَ أَوْ مِلْكِهِمْ فَلَا يَجُوزُ مِنْ غَيْرِ بَدَلٍ يُعَادِلُهُ، وَالْخَرَاجُ غَيْرُ مُعَادِلٍ لِقِلَّتِهِ،

ژباړه وتشریح:- اوپه مځکه کي دامام شافعي رحمه الله اختلاف دی. ﴿یعنی امام شافعي رحمه الله دا جائز نه گڼړي چې زمکې دې د خپلو مالکانو په قبضه کي پرخودې شي. اومجاهدین دې ترې محروم کړې شي. هغوی دعدم جواز لپاره دا دلیل بیانوی﴾ ځکه چې په احسان کولوکي ﴿چه زمکې هم د خپلو مالکانو په قبضه کي پریښودلې (پریخودې) شي، اوپه هغوی باندې احسان اوکړې شي﴾ باطلول دحق د غانمینو ﴿مجاهدینو﴾ دی. ﴿ځکه چې ددغه مفتوحه علاقې زمکې خومال غنیمت دي. اومال غنیمت دمجاهدینو حق دی﴾ اویا دهغوی د ملکیت باطلول دی ﴿یعنی په اعتبارد مستقبل سره به د غنیمت په حیثیت دغه زمکې د دوی په ملکیت کي راتلې. خوچه امام ئې دخپلو مالکانو په قبضه کي پریږدی. نود دوی هغه ملکیت باطل شوکوم چې په مستقبل کي ثابت کیدونکې وو. یا دا تعلیل دامام شافعي رحمه الله د مذهب مطابق دې. ځکه چې د هغوی په نیز به مال غنیمت باندې په کور کښې په محفوظ کاوه ملکیت نه راځي﴾ نونه دی جائز احسان کول بغیر د بدلې نه چې برابر وی د زمکې سره ﴿اوکه احناف رحمهم الله دا وائي. چه د مالکانو په قبضه کې د هغوی زمکې برقرار پریښول بې عوضه نه دی. بلکه ددې په بدله کي به هغوی خراج او جزیه ورکوی. نودهغې نه ځواب کوی. اوفرمائي﴾ او خراج نه دې برابر ﴿د زمکې سره﴾ د امله د کموالي د دې ﴿خراج﴾ نه،

بِخِلَافِ الرِّقَابِ لِأَنَّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُبْطِلَ حَقَّهُمْ رَأْسًا بِالْقَتْلِ، وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ،

ژباړه وتشریح:- په خلاف د غلامانو ﴿دا دیوتقدیری سوال ځواب دی. کوم چې په امام شافعي رحمه الله ﴿باندې وارد کیدلو دهغې وضاحت دا دی. چه ته دا وائې. چه مال خپلو مالکانوته واپس کول صحیح نه دی. ځکه چې په دې کي د مجاهدینو حق ختمیږی. نوبیا پکار دا ده. چه امام کله د دشمن فوځیان گرفتار کړی. نود هغوی نه غلامان جوړ کړی. اوپه مجاهدینو باندې ئې ویش کړی. حالانکه ستا په نیز دامام لپاره دا جائز دی. چه بغیر د څه عوض اوبدلې نه هغوی آزاد کړی. اوپه هغوی احسان اوکړی. نوامام شافعي رحمه الله ددې اعتراض ځواب ورکوی. اوفرمائي چې په خلاف د غلامانو﴾ ځکه چې جائز دی دامام لپاره چې باطل کړی حق د دوی ﴿مجاهدینو﴾ بیښبې په قتل سره ﴿یعنی کله چې امام دا اوغواړی چې دغه بندیان واړه د سیرمې قتل

كړي.نودا جائزدي.حالانكه په قتل كولوكي مجاهدينوته څه نه ملاويږي.بلكه ددوئ حق باطليږي.څكه كه قتل ئې نكړي.نومجاهدينوباندې به دغلامانوپه حيثيت ويش كړې شي.خوچه هركله امام په قتل كولوسره د مجاهدينودحق باطلولو مجازدې.نودغه ډول به ددې هم واكداروي.چه په هغوئ باندې احسان اوكړي. او بغير عوضه ئې معاف كړي﴾ اوحجت په ده ﴿دامام شافعي﴾ رحمه الله باندې هغه اجماع ده.كومه چې موږ نقل كړه. ﴿يعني دعراق د كلود زمكوپه اړه كي دحضرت عمر رضي الله عنه دصحابوؤ رضي الله عنهم سره مشوره كول اوبيا د هغوئ زمكې دخپلومالكانوپه قبضه كي پريخودل﴾

وَلِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لِأَنَّهُمْ كَالْأَكَرَةِ الْعَامِلَةِ لِلْمُسْلِمِينَ الْعَالِمَةِ بِوُجُوهِ الزِّرَاعَةِ وَالْمُؤَنِ مُرْتَفِعَةٌ مَعَ مَا أَنَّهُ يَحْظَى بِهِ الَّذِينَ يَأْتُونَ مِنْ بَعْدُ،

حل اللغة: ① **الاكرة**: زميندارأن ② **المؤن**:مشقت ③ **يحظى**:فائده اخلي

زباړه وتشريح:- اوبله دا چې په دې كي ﴿چه دمقبوضه علاقوزمكې دخپلومالكانوپه قبضه كي پريښولې (پريخودې) شي﴾ مصلحت دې ﴿لپاره دمسلمانانو﴾ څكه چې دوئ ﴿كافران به وي﴾ پشان د زميندارانو لپاره د مسلمانانو ،پوهيږي په طريقودكركرونده،اومشقت ﴿دكركرونده﴾ به پورته وي ﴿دامام او مسلمانانونه يعني دغه مقبوعه زمكې دخپلومالكانوپه قبضه كي پريښولې (پريخودې) شي.نوپه دې كي دمسلمانانوفائده ده.څكه چې دهرې علاقه د زمكې خپل خپل خصوصيات وي.اودهغې په كركرونده باندې هم دهغه ځائې خلگ ښه پوهيږي .نو مسلمانانو ته به دا فكرنه وي. چې دا زمكې به څنگه كرو،اوددې به په څه طريقه پيداوار حاصلوو.بله دا هم كه چيرته مسلمانان ددغه زمكوپه كركرونده كي بوخت شي.نوددوئ څخه به جهاد پاتې شي.اودا خبره د مسلمانانوپه حق كي نقصاني ده﴾ ددې باوجود چې ددې ﴿زمكو﴾ څخه به فائده اخلي هغه نفر ﴿مسلمانان﴾ چې راخي ورسته ﴿ددوئ﴾ نه، ﴿يعني دغه مقبوضه چې دخپلومالكانوپه قبضه كي پريښولې (پريخودې) شي.ددې دا مطلب نه دې.چه دا دمسلمانانود لاس نه اووتله.څكه چې كله هم حكومت ته د عوامو د فائدې لپاره د څه زمكې اړتيا پيښ شي.نوحكومت ته دا اختياروي.چه دغه مځكه د هغه كس نه واخلي.اوهغه ته دهغې معاوضه اوبدله وركړي.نودغه ډول دا زمكې چې في الحال دخپلو مالكانو په قبضه كي پريښولې (پريخودې) شوې. كه راروانومسلمانانوته اړتيا پيدا شي.نوددې نه فائده اخستې شي﴾

وَالْخَرَاجُ وَإِنْ قَلَّ حَالًا فَقَدْ جَلَّ مَآلًا لِدَوَامِهِ، وَإِنْ مَنَّ عَلَيْهِمْ بِالرِّقَابِ وَالْأَرَاضِي يَدْفَعُ إِلَيْهِمْ مِنَ الْمَنْقُولَاتِ بِقَدْرِ مَا يَتَهَيَّأُ لَهُمُ الْعَمَلُ لِيَخْرُجَ عَنْ حَدِّ الْكَرَاهَةِ.

حل اللغة: ① **يتهيأ**:برابرولې شي ،تيارولې شي

زباړه وتشريح:- اوخراج ﴿كوم چې ددغه مقبوضه زمكونه اخستې شي﴾ اګرچه كم دې في الحال خوزيات به شي په مستقبل كي ،د امله د هميشوالې نه، ﴿دا دامام شافعي رحمه الله د استدلال نه ځواب دې.كوم چې هغوئ په دې الفاظو ((والخراج غيرمعادل لقلته)) كي بيان كړې وو﴾ حاصل د ځواب دا دې.چه په ظاهره كه خراج نه اوكتلې شي.نويقيني خبره ده.چه د زمكې په اعتبارسره خراج ډيركم دې.خوروسته به دا خراج رو رو زياتيږي.اوبله دا چې هميشه لپاره به اخستې شي.نوكوم څيزچه لږ وي.خوهميشه وي.دهغه څيزنه غوره دې. كوم چې ډيروي.خوختمي وي.ددې امله دا خبره صحيح نشوه.چه خراج كم دې﴾ اوكه ﴿امام﴾ احسان اوكړلو په هغوئ باندې په څټونو سره ﴿يعني دغه جنگې قيديان ئې آزاد كړل.اوقتل ئې نكړل﴾ نو وركوي به هغوئ ته منقول شيان (څيزونه) په هغه اندازه چې آسانوي هغوئ ته كار ﴿يعني كله چې امام مقبوضه زمكې دخپلومالكانوپه ملكيت كي پريږدي .نوپواځې دا نه چې صرف زمكې ورته پريږدي.اودهغوئ كوم نورمنقول مالونه دي.چه مسلمانان ئې خان سره اوړې شي.هغه ترې واړه واخلي.اوپه مجاهدينوئې ويش كړي.څكه چې دزمكې كرولو لپاره د نوروسامانو او وسائلو اړتيا هم وي.اوس كه امام دوئ ته صرف زمكې

پربږدي.اوبیا ددوئ نه د خراج مطالبه هم کوی.نوپه دې صورت کې به دوئ زمکې څنګه کرې. او دهغې پیداوار څنګه حاصلوی.ددې امله پکاردی.چه امام هغوئ ته دومره وسائل هم پریږدي. چه په هغې څه به پیداوار څنګه حاصلوي.ددې امله پکاردی «یعنی چې دوئ ته د باندې هغوئ ددغه زمکو خسمانه کولې شی» دې لپاره چې اوخې دکراهت نه، خکه چې هغوئ به په څه باندې د زمکو زمکې کرولونور اسباب اووسائل ورنکړی.نوداسې کول مکروه دی. خکه چې هغوئ به په څه باندې د زمکو خسمانه کوی»

دجنګې قیدیانوقتلول اوغلامان جوړول

قَالَ ﴿وَهُوَفِي الْأَسَارَي بِالْخِيَارِإِنْ شَاءَقَتَلَهُمْ﴾ {لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَدْقَتَلَ} (١)،وَلِأَنَّ فِيهِ حَسْمَ مَادَّةِ الْفَسَادِ

حل اللغة: ① الخيار: اختيار ② الاساری: قيديان ③ الحسم: ختمول

زياده وتشريح:- «ابو الحسين قدوری» رحمه الله فرمائی.اودې «امام» په اړه د قيديانوکې اختيارمند دې.که غواړی قتل دې کړی دوئ،خکه چې نبی ﷺ قتل کړې وو «دفتح مکه په موقع باندې نبی ﷺ ته يوکس خبر راوړلو.چه ابن خطل دکعبې پوښ نيولې دې.اوحرم په مسجدحرام کې ولاړ دې.نبی ﷺ حکم اوکړلو.دې قتل کړئ.دا ابن خطل اول مسلمان شوې وو.نبی ﷺ د صدقوپه راغونډولوباندې يوخانې ته اوليږلو. اويو غلام اويوانصاری ئې ورسره هم کړلو.په لاره کې ده غلام ته ډوډئ تيارولو حکم اوکړلو. خوهغه ته خوب ورغلې وو.نوويده (اوده) شو.دې په غصه کنبې راغلو.اوهغه غلام ئې قتل کړلو.بيا ورته سوچ ورغلو.چه ددې غلام په قصاص کې به نبی ﷺ ما قتل کوی.نوخان سره ئې د صدقې څاروی واخستل.اومکې ته لاړلو. اومرتدشو.اوبيا به ئې په اشعاراودسندرغاړو په سندرو کې د نبی ﷺ هجوه کوله.چونکه دې کس درې جرمونه کړی وو.اودهرجرم سزا قتل وو.د قتل سزا قصاص، دارتداد سزا قتل،دنبی ﷺ دهجو سزا قتل.کذا فی سيرة المصطفی لمولانامحمدادريس کاندهلوی» اوبله دا چې په دې «قتل کولود کافرانو» کې ختمول د ماده فساد دی. «يعنی کافران په مځکه کې فساد خوروی.لکه دشرک ارتکاب هم فساد دې.دغه ډول دمسلمانانومقابله کول هم فساد دې.نوچه قتل شی.دفساد جرړه به ختمه شی»

﴿وَإِنْ شَاءَاسْتَرَقَّهُمْ﴾ لِأَنَّ فِيهِ دَفْعَ شَرِّهِمْ مَعَ وُفُورِالْمَنْفَعَةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ ﴿وَإِنْ شَاءَتَرَكَهُمْ أَحْرَارًاذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ﴾ لِمَا بَيَّنَّاهُ ﴿إِلَّامُشْرِكِي الْعَرَبِ وَالْمُرْتَدِّينَ﴾ عَلَى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَاللَّهُ تَعَالَى

حل اللغة: ① الاسترقاق: غلامان جوړول ② وفور: تمام (پوره) والې ③ احرار: جمع د حر، آزاد

زياده وتشريح:- اوکه اوغواړی «امام» نوغلامان دې کړی دوئ «قيديان» خکه چې په دې «غلامی» کې دفع د شر ددوئ ده، «خکه چې دوئ به مغلوب اومحکوم وی.دمقابلې توان به په کې نه وی» سره د ډيرې فائدې نه دمسلمانانو «يعنی چې دوئ دمسلمانانوغلامان جوړ شی.نومسلمانانوته هم مالی فائده ده.اوهم بدنی فائده.مالی فائده خودا ده.چه مال متقوم دې.اوجانی فائده دا چې خدمت ترې اخستې شی» اوکه اوغواړی پرې دې ږدی دوئ آزاد په ذمه دمسلمانانوکې «يعنی بحيثيت د ذميانودې په اسلامی وطن کې خوشې کړی» دهغه امله چې موږ بيان کړه. «په واقعه دحضرت عمر رضی الله عنه کې چې دعراق خلګ ئې د ذميانوپه حيثيت آزاد پريخودی وو» مګر «نشته ورته اختيارد غلامانوجوړولو» په حق د عربو مشرکانو کې، او مرتديانو کې، «يعنی عرب مشرکان اومرتديان نه غلامان ګرځولی شی.اونه ئې ذميان جوړولی شی.چه جزيه ترې واخلی.اوذميان شی. بلکه ددوئ په حق کې دوې [دوه] خبرې دی.يا اسلام قبلول اويا قتل» لکه چې مونږبه دا بيان کړو «باب الجزيه» کې «په تفصيل سره» بيان کړو.

---

١) فيه أحاديث منها حديث أنس رضی الله عنه أن النبي ﷺ دخل عام الفتح وعلى رأسه مغفر فلما نزعه جاءه رجل فقال يا رسول الله ابن خطل متعلق بأستارالكعبة فقال أقتلوه أخرجه البخاری فی المغازی باب ٤٨ ومسلم فی الحج رقم ٤٥٠)_

داحسان په طور قيديان دارالحرب ته واپس كول

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَرُدَّهُمْ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ) لِأَنَّ فِيهِ تَقْوِيَتَهُمْ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَإِنْ أَسْلَمُوا لَا يَقْتُلُهُمْ لِانْدِفَاعِ الشَّرِّ بِدُونِهِ (وَلَهُ أَنْ يَسْتَرِقَّهُمْ) تَوْفِيرًا لِلْمَنْفَعَةِ بَعْدَ انْعِقَادِ سَبَبِ الْمِلْكِ بِخِلَافِ إِسْلَامِهِمْ قَبْلَ الْأَخْذِ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَنْعَقِدِ السَّبَبُ بَعْدُ

حل اللغة: ① الاندفاع: دفع كول، لرې كول ② التوفير: تمام (پوره) اخستل

زياره وتشريح:- اونه دي جائز چې واپس كړي «امام» دوئ دارالحرب ته څكه چې په دې «واپس كولو» كې مضبوطول ددوئ «حربيانو» دى په مسلمانانوباندې، كه دوئ اسلام قبول كړلو نو نه به قتل كوى دوئ د امله د لرې كيدو د شر «ددوئ» بغيرددې «قتل» نه، اوجائزدى ده «امام» لپاره چې غلامان جوړ كړي دوئ لپاره د پوره كولود فائدې «دمسلمانانو» پس د منعقد كيدو د سبب د ملكيت نه، «چه په حالت د كفركې ددوئ گرفتاري ده. يعنى كله چې حربيان په حالت دكفركې بنديان شى. نوپه دوئ باندې د مسلمانانو ملكيت راتلې شى» په خلاف اسلام قبلولودوئ وړاندې د گرفتارئ نه، څكه چې نه منعقد كيږي «گرفتاري ددوئ» سبب روسته «داسلام قبلولونه»

دقيديانوپه بدله كې دفديه اخستلوحكم

(وَلَا يُفَادَى بِالْأُسَارَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، [1] وَقَالَا: يُفَادَى بِهِمْ أُسَارَى الْمُسْلِمِينَ) وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ؛ لِأَنَّ فِيهِ تَخْلِيصَ الْمُسْلِمِ وَهُوَ أَوْلَى مِنْ قَتْلِ الْكَافِرِ وَالِانْتِفَاعِ بِهِ.

حل اللغة: ① يفادى: فديه وركوى ② الانتفاع: فائده اخستل

زياره وتشريح:- اوفديه به نه اخلى په عوض دقيديانو «دكافرانو نه چې قيد وركړى اود خلاصوويه بدله كې ترې قيمت واخلى» په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائى صاحبين رحمهما الله په فديه كې به اخلى ددوئ «قيديانو» قيديان مسلمانان، اودا «جوازد مسلمانانوقيديانوپه فديه كې اخستل» قول دامام شافعى رحمه الله دې. څكه چې په دې «عمل» كې خلاصول دمسلمان دى. «دكافرود قبضه نه» اودا «خلاصول دمسلمان» زيات غوره دى دقتل دكافرنه. اود فائدې اخستلونه په ده «كافرباندې»

وَلَهُ أَنَّ فِيهِ مَعُونَةً لِلْكَفَرَةِ؛ لِأَنَّهُ يَعُودُ حَرْبًا عَلَيْنَا، وَدَفْعُ شَرِّ حِرَابِهِ خَيْرٌ مِنْ اسْتِنْقَاذِ الْأَسِيرِ الْمُسْلِمِ؛ لِأَنَّهُ إِذَا بَقِيَ فِي أَيْدِيهِمْ كَانَ ابْتِلَاءً فِي حَقِّهِ غَيْرَ مُضَافٍ إِلَيْنَا،

حل اللغة: ① المعونة: مدد كول ② الاعانة: مدد كول

زياره وتشريح:- اودامام ابوحنيفه رحمه الله لپاره دليل دا دې. چه په دې «پريخودو دكافرانوكې چې خپل دارالحرب ته واپس شى» كومك كول دى كفرسره، څكه چې دې به واپس كيږى لپاره دجنگ موږ سره «يعنى چې دوئ دخپل كافرانوسره اندېوالان شى. نودهغوى قوت او توان به پرې زيات شى. اوبيا به دمسلمانانود مقابله لپاره دكافرانوسره يوځائې شى» اودفع كول د شرد جنگ ددوئ غوره دى د خلاصولو دقيدى مسلمان نه «چه هغه دكافرانود قيدنه خلاص كړې شى» څكه چې دې «مسلمان قيدى» پاتې شى په لاسونودهغوئ «كافرانو» كې نودا امتحان دې «دالله تعالى د اړخه» په حق دهغه كې، چه نسبت نې نه كيږي موږ «يعنى ددې امتحان نسبت موږ ته نه كيږى. چه مسلمانانو په امتحان كې اچولې دې. بلكه خلگ دا وائى. چه الله تعالى په امتحان كې اچولې دې» اوامداد كول په واپس كولود قيدى دهغوئ ددې نسبت كولاى شى موږ ته «يعنى كه موږ دهغوئ قيدى هغوى ته واپس كړو. اوپه دې باندې هغوئ ته قوت ملاؤ

---

[1] القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا فى الدرالمنتقى (۱\۶۴۹) وردالمحتار (۳\۲۵۱) والهندية (۲\۲۰۶) وفتح القدير (۵\۲۲۰) وردالمحتار (۳\۲۵۱) لكن رجع العلامة ابن الهمام رحمه الله قول الصاحبين رحمهما الله ثم قال المفتى غلام قادر مدظله العالى ترجيح ابن الهمام رحمه الله أليق بهذا الزمان إلخ وإن كنت تريد التفصيل فارجع إلى القول الراجح (۱\۴۸۱)-

ځلورم توك

شي.نوددې قوت نسبت موږ ته كيږي. ځكه چې موږ دخپله لاسه دغه قيدي هغوئ ته واپس كړلو.چه نن دوباره زموږ د مقابلې لپاره دكافرو په صف كې ولاړ دي﴾

أَمَّا الْمُفَادَاةُ بِمَالٍ يَأْخُذُهُ مِنْهُمْ لَا يَجُوزُ فِي الْمَشْهُورِ مِنَ الْمَذْهَبِ لِمَا بَيَّنَّا. وَفِي السِّيَرِ الْكَبِيرِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ إِذَا كَانَ بِالْمُسْلِمِينَ حَاجَةٌ اسْتِدْلَالًا بِأُسَارَى بَدْرٍ،(١)

حل اللغة: ① المفاداة: فديه وركول

زباړه وتشريح:- هرچه فديه ده په مال سره چې اخلی ئې ﴿امام﴾ د دوئ نه،نوجائزنه ده په مشهوركې د مذهب نه ،دهغه امله چې موږ بيان كړه. ﴿په دې قول سره چې ((فيه معونة للكفر)) او غيرمشهورمذهب هغه دې. كوم چې امام محمد رحمه الله بيان كړې دې﴾ اوفی سيركبيركې دی.چه نشته باك په دې ﴿اخستلو دمال كې په بدله د خلاصولودقيديانوكې﴾ كله چې وی دمسلمانانوحاجت ﴿مال ته﴾ استدلال كوی په قيديانود بدر ﴿ځكه چې نبی ﷺ د بدردقيديانوپه بدله كې مال اخستې وو.چه ځلور رزه روپۍ وې.خودا استدلال ځكه صحيح نه دې.چه دبدردقيديانوپه عوض كې چې نبی ﷺ كومه فديه اخستې وه.دهغې په انكاركې خو وعيد راغلې وو.نوهركله چې ديوځيزپه كولوكې سزا راشی. هغه دجواز لپاره څنګه دليل جوړيدې شی. نو هم مشهور مذهب داحنافو اصح دې﴾

وَلَوْ كَانَ أَسْلَمَ الْأَسِيرُ فِي أَيْدِينَا لَا يُفَادَى بِمُسْلِمٍ أَسِيرٍ فِي أَيْدِيهِمْ لِأَنَّهُ لَا يُفِيدُ إِلَّا إِذَا طَابَتْ نَفْسُهُ بِهِ وَهُوَ مَأْمُونٌ عَلَى إِسْلَامِهِ.

زباړه وتشريح:- اوكه اسلام قبول كړی قيديان په لاس زموږ ﴿مسلمانانو﴾ كې ،نوفديه كې به نشی وركولې په مسلمان قيدی باندې چې وی په لاسونودهغوئ ﴿كافرانوكې ،يعنی چې دكافرقيدی اسلام قبول كړی. نودې به دهغه مسلمان قيدی په فديه كې نشی وركولې.كوم چې دكافرانوپه لاس كې وی﴾ ځكه چې دا فديه څه فائده نه وركوی ﴿ځكه چې يومسلمان به وركړی.اوبل به خلاص شی﴾ البته دا چې راضی وی زړونه ددوئ ﴿يعنی ددغه نوی مسلمانانو﴾ په دې باندې ﴿چه دوئ د بل مسلمان په فديه كې وركړی شی﴾ اوامن وی په اسلام ددوئ ﴿يعنی دا ويره نه وی.كه دوئ كافرانوته حواله كړې شی. نو كيدائې شی.چه بيرته كافرشی.ځكه چې اسلام لا دهغوئ په زړه كې راسخ ا ومضبوط شوې نه وی﴾

په قيديانوداحسان كولوحكم

قَالَ (وَلَا يَجُوزُ الْمَنُّ عَلَيْهِمْ) أَيْ عَلَى الْأُسَارَى خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فَإِنَّهُ يَقُولُ { مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ الْأُسَارَى يَوْمَ بَدْرٍ. (٢)

زباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله فرمائی.اوجائزنه دې احسان كول په دوئ يعنی كافرانو قيديانو باندې، ﴿چه بغيرد فديه اخستلونه آزاد كړې شی﴾ خلاف ثابت دې دامام شافعی رحمه الله ځكه چې دې ﴿امام شافعی﴾ رحمه الله فرمائی.چه احسان كړې وو رسول الله ﷺ په بعضې قيديانو په ورځ د بدر ﴿لكه عبدالله بن عمير جمحی شو.دې شاعروو.نونبی ﷺ بغيردفديه اخستلونه آزاد كړې وو.نود نبی ﷺ ددې عمل نه د احسان كولوجواز ثابت شو﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى { فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ } وَلِأَنَّهُ بِالْأَسْرِ وَالْقَسْرِ ثَبَتَ حَقُّ الِاسْتِرْقَاقِ فِيهِ فَلَا يَجُوزُ إِسْقَاطُهُ بِغَيْرِ مَنْفَعَةٍ وَعِوَضٍ، وَمَا رَوَاهُ مَنْسُوخٌ بِمَا تَلَوْنَا

حل اللغة: ① وجدتم: تاسو مومئ ② الاسر: بندول، قيدی كول ③ القسر: مغلوبه كول ④ الاسترقاق: غلام جوړول

---

١) من حديث عمر رضی الله عنه أخرجه مسلم فی الجهاد رقم ٥٨)_

٢) قال الزيلعی رحمه الله روی الواقدی فی كتاب المغازی بإسناده عن سعيد بن المسيب رحمه الله قال من رسول الله من الأسری يوم بد رأبا عزا عمروبن عبدالله بن عمير الجمحی وكان شاعراً إلخ)

منفعة:فائده

ژباړه وتشريح:- اوزموږ دپاره «دليل» قول دالله تعالى دي.چه ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ اوبله دا چې دې «يعنى دا قيدى» په قيدكولواومغلوبه كولوسره ثابت شوې دې حق دغلام جوړولو په ده كي ، «يعنى كله چې دې په جنگى قيدكي راوستې شو.نودا جائزده.چه ده نه غلام جوړ كړې شي.اوده دغلامئ نه مسلمانان فائده واخلى» نوجائزنه دې ساقط كول ددې «حق چې غلام جوړول دى دقيدى» بغيردفائدې اوبدلې نه «بلكه پكارده چې ددې قيدى په سر مسلمانانو ته څه فائده اورسي.اوده په بدله كي ورته څه مال ملاؤ شي»اوهغه حديث چې روايت ئې كړې دې امام شافعى رحمه الله «چه نبى ﷺ په جنگ بدركي په بعضې قيديانوباندې احسان كړې وو.اوبغيرد عوض نه ئې هغوئ پريخودى وو»نوهغه منسوخ دې په هغه آيت كوم چې موږ تلاوت كړلو. «چه مشركان قتل كړئ په كوم ځائې كي چې ئې بيا مومئ.ځكه چې دا آيت چې ((فاقتلوا المشركين)) د سورة براءت دې.اوسورة براءت په ټولوكي آخرنې سورت دې چې په لسم كال د هجرت نازل شوې وو.اوجنگ بدرپه دويمه هجرئ كي شوې وو.نومعلومه شوه.چه آيت د حديث لپاره ناسخ شو»

ددشمن څاروى دارالاسلام ته راوستلونه دعجزصورت

﴿وَإِذَا أَرَادَ الْإِمَامُ الْعَوْدَ وَمَعَهُ مَوَاشٍ فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى نَقْلِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ذَبَحَهَا وَحَرَقَهَا وَلَا يَعْقِرُهَا وَلَا يَتْرُكُهَا﴾ وَقَالَ الشَّافِعِي: يَتْرُكُهَا، لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {نَهَى عَنْ ذَبْحِ الشَّاةِ إِلَّا لِمَأْكَلَةٍ}. (۱)

حل اللغة: ① **العود:** واپس كيدل ② **مواش:** جمع د ماشية څاروى ③ **الذبح:** حلالول ④ **الحرق:** سوزول ⑤ **العقر:** زخمى كول

ژباړه وتشريح:- اوكله ه اراده اوكړى امام د واپس كيدو «دارالاسلام ته» اوده سره څاروى وى «لكه ګډې ،وزه وغيره» اوقادرنه وى په نقل كولو «يعنى بوتلو» دهغې دارالاسلام ته،نوذبح دې كړى اوادې سوزوى «پس دذبح كولونه» اوزخمى كوى دې نه «چه پښې لاس يا نوراندامونه ترې كټ كړى» اونه دې پريږدى داسې.اوفرمائى امام شافعى رحمه الله پرې دې ږدى دغه ډول «بغيردذبح كولونه» ځكه چې نبى ﷺ منع كړې ده د ذبح كولود وزه چيلئ نه مګرخوراك دپاره «چه وزه به دخوراك نه بغيرد بل مقصد لپاره نشى ذبح كولې. نو د دې حديث نه هم معلومه شوه.چه په زيربحث صورت كي ددې څاروو ذبح كول جائزنه دى»

وَلَنَا أَنَّ ذَبْحَ الْحَيَوَانِ يَجُوزُ لِغَرَضٍ صَحِيحٍ، وَلَا غَرَضَ أَصَحُّ مِنْ كَسْرِ شَوْكَةِ الْأَعْدَاءِ، ثُمَّ يُحْرَقُ بِالنَّارِ لِيَنْقَطِعَ مَنْفَعَتُهُ عَنِ الْكُفَّارِ وَصَارَ كَتَخْرِيبِ الْبُنْيَانِ

حل اللغة: ① **كسر:** ماتول، كمزورې كول ② **شوكة:** رعب، قوت، شان ③ **تخريب:** نړول ④ **البنيان:** آبادې

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره دليل دا دې.چه ذبح دحيوان جائزده د غرض صحيح دپاره،اونشته غرض «اومقصد» زيات صحيح د ماتولود توان د دشمن «ځكه چې موږ دا څاروى ذبح كړو.نوپه دې باندې د دشمن مادى قوت كمزورې شو.اوچه مادى قوت كمزورې شى.دا دفوځى قوت دكمزورئ مقدمه ده» بيا به سوزولې شى «دغه څاروى روسته د ذبح كولونه» په اور سره،دې لپاره چې ختمه شى فائده ددې دكافرانونه «اودهغوئ دفائدې اخستوقابل پاتې نشى»اودا «سوزول» اوګرځيدل پشان نړولو دكورونو «يعنى دكافرانو كورنه نړول جائزدى.ځكه چې په دې كي هغوئ ته مادى نقصان رسى»

---

۱) قال الزيلعى رحمه الله قلت غريب وروى ابن أبى شيبة فى مصنفه عن يحى بن سعيد قال حدثت أن أبا بكر ﷺ بعث جيوشاً إلى الشام فخرج يتبع يزيد بن أبى سفيان فقال إنى أوصيک بعشر لا تقتلن صبياً ولا إمرأة ولا كبيراً هرماً ولا تقطعن شجراً مثمراً ولا تعقرن شاة بقرة إلا لمأكله الحديث أخرجه مالک فى الجهاد با بالنهى عن قتل انساء والولدان فى الغز رقم ۱۰)_

بخلاف التحريق قبل الذبح لأنه منهي عنه (١) وبخلاف العقر لأنه مثلة وتحرق الأسلحة أيضا وما لا يحترق منها يدفن في موضع لا يطلع عليه الكفار إبطالا للمنفعة عليهم

حل اللغة: ① التحريق: سوزول ② العقر: زخمي كول ③ موضع: خائې ④ ابطال: باطلول، ختمول

زياره وتشريح: - په خلاف د سوزولو نه وړاندې د ذبح نه، ﴿يعني د ذبح نه روسته ئې سوزول جائزدي. اوكه ذبح شوې نه وي. اوپه ژوندون ئې سوزوي. نودا جائزنه ده﴾ خكه چې منع شوې ده ددې ﴿سوزولو﴾ نه ﴿لكه په حديث مبارك كې چې راغلي دي. په اوربانديې به د اور د مالك نه يعني دالله تعالى نه سوا بل څوك سزا نه وركوي﴾ اوپه خلاف د زخمي كولو ﴿يعنى دخاروو زخمي كول جائزنه دي﴾ خكه چې دا مثله ده. ﴿او د مثله نه نبي ﷺ منع كړې ده﴾ اوسوزولې به شي وسله هم ﴿لكه څنګه چې خاروى د ذبح كولونه روسته سوزولى شي﴾ او هغه وسله چې نه سوزى ددې نه، ښخولې به شي په داسې ځائې كې چې خبرنشى دهغې نه كافران، لپاره د ختمولو د فائدې اخستود هغوى ﴿يعني چې داسې ځائې كې ښخه شي. چه هغوى ته معلومه نه وي. نو هغوئ به ترې فائده نشي اخستلې. اوقوت به ئې پرې نه زياتيږي﴾

د مال غنيمت د ويش وخت

وَلَا يَقْسِمُ غَنِيْمَةً فِي دَارِ الْحَرْبِ حَتَّى يُخْرِجَهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ وَقَالَ الشَّافِعِي: لَا بَأْسَ بِذَلِكَ. وَأَصْلُهُ أَنَّ الْمِلْكَ لِلْغَانِمِيْنَ لَا يَثْبُتُ قَبْلَ الْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ عِنْدَنَا، وَعِنْدَهُ يَثْبُتُ وَيَنْبَنِي عَلَى هَذَا الْأَصْلِ عِدَّةٌ مِنَ الْمَسَائِلِ ذَكَرْنَاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي (٢)

زياره وتشريح: - اونه به تقسموي غنيمت په درالحرب كې تردې چې راوې باسي ﴿دهغې نه﴾ دارالاسلام ته، ﴿او محفوظ شي﴾ اوفرمائيلي دى امام شافعي رحمه الله نشته باك په دې كې ﴿چه په دارالحرب كې د مال غنيمت ويش اوشي﴾ اواصل ددې ﴿اختلاف﴾ دا دې. چه ملك د غانمين لپاره نه ثابتيږي وړاندې د ساتنه نه په درالاسلام كې، په نيززمونږ ﴿يعني زمونږ په نيز د مجاهدينوملكيت په غنيمت باندې هله راځي. چه غنيمت دارالاسلام ته راوړلې شي. اومحفوظ شي﴾ اوبناء كيږي په دې اصل باندې څو مسائل كوم چې مونږذكركړي دي په كفاية المنتهى كتاب كې، ﴿بعضې دهغې مسائلونه دا دى. ① په مجاهدينوكې يوكس په ګرفتارو ښځوكې يوه وينځه وطي كړي. نوددغه وطى نه دهغې بچې پيدا شي. اودا مجاهد واطى دهغه دنسب دعوى اوكړي. چه دا زما بچې دې. نودامام شافعي رحمه الله په نيزئې نسب ثابتيږي. اودغه وينځه دده ام ولده شوه. اوزمونږ په نيزچونكه وطى په دارالحرب كې شوې وه. په هغه وخت كې پرې دده ملك نه وو. نونسب ئې د ده نه نه ثابتيږي. بلكه په ده به د زنا كولوپه وجه عقريعني تاوان وى، بلكه وينځه اودهغې بچې اوكوم تاوان چې په ده باندې واجب شوې وى. هغه به په مجاهدينوباندې تقسيمولې شي. ② كه په دارالحرب كې دمال غنيمت نه يومجاهد څه څيزخرڅ كړي. نو دغه بيع زمونږ په نيزنه صحيح كيږي. اودامام شافعي رحمه الله په نيزصحيح كيږي ③ دغه ډول كه په غازيانو كې څوك په دارالحرب كې مړ شي. نودده نه به په مال غنيمت كې ميراث نشي وړې اودامام شافعي رحمه الله په نيزبه ترې په مال غنيمت كې ميراث اوړې شي﴾

لَهُ أَنَّ سَبَبَ الْمِلْكِ الْإِسْتِيلَاءُ إِذَا وَرَدَ عَلَى مَالٍ مُبَاحٍ فِي الصُّيُوْدِ، وَلَا مَعْنَى لِلْإِسْتِيلَاءِ سِوَى إِثْبَاتِ الْيَدِ وَقَدْ تَحَقَّقَ.

---

(١) فيه أحاديث نقلها الزيلعي رحمه الله منها حديث أبي هريرة رضي الله عنه قال بعثنا رسول الله ﷺ فقال إن وجدتم فلاناً وفلاناً فأحرقوهما بالنار فلما خرجنا دعانا رسول الله ﷺ فقال إن وجدتم فلاناً وفلاناً فاقتلوهما ولا تحرقوهما فإنه لا يعذب بها إلا الله أخرجه البخاري في الجهاد باب ١٠٧ والترمذي في السير باب ٢٠ والدارمي في السير باب ٢٣ وأحمد في المسند (٣٠٧/٢)۔

(٢) فيه أحاديث نقلها الزيلعي رحمه الله منها حديث أبي هريرة رضي الله عنه قال بعثنا رسول الله ﷺ فقال إن وجدتم فلاناً وفلاناً فأحرقوهما بالنار فلما خرجنا دعانا رسول الله ﷺ فقال إن وجدتم فلاناً وفلاناً فاقتلوهما ولا تحرقوهما فإنه لا يعذب بها إلا الله أخرجه البخاري في الجهاد باب ١٠٧ والترمذي في السير باب ٢٠ والدارمي في السير باب ٢٣ وأحمد في المسند (٣٠٧/٢)۔

حل اللغة: ① **الاستيلاء**:غلبة ② **الصيود**:جمع د صيد ښكار

ژباړه وتشريح:- دده ﴿امام شافعي﴾ رحمه الله لپاره دليل دا دي.چه سبب د ملك غلبه ده كله چي راشي ﴿دا غلبه﴾ په مال مباح باندي، ﴿يعني چي يومباح مال وي.اوهغه دچا په قبضه كي راشي.نودي په هغي باندي غالب شو.اوهغه څيزدده ملكيت اوګرځيدلو﴾لكه څنګه چي په ښكارونوكي وي. ﴿يعني ښكارد چا ملكيت نه وي. خوچه دښكاري قبضه پري راشي.نودي دهغي مالك اوګرځي﴾ اونښته معنى د غلبي ﴿په مال غنيمت كي﴾ سوا د اثبات د يد ﴿يعني قبضي نه چي په مال غنيمت باندي قبضه راشي. نودده پري غلبه راغله. اوچه غلبه پري راغله.نودي ئي مالك شو.اګرچه په دارالحرب كي وي﴾ اويقيناً موجود شوي دي ﴿اثبات ديد په مال غنيمت باندي.نوچه اثبات ديد شوي دي. نوملكيت هم ثابت شو﴾

وَلَنَا أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {نَهَى عَنْ بَيْعِ الْغَنِيمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ} (١)، وَالْخِلَافُ ثَابِتٌ فِيهِ، وَالْقِسْمَةُ بَيْعٌ مَعْنًى فَتَدْخُلُ تَحْتَهُ،

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ رحمهم الله لپاره دليل دا دي.چه نبي ﷺ منع كړي ده د بيع د مال غنيمت نه، په دارالحرب كي ﴿يعني په درالحرب كي به مجاهدين اخستل اوخرڅول نه كوي﴾ اوخلاف ﴿په مينځ زمونږ او امام شافعي﴾ رحمه الله ثابت دي په دي ﴿بيع كي ،يعني زمونږ په نيزپه دارالحرب كي دمال غنيمت خرڅول جائزنه دي اوداامام شافعي رحمه الله په نيزجائز دي.نوڅوك چي بيع حرامه ګرځوي.هغه به ويش د مال غنيمت هم حرام ګرځوي﴾اوويش بيع ده معنى نو داخليږي په تعريف د بيع كي ، ﴿ويش معنى څكه بيع ده.چه د بيع نه روسته مشتري ته مبيع جلا شي.دغه ډول د ويش نه روسته ويش شوي برخه د نورو دحصو نه جلا كيږي﴾ نو داخليږي ﴿تقسيم﴾ لاندي د ددي ﴿نهى،﴾ نه ﴿نولكه څنګه چي دغنيمت بيع په دارالحرب كي جائز نه ده. دغه ډول ددي ويش هم جائزنه دي﴾

وَلِأَنَّ الِاسْتِيلَاءَ إثْبَاتُ الْيَدِ الْحَافِظَةِ وَالنَّاقِلَةِ وَالثَّانِي مُنْعَدِمٌ لِقُدْرَتِهِمْ عَلَى الِاسْتِنْقَاذِ وَوُجُودِهِ ظَاهِرًا.

حل اللغة: ① **الاستنقاذ**:قدرت

اوبله دا ﴿يعني په دارالحرب كي دويش عدم جواز لپاره بل دليل دادي﴾چه غلبه ﴿په مال باندي﴾ راضى په اثبات د قبضي محفوظي اونقل كونكي سره، ﴿يعني په يوڅيزباندي غلبه اوقبضه هله راځي.چه هغه په داسي لاس كي راشي.چه محفوظ وي.اوهغه ئي ساتنه كولي شي.اوهغه د يوځائي نه بل ځائي ته په خپل اختيارسره نقل كولي شي.اوپه دارالحرب كي چي كوم مال وي. نو په هغي كي﴾ دوهم شى ﴿چه نقل كول دى﴾ معدوم دي د امله د قدرت د دوى ﴿حربيانو﴾ په واپس اخستلو ددي مال او وجود ددي قدرت ﴿په دارالحرب كي دكافرانو لپاره﴾ ښكاره دي. ﴿يعني چي مجاهدينوسره مال غنيمت وي.او دوى لا په دارالحرب كي وي.ددي خبري زيات امكان دي.چه كافران بغيرد څه سخت مزاحمت او مقابلي نه دغه مال د مسلمانانو نه واپس واخلي.څكه چي هم د هغوى وطن وى لاري كوڅي ورته معلوميي وى.نو ددي امله په دارالحرب كي د مال غنيمت ويش جائز نه دي.

ثُمَّ قِيلَ: مَوْضِعُ الْخِلَافِ تَرَتُّبُ الْأَحْكَامِ عَلَى الْقِسْمَةِ إذَا قَسَمَ الْإِمَامُ لَا عَنْ اجْتِهَادٍ، لِأَنَّ حُكْمَ الْمِلْكِ لَا يَثْبُتُ بِدُونِهِ.

ژباړه وتشريح:- بيا وئيلي شوي دي چي ځائي د اختلاف ﴿داحنافو او امام شافعي رحمه الله په مينځ كي﴾ په ترتب د احكامو كي دي.په ويش باندي ﴿يعني په دي ويش باندي چي كوم احكام مرتب كيږي.چه دويش نه روسته د مال غنيمت خرڅول يا چاته هبه كول يا. په ميراث كي وړل ،خوړل د وينځي وطى كول وغيره تصرفات په كي د احنافو په نيز نشي كولى.اوداامام شافعي رحمه الله په نيز كولى شي.نودا اختلاف په هغه صورت كي دي﴾ چي ويش كړي وى امام بغير د اجتهاد نه ﴿اوكه اجتهاد او كوښښ ئي كړي وى.اودهغي نه روسته ئي په دارالحرب كي ويش كړي وى.نوبيا د ويش په جواز كي اختلاف نشته.په دارالحرب كي ويش

---

١) قال الزيلعي رحمه الله غريب جداً (نصب الرأية ٣\٦١٩)_

خلورم توك

اختلاف نشته.بلکه داحنافوپه نیزهم په دغه ویش باندي ملکیت کړې وي.نوبیا د ویش په جواز کي اختلاف نشته.بلکه داحنافوپه نیزهم په دغه ویش باندي ملکیت ثابتیږي ﴿خکه چي ددې ﴿ملکیت﴾ نه بغیرد ملك احکام نه ثابتیږي. ﴿چه خرڅول خوړل وطی کول هبه کول وغیره تصرفات دي﴾

وَقِيلَ الْكَرَاهَةُ، وَهِيَ كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ عِنْدَ مُحَمَّدٍ فَإِنَّهُ قَالَ عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ لَا تَجُوزُ الْقِسْمَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ.

ژباړه وتشریح:- اوویلې شوی دی.چه اختلاف په کراهت کي دې. ﴿یعني داحنافوپه نیزپه دارالحرب کي ویش کول مکروه دې.اودامام شافعي رحمه الله په نیزمکروه نه دې.پاته په دې کي اختلاف نشته.چه په دې باندې ملك نه ثابتیږي.بلکه په اتفاق سره که په دارالحرب کي ویش اوشي.نوملك پرې ثابتیږي بیا داختلاف نوعیت دا دی.چه﴾دا ﴿ویش په دارالحرب کي﴾ کراهت دي کراهت تنزیهي ﴿یعني مباحوته نزدې دې﴾ په نیزدامام محمد رحمه الله ﴿اودکراهت قول د شیخینو رحمهما الله نه دې.﴾ ځکه چي ده ﴿امام محمد رحمه الله﴾ فرمائیلی دی.په قول دامام ابوحنیفه اوامام ابویوسف رحمهما الله نه دې جائز ویش په دارالحرب کي ، ﴿نومعلومه شوه.چه دعدم جوازقول دشیخینو رحمهما الله دې﴾

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْأَفْضَلُ أَنْ يَقْسِمَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ، وَوَجْهُ الْكَرَاهَةِ أَنَّ دَلِيلَ الْبُطْلَانِ رَاجِحٌ، إلَّا أَنَّهُ تَقَاعَدَ عَنْ سَلْبِ الْجَوَازِ فَلَا يَتَقَاعَدُ عَنْ إيرَاثِ الْكَرَاهَةِ.

حل اللغة: ① تقاعد: قاصرکیږی، کوتاه کیږی ② سلب: ختمول ③ ایراث: پیدا کول

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزدامام محمد رحمه الله غوره دا ده.چه ویش اوکړی په دارالاسلام کي ، ﴿خوکه په دارالحرب کي ئې ویش اوکړلو.نوهم صحیح دي.خو سره د کراهته﴾ او وجه دکراهت دا ده.چه دلیل د بطلان راجح دې. ﴿یعني شیخینو رحمهما الله چي په دارالحرب کي د ویش دعدم جواز کوم دلیل ذکرکړې دې.هغه راجح دې. یعني دا چي په دارالحرب کي په مال باندې پوره قبضه نه وی حاصله،په مقابله دجواز ویش کي . نو هر کله چې دلیل د بطلان راجح دې.نوبیا پکاردا وه.چه په دارالحرب کي ویش مکروه نه وې بلکه ناجائز وې. نو دهغې نه ځواب دا دې﴾ البته دا ده.چه دا ﴿دلیل دبطلان تقسیم﴾ قاصردې د سبب جوازنه ﴿یعني په دلیل د عدم جوازکي دومره قوت نشته.چه په دې سره د ویش عدم جواز ثابت شي.ځکه چي بل اړخ ته دویش د جواز دلائل هم شته.اګرچه مرجوح دی.ددې مثال د پیشي جوټه ده.د پیشي د جوټې په اړه کي دوې [دوه] قسمه احادیث راغلی دی.په یوحدیث کي دی.پیشي درنده دې.اودا معلومه خبره ده.چه د درنده جوټه پلیته وی.ددې حدیث نه د پیشود جوټې نجاست معلومیږي.اوپه بل حدیث کي دی.چه پیشي پلیته نه ده.ددې نه معلومیږي.چه د پیشي جوټه پاکه ده.ځکه چي پیشي پلیته نه ده.نوجوټه به ئې هم پلیته نه وی.ځکه چې د جوټې د طهارت اونجاست دارومدار په غوښه دې.چه دکوم ځیزغوښه پلیته وی.جوټه به ئې هم پلیته وی .اوچه غوښه ئې پاکه وی.نوجوټه به ئې هم پاکه وی.نوهرکله چې د پیشي په اړه کي دطهارت اونجاست دلائل متعارض شو.دې تخفیف پیدا کړلو.اومونږ د پیشود جوټې دکراهت حکم اوکړلو.هم دغه ډول په زیربحث مسئله کي دوې [دوه] قسمه دلائل متعارض شو.نودې تعارض تخفیف پیدا کړلو.اومونږ دا حکم اوکړلو.چه په دارالحرب کي ویش کول مکروه دې.ځکه فرمائي.چه عدم جواز ئې پیدا نکړلو﴾ نونه به قاصره کیږي.د ثابتولو دکراهت نه ﴿یعني هرکله چې په دارالحرب کي د ویش دجواز دلیل هم شته.نوکه په دارالحرب کي ویش ته ناجائزنشو.وئیلې.نوکم ازکم مکروه خوبه ورته وایو.ځکه چې د عدم جواز دلیل هم موجود دې.بلکه راجح هم دې﴾

دمعاون اومقاتل په استحقاق غنیمت کي برابري

(وَالرِّدْءُ وَالْمُقَاتِلُ فِي الْعَسْكَرِ سَوَاءٌ) لِاسْتِوَائِهِمْ فِي السَّبَبِ وَهُوَ الْمُجَاوَزَةُ أَوْ شُهُودُ الْوَقْعَةِ عَلَى مَا عُرِفَ، وَكَذَلِكَ إذَا لَمْ يُقَاتِلْ لِمَرَضٍ أَوْ غَيْرِهِ لِمَا ذَكَرْنَا.

حل اللغة: ① الردء: کومك کول ② العسکر: لښکر ③ المجاوزة: تیریدل

زباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله فرمائي. مددګاراوجنګ كونكي دواړه برابر دي په لښكركي، ﴿نو ځومره برخه چي مقاتل ته ملاويږي. هغه هومره به معاون ته هم ملاويږي﴾ د امله د برابرى ددوئ نه په سبب ﴿داستحقاق غنيمت﴾ كي، اودا ﴿سبب داستحقاق﴾ تيريدل دى ﴿داسلامي سرحدنه، داحنافوپه نيز. بس چي د اسلامي سرحدنه تيرشي. نودفتح په صورت كي دي مستحق غنيمت دي﴾ اويا حاضريدل دى په واقعه ﴿جنګ ته، په نيزدامام شافعي رحمه الله دجنګ سره مباشرة شرط نه دي. اودا دواړه شيان (ځيزونه) كه داسلامي سرحدنه تيريدل وى، اوكه جنګ ته حاضريدل وى. موجودشوى دى. او وجودسبب سره مسبب واقع كيږى. نوددوئ معاون هم مستحق دغنيمت دي﴾ لكه ځنګه چي پيژندي شوى دى ﴿په بيان داختلاف كي﴾ اودغه ډول ﴿برابردي دمقاتل سره په استحقاق دمال غنيمت كي﴾ هغه ځوك چي جنګ ئي نه وى كړي د امله د مرض اويا دبل عذرنه، دهغه امله كومه چي موږ بيان كړه ﴿چه استحقاق دغنيمت دسرحدنه په تيريدويا جنګ ته په حاضريدوسره راځى. اودا دواړه موجود شوى دى﴾

دارالاسلام ته د واپس كيدونه وړاندي دلښكرسره يوځائي كيدل

﴿وَإِذَا لَحِقَهُمُ الْمَدَدُ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَبْلَ أَنْ يُخْرِجُوا الْغَنِيمَةَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ شَارَكُوهُمْ فِيهَا) خِلَافًا لِلشَّافِعِي بَعْدَ انْقِضَاءِ الْقِتَالِ وَهُوَ بِنَاءٌ عَلَى مَا مَهَّدْنَاهُ مِنَ الْأَصْلِ،

حل اللغة: ① **المدد:** مددګاران ② **الانقضاء:** ختميدل

زباړه وتشريح:- اوكله چي يوځائي شي دوئ ﴿مجاهدينو﴾ سره مددګارپه دارالحرب كي وړاندي ددي نه چه دوئ راوړولي وى غنيمت دارالاسلام ته نوشريكيږى به ﴿دغه مددګاران دلښكرسره﴾ په دي ﴿غنيمت كي﴾ خلاف ثابت دي ﴿په دي مسئله كي په استحقاق د غنيمت كي﴾ دامام شافعي رحمه الله روسته د ختميدو دجنګ نه، ﴿يعنى دامام شافعي رحمه الله په نيزكه جنګ ته حاضرشوي نه وى. نواګرچه غنيمت ئي دارالاسلام ته نه وى راوړولي. اوددي نه وړاندي ورسره مددګاران يوځائي شي. په مال غنيمت كي ددوئ برخه نه كيږى﴾ اودا ﴿اختلاف﴾ بناء دي په هغه څه چي موږ بيان كړي دي داصل نه ﴿چه دامام شافعي رحمه الله په نيزداستحقاق غنيمت لپاره جنګ ته حاضريدل شرط دي اوزموږ په نيزد اسلامي سرحدنه تيريدل شرط دي. نوپه زيربحث مسئله كي زموږ په نيزدا مددګاران ښكه مستحق د غنيمت دي. چه دوئ داسلامي سرحدنه تيرشوي دى. اودامام شافعي رحمه الله په نيزښكه مستحق دغنيمت نه دى. چه دجنګ په موقع دوئ نه وو حاضرشوى﴾

وَإِنَّمَا يَنْقَطِعُ حَقُّ الْمُشَارَكَةِ عِنْدَنَا بِالْإِحْرَازِ أَوْ بِقِسْمَةِ الْإِمَامِ فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْ بِبَيْعِهِ الْمَغَانِمَ فِيهَا، لِأَنَّ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهَا يَتِمُّ الْمِلْكُ فَيَنْقَطِعُ حَقُّ شَرِكَةِ الْمَدَدِ.

زباړه وتشريح:- اويقيناً ختميږى حق دشركت په نيززمونږ ﴿يعنى كوم كسان چي دمدد لپاره د لښكرسره دجنګ نه روسته يوځائي شي. نود دوئ حق دمال غنيمت نه په دري طريقوختميږى. كه په دغه دريوكي يوه هم موجود شي. نودوئ مستحق د شركت نه دى. اوكه په دي كي يوهم نه وى. نوبيا مستحق دغنيمت دى﴾ په محفوظ كاوه سره، ﴿په دارالاسلام كي﴾ يا په ويش دامام سره په دارالحرب كي، اويا په خرڅولو د غنيمت په دارالحرب كي، ښكه چي په هره يوه طريقه ددي ﴿دريوواړو﴾ نه، پوره كيږى ملك ﴿دمجاهدينوپه غنيمت﴾ نو ختميږى حق د شركت ﴿په مال غنيمت كي﴾ دمددګارانو، ﴿اوپه زيربحث مسئله كي په دغه دريوكي يوه هم نه ده موجود شوي. نو ښكه مستحق د غنيمت دى﴾

دلښكردبازاريانو لپاره دمال غنيمت حكم

قَالَ (وَلَا حَقَّ لِأَهْلِ سُوقِ الْعَسْكَرِ فِي الْغَنِيمَةِ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلُوا) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ: يُسْهَمُ لَهُمْ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ

وَالسَّلَامُ {الْغَنِيمَةُ لِمَنْ شَهِدَ الْوَقْعَةَ} (١) وَلِأَنَّهُ وَجَدَ الْجِهَادَ مَعْنًى

ژباړه وتشریح:- ﴿ابو الحسین قدوري﴾ رحمه الله فرمائي. اونشته حق د بازاریانو دلښکر لپاره په غنیمت کې يعنی کوم کسان چې په جنګ کې شریك شوی نه وي. بلکه په کوم ځائې کې اسلامي فوځ ډیره وي. دوئ ﴿يعنی د مجاهدینود اړتیا لپاره دخوراك څکاك شیان (څیزونه) جمع کړي وي. اوهغه خرڅوي. نوزموږ په نیزپه هلته د مجاهدینود ضرورت لپاره ﴿نشته﴾ مګردا چې دوئ شرکت کړي وي په جنګ کې، ﴿نوبیا دمال غنیمت حقدار دی﴾ او فرمائي امام شافعي رحمه الله په یو د دوو قولونه دده کې چې برخه به مقرر کولای شي ددوئ دپاره ﴿په مال غنیمت کې، اوبل قول ئې زموږ دمذهب مطابق دي. بیاد ثبوت شرکت لپاره استدلال کوي﴾ د امله دقول د نبي ﷺ نه چې غنیمت د هغه چا لپاره دي. چه حاضر شوي وي وی جنګ ته، ﴿نودوئ هم جنګ ته حاضرشوی دي. اګرچه دجنګ سره ئې مباشرت نه دي کړي﴾ او بله دا چې موجود شوي دي ﴿دوئ نه﴾ جهاد معنی د امله دزیاتولود لښکر ﴿اسلامي﴾ نه ﴿يعنی اګرچه په ظاهره دوئ جنګ کې شرکت نه دي کړي. لیکن معنوي جهاد ئې کړي دي. هغه دا چې ددوئ په وجه د مسلمانانولښکرزیات ښکاریدلو. اودا خبره دکافرو لپاره د ویرې سبب وو. چې اسلامي لښکرتعداد زیات دي﴾

وَلَنَا أَنَّهُ لَمْ تُوجَدْ الْمُجَاوَزَةُ عَلَى قَصْدِ الْقِتَالِ فَانْعَدَمَ السَّبَبُ الظَّاهِرُ فَيُعْتَبَرُ السَّبَبُ الْحَقِيقِيُّ وَهُوَ الْقِتَالُ

ژباړه وتشریح:- اوزموږ لپاره دلیل دا دي. چه نه دي موجود شوي تیریدل ﴿داسلامي سرحد نه﴾ په قصد د جنګ ﴿يعنی دا سوداګرچه داسلامي لښکرسره داسلامي سرحدنه تیریدل. نوددوئ اراده د جهاد نه وه. بلکه د تجارت وه. چه موږ په مجاهدینوباندې ددوئ د اړتیا شیان (څیزونه) خرڅوو﴾ نومعدوم شو سبب ظاهري ﴿د اسحقاق غنیمت، يعنی داستحقاق غنیمت لپاره سبب دا وو. چه دوئ دجهاد په اراده د اسلامي سرحد نه راوړیدلي وي. اوداسې نه ده شوي. نوداسحقاق غنیمت سبب موجود نشو. اوس هرکله چې داستحقاق غنیمت ظاهري سبب نشته. نو﴾ اعتبار به کولای شي دسبب حقیقي، چه جنګ دي. ﴿يعنی چې استحقاق غنیمت ظاهري سبب موجود نه شو. نواوس به ظاهري سبب ته ګورو. چه جنګ دي. که هغه موجود شوي وي. نواسحقاق د غنیمت به وي. اوکه نه وي. نو استحقاق غنیمت به نه وي. اوپه زیربحث مسئله کې حقیقي سبب چې جهاد دي. ددې مجاهدینو نه نه دي موجود شوي. نوځکه به دوئ مستحق دمال غنیمت نه وي﴾

فَيُفِيدُ الِاسْتِحْقَاقَ عَلَى حَسَبِ حَالِهِ فَارِسًا أَوْ رَاجِلًا عِنْدَ الْقِتَالِ، وَمَا رَوَاهُ مَوْقُوفٌ عَلَى عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنْ تَأْوِيلَهُ أَنْ يَشْهَدَهَا عَلَى قَصْدِ الْقِتَالِ.

نوراخلي استحقاق ﴿دمال غنیمت﴾ مناسب دحال دده ﴿مجاهد﴾ که په سپرلۍ وي اوکه پیدل وي په وخت دجنګ کې، ﴿نوکه په سپرلۍ وي. په مال غنیمت کې به ورته د راکب برخه ملاویږي. اوکه پیدل وي. نود راجل برخه به ورته ملاویږي﴾ اوامام شافعي رحمه الله چې کوم حدیث روایت کړي دي. ﴿چه مال غنیمت دهغه چا لپاره دي. چه جنګ ته حاضر شي﴾ نودغه روایت موقوف دي په حضرت عمر رضي الله عنه ﴿دنبي ﷺ حدیث نه دي﴾ اویا تاویل ددي حدیث دا دي. چه حاضر شوي وي جنګ ته په قصد د جهاد، ﴿اوپه زیربحث مسئله کې بازاري کس دجهاد لپاره نه دي حاضر شوي. بلکه د خپل تجارت دپاره. نومستحق د مال غنیمت نشو﴾

---

١) قال الزیلعي رحمه الله قلت غریب مرفوعاً وهو موقوف علی عمر رضي الله عنه کما قال المصنف رواه ابن أبي شیبة في مصنفه ... عن طارق بن شهاب أن أهل البصرة غزوا نهاوند، فأمدهم أهل الکوفة وعلیهم عمار بن یاسر فظهروا فأراد أهل البصرة أن لا یقسموا لأهل الکوفة فقال رجل من بني تمیم أیها العبد الأجدع ترید أن تشارکنا في غنائمنا ؟ وکانت أذنه جدعت مع رسول الله ﷺ فقال خیر أذني سببت ثم کتب إلی عمر رضي الله عنه فکتب عمر رضي الله عنه إن الغنیمة لمن شهد الوقعة (نصب الرایة ٦٢٠:١٣)۔

غازيانوته بطور امانت مال غنيمت حواله كول

(وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِلْإِمَامِ حَمُولَةٌ تُحْمَلُ عَلَيْهَا الْغَنَائِمُ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ قِسْمَةَ إِيدَاعٍ لِيَحْمِلُوهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ يَرْتَجِعُهَا مِنْهُمْ فَيَقْسِمُهَا) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هَكَذَا ذُكِرَ فِي الْمُخْتَصَرِ، وَلَمْ يَشْتَرِطْ رِضَاهُمْ وَهُوَ رِوَايَةُ السِّيَرِ الْكَبِيرِ.

حل اللغة: ① **الحمولة:** سپرلئ ② **الارتجاع:** تقسيمول

ژباړه وتشريح:- اوكه نه وي «په دارالحرب كي» دامام سره سپرلئ چې باركړي په هغې باندې غنيمتونه،نوويش به ئې كړي په غازيانوباندې په طوردويش امانت،چه يوسي دا «غنيمت» داراسلام ته.اوبيا به واپس كړئ دا «غنيمت» ددوئ نه،نوويش به ئې كړي په دوئ باندې، وائي بنده كمزورې «صاحب دهدايه»دغه ډول «مطلقاً»ذكرشوي دي په مختصرالقدوري كي ،اونه ئې ده شرط كړې رضا ددوئ «غازيانو دامانت په طوراوړلوباندې،يعني په مختصرالقدوري كي مطلقاً ذكركړي دي.چه امام به دامانت په طورغنيمتونه غازيانوته وركړي.چه دا دارالاسلام ته اورسوئ. اوهلته به ئې واپس كوئ.دا ئې نه دي ذكركړې چې هغوئ په دې اوړو باندې راضي وي اوكه نه،نوددې نه دا معلوميږي.كه هغوئ ئې بطورامانت اوړو باندې راضي وي اوكه نه وي.په دواړو صورتونوكي به مال غنيمت بطورامانت دارالاسلام ته اوړي» او دا «اطلاق» روايت د سير كبير دې. «چه په هغې امام محمدﷺ دا حكم مطلقاً ذكر كړې دې» —

وَالْجُمْلَةُ فِي هَذَا أَنَّ الْإِمَامَ إِذَا وَجَدَ فِي الْمَغْنَمِ حَمُولَةً يَحْمِلُ الْغَنَائِمَ عَلَيْهَا لِأَنَّ الْحَمُولَةَ وَالْمَحْمُولَ مَالُهُمْ. وَكَذَا إِذَا كَانَ فِي بَيْتِ الْمَالِ فَضْلُ حَمُولَةٍ لِأَنَّهُ مَالُ الْمُسْلِمِينَ،

حل اللغة: ① **المغنم:** مال غنيمت ② **المحمول:** كوم څيز چې بار كولې شي ③ **فضل:** زياتي

ژباړه وتشريح:- اولنډيز «دكلام» په دې «مقام» كي ،دا ده.چه امام په مال غنيمت كي څاروى بيا موموي. نوباربه كړي غنيمتونه په هغې باندې،څكه چې سپرلئ اوڅه چې په هغې باركولې شي. «ټول» دغازيانو لپاره دي. «چه كله دارالاسلام ته اورسي.نوهم په دوئ به ئې تقسيموي.نوكه زړه ئې ښه وي اوكه بد،د دارالحرب څخه به ئې دارالاسلام ته نقل كوئ» اودغه «حكم دې» كه وي په بيت المال كي زياتي سپرلئ «نوامام المسلمين به د بيت المال نه هغه سپرلئ راوغواړي.اودا مال غنميت به باركولاى شي په هغې سورلو باندې» څكه چې دا «د بيت المال سورلئ» مال د مسلمانانو دې.

وَلَوْ كَانَ لِلْغَانِمِينَ أَوْ لِبَعْضِهِمْ لَا يُجْبِرُهُمْ فِي رِوَايَةِ السِّيَرِ الصَّغِيرِ لِأَنَّهُ ابْتِدَاءُ إِجَارَةٍ

اوكه وي «سپرلئ ملكيت» د «ټولو» غازيانو يا د بعضو «غازيانو» نوزوربه نه كوي «امام» په دوئ باندې په روايت د سيرصغيركي ، «څكه چې دبل دمال نه فائده اخستل دهغه د رضا نه بغيرجائز نه دي.نوپه دې صورت كي كه امام دغه غازيان چاسره چې سپرلئ وي.د مال غنيمت په اوړلو باندې مجبوره كړي.» څكه چې دا ابتداءً اجاره ده. «وابتداء دچا نه په زورسره په كرايه څيزاخستل جائزنه دي.البته كه ابتداء اجاره نه وي.نوبيا دمالك د رضا نه بغيرهم دهغه نه په كرايه سره څيزاخستې شي.مثلاً يوكس دبل نه ديوې هفتې لپاره هتكړئ (بيړئ) په كرايه واخستله.اويوه هفته د سمندر په مينځ كښې پوره شوه.نواوس كرايه داردمالك د رضا نه بغيردغه هتكړئ (بيړئ) خان سره دومره وخت ايسارولې شي.چه دسمندرد مينځ نه غاړې ته اوځي.په دې مثال كي چونكه اجاره ابتداء نه ده.څكه دمالك د رضا نه بغيرهم اجاره كولې شي»

وَصَارَ كَمَا إِذَا نَفَقَتْ دَابَّتُهُ فِي مَفَازَةٍ وَمَعَ رَفِيقِهِ فَضْلُ حَمُولَةٍ، وَيُجْبِرُهُمْ فِي رِوَايَةِ السِّيَرِ الْكَبِيرِ لِأَنَّهُ دَفْعُ الضَّرَرِ الْعَامِّ بِتَحْمِيلِ ضَرَرٍ خَاصٍّ

حل اللغة: ① **مفازة:** بيابان ،صحراء ② **رفيق:** ملګرې ③ **الاجبار:** مجبوره كول

زباړه وتشريح:- اودا ﴿صورت﴾ داسې شو.چه مره شي سپرلئ دده ﴿ديوكس﴾ په ځنګل كې ،اودده د انډيوالان سره زياتي سپرلئ وي. ﴿نوهغه په دې باندې نشي مجبوره كولې.چه په كرايه ترې دغه سورلي واخلي.اوپه خپله يا خپل سامان پرې بار كړي.نولكه ځنګه چې دځنګل په صورت كې نشي مجبوره كولې.دغه ډول دجهاد په صورت كې هم نشي مجبوره كولې﴾ اومجبوره كوى به دوئ ﴿غازيان په اوړلو دمال غنيمت دارالاسلام ته بطورامانت﴾ په روايت د سيركبيركې ،ځكه چې دا ﴿اوړل د غنيمت دارالاسلام ته﴾ لرې كول د ضررعام دي.په باركولود ضرر خاص، ﴿يعنى مال غنيمت دټولو غازيانوحق دي.كه په دارالحرب كې دا پريښولې (پريخودې) شى.نود ضائع كيدو خطره ئې ده.نوددې عام ضرر لرې كاوه لپاره كه غازيان د مال غنيمت په اوړلوباندې مجبوره كړې شي.نودا څه ناجائز خبره نه ده﴾

دويش نه وړاندې دمال غنيمت دخرڅولوممانعت

(وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْغَنَائِمِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ) لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ قَبْلَهَا، وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ، وَقَدْ بَيَّنَّا الْأَصْلَ

زباړه وتشريح:- اوجائزنه دې خرڅول دمال غنيمت وړاندې د ويش نه په دارالحرب كې ،ځكه نه وى ملك وړاندې د ويش نه، ﴿اودملك نه وړاندې بيع باطله ده﴾ اوپه دې ﴿عدم جوازد بيع﴾ كې خلاف دامام شافعي رحمه الله دې.اومونږ بيان كړې دې اصل ﴿داختلاف چې زمونږ په نيزمال غنيمت ترڅو پورې په دارالاسلام كې محفوظ شوې نه وى.نوملك نه ثابتيږى.اودامام شافعي رحمه الله په نيز ثابتيږى﴾

(وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَلَا حَقَّ لَهُ فِي الْغَنِيمَةِ، وَمَنْ مَاتَ مِنْهُمْ بَعْدَ إِخْرَاجِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ) لِأَنَّ الْإِرْثَ يَجْرِي فِي الْمِلْكِ، وَلَا مِلْكَ قَبْلَ الْإِحْرَازِ، وَإِنَّمَا الْمِلْكُ بَعْدَهُ.

زباړه وتشريح:- اوخوك چې مړ شوپه دارالحرب كې د غازيانونه،نونشته حق دده لپاره په مال غنيمت كې ، ﴿ځكه چې په دارالاسلام كې دمحفوظ كيدونه وړاندې په مال غنيمت باندې ملكيت نه راځي﴾ او څوك چې مړ شو د دوئ ﴿غازيانو﴾ نه روسته د راويستلودې ﴿مال غنيمت د دارالكفر نه﴾ دارالاسلام ته، نوحصه د ده لپاره د وارثانودده ده. ﴿ځكه چې كله مال غنيمت درالاسلام ته راورسيدل .نوپه دې باندې د غازيانو ملكيت راغلو.اودملكيت راتلونه روسته كه سړې مړ شى.نودده مملوك څيزوارثان په ميراث كې اوړى﴾ ځكه چې ميراث جارى كيږى په مملوك څيزكې ،اونه راځي ملكيت وړاندې د ساتنه نه ﴿په دارالاسلام كې﴾ بلكه ملكيت چې راځي.نوددې ﴿په دارالاسلام كې دحفاظت﴾ نه پس،

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ بَعْدَ اسْتِقْرَارِ الْهَزِيمَةِ يُورَثُ نَصِيبُهُ لِقِيَامِ الْمِلْكِ فِيهِ عِنْدَهُ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ.
حل اللغة: ① استقرار:ثابتيدل ② الهزيمة:شكست،ماتې،ناكامي

زباړه وتشريح:- اوفرمائى امام شافعي رحمه الله څوك چې مړ شو.دوئ ﴿غازيانو﴾ كې ،پس د ﴿مكمل كيدو د﴾ شكست دكافرانو،نوميراث به اوړى شى دده برخه د امله دقيام د ملك نه په دغه مال غنيمت كې دده ﴿امام شافعي﴾ په نيز،اويقيناً مونږ ددې ﴿اصل﴾ بيان كړې دې.

په دارالحرب كې دګياه اوخوراك دڅيزونواستعمال

قَالَ (وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَعْلِفَ الْعَسْكَرُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَيَأْكُلُوا مَا وَجَدُوهُ) [دوه] مِنَ الطَّعَامِ) قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَرْسَلَ وَلَمْ يُقَيِّدْهُ بِالْحَاجَةِ، وَقَدْ شَرَطَهَا فِي رِوَايَةٍ وَلَمْ يَشْتَرِطْهَا فِي أُخْرَى.

حل اللغة: ① علف:ګياه

زباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله فرمائي.اونشته باك په دې چې ګياه وركړى ﴿اسلامي لښكرينه دراالحرب كې ﴿خپلوځاروو ته﴾ اوخورك اوكړى دهغه څه نه چې مومى ئې دوى ﴿اسلامي لښكر﴾ د خوراك دڅيزونونه،وائى بنده ضعيف ﴿صاحب دهدايه﴾ مطلق ذكركړې دې ابو الحسين قدورى رحمه الله دا حكم،اومقيد كړې ئې نه دې په حاجت سره، ﴿يعنى ابو الحسين قدورى رحمه الله مطلقاً دا ذكركړى

دی.چه د غازيانو لپاره دمال غنيمت د ګياه اودخوراك شيان (څيزونه) استعمالول جائزدی.اودحاجت قيد ئې په كښې نه دې لګولې.كه حاجت ورته وی. نو استعمالولې ئې شي.اوكه حاجت ئې نه وی.نونشي اويقيناً شرط كړې ئې دې دا ﴿حاجت﴾ په يو روايت ﴿دسيرصغير﴾ كې ،اونه دې شرط كړې ﴿په روايت دسيركبير﴾ كې ،

وَجْهُ الْأُولَى أَنَّهُ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْغَانِمِينَ فَلَا يُبَاحُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا لِحَاجَةٍ كَمَا فِي الثِّيَابِ وَالدَّوَابِّ.

حل اللغة: ① الانتفاع: فائده اخستل ② الثياب: جمع د ثوب، جامه ③ الدواب: جمع د دابة: څاروي

ژباړه وتشريح:- وجه داول روايت ﴿چه حاجت ئې په كې شرط كړې دې﴾ دا ده.چه دا ﴿ګياه اودخوراك شيان (څيزونه)﴾ مشترك دی په مينځ د غازيانوكې ،نونه به وی مباح فائده اخستل ددې نه مګر د اړتيا په وجه،لكه څنګه چې په جامواوسورلوكې دی. ﴿يعني دمال غنيمت نه دجامو او سورلو استعمال بغيرد حاجت نه مباح نه دی﴾

وَجْهُ الْأُخْرَى قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {فِي طَعَامِ خَيْبَرَ كُلُوهَا وَاعْلِفُوهَا وَلَا تَحْمِلُوهَا} (١)

ژباړه وتشريح:- اووجه د دوهم روايت ﴿چه د ګياه اوخوراك د څيزونو استعمال جائزدی﴾ قول دنبی ﷺ دی په طعام د خيبركې ،دا ﴿قجورې وغيره﴾خورئ،اوددې نه ګياه وركوئ ﴿خپلو څاروتـه﴾اومه ئې اوړئ بل خائې ته،

﴿يعني دلته ستاسو لپاره ددې خوراك جائزدی.بل ځائې ته ئې اوړل جائزنه دی﴾

وَلِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِ الْحَاجَةِ وَهُوَ كَوْنُهُ فِي دَارِ الْحَرْبِ، لِأَنَّ الْغَازِيَ لَا يَسْتَصْحِبُ قُوتَ نَفْسِهِ وَعَلَفَ ظَهْرِهِ مُدَّةَ مُقَامِهِ فِيهَا وَالْمِيرَةُ مُنْقَطِعَةٌ، فَبَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْإِبَاحَةِ لِلْحَاجَةِ

حل اللغة: ① يستصحب: ملګرې كيږی ،يوځائې كيږی ② الميرة: د خوراك څيزونه

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې حكم ﴿داباحت اوعدم اباحت﴾ لګولې شي په دليل دحاجت باندې،اودا ﴿دليل دحاجت﴾ كيدل ددې ﴿ګياه اوطعام﴾ په دارالحرب كې ، ﴿يعني ګياه اودخوراك څيزونوته په دارالحرب كې اړتيا وی﴾ څكه چې غازی سره نه وی خوراك دځپل ځان اوګياه د ځپلې سورلئ،په هغه مودۀ كې ،چه وی قيام دده په دې﴿دارالحرب﴾ كې ،اوطعام جلا شوې دې ددوئ نه ﴿يعني په دارالحرب كې دوئ سره دځپل خوراك انتظام نه وی.څكه چې غازيان ځان سره ګياه اودخوراك شيان (څيزونه) نشي اوړې﴾ نوپاته پاتې شو اصل اباحت.د امله دحاجت نه، ﴿چه دخوراك څيزونواوګياه ته اړتيا دې.نو لنډيز دا چې دغازيانو لپاره خپلوځاروو ته د مال غنيمت نه ګياه وركول اوپه ځپله دخوراك شيان (څيزونه) خوړل جائزدی﴾

بِخِلَافِ السِّلَاحِ لِأَنَّهُ يَسْتَصْحِبُهُ فَانْعَدَمَ دَلِيلُ الْحَاجَةِ، وَقَدْ تَمَسُّ إِلَيْهِ الْحَاجَةُ فَتُعْتَبَرُ حَقِيقَتُهَا فَيَسْتَعْمِلُهُ ثُمَّ يَرُدُّهُ فِي الْمَغْنَمِ إِذَا اسْتَغْنَى عَنْهُ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دوسله ، ﴿يعني دغازيانو لپاره په دارالحرب كې د مال غنيمت وسله استعمال جائز نه دی﴾څكه چې دې ﴿غازی﴾ ځان سره ساتی وسله ﴿كله چې دې د دارالاسلام نه د جهاد په نيت روانيږی. نوځان سره وسله اوړی﴾ نوختم شو دليل د حاجت ﴿وسله ته﴾ اوكله كله پيښيږی حاجت دې ﴿وسلې﴾ ته، ﴿مثلاً توره ئې ماته شي.يا تړې وركه شي﴾ نومعتبربه وی حقيقت ددې ﴿يعني حقيقت دحاجت نه دليل د حاجت.يعني كله چې دغازی نه په دارالحرب كې وسله بې دركه شي.يا ماته شي.نوده ته د وسله اړتيا وی.څكه چې هروخت دكافرو داړخه دحملې خطره موجود وی.نوپه دې صورت كې وسلې ته په حقيقت كې اړتيا دې. نوحقيقی اړتيا پيښ شو.استعمال ئې هم جائزشو﴾ نواستعمال به ئې كړی ﴿يعني د

---

۱) من حديث عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما اخرجه البيهقى فى كتاب المعرفة (نصب الراية ۳\۴۲۱)-

بیت المال وسله به په دارالحرب استعمالوي﴾ بیا به ئې واپس کړي مال غنیمت ته کله چې بې پرواه شي ﴿وسله﴾ نه ﴿چه یا دارالاسلام ته راواپس شي.یا ورته په لاره کې په بله څه طریقه وسله ملاؤ شي﴾ ددي

وَالدَّابَّةِ مِثْلُ السِّلَاحِ، وَالطَّعَامُ كَالْخُبْزِ وَاللَّحْمِ وَمَا يُسْتَعْمَلُ فِيهِ كَالسَّمْنِ وَالزَّيْتِ.

حل اللغة: ① السلاح:وسله ② الخبز:روټۍ ③ السمن:غوړي ④ الزیت:تیل

زباره وتشریح:- اوځاروی پشان د وسله دی. ﴿یعنی لکه څنګه د بیت المال د وسله استعمال بغیرضرورته جائزنه دی.دغه ډول د بیت المال د ځاروی استعمال هم جائزنه دي﴾اوطعام ﴿کوم چې په متن کې ذکردي.چه دطعام خوړول اجازت ورته شته،نودا به وي﴾ لکه ډوډۍ ،غوښه،اوهغه چې استعمالیږی په دې ﴿غوښه﴾ کې ، لکه غوړي اوتیل.

دمال غنیمت نه د تیلوداستعمال جواز

قَالَ (وَيَسْتَعْمِلُوا الْحَطَبَ) وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: الطِّيبَ، (وَيَدْهِنُوا بِالدُّهْنِ وَيُوَقِّحُوا بِهِ الدَّابَّةَ) لِمَسَاسِ الْحَاجَةِ إِلَى جَمِيعِ ذَلِكَ

حل اللغة: ① الحطب:لرګی ② الطیب:خوشبوئی ③ الدهن:تیل ④ الوقاح:غوړول

زباره وتشریح:- ﴿ابو الحسین قدوری﴾ رحمه الله فرمائی.او ﴿مجاهدین﴾ استعمالولې شی لرګی اوپه بعضې نسخو کې د خوشبوئي ذکردې. ﴿یعنی مجاهدین د مال غنیمت خوشبوئي استعمالولې شي﴾ غوړول کولای شی په غوړو باندې، اوخوړلې شی پرې ځاروی ﴿یعنی دهغوئ سوئ چې د زیاتوګرځیدوپه وجه کمزوری شوې وی.نوپه غوړولو سره مضبوط شي﴾ د امله دحاجت نه دې ټولو ﴿څیزونو﴾ ته، ﴿یعنی دخوراك شیان (څیزونه)، ګیاه، تیل، غوړي،لرګی﴾

دوبش نه وړاندې دبیت المال دهر ډول وسله داستعمال اجازت

(وَيُقَاتِلُوا بِمَا يَجِدُونَهُ مِنَ السِّلَاحِ، كُلُّ ذَلِكَ بِلَا قِسْمَةٍ) وَتَأْوِيلُهُ إِذَا احْتَاجَ إِلَيْهِ بِأَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ سِلَاحٌ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ

زباره وتشریح:- اوجنګ به کوی ﴿غازیان﴾ په هغه څه چې مومی ئې د وسله نه هرقسمه بغیردویش نه،اود ﴿ابو الحسین قدوری﴾ ددې قول تاویل دا دې.چه کله محتاج شی دې ﴿دبیت المال وسله ته﴾ په داسې شان چې نه وی ده سره وسله اویقیناً موږ بیان کړې ﴿اشاره ده ((بخلاف السلاح لأنه يستصحبه إلى آخره)) قول ته﴾

دوسلې خرڅولو اوجمع کولوحکم

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعُوا مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ) لِأَنَّ الْبَيْعَ يَتَرَتَّبُ عَلَى الْمِلْكِ وَلَا مِلْكَ عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ، وَإِنَّمَا هُوَ إِبَاحَةٌ وَصَارَ كَالْمُبَاحِ لَهُ الطَّعَامُ.

زباره وتشریح:- اوجائزنه دی چې دوئ ﴿غازیان﴾ خرڅ کړي ددې ﴿څیزونونه کوم چې ذکر شو په دې قول سره چې ((من العلف للدواب وأخذ الطعام للأكل والخطب للإستعمال وإدهان السلاح للقتال)) نه څه شی ،اونه به ذخیره کوی دا ﴿شیان (څیزونه) کوم چې اوس اجمالاً ذکر شول﴾ ځکه چې خرڅول مرتب کیږی په ملك باندې ﴿چه په یوڅیزباندې د وړاندې نه ملك ثابت وی.نوهغه شی خرڅولې شي﴾ اونشته ملك ﴿په مال غنیمت باندې﴾ لکه څنګه چې موږ وړاندې بیان اوکړلو ﴿چه په دارالاسلام کې د ساتنه نه وړاندې په مال غنیمت باندې ملکیت نه راځي﴾ او یقیناً دا نفع اخستل ددې څیزونو نه﴾ اباحت دې ﴿د امله د اړتیا د استعمال نه﴾ او اوګرځیدل پشان د مباح له الطعام ﴿یعنی مثلاً زید بکرته اووائی. زما د اړخه تا لپاره ددې طعام خوراك مباح دې.نو په دې اباحت سره بکر لره دا نه دی جائز چې هغه طعام خرڅ کړي﴾ دغه شان د دذکر شوو څیزونو استعمال د غازیانو لپاره مباح دې.خو خرڅول ورله جائز نه دی﴾

وَقَوْلُهُ وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُمْ لَا يَبِيعُونَهُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْعُرُوضِ لِأَنَّهُ لَا ضَرُورَةَ إِلَى ذَلِكَ،

حل اللغة: ① **تمول:** ذخيركول ② **اللذهب:** سرۀ زر ③ **الفضة:** سپين زر ④ **العروض:** سامان

ژباړه وتشريح:- اودا قول دابو الحسين قدوري رحمه الله چې ((ولايتمولونه)) په دې كې اشاره ده دې خبرې ته چې دوى «غازيان» به نه خرڅوى دا «مال غنيمت» په مقابله د سرو او سپينو زرواو سامان تجارت كې «چه مال غنيمت وركړى اودا شيان (څيزونه) واخلى.اودا خبره چې داشيان (څيزونه) به په سرواوسپينو زرواو سامان تجارت نه خرڅوى ددې لفظ تمول نه معلوميږي.ځكه چې تمول مالدارئ ته وائي.او مالداره كيږي سړې هله چې دې د سرو ، سپينواو سامان تجارت مالك وي» ځكه چې نشته اړتيا دې «سرو،سپينو زرو او سامان تجارت» ته «ځنگه ضرورت چې د خوراك ځكاك څيزونو سره تړلې شوې دې.يعنى كه سړى ته خوراك ځكاك نه ملاويږي.نو دا د ده د هلاكت سبب گرځي.نوهركله چې سرواو سپينو زرو او سامان تجارت ته د خوراك د څيزنو پشان اړتيا نشته.نودا شيان (څيزونه) په سرو او سپينو زرو او سامان تجارت خرڅول جائز نه دى.احقر شاه فيصل وائي.چه د يتمولونه لفظ نه دا مترشحه كيږي.كه په غازيانو باندې داسې سخت وخت راشي. چې د خوراك ځكااك ذخيره ورسره ختمه شي.نوكه په دغه وخت كې دوى مال غنيمت خرڅ كړي.يا په مال غنيمت باندې د خوراك ځكاك شيان (څيزونه) واخلي.نودا به جائز وي.ځكه چې لكه څنگه د اړتيا په وجه د دوى لپاره د مال غنيمت نه د خوراك شيان (څيزونه) خوړل او استعمالول جائز وو.نودغه ډول دسخت اړتيا په وخت كې كه د مال غنيمت په بدله كې دوى ته طعام ملاويږي.نودابه هم جائز وى.والله اعلم»

فَإِنْ بَاعَهُ أَحَدُهُمْ رَدَّ الثَّمَنَ إِلَى الْغَنِيمَةِ؛ لِأَنَّهُ بَدَلُ عَيْنٍ كَانَتْ لِلْجَمَاعَةِ. وَأَمَّا الثِّيَابُ وَالْمَتَاعُ فَيُكْرَهُ الِانْتِفَاعُ بِهَا قَبْلَ الْقِسْمَةِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ لِلِاشْتِرَاكِ،

ژباړه وتشريح:- كه خرڅ كړل «دا مال غنيمت» يوكس په دوئ «غازيانو» كي ،نوواپس به كړى «يعنى جمع به كړى» پيسې دهغې «مبيعه» مال غنيمت ته،ځكه چې دا «قيمت» بدل د هغه څيزدې.چه وو لپاره د ډلې «دمسلمانانوچه غازيان دى.نوچه دچا څيزوو.هغوئ ته به واپس كولې شي» اوهرچه جامې اوسامان «دمال غنيمت» دي.نومكروه ده نفع اخستل ددې نه،وړاندې د ويش نه، «ځكه چې د ويش نه وړاندې په دې باندې ملكيت نه راځي.اوچه په دارالاسلام كې ويش اوشي.نوهله پرې ملكيت راځي.نودغيرمملوك څيزخرڅول جائز نشو.ددې امله به هغه قيمت مال غنيمت كې جمع كولې شي.ځكه چې مبدل منه دمال غنيمت وو. نو بدل به هم په هغې كې جمع كولې شي» بغيردحاجت نه، «چه دې څيزونوته حاجت وي» د امله د اشتراك نه «چه واړه غازيان په مال غنيمت كې شريك دى.اود مال مشتركه په خرڅولوكې د شريكينورضا شرط ده»

إِلَّا أَنَّهُ يُقَسِّمُ الْإِمَامُ بَيْنَهُمْ فِي دَارِ الْحَرْبِ إِذَا احْتَاجُوا إِلَى الثِّيَابِ وَالدَّوَابِّ وَالْمَتَاعِ؛ لِأَنَّ الْمُحَرَّمَ يُسْتَبَاحُ لِلضَّرُورَةِ فَالْمَكْرُوهُ أَوْلَى،

ژباړه وتشريح:- مگردا چې ويش اوكړى امام په مينځ ددوئ «غازيانوكې» په دارالحرب كې كله چې محتاج وى «غازيان» جامواوڅاروواوسامان ته، «نوپه دغه وخت كې د غازيانو لپاره دجامواود سامان نه فائده اخستل مباح دى.يعنى په عاموحالاتوكې به په دارالحرب كې ويش نه كوى.البته كه دغازيانوورته حاجت وى.نوبيا ويش جائزدې.اوچه ويش اوشي.نوبيا دجامونه فائده اخستل جائزدى» ځكه چې حرام څيزمباح گرځي په وخت د اړتيا كې ،نومكروه خوبه په طريق اولى سره «مباح گرځي.ځكه چې مكروه د حرام نه په درجه كې كم دى»

وَهَذَا لِأَنَّ حَقَّ الْمَدَدِ مُحْتَمَلٌ، وَحَاجَةُ هَؤُلَاءِ مُتَيَقَّنٌ بِهَا فَكَانَ أَوْلَى بِالرِّعَايَةِ،

حل اللغة: ① **المدد:** مددگاران ② **متيقن:** يقيني ③ **الرعاية:** خيال ساتل.لحاظ كول

ژباړه وتشریح:- اودا ویش جائزدي. ﴿اودا د تقدیري سوال ځواب دي.سوال دا دې چه په دارالحرب کي ویش ځنګه جائز کیداې شي.حالانکه دا احتمال شته.چه داسلامي لښکرد کومك لپاره د دارالاسلام نه نور فوځیان راشي.اودا مسئله تیره شوې ده.چه په مال غنیمت کي دهغوئ برخه هم شته.نوچه په دارالحرب کي ویش اوشي.په دې کي دهغه راتلونکي فوځیانوحق وهلې کیږي.اودا جائز نه دے﴾.نودهغې نه ځواب کوي ﴿فوځیانو﴾ ﴿د فوځیانو﴾ احتمالي دې. ﴿ځکه چې په یقین سره دا پته نه لګي.چه د چا﴾ ځکه چې حق د مددګارانو ﴿غازیانو﴾ یقیني دوئ د کومك لپاره به نور فوځیان راځي.بلکه صرف یو احتمال دے﴾ اوحاجت ددوئ ﴿غازیانو﴾ یقیني دي.نوزیات لائق دې د لحاظ ساتلو. ﴿یعنی کله چې احتمال اویقیني حاجت یوځائې شي.نود یقیني حاجت پوره کول زیات لائق دي﴾

وَلَمْ يَذْكُرِ الْقِسْمَةَ فِي السِّلَاحِ، وَلَا فَرْقَ فِي الْحَقِيقَةِ لِأَنَّهُ إِذَا احْتَاجَ وَاحِدٌ يُبَاحُ لَهُ الِانْتِفَاعُ فِي الْفَصْلَيْنِ، وَإِنِ احْتَاجَ الْكُلُّ يُقْسَمُ فِي الْفَصْلَيْنِ،

ژباړه وتشریح:- اونه دې ذکرکړې ﴿امام محمدپه کتاب السیرکي﴾ ویش په وسله کي ، ﴿یعنی دا ئې نه دی ذکرکړي.که غازیان وسله ته محتاج شي.نوپه دارالحرب کي د وسله ویش جائز دې که نه؟﴾ خونشته توپیر په حقیقت کي ﴿یعنی حقیقت دا دې.چه د وسلې،جامو،سامان اوخاروپه ویش کولوکي څه توپیر نشته.بلکه﴾ کله چې محتاج شي یوکس ﴿استعمال ددې ته﴾ نومباح دی ده لپاره فائده اخستل ددې ﴿څیزونو﴾ نه،په دواړو فصلونوکي ﴿یعنی که وسله وی اوکه جامې سامان وی﴾ اوکه محتاج شو واړه ﴿غازیان﴾ نو ویش به کوی ﴿امام په مینځ دغازیانوکي﴾ په دواړو فصلونوکي ﴿که وسله ته محتاج شوی وی اوکه جاموته،د دواړوویش جائزدې﴾

بِخِلَافِ مَا إِذَا احْتَاجُوا إِلَى السَّبْيِ حَيْثُ لَا يُقْسَمُ لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَيْهِ مِنْ فُضُولِ الْحَوَائِجِ.

حل اللغة: ① فضول:زیاتی ② السبي:قیدی کول

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه صورت کي چې محتاج شي دوئ ﴿غازیان﴾ قیدیانوته ﴿یعنی که غازیان په دارالحرب کي قیدیانوته محتاج شو.لکه دهغوئ خدمت ته،یا په هغوئ کي ښځې وي. او دهغوئ سره جماع کولوته محتاج شو.نو﴾ نه به تقسیموي ﴿امام دغه قیدیان په غازیانو﴾ ځکه چې حاجت دوئ ﴿قیدیانوته﴾ په زیاتي حاجتونوکي حسابیږي. ﴿یعنی قیدیانوته احتیاج داسي نه دې.چه ددې په وجه سړې په هلاکت یا خطره کي واقع کیږي.لکه ځنګه حاجت چې د خوراك څیزونو او جامو ته وی.نودې ته حاجت اباحت دویش نه پیدا کوی.چه په دارالحرب کي دې ویش جائزشي﴾

په دارالحرب کي دکافراسلام قبلول

قَالَ (وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ) مَعْنَاهُ فِي دَارِ الْحَرْبِ (أَحْرَزَ بِإِسْلَامِهِ نَفْسَهُ) لِأَنَّ الْإِسْلَامَ يُنَافِي ابْتِدَاءَ الِاسْتِرْقَاقِ

ژباړه وتشریح:- ﴿ابو الحسین قدوری ﷫فرمائي.اوڅوك چې مسلمان شود دوئ ﴿حربیانو﴾ نه،مطلب دې ﴿اسلام قبلولودا دې.چه اسلام قبول کړي﴾ په دارالحرب کي ،ده محفوظ کړلو په اسلام خپل سره نفس خپل، ﴿یعنی داسلام قبلولونه روسته مسلمانان دې نشي قتلولې.اونه ئې قید کولې شي﴾ ځکه چې اسلام منافي دې په ابتدء د غلام جوړلوسره ﴿یعنی چې یوکس مسلمان وي.نودې غلام نشي جوړیدې.ځکه چې داسلام اوغلامئ په مینځ کي منافات دي.نوچه اسلام وي.رقیت به نه راځي.البته دا منافات د رقیت په ابتدائی حالت کي دي.که ابتدائی حالت نه وي.نوبیا منافات نشته.لکه یوکافرپه قید کي راوستې شي.اودې په غازیانوکي دیوکس په برخه کي راشي.نودې کافرغلام دې.که دغلامئ نه روسته ده اسلام قبول کړلو.نوبیا به هم غلام وي.ځکه چې دلته دغلامئ په اول کي اسلام نه دې راغلې.بلکه دهغې نه روسته راغلې.اوپه دې کي منافات نشته﴾

(وَأَوْلَادُهُ الصِّغَارُ) لِأَنَّهُمْ مُسْلِمُونَ بِإِسْلَامِهِ تَبَعًا (وَكُلُّ مَالٍ هُوَ فِي يَدِهِ)

ژباړه وتشريح:- «او ده محفوظ کړل په اسلام راوړلوسره» اولاد خپل ماشومان، ځکه چې هغوئ هم مسلمانان دي.په اسلام دده سره تبعاً «يعني هرکله چې په دارالحرب کي کافرمسلمان شو.نودده په اسلام سره دده نفس اومال ته ساتنه ملاؤ شو.اودغه ډول دده ماشومانو بچوته هم ساتنه ملاؤ شوځکه چې هغوئ په دين کي دده تابع دي.چه دې په کوم دين وي.په هغه دين به ئې اولاد هم وي.لکه نبي ﷺ چې فرمائيلي دي .هرماشوم په فطرة اسلامي پيدا کيږي.خودده موربلاردده نه يا يهودي يا نصراني يا مجوسي جوړ کړي.چه ځنګه ماحول کي پاتې شي.هم په هغه رنګ کي رنګ شي» اوهرهغه مال «ئې په خپل اسلام راوړلو سره محفوظ کړل» کوم چې دده په لاس «قبضه اوملکيت» کي وي.

لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ أَسْلَمَ عَلَى مَالٍ فَهُوَ لَهُ} و ([1]) لِأَنَّهُ سَبَقَتْ يَدُهُ الْحَقِيقِيَّةُ إِلَيْهِ يَدَ الظَّاهِرِينَ عَلَيْهِ

ژباړه وتشريح:- د امله د قول د نبي ﷺ نه چا چې اسلام قبول کړلوپه مال سره «يعني د اسلام په وخت کي دغه په ملکيت کي څه مال وو» نوهغه دده «په ملکيت کي باقي» دې. «ددغه مال نه په اسلام راوړلو سره دده ملکيت نه زائله کيږي.لکه ځنګه چې په اسلام راوړلوسره دده دخپلې مشرکې ښځې ملك نکاحي زائله کيږي» اوبله دا «يعني په اسلام راوړلوسره دده دمال محفوظ کيدو بل دليل دا دې» چه وړاندې شوې دې يدحقيقي دده «نومسلم» دې «مال» باندې د لاس د غلبه کونکو «غازيانو» نه، په دې «مال» باندې، «[illegible]ي په دغه مال باندې د نومسلم قبضه په هغه وخت کي راغلې وه.چه لا پرې دغازيانوغلبه نه وه راغلې. نو داسلام راوړلونه روسته به دغه مال هم دهغه په ملکيت کي پاته وي.ځکه چې د غازيانونه وړاندې دغه څيزدده په ملکيت کي موجود وو.اودغازيانو غلبه خوپرې روسته راغلې ده.خودې غلبې دغه مال دخپل مالك د مليکت نه اونه ويستل.ځکه چې دغلبې نه وړاندې هغه په خپل اسلام سره خپل مال محفوظ کړې وو»

(أَوْ وَدِيعَةً فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ) لِأَنَّهُ فِي يَدٍ صَحِيحَةٍ مُحْتَرَمَةٍ وَيَدُهُ كَيَدِهِ

ژباړه وتشريح:- اويا امانت وي «دا په ((يده)) باندې عطف دې.يعني ده په اسلام راوړلو سره دخپل هغه مال ساتنه اوکړلو. کوم چې دده په قبضه کي دې.اودغه ډول دهغه مال ساتنه ئې اوکړلو.کوم چې دده امانت پروت وي» په لاس د مسلمان يا ذمي کي ،ځکه چې دا «امانت» په صحيح لاس کي دې. «د مسلمان اوذمي لاس دې.يعني که يوکس دمسلمان يا ذمي سره څه څيزامانت کيږدي.نودغه امانت به محفوظ وي.ځکه چې حکومت د مسلمان اود ذمي د مال اوځان د ساتنه ذمه وار دې.نوکه دوئ ځان سره دچا څيزامانت کيږدي.په هغې باندې به ددوئ امانة قبضه صحيح وي» او «يد» محترم کي دې. «يعني دمسلمان سره ئې امانت کيخودې دې.اودمسلمان قبضه عندالشرع محترمه ده. اوحربي قبضه عندالشرع محترم نه ده» اوقبضه دده «يعني هرواحد که مسلمان وي اوکه ذمي» پشان دقبضه د ده «امانت کيخودنکې» ده. «نوګويا کوم کس سره چې امانت کيخودې شوې دې.هغه ددغه امانت په ساتنه کي د امانت کيخودنکې نائب دې.اوکوم حکم چې دمنوب وي.په وخت دعدم منوب کي هغه حکم د نائب وي»

د غلبې نه روسته د دارالحرب د زمکې حکم

(فَإِنْ ظَهَرْنَا عَلَى دَارِ الْحَرْبِ فَعَقَارُهُ فَيْءٌ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: هُوَ لَهُ لِأَنَّهُ فِي يَدِهِ فَصَارَ كَالْمَنْقُولِ.

حل اللغة: ① العقار. مځکه

ژباړه وتشريح:- «ابو الحسين قدوري رحمه الله» فرمائي.که موږ غالب شو په دارالحرب باندې، «او هغه مو

[1] من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أبويعلي الموصلي فس مسنده وابن عدي في الكامل (١٨٤١٧)_

قبضه كړلو﴾ نومځكه د هغه ﴿نومسلم﴾ مال فئ دي. ﴿ځكه چې ددغه نومسلم سره مقابله نه ده شوي.ځكه چې هغه دخپل اسلام د امله مسلمانانوسره جنګ نه دي كړي.يعني كله چې په دارالحرب باندې مسلمانان قبضه اوكړي. نو د دارالحرب د مسلمان مال منقول خومحفوظ شو.البته كوم مال چې غيرمنقول وي.لكه ځكه ، نوهغه محفوظ نه دي.بلكه هغه به داحنافو ﷺ په نيزمال فئ وي﴾ اوفرمائي شافعي ﷫ چې دغه ﴿ځكه يعني مال غيرمنقول﴾ دده ﴿نومسلم﴾ لپاره دي.ځكه چې هغه ﴿ځكه﴾ دهغه په قبضه كې ده.نود مال منقول پشان شو. ﴿يعني څنګه چې دمال منقول نه د نومسلم حربي ملكيت نه ختميږي.دغه ډول د غيرمنقول نه هم نه ختميږي﴾

وَلَنَا أَنَّ الْعَقَارَ فِي يَدِ أَهْلِ الدَّارِ وَسُلْطَانِهَا إِذْ هُوَ مِنْ جُمْلَةِ دَارِ الْحَرْبِ فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهِ حَقِيقَةً، وَقِيلَ هٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ الْآخَرُ.

حل اللغة: ① سلطان: غلبة ،قبضه

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ ﷺ لپاره دليل دا دي.چه ځكه په قبضه د ملك د خلګ وكې وي.اودهغې د بادشاه په قبضه كې وي.اودا ﴿سې زمكې اوباغونه﴾ هم من جمله دارالحرب نه دی. ﴿يعني په دارالحرب كې حسابيږي﴾ نونشوه ﴿ځكه د نومسلم﴾ په قبضه دده كې حقيقة ﴿بلكه په دارالحرب كې شوه.نوچه څه حكم د دارالحرب د زمكووی.هغه به ددې نومسلم د زمكې هم وی.يعني دا به د نومسلم په ملكيت كې پاته نه وی﴾اوويلې شوی دی چې دا قول ﴿چه د نومسلم ځكه به مال فئ وی﴾ دامام ابوحنيفه او ابويوسف ﷺ آخري قول دې.

وَفِي قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ الْأَوَّلُ هُوَ كَغَيْرِهِ مِنَ الْأَمْوَالِ بِنَاءً عَلَى أَنَّ الْيَدَ حَقِيقَةً لَا تَثْبُتُ عَلَى الْعَقَارِ عِنْدَهُمَا، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَثْبُتُ

ژباړه وتشريح:- اوپه قول دامام محمد ﷫ كې اودا ﴿قول دامام محمد﴾ ﷫ قول اول د امام ابويوسف ﷫ هم دي. ﴿يعني په ځكه باندې د نومسلم عدم ملكيت دشيخينومذهب دې.اودامام محمد ﷫ قول دا دې.چه دنومسلم په خپله ځكه قبضه برقرارپاتې كيږي.اودامام ابويوسف ﷫ اولنې قول هم دامام محمد ﷫ دقول پشان وو.چه دنومسلم په خپله ځكه ملكيت پاته پاتې كيږي.خوبيا روسته د امام ابوحنيفه ﷫ سره انډيوال شو.چه دنومسلم په خپله ځكه ملكيت پاته نه پاتې كيږي.امام محمد ﷫ وائي﴾ چې دا ﴿مال غيرمنقول﴾ پشان د نورو ﴿منقول مالونو﴾ دې.په دې بنا (بنياد) چې قبضه په حقيقت كې نه ثابتيږي په ځكه باندې په نيزد شيخينو ﷺ اوپه نيزدامام محمد ﷫ ثابتيږي. ﴿يعني په زيربحث مسئله كې چې د شيخينو ﷺ په نيز د نومسلم ځكه مال فئ دې.اودامام محمد ﷫ په نيزد نومسلم ملك دې.ددې مسئلې بنا (بنياد) دا اصولي اختلاف دې.چه دشيخينو ﷺ په نيز په مال غيرمنقول باندې حقيقي قبضه نه راځي. اودامام محمد ﷫ په نيزحقيقي قبضه راځي﴾

د نومسلم ښځه مال فئ دی

﴿وَزَوْجَتُهُ فَيْءٌ﴾ لِأَنَّهَا كَافِرَةٌ حَرْبِيَّةٌ لَا تَتْبَعُهُ فِي الْإِسْلَامِ ﴿وَكَذَا حَمْلُهَا فَيْءٌ﴾ خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ. هُوَ يَقُولُ إِنَّهُ مُسْلِمٌ تَبَعًا كَالْمُنْفَصِلِ.

ژباړه وتشريح:- اوښځه دده ﴿نومسلم مال﴾ فئ دې.ځكه چې دا كافره حربيه ده.تابع نه ده ددۀ په اسلام كې ، ﴿لكه څنګه چې ددې بال بچ دده تابع وی په اسلام كې﴾ اودغه ډول حمل ددې ﴿مال فئ دي﴾ خلاف ثابت دې ﴿په حمل كې﴾ دامام شافعي ﷫ هغوئ فرمائي.چه دې ﴿حمل﴾ مسلمان دې په تابعدارئ ﴿دپلار﴾ كې ،لكه څنګه چې په ولد منفصل كې دې. ﴿يعني امام شافعي ﷫ فرمائي.چه حمل دمسلمان پلارتابع دې.مال فئ نه دې. لكه څنګه چې كوم ماشومان اولاد چې پيدا شوی وی هغه د پلار تابع دی.اودمال فئ په حكم كې نه دی.دغه ډول حمل هم﴾

وَلَنَا أَنَّهُ جُزْؤُهَا فَيَرِقُّ بِرِقِّهَا وَالْمُسْلِمُ مَحَلٌّ لِلتَّمَلُّكِ تَبَعًا لِغَيْرِهِ

حل اللغة: ① جزء: حصه ② الرق: غلامي

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره دليل دا دي چه دي «حمل» جزء ددي «حربيه كافره» دي نودي به غلام وي په غلامئ د هغې سره، «يعني دا حمل چونكه د مورپه رحم كي دي دده جلا حيثيت نه دي بلكه د مور د بدن يوجزء دي نولكه څنګه چي مور وينځه ده دغه ډول به ددي دا جزء چي حمل دي به هم مملوك وي اوچه مملوك شو نومال فئ به حسابيږي» او «پاته امام شافعي رحمه الله كه دا وائي چه دا حمل دپلار د تبعيت د امله مسلمان دي نودي مملوك نشي كيدي نودهغې نه ځواب دا دي چه» مسلمان محل دمملوكيت دي په تابعدارئ د بل كي ، «يعني دا صحيح ده چه داصل په اعتبارسره مسلمان غلام اومملوك نشي جوړيدي خو بالتبع مملوك جوړيدي شي لكه ګورئ كله چي مسلمان د بل چا د وينځې سره نكاح اوكړي نودهغې نه چي كوم ماشوم پيدا شي نود مور د تبعيت د امله هغه مملوك وي اود پلار داسلام د امله هغه مسلمان وي نوګوره په دې ځائي كي مسلمان مملوك جوړ شو په تبعيت د موركي ،نودغه ډول په زيربحث مسئله كي هم»

بِخِلَافِ الْمُنْفَصِلِ لِأَنَّهُ حُرٌّ لِانْعِدَامِ الْجُزْئِيَّةِ عِنْدَ ذَلِكَ (وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَيْءٌ) لِأَنَّهُمْ كُفَّارٌ حَرْبِيُّونَ وَلَا تَبَعِيَّةَ

ژباړه وتشريح:- په خلاف د منفصل «دا داامام شافعي رحمه الله د قياس نه ځواب دي هغوئ دا فرمائيل چه كوم اولاد پيدا شوي وي نوهغه د پلار د تبعيت د امله مال فئ نه دي نودغه ډول به حمل هم دپلار دتبعيت د امله مال فئ نه وي نوهغه قياس نه ځواب وركوي چه په خلاف د پيدا شوي اولاد» څكه چي دغه منفصل «مستقل حيثيت لري او» آزاد دي د امله د نشتوالي د جزئيت نه په دغه وخت د زيږيدل كي «يعني كله چي دي د مور نه پيدا شو نواوس دمورسره دجزئيت تعلق ختم شو ګورئ نه چي د مور په مرګ سره دي نه مري اودده په مرګ سره مورنه مري نومعلومه شوه هغه د رحم د زماني جزئيت پاته پاتي نه دي» اودده «نومسلم» بالغ اولاد مال فئ دي څكه چي دوئ كافران حربيان دي او «دپلار» تابع نه دي. «ددي امله دپلار داسلام په وجه په دوئ داسلام حكم نشي لګولي»

(وَمَنْ قَاتَلَ مِنْ عَبِيدِهِ فَيْءٌ) لِأَنَّهُ لَمَّا تَمَرَّدَ عَلَى مَوْلَاهُ خَرَجَ مِنْ يَدِهِ فَصَارَ تَبَعًا لِأَهْلِ دَارِهِمْ

حل اللغة: ① التمرد: سركشي كول

ژباړه وتشريح:- اوهغه چاچه جنګ اوكړلو «دمسلمانانوغازيانوسره» په غلامانودده «نومسلم» كي ، نوهغه مال فئ دي څكه چي ده هركله سركشي اوكړله په خپل مولي باندي، «اودهغه مقابله ته راوتل،يا ئې دهغه مخالفت اوكړلو» نواووتل دلاس دده نه،نواوګرځيدلو «دغه غلام» تابع د اوسيدونكو دملك خپل «چه دارالكفر دي اوهغوئ كافران قابل د استرقاق دي نودي به هم قابل د استرقاق وي»

دنومسلم دحربي كافرسره دپروت امانت حكم

(وَمَا كَانَ مِنْ مَالِهِ فِي يَدِ حَرْبِيٍّ فَهُوَ فَيْءٌ) غَصْبًا كَانَ أَوْ وَدِيعَةً لِأَنَّ يَدَهُ لَيْسَتْ بِمُحْتَرَمَةٍ

ژباړه وتشريح:- اوهغه چي وي د مال دده «نومسلم» نه په لاس د حربي «كافر» كي ،نوهغه مال فئ دي «په غازيانوبه تقسيمولي شي» كه غصب وي اوكه امانت وي. «يعني حربي د دې نومسلم نه په زور اخستي وي اوكه ده ورسره بطورامانت كيخودي وي په دواړو صورتونوكي مال فئ دي» څكه چي لاس «قبضه» دده «حربي» نه دي محترم «لكه دمسلمان لاس اوقبضه چي محترمه ده نوهركله چي محترم نه دي نوددي نو مسلم مال معصوم پاتي نشو اودجنګ نه روسته ملك په مال معصوم باندي پاتي [illegible]لم ملك نه زائله كيږي څكه چي وراندي تير شو كه د نومسلم مال ديومسلمان يا ذمي سره امانت پروت وي نودهغې نه كيږي څكه چي د مسلمان اوذمي قبضه محترمه ده»

دنومسلم د مسلمان يا ذمي سره د مال مغصوبه حكم

(وَمَا كَانَ غَصْبًا فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ فَهُوَ فَيْءٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.[1] وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَكُونُ فَيْئًا) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ رَحِمَهُ اللهُ: كَذَا ذَكَرَ الِاخْتِلَافَ فِي السِّيَرِ الْكَبِيرِ. وَذَكَرُوا فِي شُرُوحِ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ قَوْلَ أَبِي يُوسُفَ مَعَ مُحَمَّدٍ.

ژباړه وتشريح:- اوهغه چې وى ﴿مال﴾ مغصوبه په لاس ﴿قبضه﴾ د مسلمان يا ذمي كي، ﴿يعنى چې مسلمان يا ذمى د نومسلم نه غصب كړې وى﴾ نوهغه ﴿مال﴾ فئ دې په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائى امام محمد رحمه الله نه دې ﴿مال﴾ فئ،وائى بنده ضعيف ﴿صاحب دهدايه﴾ رحمه الله دغه ډول ذكركړې دې امام محمد رحمه الله اختلاف په سيركبير ﴿نوم كتاب خپل﴾ كي، او ذكركړې دي ﴿شارحينړد جامع صغير﴾ په شرح دجامع صغيركى ،قول د امام ابويوسف رحمه الله د قول د امام محمد رحمه الله سره.

لَهُمَا أَنَّ الْمَالَ تَابِعٌ لِلنَّفْسِ، وَقَدْ صَارَتْ مَعْصُومَةً بِإِسْلَامِهِ فَيَتْبَعُهَا مَالُهُ فِيهَا.

ژباړه وتشريح:- ﴿دشرح جامع صغيرد روايت په بناچه دصاحبينو رحمهما الله مذهب يوشي.نو﴾ دصاحبينو رحمهما الله لپاره دليل دا دې.چه مال تابع د نفس دې.اواوګرځيدلو نفس معصوم په اسلام سره ﴿ځكه چې اسلام خپل منونكى ته د مال اوجان ساتنه وركوى﴾ نوتابع به شى ورسره مال په دې ﴿معصوميت﴾ كي، ﴿نولكه څنګه چې نفس معصوم دې.نودغه ډول به مال هم معصوم وى.نوكه غصب وى هم به ترې د نومسلم ملك نه زائله كيږى.بلكه دده په ملكيت كښې به برقراروى.نوچه دده مملوك شو.مال فئ نشو﴾

وَلَهُ أَنَّهُ مَالٌ مُبَاحٌ فَيُمْلَكُ بِالِاسْتِيلَاءِ وَالنَّفْسُ لَمْ تَصِرْ مَعْصُومَةً بِالْإِسْلَامِ، أَلَا تَرَى أَنَّهَا لَيْسَتْ بِمُتَقَوِّمَةٍ

حل اللغة: ① **الاستيلاء**:غلبهٔ كول ② **معصومة**:محفوظ ③ **متقومة**:هغه څيز چې د قيمت لائق وى

ژباړه وتشريح:- اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دا ﴿مال مغصوبه په لاس د مسلم يا ذمى كي﴾ مال مباح دې. ﴿ځكه چې مال معصوم نه دې.اوكوم مال چې غيرمعصوم وى.نوهغه مباح وى.اوپه استيلاء اوغلبې سره په هغې باندې ملكيت راځى.نودغازيانو لپاره مال فئ شو﴾ اونفس نه ګرځى معصوم په اسلام دده ﴿نو مسلم﴾ سره، ﴿دا دصاحبينو رحمهما الله ددليل نه ځواب دې.هغوئ دا فرمائيلى وو .چه ((أن المال تابع للنفس وقدصارت معصومة بالإسلام فيتبعه ماله فيها)) نوامام ابوحنيفه رحمه الله ورته ځواب وركوى.چه موږ دا نه منو.چه نفس په اسلام راوړلوسره معصوم اوګرځيدلو .بيا ئې دا دې﴾ ته نه ګورې چې دا ﴿نفس﴾ نه دې ﴿مال﴾ متقوم، ﴿ځكه چې عصمت متقومه نه ثابتيږى.مګرپه دارالاسلام كي ،اوده خوپه دارالحرب كي اسلام قبول كړې دې.نوددې أمله دده نفس معصوم متقوم نه دې.اوپه دې باندې دليل چې په دارالحرب كي په اسلام راوړلوسره نفس متقومه نه ګرځى.دا دې.كه مسلمان دا نومسلم په دارالحرب كي په قصد يا په خطاء قتل كړى.نوپه مسلمان باندې د قصدپه صورت كي قصاص اودخطاء په صورت كي ديت نه واجبيږى.البته دومره ده. چې داسې هم نه ده.چه په دارالحرب كي دنومسلم نفس بيخى غيرمعصوم دې. او غير متقوم دې﴾

إِلَّا أَنَّهُ مُحَرَّمُ التَّعَرُّضِ فِي الْأَصْلِ لِكَوْنِهِ مُكَلَّفًا وَإِبَاحَةُ التَّعَرُّضِ بِعَارِضِ شَرِّهِ وَقَدْ انْدَفَعَ بِالْإِسْلَامِ،

ژباړه وتشريح:- البته دومره ده. ﴿دا په اصل كي د يوتقديرى سوال ځواب دې.سوال دا دې.كه چيرته د نومسلم نفس غيرمعصوم وو.نوپكاردا ده.چه دده نفس ته تعرض كول جائزوو.لكه څنګه چې د حربى نفس ته تعرض كول اوپه هغه باندې چور كول جائزدى.نوددې نه ځواب كوى.اود نومسلم او كافر حربى دنفس په معصوميت كي توپير بيانوى﴾ چې دې ﴿نومسلم﴾ حرام دې تعرض كول ﴿نفس دده ته﴾ په نفس الامر كي، د امله

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۵\۲۳۳) وردالمحتار(۳\۲۵۵) والهندية (۲\۲۱۲) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۸۳)-

د کيدو دده ﴿نومسلم يا د مطلق انسان﴾ مکلف ﴿په احکامو دشريعت.اوځکه مکلف دي چې انسان ددې لپاره پيدا شوي دې.چه دالله تعالى احکامات پوره کړي.اودالله تعالى داحکاماتو پوره کاوه لپاره د بقاء اوژوند ارتيا دي.اوديوکس د بقاء اوژند لپاره دا ضروري ده.چه ده ته عصمت او ساتنه حاصل وی. او تعرض کول ورته حرام وی.اوپه کوم صورت کي چې دده نفس ته تعرض کول جائزدی.نودهغې بيان کوی﴾ او اباحت د تعرض ﴿نفس دکافرته.يعني په حربي کافرباندې چې چور کول مباح کرخولې شوه ده﴾ لپاره د دفع کولود شر دده ﴿حربي کافر﴾ اوهغه ﴿شر﴾ دفع شوپه اسلام قبلولوسره، ﴿يعنى دکافرنفس ته تعرض کول ځکه مباح دی.چه مسلمانانوته دده د شرخطره وه.اوهرکله چې په اسلام راوړلوسره دده د شرخطره ختمه شوه.نوته تعرض کول هم ختم شو﴾

بِخِلَافِ الْمَالِ، لِأَنَّهُ خُلِقَ عُرْضَةً لِلِامْتِهَانِ فَكَانَ مَحَلًّا لِلتَّمَلُّكِ وَلَيْسَتْ فِي يَدِهِ حُكْمًا فَلَمْ تَثْبُتِ الْعِصْمَةُ.

حل اللغة: ① الامتهان: خرچ کول

ژباړه وتشريح:- اوپه خلاف د مال ﴿يعنى مال معصوم نه دی﴾ ځکه چې دا پيدا شوې دې لپاره د خرچ کولو ﴿په ډول ډول (قسم قسم) مصارفوکي﴾ نوشو ﴿دا مال﴾ محل لپاره دملکيت دې. ﴿يعنى په مال مغصوبه باندې د مسلمان اوذمي ملکيت راځي.ځکه چې دا مال چونکه په دارالحرب کي دې.نومباح دې.اوپه مال مباح چې د چا استيلاء اوغلبه راشي.دهغه شي﴾ اونه دې په لاس د ده ﴿نومسلم کي﴾ حکماً ﴿بلکه د غاصب په لاس کي دې .يعني دنومسلم مال کوم چې مسلمان يا ذمي غصب کړې دې.لکه څنګه چې دا په ظاهره د نومسلم په لاس اوقبضه کي نه دې.دغه ډول دحکم په اعتبارسره هم دده په لاس کي نه دې.دحکم په اعتبارسره د کيدومطلب دا دې.چه ظاهراً دده په قبضه کي نه وی.خوده ته د هغې د اخستلو اختيارحاصل وی.لکه يوکس په بينك کي پيسې جمع کړی.نواګرچه دغه پيسې دده په.قبضه کي نه دی.ليکن حکماً دده پيسې دی.ځکه چې دې ئې ترې واپس اخستې شی.﴾ نو ثابت نشو عصمت ﴿د نومسلم د مال،ځکه چې په دارالحرب کي مال غيرمعصوم وی. نوپه هغې باندې د غاصب ملکيت ثابت شو.اودا داسې شوه.لکه چې هغه په يومباح څيزباندې قبضه کړې ده.ددې امله په دغه مال د نومسلم ملکيت پاته پاتې نشو﴾

د دارالحرب نه په وتلوسره د مال غنيمت جائزالاستعمال څيزونه حرام ګرځيدل

(وَإِذَا خَرَجَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ لَمْ يَجُزْ أَنْ يَعْلِفُوا مِنَ الْغَنِيمَةِ وَلَا يَأْكُلُوا مِنْهَا) لِأَنَّ الضَّرُورَةَ قَدِ ارْتَفَعَتْ، وَالْإِبَاحَةُ بِاعْتِبَارِهَا،

ژباړه وتشريح:- اوکله چې اوځی مسلمانان د دارالحرب نه نونه دی جائز چې ګياه ورکړی ﴿خپلوخاروته﴾ د مال غنيمت نه،او ﴿نه دی جائز﴾ چې خوراك اوکړی دهغې نه ځکه چې ارتيا ختم شواوپه ﴿دارالحرب کي د دې څيزونودخوراك﴾ اباحت ددې ﴿ضرورت﴾ په وجه وو.

وَلِأَنَّ الْحَقَّ قَدْ تَأَكَّدَ حَتَّى يُوَرَّثَ نَصِيبُهُ وَلَا كَذٰلِكَ قَبْلَ الْإِخْرَاجِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ

ژباړه وتشريح:- او(د دې دليل په وجه هم چې په مال غنيمت کنبې د مسلمانانو) حق نور هم مضبوط شوي دې (او د دې مضبوطتيا دليل دا دې چه) تردې چې (که په دې غانيمنو کنبې څوک وفات شو نو) ميراث به اوړی (وارث د دغه مړی چې غانم دې) د حصي دده (مړی چې غانم دې) اونه دې (دا حکم د ميراث اوړو) وړاندې د ويستلو (د مال غنيمت ددارحرب نه) دار اسلام ته (تردې که دغه غانم په دارحرب کنبې وفات شوې وې نو د ده وارثانو د ده نه ميراث نشو اوړلې)

(وَمَنْ فَضَلَ مَعَهُ عَلَفٌ أَوْ طَعَامٌ رَدَّهُ إِلَى الْغَنِيمَةِ) مَعْنَاهُ إِذَا لَمْ تُقْسَمْ. وَعَنِ الشَّافِعِيِّ مِثْلُ قَوْلِنَا. وَعَنْهُ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ اعْتِبَارًا بِالْمُتَلَصِّصِ.

[illegible]يح:- اوهه څوک چې زياتي شی د هغه سره څه ګياه يا د خوراک څيز نو هغه به واپس کوی مال

غنیمت ته (یعنی په دارالحرب کي د مال غنیمت نه د خوراك څه څیزاخستي وي.اودارالاسلام ته داخل شواولا ویش د مال غنیمت نه وی شوي.نوکه په هغه خوراك کي ده سره څه پاته وي.هغه به په مال غنیمت کي جمع کوي) اودامام شافعي رحمه الله نه (یو روایت) پشان د قول زمونږ دي.اوددوی نه (دویم) روایت دا دي.چه دا (پاتي شوي طعام اوګیاه) به نه واپس کوي.مال غنیمت ته) د امله د قیاس نه په غل باندي (یعنی.چه یوکس دامام د اجازت نه بغیر دارالحرب ته لاړ شي.اوهلته د چا نه څه شی پټ کړي.اوبیا دارالاسلام ته راشي.نودغه شی دده نه نشي اخستي.چه په بیت المال کي جمع کړې شي.بلکه دغه شی هم د هغه ملکیت دي.نودغه ډول په زیر بحث مسئله کښي هم بچ شوي مال به مال غنیمت ته نه واپس کوي)

وَلَنَا أَنَّ الِاخْتِصَاصَ ضَرُورَةُ الْحَاجَةِ وَقَدْ زَالَتْ، بِخِلَافِ الْمُتَلَصِّصِ، لِأَنَّهُ كَانَ أَحَقَّ بِهِ قَبْلَ الْإِحْرَازِ فَكَذَا بَعْدَهُ،

حل اللغة: ① **المتلصص**: غلا کونکي ② **الاحراز**: محفوظ کول

ژباړه وتشریح:- او زمونږ لپاره دلیل دا دي.چه اختصاص (یعنی په دارالحرب کي چي د مال غنیمت نه یو څیزدیوکس لپاره خاص شوي وي.اوهغه تري فائده اخستي شوه) نو هغه د اړتیا دحاجت د امله وو. (یعني هغه شی ته حاجت وو.ځکه ددغه کس لپاره په خصوصیت سره د هغي نه فائده اخستل جائز وو) اویقینا ختم شو اړتیا (ځکه چي اوس خو دارالاسلام ته واپس شو.دا خپل وطن دي.سړي په کي خپل ضروریات دمال غنیمت نه بغیر هم پوره کولی شي) په خلاف د متلصص (یعنی دامام شافعي رحمه الله په متلصص باندي قیاس کول صحیح نه دی.وجه ئي دا ده.چه په مقیس او مقیس علیه کي توپیر دي) ځکه چي هغه حقدار ووده هغي مسروقه شی وړاندي د ساتنه نه (په دارالاسلام سره) یعنی په کوم وخت کي چي متلصص په دارالحرب کي غلا اوکړله.نوپه دغه مسروقه شی باندي د هغه قبضه راغله.او دي ددغه شی مالك شو.ځکه چي په دارالحرب کي چي د حربی کافر نه یو شی غلا کړي شی.او غلا تري یوداسي مسلمان اوکړي.چه نه امیرد جهاد لپاره لیږلي وي.اونه ده په خپله د مال غنیمت په نیت باندي د هغه نه اخستي وي.نودغه مال غنیمت نه دي.نوچه مال غنیمت نشو.دهغه ملکیت پرې ثابت شو.اوکوم کس چي د اړتیا په وجه په دارالحرب کي د خوراك ځکاك شی اخستي وي.هغه د اړتیا په وجه په دارالحرب کي د هغي مالك جوړ شوي وو.نوچه کله دارالاسلام ته راغلو..نوهغه اړتیا ختم شو.اوچه اړتیا ختم شو.نوملکیت هم ختم شو.ځکه چي ((الضرورة تقدر بقدر الضرورة)) نودمال غنیمت د مسئلي قیاس په متلصص باندي قیاس مع الفارق شو.اودا صحیح نه دی)

وَبَعْدَ الْقِسْمَةِ تَصَدَّقُوا بِهِ إِنْ كَانُوا أَغْنِيَاءَ، وَانْتَفَعُوا بِهِ إِنْ كَانُوا مَحَاوِيجَ لِأَنَّهُ صَارَ فِي حُكْمِ اللُّقَطَةِ لِتَعَذُّرِ الرَّدِّ عَلَى الْغَانِمِينَ

حل اللغة: ① **اغنیاء**: جمع د غني ده توانګر ② **محاویج**: جمع د محتاج ،ضرورتمند ③ **اللقطة**: هغه څیزچه د لارې نه راوچت کړې شوی وی

ژباړه وتشریح:- اوپس دویش نه دي صدقه کړي دغه (زیاتي شوي خوراك اوګیاه) که وی (دغه غازیان) شتمن ،اوفائده دي اخلی دهغي نه که وی محتاجان، (یعنی کله چي دارالاسلام ته داخل شی.اوویش د غنیمت اوشی.اوپس ددي نه دوئ چي خپل سامان اوګوري.نوپه هغي کي بعضي دهغه څیزونونه راپیدا شی .کوم چي دوئ په دارالحرب کي د اړتیا په موقع اخستي وو.نوکه توانګر وی.هغه دي صدقه کړی.اوکه غریبان وی.نوپه خپل استعمال کي دي راولی.ځکه چي دوئ په خپله د صدقه مصرف دی) ځکه چي دغه مال (اخستي شوي په دارالحرب کي اوپاته بچ شوي روسته دویش نه روسته دارالاسلام کي) اوګرځیدلو په حکم د لقطه کي ، (یعنی هغه څیزچه په لارکي پروت وی.اوڅوك ئي راوچت کړی.یعنی لکه څنګه چي د تشهیراواعلان نه روسته که ملتقط دلقطه مستحق وی.په خپله تري فائده اخلی.اوکه مستحق نه وی.بلکه مالداروی.نوپه ده باندي دلقطه صدقه کول واجب دی.دغه ډول زیربحث مسئله هم ده) د امله د تعذر د

واپس كاوه نه خپلو مالكانوته، ﴿ځكه چې هغوئ خپاره واره شوی دی.اوبله دا چې په دې لړ غونډې ځيزكې د ټولوغازيانوحصه ده.نودا به چاچاته ورکولې شي!﴾

وَإِنْ كَانُوا انْتَفَعُوا بِهِ بَعْدَ الْإِحْرَازِ تُرَدُّ قِيمَتُهُ إِلَى الْمَغْنَمِ إِنْ كَانَ لَمْ يُقْسَمْ، وَإِنْ قُسِمَتِ الْغَنِيمَةُ فَالْغَنِيُّ يَتَصَدَّقُ بِقِيمَتِهِ وَالْفَقِيرُ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ لِقِيَامِ الْقِيمَةِ مَقَامَ الْأَصْلِ فَأَخَذَ حُكْمَهُ.

ژباړه وتشريح:- اوکه وی دوئ چې فائده ئې اخستې وی دهغې ﴿دخوراك ځيز﴾ نه،پس د محفوظ کيدونه ﴿په دارالاسلام كې داخليدوسره﴾ نوواپس کوی به قيمت دهغې ﴿استعمال شوی ځيز﴾ مال غنيمت ته که ويش نه وی شوې. ﴿مثلاً يو سير غله وه.هغه ئې خوړلې وه.نود يو غلې چې څه قيمت کېږي هغه به مال غنيمت كې جمع کړی﴾ اوکه ويش شوي وی مال غنيمت،نومالدار دې دهغې په قيمت صدقه اوکړي. ﴿اوقيمت به ئې ځکه صدقه کوی.چه دغه ځيزدغازيانوحق وو.خوچونکه مال غنيمت ويش شوي دې.او اوس دغه لړ ځيزټولوغازيانوته نشی رسيدې.نودهغې قيمت دې صدقه کړی﴾ اوفقيرچه دې نشته څه ځيزپه هغه باندې،د امله دقيام د قيمت نه په ځائې داصل ﴿دا تعليل دې ددې لپاره چې کله اصل شی خوړلې شوې وی.نوقيمت ورکول ئې ولې پکاردی.نومصنف رحمه الله دهغې وجه بيانوی.چه دلته يواصل ځيزدې.کومه غله ده.اوبل دهغې قائم مقام دې.چه قيمت دې.نوچه اصل يعنی غله نشته.نوقيمت دهغې قائم مقام شو﴾ او وائې اخستلو حکم د اصل، ﴿نودقيمت صدقه کول داسې شو.لکه چې هغه ځيزئې صدقه کړلو﴾

د ويش طريقه

(فَصْلٌ فِي كَيْفِيَّةِ الْقِسْمَةِ) قَالَ (وَيَقْسِمُ الْإِمَامُ الْغَنِيمَةَ فَيُخْرِجُ خُمُسَهَا) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ} اسْتَثْنَى الْخُمُسَ (وَيَقْسِمُ الْأَرْبَعَةَ الْأَخْمَاسِ بَيْنَ الْغَانِمِينَ) {لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ} ([1])

ژباړه وتشريح:- فصل دې په بيان د طريقې د تقسيم ﴿دمال غنيمت﴾ فرمائي ﴿ابو الحسين قدوری رحمه الله﴾ اوويش به کړی امام مال غنيمت،نواوبه باسی ﴿دټولونه اول﴾ پنځمه برخه د هغې، ﴿مال غنيمت﴾ نه،د امله د قول دالله تعالى نه، ﴿پوهه شئ چې کوم ځيزتاسوغنيمت کړئ﴾نو دالله تعالى لپاره ده پنځمه برخه د هغې اودهغه د رسول دپاره.استثناء کړې ده الله تعالى دپنځمه حصې، ﴿نوچه پنځمه برخه ترې لاره شی.پاته پاتې شوې څلورحصې﴾ اوويش به کړی ﴿باقی﴾ څلورحصې په منځ د غازيانو كې ، ځکه چې نبی ﷺ ويش کړې وو مال غنيمت ﴿يعنی ددې څلورحصې﴾ په منځ د غازيانوكې ،

دفارس اوراجل دحصوتفصيل

(ثُمَّ لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى ([2]) (وَقَالَا: لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ) وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى، لِمَا رَوَى ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَسْهَمَ لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمًا} ([3])

حل اللغة: ① سهم: حصه ② فارس: د اس سور

ژباړه وتشريح:- بيا لپاره د فارس ﴿چه په جهادكې ئې دخپل اس سره برخه اخستې وی﴾ او لپاره د راجل ﴿چه صرف دې په جهادكې شريك شوې وی﴾ يوه برخه ده په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائی صاحبين رحمهما الله چې د

---

[1]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما مجمع الزوائد للهيثمي رحمه الله (٣٤٠١٥)_

[2]) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا فى الخانية (٤٦٣\٤) وردالمحتار(٢٥٦\٣) والبحرالرائق (٨٨\٥)نقلاً عن القول الراجح (٤٨٤\١)-

[3]) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاري فى الجهاد باب ٥١ ومسلم فى الجهاد رقم ٥٧ وأبوداود فى الجهاد باب ١٤٣ رقم ٢٧٣٣ والترمذی فی السير باب ٦ وابن ماجه فى الجهاد رقم ٢٨٥٤ وأحمد فى المسند (٢٢)_

فارس لپاره درې برخې دی.اودا «او د درې حصو» قول دامام شافعي دې. «ربونقلي دليل دې.دهغې بيان دا دې» د امله دهغه حديث نه چې روايت ئې كړې دې ابن عمر رض چې نبیﷺ مقرركړې وې لپاره د فارس درې حصې،او لپاره د راجل يوه حصه،

وَلِأَنَّ الِاسْتِحْقَاقَ بِالْغَنَاءِ وَغَنَاؤُهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَمْثَالِ الرَّاجِلِ، لِأَنَّهُ لِلْكَرِّ وَالْفَرِّ وَالثَّبَاتِ، وَالرَّاجِلُ لِلثَّبَاتِ لَا غَيْرُ.

حل اللغة: ① الكر: واپس كيدل ② الفر: منډه وهل ③ الثبات: ثابت قدم پاتې كيدل

زياده وتشريح:- «او بل عقلي دليل دا بيانوي» اوځكه چې استحقاق «د غنيمت» راځي په كفايت باندې، اوكفايت د ده «فارس» په درې چنده د راجل دې. «يعنی چه د جهادی ضروريا توكفايت اوكړي» اوكفايت د ده «فارس» په درې چنده د راجل دې. «يعنی چه د جهادی ضروريا توكفايت اوكړي» نوفارس دهغې په درې برخې قرباني وركوي.يويه درې چنده د راجل چې څومره قرباني په جهاد كې وركوي.نوفارس دهغې په درې برخې قرباني وركوي.يويه درې چنده د كفايت تفصيل دا دې«ځكه چې دې «فارس عمل كوي» لپاره د واپس كيدو،اومنډې اوثابت پاتې كيدووي. «يعنی دې درې كارونه كولې شي.مجاهد پرې د دارالحرب نه دارالاسلام ته واپس راتلې شي.په دشمن پسې منډې هم وهلې شي.اوپه ډګر جنګ كې داس سربيره د سپرلۍ په حالت كې مقابله كولې شي.نودا درې كارونه شو.ځكه د درې حصوحقداردې»

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى مَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ وَالرَّاجِلَ سَهْمًا} (١) فَتَعَارَضَ فِعْلَاهُ، فَيُرْجَعُ إِلَى قَوْلِهِ وَقَدْ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ} (٢)

زياده وتشريح:- اودامام ابوحنيفه رحمه الله لپاره دليل هغه حديث دې.چه روايت ئې كړې دې ابن عباس رض چې نبیﷺ وركړې وې فارس ته دوې [دوه] حصې،اوراجل ته يوه حصه، «نودې حديث نه دا معلومه شوه.چه دفارس دوې [دوه] برخې كيږي.اود وړاندينی حديث نه معلومه شوې وه.چه د فارس درې برخې كيږي.خودواړه فعلي حديثونه دی.يعنی د نبیﷺ دفعل ذكرپه كې دې.قول نشته» نومتعارض شو دوې [دوه] فعلونه د نبیﷺ «اوكله چې د نبیﷺ دوې [دوه] فعلي احاديث متعارض شي.نوبيا قاعده دا ده.چه قولي حديث ته رجوع كولې شي.نوچه قولي حديث د كوم مؤيد وی.په هغه حديث عمل كولې شي.نواوس په دې مقام كې هم دغه قاعده باندې عمل كولې شي.اوهغه داسې چه» رجوع به كولې شي قول د نبیﷺ «چه د نبیﷺ قول دكوم عمل مؤيد دې» اويقيناً فرمائيلی دی نبیﷺ دفارس لپاره دوې [دوه] حصې دی اود راجل لپاره يوه برخه ده.

كَيْفَ وَقَدْ رُوِيَ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَسَمَ لِلْفَارِسِ سَهْمَيْنِ} (٣) وَإِذَا تَعَارَضَتْ رِوَايَتَاهُ تَرَجَّحَ رِوَايَةُ غَيْرِهِ،

زياده وتشريح:- اوځنګه به شی داسې. «يعنی صاحبينو رحمهما الله چې دحضرت ابن عمر رض په روايت باندې استدلال كړې دې.نودغه استدلال به ځنګه صحيح شي.حالانكه» يقيناً روايت كړې شوې دې دابن عمر رض نه چې نبیﷺ مقرر كړې وې دفارس لپاره دوې [دوه] برخې اود راجل لپاره يوه حصه، «اود اصول حديث دا قانون دې.چه كله د يو راوی دوې [دوه] روايتونه متعارض شي.نود بل راوی حديث ته به ګورو.چه هغه دكوم مؤيد وی.په هغې به عمل كولې شي.نودغه ډول په دې مقام كې هم» كله چې متعارض شول دواړه روايتونه دده «ابن عمر رض» نو ترجيح به وركولې شي.روايت د بل «صحابی» ته،

١) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب من حديث ابن عباس رضي الله عنهما وفي الباب أحاديث منها حديث مجمع بن جارية رضي الله عنه ... وفيه فأعطى الفارس سهمين وأعطى الراجل سهماً أخرجه أبوداود في الجهاد باب ١٤٣ رقم ٢٧٣٦)۔
٢) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب جداً وأخطأ من عزاه لابن أبي شيبة وسيأتي لفظه في الحديث الذي بعد هذا (نصب الراية ٣/٤٣٢)۔
٣) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه والدارقطني في سننه (٤/١٠٦) رقم ١٩)۔

وَلِأَنَّ الْكَرَّ وَالْفَرَّ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ فَيَكُونُ غَنَاؤُهُ مِثْلَ غَنَاءِ الرَّاجِلِ فَيُفَضَّلُ عَلَيْهِ بِسَهْمٍ وَلِأَنَّهُ تَعَذَّرَ اعْتِبَارُ مِقْدَارِ الزِّيَادَةِ لِتَعَذُّرِ مَعْرِفَتِهِ فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى سَبَبٍ ظَاهِرٍ، وَلِلْفَارِسِ سَبَبَانِ النَّفْسُ وَالْفَرَسُ، وَلِلرَّاجِلِ سَبَبٌ وَاحِدٌ فَكَانَ اسْتِحْقَاقُهُ عَلَى ضِعْفِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې واپس راتګ اومنډه وهل دواړه د يوجنس نه دی. «دا د صاحبينو رحمهما الله دعقلي دليل نه ځواب دې.هغه دا چې دوی فرمائيلی وو.چه فارس درې کارونه کوی.واپس راتګ ،منډه وهل اوپه ډګر جنګ کي ثابت پاتې کيدل،نودلتـه ځواب ورکوی.چه واپس راتګ اومنډه وهل دواړه د يوجنس عمل دې.په عرف کي هم دې ته دوې [دوه] عمله نشی وئيلې.نوهرکله چې واپس راتګ اومنډه وهل دواړه يوعمل شو.نويوعمل بل پاتـه شو.چه په ډګر جنګ کي ثابت پاتې کيدل.اوپه دوو عملونوباندې ترتب د دوو برخو کيږی .نومعلومه شوه.چه د فارس دوې [دوه] حصې کيږی»نوکيږی کفايت دده«فارس» پشان کفايت د راجل، نو پورتـه بـه وی «فارس» په راجل باندې،په يوه برخې سره،اوبله دا چې متعذردی حساب کول دزياتی مقتدار،د امله د تعذر د پيژندګلو ددغـه مقدار، «يعنی دا ممکن نه ده.چه دا اوپيژندې شی.چه راکب د راجل په مقابله کي څومره زياته قربانی ورکړې ده.ځکه چې ددې زيادت پته په وخت د منډې، چور کولو،دووصفونويوبل ته مخکی کيدو،په وخت کي لګی.چه راکب د راجل په مقابله څومره قربانی اومړانه اوخودله.حالانکه په دې وختونوکي هريوکس که راجل دې اوکه فارس په خپل کارکي دومره بوخت وی.چه ده ته دا فرصت نـه ملاويږی.چه دده مړانه اوقربانی د فارس نـه څومره کمـه ده.اود راجل نـه څومره زياتـه ده» نودارمدار دحکم بـه «چه د حصوويش دې» پـه سبب ظـاهری بانـدې وی. «اوس چې مـوږ سبب تـه ګورو.نو» د فـارس لپـاره دوې [دوه] سببونه دی.يونفس اوبل اس،او راجل لپـاره يوسبب دې.چه دده ځان وی.چه سبب داستحقاق موجود وی. نوکه سبب يو وی.خوحصه به هم يوه.اوکه سبب دوې [دوه] وی.نوحصې به هم دوې [دوه] وی.چه فارس ته موږ نظر اوکړلو .نودلته په مال غنيمت کي دحصې اوړلو لپاره دوې [دوه] سببونه موجود دی.يود فارس ذات اوبل دده اس،نودې د دو حصومستحق شو.اوپـه راجل کي صرف يوسبب دې.چه خود دده ذات په جهاد کي شريك شوې دې. نوده ته به يوه برخه ملاويږی»

غازته د اس د حصې برابرحصه ملاويدل

وَلَا يُسْهَمُ إلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ) (١) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُسْهَمُ لِفَرَسَيْنِ، لِمَا رُوِيَ {أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْهَمَ لِفَرَسَيْنِ} (٢) وَلِأَنَّ الْوَاحِدَ قَدْ يَعْيَا فَيَحْتَاجُ إلَى الْآخَرِ،

حل اللغة: ① يعي:ستړې کيږی

ژباړه وتشريح:- اونـه بـه شی ورکولې «هغـه غـازی تـه چې پـه جهـاد کي نې دوې [دوه] اسونه شريك وی مګرحصه ديواس «نوتولې بـه ده تـه دوې [دوه] برخې ملاويږی.يوه دده خپلـه اويـوه دده داس» او فرمـائی امام ابويوسف رحمه الله چې ورکولې به شی« غازی ته» برخه د دوو اسونو.ددې وجه چې روايت شوې دې چې نبی ﷺ برخه ورکړې وه د دوو اسونو«يوغـازی تـه.يعنی ده تـه نې پنځه برخې ورکړې وې.يوه د غـازی خپلـه برخه اودوې [دوه] برخې ديو اس اودوې [دوه] برخې د بل اس لکه حضرت ابوعمره بشيربن عمربن محصن رضي الله عنه چې روايت کړې دې.چه رسول الله ﷺ ماته زما د دوو اسونو څلورحصې او زما يوه برخـه راکړې وه. او دغـه دول ماته پنځه برخې ملاؤ شوې وې» او «بل عقلی دليل دامام ابويوسف رحمه الله دا دې» بلـه دا چې يواس

---

١) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٥\٢٣٨) والخانية (٤\٢١٢) والهندية (٢\٢١٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٨٥)-

٢) من حديث أبي عمرة بشيربن عمروبن محصن أخرجه الدارقطني في سننه (٤\١٠٤) رقم ١٦)_

ځلورم توک نوموړي غازي سوریدو ته په بل «اس» باندې، «نورو دواړو اسونو پکار راغلل. ددې
کله سترې شي نو محتاجیږي ملاویږي»

املاله په ده ته دوي [دوه] برخې

(وَلَنَا) أَنَّ الْبَرَاءَ بْنَ أَوْسٍ قَادَ فَرَسَيْنِ فَلَمْ يُسْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ) (۱)

زباړه وتشریح:- اوطرفینو لپاره دلیل دا دی. چه براء بن اوس بوتلی وو دوې [دوه] اسونه «جهاد ته» نو برخه نه ده ورکړې ده ته رسول الله مگر دیواس «نو تولې ئې ده ته دوې [دوه] برخې ورکړې وې. یوه دده خپله اویوه دده دوراسونو»

(وَلِأَنَّ الْقِتَالَ لَا يَتَحَقَّقُ بِفَرَسَيْنِ دَفْعَةً وَاحِدَةً فَلَا يَكُونُ السَّبَبُ الظَّاهِرُ مُفْضِيًا إِلَى الْقِتَالِ عَلَيْهِمَا فَيُسْهِمُ لِوَاحِدٍ، وَلِهَذَا لَا يُسْهِمُ لِثَلَاثَةِ أَفْرَاسٍ)

زباړه وتشریح:- اوبل «عقلي دلیل دا دی. چه» جنگ نه کیږي مگر په یواس باندې په یو وخت کې، «یعنی یو کس غازي په دوو اسونوسورلی نشي کولې. بلکه په اوس به سورلی کوی» نو نه دې سبب ظاهري «دا استحقاق غنیمت چې د اسلامي سرحد نه تیریدل دی» مفضي جنگ کولو ته په دواړو «اسونو» باندې، «بلکه دې کله جنگ کوی په یواس کوی» نو حصه به مقرر کولای شي دیواس دپاره، اوددې املاه «چه په د دواسونو باندې په یو وخت کې جنگ نشي کیدې، اودا چې نه دې سبب ظاهري مفضي قتال ته په دواړو باندې» برخه نشي مقرر کولې د درې اسونو پاره، «بلکه د دریم اس د وجود اوعدم وجود څه اعتبار نشته. هم ددې علت د امله که یوکس سره درې اسونه وی. نو هم دې په یو وخت په درې اسونو باندې قتال نشي کولې. نولکه څنگه چې د استحقاق غنیمت په باب کې د دریم اس وجود اوعدم وجود برابردی. دغه ډول د دوهم اس وجود اوعدم وجود برابرشو»

(وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى التَّنْفِيلِ كَمَا أَعْطَى سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ سَهْمَيْنِ وَهُوَ رَاجِلٌ) (۲)

حل اللغة: ① التنفیل: زیاتی کول، انعام ورکول

زباړه وتشریح:- اوکوم روایت چې امام ابویوسف رحمه الله کړې دې. «چه نبی ﷺ بشیربن عمربن محصن رضی الله عنه ته دوو اسونو حصې ورکړې وې» نو هغه محمول دې په انعام ورکولو باندې «یعنی نبی ﷺ ابن محصن ته د دوو اسونوحصې د استحقاق په طورنه وې ورکړې. بلکه دانعام په طورئې ورکړې وې. نو په هغې باندې استدلال صحیح نشو. اوبطورانعام ورکول دامام لپاره جائزدی» لکه څنگه چې ورکړې وې «نبی ﷺ» سلمه بن اکوع ته دوې [دوه] برخې «په مال غنیمت کې» حالانکه هغه راجل وو. «دا دوې [دوه] برخې ئې د انعام په طورخکه ورکړې وې. چه هغوئ به د فارس پشان منډه وهله»

دعجمي اوعربي اسونو په استحقاق غنیمت کې برابری

(وَالْبَرَاذِينُ وَالْعِتَاقُ سَوَاءٌ) لِأَنَّ الْإِرْهَابَ مُضَافٌ إِلَى جِنْسِ الْخَيْلِ فِي الْكِتَابِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ} وَاسْمُ الْخَيْلِ يَنْطَلِقُ عَلَى الْبَرَاذِينِ وَالْعِرَابِ وَالْهَجِينِ وَالْمُقْرِفِ إِطْلَاقًا وَاحِدًا،

حل اللغة: ① البراذین: جمع د براذ عجمي اس ② العتاق: عربی اس ③ الرباط: تیارساتل، تړل ④ الارهاب: ویرول ⑤ الخیل: اس ⑥ الهجین: هغه اس چې صرف مورئې عربي وی ⑦ المقرف: هغه اس چې صرف پلار ئې عربي وی،

زباړه وتشریح:- عجمي اوخالص عربي اسونه برابر دي «په استحقاق دغنیمت کې» ځکه چې ویرول «د دشمن» منسوب دی جنس اسونو ته په کتاب «قرآن پاک» کې، قال الله تعالی فرمائیلی دی. «او

(۱) من حدیث قال الزیلعی رحمه الله قلت غریب بل جاء عنه عکسه (نصب الرایة ۳/۴۳۵)۔
(۲) من حدیث سلمة بن أکوع رضی الله عنه أخرجه مسلم فی الجهاد رقم ۱۳۲ وأحمد فی امسند (۳۵/۴)۔

تیاری کوئ د کافرانو دمقابلې لپاره څومره چې مو وس کیږی د قوت حاصولونه، چې ویروئ په هغې ﴿قوت اواسونو﴾ دشمنان دالله تعالى اودشمنان خپل، ﴿اود تیاریٔ د اسونو﴾ دشمن دمقابلې لپاره دجنګی اسبابواووسائلودتیاریٔ حکم کړې دې.اوپه دغه جنګی سازوسامان کې ئې اسونه یاد کړی دی. او مقصد ددې تیاریٔ ئې دا خودلې دې.چه په دې باندې تاسوکافران ویروئ.نوپه آیت کې د الله تعالى د ((خیـل)) ذکـر دې،او﴿ اسم د((خیـل)) منطبـق کیـږی ﴿یعنـی ددې اطـلاق کیـږی﴾ پـه عجمـی اسونو،اوپه هجین ﴿چه صرف مورئې عربی وی﴾ اومقرف ﴿چه صرف پلار ئې عربی وی،تولو﴾ باندې، په یوځل، ﴿یعنی دخیل اطلاق په ټولو کیږی﴾ اوعربی

وَلِأَنَّ الْعَرَبِيَّ إِنْ كَانَ فِي الطَّلَبِ وَالْهَرَبِ أَقْوَى فَالْبِرْذَوْنُ أَصْبَرُ وَأَلْيَنُ عَطْفًا، فَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَنْفَعَةٌ مُعْتَبَرَةٌ فَاسْتَوَيَا

حل اللغة: ① **الطلب**: د دشمن رالاندې کول ② **الهرب**: منډه ③ **الين**: نرم ④ **عطف**: واپس کیدل

زیاره وتشریح:- ﴿اود برابریٔ بل دلیل ئې دا دې.چه﴾ عربی اسونه اګرچه ﴿ددشمن په﴾ رالاندې کولوکې یا واپس راتلوکې تکړه دی. نو عجمی اسونه ﴿په تکلیف باندې﴾ صبرکولواواوپه راتاویدوکې زیات تکړه دی.نوپه هریو ډول کې ﴿که عربی دی اوکه عجمی﴾ فائده ده معتبره ،نودواړه ﴿په استحقاق د مال غنیمت کې﴾ برابرشول.

دارالحرب ته راجل اویا فارس کرځیدل اوددې په عکس

(وَمَنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ اسْتَحَقَّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ، وَمَنْ دَخَلَ رَاجِلًا فَاشْتَرَى فَرَسًا اسْتَحَقَّ سَهْمَ رَاجِلٍ) وَجَوَابُ الشَّافِعِيِّ عَلَى عَكْسِهِ فِي الْفَصْلَيْنِ، وَهَكَذَا رَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفَصْلِ الثَّانِي أَنَّهُ يَسْتَحِقُّ سَهْمَ الْفُرْسَانِ. وَالْحَاصِلُ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ عِنْدَنَا حَالَةُ الْمُجَاوَزَةِ، وَعِنْدَهُ حَالَةُ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ

زیاره وتشریح:- اوڅوك چې داخل شودارالحرب ته په اس سور، ﴿اوددخول نه پس﴾ نوهلاك شو اس د ده، نو مستحق دې دا ﴿فارس﴾ د حصود فارسیانو ﴿یعنی چې نوروداسونوخاوندانوته څه برخه ملاویږی.هغه به ده ته هم ملاویږی﴾ اوڅوك چې داخل شو ﴿دارالحرب ته﴾ پیدل،نووائې اخستلو ﴿په دارالحرب کې﴾ اس مستحق کیږی ﴿په مال غنیمت کې﴾ دحصې د راجل ﴿یعنی صرف یوه برخه به ورته ملاویږی﴾ اوځـواب دامـام شـافعیﷺ پـه عکـس ددې ﴿حکـم﴾ دې پـه دواړو صـورتونو کـې ، ﴿یعنـی د فـارس عندالدخول لپاره یوه برخه ده.اود مشتری بعدالدخول لپاره دوې [دوه] برخې دی﴾ اودغه ډول روایت کړې دې ابن المبارکﷺ دامام ابوحنیفهﷺ نه،په دوهم صورت کې ، ﴿یعنی چې دارالحرب ته پیدل داخل شوې وی.اوبیائې هلته اس اخستې وی.اوپه جهادکې ئې شرکت کړې وی.نودده لپاره د فارس پشان دوې [دوه] برخې دی﴾اوحاصل دا دې.چه معتبر زموږ په نیزحالت د تیریدودې ﴿داسلامی سرحدنه﴾ اوپه نیزدهغه ﴿امام شافعیﷺ معتبر﴾ حالت د پیل کیدو د جنګ دې.

لَهُ أَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْقَهْرُ وَالْقِتَالُ فَيُعْتَبَرُ حَالُ الشَّخْصِ عِنْدَهُ وَالْمُجَاوَزَةُ وَسِيلَةٌ إِلَى السَّبَبِ كَالْخُرُوجِ مِنَ الْبَيْتِ،

زیاره وتشریح:- دامام شافعیﷺ لپاره دلیل دا دې.چه سبب ﴿داستحقاق غنیمت﴾ غلبه ده ﴿په دشمن﴾ اوجنګ دې. ﴿چه کوم کس په دشمن غالب شی.اوپه جنګ کې شریك شی.هغه د مال غنیمت مستحق دې﴾ اوتیریدل ﴿داسلامی سرحدنه﴾ ذریعه ده د سبب ﴿د اسحقاق غنیمت چې په جنګ کې شرکت دې﴾ لکه وتل د کورنه ﴿یعنی چې یوکس دکورنه اوځی.نود ده دکورنه وتل په جنګ کې د شرکت ذریعه ده.خوددې باوجود دده د کور نه د وتلوحالت ته نشی کتلې.که دې دکورنه پیدل وتلې وی اوکه په اس.اصل اعتباربه هغه حالت ته وی.په کوم حالت کې چې ده په جنګ کې شرکت کړې وی.نودغه ډول په زیربحث مسئله کې به اعتبارداسلامی سرحدنه تیریدوته نه وی.اوکه څوك دا اووائی.چه جنګ خویوپټه خبره ده.ددې پته لګول چې چا په جنګ کې شرکت کړې دې اوچانه دې کړې،دغه ډول څوك پیدل دې اوڅوك په اس دې.څکه چې په ډکر جنګ کې هرسړې په خپل کارکې مستغرق وی.دې دنورو سارنه نشی کولې.نوکه موږ

په جنګ کي شرکت کول د استحقاق غنیمت لپاره سبب اوګرځوو.نودا به ګرانه شي. د دي امله مو د اسلامي سرحد نه تیریدل د اسحقاق غنیمت لپاره سبب اوګرځولو.نوامام شافعيؒ اوفرمائي.چه دا خبره موږ نه منو.ځکه فرمائي»

وتعليق الأحكام بالقتال يدل على إمكان الوقوف عليه، ولو تعذر أو تعسر تعلق بشهود الوقعة، لأنه أقرب إلى القتال.

حل اللغة:① الوقوف:واقف کیدل ② تعسر:ګران دي

ژباړه وتشریح:- اوتعليق داحکامو «داستحقاق غنیمت وغیره» په جنګ پوري دلالت کوي.چه خبریدل ممکن دي ددي «جنګ نه،یعني موږ دا خبره نه منو.چه جنګ یوپټ امردي.ددي نه خبریدل نشي کیدي.ځکه چي چیرته جنګ پټه خبره وه.اوددي نه خبریدل نشو کیدي.نوبیا پکاردا وه.چه په جنګ باندي احکام نه مرتب کیدي.حالانکه موږ ګورو.چه دجهاد احکام هم په جنګ کي په شرکت کولوباندي مرتب کیږي.لکه ماشوم،ښځه یا غلام چي په قتال کي برخه واخلي.نودوئ ته به په دي شرکت باندي لږغونډي شي ورکولي شي.نوګوري دي کسانوته دخوراك دا شي ځکه ورکولي شي.چه دجهاد د احکامو ترتب په قتال کي په شرکت سره کیږي.اوحکم چي په کوم څیزباندي مرتب کیږي.هغه مجهول نه وي.بلکه په هغي باندي واقفیت راتلي شي.دا دامام شافعيؒ د اړخه منعي خواب شو.چه دا نه منو،چه په قتال باندي واقفیت نشي راتلي.

»اوکه چیرته متعذریا ګران شي «واقفیت اوخبریدل دحال د غازي نه په عین موقع دجنګ کي.چه دي راجل وو که فارس،دغه ډول دي شریك وو که غائب، دا دامام شافعيؒ د اړخه تسلیمي خواب دي.یعني که دا اومنو.چه دقتال نه واقفیت نشي راتلي.نو» متعلق کیږي «وقوف په حالت د جنګ» په ګواهئ پوري «یعني ګواهان به ګواهي ورکړي.چه دا غازي راجل وو که فارس. نو د ګواهانو ګواهئ قائم مقام دوقوف شوه. په حالت دجنګ باندي» ځکه چي دوي «یعني ګواهان» نزدي دي حالت دجنګ ته «په نسبت سره تیریدوته داسلامي سرحدنه،یعني چي مونږدغازي د فارس اوراجل اعتبارد اسلامي سرحدنه د تیریدو په وخت کي.کوو.نودجنګ نه هغه حالت د مجاوزت لري دي.ځکه چي د اسلامي سرحدنه لښکرتیرشي.دهغي نه روسته هم پته نه لګي.څه به پښیږي اوڅه نه،جنګ به کله کیږي او کله نه،په جنګ کي به څوك شریك کیږي اوڅوك نه وغیره.دا واړه احتمالات په کي شته.نوچه مونږدا اسلامي سرحدنه تیریدلوباندي دارومدار د استحقاق غنیمت ګرځوو.دهغي په نسبت دا بهتره ده.چه په حالت دجنګ کي کوم نفرشریك وي. د هغوئ ګواهي دارومدار د استحقاق غنیمت اوګرځوو.چه دحالت جنګ ګواهان ګواهي ورکړي.چه دا غازي فارس وو.هغه ته به د فارس برخه ملاویږي.اوچه هغوئ ګواهي ورکړي.چه دي راجل وو.نود راجل برخه به ورته ملاویږي»

ولنا أن المجاوزة نفسها قتال لأنه يلحقهم الخوف بها، والحال بعدها حالة الدوام، ولا معتبر بها،

ژباړه وتشریح:- اوزموږ لپاره دلیل دا دي.چه تیریدل «داسلامي سرحدنه» نفس ددي «یعني صرف دا تیریدل» جنګ دي.ځکه چي راځي په هغوئ «حربیانو» باندي ویره په دي «تیریدو د اسلامي سرحد نه ،یعني د سرحد نه تیریدل اګرچه حقیقي قتال نه دي.لیکن سبب داو ذریعه د قتال ده.اوکله کله سبب هم قائم مقام د مسبب ګرځي.بادشاه د ښار جوړولو حکم اوکړي.ګلکاران ښار جوړ کړي.او بیا خلګ دا وائي.چه بادشاه ښار جوړ کړلو حالانکه بادشاه په خپله نه وي جوړ کړي.خوچونکه بادشاه د ښار جوړولو سبب وو.ځکه هغه ته مجازاً د ښار جوړولو نسبت کیږي.دغه ډول په زیر بحث مسئله کي تیریدل اګرچه په حقیقت کي قتال نه دي.خوچونکه دا تیریدل ذریعه او سبب د قتال دي.ځکه ورته قتال وئیلي شي.اوچه قتال شو.نوترتب د احکامودجهاد به په تیریدو باندي کیږي»اوحالت روسته د دي نه حالت د دوام دي.نونشته اعتبار د هغي. «حالت دوام اوممکن نه دي ترتب د احکامو په حالت د دواوم باندي ځکه چي د فارس لپاره دا ممکن نه ده. چي همیشه لپاره دي په اس سور وي.او توره وهي.بلکه ده سره انساني ضروریات هم

ژباړه وتشريح: - اودغه ډول حکم دی، «يعني برخه ئې نه ساقطيږي» کله چې خرڅ کړي «لاس» په حالت د نقل کې، په نيزد بعضې عالمانو خواصح قول دا دی چه دا برخه ساقطيږي.ځکه چې بيع دلالت کوي چې دده مقصد تجارت وو په دې «لاس» کښې،صرف ده ته دګرانوالي انتظار وو. «چه جنګ پيل شي.نوداس قيمت به زيات شي.بيا به ئې خرڅ کړم»

دچاچه په مال غنيمت کې برخه نشته

وَلَا يُسْهِمُ لِمَمْلُوكٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا صَبِيٍّ وَلَا ذِمِّيٍّ وَلٰكِنْ يَرْضَخُ لَهُمْ عَلٰى حَسَبِ مَا يَرَى الْإِمَامُ لِمَا رُوِيَ (أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ لَا يُسْهِمُ لِلنِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْعَبِيدِ وَكَانَ يَرْضَخُ لَهُمْ) ( )

حل اللغة ① الرضخ لږه برخه

ژباړه وتشريح: - اونه به شي ورکولې «په مال غنيمت کې حصه» غلام ته،اونه ښځې ته اونه ماشوم ته،اونه ښوي ته،اونه ذمي ته،بلکه معمولي څيزبه ور کولای شي دوی ته. «رضخ په ډيرمال کې معمولي غونډې ورکولونه وائي» په هغه مناسب چې ګنړي ئې امام «ورکول دهغې» د امله دهغه حديث نه چې روايت شوې دې چې نبی ﷺ به نه ورکوله برخه زنانواوماشومانواوغلامانوته، «په مال غنيمت کې» بلکه وو چې ورکول به ئې لږ غونډې برخه دوی ته، «نودې حديث نه معلومه شوه.چه ددوی په مال غنيمت کې دغه موغازيانوپشان برخه نشته»

وَمَا اسْتَعَانَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِالْيَهُودِ عَلَى الْيَهُودِ لَمْ يُعْطِهِمْ شَيْئًا مِنَ الْغَنِيمَةِ: ( ) يَعْنِي أَنَّهُ لَمْ يُسْهِمْ لَهُمْ وَلِأَنَّ الْجِهَادَ عِبَادَةٌ وَالذِّمِّيُّ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الْعِبَادَةِ، وَالصَّبِيُّ وَالْمَرْأَةُ عَاجِزَانِ عَنْهُ وَلِهٰذَا لَمْ يَلْحَقْهُمَا فَرْضُهُ،

ژباړه وتشريح: - اوکله چې امداد اوغوښتلونبی ﷺ ديهودو په مقابله د يهودونو ورکړي ئې نه وو هغوی ته څه شی د غنيمت نه يعني نبی ﷺ نه وه مقرر کړې برخه «په مال غنيمت کې دغازيانوپشان» ددوی لپاره «ځکه ځنګه چې امام بيهقي په کتاب معرفة السنن والآثار کې دحضرت ابن عباس رض په روايت سره نقل کړی دی چه امداد اوغوښتلو نبی ﷺ په يهودو دقينقاع نوهغوی ته ئې لږغونډې شی ورکړلو.اوحصه ئې ورله مقرر نکړه» اوبله دا چې جهاد عبادت دی.اوذمی نه وی اهل دعبادت، «ځکه چې دعبادت دصحت لپاره ايمان شرط دی.اوپه دوی کې ايمان نه وی» اوښځه اوماشوم عاجز دی ددې «قتال» نه، اوددې امله «چه دوی دخپل ضعف د امله دقتال اوجنګ توان نه لري» نه دې مولښتی شوې په دوی «دواړو» پورې فرضيت دجهاد، «يعني په عامو حالاتوکې په ښځه اوماشوم باندې جهاد نه دی فرض شوی»

وَالْعَبْدُ لَا يُمْكِنُهُ الْمَوْلٰى وَلَهُ مَنْعُهُ، إِلَّا أَنَّهُ يَرْضَخُ لَهُمْ تَحْرِيضًا عَلَى الْقِتَالِ مَعَ إِظْهَارِ انْحِطَاطِ رُتْبَتِهِمْ

حل اللغة ① الرضخ لږه برخه ② تحريض تيزول ③ الانحطاط ښکته کول

ژباړه وتشريح - اوغلام چې دې موقع نه ورکوی ده ته مولی «دجهاد کولو» اودده «مولی لپاره جائزدی په ټولو حالاتو کې» منع کول دده «غلام د شرکت نه په جهاد کې البته دا چې دشمن چور اوکړی.اوعام خلاف اوشی نوبيا دمولی داجازت ارتيا نشته.ځکه چې په دغه وخت کې دا فرض عين ګرځي. اومولی خپل غلام د فرض عين نه نشي منع کولې.نوپه مال غنيمت کې ددوی برخه نشته» مګردومره ده چې رضخ لږ شونډې څيزبه ور کولای شي دوی ته لپاره د تيزولو «ددوی» په جهاد باندې «چه په جهاد کې په شوق سره شرکت کوی» سره د ښکاره کولود کښته والی د مرتبې ددوی «يعني دعاموغازيانوبرابربه دوی ته څه خاص نشی ورکولې چه دا خبره ښکاره شی.چه ددوی مرتبه دعاموغازيانونه کمه ده»

وَالْمُكَاتَبُ بِمَنْزِلَةِ الْعَبْدِ لِقِيَامِ الرِّقِّ وَتَوَهُّمِ عَجْزِهِ فَيَمْنَعُهُ الْمَوْلَى عَنِ الْخُرُوجِ إِلَى الْقِتَالِ

ژباړه وتشريح:- اومكاتب پشان دغلام دي. «نولكه څنګه چې دغلام په مال غنيمت كې برخه نشته.دغه ډول به دمكاتب هم نه وي» د املـه دقيـام د رقيت نه «په مكاتب كې ،يعنى اګرچه ده خپل مولى سره د بدل كتابت په ادا كولـود آزادئ عهـد كړې دې.خـوفي الحـال ده تـه آزاد نـشي وئيلې.بلكـه آزادي بـه ورتـه هلـه حاصليږي.چه بدل كتابت ادا كړي» اود املـه د ګمان دعجز دده «مكاتب» نـه «يعنـى دا احتمـال هـم شته.چه مكاتب د بدل كتابت د ادا كولونه عاجز شي.نوبيرته به غلام اوګرځي.اوچه كله غلام شي.نوپه دغه وخت كې» منع كولاى شي مولى «مكاتب لره» د وتلو نه جهاد ته، «نودكومې املـه چې غلام په مال غنيمت كې د برخې حقدار نه وو.هم دهغه وجې به دا مكاتب هم حقدارنه وي»

ثُمَّ الْعَبْدُ إِنَّمَا يُرْضَخُ لَهُ إِذَا قَاتَلَ لِأَنَّهُ دَخَلَ لِخِدْمَةِ الْمَوْلَى فَصَارَ كَالتَّاجِرِ، وَالْمَرْأَةُ يُرْضَخُ لَهَا إِذَا كَانَتْ تُدَاوِي الْجَرْحَى، وَتَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى لِأَنَّهَا عَاجِزَةٌ عَنْ حَقِيقَةِ الْقِتَالِ فَيُقَامُ هَذَا النَّوْعُ مِنَ الْإِعَانَةِ مَقَامَ الْقِتَالِ، بِخِلَافِ الْعَبْدِ، لِأَنَّهُ قَادِرٌ عَلَى حَقِيقَةِ الْقِتَالِ،

حل اللغة: ① الجرحى:زخميان ② تداوى:دوائى كولې شي

ژباړه وتشريح:- بيا غلام چې دې،بيشكه ده ته به لږ غونډې شي ور كولاى شي «په مال غنيمت كې خو» په دې شرط چې جنګ اوكړي.څكه چې دي داخل شوې دې «په لښكردمسلمانانوكې دارالحرب ته» لپاره د خدمت دمولى خپل «چه دده مولى هم په غازيانوكې وو.نودهغـه دخدمت لپـاره دې په اسلامى لښكر كې ګډ شوې وو»نوشو دې پشان د سوداګرچه داخل شوې وي «لښكردغازيانوته لپاره د تجارت» اوښځې ته بـه لږغونـډې څيـز «پـه مـال غنيمـت كې» وركـولې شي.خـو» پـه دې شـرط چـې دې عـلاج كړې وي د زخميـانو «مـثلاً دهغـوئ پـه زخمونـونې پټئ لګـولې وي» اوخيـال ئـې سـاتلې وي د مريـضانو «چـه پـه غازيانوكې څوك بيماران شي. دهغوئ خدمت ئې كړې وي» څكه دا «ښځه» عـاجزه ده حقيقـى قتـال نـه «يعنى ښځې ته چې د مال غنيمت نه لږ غونډې څه وركولې شي.نود غلام پشان دده لپاره دا شرط نه دې. چې دې به په جنګ كې برخه اخستې وي.څكه دا په ډګر جنګ كې دكافروسره د تورې وهلو نه عاجزه ده» نو قائمولې به شي دا ډول امداد «يعنى د زخميانو علاج اود مريضانو خدمت» په ځائې د جنګ «يعنى دده په حق كې دا كارونه داسې دى.لكه په ډګر جهاد كې كافرانوسره مقابله كول. او هركله چې دا په منزلـه د قتال شو.نودا مستحقه د رضخ شوه» په خلاف د غلام «يعنى هغه د رضخ مستحق هله جوړيږي. چې په قتال كې برخه واخلې» څكه چې هغه قادردې په حقيقى قتال بانـدې «چه دكافروسره په ډګر جنګ كې مقابله كول دي»

وَالذِّمِّيُّ إِنَّمَا يُرْضَخُ لَهُ إِذَا قَاتَلَ أَوْ دَلَّ عَلَى الطَّرِيقِ، وَلَمْ يُقَاتِلْ لِأَنَّ فِيهِ مَنْفَعَةً لِلْمُسْلِمِينَ، إِلَّا أَنَّهُ يُزَادُ عَلَى السَّهْمِ فِي الدَّلَالَةِ إِذَا كَانَتْ فِيهِ مَنْفَعَةٌ عَظِيمَةٌ،

ژباړه وتشريح:- اوذمى بيشكه رضخه ور كولاى شى ده تـه په دې شرط چې جنګ اوكړي «دغازيانوپه مرسته كښې»اوياخودنه اوكړي د لارې «كومه چې دارالحرب اوددشمن ځائې ته ورغلې وي»اوحال دا وى چې ده جنګ نه وى كړې «يعنى ده دمسلمانوپه مرسته كې قتـال نه وى كړې.البتـه مسلمانانوته ئې لارخودلې وى.اودې د رضخ مستحق دې» په دې شرط چې وى په دې «قتـال يا دلالت على الطريق» كې فائده د مسلمانانو.البته دومره ده چې زيادت به كولى شي «په برخه دغازيانوباندې» په برخه دده «ذمى» كې په خودلود لاره باندې ،چه وى په دې «دلالة على الطريق» كې فائده لويـه «يعنى كه دده په لاره خودلـه كښې مسلمانانوته ډيره زياته فائده وى.نوده ته چې كومه برخه وركوى.هغه د مسلمانانوغازيانود برخې نه هم زياته وى»

وَلَا يَبْلُغُ بِهِ السَّهْمَ إِذَا قَاتَلَ، لِأَنَّهُ جِهَادٌ، وَالْأَوَّلُ لَيْسَ مِنْ عَمَلِهِ وَلَا يُسَوِّي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِ فِي حُكْمِ الْجِهَادِ.

ژباړه وتشريح:- اونه به شي رسولې برخه ددې ذمی ﴿حصې د غازيانوته﴾ كله چې ده قتال كړې وی ﴿اودلالة
علی الطريق ئې نه وی كړې.يعنی د دلالت علی الطريق په صورت كي كه مسلمانانوته فائده وی.نوده ته
دمسلمانانود برخې نه زياته برخه وركولې شی.اوكه ده دلالت علی الطريق نه وی كړې.بلكه صرف قتال ئې
كړې وی.نوبه دې صورت كي چې ده ته څه برخه وركوی.هغه به د غازيانودحصې نه كمه وی.اود قتال په
صورت كي به دده برخه د غازيانود برخې نه كمه وی﴾ځكه چې دا ﴿قتال﴾ جهاد دې. ﴿اوجهاد عبادت
دې.او ذمی دعبادت اهل نه دې.نوځكه به د ذمی برخه د غازی برخې ته نشی رسولې.چه بيا به د دواړو په
حصوكي برابری راشی.حالانكه د غازی قتال جهاددې.اود ذمی قتال جهاد نه دې﴾ او اول ﴿يعنی دلالة
علی الطريق﴾ نه دې عمل ددې ﴿جهاد ،يعنی دلالت علی الطريق جهاد نه دې. نو د عامو اعمالوپشان
شو.ايمان ورله شرط نشو.اوچه ايمان ورله شرط نشو.نوده ته كه په دلالت علی الطريق باندې د غازيانود
برخې نه زياته وركړې شی.نوبه دې كي په هغوئ باندې زيادت رانغلو.ځكه چې دهغوئ استحقاق د غنيمت
د جهاد د امله راغلې وو.اوذمی ته چې څه ملاويږی.دا دجهاد د صله په طورنه دی. بلكه ديوعامی كارنامې
په بدله كي دی.كومه چې ده د مسلمانانو لپاره اوكړله.نوهركله چې حيثيت جلا جلا شو.نود غازيانوپه برخه
باندې زيادت رانغلو﴾ اوبرابرې به نشی كولې په مينځ دده ﴿ذمی﴾ او مسلمان كي په حكم ﴿يعنی
ثمره﴾ د جهاد كي ، ﴿يعنی كله چې ذمی صرف قتال كړې وی.نود ذمی اوغازی برخه به نشی
برابرولې.بلكه د ذمی برخه به دغازی د برخې نه كمه وی﴾

دخمس تقسيم

(وَأَمَّا الْخُمُسُ فَيُقَسَّمُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ: سَهْمٌ لِلْيَتَامَى وَسَهْمٌ لِلْمَسَاكِينِ وَسَهْمٌ لِابْنِ السَّبِيلِ يَدْخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي الْقُرْبَى
فِيهِمْ وَيُقَدَّمُونَ، وَلَا يُدْفَعُ إِلَى أَغْنِيَائِهِمْ)

ژباړه وتشريح:- اوهرچه خمس دې. ﴿يعنی كله چې د مال غنيمت نه پنځمه برخه جلا كړې شی.اوپاته ځلور
برخې په غازيانوويش شی.نوددغه خمس ويش بيا په دې طريقه دې﴾ تقسيمولې به شی په درې برخو
باندې،يوه برخه د يتيمانودپاره،اوبله برخه د مسكينانودپاره،اودريمه برخه د ابن سبيل دپاره، ﴿اوكه ته
وائې.چه په آيت كي دخمس مصارف په دې طريقه سره ذكرشوی دی.چه دالله تعالی اودهغه د رسول لپاره
اودخپلوانود نبیﷺ لپاره اويتيمانواومسكينانواوابن السبيل دپاره،نودلته دخمس په مصارفوكي خود
نبیﷺ د خپلوانوذكرهم شته.اوتاسواحناف وائې.چه مصارف د خمس درې دی.نوددې نه ځواب كوی.چه﴾
اوداخليږی فقيران د خپلوانو ﴿درسول اللهﷺ﴾ په دوئ ﴿يعنی درې صنفو﴾ كي ﴿يعنی ذوی القربی څه
مستقل مصرف نه دې.بلكه كه په ذوی القربی كي څوك يتيم يا مسكين يا ابن السبيل وی.نوهغه به هم د
خمس مصرف وی.اوكه ته دا وائې.چه بيا د ذوی القربی د ذكركولومقصد څه شو.ځكه چې يوكس فقيريا
يتيم يا مسكين وی.نوكه هغه ذوی القربی نه وی.نوهم دخمس مصرف دې.نوددې ذكركولوفائده
بيانوی.هغه دا اگر چې دا صفات په غيرذوی القربی كي وی.نوهغوئ هم د خمس مصرف دی.ليكن كله چې
په مصارف كي ذوی القربی اوغيرذوی القربی دواړه ډول خلگ جمع شی.نوبيا به مسئله دا وی.﴾ اونه
اووړاندې كولې به شی ﴿خپلوان د رسول اللهﷺ په پاته درې قسمونوباندې چې غيرذوی القربی وی﴾ اونه
به شی وركولې مالدارانوته په دوئ ﴿خپلوانود رسول اللهﷺ﴾ كي. ﴿دغه ډول بله وجه هم صاحب علامه
عينیؒ بيان كړې ده. كيداې شی.چا دا گمان كړې وو.چه په سيدانوباندې صدقه اوزكاة حرام دې.اوخمس
هم د زكاة پشان يو څيزدې.نودا به پرې هم حرام وی.نوددې گمان لرې كاوه لپاره الله تعالی دا وويل .دغه
ډول يتيمان هم په ((فقرائهم)) كي داخل دی.خوددوئ ذكرئې ددې گمان لرې كاوه لپاره اوكړلو.چه خمس
دمال غنيمت برخه ده.اودمال غنيمت مستحقين صرف غازيان وی.اويتيمان خود جهاد اهل نه وی.نوددوئ
به په خمس كي برخه هم نه وی﴾

وَقَالَ الشَّافِعِي: لَهُمْ خُمُسُ الْخُمُسِ يَسْتَوِي فِيهِ غَنِيُّهُمْ وَفَقِيرُهُمْ

ژباره وتشریح:- اوفرمائی امام شافعی ﷫ ددوئ ﴿خپلوانود رسول الله ﷺ دپاره﴾ پنځمه برخه د خمس ده. ﴿یعنی یوځل دمال غنیمت نه دا پنځمه برخه بیله شوې ده.اوبیا به دوباره دا خمس په پنځو حصوباندې تقسیمولې شي.نوپه دغه پنځوکي به څلورحصې د عاموسلمانانوپه فقیرانو یتیمانواوابن السبیل باندې تقسیمولې شي.اویوخمس به د نبی ﷺ د خپلوانو لپاره خاص وی﴾ برابربه وی په دې ﴿پنځمه برخه دخمس﴾ کي ،مالدار ددوئ ﴿اهل قرابت رسول ﷺ﴾ اوفقیر ، ﴿یعنی په خمس الخمس کي د فقیرانو تخصیص نشته.بلکه د نبی ﷺ مالدارانوخپلوانوته هم ورکولې شي﴾

وَيُقْسَمُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، وَيَكُونُ لِبَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ دُونَ غَيْرِهِمْ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَلِذِي الْقُرْبَى} مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بَيْنَ الْغَنِيِّ وَالْفَقِيرِ.

ژباره وتشریح:- اوتقسیمولې به شي ﴿دا خمس﴾ په مینځ ددوئ ﴿ددې صنفونو﴾ کي ، لپاره د نارینه پشان دحصې د دووزنانوئ دي. ﴿یعنی دوو زنانوئ ته چې څومره برخه ملاویږی.هغه هومره به یونارینه ته ملاویږی﴾ او وی به ﴿په خپلوانود نبی ﷺ دغه حصه﴾ د بنوهاشمواوبنومطلب دپاره،نه لپاره د سوا ددوئ نه ﴿یعنی دنبی ﷺ په خپلوان کي به صرف بنوهاشم اوبنی مطلب ته ملاویږی.اوپه دوئ کي فقیراوغنی برابردي﴾ د امله د قول د الله تعالی نه. ﴿پوهه شئ هغه څه چي تاسوئې غنیمت کړئ.نودالله تعالی لپاره پنځمه برخه ده دهغې.اود پیغمبردالله دپاره﴾ اود خپلوانو لپاره ﴿یعنی د نبی ﷺ دخپلوانو لپاره به په دغه خمس کښې برخه وی﴾ بغیرد تفصیل نه په مینځ د توانګر اوغریب کي ، ﴿یعنی الله تعالی مطلق ذوالقربی ذکرکړې دی. د فقیرقید ئې په کي نه دې لګولې .نوددې اطلاق نه دا معلومیږی.چه د نبی ﷺ خپلوانوکښې به ماندارهم په خمس کي دحصې مستحق وی﴾

وَلَنَا أَنَّ الْخُلَفَاءَ الْأَرْبَعَةَ الرَّاشِدِينَ قَسَّمُوهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ عَلَى نَحْوِ مَا قُلْنَاهُ([1])وَكَفَى بِهِمْ قُدْوَةً.

حل اللغة: ① القدوة اقتداء

ژباره وتشریح:- اوزمونږ ﴿دا احنافو﴾ لپاره دلیل دا دې.چه څلورواړه خلفاء راشدینو ﷺ ﴿حضرت ابوبکر ،عمر ،عثمان اوعلی ﷺ﴾ ویش کړې دې دا ﴿خمس﴾ په درې حصوباندې،په هغه طریقه چي مونږ بیان کړه. ﴿اشاره ده دې قول ته ((فیقسم علی ثلاثة أسهم)) ترآخره پورې.دحضرت ابن عباس رض نه روایت دې.چه خمس به د رسول الله ﷺ په زمانه کي په پنځو برخو تقسیمولې شو.یوه برخه دالله دپاره ﴿یعنی دالله تعالی برخه به د مسلمانانودخیګړې په کارونوکي خرچ کولې شوه.لکه جمات جوړول،پل جوړول وغیره﴾ اوبله برخه د رسول الله ﷺ دپاره،اوبله برخه د نبی ﷺ د خپلوانو دپاره،اوبله برخه د یتیمانودپاره،اوبله برخه دمسکینانو دپاره،اوبله برخه دابن السبیل دپاره،بیا ویش کول حضرت ابوبکر ،عمر،عثمان اوعلی ﷺ په درې برخو باندې،یوه برخه د یتیمانو دپاره، بله د مسکینانو دپاره،اودریمه د ابن السبیل لپاره ددې روایت ابویوسف په روایت شوې دې﴾ اوکافی دی دوئ داقتداء کولودپاره، ﴿یعنی خلفاء راشدینوپسې مونږ احناف اقتداء کوو اوددوئ د اقتداء په صحت کي څه خبره نشته﴾

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {يَا مَعْشَرَ بَنِي هَاشِمٍ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى كَرِهَ لَكُمْ غُسَالَةَ النَّاسِ وَأَوْسَاخَهُمْ وَعَوَّضَكُمْ مِنْهَا بِخُمُسِ الْخُمُسِ} ([2])وَالْعِوَضُ إِنَّمَا يَثْبُتُ فِي حَقِّ مَنْ يَثْبُتُ فِي حَقِّهِ الْمُعَوَّضُ وَهُمْ الْفُقَرَاءُ.

---

۱) من حدیث ابن عباس أخرجه أبویوسف عن أبی صالح عن ابن عباس (نصب الرأیة ۳\۴۲۱)_
۲) من حدیث مطعم بن جبیر ﷺ أخرجه أبوداود فی الخراج والإمارة والفئ باب ۲۰ رقم ۲۹۸۰ والنسائی فی الفئ باب ۱ وابن ماجه فی [illegible]اد باب ۴۶ رقم ۲۸۸۱)_

حل اللغة: ① **غسالة:** د غسل د مستعملو اوبو خيرې ② **اوساخ:** جمع د وسخ خيرې ،ګندګی

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلی دی نبیﷺ اې ټوليه د بنوهاشموالله تعالی ناخوښه كړی دی ستاسو لپاره مستعمل اوبه د خلګ واوخيرې د دوئ ﴿خلګ ويعنی د خلګ ودګناهونوخيرې د كومو نه چې هغوئ د زكاة اوصدقاتو وركولوپه ذريعه ځان پاكوی.تاسو لپاره ناخوښه كړی دی﴾ اوپه بدله كي ئې دركړې دي تاسوته ﴿په مال غنيمت كي﴾ پنځمه حصه،اوعوض ثابتيږی په حق دهغه چا كي چې ثابت شوې وی په حق دهغه كي معوض ﴿يعنی دا قاعده ده.چه كله يوكس ته عوض ور كولای شی .نودكوم څيزعوض چې وركولې شی.چه معوض عنه دي.دې به دهغې حقداروی.مثلاً يوكس دې په بل چا باندې ئې دوې [دوه] زره روپۍ دی.اوهغه ورته د دوو زرو روپو په ځائې كي كتاب وركوی.نوپه دې مثال كي كتاب عوض شو.اودوې [دوه] زره روپۍ معوض عنه شوې.خوددې كتاب مستحق دې ځكه ګرځی.چه دمعوض عنه حقداردې.چه دوې [دوه] زره روپۍ دی. اوس دلته په حديث كي چې نبیﷺ بنوهاشموته دا فرمائی.چه تاسو ته الله تعالی د زكاة په عوض كي خمس دركړلو.نوموړ به معوض عنه چې زكاة دې ته ګورو.چه دهغې مستحق څوك دی.چه اوموكتل.نوهغه فقيران وو.نودلته چې عوض ملاويږی.هغه به هم صرف فقيرانوته ملاويږی.ځكه چې استحقاق د زكاة خودفقرپه صفت سره راځی.اوچه دفقرصفت په بنوهاشم كي نه وی.بلكه توانګر وی. نو دې مستحق دخمس نشی جوړيدې﴾ اوهغوئ ﴿يعنی څوك چې دزكاة مستحق وی﴾ فقيران وو. ﴿نولكه څنګه چې په زكاة كي د معوض عنه مصرف فقيردې توانګر نه دې.دغه ډول به په عوض كي چې خمس دې، مصرف فقيربنی هاشم وی مالداربه نه وی﴾

وَالنَّبِي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَعْطَاهُمْ لِلنُّصْرَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَّلَ فَقَالَ: {إِنَّهُمْ لَنْ يَزَالُوا مَعِي هَكَذَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَالْإِسْلَامِ، وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ} (١) دَلَّ عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ مِنْ النَّصْرِ قُرْبُ النُّصْرَةِ لَا قُرْبُ الْقَرَابَةِ.

حل اللغة: ① **شبک:** يوبل كښې ورداخل كړو ② **القرابة:** خپلولی

ژباړه وتشريح:- اونبی ﷺ دوئ ﴿بنومطلب ته﴾ وركړې وو ﴿په خمس د مال غنيمت كي﴾ د امله د نصرت ددوئ ﴿دا په اصل كي د يوتقديری سوال ځواب دې.چه دنبی ﷺ د بنو هاشم خپلولی خو منلې شوې ده.ځكه چې دنبیﷺ اصل نسب دعبدمناف نه پيل كيږی.دهغه ځلورځامن وو.هاشم،مطلب،نوفل اوعبدشمس،اونبیﷺ دحضرت هاشم په اولاد كي وو.ځكه چې د نبیﷺ سلسله نسب دا ده.محمدﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم،نوبنوهاشم دنبیﷺ دنيكۀ اولاد وو.نواوس كه بنو هاشم ته په خمس كي برخه ملاؤ شی.نوځكه چې بنوهاشم د نبیﷺ د نيكۀ اولاد دی.خوبنومطلب ته ولې ملاويږی.ځكه چې لكه څنګه رشته داری د بنومطلب د نبیﷺ سره ده،دغه ډول ورسره د بنوعبدالشمس،اوبنونوفل هم ده.نوددې تقديری سوال ځواب كوی.چه بنومطلب ته په خمس كي برخه ملاويږی.د قرابت د امله نه ملاويږی.ځكه چې په قرابت كي خو ورسره بنوعبدالشمس اوبنونوفل هم شريك دی.بلكه دوئ ته د نبیﷺ سره په دين اسلام كي د كومك كولوپه صله اوبدله كي دخمس نه برخه ملاويږی.چه دوئ د نبیﷺ سره كومك كړې وو.د دوئ د نصرت تفصيل دا دې.هركله چې الله تعالی په بنوهاشم كي نبیﷺ پيغمبرجوړ كړلو. نو قريشو ورسره حسد پيل كړلو.اوپه خپلوكي ئې معاهده اوكړله.چه بنوهاشم به يا موړ ته د قتل لپاره محمدﷺ راكوی.اويا به ورسره هر ډول تعلقات پريږدو.كله چې بنوهاشم ته دوئ دا مطالبه بيان كړه.نوهغوئ د دې مطالبې منلونه انكار اوكړلو.اودرې كاله ئې په شعب ابی طالب كي د نبیﷺ په ملګرتيا كي تيركړل.ياد ساتئ چې په دغه موده كي بنومطلب هم د بنوهاشمو سره وو.نوچونكه بنو مطلب په سخت وخت كي د نبیﷺ سره امداد كړې

---

١) غربه الزيلعی رحمه الله ثم ذكرحديث ابن عباس رضی الله عنهما وفيه لا يحل لكم أهل البيت من اصدقات شئ ولا غسالة الأيدی إن لكم فی خمس الخمس لما يغنيكم أويكفيكم أخرجه الهيثمی فی مجمع الزوائد (٩١\٣) وعزاه الطبرانی فی الكبير)_

وو . ځكه ورته الله تعالى دا بدله وركړله.چه په خمس كښې ئې ددوئ برخه مقرر كړه.ددې خبرې تائيدد راروان حديث د شان ورود نه كيږي.دحضرت سعيدبن مسيب رحمه الله نه روايت دې.چه نبي ﷺ دخيبريه ورځ مال غنيمت ويش كړل.اوددې سره ئې خمس هم په بنوهاشم اوبنومطلب باندې ويش كړلو.نوپه دې اره كې ورسره حضرت عثمان بن عفان اوجبيربن مطعم رض خبرې اوكړلې.اوعرض ئې اوكړلو.يا رسول الله ﷺ مونږدبنوهاشم د عظمت اوبزرګئ نه انكارنه كوو.ځكه چې تاسوپه بنوهاشم كې پيدا شوى ئې.البته دا چې مونږ «بنونوفل اوبنوعبدالشمس» په خپلوئ كې تاسوته نزدې يو. «ځكه چې لكه څنګه بنومطلب دهاشم د وروره اولاد دى .نودغه ډول مونږبنونوفل هم دهاشم د ورورنوفل اوعبدالشمس اولاد يو.خوددې باوجود چې مونږ تاسوته په خپلوئ كې نزدې يو» څه وجه ده.چه تاسوبنومطلب ته په مال خمس كې برخه وركړله.اومونږ مو محروم كړو.نونبي په دغه موقع دا حديث اوفرمائيل.كوم چې مصنف رحمه الله بيانوى چه» ولې ته نه ګورې چې نبي ﷺ «بنومطلب ته په خمس كې» علت بيانوى،اوفرمائى.دوئ «بنومطلب» هميشه لپاره زما سره «ملګرى» دى .تردې چې په جاهليت اوپه اسلام كې ، «په جاهليت كې خپلوئ ته اشاره ده.ځكه چې د بنومطلب نيكه مطلب دهاشم ورور وو.اوپه اسلام كې ملګرتيا ته اشاره ده.ځكه چې په شعب ابى طالب كې د نبي ﷺ سره درې كاله تيرول دى» اونبي ﷺ په يو بل كې وركړې ګوتې خپلې «نودا حديث» دلالت كوى.چه مراد د نص نه «چه د ذوي القربى ذكر په كې دې» نزديكت په اعتبار د نصرت سره دې.نه په اعتبار د خپلوئ سره «يعنى په آيت كې د ذدوى القربى نه نسبى خپلولى مراد نه ده.بلكه د كومك اونصرت په اعتبا سره نزديكت مراد دې.چه چا نبي ﷺ سره كومك كړې وى.نو هغوى په خمس كې د برخې حقدار دى.نوپه دې تشريح سره بنو مطلب د خمس مصرف شو. او بنو عبدالشمس او بنو نوفل مصرف نشو.احقر شاه فيصل چې په دې مقام كې په كومه طريقه عبارت لګولې دې په دې باندې د كتاب متن بالكل حل كيږي.اوهيڅ اشكال په كښې نه پاتې كيږي.ددې خبرې وزن به هلته معلوم شى.چه كله د مختلفو شروحاتو ورق ګردانى اوكړې شى.

په خمس كښې د الله او د رسول ﷺ دحصې مطلب

قَالَ (فَأَمَّا ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى فِي الْخُمُسِ فَإِنَّهُ لِافْتِتَاحِ الْكَلَامِ تَبَرُّكًا بِاسْمِهِ، وَسَهْمُ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سَقَطَ بِمَوْتِهِ

حل اللغة: ① **تبرك**:بركت حاصلول،خيرحاصلول ② **افتتاح**:شروع كول

زباره وتشريح:- مصنف رحمه الله فرمائى.هرچه ذكر دالله تعالى په «آيت د» خمس كې دى. «چه خمس كې د الله تعالى لپاره برخه ده.حالانكه الله تعالى د خلګو د مال دولت نه غنى او لاپرواه دې.خوبيا هم دالله تعالى د نوم ذكر چې په دې آيت كې شوې دې.» نودا «ذكرد نوم دالله چې «وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ» لپاره دشروع د كلام دې.چه تبرك حاصل شى په نوم دالله تعالى «يعنى په آيت كښې دالله تعالى د نوم ذكر صرف دتبرك لپاره راغلې دې.دا نه چې الله تعالى د غنيمت په خمس كې والعياذ بالله مستقل مصرف دې» اوحصه د نبي ﷺ ساقط شوې ده په وفات د دوى «نبي ﷺ»

كَمَا سَقَطَ الصَّفِيُّ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يَسْتَحِقُّهُ بِرِسَالَتِهِ وَلَا رَسُولَ بَعْدَهُ وَالصَّفِيُّ شَيْءٌ كَانَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَصْطَفِيهِ لِنَفْسِهِ مِنَ الْغَنِيمَةِ مِثْلَ دِرْعٍ أَوْ سَيْفٍ أَوْ جَارِيَةٍ.

حل اللغة: ① **يصطفي**:غوره كوى ② **الدرع**:زغره ③ **سيف**:توره

زباره وتشريح:-لكه څنګه چې ساقطه شوې ده صفى ځكه چې نبي ﷺ مستحق وو د دې «صفى» دخپلې پيغمبرئ په وجه،اونشته پيغمبر ﷺ روسته دده «نبي ﷺ» نه «بل څوك» او صفى هغه شى وو.چه منتخب كړه به نبي ﷺ دخپل خان لپاره د مال غنيمت نه لكه زغره ،توره او وينځه «نولكه څنګه چې د نبي ﷺ په وفات باندې صفى ختم شو.نودغه ډول په مال غنيمت كې د نبي ﷺ برخه هم ختمه شوه»

وَقَالَ الشَّافِعِي: يُصْرَفُ سَهْمُ الرَّسُولِ إِلَى الْخَلِيفَةِ، وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا قَدَّمْنَاهُ

ژباړه وتشریح:- اوفرمائي امام شافعيؒ چې منتقل کيږي به برخه د پيغمبر ﷺ خليفه ته ﴿نو د نبيﷺ د وفات نه روسته به په خمس کي د خليفه وخت برخه وي﴾ اوحجت په هغوئ ﴿امام شافعيؒ﴾ باندې هغه دي.کوم چې مونږبيان کړلو ﴿په دې قول سره چې (أن الخلفاء الأربعة الراشدين قسموه على ثلاثة أسهام وكان ذلك بحضر من الصحابة ﷺ ولم ينكر عليه أحد) ته اشاره ده﴾

(وَسَهْمُ ذَوِي الْقُرْبَى كَانُوا يَسْتَحِقُّونَهُ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنُّصْرَةِ) لِمَا رَوَيْنَا.

ژباړه وتشریح:- اوحصه دذوى القربى ﴿چه دغه ذوى القربى ني﴾ مستحق شوي.وو ﴿په خمس کي﴾ په زمانه د نبيﷺ کي په کومك کاوه سره ﴿چه دنبيﷺ سره ني کومك کړي وو﴾ د امله دهغه حديث نه کوم چې موږ بيان کړلو. ﴿چه دوئ زما سره په جاهليت اواسلام کي يوځاني دي﴾

دخمس نه د ذوالقربى فقيرانو ته د ورکولوحکم

قَالَ (وَبَعْدَهُ بِالْفَقْرِ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللهُ: هَذَا الَّذِي ذَكَرَهُ قَوْلُ الْكَرْخِي. وَقَالَ الطَّحَاوِي: سَهْمُ الْفَقِيرِ مِنْهُمْ سَاقِطٌ أَيْضًا لِمَا رَوَيْنَا مِنَ الْإِجْمَاعِ،

ژباړه وتشریح:- ﴿ابو الحسين قدوری﴾ؒفرمائي.اوپس ددې ﴿زماني د نبيﷺ نه مستحق ګرځي ذوالقربى﴾ په وجه د فقيرئ ﴿يعني دنبيﷺ د زماني نه روسته د ذوالقربى په حيثيت په خمس کي ددوئ برخه نشته.البته چې کوم نفر په ذوالقربى کي فقيران وي.نوهغوئ ته ورکولې شي.اومالدارانوته نشي ورکولې﴾ وائي بنده کمزورې ﴿يعني صاحب دهدايهؒ﴾ دا روايت ﴿چه ددوئ استحقاق د نبيﷺ د زماني نه روسته د فقيرئ په وجه دي﴾چه ذکرکړې دي صاحب دقدوریؒ قول دامام کرخيؒ دي.اوفرمائيلي دي امام طحاویؒ چې برخه د فقيرانو په دوئ کي ساقطه شوې ده هم ﴿يعني لکه څنګه چې د نبيﷺ په وفات باندې ددوئ د ذوالقربى په حيثيت دخمس نه برخه ساقطه شوې ده.دغه ډول دفقيرئ په بنا (بنياد) ني هم دوئ مستحق نه دی.بلکه دوئ ته به نشي ورکولې﴾ د امله دهغه څه نه چې موږ ني روايت کړې دي د اجماع نه ﴿په دې سره دې قول ته چې ((ولنا أن الخلفاء الراشدين قسموه على ثلاثة أسهم)) ته اشاره ده﴾

وَلِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الصَّدَقَةِ نَظَرًا إِلَى الْمَصْرِفِ فَيُحَرِّمُهُ كَمَا حَرَّمَ الْعِمَالَةَ.

ژباړه وتشریح:- اوبله دا ﴿يعني د فقريه وجه د ذوالقربى داستحقاق خمس عدم صحت دا﴾ ده.چه په دې خمس کښې معنى د صدقه ده.په نظرکولوسره مصرف ته، ﴿يعني دخمس مصرف چونکه يتيمان،فقيران اوابن السبيل دی.اوهم دا نفر د زکاة په مصارفوکي هم دي.نولکه څنګه چې زکاة سيدانوته نشي ورکولې. نو دغه ډول د خمس مصارف هم دغه د زکاة مصارف دی. پکارده چې دوئ ته هم خمس ورنکړې شي﴾ نوحرام به وى ﴿خمس په سيدانو باندې﴾ لکه څنګه چې حرام دی عماله، ﴿يعني که سيدسړې د صدقاتوپه راغونډولو باندې مقرر شي.اودې د خلګ ونه زکاة راغونډوی.نودې بيا هم د زکاة راغونډولود عمل په وجه د زکاة مستحق نه دې.دغه ډول دلته هم دخمس مستحق نه دی﴾

الْأَوَّلُ وَقِيلَ هُوَ الْأَصَحُّ مَا رُوِيَ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَعْطَى الْفُقَرَاءَ مِنْهُمْ،(١) وَالْإِجْمَاعُ انْعَقَدَ عَلَى سُقُوطِ حَقِّ الْأَغْنِيَاءِ، أَمَّا فُقَرَاؤُهُمْ فَيَدْخُلُونَ فِي الْأَصْنَافِ الثَّلَاثَةِ.

ژباړه وتشریح:- وجه داولنى روايت ﴿چه دنبيﷺ نه روسته ذوالقربى دفقيرئ په وجه دخمس مستحق دى﴾ اووئيلې شوی دی.چه دا قول اصح دې. ﴿اصح ني په قيل سره ځکه اووئيل.چه دبعضې مشائخو ددې قول

١) من حديث جبير بن مطعم ﷺ أخرجه أبوداود في الخراج باب ٢٠ رقم ٢٩٧٩)۔

په اصحيت كې اختلاف دې﴾ هغه ﴿اثر﴾دې،چه روايت شوې دې.چه حضرت عمرؓ وركړې وه فقيرانوته ﴿مال خمس نه﴾ په دوئ ﴿ذوالقربى﴾ كې ، ﴿لكه امام ابوداود چې په خپل سنن كې دحضرت جبيربن مطعمؓ نه دا روايت كړې دې.چه نبيﷺ په خمس كې بنوعبدالشمس اوبنونوفل ته برخه نه وركوله.اوحضرت ابوبكرؓ به د نبيﷺ پشان ويش كولو.البته دا چې دوئ به ذوالقربى ته وركولو.لكه څنګه چې به نبيﷺ وركولو.اوحضرت عمرؓ اودغه ډول د دوئ نه روسته چې كوم خليفه ګان وو.هغوئ به ذوالقربى ته وركولو﴾ اجماع ﴿دصحابوؓ﴾ منعقد شوې وه.په ساقط كيدودحصې د غنيانو ﴿په ذوالقربى كې﴾ اوهرچه فقيران ددوئ ﴿ذوالقربى﴾ وو .نو داخليږى په قسمونو دريوكې ﴿دمصارفودخمس نه چې يتيمان فقيران اوابن السبيل دى.البته دلته ذهن ته دا سوال راځى.چه هركله د ذوالقربى شتمن دخمس مستحق نه دى. نو فقيران هسې هم په ((فقرائهم)) كې داخل دى.نوپه قرآن كې ددوئ ذكرته څه اړتيا وو.ددې نه ځواب دا دې. كيداې شى.چا دا ګمان كړې وو.چه په سيدانوباندې صدقه اوزكاة حرام دې.اوخمس هم د زكاة پشان يو څيزدې.نودا به پرې هم حرام وى.نوددې ګمان لرې كاوه لپاره الله تعالى دا اوفرمائيل.دغه ډول يتيمان هم په ((فقرائهم))كې داخل دى .خوددوئ ذكرئې ددې ګمان لرې كاوه لپاره اوكړلو.چه خمس دمال غنيمت برخه ده.اودمال غنيمت مستحقين صرف غازيان وى.اويتيمان خود جهاد اهل نه وى. نوددوئ به په خمس كې برخه هم نه وى﴾

دامام داجازت نه بغيرد دارالحرب نه څه اختل

﴿وَإِذَادَخَلَ الْوَاحِدُأَوْالِاثْنَانِ دَارَالْحَرْبِ مُغِيرَيْنِ بِغَيْرِإِذْنِ الْإِمَامِ فَأَخَذُواشَيْئًالَمْ يُخَمَّسْ ﴾ لِأَنَّ الْغَنِيمَةَهُوَالْمَأْخُوذُقَهْرًاوَغَلَبَةًلَا اخْتِلَاسًاوَسَرِقَةً،وَالْخُمُسُ وَظِيفَتُهَا،

حل اللغة: ① الاختلاس تختول

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخل شى يوكس يا دوې [دوه] نفر دارالحرب ته لوټ كونكى ﴿چه هلته د خلګ ومالونه لوټ كړى﴾ بغيرداجازت دامام نه،اودوئ- واخستل څه څيز، ﴿د خلګ ونه په غلا يا په زبردستى﴾ نوخمس به نه وركوى . ﴿ځكه چې خمس په مال غنيمت كې وى.اودا مال غنيمت نه دې﴾ ځكه چې ﴿مال﴾ غنيمت هغه وى.چه اخستې شوى وى په زورسره،اويا په غلبه سره ﴿چه غازيان د حربيانو په مال باندې غلبه اوكړى﴾ نه تختولو او غلا،اوخمس وظيفه ددې ﴿مال غنيمت ده﴾

وَلَوْدَخَلَ الْوَاحِدُأَوْالِاثْنَانِ بِإِذْنِ الْإِمَامِ فَفِيهِ رِوَايَتَانِ،وَالْمَشْهُورُأَنَّهُ يُخَمَّسُ لِأَنَّهُ لَمَّا أَذِنَ لَهُمُ الْإِمَامُ فَقَدْالْتَزَمَ نُصْرَتَهُمْ بِالْإِمْدَادِ فَصَارَكَالْمَنَعَةِ

حل اللغة: ① المنعة.مددګار،ډله ،حمايتيان

ژباړه وتشريح:- اوكه داخل شى يوكس يا دوې [دوه] نفر په اجازت دامام سره ﴿دارالحرب ته﴾ نوپه دې كې دوې [دوه] روايتونه دى. ﴿د يو روايت په بناء په كې خمس شته اودبل په بناء په كې خمس نشته﴾ اومشهور روايت دا دې.چه دې به خمس وركوى ﴿په هغه مال كې چې لوټ كړې ئې وى﴾ځكه چې كله اجازت وركړلوده ته امام نويقيناً ده لازم كړلو ﴿په خپل ځان باندې﴾ كومك دهغوئ ﴿چه هغوئ سره به كومك كوى﴾په نورلښكرليږلو سره، ﴿كه تاسوته اړتيا پيښ شو.نوزه به درپسې نور نفر درليږم﴾ نواوګرځيدل ﴿امام د دوئ دپاره﴾ پشان د قوت ددوئ دپاره، ﴿او دوهم روايت كوم چې غيرمشهوردې.هغه دا دې.چه خمس به نه وركوى دا روايت د برامكهؒ دې.امام نطفىؒ په اجناس كتاب كې ذكركړې دې﴾

په دارالحرب كې د طاقتوري ډلي په لوټ كي دخمس حكم

﴿فَإِنْ دَخَلَتْ جَمَاعَةٌ لَهَا مَنَعَةٌ فَأَخَذُواشَيْئًا خُمِّسَ وَإِنْ لَمْ يَأْذَنْ لَهُمُ الْإِمَامُ﴾ لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌقَهْرًاوَغَلَبَةًفَكَانَ غَنِيمَةً،

حل اللغة: ① **القهر** په زور ،په زبردستئ

﴿او په دارالحرب کي ئې دحربیانوڅه څیزلوټ کړلو﴾ او وودهغوئ لپاره قوت که داخله شوه یوه ډله . ﴿او په ځومره کسانوحاصلیږی.نوپه محیط کتاب کي دامام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه په ځومره ﴿اوقوت چي په ځومره کسانوقوت حاصلیږی.هغه لس نفر دی﴾ په دې کي خمس دې.اګرچه اجازت نه وی ورکړې دوئ ته امام. ﴿او خمس په کي واجب دې﴾ ځکه دا ﴿مال﴾ اخستې شوې دې په زور اوپه غلبې سره. ﴿اوکوم څیزچه په دارالحرب کي د حربی کافرونه په غلبې اوزور سره واخستې شی.نوهغه غنیمت وی﴾ نودا غنیمت شو. ﴿اوچه غنیمت شو.نوپه غنیمت کی خمس وی.په دې کي به هم خمس وی﴾

وَلِأَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الْإِمَامِ أَنْ يَنْصُرَهُمْ إِذْ لَوْخَذَلَهُمْ كَانَ فِيهِ وَهْنُ الْمُسْلِمِينَ، بِخِلَافِ الْوَاحِدِ وَالِاثْنَيْنِ لِأَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ نُصْرَتُهُمْ.

ژباړه وتشریح:- اوبله دا چي واجب دې په امام باندې کومك کول دوئ سره.ځکه که پریږدی دوئ ﴿اودوئ سره نه کوی﴾ نوکمزوری به شی مسلمانان ﴿نوهرکله په امام باندې ددوئ سره کومك کول ضروری شو.نودا داسې شوه.لکه چي دامام په اجازت سره دوئ دغه لوټ کړې وی.اوورانده تیرشوی دی.چه کوم لوټ دامام په اجازت سره وی.په هغې کي خمس وی.نوپه دې کي به هم خمس وی﴾ په خلاف دیو کس یا دوو ﴿چه هغوئ په دارالحرب کي دامام د اجازت نه بغیر لوټ اوکړی.نوپه هغې کي خمس نشته﴾ ځکه چي واجب نه دې په ده ﴿امام﴾ باندې کومك کول دهغوئ ﴿ځکه چي هغوئ دامام په اجازت سره لوټ نه دې کړې.دغه ډول تعداد ئې هم هغه شمارته نه رسی.چه غلبه اوقوت ورته حاصل وی﴾

(فَصْلٌ فِي التَّنْفِيلِ) قَالَ (وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُنَفِّلَ الْإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ وَيُحَرِّضَ بِهِ عَلَى الْقِتَالِ فَيَقُولَ "مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ" وَيَقُولَ لِلسَّرِيَّةِ قَدْ جَعَلْتُ لَكُمُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ) مَعْنَاهُ بَعْدَمَا رَفَعَ الْخُمُسَ لِأَنَّ التَّحْرِيضَ مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ، قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ} وَهٰذَا نَوْعُ تَحْرِيضٍ،

حل اللغة: ① **التنفيل** مجاهدته د انعام په توګه څه څیز ورکول ② **یحرض** تیزوی ③ **مندوب** مستحب ④ **سلب** سامان

ژباړه وتشریح:- فصل دې په بیان د تنفیل ﴿یعنی مجاهد ته د انعام په طور دهغه دحصې نه زیات ورکولو﴾ کنبې، ﴿ابو الحسین قدوری﴾ رحمه الله فرمائی.په دې خبره کي څه حرج نشته،چه تنفیل اوکړی امام په حالت د قتال کي اوعجلی (تیزی) ورکړی په جنګ کولواودا اووائی.چاچه کافرقتل کړلو.نودغه ﴿مجاهد﴾ لپاره د هغه ﴿مقتول کافر﴾ سامان دې.او ﴿یا﴾ اووائی.سریه ﴿وړکوټی لښکر﴾ ته،بیشکه ما اوګرځوله ستاسو لپاره څلورمه برخه ﴿علامه مرغینانی رحمه الله فرمائی﴾ معنی ددې ﴿چه ستاسو لپاره مې څلورمه برخه اوګرځوله﴾ روسته د ویستلو د خمس نه ﴿چه د خمس د مصارفونه روسته کومې څلورحصې پاتې شی.په هغې کي به یوخمس ستاسو وی. مثلا شل زره روپۍ په مال غنیمت کي وې.په هغې کي یوخمس شو.چه څلور زره روپۍ دی.اوپاته شو څلورحصې چې شپاړس زره روپۍ دی.نوپه هغې کي امام غازیانوته بطورد تنفیل صرف یوه برخه ورکولې شی.چه څلور زره روپۍ دی.اوپاته پاتې شوې درې برخې چې دولس زره روپۍ دی.هغه به دپاته واړه لښکرشی.ځکه چې دا دانعام په طور مجاهدینوته څه ورکول په جهاد باندې ددوئ اماده کول دی﴾ اوتیزول ﴿د مجاهدینوپه جهاد باندې﴾ مستحب دی.الله تعالی فرمائیلی دی.﴿وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (اې پیغمبر ﷺ) تیز کړه مسلمانان په قتال باندې ﴿کافروسره﴾ اودا ﴿تنفیل هم﴾ یو ډول تحریض ﴿تیزول﴾ دی.

ثُمَّ قَدْ يَكُونُ التَّنْفِيلُ بِمَا ذَكَرَ وَقَدْ يَكُونُ بِغَيْرِهِ، إِلَّا أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يُنَفِّلَ بِكُلِّ الْمَأْخُوذِ لِأَنَّ فِيهِ إِبْطَالَ حَقِّ الْكُلِّ، فَإِنْ فَعَلَهُ مَعَ السَّرِيَّةِ جَازَ لِأَنَّ التَّصَرُّفَ إِلَيْهِ وَقَدْ يَكُونُ الْمَصْلَحَةُ فِيهِ

ژباړه وتشریح:- اوکله وی تنفیل په هغه طریقه کومه چې ذکرشوه. ﴿چه د مقتول سامان یا څلورمه برخه ورکول

دي﴾ اوکله وی بغیرددې نه ﴿لکه دا اووائی.چاچه د کافرانوبادشاه قتل کړلو.نودهغه لوربه ورته ورکوم﴾ البته دومره ده.چه نه دی مناسب دامام لپاره چې انعام ورکړي واړه اخستې شوې شیان (څیزونه) ﴿په مال غنیمت کي یوکس یا یوې ډلې ته﴾ ځکه چې په دې کي باطلول دحق د ټولو دي﴿ځکه چې په دغه مال غنیمت کې د نورو غازیانوحصه هم ده.﴾ که وې کړلو دا کارسریه سره﴿چه بطور انعام واړه مال غنیمت ورکړي﴾ نو جائز ده.ځکه چې د تصرف حق حاصل دې ده ﴿امام﴾ ته،اوکله کله وی مصلحت په دې کي ﴿چه واړه مال غنیمت یوخاص کس یا سریه ته ورکړي﴾

په دارالاسلام کي دغنیمت دمحفوظ کیدونه روسته تنفیل

(وَلَا يُنَفِّلُ بَعْدَ إِحْرَازِ الْغَنِيمَةِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ) لِأَنَّ حَقَّ الْغَيْرِ قَدْ تَأَكَّدَ فِيهِ بِالْإِحْرَازِ.

ژباړه وتشريح:- اودانعام په طوربه نشي ورکولي ﴿یوکس یا یوې ډلې ته څه شی دمال غنیمت نه﴾ روسته د محفوظ کیدو د غنیمت نه په دارالاسلام کي ،ځکه چې حق د غیر ﴿چه نورغازیان دي﴾ متحقق شو په دې ﴿غنیمت﴾ کي ،

تنفیل به د خمس نه نه وي

قَالَ (إِلَّا مِنَ الْخُمُسِ) لِأَنَّهُ لَا حَقَّ لِلْغَانِمِينَ فِي الْخُمُسِ

ژباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله فرمائی. ﴿امام د.تنفیل اعلان کولې شي﴾ مګرنشي کولي د خمس نه ځکه چې نشته حق د غازیانو لپاره په خمس ﴿دمال غنیمت﴾ کي ، ﴿بلکه دا خودهغه درې مصارفو لپاره دي.کوم چې وړاندې تیر شول﴾

داعلان نه بغیردقاتل د مقتول دسامان په استحقاق کي اختلاف

(وَإِذَا لَمْ يَجْعَلِ السَّلَبَ لِلْقَاتِلِ فَهُوَ مِنْ جُمْلَةِ الْغَنِيمَةِ، وَالْقَاتِلُ وَغَيْرُهُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: السَّلَبُ لِلْقَاتِلِ إِذَا كَانَ مِنْ أَهْلِ أَنْ يُسْهَمَ لَهُ وَقَدْ قَتَلَهُ مُقْبِلًا

ژباړه وتشريح:- اوکله چې اونه ګرځوي ﴿امام﴾ سامان ﴿دمقتول﴾ لپاره د قاتل ﴿اودا اعلان اونکړي.چه چا کوم کافرقتل کړلو.نودهغه سامان به دمال غنیمت نه سوا دهغه دقاتل وی﴾ نوهغه ﴿سامان د مقتول حربی کافر﴾ به وی د مال غنیمت څنی،اوقاتل اوسوا د قاتل نه په دغه ﴿سامان﴾ کي برابر دی. ﴿دا نه چې قاتل ته به د مقتول سامان کي څه زیاتی ملاویږی﴾اوفرمائی امام شافعی رحمه الله چې سامان ﴿دمقتول حربي﴾ لپاره د قاتل ﴿دهغه﴾ دې.خوبه دې شرط چې وی اهل ددې چې برخه مقرر کړې شی ده لپاره ﴿په مال غنیمت کښې .یعنی که په مال غنیمت کي دحصې اخستوقابل وی.نودغه چې کوم کافرقتل کړې وی.دې دهغه د سامان مستحق دې.﴾ اوبل دا ﴿شرط﴾ چې ده ﴿قاتل﴾ هغه ﴿حربی کافر﴾ قتل کړې وی.په داسې حال کي چې د هغه ﴿کافر﴾ مخ وی. ﴿شا ئې نه وی.یعنی هغه دې قاتل مسلمان سره جنګ کولوته تیاروی﴾

لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ) (١) وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ نَصْبُ شَرْعٍ لِأَنَّهُ بَعَثَهُ لَهُ، وَلِأَنَّ الْقَاتِلَ مُقْبِلًا أَكْثَرُ غَنَاءً فَيَخْتَصُّ بِسَلَبِهِ إِظْهَارًا لِلتَّفَاوُتِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ.

حل اللغة: ① **مقبل** وړاندې کیدونکي ② **نصب** مقرر شوې دې ③ **التفاوت** فرق کول

ژباړه وتشريح:- د امله د قول د نبی ﷺ نه،چا چې قتل کړلو یوکس ﴿دحربی کافرانو نه﴾ نوده ﴿قاتل﴾ لپاره سامان دهغه ﴿مقتول﴾ دې.اوظاهر د دې ﴿حدیث﴾ دا دې.چه نبی ﷺ مقرر کړې دې شریعت ﴿اویوه

---

١) من حديث أبي قتادة رضي الله عنه أخرجه البخاري في الخمس باب ١٨ ومسلم في الجهاد رقم ٤٢ وأبوداود في الجهاد باب ١٣٦ رقم ٢٧١٧ والترمذي في السير باب ١٣ وابن ماجه في الجهاد باب ٤٢ ومالك في الجهاد رقم ١٨ وأحمد في المسند (٣٠٦\٥)_

قاعده ئې بيان كړې ده.چه دقاتل به د حربي مقتول د سامان مستحق وي.اودې ته قاعده وايو﴿ ځكه چې شوى دى د نبى ﷺ لپاره ددې ﴿شرعى قواعدو اوقوانينوبيانولو﴾او﴿دا شرط مو اولګولو .چه راليږل شوى دى د نبى ﷺ لپاره ددې﴾ مسلمان هغه وژلى وى.ځكه چې مسلمان﴾ قاتل ﴿قتل كونكى دې﴾ دمخ كونكى دكافرمخ وى.اومسلمان هغه وژلى وى.ځكه چې مسلمان﴾ نو شو دامسلمان زيات فائده وركونكي ﴿مسلمانانو ته، ﴿كافرچه دمسلمانانوقتلولو لپاره تيار وو.﴾ نو شو دامسلمان زيات فائده وركونكي ﴿مسلمانانو ته، ﴿كافرچه دمسلمانانو كي ځوك قتل كړي وو﴾ نوخاص كولې به شى ځكه كه ده دغه كافرنه ووقتل كړې.هغه به په مسلمانانو كي ځوك قتل كړې وو﴾ نوخاص كولې به شى ﴿دا مسلمان قاتل﴾ په سامان د هغه ﴿حربى كافرچه ده قتل كړې وى.يعنى دهغه سامان به صرف ده ته ملاويږى﴾ لپاره د توپير راوستلوپه مينځ دده ﴿مسلمان قاتل﴾ اوبل ﴿غازى﴾ كي ﴿چه هغه جهاد كړې وى.خوځوك ئې قتل كړې نه وى﴾

وَلَنَا أَنَّهُ مَأْخُوذٌ بِقُوَّةِ الْجَيْشِ فَيَكُونُ غَنِيمَةً فَيُقْسَمُ الْغَنَائِمُ كَمَا نَطَقَ بِهِ النَّصُّ. وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِحَبِيبِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ {لَيْسَ لَكَ مِنْ سَلَبِ قَتِيلِكَ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُ إِمَامِكَ} ([1])

حل اللغة: ① الجيش: لښكر ② سلب: د مقتول سامان ③ طابت: خوشحاله وو

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره دليل دا دې.چه دا ﴿سامان دمقتول كافر﴾ اخستې شوې دې په قوت د لښكرسره، ﴿ځكه كه چيرته دې يواځې وې.نوهغه كافرئې نشوقتل كولې.ده ته چې دهغه په قتل كولوقدرت ملاؤ شو. نو د خپلو ملګروپه داډ سره ملاؤ شوې دې﴾ نووى به ﴿سامان د مقتول﴾ غنيمت، ﴿اوچه مال غنيمت شو﴾ نوتقسيمولې به شى په شان د ويش دمال غنيمت،لكه څنګه چې ګويا دې په دې ﴿خبره﴾ باندې نص، ﴿چه قول دالله تعالى دى.﴿وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ﴾ګورئ په دې آيت كي ددې ذكرنشته.چه قاتل ته به د مقتول سامان په هرحالت كي ملاويږى.كه امام ورله د انعام اعلان كړې وى اوكه نه﴾ اوفرمائيلى دى نبى ﷺ حبيب بن ابى سلمه ﷺ ته ﴿علامه عينى رحمه الله نقل كړى دى.چه صحيح نوم حبيب بن مسلمه ﷺ دې﴾ نشته ستا لپاره د سامان د مقتول ستا نه مګرهغه چې راضى وى په هغې باندې نفس دامام ستا ﴿يعنى كه امام تاته ستا د مقتول سامان دركوى.نوټيك ده.اوكه هغه ئې نه دركوى. نو د هغې د استحقاق دعوى نشې كولې﴾

وَمَا رَوَاهُ يَحْتَمِلُ نَصْبَ الشَّرْعِ وَيَحْتَمِلُ التَّنْفِيلَ فَنَحْمِلُهُ عَلَى الثَّانِي لِمَا رَوَيْنَاهُ.

ژباړه وتشريح:- ﴿باتې شو دامام شافعى رحمه الله نقلى دليل،دهغې نه ځواب وركوى﴾ اوهغه ﴿حديث﴾ چې روايت ئې كړې دې ﴿امام شافعى رحمه الله چې من قتل قتيلاً فله سلبه﴾ احتمال لرى چې وى مقرركول د شريعت ﴿لكه څنګه چې امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه دا د نبى ﷺ لپاره يوه شرعى قاعده اوضابطه ده﴾ اواحتمال لرى د انعام ﴿چه كوم كس يوكافرقتل كړى.نودانعام په طوربه هغه ته ددغه مقتول سامان وركولې شى﴾ نوحمل كوو ئې موږ په دويمه معنى باندې ﴿چه بطورانعام د قاتل استحقاق دې﴾ دهغه حديث د امله كوم چې موږ روايت كړلو. ﴿يعنى حديث د حبيب بن سلمه ﷺ،ځكه چې په هغې كي په صراحت سره موجود دى.چه ته دخپل مقتول د سامان مستحق ئې.خوچه امام پرې راضى وى﴾

وَزِيَادَةُ الْغَنَاءِ لَا تُعْتَبَرُ فِي جِنْسٍ وَاحِدٍ كَمَا ذَكَرْنَاهُ.

ژباړه وتشريح:- ﴿دامام شافعى رحمه الله د عقلى دليل نه ځواب وركوى﴾ اوزيادت د فائدې معتبر نه وى په يوجنس كي ،لكه څنګه چې موږ ذكركړى دى. ﴿په دې كي اشاره ده هغه بيان ته،كوم چې ئې په ((باب كيفية

---

١) قال الزيلعى رحمه الله هكذا وقع فى الهداية ،حبيب بن أبى سلمة ﷺ وصوابه حبيب بن مسلمة ﷺ والحديث رواه الطبرانى فى معجمه الكبير(نصب الرأية ٣\٦٤٨)_

القسمة)) كي په ((لأن الكر والفر من جنس واحد)) ترديې قول پورې ((تعذر إعتبار مقدار الزيادة))ځكه چې بعضې يوغازى دومره بهادر وى.چه هغه د سلومجاهدينو هومره كار كوى. خو د دې باوجود هغه ته صرف خپله برخه ملاويږى.د سلوغازيانوحصه ورته نه ملاويږى.ځكه چې دده مړانه،هرڅه د يوجنس سره تعلق ساتى.دغه ډول په زيربحث مسئله كي هم اګرچه دې مسلمان چې كافرقتل كړلو.لويه كارنامه ئې اوكړله.ليكن دده د جنګ ټوله بهادرى چې راواخلې.نود يوجنس سره تعلق ساتى.ددې امله دامام د اجازت اواعلان نه بغيردې د خپل مقتول د سامان مستحق نشى جوړيدې»

دمقتول د سامان بيان

((وَالسَّلَبُ مَا عَلَى الْمَقْتُولِ مِنْ ثِيَابِهِ وَسِلَاحِهِ وَمَرْكَبِهِ، وَكَذَا مَا كَانَ عَلَى مَرْكَبِهِ مِنَ السَّرْجِ وَالْآلَةِ، وَكَذَا مَا مَعَهُ عَلَى الدَّابَّةِ مِنْ مَالِهِ فِي حَقِيبَتِهِ أَوْ عَلَى وَسَطِهِ وَمَا عَدَا ذٰلِكَ فَلَيْسَ بِسَلَبٍ)

حل اللغة: ① ثياب:جامې ② سلاح:وسله ③ مركب:سورلى ④ السرج:جمع د سراج ډيوه ⑤ الحقيبة:بسته ،هميانۍ (بټوه)

ژباړه وتشريح:- اوسامان هغه دې.چه وى په مقتول باندې دجامه دهغه اود وسلې دهغه اود سپرلۍ د هغه نه، «يعنى دا شيان (ځيزونه) په سلب كي اوسامان كي ګڼه دى» اودغه ډول هغه «سامان» چې وى په سپرلۍ «اوس وغيره» دده «مقتول» د زين اوآله ددې «سپرلۍ لكه واګه،ګدۍ وغيره» نه،اودغه ډول «سلب هغه څه ته هم شامليږى» چې وى ده «غازى» سره په سپرلۍ باندې د ده مال په تيلۍ كي ،يا دده په شا وى «لكه هميانه» اوهغه چې وى سوا ددې «ځيزونو» نه، «كوم چې ذكرشول» نوهغه نه دې ،سلب، «سامان د مقتول»

وَمَا كَانَ مَعَ غُلَامِهِ عَلَى دَابَّةٍ أُخْرَى فَلَيْسَ بِسَلَبِهِ، ثُمَّ حُكْمُ التَّنْفِيلِ قَطْعُ حَقِّ الْبَاقِينَ، فَأَمَّا الْمِلْكُ فَإِنَّمَا يَثْبُتُ بَعْدَ الْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ لِمَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ،

ژباړه وتشريح:- اوهغه چې وى سره د غلام دده په بله سپرلۍ باندې،نونه دې «هغه» سلب،بيا حكم د تنفيل «يعنى د قاتل لپاره د انعام اعلان كولو» ختم كړلو حق د نورو «غازيانود هغه مال نه،كوم چې امام ده ته په انعام كي وركړې وى.اودهغوئ په كي ځكه برخه ختمه شوه.چه په مال غنيمت باندې د غازيانو» ملكيت ثابتيږى روسته د محفوظ كولونه په دارالاسلام كي «يعنى غازيان هله د مال غنيمت مستحق ګرځى.چه دوئ غنيمت دارالاسلام ته راوړى.نودا محفوظ شو.اوچه محفوظ شو.نوددوئ برخه شوه.اوكوم ځيزچه امام يوكس ته دهغه د ښه كاركردګۍ وجه په دارالحرب كي وركړې وى.نودهغې نه د غازيانوحق ختم شو.ځكه چې په هغې باندې ددوئ ملكيت نشته» دهغې تفصيل د امله كوم چې موږ وړاندې بيان كړلو «اشاره ده په باب الغنائم كي .لأن الإستيلاء إثبات اليد الحافظة والناقلة والثانية منعدمة))قول ته»

د انجلۍ د واجد لپاره اعلان

حَتَّى لَوْ قَالَ الْإِمَامُ مَنْ أَصَابَ جَارِيَةً فَهِيَ لَهُ فَأَصَابَهَا مُسْلِمٌ وَاسْتَبْرَأَهَا لَمْ يَحِلَّ لَهُ وَطْؤُهَا، وَكَذَا لَا يَبِيعُهَا. وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ.(١)

ژباړه وتشريح:- ترديې «دا راروانه مسئله په دې باندې تفريع ده.چه په يوځيزباندې ملكيت هله راځى.چه دارالاسلام ته په منتقل كيدو سره محفوظ شى.نوهله به پرې ملكيت ثابتيږى» كه ووايي امام څوك چې «وينځه» ته يومسلمان اورسيدلو «يعنى حاصله ئې كړه» يوه وينځه نوهغه «وينځه» دهغه «واجد» ده، نواورسيدو هغې ته يومسلمان اوبرائت د رحم ئې اوكړلود هغې «يعنى دحيض وينه ئې بنده شى.اوهغه غازى ته

---

(١) القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا فى الخانية (٤٦٣\٤)وفتح القدير(٢٥٣\٥)وردالمحتار(٢٦٤\١٣) نقلاً عن القول الراجح (٤٨٦\١١)-

معلومه شي. چي ددې په رحم كي څه نشته﴾ نوجائزنه دی ده ﴿واجد﴾ لپاره وطی كول دهغې ﴿وينځه په دارالحرب كي﴾ اودغه ډول ﴿نه دی جائز﴾ خرڅول دهغې.اوداحكم ﴿دعدم حلت وطی اوبيع﴾ په نيزد امام ابوحنيفه اوابويوسف رحمه الله دی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَهُ أَنْ يَطَأَهَا وَيَبِيعَهَا، لِأَنَّ التَّنْفِيلَ يَثْبُتُ بِهِ الْمِلْكُ عِنْدَهُ كَمَا يَثْبُتُ بِالْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَبِالشِّرَاءِ مِنَ الْحَرْبِيِّ، وَوُجُوبُ الضَّمَانِ بِالْإِتْلَافِ قَدْ قِيلَ عَلَى هَذَا الِاخْتِلَافِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

حل اللغة: ① الاتلاف: هلاكول

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلی دی امام محمد رحمه الله ﴿جائزدی﴾ ده ﴿واجد﴾ لپاره چې وطی كړی دا ﴿وينځه﴾ او وپلوری دا ﴿وينځه﴾ اوخرڅه ئې كړی.ځكه چې تنفيل ﴿چه امام چاته څه ځيزپه انعام كښې وركړی﴾ ﴿تنفيل﴾ باندې ملك ﴿په دارالحرب كي﴾ په نيزدده ﴿امام محمد رحمه الله يعنی كه امام په ثابتيږی په دې دارالحرب كي د مال غنيمت ويش اوكړی.نودچا په برخه كي چې كوم شی راشی په هغې باندې دهغه ملكيت ثابتيږی﴾ اوپه اخستلوسره د حربی نه ﴿په دارالحرب كي يعنی كه يوغازی په دارالحرب كي د حربی كافر نه يوځيز په پيسو واخستلو.نوپه هغې باندې ددغه مشتری ملكيت ثابتيږی.اګرچه په دارالحرب كي وی﴾ اووجوب د ضمان په هلاكولوسره وئيلی شوی دی چې په دې اختلاف بناء دی. ﴿يعنی د متنفل په كوم شی په دارالحرب كي قبضه راشی.اوبل يوكس دغه ځيزهلاك كړی.نوپه هغه باندې د تاوان په وجوب كي هم دا اختلاف دی.يعنی د شيخينو رحمهما الله په نيزپه متلف باندې ضمان نشته.ځكه چې د متنفل ملكيت پرې په دارالحرب كي نه دې راغلی.اودامام محمد رحمه الله په نيزپه متلف باندې ضمان شته.ځكه چې په دغه ځيزباندې د تنفيل نه روسته په دارالحرب كي د متنفل ملكيت راغلی دی﴾

(بَابُ اسْتِيلَاءِ الْكُفَّارِ)

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ باب ﴿په بيان د﴾ غلبه د كافرانو﴿كي ديګه﴾

دكافرانوپه هغه مالونوملكيت راتلو كوم چې هغوئ د اهل كتابونه قبضه كړی وی

(وَإِذَا غَلَبَ التُّرْكُ عَلَى الرُّومِ فَسَبَوْهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ مَلَكُوهَا) لِأَنَّ الِاسْتِيلَاءَ قَدْ تَحَقَّقَ فِي مَالٍ مُبَاحٍ وَهُوَ السَّبَبُ عَلَى مَا نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى (فَإِنْ غَلَبْنَا عَلَى التُّرْكِ حَلَّ لَنَا مَا نَجِدُهُ مِنْ ذَلِكَ) اعْتِبَارًا بِسَائِرِ أَمْلَاكِهِمْ.

ژباړه وتشريح:- اوكله چې غالب شی تاتاريان ﴿كافران﴾ په روميانو ﴿عيسايانو﴾ باندې،اوهغوئ ﴿روميان﴾ قيديان كړی.او واخلی مالونه دهغوئ ځكه چې غلبه يقيناً متحقق شوې ده په مال مباح باندې او هم دا ﴿استيلاء په مال مباح باندې﴾ سبب دی ﴿دملك راتلو په هغې باندې﴾ لكه چې موږ به ئې بيان كړو ﴿په دې قول سره چې ،،واذا غلبوا علی أموالنا،،﴾ كه غلبه اوكړه موږ ﴿مسلمانانو﴾ په تركيانو ﴿كافرانو﴾ نوحلال دی زموږ ﴿مسلمانانو﴾ لپاره هغه څه چې مومو ئې موږ ددغه نه ﴿كوم چې تركيانوكافرانو د روميانو عيسايانو نه اخستی وی﴾ د امله د قياس نه په ټولومالونو ددوی ﴿تركيانوكافرانو،يعنی لكه څنګه چې موږ د تركيانوپه خپلو مالونوباندې غلبه اوكړو.نودهغې مالكان جوړيږو.دغه ډول به دهغه مالونو هم مالكان جوړيږو.كوم چې هغوی د روميانو عيسايانونه ا خستی وی.يعنی زموږ لپاره دواړه برابردی﴾ اوكله چې غلبه اوكړی ﴿كافرانو﴾ په مالونو زموږ الله دې نه كی (نكړی)اومحفوظ كړی دا ﴿مالونه زموږ﴾ په خپل ملك كي نومالكان جوړيږی دهغې ﴿مالونو﴾ اوفرمائی امام شافعی رحمه الله نه مالكان كيږی ﴿كافران﴾ ددې ﴿مالونوزموږ﴾ چې خپل ملك كي ئې محفوظ كړی.اودليل دا بيانوی﴾ ځكه چې غلبه ﴿په مالونو د مسلمانانو د كافرانو دپاره﴾ حرامه ده په اول كي ﴿يعنی په دارالاسلام كي ورسره چې وی.لائې دارالكفرته نه وی منتقل كړی﴾ اوپه آخر كي ﴿چه كله ئې دارالكفرته يوسی﴾ اوحرام فعل ﴿چه اګرچه په حيثيت سره حرام وی﴾ صلاحيت نه لری چې شی سبب د ملك ﴿ځكه چې كوم شی په هرلحاظ

سره حرام وي.هغه زموږ په نيز هم سبب د ملكيت نه جوړيږي.لكه څنګه چې مسلمان شراب واخلي.نودې دهغې مالك نه جوړيږي﴾ لكه څنګه چې معلومه شوې ده د قاعدې د خصم ﴿امام شافعي﴾ رحمه الله نه ﴿اوهغه قاعده دامام شافعي رحمه الله په نيز دا ده.چه دمشروعيت نه روسته چې نهي راشي.نوپه هغه منهي عنه باندې ملكيت نه ثابتيږي﴾ او زموږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه غلبه ﴿دكافرانو﴾ راغلې ده په مال مباح باندې ﴿ځكه چې غلبه دې ته وائي.چه په يو څيزباندې په داسې طريقه قدرت راشي.چه في الحال ترې هم فائده اخستې شي.او د روسته لپاره ئې ذخيره كولې هم شي.اوپه داسې طريقه باندې قدرت هله راځي.چه هغه شي په خپل ملك او كور كې محفوظ كړي.اوچه كله كافران د مسلمانانوپه مال غلبه اوكړي.اوخپل ملك ته ئې يوسي.نودمسلمان دحق د امله چې دغه مال ته كوم عصمت ملاؤ شوې وو.هغه زائله شو.او مباح اوګرځيدلو.اوداسې شو.لكه چې كافرپه ښكارباندې غالب شي.نودهغه په هغې باندې ملكيت راځي.ځكه چې ښكارمباح دې.نودغه ډول دمسلمانانو مالونه هم مباح اوګرځيدل.اوچه مباح شول .نودهغوی غلبه پرې صحيح شوه﴾ نومنعقد كيږي به ﴿غلبه په مال مباح باندې﴾ سبب د ملك د لپاره د لرې كولو حاجت د مكلف ﴿يعني كه په مال مباح باندې د غلبې راتلو نه روسته هم هغه معصوم نشي.بلكه مباح وي.نوبيا خو به دغه قابض دهغې فائده نشي اخستې.بلكه كه څوك ئې ترې واخلي.نودهغه ملكيت به پرې ثابتيږي.حالانكه يومباح شی چې څوك حاصلوي.نودملكيت لپاره ئې حاصلوي﴾ پښان دغلبې زموږ په مالونودهغوئ ﴿يعني لكه څنګه چې موږ دهغوئ په مالونوقبضه اوكړو.نوموږ دهغې مالكان جوړيږو.دغه شان چې هغوئ زموږ په مالونوقبضه اوكړي. هغوئ به ئې هم مالكان جوړيږي﴾

وَهَذَا لِأَنَّ الْعِصْمَةَ تَثْبُتُ عَلَى مُنَافَاةِ الدَّلِيلِ ضَرُورَةَ تَمَكُّنِ الْمَالِكِ مِنْ الِانْتِفَاعِ، فَإِذَا زَالَتْ الْمُكْنَةُ عَادَ مُبَاحًا كَمَا كَانَ،

حل اللغة: ① الانتفاع.نفع حاصلول ② المكنة.قدرت ،قوت

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿چه په مباح مال باندې غلبه راغلې ده.ځكه چې﴾ عصمت ﴿په مال كې﴾ ثابتيږي په منافاة د دليل سره، ﴿يعني اصل اودليل خودا دې.چه واړه شيان (څيزونه) مباح دی.ځكه چې الله تعالى فرمائيلي دي ((هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا)) دا آيت ددې تقاضا كوي.چه ديوكس هيڅ مال دې معصوم نه وي.خوبياهم مونږپه ملك راوستوسره عصمت ثابتوو﴾ د امله د اړتيا نه،چه قدرت ملاويدل دی مالك ته د فائدې اخستلو، ﴿يعني كه موږ دغه څيزغيرمعصوم پريږدو.چه په هغې كې هرڅاته د تصرف اواستعمال اجازت وي.نوپه دې صورت كې دهغې نه فائده اخستل غيرممكن دی.ځكه چې څيزبه يو وي. او هركس ته به دهغې نه د فائدې اخستلواختياروي.نوپه يووخت كې به د يوڅيزنه كوم كوم كس فائده اخلي.بس ددې اړتيا د امله موږ په ملكيت راوستوسره مباح څيزمعصوم اوګرځولو﴾ اوكله چې قدرت زائله شو.دفائدې ځنګه چې وړاندې وو.

غَيْرَ أَنَّ الِاسْتِيلَاءَ لَا يَتَحَقَّقُ إلَّا بِالْإِحْرَازِ بِالدَّارِ لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنْ الِاقْتِدَارِ عَلَى الْمَحَلِّ حَالًا وَمَآلًا،

ژباړه وتشريح:- ﴿اوبه مباح مال باندې چې دچا قبضه راشي.هغه دهغه مال مالك وي.اودې دهغې څيزنه پوره فائده اخستې شي﴾ البته دومره ده. ﴿چه په زيربحث مسئله كې به د كافرانوغلبه په هغه صورت كې ملك سره، ﴿يعني چې كافران دمسلمانانومالونه خپل ملك ته يوسي.هم دا وجه ده.كه دوئ دغه مال د دارالاسلام نه لا ويستې نه وي.چه مسلمانان پرې بيا قبضه اوكړي.نوهغه مال به خپلومالكانوته واپس كيږي﴾ ځكه چې دا ﴿غلبه﴾ عبارت دې د واك اواختيارحاصليدو نه په محل ﴿يعني څيز﴾ باندې في الحال ﴿چه هغه څيزاستعمال كې راوستې شي﴾ او ورسته ﴿په مستقبل كې چې ذخيره كولې ئې

دغه مال ته ئې يوسي.نوځكه﴾ چې غلبه نه حاصليږي.مګرمحفوظ كيدو سره په

شي.اوكوم مال چې دوئ د مسلمانانونه اخستې وي.ليكن هم په دارالاسلام كې وي.ددې نه اګرچه في الحال دوئ فائده اخستې شي.ليكن ذخيره كولې ئې نشي.ځكه كيداې شي.چه مسلمانان بيا په كافرانوباندې غالب شي.اوهغه مال ترې واپس ترلاسه كړي﴾

وَالْمَحْظُورُ لِغَيْرِهِ إِذَا صَلُحَ سَبَبًا لِكَرَامَةٍ تَفُوقُ الْمِلْكَ وَهُوَ الثَّوَابُ الْآجِلُ فَمَا ظَنُّكَ بِالْمِلْكِ الْعَاجِلِ؟.

حل اللغة: ①المحظور:ناروا ،حرام ② كرامة:عزت ③ تفوق:پورته كيږي

زباره وتشريح:- ﴿دا راروان عبارت د امام شافعي رحمه الله دقول نه ځواب دې.دهغوئ قول دا وو.چه كوم څيزحرام وي.هغه سبب د ملك نشي جوړيدې.نودمسلمان په مال باندې دكافرقبضه كول حرام دی.ځكه دا سبب د ملكيت نشي جوړيدې.نودهغې ځواب وركوي.اوفرمائي﴾ اوحرام لغيره ﴿نه لعينه﴾ كله چې صلاحيت لرې چې سبب شي د عزت نوپيدا كوي ملك، ﴿نوپه زيربحث مسئله كې كه موږ دا اومنو.چه په حرامه طريقه ملكيت نه ثابتيږي.خوحرمت په دوې [دوه] قسمه دې.يوحرام لعينه وي.اوبل حرام لغيره وي.نوتاسوچه كومه قاعده ذكركوئ.چه حرام سبب د ملكيت نه جوړيږي.ددې نه حرام لعينه دې.اوپاتې شو حرام لغيره يعنې چې يو څيزدخپل ذات په اعتبارسره حرام نه وي،بلكه مباح وي.البته په دې كې چې حرمت راغلې د يوخارجي شي د امله وي.چه كله هغه خارجي څيزلرې شي.نوبيا مباح ګرځي.اوپه زيربحث مسئله كې هم حرمت لغيره دې.البته حرمت چې په كې راغلې دې.نودمالك حق ورپورې متعلق دې.ځكه راغلې دې﴾ اوعزت ﴿چه دغه عمل ئې صلاحيت لرې﴾ ثواب د آخرت دې. ﴿چه په آخرت كې پرې ورته ثواب ملاويږي. لكه يوكس په مغصوبه مځكه كې لمونځ كوي.نوپه دغه مځكه كې لمونځ حرام دې.خودا حرمت دغيرد امله دې.چه غصب دې.خوددې باوجود چې دې په كې لمونځ اوكړي.نوپه دې لمانځه باندې د ده نه دلمانځه دفرضيت ذمه واري ساقطه شوه.نوهركله چې په يوعمل باندې په آخرت كې عظيم الشان ثوابونه ملاويږي.حالانكه دآخرت كاميابي اونعمتونه د دنيا په مقابله كې ډيربهتراوغوره دی﴾ نوځه دې ګمان ستا په ملك دنياوي سره ﴿چه په حرام سبب سره به ملك ثابت نشي.بلكه كه يوڅيزپه حرامه طريقه باندې حاصل كړې شي.هم په هغې ملكيت راځي.لكه د جمعې په ورځ چې د اذان نه روسته كومه بيع اوشي.هغه حرامه ده.ليكن په مبيع باندې د مشتري اوپه ثمن باندې د بائع ملكيت ثابتيږي﴾

دمسلمانانودوباره په خپل مال باندې غلبه

فَإِنْ ظَهَرَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُونَ فَوَجَدَهَا الْمَالِكُونَ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهِيَ لَهُمْ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدُوهَا بَعْدَ الْقِسْمَةِ أَخَذُوهَا بِالْقِيمَةِ إِنْ أَحَبُّوا)

زباره وتشريح:- كه غالب شوپه دغه مال باندې ﴿كوم چې دمسلمانانونه كافرانوقبضه كړې وو﴾ مسلمانان، اواوموندلوهغه ﴿مال خپلوزړو﴾ مالكانو،وړاندې د ويش ﴿دمال غنيمت﴾ نه،نودغه مال ددوئ ﴿خپلوسابقه مالكانو﴾ لپاره دې بغيرد څه څيزنه ﴿بلكه دوئ ته به مفت ملاويږي.ددې په عوض كې به قيمت وغيره نه وركوي﴾ اوكه وې موندلوهغه مال ﴿چه ددوئ نه كافرانواخستې وو﴾ روسته د ويش ﴿دمال غنيمت﴾ نه ﴿او دوئ دغه مال د يوغازي په برخه كې راغلې وو﴾ نواخلې به ئې په قيمت سره كه غواړي ﴿يعني كه دا غواړي.چه زما سابقه مملوك څيزدې.زه دا غواړم.چه زما لاس ته راشي.ځكه چې ما سره ئې وخت تيرشوې دې.نوچه د كوم غازي په برخه كې هغه راغلې وي.هغه ته به ئې قيمت وركړي.اوهغه څيزبه ترې ترلاسه كړي﴾

لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيهِ {إِنْ وَجَدْتَهُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهُوَ لَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْتَهُ بَعْدَ الْقِسْمَةِ فَهُوَ لَكَ بِالْقِيمَةِ[1])

۱) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه الدارقطني في سننه (۱۱٤١٤) والبيهقي في سننه)۔

ژباړه وتشريح:- ﴿قيمت به وركوي﴾ د امله د قول د نبي ﷺ نه په دې ﴿حكم﴾ كې ﴿چه يو صحابي ﷺ ته ئې فرمائيلي وو﴾ كه تا اوموندلو هغه ﴿ځيزكوم چې ستا نه كافرانو قبضه كړې دې﴾ وړاندې د ويش ﴿د مال غنيمت﴾ نه، نو هغه ستا دې بغير د څه عوض نه، اوكه اودې موندلو هغه روسته د ويش ﴿د مال غنيمت﴾ نه، نو هغه ستا لپاره په قيمت دې. ﴿چه دچا په برخه كې رسيدلې وي. هغه ته به ئې قيمت وركوي﴾

وَلِأَنَّ الْمَالِكَ الْقَدِيمَ زَالَ مِلْكُهُ بِغَيْرِ رِضَاهُ فَكَانَ لَهُ حَقُّ الْأَخْذِ نَظَرًا لَهُ، إِلَّا أَنَّ فِي الْأَخْذِ بَعْدَ الْقِسْمَةِ ضَرَرًا بِالْمَأْخُوذِ مِنْهُ بِإِزَالَةِ مِلْكِهِ الْخَاصِّ فَيَأْخُذُهُ بِالْقِيمَةِ، لِيَعْتَدِلَ النَّظَرُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ،

ژباړه وتشريح:- اوبله دا ﴿يعنې د كوم غازي په برخه كې چې دده سابقه مملوك ځيز رسيدلې وي. هغه ته به ئې قيمت وركوي﴾ څكه چې مالك پخواني زائله شوې دې ملك دهغه ﴿د دغه ځيزنه﴾ بغير د رضا دهغه نه، ﴿څكه چې كافرانو ترې په زورباندې هغه ځيزاخستې وو﴾ نووي به ده لپاره حق د اخستلو ﴿د دغه ځيز﴾ لپاره د خيكړې دده ﴿مالك قديم﴾، البته دومره ده چې په اخستلوكې ﴿د دغه ځيزكې د غازي نه او سابقه مالك ته حواله كاوه. چه وى دا كار﴾ روسته د ويش نه ضرر دې هغه غازي ته چې اخستې شي دهغه نه ﴿يعنې د كوم غازي په برخه كې چې دغه شي رسيدلې وي. كه بغير د قيمت نه دغه شي دهغه نه واخلي. نو په دې كې دغه غازي ته نقصان دې. په زائله كيدود ملك خاص د هغه ﴿يعنې په ويش كې چې كله دغه ځيز دده اورسيدلو. نوكه بغير قيمته ترې دغه ځيزواخلي. په دې كې دغه غازي ته نقصان دې. څكه چې نورو غازيانو ته خپله برخه پوره پوره ملاؤ شوې ده. اوچه د ده نه دغه مال بغير د څه عوض نه خپل سابقه مالك واخلي.﴾ نو اخلي به ئې ﴿د غازي نه﴾ په پيسو باندې، چه برابرشي شفقت د دواړو طرفونو نه ﴿كه غازي دې اوكه سابقه مالك دې. اوكه ته دا وائې. چه لكه څنګه د غازيانود نقصان د امله د ويش نه روسته دې سابقه مالك ته خپل شي بغير د عوض نه وركول جائز نه دى. نو دغه ډول كه ويش نه وړاندې ورته وركړې. نو هم د عامو غازيانو په برخه كې كمې راځي. نو دهغې ځواب وركوي. اوفرمائي﴾

وَالشَّرِكَةُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ عَامَّةٌ فَيَقِلُّ الضَّرَرُ فَيَأْخُذُهُ بِغَيْرِ قِيمَةٍ.

ژباړه وتشريح:- اوشركت ﴿د غازيانو په مال غنيمت كې﴾ وړاندې د ويش نه عام دې. نو كم به وي ضرر ﴿كه سابقه مالك ته خپل مال بغير د قيمت نه وركړې شي. اوهركله چې داسې ده﴾ نو اخلي به هغه ﴿خپل سابقه مملوك ځيز د مال غنيمت نه﴾ بغير د قيمت نه.

په دارالحرب كې د مشتري نه دخپل مال اخستلو حكم

(وَإِنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرٌ فَاشْتَرَى ذَلِكَ وَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَمَالِكُهُ الْأَوَّلُ بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِهِ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ)،

ژباړه وتشريح:- اوكه داخل شو دارالحرب ته ﴿زيد﴾ سوداګر، اووائې اخستلو هغه ﴿ځيزكوم چې دمسلمانانو نه كافرانو اخستې وو﴾ او راؤ ئې وړلو دارالاسلام ته، نو اولنې مالك ته اختيار دې. كه خوښه ئې وى نو وادې اخلي هغه ﴿سابقه مملوك ځيزخپل﴾ په هغه قيمت چې اخستې وى ﴿زيد سوداګر﴾ په هغې باندې، اوكه غواړې پرې دې ګدى. ﴿اوكه سابقه مالك ته بغير قيمته د سوداګرنه دخپل سابقه مملوك ځيز اجازت نشي وركولې﴾

لِأَنَّهُ يَتَضَرَّرُ بِالْأَخْذِ مَجَّانًا، أَلَا تَرَى أَنَّهُ قَدْ دَفَعَ الْعِوَضَ بِمُقَابَلَتِهِ فَكَانَ اعْتِدَالُ النَّظَرِ فِيمَا قُلْنَاهُ،

حل اللغه: ① يتضرر تكليف رسيږي ② مجانا بې عوضه

ژباړه وتشريح:- څكه چې ده ﴿سوداګر﴾ ته ضرر رسي په اخستلوسره مفت ﴿يعنې چې سوداګر په دارالحرب كې په پيسو اخستې وى. او دلته ئې ترې سابقه مالك مفت واخلي. نو په دې كښې سوداګر ته نقصان دې. څكه به داسې نشي كولې﴾ ولې ته ګورې نه چې ده ﴿سوداګر﴾ وركړې دې عوض ﴿چه ثمن دى﴾ په مقابله

دهغه شي کښي. ﴿چه سابقه دده ملك وو﴾ نودې برابرې دشفقت په هغه صورت کي چې مونږ اوونيل ﴿چه سوداګرپه ځومره قيمت په دارالحرب کي اخستې وی.اوهغه ته په ځومره باندې پريوتې وی.هغه قيمت دې ورته ورکړی.اوخپل سابقه مملوك څيزدې ترې واخلی﴾

وَلَوِاشْتَرَاهُ بِعَرَضٍ يَأْخُذُهُ بِقِيمَةِ الْعَرَضِ، وَلَوْوَهَبُوهُ لِمُسْلِمٍ يَأْخُذُهُ بِقِيمَتِهِ، لِأَنَّهُ ثَبَتَ لَهُ مِلْكٌ خَاصٌّ فَلَا يُزَالُ إِلَّا بِالْقِيمَةِ،

ژباړه وتشريح:- اوکه وانې خستل په مقابله د سامان کي ، ﴿چه په دارالحرب کي ده حربی کافرته خپل څه شي ورکړلو.اودهغه نه ئې هغه شی واخستلو.کوم چې هغه دمسلمان نه قبضه کړې وو﴾ اوکه هغوئ ﴿حربيانو﴾ هبه کړلوهغه څيزمسلمان ته، ﴿کوم چې ئې دمسلمانانونه اخستې وو﴾ نواخلی به ئې ﴿سابقه مالك﴾ په قيمت د هغې سره ﴿يعنی دغه موهوبه څيزچه د ځومره قيمت وی.سابقه مالك به ورته هغه قيمت ورکړی.اودغه څيزبه ترې واخلی﴾ ځکه چې ثابت شوې دې ده ﴿موهوب له﴾ ته ملك ﴿په دغه موهوبه باندې داسې ملك چه﴾ خاص ﴿دې په ده پورې دبل چا ورسره برخه نشته﴾ نونه به ختميږی ﴿ملکيت د موهوب له﴾ مګرپه قيمت سره ﴿چه سابقه مالك ورته دهغه څيزقيمت ورکړی.نوهغه به قيمت واخلی.اوڅيزبه سابقه مالك ته پاتې شی﴾

وَلَوْكَانَ مَغْنُومًا وَهُوَمِثْلِيٌّ يَأْخُذُهُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ وَلَا يَأْخُذُهُ بَعْدَهَا، لِأَنَّ الْأَخْذَ بِالْمِثْلِ غَيْرُ مُفِيدٍ، وَكَذَا إِذَا كَانَ مَوْهُوبًا لَا يَأْخُذُهُ لِمَا بَيَّنَّا..

حل اللغة: ① **مغنوم:** کوم څيزچه په غنيمت کښې ملاو شوې وی

ژباړه وتشريح:- اوکه وی مال غنيمت ﴿يعنی کوم څيزچه ديومسلمان نه حربی کافرانواخستې وی. او مسلمانان بيا په هغوئ باندې غالب شی.اوکوم مال غنيمت ورته حاصل شی.نوبه هغې کي هغه څيزهم وی.کوم چې ددې مسلمان نه حربی کافرانوقبضه کړې وو﴾ او وی ﴿هغه مال﴾ مثلی ﴿لکه سره زر سپين زر وغيره﴾ نواخلی به ئې ﴿دا سابقه مالك﴾ وړاندې د ويش نه اونه به ئې اخلی روسته د ويش نه،ځکه چې اخستل په مثل سره مفيد نه دی ﴿د سابقه مالك دپاره،مثلاً دده نه لس تولې سره زر اخستې شوی وو.اوهغه لس تولې سره زر په مال غنيمت کي بيادمسلمانانولاس ته راغلو.اوويش اوشو.نودويش نه روسته به دا سابقه مالك هغه غازی ته چې دچا په برخه کي هغه سره زر رسيدلې وی.هغه هومره لس تولې سره زر ورکوی.ځومره چې دې د غازی نه اخلی.اوښکاره خبره ده.چه په دې کي سابقه مالك ته څه فائده نشته.ځکه چې لس تولې سره به اخلی.اولس تولې سره به ورکړی﴾ اودغه ډول ﴿حکم دمثلی څيزدې﴾ چې وی ﴿دغه مثلی﴾ هبه شوې ﴿يوکس ته﴾ نونه به ئې اخلی ﴿سابقه مالك،ځکه چې څه فائده په کي نشته﴾ دهغه وجې کوم چې مونږ بيان کړه. ﴿چه کوم څيزترې واخلی.هم هغه شان څيزبه موهوب له ته ورکوی﴾

وَكَذَا إِذَا كَانَ مُشْتَرًى بِمِثْلِهِ قَدْرًا وَوَصْفًا

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول حکم دې چې وی ﴿دهغه څيزچه دمسلمانانونه کافرانو قبضه کړې وی﴾ اخستونکې ﴿سوداګر﴾ مثل سره په اعتبار د وصف اومقدارسره ﴿يعنی که زيدسوداګرپه دارالحرب کي د کافرانونه مثلاً يوتان کپړه واخستله.اودا هغه کپړه وی.چه هغوئ دمسلمانانونه قبضه کړې وه.اودهغې په عوض کي ورته ده بل پلنډه (تان) کپړه ورکړه،چه په وصف يعنی ښه والی کي هم هغه شان وه.ځنګه چې ورته هغوئ کوم‌پلنډه (تان) ورکوی.اوپه مقدارکي هم هغه هومره وه.ځومره چې ورته هغوئ ورکړې وه.مثلاً يوتان د خامتا کپړه ئې دهغوئ نه واخستله.چه سل ګزه وه.اوهغوئ ته ئې هم يوتان د خامتا کپړه ورکړه.چه سل ګزه وه.نواوس په دې صورت کي هم چې دا سوداګردا يوتان د خامتا کپړه دارالاسلام ته يوسی.نوکه دغه سابقه مالك دده نه ددې‌پلنډه مطالبه کوی.نو هغه به ورته د خامتا بل‌پلنډه ورکوی.چه سل ګزه وی.نوبه دې کي څه فائده نشته.ځکه چې ديو اړخ نه هم يوتان د خامتا کپړه ده.اودبل اړخ نه هم يوتان د خامتا کپړه

ده.البته دا ده.که په وصف کې توپير وو.مثلاً ده ورته پوتان ململ ورکړې وي.اودهغوئ نه ئې پوتان خامتا اخستې وي.اودخامتا قيمت زيات وي.يا په قدرکې توپير وي.مثلاً ده ورته سل گزه پلنډه ورکړې وي.اودهغوئ نه ئې پنځه سربيره سل گزه اخستې وي.نوپه دې صورت کې که سابقه مالك مشتري نه دغه څيزاخلي.اوچه په څومره باندې هغه مشتري اخستې وي.هغه ورته ورکوي.نوداجائز ده.مثلاً په ذکرشوي مثالونوکې که سابقه مالك مشتري ته د خامتا پوتان ورکړي.يا ورته دخامتا لس سربيره سل گزه پلنډه ورکړي.اودهغه نه سل گزه پلنډه واخلي.نودا جائزده﴾

دكافر دمسلمان په غلام قبضه او بيا د مسلمان دغه اخستل

قَالَ: (فَإِنْ أَسَرُوا عَبْدًا فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ وَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَفُقِئَتْ عَيْنُهُ وَأَخَذَ أَرْشَهَا فَإِنَّ الْمَوْلَى يَأْخُذُهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي أُخِذَ بِهِ مِنَ الْعَدُوِّ) أَمَّا الْأَخْذُ بِالثَّمَنِ فَلِمَا قُلْنَا

حل اللغة: ① **فقئت** د سترگې راوتل ② **ارش** ديت ③ **الثمن** قيمت ④ **العدو** دشمن

زباړه وتشريح:- فرمائي. ﴿امام محمدؒ په جامع صغيرکې﴾ که دوی ﴿کافرانو﴾ قيد کړلو يوغلام، ﴿دمسلمان﴾ نو واخستلو دغه ﴿غلام﴾ يوکس ﴿دمسلمانانو﴾ او رائې وستلو دارالاسلام ته نو اوويستلې شوه سترگه دده ﴿غلام﴾ او واخستلو ده ﴿مشتري﴾ ديت ددې ﴿سترگې.اوبيا ددې غلام اولني مالك ددې غلام د اخستلو مطالبه اوکړله.چه دا غلام خو زما دې.کافرانو په زورباندې اخستې وو﴾ نو اولني مالك به اخلي دا ﴿غلام﴾ په قيمت هغه چې ده ﴿مشتري﴾ اخستې وي په هغه ﴿قيمت﴾ د دشمن نه اوهرچه اخستل ﴿ددې غلام﴾ دي په قيمت باندې ﴿درجل مشتري نه﴾ دهغه امله چې مونږ بيان کړه. ﴿يعنې که بغيرقيمته ئې ترې واخلي.په دې کې هغه ته نقصان دې او شريعت چاته نقصان نه ورکوي﴾

(وَلَا يَأْخُذُ الْأَرْشَ) لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيهِ صَحِيحٌ، فَلَوْ أَخَذَهُ أَخَذَهُ بِمِثْلِهِ وَهُوَ لَا يُفِيدُ وَلَا يُحَطُّ شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ، لِأَنَّ الْأَوْصَافَ لَا يُقَابِلُهَا شَيْءٌ مِنَ الثَّمَنِ،

حل اللغة: ① **يحط** کموی

زباړه وتشريح:- اونه به اخلي ﴿اولني مالك﴾ ديت ﴿دسترگې کوم چې رجل مشتري د هغه کس نه اخستې دې. چاچه دده د غلام سترگه ويستې وه﴾ ځکه چې ملك ﴿دمشتري﴾ په ده ﴿غلام﴾ کې صحيح دې. ﴿ځکه چې ده قيمت ورکړې دې.اوغلام ئې اخستې دې.اوچه سړې په خپل ملك کې کوم تصرف کوی.کولې شي. او پاتې دا خبره چې ددې غلام سترگه وتلې ده.نوسترگه صفت دکمال دې.په دې باندې په غلام کې يو کمالي صفت پيدا کيږي.اوددې په وجه به قيمت کې کمې نه راځي﴾ ځکه چې په مقابله کې نه وي ددې ﴿اوصافو﴾ څه څيز ﴿قيمت وغيره﴾

اضافي تشريح:- دلته يواعتراض کيداې شي.هغه دا چې د اوصافو په مقابله کې ثمن په هغه وخت کې نه وي.چه هغه مقصود نه وي گرځيدلې.اوکله چې مقصود اوگرځي.نوبيا د وصف په مقابله کې ثمن وي. ددې وضاحت ددې مثال نه کيږي.چه يوکس په يولاکهه روپئ يوکور واخستل.اوپه هغې کې ئې يوه اطاق اونوړوله.اوددې نه روسته بائع گاونډي په ده باندې شفعه اوکړه.اوپه شفع کې دغه کور دهغه اورسيدلو.نوده چې په کې کومه اطاق نړولې ده.دهغې تاوان به شفيع ته ورکوي.نوگوره دلته گوټه يو وصف دې.خوددې په مقابله کې ثمن ورکولې شي.نودغه ډول پکار ده.چه په زيربحث مسئله کې وصف مقصود گرځيدلې دې.نوددې تقاضا دا ده.چه اولني مالك د مشتري نه دهغه قيمت مطالبه کولې شي.کوم چې دغه مشتري د متلف نه اخستې دي.نوددې نه ځواب دا دې.چه وصف کله مقصود اوگرځي .نوددې په مقابله کې ثمن وغيره وي.خودا په هغه صورت کې چې په دغه شي باندې ملك فاسد وي.يا په ملکيت کې شبه وي.اوپه اعتراض کې چې معترض د شفعې کوم صورت ذکرکړې دې.نوپه دې کې د مشتري ملکيت په دغه کور باندې راغلې وو.خودغه ملکيت فاسد وو.هم د فساد په وجه خو دغه کور شفيع ته پاتې کيږي.نوثابته شوه.

چې په صحيح ملك كې د وصف په مقابله كې ثمن وغيره نه وي اومور چې په كومه مسئله كې يو .نو دلته د مشترى ملكيت صحيح دى.فاسد نه دى.

بِخِلَافِ الشُّفْعَةِ،لِأَنَّ الصَّفْقَةَ لَمَّا تَحَوَّلَتْ إِلَى الشَّفِيعِ صَارَ الْمُشْتَرِي فِي يَدِ الْمُشْتَرِي بِمَنْزِلَةِ الْمُشْتَرِي شِرَاءً فَاسِدًا،وَالْأَوْصَافُ تُضْمَنُ فِيهِ كَمَا فِي الْغَصْبِ،أَمَّا هَاهُنَا الْمِلْكُ صَحِيحٌ فَافْتَرَقَا.

حل اللغة: ① الصفقة: عقد

ژباړه وتشريح:- په خلاف د شفعه ﴿يعنى په خلاف د وصف په مسئله د شفعۀ كې ،يعنى د شفعۀ په باب كې د وصف په مقابله كې ثمن وي.﴾ ځكه چې عقد ﴿يعنى په بيع كې د ايجاب اوقبول نه روسته د تاكيد لپاره يو بل ته لاس راپريخودل﴾ هركله اوګرځيدل شفيع ته، ﴿يعنى په مځكه يا كورباندې چې د بائع او مشترى په مينځ كې چې د زمكې يا كوركوم عقد شوې دې.دا داسې شوه.لكه چې دغه عقد بائع او شفيع كړې وو.ځكه چې مځكه يا كور شفيع ته ملاؤ شو﴾ نو اوګرځيدلو مشترى ﴿يعنى مځكه يا كور﴾ په لاس د مشترى كې پشان د مشترى ﴿اخستې شوى څيز﴾ په شراء فاسده سره ﴿يعنى دا داسې شوه.چه مشترى كومه اشتراء كړې ده.هغه صحيح نه وه.بلكه فاسده وه.اوبه فاسده اشتراء باندې ملكيت نه ثابتيږى﴾ او د اوصافو ضمان وى په دې ﴿فاسده اشتراء﴾ كې ﴿ځكه چې فاسده اشتراء كې د مبيعې واپس كول واجب وى.اوكه په مبيع كې ترې څه نقصان راغلې وى.مشترى به بائع ته دهغې تاوان وركوى﴾ لكه څنګه چې په غصب كې وى. ﴿چه زيد د عمر نه يو شى غصب كړلو.نواول خو به زيد مغصوب منه ته عين مغصوبه وركوى.اوكه بالفرض هغه نه وى. يا په هغې كې ئې څه نقص راوستې وى.نود هغې قيمت به وركوى. ځكه چې په مغصوبه باندې د غاصب ملكيت صحيح نه دې﴾ اوهرچه دلته ﴿په زيربحث مسئله كې چې مسئله د عبد ده.﴾ نو ﴿په دې كې﴾ ملك صحيح دې لپاره د مشترى،نودواړه صورتونه ﴿يعنى صورت د غلام د اخستلو او صورت د شفعې﴾ ديو بل نه مختلف شو. ﴿نود زيربحث مسئله د شفعې په مسئله قياس كول صحيح نشو﴾

(وَإِنْ أَسَرُوا عَبْدًا فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ فَأَسَرُوهُ ثَانِيًا وَأَدْخَلُوهُ دَارَ الْحَرْبِ فَاشْتَرَاهُ رَجُلٌ آخَرُ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ

ژباړه وتشريح:- اوكه دوى ﴿حربيانو﴾ قيد كړلو يوغلام ﴿د مسلمان چې مالك ئې خالد وو﴾ نو واخستل يو سړى ﴿زيد﴾ هغه ﴿قيدى غلام دحربيانونه﴾ په زر روپۍ باندې ﴿او دارالاسلام ته ئې راوستلو﴾ نوهغوى ﴿حربيانو﴾ قيد كړلو هغه ﴿غلام﴾ په دوهم ځل،اوداخل ئې كړلو دارالحرب ته، نوواخستل هغه ﴿غلام﴾ يو بل كس ﴿بكر﴾ په زر روپۍ باندې،

فَلَيْسَ لِلْمَوْلَى الْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنَ الثَّانِي بِالثَّمَنِ) لِأَنَّ الْأَسْرَ مَا وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ (وَلِلْمُشْتَرِي الْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنَ الثَّانِي بِالثَّمَنِ) لِأَنَّ الْأَسْرَ وَرَدَ عَلَى مِلْكِهِ

ژباړه وتشريح:- نونه دى جائز د اولنى مالك لپاره ﴿چه خالددې﴾ چې واخلى دغه غلام د دوهم مالك نه ﴿چه زيددې﴾ په پيسو سره ﴿يعنى چې هغه ته زر روپۍ وركړى.اوغلام ترې واخلى.اودليل دا بيانوى﴾ ځكه چې ﴿په دوهم ځل﴾ قيد نه دې راغلې په ملك دده ﴿خالدبلكه دلته خو د زيد په ملكيت باندې قيد راغلې دې. او دزيدنه غلام بوتلې شوې دې﴾ او جائز دى د مشترى اول لپاره ﴿چه زيددې﴾ چې وانيخلى د ﴿مشترى﴾ دوهم نه ﴿چه بكردې﴾ په قيمت باندې ﴿اود اخستو دجواز دليل دا دې﴾ ځكه چې قيد راغلې دې په ملكيت دده ﴿مشترى ثانى چې بكردې﴾

(ثُمَّ يَأْخُذُهُ الْمَالِكُ الْقَدِيمُ بِأَلْفَيْنِ إِنْ شَاءَ) لِأَنَّهُ قَامَ عَلَيْهِ بِالثَّمَنَيْنِ فَيَأْخُذُهُ بِهِمَا،

ژباړه وتشريح:- او بيا به ئې واخلى مالك پخوانې ﴿چه خالد دې﴾ په دوې [دوه] زره روپۍ ﴿باندې د مشترى اول نه چې زيد دې﴾ كه خوښه ئې وى.ځكه چې دا ﴿غلام﴾ پريوتې دې ده ﴿مشترى اول ته چې

زید دی﴾ په دوو قیمتونو باندې ﴿یوخوهغه زر روپۍ وې.چه دې مشتری اول حربیانو ته ورکړې وې.اوبل هغه زر روپۍ دی.کومې چې ده مشتری ثانی ته چې خالد دې.ده ته ورکړې دی﴾ نو اخلی به ئې ﴿مالك قدیم﴾ په دې دواړو قیمتونو ﴿چه دوې [دوه] زره روپۍ دی﴾

وَكَذَا إِذَا كَانَ الْمَأْسُورُ مِنْهُ الثَّانِي غَائِبًا لَيْسَ لِلْأَوَّلِ أَنْ يَأْخُذَهُ اعْتِبَارًا بِحَالِ حَضْرَتِهِ

حل اللغة: ① الماسور: قیدی شوی

ژباړه وتشریح:- اودغه ډول حکم دې کله چې وی هغه ماسور منه ثانی ﴿یعنی هغه کس چې په دوهم ځل دده نه غلام قید شوې وی.کوم چې په ذکرشوی مثال کې زید دې﴾ غائب نو نه دی جائز د پخوانی ﴿مالك لپاره چې په ذکرشوې مثال کې خالد وو﴾ چې واخلی دې ﴿یعنی دا غلام﴾ د امله د قیاس نه په حالت د حضور دده ﴿ماسورمنه ثانی چې زید دې.یعنی لکه څنګه چې په هغه حالت کې د اولنی مالك لپاره چې خالد دې.د مشتری ثانی نه چې بکردې دغلام اخستل جائز نه وو.چه مشتری اول موجود وو.چه زید دې.نودغه ډول په دې صورت کې هم د اولنی مالك لپاره د مشتری ثانی نه د غلام اخستل جائز نه دی.چه مشتری ثانی غائب وی﴾

حربیان د غلبه په صورت کې زموږ د کومو شیانو مالکان نشی جوړیدې ؟

(وَلَا يَمْلِكُ عَلَيْنَا أَهْلُ الْحَرْبِ بِالْغَلَبَةِ مُدَبَّرِينَا وَأُمَّهَاتِ أَوْلَادِنَا وَمُكَاتَبِينَا وَأَحْرَارَنَا وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ جَمِيعَ ذَلِكَ)

ژباړه وتشریح:- اونه مالکان کیږی حربیان زموږ ﴿چه دا ملکیت راشی ددوی﴾ په غلبې کولو ﴿چه په مسلمانانو غالب شی﴾دمدبر,اوامهات الاولاد او مکاتبانواو اصیلو زموږ ﴿یعنی که حربیان په مسلمانانو غالب شی. او دوی آزاد مسلمانان یا اصیلی ښځې یا د مسلمانانو مدبریا ام ولده اونیوله.نودا نفر د حربیانو مملوك نه جوړیږی﴾اوموږ مالکان کیږودهغوی نه ددې ټولو ﴿یعنی که مسلمانان په حربیانوغلبه اوکړی .اودا کوم کسان چې ذکرشول.دوی د مسلمانانو په قید کې راشی.نومسلمانان د دوی مالکان جوړیږی﴾.اوموږ مالکان کیږو دهغوی نه ددې ټولو ﴿یعنی که مسلمانان په حربیانو غلبه اوکړی او دا کوم کسان چې ذکر شول.دوی د مسلمانانو په قید کې راشی.نومسلمانان د دوی مالکان جوړیږی.او دوی په زموږ غلبه اوکړی.اوموږ قیدیان کړی.نودوی زموږ مالکان نه جوړیږی﴾

لِأَنَّ السَّبَبَ إِنَّمَا يُفِيدُ الْمِلْكَ فِي مَحَلِّهِ، وَالْمَحَلُّ الْمَالُ الْمُبَاحُ، وَالْحُرُّ مَعْصُومٌ بِنَفْسِهِ،

ژباړه وتشریح:- ځکه چې سبب ﴿د مملوکیت چې غلبه ده﴾ پیدا کوی ملك په محل خپل کې ﴿یعنی چې په کوم شی باندې غلبه راشی.نوپه دغه شی باندې د غالب راتلونکی ملکیت په هغه صورت کې ثابتیږی.چه هغه مغلوب شی قابل د ملکیت وی﴾ اومحل ﴿دملکیت﴾ مال مباح دې.او آزاد کس معصوم وی.په اعتبار دخپل نفس سره ﴿یعنی د آزاد کس وینه محترمه ده.په ده باندې د چا ملکیت نشی راتلې.نوکه حربیان آزاد مسلمانان قیدکړی.هغوی ددوی مالکان نشی جوړیدی﴾

وَكَذَا مَنْ سِوَاهُ، لِأَنَّهُ تَثْبُتُ الْحُرِّيَّةُ فِيهِ مِنْ وَجْهٍ،

ژباړه وتشریح:- اودغه ډول ﴿حربیان مالکان نشی جوړیدی﴾ دهغه چا چې سوا دی ددوی ﴿آزادو کسانو﴾ نه وی ﴿یعنی کوم چې په متن کې ذکر دی.چه امهات الاولاداومدبرین دی﴾ ځکه چې ثابتیږی حریت په دې ﴿کسانو﴾ کې په یوه وجه ﴿اوهغه وجه دا ده.چه د مالك د مرګ نه روسته مدبر آزادیږی.د بدل کتابت ادا کاوه نه روسته اوهم د دې امله چې دوی من وجه آزاد دی.د مالك لپاره د دوی خرڅول جائز نه دی.او وړاندې تیر شو.چه استیلاء سبب د ملکیت دې.خو په هغه صورت کې ثابتیږی.چه هغه مغلوب شی قابل د ملکیت وی﴾ اومحل ﴿دملکیت﴾ مال مباح دې.اوآزاد کس معصوم وی په اعتبار دخپل نفس سره ﴿یعنی د آزاد کس وینه محترمه ده.په ده باندې دچا ملکیت نشی راتلې.نوکه حربیان آزاد مسلمانان قید

کړي.هغوی ددوی مالکان نشي جوړيدي﴾

وكذا من سواه لأنه تثبت الحرية فيه من وجه

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول ﴿حربيان مالکان نشي جوړيدي﴾ دهغه چا چې سوا دی ددوی ﴿آزادوکسانو﴾ نه ﴿يعنی کوم چې په متن کي ذکر دی.چه امهات الاولاد ، اومدبرين دی.﴾ ځکه چې ثابتيږی حريت په دې ﴿کسانو﴾ کي ،په يوه وجه ﴿اوهغه وجه دا ده.چه د مالك د مرګ نه روسته مدبرآزاديږی.د بدل کتابت ادا کاوه نه روسته مکاتب آزاديږی.اوهم دا وجه ده.چه دوی من وجه آزاد دی.چه دمالك لپاره ددوی خرڅول جائز نه دی.او وړاندې تيرشو.چه استيلاء سبب د ملکيت دې.خويه هغه شی چې هغه مباح وی.اودا نفرچونکه من وجه آزاد دی.اوآزاد کس محل د ملکيت نه دې.ځکه که کافران زموږ مدبرين امهات الاولاد مکاتبين قيد کړی.نوهغوی ملکيت پرې نه راځی.نومطلب د عدم مملوکيت دا شو.که چرته دا نفرحربيانو د مسلمانانونه بوتلې وی.اوبيا الله تعالی مسلمانانوته په حربيانو غلبه ورکړله.اودغه مکاتبين اوامهات الاولاد او مدبرين دوباره د مسلمانانو په قبضه کي راغلل.نود مال غنيمت د ويش نه وړاندې به دوی خپلو مالکانو ته ورکولې شی.اود دې نه روسته به د نور مال غنيمت ويش کولې شی﴾

بِخِلَافِ رِقَابِهِمْ؛لِأَنَّ الشَّرْعَ أَسْقَطَ عِصْمَتَهُمْ جَزَاءً عَلَى جِنَايَتِهِمْ وَجَعَلَهُمْ أَرِقَّاءَ وَلَا جِنَايَةَ مِنْ هَؤُلَاءِ.

حل اللغة: ① **رقاب**:جمع د رقبة سټ ② **عصمة**:حفاظت ③ **ارقاء**:جمع د رقيق غلام

ژباړه وتشريح:- په خلاف د څټونود هغوی ﴿حربيانو.يعنی حربيان معصوم الدم نه دی.او ددوی نفسونه قابل د رقيت دی﴾ ځکه شريعت ﴿اسلامی﴾ ساقط کړې دې عصمت ددوی ﴿حربی کافرانو.هم دا وجه ده.چه شريعت ددوی د نفسونو عصمت ختم کړې دې.دحربی کافرقتل جائز اومباح دې.اودا ددوی عصمت چې ئې ختم کړې دې﴾ لپاره د سزا په ګناه ددوی ﴿چه کفرئې کړې دې.نو دکفرګناه دومره عظيمه ګناه وه.چه ددوی عصمت ئې ختم کړلو﴾ او وې ګرځول ﴿يعنی شريعت اوګرځول حربيان﴾ غلامان. ﴿يعنی دوی قابل د رقيت شو.دا ددې لپاره چې دوی ته په دنيا کي هم د خپل کفراوانکار سزا ملاؤ شی.چه عصمت ئې په عدم عصمت کي بدل شی﴾ اونشته جنايت ددې خلګ ود اړخه ﴿چه زمونږ مدبران امهات الاولاد دی﴾

دمسلمان نه د غلام تخيدل اودکافرانوپه هغه قبضه کول

(وَإِذَا أَبَقَ عَبْدٌ لِمُسْلِمٍ فَدَخَلَ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوهُ لَمْ يَمْلِكُوهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَا يَمْلِكُونَهُ) لِأَنَّ الْعِصْمَةَ لِحَقِّ الْمَالِكِ لِقِيَامِ يَدِهِ وَقَدْ زَالَتْ، وَلِهَذَا لَوْ أَخَذُوهُ مِنْ دَارِ الْإِسْلَامِ مَلَكُوهُ.

ژباړه وتشريح:- اوکله چې اوتختی مسلمان غلام دمسلمان اوداخل شی هغویٔ ته ﴿دحربيانوملك ته﴾ هغوی ئې اونيسی .نو ﴿به دې نيولوباندې کافران ددغه غلام﴾ نه مالکان کيږی.په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائی صاحبين رحمهما الله مالکان کيږی.ځکه چې عصمت ﴿يعنی غلام چې د غيرد مملوکيت نه محفوظ وو﴾ دحق دمالك د امله وو،ځکه چې دهغه قبضه پرې قائمه وه.اويقيناً زائله شوه ﴿دمالك قبضه په تختيدو سره دارالکفرته﴾ اوددې وجې ﴿چه د مالك قبضه ترې ختمه شوې ده﴾ که نيسی ده لره کافران په دارالاسلام کي ﴿او دار الکفرته ئې بوځی﴾ نومالکان کيږی ئې. ﴿نولکه څنګه چې په دغه صورت کي پرې دکافرانوملك راځی.دغه ډول به په زيربحث مسئله کي هم راځی﴾

وَلَهُ أَنَّهُ ظَهَرَتْ يَدُهُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْخُرُوجِ مِنْ دَارِنَا؛لِأَنَّ سُقُوطَ اعْتِبَارِهِ لِتَحَقُّقِ يَدِ الْمَوْلَى عَلَيْهِ تَمْكِينًا لَهُ مِنْ الِانْتِفَاعِ وَقَدْ زَالَتْ يَدُ الْمَوْلَى فَظَهَرَتْ يَدُهُ عَلَى نَفْسِهِ وَصَارَ مَعْصُومًا بِنَفْسِهِ فَلَمْ يَبْقَ مَحَلًّا لِلْمِلْكِ،

ژباړه وتشريح:- اود ده ﴿امام ابوحنيفه (رح)﴾ دليل دا دی.چه دې ﴿غلام﴾ ښکاره شوې ده قبضه دده په خپل ځان باندې په وتلو سره زموږ د وطن ﴿دارالاسلام﴾ نه، ﴿نوچه دې د دارالاسلام نه بهر شو.په ده باندې د مالك قبضه هم ختمه شوه﴾ ځکه چې اعتبارددې ﴿قبضه د مالك په غلام باندې په دارالاسلام کي﴾ شته،د امله د ثابتوالی د قبضې د مولی په ده ﴿غلام﴾ باندې لپاره د قدرت ورکولوده ﴿مولی﴾

نه د فائدې اخستلو ﴿د غلام نه، یعني په دارالاسلام کي چي مور په غلام باندې د مولی د قبضې قائل یو. ددې لپاره چي غلام موجود وی. نومولی به ترې فائده اخلی. په خپل کاربه ئي راولی﴾ اویقیناً ختمه شوه قبضه د مولی ﴿ځکه چي کله غلام د دارالاسلام نه دارالکفرته اوتختیدلو. نودمولی قبضه ختمه شوه. اوس دې دهغه نه فائده او خدمت نشی اخستې. ځکه چي هغه موجود نه دې﴾ نو ﴿هرکله چي د مولی قبضه دده نه ختمه شوه. نواوس دې څه بې روح یا بې عقله څیزخونه دې. چه په خپل ځان کي به ئې هم واك اختیارنه وی﴾ نوښکاره شوه قبضه دده په خپل ځان باندې اواوګرځیدلومعصوم په اعتبارد خپل نفس سره، ﴿ځکه چي دده نفس محترم دې د ده نه د فائدې اخستلوپه غرض دده ساتنه نشی کولې. نوپه ده باندې ملکیت هم نشی راتلې. ځکه چي ملکیت خوپه هغه څیزباندې راځی. چه هغه سړی ځان سره محفوظ کړې وی. اوپه وخت د اړتیا ترې فائده اخلی﴾ نوپاتې نشو محل لپاره د ملکیت، ﴿د بل چا بلکه دې اوس په خپله د خپل ځان مالك شو﴾

بِخِلَافِ الْمُتَرَدِّدِ، لِأَنَّ يَدَ الْمَوْلَى بَاقِيَةٌ عَلَيْهِ لِقِيَامِ يَدِ أَهْلِ الدَّارِ فَمَنَعَ ظُهُورَ يَدِهِ.

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه غلام ﴿تختیدلی﴾ چي ګرځی راګرځی ﴿په دارالاسلام کي او وتلې ترې نه وی. نودده نه د مولی قبضه نه زائله کیږی﴾ ځکه چي قبضه د مولی پاته ده په ده ﴿غلام﴾ باندې، د امله د قیام دقبضه داهل دار ﴿یعنی مسلمانانو په غلام باندې یعنی مولی چي غلام لټون پیل کړی. اودغه ډول د اسلامی حکومت نه دغلام په لټون کي کومك طلب کړی. نوده ته غلام په لاس راتلې شی﴾ نومنع شو ښکاره کیدل د قبضې دده ﴿غلام په خپل ځان باندې یعنی په دې صورت کي غلام دخپل ځان مالك نه دی﴾

وَإِذَا لَمْ يَثْبُتِ الْمِلْكُ لَهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ يَأْخُذُهُ الْمَالِكُ الْقَدِيمُ بِغَيْرِ شَيْءٍ مَوْهُوبًا كَانَ أَوْ مُشْتَرًى أَوْ مَغْنُومًا قَبْلَ الْقِسْمَةِ

ژباړه وتشریح:- اوهرکله چي ثابت نشوملك لپاره ددوی ﴿کافرانو﴾ په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله نواخلی به ده ﴿غلام﴾ لره مالك قدیم بغیرد څه شی نه. ﴿یعنی که دغه تختیدلې غلام د کافرانونه چا حاصل کړلو اودوباره ئې دار الاسلام ته راولی. نو د هغې چي کوم سابقه مالك وو. هغه ددې غلام حقداردې. دا غلام دهغه حق کیږی. دا غلام به اخلی. اودده په عوض کي به هغه چاته څه نه ورکوی. چاچه دې دکافرانو نه حاصل کړې وی. او دارالاسلام ته ئې راوستې وی. برابره خبره ده﴾ هبه شوې وی ﴿دې راوستونکی ته﴾ اوکه اخستې شوې وی ﴿یعنی دغه راوستونکی کس د کافرانونه په قیمت باندې اخستې وی﴾ اوکه غنیمت شوې وی ﴿یعنی په مال غنیمت کي غازیانو راوستې وی﴾ وړاندې د ویش نه ﴿نوپه دې درې واړه صورتونوکي به سابقه مالك دغه غلام اخلی. اوددې په عوض کي به ماخوذ منه ته څه نه ورکوی﴾

وَبَعْدَ الْقِسْمَةِ يُؤَدِّي عِوَضَهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ، لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ إِعَادَةُ الْقِسْمَةِ لِتَفَرُّقِ الْغَانِمِينَ وَتَعَذُّرِ اجْتِمَاعِهِمْ، وَلَيْسَ لَهُ عَلَى الْمَالِكِ جُعْلُ الْآبِقِ، لِأَنَّهُ عَامِلٌ لِنَفْسِهِ إِذْ فِي زَعْمِهِ أَنَّهُ مِلْكُهُ.

ژباړه وتشریح:- اوپس د ویش ﴿د مال غنیمت نه﴾ ورکوی به عوض دده ﴿غلام﴾ د بیت المال نه ﴿یعنی که په مال غنیمت کي دغه غلام راوستې شو اوویش اوشی. دیوغازی په برخه کي دغه غلام راغلل. نوپه دې صورت کي به سابقه مالك ته ددغه غلام قیمت ورکولې شی. اودغه قیمت به د بیت المال نه ورکولې شی﴾ ځکه چي نه دې ممکن واپس کول د ویش ﴿چه وړاندینې ویش ختم کړې شی. اودوباره په غازیانوباندې مال غنیمت ویش کړې شی﴾ د امله د جلا کیدو دغنیمت اخستونکو ﴿یعنی د مال غنیمت د ویش نه روسته غازیان خپاره واره شوی وی﴾ اود امله دګرانوالی د ﴿دوباره﴾ جمع کیدو ددوی. ﴿نوهرکله چي ددوی دوباره راجمع کیدل ګران دی. نوسابقه مالك ته به دبیت المال نه دهغه دغلام عوض ورکړې شی. اوغلام به دهغه چا په برخه کي برقرارپاتې کړې شی. دچا په برخه کي چي رسیدلې وی﴾ اونشته دده ﴿غازی، یا سوداګریا موهوب له چي د دارالحرب نه ئې دغه تختیدلې غلام راوستې وی﴾ لپاره په مالك باندې خرچه د تختیدلی غلام ﴿یعنی دا غازی سوداګراوموهوب له ددې غلام مالك ته دا نشی ویلې. چه د دارالحرب

نه دارالاسلام ته په دې راوستلوكې زما څومره خرڅه شوې ده.هغه به ماته راكوي﴾ ځكه چې دې ﴿هرواحد د سوداګر ،غازى اومشترى نه﴾ عمل كونكې دې د خپل ځان لپاره ﴿يعنى دد چې په دارالحرب كې دا غلام حاصلولو .په هغه وخت كې دده دا نيت نه وو.چه دا به زه حاصل كړم. او خپل مالك ته به ئې واپس كړم﴾ ځكه چې دده په ګمان كې وه.چه دې مالك شوددې ﴿نوهركله چې دده د دارالحرب نه دارالاسلام ته راوستل دخپل ځان لپاره وو.د مالك لپاره نه وو.نودمالك څخه به د راوستلواوپه هغه باندې د خوراك وغيره خرڅه نه اخلى﴾

دمسلمانانوڅاروي دحربيانوپه قبضه كې د راتلوحكم

(وَإِنْ نَدَّ بَعِيرٌ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوهُ مَلَكُوهُ) لِتَحَقُّقِ الِاسْتِيلَاءِ إِذْ لَا يَدَ لِلْعَجْمَاءِ لِتَظْهَرَ عِنْدَ الْخُرُوجِ مِنْ دَارِنَا، بِخِلَافِ الْعَبْدِ عَلَى مَا ذَكَرْنَا. (فَ) (وَإِنْ اشْتَرَاهُ رَجُلٌ وَأَدْخَلَهُ دَارَ الْإِسْلَامِ فَصَاحِبُهُ يَأْخُذُهُ بِالثَّمَنِ إِنْ شَاءَ) لِمَا بَيَّنَّا

ژباړه وتشريح:- اوكه اوتختيدلواوښ ﴿دمسلمانانو﴾ هغوى ﴿حربيانو﴾ ته،اوهغوئ اونيولوهغه، ﴿اوښ﴾ نومالكان كيږي ﴿حربيان﴾ دهغې ﴿اوښ﴾د املّه د ثابت كيدو د غلبه نه ﴿چه دحربيانوپه دغه څاروى باندې غلبه اوقبضه راغله.اوداسې نشو وئيلې.چه دغه اوښ هركله د دارالاسلام نه بهرشو.نودخپل مالك قبضه پرې ختمه شوه. او دخپل واك اختيارمالك شو.لكه څنګه چې مونږ په غلام كې وئيلى وو﴾ ځكه چې نشته اختيار ددې بې زبانه څناورو لپاره چې ښكاره شى ﴿دغه اختيار﴾ په وخت د وتلو﴿ددې څاروى﴾ زمونږ د دارالاسلام نه ﴿يعنى په څاروى كې دا صلاحيت اواهليت نشته.چه دې دخپل ځان مالك جوړ شى﴾ په خلاف د غلام ﴿يعنى كه غلام اوتختى.اودكافرانوپه قبضه كښې شى﴾ بناء په هغې چې مونږذكركړل. ﴿دې عبارت كې ، ،أنه ظهرت يده على نفسه بالخروج من دارنا، ، اوكه واخستلو دا ﴿اوښ وغيره﴾ يوسړى ﴿په دارالحرب كې د حربيانو نه﴾ اوداخل ئې كړلو دارالاسلام ته نو﴿سابقه﴾ مالك ددې ﴿اوښ﴾ به اخلى دا ﴿اوښ﴾ په قيمت سره كه خوښه ئې شى .دهغې املّه چې مونږ بيان كړلـه ﴿په ، ،أن المشترى يتضرر بالأخذ مجانا، ،سره)

دغلام ځان سره سامان تختول

(فَإِنْ أَبَقَ عَبْدٌ إِلَيْهِمْ وَذَهَبَ مَعَهُ بِفَرَسٍ وَمَتَاعٍ فَأَخَذَ الْمُشْرِكُونَ ذَلِكَ كُلَّهُ وَاشْتَرَى رَجُلٌ ذَلِكَ كُلَّهُ وَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَإِنَّ الْمَوْلَى يَأْخُذُ الْعَبْدَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَالْفَرَسَ وَالْمَتَاعَ بِالثَّمَنِ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ (۱)

حل اللغة: ① المتاع :سامان

ژباړه وتشريح:- اوكه اوتختيدلودوى﴿حربيانو﴾ ته غلام ﴿دمسلمان﴾ اوبوئې تلوځان سره اس اوسامان اوواخستل مشركانودغه هرڅه﴿غلام،اس اوسامان.اوبيا﴾ واخستل يوسړى دغه هرڅه ﴿دمشركانونه﴾ اوراوئې ړل دارالاسلام ته مولى ﴿ددغه غلام تختيدلى﴾ به اخلى غلام بغيردڅه څيزنه ﴿بلكه په سابقه ملك سره دې د هغه غلام مالك دې﴾ اوهغه څه چې هغه سره وى ﴿چه اس اوسامان دې هغه به اخلى په﴾قيمت باندې اودا حكم په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله دې. ﴿ځكه چې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدغازى لپاره په مال باندې ملكيت ثابتيږى په غلام نه ثابتيږى﴾

وَقَالَا: يَأْخُذُ الْعَبْدَ وَمَا مَعَهُ بِالثَّمَنِ إِنْ شَاءَ) اعْتِبَارًا لِلْحَالَةِ الِاجْتِمَاعِ بِحَالَةِ الِانْفِرَادِ وَقَدْ بَيَّنَّا الْحُكْمَ فِي كُلِّ فَرْدٍ

ژباړه وتشريح:- اوفرمائى صاحبين رحمهما الله اخلى به غلام اوهغه چې ده ﴿غلام﴾ سره وى په قيمت باندې ﴿چه كوم قيمت مشترى مشركانوته وركړې وى.هغه قيمت به مالك ده ته وركوى﴾ كه خوښه ئې وى د املّه دقياس دحالت د اجتماع نه په حالت د انفراد باندې ﴿يعنى دا صورت اجتماعى چې دده نه غلام تختيدلې

۱) القول الراجح هوهذا قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى ردالمحتار(۳\۶۶۹) والبحرالرائق (۵\۹۸) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۸۸)-

دي. او خان سره ئې اس اوسامان هم اوړي دي.په دې صورت کې به غلام مولى ته واپس كولې شي.اوهغه به مشتري ته څه نه وركوي.دا صورت په هغه صورت باندې قياس كولې شي.چه كله د مولى نه صرف غلام تختيدلې وي.اوخان سره ئې څه نه وي اوړي.نولكه څنګه چې په هغه صورت كې غلام مالك ته واپس كولې شي.اودهغه نه مشترى د قيمت مطالبه نشى كولې دغه ډول به په دې صورت كې هم﴾اويقيناً موږ بيان كړې دې حكم په هريوفرد كې ﴿په دې قول سره چه، وإذا غلبوا على أموالنا والعياذبالله وأحرزوها بدارهم ملكوها،،

دكافرپه دارالاسلام كې دمسلمان نه دغلام اشتراء كول

(وَإِذَادَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَابِأَمَانٍ وَاشْتَرَى عَبْدًامُسْلِمًا وَأَدْخَلَهُ دَارَالْحَرْبِ عَتَقَ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ،() وَقَالَا: لَا يُعْتَقُ) لِأَنَّ الْإِزَالَةَ كَانَتْ مُسْتَحَقَّةً بِطَرِيقٍ مُعَيَّنٍ وَهُوَالْبَيْعُ وَقَدْانْقَطَعَتْ وِلَايَةُ الْجَبْرِعَلَيْهِ فَبَقِيَ فِي يَدِهِ عَبْدًا.

حل اللغة: ① ولاية تسلط،اختيار ② الاجبار:مجبوره كول

زياده وتشريح:- اوكله چې داخل شي حربي كافرزموږ وطن ته په امان سره ﴿چه چا مسلمان ورته امان وركړې وي﴾ او واخلي غلام مسلمان اوداخل ئې كړي دارالحرب ته نوآزاديږي ﴿دغه غلام﴾ په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائي صاحبين رحمهما الله نه آزاديږي. ﴿امام مالك احمدأوشافعي رحمهم الله هم ددې قائلين دي.اوددوى په نيزد نه آزاديدو وجه بيانوي﴾څكه چې ختمول ﴿رقيت دمسلمان غلام﴾ واجب وو په يوه خاصه طريقه باندې چې بيع ده. ﴿يعنى كله چې په دارالاسلام كې مستامن حربي كافر يومسلمان غلام واخستل.نوپه اسلامي حكومت دا واجب وه.چه ددغه حربي مستامن نه ئې خلاص كړي.اود خلاصولو طريقه ئې دا وه.چه هغه ئې د غلام په خرڅولوباندې مجبوره كړې وو.څكه چې الله تعالى د كافرانو لپاره په مسلمانانو څه غلبه نه ده جائز كړې.اوپه دې صورت كې چې مسلمان غلام دحربي كافر په ملك كې راشي.دكافرپه مسلمان باندې غلبه راغله.څكه دده خلاصول واجب وو.خوهركله چې دې دارالاسلام نه دارالحرب ته لاړلو.نو﴾ يقيناً ختم شو اختيار د مجبوره كولودده ﴿يعني اوس اسلامي حكومت دغه حربي مستامن كافر د غلام په خرڅولو نشى مجبوره كولې.څكه چې ددوى د ماتحتئ نه بهرشو﴾ نوپاته پاتې شو ﴿دغه مسلمان غلام﴾ په لاس د كافركې غلام، ﴿څكه چې دا كافرددغه مسلمان غلام په دارالاسلام كې مالك شو.اوپه دارالحرب كې ئې خان سره محفوظ كړلو﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ تَخْلِيصَ الْمُسْلِمِ عَنْ ذُلِّ الْكَافِرِوَاجِبٌ،فَيُقَامُ الشَّرْطُ وَهُوَتَبَايُنُ الدَّارَيْنِ مَقَامَ الْعِلَّةِ وَهُوَالْإِعْتَاقُ تَخْلِيصًا لَهُ،

حل اللغة: ① التخليص خلاصول ② تباين اختلاف ③ الاعتاق آذادول

زياده وتشريح:- اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل ﴿چه په دارالحرب كې هم مسلمان دكافر دغلامئ نه آزاديږي﴾ دا دې چه خلاصول د مسلمان د كافر ﴿دقبضې نه﴾ واجب دي. ﴿په مسلمانانو الله تعالى فرمائيلي دي.الله تعالى د كافرانو لپاره په مسلمانانوباندې هيڅ لاره نه ده ګرځولې﴾ نوقائمولې به شي شرط چې اختلاف د دارينو دې په مقام د علت چې آزادول دي. ﴿يعنى كله چې حربي مستامن كافردارالاسلام ته داخل شو نودده نفس اومال محترم اوګرځيدلو.ددې امله په دارالاسلام كې به نه دې قتلولې شي.اونه به دده نه مال اخستې شي.ترڅو چې دا غلام چې ده د مسلمان نه اخستې دې.دې به ددغه غلام په خرڅول مجبوره كولې شي اوقيمت به وركولې شي.خوچه كله دې د ارالاسلام نه بهر شو.دارالحرب ته لاړلو.نودده دمال اوجان حرمت هم ختم شو. څكه چې كوم امان ده ته ملاؤ شوې وو.هغه د دارالاسلام نه په وتلو سره ختم شو.اوهركله چې دده مال غير محترم اوغيرمعصوم شو.نوغلام به آزاديږي﴾ لپاره د خلاصولود دده ﴿مسلمان

---

(١) القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا فى ملتقى الأبحر(١١٦٦٣) وفتح القدير(٢٦٤١٥) ورد المحتار(٢٦٩١٣) والبحرالرائق (٥٩٨) والهندية (٢٣١١٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٨٩١١)-

غلام.اوهركله چې دې دارالحرب ته داخل شو.نومسلمان قاضي ددې نه عاجزه شو.چه دغه كافرد مسلمان غلام په خرڅولو باندې مجبوركړي.ځكه چې د اسلامي قاضي قضا په دارالحرب كې نشي نافذ كيدې.نوپه كوم ځيزچه دده د مال عصمت زائله شو.چه دارالحرب ته داخليدل دی.هغه به د اعتاق د علت قائم مقام اوګرځولې شي.يعني په هرصورت كې د كافرد ملكيت نه د مسلمان غلام خلاصول ضروري دی.په دارالاسلام كې دا خلاصول د قاضي په فيصله باندې كيداې شو.خوپه موجوده صورت كې چونكه دقاضي فيصله په دارالحرب كې نافذه نه وي.نوپه كوم ځيزچه دمستامن حربي كافرمال اوجان غيرمعصوم ګرځيدلې دې.چه دارالحرب ته داخليدل دی.دغه داخليدل به د قاضي د آزادولو قائم مقام اوګرځولې شي.اوداسې كول څه بعيده خبره هم نه ده.ددې لپاره نظيرشته﴾

كَمَا يُقَامُ مُضِيُّ ثَلَاثِ حِيَضٍ مَقَامَ التَّفْرِيقِ فِيمَا إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ فِي دَارِ الْحَرْبِ.

ژباړه وتشريح:- لكه څنګه چې قائمولې شي تيريدل د دريو حيضو قائم مقام د جداوالي ﴿په مينځ د زوجينو كې﴾ په هغه صورت كې چې اسلام اوړي يو په ښځه خاوند كې په دارالحرب كې ﴿يعني كه په دارالاسلام كې احد الزوجين اسلام راوړي.نوقاضي به د دوی دواړو په مينځ كې د جداوالي فيصله كوي.خوكه په دارالحرب كې احد الزوجين اسلام راوړي.نوچونكه هلته د مسلمان قاضي فيصله نشي نافذ كيدې.حلانكه ددواړو په مينځ كې جدائي راوستل ضروري دی.نوپه دارالحرب كې د زوجينو په مينځ كې د جدائي راوستلو لپاره به درې حيضه مقرركولې شي.چه د ښځې درې حيضه تيرشي.نود دواړو په مينځ كښې پخپله تفريق واقع شو.او دا درې حيضه د تفريق لپاره ځكه مقرركړې شوي دی.چه په طلاق رجعي كې هم درې حيضه تيريدل د تفريق سبب دي.يعني كه زيد خپلې ښځې ته يوطلاق وركړلو.اوپه هغې باندې درې حيضه تيرشول.اوده ورسره نزديكت اونكړلو.نودواړه د يوبل نه جلا شو.نكاح ماته شوه.دغه ډول دلته هم درې حيضه تيريدل دتفريق سبب اوګرځولې شو.نولكه څنګه چې په مقيس عليه كې د درې حيضو تيريدل قائم مقام د قاضي د فيصلې دی.دغه ډول په زيربحث مسئله كې هم د مستامن حربي دعصمت ختميدل قائم مقام دقاضي دفيصلې دی.اومسلمان غلام به د حربي كافر دغلامۍ نه آزاديږي

دحربي كافرغلام مسلمانيدل

(وَإِذَا أَسْلَمَ عَبْدٌ لِحَرْبِيٍّ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا أَوْ ظَهَرَ عَلَى الدَّارِ فَهُوَ حُرٌّ، وَكَذَلِكَ إِذَا خَرَجَ عَبِيدُهُمْ إِلَى عَسْكَرِ الْمُسْلِمِينَ فَهُمْ أَحْرَارٌ) لِمَا رُوِيَ {أَنَّ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الطَّائِفِ أَسْلَمُوا وَخَرَجُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى بِعِتْقِهِمْ وَقَالَ: هُمْ عُتَقَاءُ اللَّهِ} ([1])

ژباړه وتشريح:- اوكله چې اسلام قبول كړي غلام د حربي كافراوبيا راشي موږ ﴿مسلمانانو﴾ ته اويا غلبه راشي ﴿د مسلمانانو﴾ په دارالحرب باندې ﴿اودې هم هلته په دارالحرب كې وي﴾ نودې آزاد دې.اودغه ډول حكم دې كله چې راشي غلامان د هغوی ﴿حربي كافرانو﴾ لښكرد مسلمانانوته نوهغوی به آزاد وي.ددې امله چې روايت شوې دې چې څه غلامان دغلامانود طائف ﴿دخلقو﴾ مسلمانان شول.او راغلل رسول الله ﷺ ته نو نبي ﷺ فيصله اوكړله دآزادۍ د هغوی.او وې فرمائيل چې دوی آزاد شوي د الله تعالى دي ﴿يعني الله تعالى دوئ ته داسلام توفيق وركړلو.اوددې اسلام په وجه دوئ ته حريت او آزادي ملاؤ شوه﴾

وَلِأَنَّهُ أَحْرَزَ نَفْسَهُ بِالْخُرُوجِ إِلَيْنَا مُرَاغِمًا لِمَوْلَاهُ أَوْ بِالِالْتِحَاقِ بِمَنَعَةِ الْمُسْلِمِينَ، إِذَا ظَهَرَ عَلَى الدَّارِ،

حل اللغة: ① مراغم: پريخودونكې ② الالتحاق: يوځائې كيدل ③ منعة: جماعت، ډله

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې ده ﴿يعني دحربي غلام چې دمسلمانانولښكرته راوتختې﴾ محفوظ كړلو ځان خپل په راتلو سره موږ ته په پريخود سره مولى خپل ﴿يعني هركله چې ده خپل مولى پريښنول اواسلامي

---

[1] من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه أحمد فى مسنده وابن أبي شيبة فى مصنفه والطبراني فى معجمه (نصب الراية ۳/۶۵۶)_

لښکرته ئې ځان راورسولو.نومحفوظ شو﴾ اویا ﴿محفوظ ئې کړلو ځان خپل﴾ په یوځائې کیدو باندې لښکر د مسلمانانو سره،کله چې غالب شی ﴿مسلمانان﴾ په دارالحرب باندې ﴿یعنی یا ورته ساتنه د لومړنی امله ملاؤ شو.چه خپل مولی ئې پریخودل.اویا ددې چې د مسلمانانوپه لښکرکې ګډ شو﴾

وَاعْتِبَارُيَدِهِ أَوْلَى مِنْ اعْتِبَارِيَدِ الْمُسْلِمِينَ لِأَنَّهَا أَسْبَقُ ثُبُوتًا عَلَى نَفْسِهِ، فَالْحَاجَةُ فِي حَقِّهِ إِلَى زِيَادَةِ تَوْكِيدٍ وَفِي حَقِّهِمْ إِلَى إِثْبَاتِ الْيَدِ ابْتِدَاءً فَلِهَذَا كَانَ أَوْلَى، وَاللهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشریح:- اومعتبر کول قبضه دده ﴿غلام﴾ غوره ده د معتبر کاوه د قبضې د مسلمانانونه ﴿یعنی چې موږ دغه نومسلم غلام دخپل ځان واکدارجوړ کړو.اودده په خپل ځان باندې قبضه اومنو.دا غوره ده په نسبت سره دې ته چې په ده باندې د مسلمانانوقبضه معتبره کړو.اودې د مسلمانانوغازیانوپه غلامۍ کې راشی﴾ ځکه چې دا ﴿قبضه دغلام﴾ وړاندې ده په اعتبارد ثبوت سره په خپل ځان باندې ﴿یعنی مسلمان غلام چې کله د کافرنه راوتختیدلو.نوده ته په خپل ځان باندې قبضه اوغلبه حاصله شوه﴾ اوحاجت په حق دده ﴿غلام﴾ کې زیات مضبوطولوته دې اوپه حق ددوی ﴿مسلمانانو﴾ کې ﴿یعنی دمسلمانانوپه حق کې حاجت﴾ ثابتولود قبضې ته دې داول نه نوشو ﴿معتبر کول قبضې د غلام لره﴾ غوره ﴿د ثابتولو د لاس قبضې د مسلمانانونه﴾ ﴿ددې وضاحت دا دې.هرکله چې دا مسلمان غلام د حربی مولی نه اوتختیدلو.نوده ته په خپل ځان باندې قدرت اوغلبه اوقبضه حاصله شو.اودې د خپل ځان مالك شو.البته دا چې دا غلام دې خبرې ته محتاج وو.چه ده ته کومه غلبه په خپله حاصله شوې ده.دا مضبوطه شی.اوبیرته غلام جوړ نشی.نود دې حاجت پوره کاوه لپاره دې د مسلمانانولښکرسره ملاؤ شو.نو دا داسې شوه لکه چې دې دارالاسلام ته داخل شو.اودغلامۍ زنځیرئې اوشلولو.اومسلمانان غازیان دې ته محتاج وو.چه دهغوی ددې غلام مالکان جوړ شی.اودې ورته په مال غنیمت کې ملاؤ شی.خوچونکه د دې غلام قبضه په خپل ځان باندې دهغه وخت نه راغلې وه.چه دې لا د مسلمانانو لښکرسره ملاؤ شوې هم نه وو.اود مسلمانانو غلبه په ده باندې هله راغله.چه هغه ددوئ لښکرسره یوځائې شو.نواوس د غازیانوپه دې غلام باندې غلبه راتګ د هغه ﴿غلام﴾ په خپل ځان باندې د غلبې راتلو نه روسته ده.ځکه به دغلام قبضه په خپل ځان باندې معتبرګڼړلې شی.اود غازیانوغلبه به په ده باندې غیرمعتبر ګڼړلې شی. لنډیز دا چې دا غلام به آزادیږی .اوغازیان به د مال غنیمت په حیثیت دده نشی مالکان کیدې﴾

(بَابُ الْمُسْتَأْمَنِ)

ژباړه وتشریح:- ﴿دا﴾ باب ﴿په بیان﴾ د مستامن ﴿کې﴾ دې. ﴿مستامن هغه مسلمان ته وائی.چه دارالحرب ته په امان سره داخل شی.دغه ډول په هغه کافرباندې هم ددې اطلاق کیږی.چه دارالاسلام ته په امان سره داخل شی.بیا په دې باب کښې ئې دمسلمان مستامن احکام د حربی مستامن داحکامو نه وړاندې ذکرکړی دی.د امله د شرافت د مسلمان نه﴾

(وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرًا فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَتَعَرَّضَ لِشَيْءٍ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلَا مِنْ دِمَائِهِمْ) لِأَنَّهُ ضَمِنَ أَنْ لَا يَتَعَرَّضَ لَهُمْ بِالِاسْتِئْمَانِ، فَالتَّعَرُّضُ بَعْدَ ذَلِكَ يَكُونُ غَدْرًا وَالْغَدْرُ حَرَامٌ،

حل اللغة: ① **يتعرض** وړاندې شی، ② **الاستئمان** طلب د امن کول ③ **الغدر** دهوکه

ژباړه وتشریح:- اوکله چې داخل شی مسلمان په داسې حال کې چې وی دې سوداګرنوحلال نه دی ده ﴿مسلمان مستامن﴾ لپاره چې تعرض اوکړی څه شی ته د مالونودهغوی نه اونه د نفسونودهغوی نه، ﴿یعنی دده لپاره دا حرام دی.چه دهغوی په مال په ناجائزه طریقه قبضه اوکړی.یا په هغوی کې چاته جانی نقصان اورسوی﴾ ځکه چې ده ﴿مسلمان مستامن﴾ ذمه واری ورکړې ده هغوی ﴿د دارالحرب کافرانو﴾ ته چې څه نقصان به نه رسوی هغوی ته، ﴿ځکه چې هغوی چې ده ته خپل ملك ته د

داخليدواجازت وركړې دې.نوپه دې شرط چې دې به دهغوى مالونواونفسونوته څه نقصان نه رسوى ځكه په موجوده وخت كي چې د يوملك نه بل ملك ته ځي.نوويزه اوپاسپورټ وركوى﴾ د امله د امان طلبولونه ﴿يعنى هغوى ورته په دې شرط باندې خپل ملك په امن سره د اوسيدو اجازت وركړې دې.چه دې به دهغوى مالونواونفسونوته تعرض نه كوى.اومسلمان به د معاهدې پابندى كوى﴾ نوتعرض كول په دهغوى مالونو اونفسونودكافرانوته﴾ روسته ددې ﴿ ذمه وارئ وركولونه﴾ كيږى دهوكه ﴿دهغوى سره﴾ ﴿مالونو اودهوكه ﴿په اسلام كي﴾ حرامه ده. ﴿لكه دحضرت عمر﵁ په روايت كي چې راغلى دى.چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.ددهوكه باز لپاره به دقيامت په ورځ يو بيرغ اولګلولې شى.اودا به وئيلى شى.چه دا د فلانى دهوكه ده﴾

إِلَّا إِذَا غَدَرَ بِهِمْ مَلِكُهُمْ فَأَخَذَ أَمْوَالَهُمْ أَوْ حَبَسَهُمْ أَوْ فَعَلَ غَيْرُهُ بِعِلْمِ الْمَلِكِ وَلَمْ يَمْنَعْهُ، لِأَنَّهُمْ هُمُ الَّذِينَ نَقَضُوا الْعَهْدَ

ژباړه وتشريح:- مګركله چې دهوكه اوكړى دوى ﴿مسلمانانو﴾ سره بادشاه د هغوى ﴿اودهوكه ئې دا ده﴾ چې واخلى ﴿د كافرانو بادشاه﴾ مالونه ددوى ﴿مسلمانانو سوداګرو﴾ اويا قيديان كړى دوى اويا اوكړى ﴿دا كارونه﴾ بل څوك په علم د بادشاه سره ﴿چه بادشاه ته علم وى.چه دې كسانو د مسلمانانوسوداګرو مالونوته تعرض كړې دې.يا ئې هغوى بنديوان كړى دى﴾ اومنع ئې نه كړى (نكړى) ﴿يعنى د بادشاه نه سوا په اهل حرب كي بل څوك مسلمان مستامن سره داسې اوكړى نوپه دغه وخت كي كه زمونږ مسلمانان سوداګردهغوى مالونه واخلى.نودا دهوكه نه ده.﴾ ځكه چې دوى ﴿كافران﴾ هغه نفر دى چې ماته ئې كړه معاهده ﴿د امان وركولو.يعنى كافرانوخو مسلمانانوته خپل ملك ته د داخليدو اجازت وركړې وو.اودا ئې ورته وئيلى وو.چه ستاسو د مال اوجان ساتنه به مونږ كوو.خوچه كله هغوى د مسلمانانو په مالونوقبضه اوكړه .يا ئې دوى بنديوان كړل.نواوس هغوى دهوكه باز شول﴾

بِخِلَافِ الْأَسِيرِ، لِأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَأْمَنٍ فَيُبَاحُ لَهُ التَّعَرُّضُ، وَإِنْ أَطْلَقُوهُ طَوْعًا

ژباړه وتشريح:- په خلاف د قيدى ﴿يعنى كه د كافرانوپه قيد كي يومسلمان قيدى وى.نودهغه لپاره د كافر مال اوجان ته تعرض كول جائز دى﴾ ځكه چې دې ﴿قيدى﴾ مستامن نه دې ﴿ده سره د كافرانو مال اوجان ته د تعرض نه كاوه معاهده نه ده شوې﴾ نومباح دې ده ﴿مسلمان قيدى﴾ لپاره تعرض كول ﴿نقصان رسول مال اوجان د كافرانوته﴾ اګرچه هغوى ﴿كافرانو﴾ خلاص كړې وى دې ﴿دا مسلمان قيدى﴾ په رضا سره ﴿نوهم دده لپاره د هغوى مال اوجان ته تعرض كول اونقصان رسول مباح دى.ځكه چې ده د هغوى سره څه معاهده نه ده كړې﴾

(فَإِنْ غَدَرَ بِهِمْ) أَعْنِي التَّاجِرُ (فَأَخَذَ شَيْئًا وَخَرَجَ بِهِ) (مَلَكَهُ مِلْكًا مَحْظُورًا) لِوُرُودِ الْإِسْتِيلَاءِ عَلَى مَالٍ مُبَاحٍ، إِلَّا أَنَّهُ حَصَلَ بِسَبَبِ الْغَدْرِ فَأَوْجَبَ ذَلِكَ خُبْثًا فِيهِ (فَيُؤْمَرُ بِالتَّصَدُّقِ بِهِ) وَهَذَا، لِأَنَّ الْحَظْرَ لِغَيْرِهِ لَا يَمْنَعُ انْعِقَادَ السَّبَبِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ.

ژباړه وتشريح:- اوكه ده دهوكه اوكړه هغوى ﴿كافرانو﴾ سره، ﴿ مصنف فرمائى﴾ زما مقصد سوداګر دې. ﴿يعنى چې مسلمان سوداګرچه د مستامن په حيثيت دكافرانوملك ته داخل شوې وو﴾ اووائې اخستل څه څيز ﴿به ناجائزه طريقه د هغوى نه﴾ او راوې ويستل هغه ﴿د دارالحرب نه﴾ نومالك شود هغې په ملك حرام سره ﴿يعنى دا سوداګر ددغه څيزمالك شو.خودا ملكيت ئې په حرامه طريقه راغلې دې.اوملكيت ئې پرې راغى﴾ د امله د راتلو د غلبې نه په مال مباح باندې ﴿ځكه چې دكافرانومال مباح دې.نودې دهغې مالك جوړيږى﴾ البته دومره ده چې دغه ﴿مال﴾ حاصل شوې دې په سبب د دهوكې سره، ﴿ ځكه چې ده خو ورسره دا معاهده كړې وه. چې زه به ستاسوپه ملك كي ستاسومال اوجان ته تعرض نه كوم﴾ نوپيدا كړله دې دهوكې مردارى په دغه ﴿مال ماخوذه﴾ كي ﴿اوقاعده دا ده.چه سړې په يوه ناجائزه طريقه د يوڅيزمالك شى.نوهغه څيزده لپاره حرام وى.اوپه ده باندې دهغې صدقه كول واجب وى﴾ نوحكم به كولاى شى ﴿دې سوداګرته﴾ د صدقه كاوه دهغې ﴿څيزكوم چې ئې په ناجائزه طريقه د

دارالحرب نه راوړي دي﴾ اودا خبره ﴿يعني چې دې په ناجائزه طريقه ددغه شي مالك شو.نود ملكيت ثابت كيدو وجه بيانوي﴾ ځكه چې حرمت لغيره نه منع كوى انعقاد د سبب بناء په هغه تفصيل چې مورِ بيان كړې دى. ﴿ وړاندې په اول د ..إستيلاء الكفار..په دې قول سره چې المحظور لغيره إذا صلح سبباً لكرامة تفوق الملك ...إلى آخره﴾

په دارالحرب كې پور معامله كول اويا دارالاسلام ته راتلل

(وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ فَأَدَانَهُ حَرْبِيٌّ أَوْ أَدَانَ هُوَ حَرْبِيًّا أَوْ غَصَبَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا وَاسْتَأْمَنَ الْحَرْبِيُّ لَمْ يَقْضِ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ بِشَيْءٍ)

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخل شي مسلمان دارالحرب ته په امان سره اد پور معامله اوكړي ده ﴿مسلمان﴾ سره حربي ﴿كافريعني هغه په مسلمان باندې څه شي پور خرڅ كړي﴾ اويا پور وركړي دې ﴿مسلمان﴾ په حربي باندې ﴿څه څيز﴾اويا غصب كړي په دواړو ﴿مسلمان او حربي﴾ كې يو د خپل انډيوالان نه ﴿يعني مسلمان د حربي نه څه شي په زور واخلي يا حربي د مسلمان نه څه شي په زور واخلي﴾ او راشي يوكس ﴿يا مسلمان يا كافر﴾ مونږ ﴿يعني دارالاسلام﴾ ته اوامان اوغواړي حربي ﴿كله چې دې دارالاسلام ته داخل شي﴾ نو فيصله به نشي كولې لپاره د يوكس ددې دواړونه دده په خصم باندې په څه څيز ﴿يعني په دارالاسلام كې نه د قرضخواه لپاره فيصله كولې شي.اونه دمغصوب منه دپاره﴾

أَمَّا الْإِدَانَةُ فَلِأَنَّ الْقَضَاءَ يَعْتَمِدُ الْوِلَايَةَ وَلَا وِلَايَةَ وَقْتَ الْإِدَانَةِ أَصْلًا وَلَا وَقْتَ الْقَضَاءِ عَلَى الْمُسْتَأْمَنِ لِأَنَّهُ مَا الْتَزَمَ حُكْمَ الْإِسْلَامِ فِيمَا مَضَى مِنْ أَفْعَالِهِ وَإِنَّمَا الْتَزَمَ ذَلِكَ فِي الْمُسْتَقْبَلِ.

حل اللغة: ① **الادانة**:د پور معامله ② **يعتمد**:اعتماد كوى

ژباړه وتشريح:- هرچه د پور معامله ده. ﴿نوپه دې كې قاضي د دائن لپاره فيصله نشي كولې﴾ ځكه چې قضاء ﴿دقاضي﴾ اعتماد كوى په ولايت باندې ﴿يعني قاضي دهغه معاملې مقدمې فيصله كولې شي.چه په كوم وخت كې دغه معامله كيږي.په هغه وخت كې دغه معامله د قاضي په تصرف او ولايت كې وى﴾ اونشته ولايت ﴿دقاضي﴾ په وخت د پور معامله كولوكې بيخي ﴿يعني په كوم وخت كې چې دوى د پور معامله كوله.نوپه هغه وخت كې په دوى باندې د مسلمان قاضي ولايت نه وو.ځكه چې د مسلمانانوپه دارالحرب كې په حربي كافرانوباندې ولايت نه وى.﴾ اونشته ولايت ﴿دقاضي﴾ په وخت د فيصلې كاوه كې په مستامن حربي كافرباندې.ځكه چې ده ﴿مستامن حربي﴾ نه ده لازم كړې ﴿په خپل ځان باندې﴾ فيصله د اسلام په هغه معاملاتوكې چې تيرې شوې وى د افعالودده نه ﴿په دارالحرب كې﴾ بلكه ده ﴿حربي مستامن﴾ لازم كړې دى دا ﴿فيصله د مسلمان قاضي﴾ په راروانه زمانه كې ﴿ يعني اګرچه كله مستامن حربي درالاسلام ته راشي.نوده په خپل ځان باندې د دغه اسلامي ملك فيصله منل په ځان باندې لازمه كړه.ليكن په هغه معاملاتوكې چې هم په دارالاسلام كې راپېښيږي. اودده چې د مسلمان سره په دارالحرب كې د پور كومه معامله شوې ده.هغه د تيرې زمانې سره تعلق ساتي.حربي مستامن په ځان باندې ددې التزام نه دې كړې.چه زما كوم تيرشوى معاملات دى.په هغې كې به هم زه ستاسو فيصله منم.نوهركله چې دقاضي ولايت رانغلو. نودده فيصله به هم معتبر نه وى﴾

وَأَمَّا الْغَصْبُ فَلِأَنَّهُ صَارَ مِلْكًا لِلَّذِي غَصَبَهُ وَاسْتَوْلَى عَلَيْهِ لِمُصَادَفَتِهِ مَالًا غَيْرَ مَعْصُومٍ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ.

حل اللغة: ① **المصادفة**:مقابله ② **استولى** د الاستيلاء:نه دې غلبهٔ كول

ژباړه وتشريح:- اوهرچه غصب دې ﴿يعني چې په درالحرب كې مسلمان يا حربي دخپل انډيوالان نه يو شي [غص]ب كړې وى.اويا دوى درالاسلام ته داخل شي.نوپه دې كې هم مسلمان قاضي ددوى په مينځ كې فيصله

نشی کولي﴾ ځکه چې دا ﴿مال مغصوب﴾ اوګرځيدلوملك دهغه چا لپاره چې غصب کړي ئې وی او قبضه ئې کړې په هغې باندې د امله د حاصلولو دده ﴿غاصب﴾ نه مال چې معصوم نه دې. ﴿ځکه چې دارالحرب د قهراوغلبې ځائې دې.چه په دې کې يوکس دبل په مال قبضه اوکړي.نودې ئې مالك جوړيږي.دده ته به د واپس کولوحکم نشی کولې.ځکه چې يوځل پرې دده ملکيت ثابت شوې دې﴾ لکه څنګه چې موږ بيان کړی دی. ﴿چه ،، أن الإستيلاء ورد على مال مباح،، داخو د کافريه غصب باندې د ملکيت بيان دې.اودمسلمان په غصب باندې د ملکيت ثابتيدو بيان ئې په دې عبارت سره کړې دې.چه ،، إذا دخل واحد أو إثنان مغيرين بغير إذن الإمام فأخذوا شيأ فإنهم يملكونه)

وَكَذٰلِكَ لَوْكَانَا حَرْبِيَّيْنِ فَعَلَا ذٰلِكَ ثُمَّ خَرَجَا مُسْتَأْمَنَيْنِ لِمَا قُلْنَا

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول حکم دې ﴿چه فيصله به نشی کولې﴾ که چرته وی ﴿دا دواړه کسان﴾ حربيان اوکړې ئې وی دا معامله ﴿يعنی په درالحرب کې يوکس بل باندې پور څيزخرڅ کړې وی.يا يوکس د بل نه څه څيزغصب کړې وی﴾ او راشی ﴿د دارالحرب نه دارالاسلام ته﴾ په داسې حال کې چې امان ئې اخستې وی. ﴿اوپه اسلامی عدالت کې خپله د دارالحرب معامله پيش کړي.نودا فيصله به نشی کولې﴾ دهغه امله چې موږ بيان کړې ده ﴿چه أن القضاء يعتمد الولاية إلى آخره)

په حالت داسلام کښې دارالاسلام ته داخليدل

(وَلَوْخَرَجَا مُسْلِمَيْنِ قُضِيَ بِالدَّيْنِ بَيْنَهُمَا وَلَمْ يُقْضَ بِالْغَصْبِ)

اوکه راشی ﴿د درالحرب نه﴾ دواړه ﴿حربيان﴾ په داسې حال کې چې مسلمانان وی. ﴿يعنی په دارالحرب کې کافران وی.خوبيا مسلمانان شی.اودارالاسلام ته داخل شی.اوصاحب د حق د قاضی په عدالت کې دخپل حق غوښتلومطالبه اوکړي﴾ نوفيصله به اوکړي ﴿قاضی﴾ په پور سره په مينځ ددوی ﴿دواړو﴾ کې ﴿يعنی چې په چا باندې پور وی.هغه ته به اووائی.چه دائن ته خپل پور ورکړه﴾ اوفيصله به نه کوی ﴿قاضی په مينځ ددې دواړوکې﴾ په غصب ﴿شوی څيز﴾ کې ﴿چه يا مال مغصوبه د غاصب په ملکيت کې پريږدی.اويا هغه ته حکم اوکړي.چه ته مغصوب منه ته دا مال مغصوبه واپس کړه﴾

أَمَّا الْمُدَايَنَةُ فَلِأَنَّهَا وَقَعَتْ صَحِيحَةً لِوُقُوعِهَا بِالتَّرَاضِي، وَالْوِلَايَةُ ثَابِتَةٌ حَالَةَ الْقَضَاءِ لِالْتِزَامِهِمَا الْأَحْكَامَ بِالْإِسْلَامِ.

ژباړه وتشريح:- هرچه معامله د پور ده. ﴿ نوپه دې کې به قاضی فيصله کوی.اودائن ته به د مديون نه خپل حق ورکوی﴾ ځکه چې دا ﴿عقد د﴾ پور واقع شوې دې صحيح ﴿ځکه ورته صحيح وايو﴾ چې واقع شوې دې په رضا سره د دواړو طرفونونه ﴿يعنی د دائن اومديون په مينځ کې په خوشحالئ سره او رضا سره عقد بيع شوې دې.څه جبيراو زور په کې نه وو﴾ اوولايت ﴿دقاضی په دارالسلام کې﴾ ثابت دې په حالت د فيصلې کاوه کې ﴿اوولايت د قاضی ثابت دې﴾ ځکه چې لازم کړی دی دې دواړو ﴿نومسلمو﴾ احکام ﴿دشريعت﴾ په اسلام قبلولوسره ﴿ځکه چې داسلام راوړلومطلب دا دې.چه دې به دالله تعالی حکمونو منلوته تيار وی.نوهرکله چې دوی په خپلو ځانونوباندې د اسلامی احکامو منل لازم کړی دی.نوقاضی ته په دوی باندې د ولايت حق حاصل شو.اوچه د ولايت حق ورته حاصل شو.نوددوی په مينځ کې فيصله هم کولې شی.اوفيصله به ئې دا وی.چه صاحب حق ته به دهغه حق ورکړي.چه پور دې﴾

وَأَمَّا الْغَصْبُ فَلِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مَلَكَهُ وَلَاخُبْثَ فِي مِلْكِ الْحَرْبِيِّ حَتَّى يُؤْمَرَ بِالرَّدِّ.

حل اللغة: ① **خبث**: حراموالې ② **الرد**: واپس کول

ژباړه وتشريح:- اوهرچه غصب دې ﴿يعنی په دې دوو نوې مسلمانانوکې که يوکس په دارالحرب کې دبل کس نه غصب کړې وو.اوبه دواړه مسلمان شول.اودارالاسلام ته داخل شول.اومغصوب منه دقاضی په عدالت کې مقدمه درج کړه.چه ده زما نه په دارالحرب کې فلانې شی غصب کړې دې.نوقاضی به ددوی په مينځ کې

فيصله نه كوي﴾ دهغه امله چې مورِ بيان كړې ده. ﴿چه ..فلأنه صار ملكاً للذي غصبه واستولى عليه لمصادفته مالاً غير معصوم عبارت دي﴾ چې دې ﴿غاصب﴾ ئې مالك شو.اونشته څه قباحت په مالك كيدو دمال د حربي چې حكم اوشي غاصب ته په واپس كولو ﴿دمال مغصوبه مغصوب منه ته.بلكه ده لپاره د حربي مال مباح دي﴾

دمسلمان مستامن په دارالحرب كې غصب كول

(وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ فَغَصَبَ حَرْبِيًّا ثُمَّ خَرَجَا مُسْلِمَيْنِ أُمِرَ بِرَدِّ الْغَصْبِ وَلَمْ يُقْضَ عَلَيْهِ)

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخل شي مسلمان دارالحرب ته په امان سره اوغصب كړي ﴿څه څيزد﴾ حربي كافر نه اوبيا دواړه ﴿مسلمان مستامن غاصب اوحربي مغصوب منه﴾ بهر شي ﴿د درالحرب نه اوداخل شي دارالاسلام ته﴾ په داسې حال كې چې مسلمانان وي.نوحكم به اوكړي ﴿قاضي﴾ په واپس كولود مال مغصوبه ﴿مغصوب منه ته﴾ اوفيصله به نه كوي په دې ﴿مال مغصوبه﴾ باندې ﴿دغاصب دپاره﴾

أَمَّا عَدَمُ الْقَضَاءِ فَلِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مَلَكَهُ، وَأَمَّا الْأَمْرُ بِالرَّدِّ وَمُرَادُهُ الْفَتْوَى بِهِ فَلِأَنَّهُ فَسَدَ الْمِلْكُ لِمَا يُقَارِنُهُ مِنَ الْمُحَرَّمِ وَهُوَ نَقْضُ الْعَهْدِ

ژباړه وتشريح:- هرچه فيصله نه كول دي.نودهغه امله كومه چې مورِ بيان كړه.چه دې ﴿غاصب﴾ مالك شو ددې ﴿مال مغصوبه څكه چې په دارالحرب كې دحربي مال مباح وي.چه دچا پرې قبضه راشي﴾ اوهرچه حكم كول ﴿غاصب ته﴾ په واپس كولو ﴿دمال مغصوبه مغصوب منه ته﴾ اومراد دده ﴿امام محمد رحمه الله د امر نه﴾ فتوى وركول دي په دې ﴿واپس كولويعني مفتي به غاصب ته فتوى وركړي.چه ته مال مغصوب مغصوب منه ته وركړه. او قاضي په غاصب باندې جبر نشي كولې.څكه مورِ بيان اوكړلو.چه غاصب په دارالحرب كې د حربي مال غصب كړې دې.اوپه دارالحرب كې د حربي مال غيرمعصوم اومباح وي.نودغاصب ملكيت پرې راتلې شي.اود واپس كاوه فتوى به وركوي﴾ څكه چې فاسد شوې دې ملكيت ﴿دغاصب په مال مغصوبه باندې﴾ څكه چې يوځائې شوې دې دې ﴿ملكيت پورې﴾ حرام فعل چې ماتول د معاهدې دي. ﴿يعني غاصب ته به د مال مغصوبه واپس كولوحكم څكه وركولې شي.چه دې په ناجائزه طريقه دهغه مال مالك جورِ شوې دې.اوعدم جواز ئې دا دې.چه ده معاهده ماته كړې ده. او د دې تقاضا دا ده.چه اصل مغصوب منه ته دهغه مال واپس كړې شي﴾

په دارالحرب كې ديومسلمان بل مسلمان قتلول

(وَإِذَا دَخَلَ مُسْلِمَانِ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً فَعَلَى الْقَاتِلِ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ وَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَأِ) أَمَّا الْكَفَّارَةُ فَلِإِطْلَاقِ الْكِتَابِ،

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخل شي دوې (دوه) مسلمانان درالحرب ته په امان سره اوقتل كړي يود دوى نه انډيوال خپل په قصد سره يا په خطا سره نوپه قاتل باندې ديت دې په مال دده ﴿قاتل﴾ كې ﴿دده عاقله به ورسره د ديت په وركولوكې شريكه نه وي﴾ اوپه ده ﴿قاتل﴾ باندې كفاره ده په قتل خطاء كې ﴿اوپه قتل عمد كې كفاره نشته﴾ هرچه وجوب د كفارة دې.نود امله د اطلاق د كتاب ﴿الله﴾ نه ﴿چه الله تعالى فرمانيلې دي.(وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ) په دې كې مطلقاً د كفاره ذكردې.دا په كې نشته چې قتل په دارالحرب كې شوې وي اوكه په دارالاسلام كې .نوددې آيت مطابق به يومومن غلام آزادوي﴾

وَأَمَّا الدِّيَةُ فَلِأَنَّ الْعِصْمَةَ الثَّابِتَةَ بِالْإِحْرَازِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الدُّخُولِ بِالْأَمَانِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿اودقتل عمد په صورت كې به قصاص نشي اخستې بلكه ديت به وركوي.نوددې وجه دا بيانوي﴾ اوهرچه ﴿وجوب د﴾ ديت دې.نو ﴿دا څكه واجب دې.چه﴾ هغه عصمت چې ثابت شوې دې ﴿مقتول ته﴾ په اوسيدو سره په دارالاسلام كې نه باطليږي په عارضي راتلو د داخليدو ﴿دارالحرب ته﴾

په امان سره ﴿يعنى په دارالاسلام كي چې مسلمان ته دمال او جان كوم ساتنه حاصل وو.هغه په دې باندې نه باطليږي.چه دې د دارالاسلام نه بهرشي.اودارالكفرته داخل شي.بلكه دده وينه به معصومه وى.اوددې وينې بدل يعنى ديت به لازم وى﴾

وَإِنَّمَا لَا يَجِبُ الْقِصَاصُ، لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ اسْتِيفَاؤُهُ إِلَّا بِمَنَعَةٍ، وَلَا مَنَعَةَ دُونَ الْإِمَامِ وَجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ، وَلَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فِي دَارِ الْحَرْبِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿او كه ته دا وائي.چه هركله د دارالاسلام نه په وتلوسره او دارالكفرته په داخليدو سره دده جان غير معصوم نه ګرځي.نوبيا خوپكار دا وه.چه دقتل عمد په صورت كي دده قاتل په قصاص كي قتل كولې شو.حالانكه داسې نه ده.نودهغې نه ځواب كوي﴾ اويقيناً نه واجبيږي قصاص ځكه چې نه دى ممكن اخستل دقصاص مګرپه قوت سره اوقوت بغيرد ﴿مسلمان﴾ امام اومسلمانانو نه نشى راتلې.اونه موجوديږي دا ﴿قوت اوغلبه﴾ په دارالحرب كي

وَإِنَّمَا تَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي الْعَمْدِ، لِأَنَّ الْعَوَاقِلَ لَا تَعْقِلُ الْعَمْدَ، وَفِي الْخَطَإِ لِأَنَّهُ لَا قُدْرَةَ لَهُمْ عَلَى الصِّيَانَةِ مَعَ تَبَايُنِ الدَّارَيْنِ وَالْوُجُوبُ عَلَيْهِمْ عَلَى اعْتِبَارِ تَرْكِهَا

حل اللغة:① العواقل:جمع د عاقله،قبيله خاندان ② الصيانة: حفاظت ③ تباين:اختلاف

ژباړه وتشريح:- اويقينا واجبيږي ديت په مال دده ﴿قاتل﴾ كي په صورت د قتل عمد كي ځكه چې عاقلې ﴿خاندان﴾ نه وركوى ديت په صورت دقتل عمد كي ﴿بلكه په صورت د قتل خطا كي په عاقله باندې ديت واجبيږي.خوپه دې صورت كي په هغوى باندې په قتل خطا كي هم ديت نه واجبيږي﴾ ځكه چې قتل خطا كي حقيقت دا دې.چه نشته قدرت د دوى ﴿دده دخاندان﴾ د ساتلو دده ﴿قاتل د ارتكاب د قتل نه﴾ د امله د اختلاف د دارينو نه،او وجوب د ديت راځي په دوى ﴿عاقله﴾ باندې په اعتبارد پريخودو ددې ﴿ساتنه يعنى په عاقله باندې دقتل خطا په صورت كي ديت ځكه واجبيږي.چه هغوى باندې دا واجب دى.چه دې ﴿يعنى دخپل خاندان دا كس﴾ داسې آزاد پرې نږدى. ﴿چه څه ئې خوښه وى.هغه كوى.بلكه دوى به په هغه نظرساتي.اوهغه به د ګناه اوقتل ارتكاب ته نه پريږدى.نوهركله چې دده قتل اوكړلو.اګرچه په خطا سره وى.په عاقله باندې ديت ځكه واجب دې.چه دوى په خپل فرض كي چې د خپل خاندان ددې كس په ساتنه كي ئې بې ځورى اوكړه.ځكه كه چيرته ددوى بې غورى نه وه.نودده څخه به قتل نه وو شوې.اوس په زيربحث مسئله كي د عاقله د اړخه ددې قاتل نګرانى نشته.ځكه چې دې خوپه دارالحرب كي دې.هغوى دا كس په دارالحرب كي د قتل نه نشى منع كولې.نوددې امله په عاقله باندې ديت نشته﴾

په دارالحرب كښې د مسلمان قيدى قتلول

(وَإِنْ كَانَا أَسِيرَيْنِ فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ أَوْ قَتَلَ مُسْلِمٌ تَاجِرٌ أَسِيرًا) فَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ إِلَّا الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(¹)

ژباړه وتشريح:- اوكه وى ﴿دغه دواړه مسلمانان په دارالحرب كي﴾ قيديان ﴿په لاسونود حربيانوكي﴾ نوقتل كړلو يوكس خپل انډيوالان ﴿يعنى يوقيدى مسلمان بل قيدى مسلمان قتل كړلو﴾اويا قتل كړلومسلمان ﴿په دارالحرب كي﴾ سوداګرقيدى نو نشته څه شى په قاتل باندې ﴿يعنى ديت اوقصاص پرې نشته﴾ مګركفاره ﴿پرې شته﴾ په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله باندې،

وَقَالَا:(فِي الْأَسِيرَيْنِ الدِّيَةُ فِي الْخَطَإِ وَالْعَمْدِ)لِأَنَّ الْعِصْمَةَ لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الْأَسْرِ كَمَا لَا تَبْطُلُ بِعَارِضِ الِاسْتِئْمَانِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ،

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلى دى صاحبينو رحمهما الله په دوو ﴿مسلمانانو﴾ قيديانوكي ﴿چه يوقيدى بل قيدى قتل

¹) القول الراجح هوهذا قول أبى حنيفة رحمه الله كذا فى فتح القدير(۲۷۰\۵) وردالمحتار(۲۷۲\۳) والهندية (۲۳۳\۲)نقلاً عن القول الراجح (۴۹۱\۱)-

كړي﴾ ديت دې ﴿په قاتل﴾ په قتل خطا اوقتل عمد كي ځكه چې عصمت ﴿دنفس دمسلمان كوم چې ده ته په دارالاسلام كي حاصل وو﴾ نه باطليږي په راتلو د قيد سره ﴿چه دې د حربيانوسره قيدي شو.يعنى په دارالاسلام كي ددې مسلمان جان او مال محفوظ وو.نوهركله چې حربيانودې قيدى كړلو.نوددوى په قيد كولوسره دده د جان اومال عصمت ختم نه شو.اودې مباح الدم اونه ګرځيدلو.بلكه اوس هم دده نفس محترم دى.كه څوك دې قتل كړي.هغه ته به د قتل سزا ملاويږي﴾ لكه څنګه چې نه زائله كيږي ﴿عصمت د مسلمان﴾ په امان غوستلوسره ﴿يعنى لكه څنګه چې يومسلمان د دارالاسلام نه دارالحرب ته لاړ شي.نوپه دې تلوسره دده د جان اومال هغه ساتنه اومعصوميت نه ختميږي.كوم چې ده ته په دارالاسلام كي حاصل وو.بلكه كه دې په دارالحرب كي څوك قتل كړي.هغه ته به سزا وركولې شي.﴾ لكه څنګه چې مونږ ددې بيان اوكړلو. ﴿په دې قول سره . . لأن العصمة الثابتة بالإحراز بدار الاسلام لا تبطل بعارض الدخول بالأمان،نودغه ډول په قيد سره هم د مسلمان عصمت اواحترام نه ختميږي.بلكه دې اوس هم قابل احترام اومعصوم الدم والمال دې﴾

وَامْتِنَاعُ الْقِصَاصِ لِعَدَمِ الْمَنَعَةِ وَتَجِبُ الدِّيَةُ فِي مَالِهِ لِمَا قُلْنَا.

زباړه وتشريح:- اومنع والې دقصاص ﴿چه دمسلمان قيدى قاتل څخه به قصاص نشى اخستې﴾ د امله د نشتوالى د غلبه نه ﴿يعنى دقصاص اخستلو لپاره دقوت او توان اړتيا دې.چه قاضى كله د قصاص فيصله اوكړي .اوهغه نافذه شي.اوپه دارالحرب كي دمسلمان قاضى ولايت نشته.نوځكه قصاص نشى اخستې﴾ او واجبيږي ديت ﴿په قاتل باندې﴾ په مال دده ﴿قاتل﴾ كي دهغه امله نه كومه چې مونږ بيان كړه ﴿په دې قول سره . . لأن العواقل لا تعقل العمد. .﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ بِالْأَسْرِ صَارَ تَبَعًا لَهُمْ لِصَيْرُورَتِهِ مَقْهُورًا فِي أَيْدِيهِمْ، وَلِهَذَا يَصِيرُ مُقِيمًا بِإِقَامَتِهِمْ وَمُسَافِرًا بِسَفَرِهِمْ فَيَبْطُلُ بِهِ الْإِحْرَازُ أَصْلًا

حل اللغة: ① مقهور مغلوب ② الاحراز حفاظت

زباړه وتشريح:- اودامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله لپاره دليل ﴿چه په قاتل باندې د كفاره نه سوا بل څه نشته دا دې.چه﴾ په قيد سره اوګرځيدلو دې ﴿مسلمان قيدى﴾ تابع د هغوى ﴿حربيانو﴾ځكه چې دې ګرځيدلې دې مغلوب په لاسونو دهغوى ﴿حربيانو﴾ كي ﴿نود دې مغلوبيت اومقهوريت په وجه دې دهغوى تابع شو﴾اوددې امله ﴿چه دې دحربيانوتابع ګرځيدلې دې﴾ ګرځي مقيم په اقامت دهغوى ﴿حربيانو﴾ سره او ﴿ګرځي﴾ مسافر په سفر دهغوى ﴿حربيانو﴾ سره ﴿نوكه هغوى د سفرنيت كړې وي.په ده به دمسافراحكام لازميږي.اوكه هغوى د اقامت نيت كړې وي.په ده به د اقامت احكام لازميږي﴾ نوباطليږي به په دې ﴿قيد﴾سره ساتنه ﴿كوم چې حاصل وو ده ته په دارالاسلام كي﴾ بيخى ﴿اوهركله چې دده مال اوجان معصوم پاتې نشو.نودده په قاتل باندې به څه نه وي﴾

وَصَارَ كَالْمُسْلِمِ الَّذِي لَمْ يُهَاجِرْ إِلَيْنَا، وَخَصَّ الْخَطَأَ بِالْكَفَّارَةِ لِأَنَّهُ لَا كَفَّارَةَ فِي الْعَمْدِ عِنْدَنَا.

زباړه وتشريح:- اواوګرځيدلو دې ﴿مسلمان قيدى﴾ پشان دهغه مسلمان چې هجرت ئې نه وى كړې مونږ ته ﴿د دارالحرب نه نوكه داسې مسلمان چې په دارالحرب كي وي.اوهجرت پرې فرض وي.خودې ده فريضه ترك كړې وي.اودې څوك قتل كړي.نودده په قاتل باندې څه نه واجبيږي.نودغه ډول په زيربحث مسئله كي هم د مسلمان قيدي په قاتل باندې څه نه واجبيږي﴾ اوخاص ئې كړې قتل خطا په كفاره پورې ﴿يعنى ابو الحسين قدورى رحمه‌الله دا اوفرمائيل.چه دامام ابوحنيفه‌رحمه‌الله په نيزپه قاتل باندې په قتل خطاكي صرف كفاره لازم ده﴾ ځكه چې نشته كفاره په قتل عمد كي زمونږ ﴿داحنافو رحمهم‌الله په نيزباندې.

دحربي لپاره په دارالاسلام كې دامان غوښتلو موده

فصل: قَالَ: (وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ إِلَيْنَا مُسْتَأْمَنًا لَمْ يُمَكَّنْ أَنْ يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً وَيَقُولُ لَهُ الْإِمَامُ: إِنْ أَقَمْتَ تَمَامَ السَّنَةِ وَضَعْتُ عَلَيْكَ الْجِزْيَةَ)

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ فصل ﴿په بيان د مستامن حربي داحكامو كې دى﴾ ابو الحسين قدوري رحمه الله فرمائي. او كله چې راشي حربي زموږ ملك ته په داسې حال كې چې ده امن غوښتې وي.نو قدرت به نشي وركولې ﴿مستامن﴾ ته چې ډيره شي په ملك زموږ كې ﴿چه دارالاسلام دى﴾ يوكال ﴿بلكه ديوكال ځخه به كمه موده تيروى﴾ ووايي به امام ده ﴿حربي مستامن﴾ ته كه ته ډيره شوې پوره يوكال ﴿په دارالاسلام كې﴾ نومقرر كوم به زه په تا باندې جزيه

وَالْأَصْلُ أَنَّ الْحَرْبِيَّ لَا يُمَكَّنُ مِنْ إِقَامَةٍ دَائِمَةٍ فِي دَارِنَا إِلَّا بِالِاسْتِرْقَاقِ أَوِ الْجِزْيَةِ، لِأَنَّهُ يَصِيرُ عَيْنًا لَهُمْ وَعَوْنًا عَلَيْنَا فَتَلْتَحِقُ الْمَضَرَّةُ بِالْمُسْلِمِينَ،

حل اللغة: ① الاسترقاق: غلام جوړول ② عون: مدد ③ المضرة: ضرر، تكليف

ژباړه وتشريح:- او اصل ﴿په دې باب كې﴾ دا دې. چې قدرت به نشي وركولې چې ستوګنه اختيار كړي په ملك زموږ كې مګرپه حالت د غلامۍ كې يا د جزيه كې ﴿چه په ده باندې به جزيه مقرر وي.اودا ده ته په دارالاسلام كې ديوكال ستوګنه اجازت چې نشي وركولې﴾ ځكه چې دې ﴿حربي مستامن﴾ ګرځي جاسوس دهغوى ﴿حربيانو﴾ لپاره ﴿يعني زموږ د ملك د رازونوبه خپلو حربيانوته خبر وركوى﴾ اومدد وركونكې په موږ باندې ﴿يعني د مسلمانانوخلاف به خپلو حربيانوسره كومك كوى.مثلاً چې فلاني ځائې باندې جوړ اوكړئ .اودا كارداسې اوكړئ.وغيره﴾ نورسيږي ضرر ﴿ديوكال په اقامت سره﴾ مسلمانانوته

وَيُمَكَّنُ مِنَ الْإِقَامَةِ الْيَسِيرَةِ، لِأَنَّ فِي مَنْعِهَا قَطْعَ الْمِيرَةِ وَالْجَلَبِ وَسَدَّ بَابِ التِّجَارَةِ، فَفَصَلْنَا بَيْنَهُمَا بِسَنَةٍ، لِأَنَّهَا مُدَّةٌ تَجِبُ فِيهَا الْجِزْيَةُ فَتَكُونُ الْإِقَامَةُ لِمَصْلَحَةِ الْجِزْيَةِ،

حل اللغة: ① الميرة: د خوراك څيزونه راوړل ② الجلب: د څارو راويستل

ژباړه وتشريح:- او قدرت به ور كولاى شي د استوګنې كمه ﴿ديوكال نه﴾ ځكه چې په منع كولودې ﴿اقامت يسيره﴾ كې ﴿چه موږ حربيانو ته هډو دا اجازت نه وركوو.چه دوى دې زموږ ملك ته داخل شي﴾ ختميدل د راوړلوخوراك د څيزونو ﴿ميره د طعام راوړلوته وائي.لكه غنم اوربشې وغيره﴾ اود څاروو دې. ﴿جلب د څاروو راوستلوته وائي. لكه اوښان غويان وغيره﴾ اوبنديدل د دروازې د تجارت دى. ﴿يعني كه موږ دوى ته دارالاسلام ته د داخليدو اجازت ورنكړو. نو ډيرداسې د خوراك شيان (څيزونه) دى.چه هغه په دارالاسلام كې نه پيدا كيږي. بلكه د حربيانود ملك نه راوړلې شي.دغه ډول ډيرڅاروي‌داسې وى.چه په دارالاسلام كې نه پيدا كيږي.اوداسې سامان تجارت وي.چه هغه په دارالاسلام كې نه پيدا كيږي.لكه په موجوده وخت كې مصنوعي شيان (څيزونه) راواخلئ. فريج ،ائركنډيشن ،كمپيوټروغيره، تقريباً دا واړه د يورپي ملكونونه راځي.اوپه اسلامي ملكونوكې خرڅيږي﴾ نوموږ فرق اوكړلوپه مينځ ددې دواړو كې ﴿چه اقامت دائمه اواقامت يسيره دي﴾ په يوكال سره ځكه چې دا ﴿يوكال﴾ داسې موده ده.چه واجبيږي په دې كې جزيه ﴿كله چې كافرپه اسلامي ملك كې يوكاله پوره اقامت كوى.نودې مستامن شو.جزيه به وركوى﴾ نوشوه استوګنه ﴿دحربي كافرپه دارالاسلام كې يوكال يا د دې نه زيات﴾ دمصلحت د جزيه لپاره ﴿چه مسلمانانوته به كې دا فائده اوشي.چه ده ځخه به جزيه اخلي﴾

ثُمَّ إِنْ رَجَعَ بَعْدَ مَقَالَةِ الْإِمَامِ قَبْلَ تَمَامِ السَّنَةِ إِلَى وَطَنِهِ فَلَا سَبِيلَ عَلَيْهِ، وَإِذَا مَكَثَ سَنَةً فَهُوَ ذِمِّيٌّ، لِأَنَّهُ لَمَّا أَقَامَ سَنَةً بَعْدَ تَقَدُّمِ الْإِمَامِ إِلَيْهِ صَارَ مُلْتَزِمًا الْجِزْيَةَ فَيَصِيرُ ذِمِّيًّا،

ژباړه وتشريح:- بيا كه دې واپس شو روسته د وينا د امام نه ﴿چه امام ورته دا اووائي.كه ته يوكاله پورې دلته په دارالاسلام كې ايسارشوې.نوتاباندې به جزيه مقرروم﴾ وړاندې د پوره كيدو د يوكال نه ﴿چه لا يوكال

بوره شوې نه وو اودې واپس شو﴾ خپل وطن ته نونشته څه لار په ده ﴿حربی کافر﴾ باندې. ﴿یعنی امام دې د واپس کیدو نه نشي منع کولې﴾ اوکله چې استوګنه اختیارکړي ﴿په دارالاسلام کې﴾ یو کال نودې ذمي شو. ځکه چې هرکله ده استوګنه اوکړله یوکال ﴿په دارالاسلام کې﴾ روسته د وینا د امام نه ده ته ﴿که تا یو کال تیرکړلو نوبه تا به جزیه مقررکوم﴾ اوګرځیدلودې لازمونکی ﴿په خپل ځان باندې﴾ د جزیه، نوګرځي ذمي ﴿ځکه چې ذمي هم هغه چاته وائي چه مسلمان نه وي. خوپه دارالاسلام کې اوسیږي. اواسلامي حکومت ته جزیه ورکوي﴾

د ذمي ګرځیدو نه روسته دحربي مستامن حکم

وَلِلْإِمَامِ أَنْ يُوَقِّتَ فِي ذَلِكَ مَا دُونَ السَّنَةِ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرَيْنِ (وَإِذَا أَقَامَهَا بَعْدَ مَقَالَةِ الْإِمَامِ يَصِيرُ ذِمِّيًّا) لِمَا قُلْنَا (ثُمَّ لَا يُتْرَكُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ)؛ لِأَنَّ عَقْدَ الذِّمَّةِ لَا يُنْقَضُ، كَيْفَ وَأَنَّ فِيهِ قَطْعَ الْجِزْيَةِ وَجَعْلَ وَلَدِهِ حَرْبًا عَلَيْنَا وَفِيهِ مَضَرَّةٌ بِالْمُسْلِمِينَ.

حل اللغة ① یوقت وخت مقرر کوي ② مضرة ضرر، نقصان

ژباړه وتشریح - اوجائزدي لپاره دامام چې مقرر کړي وخت کم د یوکال نه لکه یوه میاشت، دوې [دوه] میاشتې اوکله چې تیرې کړي ﴿حربي کافرپه دارالاسلام کې﴾ دغه ﴿یوه یا دوې [دوه] میاشتې﴾ روسته د وینا د امام نه ﴿چه هغه ورته ونیلي وي. چه د یوې یا دوو میاشتونه که زیات پاتې شوې تاباندې به جزیه مقرروم﴾ نوګرځي دې ﴿حربي کافر﴾ ذمي دهغه امله نه کومه چې موږ بیان کړه ﴿چه لأنه لما أقام سنة بعد تقدم الإمام إليه صار ملتزما﴾ بیا ﴿روسته د ذمي ګرځیدونه﴾ به دې نشي پریښودلې (پریخودې) چې واپس شي دارالحرب ته ځکه چې معاهده د ذمیت نشي ماتیدې څنګه به ماته شي حالانکه په دې کې ختمیدل د جزیه دي. اوابه ګرځي اولاد دده جنګ کونکی زموږ سره اوپه دې کې ﴿چه جزیه ختمه شي اودده اولاد د مسلمانوخلاف جنګ کونکي شي﴾ نقصان دې دمسلمانانو.

دخراجي زمکي په اخستلوسره ذمي ګرځیدل

(فَإِنْ دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ وَاشْتَرَى أَرْضَ خَرَاجٍ فَإِذَا وُضِعَ عَلَيْهِ الْخَرَاجُ فَهُوَ ذِمِّيٌّ)؛ لِأَنَّ خَرَاجَ الْأَرْضِ بِمَنْزِلَةِ خَرَاجِ الرَّأْسِ، فَإِذَا الْتَزَمَهُ صَارَ مُلْتَزِمًا الْمُقَامَ فِي دَارِنَا،

ژباړه وتشریح - که داخل شو حربي ﴿کافر﴾ زموږ وطن ﴿اسلامي﴾ ته په امان سره اوواخلې اخستله مځکه خراجي نوهرکله چې مقررشي په ده ﴿حربي کافر﴾ باندې خراج ﴿ددغه زمکې مشتراة﴾ نودې ﴿حربي﴾ ذمي شو. ځکه چې خراج دزمکې پشان دخراج د سر ﴿یعني جزیه﴾ دې. ﴿نوچه په حربي کافرباندې جزیه مقررشي هغه ذمي ګرځي. دغه شان چې دده په مځکه باندې خراج مقرر شي. نوهم به دې ذمي ګرځي﴾ نوهرکله ده ﴿حربي﴾ لازم کړلو ﴿په ځان باندې﴾ دا ﴿خراج د خراجي زمکي﴾ اوګرځیدلودې التزام کونکې د اوسیدوپه وطن زموږ کښې ﴿اوچه یوحربي کافرپه دارالاسلام کې د اوسیدو التزام اوکړي اوجزیه ورکوي. نوهغه ذمي وي. دغه شان چې دې د زمکې خراج ورکوي. نودې ذمي شو﴾

أَمَّا بِمُجَرَّدِ الشِّرَاءِ لَا يَصِيرُ ذِمِّيًّا؛ لِأَنَّهُ قَدْ يَشْتَرِيهَا لِلتِّجَارَةِ، وَإِذَا لَزِمَهُ خَرَاجُ الْأَرْضِ فَبَعْدَ ذَلِكَ تَلْزَمُهُ الْجِزْيَةُ لِسَنَةٍ مُسْتَقْبَلَةٍ؛ لِأَنَّهُ يَصِيرُ ذِمِّيًّا بِلُزُومِ الْخَرَاجِ فَتُعْتَبَرُ الْمُدَّةُ مِنْ وَقْتِ وُجُوبِهِ.

ژباړه وتشریح - هرچه صرف اخستل ﴿دخراجي زمکې دي﴾ نو نه ګرځي دې ﴿حربي مشتري﴾ ذمي ﴿په دې اخستلوسره﴾ ځکه چې کله دې اخلی دا ﴿خراجي مځکه﴾ لپاره د تجارت ﴿نوصرف په اخستلوسره موږ دې ذمي نشوګرځولې﴾ اوهرکله چې لازم شي په ده ﴿حربي مستامن﴾ باندې خراج د ﴿خراجي زمکې﴾ نوپس ددې نه لازمیږي په ده باندې جزیه دکال راروان لپاره ځکه چې دې ګرځي ذمي په لازمولود خراج ﴿په خپل ځان باندې﴾ نومعتبره به وي موده دوخت د وجوب د خراج نه ﴿یعني کله چې په ده باندې د زمکې خراج مقرر شي. دهغه وخت څخه به دې ذمي شمارلې شي. اودده جزیه به مقررکولې شي﴾

(وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ فَإِذَا وُضِعَ عَلَيْهِ الْخَرَاجُ فَهُوَ ذِمِّيٌّ تَصْرِيحٌ بِشَرْطِ الْوَضْعِ فَيَتَخَرَّجُ عَلَيْهِ أَحْكَامٌ جَمَّةٌ فَلَا نَغْفُلُ عَنْهُ.

حل اللغة: ① **تصريح**: وضاحت ② **الوضع**: مقرر كول ③ **يتخرج**: مستنبط كيږي ④ **الجمة**: پوخائي، ټول په ټول

ژباړه وتشريح:- اودا قول دده ﴿ابو الحسين قدوري﴾ ﷫ پ كتاب كي چې ،، فإذا وضع عليه الخراج فهو ذمي،، تصريح ده په شرط د مقرر كولو ﴿دخراج يعنى د صاحب قدوري ددې عبارت نه دا ښكاره ثابته ده.چه د ذمى ګرځيدو لپاره په مخكه باندې دخراج مقرر كول شرط دى﴾ نورا وپستلى شي په دې ﴿شرط د مقرر كاوه د خراج﴾ باندې احكام ډير، ﴿لكه من جمله ددغه احكامو او مسائلونه كوم چې ددې اصل نه مستنبط كيږي دا دى.چه حربى به دارالحرب ته د واپس تلونه منع كولې شي اوكه دده څخه ...... ضائع كړلو.نوپه هغه باندې به ددې ضمان واجبيږي.اوكه يومسلمان دې په خطا سره قتل كړلو نوپه هغه باندې به ديت واجبيږي.اوكه دې د مسلمان قاتل شو.يا دمسلمان دلاسه مقتول شو.نوددوى په مينځ كي به د قصاص قانون جاري كولې شى.دغه ډول څومره احكام چې د ذميانوسره تعلق ساتى.هغه به په ده باندې جارى كيږى﴾ نوغفلت دې نشى كولې ددې ﴿شرط د مقرركولونه څكه چې په دې باندې ډيرمسائل مبنى دى﴾

د حربى كافرې ښځې په دارالاسلام كې ذمى سره نكاح كول اوددې عكس

(وَإِذَا دَخَلَتْ حَرْبِيَّةٌ بِأَمَانٍ فَتَزَوَّجَتْ ذِمِّيًّا صَارَتْ ذِمِّيَّةً) لِأَنَّهَا الْتَزَمَتْ الْمُقَامَ تَبَعًا لِلزَّوْجِ

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخله شى ذميه كافره ﴿دارالاسلام ته﴾ په امان سره اووادۀ اوكړى ذمى سره نوګرځى دا ﴿ښځه﴾ ذميه څكه چې دې لازم كړلو ﴿په خپل ځان باندې﴾ اوسيدل ﴿په دارالاسلام كي﴾ د امله د تابع كيدو د خاوند ﴿يعنى دا د خاوند تابع شوه.او خاوند ئې په دارالاسلام كي مستقل طور استوګنه اختيار كړې ده.دكومې په وجه چې هغه ذمى ګرځيدلې دې.نودا به هم د هغه په تابعدارئ كي دهغه سره په دارالاسلام كي اوسيږى.نولكه څنګه چې هغه ذمى ګرځيدلې دې.دغه ډول به دا هم ذميه ګرځى﴾

(وَإِذَا دَخَلَ حَرْبِيٌّ بِأَمَانٍ فَتَزَوَّجَ ذِمِّيَّةً لَمْ يَصِرْ ذِمِّيًّا) لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَيَرْجِعَ إِلَى بَلَدِهِ فَلَمْ يَكُنْ مُلْتَزِمًا الْمُقَامَ.

ژباړه وتشريح:- اوكله چې داخل شى حربى ﴿دارالاسلام ته﴾ په امان سره نووادۀ اوكړى د ذميه سره ﴿په دارالاسلام كي﴾ نه ګرځى ﴿دغه حربى كافر﴾ ذمى څكه چې ممكن ده ده ﴿حربى﴾ لره چې طلاق وركړى دې ﴿ذميه﴾ ته اوواپس شى خپل وطن ته ﴿چه دارالحرب دې﴾ نونه شو دې التزام كونكې د استوګنۀ ﴿په دارالاسلام كي اوچه ده په ځان باندې په دارالاسلام كي ستوګنه لازم كړې نه ده.ذمى نه ګرځى﴾

(وَلَوْ أَنَّ حَرْبِيًّا دَخَلَ دَارَنَا بِأَمَانٍ ثُمَّ عَادَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ وَتَرَكَ وَدِيعَةً عِنْدَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ أَوْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِمْ فَقَدْ صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالْعَوْدِ) لِأَنَّهُ أَبْطَلَ أَمَانَهُ (وَمَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ مِنْ مَالِهِ عَلَى خَطَرٍ، فَإِنْ أُسِرَ أَوْ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ فَقُتِلَ سَقَطَتْ دُيُونُهُ وَصَارَتْ الْوَدِيعَةُ فَيْئًا)

ژباړه وتشريح:- اوكه چرته حربى ﴿كافر﴾ داخل شو ملك زمونږ ته ﴿چه دارالاسلام دې﴾ په امان سره اوبيا واپس شو دارالحرب ته اوپرې ئې خودل امانت د يومسلمان سره اويا ذمى سره اويا پور په ذمه ددوى ﴿يعنى ذمى يا مسلمان باندې ئې پور پاتې شى﴾ نواوګرځيده وينه دده ﴿حربى﴾ مباح په واپس كيدو سره ﴿خپل دار الحرب ته.نوكه مسلمان ددې حربى قاتل شو.په هغه باندې څه نشته﴾ څكه چې ده ﴿حربى﴾ باطل كړلو امان خپل ﴿په واپس كيدو سره دارالحرب ته﴾ اوهغه چې وى په دارالاسلام كي دمال دده نه ﴿دامانت يا د پور په صورت كي﴾ په خطره كي دې.نوكه قيدى كړې شو دې ﴿حربى واپس تلونكې خپل وطن ته﴾ اويا غلبه اوكړې شوه په دارالحرب باندې.اودې قتل كړې شو.نوساقط شول قرضونه دده ﴿حربى دائن دهغه كسانونه په چا باندې چې ئې قرضونه وو﴾ اواوګرځيدلو امانت مال فئ ﴿يعنى

غنيمت﴾

أَمَّا الْوَدِيعَةُ فَلِأَنَّهَا فِي يَدِهِ تَقْدِيرًا، لِأَنَّ يَدَ الْمُودَعِ كَيَدِهِ فَيَصِيرُ فَيْئًا تَبَعًا لِنَفْسِهِ،

ژباړه وتشريح:- هرچه امانت دې ﴿نودا مال فئ ځکه اوګرځيدلو.چه﴾ دا په لاس دده ﴿حربي مستودع﴾ کي دې تقديراً ﴿يعني په ظاهره اګرچه د مسلمان مودع په لاس کي دې.ليکن تقديراً دا د حربي په لاس کي دې﴾ ځکه چې قبضه د مودع پشان د مستودع ده.نوګرځي دغه امانت مال فئ په تبعيت د نفس دده کي ﴿يعني که بالفرض دا حربي مستودع ګرفتارشوې وو.نوذي به مال غنيمت وو.نودغه شان چې کوم څيزدده په لاس کي وی.هغه مسلمانان قبضه کړی.هغه به هم مال غنيمت وی.اومونږ دا خبره بيان کړه.چه د مسلمان مودع په لاس کي کوم څيزامانت دې.هغه تقديراً د حربي په لاس کي دې.د دې وضاحت داسې کيداې شی.چه بالفرض دا امانت د مسلمان وی.نوددې زکاة په دغه مسلمان مستودع باندې فرض دې.اګرچه امانت د مودع په لاس کي وی.البته دلته يواعتراض کيداې شی.هغه دا چې کله حربي په دارالاسلام کي ايمان راوړی.اودده په دارالحرب کي د يومسلمان سره امانت وی.اوبيا مسلمانان په دارالحرب باندې غالب شی.نوپه دې صورت کي به دغه امانت مال غنيمت وی.نوددې نه ثابته شوه.چه د مودع قبضه د مستودع د قبضه پشان نه ده.ځکه که چرته د مودع قبضه د مستودع د قبضه پشان وه.نوپکار ده چې دغه امانت مال غنيمت نه وو.بلکه د دغه حربي نومسلم امانت وو.اوده ته ملاؤ شوې وو.خوددې نه ځواب ورکړې شوې دې.چه قبضه د مودع پشان د مستودع ده.خودا په هغه صورت کي چې د امانت کيدو په وخت کي دواړه مستودع او مودع معصوم المال وی.اوکوم صورت چې معترض بيان کړې دې.نوپه هغه صورت کي مال معصوم نه دی.ځکه چې دارالحرب کی دا امانت کيخودې شوې دې.اودارالحرب معصوم نه دی﴾

وَأَمَّا الدَّيْنُ فَلِأَنَّ إِثْبَاتَ الْيَدِ عَلَيْهِ بِوَاسِطَةِ الْمُطَالَبَةِ وَقَدْ سَقَطَتْ، وَيَدُ مَنْ عَلَيْهِ أَسْبَقُ إِلَيْهِ مِنْ يَدِ الْعَامَّةِ فَيَخْتَصُّ بِهِ

ژباړه وتشريح:- اوهرچه پور دې ﴿نو پور د دائن په مرګ سره ساقطيږی﴾ ځکه چې اثبات د قبضې په دې ﴿قرض﴾ باندې راځی په واسطه د مطالبې ﴿چه دائن د مديون نه دخپل پور مطالبه کوی﴾ اويقيناً ساقطه شوې ده دا ﴿مطالبه ځکه چې دائن مړشوې دې.نوچه مطالب نشته. پور ساقط شو﴾ اوقبضه دهغه چا چې ده په دې ﴿قرض﴾ باندې ﴿چه مديون دې﴾ وړاندې ده د قبضې د عاموغازيانونه ﴿يعني کوم پور چې دحربي کافرپه مسلمان باندې پاتې شوې دې.نوپه دغه پور باندې چونکه د دغه مديون قبضه وړاندې نه راغلې ده.په دې کي به ورسره نورمسلمانان شريك نه وی.بلکه﴾ خاص به وی دغه دين دده ﴿مديون﴾ پورې. ﴿نور خلګ دده نه دا مطالبه نشی کولې.چه په تا باندې د فلانی حربي پور وو.اوهغه خومړ شو.دهغه پور مال غنيمت دې. په هغې کي زمونږ هم برخه کيږی.هرکله چې د دې خبرې وضاحت اوشو﴾

دحربي د قتل په صورت کي دده د پور اوامانت حکم

(وَإِنْ قُتِلَ وَلَمْ يُظْهَرْ عَلَى الدَّارِ فَالْ پور **الْوَدِيعَةُ لِوَرَثَتِهِ) وَكَذَلِكَ إِذَا مَاتَ، لِأَنَّ نَفْسَهُ لَمْ تَصِرْ مَغْنُومَةً فَكَذَلِكَ مَالُهُ، وَهَذَا لِأَنَّ حُكْمَ الْأَمَانِ بَاقٍ فِي مَالِهِ فَيُرَدُّ عَلَيْهِ أَوْ عَلَى وَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِهِ.**

ژباړه وتشريح:- اوکه قتل کړې شوې ﴿دا حربي چې زمونږ ملك ته په امان سره داخل شوې وو.اوبيا دارالحرب ته تلې وی﴾ اوغلبه نه وی راغلې په دارالحرب باندې ﴿دمسلمانانو﴾ نو پور اوامانت به وی د وارثانود هغه ﴿حربي﴾ لپاره اودغه ډول حکم دې ﴿يعني پور امانت به د حربي د وارثانووی﴾ کله چې مړ شی ﴿حربي مستامن چې واپس دارالحرب ته تلی وی.اوامانت يا پور ئې په دارالاسلام کي د مسلمان سره وی﴾ ځکه چې نفس دده ﴿حربي﴾ نه دې مال غنيمت ﴿ځکه چې دې په خپل مرګ مړشوې دې﴾ نودغه ډول به ﴿نه وی﴾ مال د ده ﴿مال غنيمت﴾ اودا خبره ﴿چه دده مال غنيمت نه دې﴾ ځکه چې حکم [illegible] پاته دې په مال دده ﴿حربي﴾ کي ﴿يعني دا حربي يوځل دارالاسلام ته په امان سره داخل شوې

وو.نودده ځان اومال ته ساتنه حاصل وو. خو چې کله دې د دارالاسلام نه دارالحرب ته واپس شو.نودده دځان ساتنه ختم شو.خوکوم مال چې دده د پور یا امانت په صورت کې په دارالاسلام کې د مسلمان سره پروت دې.هغه معصوم اومحترم دې.په هغې باندې دده تقدیری قبضه قائمه ده﴿ نو واپس کولې به شي ده﴿حربي﴾ ته ﴿دده په ژوند کي﴾اویا دده وارثانوته دده نه روسته ﴿یعنی دده د مرګ نه پس﴾

چه مسلمانان ئې بغیرجنګه حاصل کړي دهغې حکم

قَالَ: (وَمَا أَوْجَفَ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ مِنْ أَمْوَالِ أَهْلِ الْحَرْبِ بِغَيْرِ قِتَالٍ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ كَمَا يُصْرَفُ الْخَرَاجُ) قَالُوا: هُوَ مِثْلُ الْأَرَاضِي الَّتِي أَجْلَوْا أَهْلَهَا عَنْهَا وَالْجِزْيَةِ وَلَا خُمُسَ فِي ذَلِكَ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: فِيهِمَا الْخُمُسُ اعْتِبَارًا بِالْغَنِيمَةِ.

حل اللغة: ① **اوجف:** په رعب سره حاصل کړو ② **اجلوا** :د اجلاء نه دې شړل

ژباړه وتشریح:- ابو الحسین قدوری فرمائی.اوهغه چې حاصل کړي مسلمان په رعب اوویرولوسره هغه د مالونو د حربیانو نه بغیرد جنګ نه ﴿یعنی مسلمانان بغیردجنګ نه صرف په رعب اوویرولوسره د حربیانونه دهغوی مالونه واخلي﴾نوخرچ کولې به شي مصالحود مسلمانانوکي ﴿لکه پلونه جوړول،لارې جوړول شفاخانې جوړول وغیره شول﴾ لکه څنګه چې خرچ کولای شي مال خراج ﴿په مصالحود مسلمانانوباندې﴾ وئیلی دی ﴿مشائخوزمونږ﴾ دا ﴿یعنی ،،ماأوجف المسلمون علیه،،﴾ پشان د هغه زمکو دې چې شړلي ئې وي د هغې نه مالکان دهغې او ﴿پشان﴾ د جزیه ده. ﴿نوکوم مصارف چې ددغه زمکو او جزیه دی. ،،ماأوجف المسلمون علیه،،به هم په هغې کي خرچ کولې شي﴾ اونشته خمس په دې ﴿ماأوجف علیه المسلمون) کي ،اوفرمائی امام شافعي رحمه الله په دې کي خمس دې.قیاس کوی په مال غنیمت باندې ﴿لکه څنګه چې په مال غنیمت کي خمس دې.نودغه ډول په ،ماأوجف علیه المسلمون، کي هم خمس دې.څکه چې دا هم د مال غنیمت یو ډول دې﴾

وَلَنَا مَا رُوِيَ "أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ" وَكَذَا عُمَرُ وَمُعَاذٌ، وَوُضِعَ فِي بَيْتِ الْمَالِ وَلَمْ يُخَمَّسْ ([1]) وَلِأَنَّهُ مَالٌ مَأْخُوذٌ بِقُوَّةِ الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ قِتَالٍ،

ژباړه وتشریح:- اوزمونږ ﴿داحنافودپاره﴾ هغه حدیث دلیل دې.چه روایت شوې دې چې نبي ﷺ اخستې وه جزیه اودغه ډول حضرت عمر رضی الله عنه اومعاذ رضی الله عنه اوکیخودلې ئې وه په بیت المال کي اوخمس ئې نه وو اخستې دهغې نه اوبل عقلی دلیل دادې.چه دا ﴿ماأوجف علیه المسلمون) داسې مال دې چې اخستې شوې دې په توان د مسلمانانوسره بغیردجنګ نه ﴿بلکه د کافرانو نه په رعب سره اخستې شوې دې﴾

بِخِلَافِ الْغَنِيمَةِ، لِأَنَّهُ مَمْلُوكٌ بِمُبَاشَرَةِ الْغَانِمِينَ وَبِقُوَّةِ الْمُسْلِمِينَ فَاسْتَحَقَّ الْخُمُسَ بِمَعْنًى وَاسْتَحَقَّهُ الْغَانِمُونَ بِمَعْنًى، وَفِي هَذَا السَّبَبُ وَاحِدٌ، وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ فَلَا مَعْنَى لِإِيجَابِ الْخُمُسِ.

ژباړه وتشریح:- په خلاف د غنیمت نه ﴿په دې عبارت سره د امام شافعي رحمه الله د قیاس نه ځواب کوی﴾ څکه چې دا ﴿مال غنیمت﴾ مملوك ګرځیدلې دې په ګډون د غازیانواوقوت د مسلمانانو ﴿یعنی مال غنیمت په ددو سببونومملوك ګرځیدلې دې.یودغازیانوپه جهاد کي شرکت کول او دوهم دمسلمانانوقوت.که دا نه وو. نومال غنیمت نشوحاصلیدې.نوهرکله چې سبب د استحقاق غنیمت مختلف شو.نواستحقاق غنیمت به هم مختلف وي.یعنی په ،،ماأوجف علیه المسلمون، کي صرف د مسلمانانوپه توان سره مال حاصل شوې دې. اوپه مال غنیمت کي هم غازیان په جنګ کي شریك شوی دی.اوهم د مسلمانانو توان کمار کړې دې﴾ نومستحق شوغازیان په (ماأوجف علیه المسلمون) کي د یوسبب په وجه ﴿چه رعب دې﴾ اومستحق اوګرځیدل غازیان دبل سبب په وجه ﴿چه په جنګ کي شرکت کول دی﴾ اوپه دې ﴿ماأوجف علیه المسلمون) کي سبب یو

[1] قال الزيلعي رحمه الله أخرجه أبوداود في كتاب الخراج عن ابن لعدی بن عدی الكندی(نصب الرأية،۳/۶۵۹)_

دي اوهغه يوسبب هغه دي چي ذکرکړي شوي دي چي قول سره ،،لأنه مال مأخوذ بقوة المسلمين من غير قتال)
نونشته څه وجه واجبولو خمس ته ﴿په ما أوجف عليه المسلمون.کي .ځکه چې الله تعالى فرمائيلي دي.((مَآ
أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ)) هغه چې غالب شئ تاسو په هغې باندې بغيرد زغلولود اسونو او سورو نه،نودا
واړه به د مسلمانانو لپاره گرځولې شي﴾

دحربي مستامن د اهل وعيال اومال حکم

(وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ وَلَهُ امْرَأَةٌ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَأَوْلَادٌ صِغَارٌ وَكِبَارٌ وَمَالٌ أَوْدَعَ بَعْضَهُ ذِمِّيًّا وَبَعْضَهُ حَرْبِيًّا وَبَعْضَهُ مُسْلِمًا فَأَسْلَمَ هَاهُنَا ثُمَّ ظَهَرَ عَلَى الدَّارِ فَذَلِكَ كُلُّهُ فَيْءٌ)

ژباړه وتشريح:- اوکله چې داخل شي حربي وطن زموږ ته په امان سره اووي دده ښځه په دارالحرب کي او اولاد
ماشومان اوغټان اومال چې څه ئې د ذمي سره امانت کيښودې وي اوڅه ئې د حربي سره اوڅه د مسلمان
سره نودې مسلمان شي دلته ﴿په دارالاسلام کي﴾ بيا غالب شي ﴿مسلمانان﴾ په دارالحرب باندې،نودا
واړه هرڅه ﴿که دده ښځه ده اوکه واړه اولاد دي او که لوئي اولاد دي اوکه مال دي﴾ مال فئ دي.

أَمَّا الْمَرْأَةُ وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَظَاهِرٌ لِأَنَّهُمْ حَرْبِيُّونَ كِبَارٌ وَلَيْسُوا بِأَتْبَاعٍ، وَكَذَلِكَ مَا فِي بَطْنِهَا لَوْ كَانَتْ حَامِلًا لِمَا قُلْنَا مِنْ قَبْلُ.

ژباړه وتشريح:- هرچه ښځه او دده بالغ اولاد دي.نود دوی مال فئ کيدل خوښکاره خبره ده.ځکه چې دوی
حربيان دي.اوبالغان دي.اونه دي تابع ﴿دخپل مسلمان پلار﴾ اودغه ډول ﴿حکم دي﴾ که وي جنين
﴿دمور په نس کي .نوهغه هم مال فئ دي﴾ دهغه امله چې موږ ونيلی دي وړاندې ﴿په باب الغنائم کي په
دې توں سره ،،ولنا أنه جزؤها فيرق برقها)

وَأَمَّا أَوْلَادُهُ الصِّغَارُ فَلِأَنَّ الصَّغِيرَ إِنَّمَا يَصِيرُ مُسْلِمًا تَبَعًا لِإِسْلَامِ أَبِيهِ إِذَا كَانَ فِي يَدِهِ وَتَحْتَ وِلَايَتِهِ، وَمَعَ تَبَايُنِ الدَّارَيْنِ لَا يَتَحَقَّقُ ذَلِكَ،

ژباړه وتشريح:- اوهرچه نابالغ اولاد دده ﴿نومسلم﴾ دي. ﴿نودوی مال فئ دی﴾ ځکه چې نابالغه گرځي
مسلمان په تابعدارئ دپلار دده خوچه وی په قبضه دده ﴿پلار﴾ کي اولاندې د اختياردده نه،اوسره داختلاف
د دارينو نه متحقق کيږي دا څيز ﴿يعني نابالغه اولاد د پلار تابع وی.که پلار ئې مسلمان وی.نودوی به هم
مسلمانان گنړلی شي اوکه هغه کافروی.نودوئ به هم کافران گنړلی شي.خودا حکم په هغه صورت کي
دي.چه دوی د پلار په قبضه اواختيارکښي وی.اوپه زيربحث صورت کي پلار په دارالاسلام کي دې. او دوی
په دارالحرب کښي دی.نودوی تابع نشي کيدې.ځکه دوی مسلمانان نشي گنړلې.اوچه مسلمانان نشي
گنړلې نومال فئ به وی﴾

وَكَذَا أَمْوَالُهُ لَا تَصِيرُ مُحْرَزَةً بِإِحْرَازِهِ نَفْسَهُ لِاخْتِلَافِ الدَّارَيْنِ فَبَقِيَ الْكُلُّ فَيْئًا وَغَنِيمَةً

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول دده مالونه دی. ﴿يعني دا هم مال فئ دي.ځکه چه﴾ نه دی دا محفوظ په ساتنه د
نفس دده ﴿يعنی دا نومسلم په خپله د خپل مال ساتنه نشي کولې﴾ د امله د اختلاف د دارينونه ﴿ځکه
چې دې په دارالاسلام کي دې اومال ئې په دارالحرب کي دې.نودده مال غيرمعصوم شو﴾ نوپاته پاتې
شوواړه ﴿که ښځه ده اوکه بالغ اونابالغه اولاددې.اوکه مال دي﴾ مال فئ اوغنيمت.

په دارالحرب کي دحربي په اسلام قبولودده داولاد حکم

(وَإِنْ أَسْلَمَ فِي دَارِ الْحَرْبِ ثُمَّ جَاءَ فَظَهَرَ عَلَى الدَّارِ فَأَوْلَادُهُ الصِّغَارُ أَحْرَارٌ مُسْلِمُونَ) تَبَعًا لِأَبِيهِمْ لِأَنَّهُمْ كَانُوا تَحْتَ وِلَايَتِهِ حِينَ أَسْلَمَ إِذِ الدَّارُ وَاحِدَةٌ

ژباړه وتشريح:- اوکه اسلام ئې قبول کړلو په دارالحرب کي اوبيا راغلو ﴿دارالاسلام ته﴾ نوغلبه اوشوه په
دارالحرب باندې ﴿اومسلمانانو دده دغه وطن فتح کړلو﴾نودده نابالغه اولاد آزاد اواصيل دی.د امله د

تبعیت د پلارنه ځکه چې دوی د خپل پلار د اختیارلاندې وو.په کوم وخت کې چې هغه ایمان راوړلو.ځکه چې وطن یو دې. ﴿اوپه هغه وخت کې اختلاف د دارینو نه وو موجود شوې.چه مورډدوی تبعیت ختم کړو﴾

(وَمَا كَانَ مِنْ مَالٍ أَوْدَعَهُ مُسْلِمًا أَوْ ذِمِّيًّا فَهُوَ لَهُ) لِأَنَّهُ فِي يَدٍ مُحْتَرَمَةٍ وَيَدُهُ كَيَدِهِ (وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَيْءٌ)

ژباړه وتشريح:- اوهغه چې وی کوم مال چې امانت نې کیخودې وی د مسلمان سره یا د ذمی سره نوهغه ﴿مال﴾ دده ﴿نومسلم﴾ لپاره دې.ځکه چې هغه ﴿مال﴾ په قبضه محترمه کې دې﴿چه دمسلمان اوذمی قبضه ده﴾ اوقبضه دهغه ﴿مسلمان اوذمی﴾ پشان د قبضې دده ﴿نومسلم﴾ ده.اوهغه چې وی سوا ددې نه ﴿يعني ښځه اوبالغ اولاد اوهغه مال چې د حربی په قبضه کې وی﴾ نوهغه واړه به مال فئ وی.

أَمَّا الْمَرْأَةُ وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَلِمَا قُلْنَا. وَأَمَّا الْمَالُ الَّذِي فِي يَدِ الْحَرْبِيِّ فَلِأَنَّهُ لَمْ يَصِرْ مَعْصُومًا لِأَنَّ يَدَ الْحَرْبِيِّ لَيْسَتْ يَدًا مُحْتَرَمَةً.

ژباړه وتشريح:- هرچه ښځه ده.اودده بالغ اولاد دې.نودهغه امله ﴿به مال فئ وی﴾ کومه چې مونږ بیان کړه. ﴿چه لأنهم حربيون كبار) اومال هغه چې وی په لاس د حربی کې ﴿نوهغه مال فئ دې﴾ ځکه چې نه دې ګرځیدلې معصوم ﴿بلکه مباح دې﴾ ځکه چې قبضه د حربی نه ده محترمه ﴿نوچه محترمه نشوه.اومسلمانانوددې نومسلم مال د حربی نه واخستلو.په هغې باندې د مسلمانانوقبضه صحیح شوه﴾

په دارالحرب کې دمسلمان دلاسه دنومسلم قتل

(وَإِذَا أَسْلَمَ الْحَرْبِيُّ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَقَتَلَهُ مُسْلِمٌ عَمْدًا أَوْ خَطَأً وَلَهُ وَرَثَةٌ مُسْلِمُونَ هُنَاكَ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ إِلَّا الْكَفَّارَةُ فِي الْخَطَإِ)

ژباړه وتشريح:- اوکله چې مسلمان شی حربی په دارالحرب کې اوقتل کړی دده لره مسلمان په قصد یا په خطا اودده ﴿مقتول مسلمان﴾ وارثان وی.هلته ﴿په دارالحرب کې﴾ نو نشته څه څیزپه دده ﴿قاتل مسلمان﴾ باندې مګرصرف کفاره په قتل خطا کې

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ الدِّيَةُ فِي الْخَطَإِ وَالْقِصَاصُ فِي الْعَمْدِ، لِأَنَّهُ أَرَاقَ دَمًا مَعْصُومًا (لِوُجُودِ الْعَاصِمِ وَهُوَ الْإِسْلَامُ) لِكَوْنِهِ مُسْتَجْلِبًا لِلْكَرَامَةِ،

حل اللغة: ① الاراق:تویول ② العاصم:حفاظت کونکې

ژباړه وتشريح:-اوفرمائی امام شافعی رحمه الله واجبیږی ﴿په قاتل باندې﴾ دیت په قتل خطا کې اوقصاص په قتل عمد کې ځکه چې دده ﴿مسلمان قاتل﴾ تونې کړې ده وینه معصومه ﴿د یومسلمان﴾ د امله ذوجود د عاصم نه چې اسلام دې ځکه چې دا ﴿اسلام﴾ رابنکونکې دې د عزت ﴿يعني په اسلام سره مسلمان معزز اومعصوم الدم ګرځی.اود ابدی سعادت مستحق ګرځی.اوځوك چې معصوم الدم قتل کړی.نوکه په خطا وی.په دې کې دیت اوکفاره ده.اوکه په قصد وی.نوپه دې کې قصاص دې.لکه څنګه چې په دارالاسلام کې دمسلمان دلاسه مسلمان قتل شی.نودا حکم دې﴾

وَهَذَا لِأَنَّ الْعِصْمَةَ أَصْلُهَا الْمُؤَثِّمَةُ لِحُصُولِ أَصْلِ الزَّجْرِ بِهَا وَهِيَ ثَابِتَةٌ إِجْمَاعًا، وَالْمُقَوِّمَةُ كَمَالٌ فِيهِ لِكَمَالِ الِامْتِنَاعِ بِهِ فَيَكُونُ وَصْفًا فِيهِ فَتَتَعَلَّقُ بِمَا عُلِّقَ بِهِ الْأَصْلُ.

حل اللغة: ① الموثمة:ګناهګارونکې ② المقومة:عصمت مقومه

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿يعني وجوب د دیت په قتل خطا کې او وجوب دقصاص په قتل عمد کې﴾ ځکه دې چې عصمت ﴿دمسلمان﴾ اصل ددې ﴿عصمت﴾ ګناهګارونکې دې ﴿قاتل لره﴾ د امله د حاصلیدو د حقیقی تنبیه نه په دې ﴿عصمت﴾ سره ﴿يعني مسلمان ته عصمت حاصل دې.اوچه یوکس د معصوم الدم وینه تویوی.دا د ګناه ارتکاب دې.نوچه هغه ته دا معلومه وی.چه دا کس معصوم الدم دې.اودده په قتل زه ګناهګاریږم.نودا عصمت دهغه لپاره یوه تنبیه شوه.چه هغه به دقتل ګناه نه کوی﴾اودا ﴿عصمت﴾ ثابت دې ﴿د دارالحرب په مقتول مسلمان کې﴾ په اجماع سره ﴿يعني د عالمانوپه دې باندې اجماع ده.چه په دارالحرب کې چې کوم مسلمان اوسیږی.هغه معصوم الدم دې.اودده په قتل به سړې ګناهګاریږی﴾ اولزوم

سره ﴿يعنى د دیت ورکولو﴾ نه په دي ﴿د دیت ورکولو﴾ سره ﴿يعنى د دديت كمال دي په دې عصمت كي د امله د پوره منع كيدو نه په دې ﴿دیت ورکولو﴾ سره ﴿يعنى د
دديت كمال دې په دې عصمت کي د امله د پوره منع كيدو نه په دي.دده قتل ګناه ده .نومسلمان به ترې ځان ساتي.خوچه يوكس
دارالحرب مسلمان هسې هم معصوم الدم دې.دده قتل ګناه ده .نومسلمان به ترې ځان ساتي.خوچه يوكس
ته دا پته هم اولګی.چه دده په قتل زه صرف ګناهګارېږم نه.بلکه دیت رابانديّ هم لازميږی.نودې به
خامخادهغه د قتل نه ځان ساتی﴾ نوشو ﴿دا لزوم ددیت﴾ يو وصف په دې کي ﴿چه عصمت موثمه دې.
يعنى په اصل کي د مسلمان د وينې معصوميت مسلمان دهغه د قتل نه منع کوی.خوچه دده په قتل سره
دیت هم لازميږی.نود ديت دا لزوم د قتل نه منع كيدو لپاره كمال شو.اويواضافی صفت شو﴾ نوددې
وصف ﴿چه لزوم د ديت دې﴾ تعلق به دهغه څه سره وی.چه دهغې سره د اصل ﴿يعنى عصمت موثمه﴾
تعلق وی. ﴿او د مسلمان عصمت د اسلام په وجه راغلی دې.نو ديت به هم د مقتول د اسلام په وجه
واجبيږی.نوكه په قصد سره ئې قتل كړې وی.نوګناه اوقصاص دواړه به لازم وی.اوكه په خطا سره ئې قتل
كړې وی.نود اسلام په وجه به ديت لازميږی.دا تقرير د امام شافعی رحمه الله وو﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى {فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ} الْآيَةَ. جَعَلَ التَّحْرِيرَ كُلَّ الْمُوجِبِ رُجُوعًا إلَى حَرْفِ الْفَاءِ أَوْ إلَى كَوْنِهِ كُلَّ الْمَذْكُورِ فَيَنْتَفِي غَيْرُهُ،

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿د احنافو﴾ لپاره دليل قول د الله تعالى دې ﴿ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ ،امام ابوحنيفه رحمه الله په دې آيت کي تاويل كوی.اودا دهغه كسانوپورې خاص
كوی.چاچه په دارالحرب کي اسلام راوړې وی.اودارالاسلام ته ئې هجرت نه وی كړې.اودا تاويل د بعضې
مفسرينونه منقول هم دې.نووجه داستدلال په دې آيت سره دا شوه.چه الله تعالى د مطلق مومن اودهغه مومن
دقتل په حكم کي توپير كړې دې.چه هغه د مسلمانانو د دشمن د قوم ځنې وی.نود مطلق مؤمن د قتل په
حكم کي ئې دكفارهٔ اوديت دواړو بيان كړې دې.په دې قول سره چې ((وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ)) اود دارالحرب د مومن دقتل حكم سره ئې صرف ديت ذكركړې دې.چه ((فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ)) كرځولې دې ﴿الله تعالى﴾ آزادول ﴿د مومن
غلام﴾ پوره موجب ﴿جزاء اود پوره جزاء قيد چې مونږ لګولو﴾ د امله د رجوع كولونه كلمه د ،،فاء،، ته
﴿چه ،فاء، كلمه لپاره د جزاء راځي.نومعنى دا شوه.چه څوك مسلمان په خطاء سره قتل كړی.نودهغه جزاء
ده.چه مومن غلام آزاد كړی﴾ اويا دا ﴿د امله د رجوع كولونه دې ته چې آزادول د غلام﴾ كامل ذكردې ﴿
د جزاء د قتل د مومن په خطا سره،﴾ نونفی شو ﴿په جزاء د قتل خطا کي﴾ سوا ددې ﴿آزادولود غلام﴾
نه ﴿يعنى په دې آيت باندې داستدلال يوه طريقه خو هغه وه.چه كلمه د فاء لپاره د جزاء ده.او الله تعالى
دقتل خطا په جزاء کي تحرير د رقبه ذكركړې دې.نومعلومه شوه.چه دقتل خطا كامله جزاء صرف تحريرد
رقبه دې.اوپه دې آيت باندې په بله طريقه هم استدلال كولې شی.هغه دا چې دلته الله تعالى د قتل خطاء په
جزاء کي تحريرد رقبه ذكركړې دې.دبل څه ذكرئې نه دې كړې.نومعلومه شوه.كه چرته د قتل خطاء په صورت
کي په قاتل باندې بل څه واجب كيدلو.نوالله تعالى به دهغې ذكرهم كړې وو.ځكه چې شارع د اړتيا په وخت
کي يوحكم نيمګړې نه پريږدی.خوچه د تحريررقبه سره د بل څيزذكرنشته.نو معلومه شوه.چه دقتل خطاء
جزاء صرف اوصرف تحريرد رقبه دې﴾

وَلِأَنَّ الْعِصْمَةَ الْمُؤَثِّمَةَ بِالْآدَمِيَّةِ لِأَنَّ الْآدَمِيَّ خُلِقَ مُتَحَمِّلًا أَعْبَاءَ التَّكْلِيفِ، وَالْقِيَامُ بِهَا بِحُرْمَةِ التَّعَرُّضِ، وَالْأَمْوَالُ تَابِعَةٌ لَهَا

حل اللغة: ① **متحمل:** برداشت كونكې ② **اعباء:** مشقت

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې عصمت ګناهګاركونكې ﴿قاتل لره﴾ دې په آدميت سره ﴿يعنى قاتل چې د
مقتول په قتل باندې ګناهګاريږی.نوددې ګناهګاريدو وجه دا ده.چه ده نفس معصوم قتل كړلو.نوګويا چې
عصمت د نفس د ګناه سبب شو.كه چرته نفس معصوم نه وو.نوددې په قتل به ګناه نه لازميدله.خواوس دلته

دا سوچ پكاردي.چه دا عصمت د څه امله راغلي دي.دكوم په وجه چې دنفس معصوم قتل ګناه ګرځيدلي ده. نو صاحب دهدايه فرمائي.چه دا عصمت دآدميت په وجه دي.يعني انسان ځكه معصوم الدم دي.چه بنيادم دي﴾ ځكه چې بنيادم ﴿فطرتي طور﴾ پيدا شوي دي برداشت كونكي د پيتى د تكليف ﴿يعني بنيادم د شرعي احكام مكلف دي﴾ اوادا كول ددې ﴿احكامو﴾ راځي په حرمت د تعرض سره ﴿يعني دالله تعالى حكمونه دانسان په ذريعه باندې ادا كيږي.اوس كه انسان هم د عاموحيواناتو پشان مباح الدم اوګرځولي شي.اودده وينه معصومه او محترمه نشي.نوبيا به دانسان قتل هم جائز شي.اودې به غيرمعصوم الدم شي.اوچه انسان غير معصوم الدم شي.نودالله تعالى حكمونه نه ادا كيږي.ددې امله انسان ته تعرض كول اودده قتلول مطلقاً حرام اوګرځولي شو.البته كافرچونكه كفراختيار كړلو.نوالله تعالى دده په حق كې د تعرض حرمت باطل كړلو.اوكافر ئې غيرمعصوم الدم اوګرځولو.خوچه دې مسلمان شو.نوبيا معصوم الدم اوګرځيدلو﴾ او﴿د ديت﴾ مالونه تابع دى ددې ﴿آدميت﴾ لپاره ﴿هغه آدميت چې دهغې د امله دده وينه معصومه ګرځيدلي ده.اوددې وينې په تويولوګناه لازميږي.كه مالونه مو د آدميت تابع نه وې ګرځولي.نو بيا خو مالونه مباح دى.معصوم اومحفوظ نه دى.بلكه دا چې معصوم اوګرځولي شول.نوصرف ددې امله چې انسان ددې نه فائده واخلي.اوپه خپل حاجت كې ئې راولي.نومعلومه شوه.چه مالونه د آدميت تابع دى﴾

وَأَمَّا الْمُقَوِّمَةُ فَالْأَصْلُ فِيهَا الْأَمْوَالُ، لِأَنَّ التَّقَوُّمَ يُؤْذِنُ بِجَبْرِ الْفَائِتِ وَذَلِكَ فِي الْأَمْوَالِ دُونَ النُّفُوسِ، لِأَنَّ مِنْ شَرْطِهِ التَّمَاثُلَ، وَهُوَ فِي الْمَالِ دُونَ النَّفْسِ فَكَانَتِ النُّفُوسُ تَابِعَةً.

حل اللغة: ① التماثل: ديوبل پشان كيدل

ژباړه وتشريح:- هرچه عصمت ﴿مقومه﴾ دي. ﴿دمقومه نه مراد دا دي.چه دبل ځيزقائم مقام ګرځيدي شي﴾ نو اصل په دې ﴿عصمت مقومه﴾ كې ،مالونه دي. ﴿يعني اصل په قائم مقام جوړيدو كې مالونه دي﴾ اومالونه ځكه چې تقوم ﴿يعني چې يوځيز دبل ځيزقائم مقام جوړيږي.نودا قائم مقام جوړيدل﴾ خبرداري وركوي په پوره كيدو د نقصان باندې ﴿يعني چې په كوم ځيزكې نقصان راغلي وي.اوځيزدهغې قائم جوړشي.نودغه قائم مقام ځيزددغه بل ځيزكمې اونقصان پوره كړلو﴾ اودا ﴿قائم مقام جوړيدل كيداې شي﴾ په مالونوكې نه په نفسونوكې ځكه چې د شرط ددې ﴿قائم مقام جوړيدوځنې يعني چې يوځيزدبل قائم مقام جوړيږي.په دې كې شرط﴾ تماثل دې ﴿چه قائم مقام د اصل سره مماثل وي.اودهغې پشان وي﴾ اودا ﴿تماثل﴾ په مال كې وي ﴿يعني مال ديوبل پشان كيداې شي﴾ نه په نفس كې ، ﴿نوهركله چې تماثل په مالونوكې راتلي شي.په نفسونوكې نشي﴾ نوشو نفسونه تابع ﴿دمالونوپه دې باب كې﴾

ضروري تشريح:- كوم ځيزچه فوت شي دهغې كمې چې په بل ځيزپوره كولي شي.نوپه دې اصل اوقائم مقام كې مماثلث ضروري اوشرط دي.چه يودبل پشان وي.اوس دامماثلت به يا په صورة اومعنى دواړوكې وي.اويا به صرف په معنى كې وي په صورت كې به نه وي.ځكه چې مالونه په دوې [دوه] قسمه دى. يو مثليات دى.اوبل ذوات القيم،اوپه جناياتوكې ،په مثلياتوكې مثلي وي.اوپه ذوات القيم كې قيمي وي.نوپه مثلياتوكې مماثلت صورة اومعنى دواړه وي.اوپه ذوات القيم كې صرف معناً وى صورة نه وي.نودا دوې [دوه] قسمه مماثلت صرف په مالونوكې شته.په نفسونوكې نشته.

ثُمَّ الْعِصْمَةُ الْمُقَوِّمَةُ فِي الْأَمْوَالِ بِالْإِحْرَازِ بِالدَّارِ، لِأَنَّ الْعِزَّةَ بِالْمَنَعَةِ فَكَذَلِكَ فِي النُّفُوسِ إِلَّا أَنَّ الشَّرْعَ أَسْقَطَ اعْتِبَارَ مَنَعَةِ الْكَفَرَةِ، لِمَا أَنَّهُ أَوْجَبَ إِبْطَالَهَا.

ژباړه وتشريح:- بيا عصمت مقومه په مالونوكې راځي په ساتنه سره په كور كې ﴿چه دارالاسلام دي. او ساتنه په دارالاسلام كې راځي﴾ ځكه چې غلبه چې حاصليږي نوپه قوت سره ﴿اوهركله چې عصمت مقومه په مالونوكې په قوت سره راځي﴾ نودغه ډول به په نفسونوكې هم وي. ﴿يعني دغه ډول به عصمت مقومه په

نفسونوكي هم په قوت سره راځي،ځكه نفوس د مالونو تابع دي.نوځه حكم چې د متبوع وي.هغه به د تابع هم وي﴾ البته دومره ده چې شريعت ساقط كړې دي اعتبار د قوت دكفر،ددې املـه چې دې ﴿يعني شريعت﴾ واجب كړې ختمول ددې ﴿قوت د كفر،اوهركله چې د كفرقوت موجود نشي.نوواجب نشو ساتنه او چې ساتنه موجود نشو.نوعصمت مقومه موجود نشو.اوچه عصمت مقومه موجود نشو.نوديت نه واجبيږي﴾

وَالْمُرْتَدُّ وَالْمُسْتَأْمَنُ فِي دَارِنَا مِنْ أَهْلِ دَارِهِمْ حُكْمًا لِقَصْدِهِمَا الِانْتِقَالَ إِلَيْهَا.

ژباړه وتشريح:- اومرتد او مستامن په وطن زموږ كې ﴿چه دارالاسلام دې﴾ د هغوی ﴿حربيانو﴾ د وطن خنی دې حكماً ﴿اګرچه په حقيقت كې په دغه وخت كې په دارالاسلام كې وی﴾ ځكه چې قصد ددوی د تلو دې ﴿دارالحرب ته يعنی مرتداو مستامن كه په ظاهره په دارالاسلام كې اوسيږي.خوبيا هم دې حكماً په دارالحرب كې دې.يعنی په ده باندې به هغه احكام جاري كيږي.كوم چې په دارالحرب كې په ده جاري كيږي.اودوی ځكه حكماً د دارالحرب اوسيدونكی ګنړلی شي.چه د دوی په دارالاسلام كې د هميشه اوسيدو نيت نه وی.بلكه دارالحرب ته د تلو اراده او قصد لري﴾

په دارالاسلام كې لاوارثه مسلمان قتلول

(وَمَنْ قَتَلَ مُسْلِمًا خَطَأً لَا وَلِيَّ لَهُ أَوْ قَتَلَ حَرْبِيًّا دَخَلَ إِلَيْنَا بِأَمَانٍ فَأَسْلَمَ فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ لِلْإِمَامِ وَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ) لِأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً خَطَأً فَتُعْتَبَرُ بِسَائِرِ النُّفُوسِ الْمَعْصُومَةِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ لِلْإِمَامِ أَنَّ حَقَّ الْأَخْذِ لَهُ، لِأَنَّهُ لَا وَارِثَ لَهُ

ژباړه وتشريح:- اوچا چې قتل كړلو په خطا سره ﴿داسې﴾ مسلمان چې نه وی ولی دهغه اويا ئې قتل كړلو حربی ﴿كافر﴾چه داخل شوې وو زموږ وطن نه په امان سره اواسلام قبول كړی.نوديت په عاقله دده ﴿قاتل﴾ لپاره دامام ﴿يعنی د قاتل دعاقله نه امام ته د ديت اخستلوحق حاصل دې﴾ اوپه ده ﴿قاتل﴾ باندې كفاره ده ﴿چه آزادول د مومن غلام دی.اوديت اوكفاره دواړه پرې واجب دی﴾ ځكه چې ده قتل كړلو نفس معصوم الدم په خطا سره نوقياس كولې به شي ﴿حكم دده﴾ په ټولونفوسو معصومو باندې اومعنی د قول د ده ﴿ابو الحسين قدوری﴾چه،،للإمام،، چې حق د اخستلو ده ﴿امام﴾ ته حاصل دې. ﴿چه د قاتل د عاقله نه د ديت مطالبه اوكړی﴾ ځكه چې نشته وارث دده ﴿مقتول په دارالاسلام كې﴾

(وَإِنْ كَانَ عَمْدًا فَإِنْ شَاءَ الْإِمَامُ قَتَلَهُ، وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الدِّيَةَ) لِأَنَّ النَّفْسَ مَعْصُومَةٌ، وَالْقَتْلَ عَمْدٌ، وَالْوَلِيَّ مَعْلُومٌ وَهُوَ الْعَامَّةُ أَوِ السُّلْطَانُ. قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {السُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ} ([1])

ژباړه وتشريح:- اوكه وی ﴿قتل﴾ په قصدسره،نوكه خوښه وی دامام قتل دې كړی دې ﴿قاتل﴾ اوكه خوښه ئې وی نو واديخلی ديت ځكه چې نفس ﴿ دمسلمان﴾ معصوم دې.اوقتل عمد دې.او ولی ﴿دمقتول﴾ معلوم دې.چه عام مسلمانان دی.يا بادشاه دې. ﴿اوكله چې په يوقتل كې دا شرطونه جمع وی.نوپه هغې كې قصاص يا ديت وی.اوبادشاه ته ځكه ولی د مقتول وايو.چه﴾ فرمائيلی دی نبی ﷺ بادشاه ولی د هغه چا دې.چه دهغه ولی نه وی ﴿يعنی كوم حقوق چې يو ولی ته حاصل وی.د ولی د نشتوالی په صورت كې هغه حقوق بادشاه ته حاصل وی﴾

وَقَوْلُهُ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الدِّيَةَ مَعْنَاهُ بِطَرِيقِ الصُّلْحِ، لِأَنَّ مُوجِبَ الْعَمْدِ وَهُوَ الْقَوَدُ عَيْنًا، وَهَذَا لِأَنَّ الدِّيَةَ أَنْفَعُ فِي هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ مِنَ الْقَوَدِ فَلِهَذَا كَانَ لَهُ وِلَايَةُ الصُّلْحِ عَلَى الْمَالِ (وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَعْفُوَ) لِأَنَّ الْحَقَّ لِلْعَامَّةِ وَوِلَايَتُهُ نَظَرِيَّةٌ وَلَيْسَ مِنَ النَّظَرِ إِسْقَاطُ حَقِّهِمْ مِنْ غَيْرِ عِوَضٍ

حل اللغة: ① القود ديت ② اسقاط ساقطول

---

[1] تقدم تخريجه في أوائل النكاح)_

ژباړه وتشريح:- اوکه دا وينا د ده ﴿يعني امام محمد ﷺ په جامع صغيرکي﴾ چې خوښه ئې وي واديخلي ديت معنى ددې دا ده.چه په طريق د صلحې سره ﴿دې ديت واخلي﴾ ځکه چې موجود د ﴿قتل﴾ عمد هغه قصاص دې په طريقه د تعين سره ﴿يعني په قتل عمدکي صرف قصاص واجب دې.كه ديت واجبيږي نودا خو په هغه صورت کي قائم مقام د قصاص ګرځي.چه ولي د مقتول په ديت اخستوباندې راضي شي﴾ اودا ﴿د ديت اخستل ځکه جائزدي﴾ چې ديت زيات ګټور دې په دې مسئله کي د قصاص نه ﴿ځکه چې دقصاص باندې د مقتول د اولياؤ غم او غصه سړه کيږي.اوچه د مقتول اولياء نه وي.نوکه قاتل قصاص کړې شي.دغه مقصود نه حاصليږي.ځکه چې وليان شته نه﴾ نوجائز دی ده ﴿بادشاه﴾ لپاره اختيارد صلحې کولوپه مال باندې ﴿چه ديت واخلي.اوپه بيت المال کي ئې جمع کړي﴾ اونه دي جائز دده ﴿بادشاه﴾ لپاره چې معاف کړي ﴿قاتل﴾ ځکه چې حق ﴿دقصاص اويا دديت اخستلو دعامومسلمانانو دې.اوولايت دده ﴿بادشاه﴾ نظري دې ﴿يعني دا حق د عامو مسلمانانو دې.خوچونکه بادشاه دخپل قوم او رعيت خيرخواه وي. نوده ته د ديت اوقصاص اخستلوحق شريعت ورکړې دې.﴾ او نشته مصلحت ﴿دعامو مسلمانانو﴾ په ساقط کولودحق دهغوی کي بغيردعوض نه

(بَابُ الْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ)

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ باب ﴿دې په بيان﴾ د عشراوخراج ﴿دزمکوکي﴾

منصف ﷫ وړاندې د ميت اسباب اوپه ده باندې مالي وظائف بيان کړل.چه خرج اوجزيه ده.اوس په دې باب کي د زمکې دخراج اوعشرتفصيل بيانوی.عشرپه لغت کي د لسو يوې برخې ته وائي.اوخراج د زمکې پيداوار او د غلام ګټې ته وائي.اوبيا دخراج اطلاق په هغه مال باندې کيږي.چه بادشاه ئې د زمکې پيداوارنه حاصلوی.

قَالَ: (أَرْضُ الْعَرَبِ كُلُّهَا أَرْضُ عُشْرٍ، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى أَقْصَى حَجَرٍ بِالْيَمَنِ بِمَهْرَةَ إِلَى حَدِّ الشَّامِ وَالسَّوَادُ أَرْضُ خَرَاجٍ، وَهُوَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى عَقَبَةِ حُلْوَانَ، وَمِنَ الثَّعْلَبِيَّةِ وَيُقَالُ مِنَ الْعَلْثِ إِلَى عَبَّادَانَ) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَالْخُلَفَاءَ الرَّاشِدِينَ لَمْ يَأْخُذُوا الْخَرَاجَ مِنْ أَرَاضِي الْعَرَبِ، (١)

ژباړه وتشريح:- فرمائي.دعربوتوله مځکه عشري ده.اودا مځکه د عذيب نه ﴿چه د تميم قبيله اوبه دي﴾ واخله تراخري برخې دمهرحجر ﴿يعني غټ کاڼي﴾ پورې په يمن کي کي ترملك شام پورې،اود سواد ﴿دکلو د عراق﴾ مځکه خراجي ده.اودا ﴿سواد عراق﴾ د عذيب مقام نه واخله ترعقبه حلوان پورې ده. ﴿د پلنوالي په لحاظ سره﴾ اود ثعلبه نه اووئيلي شوی دی چې د علث مقام نه ترعبادان مقام پورې ﴿په اوږدوالي﴾.ځکه چې نبي ﷺ اوخلفاء راشدينو﷢نه دی اخستې خراج د زمکو دعربو نه،

وَلِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْفَيْءِ فَلَا يَثْبُتُ فِي أَرَاضِيهِمْ كَمَا لَا يَثْبُتُ فِي رِقَابِهِمْ، وَهَذَا لِأَنَّ وَضْعَ الْخَرَاجِ مِنْ شَرْطِهِ أَنْ يُقَرَّ أَهْلُهَا عَلَى الْكُفْرِ كَمَا فِي سَوَادِ الْعِرَاقِ وَمُشْرِكُو الْعَرَبِ لَا يُقْبَلُ مِنْهُمْ إِلَّا الْإِسْلَامُ أَوِ السَّيْفُ،

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې دا ﴿خراج﴾ په منزله د مال فئ دې. ﴿ځکه چې دا په ابتداء کي د مسلمان نه نشي اخستې.البته دا ده.که مسلمان ته په څه سبب باندې خراجي مځکه ملاؤ شي.نوبيا به د مسلمان نه هم خراج اخستې شي.دا خبره ددې دليل دې.چه خراج پشان د مال فئ دې.لکه څنګه چې مال فئ د کافرنه اخستې شوی مال ته وائي.نودغه ډول خراج هم دکافرنه اخستې شوې ټيکس ته وائي.نوپه دې اعتبارسره خراج د فئ پشان شو.﴾ نونه ثابتيږي خراج په مځکه ددوی ﴿عربيانو﴾ کي ،لکه څنګه چې نه ثابتيږي ﴿خراج﴾ په څټونود دوی کي ﴿چه جزيه ورته وئيلي شي.ځکه چې د جزيه اخستلو لپاره شرط دا دې.چه

---

١) قال الزيلعي ﷫ كذا روى أبوعبيدالقاسم بن سلام في كتاب الأموال (٥٧١١) نصب ٣\٤٦١)_

كافران په خپل كفرباندې قائم پاتې كيدل غواړي.اودهغې په بدله كې په خپل ځان باندې جزيه منې﴾ حكم ﴿يعنى په عربيانوباندې د خراج نه مقرركول﴾ ځكه چې مقرركول د خراج ﴿په مځكه د عربو﴾ او دا شرط ددې ﴿مقرركولو﴾ نه دا خبره ده.چه پاتـه پريږدى اوسيدونكى دهغې ﴿ملك په كوم باندې چې د مسلمانانو قبضه كړې وي﴾ په كفرباندې لكه څنګه چې د عراق په زمكو كې دي.

وَعُمَرُحِينَ فَتَحَ السَّوَادَ وَضَعَ الْخَرَاجَ عَلَيْهَا بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ، وَوَضَعَ عَلَى مِصْرَ حِينَ افْتَتَحَهَا عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ، وَكَذَا اجْتَمَعَتِ الصَّحَابَةُ عَلَى وَضْعِ الْخَرَاجِ عَلَى الشَّامِ.

ژباړه وتشريح:- اوحضرت عمر﷛ كله چې فتح كړل كلى د عراق نومقرر ئې كړلو خراج په هغې ﴿زمكو﴾ باندې په موجودګۍ د صحابه كرامو﷛ كې ﴿نودا اجماع سكوتى شوه.اود عراق د فتح علمبردار حضرت سعد بن ابى وقاص ﷛ وو﴾ اومقرركړې وو ﴿خراج﴾ په مصريانو ﴿يعنى دهغوى په زمكو﴾ كله چې فتح كړلو دې ﴿مصر﴾ لره حضرت عمروبن العاص(رض) ﴿نودا بل دليل شو﴾ اودغه ډول اجماع كړې وه صحابه كرامو﷛ په مقرر كولود خراج په شام ﴿يعنى په زمكود شام﴾

دعراق د كلود زمكوحكم

قَالَ: (وَأَرْضُ السَّوَادِ مَمْلُوكَةٌ لِأَهْلِهَا يَجُوزُ بَيْعُهُمْ لَهَا وَتَصَرُّفُهُمْ فِيهَا) لِأَنَّ الْإِمَامَ إذَا فَتَحَ أَرْضًا عَنْوَةً وَقَهْرًا لَهُ أَنْ يُقِرَّ أَهْلَهَا عَلَيْهَا وَيَضَعَ عَلَيْهَا وَعَلَى رُءُوسِهِمُ الْخَرَاجَ فَتَبْقَى الْأَرَاضِي مَمْلُوكَةً لِأَهْلِهَا وَقَدْ قَدَّمْنَاهُ مِنْ قَبْلُ.

حل اللغة: ① عنوة: بغير د جنګ نه د يو ځائي فتح كول

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ اومځكه د عراق د كلو مملوكه ده دهغې د اوسيدونكو جائز دى دهغوى ﴿اهل عراق﴾ لپاره خرڅول دهغې اوتصرف كول دهغوى په هغې ﴿زمكو﴾ كې ځكه چې امام كله فتح كړي يوه مځكه په قوت اوغلبـة سره نوجائزدى ده ﴿امام﴾ لپاره چې پاته پاتې كړي ﴿ملكيت اوقبضه﴾ د مالكانودهغې ﴿زمكې﴾ په هغې ﴿مځكه﴾.اومقرر كړي په هغې ﴿زمكو﴾ اوپه سرونودهغوى خراج ﴿يعنى په زمكو باندې خراج او په نفسونونې جزيه مقرركړي﴾ تو ﴿پس د مقرركولود خراج نه په زمكودهغوى﴾ پاته پاتې كيږى زمكې مملوكې د مالكانودهغې ﴿يعنى چې هغوى دخپلو زمكو خراج وركوى.نودغه زمكې به هم دهغوى په ملكيت كې پاتـه وي﴾اويقيناً موږ بيان كړې ده ﴿دا مسئله﴾ وړاندې.

دعشرى زمكې پيژندګلو

قَالَ: (وَكُلُّ أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا أَوْ فُتِحَتْ عَنْوَةً وَقُسِمَتْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ) لِأَنَّ الْحَاجَةَ إلَى ابْتِدَاءِ التَّوْظِيفِ عَلَى الْمُسْلِمِ وَالْعُشْرُ أَلْيَقُ بِهِ لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى الْعِبَادَةِ، وَكَذَا هُوَ أَخَفُّ حَيْثُ يَتَعَلَّقُ بِنَفْسِ الْخَارِجِ.

حل اللغة: ① التوظيف: مقرر كول ② اخف: زيات آسان،

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ اوهره يوه مځكه چې اسلام قبول كړى اوسيدونكې دهغې اويا فتح شى په زور سره اوويش شى په مينځ د غازيانوكې نوهغه مځكه عشرى ده.ځكه چې حاجت ﴿پيښ شوې دې﴾ په اول كې مقرركولود عشرته په مسلمان باندې اوعشر ﴿داسې څيزدې چه﴾ زيات لائق دې د مسلمان پورې ځكه چې په دې ﴿عشر﴾ كې معنى د عبادت ده. ﴿يعنى د مسلمان نه چې دهغه د زمكې عشر اخستې شى.نودا صرف ټيكس نه دې.لكه څنګه چې جزيه ده.بلكه﴾ په دې ﴿عشر﴾ كې معنى د عبادت ده ﴿يعنى مسلمان په عشروركولوكې خپل رب تـه د خپلې بندګۍ اوتابعدارۍ خودنه كوى﴾ اودغه ډول دا ﴿عشر﴾ آسان دې. ﴿دخراج نه﴾ ځكه چې متعلق دې په نفس پيداوار سره ﴿يعنى چې څه پيدا شى.دهغې عشربه وركوى.اوپه خراج كې دا مسئله نشته.بلكه كه خارجى زمكې څه فصل پيدا كړې وى اوكه نه وى.په دواړو صورتونوكې به خراج وركوى﴾

په زور سره د فتح شوې زمكې حكم

(وَكُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهَا فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ) وَكَذَا إِذَا صَالَحَهُمْ؛ لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى ابْتِدَاءِ التَّوْظِيفِ عَلَى الْكَافِرِ وَالْخَرَاجُ أَلْيَقُ بِهِ، وَمَكَّةُ مَخْصُوصَةٌ مِنْ هَذَا، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَحَهَا عَنْوَةً وَتَرَكَهَا لِأَهْلِهَا، وَلَمْ يُوَظِّفْ الْخَرَاجَ(١)

ژباړه وتشريح:- او هره يوه مځکه چې فتح شي په توان سره «چه مسلمان په زور باندې په هغې قبضه اوکړي» اوپاته پاتې کړي «امام» مالکان دهغې «زمکې» په هغې باندې نو هغه «مځکه» خراجي ده.اودغه دول «حکم دی» کله چې صلح اوکړي «امام د حربيانو سره.نو دهغوی زمکې به خراجي وي» ځکه چې حاجت پيښ شوې دې داول نه مقرر کولو ته په کافر باندې «يعني چونکه دغه مځکه داول نه خراجي گرځيدلې ده.نو که روسته د کافر نه د مسلمان قبضې او ملکيت ته لاړه شي.هم به خراجي وي» او خراج زيات لائق دې ددهٔ «کافر» پورې.او مکه خاص کړې شوې دې د دې «قاعدې» نه ځکه چې رسول الله ﷺ فتح کړې وه دا «مکه» په زور سره او پرينبولې (پريخودې) ئې وه خپلو مالکانو ته اونه ئې وو مقرر کړې خراج «په هغوی باندې نو ددې قاعدې مطابق بيا خوبکارودا ده.چه د مکې مځکه هم خراجي وه.خوداسې نه ده.ځکه چې ددې قاعدې نه هغه مستثنی ده»

(وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ كُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَوَصَلَ إِلَيْهَا مَاءُ الْأَنْهَارِ فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ، وَمَا لَمْ يَصِلْ إِلَيْهَا مَاءُ الْأَنْهَارِ وَاسْتُخْرِجَ مِنْهَا عَيْنٌ فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ) لِأَنَّ الْعُشْرَ يَتَعَلَّقُ بِالْأَرْضِ النَّامِيَةِ، وَنَمَاؤُهَا بِمَائِهَا فَيُعْتَبَرُ السَّقْيُ بِمَاءِ الْعُشْرِ أَوْ بِمَاءِ الْخَرَاجِ.

حل اللغة: ① النامية: هغه مځکه چې په هغې کښې ځيزونه راټوکيږي ② السقي: خړوبول

ژباړه وتشريح:- او په جامع صغير کې دی.هره يوه مځکه چې فتح شي په زور باندې او اورسيدې هغې ته اوبه د نهرونو «يعني د نهرونو اوبه باندې خړوب شوي» نو هغه مځکه خراجي دي.او هغه «مځکه» چې نه وی رسيدلې ورته اوبه د نهرونو او راويستې شوې وي د هغې نه چينه «يا ځاه.او دهغه چينه يا کوهی په اوبه خړوبولې شي» نو هغه عشري مځکه ده. «او دليل ئې دا بيان کړې دی» ځکه چې عشر دې تعلق د زمکې ناميه سره دې. «يعني کومه مځکه چې دهغې پيداوار وي.نو په هغې کې عشر واجبيږي» او پيداوار ددې «حاصليږي» په اوبو ددې «مځکه» سره،نو اعتبار به خړوبلو ته وي په اوبو د عشر يا په اوبو د خراج سره «يعني که په عشري اوبو خړوب شوې وی.نو هغه به عشري وی.او که په خراجي اوبه خړوب شوې وی.نو خراجي به وی»

غير اباده مځکه اباده ول

قَالَ: (وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا فَهِيَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ مُعْتَبَرَةٌ بِحَيِّزِهَا، (٢) فَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ) وَمَعْنَاهُ بِقُرْبِهِ (فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ) وَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْعُشْرِ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ

حل اللغة: ① حيز: نزدې، قريبه

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري رحمه الله» اوچا چې ژوندې کړه «يعني آباده ئې کړه» مځکه مړه «يعني شاړه چې دچا ملکيت نه وی.اونه په دغه حالت کې څه فائده اخستې شي،اوده په کې څه فصل اوکرل.اودکرکرونده قابله ئې کړه» نو هغه په نيزد امام ابويوسف رحمه الله قياس کولې شي.په هغه مځکه چې

(١) قال الزيلعي رحمه الله فيه أحاديث إستدل بها العلماء على أن مكة فتحت عنوة ثم روى رواية أبي هريرة رضي الله عنه وعزاه إلى مسلم (نصب الراية،٣\٤٦٣)۔

(٢) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١\٦٧٤) وفتح القدير(٥\٢٨١) وردالمحتار(٣\٢٨٤) والهندية (٢\٢٣٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٤٩١)۔

نزدې وی دې ﴿خراجی زمکې سره﴾ نوکه وی نزدې دمځکه خراجی سره معنی ددې ﴿بحيزها﴾ چې نزدې وی دې.نوهغه به خراجی وی.اوکه وی نزدې د عشری مځکه سره،نوهغه به عشری وی.

ضروری تشریح:- دارض موات تعریف* په پښتوکې ارض موات شاړه زمکې ته وائی.دې ته په عربئ کې ﴿ارض خالصه﴾هم وائی.① دظاهرروایت مطابق ارض موات هغه زمکې ته وائی.چه هغه دچا ملکیت نه وی. اونه دچا مخصوص حق وی.اوقابل د منفعت هم نه وی.② دامام طحاوی رحمه الله په نیزارض موات هغه زمکې ته وائی.چه آبادئ ته نزدې نه وی③ دامام ابویوسف رحمه الله په نیزارض موات هغې زمکې ته وائی.چه هغه د آبادئ نه دومره لرې وی.چه په اوچت آواز سره هم هغې ته آواز نه رسی.په ظاهرروایت کې چې امام طحاوی اوامام ابویوسف رحمه الله کوم شرطونه کیخودې دی.هغه شرط نه دی.دظاهرروایت مطابق کومه مځکه چې دسمندراو دریاب په وچیدو باندې خالی شی.هغه هم د ارض موات په حکم کښې ده.قطع نظرددې نه چې دغه مځکه آبادئ سره نزدې ده اوکه لرې.دظاهرروایت په بناء ځنګل هم د ارض موات په حکم کې راځی.صاحب د بدائع الصنائع فرمائیلی دی.چه صحیح قول ظاهرالروایت دې.

د روایاتواواحادیثو په رڼا کې شاړه مځکه په درې قسمه ده.① چه همیشه لپاره دکرکروندۀ قابله نه وی. ②شاړه مځکه ، یعنی هغه مځکه چې قابل د کرکروندۀ وی.خودخه املـه نـه پـه کـې خلګ کرونده نه کوی.لکه داسې مځکه چې آبادئ ترې ختم شوې وی.اودغه ډول شاړه پرته وی.څوك ئې آبادونکې نه وی.یا داسې مځکه چې دهغې آبادولوته د ډیرمحنت او خرچۀ اړتیا وی.څکه ئې څوك آبادولوته غاړه نکدی.لکه زموږ په سرحد کې د کرك ضلع مځکه شوه.③ خالصه مځکه په مفتوحه علاقوکې په هغه ټولوزمکوباندې د خالصه اطلاق کیږی.کوم چې داسلامی حکومت لپاره خاص شوې وی.

داسې زمکې په شپږ قسمه دی. ① دکومې زمکې مالك چې په جنګ کې قتل شوې وی② دکومو زمکو مالکان چې تختیدلی وی. ③ کومې زمکې چې د بادشاه د اخراجاتو پوره کاوه لپاره خاص شوي وی④ هغه زمکې چې د شاهی خاندان اوافسران جاګیروی⑤ هغه مځکه چې په هغې کې جهیلونه اوبندونه وی.نوهغه هم په خالصه مځکه کې راځی.⑥هغه زمکې چې دیوڅوکسانوپه قبضه کې وی.اودهغوی پرې خپل عیش عشرت کوی.اود اسلامی حکومت د غلبۀ نه روسته دهغې څوك مالك یا آبادونکې نه وی.نودا هم د خالصه مځکه په زمره کې راځی.

﴿وَالْبَصْرَةُ عِنْدَهُ عُشْرِيَّةٌ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ﴾ لِأَنَّ حَيِّزَ الشَّيْءِ يُعْطَى لَهُ حُكْمُهُ، كَفِنَاءِ الدَّارِ يُعْطَى لَهُ حُكْمُ الدَّارِ حَتَّى يَجُوزَ لِصَاحِبِهَا الِانْتِفَاعُ بِهِ. وَكَذَا لَا يَجُوزُ أَخْذُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ،

حل اللغة: ① فناء الدار: د کور میدان، ② العامر: آبادی

زیاده وتشریح:- اوبصره په نیزدده ﴿ابویوسف﴾ ټوله عشری ده.په اجماع د صحابوﷺ ځکه چې نزدې وی یو شی ته،نوور کولای شی هغې ته حکم دهغې ﴿حیزنوچونکه د بصره سره عشری زمکې نزدې دی.بصره به هم عشری وی﴾ لکه څنګه چې دکورمخې ته ډګر ته هم دهغې ﴿کور﴾ حکم ورکولې شی. ﴿اګرچه ډګر د کورخاوندپه ملکیت کې داخل نه وی﴾ تردې چې جائز ده دمالك دهغې ﴿کور﴾ لپاره فائده اخستل دهغې ﴿فناء﴾ نه،اودغه ډول جائزنه دی. اخستل ﴿دخراج﴾ دهغه زمکې نه چې نزدې وی آبادئ ته ﴿ځکه چې هغه هم د آبادئ په حکم کې ده.اوکومه مځکه چې په آبادئ کې ګیره وی.په هغې باندې عشریا خراج نه وی﴾

وَكَانَ الْقِيَاسُ فِي الْبَصْرَةِ أَنْ تَكُونَ خَرَاجِيَّةً، لِأَنَّهَا مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ، إِلَّا أَنَّ الصَّحَابَةَ وَظَّفُوا عَلَيْهَا الْعُشْرَ فَتُرِكَ الْقِيَاسُ لِإِجْمَاعِهِمْ

حل اللغة: ① وظفوا: مقرر کړې وو

ژباړه وتشریح:- او ووقیاس په «مځکه د» بصره کي چي وي خراجي څکه چي دا نزدي ده د خراجي زمکي سره «او وړاندي تیرشو.چه کومه مځکه خراجي سره نزدي وي.هغه به خراجي وي.اوچه کومه عشری ته نزدي وي.هغه به عشری وي» خوصحابه کرامو مقرر کړي وو په دي «مځکه د بصره» باندي عشر،نو موږ پریښولو قیاس د امله د اجماع دهغوی «اصحابو» نه «څکه چي اجماع په درجه اومرتبه کي د قیاس نه اوچت دلیل دی»

دعشري زمکي اطلاق په څومورمځکو کیږي؟

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ أَحْيَاهَا بِبِئْرٍ حَفَرَهَا أَوْ بِعَيْنٍ اسْتَخْرَجَهَا أَوْ مَاءِ دِجْلَةَ أَوِ الْفُرَاتِ أَوِ الْأَنْهَارِ الْعِظَامِ الَّتِي لَا يَمْلِكُهَا أَحَدٌ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ) (وَكَذَا إِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ السَّمَاءِ)

حل اللغة: ① بئر: کوهی ② حفر: کنده، ③ العظام: جمع د عظیم، لوئي

ژباړه وتشریح:- اوفرمائیلي دي.امام محمد «په جامع صغیرکي» که ژوندني کړه دا «شاړه مځکه» په «اوبود» کوهی «سره» چي کنستي ئي وی «په دغه شاړه مځکه یا دي ته نزدي مځکه کي یعنی د دغه کوهی نه ورته اوبه ورکوی» اویا په چینې «داوبوسره» چي راویستي ئي وی «دغه چینه په کنستلوسره» اویا په اوبو د دجلة یا دریائي فرات «چه دهغي نه ورته لختي یا ورکوتي نهرراوباسی» اویا «ئي سیراب کړی» په هغه لوئي نهرونوباندي چي مالك ئي نه وي څوك،نودغه زمکي عشری دی. «په دي کي به عشر وی» اودغه ډول «حکم دی.یعنی عشری مځکه ده» که سیراب کړي ئي وی دا «شاړه مځکه» په اوبو د آسمان «یعنی باران» سره، «یعنی للمه مځکه وی.چه په کوهی یا تیوب ویل یا نهرباندي نه خړوبیږی.بلکه د باران په انتظاروی.نوهغه هم عشری مځکه ده»

(وَإِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ الْأَنْهَارِ الَّتِي احْتَفَرَهَا الْأَعَاجِمُ) مِثْلَ نَهْرِ الْمَلِكِ وَنَهْرِ يَزْدَجِرْدَ (فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ) لِمَا ذَكَرْنَا مِنَ اعْتِبَارِ الْمَاءِ إِذْ هُوَ السَّبَبُ لِلنَّمَاءِ

حل اللغة: ① الاحتفار: کنسل، کنده کول ② النماء: لوئیدل

ژباړه وتشریح:- اوکه ژوندني کړه «یعنی آبادئ ئي کړه» دا «شاړه مځکه» په اوبود نهرونوهغو چي کنستي وی عجمیانولکه نهرد بادشاه یا نهرد یزدجرنودا «ډول زمکي» خراجي دی.دهغه امله چي موږ ذکرکړه.چه اعتباربه «هغه» اوبو لره وی «په کومو چي دغه مځکه خړوب شوي وی.که هغه اوبه د عشری زمکي وی.نودا مځکه به عشری وی.اوکه د خراجي زمکي وی.نودا مځکه به خراجي وی.اودا اوبه د عشری اوخراجي لپاره مدارګرخوو» څکه چي دا «اوبه» سبب دي لپاره د لوئیدو «د فصلونو چي کوم فصل ته اوبه ورنکړي شی. نو هغه نه وده نه کوی»

وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ تَوْظِيفُ الْخَرَاجِ ابْتِدَاءً عَلَى الْمُسْلِمِ كَرْهًا فَيُعْتَبَرُ فِي ذَلِكَ الْمَاءُ لِأَنَّ السَّقْيَ بِمَاءِ الْخَرَاجِ دَلَالَةُ الْتِزَامِهِ.

ژباړه وتشریح:- اوبله «وجه» دا چي ممکن نه دي مقرر کول د خراج د اول نه په مسلمان باندي په زور سره «البته که خراجي مځکه د مسلمان په قبضه کي په څه سبب باندي راشی.نوچونکه په دي صورت کي په دغه مځکه باندي خراج د وړاندي نه مقررشوي دي.نومسلمان به ئي خراج ورکوی» نومعتبر کولي به شی په دي «کرځولود عشری اوخراجي کي» اوبه «نوکه په کومواوبودغه مځکه خړوب شوي وی.هغه عشری وی. نو د دغه زمکي د پیداوار څخه به عشر اخستي شی.اوکه هغه خراجي اوبه وی.نوددغه زمکي دپیداوار څخه به خراج اخستي شی.اګرچه د مسلمان په لاس کي وی»څکه چي خړوبول په اوبو «د» خراجي «مځکه» دلالت التزامي دي. «یعنی هرکله چي ده د خراجي اوبوپه مځکه باندي خپله مځکه خړوب کړه.نودا ددي خبري دلیل دي.چه دي د خراج په ورکولوباندي راضی دی»

دخراج مقررکولو معيار

قَالَ (: وَالْخَرَاجُ الَّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ عَلَى أَهْلِ السَّوَادِ مِنْ كُلِّ جَرِيبٍ يَبْلُغُهُ الْمَاءُ قَفِيزٌ هَاشِمِي وَهُوَ الصَّاعُ وَدِرْهَمٌ، وَمِنْ جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَمِنْ جَرِيبِ الْكَرْمِ الْمُتَّصِلِ وَالنَّخِيلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ)

حل اللغة: ① **الجريب**: هغه ځمکه چي اوږدوالي ئې د کسرى بادشاه د ګز په حساب سره شپيته ګزه وو .اود کسرى بادشاه ګز اووه موټي وو.حالانکه ګزونه شپږ موټي وو② **الرطبة**: ددې اطلاق په تره، خربوزه،بادرنګ باټينګړوغيره باندې کيږی ③ **الكرم**:انګور ④ **النخيل**:قجوري

زياده وتشريح:- فرمائی «ابو الحسين قدوری» اوخراج هغه چي مقرر کړې وو حضرت عمرؓ نووو «په عراقيانو باندې» په هريوجريب «يعنى هغه ځمکه چي اوږدوالي ئې د کسرى بادشاه د ګز په حساب سره شپيته ګزه وو .اود کسرى بادشاه ګز اووه موټي وو.حالانکه ګزونه شپږ موټي وو» باندې چي رسيدلې به ورته اوبه «نودهغې په پيداوار کي» هاشمى قفيز وو.اوهغه «هاشمى قفيز» يوصاع اويودرهم وو.اوپه جريب د رطبه کي «رطبه د راء په فتح سره جمع د رطاب ده.ددې اطلاق په تره، خربوزه،بادرنګ باټينګړوغيره باندې کيږی» پنځمه درهمه دی.اوپه جريب د انګوروباندې چي مولښتي وی «يعنى چي د يوبل سربيره وی.اوځمکه پرې ټوله ډکه وی.خالى ځائې په کي نه وی» اوقجورې مولښتي باندې لس درهمه دی.

ضروری تشريح:- په قفيزکي يوصاع غله وی.کومه چي تقريباً درې نيم سيره وی.اويوسير شپاړس چيټاکۍ وی.اوپه موجوده زمانه کي د کلوګرام رواج دې.نودچيټاکوپه حساب سره يوکلوګرام اتلس چيټاکۍ وی.داخبره ياده ساتئ:چه د حضرت عمرؓ په زمانه کي د يوقفيز قيمت درې روپۍ وو.اولس درهم د اووه مثقالوبرابر وو.اود يودرهم وزن د درې ماشو اويوې رتۍ برابر وی.اود يومثقال وزن څلورماشې او څلور رتۍ وی.اود يوصاع وزن د مثقال په حساب سره دوې [دوه] سوه اويا تولۀ دې.اود درهم په حساب سره دوې [دوه] سوه درې اويا تولۀ دې. «اشرف ا لهدايه شرح هدايه از مولانا محمد ابوبکرقاسمى»

وَهٰذَا هُوَ الْمَنْقُولُ عَنْ عُمَرَ، فَإِنَّهُ بَعَثَ عُثْمَانَ بْنَ حُنَيْفٍ حَتَّى يَمْسَحَ سَوَادَ الْعِرَاقِ، وَجَعَلَ حُذَيْفَةَ مُشْرِفًا عَلَيْهِ، فَمَسَحَ فَبَلَغَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ أَلْفَ أَلْفِ جَرِيبٍ وَوَضَعَ عَلَى ذٰلِكَ مَا قُلْنَا، وَكَانَ ذٰلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنْ الصَّحَابَةِ مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ فَكَانَ إِجْمَاعًا مِنْهُمْ[1])

حل اللغة: ① **مشرف**:نګران

زياده وتشريح:- اودا «مقدار» نقل شوې دې د حضرت عمرؓ نه ځکه چي دوی «حضرت عمرؓ» ليږلې وو حضرت عثمان بن حنيفؓ «د عراقى زمکو دپيمائش دپاره» تردې چي هغه پيمائش اوکړلو د عراقى زمکو،اوګرځولې ئې وو حضرت حذيفهؓ نګران په ده «عثمان بن حنيفؓ» باندې «هرکله چي پيمائش کړل نو» اورسيده «دغه عراقى ځمکه» درې کروړه او شپيتۀ لکهه جريبو ته اومقررئې کړلو «خراج» په دغه ځمکه باندې هغه شان څنګه چي موږ بيان اوکړلو.اووو دا «مقررکول د خراج دحضرت عمرؓ» په موجودګۍ د صحابه کرامو کي بغيرد څه انکار نه «يعنى هغوی پرې انکار اونکړلو» نوشو «دا مقدارباندې» اجماع د دوی «صحابوؓ» د اړخه «په دې وسکوت د صحابوؓ اوسکوت د صحابوؓ»

وَلِأَنَّ الْمُؤَنَ مُتَفَاوِتَةٌ فَالْكَرْمُ أَخَفُّهَا مُؤْنَةً وَالْمَزَارِعُ أَكْثَرُهَا مُؤْنَةً وَالرِّطَابُ بَيْنَهُمَا، وَالْوَظِيفَةُ تَتَفَاوَتُ بِتَفَاوُتِهَا فَجُعِلَ الْوَاجِبُ فِي الْكَرْمِ أَعْلَاهَا وَفِي الزَّرْعِ أَدْنَاهَا وَفِي الرَّطْبَةِ أَوْسَطَهَا.

حل اللغة: ① **مون**:مشقت ② **متفاوتة**:مختلف ③ **الرطاب**: جمع د رطبة په باټينګړ،تره،خربوزه باندې ئې اطلاق

1) كذا فى كتاب الأموال لأبى عبيد القاسم بن سلام (نصب الرأية،٣\٦٦٥)_

کيږي

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې مشقت کي توپير وي. ﴿په څه کي زيات مشقت وي اوپه څه کي کم﴾ نو د انګورو په باغ کي دټولو نه مشقت کم وي. ﴿يعنی چې يوځل ئې زيلۍ راوخي.نوبيا ډيرې مودې پورې هغه وی. او بخپله هرکال ميوه کوي﴾ اود غلۀ په پټوکي مشقت زيات وي. ﴿ځکه چې دهرفصل لپاره به يوې کوي. او بيا به په کي تخم اچوي.اوبيا به ورته وخت په وخت اوبه ورکوي.﴾ اوپه رطاب ﴿لکه باټينګړ،ترۀ وغيره شوي﴾ کي مشقت منځنی وي. ﴿ځکه چې په دې کي هرکال تخم کرلو ته اړتيا نه وي.بلکه ډيرو کلونو پورې پاته وي.نود غله نه په کي مشقت کم شو.اود انګورو پشان ئې زيلۍ هميشه لپاره نه وي .بلکه څه وخت روسته ختميږي.نود انګورو نه ئې مشقت زيات شو.نوهرکله چې ددې په مشقت اوددې په اخراجاتوکي توپير دې.نودغه ډول به ددې په خراج کي هم توپير وي.﴾ نوګرخولې به شی خراج په انګورو کي دټولونه زيات،اوپه غلۀ کي د ټولونه کم اوپه رطاب کي منځنی ﴿يعنی د زيات او کم دواړو په مينځ کي وي﴾

په پټي اوباغ کي د خراج مقررکولوطريقه

قال: (وَمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنَ الْأَصْنَافِ كَالزَّعْفَرَانِ وَالْبُسْتَانِ وَغَيْرِهِ يُوضَعُ عَلَيْهَا بِحَسَبِ الطَّاقَةِ) لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ تَوْظِيفُ عُمَرَ وَقَدِ اعْتَبَرَ الطَّاقَةَ فِي ذٰلِكَ فَنَعْتَبِرُهَا فِيمَا لَا تَوْظِيفَ فِيهِ.

ژباړه وتشريح:- ﴿ابو الحسين قدوری ﴾ فرمائی.اوهغه چې وی سوا ددې قسمونو نه، ﴿چه د انګورو ،غله او رطابو زمکې اوباغونه دي﴾ لکه د زعفرانو په مځکه او باغونو وغيره کي ،مقرر کولې به شی په دې باندې ﴿خراج﴾ په اندازه د توان ﴿دمځکه﴾ ځکه چې نشته په دې ﴿ځيزونو﴾ کي مقررکول د حضرت عمرؓ نه ﴿چه هغه د زعفرانو وغيره په باغونوکي څومره خراج مقرر کړې دې.البته دومره ده چه﴾ يقيناً معتبر کړې دې حضرت عمرؓ په دغه ځيزونوکي ﴿کوم چې وړاندې تيرشو﴾ توان ﴿حالت يعنی په پيداوار کي د کمې او زياتې ګټې په اندازه باندې حضرت عمرؓ خراج مقرر کړې دې.چه په چا کي ګټه زياته وی.اومشقت کم وو.په هغې باندې ئې زيات خراج مقرر کړې دې.اوچه په چا کي مشقت زيات او ګټه کمه وی.نوپه هغې باندې ئې کم خراج مقرر کړې دې.نودغه اصول به په نورو ځيزونوکي هم مدنظرساتلې شی﴾ نو مقرر کولې به شی په دې ځيزونوباندې ﴿چه زعفران وغيره دي﴾ په اندازه د توان ﴿د زمکې او باغونو، يعنی په کومو باغونواو زمکوکي چې د تيرو شوو ځيزونو نه علاوه نور شيان (ځيزونه) کيږي.لکه زعفران شو. نوپه هغې کي به د زمکې اوپيداوار حالت ته کتلې شی﴾ ځکه چې نشته په دې ځيزونوکي ﴿چه زعفران وغيره دي﴾ مقرر کول د حضرت عمرؓ اويقيناً معتبر کړې دې حضرت عمرؓ حالت د زمکې په دې ﴿انګور،غله اورطابو﴾ کي نو معتبر کوو به ئې موږ په هغه څه کي چې نه وی مقرر کول په هغې کي ﴿ دحضرت عمرؓ دطرفه لکه په زعفران کي﴾

قَالُوا: وَنِهَايَةُ الطَّاقَةِ أَنْ يَبْلُغَ الْوَاجِبُ نِصْفَ الْخَارِجِ لَا يُزَادُ عَلَيْهِ لِأَنَّ التَّنْصِيفَ عَيْنُ الْإِنْصَافِ لِمَا كَانَ لَنَا أَنْ نُقَسِّمَ الْكُلَّ بَيْنَ الْغَانِمِينَ.

حل اللغة: ① التنصيف:نيم کول ② الغانمين:جمع د غانم،غنيمت حاصلونکي

ژباړه وتشريح:- فرمائيلي دی مشائخو اوزيات توان دا دې.چه اورسی خراج نيم پيداوار ته ﴿مثلاً د لسو زرو روپو پيداوار شوې دې.اوپه هغې باندې پنځه زره روپۍ مقرر کړي﴾ زيادت به نشی کولې په دې نيم باندې،ځکه چې نيم پيداوار ﴿خراج﴾ مقرر کول عين انصاف دې.ځکه چې هرکله زموږ ﴿مسلمانانو﴾ لپاره جائز وه.چه ويش کړې مو وې ټوله مځکه په غازيانوباندې ﴿نوکه موږ ددې په مالکانو د پيداوار نيمه برخه مقرر کړو.په دې کي څه ظلم نشته.ځکه چې نيمه برخه خو ورته بيا هم پاتې شوه﴾

وَالْبُسْتَانُ كُلُّ أَرْضٍ يَحُوطُهَا حَائِطٌ وَفِيهَا نَخِيلٌ مُتَفَرِّقَةٌ وَأَشْجَارٌ أُخَرُ، وَفِي دِيَارِنَا وَظَّفُوا مِنَ الدَّرَاهِمِ فِي الْأَرَاضِي كُلِّهَا

ذٰلِكَ كُلُّهُ لِأَنَّ التَّقْدِيرَ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ بِقَدْرِ الطَّاقَةِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ كَانَ.

ژباړه وتشریح:- او باغ هرهغه مځکه ده.چه شاو خوا دهغه دیوال وی.اوپه هغې کې قجوري وی بیله بیله او نورې ونې وی.او زمورِ په علاقه کې «چه فرغانه ده» مقرر کړی دی «حاکمانو» روپۍ په زمکو تولوکي «یعنی د پیداوار په ځائې ترې روپۍ اخلی» اوپرې خودې ئې دی دغه ډول «په خپل حالت باندې» ځکه چې مقررکول دخراج واجب دی چې وی په اندازه د توان باندې چې د هرڅیز نه وی. «که روپۍ وی.اوکه کوم شی پیداشوی وی.هغه وی.لکه څنګه چې په زکاة کې دهغه څیزد جنس نه زکاة ورکول هم جائز دی.په کوم باندې چې زکاة واجب شوی وی.اوکه دهغې برابر قیمت ورکړی.نوهم جائز دی.دغه ډول دلته د خراج په باب کې هم که د پیداوار نه خراج اخلی.اوکه د خراج برابر روپۍ اخلی.دواړه جائز دی»

دخراج د زیادت په صورت کې دهغې دکمي اجازت

قَالَ (فَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُضِعَ عَلَيْهَا نَقَصَهُمُ الْإِمَامُ) وَالنُّقْصَانُ عِنْدَ قِلَّةِ الرَّيْعِ جَائِزٌ بِالْإِجْمَاعِ، أَلَا تَرَى إِلَى قَوْلِ عُمَرَ: لَعَلَّكُمَا حَمَّلْتُمَا الْأَرْضَ مَا لَا تُطِيقُ، فَقَالَا: لَا بَلْ حَمَّلْنَاهَا مَا تُطِيقُ، وَلَوْ زِدْنَا لَأَطَاقَتْ(۱). وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى جَوَازِ النُّقْصَانِ،

حل اللغة: ① الريع:پیداوار

ژباړه وتشریح:- ابو الحسین قدوری رحمه الله فرمائی.چه که توان نه لری مځکه د هغه محصول چې مقررشوی وی په هغې «مځکه» باندې نوکمې به اوکړی امام دوی «مالکانو د زمکې په محصول دهغې پیداوارکې» اونقصان په وخت د کموالی د پیداوار کې ، «چه پیداوار کم شوې وی» جائز دې په اجماع سره «یعنی چې پیداوارکم وی.اومحصول پرې زیات وی.مثلاً د نیمې پیداوار نه هم زیات وی.مثلاً دهغه زمکې واړه پیداوار سل منۀ وی.اوپه دغه مځکه شپتۀ منۀ مقرر شوې وی.» آیا ته نه ګورې «اې مخاطبه» قول د حضرت عمر رضی الله عنه ته چې فرمائیلې ئې وو. کیدای شی چې تاسو دواړو «حذیفه او عثمان بن حنیف(رض)» لګولې وی خراج په مځکه په هغه مقدار چې توان ئې نه لری.نوهغوی دواړو عرض اوکړلو.نه «داسې نه ده.لکه څنګه چې تاسو ویره ښکاره کوئ» بلکه مورِ مقرر کړې دې دا خراج په هغه اندازه چې توان ئې درلودی زمکې بلکه که چیرته مورِ پرې زیاتې کړې وې.نودهغې توان ئې هم لرلو «دا د حضرت عمر رضی الله عنه هغه واقعه ته اشاره ده.چه هغوی حذیفه اوعثمان بن حنیف(رض) دعراق د زمکې نه د خراج راجمع کاوه لپاره اولیږل.او واپس راغلل.نودغه مکالمه ورسره شوې وه.کومه چې کتاب کې ذکر ده» اودا «قول» دلالت کوی په جواز د نقصان باندې «یعنی حضرت عمر رضی الله عنه چې استفسارکوی.چه داسې خو نه ده.چه تاسوبه یوه مځکه دهغې د توان نه زیات محصول مقررکړې وی.نوددې استفسارمطلب دا دې.که چرته داسې وی.نوچه مورِ ددغه زمکو محصول اوخراج کم کړو»

وَأَمَّا الزِّيَادَةُ عِنْدَ زِيَادَةِ الرَّيْعِ يَجُوزُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ اعْتِبَارًا بِالنُّقْصَانِ، وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَجُوزُ لِأَنَّ عُمَرَ لَمْ يَزِدْ حِينَ أُخْبِرَ بِزِيَادَةِ الطَّاقَةِ،(۲)

ژباړه وتشریح:- اوهرچه زیادت «د خراج» په وخت د زیات پیداوار کې «یعنی چې خراج پرې څومره مقرر شوې وی.پیداواردهغه په نسبت سره ډیرزیات وی» نوجائز دې په نیزد امام محمد رحمه الله باندې د امله د قیاس نه په نقصان باندې «یعنی لکه څنګه چې پیداوارکم وی.اوخراج زیات وی.نوپه هغه صورت کې د خراج کمول جائز دی.نودغه ډول که ددې په عکس وی.یعنی خراج کم وی او پیداوار زیات وی.نو امام ته به د خراج زیاتولواختیار حاصل وی» او په نیزدامام ابویوسف رحمه الله جائز نه دې. «اودلیل دا بیانوی» ځکه چې حضرت عمر رضی الله عنه نو وو زیاتې کړې دغه «خراج» کله چې ورته خبر ورکړې شو په زیادت توان «یعنی

۱) من حدیث عمروبن میمون رضی الله عنه أخرجه البخاری فی فضائل الصحابة رضی الله عنهم باب ۸)_
۲) تقدم فی التخریج السابق)-

حضرت حذیفه او عثمان(رض) چې ورته عرض اوکړلو.حضرت موږ چې د هغوی په زمکو څومره خراج مقرر کړې دې.نوپه هغه زمکو کې د هغې نه د زیات خراج برداشت کاوه صلاحیت هم وو.نوددې وینا نه روسته هم حضرت عمر﷜ په هغه زمکو باندې په خراج کې زیادت اونکړلو.ددې نه دا معلومه شوه.چه یوځل خراج مقررشي.نوکه د پیداوار په نسبت هغه کم هم وي.په هغې کې زیادت نشي کولې﴾

دخراج ختمیدو صورتونه

﴿وَإِنْ غَلَبَ عَلَى أَرْضِ الْخَرَاجِ الْمَاءُ أَوِ انْقَطَعَ الْمَاءُ عَنْهَا أَوِ اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَلَا خَرَاجَ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ فَاتَ التَّمَكُّنُ مِنَ الزِّرَاعَةِ، وَهُوَ النَّمَاءُ التَّقْدِيرِيُّ الْمُعْتَبَرُ فِي الْخَرَاجِ، وَفِيمَا إِذَا اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَاتَ النَّمَاءُ التَّقْدِيرِيُّ فِي بَعْضِ الْحَوْلِ

حل اللغة: ① **الاصطلام**: راتلل،لګیدل،واقع کیدل ② **الزرع**:فصل ،کرونده ③ **النماء**: زیاتیدل

ژباړه وتشریح:- اوکه غلبه اوکړله.په مځکه خراجي باندې اوبو﴿سیلاب پرې راغلو﴾ یا اوبه ختمې شوې ددې سره اویا اولګیدلو په فصل باندې څه آفت، ﴿چه دهغې د امله ددې پیداوار ختم شي﴾ نونشته خراج په دې مځکه ﴿خراجي﴾ باندې ځکه چې فوت شو قدرت په پیدوار باندې اوهم دا ﴿قدرت﴾ نماء تقدیري ده چې معتبره ده په خراج کې ﴿یعني چې یوه مځکه داسې وي.چه په هغې کې د پیداوار صلاحیت وي.نودهغې په مالك باندې به خراج مقررکولې شي.اګرچه هغه په دغه مځکه کې څه نه وي کرلي.ځکه چې دا خو دده بې غوري ده.نوپه مځکه کې د پیداوار صلاحیت تقدیري نماء ده.اوبه پیداوارکې زیادت دې.اودا کوم علتونه چې دلته بیان شو.په دې سره په مځکه کې د پیداوارصلاحیت ختم شو.نوتقدیري نماء کومه چې موږ د خراج لپاره معیار ګرځولې وو.هغه ختمه شوه.توخراج به هم ختم شي﴾ اوپه هغه صورت کې ﴿هم خراج ساقطیږي﴾ چې راشي په مځکه باندې څه آفت او فوت شي نماء تقدیري په بعضې کال کې ﴿یعني که مځکه باندې یوداسې آفت راشي.چه عارضي طوردکرکروندې قابله پاتې نشي.خوبیا د زراعت قابله وي.نوپه دې صورت کې که هم ددې نه څه پیداوار اوشي.په هغې کې به خراج نه وي﴾

﴿وَكَوْنُهُ نَامِيًا فِي جَمِيعِ الْحَوْلِ شَرْطٌ كَمَا فِي مَالِ الزَّكَاةِ أَوْ يُدَارُ الْحُكْمُ عَلَى الْحَقِيقَةِ عِنْدَ خُرُوجِ الْخَارِجِ.

ژباړه وتشریح:- اوکیدل د دې ﴿زمکې﴾ چې نامي وي په واړه کال کې شرط دې ﴿یعني خراج به په هغه مځکه باندې واجبیږي.چه په هغې کې نماء یعني د پیداوارصلاحیت وي.اوس صرف ددې نماء وجود شرط نه دې.بلکه داهم ضروري ده.چه دا مځکه واړه کال د کرکروندې قابله وي.که بالفرض د کال په بعضې ورځوکې په دې کې د پیداوار صلاحیت ختمیږي.نوبیا به هم په دې باندې خراج نه وي﴾ لکه څنګه چې په مال زکاة کې دی. ﴿یعني لکه څنګه چې په مال زکاة کې دا شرط دې.چه هغه مال نامي وي.اودغه نماء به پوره کال وي.که پوره کال نه وي.بیا پرې زکاة نه واجبیږي.مثلاً یوکس کور د تجارت په نیت باندې واخستلو.او شپږ میاشتې روسته ئې اراده بدله شوه.یعني په هغې کې ئې په خپله د استوګنې اراده اوکړه.نوپه دې کورباندې زکاة نشته.ځکه چې دا کور د تجارت د نیت په وجه مال نامي ګرځیدلې وو.اوچه تجارت نیت ختم شو.نونماء هم ختمه شوه.اوچه نماء ختمه شوه.نوزکاة هم ساقط شو﴾ او یا به ګرځولې شي حکم ﴿دخراج مقررکولو﴾ په حقیقي نماء باندې په وخت د راوتلو د پیداوار ﴿یعني دخراج په وجوب کې نماء شرط دې.خوبیا نماء په دوې [دوه] قسمه ده.یوه تقدیري اوبله حقیقي،نوتقدیري نماء د حقیقي نماء نائب دې.په ذکرشوو صورتونوکې چې تقدیري نماء ختمه شوه.نو خراج هم ختم شو.البته دا چې د ذکرشوو علتونود امله چې سیلاب دې یا داوبو نشتوالې شو.نوپه دې سره تقدیري نماء ختمه شوه.خوکه ددې علتونو باوجود په څه طریقه باندې دغه زمکې څه رازرغون کړلو.نوچونکه اوس په دې صورت کې حقیقي نماء چې پیداوار دې موجود شو.په پیداواربانددې به خراج مقررکولې شي.ځکه چې په خارج کې چې یوه مځکه څه رازرغون کړي.نوحقیقي نماء موجود شوه.نوهرکله چې د تقدیري نماء د وجود په وخت کې خراج مقرر کولې شو.کومه چې د حقیقي نماء خلیفه اونائب دې.نود حقیقي نماء په صورت کې خوبه خامخا مقرر

كولې شي.كومه چې اصل دې.﴾

د ځمكه بيكاره پريخودو باندې دخراج عدم سقوط

قَالَ ﴿وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ﴾ لِأَنَّ التَّمَكُّنَ كَانَ ثَابِتًا وَهُوَ الَّذِي فَوَّتَهُ.

حل اللغة: ① العطلة: بيكاره كول، بغير كروندې پريښول

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدورى رحمه الله فرمائى.اوكه بيكاره ئې پريخودله دا ﴿ځمكه او څه ئې په كې اونكرل﴾ نو په مالك ددې ﴿ځمكې﴾ خراج دې.ځكه چې قدرت ﴿دكرلو﴾ حاصل وو ده ﴿مالك﴾ ته.اوهغه ﴿قدرت هغه ووچه﴾ ضائع كړلو ده ﴿ځكه چې ځمكه ئې خالى پريخودله﴾

قَالُوا: مَنْ انْتَقَلَ إِلَى أَخَسِّ الْأَمْرَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَعَلَيْهِ خَرَاجُ الْأَعْلَى، لِأَنَّهُ هُوَ الَّذِي ضَيَّعَ الزِّيَادَةَ، وَهَذَا يُعْرَفُ وَلَا يُفْتَى بِهِ كَيْ لَا يَتَجَرَّأَ الظَّلَمَةُ عَلَى أَخْذِ أَمْوَالِ النَّاسِ.

حل اللغة: ① يتجرا: جراءت كوى ② الظلمة: جمع د ظالم ده ③ ضيع: ضائع كړل

ژباړه وتشريح:- مشائخو رحمهم الله فرمائيلى دى.څوك چې منتقل شو كمترېه دوو كارونوكې يوته، ﴿يعنى دده په ځمكه كې يوقيمتى څيزلكه زعفران كيدل.اوده دهغې په ځائې يوكم قيمته شى اوكرلو﴾ نوپه ده باندې به خراج د قيمتى شى وى.ځكه چې هم ده ضائع كړلو زيادت ﴿د منافع﴾ او دا مسئله به پيژندلې شى. ﴿چه مسئله هم داسې ده.خو﴾ فتوى به نشى وركولې په دې باندې،دې لپاره چې زړه ورتيا اونه كى (اونكړى) ظالمان ﴿حاكمان﴾ د اخستلو د مالونود خلگ و ﴿يعنى ظالمان حاكمان به بيا په خلگ وباندې ظلمونه كوى.اودا به ورته وائى.چه ستا په ځمكه كې قيمتى څيزكيدلو.تا هغه ولې اونه كرلو.اوپه دې باندې به دهغه نه زيات خراج اخلى﴾

دخراجى د اسلام په صورت كې دده د ځمكې حكم

﴿وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ أَهْلِ الْخَرَاجِ أُخِذَ مِنْهُ الْخَرَاجُ عَلَى حَالِهِ﴾ لِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْمُؤْنَةِ فَيُعْتَبَرُ مُؤْنَةً فِي حَالَةِ الْبَقَاءِ فَأَمْكَنَ إِبْقَاؤُهُ عَلَى الْمُسْلِمِ

ژباړه وتشريح:- اوچا چې اسلام قبول كړلو.د خراجيانو نه،نو اخستې به شى دده نه خراج په خپل حالت باندې ﴿لكه څنگه چې به ترې وړاندې اخستې شو﴾ ځكه چې په دې ﴿خراج﴾ كې معنى دمؤنة ﴿مشقت﴾ ده. ﴿يعنى خراج يوداسې څيزدې.چه ددې د مقرركولوداورمدار د ځمكې په حالت دې.د دې د مالك په حالت نه دې. نو د اول نه چې په دې ځمكې باندې خراج مقررشوې دې.نوهم دغه خراج به مقرروى﴾ په حالت د بقاء ددې ﴿خراج﴾ په مسلمان باندې ﴿ځكه چې په مسلمان كې دا صلاحيت شته.چه دې ددغه ځمكې خراج وركړى. داسې نه ده . چې دې د ځمكې دخراج ادا كولونه عاجزدې.بلكه لكه څنگه چې ئې په حالت د كفركې ددې خراج وركاوه .دغه ډول به په حالت د اسلام كې هم وركوى.ځكه چې د ځمكې حالت بدل شوې نه دې.دده حالت بدل شوې دې.او دخراج تعلق د ځمكې سره دې.د مالك د ځمكې سره نه دې.هم دا وجه ده.چه عشرى ځمكه كه د ماشوم په ملكيت كې وى.هم به په هغې كې عشر وى.اگرچه دماشوم په مال كې زكاة نشته.اوبله دا كه موږ دده نه د ځمكې خراج ساقط كړو.نوموږ به دې ته محتاج يو.چه دده په ځمكه باندې عشرمقرر كړلو .او په خلاف د جزيه يعنى كه يوذمى كافرمسلمان شى.نودهغه نه چې جزيه ساقطه شى.د جزيه په بدل كې په هغه باندې د بل شى مقرر كاوه اړتيا نشته﴾

دمسلمان لپاره د خراجى ځمكې اخستل

﴿وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ الْمُسْلِمُ أَرْضَ الْخَرَاجِ مِنَ الذِّمِّيِّ وَيُؤْخَذُ مِنْهُ الْخَرَاجُ لِمَا قُلْنَا﴾ وَقَدْ صَحَّ أَنَّ الصَّحَابَةَ اشْتَرَوْا أَرَاضِيَ الْخَرَاجِ

وَكَانُوا يُؤَدُّونَ خَرَاجَهَا، (۱) فَدَلَّ عَلَى جَوَازِ الشِّرَاءِ وَأَخْذِ الْخَرَاجِ وَأَدَائِهِ لِلْمُسْلِمِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ

ژباړه وتشريح:- او جائزده.چه واخلي مسلمان خراجي مځكه د ذمي نه او واخستي شي دده «مسلمان» نه خراج دهغه امله كومه چې موږ بيان كړه.((لأن فيه معنى المؤنة فيعتبر مؤنة في حالة البقاء)) او په يقين سره ثابته ده.چه صحابو﷡ اخستي وې خراجي زمكې «دذميانونه» او وو هغوى «صحابه﷡ چه» ادا كول به ئې خراج دهغې «خراجي زمكو» نودا «عمل د صحابو﷡» دلالت كوي په جواز د اخستلو «دخراجي زمكو» او په «جواز د اخستلو» د خراج «د ددې مسلمانانونه» او وركول ددې «خراج» مسلمان ته بغيردكراهة نه،

دخراجي زمكې په پيداواركې دعشرعدم فرضيت

(وَلَا عُشْرَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ) وَقَالَ الشَّافِعِي: يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا، لِأَنَّهُمَا حَقَّانِ مُخْتَلِفَانِ وَجَبَا فِي مَحَلَّيْنِ بِسَبَبَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ فَلَا يَتَنَافَيَانِ.

ژباړه وتشريح:- اونشته عشرپه خراجي مځكه كې اوفرمانيلي دي امام شافعي﷫ جمع والې به كوي په مينځ ددې دواړو «عشراوخراج» كې ځكه چې دا دواړه دوې [دوه] حقونه دي مختلف «ديوبل نه د حيثيت د ذات نه ځكه چې عشرداسې موئنت دې چې په دې كې معنى د عبادت پرته ده.چه مسلمان عشر وركړي.نوده ته په دې باندې ثواب ملاويږي.اوخراج داسې موئنت دې.چه په دې كې معنى د عقوبت پرته ده.يعنى خراج يو ډول كافرته دځپل كفر سزا وركول دي.هم دا وجه ده.چه دعشر مقدار كم دي.اود خراج زيات دي» او واجب شوې دي په دوو محلونو كې «ځكه چې خراج په ذمه دمالك باندې واجبيږي.هم دا وجه ده.كه په خراجي مځكه كې مالك څه اونه كړي.هم به خراج وركوي.او عشر په پيداوار كې واجبيږي.نوكه په عشري مځكه كې څه اونه كړي.عشر نه واجبيږي.ځكه چې عشر خو د پيداوار په لسمه يا شلمه برخه كې واجبيږي» په دوو سببونو مختلفو باندې «ځكه چې دعشر سبب د وجوب نامې مځكه ده.چه پيداوار ترې حاصل شي.اود خراج سبب هغه مځكه ده.چه د پيداوار صلاحيت په كې وي.فقط نوكه څه په كې اونه كړي.هم به پرې خراج واجبيږي.اود مصرف په اعتبارسره هم مختلف دي.ځكه چې دعشرمصرف فقيران دي.اود خراج مصرف غازيان دي» نود يوبل سره منافي نه دي. «چه يوموجود شي نوبل به نه وي.لكه څنګه چې يوكس وي.په هغه باندې حق العبد هم وي.اوحق الله هم وي.»

وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا يَجْتَمِعُ عُشْرٌ وَخَرَاجٌ فِي أَرْضِ مُسْلِمٍ} (۲) ،وَلِأَنَّ أَحَدًا مِنْ أَئِمَّةِ الْعَدْلِ وَالْجَوْرِ لَمْ يَجْمَعْ بَيْنَهُمَا، وَكَفَى بِإِجْمَاعِهِمْ حُجَّةً،وَلِأَنَّ الْخَرَاجَ يَجِبُ فِي أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً قَهْرًا،وَالْعُشْرُ فِي أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا طَوْعًا،وَالْوَصْفَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي أَرْضٍ وَاحِدَةٍ،

حل اللغة: ① **الائمة**:جمع دامام ده بادشاه حاكم ② **عنوة**:بغيرجنګ نه ③ **قهر**:په جنګ سره ④ **طوعاً**:په تابعدارئ سره

ژباړه وتشريح:- اوزموږ لپاره دليل قول دنبي ﷺ دې.چه نه جمع كيږي عشر او خراج په مځكه دمسلمان كې، «دوهم نقلي دليل دابيانوي» اوبله دا چې هيڅ چا په امامانوعادلانواو ظالمانوكې جمع والې نه دې كړې په دې كې ،اوكافي ده اجماع ددې امامانو حجت «چه په يوه مځكه كې به عشر اوخراج نه جمع كيږي.دريم عقلي دليل بيانوي» او ځكه چې خراج واجبيږي په هغه مځكه كې چې فتح شوې وي په قوت او زور سره،اوعشر «واجبيږي» په هغه مځكه كې چې اسلام راوړې وي اوسيدونكو د هغې «زمكې» په

۱) كذا نقله البيهقى فى كتاب المعرفة (نصب الراية،۳\۴۴۶)۔
۲) من حديث عبدالله بن مسعود﷜ أخرجه ابن عدى فى الكامل (۲۵۵\۷)۔

تابعدارئ ﴿او خپلې خوښي﴾ سره،او دا دواړه وصفونه ﴿چه زور او رضا ده﴾ نه جمع کيږي په يوه مځکه کې ﴿چه يوه مځکه دې هم په زور باندې فتح شوې وي اوهم په رضا باندې﴾

وَسَبَبُ الْحَقَّيْنِ وَاحِدٌ وَهُوَ الْأَرْضُ النَّامِيَةُ إِلَّا أَنَّهُ يُعْتَبَرُ فِي الْعُشْرِ تَحْقِيقًا وَفِي الْخَرَاجِ تَقْدِيرًا، وَلِهَذَا يُضَافَانِ إِلَى الْأَرْضِ، وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ الزَّكَاةُ مَعَ أَحَدِهِمَا.

ژباړه وتشريح:- ﴿او﴾ ړاندې دامام شافعي رحمه الله د دليل نه ځواب کوي ﴿او سبب د دواړو حقونو ﴿چه عشر اوخراج دي﴾ يو دي.اوهغه نامي مځکه ده.البته دومره ده چې معتبر کولای شي په عشرکې ﴿دغه نماء﴾ تحقيقاً ﴿يعنې عشربه هله واجبيږي.چه په خارج کې نماء او پيداوار حاصل شي﴾ او په خراج کې ﴿معتبر کولای شي دغه نماء﴾ تقديراً ﴿يعنې چې په مځکه کې د کروندې صلاحيت موجود وي.نوپه هغې باندې به خراج مقرر کولې شي.اګرچه پيداوار اونکړي﴾ اوهم دا وجه ده ﴿چه د دواړو سبب نامي مځکه ده﴾ د دواړو اضافت کولای شي زمکې ته،اوپه دې خلاف باندې زکاة هم دې چې جمع شي په دې دواړو کې د يوسره ﴿يعنې په کومه مځکه چې خراج واجب وي ياعشر.نو زموږ په نيز په هغې باندې زکاة نشته.اوامام شافعي رحمه الله فرماني.چه زکاة پرې هم شته.ددې مثال به داسې وي.چه يوسړی عشري يا خراجي مځکه د تجارت په نيت باندې واخستله .نوپه ده باندې د تجارت زکاة نشته.سره د وجوب د خراج ياعشر نه ،يعنې داسې نه ده.چه دې به د زمکې د پيداوارعشريا خراج ورکړي.او دزمکې د ماليت به زکاة ورکړي.بلکه يوځيزبه واجبيږي

د پيداوارپه تکرارسره د خراج عدم تکرار

(وَلَا يَتَكَرَّرُ الْخَرَاجُ بِتَكَرُّرِ الْخَارِجِ فِي سَنَةٍ) وَلِأَنَّ عُمَرَ لَمْ يُوَظِّفْهُ مُكَرَّرًا، (١) بِخِلَافِ الْعُشْرِ لِأَنَّهُ لَا يَتَحَقَّقُ عُشْرًا إِلَّا بِوُجُوبِهِ فِي كُلِّ خَارِجٍ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشريح:- اونه مکرر کيږي خراج په تکرار د پيداوار سره په يوکال کې ﴿يعنې که په يوکال کې په عشري مځکه کې ځوځوکرته فصل اوشي.نوصرف يوځل به خراج ورکوي.دهرفصل لپاره به خراج نه ورکوي﴾ ځکه چې حضرت عمر رضي الله عنه نه وو مقررکړې دا ﴿خراج﴾ مکرر ﴿اود خراج په مقررکولوکې زموږ لپاره د حضرت عمر رضي الله عنه عمل حجت دی﴾ په خلاف د عشر ﴿که عشري مځکه کې په يوکال کښې څو ځله فصل پيدا شي.هم هغه هومره به عشر ورکوي﴾ ځکه چې نه ثابتيږي ﴿او واجبيږي﴾ عشر مګرپه وجوب ددې ﴿عشر﴾ په هر پيداوار کې ، ﴿يعنې دعشرد وجوب سبب د پيداوار پيدا کيدل دي.اود خراج د وجوب سبب ارض نامي ده .نوچونکه مځکه يوه ده.ځکه به نه مکررکيږي.او پيداوار د يونه زياتيدې هم شي.نو عشرهم د يونه زياتيدې شي﴾

(بَابُ الْجِزْيَةِ)

﴿دا﴾ باب د جزيه ﴿په بيان کې﴾ دې.

د جزئې قسمونه

(وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ: جِزْيَةٌ تُوضَعُ بِالتَّرَاضِي وَالصُّلْحِ فَتَتَقَدَّرُ بِحَسَبِ مَا يَقَعُ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ) كَمَا { صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ نَجْرَانَ عَلَى أَلْفٍ وَمِائَتَيْ حُلَّةٍ } ( ) وَلِأَنَّ الْمُوجِبَ هُوَ التَّرَاضِي فَلَا يَجُوزُ التَّعَدِّي إِلَى غَيْرِ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ

حل اللغة: ① **التراضي**.د جانبينو د اړخه رضا کيدل ② **التعدي**:تجاوز کول ،زياتول

١) تقدم ما يدل عليه في وضع الخراج على السواد)_
من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه أبوداود في كتاب الخراج والإمارة والفئ باب ٣٠ رقم (٣٠٤١)_

زياده وتشريح:- اودا ﴿جزيه﴾ په دوې [دوه] قسمه ده. ﴿يوه﴾ جزيه هغه ده.چه مقرر كولای شي په رضا او صلحي سره ﴿يعنى چې كافرد مسلمانانوسره دجزيه په مقرركولوباندې متفق شي.چه تيك ده تاسوته به موږ جزيه در كوو .او تاسو به زموږ د مال اوجان ساتنه كوئ﴾ نو مقرركولې به شي دا ﴿ډول جزيه د صلح او رضا﴾ په هغه شان چې ځنګه پرې راشي اتفاق ﴿دمسلمانانو او كافرانو﴾ لكه ځنګه چې صلح كړې وه رسول الله ﷺ د اهل نجران سره په يوزر اودوې [دوه] سوه جوړو باندې ﴿اوپه يوه جوړه كې يولنګ اويوځادروو.اوديوې جوړې قيمت په نيز دصاحب د فتح القديرپنځوس درهمه وو.اوددې لپاره چې په مقرر مقداركې به كمې زياتې نشي كولې،بل دليل دا بيانوي﴾ اوځكه چې موجب ﴿يعنى هغه مقدار مال چې په اتفاق سره مقرر شوې وی﴾ هغه د دواړو طرفونو نه په رضامندی ده. ﴿چه د مسلمانانو او كافرانوپه كوم مقدارباندې اتفاق راغلې وی﴾ نونه دې جائز تجاوزكول ﴿يعنى اوړيدل﴾ سوا دهغه مقدارنه چې واقع شوې وی په هغې باندې اتفاق ﴿يعنى جانبينوچه د خراج په كوم مقدارباندې په اتفاق سره معاهده كړې دې.په هغه مقداركې به كمې زياتې نشي كولې.مثلا كه په كال كې ئې دوې [دوه] زره روپۍ مقرركړې وی.نو په دې دوو زرو روپوكې به كمې زياتې نشي كولې﴾

ضروري تشريح:- د نبی ﷺ په كوم عمل باندې چې صاحب دهدايه استدلال كړې دې.دهغې وضاحت دا دې. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی.چه نبی ﷺ د اهل نجران سره ﴿نجران د يمن يوه علاقه ده.چه نصارى په كې اوسيدل﴾ په دې باندې صلح كړې وه.چه تاسوبه موږ ته يوزر او دوې [دوه] سوه جوړې راكوئ.اوددې راكول به په دې طريقه وی.چه نيمې جوړې يعنى شپږ سوه به د صفرپه مياشت كې راكوئ.اوپاته نيمې چې شپږ سوه دی.دا به د رجب په مياشت كښې راكوئ.اومسلمانانوته به ديرش اسونه،ديرش زرۀ،ديرش اوښان ،او د دې نه علاوه ديرش توري نيزې غشي وركوی.خوپه دې شرط چې مسلمانان به د دې جنګی سازوسامان د واپس ور كاوه ذمه واری وی.اونبی ﷺ ورته دا ضمانت وركړلو.كه دا جزيه تاسو راكوئ.نو د اسلامی حدودو كې چې كومې علاقه دی.په دغه علاقواو ځايونوكې به دعيسايانوګرجې نشی غورځولې.اونه به ځوك عيسائی د وطن نه ويستلې شی.ترځوچه ئې معاهده ماته كړې نه وی.اويا ئې سود خوړل پيل كړې نه وی . ﴿يعنى كه معاهده ماته كړی.يا سود خوړل پيل كړی.نوبيا ددغه علاقه نه دده ويستل جائز دی.

(وَجِزْيَةٌ يَبْتَدِءُ الْإِمَامُ وَضْعَهَا إِذَا غَلَبَ الْإِمَامُ عَلَى الْكُفَّارِ، وَأَقَرَّهُمْ عَلَى أَمْلَاكِهِمْ، فَيَضَعُ عَلَى الْغَنِيِّ الظَّاهِرِ الْغِنَى فِي كُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا يَأْخُذُ مِنْهُمْ فِي كُلِّ شَهْرٍ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ. وَعَلَى وَسَطِ الْحَالِ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمَيْنِ، وَعَلَى الْفَقِيرِ الْمُعْتَمِلِ اثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمًا) وَهَذَا عِنْدَنَا.

زياده وتشريح:- او ﴿بل ډول هغه﴾ جزيه ده.چه ابتداء كړې وی امام د مقرركولودهغې كله چې غلبه كړې وی امام په كافرانوباندې او برقرارئې پاتې كړې وی هغوی ﴿كافران﴾ په خپلوملكيتونوباندې ﴿يعنى دهغوی نه ئې د هغوی مملوكه زمكې وغيره نه وی اخستې﴾ نو مقرركوی به ﴿په دې ډول كې﴾ په مالدارباندې چې مالداری ئې ښكاره وی.په هركال كې اته ځلويښت درهم،او اخلی به ددوی نه په هره مياشت كې ځلور درهم او ﴿مقرركوی به﴾ په ميانه حال باندې ﴿چه نه ئې مالداری ښكاره وی.اونه فقيری.بلكه ددې دواړوپه مينځ كې وی .لكه بالفرض كه دې مسلمان وی.نوچه نه په ده باندې زكاة واجب وی.ځكه چې صاحب نصاب نه وی.اونه ده لپاره زكاة اخستل جائز وی.ځكه چې مصرف هم نه وی.بلكه ددې دواړو په مينځ كښې وی.چه خپله ګزاره ئې روانه وی.نودغه ډول دلته په باب د جزيه كې هم چې نه توانګر وی اونه فقير﴾ څليريشت درهم په هره يوه مياشت كې ﴿به وركوی﴾ دوې [دوه] روپۍ او ﴿مقرركوی به﴾ په فقيرمعتمل باندې ﴿چه د اړتيا نه زيات مال ګټی خو مال نه جمع كوی﴾ دولس روپۍ ﴿وركوی به﴾ په هره مياشت كې يوه روپۍ اودا ﴿كوم ذميانو درې حالتونو ته تقسيم﴾ زموږ ﴿داحنافو﴾ رحمهم الله په نيزدی.

وَقَالَ الشَّافِعِي: يَضَعُ عَلَى كُلِّ حَالِمٍ دِينَارًا أَوْمَا يَعْدِلُ الدِّينَارَ، وَالْغَنِي وَالْفَقِيرُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ {لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِمُعَاذٍ خُذْ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ وَحَالِمَةٍ دِينَارًا أَوْعِدْلَهُ مَعَافِرَ} (١) مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ.

حل اللغة: ① معافر يو ډول يمنى جامې وې ② حالم: بالغ

ژباړه وتشریح: - اوفرمائی امام شافعي رحمه الله مقرر کوی به «امام» په هربالغ باندې يو دينار يا هغه چې برابروی د دينار سره مالدار او فقير «دواړه» په دې «مقدار جزيه» کې برابر دی. «دا نه چې د مالدارنه دې په کال کې اته څلويښت او منځنی نه څليرشت او غريب نه دولس روپۍ اخستې شی. لکه څنګه چې احناف رحمهم الله فرمائی» د امله د قول د نبی ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته اخله «ته» دهر بالغ سړی او بالغې ښځې نه يو دينار او يا ددې «دينار» برابر «ځيز» معافر «چه يو ډول يمنى جامې دی» بغيرد تفصيل نه «په مينځ د توانګر او فقير کې که چرته د مالدارومتوسط او غريب په جزيه کې توپير وو. نونبی ﷺ به حضرت معاذ رضي الله عنه ته بيان کړې وو. خوچه هغوی نه دې بيان کړې. ددې نه معلومه شوه. چه په غريب اومالداردواړو باندې يوشان جزيه مقرر کولې شی»

وَلِأَنَّ الْجِزْيَةَ إِنَّمَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْقَتْلِ حَتَّى لَا تَجِبَ عَلَى مَنْ لَا يَجُوزُ قَتْلُهُ بِسَبَبِ الْكُفْرِ كَالذَّرَارِي وَالنِّسْوَانِ، وَهَذَا الْمَعْنَى يَنْتَظِمُ الْفَقِيرَ وَالْغَنِيَّ.

حل اللغة: ① الذراری ماشومان ② النسوان زنانه ③ ينتظم شامليږی

ژباړه وتشریح: - «امام شافعي رحمه الله وړاندې بل دليل بيانوی» اوځکه چې جزيه واجب شوې ده په بدله د قتل کې، «يعنی هسې خو د کافرقتلول واجب وو. خوچه ده جزيه ورکولوته غاړه کيخوده. نو د قتل سزا دده نه ختمه شوه. اوپه جزيه ورکولو باندې دې خلاص شو» تردې چې نه واجبيږی «دا جزيه» په هغه چا چې نه وی واجب قتلول دهغه په سبب د کفر سره «يعنی چې څوک صرف کافروی. نوپه نفس کفرباندې دده قتلول نه واجبيږی او چې قتلول ئې نه واجبيږی. نوجزيه چونکه د قتل نه د بچ کيدو په عوض کې کافر اسلامی حکومت ته ورکوی. نوپه دوی باندې جزيه هم نشته. ځکه چې مبدل منه چې دقتل وجوب دې هغه نشته. چه بدل چې جزيه ده هغه به څنګه راشی؟» لکه ماشومان او زنانه «ددوی قتل جائز نه دې. نود قتل بدله چې جزيه ده دا به پرې هم واجب نه وی» اودا معنی «يعنی چې جزيه د قتل په بدله کې واجبيږی» شامل ده فقير اومالدار «دواړو» ته. ځکه چې لکه څنګه توانګر په جنګ کې د مسلمانانو سره جنګيږی. نودغه ډول فقيرهم جنګيږی. اولکه څنګه چې په جنګ کې د توانګر قتل جائز دې. دغه ډول د فقيرقتلول هم جائز دی. نوهرکله چې دواړه په حق د قتل کې برابر شو. نوپه حق د جزيه کې به هم برابر وی»

ضروری تشريح: - په سابقه حديث نه ((خذ من كل حالم وحالمة دينارا الحديث)) دا ثابتيږی. چه په ښځه باندې هم جزيه شته. اودلته ددې عقلی دليل نه معلوميږی. چه په زنانو باندې جزيه نشته. دا د دواړو دليلونو په مينځ کې تناقض اوتعارض دې. دهدايه په حاشيه باندې ددې نه دا خواب شوې دې. چه معمر رحمه الله فرمائيلی دی. چه دا خبره غلطه ده. چه په ښځوباندې جزيه شته. ځکه چې په ښځوباندې دجزيه دعدم وجوب په اړه کې ډير روايات راغلی دی. کوم چې حاکم، ابن حبان وغيرهما نقل کړی دی. اوپه دغه رواياتوکې د ((حالمة)) ذکر نشته. اوابوعبيد رحمه الله دا فرمائيلی دی. چه دا حديث منسوخ دې. دا دهغه وخت سره متعلق دې. کله چې به په جنګ کې دمشرکانوسره دهغوی ښځې هم جنګيدلې. خو روسته بيا دا حکم منسوخ شو. اود ښځود قتلولونه منع اوشوه

(١) من حديث معاذ رضي الله عنه أخرجه أبوداود فى الزكاة باب ٥ رقم ١٥٧٨ والترمذى فى الزكاة باب ما جاء فى زكاة البقر والنسائى فى الزكاة باب ٨ رقم ٢٢٩٩ وأحمد فى المسند (٥/٢٣٠)_

وَمَذْهَبُنَا مَنْقُولٌ عَنْ عُمَرَ(١) وَعُثْمَانَ وَعَلِي، وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِمْ أَحَدٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ، وَلِأَنَّهُ وَجَبَ نُصْرَةً لِلْمُقَاتِلَةِ فَتَجِبُ عَلَى التَّفَاوُتِ بِمَنْزِلَةِ خَرَاجِ الْأَرْضِ،

ژباړه وتشريح:- اومذهب زمونږ ﴿داحنافو﴾ رحمهم الله منقول دی دحضرت عمر، عثمان، علی رضی الله عنهم نه اوانكارنه دی كړی په دوی باندې هيڅ يوكس د مهاجرينو او انصار صحابو رضی الله عنهم نه، ﴿نومعلومه شوه.چه د مالدار، ميانه حال او غريب په مينځ كې چې داحنافو كوم توپير كړی دی.دا صحيح دی.ځكه چې دليل ورله شته.احناف رحمهم الله په خپله مدعی باندې دوهم دليل دا بيانوی﴾ اوځكه چې دا ﴿جزيه دمذكرضمير په تاويل د خراج الرأس سره دی﴾ واجب شوې ده لپاره د كومك كاوه غازيانو سره ﴿يعنی اسلامی حكومت چې په كافروباندې جزيه مقرر كوی .نوپه دې باندې غازيانو سره كومك كوی.ځكه چې جزيه د غازيانوباندې تقسيمولې شی.د زكاة په مصارفو نشی تقسيمولې﴾ نو واجبيږی به په توپير سره ﴿هغه توپير كوم چې وړاندې ذكرشو.چه په مالداراته ځلويښت درهم په ميانه حال باندې څليرشت درهم او په غريب باندې دولس درهم﴾ پشان د خراج د زمكې ﴿يعنی لكه څنګه چې په خراجی مځكه كې دكومې زمكې پيداوار ښه وی.په هغې باندې خراج زيات وی.اوچه د كومې زمكې پيداوار قيمتی نه وی.يا كم وی.په هغې باندې خراج كم وی.لكه وړاندې چې ئې تفصيل تيرشو﴾

وَهَذَا لِأَنَّهُ وَجَبَ بَدَلًا عَنْ النُّصْرَةِ بِالنَّفْسِ وَالْمَالِ وَذَلِكَ يَتَفَاوَتُ بِكَثْرَةِ الْوَفْرِ وَقِلَّتِهِ، فَكَذَا مَا هُوَ بَدَلُهُ

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿يعنی دا چې د مالداراوغريب په جزيه كې به توپير وی﴾ ځكه چې دا ﴿جزيه تذكيرد ضمير په اعتبارد خراج الرأس سره دی﴾ بدل دی د كومك نه په نفس سره اومال سره ﴿يعنی په مسلمانانوباندې دا واجب ده.چه دوی په خپل جان اومال سره د دارالاسلام ساتنه اوكړی.اواسلامی حكومت سره په دې باب كې كومك اوكړی.ځكه چې دا د دوی خپل اسلامی حكومت دی.اوچونكه ذمی كافران هم په دارالاسلام كې اوسيږی.نوپه دوی باندې هم په خپل جان اومال سره د اسلامی حكومت كومك كول وو.خوچونكه ددوی همدردی د كافرانو سره وی.ځكه چې په دارالاسلام كې اوسيږی.اوبيا هم ايمان نه راوړی.نوپه دوی باندې د هغه نصرت او كومك په ځائې جزيه مقرر كړې شوې ده.چه دوی به اسلامی حكومت ته جزيه وركوی﴾ اودا ﴿مدد﴾ مختلف وی په زياتوالی د مال سره اوپه كموالی د مال سره ﴿ځكه چې يوكس غريب وی.نودې به صرف خپل ځان د اسلامی حكومت د ساتنه لپاره پيش كړی.اوچه يوكس متوسط وی. نو دې به خپل ځان او سورلی پيش كړی،اوچه يوكس توانګر وی.نودې به خپل ځان سورلی او غلام پيش كړی﴾ اودا ﴿مدد او نصرت داسلامی حكومت سره په خپل مال اوجان سره﴾ مختلف وی په زياتوالی د مال سره اوپه كموالی د دې ﴿مال سره يعنی په مالداربانډې د اسلامی حكومت سره كومك كولوكې ذمه واری زياته راځی.چه خپل ځان او مال دواړه پيش كوی.او په غريب باندې كمه راځی.چه صرف خپل ځان پيش كوی﴾ نودغه ډول ﴿په كموالی او زياتوالی راځی﴾ په هغه ځيزكې چې وی بدل ددې ﴿نصرت اومدد چې جزيه ده.يعنی لكه څنګه چې په مالدارمسلمان باندې دجان او مال زياته ذمه واری راځی.دغه شان چې جزيه چې د دې نصرت په ځائې په ذمی باندې اسلامی حكومت ته ئې كول لازم دی.هغه به هم په مالدارذمی باندې زياته وی.نوځكه موږ وايو .چه د توانګر جزيه به زياته د متوسط جزيه دهغې نه كمه اود غريب جزيه د ټولو نه كمه وی.چه تفصيل ئې وړاندې تيرشو﴾

وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُ كَانَ ذَلِكَ صُلْحًا، وَلِهَذَا أَمَرَهُ بِالْأَخْذِ مِنَ الْحَالِمَةِ وَإِنْ كَانَتْ لَا تُؤْخَذُ مِنْهَا الْجِزْيَةُ.

حل اللغة: ① الحالمة. بالغه ښځه

---

١) الروايه عن عمر رضی الله عنه أخرجه ابن ابی شيبة فی مصنفه (نصب، ٣\٦٧٣)۔

ژباړه وتشريح:- اوهغه حديث چې روايت ئې كړې دې امام شافعي رحمه الله «يعني حديث د معاذ ﷺ» نوهغه محمول دې په دې باندې چې دغه حكم د صلح په بنا (بنياد) وو. «يعني نبي ﷺ چې حضرت معاذ ﷺ ته دا فرمائيلي وو.چه دهربالغ سړي او ښځې نه يودينار اخله.نودا ځكه وو.چه كافرانو نبي ﷺ ته درخواست كړې وو.چه مونږ جزيه دركوو.اوتاسو مونږ سره صلح اوكړئ.نونبي ﷺ د جزيه د عام قانون په طور نه بلكه دوی سره يوه خصوصي معاهده كړې وه.اوپه هغې كښې دا فيصله شوې وه.چه په هربالغ به يودينار جزيه وي» او ددې امله «چه د نبي ﷺ ديودينار جزيه مقرركولوحكم په صلح باندې مبنى وو.عام قانون نه وو.چه» حكم كړې وو نبي ﷺ هغه «معاذ ﷺ» ته په اخستلو «دجزيه» د بالغه ښځې نه اگرچه نشته اخستل «دعام قانون مطابق» ددې بالغې ښځې نه جزيه «بلكه جزيه صرف په سړو باندې مقرركولې شي.خوهركله چې نبي ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته دا حكم اوكړلو.چه ددوی په ښځوبه هم جزيه مقرركړې.نوددې نه دا معلومه شوه.چه دا حكم ددغه خلگو لپاره خصوصي حكم وو.د جزيه عام قانون نه وو»

جزيه به په چا مقرر كولاي شي؟

قَالَ (وَتُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمَجُوسِ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ} الْآيَةَ، {وَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجِزْيَةَ عَلَى الْمَجُوسِ}. (۱)

ژباړه وتشريح:- اومقرركولې به شي جزيه په اهل كتاب «يعني يهود او نصارى» باندې ،اوپه مجوسوباندې «كه هغوی عربيان وي اوكه عجم وي.اومجوس هغه نفر دی.چه د نور او ظلمت د خدائې قائلين دی.اودا وائي.چه خير د نورد اړخه وي.اوشر د ظلمت چاغه د اړخه وي.اوهم دا وجه ده.چه دوی د اور عبادت كوی.ځكه چې اورهم نوردې.كذا فى البنايه» د امله د قول دالله تعالى نه «چه اوجنگيږئ دهغه كسانوسره چې ايمان نه راوړی نه په الله باندې اونه په ورځ د آخرت اونه حراموی هغه څه چې حرام كړی دی الله اونه قبلوی دين حق» دهغه كسانو نه چې وركړې شوې دې ورته كتاب «په لاس باندې او وی دوی ذليل» اومقرركړې وه رسول الله ﷺ جزيه په مجوس باندې، «لكه په بخاری كې چې دی چې نبي ﷺ د مقام حجرپه مجوسوباندې جزيه مقرركړې وه»

دجزيې اخستلو نه وړاندې دكافرانود ښځو اوماشومانوحكم

قَالَ: (وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَجَمِ) وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ. هُوَ يَقُولُ: إنَّ الْقِتَالَ وَاجِبٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَقَاتِلُوهُمْ} إلَّا أَنَّا عَرَفْنَا جَوَازَ تَرْكِهِ فِي حَقِّ أَهْلِ الْكِتَابِ بِالْكِتَابِ وَفِي حَقِّ الْمَجُوسِ بِالْخَبَرِ فَبَقِيَ مَنْ وَرَاءَهُمْ عَلَى الْأَصْلِ.

ژباړه وتشريح:- «ابو الحسين قدوری» رحمه الله فرمائی.او «مقرركولې به شي جزيه» په بت پرستو عجميانوباندې اوپه دې «مسئله» كې خلاف دې دامام شافعي رحمه الله هغوی فرمائی.چه «دوی سره» جنگ كول واجب دې.د امله دقول دالله تعالى نه چې جنگيږئ دوی «كافرانو» سره،البته دا ده.چه مونږ اوپيژندل جواز د پريخودو د قتال په حق د اهل كتابو كې په قرآن سره «په دې آيت سره تردې چې دوی جزيه وركړی» او «اومو پيژندل پريښول دجهاد» په حق د مجوسوكې په خبر «يعني دحجر په مجوسو نبي ﷺ جزيه مقرركړې وه» نوپاته پاتې شو «حكم د قتال او جنگ كولو» دوی «اهل كتابو اومجوسو» نه د علاوه نوروكسانو په حق كښې په خپل اصل «چه جنگ كول دی.يعني د اهل كتابواومجوسو نه علاوه د نورو كافرانو څخه به جزيه نشی اخستې .بلكه يا به اسلام قبلوی.اويا به ورسره جنگ كولې شي»

۱) فيه أحاديث منها حديث مجالد وهو ابن عبدة المكى قال أتانا كتاب عمربن بالخطاب قبل موته بسنة ،فرقو بين كل ذى محرم من المجوس ولم يكن عمر ﷺ أخذ الجزية من المجوس حتى شهد عبدالرحمن بن عوف ﷺ أن رسول الله أخذها من مجوس هجر أخرجه [illegible]ارى فى الجزية باب ۱ وأبوداود فى الخراج والإمارة باپ ۳۱ وأحمد فى المسند (۱۹۱|۱)_ ۱

وَلَنَا أَنَّهُ يَجُوزُ اسْتِرْقَاقُهُمْ فَيَجُوزُ ضَرْبُ الْجِزْيَةِ عَلَيْهِمْ إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَشْتَمِلُ عَلَى سَلْبِ النَّفْسِ مِنْهُمْ فَإِنَّهُ يَكْتَسِبُ وَيُؤَدِّي إِلَى الْمُسْلِمِينَ وَنَفَقَتُهُ فِي كَسْبِهِ،

حل اللغة: ① الاسترقاق: غلام جوړول ② ضرب: مقرر كول

ژباړه وتشريح:- اوزموږ ﴿د احنافو﴾ دليل دا دې چه جائز دي غلامان جوړول دهغوی ﴿يعني داهل كتابو او مجوسو نه د علاوه نورو كافرانو﴾ نو جائز به وی مقرر كول د جزيه په هغوی باندې، ځكه چې هريود دې دواړو نه ﴿كه غلام جوړول دی اوكه جزيه مقرركول دی﴾ كم دی اخستلو د نفس ددوی ته ﴿يعني ددوی په خپل ځان كي څه اختيارنه پاتې كيږی. هرچه ددوی غلامان جوړول دی. نوپه دې كي ددوی اختيار ځكه سلب كيږی. چه دوی د څه مالكان نشی جوړيدې. بلكه دوی چې څه گټی. هغه د مولی گټه شمارلې شي. اوپه صورت د جزيه كي چې جزيه پرې مقرركړې شی. نوپه دې كي هم دده د اختيار ختمول دی﴾ ځكه چې دې ﴿ذمی﴾ گټه كوی. او ادا كوی دغه گټه ﴿د جزيه په شكل كي﴾ مسلمانانوته او خرچه دده په خپله گټه كي وی. ﴿نوده ته څه نه پاتې كيږی. ځكه چې څه گټی نوڅه ترې مسلمانان اخلی. اوڅه دده دخپلو ضروریاتونه بچ كيږی. نودده نه جزيه اخستل داسې شو. لكه چې دده نه دده نفس واخستې شی. ددې امله موږ وايو. چه لكه څنگه د دوی غلامان جوړول جائزدی. نودغه ډول په دوی باندې جزيه مقرركول هم جائز ده. البته كه څوك دا اعتراض اوكړی. چه موږ دا نه منو. چه ديوكس غلام جوړول جائز وی. نوپه هغه دې جزيه مقرركول هم جائز وی. ځكه چې د كافرماشوم او ښځې غلام جوړول جائز دی. خوددې باوجود په دوی باندې جزيه مقرركول نشته. نوصحيح خبره دا ده. چه داسې اوونيلی شی. چه هرهغه كس چې دهغه غلام جوړول جائز وی. نوپه هغه باندې جزيه مقرركول هم جائز دی. خوپه دې شرط چې هغه محل د جزيه مقرركولووی. اوښځه او ماشوم محل دجزيه مقرر كاوه نه دی. ځكه چې جزيه په هغه ځا مقرركولې شی. چه هغه گټه كوی. اودا دواړه كه ماشوم دې اوكه ښځه د كسب اوگټې نه عاجزان دی. نوځكه په دوی باندې جزيه نشی مقرركولې﴾

په چاچه د جزيه مقرركول نشته

﴿وَإِنْ ظُهِرَ عَلَيْهِمْ قَبْلَ ذَلِكَ فَهُمْ وَنِسَاؤُهُمْ وَصِبْيَانُهُمْ فَيْءٌ﴾ لِجَوَازِ اسْتِرْقَاقِهِمْ

ژباړه وتشريح:- اوكه غلبه راغله په دوی ﴿كافرانو﴾ باندې وړاندې ددې ﴿جزيه مقرركولواواخستلو﴾ نه، نو دوی ﴿كافران﴾ او ددوی زنانه اوماشومان مال فئ دې. ځكه چې ددوی غلامان جوړول جائز دی. ﴿نوغلامان جوړول ئې جائز شو. نوددوی حكم دمال فئ شو. په غازيانوبه تقسيمولې شي﴾

د عربو دمشركانو او مرتدينو د ښځو او ماشومانو حكم

﴿وَلَا تُوضَعُ عَلَى عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنَ الْعَرَبِ وَلَا الْمُرْتَدِّينَ﴾ لِأَنَّ كُفْرَهُمَا قَدْ تَغَلَّظَ، أَمَّا مُشْرِكُو الْعَرَبِ فَلِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَشَأَ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ وَالْقُرْآنُ نَزَلَ بِلُغَتِهِمْ فَالْمُعْجِزَةُ فِي حَقِّهِمْ أَظْهَرُ.

ژباړه وتشريح:- اونشته جزيه مقرركول په بت پرستود عربو اونه په مرتديانو، ځكه چې كفرد دې دواړو ﴿ولو﴾ سخت دې. هرچه مشركان دعربودی. ﴿نوددوی كفرزياته گناه ده﴾ ځكه چې نبی ﷺ پيدا شوې وو ددوی په مينځ كي اوقرآن پاك نازل شوي وو په ژبه ددوی نو ﴿دقرآن﴾ اعجاز ددوی په حق كې ښكاره وو. ﴿خوددې باوجود چې هم په دوی كي پيغمبرپيدا شوې وو. اوهم ددوی په ژبه قرآن نازل شوې وو. دوی ايمان راونړی. نويقيناً چې دوی د سخت عذاب مستحق دی. اوهغه دنياوی سزا دا ده. چه دوی به يا ايمان راوړی. اويا به قتلولې شی. جزيه قبلول د دوی نه نشته﴾

وَأَمَّا الْمُرْتَدُّ فَلِأَنَّهُ كَفَرَ بِرَبِّهِ بَعْدَمَا هُدِيَ لِلْإِسْلَامِ وَوَقَفَ عَلَى مَحَاسِنِهِ فَلَا يُقْبَلُ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ إِلَّا الْإِسْلَامُ أَوِ السَّيْفُ زِيَادَةً فِي الْعُقُوبَةِ وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ يُسْتَرَقُّ مُشْرِكُو الْعَرَبِ، وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا

حل اللغة: ① السيف: توره ② العقوبة: سزا ③ يسترق: غلام جوړول

ژباړه وتشریح:- اوهرچه مرتد دي «نوپه ده باندې جزیه مقررکول نشته» ځکه چې ده انکارکړې دې د رب خپل نه روسته ددې نه چې ده ته توفیق ملاؤ شوې وو داسلام او پوهه شوې وو دې په خوبیانودې «اسلام،نوچه الله تعالی په ده باندې یوځل دومره عظیم احسان اوکړلو.چه داسلام غوندې اوچت نعمت ئې ورته ورکړلو .اودې د اسلام دخوبیانونه هم خبرشو.اوددې نه روسته دې کفر کوی.نودې دهیڅ ډول رعات مستحق نه دې» نو نه به شي قبلولي د دواړو فرقو نه «که داهل عربو بت پرست دی.اوکه مرتدیان دی» مګر اسلام «چه ایمان به راوړی» او یا توره «یعنی جهاد به ورسره کولې شي» لپاره د زیادت په عذاب کې «چه دوی په اسلامی ماحول کې پاتې شوې دی.اوبیاهم کفرکوی.نوسزا ورته سخته پکارده.چه د نورو لپاره عبرت شي» اوپه نیز د امام شافعی رحمه الله غلامان به جوړولې شی مشرکان دعربو اوځواب د دې «قول د امام شافعی» رحمه الله هغه دې.کوم چې موږ بیان کړلو. «چه فلا یقبل من الفریقین إلا الإسلام أو السیف زیادة في العقوبة»

(وَإِذَا ظُهِرَ عَلَيْهِمْ فَنِسَاؤُهُمْ وَصِبْيَانُهُمْ فَيْءٌ) لِأَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اسْتَرَقَّ نِسْوَانَ بَنِي حَنِيفَةَ وَصِبْيَانَهُمْ لَمَّا ارْتَدُّوا وَقَسَّمَهُمْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ(١) (وَمَنْ لَمْ يُسْلِمْ مِنْ رِجَالِهِمْ قُتِلَ) لِمَا ذَكَرْنَا.

ژباړه وتشریح:- اوکله چې غلبه راشي په دوی «دعربویه مشرکانویا په مرتدیانو» باندې «د مسلمانانو» نو وینځې جوړې کړې وې.زنانه ددوی او ماشومان ددوی مال فیئ دی. «په غازیانوبه تقسیمولې شی» ځکه چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه کله چې هغوی مرتد شول اوویش ئې کړل «دغه زنانه او ماشومان» په مینځ د غازیانوکې اوچا چې اسلام قبول نکړلو په سرو ددوی «مرتدیانواوعربومشرکانو» کې ،نو قتل کولې به شی دهغه امله نه چې موږ ذکرکړله «چه فلا یقبل من الفریقین إلا الإسلام أوالسیف زیادة في العقوبة»

اضافي تشریح:- کله چې د مرتدینو خلګو ښځې اوماشومان په جنګ کې قید کړې شی.نودوی به وینځې وی. او ماشومان به ئې غلامان وی.په غازیانوبه تقسیمولې شی.اودلیل پرې دا دې.چه دنبی ﷺ په ژوند کې مسیلمه کذاب په نبی ﷺ ایمان راوړې وو.خوچه کله نبی ﷺ دمرګ په بیمارئ باندې بیمار شو.نومسیلمه مرتد شو.اوالبته د نبوت دعوی ئې هم اوکړله.اوخپل قوم دده د نبوت دعوی تسلیم کړله.اوپه ده ئې ایمان راوړلو.دنبی ﷺ دوفات نه روسته چې کله حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه جوړ شو.نوهغوی د مسیلمه کذاب د مقابله لپاره د مسلمانانو یولښکراولیږلو.یوخونړې جنګ اوشو.اوآخردا چې مسیلمه کذاب مردار شو. او دده د قوم ښځې اوماشومان قیدیان شو.نوحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه هغه ښځې د وینځو په طوراوماشومان د غلامانو په حیث په غازیانواومجاهدینوباندې ویش کړل.ددې نه دا ثابته شوه.چه د مرتدینوښځې وینځې جوړول او ماشومان غلامان جوړول جائز دی.

په ښځه او ماشوم باندې دجزیه عدم وجوب

(وَلَا جِزْيَةَ عَلَى امْرَأَةٍ وَلَا صَبِيٍّ) لِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنْ الْقَتْلِ أَوْ عَنْ الْقِتَالِ وَهُمَا لَا يُقْتَلَانِ وَلَا يُقَاتِلَانِ لِعَدَمِ الْأَهْلِيَّةِ.

ژباړه وتشریح:- اونشته جزیه په ښځه او په ماشوم باندې ځکه چې جزیه واجب شوې ده.په بدل کې د قتل «دهغه کسانوچه په جنګ کې مغلوبه شوې وی.نودوی مستحق دقتل وو.خوچه تسلیم شو.نود قتل په بدله کې په دوی جزیه مقررکړې شوه» یا د جنګ نه، «یعنی دنصرت نه مطلب دا چې څوك په اسلامی سلطنت کې اوسیږی.نوپه ده باندې لازم ده.چه په خپل مال اوجان سره د اسلامی حکومت ساتنه کوی.که دې مسلمان وی.اوکه مسلمان نه وی.نوچونکه دده همدردی د کافرانو سره وی.دد. نه دا توقع نشی کیدې.چه دې به داسلامی حکومت د ساتنه لپاره د جان یا د مال قربانی ورکړی.نوددې مالی او جانی قربانئ په بدله کې

(١) الواقدی فی کتاب الردة(نصب الرأیة ۳/٤٦٧)_

شریعت په ده باندې جزیه مقررکړې ده.چه دې چونکه په اسلامي حکومت کې اوسیږي.نولکه چې ځنګه په نورو مسلمانانو باندې په وخت د اړتیا د اسلامي حکومت سره کومک کول ضروري دي.دغه ډول په ده باندې هم ضروري دي.نوددغه نصرت په بدله کې په ده جزیه مقرر شوه﴾ اودا دواړه ﴿که ښځه دده اوکه ماشوم﴾ نشي قتلولې ﴿په جنګ کې .بلکه دوی ته به تعرض نشي کولې.اوورانډې تیرشو.چه جزیه د قتل بدله ده.چه کافرجزیه ته غاړه کیږدي.نودې د قتل نه بچ شو.اود ماشوم او ښځې قتلول جائز نه دي.نوځکه پرې جزیه هم نشته﴾ او نه دوی جنګ کولې شي.د امله د عدم اهلیت نه ﴿یعنې په ماشوم اوښځه کې د جنګ کاوه اهلیت او صلاحیت نه وي.نوځکه په دوی باندې په جان او مال سره د اسلامي حکومت کومک او نصرت کول لازم نه دي.ځکه چې دوی کمزوري دي.اوورانډې تیرشو.چه جزیه د نصرت بدل دې.چه مسلمانان په خپل جان او مال سره داسلامي حکومت ساتنه کوي.نوذمي به ددغه نصرت په بدله کې جزیه ورکوي .خوچونکه په ماشوم او ښځه باندې نصرت واجب نه دې.نوجزیه پرې هم نشته.ځکه چې جزیه بدل د نصرت نه دې.اوچه مبدل منه نه وي لازم بدل به څنګه لازم شي!﴾

په شل ړونداوسپین ږیري (بوډا) باندې دجزیه عدم جواز

قال (وَلَا زَمِنٍ وَلَا أَعْمَى) وَكَذَا الْمَفْلُوجُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ لِمَا بَيَّنَّا.وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ تَجِبُ إذَا كَانَ لَهُ مَالٌ لِأَنَّهُ يُقْتَلُ فِي الْجُمْلَةِ إذَا كَانَ لَهُ رَأْيٌ

حل اللغة:① المفلوج:فالج وهلې ② زمن:شل ③ اعمی:ړوند

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوري﴾ رحمه الله اونشته ﴿جزیه﴾ په شل،اونه په ړوند.اودغه ډول ﴿نشته جزیه﴾ په فالج وهلی او شیخ کبیرباندې دهغه امله چې موږ بیان کړه ﴿چه..لأنه وجب بدلاً عن القتل أو القتال) اوداامام ابویوسف رحمه الله نه روایت دې.چه واجبیږي ﴿جزیه﴾ کله چې وی دده ﴿شیخ کبیر﴾ لپاره مال ځکه چې دې ﴿شیخ کبیر﴾ قتلولې شي عام طورکله چې وی دده لپاره رائې ﴿چه د جنګ په امورو کې خپل قوم ته مشوره ورکوي.نوبیا قتلولې شي.خوظاهرروایت هم هغه دې.کوم چې ورانډې تیرشو.چه په ده باندې جزیه نشته﴾

(وَلَا عَلَى فَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ) خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ .لَهُ إطْلَاقُ حَدِيثِ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

ژباړه وتشریح:- اونشته ﴿جزیه﴾ په معتمل ﴿هغه فقیرچه دهغه ګټه دهغه د خرج نه زیاته نه وي﴾ باندې خلاف ثابت دې داامام شافعي رحمه الله ﴿هغوی فرمائي.چه په متمل فقیرباندې جزیه واجب ده﴾ د دوی ﴿امام شافعي﴾ رحمه الله لپاره دلیل اطلاق د حدیث معاذ رضي الله عنه دې. ﴿یعنې په هغه حدیث کې نبي ﷺ مطلقاً ذکرکړې دي.چه د هربالغ نه جزیه اخله.د فقیرغیرمعتمل استثنی ئې په کې نه ده کړې﴾

وَلَنَا أَنَّ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَمْ يُوَظِّفْهَا عَلَى فَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ وَكَانَ ذَلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنْ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ،وَلِأَنَّ خَرَاجَ الْأَرْضِ لَا يُوَظَّفُ عَلَى أَرْضٍ لَا طَاقَةَ لَهَا فَكَذَا هَذَا الْخَرَاجُ،وَالْحَدِيثُ مَحْمُولٌ عَلَى الْمُعْتَمِلِ

ژباړه وتشریح:- اوزموږ لپاره ﴿دلیل دا دې﴾ چې عثمان رضي الله عنه نه وه مقررکړې دا ﴿جزیه﴾ په فقیر غیرمعتمل باندې اوودا ﴿عمل دحضرت عثمان رضي الله عنه﴾ په موجودګۍ د صحابوؓ کې ، ﴿نوپه هغوی کې چا په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې انکارنه دې کړې.نوداجماع سکوتي شوه.چه په فقیرغیرمعتمل باندې جزیه نشته.اوبل دلیل بیانوی﴾ اوبله دا چې خراج د زمکې نشي مقرر کولې په هغه مځکه چې نه وی صلاحیت په هغې کې ﴿د پیداوار﴾ نو دغه ډول دا خراج ﴿جزیه ده.اوخراج د راس دې.به نشي مقررکولې په هغه کس باندې چې په هغې کې د ګټلو صلاحیت نه وي﴾ اوحدیث ﴿دحضرت معاذ رضي الله عنه کوم چې امام شافعي رحمه الله نقل کړې دې﴾ حمل دې په فقیر معتمل باندې ﴿یعنې هغه فقیرتړې مراد دې.چه هغه ګټه دهغه د خرچې نه زیاته وي.نوپه داسې فقیرباندې موږ هم د جزیه مقرر کاوه قائل یو﴾

په هر ډول مملوك باندې د جزيه مقررکولو عدم جواز

(وَلَا تُوضَعُ عَلَى الْمَمْلُوكِ وَالْمُكَاتَبِ وَالْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ) لِأَنَّهُ بَدَلٌ عَنِ الْقَتْلِ فِي حَقِّهِمْ وَعَنِ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا،

اونه بشي مقرركولې «جزيه» په غلام باندې اوپه مكاتب باندې اوپه مدبرباندې،او په ام ولده باندې،ځكه چې دا «جزيه» بدل دې د قتل نه په حق دهغوى «كافرانو» كې «يعني دكافرقتل جائزوو.خوهغه د جزيه وركولوپه وجه دقتل نه خان بچ كړلو.نودا جزيه دهغه د قتل بدله شوه» اود كومك نه په حق زمونږ «مسلمانانو» كې «يعني چې په دارالاسلام كې مسلمان اوسيږي.نوپه ده باندې لازم دى.چه دې به په خپل جان اومال سره د اسلامي حكومت ساتنه كوي.اود مسلمان نه ددې امداد توقع كيداې شي.خود ذمي نه نشي كيدې.ځكه چې ذمي په دين كې دغيرمسلمه مرسته اومدد كوي.نوددې نصرت اومدد په بدله كې په دې ذميانوباندې جزيه مقرركولې شي.نودا خبره ثابته شوه.چه جزيه زمونږ مسلمانانوپه حق كې د نصرت نه بدل دې.يعنى كوم نصرت چې په مسلمانانود اسلامي حكومت سره واجب وو.دهغه نصرت په ځائې په ذميانوجزيه مقرر شوې ده.»

وَعَلَى اعْتِبَارِ الثَّانِي لَا تَجِبُ فَلَا تَجِبُ بِالشَّكِّ

زياده وتشريح:- «نوداول شى په اعتبارسره چې جزيه د قتل نه بدل دې.پكارده چې په دوى باندې جزيه واجب شي.ځكه چې په جنګ كې د غلام،مكاتب قتل او استرقاق جائز دې.نوچه قتل او استرقاق ني جائز شو.جزيه مقرركول پرې هم جائز شو.لكه چې وړاندې ددې تفصيل تيرشوې دې.» اود دوهم څيز په اعتبارسره «چه نصرت دې.» نه واجبيږي «جزيه په دې كسانوباندې.ځكه چې داسلامي حكومت سره په جان او مال سره كومك كول اونصرت كول خوپه هغه چا واجب وي.چه هغه د جان اومال مالك وي.اودا نفر د جان اومال مالكان نه دى.نوپه دوى باندې په خپل جان او مال سره د اسلامي حكومت نصرت واجب نه دې.اوچه نصرت واجب نشو.نوجزيه چې د نصرت بدل دې.هغه به هم واجب نه وي.ځكه چې بدل خوهله واجبيږي.چه مبدل منه واجب وي.تيمم خو هله واجبيږي.چه اودس واجب شوې وي» نو نه به واجبيږي. «په دې مملوكينو باندې» په شك سره، «ځكه چې په اولنى اعتبار سره پرې جزيه واجبيږي.اوپه دوهم اعتبارسره پرې نه واجبيږي.نوپه دې سره شك پيدا شو.اوپه شك سره يوحكم نشي ثابت كيدې»

(وَلَا يُؤَدِّي عَنْهُمْ مَوَالِيهِمْ) لِأَنَّهُمْ تَحَمَّلُوا الزِّيَادَةَ بِسَبَبِهِمْ

زياده وتشريح:- اونه به وركوى د دوى «مملوك،مكاتب وغيره» نه «جزيه» ددوى مالكان، ځكه چې هغوى «مالكانو» برداشت كړې دې زيادت «په جزيه كښې» په سبب د دوى «مملوكينو،يعني هركله چې دا مملوكين د خپلومالكانو په ملكيت كې وو.نو ددوى په وجه ددوى مالكان د مالدارانو په ډله كې ګڼل شو.او وړاندې تيرشوى دى.چه د توانګر جزيه به په كال كې اته څلويښت درهمه وي. اود فقير به دولس درهمه وي.نويوخل ددوى مالكان ددې مملوكينو په وجه د زياتې جزيه ور كاوه پابند شوى دى. نوكه اوس ددوى په مالكانو ددې مملوكينو جزيه هم مقرركړو.نودا خو ظلم دې.ځكه چې د يو شى په سبب دوې [دوه] خله په دوى باندې مالي وجوب راځى.اوظلم په اسلام كې ناروا دې»

په راهبانود جزيه مقرركولوحكم

(وَلَا تُوضَعُ عَلَى الرُّهْبَانِ الَّذِينَ لَا يُخَالِطُونَ النَّاسَ) كَذَا ذَكَرَ هَاهُنَا وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُوضَعُ عَلَيْهِمْ إِذَا كَانُوا يَقْدِرُونَ عَلَى الْعَمَلِ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ.(١)

(١) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الخانية (٤٧٦\١٤) وردالمحتار(٢٩٤\٣) وملتقى الأبحر(٦٨٠\١) نقلاً عن لقول الراجح (٤٩٣\١)-

ژباړه وتشریح:- اونه به شي مقرركولي «جزیه» په راهبانو باندې هغه كسان چې ګډون نه كوي د خلګو سره «بلكه د خلګو نه خانله په خپله عبادت خانه كې وي» دغه ډول ذكركړی دی «ابو الحسين قدوری» دلته «په قدوری كې» اوذكركړی دی امام محمدؒ «په جامع صغيركې» دامام ابوحنيفهؒ نه چې مقرركولي به شي په دوی «راهبانو» باندې په دې شرط چې وی دوی قادرپه كاركولوباندې «اوكټه كولي شي» اودا قول دامام ابويوسفؒ دی.

وَجْهُ الْوَضْعِ عَلَيْهِمْ أَنَّ الْقُدْرَةَ عَلَى الْعَمَلِ هُوَ الَّذِي ضَيَّعَهَا فَصَارَ كَتَعْطِيلِ الْأَرْضِ الْخَرَاجِيَّةِ. وَوَجْهُ الْوَضْعِ عَنْهُمْ أَنَّهُ لَا قَتْلَ عَلَيْهِمْ إِذَا كَانُوا لَا يُخَالِطُونَ النَّاسَ، وَالْجِزْيَةُ فِي حَقِّهِمْ لِإِسْقَاطِ الْقَتْلِ،

حل اللغة: ① **ضيع**:ضائع كړلو ② **التعطيل**:بيكاره كول ③ **يخالطون**:ګډون كوی

ژباړه وتشریح:- وجه د مقرركولو «دجزيه» دا ده.چه قدرت په كارباندې هغه قدرت چې ده ضائع كړی دې نواوګرځيدلو دا «ضائع كول» پشان د خالي پريخودو د زمكې خراجی «اودا مسئله ده چې كله خراجي مځكه بغيرد كروندې اوفصل نه پريښبولې (پريخودې) شي.نوهم به هغې باندې خراج وی.ځكه چې بې غوری د مالك د اړخه شوې ده.چه يوه مځكه قابله د كرونده وه.اوده په كې فصل اونكړلو،نودغه ډول دلته هم چې راهب په كاركولوقادر وو.اوده كاراونكړلو.نوپه ده به جزيه مقرركولي شي.ځكه چې ده خپل صلاحيت ضائع كړلو .او كارئې اونكړلو.نوكوتاهي دده د اړخه اوشوه» اووجه د پورته كولو «دجزيه» ددوی «راهبانو» نه «دا ده.» چې نشته قتل په دوی باندې ځكه چې دوی ګډون نه كوی د خلګو سره «په جنګ كې» اوجزيه په حق ددوی «اهل كتابو» كې په بدله د ساقط كاوه د قتل كې ده. «چه دوی جزيه وركړی.نودوی به د قتل نه بچ شي. او هركله چې د راهبانو قتل نشته.نوجزيه به پرې هم نه وی.ځكه چې مبدل منه نه وی.نوبدل به هم نه وی»

وَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمُعْتَمِلُ صَحِيحًا وَيَكْتَفِي بِصِحَّتِهِ فِي أَكْثَرِ السَّنَةِ.

حل اللغة: ① **المعتمل**:كاركونكې ② **السنة**:كال

ژباړه وتشریح:- اونشته خلاصې «يعنې ضروری ده» چې وی معتمل «هغه كس چې كاركوی» صحيح «چه په صحت باندې روغ وی رنځور نه وی» اوكافي كيږی صحت دده په اكثركال كې «يعنې چې د كال په اكثره برخه كې چې د شپږو مياشتو نه زياته مودهٔ ده.دې صحيح وی.نوهله به په ده باندې جزيه مقرركولي شي. ځكه چې اكثر لره حكم د كل دې.اوكه دكال په كمه موده كې رنځور وو.اود كارقابل نه وو.بيا به هم په ده باندې جزيه مقرر كولي شي»

دچانه جزيه ساقطيږی؟

(وَمَنْ أَسْلَمَ وَعَلَيْهِ جِزْيَةٌ سَقَطَتْ عَنْهُ) وَكَذَلِكَ إِذَا مَاتَ كَافِرًا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِيهِمَا.

ژباړه وتشریح:- اوچا چې اسلام قبول كړلو.اوپه ده باندې جزيه وی.نوساقطيږی «جزيه» دده نه «د اسلام نه روسته به دې جزيه نه وركوی» اودغه ډول «حكم دې.چه جزيه به نه وركوی» كله چې مړ شي يوكس په حالت د كفر كې خلاف ثابت دې دامام شافعيؒ په دې دواړو «مسئلو» كې ، «كه د كافرمسلمانيدل دی.اوكه د كافرمړ كيدل دی»

لَهُ أَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْعِصْمَةِ أَوْ عَنِ السُّكْنَى وَقَدْ وَصَلَ إِلَيْهِ الْمُعَوَّضُ فَلَا يَسْقُطُ عَنْهُ الْعِوَضُ بِهَذَا الْعَارِضِ

ژباړه وتشریح:- د ده «امام شافعيؒ» لپاره دليل دا دې.چه دا «جزيه» واجب شوې ده په بدل د ساتنه «دتو يولود وينې» كې «چه دې مباح الدم وو.خوچه جزيه ئې وركړله.نومعصوم الدم اوګرځيدلو» او يا «بدل ده جزيه» د اوسيدو نه «په دارالاسلام كې ،يعنې چې كافر په دارالاسلام كې اوسيږی.اواسلامی حكومت دده د جان او مال ساتنه كوی.نودده داوسيدو او مال اوجان د ساتنه په بدله كې دده نه جزيه اخستې

شي﴾ او یقینا اورسیدلو ده ته معوض ﴿او هغه د قتل نه ساتنه دي.چه دې د قتل نه محفوظ شو.اوپه دارالاسلام کي اوسیدل دی.چه ده ته په دارالاسلام کي د استوګنه ځائي ملاؤ شو﴾ نو نه به ساقطیږی د ده نه ﴿جزیه﴾ په دې عارض سره ﴿چه په اول صورت کي اسلام دې.یعنی چې مسلمان شی.اوپه دوهم صورت کي مرګ دې.یعنی چې مړ شی﴾

كَمَا فِي الْأُجْرَةِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ.

ژباړه وتشریح:- لکه څنګه چې په کرایه کي وی. ﴿یعنی که یوذمی په دارالاسلام کي په کرایه باندې ځائي واخلی.اوددې نه روسته دې ایمان راوړی.نوپه ایمان راوړلو سره دده نه د کور کرایهٔ نه ساقطیږی.ځکه چې ده د کورنه فائده واخستله﴾ او ﴿لکه څنګه چه﴾ په صلح د قتل عمد کي وی ﴿یعنی چې ذمی راؤلګی.یوسړې په قصد باندې قتل کړی.اوبیا دمقتول داولیاؤ سره په څه معلوم عوض باندې صلح اوکړی.مثلاً هغه سره په یولاکهٔ روپئ ور کاوه باندې صلح اوکړی.اوددې نه روسته دې مسلمان شی.نو دده په اسلام راوړلو سره هغه عوض د قتل عمد چې یولاکهه روپئ دی.نو نه ساقطیږی.ځکه چې ده ته معوض منه چې دده نفس د قصاص نه بچ کیدل دی.حاصل شوې دې.نودغه ډول په زیربحث مسئله کي هم دی﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَيْسَ عَلَى مُسْلِمٍ جِزْيَةٌ} (١) وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ عُقُوبَةً عَلَى الْكُفْرِ وَلِهَذَا تُسَمَّى جِزْيَةً وَهِيَ وَالْجَزَاءُ وَاحِدٌ ،وَعُقُوبَةُ الْكُفْرِ تَسْقُطُ بِالْإِسْلَامِ وَلَا تُقَامُ بَعْدَ الْمَوْتِ،

ژباړه وتشریح:- اوزمونږ لپاره دلیل د نبی ﷺ قول دې.چه نشته په مسلمان باندې جزیه ﴿په دې کي دا تفصیل نشته.چه مورزاده (پیدائشی) مسلمان وی.اوکه د روسته ئې ایمان راوړې وی﴾ اوبله دا چې دا ﴿جزیه﴾ واجب شوې ده ﴿په کافرباندې﴾ په حیثیت د سزا په کفرباندې ﴿چه ده یوحق دین چې دین اسلام دې.دهغې د قبلولو نه انکارکړې دې.نوده ته دې په دنیا کي هم ددې عمل سزا د جزیه په شکل کي ملاؤ شي﴾ اوددې امله ﴿چه دا جزیه جزا د کفرده﴾ نامداره کړې شوې ده په جزیه سره او دا ﴿جزیه﴾ او جزاء ﴿دواړه﴾ یو معنی لری. ﴿ځکه چې جزیه هم د کفرجزاء ده.نوهرکله چې جزیه سزا د کفرده.اودې کس د کفرنه توبه اوویستله.اوپه اسلام کي داخل شو.نوبیا قانون دا دې.چه﴾ جزاء د کفرساقطیږی په اسلام سره ﴿مثلاً چې حربی کافر وی. نودې واجب القتل دې.خوچه ده اسلام قبول کړلو.نودده سزا چې قتل وو.هغه په اسلام راوړلو سره ساقط شو﴾ اونشی مقرر کولې ﴿دا جزیه﴾ روسته دمرګ نه ﴿یعنی څوک چې مړشی.نودمرګ نه روسته په دهٔ باندې جزیه نشی مقرر کولې .اګر چې ده په میراث کي مال پریښولې (پریخودې) وی.ځکه چې مرګ پشان د قتل دې.ځکه چې مرګ د قتل نه خلیفه او نائب دې.نولکه څنګه چې یوکافرپه جنګ کي قتل کړې شی.نودهغه د قتل نه روسته دهغه په مال کي جزیه نشی مقررکولې.نودغه شان چې په خپل مرګ مړ شی.هم به نشی مقررکولې﴾

وَلِأَنَّ شَرْعَ الْعُقُوبَةِ فِي الدُّنْيَا لَا يَكُونُ إلَّا لِدَفْعِ الشَّرِّ وَقَدْ انْدَفَعَ بِالْمَوْتِ وَالْإِسْلَامِ،

ژباړه وتشریح:- ﴿بل عقلی دلیل دا بیانوی﴾ اوځکه چې مقررکول د سزا په دنیا کي نه وی مګر لپاره د لرې کاوه د شراویقیناً هغه ﴿شر﴾ دفع شو په مرګ باندې اوپه اسلام باندې ﴿یعنی جزیه چې مقرر کولې شی.نودا یو ډول سزا ده.چه کافرته دهغه په کفرباندې په دنیا کښې ورکولې شی.هم دا وجه ده.چه ذمی کافرکله جزیه ورکوی.نوپه رسوائې اوذلت باندې ئې ورکوی.اودا جزیه چې په ده باندې په دنیا کښې مقررکولې شی.نوددې لپاره چې دده د شرنه مسلمانان محفوظ وی.هغه داسې چې په ده باندې جزیه مقرر وی.نودې به د جزیې د رقم پیدا کاوه لپاره مزدوری کوی.نوچه مزدوری کوی.دده ځان به هم په خپل کارکي

١) من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما أخرجه أبوداود فی الخراج باب ٣٣ رقم ٣٠٥٣ والترمذی فی الزکاة باب ١١ وأحمد فی المسند (٢٢٣/١)_

بوخت وي.اوچه بيا په مزدورئ باندې كومې پيسې اوګټي.نوهغه به د جزيه په شكل كې اسلامي حكومت ته وركړي.نومال ئې هم خرچ شو.نوپه دې طريقه به دې د مسلمانانو خلاف خپل جان او مال نشي استعمالولې.اوكه چيرته په ده باندې جزيه نه وه مقرر،نودې به د مسلمانانو خلاف سازشونو جوړولو او دوى ته نقصان رسولوته اوزګاروو﴾ اويقيناً لرې شو شر ﴿ددې كافر﴾ په مرګ سره ﴿چه مړ شو.نودده د شرويره ختمه شوه﴾ اوپه اسلام سره ﴿چه مسلمان شو.نودده د شر ويره ختمه شوه.نودكومې ويرې د امله چې په كافرانوباندې جزيه مقررشوې وه.هغه ويره ختمه شوه.نو جزيه هم ختمه شوه.ګويا چې د كافرانو د شر نه ويره د جزيه مقرر كاوه سبب وو.اودا قاعده ده.چه په انتفاء د سبب سره انتفاء د مسبب راځي﴾

وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنْ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا وَقَدْ قَدَرَ عَلَيْهَا بِنَفْسِهِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ، وَالْعِصْمَةُ تَثْبُتُ بِكَوْنِهِ آدَمِيًّا وَالذِّمِّيُّ يَسْكُنُ مِلْكَ نَفْسِهِ فَلَا مَعْنَى لِإِيجَابِ بَدَلِ الْعِصْمَةِ وَالسُّكْنَى.

حل اللغة: ① النصرة:مدد ② يسكن:اوسيږي

ژباړه وتشريح:- ﴿بل عقلي دليل دا بيانوي﴾ اوبله دا چې دا ﴿جزيه﴾ واجب شوې ده په بدل كې د نصرت په حق زموږ كې ﴿يعنى چې په دارالاسلام كې مسلمان اوسيږي.نوپه ده باندې لازم دى.چه دې به په خپل جان ومال سره د اسلامي حكومت ساتنه كوى.اود مسلمان نه ددې امداد توقع كيداې شي.خود ذمي نه نشي كيدې.ځكه چې ذمي په دين كې دغيرمسلمو خلګو مرسته اومدد كوى.نوددې نصرت اومدد په بدله كې په دې ذميانوباندې جزيه مقرركولې شي.نودا خبره ثابته شوه.چه جزيه زموږ مسلمانانو په حق كې د نصرت نه بدل دې.يعنى كوم نصرت چې په مسلمانانود اسلامي حكومت سره واجب وو.دهغه نصرت په ځاې په ذميانوجزيه مقررشوې ده. نوجزيه بدل شو.اونصرت مبدل منه﴾ اويقيناً دې قادرشوې دې په دې ﴿نصرت﴾باندې په خپله روسته داسلام قبلولو نه، ﴿اوپاته كه امام شافعي رحمه الله دا فرمائي.چه جزيه د عصمت په بدله كې واجب شوې ده.اوعصمت ده ته حاصل شوې دې. نو جزيه ترې نه ساقطيږي.نودهغې نه ځواب دا دې.چه﴾ اوعصمت ثابتيږي په كيدو دده ﴿نومسلم﴾ سره چې دې بنيادم دې. ﴿يعنى هرانسان معصوم الدم دې.البته كافرچه مباح الدم ګرځي.نودا دهغه د كفر په وجه ګرځي.نو موږ دا نه منو.چه جزيه د عصمت په بدله كې واجب ده.بلكه عصمت خو هغه ته د آدميت په وجه حاصل دې.البته د كفرپه وجه دغه عصمت زائله شوې دې.اوچه كفرختم شو.نوعصمت دوباره راغلۀ.اوپاته كه امام شافعي رحمه الله دا فرمائي.چه دا جزيه دده نه ځكه اخستې شي.چه دې په اسلامي ملك كې اوسيږي.اوده ته يوځل ساتنه حاصل شوې دې.اودې ددغه ساتنه نه مستفيد شوې دې.نوپه اسلام راوړلو سره جزيه نه ختميږي.ځكه چې د جزيه دكوم شي په عوض كې مقرر شوې ده.هغه ده ته حاصل شوې دې.نودهغې نه ځواب دا دې.﴾ او ذمي اوسيږي په ملكيت خپل كې ،نو نشته څه وجه د واجبولو د بدل عصمت لپاره ﴿چه په دغه نوم مسلم باندې جزيه ځكه واجب ده.چه دده نفس ته يوځل عصمت ملاؤ شوې دې﴾ او ﴿نشته څه وجه چې جزيه عوض دې د﴾ اوسيدو نه ﴿په دارالاسلام كې په امن سره.نوهركله چې دا ثابته شوه.چه جزيه نه د عصمت نه بدل دې.اونه په دارالاسلام كې د اسيدو نه بدل دې.بلكه دا د كافرد شرنه د ساتنه لپاره مقرر شوې ده.نوچه كله كافرمسلمان شو.يا مړ شو.نودهغه د شر نه ساتنه راغلو.ځكه به جزيه ساقطيږي﴾

ددوو كالوپه جزيه كې تداخل

(وَإِنْ اجْتَمَعَتْ عَلَيْهِ الْحَوْلَانِ تَدَاخَلَتْ. وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَمَنْ لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ خَرَاجُ رَأْسِهِ حَتَّى مَضَتْ السَّنَةُ وَجَاءَتْ سَنَةٌ أُخْرَى لَمْ يُؤْخَذْ) وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.[1] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللَّهُ: يُؤْخَذُ مِنْهُ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ

[1] القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في البحرالرائق (١١٢\٥)والدرالمختار(٢٩٥\٣) والخانية (٤٧٦\٤) والهندية (٢٤٤\٢) ورد المحتار(٢٩٦\٣) نقلاً عن القول الراجح (٤٩٤\١)-

ژباړه وتشریح:- اوکه جمع شي په ده «ذمي» باندې «جزیه» ددو کلونو،نوتداخل به راځي په دې کې «یعني چې د یوکال جزیه ورکړي.نودا به د بل کال د جزیه نه هم کافي کیږي» اوپه جامع صغیرکې دي.چه دکوم کس نه وانه اخستې شو خراج د سردده «یعني جزیه» تردې چې تیرشوکال او راغلو بل کال،نو نه به شي اخستې د ده نه «دبل کال جزیه،بلکه داولني او دوهم کال دواړو لپاره د یوکال جزیه اخستل کافي کیږي» اودا حکم په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله باندې دې.او فرمائیلي دي.امام ابویوسف اوامام محمد رحمه الله چې اخستې به شي دده نه «دبل کال جزیه،اوتداخل جائز نه دې.یعني ددو کالو جزیه به ترې اخستې شي» اودا قول «دعدم جواز د تداخل» دامام شافعي رحمه الله هم دې.

دکال پوره کېدو نه وړاندې دمرګ نه روسته د جزیه حکم

(وَإِنْ مَاتَ عِنْدَ تَمَامِ السَّنَةِ لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا، وَكَذَلِكَ إِنْ مَاتَ فِي بَعْضِ السَّنَةِ)

ژباړه وتشریح:- اوکه مړ شو «ذمي» په وخت د پوره کیدو د کال «اولني» کې «چه اولني کال پوره شي.او دوهم پیل شي» نو نه به شي اخستې دده «ذمي» نه «یعني دده دمال نه» په قول د دوی «امامانو» ټولو کې «که امام شافعي دې.اوکه احناف دي»اودغه ډول حکم دې «چه جزیه به نشي اخستې» چې مړ شي په بعضې برخه د کال کې ، «ځکه که دې د وجوب نه وړاندې مړشوې وی.نوخبره ښکاره ده.اوکه د وجوب نه روسته مړ شوې وی.نوزموږ داحنافو رحمهم الله په نیزباندې په مرګ سره دجزیه وجوب ساقط شو.لکه څنګه چې وړاندې تیرشو»

أَمَّا مَسْأَلَةُ الْمَوْتِ فَقَدْ ذَكَرْنَاهَا وَقِيلَ خَرَاجُ الْأَرْضِ عَلَى هَذَا الْخِلَافِ. وَقِيلَ لَا تَدَاخُلَ فِيهِ بِالِاتِّفَاقِ.

ژباړه وتشریح:- اوهرچه مسئله د مرګ ده، «چه ذمي مړشي.نودده په مال کې به جزیه وی اوکه نه» نوموږ ذکرکړې ده، «په دې قول سره چه،لأن شرع العقوبة في الدنيا لا تكون إلا لدفع الشر وقد اندفع بالموت والإسلام ،،» اوونیلی شوی دی.چه خراج د زمکې هم په دې خلاف باندې دې. «یعني که د دوو کالوخراج په مځکه باندې جمع شي.نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد یوکال په ورکولوسره د بل کال خراج ساقطیږي .ځکه چې تداخل به کې راځي.اودصاحبینو اوامام شافعي (رح) په نیز نه ساقطیږي»اوونیلي شوی دی. چې نه داخلیږي «دیوکال خراج دبل کال په خراج د زمکې کې» په اتفاق سره «د ټولو امامانو په نیز ،د دوهم روایت وجه چې د زمکې په خراج کې تداخل جائز نه دې.دا ده.چه خراج د زمکې په حالت د بقاء کې چې مځکه پاته وی.نودا موئنة دې.قطع نظرددې نه چې دا خراج دکفر عقوبت او سزا ده اوکه نه ده،هم دا وجه ده.که یومسلمان خراجي مځکه واخلي.نوپه ده باندې خراج واجبیږي.نوپکارده چې په دې کې تداخل رانشي.په خلاف دجزیة ځکه چې په جزیه کې ابتداء اوبقاء دواړوکې معنی دعقوبت پرته ده.هم دا وجه ده.چه د مسلمان په حق کې بیخی نه واجبیږي.نوهرکله چې په جزیه کې معنی د عقوبت ابتداءً او بقاءً شته.نوجزیه عقوبت شو.اوپه عقوباتو کې تداخل جائز دې.لکه ګورئ چې یوکس دوې [دوه] نفر قتل کړي.نود دواړو په عوض کې به دې قصاص کولای شي . دا نه چې د یوپه بدل کې قصاص شي.اودبل په بدل کې پرې دیت لازم شي»

لَهُمَا فِي الْخِلَافِيَّةِ أَنَّ الْخَرَاجَ وَجَبَ عِوَضًا، وَالْأَعْوَاضُ إِذَا اجْتَمَعَتْ وَأَمْكَنَ اسْتِيفَاؤُهَا تُسْتَوْفَى، وَقَدْ أَمْكَنَ فِيمَا نَحْنُ فِيهِ بَعْدَ تَوَالِي السِّنِينَ، بِخِلَافِ مَا إِذَا أَسْلَمَ لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ اسْتِيفَاؤُهُ.

حل اللغة: ① الاعواض:جمع د عوض ده بدله ② الاستیفاء:تمام (پوره) حاصلول ③ التوالي:پرله پسې والي

ژباړه وتشریح:- دصاحبینو لپاره دلیل په خلافي مسئله کې «چه په ده باندې د دوو کالو جزیه جمع شي. نو تداخل په کې جائز نه دې» دا دې.چه خراج واجب شوې دې په عوض کې «لکه څنګه چې وړاندې تیرشوی دې» او «قانون دا دې.چه» عوضونه چې کله جمع شي.اوممکن وی حاصلول د هغې «عوضونو»

نږوره به اخستلې شي «لکه څنګه چې په عامو اعواضوکي وي.مثلاً چې يوکس باندې ديوکس دوې [دوه] زره روپئ وي. زرروپئ د يوڅيز وي.اوزر روپئ د بل شی وي.نوچونکه ده د دوو زرو په عوض کي دوې [دوه] شيان (څيزونه) اخستي دي .نودې به دوې [دوه] زره روپئ ورکوي» اويقيناً ممکن ده.وصولی په هغه مسئله کي چې موږ په هغې کي يو . «چه مسئله د جزيه ده.» روسته د تيريدو د دوو کلونو نه، «مثلاً چې دې ژوندي وي.نود ژوندی کس نه دمال وصولی ممکن ده» په خلاف دهغه صورت کي چې دې اسلام قبول کړي.څکه چې متعذره شوه وصولي «دجزيه روسته د اسلام قبلولو نه،څکه چې دايمان د امله مؤمن معزز او محترم اوګرځيدلو.نوپه کوم حيثيت چې جزيه واجب شوې وه.چه عقوبت دې.په هغه حيثيت دده نه جزيه نشي اخستې.اوپه کومه مسئله کي چې موږ يو.نودا مسئله خود ذمی کافر دجزيه مسئله ده.د مسلمان دجزيه مسئله نه ده»

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهَا وَجَبَتْ عُقُوبَةً عَلَى الْإِصْرَارِ عَلَى الْكُفْرِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ، وَلِهَذَا لَا يُقْبَلُ مِنْهُ لَوْ بَعَثَ عَلَى يَدِ نَائِبِهِ فِي أَصَحِّ الرِّوَايَاتِ، بَلْ يُكَلَّفُ أَنْ يَأْتِيَ بِهِ بِنَفْسِهِ فَيُعْطِيَ قَائِمًا، وَالْقَابِضُ مِنْهُ قَاعِدٌ. وَفِي رِوَايَةٍ: يَأْخُذُ بِتَلْبِيبِهِ وَيَهُزُّهُ هَزًّا وَيَقُولُ: أَعْطِ الْجِزْيَةَ يَا ذِمِّيُّ فَثَبَتَ أَنَّهُ عُقُوبَةٌ، وَالْعُقُوبَاتُ إِذَا اجْتَمَعَتْ تَدَاخَلَتْ كَالْحُدُودِ،

حل اللغة: ① **الاصرار**:هميشوالې ② **التلبيب**:د سينې سره چې کومه‌کالی وي.هغه به ترې اونيسی.چه په پښتو کي ترې په ګريبان سره تعبير کولې شي

زياره وتشريح:- اودامام ابوحنيفه‌رحمه الله لپاره دليل دا دې.چه دا «جزيه» واجب شوې ده په حيثيت د عقوبت «اوسزا» «په ذمی باندې.چه دې» هميشوالې کوی په کفرباندې، «نوهرکله چې دده داسلام غوندې بهترين دين په مقابله کي کفرخوښ کړلو.نوده ته به ددې سزا د جزيه په صورت کي ورکولې شي» لکه څنګه چې موږ ددې بيان اوکړلو «په دې قول سره ،،لأنها وجب عقوبة،،» اوددې امله «چه دا جزيه د سزا په طور په ذمی باندې واجب ده.چه دا ده لپاره په دنيا کي رسوائی ده» نه به شی قبلولې دده «ذمی» نه که راوليږی «بيت المال ته» په لاس د قاصد خپل باندې په اصح روايت کي د رواياتو نه. «څکه چې دې نې د خپل قاصد په لاس باندې راوليږی.نودې د رسوائی نه بچ شو.حالانکه د جزيه مقرر کاوه په مقاصدوکي يومقصد دا هم دې.چه دې رسوا او ذليله شي» بلکه دې به مکلف «مجبوره» کولې شی.چه راوړی دا «جزيه» په خپله باندې او ورکوی به ئې په ولاړه اواخستونکي دده به وی ناست «يعنی دې به ولاړ وي.اوځوک چې ترې جزيه وصولوی.هغه به په عزت باندې ناست وي» اوپه يو روايت کي دی.چه اخلی به نې ترې «اخستونکي او وصولونکي» په تلبيب سره «يعنی د سينې سره چې کومه‌کالی وي.هغه به ترې اونيسی.چه په پښتو کي ترې په ګريبان سره تعبير کولې شي» اوحرکت به ورته ورکړی په حرکت ور کاوه سره «يعنی ګريبان به ترې په زور سره اونيسی» او «جزيه اخستونکې به» ورته وائی. راکړه جزيه اې ذميه! اوونيلې شوی دی.چه «داسې به ورته وائی» اې دالله دشمنه!،نوثابته شوه.چه دا جزيه عقوبت دې.اوعقوبات چې کله جمع شی.نوپه هغې کي تداخل راځی.لکه حدود چې دی.

وَلِأَنَّهَا وَجَبَتْ بَدَلًا عَنِ الْقَتْلِ فِي حَقِّهِمْ وَعَنِ النُّصْرَةِ فِي حَقِّنَا كَمَا ذَكَرْنَا، لَكِنْ فِي الْمُسْتَقْبَلِ لَا فِي الْمَاضِي؛ لِأَنَّ الْقَتْلَ إِنَّمَا يُسْتَوْفَى لِحِرَابٍ قَائِمٍ فِي الْحَالِ لَا لِحِرَابٍ مَاضٍ، وَكَذَا النُّصْرَةُ فِي الْمُسْتَقْبَلِ؛ لِأَنَّ الْمَاضِيَ وَقَعَتِ الْغُنْيَةُ عَنْهُ.

حل اللغة: ① **الحراب**:فتنه ② **الغنية**:بې پرواهی

زياره وتشريح:- «وړاندې دامام ابوحنيفه‌رحمه الله لپاره بل دليل بيانوی» اوڅکه چې دا «جزيه» واجب شوې ده په بدل د قتل کي په حق د هغوی «کافرانو» کي لکه څنګه چې موږ ذکرکړه. «چه ،،ولأنها وجبت عن النصرة في حقنا،،» البته دومره ده.چه «دا د قتل نه بدل ده.نودا ښکاره کيږی» په مستقبل کي «چه په راروانه زمانه کي دا ذمی کافرپه جزيه ور کاوه سره د قتل نه بچ شو» نه په ماضی کي «څکه چې ماضی زمانه خو تيره شوې ده» اودغه ډول نصرت «زموږ په حق کي ښکاره کيږی» په مستقبل کي ،څکه چې ماضی

راغلي ده بې پرواهي د هغې «ماضي» نه، «او په دې باندې دليل چې جزيه د كافر په حق كې د قتل اوزمور په حق كې د نصرت نه په مستقبل كې بدل دې.په ماضي كې نه دې.دليل دا بيانوي» ځكه چې قتل كولاى شي «كافر» د هغه فتنة د امله كومه چې قائمه ده في الحال «يعنې چې كافر قتل كړې شي.نو په دغه وخت كې چې كوم جنګ پيل شوې دې.اودكافرانو د اړخه چې مسلمانانوته د تكليف رسيدو ويره ده.هغه به ختمه شي» نه دهغه فتنة لپاره چې تيره شوې وى. «يعنې كه وړاندې د مسلمانانو اوكافرانو په مينځ كې جنګ شوې وى.نودهغه جنګ هغه فتنه او ويره خو ختمه شوې وى»

زياتې تشريح:- «قوله لكن في المستقبل لا في الماضي» دجزية د وجوب تحقق كه د قتل عوض وى اوكه د مسلمانانو په حق كې د نصرت عوض وى،دا به د مستقبل او راروانې زمانې لپاره متحقق كيږي.د تيرشوې زمانې لپاره به نه متحقق كيږي.په اول صورت كې كه دا د قتل نه عوض شي.نو دا د راروانې زمانې لپاره ځكه ده. چې په راروانه زمانه كې به ذمي د قتل نه بچ شي.اوپه دوهم صورت كې كه جزيه د نصرت نه عوض وى.نوددې وجوب د مستقبل او راروانې زمانې لپاره متحقق كيږي.يعنې چې ذمي جزيه وركوى.نود ده جزيه وركول اسلامي حكومت سره امداد دې.چه ددې په ذريعه به اسلامي حكومت د نورو فتنو او جنګونو نه بچ شي.

ثُمَّ قَوْلُ مُحَمَّدٍ فِي الْجِزْيَةِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ وَجَاءَتْ سَنَةٌ أُخْرَى، چور بَعْضُ الْمَشَايِخِ عَلَى الْمُضِيِّ مَجَازًا. وَقَالَ: الْوُجُوبُ بِآخِرِ السَّنَةِ، فَلَابُدَّ مِنَ الْمُضِيِّ لِيَتَحَقَّقَ الِاجْتِمَاعُ فَتَتَدَاخَلَ.

ژباړه وتشريح:- بيا قول دامام محمد رحمه الله په اړه د جزيه كې «كوم چې ئې كړې دې» په جامع صغير كې «نو هغه» دا دى.چه راشي بل كال، «نودامام محمد رحمه الله د جامع صغيردا عبارت» حمل كړې بعضې عالمانو رحمهم الله په تيريدو باندې «يعنې لفظ دجاء اګرچه د راتلو لپاره استعماليږي.خو دلته ترې مراد مضي يعنې تيريدل دى .يعنې چې دوهم كال هم تيرشى.» مجازاً «اومجازاً ځكه دې.كله مياشت داخله شى.نو لازمى خبره ده.چه ددغه مياشتې آخربه هم راځي.نود مياشتې د اول تيريدل د مياشتې د آخر تيريدو لپاره لازم دى.نودا د قبيلې دذكرد ملزوم مراد ترې نه لازم خنې دې.اودا نه دې مګرمجاز.» اوونيلى دى «دغه بعضو مشائخو» رحمهم الله چې وجوب «د جزيه راځي» په آخر دكال باندې «چه كله د كال آخر راشي. نوهله به جزيه لازميږي» نو نشته مخلص دتيريدو «د كال نه،يعنې دكال تيريدل ضرورى دى. او دا د دوهم كال پوره تيريدل ځكه ضرورى اوګرځولې شو» چې ثابت شي جمع كيدل «د دوو كلونو» نوتداخل «د دووكالو دجزيه» به واقع شي. «لنډيز دا شوه.چه ددې مشائخو په نيز به دوهم كال هله حسابيږي. چې پوره كال تير شي.دا نه چې دوهم كال داخل شي .نوبه ده باندې جزيه لازم شوه»

وَعِنْدَ الْبَعْضِ هُوَ مُجْرًى عَلَى حَقِيقَتِهِ، وَالْوُجُوبُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بِأَوَّلِ الْحَوْلِ فَيَتَحَقَّقُ الِاجْتِمَاعُ بِمُجَرَّدِ الْمَجِيءِ. وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْوُجُوبَ عِنْدَنَا فِي ابْتِدَاءِ الْحَوْلِ، وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ فِي آخِرِهِ اعْتِبَارًا بِالزَّكَاةِ.

حل اللغة: ① المجئ: راتلل ② الحول: كال

ژباړه وتشريح:- اوپه نيزد دبعضې مشائخو رحمهم الله دا «كلام دامام محمد رحمه الله په جامع صغيركې چې ،،وجاءت سنة أخرى،، جاري دې په حقيقت خپل باندې او وجوب «دجزيه» راځي په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله په اول د كال «چه څنګه كال پيل شي.نوجزيه واجب شوه» نوثابتيږي جمع كيدل «د دوو كلونو» صرف په راتلو «او شولو» او زيات صحيح قول دا دې.چه وجوب «د جزيه» زمونږ «داحنافو» رحمهم الله په نيز واقع كيږي،په اول دكال باندې «چه څنګه دكال اول پيل شي.نوددغه كال جزيه واجب شوه» او په نيزدامام شافعي رحمه الله «واجبيږي جزيه» په آخرد كال باندې، «چه كال ختم شي.نوجزيه به واجب شي» د امله د قياس نه په زكاة باندې «يعنې په زكاة كې وجوب هله راځي.چه كال تيرشي.د كال د تيريدو نه وړاندې زكاة نه

واجبيږي.دغه ډول دلته په باب د جزيه كي هم ،جزيه به هله واجبيږي.چه كال تير شي.خودا قياس صحيح نه دې.ځكه چې په زكاة كې د كال تيريدل د نماء لپاره شرط دي.چه نماء حاصله شي.اونماء د كال نه په كمه موده كي نه حاصليږي. بلكه چې كال تير شي.نوهله نماء حاصليږي.ځكه چې په كال كي څلور فصلونه وي.ددې پوره تفصيل په كتاب الزكاة كي تير شوي دي.دلته مو ورته صرف اشاره غوندې اوكړله﴾

وَلَنَا أَنَّ مَا وَجَبَ بَدَلًا عَنْهُ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا فِي الْمُسْتَقْبَلِ عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ فَتَعَذَّرَ إِيجَابُهُ بَعْدَ مُضِيِّ الْحَوْلِ فَأَوْجَبْنَاهُ فِي أَوَّلِهِ.

ژباړه وتشريح:- او زمونږ ﴿داحنافو ﷺ لپاره ﴿دليل دا دې چه﴾ كومه جزيه چې واجبه شوې ده په بدل كي ددې ﴿قتل﴾ نه،هغه نه متحققه كيږي،مگرپه مستقبل كې ،لكه څنګه چې مونږ ددې بيان اوكړلو. ﴿په دې قول سره چې ،،أن الجزية بدل عن القتل في حقهم وعن النصرة في حقنا وهذا إنما يتحقق في المستقبل لا في الماضي) نو متعذرشو ﴿يعني مشكل اوگران شو﴾ واجبول ددې ﴿جزيه﴾ روسته د تيريدو د كال نه، نو مونږ واجب كړله دا ﴿جزيه﴾ په اول ددې ﴿كال﴾ كي ، ﴿ ځكه چې د كال اول د وجوب جزيه د ممكن والي اولني وخت وي.﴾

(فَصْلٌ) (وَلَا يَجُوزُ إِحْدَاثُ بِيعَةٍ وَلَا كَنِيسَةٍ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا خِصَاءَ فِي الْإِسْلَامِ وَلَا كَنِيسَةَ} (١) وَالْمُرَادُ إِحْدَاثُهَا

د لغت حل :① **احداث**:جوړول ② **بيعة**:د يهوديانو عبادت خانه ③ **كنسية**:د نصاراو عبادتخانه ④ **الخصاء**:خان خصى كول چې په جماع باندې قادر پاتې نشي

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ فصل ﴿ثابت دې په دې بيان كي چې د ذميانو لپاره د سكنى وغيره په اړه كي څه جائز دي اوڅه جائزنه دي﴾ اوجائز نه دى از سرو نو جوړول د عبادت خانې د يهودو او د عبادت خانې د عيسايانو په دارالاسلام كي ،د امله د قول د نبي ﷺ نه چې نشته خصى كول په اسلام كي ﴿چه يو سړې خپل خان خصى كړي.اودې په جماع باندې قادر پاتې نشي﴾ اونه كنيسه ﴿يعني عبادت خانه د يهوديانو﴾ اومراد د دې نه د اول نه جوړول ددې دى. ﴿يعني په دارالاسلام كي د يهودو دعبادت خانې داول نه جوړول جائز نه دى .اوكه بالفرض د وړاندې نه موجود وى.نودهغې په اړه كي دا حديث نه دې.ځكه چې د نورو رواياتو نه معلوميږي.چه كله اسلامى لښكر په دارالحرب باندې غلبة اوكړي.نودهغوى عبادت خانوته به څه نه وائي. البته كوم حديث چې علامه مرغيناني نقل كړې دې.امام بيهقي اوابوعبيد ﷺ دا نقل كړې دې.خودا حديث ضعيف دې.تفصيل په نصب الرايه او بنايه شرح هدايه كي كتلې شئ﴾

تشريح:- دمسلمانانوښارونه په درې قسمه دي.① يوهغه چې هغه مسلمانانو آباد كړې وى.لكه بصره، شوه. نو په داسې ښارونوكي دعالمانو ﷺ په اجماع سره د غيرمذهبودعبادت خانو جوړولواجازت نشته.اودوى ته به په دې كي د خپل مذهبى رسوماتو اجازت نشي وركولې② دوهم هغه ښارونه دي.چه مسلمانانوپه زور باندې فتح كړې وى.نوپه اجماع دعالمانوپه داسې ښارونوكي دغيرمذهبودعبادتخانوجوړول جائز نه دى. اوكه د وړاندې نه په كي موجود وى.نود هغې نړول واجب دى اوكه نه، په دې اړه كي د عالمانو ﷺ اختلاف دې.دامام شافعي اومالك ﷺ اودغه ډول د امام احمد ﷺ په يوقول كي به دا وجوباً نړولې شي. او د احنافو ﷺ په نيزبه غيرمذهبو ته حكم كولې شي.چه دا په كورونوكي بدلې كړي.اودوى ته به په هغې كي د عبادت اجازت نشي وركولې.خونړولې به هم نشي.خودا حكم په دې شرط دې.چه د فتح نه روسته ئې هغوى سره صلح كړې وى.اودوى ذميان جوړ كړې شوي وى.ځكه صحابه كرامو ﷺ ډير ښارونه هم دغه فتح كړې وو.اودهغوى عبادت خانې ئې نه وې نړولې③ هغه ښارونه چې په صلح باندې فتح شوي وى.نوكه په دې ئې

١) من حديث ابن عباس ﷺ أخرجه البيهقي في سننه الكبرى (١١٠\٤١)۔

ورسره صلح كړې وي.چه مخكښه به د دغه ذميانووي.اوخراج به اسلامي حكومت ته وركوي.نوهغوى لره دعبادت خانوجوړول جائز دى.اوكه په دې ئې ورسره صلح كړې وي.چه حكومت به د مسلمانانو وي.اودوى به جزيه وركوي.نوپه دې صورت كې چې دوى د عبادتخانوپه اړه كې څنګه فيصله كړې وي.هغه شان به وي.كه د مسلمانانونه ئې د عبادتخانود جوړولو اجازت اخستې وي.نوبيا ئې نشي منع كولې.اوكه اجازت ئې ترې نه وى اخستې.نوبيا به ئې منع كوى.اوغوره دا ده.چه دوى سره په دې صلح اوكړې.چه نورې عبادت خانې به نه جوړوى.لكه څنګه چې حضرت عمر ﷺ كړې وو.

د نړيدلې ګرجه اوعبادت خانې حكم

(وَإِنْ انْهَدَمَتْ الْبِيَعُ وَالْكَنَائِسُ الْقَدِيمَةُ أَعَادُوهَا) لِأَنَّ الْأَبْنِيَةَ لَا تَبْقَى دَائِمًا، وَلَمَّا أَقَرَّهُمْ الْإِمَامُ فَقَدْ عَهِدَ إلَيْهِمْ الْإِعَادَةَ إلَّا أَنَّهُمْ لَا يُمَكَّنُونَ مِنْ نَقْلِهَا؛ لِأَنَّهُ إحْدَاثٌ فِي الْحَقِيقَةِ، وَالصَّوْمَعَةُ لِلتَّخَلِّي فِيهَا بِمَنْزِلَةِ الْبِيعَةِ، بِخِلَافِ مَوْضِعِ الصَّلَاةِ فِي الْبَيْتِ؛ لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلسُّكْنَى،

حل اللغة: ① الصومعة: د راهب عبادت خانه ② دائمة: هميشه لپاره

زباړه وتشريح:- اوكه اونړيدله عبادتخانه د يهوديانواوزړې ګرجې د عيسايانو،نودوباره به ئې جوړې كړي. څكه چې عمارتونه نه پاتې كيږي هميشه دپاره،اوهركله چې برقرار پاتې كړلو امام ﴿دمسلمانانو ذميانو لره په دارالاسلام كې﴾ نويقيناً ده وعده اوكړه دوى ﴿ذميانو﴾ سره د دوباره جوړولو ﴿كه چرته اونړيږي عبادت خانې دهغوى﴾ البته دا ده.چه قدرت به نشي وركولې دوى ته دنقل كاوه ددې ﴿عبادتخانو ديوځاې نه بل ځاې ته﴾ څكه چې دا ﴿داول نه﴾ جوړول دي په حقيقت كې ﴿اوپه دارالاسلام كې از سرنوځ[illegible] دعبادتخانو جوړول جائزنه دي﴾ اوصومعه لپاره د ځانلوالى ﴿يعنى هغه ځاې چې د خلګ ونه په كې جلا په تنهائي كې عبادت كوى﴾ پشان ديهوديانود عبادت خانې دې. ﴿نوكوم احكام چې دهغې دى.هغه به ددې هم وي﴾ په خلاف د ځاې دلمانځه په كوركې ﴿چه يوكس په كوركې يوځاې دخپل عبادت لپاره جوړ كړې وى.څكه چې دا د ﴿دعبادت ځاې﴾ تابع دې د اوسيدو ﴿دكور،اوتابع لره حكم د متبوع وي﴾

وَهَذَا فِي الْأَمْصَارِ دُونَ الْقُرَى؛ لِأَنَّ الْأَمْصَارَ هِيَ الَّتِي تُقَامُ فِيهَا الشَّعَائِرُ فَلَا تُعَارَضُ بِإِظْهَارِ مَا يُخَالِفُهَا وَقِيلَ فِي دِيَارِنَا يُمْنَعُونَ مِنْ ذَلِكَ فِي الْقُرَى أَيْضًا؛ لِأَنَّ فِيهَا بَعْضَ الشَّعَائِرِ،

حل اللغة: ① الامصار: جمع د مصر،ښار ② القرى: جمع د قرية،كلي ③ الشعائر: نښې ،علامې

زباړه وتشريح:- اودا حكم ﴿دعدم جواز د عبادتخانو﴾ په ښارونوكې دې.نه په كلوكې ﴿بلكه په كلوكې دعبادتخانو جوړول ذميانو لره جائز دى.اوپه ښارونوكې د عدم جواز وجه دا بيانوي﴾ څكه چې ښارونه هغه ځايونه دى.چه قائمولې شى په دې ﴿ښارونو﴾ كې ،شعائر ﴿نښې د دين دالله چې دين اسلام دې.لكه آذان وغيره شو﴾نو نه به شى كولې معارضه ددې ﴿شعائراسلام﴾ سره په اظهاردهغه څه چې مخالف وى ددې ﴿اسلامي شعائرو﴾ اوونيلې شوى دى چې زمونږ په ملكونوكې به منع كولاى شى د دې ﴿جوړولود عبادتخانو﴾ نه په كلوكې هم څكه چې په دې ﴿كلو﴾ كې بعضې شعائر ﴿اسلام﴾ شته، ﴿لكه اذان اقامت وغيره شول﴾

وَالْمَرْوِيُّ عَنْ صَاحِبِ الْمَذْهَبِ فِي قُرَى الْكُوفَةِ؛ لِأَنَّ أَكْثَرَ أَهْلِهَا أَهْلُ الذِّمَّةِ. وَفِي أَرْضِ الْعَرَبِ يُمْنَعُونَ مِنْ ذَلِكَ فِي أَمْصَارِهَا وَقُرَاهَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا يَجْتَمِعُ دِينَانِ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ} ( ).

زباړه وتشريح:- اونقل شوى دى د صاحب مذهب ﴿حضرت امام ابوحنيفه﴾ ﷺ نه په كلو د كوفې كې ، ﴿عدم منع كول د جوړولو دعبادتخانونه،او وجه د نه منع كولودا بيانوى﴾څكه چې زيات اوسيدونكى ددى

حديث أبي هريرة ﷺ أخرجه اسحاق بن راهويه في مسنده ورواه عبدالرزاق في مصنفه (نصب الراية ۶۸۲|۳)_

ذميان دی.اوپه مخکه د عربوکي به منع کولای شي ددې «عبادتخانود جوړولو» نه.په بنا رونوددې «عربي مخکه» کي اوپه کلوددې «عربي مخکه» کي .د امله د قول دنبي ﷺ نه چي نه به شي جمع کولې دوې [دوه] دينونه په جزيرة العرب کي «يعني دلته به ذميان نشي پرينبولې (پريخودې. بلکه صرف اسلام اومسلمانان به وی.دا حديث نبي ﷺ په خپل مرض الوفات کي فرمائلې وو.اوامام اسحاق بن راهويه رحمه الله په خپل مسند کي نقل کړې دی»

قال (وَيُؤْخَذُ أَهْلُ الذِّمَّةِ بِالتَّمَيُّزِ عَنِ الْمُسْلِمِينَ فِي زِيِّهِمْ وَمَرَاكِبِهِمْ وَسُرُوجِهِمْ وَقَلَانِسِهِمْ فَلَا يَرْكَبُونَ الْخَيْلَ وَلَا يَعْمَلُونَ بِالسِّلَاحِ. وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَيُؤْخَذُ أَهْلُ الذِّمَّةِ بِإِظْهَارِ الْكُسْتِيجَاتِ وَالرُّكُوبِ عَلَى السُّرُوجِ الَّتِي هِيَ كَهَيْئَةِ الْأُكُفِ)

حل اللغة: ① **زي:** لباس ② **مراكب:** جمع د مرکب ،سورلی ③ **سروج** جمع د سراج. د اس زين ④ **قلانس** جمع د قلسنوة، ټوپۍ) ⑤ **الخيل:** اسونه ⑥ **السلاح:** وسلې ⑦ **الكستيجات** زنار. هغه غاړکۍ چي يهوديان ئې د مذهبي نښې په طور باندې په خپله غاړه کښې اچوی

ژباړه وتشريح:- صاحب قدوري رحمه الله فرمائيلی دی.چه سختي به کولای شي د ذميانو سره په تميزکولوسره د مسلمانانو نه «يعني چي ذميان د مسلمانانو نه جلا معلوميږي» په لباس دهغوی «ذميانو» کي اوپه سورلواوپه زينونواوپه ټوپوکي ، «يعني دا شيان (څيزونه) به ددوی د مسلمانانو پشان نه وی.بلکه دمسلمانانوبه يو شان جامې،سورلي زينونو اوټوپۍ) وغيره وی.اوذميانوبل شان» نو نه به سوريږی «ذميان» په اسونو باندې ، «ځکه چي اس دعزت سورلی ده.اوذمي قابل داهانت دی»اونه به اوچوی وسله «ځکه چي په وسله کي سرې رعب داربنکاری.اوبکارده چي ذمي خوار او ذليله ښکاری» اوپه جامع صغيرکي دی.چه زورنه به ور کولای شي ذميانوته په ظاهرولو د زنارونو «چه دوی به زنارا چولې وی.ددې لپاره چي دا پيژندلې شي.چه دوی مسلمانان نه دی»اوپه سپرلۍ په زينونوباندې پشان دکتو «دخرواوقچرو.يعنې‌دوی چي کوم زينونه استعمالوی .هغه به داس زينونه نه وی.بلکه دخر کتې به وی»

وَإِنَّمَا يُؤْخَذُونَ بِذَلِكَ إِظْهَارًا لِلصَّغَارِ عَلَيْهِمْ وَصِيَانَةً لِضَعَفَةِ الْمُسْلِمِينَ، وَلِأَنَّ الْمُسْلِمَ يُكَرَّمُ، وَالذِّمِّيَّ يُهَانُ، وَلَا يُبْتَدَأُ بِالسَّلَامِ وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ الطَّرِيقُ،

حل اللغة: ① **الصغار:** ذلت ② **صيانة:** حفاظت ③ **ضعفة:** کمزوری ④ **يضيق:** تنګوی

ژباړه وتشريح:- اويقيناً سلوك به کولای شي دوی سره دغه «په امتياز سره د مسلمانانونه» لپاره دښکاره کاوه د ذلت ددوی «ځکه چي الله تعالی د جزيه ورکولوحکمت دا بيان کړې دې.چه دوی په ذلت او رسوائي سره جزيه ورکوی» او لپاره د ساتنه د کمزورو «اوغريبانانو» مسلمانانو «په اعتبارد دين سره يعني که ذميانوته د ښه خوراك اوپوشاك او استوګنه اجازت ورکړې شي.نوهسې نه چي کوم کمزوری او غريبانان مسلمانان دی. د هغوی په زړه کي دا راشي.چه دا دالله تعالی دشمنان دی.اودوی په ښه حالت کي ژوند تيروی.اومونږپه حق دين باندې يو.اوبيا هم د سختو او مشقتونو ژوندتيروو» او «دريم دليل دا بيانوی» اوځکه چي د مسلمان عزت کولې شی «دده داسلام په وجه» اود ذمي سپکوالي کولې شی «دده د کفرد وجې.نوځکه به ورسره داسي امتيازی سلوك کوی» اووړاندې والي به نه کوی په سلام اچولوکي به هغه «ذمي» باندې، «يعني مسلمان به په ذمي سلام نه اچوی.اوکه بالفرض هغه پرې سلام واچولو.نوصرف عليك به وائی» اوتنګوی به په ده «ذمي» باندې لاره «يعني په کومه لارکي چي مسلمان او کافريوځائې شي.اوهغه لار تنګه کوی.نومسلمان به ورته ځائې نه پريږدی»

فَلَوْ لَمْ تَكُنْ عَلَامَةٌ مُمَيِّزَةٌ فَلَعَلَّهُ يُعَامَلُ مُعَامَلَةَ الْمُسْلِمِينَ وَذَلِكَ لَا يَجُوزُ، وَالْعَلَامَةُ يَجِبُ أَنْ تَكُونَ خَيْطًا غَلِيظًا مِنَ الصُّوفِ يَشُدُّهُ عَلَى وَسَطِهِ دُونَ الزُّنَّارِ مِنَ الْإِبْرَيْسَمِ فَإِنَّهُ جَفَاءٌ فِي حَقِّ أَهْلِ الْإِسْلَامِ.

حل اللغة: ① **خيط:** تار، مزې ② **غليظ:** سخت ③ **الصوف:** وړۍ ④ **الابريسم:** ريښم ⑤ **جفاء:** بې وفائی

ژباړه وتشريح:- كه چرته نه وى نښانه امتيازى ﴿چه ذمى پرې په مسلمانانوكي پيژندې شي﴾نو كيداې شى ده سره معامله اوشي.معامله د مسلمانانو ﴿لكه په لاركي چي ورسره يوځائي شي.نومسلمان پرې سلام واچوى وغيره﴾ اودا ﴿دمسلمانانوپشان سلوك د ذمى سره كول﴾ جائز نه دې.او نښانه پكارده چي وى سپنسي (مزى) سخت د وړئ نه او ترى به ني په ملا خپله پورې نه ﴿به تړى﴾ زنارد ﴿چه جوړ شوې وى د﴾ رينسمو ﴿دا هغه پټى وى.چه يهوديان ئي د مذهبى شعارپه طور اچوى﴾ ځكه چي دا بي وفائى ده په حق د مسلمانانو كي ﴿ځكه چي د زنار په اچولو سره دمسلمانانود ژوند تيرولو د اصولو نه بڼكاره مخالفت دې.

حالانكه ذمى ته چي د قتل نه امان ملاؤ شوې دې.اوپه ده باندې جزيه مقرر شوې ده.نوپه دې شرط چي دې به داسي كارنه كوى.چه هغه د اسلام بڼكاره مخالف وى.اوزنار اچول داسلام نه ښكاره مخالفت دې﴾

وَيَجِبُ أَنْ يَتَمَيَّزَ نِسَاؤُهُمْ عَنْ نِسَائِنَا فِي الطُّرُقَاتِ وَالْحَمَّامَاتِ، وَيُجْعَلَ عَلَى دُورِهِمْ عَلَامَاتٌ كَيْ لَا يَقِفَ عَلَيْهَا سَائِلٌ يَدْعُو لَهُمْ بِالْمَغْفِرَةِ.

حل اللغة: ① **الطرقات** جمع د طريق، لاره ② **الحمامات** جمع د حمام، په ګرمو اوبو باندې د لامبلو لپاره تيار شوې غسل خاني

ژباړه وتشريح:- اوواجب دى چي ممتازې وى زنانه ددوى ﴿ذميانو﴾ د زنانوځ زموږ ﴿مسلمانانو﴾ نه په لارو او حمامونوكښي ﴿ښځوا زمانه كي به د ښځو لپاره جلا حمامونه وو.نوپكاردا ده.چه په لارواوحمامونوكي هم د مسلمانانواو ذميانو زنانه پيژندې شي.مثلاً دا چي د مسلمانانو زنانه په لاره كي په پرده كي وى. اوپه حمامونوكي دمسلمانانوښځو لپاره خاص ځايونه وى﴾ اوګرځولي به شى په كورونو ﴿يعنى د كورونو په دروازو﴾ باندې نښي ﴿لكه چي څه خاص رنګ كيږه ورته زوړنده وى.يابله څه نښانه وى.چه دا پيژندې شى.چه دا د كافركوردې﴾ ددې لپاره چي اونه دريږى په دغه ﴿دروازه﴾ باندې خيرغوستونكي ﴿چه څه ترې اوغواړى﴾ او دعا اوكړى دوى ﴿ذميانو﴾ لپاره د بخښش ﴿چه خدائې دې اوبښه.ځكه چي دكافر لپاره مغفرت غوستل جائز نه دى.اوبله دا چي د مسلمان لپاره دكافر دروازې ته ودريدل د ده اوداسلام توهين دى﴾

قَالُوا: الْأَحَقُّ أَنْ لَا يُتْرَكُوا أَنْ يَرْكَبُوا إِلَّا لِلضَّرُورَةِ. وَإِذَا رَكِبُوا لِلضَّرُورَةِ فَلْيَنْزِلُوا فِي مَجَامِعِ الْمُسْلِمِينَ، فَإِنْ لَزِمَتِ الضَّرُورَةُ اتَّخَذُوا سُرُوجًا بِالصِّفَةِ الَّتِي تَقَدَّمَتْ، وَيُمْنَعُونَ مِنْ لِبَاسٍ يَخْتَصُّ بِهِ أَهْلُ الْعِلْمِ وَالزُّهْدِ وَالشَّرَفِ

ژباړه وتشريح:- عالمانو رحمهم الله فرمائيلى دى.چه صحيح خبره دا ده.چه نه به شى پريښنولي (پريښودې) ﴿ذميان﴾ سوريدو ته مګر لپاره د اړتيا ﴿لكه څوك په كي مريض وى.اوهغه هسپتال ته بوځى.اوپه خپله نشى تلې.وغيره﴾ او كله چي سوارۀ شى ﴿په سپرلئ باندې﴾ نو راكوزيږى به په جمع د مسلمانانوكي ﴿يعنى چي په كوم ځائي كي مسلمانان راجمع شوى وى.نوهلته به د سورلو نه راكوزيږى﴾ نوكه پيښ شوى دوى ته اړتيا ﴿د سوريدو﴾ نو استعمالوى به زينونه ﴿د سورلئ﴾ په هغه طريقه چي وړاندې بيان شوه. ﴿چه زين به نه وى.بلكه د خر او دقچركته به وى﴾ اومنع كولي به شى ﴿ذميان﴾ د داسي جامو نه چي خاص وى هغه د عالمانو رحمهم الله او زاهدانواومعززينوسره ﴿لكه لنګوټي اوهمسا وغيره شول﴾

په كومو څيزونو د ذميت معاهده نه ماتيږى؟

(وَمَنِ امْتَنَعَ مِنَ الْجِزْيَةِ أَوْ قَتَلَ مُسْلِمًا أَوْ سَبَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَوْ زَنَى بِمُسْلِمَةٍ لَمْ يُنْتَقَضْ عَهْدُهُ) لِأَنَّ الْغَايَةَ الَّتِي يَنْتَهِي بِهَا الْقِتَالُ الْتِزَامُ الْجِزْيَةِ لَا أَدَاؤُهَا وَالِالْتِزَامُ بَاقٍ.

حل اللغة: ① **الغاية** آخرى حد، ② **التزام** لازمول

ژباړه وتشريح:- اوڅوك چي منع شى د جزيه ور كاوه نه ﴿يعنى د جزيه ور كاوه نه ئي انكاراوكړلو﴾ اويا ئي قتل كړلو مسلمان اويا ئي كنځل اوكړلو نبى ﷺ ته او يا ئي زنا اوكړله دمسلماني ښځي سره،نو نه ماتيږى [illegible]ده دده ﴿كومه چي ده د جزيه ور كاوه په وخت كي كړې وه﴾ ځكه چي اخرى حد هغه چي بنديږى په

هغې باندې جنګ ﴿يعني د کافرانو سره چې په کوم ځيزباندې جنګ بنديږي.او مسلمانانو د هغوی د قتل نه منع کيږي﴾ لازمول د جزيه دی ﴿په خپل ځان باندې﴾ نه ادا کول د دې ﴿جزيه.يعنی چې کافر صرف د ومره اومني.چه زه به جزيه درکوم.نو دده د قتل ځخه به مسلمانان منع کيږي.اګرچه جزيه ئې لا ورکړې نه وی.اوپه دې صورتونو کې هم ده په خپل ځان باندې جزيه يوځل لازم کړې ده﴾اوهغه التزام ﴿يعنی په خپل ځان باندې د جزيه ور کول لازمول﴾ پاته دی. ﴿نوځکه دده د ذميت معاهده نه ماتيږي.بلکه يوځل چې دده جزيه اومنله.نو که روسته دې انکارهم کوی.بادشاه به ئې تري په زور باندې اخلي﴾

وَقَالَ الشَّافِعِي: سَبُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ نَقْضًا لِأَنَّهُ يَنْقُضُ إِيمَانَهُ فَكَذَا يَنْتَقِضُ أَمَانُهُ إِذْ عَقْدُ الذِّمَّةِ خَلَفٌ عَنْهُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلی دی امام شافعي رحمه الله کنځل نبی ﷺ ته کيږي ماتول ﴿د معاهدې.وجه د استدلال دا ده﴾ که چرته وو دې ﴿ذمی﴾ مسلمان ﴿اودې والعياذ بالله نبی ﷺ ته کنځل اوکړې﴾ نو کيږي ﴿دا کنځل﴾ ماتيدل د ايمان دده ﴿مسلمان،يعنی بالفرض که دې مسلمان وې.اوده نبی ﷺ ته کنځل کړې وو.نو په دې باندې دده ايمان زائله کيدل﴾ نودغه ډول ماتيږي امان دده ﴿يعنی دهغه ذمی چې په عهد ذميت سره ورته امن ملاو شوې وی.اودا قياس کوی﴾ ځکه چې معاهده د ذميت خليفه ﴿اوبدل﴾ دې دايمان نه. ﴿يعنی لکه ځنګه چې په ايمان راوړلو سره مسلمان ته د مال اوجان ساتنه ملاويږي.دغه ډول په عقد ذميت باندې ذمی ته د مال اوجان ساتنه ملاويږي﴾

وَلَنَا أَنَّ سَبَّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ مِنْهُ، وَالْكُفْرُ الْمُقَارِنُ لَا يَمْنَعُهُ فَالطَّارِئُ لَا يَرْفَعُهُ.

حل اللغة: ① الطارئ:عارضی ② المقارن:مولښتی

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿د احنافو﴾ رحمهم الله لپاره دليل دا دی.چه کنځل کول نبی ﷺ ته کفر دې دده ﴿ذمی﴾ د اړخه او کفرچه يوځائې وی ﴿په وخت د عهد ذميت کې﴾ نه منع کوی دا ﴿معاهده د ذميت.يعنی په کوم وخت کې چې ذمی کافرجزيه قبلوی.اومعاهده د ذميت کوی.نوپه هغه وخت کې هغه کافروی.اوددې باوجود دده کفر د عهد ذميت سره منافی نه وی.بلکه کفرهم وی.اوذميت هم وی﴾ نوروسته راتلونکې ﴿کفرچه د نبی ﷺ په کنځلو سره راغلې وی﴾ به نه ماتوی دغه ﴿امان د ذميت،يعنی هرکله چې د ذميت د معاهدې ليکلو په وخت کې دې کافر وی.اودده عهد ذميت صحيح وی.نودغه ډول که روسته دده د خولې نه کفريه اوشرکيه الفاظ واوري.هم به عقد ذميت نه باطليږي﴾

دارالحرب ته په تلو سره عهد ذميت باطليدل

قَالَ (وَلَا يَنْقُضُ الْعَهْدَ إِلَّا أَنْ يَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوْ يَغْلِبُوا عَلَى مَوْضِعٍ فَيُحَارِبُونَنَا) لِأَنَّهُمْ صَارُوا حَرْبًا عَلَيْنَا فَيَعْرَى عَقْدُ الذِّمَّةِ عَنِ الْفَائِدَةِ وَهُوَ دَفْعُ شَرِّ الْحِرَابِ.

حل اللغة: ① يعرى:خالی کيږي ② الحراب:فتنه

ژباړه وتشريح:- ابو الحسين قدوری رحمه الله فرمائيلی دی.اونه ماتيږي معاهده ﴿د ذميت په دارالاسلام کې﴾ مګر دا چې لاړ شی دارالحرب ته ﴿نوبيا ئې عهد ذميت باطليږي﴾ اوغالب شی ﴿کافران﴾ په يوځائې باندې اوجنګيږي زمونږ سره، ﴿نوپه دې صورت کې هم معاهده ماتيږي﴾ ځکه چې اوګرځيدل دوی جنګ کونکی زمونږ سره،نوخالی به شی عقد ذميت د فائدې نه اوهغه فائده لرې کول شردجنګ دي.

وَإِذَا نَقَضَ الذِّمِّيُّ الْعَهْدَ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُرْتَدِّ مَعْنَاهُ فِي الْحُكْمِ بِمَوْتِهِ بِاللَّحَاقِ لِأَنَّهُ الْتَحَقَ بِالْأَمْوَاتِ وَكَذَا فِي حُكْمِ مَا حَمَلَهُ مِنْ مَالِهِ إِلَّا أَنَّهُ لَوْ أُسِرَ يُسْتَرَقُّ بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ

ژباړه وتشريح:- اوکله چې ذمی معاهده ماته کړې.نودې پشان د مرتد دې.اوددې معنی ﴿چه دې پشان د مرتد دې﴾ دا ده.چه په حکم کولو کې په مرګ دده ﴿ذمی﴾ کې ،په يوځائې کيدو ﴿د حربيانو سره﴾ ځکه

چې دې ملحق شود مړو سره ﴿يعنى كله چې ذمى په دارالاسلام كې معاهده ماته كړي.نودې به مړ گڼرلې شي. او د مرتد پشان به دده ميراث تقسيمولې شي.اگرچه دې په دارالحرب كې ژوندې وي﴾ او دغه ډول ﴿دا ناقض د عهد ذمى د مرتد پشان دې﴾ په حكم دهغه څه كې چې ده اوړې وى دخپل مال نه ﴿ځان سره دارالحرب ته،يعنى لكه څنگه چې يومسلمان والعياذبالله كافرشي.نودې خپل مال ځان سره واخلي. او دارالحرب ته اوتښتي.اوبيا مسلمانان په دغه ښاربانديې قبضه اوكړي.اوددې مرتد مال دهغوى ترلاسو شي.نوهغه به مال غنيمت وي.نودغه ډول دې ذمى چې ځان سره كوم مال دارالحرب ته اوړي.نوهغه به مال غنيمت وي﴾ البته دا ده.چه دې ﴿ذمى﴾ كه قيد كړې شونو غلام به جوړولې شي.په خلاف د مرتد ﴿يعنى ذمى ناقض العهد په نورو احكاموكې د مرتد پشان دې.البته په دې مسئله كې د مرتد پشان نه دې.كه دې په جنگ كې قيد كړې شي.نوده به غلام وي.اوكه مرتد په جنگ كې قيد كړې شي.نوهغه به غلام نشي جوړولې.بلكه قتلولې به شي﴾

(فَصْلٌ) (وَنَصَارَى بَنِي تَغْلِبَ يُؤْخَذُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الزَّكَاةِ) لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ صَالَحَهُمْ عَلَى ذَلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ (١)

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ فصل دې ﴿په بيان د احكامود بنوتغلب د جزيه په كښې﴾ اونصارى د بنوتغلب اخستلې به شي د مالونو ددوى نه دوچنده دهغه څه چې اخستې شي د مسلمانانو نه دزكاة ﴿يعنى د مسلمانانونه چې څومره زكاة اخستې شي.دهغې په دوچنده به د بنوتغلب د عيسايانو نه اخستې شي.يكارخودا وه.چه ددوى نه هم دعاموكافرانوپشان جزيه اخستې شوه.دكوم بيان چې وړاندې اوشو.خوددوى نه دزكاة په دوچنده اخستې شي﴾ څكه چې عمر رضي الله عنه صلح كړې وه د دوى ﴿بنوتغلب﴾ سره په دې باندې ﴿چه د دوى څخه به د مسلمانانو د زكاة په دوچنده جزيه اخلي﴾ اودا ﴿صلح د حضرت عمر رضي الله عنه﴾ وه په موجودگئ د صحابوؓ كې ﴿خوچا پرې هم انكار اونكړلو.نودا اجماع سكوتى شوه.اواجماع حجت دې.بيا خاص كرد صحابه كراموؓ اجماع﴾

ضرورى تشريح:- بنوتغلب په اصل كې عربى النسل وو.دجاهليت په دور كې ئې عيائيت قبول كړې وو.حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دورخلافت كې د دوى نه جزيه اوغوستله.خو دوى انكاراوكړلو.او ورته ئې اووئيل.چه زموږ څخه به هم د مسلمانانو پشان زكاة اخلې.خوحضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل.چه زه د مشرك نه صدقه نه اخلم.په دې باندې بعضې تغلبيان د روم د نصارؤ سره ملاؤ شو.په دې باندې حضرت نعمان بن زرعه رضي الله عنه اوفرمائيل.اې اميرالمومنين دا عرب قوم دې.اوبهادرهم دى.دوى دجزيه په وركولوكې خپل هتك او بې عزتى گڼړي.اودا ورته شرم ښكارى.د دوى نه د زكاة په نوم باندې جزيه اخله.هسې نه چې دوى د روميانو سره ټل شي.اوزموږ دشمن په دوى سره په موږ باندې كومك حاصل كړي.دحضرت عمر رضي الله عنه دا مشوره خوښه شوه.او د دوى په سړواو ښځوباندې ئې د مسلمانانو د زكاة په دوچنده مقرره كړله.اودا ئې ورته وويل.دا جزيه ده.پاته چې تاسو ورته څه نوم وركوئ.هغه ورته وركړئ.اوپه دغه وخت كې چې كوم نور صحابه كرامو رضي الله عنهم موجود وو.هغوى ددوى په دې عمل باندې انكار اونكړلو.بلكه متفق شو ورسره،نودا اجماع شوه.

د بنوتغلب د ښځو نه د جزيه اخستل

(وَيُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْ صِبْيَانِهِمْ) لِأَنَّ الصُّلْحَ وَقَعَ عَلَى الصَّدَقَةِ الْمُضَاعَفَةِ، وَالصَّدَقَةُ تَجِبُ عَلَيْهِنَّ دُونَ الصِّبْيَانِ فَكَذَا الْمُضَاعَفُ.(٢)

حل اللغة: ① المضاعفة: دوچند

---

(١) نقدم تخريجه فى آخرباب زكاة الخيل)_

(٢) القول الراجح هوهذا قول الجمهور رحمهم الله كذا فى فتح القدير(٣٠٥\٥) والدرالمختار(٣٠٦\٣) نقلاً عن القول الراجح (٤٩٦\١)-

ژباړه وتشریح:- او اخستې به شي د دوی «بنوتغلب» د زنانو نه «جزیه په نوم د صدقه» اونه به شي اخستې د ماشومانو ددوی «بنوتغلب» نه،ځکه چې صلح واقع شوې وه په زکاة دوچنده باندې د حضرت عمرؓ په مينځ کې ،چه د تغلبيبانونه به د مسلمانانود زکاة په دوچنده اخلی» و زکاة واجبيږي په دوی «زنانو د مسلمانانو» باندې نودغه ډول به دوچنده «جزیه هم د زنانو نه اخستې شي»

وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ لَا يُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ أَيْضًا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، لِأَنَّهُ جِزْيَةٌ فِي الْحَقِيقَةِ

ژباړه وتشریح:- اوفرمائیلی دی امام زفرؒ چې نه به شي اخستې د زنانو ددوی نه هم «لکه ځنګه چې نې د ماشومانونه نشی اخستې» او دا «دنه اخستلوقول» قول د امام شافعیؒ دی. «اودامام زفرؒ په نیزبه د زنانو نه نشی اخستې» ځکه چې دا «ماخوذ د بنوتغلب نه» جزيه ده په حقيقت کې

عَلَى مَا قَالَ عُمَرُ: هَذِهِ جِزْيَةٌ فَسَمُّوهَا مَا شِئْتُمْ، وَلِهَذَا تُصْرَفُ مَصَارِفَ الْجِزْيَةِ وَلَا جِزْيَةَ عَلَى النِّسْوَانِ.

ژباړه وتشریح:- لکه ځنګه چې فرمائیلی وو عمرؓ «بنوتغلب ته کله چې نې ورسره صلح کوله» دا «چه زه نې ستاسونه اخلم» جزيه ده تاسو نې نامداره کوئ څه چې مو خوښه وی.اوددې امله «چه دا جزيه ده» خرچ کولای شی په مصارفو د جزيه کې «اود زکاة د اته اصنافو پورې خاص نه ده.بلکه په بيت المال کې جمع کولې شی.اودمسلمانانوپه مفادعامه کې خرچ کولې شی.ددې نه دا ثابته شوه.چه د بنوتغلب نه چې څه اخستې شی.هغه جزيه ده.اودجزيه په اړه کې دا قاعده ده.چه» جزيه نشی اخستې د زنانود دوی «کافرانو» نه،

وَلَنَا أَنَّهُ مَالٌ وَجَبَ بِهِ الصُّلْحُ، وَالْمَرْأَةُ مِنْ أَهْلِ وُجُوبِ مِثْلِهِ عَلَيْهَا

ژباړه وتشریح:- اوزموږ «داحنافو» ﷺ لپاره دلیل دا دې.چه دا «داسې» مال دې چه واجب شوې دې په صلح باندې «یعنی د حضرت عمرؓ او بنوتغلب په مينځ کې په دې باندې صلح اوشوه.چه د بنوتغلب ښځه به د مسلمانانود زکاة په دوچنده اخلی» اوښځه اهل ده د وجوب «چه په دې باندې واجب شی» په مثل ددې «عوض صلح،مثلاً د زينب او زيد په مينځ کې په څه باندې جګړه راغله.اودجرګې مشرانوپه د دغه جګړې په فيصله کې د صلحې کردار ادا کړلو.اوپه صلح کې نې په ښځه باندې څه کيخودلو.نوشرعاً دا جائزدی .ځکه چې ښځه ددې صلاحيت لری.نودغه ډول په زيربحث مسئله کې هم چونکه دا یوه صلحه ده.نود ښځې څخه به هم اخستې شی»

وَالْمَصْرِفُ مَصَالِحُ الْمُسْلِمِينَ، لِأَنَّهُ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ، وَذَلِكَ لَا يَخْتَصُّ بِالْجِزْيَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يُرَاعَى فِيهِ شَرَائِطُهَا

حل اللغة: ① يراعی:لحاظ ساتل شی

ژباړه:- اومصرف «د بنوتغلب نه د اخستلی شوی مال» مصالح د مسلمانانودی. «چه دا به د مسلمانانود خیر خیګړې په کارونوکې خرچ کولې شی» ځکه چې دا مال د بيت المال دې.او دا «بيت المال» خاص نه دې په جزيه پورې، «بلکه په بيت المال کې خو نورهم ډيرشيان (ځيزونه) کيخودې شی.چه هغه جزيه نه وی.نوپه باندې استدلال کول .چه د بنوتغلب نه اخستې شوې مال جزيه ده.ځکه چې په بيت المال کې جمع کولې شی. صحيح نشو» ولې ته نه ګورې چې شان دا دې.خيال نشی ساتلې په دې «مال ماخوذه کې د بنوتغلب نه» د شرائطو ددې «جزيه، لکه دا چې جزيه اخستونکې به په داسې طريقه د دوی نه جزيه اخلی.چه دوی رسوا او ذليله وی.دجزيه د شرائطو تفصيل وړاندې تيرشوې دې.نوهرکله چې په دې کې د جزيه شرائط نشته. نو معلومه شوه.چه دا مال جزيه نه ده»

دتغلبي په آزاد کړه غلام باندې جزيه او خراج

﴿وَيُوضَعُ عَلَى مَوْلَى التَّغْلِبِيِّ الْخَرَاجُ﴾ أَيِ الْجِزْيَةُ ﴿وَخَرَاجُ الْأَرْضِ بِمَنْزِلَةِ مَوْلَى الْقُرَشِيِّ﴾ (¹)

ژباړه وتشريح:- اومقرر کولې به شي په آزاد کړه غلام د بنوتغلب خراج يعني جزيه اوخراج د ځمکې پشان د آزاد کړه غلام د هاشمي ﴿يعني لکه څنګه چې د بنوهاشم غلام ته د صدقۀ مال نشي ورکولې.څکه چې بنو هاشم ته نشي ورکولې.نودغه ډول به د بنوتغلب غلام ته هم دزکاة په دوچنده نشي اخستې﴾

﴿وَقَالَ زُفَرُ: يُضَاعَفُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {إِنَّ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ} (²) أَلَا تَرَى أَنَّ مَوْلَى الْهَاشِمِيِّ يَلْحَقُ بِهِ فِي حَقِّ حُرْمَةِ الصَّدَقَةِ.

ژباړه - اوفرمائی امام زفر(رح) دوچنده به اخستې شي ﴿د بنوتغلب د آزاد کړه غلام نه زکاة او جزيه اوخراج به تري نشي اخستې﴾ د امله د قول د نبي ﷺ نه چې آزاد شوې غلام د قوم هم دهغوی نه وی. ﴿يعني کوم حکم چې دهغوی وی.نوهم هغه حکم به دده وی﴾ ولې ته نه ګورې چې آزاد شوې غلام د هاشمي ملحق کولای شي په دده ﴿هاشمي﴾ پورې په حق د حرمت د صدقۀ کې ﴿يعني لکه څنګه چې په هاشمي باندې زکاة حرام دې.دغه ډول دهاشمي په آزاد کړه غلام باندې هم زکاة حرام دې.نودغه ډول به په زيربحث مسئله کې هم لکه څنګه چې د بنوتغلب نه دوچنده دزکاة اخستې شي.دغه ډول به ددوی د آزاد شوی غلام نه هم اخستې شي﴾

﴿وَلَنَا أَنَّ هَذَا تَخْفِيفٌ وَالْمَوْلَى لَا يَلْحَقُ بِالْأَصْلِ فِيهِ، وَلِهَذَا تُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى مَوْلَى الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ نَصْرَانِيًّا،

حل اللغة: ① **تخفيف** سپکوالې ② **توضع** مقرر کولې شي

ژباړه - اوزمونږ ﴿د جمهوروا حنافو﴾ ﷺ لپاره دليل دا دې.چه دا ﴿د جزيه په ځائې د بنوتغلب نه د زکاة دوچنده اخستل﴾ آسانتيا وه ﴿د حضرت عمر﷛ د اړخه .نوتخفيف صرف په بنوتغلب باندې شوې وو. نو بنوتغلب په دې حکم کې اصل شو﴾ نو ﴿د بوتغلبو﴾ آزاد شوې غلام نشي ملحق کولې ﴿په حکم د تضاعف کې﴾ په اصل پورې ﴿چه بنوتغلب دی﴾ په دې ﴿تخفيف﴾ کې .او ددې وجه ﴿چه د آزاد شوې غلام د مولی په حکم کې نه وی﴾ نشي مقرر کولې جزيه په آزاد شوی غلام د مسلمان باندې چې وی دغه غلام نصرانی. ﴿نوګوره د مسلمان نه جزيه نشي اخستې.خودده دنصراني اوغيرمسلم غلام نه جزيه اخستې شي. نودغه ډول به په زيربحث مسئله کې تخفيف دبنوتغلب لپاره شوې دې.د دوی دآزاد شوی غلام په حق کښې به نه وی﴾

بِخِلَافِ حُرْمَةِ الصَّدَقَةِ لِأَنَّ الْحُرُمَاتِ تَثْبُتُ بِالشُّبُهَاتِ فَأُلْحِقَ الْمَوْلَى بِالْهَاشِمِيِّ فِي حَقِّهِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿که دا اووئيلې شي.چه حرمت دصدقه خوتغليظ نه دې.بلکه تخفيف دې.څکه چې ددې په وجه دګناهونو دخيرونه پاك پاتې کيږي.اود هاشمي آزاد شوې غلام په هاشمي پورې په دې کې ملحق شوې دې.نودهغې نه څواب کوی.چه﴾ په خلاف دحرمت صدقه،څکه چې حرمات ثابتيږی په شبهاتو سره، ﴿يعني په کوم شي کې چې شبه وی.هغه حرام ګرځولې شي.نوشبه د حقيقت شبه سره ملحق کولې شي.اوحکم پرې مرتب کولې شي﴾ نوملحق کړې شو غلام د هاشمي پورې په حق ددې ﴿حرمت د صدقه کې﴾

وَلَا يَلْزَمُ مَوْلَى الْغَنِيِّ حَيْثُ لَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ، لِأَنَّ الْغَنِيَّ مِنْ أَهْلِهَا، وَإِنَّمَا الْغِنَى مَانِعٌ وَلَمْ يُوجَدْ فِي حَقِّ الْمَوْلَى، أَمَّا الْهَاشِمِيُّ فَلَيْسَ بِأَهْلٍ لِهَذِهِ الصِّلَةِ أَصْلًا لِأَنَّهُ صِينَ لِشَرَفِهِ وَكَرَامَتِهِ عَنْ أَوْسَاخِ النَّاسِ فَأُلْحِقَ بِهِ مَوْلَاهُ.

حل اللغة: ①**صين** حفاظت ② **شرف** عزت ③ **اوساخ** جمع د وسخ، خيری

¹) القول الراجح هو هذا قول الجمهوررحمهم الله كذا في فتح القدير(٣٠٥\٥) والدرالمختار(٣٠٦\٣) نقلاً عن القول الراجح (٤٩٧\١)-

²) تقدم تخريجه في باب من يجوز دفع الصدقة إليه ومن لا يجوز)_

ژباړه وتشريح:- ﴿اوس که دااووئيلی شی.چه دمالدارپه آزاد کړی غلام باندې هم پکارده چې صدقه حرامه وی ځکه چې په دې کي هم شبه موجود ده.﴾ اودمالدار دغلام سره ددې مقابله نشی کولې.ځکه چې په حقيقت کي نه ده حرامه په ده ﴿مالدار﴾ باندې صدقه ځکه چې دې د دې اهل دې. ﴿يعنی مالدارکي دصدقه اخستلو صلاحيت موجود دې﴾ البته مالداری مانع ده ﴿داخستلود صدقة نه.يعنی مالداردخپل اصل په اعتبارسره د صدقه اخستلواهل دې.خوچونکه ده کي يوعارضی صفت موجود دې.چه مالداری ده. نو د دې امله پرې صدقه حرامه ده﴾ هرچه هاشمی دې نودې ﴿هاشمی﴾ نه دې اهل ددې صلهٔ رحمیٔ ځکه چې د ده ﴿هاشمی﴾ ساتنه کړې شوې دې د امله د شرافت او عزت دده د خيرو د خلګ ونه بيخی صدقات او زکاة د خلګ ودګناهونو کوټ دی.اود سيدانوشان ددې نه اوچت دې.چه د خلګو ﴿ځکه چې دګناهونو کوټ دې دوی ته ورکړې شی﴾ نو ملحق کړې شو په ده ﴿هاشمی﴾ پورې آزاده کړده غلام دده هاشمی د نسبت د امله چې ددې غلام د آزادئ نسبت هاشمي ته کيږی.نودهاشمی د شرافت د امله په ده ﴿هاشمی﴾ باندې هم د خلګ وخير خيرات حرام شو .ځکه چې دا د خلګو د ګناهونوخيری دی.اوصاحب دهدايهؒ دامام زفرؒ د نقلی دليل يعنی حديث نه ځواب ذکرنکړلو.دهغې نه ځواب دا دې.چه دغه حديث خلاف القياس واقع شوې دې.نوپه خپل مورد پورې به خاص وی.اوهغه حرمت د صدقهٔ دې خاص کړ.نودصدقهٔ نه علاوه بل څيزته ددې حديث تعدی جائز نه ده. لکه څنګه چې ئې امام زفرؒ د بنوتغلب جزيه ته متعدی کوی.ځکه چې د بنوهاشم آزاد کرده غلام په خپلو سيدانو مالکانو پورې دهغوی د شرافت او منقبت د امله ملحق شوې دې.اودا شرافت اوعظمت په بنوتغلب کي نشته﴾

دخراج وغيره مصارف

قَالَ: (وَمَا جَبَاهُ الْإِمَامُ مِنَ الْخَرَاجِ وَمِنْ أَمْوَالِ بَنِي تَغْلِبَ وَمَا أَهْدَاهُ أَهْلُ الْحَرْبِ إِلَى الْإِمَامِ وَالْجِزْيَةُ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ كَسَدِّ الثُّغُورِ وَبِنَاءِ الْقَنَاطِرِ وَالْجُسُورِ،

حل اللغة: ① **الثغور:** د لوښی سورې ② **القناطر:** په دريابونو باندې تړلې شوې پولونه ③ **الجسور:** په نهرونو باندې جوړ کړې وشې پلونه

ژباړه وتشريح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوری﴾ؒ اوهغه چې راجمع ئې کړی امام د خراج ﴿دزمکي﴾ اود مالونود بنوتغلب نه او هغه چې هديه ئې کړی اهل حرب امام ﴿دمسلمانانو﴾ ته او ﴿دغه شان﴾ جزيه،نوخرچ کولې به شی په خيرخيګره د مسلمانانوکي ،لکه داسلامی مملکت سرحدونه ﴿په لښکروسره﴾ د لوښو د سورو بندول ، ﴿مثلا چې کوم مات شوی وی هغه پيوند کړی﴾ اوجوړول دوړو پلونواود دريابونودپلونو، ﴿نوداکوم شيان (څيزونه) چې وړاندې ذکرشو.دجزيه وغيره مصارف دا دی.

وَيُعْطَى قُضَاةُ الْمُسْلِمِينَ وَعُمَّالُهُمْ وَعُلَمَاؤُهُمْ مِنْهُ مَا يَكْفِيهِمْ، وَيُدْفَعُ مِنْهُ أَرْزَاقُ الْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيهِمْ) لِأَنَّهُ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ فَإِنَّهُ وَصَلَ إِلَى الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ قِتَالٍ وَهُوَ مُعَدٌّ لِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ وَهَؤُلَاءِ عَمَلَتُهُمْ وَنَفَقَةُ الذَّرَارِيِّ عَلَى الْآبَاءِ، فَلَوْ لَمْ يُعْطَوْا كِفَايَتَهُمْ لَاحْتَاجُوا إِلَى الِاكْتِسَابِ فَلَا يَتَفَرَّغُونَ لِلْقِتَالِ

حل اللغة: ① **قضاة:** جمع د قاضی ② **ارزاق:** جمع د رزق ،خوراک څکاک ③ **المقاتلة:** جنګ کونکی ④ **الاکتساب:** ګټه کول ،مزدوری کول

ژباړه وتشريح:- او ورکولې به شی قاضيانود مسلمانانوته اوعاملانود دوی ﴿مسلمانانو﴾ ته اوعالمانوته د دې ﴿جزيه وغيره﴾ نه په هغه مقدارچه کافی کيږی د دوی لپاره او ورکولې به شی ددې ﴿مالونو﴾ نه خرچه د فوځيانواود هغوی د اولاد ،ځکه چې دا ﴿کوم مال چې موږ ته راکوی﴾ مال د بيت المال دې.ځکه چې دا ﴿مال ماخ وذه د بنوتغلب نه﴾ رسيدلې دې مسلمانانوته بغيرد جنګ نه،اودا ﴿بيت المال﴾ تيارشوې دې لپاره د مصالحود مسلمانانو،اودا نفر ﴿چه قاضی،عالمان وغيره دی﴾ کارکونکی دی ددوی ﴿مسلمانانو﴾ اود خرچه د اولاد په پلارانوباندې وی.نوکه چې چيرته ورنکړې شی دوی

﴿قاضیانوغیره ته﴾ مال چې کافي وي د دوی دپاره، نودوی به محتاج وی مزدورئ کاوه ته، ﴿اوچه مزدوری کوی﴾ نونه به اوزګاریږی جنګ کولوته،

دکال په مینځ کې دوفات شوی حکم

﴿وَمَنْ مَاتَ فِي نِصْفِ السَّنَةِ فَلَا شَيْءَ لَهُ مِنَ الْعَطَاءِ﴾ لِأَنَّهُ نَوْعُ صِلَةٍ وَلَيْسَ بِدَيْنٍ، وَلِهَذَا سُمِّيَ عَطَاءً فَلَا يُمْلَكُ قَبْلَ الْقَبْضِ وَيَسْقُطُ بِالْمَوْتِ، وَأَهْلُ الْعَطَاءِ فِي زَمَانِنَا مِثْلُ الْقَاضِي وَالْمُدَرِّسِ وَالْمُفْتِي، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشریح:- اوځوك چې وفات شي ﴿د قاضیانو مفتیانو وغیره نه﴾ په نیم کال کې نو نشته څه څیزده لپاره په عطاء کې، ﴿اودا هغه څه وي چه په سرکاری رجسټرډ کې د قاضیانو، مفتیانووغیره هغه چا لپاره مقرر شوی وي ځوك چې د دین کار کوي﴾ ځکه چې دا ﴿دوی ته چې ورکولې شي﴾ یو ډول صله ده.اونه دې پور ﴿په حکومت باندې﴾ او ددې امله ﴿چه دا پور نه دې بلکه یوه صله ده﴾ نه مالك کیږی ﴿د دغه عطاء﴾ ورانديې د قبض نه ﴿یعني کوم شی چې د عطاء په صورت کې چاته ورکولې شي.نوچه کله ورته هغه ملاؤ شي.دهغې نه روسته نې دې مالك جوړیږی.د قبض نه وراندې دې د دغه عطاء مالك نه وی.ددې امله دې د هغې مطالبه نشي کولې.په خلاف د پور ځکه چې پور خواه د پور مالك وی.اودې د مدیون نه دهغې مطالبه کولې شي﴾ اوساقطیږی ﴿عطاء﴾ په مرګ سره ﴿یعنی کوم کس ته چې دبیت المال نه عطاء ملاویږی.که هغه وفات شي.نود هغه وارثانو ته هغه عطاء نشي ملاویدې.بلکه ختمه شوه.او پور د دائن په وفات سره نه ساقطیږی.بلکه د دائن وارثان د مدیون نه د هغې مطالبه کولې شي﴾ او مستحق د عطاء زمونږ په زمانه کې پشان د قاضی او مدرس او مفتی دی.الله تعالی ښه پوهیږی.

ضروری تشریح:- داخود نیم کال صورت وو.اوکه د کال په آخرکې وفات شي.نوپه دې صورت کې دهغه وارث ته دعطاء ورکول مستحب دی.ځکه چې ده اکثر کال خپل فرائض پوره کړی دی.

بَابُ أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّينَ

ژباړه وتشریح:- ﴿دا﴾ باب د مرتدینو د احکامو په بیان کې دې.

قَالَ ﴿وَإِذَا ارْتَدَّ الْمُسْلِمُ عَنِ الْإِسْلَامِ وَالْعِيَاذُ بِاللَّهِ عُرِضَ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ، فَإِنْ كَانَتْ لَهُ شُبْهَةٌ كُشِفَتْ عَنْهُ﴾ لِأَنَّهُ عَسَاهُ اعْتَرَتْهُ شُبْهَةٌ فَتُزَاحُ،

حل اللغة: ① اعترت:پیښه شوې ② تزاح لرې کولې شي

ژباړه وتشریح:- فرمائی ﴿ابو الحسین قدوری﴾ اوکله چې واپس شي ﴿والعیاذ بالله﴾ مسلمان داسلام نه نو پیش به کړې شي په ده باندې اسلام ﴿اودا به ورته اوونیلی شي.چه دوباره اسلام قبول کړه﴾ که چیرته وی دده څه شبه ﴿د دین اسلام په حقانیت کې چې د هغې د امله دې مرتد شوې وی﴾ نولرې به کړې شي ﴿هغه شبه﴾ دده نه ځکه چې کیدای شي راغلې وی ده ته څه شبه ﴿په حقانیت داسلام کې﴾ نو لرې به کړې شي.

وَفِيهِ دَفْعُ شَرِّهِ بِأَحْسَنِ الْأَمْرَيْنِ، إِلَّا أَنَّ الْعَرْضَ عَلَى مَا قَالُوا غَيْرُ وَاجِبٍ؛ لِأَنَّ الدَّعْوَةَ بَلَغَتْهُ.

ژباړه وتشریح:- اوپه دې ﴿پیش کاوه داسلام﴾ کې دفع کول د شر دده ﴿مرتد﴾ دی په یوه ښه طریقه د دوو طریقو نه ﴿یعنی هرکله چې دې مرتد شو.نومسلمانانواو اسلام ته دده نه خطره پیدا شوه.نودده د شر لرې کاوه لپاره اسلام دده د قتل حکم کړې دې.چه دقتل په ذریعه مسلمانان اواسلام دده د شرنه محفوظ ورکړې شي.نودده د شرلرې کاوه لپاره یوه طریقه دده قتلول دی.اوبله طریقه نې دا ده.چه ده ته داسلام دعوت نه دا غوره ده.چه دې بیرته مسلمان شي.اوپه اسلام مړشي﴾ البته دا ده.چه پیش کول ﴿داسلام مرتد ته﴾ لکه څنګه چې عالمانو رحمهم الله فرمائیلی دی.واجب نه دې.ځکه چې دعوت ﴿داسلام﴾ رسیدلې دې ده ته

وړاندې ﴿ځكه چې دې څه داسلام نه ناخبره خونه دي.بلكه داسلامي تعليماتو لاندې ئې ژوند تيركړې دې.خوبيا هم اسلام پيش كول ښه خبره اوغوره طريقه ده﴾

دمرتد دقيدكولو حكم

قَالَ (وَيُحْبَسُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ أَسْلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ. وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: الْمُرْتَدُّ يُعْرَضُ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ فَإِنْ أَبَى قُتِلَ)

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله او قيدكولې به شي ﴿مرتد﴾ درې ورځې كه اسلام ئې راوړلو﴿نو ډيره ښه خبره ده﴾ اوكه نه ﴿داسلام راوړلونه ئې انكاراوكړلو﴾ قتلولې به شي او په جامع صغير ﴿دامام محمد﴾ رحمه الله كې دي.چه مرتد پيش كولې به شي ده باندې اسلام ﴿چه دوباره اسلام قبول كړه﴾ كه آزاد وى اوكه غلام،كه انكار ئې اوكړلو.نوقتلولې به شي. ﴿يعني د قيد كاوه ذكرپه جامع صغيركې نشته﴾

وَتَأْوِيلُ الْأَوَّلِ أَنَّهُ يَسْتَمْهِلُ فَيُمْهَلُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لِأَنَّهَا مُدَّةٌ ضُرِبَتْ لِإِبْلَاءِ الْأَعْذَارِ. وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ أَنْ يُؤَجِّلَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ طَلَبَ ذَلِكَ أَوْ لَمْ يَطْلُبْ.

حل اللغة: ① يستمهل: مهلت وركولې شي ② الابلاء: لرې كول

ژباړه وتشريح:- اوتاويل داولنى روايت ﴿چه روايت دقدورى دې.چه قيدكولې به شي﴾ كه ده ﴿مرتد﴾ مهلت اوغوښتلو، ﴿چه ماته مهلت راكړئ.چه په دوباره اسلام قبولوكې سوچ كوم﴾ نو مهلت به ورته وركولې شي. درې ورځې ﴿اودرې ورځې به په جيل كې قيد كولې شي﴾ ځكه چې دا ﴿درې ورځې﴾ موده ده چې مقرر شوې ده لپاره دلرې كولودعذرونو ﴿يعني چې يوكس يوكاركوى.اوهغه په كې اختيار غواړى.نودرې ورځې مهلت ورته وركولې شي﴾ اوامام ابويوسف رحمه الله نه نقل دى.چه شان دا دې.مستحب دى چې مهلت وركړې شى ده ﴿مرتد﴾ ته درې ورځې كه ده ﴿مرتد﴾ درخواست كړې وى د دې ﴿مهلت﴾ اوكه نه، ﴿درخواست او مطالبه ئې نه وى كړې.يعنى د درې ورځو مهلت وركاوه استحبابى حكم دې وجوب حكم نه دې﴾

وَعَنْ الشَّافِعِيِّ أَنَّ عَلَى الْإِمَامِ أَنْ يُؤَجِّلَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَقْتُلَهُ قَبْلَ ذَلِكَ، لِأَنَّ ارْتِدَادَ الْمُسْلِمِ يَكُونُ عَنْ شُبْهَةٍ ظَاهِرًا فَلَا بُدَّ مِنْ مُدَّةٍ يُمْكِنُهُ التَّأَمُّلُ فَقَدَّرْنَاهَا بِالثَّلَاثَةِ.

حل اللغة: ① التامل: سوچ فكر كول ② قدرنا: مونږ اندازه كړو

ژباړه وتشريح:- اودامام شافعي رحمه الله نه نقل دى.چه په امام باندې لازم دى.چه مهلت وركړى ده ﴿مرتد﴾ ته درې ورځې اوجائز نه دى ده ﴿امام﴾ لپاره چې قتل كړى دې ﴿مرتد﴾ وړاندې ددې ﴿درې ورځو﴾ نه،ځكه چې مرتد كيدل دمسلمان وى د امله د شبهٔ نه دظاهريه اعتبار ﴿يعنى اكثرداسې وى.چه ديومسلمان داسلام په څه حكم كې شك پيدا شى.اودهغې د امله په ده باندې داسلام حقانيت پټ شى.نودې مرتد شى﴾ نوضرورى ده يوه مودهٔ ﴿دمهلت وركولودپاره﴾ چې ممكن وى ﴿په هغه مودهٔ كې﴾ ده ﴿مرتد﴾ لپاره سوچ كول ﴿په هغې كې﴾ نو اندازه كړله مونږ دغه مودهٔ په درې ورځو.

وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى {فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ} مِنْ غَيْرِ قَيْدِ الْإِمْهَالِ، وَكَذَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ} (۱) وَلِأَنَّهُ كَافِرٌ حَرْبِيٌّ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ فَيُقْتَلُ لِلْحَالِ مِنْ غَيْرِ اسْتِمْهَالٍ،

حل اللغة: ① الامهال: مهلت وركول

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ رحمهم الله لپاره دليل قول دالله تعالى دې.چه قتل كړئ مشركان ﴿الله تعالى په دې آيت كې دمشركانودقتل حكم مطلقاً كړې دې﴾ بغيرد قيد د مهلت وركولونه ﴿نوهركله چې الله تعالى

(۱) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه البخاري في كتاب الجهاد باب ۱۴۹ وإستتابة المرتدين باب ۲)۔

د مهلت ذكرنه دې كړې.دخپل اړخه د درې ورځو وركول په كتاب الله باندې زيادت دې.كوم چې ټيك نه دې﴾ اودغه ډول قول د نبي ﷺ دې چا چې بدل كړلو دين خپل نوتاسوئې قتل كړئ ﴿كوړئ په دې حديث كې هم نبي ﷺ مطلقاً دمرتد سزا قتل خودلې دې.د مهلت وركولوذكرئې په كې نه دې كړې.اودريم دليل دا بيانوي﴾ اوځكه چې دې ﴿مرتد﴾ كافرحربي دې. ﴿حربي كافرځكه دې.چه نه خودې ذمي دې.چه جزيه وركوي. اونه مستامن دې.نوده سره به دحربي كافرمعامله كولې شي﴾ او رسيدلې دې ده ﴿مرتد﴾ ته دعوت ﴿د داسلام﴾ نو قتلولې به شي في الحال بغيردمهلت وركولونه.

وَهٰذَا؛ لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ تَأْخِيرُ الْوَاجِبِ لِأَمْرٍ مَوْهُومٍ، وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْعَبْدِ لِإِطْلَاقِ الدَّلَائِلِ.

ژباړه وتشريح:- اودا حكم ﴿چه في الحال به قتلولې شي.اومهلت به نشي وركولې﴾ ځكه چې ﴿دمرتدقتلول واجب دی.ځكه چې نبي ﷺ حكم كړې دې﴾اوجائزنه دې روسته كول د واجب د يوامروهمي دپاره ﴿يعنى د ده اسلام ته واپس راړول يوه وهمي اوګماني خبره ده.مونږ په يقين سره دا نشو وئيلې.چه دې به.داسلام په پيش كولوبيرته اسلام ته راواوړي﴾ اونشته توپير په مينځ د آزاد او غلام كې ﴿بلكه كه آزاد وي.اوكه غلام په دواړو صورتونوكې به قتلولې شي﴾ د امله د اطلاق د دلائلو نه ﴿چه آيت او حديث مبارك دې.كوم چې وړاندې ذكرشول﴾

د مرتد د توبې كيفيت

وَكَيْفِيَّةُ تَوْبَتِهِ أَنْ يَتَبَرَّأَ عَنِ الْأَدْيَانِ كُلِّهَا سِوَى الْإِسْلَامِ؛ لِأَنَّهُ لَا دِينَ لَهُ، وَلَوْ تَبَرَّأَ عَمَّا انْتَقَلَ إِلَيْهِ كَفَاهُ لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ

حل اللغة: ① يتبرا: برى كيږي

ژباړه وتشريح:- اوطريقه د توبې دده ﴿مرتد﴾ دا ده.چه بې زاره به شي د دينونو ټولونه سوا داسلام، ﴿يعنى داسې به اووائي.چه داسلام نه سوا چې نور څومره دينونه دی.زه دهغه ټولونه بيزاره يم﴾ ځكه چې نه دې دين دده ﴿في الحال﴾ اوكه بيزاره شي دهغه ﴿دين﴾ نه چې اوړيدلې وی هغې ته ﴿يعنى كه داسلام نه سوا بل دين ته اوړيدلې وی.لكه يهوديت شو.نوبيا به ديهوديت نه بيزاره كيږي.دټولو دينونونه د بيزارئ اړتيا نشته.بلكه﴾ كافي دې ده لره ﴿دا برائت د منقول اليه دين نه﴾ د امله د حاصليدود مقصود نه ﴿يعنى دې خو بل دين ته نه وو اوړيدلې.بلكه يهوديت ته اوړيدلې وو.اودهغې نه واپس راواوړيدلو.نوپه اسلام كې داخل شو﴾

داسلام پيش كولونه وړاندې دمرتدقتلول

قَالَ (فَإِنْ قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبْلَ عَرْضِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ كُرِهَ، وَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ) وَمَعْنَى الْكَرَاهِيَةِ هٰهُنَا تَرْكُ الْمُسْتَحَبِّ وَانْتِفَاءُ الضَّمَانِ، لِأَنَّ الْكُفْرَ مُبِيحٌ لِلْقَتْلِ، وَالْعَرْضُ بَعْدَ بُلُوغِ الدَّعْوَةِ غَيْرُ وَاجِبٍ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوری رحمه الله﴾ كه قتل كړلو ده ﴿مرتد﴾ لره يوقتل كونكي وړاندې د پيش كولوداسلام نه ﴿چه ده ته ئې اسلام نه وی پيش كړې.چه بيرته اسلام ته راواوړه.اوقتل ئې كړی﴾ نومكروه دې ﴿دا قتل﴾ اونشته څه څيز ﴿ديت يا قصاص﴾ په قاتل باندې، اومطلب دكراهت په دې مقام كې پريښول د استحباب دی. ﴿دهغه چا په نيزچه داسلام پيش كول ورته مستحب ګڼي﴾ اونفي دضمان ده. ﴿يعنى په دې قاتل باندې د مقتول ضمان نشته.چه د هغه وارثانوته ديت وركړی.اوپه ده باندې دڅه څيزد عدم وجوب دليل دا بيانوي﴾ ځكه چې كفرمباح كونكې دقتل دې. ﴿يعنى دحربي كافرقتل مباح دې﴾ اوپيش كول داسلام ﴿ده ته﴾ روسته د رسيدود دعوت نه واجب نه دې. ﴿البته ځوك چې داسلام پيش كول واجب ګڼړی. د هغوی په نيزد عرض اسلام نه وړاندې دمرتد قتل حرام دې﴾

مرتده ښځه به نشي قتلولې

(وَأَمَّا الْمُرْتَدَّةُ فَلَا تُقْتَلُ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ تُقْتَلُ لِمَا رَوَيْنَا، وَلِأَنَّ رِدَّةَ الرَّجُلِ مُبِيحَةٌ لِلْقَتْلِ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ جِنَايَةٌ مُتَغَلِّظَةٌ فَتُنَاطُ

بِهَا عُقُوبَةٌ مُتَغَلِّظَةٌ وَرِدَّةُ الْمَرْأَةِ تُشَارِكُهَا فِيهَا فَتُشَارِكُهَا فِي مُوجِبِهَا.

حل اللغة: ① **مغلظة:** سخت ② **تناط:** مرتب کیږي

زباره وتشریح:- هرچه مرتده ښځه ده.نو نه به شي قتلولي.اوفرمائیلي دي امام شافعی رحمه الله چې قتلولې به شي.د امله د هغه حدیث نه چې مونږ نقل کړې دې. «چه کوم کس خپل دین بدل کړلو.نوتاسو ئې قتل کړئ.دا حدیث مطلق دې.د نارینه اوزنانه قید په کې نشته» اوبله دا چې مرتد کیدل د سړي مباح کونکی دی د قتل لپاره «چه سړې مرتدشی.نودده ارتداد دده قتل جائز کړلو» په دې حیثیت سره چې دا «ارتداد» گناه لویه ده.نو مرتب کیږی به په دې «گناه لویه» سزا لویه.اوارتداد د ښځې شریك کیږی ددې «گناه» سره ،نو شریکه کیږی به ورسره ددې په موجب کې «چه قتل دې» «یعنی لکه څنگه چې د سړي د ارتداد سزا قتل دې.دغه ډول به دښځې د ارتداد سزا قتل وی.څکه چې گناه یوه ده.نوعقوبت به ئې هم یو وی»

وَلَنَا {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ} ()[1]، وَلِأَنَّ الْأَصْلَ تَأْخِيرُ الْأَجْزِيَةِ إِلَى دَارِ الْآخِرَةِ إِذْ تَعْجِيلُهَا يُخِلُّ بِمَعْنَى الِابْتِلَاءِ

حل اللغة: ① **یخل:** خلل راولي ② **الاجزیة:** جمع د جزاء ده یعنی سزا

زباره وتشریح:- اوزمونږ «د احنافو رحمهم الله دپاره» دلیل دا دې.چه نبی ﷺ منع کړې ده د قتلولو د زنانو نه «لکه وړاندې چې حدیث تیرشو.چه نبی ﷺ په جنگ کې یوه ښځه قتل شوې بیا موندله.نووې فرمائیل.دا ولې قتل شوې ده.دې خو جنگ نشو کولې.نوهرکله چې کافره ښځه نشي قتلولې.دغه ډول به مرتده ښځه هم نشي قتلولې» اوبله دا چې «په عقوباتوکې» اصل روستو کول د سزا دې آخرت ته.څکه چې تندی کول په دې «سزا» باندې خلل راولي په معنی د امتحان کې ، «یعنی دالله تعالی قانون په دې باندې جاری دې.چه څوك گناه اوکړی.نو دستی په دنیا کې ده ته د هغې سزا نه ورکوی.بلکه مهلت ورکوی.اودهغې سزا بیا په آخرت کې ورکوی.اونکته په کې دا ده.چه چیرته د گناه په کولو په دنیا کې سزا ملاویدله. نو خلگو به دالله تعالی د ویرې گناه نه پریخودله.بلکه د دنیاوی سزا د امله به ئې پریخودله.اواوس چې په دنیا کې په گناه باندې سزا نه وی.اوددې باوجود څوك دگناه نه ځان ساتی.نودې په صحیح معنی کې دالله تعالی نه ویریدونکې دې.اودې په امتحان کې کامیاب دې»

وَإِنَّمَا عُدِلَ عَنْهُ دَفْعًا لِشَرٍّ نَاجِزٍ وَهُوَ الْحِرَابُ، وَلَا يَتَوَجَّهُ ذَلِكَ مِنَ النِّسَاءِ لِعَدَمِ صَلَاحِيَةِ الْبِنْيَةِ، بِخِلَافِ الرِّجَالِ فَصَارَتِ الْمُرْتَدَّةُ كَالْأَصْلِيَّةِ

حل اللغة: ① **ناجز:** پیدا کیدونکې

زباره وتشریح:- اویقیناً اوړیدل شوی دی «په بعضې احکاموکې» ددې «روستو کولود سزا نه» لپاره دلرې کولود شرپیدا کیدونکی چې هغه جنگ دې. «یعنی ددې اصل اوقانون نه دکافراومرتد په حق کې عدول شوې دې.بلکه ده ته د کفراوارتداد په وجه په دنیا کې د قتل سزا ورکولې شی.څکه چې ددوی نه د شراو ضرر ویره ده.چه دوی به مسلمانو سره مقابله اوکړی.اودوی ته به نقصان اورسوی» اونه پیدا کیږی دا «شر» د ښځونه،د امله د عدم صلاحیت د بدنونو ددوی «یعنی ښځې چونکه جنگ نشی کولې.نوځکه دا ویره د هغوی د اړخه نشته.څکه چې دوی د خپل خلگ ت په اعتبار سره د جنگ کاوه صلاحیت نه لری.نوددوی نه د شر ویره نشته.اوهرکله چې د شر ویره نشته.نودښځو په حق کې به دالله تعالی قانون د تاخیر په خپل ځائې پاته وی.اوښځې ته به په آخرت کې سزا ورکوی» په خلاف د سړو «څکه چې سړی دجنگ کاوه او مسلمانانوته د تکلیف رسولو صلاحیت لری» نو اوگرځیدله مرتده ښځه پشان د اصلی

[1]) تقدم تخریجه فی وسط کتاب الجهاد_

ګ قوله. ﴿یعنی لکه څنګه چې اصلی کافره چې مرتده شوې نه وی.نشی قتلولې.دغه ډول به مرتده هم نشی قتلولې﴾

قال (وَلٰكِنْ تُحْبَسُ حَتّٰى تُسْلِمَ) لِأَنَّهَا امْتَنَعَتْ عَنْ إِيفَاءِ حَقِّ اللّٰهِ تَعَالٰى بَعْدَ الْإِقْرَارِ فَتُجْبَرُ عَلٰى إِيفَائِهِ بِالْحَبْسِ كَمَا فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ (وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَتُجْبَرُ الْمَرْأَةُ عَلَى الْإِسْلَامِ) كَانَتْ أَوْ أَمَةً.

ژباړه وتشریح:- فرمائي لیکن قید کولې به شی ﴿مرتده زنانه﴾ تردې چې اسلام قبول کړی. ﴿او قتلولې به نشی﴾ څکه چې دا ﴿مرتده﴾ منع شوه د پوره کاوه د حق دالله تعالی روسته د اقرارنه ﴿یعنی دې چې یوځل کلمه وونیله نودې دالله تعالی سره وعده اوکړله.چه زه به ستا حقوق ادا کوم،هرکله چې دې یوځل وعده کړې ده﴾ نو مجبوره کولې به شی په پوره کاوه دهغې ﴿یعنی حق دالله﴾ لکه څنګه چې په حقوق العباد کښې ﴿بندولې﴾ شی ﴿یعنی که دچا په زیدباندې پور وی.نودائن ته دا اختیار شته.چه مدیون په خپل پور کې بندی کړی﴾ او په جامع صغیرکې دی.اومجبوره کولې به شی ښځه په اسلام باندې که آزاده وی او که وینځه وی. ﴿په دواړو صورتونوکې به قید کولې شی.دآزادې او وینځې په مینځ کې څه توپیر نشته﴾

د مرتده وینځې سره به څنګه سلوك کولای شی؟

(وَالْأَمَةُ يُجْبِرُهَا مَوْلَاهَا) أَمَّا الْجَبْرُ فَلِمَا ذَكَرْنَا، وَمِنَ الْمَوْلٰى لِمَا فِيهِ مِنَ الْجَمْعِ بَيْنَ الْحَقَّيْنِ، وَيُرْوٰى تُضْرَبُ فِي كُلِّ أَيَّامٍ مُبَالَغَةً فِي الْحَمْلِ عَلَى الْإِسْلَامِ

حل اللغة: ① جبر زور،زبردستی ② الحمل باعث کول

ژباړه وتشریح:- او وینځه مجبوره کوی به دې لره مولی ددې هرچه مجبوره کول دی.نودهغه امله نه کومه چې مونږذکرکړه. ﴿چه دې دحقوق الله دمنلونه انکاراوکړلو حالانکه اول ئې ددې د پوره کاوه اقرارکړې وو﴾ او ﴿هرچه مجبوره کول دی﴾ د مولی نه ﴿نودا جائز دی﴾ څکه چې دې کې جمع ده په مینځ د ددو حقونو کې. ﴿چه حق دالله تعالی دې چې په اسلام باندې مجبوره کول دی. اوحق د عبد دې چې دمولی دخدمت حق دی﴾ او روایت شوې دې چه وهلې به شی هره ورځ لپاره د مبالغه په راګرځیدلو اسلام ته.

د مرتد د مملوك څیزونو نه د ملك زوال

قَالَ (وَيَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ أَمْوَالِهِ بِرِدَّتِهِ زَوَالًا مُرَاعًى، فَإِنْ أَسْلَمَ عَادَتْ عَلٰى حَالِهَا، قَالُوا: هٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،()

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوری﴾ رحمه الله او زائله کیږی ملك د مرتد د خپلو مملوك څیزونو نه په مرتد کیدو سره په زوال عارضی سره چې ﴿اود زوال عارضی تفصیل دا دی﴾ که اسلام ئې ﴿بیرته﴾ قبول کړلو نو ګرځی مالونه خپل ﴿بخوانی﴾ حالت ته ﴿یعنی بیرته دده مملوك ګرځی﴾ فرمائیلی دی مشائخو رحمهم الله دا ﴿حکم﴾ په دې مسئله کې دامام ابوحنیفه رحمه الله دې.

(وَعِنْدَهُمَا لَا يَزُولُ مِلْكُهُ) لِأَنَّهُ مُكَلَّفٌ مُحْتَاجٌ، فَإِلٰى أَنْ يُقْتَلَ يَبْقٰى مِلْكُهُ كَالْمَحْكُومِ عَلَيْهِ بِالرَّجْمِ وَالْقِصَاصِ.

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزد صاحبینو رحمهما الله نه زائله کیږی ملك دده څکه چې دې ﴿مرتد﴾ مکلف دې ﴿اوممکن نه دی د مکلف لپاره ادا کول د موجب تکلیف مګرپه ملك سره.یعنی مکلف هله یوحکم پوره کولې شی.چه ملك ولری.نوملك دده به موجود وی ددې دپاره چې حکم پوره کولواسبب ده سره وی﴾ اومحتاج دې نوترد قتلیدو پورې به پاته وی ملك دده ﴿اوچه کله قتل کړې شی نوملکیت به ئې ختم شی﴾ پشان د هغه کس چې حکم شوې وی په هغه د رجم اود قصاص ﴿نود رجم اوقصاص کیدو نه وړاندې دده به خپل مملوك څیزونوباندې ملکیت پاته وی.نودغه ډول په

() القول الراجح هو هذا قول أبی حنیفة رحمه الله کذا فی مجمع الأنهر(۱\۶۹۰) وفتح القدیر(۵\۳۱۳) ورد المحتار(۳\۳۲۸) نقلاً عن القول الراجح (۱\۴۹۸).

زیر بحث مسئله کي به هم د مرتد د قتل کیدو نه وړاندي دده په خپلو مملوکو ځیزونوباندي ملکیت پاته وی﴾

وَلَهُ أَنَّهُ حَرْبِيٌّ مَقْهُورٌ تَحْتَ أَيْدِينَا حَتَّى يُقْتَلَ، وَلَا قَتْلَ إِلَّا بِالْحِرَابِ، وَهَذَا يُوجِبُ زَوَالَ مِلْكِهِ وَمَالِكِيَّتِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ مَدْعُوٌّ إِلَى الْإِسْلَامِ بِالْإِجْبَارِ عَلَيْهِ وَيُرْجَى عَوْدُهُ إِلَيْهِ

حل اللغة: ① مقهور: مغلوب ② الحراب: فتنه ③ الاجبار: زبردستي کول

زباره وتشریح:- اود ده ﴿امام ابوحنیفه رحمه الله﴾ لپاره دلیل دا دي چه دي ﴿مرتد﴾ حربی دي ﴿ځکه چي نه مستامن دي اونه ذمي دي﴾ اومغلوب دي ﴿ځکه چه﴾ په لاسونوزموږ کي ﴿اوچه دي مرتد شو نوددہ د عصمت ختم شو﴾ تردي چي قتل کولي شي. اونشته جوازد قتل ﴿دکافر﴾ مګر په فساد سره، نفس دمسلمانانو سره جنګ کوي.اودده نه مسلمانانوته خطره وی.اوکه د ده نه د فساد ویره نه وی.نوبیا د کافرقتل مباح نه دي.هم دا وجه ده.چه ړوند اوګوډ او شیخ فاني په جنګ کي نشي قتلولي.ځکه ﴿چه دي﴾ اودا خبره ﴿چه دي حربی دي او زموږ په لاسونو کي چي د دوی نه مسلمانانو ته د شر رسولو ویره نه وی﴾ او مالکیت دده ﴿مرتد﴾ البته دومره ده چي دي مغلوب دي﴾ واجبوی زوال د ملك دده ﴿مرتد﴾ او مالکیت دده ﴿یعني مرتد به بیرته اسلام قبلولو ته مجبوره ﴿مرتد﴾ بللي شوي دي اسلام ته په زور کولوسره په ده ﴿یعني مرتد﴾ دي ﴿اسلام﴾ ته ﴿ځکه چي ده د اسلامی کولي شي﴾ او امید کیداي شي د واپس کیدو دده ﴿مرتد﴾ دي ﴿اسلام﴾ ته ﴿ځکه چي ده د اسلامی معاشري لاندي ژوند تیر کړي دي.ده ته به څه نه څه داسلامی تعلیماتو ثمرات او فوائد معلوم شوی وی.نو چي هغي ته اوګوري. کیداي شي چي اسلام قبول کړي﴾

فَتَوَقَّفْنَا فِي أَمْرِهِ، فَإِنْ أَسْلَمَ جُعِلَ الْعَارِضُ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ فِي حَقِّ هَذَا الْحُكْمِ وَصَارَ كَأَنْ لَمْ يَزَلْ مُسْلِمًا وَلَمْ يَعْمَلِ السَّبَبُ،

زباره وتشریح:- نو موږ توقف اوکړلو په کار دده کي ﴿اود توقف تفصیل دا دي﴾که ده ایمان راوړلو.نواوبه ګرځولي شي عارض لکه چي دا هډو وو نه،په حق ددي حکم کي اوعمل نه وی کړي سبب ﴿یعني مملوك ځیزونو نه دده د ملکیت په نه ختمیدو کي .اوهرچه نور احکام دي.نوهغه به موجود ګڼرلي شي.لکه په ارتداد باندي دده ښځه مبتوته شوه.اوکلمه د شهادت به دوباره وائي.ځکه چي دده ارتداد ددي حکمونو په باب کي معدوم نشی ګرځولي.بلکه په دي به احکام مرتب کولي شي﴾ او اوګرځیدو دي لکه چي همیشه لپاره مسلمان وو.اوعمل نه وی کړي شوي په سبب ﴿یعني سبب د زوال ملك چي ارتداد دي.کله چي مرتد دوباره مسلمان شو.نو ارتداد چي د ملك د زوال سبب دي.داسي به وی لکه چي دغه سبب یعني ارتداد هډو موجود شوي نه دي﴾

وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ وَحُكِمَ بِلَحَاقِهِ اسْتَقَرَّ كُفْرُهُ فَيَعْمَلُ السَّبَبُ عَمَلَهُ وَزَالَ مِلْكُهُ.

زباره وتشریح:- اوکه مړ شو اویاقتل کړي شو په مرتد کیدو خپلو ﴿یعني د ارتداد په وجه قتل شو﴾ او یا یو ځائي شو د دارالحرب سره ﴿یعني د دارالاسلام نه دارالحرب ته اوتختیدلو﴾ اوحکم اوکړي شو په یو ځائي کیدو دده ﴿یعني قاضي دا فیصله اوکړله.چه دي دارالحرب ته لاړلو﴾ نو محکم شو کفر دده ﴿اوبیرته اسلام ته د راواپس کیدو احتمال ختم شو﴾ نو سبب ﴿چه ارتداد دي﴾ به کوی عمل خپل ﴿چه زوال د ملکیت دي﴾ اوختم به شي ملکیت دده ﴿مرتد دخپلو مملوکو ځیزونو نه﴾

دمرتد دميراث حكم

قَالَ (وَإِنْ مَاتَ أَوْقُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ انْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي إِسْلَامِهِ إِلَى وَرَثَتِهِ الْمُسْلِمِينَ، وَكَانَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْئًا) وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ()

ژباړه وتشريح:- فرماني ﴿صاحب دقدوري﴾ اوكه مړ شو ﴿مرتد﴾ يا قتل كړې شوپه ارتداد خيل ﴿يعني د ارتداد په سزا كي قتل كړې شو﴾ نو منتقل كيږي به هغه څه چې حاصل كړي وي ده ﴿مرتد﴾ په حالت د اسلام خپل كي وارثانو دده ته چې مسلمانان دي.اوكيږي به هغه څه چې حاصل كړي وي ده ﴿مرتد﴾ په حالت د ارتداد خپل كي ﴿يعني دارتداد نه پس﴾ مال فئ ﴿نودمال فئ چې كوم مصارف دي.په هغې كي به د مرتد دحالت كفرحاصل شوي شيان (څيزونه) هم صرف كولي شي﴾ اودا ﴿حكم﴾ په نيزد امام ابوحنيفه دې. ﴿چه د حالت اسلام ګټه به مسلمانانوته ملاويږي.اودحالت كفرګټه به مال فئ وي﴾

(وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: كِلَاهُمَا لِوَرَثَتِهِ) وَقَالَ الشَّافِعِي: كِلَاهُمَا فَيْءٌ لِأَنَّهُ مَاتَ كَافِرًا وَالْمُسْلِمُ لَا يَرِثُ الْكَافِرَ، ثُمَّ هُوَ مَالُ حَرْبِيٍّ لَا أَمَانَ لَهُ فَيَكُونُ فَيْئًا.

ژباړه وتشريح:- اوفرماني امام ابويوسف اومحمد دواړه ﴿كه د حالت اسلام ګټه وي او كه دحالت ارتداد﴾ د وارثانو دده ﴿مرتد﴾ لپاره دي.اوفرماني امام شافعي چې دواړه ﴿كه مال مكسوبه دحالت اسلام وي اوكه د حالت ارتداد﴾ مال فئ دي. ﴿اود فئ په مصارفوكي به خرچ كولي شي.اودليل پرې دا دي﴾ څكه چې دي ﴿مرتد﴾ مړشوي دې كافراومسلمان ميراث نه اوړي د كافر نه ﴿نوڅكه به دحالت اسلام ګټه هم مسلمانانو وارثانوته نه ملاويږي.اوهركله چې ثې مسلمان په ميراث كي نشي اوړې.نوبيا به پرې څه كولي شي. دهغې بيان دا دې.چه﴾ بيا دا ﴿مال مكسوبه د مرتد﴾ مال دحربي دې. ﴿اوحربي ورته څكه وايو.چه﴾ نشته امان دده لپاره ﴿په دارالاسلام كي ،اودا مسئله ده.چه حربي بغيرامان نه دارالاسلام ته داخل شي.نودده مال د فئ په حكم كي وي﴾ نو شو ﴿مال د مرتد﴾ مال فئ. ﴿اود مال فئ چې كوم مصارف دي.په هغې باندې به دمرتد مال مكسوبه خرچ كولي شي﴾

وَلَهُمَا أَنَّ مِلْكَهُ فِي الْكَسْبَيْنِ بَعْدَ الرِّدَّةِ بَاقٍ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ فَيَنْتَقِلُ بِمَوْتِهِ إِلَى وَرَثَتِهِ وَيَسْتَنِدُ إِلَى مَا قُبَيْلَ رِدَّتِهِ إِذِ الرِّدَّةُ سَبَبُ الْمَوْتِ فَيَكُونُ تَوْرِيثَ الْمُسْلِمِ مِنَ الْمُسْلِمِ.

ژباړه وتشريح:- اودصاحبينو لپاره ﴿دليل دا دې.چه﴾ بيشكه ملك دده ﴿مرتد﴾ په دواړو ګټوكي ﴿كه د حالت اسلام ګټه ده اوكه دحالت ارتداد﴾ پاته دې ﴿په خپلومملوكو څيزونوباندې﴾ بناء په هغه چې موږ بيان كړې دې ﴿چه دې مكلف اومحتاج دې﴾ نومنتقل كيږي به ﴿ملكيت دده نه﴾ په مرګ دده ﴿مرتد﴾ سره وارثانو د ده ته،اواضافت به كولاى شي دده ﴿ګټې﴾ هغه زماني ته چې وړاندې د ردت ده د اسلام د وخت ګټه ده﴾ څكه چې ردت سبب د مرګ دې. ﴿يعني كوم مال چې د مرګ په وخت كي دمرتد نه پاتې شي.نودا به داسې ګڼړلي شي.چه دا د ارتداد سبب د مرګ دې.څكه چې د ارتداد په وجه به دې قتل كولي شي.نوګويا چې د ده ارتداد حكمي مرګ دې.اودا داسې شوه لكه چې دې په حالت اسلام كي مړ شوي دې﴾نوشو ميراث وړل د مسمان د مسلمان نه،

() القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة كذا في الخانية (٤٧١\٤) وردالمحتار (٣٢٩\٣) والهندية (٢٥٤\٢) نقلاً عن القول الراجح (٤٩٩)-

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُمْكِنُ الإِسْتِنَادُ فِي كَسْبِ الإِسْلَامِ لِوُجُودِهِ قَبْلَ الرِّدَّةِ، وَلَا يُمْكِنُ الإِسْتِنَادُ فِي كَسْبِ الرِّدَّةِ لِعَدَمِهِ قَبْلَهَا وَمِنْ شَرْطِهِ وُجُودُهُ،

ژباړه وتشریح:- اوداماام ابوحنیفه رحمه الله لپاره دلیل دا دی.چه ممکن دی اضافت «د میراث اورلو» کتبي د اسلام ته، «یعني کوم کسب چې په حالت داسلام کي شوی وی.نوکه مرتد په حالت د کفرکي هم مړ شی.هغه به ترې مسلمان وارث اوړی» دوجې دوجود ددغه «کتبي» وړاندې د مرتد کيدو نه «یعني دلیل ئې دا دی.چه دغه کسب مسلمان څکه په میراث کې اوړي شی.چه دا کسب داسلام د وخت گټه ده.نوکه بالفرض دا کس په حالت داسلام کي مړ شوې وو.نومسلمان به ترې میراث اوړلو.نودغه ډول به که په حالت د کفر کي مړ شی.خو کسب ئې دحالت اسلام وی.هم به ئې اوړی» اونه دی ممکن اضافت «دتوریث حالت د اسلام ته» د کسب د ارتداد، «یعني کوم کسب چې په حالت د ارتداد کې شوی وی.نوددې اضافت حالت داسلام ته نشي کیدې.اوداسې نشي وئیلې.چه د ارتداد کسب داسې دی.لکه د حالت اسلام کسب، او مسلمان ئې ترې په میراث کې اوړي شی» د امله دعدم وجود ددې «کتبي» وړاندې د ارتداد نه، «یعني دا کسب دحالت اسلام نه دی.بلکه د حالت ارتداد دی.نوځکه ددې نسبت حالت اسلام ته نشي کولې.اوچه نسبت ئې نشي کولې» او شرط ددې «میراث اورلو» وجود ددې «کسب دی» وړاندې ددې «مرتد کیدو» نه، «یعني مسلمان هله دکافرنه میراث اوړي شی.چه کافرکوم کسب کړي وی.هغه په حالت داسلام کي دده په ملك کي موجود وی»

دحالت ارتداد وارثان به حقدار وی

ثُمَّ إِنَّمَا يَرِثُهُ مَنْ كَانَ وَارِثًا لَهُ حَالَةَ الرِّدَّةِ وَبَقِيَ وَارِثًا إِلَى وَقْتِ مَوْتِهِ فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ اعْتِبَارًا لِلِاسْتِنَادِ.

ژباړه وتشریح:- بیا میراث به اوړی د ده «مرتد» نه هغه څوك چې وی وارث دده «مرتد» په حالت د ارتداد کې ،اوپاته پاتې شووارث تروخت د مرگ دده «مرتد» پورې. «نوهغه به وارث وی» په یو روایت کې د ابوحنیفه رحمه الله نه «چه دا روایت د حسن رحمه الله دی» د امله د اعتبارد استناد نه «یعني دمرتد کیدو نه وړاندې دغه کسب په وجود کې راغلې دې.نوځکه به په کې میراث هم جاري کیږی»

وَعَنْهُ أَنَّهُ يَرِثُهُ مَنْ كَانَ وَارِثًا لَهُ عِنْدَ الرِّدَّةِ، وَلَا يَبْطُلُ اسْتِحْقَاقُهُ بِمَوْتِهِ بَلْ يَخْلُفُهُ وَارِثُهُ، لِأَنَّ الرِّدَّةَ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتِ.

ژباړه وتشریح:- اود دوی «ابوحنیفه» رحمه الله نه بل روایت دی. «چه دا روایت د امام ابویوسف رحمه الله دی» چې میراث به اوړی دده «مرتد» نه هغه څوك چې وی وارث په وخت د ارتداد کې . «اگرچه د مرتد د مرگ په وخت کې وارث نه وی» اونه باطلیږی استحقاق دده «وارث» په مرگ دده «وارث» بل خلیفه جوړیږی دده وارث دده «مثلاً زید مرتد شو.اوبکردده وارث دی.اود زید د مرگ نه وړاندې بکرمړ شو.نود بکر میراث نه باطلیږی.بلکه د بکرچه کوم کس وارث وی.هغه به د نیابت اوخلیفه په حیثیت د زید نه میراث اوړی. او دلیل پرې دا بیانوی» څکه چې مرتد کیدل پشان د مرگ دی. «لکه وړاندې چې تیر شو.چه ارتداد سبب د مرگ دی.نوارتداد به حکمي مرگ وی.نوبه زیربحث مسئله کي اگرچه د ارتداد نه روسته وارث موجود نه دی.خوچونکه د ارتداد په وخت کې دی موجود وو.اوارتداد حکمي مرگ دی.نوځکه به دغه کس په حالت ارتداد کي هم وارث وی.اوکه دی نه وی.نودده چې کوم وارث وی.هغه به دنیابت په حیثیت دمرتد د مال وارث وی»

وَعَنْهُ أَنَّهُ يُعْتَبَرُ وُجُودُ الْوَارِثِ عِنْدَ الْمَوْتِ لِأَنَّ الْحَادِثَ بَعْدَ انْعِقَادِ السَّبَبِ قَبْلَ تَمَامِهِ كَالْحَادِثِ قَبْلَ انْعِقَادِهِ بِمَنْزِلَةِ الْوَلَدِ الْحَادِثِ مِنَ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ.

ژباړه وتشریح:- اود دوی «امام ابوحنیفه» رحمه الله نه «دریم» روایت دی. «اودا روایت د امام ابویوسف رحمه الله دی» چې معتبر دي وجود د وارث په وخت د مرگ کي ، «نوکه د مرتد دمرگ په وخت کي وارث موجود وی.دی مستحق د میراث دی.اوکه مرتد نه وړاندې مړ شوی وی.نوبیا مستحق د میراث نه دی.اودلیل دا

بيانوي﴾ ځكه چې پيدا شوې وړاندې د منعقد كيدو د سبب نه چې ﴿سبب﴾ لا پوره شوې نه وى.پشان د پيدا شوى دى وړاندې د منعقد كيدو ددې ﴿سبب﴾ نه، ﴿يعنى د ميراث اوړلو سبب مرګ دې.نوچه مرګ نه وى واقع شوې. مسبب چې ميراث اوړل دى.دا نشى اوړې.ځكه چې د سبب نه وړاندې د مسبب وجود نه راځي. ددې املـه دمرتـدكوم وارث چې د مرتـد د مـرګ پـه وخـت كـي نـه وى.نوهغـه د ميـراث حقدار نـه دې.اوددې وضاحت ددې مسئلې نه هم كيږي.كه د ارتداد نه روسته د مرتد بچې پيدا شو.اوبيا مرتد قتل كړې شو يا مړ شو.نودغه نو مولود بچې به د مرتد پلار نه ميراث اوړې﴾ پشان د هغه ولد چې پيدا شوې وى د مبيع نه وړاندې د قبض كاوه نه ﴿لكه زيد د بكرنه وينځه واخستله.خولا قبض كړې ئې نه وه.چه د وينځې بچې پيدا شو.نوپه دې صورت كې دغه بچې هم د زيد په برخه كښې راځي.اودې هم معقود عليه دې.نولكه څنګه چې په دې مسئله كې د بيع نه روسته پيدا شوې بچې په بيع كې داخل دې.دغه ډول به په زيربحث مسئله كي هم هغه بچې د ميراث مستحق وى.چه د ارتداد نه روسته پيدا شوې وى﴾

وَتَرِثُهُ امْرَأَتُهُ الْمُسْلِمَةُ إِذَا مَاتَ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، لِأَنَّهُ يَصِيرُ فَارًّا، وَإِنْ كَانَ صَحِيحًا وَقْتَ الرِّدَّةِ.

ژباړه وتشريح:- اوميراث به اوړى دده ﴿مرتد﴾ نه ښځه د ده مسلمانه،كله چې مړ شى اويا قتـل كړې شى پـه ارتداد خپـل بانـدې،اووى دا ﴿ښځه﴾په عـدت ﴿طلاق﴾ كـي ،ځكـه چې ګرځـى دې ﴿مرتـد﴾ زوج فـار ﴿تختيدونكې د ميراث دښځې نه﴾ اګرچه وى دې صحيح په وخت د ارتداد كي ، ﴿يعنى كله چې مرتد دارتداد نه وړاندې خپلې ښځې ته طلاق وركړى.اوبيا مرتد شى.اود ارتداد نه روسته دې قتـل كړې شى.يا مړ شى. نو دغه مسلمانه ښځه به دده نه ميراث اوړى.اودليل دا دې.چه دا مرتد دهغه كس پشان شو.چه هغه په مرض الوفات كي خپلې ښځې ته طلاق وركړى.اوبيا وفات شى.نوهلته دا مسئله ده.چه ده دا طلاق پـه دې غرض وركړې دې.چه زما دا ښځه د ميراث نـه محرومـه شى.ځكـه چې زه ژونـدې نـه پـاتې كيـږم.اوده تـه زوج فار وئيلى شى.نولكه څنګه چې په دغه مسئله كي د زوج په طلاق ور كاوه سره ښځه د ميراث نـه نـۀ محرومـه كيـږى .دغـه ډول پـه زيربحث مسئله كـي ارتداد د مرض الوفـات پشان دې.ځكـه چې لكـه څنګـه پـه مـرض الوفات كي د مرګ ويره وى.دغه ډول په ارتداد كي هم د قتل ويره وى.نولكه څنګه چې هلتـه ښځه د ميراث نه نه محرومه كيدله.دغه ډول به په زيربحث مسئله كي هم نه محرومه كيږى.

وَالْمُرْتَدَّةُ كَسْبُهَا لِوَرَثَتِهَا، لِأَنَّهُ لَا حِرَابَ مِنْهَا فَلَمْ يُوجَدْ سَبَبُ الْفَيْءِ، بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى

ژباړه وتشريح:- اومرتده ښځه ګټه د دې لپاره ود وارثانو ددې ﴿مرتدۀ﴾ دى.ځكه چې نشته ﴿ويره د﴾ جنګ د دې ﴿مرتده﴾ نه ﴿چه دا به مسلمانانو سره په معركه د جنګ كي مقابله اوكړى.اومسلمانانوته به نقصان اورسوى.اووجه ددې دا ده.چه عصمت د مال د نفس تابع دې.اوپه ارتداد سره د مرتدۀ دنفس عصمت نه زائله كيږى .هم دا وجه ده.چه مرتده د مرتد سرې پشان نشى قتلولې.نوهركله چې دده نفس معصوم دې.دغه ډول به ددې مال هم معصوم وى.اوددې ملكيت به ترې نه ختميږى.اوهركله چې د مرتدۀ ښځې نه د جنګ ويره نشته﴾ نوموجود نشو سبب د فئ ﴿يعنى ددې مال مال فئ نه ګرځى.بلكه دده په ملكيت كي پاته دى.نوحكم پرې مرتب نشو﴾ په خلاف دمرتدپه نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله ﴿ځكه چې دده كسب مال فئ ګرځى.ځكه چې دې خويا فى الحال محارب دې.اوكه فى الحال په دارالاسلام كښې وى.نو كيداې شى په مستقبل كي محارب شى.اودحربى مال غيرمعصوم يعنى مباح وى.نوځكه به ئې دده وارثان په ميراث كي نه اوړى﴾

وَيَرِثُهَا زَوْجُهَا الْمُسْلِمُ إِنْ ارْتَدَّتْ وَهِيَ مَرِيضَةٌ لِقَصْدِهَا إِبْطَالَ حَقِّهِ، وَإِنْ كَانَتْ صَحِيحَةً لَا يَرِثُهَا، لِأَنَّهَا لَا تُقْتَلُ فَلَمْ يَتَعَلَّقْ حَقُّهُ بِمَالِهَا بِالرِّدَّةِ، بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ.

ژباړه وتشريح:- اوميراث به اوړى ددې ﴿مرتده﴾ نه خاونددې مسلمان كه دا مرتده شوه پـه داسـې حـال كـي چې وى ناجوړه.د املـه دقصد ددې ﴿مرتده﴾ نـه بـاطلول د حق دده ﴿خاونـد ،يعنى ښځه چې كلـه بيمـاره

وه.اودا مرتده شوه.نو کیداې شي.دا په دې قصد باندې مرتده شوې وي.چه زه مرتده شم.نودې خوچونکه مسلمان دې .زما د میراث څخه به محرومه شي.ځکه چې مسلمان دکافرنه میراث نشي اوړي﴾ اوکه وی ﴿دا ښځه صحيحه﴾ نوميراث به نه اوړي ددې نه، ﴿خاوند ددې﴾ ځکه چې دا ﴿مرتده﴾ نشي قتلولې.نونه متعلق کيږي حق دده په مال دهغې ﴿ښځې﴾ پورې.په مرتد کيدو سره ﴿چه د مرتده د مرګ نه روسته خاوند دخپلې مرتده ښځې ميراث خورجوړشي!﴾ په خلاف د مرتد ﴿يعنی دمرتد په مال پورې دمسلمانې ښځې حق متعلق کيږي.نوکه مسلمان مرتد شو.برابره ده که دارتداد په وخت کې دې صحتمند وو اوکه مريض په دواړو صورتونوکې د ده مسلمانه ښځه دده نه ميراث اوړي.ځکه چې دې د زوج فارېشان دې.لکه وړاندې چې ددې ذکراوشو.چه مرتد د زوج فارېشان دې.اودده ښځه د ميراث نه نه محرومه کيږي﴾

دمرتدد دارالحرب سره په الحاق د ده دملکيت زوال

قَالَ: (وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا وَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِلَحَاقِهِ عَتَقَ مُدَبَّرُوهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ وَحَلَّتْ الدُّيُونُ الَّتِي عَلَيْهِ وَنُقِلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ إِلَى وَرَثَتِهِ مِنْ الْمُسْلِمِينَ).

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوکه يوځائې شومرتد د دارالحرب سره، ﴿يعنی د دارالاسلام نه دارالحرب ته اوتختيدلو﴾ اوحکم اوکړلو قاضي په لحاق دده ﴿چه دې اوس د دارالحرب اوسيدونکې شو. اودحربيانو سره انډيوال شو﴾ نوآزاديږي مدبر ﴿غلام﴾ دده اوامهات الاولاد،اوواجب الادا شول قرضونه ﴿موجله﴾ هغه چې په ده باندې وي. ﴿يعنی دچا چې په ده باندې په نيته پور وي.نوهغه به في الحال واجب الادا اوګرځي﴾اومنتقل کيږي هغه مال چې کسب کړې وي ده﴿مرتد﴾ په حالت داسلام کې وارثانو د ده ﴿مرتد﴾ ته،د مسلمانانو نه ﴿يعنی دده نه چې په دارالاسلام کې دسابقه غلامانو نه علاوه څه پاتې شي.هغه به دده وارثان اخلي﴾

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَبْقَى مَالُهُ مَوْقُوفًا كَمَا كَانَ، لِأَنَّهُ نَوْعُ غَيْبَةٍ فَأَشْبَهَ الْغَيْبَةَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائي امام شافعي رحمه الله پاته پاتې کيږي مال دده ﴿مرتد﴾ موقوف لکه څنګه چې وړاندې وو. ﴿اوحاکم به دهغې ساتنه کوي﴾ ځکه چې دا ﴿الحاق په دارالحرب پورې﴾ يوډول غائب کيدل دي.نومشابه شو دغائب کيدو سره په دارالاسلام کې ، ﴿يعنی لکه څنګه چې يوکس په دارالاسلام کې د خپل وطن نه مسافرشي.نوپه خپل ښاريا کلی کې چې دده کوم مملوك شيان (څيزونه) وي.هغه دده د ملکيت نه نه خارجيږي .دغه ډول په زيربحث مسئله کې هم﴾

وَلَنَا أَنَّهُ بِاللَّحَاقِ صَارَ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ وَهُمْ أَمْوَاتٌ فِي حَقِّ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ لِانْقِطَاعِ وِلَايَةِ الْإِلْزَامِ كَمَا هِيَ مُنْقَطِعَةٌ عَنْ الْمَوْتَى فَصَارَ كَالْمَوْتِ،

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه دې ﴿مرتد﴾ په يوځائې کيدو سره ﴿دارالحرب کې﴾ اوګرځيدلو د حربيانوځنې.اودوی ﴿حربيان﴾ مړه دی په حق داحکامو داسلام کې ،د امله د ختميدو د ولايت دا الزام ددوی نه لکه څنګه چې ختم دې دا ﴿ولايت﴾ د مړو نه ﴿يعنی کوم کسان چې په دارالحرب کې وی. نوپه دوی باندې د مسلمان حاکم څه وس اوقدرت نه رسی.ځکه چې هغه دده د ولايت دلاندې نه وی. نولکه څنګه چې مړی په اسلامی احکامو لکه لمونځ وغيره شو.نشی مجبوره کولې.دغه ډول کوم کسان چې په دارالحرب کې وی.هغوی هم داسلامی احکامو په ادا کولونشی مجبوره کولې﴾

إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَقِرُّ لَحَاقُهُ إِلَّا بِقَضَاءِ الْقَاضِي لِاحْتِمَالِ الْعَوْدِ إِلَيْنَا فَلَا بُدَّ مِنْ الْقَضَاءِ، وَإِذَا تَقَرَّرَ مَوْتُهُ ثَبَتَتْ الْأَحْكَامُ الْمُتَعَلِّقَةُ بِهِ وَهِيَ مَا ذَكَرْنَاهَا كَمَا فِي الْمَوْتِ الْحَقِيقِيِّ،

حل اللغة: ① يستقر: مستقل کيږی ② العود: واپس کيدل

ژباړه وتشریح:- البته دومره ده چي نـه محکم کیږي ملحق کیدل د ده ﴿مرتدپه دارالحرب پوري﴾ مګرپه فیصله د قاضي ﴿یعني که مرتد دارالحرب ته لاړ هم شي.نوبیا هم دې داسلامي احکامو په حق کي دمړو پشان نه دې.ترڅوچه قاضي دده د لحوق فیصله نه وي کړې.اودارالحرب تـه صرف پـه تختیدوباندې موږ دده د لحوق احکام ځکـه نـه جاري کـوو﴾ د املـه داحتمـال د واپس راتلو دده ﴿مرتـد﴾ نـه ﴿چـه دې بیرتـه دارالاسلام ته راشي﴾ نو ضروري ده فیصله ﴿دقاضي په لحوق دده دارالحرب سره﴾ اوکله چي ثابت شي مرګ د ده ﴿مرتد پـه فیصله د قاضـي سره﴾ نوثابت شول احکام متعلقه پـه ده ﴿مرتـد﴾ پـوري.اوهغـه ﴿احکام﴾ دي.کـوم چي مـوږ ذکر کړي دي. ﴿چه دده مـدبراوام ولـده آزادیږي.اودده دنیتې قرضونه في الحـال واجـب الادا ګرځـي.اودده مملـوك شـیان (څیزونـه) دده وارثانوتـه منتقـل کیـږي﴾ لکـه څنګـه چي ﴿ثابتیږي دا احکام﴾ په مرګ حقیقي کي .

ثُمَّ يُعْتَبَرُ كَوْنُهُ وَارِثًا عِنْدَ لَحَاقِهِ فِي قَوْلِ مُحَمَّدٍ،() لِأَنَّ اللَّحَاقَ هُوَ السَّبَبُ وَالْقَضَاءُ لِتَقَرُّرِهِ بِقَطْعِ الِاحْتِمَالِ،

ژباړه وتشریح:- بیا معتبردي کیدل دده ﴿یعني د وارث د مرتد﴾ پـه وخت د ملحق کیدو دده ﴿مرتد پـه دار الحرب پوري﴾ په قول دامام محمدرحمه الله کي ﴿یعني مسلمان بـه پـه دارالاسلام کي هلـه د مرتد د مـال وارث جوړیږي.چه مرتد درالحرب ته لاړ شي.اګرچه قاضي فیصله نه وي کړي﴾ ځکـه چي الحاق هـم دا سبب ﴿د زوال د ملك د مرتد﴾ اوفیصله ﴿د قاضي﴾ لپاره د ثابتولو ددې ﴿سبب یا د لحاق﴾ ده. ﴿یعني پـه حقیقت کي د مرتد ملك دهغـه وخت نـه زائله شو.کله چي دې دارالحرب تـه لاړلو.اوباتې شوه فیصله د قاضي چي قاضي د مرتد د دارالحرب سره د لحوق فیصله اوکړي.نودا صرف یوتاکیدی څیزدي﴾ د املـه دختمیدود احتمال ﴿دواپس راتلو دارالاسلام ته﴾

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ: وَقْتَ الْقَضَاءِ لِأَنَّهُ يَصِيرُ مَوْتًا بِالْقَضَاءِ، وَالْمُرْتَدَّةُ إِذَا لَحِقَتْ بِدَارِ الْحَرْبِ فَهِيَ عَلَى هَذَا الْخِلَافِ.

ژباړه وتشریح:- اوفرمائیلي دي امام ابویوسف رحمه الله ﴿معتبردې وارث جوړیدل د مال دمرتد﴾ دوخت د فیصلې ﴿دقاضي﴾ نه، ﴿صرف په لحوق باندې وارث نه ګرځي﴾ ځکـه چي دا ﴿رسیدل دارالحرب تـه﴾ ګرځي ﴿په حکم د﴾ مرګ ﴿کي﴾ په فیصله ﴿دقاضي،یعني کله چي مرتد دارالحرب تـه لاړ شي.نودې مړ تصور کولې شي. او دده د ځپل مملوکو څیزونونـه ملکیت ختمیږي.نوچه دده ملکیت تري ختم شو.وارث مستحق د میراث شو﴾ اومرتده ﴿ښځه﴾ کله چي ملحقـه شي دارالحرب سره ﴿یعني د دارالاسلام نـه دارالحرب ته لاړه شي﴾ نودا هم په دې اختلاف ده. ﴿یعني دامام محمد اوامام ابویوسف رحمه الله پـه مینځ کي چي د مرتد پـه اړه کي کوم اختلاف دې.هغـه د مرتدۀ پـه اړه کي هـم دې.یعني دامام محمدرحمه الله پـه نیز زوال دملك اود وارث استحقاق وراثت پـه لحوق باندې راځي.اود امام ابویوسف رحمه الله پـه نیزدقاضي پـه فیصله باندې راځي﴾

(وَتُقْضَى الدُّيُونُ الَّتِي لَزِمَتْهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ، وَمَا لَزِمَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ مِنْ الدُّيُونِ يُقْضَى مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللَّهُ: هَذِهِ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ

ژباړه وتشریح:- اوادا کولې به شي قرضونه هغه چي لازم شوي وي پـه ده ﴿مرتد﴾ باندې پـه حالت د اسلام کي دهغه مال نه چي حاصل کړي وي ده په حالت داسلام کي ،اوهغـه چي لازم شوي وي پـه ده باندې پـه حالت د ردت کي دقرضونو نه نوادا کولې به شي دهغه مال نـه چي حاصل کړي وي ده پـه حالت د ردت کي فرمائي بنده ضعیف ﴿یعني صاحب دهدایه﴾ دا ﴿کوم قول چي ذکرشو﴾ یو روایت دې دامام ابوحنیفه رحمه الله نه

وَعَنْهُ أَنَّهُ يَبْدَأُ بِكَسْبِ الْإِسْلَامِ، وَإِنْ لَمْ يَفِ بِذَلِكَ يُقْضَى مِنْ كَسْبِ الرِّدَّةِ() وَعَنْهُ عَلَى عَكْسِهِ.

() القول الراجح هو هذا قول محمد رحمه الله كذا في حاشية منحه (۱۳۱۱۵) ورد المحتار(۳۲۹۱۳) والهندية (۲۵۴۱۲) والبحرالرائق (۱۳۳۱۵) نقلاً عن القول الراجح (۵۰۰۱۱)-

ژباړه وتشریح:- اود دوی ﴿امام ابوحنیفه﴾ رحمه الله نه بل روایت دا دې چه پیل به کولای شي ﴿په خلاصولو د قرضونو دده﴾ دګټې داسلام نه ﴿یعنی په ده باندې چي کوم قرضونه لازم شوي وي.که په حالت داسلام کي وي اوکه په حالت د ردت کي واړه به اول دهغه مال نه ادا کولی شی.کوم چي ده په حالت داسلام کي ګټلي دي﴾ اوکه نه پوره کیږي په دغه ﴿کسب د حالت اسلام﴾ نو پوره کولې به شي ﴿قرضونه دده﴾ د ګټې د ردت نه ﴿یعنی که په هغه مال دده قرضونه خلاص نشو.کوم چي ده په حالت اسلام کي ګټلي وو.نوبیا به د هغه مال نه دده قرضونه ادا کولې شی.کوم چي ده په حالت د ردت کي ګټلي وي﴾او ددوی ﴿ابوحنیفه﴾ رحمه الله نه ددې په عکس ﴿قول هم﴾ منقول دې. ﴿یعنی چي اول به دده د ردت د وخت په ګټه قرضونه خلاصولې شي.اوکه په هغې خلاص نشو.نوبیا به دحالت اسلام په ګټه باندې خلاصولې شي﴾

وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الْمُسْتَحَقَّ بِالسَّبَبَيْنِ مُخْتَلِفٌ. وَحُصُولُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْكَسْبَيْنِ بِاعْتِبَارِ السَّبَبِ الَّذِي وَجَبَ بِهِ الدَّيْنُ فَيُقْضَى كُلُّ دَيْنٍ مِنَ الْكَسْبِ الْمُكْتَسَبِ فِي تِلْكَ الْحَالَةِ لِيَكُونَ الْغُرْمُ بِالْغُنْمِ.

حل اللغة: ① الغرم: تاوان ② الغنم: ګټه

ژباړه وتشریح:- وجه داول روایت ﴿چه ادا کول دهریو پور دهغه حالت په ګټه په کوم کي چي پرې پور لازم شوې وي﴾ چي مستحق ﴿مراد دمستحق نه پور دې.یعنی پور لازم شوې دې﴾ په دوو سببو مختلفو ﴿یعنی هغه سبب چي په حالت داسلام کي واقع شوې دې.اوبل هغه سبب چي په حالت د ردت کي واقع شوې دې. نودا سببونه دیوبل نه د وخت په اعتبارسره مختلف دي﴾اوحاصلیدل دهرواحد دګټو نه ﴿چه ګټه دحالت اسلام ده اوګټه د حالت ردت ده﴾ په وجه دهغه سبب سره چي لازم شوې دې په هغې باندې پور ، ﴿مثلاًزید په حالت اسلام کي یوڅیز پور واخستلو.اوبیا ئې په حالت اسلام کي هغه څیزپه ګټه باندې خرڅ کړلو.دغه ډول ددې په عکس چي یوڅیزئې په حالت ردت کي پور واخستلو.اوبیائې په ګټه خرڅ کړلو﴾ نو ادا کولې به شي هریو پور دهغه ګټې نه چي حاصله شوې وي په دغه حالت کي ﴿نود اسلام د حالت پور به په هغه ګټه باندې خلاصولې شی.چه داسلام په حالت کي ئې ګټلې ده.اود ردت دحالت پور به په هغه ګټه باندې خلاصولې شي.چه په حالت د ردت کي ده ته حاصله شوې وي﴾ ددې لپاره چي شی تاوان په مقابله د نفع کي ، ﴿مراد دتاوان نه د پور خلاصول دی.نودحالت اسلام تاوان یعني پور به د دغه حالت په ګټه خلاص کړې شي.اودحالت ردت تاوان یعني پور به ددغه حالت په ګټه خلاص کړې شي﴾

وَجْهُ الثَّانِي أَنَّ كَسْبَ الْإِسْلَامِ مِلْكُهُ حَتَّى يَخْلُفَهُ الْوَارِثُ فِيهِ، وَمِنْ شَرْطِ هَذِهِ الْخِلَافَةِ الْفَرَاغُ عَنْ حَقِّ الْمُوَرِّثِ فَيُقَدَّمُ الدَّيْنُ عَلَيْهِ،

ژباړه وتشریح:- وجه د دوهم روایت ﴿چه د دواړو حالتو پور به د اسلام د وخت په ګټه باندې خلاصولې شي﴾ دا ده چي ګټه دحالت اسلام ملك دده ﴿مرتد﴾ دې.هم دا وجه ده. ﴿چه دې ددغه ګټې مالك دې﴾ نائب وارث به دې ﴿ګټه دحالت اسلام﴾ کي ، ﴿یعني په حالت اسلام کي چي ده کومه جوړېږي د ده ﴿مرتد﴾ ګټه کړې ده.په هغې باندې دده ملکیت صحیح دې.ځکه چي دې نه وي.نودده وارث به دهغې حقداروي﴾ اود شرط ددې خلافت نه،فراغت دې دحق د مورث نه ﴿یعني کوم کس چي وفات شي.نود ده وارث دده دمال خلیفه اونائب جوړېږي .خوپه دې شرط چي کوم مال د مړي نه پاتې شوې وي.په هغې باندې دهغه حقوق ادا کړې شي.اودهغه په حقوقو کي دا هم دې.که په هغه باندې پور وي.نواول به پور ادا کولې شي.اوچه د پور نه زیاتي شي .نوبیا به وارث ته پاتې کیږي﴾ نومقدم کولې به شي پور په دې ﴿وراثت﴾ باندې. ﴿یعنی اول به پور خلاصولې شي.اوکه دهغې نه زیاتي شو.بیا به ئې وارث حقدار وي﴾

---

[1] القول الراجح هو هذا رواية الحسن بن زياد رحمه الله كذا فى بدائع الصنائع (١٣٩\٧) والخانية (٤٧٢\٤) وردالمحتار (٣٣٩\٣) والهندية (٢٥٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥٠١\١)-

أَمَّا كَسْبُ الرِّدَّةِ فَلَيْسَ بِمَمْلُوكٍ لَهُ، لِبُطْلَانِ أَهْلِيَّةِ الْمِلْكِ بِالرِّدَّةِ عِنْدَهُ فَلَا يُقْضَى دَيْنُهُ مِنْهُ إِلَّا إِذَا تَعَذَّرَ قَضَاؤُهُ مِنْ مَحَلٍّ آخَرَ فَحِينَئِذٍ يُقْضَى مِنْهُ،

ژباړه وتشریح:- هرچه کټه د حالت ردت ده.نونه ده مملوکه دده «مرتد» د امله د باطلوالی د اهليت د ملکيت د ده «مرتد» په ردت سره په نيزد ده «ابوحنيفه رحمه الله» «يعني د امام ابوحنيفه رحمه الله دا مسلك دي.کله چې مسلمان مرتد شو.نوپه ده کي دمالکيت اهليت پاتې نشو.اوکومه کټه چي ده په حالت ردت کي کړې وی.نودې دهغې مالك نه دې» نو نه به شي خلاصولې پور دده «مرتد» ددې «حالت ردت د کټې» نه.البته دا چې متعذر شی خلاصول ددې «قرض» د بل محل نه «دمحل نه مراد حالت داسلام دي.يعنی چي داسلام دحالت په کټه دده قرضونه نه خلاصيږی» نو په دغه وخت کي به خلاصولې شی «پور دده» ددې «حالت ردت دکټې» نه،

كَالذِّمِّيِّ إِذَا مَاتَ وَلَا وَارِثَ لَهُ يَكُونُ مَالُهُ لِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِينَ، وَلَوْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يُقْضَى مِنْهُ كَذَلِكَ هَاهُنَا.

ژباړه وتشریح:- «اوکه ته دا اعتراض کوې.چه يو اړخ ته خو ته دا وائې.چه دحالت ردت د کسب دې مالك نه دې.اوبل اړخ ته دا وائي.که د اسلام دحالت په کټه باندې دده پور خلاص نشو.نوبيا به د ردت دحالت په کټه دده پور خلاصولې شی.ددې نه خودا معلوميږی.چه دحالت ردت دکټې دې مالك دې.که مالك نه وو.ولې به په دغه کټه دده پور خلاصولې شو.نوزه ځواب ورکوم.چه دا څه بعيده خبره نه ده.ددې لپاره نظير شته» پشان د ذمی کله چې مړشی دې «ذمی» اونه وی وارث دده نووی به مال دده لپاره د جماعت د مسلمانانو. «يعني په بيت المال کي به جمع کولې شي» اوکه وی په ده «ذمی» باندې پور نو ادا کولې به شی ددې «مال دذمی» نه، «سره ددې نه چې ددغه مال نه د ذمی ملکيت ختم شوې دې.بلکه هغه د بيت المال برخه ګرځيدلې ده.خوچه اړتيا پيدا شو.نوهم دده ددغه مال څخه به د ذمی پور خلاصولې شی.کوم چې د بيت المال برخه کي راغلې وو.اود ذمی ملکيت ترې ختم شوې وو» نودغه ډول به «لکه څنګه چې د ذمی په مسئله کي دی» دلته «دمرتد په مسئله کي» هم وی. «يعني سره ددې نه چې مال مکسوبه په حالت ردت کي د مرتد ملکيت نه دې.خوچه اړتيا ورته پيښ شو.نودده پور به ترې ادا کولې شی»

وَجْهُ الثَّالِثِ أَنَّ كَسْبَ الْإِسْلَامِ حَقُّ الْوَرَثَةِ وَكَسْبَ الرِّدَّةِ خَالِصُ حَقِّهِ، فَكَانَ قَضَاءُ الدَّيْنِ مِنْهُ أَوْلَى إِلَّا إِذَا تَعَذَّرَ بِأَنْ لَمْ يَفِ بِهِ فَحِينَئِذٍ يُقْضَى مِنْ كَسْبِ الْإِسْلَامِ تَقْدِيمًا لِحَقِّهِ.

ژباړه وتشریح:- وجه د دريم روايت «چه د پور په خلاصولوکي به اول پيل د ردت دکټې نه کولې شی.که په هغې باندې خلاص نشو.نوبيا به داسلام دکټې نه خلاصولې شی.دا ده» چې کټه د اسلام حق د وارثانو دې. «اوکټه د حالت ردت خالص حق دده دې.نو وی به خلاصول د پور ددې «کټې د ردت» نه،مقدم «يعني د ردت په کټه به د پور خلاصول داسلام په کټه د پور خلاصولو نه مقدم وی» البته دا چې متعذر شی په داسې شان نه پوره کيږی «قرض» په دې «کټه د حالت ردت» نوپه دغه وخت کي به خلاصولې شی «قرض» په کټه داسلام «دحالت» د امله د وړاندې والی د حق دده «مرتد ،يعني دلته دوې [دوه] اوړل.اودا مسئله وړاندې بيان شوې ده .چه ارتداد پشان د مرګ دې.نوچه يوسړې مرتد شوګويا چې دې مړ شو.اوکه کس مړ شی.نودهغه په اړه کي دا مسئله ده.چه دهغه په ترکه کي به اول دهغه پور خلاصولې شی.که دهغې نه زياتی شوه.نوبيا به ورپورې د وارثانو حق متعلق کيږی.څکه چې د مړی حق د وارثانوپه حق باندې مقدم وی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: تُقْضَى دُيُونُهُ مِنَ الْكَسْبَيْنِ، لِأَنَّهُمَا جَمِيعًا مِلْكُهُ حَتَّى يَجْرِيَ الْإِرْثُ فِيهِمَا، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلي دي.امام ابويوسف رحمه الله اومحمد رحمه الله خلاصولي به شي قرضونه دده ﴿مرتد﴾ د دواړوګټونه ﴿كه د اسلام دحالت ګټه وي.اوكه د ردت دحالت ګټه وي﴾ ځكه چي د دا دواړه ﴿ګټي﴾ ملكيت د ده ﴿مرتد﴾ دي.هم دا وجه وه.چه جاري كيږي ميراث په دي دواړو ﴿ګټو﴾ كي ﴿كه د حالت اسلام وي.اوكه د ردت ،نود صاحبينو رحمهما الله په نيز به مسلمان ته ترې په ميراث كي اوړي﴾الله تعالى ښه پوهيږي.

دمرتدد تصرفاتو په صحت كي اختلاف

قَالَ: (وَمَا بَاعَهُ أَوِاشْتَرَاهُ أَوْأَعْتَقَهُ أَوْوَهَبَهُ أَوْرَهَنَهُ أَوْتَصَرَّفَ فِيهِ مِنْ أَمْوَالِهِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَهُوَمَوْقُوفٌ،فَإِنْ أَسْلَمَ صَحَّتْ عُقُودُهُ،وَإِنْ مَاتَ أَوْقُتِلَ أَوْلَحِقَ بِدَارِالْحَرْبِ بَطَلَتْ) وَهٰذَا عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ(١) وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُمَاصَنَعَ فِي الْوَجْهَيْنِ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري رحمه الله﴾ اوهغه چي خرڅ ئې كړي ﴿مرتد﴾ يا ئې واخلي يا ئې آزاد كړي يا ئې هبه كړي يا ئې ګانړه كړي اويا تصرف اوكړي په هغي كي دمالونوخپلونه، په حالت د ردت خپل كي ،نودا ﴿واړه تصرفات﴾ به موقوف وي.كه اسلام ئې ﴿دوباره﴾ قبول كړلو.نوصحيح شو عقود دده.اوكه مړ شويا قتل كړې شو اويا ملحق شويه دارالحرب پوري نوباطل شول ﴿دغه واړه تصرفات دده﴾ اودا حكم ﴿د وقوف دتصرفاتود مرتد﴾ په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله دي. اوفرمائيلي دی امام ابويوسف اوامام محمد رحمه الله جائز دی هغه څه چي ده ﴿مرتد﴾ كړي دی په دواړو حالتونوكي ﴿كه ده دوباره اسلام قبول كړلو اوكه مړ شويا قتل كړې شو﴾

اِعْلَمْ أَنَّ تَصَرُّفَاتِ الْمُرْتَدِّعَلَى أَقْسَامٍ: نَافِذٌبِالِاتِّفَاقِ كَالِاسْتِيلَادِوَالطَّلَاقِ،لِأَنَّهُ لَايَفْتَقِرُإِلَى حَقِيقَةِ الْمِلْكِ وَتَمَامِ الْوِلَايَةِ.

ژباړه وتشريح:- پوهه شه چي تصرفات د مرتد په څو قسمه دی. ﴿يوهغه تصرف دي.چه﴾ نافذ وي په اتفاق سره ﴿په مينځ د درې واړه امامانو رحمهم الله﴾ لكه ﴿خپله وينځه﴾ ام ولده جوړول ﴿يعني چي دهغې سره وطى اوكړي .او د دغه وطى نه بچې پيدا شي.نوهغه دغه وينځه به ام ولده ګرځي﴾ اوطلاق وركول ﴿كه مرتد خپلي ښځي ته طلاق وركړي.نوهغه به واقع كيږي﴾ ځكه چي نشته احتياج حقيقي ملك ته ﴿په استيلاد كي ، بلكه په شبه د ملكيت باندې هم استيلاد ثابتيږي.لكه چې يوكس دخپل زوې د وينځې سره وطى اوكړي.اودهغې بچې پيدا شي.نودغه وينځه ام ولده ګرځي.سره ددې چي دپلار ملكيت حقيقي ملكيت نه دې.خواستيلاد پرې ثابتيږي﴾ او ﴿نشته احتياج په واقع كيدو د طلاق كي﴾ كامل ولايت ته، ﴿بلكه كه ولايت ناقصه وي.هم طلاق واقع كيږي.لكه ګورې نه كه غلام خپلي ښځي ته طلاق وركړي.نود ده طلاق واقع كيږي.سره دده چي دده په خپل ځان باندې هم ولايت نشته﴾

وَبَاطِلٌ بِالِاتِّفَاقِ كَالنِّكَاحِ وَالذَّبِيحَةِ،لِأَنَّهُ يَعْتَمِدُالْمِلَّةَ وَلَامِلَّةَ لَهُ.

ژباړه وتشريح:- او ﴿دوهم ډول تصرف ئې دا دي.چه﴾ باطل وي په اتفاق سره لكه نكاح ﴿كه دې نكاح اوكړي. نو دغه نكاح صحيح نه ده﴾ او ذبيحه، ﴿چه دې يوځيز ذبح كړي.نود ده ذبيحه حلاله نه ده﴾ ځكه چي ددې ﴿هر واحدد نكاح اوذبح﴾ دارومدار ﴿دصحت﴾ په ﴿اتحاد د﴾ دين باندې دې. ﴿چه ناكح اومنكوحه په يو دين باندې وي.اودغه ډول ذابح او مذبوح له په يو دين باندې وي﴾ اونشته دين دده ﴿مرتد﴾ دپاره ﴿مرتدخوپه دين اسلام ځكه نه دې.چه دې خو ددې نه اوريدلې دې.اوپه بل دين باندې هم پاته پاتې كيدونكې نه دې.ځكه چي دې د ارتداد په وجه قتل كيدونكې دې﴾

ضروري تشريح:- دلته كي ذهن ته يوه شبه راځي.هغه دا كه چيرته د ملت نه دين اسلام مراد شي.چه دې په دين اسلام باندې نه دې.نوځكه دده نكاح نه صحيح كيږي.حالانكه موږ ګورو چي د اهل كتابو سره د مسلمان

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٣٢٠١٥) والخانية (٤٧١\١٤) وردالمحتار(٣٣٠١٣) والهندية (٢٤٤\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥٠٣١١)-

نكاح صحيح ده.نوګوره اهل كتابه ښځه د اسلام پيروكاره نه ده.اودهغې اومسلمان په مينځ كي اتحاد د دين نشته.خوددې باوجود ئې نكاح صحيح ده.اوكه مراد د دين نه آسماني دين وي.نود مجوسيانواومشركانو دين آسماني نه دې.خوددې باوجود ددوى نكاح په خپل مينځ كي صحيح ده.او د دوى د نكاح په صحت باندې دليل دا دې.كه ښځه او خاوند دواړه اسلام قبول كړي.نود دوباره نكاح كول اړتيا نشته.بلكه دغه سابقه نكاح ئې صحيح ده.دغه ډول د كافروپه مينځ كي دنكاح په سبب توالد او تناسل جاري كيږي.دا واړه ددې خبرې قرائن دى.چه د مشركانو اومجوسيانو نكاح صحيح ده. نو مصنف رحمه الله چې څه فرمائيلي دى.دا صحيح نشو.علامه ظهيرالدين په خپلو فوائدوكي ليكلي دى.چه ما د دې اشكال حل ډيرو لويو لويو علمائوته پيش كړلو.خوچاراته هم تسلي بخش ځواب رانكړلو.بيا الله تعالى زما په زړه كي واچولو.چه د دين نه هغه دين مراد دې.چه په هغې باندې په هغوى كي دنكاح انعقاد راروان وي. او چې كله دوى د دغه دين مطابق نكاح اوكړي.نودهغې په وجه چې په نكاح باندې كوم احكام مرتب كيږي.لكه توالد اوتناسل اووجوب د نفقة،اومرتدسړې په هغه دين باندې پاته پاتې كيدونكې نه دې.ځكه چې دې به د خپل ارتداد په وجه قتليږي.او مرتده ښځه قيد كولې شي.نودنكاح چې كوم اغراض اومقاصد دى.هغه نه حاصليږي.اوپاته پاتې شول مشركان او مجوسيان،نوهغوى په خپله متوارثه نكاح باندې پاته وي.

وَمَوْقُوفٌ بِالِاتِّفَاقِ كَالْمُفَاوَضَةِ، لِأَنَّهَا تَعْتَمِدُ الْمُسَاوَاةَ وَلَا مُسَاوَاةَ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْمُرْتَدِّ مَا لَمْ يُسْلِمْ. وَمُخْتَلَفٌ فِي تَوَقُّفِهِ وَهُوَ مَا عَدَدْنَاهُ.

حل اللغة: ① المفاوضة: د وكالت او كفالت عقد ② المساواة: برابري

ژباړه وتشريح:- او ﴿دريم ډول تصرفات﴾ موقوف دى ﴿يعنى كه مرتد دغه تصرفات اوكړي.نوهغه به موقوف وي.كه دوباره مسلمان شو.نوصحيح به شي.اوكه په حالت ردت كي مړ شو.يا قتل كړې شو.نوباطل به وي﴾ په اتفاق سره ﴿ددرې احنافو رحمهم الله امامانوپه مينځ كي﴾ لكه عقد مفاوضه ﴿يعنى د وكالت اوكفالت عقد﴾ ځكه چې دا ﴿عقدمفاوضه﴾ اعتماد كوي په برابرى باندې،اونشته برابري په مينځ د مسلمان او مرتد ﴿ددين او عقائدوپه لحاظ﴾ ترڅوچه مسلمان نشي مرتد،اوهغه ﴿تصرفات﴾ چې اختلاف شوې دې په موقوف كيدو د هغې كي . ﴿نوځوك وائي.چه دغه تصرفات صحيح دى.اوځوك وائي.چه صحيح نه دى﴾ اودا هغه ډول دې.چه موږ ﴿په متن كي﴾ اوشمارلو.

ضروري تشريح:- دعقد مفاوضه نه مراد وكالت او كفالت دې.په وكالت كي زيد راؤلګى. بكرخپل وكيل جوړ كړي.اوهغه ته يوه خاصه مقدمه حواله كړي.لكه څنګه چې نن سبا په عدالتونوكي خلګ دخپلې مقدمۀ لپاره وكيل نيسي.دغه ډول كاروباريان خلګ دخپل تجارت لپاره وكيل مقرركوي.دغه ډول كفالت دې .مثلاًدزيدپه بكرپنځه زره روپۍ دى.اودهغې مطالبه ترې كوي.خوهغه سره نه وي.نوخالددبكرداړخه زيدته كفيل شي﴾ نوكه مرتد په حالت د ردت كي عقد مفاوضه اوكړله. ﴿ دا عقد مفاوضه شركت په قسمونوكي يو ډول دې.چه تفصيل به ئې په كتاب الشركة كي راشي﴾ هغه به موقوفه وي.كه مسلمان شو.نوچه څوك ئې وكيل يا كفيل جوړ كړې وي.دهغه وكالت اوكفالت به صحيح شي.اوكه قتل كړې شو. نوباطل شو.په دغه وكالت اوكفالت باندې احكام نه مرتب كيږي

لَهُمَا أَنَّ الصِّحَّةَ تَعْتَمِدُ الْأَهْلِيَّةَ وَالنَّفَاذَ يَعْتَمِدُ الْمِلْكَ، وَلَا خَفَاءَ فِي وُجُودِ الْأَهْلِيَّةِ لِكَوْنِهِ مُخَاطَبًا، وَكَذَا الْمِلْكُ لِقِيَامِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ

حل اللغة: ① الخفاء: پټوالې ② النفاذ: جاري كيدل

ژباړه وتشريح:- دصاحبينو رحمهما الله لپاره دليل دادې.چه صحت ﴿ددې تصرفاتو﴾اعتماد كوي په اهليت ﴿د متصرف .يعنى چې متصرف كوم تصرف كوي.چه دې ددغه تصرف اهل وي.نوهله به دده تصرف صحيح كيږي﴾ اونفاذ ﴿د تصرف﴾ اعتماد كوي په ملك باندې ﴿يعنى تصرف به هله نافذ كيږي.چه په كوم

ځیزکي متصرف تصرف کړي وی هغه دده ملکیت وي﴾ او ﴿په موجوده صورت کې﴾ [illegible] په
وجود داهلیت ﴿دمتصرف﴾ کي ﴿اوددې لپاره دلیل دی دی اهل د تصرف دی [illegible]﴾ ځکه چې دی
﴿مرتد﴾ مخاطب دی ﴿د شرعیت په احکامو [illegible] دی چه په [illegible]
واجب القتل دی.نوکه دی مکلف نه وو ولې به واجب القتل [illegible]﴾ [illegible] ملکیت
دده. ﴿په متصرف فیها ځیزونوکي﴾ د امله [illegible]
ترڅوپورې دی مړ شوی نه وی. نو [illegible] ځکه [illegible]
کړله دا ﴿مسئله﴾ وراندي ﴿په دی قول سره چې ﴿لأنه مخاطب محتاج الی آخره﴾

وَلِهَذَا لَوْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ بَعْدَ الرِّدَّةِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ امْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ يَرِثُهُ وَلَوْ مَاتَ وَلَدُهُ بَعْدَ الرِّدَّةِ قَبْلَ الْمَوْتِ لَا يَرِثُهُ فَتَصِحُّ تَصَرُّفَاتُهُ قبل الموت

ژباړه **وتشريح**:- اود دې وجې ﴿چه دمرګ نه وړاندې دده ملکیت صحیح دی﴾ که پیدا شی دده ﴿مرتد﴾ ولد روسته د ردت نه په شپږمه میاشت دښځې مسلماني نه.نو میراث به اوړی ﴿هغه ولد﴾ د ده ﴿مرتد﴾ نه، ﴿ اوکه چیرته دده ملکیت زائله شوي وو.نودده دغه ولد دده نه میراث نشو وړلې.ځکه چې وارث خوهغه ځیزبه میراث کې اوړی.چه د مورث ملکیت وی﴾ اوکه چیرته مړشو ولد دده ﴿مرتد چې پیدا شوې وی وړاندې د ردت دده نه خومړ شی﴾ روسته د ردت نه وړاندې د مرګ دده ﴿مرتد﴾ نه نو نه به اوړی میراث ﴿دغه ولد﴾ دده ﴿مرتد﴾ نه، ﴿ نوکه چیرته د ردت نه روسته دده ملك قائم نه وو.نودغه ولد به دده نه میراث اوړلو.ځکه چې د پلار د ردت په وخت کې خودې ژوندې وو.خوهرکله چې دده ملك د ردت نه روسته هم قائم دی﴾ نوصحیح شول تصرفات د ده ﴿مرتد﴾ وړاندې د مرګ نه.

﴿نوبه دې دې کې خوصاحبین رحمهما الله په خپل مینځ کې متفق دی.چه په ذکرشوو ځیزونوکي د مرتدتصرف نافذ او صحیح دی﴾

إِلَّا أَنَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ تَصِحُّ كَمَا تَصِحُّ مِنْ الصَّحِيحِ ، لِأَنَّ الظَّاهِرَ عَوْدُهُ إِلَى الْإِسْلَامِ إِذْ الشُّبْهَةُ تُزَاحُ فَلَا يُقْتَلُ وَصَارَ كَالْمُرْتَدَّةِ.

حل اللغة: ① **تزاح:** ختمیږی

ژباړه **وتشريح**:- البته دا ده.چه په نیزدامام ابویوسف رحمه الله صحیح کیږی ﴿تصرفات دده﴾ لکه څنګه چې صحیح کیږی دصحیح نه ﴿نومثلاً که دې خپل واړه مملوك شیان (ځیزونه) چاته هبه کوی.نوهبه کولې ئې شی.اودا خبره چې دې د صحیح پشان دی﴾ځکه ښکاره واپس کیدل دده ﴿مرتد﴾ دی اسلام ته ﴿ځکه چې عام طور چې څوك مرتد کیږی .نود څه شبهٔ د امله مرتد کیږی.اوالحمدلله په هره زمانه کې داسې عالمان موجود وی.چه په اسلام باندې څه ډول شبه وی.دهغې د لرې کاوه صلاحیت لری.نوځکه شبه ختمیدې شي. ﴿ چه کله ورته عالمان کینی.اوچه شبه ختمه شی.نوبیرته به اسلام ته راواوړی﴾ نو نشی قتلولی. ﴿ بلکه داسلام په قبلولوبه دقتل نه بچ شی﴾ اواوګرځیدلو دې ﴿مرتد﴾ پشان د مرتدهٔ ښځې ﴿په عدم قتل کې ،یعنی څنګه چې مرتده ښځه نشی قتلولې.دغه ډول دامرتد سړې هم نشی قتلولې﴾.

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَصِحُّ كَمَا تَصِحُّ مِنْ الْمَرِيضِ ، لِأَنَّ مَنْ انْتَحَلَ إلَى نِحْلَةٍ لَا سِيَّمَا مُعْرِضًا عَمَّا نَشَأَ عَلَيْهِ قَلَّمَا يَتْرُكُهُ فَيُفْضِي إلَى الْقَتْلِ ظَاهِرًا ، بِخِلَافِ الْمُرْتَدَّةِ لِأَنَّهَا لَا تُقْتَلُ .

حل اللغة: ① **انتحل:** ثابته کړی، ② **نحلة:** دعوی ③ **معرض:** اوړیدونکی

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزدامام محمد رحمه الله صحیح کیږی ﴿ ذکرشوي تصرفات دمرتد﴾ لکه څنګه چې صحیح کیږی ﴿تصرفات﴾ دمریض، ﴿چه مریض وی په مرض الوفات سره ،نوکه دغه مرتدخپل واړه مملوك شیان (ځیزونه) مثلاً چاته هبه کړی.دده هبه صرف په دریمه برخه کې صحیح کیږی.په دوو حصوکې نه

صحيح كيږي . ځكه چې عنقريب دې دخپل ردت په وجه قتل كيدونكې دې.نودې دهغه ځا پښان شو.چه په مرض الوفات كې دځا لپاره دخپل واړه مال وصيت اوكړي.نودهغه وصيت صرف په دريمه برخه مال كې صحيح كيږي .په زياتي كې نه.دغه ډول به دلته هم وي﴾ ځكه چې څوك ثابته كړي يوه دعوى﴿مراد دنحل نه دعوى ده .يعني كله چې يو سړې څه دعوى اوكړي﴾ بيا خاص كرچه وى ډډه اړوونكې دهغه دين نه چې تربيت نې شوې وى په هغې باندې ډيركم داسې وى.چه پريږدى هغه ﴿يعنى په زيربحث مسئله كې مرتدخپل هغه دين نه اوړيدلې دي.چه په هغې باندې دې پيدا شوې دې.اوپه هغې باندې دده تربيت شوې دې.خوددې باوجود دې هغه دين پريږدى.اودهغې نه اعراض اوكړي.نواكثردا وى.چه دې دخپل اعراض اواوړيدو نه واپس نه راګرځي .كه راګرځي.نوشاذ اونادر به وى.اواحكام په اكثرى احوالوباندې مرتب كيږي په شاذاونادر باندې نه مرتب كيږي.اوهركله چې دې په خپل ارتداد باندې قائم پاتې كيږي.﴾ نو مفضى كيږي به ﴿دده دا ارتداد﴾ قتل ته په ښكاره ﴿يعنى چې ظاهرى حالا تو ته كتلې شي.نودې به په خپل ارتداد باندې قائم وى.اودهغې په سزا كې به قتلولې شي﴾ په خلاف د مرتدۀ ښځې ﴿نومرتد سړې دهغې پشان نشى كيدې﴾ ځكه چې دا نشى قتلولې . ﴿بلكه قيد كولې شي.نوامام ابويوسف رحمه الله چې دخپلې مدعى لپاره كوم نظير پيش كړلوهغه صحيح نه دې﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ حَرْبِيٌّ مَقْهُورٌ تَحْتَ أَيْدِينَا عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ فِي تَوَقُّفِ الْمِلْكِ وَتَوَقُّفُ التَّصَرُّفَاتِ بِنَاءً عَلَيْهِ، وَصَارَ كَالْحَرْبِيِّ يَدْخُلُ دَارَنَا بِغَيْرِ أَمَانٍ فَيُؤْخَذُ وَيُقْهَرُ وَتَتَوَقَّفُ تَصَرُّفَاتُهُ لِتَوَقُّفِ حَالِهِ، فَكَذَا الْمُرْتَدُّ،

ژباړه وتشريح:- اودامام ابوحنيفه رحمه الله لپاره دليل دا دې.چه دې ﴿مرتد﴾ حربى دې ﴿ځكه چې نه مستامن دې اونه ذمى دې﴾ مغلوب دى په لاسونوزموږ كې ﴿يعنى زموږ دتصرف لاندې دې﴾ لكه څنګه چې موږ بيان كړى دى په توقف د ملك كې ، ﴿په دې قول سره چې أنه حربي مقهور تحت أيدينا حق يقتل ولا قتل إلا بالحراب وهذا يوجب زوال ملكه ومالكيته) اوموقوف كيدل دتصرفات مبنى دى په دې ﴿توقف دملك﴾ باندې. ﴿نوكه ملك ثابت وى ،تصرف به هم نافذ وى.اوكه ملك موقوف وى.نوتصرف به هم موقوف وى﴾ اواوګرځيدلو دې ﴿مرتد﴾ پشان د حربى چې داخل شى كور زموږ ته ﴿چه دارالاسلام دې﴾ بغيردامان نه، نو نيولې به شى اومغلوبه كولې به شى او موقوف به وى تصرفات دده ﴿حربى غيرمستامن﴾ د امله دتوقف دحالت دده نه﴿چه دا حربى غير مستامن به غلام جوړولې شى.كه قتلولې به شى.اوكه پريښودې(پريخودې) به شى. نوكه غلام جوړ كړې شو.ياقتل كړې شو.ددې تصرفات باطل شول.يعنى كه خرڅول اخستل يا هبه وغيره نې كړې وى هغه به ساقط الاعتباروى﴾ نودغه ډول مرتد هم دې. ﴿چه دې به دوباره اسلام قبلوى.اوكه قتلولې به شى.نوكه قتل كړې شو.تصرفات به نې باطل شى.اوكه دوباره نې اسلام قبول كړلو.نوتصرفات به نې نافذ وى﴾

وَاسْتِحْقَاقُهُ الْقَتْلَ لِبُطْلَانِ سَبَبِ الْعِصْمَةِ فِي الْفَصْلَيْنِ فَأَوْجَبَ خَلَلًا فِي الْأَهْلِيَّةِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿اوموږ دا خبره نه منو چه د مرتدتصرفات صحيح دى.ځكه د ده اهليت ښكاره دې.ځكه نې نه منو چه صحت د تصرفاتوتقاضا كوى دكامل اهليت.اوپه مرتدكې كامل اهليت نشته.لكه څنګه چې په حربى غيرمستامن كې كامل اهليت نشته.ددې بيان داسې كوى﴾ اومستحق كيدل دده ﴿مرتد﴾ د قتل ﴿يعنى مرتد جه د قتل مستحق ګرځي﴾ د امله د باطل كيدو سبب د عصمت، ﴿اوسبب دعصمت اسلام دې .چې انسان اسلام قبول كړي.نود اسلام په وجه دې معصوم الدم اوګرځيدلو﴾ په دواړو فصلونوكې ﴿يعنى كه حربى وى اوكه مرتد وى.نوچونكه دواړو سره د عصمت سبب موجود نه دې.چه اسلام دې.ځكه قتلولې شي﴾ نو پيدا كړلو ﴿دې باطل والى د سبب عصمت﴾ نقصان په اهليت ﴿دتصرف كې ،يعنى هركله چې مرتد معصوم الدم نشو بلكه واجب القتل شو.نوددې په وجه دده په اهليت كې هم نقصان پيدا شو.اودتصرف د صحت لپاره خوكامل اهليت پكار وى.اوكامل اهليت په مرتد كې نشته.نوځكه به دده

تصرف موقوف وي﴾

بِخِلَافِ الزَّانِي وَقَاتِلِ الْعَمْدِ، لِأَنَّ الِاسْتِحْقَاقَ فِي ذَلِكَ جَزَاءٌ عَلَى الْجِنَايَةِ.

ژباړه وتشريح:- ﴿كه څوك دا اووائي.چه مستحق جوړيدل د قتل كه چيرته دا په اهليت كې نقصان راولي اودده تصرفات موقوف كوي.نوبيا خوپكاردا وه.چه محصن كس د زنا په وجه د رجم مستحق ګرځيدلې وي.اوقاتل چې د قتل په وجه د قصاص مستحق ګرځيدلې وي.د دوى تصرفات هم موقوف وي.حالانكه څوك هم د قاتل اود محصن زاني د تصرفاتود توقف قائل نه دې.نودهغې نه ځواب كوي.﴾ په خلاف د زناكار ﴿محصن چې د زنا په وجه د رجم مستحق ګرځيدلې وي﴾ اوقاتل د قصد عمد، ﴿چه په قصد باندې بل مسلمان قتل كړې وي.اودې د قصاص مستحق وي﴾ ځكه چې استحقاق ﴿دقتل﴾ په دې ﴿باب د زنا اوقتل كې﴾ جزاء دجنايت ده. ﴿دعصمت د سبب بطلان نه دې،يعنې په زنا زاني درجم مستحق ګرځي.اوپه قتل سره قاتل د قصاص مستحق ګرځي.خودا رجم اوقتل ددې امله نه دې.چه دزاني اوقاتل عصمت ختم شو.بلكه دوى اوس هم معصوم الدم دى.ځكه چې مسلمانان دى.نود دوى تصرفات ځكه صحيح دى.اوموقوف نه دى .او مرتد اوحربي كې دقتل مستحق ګرځي.نودا قتل سزا دجنايت نه ده.بلكه دوى سره سبب دعصمت چې اسلام دې.هغه نشته.ځكه دوى قتلولې شي.اوځكه ددوى تصرفات موقوف وي﴾

وَبِخِلَافِ الْمَرْأَةِ، لِأَنَّهَا لَيْسَتْ حَرْبِيَّةً، وَلِهَذَا لَا تُقْتَلُ.

ژباړه وتشريح:- اوپه خلاف دښځې ﴿چه ښځه مرتده شي.نوددې تصرفات نافذ وي.موقوف نه وي.دا د صاحبينو ﷫ ددې قول نه ځواب دې.چه دمرتدۀ ښځې پشان دمرتد سړي تصرفات هم نافذ دى﴾ ځكه چې دا ﴿مرتده﴾ نه ده حربيه، ﴿ځكه چې دا په ډكر جنګ كې د مسلمانانودمقابلې لپاره نه راوځي. او مسلمانانوته ددې نه خطره نه وي﴾ اوددې امله ﴿چه دا حربيه نه ده﴾ نشي قتلولې. ﴿البته دا چې دارالحرب ته لاړه شي.نوپه دغه وخت كې دا حربيه ګرځي.اومرتدخوچه څنګه مرتدشو.نودې حربي شو. ځكه چې نه مستامن دې اونه ذمي دې ،نودده قتل دمحاربت سزا ده.اومرتده ښځه چونكه د ارتداد په وخت كې حربيه نه ګرځي .نوځكه دهغې تصرفات صحيح دى.نومرتد په مرتدۀ باندې قياس كول صحيح نه دى.لكه څنګه چې ئې صاحبين ﷫ قياس كوي﴾

دمرتد اسلام قبلول اودوباره دارالاسلام ته په راتلودده دمال موروثه حكم

(فَإِنْ عَادَ الْمُرْتَدُّ بَعْدَ الْحُكْمِ بِلَحَاقِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ مُسْلِمًا فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِنْ مَالِهِ بِعَيْنِهِ أَخَذَهُ) لِأَنَّ الْوَارِثَ إِنَّمَا يَخْلُفُهُ فِيهِ لِاسْتِغْنَائِهِ، وَإِذَا عَادَ مُسْلِمًا احْتَاجَ إِلَيْهِ فَيُقَدَّمُ عَلَيْهِ؛

حل اللغة: ① لحاق:مولښتې كيدل ② الاستغناء:بې پرواه كيدل

ژباړه وتشريح:- كه راواپس شو مرتد روسته دفيصلې ﴿كولودقاضي﴾ نه په ملحق كيدودده ﴿مرتد﴾ دارالحرب سره،په داسې حال كې چې وى دې مسلمان ﴿يعنې دمرتد په دارالحرب پورې د الحاق حكم قاضي كړې وي.اوپه دارالاسلام كې دده مال دده په وارثانو ويش شوې وي.خودې بيرته مسلمان شي.او دارالاسلام ته راشي﴾ نوهغه چې وې مومې دې په لاس د وارث خپل كې دمال خپل نه بعينه ﴿يعنې كوم مال چې دده وي. هغه مال وارث ته پاتې شوې وي.اوچه دې دوباره مسلمان شي.نوهم هغه مال دده د وارث سره وي﴾ نواخلى به ئې ځكه وارث خليفه جوړشوې دده ﴿مرتد﴾ په دغه ﴿مال﴾ كې ،د امله د عدم احتياج دده ﴿مرتد دغه مال ته په دارالاسلام كې ،ځكه چې دارالاسلام كې كه مثلاً د ده كور وو.اودې ترې د ارتداد نه روسته دارالحرب ته اوتختيدلو.نودې خودغه كوركې نشي اوسيدې﴾ اوچه كله مسلمان راواپس شو.نومحتاج شو دې ﴿مال﴾ ته،نو وړاندې كولې به شي ﴿دغه مال﴾ ده ته، ﴿چه دې پرې خپل احتياج پوره كړي﴾

بِخِلَافِ مَا إِذَا أَزَالَهُ الْوَارِثُ عَنْ مِلْكِهِ، وَبِخِلَافِ أُمَّهَاتِ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرِيهِ، لِأَنَّ الْقَضَاءَ قَدْ صَحَّ بِدَلِيلٍ مُصَحِّحٍ فَلَا يُنْقَضُ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دهغه صورت چې زائله کړی دغه مال وارث دخپل ملکيت نه (مثلا هغه مال وارث په بل ځاى باندې خرڅ کړې وو. يا ئې هبه کړې وو، نوبيا دې د وارث نه دهغې مال دقيمت مطالبه نشي کولې) او په خلاف د امهات اولاد دده (يعني دده په مرتد کيدو باندې دده ام ولده آزاده شوې وه. نواوس هغه دوباره ام ولده نه ګرځى) اود مدبر دده (يعني دده په ارتداد سره دده مدبرغلام آزاد شوې وو. چه دې بيرته مسلمان شو. هغه دوباره مدبر نه ګرځى. بلکه آزاد به وی، اوددې دليل دا بيانوی) ځکه چې فيصله (دقاضي چې قاضي ددوی دآزادولو فيصله کړې وی) صحيح شوې ده په دليل صحيح سره (چه فيصله د قاضي ده. يعني دقاضي سره د فيصلې توان شته. نوچه يوځل هغه د دوی د آزادئ فيصله کړې ده.) نو نه ماتيږی (فيصله دقاضي)

وَلَوْ جَاءَ مُسْلِمًا قَبْلَ أَنْ يَقْضِيَ الْقَاضِي بِذَلِكَ فَكَأَنَّهُ لَمْ يَزَلْ مُسْلِمًا لِمَا ذَكَرْنَا.

ژباړه وتشريح:- اوکه راغلۀ (مرتد د دارالحرب نه) مسلمان وړاندې ددې نه چې فيصله کړې وی قاضي په دې (ملحق کيدو دده دارالحرب سره) نودا داسې ده. لکه چې دې هميشه لپاره مسلمان وو. دهغه دليل د امله کوم چې موږ بيان کړې دې. (په دې قول سره، إلا أنه لايستقر لحاقه إلا بالقضاء فلا يعتق عليه شيء من أمهات أولاده ومدبريه)

دمرتد د اسلام دوخت دخپلې نصرانې وينځې سره وطى كول

(وَإِذَا وَطِئَ الْمُرْتَدُّ جَارِيَةً نَصْرَانِيَّةً كَانَتْ لَهُ فِي حَالَةِ الْإِسْلَامِ فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ ارْتَدَّ فَادَّعَاهُ فَهِيَ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ وَالْوَلَدُ حُرٌّ وَهُوَ ابْنُهُ وَلَا يَرِثُهُ،

ژباړه وتشريح:- اوکله چې وطى کړی مرتد يوه وينځه نصرانيه چې وه دده (په ملکيت کې) په حالت داسلام کې، نو هغې اوزيږولو يوولد، په زياته مودۀ د شپږو مياشتو نه، دهغه وخت نه چې دې مرتد شوې وی. (يعنی د مرتد د ارتداد دشپږو مياشتونه زياته مودۀ تيره شوه. اوبيا دغه وينځې ولد اوزيږولو کومه چې ئې په حالت د اسلام کې وطى کړې وه) نودعوی اوکړله (مرتد) ددغه ولد (د نسب چې دا زما ولد دې. نونسب ئې ثابت شو. اوچه نسب ئې ثابت شو) نوهغه (نصرانی وينځه) ام ولده شوه دده (مرتد، ځکه چې کله وينځه د خپل مولی نه حمل داره شی. او ولد اوزيږوی. هغه ام ولده ګرځى) اوولد به آزاد وی. (ځکه دده پلار آزاد دې. نودې به هم د هغه تابع وی. اوآزاد به وی) اودده ځوئې به وی. (ځکه چې د نسب دعوی ئې صحيح ده) خوميراث به نه اوړی دده (مرتدپلار) نه،

ضروری تشريح:- په بنايه کې علامه عينی رحمه الله ذکرکړی دی. که ولد ئې د ردت نه روسته دشپږو مياشتو نه په کمه مودۀ کې اوزيږولو. نوپه دې صورت کې به دغه ولددخپل مرتد پلار نه ميراث اوړی. اګرچه مورئې نصرانيه وی. ځکه چې د ردت نه روسته دشپږو مياشتونه په کمه موده کې ولادت ددې خبرې دليل دې. چه د دې بچی علوق د ارتداد نه وړاندې داسلام په حالت کې راغلې دې. ځکه چې بچې خود شپږو مياشتونه په کمه مودۀ کې نه پيدا کيږی. اوچه داسلام په حالت کې دده علوق شوې دې. نودې به دخپل پلار داسلام د حالت تابع وی. اومسلمان به ګڼلې شی. اومسلمان د مسلمان نه ميراث اوړی. دغه ډول به دا ولد دخپل مرتد پلارنه په حالت اسلام کې دعلوق په اعتبار سره ميراث اوړی.

وَإِنْ كَانَتْ الْجَارِيَةُ مُسْلِمَةً وَرِثَهُ الِابْنُ إِنْ مَاتَ عَلَى الرِّدَّةِ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ)

ژباړه وتشريح:- اوکه وی وينځه مسلمانه. (اونورصورت د مسئلې هم په خپل حالت دې. نو ميراث به اوړی دده (مرتد) نه ځوئې. که مړشی (مرتد) په ردت باندې اويا يوځائې شی دارالحرب سره،

أَمَّا صِحَّةُ الْإِسْتِيلَادِ فَلِمَا قُلْنَا، وَأَمَّا الْإِرْثُ فَلِأَنَّ ...

فِي حُكْمِ الْمُرْتَدِّ وَالْمُرْتَدُّ لَا يَرِثُ الْمُرْتَدَّ،

حل اللغة: ① **الجبر:** زور، زبردستي

ژباړه وتشريح:- هرچه صحت داستيلاد دې.نودهغه امله دې چې مور اوونيله ﴿په دې قول سره، لأنه لا يفتقر إلى حقيقة الملك فصحت دعوته﴾ اوهرچه د ميراث اوړل دي.نوځکه چې موركله نصرانيه وي.نوولد به تابع وي د ده ﴿پلار﴾ د امله د نزديکت دده ﴿پلار﴾ اسلام ته، د امله د مجبوره کولودده ﴿مرتد﴾ په دې ﴿اسلام قبلولو﴾ باندې ﴿يعنې مرتد په خپل ردت باندې قائم پاتې کيدو ته نشي پرېښودی(پريخودې)،بلکه دې به مجبوره کولې شي.چه دوباره اسلام قبول کړي.ګنې بيا به قتلولې شي.اومورخوچونکه نصرانيه ده.نوهغه اسلام په قبلولونشي مجبوره کولې﴾ اونه ګرځيدلو ﴿ولد﴾ په حکم د مرتد کې ﴿ځکه د پلار تابع شو.اوپلارئې مرتد دې.نودې به هم مرتد ګنړلې شي﴾ اومرتد ميراث نه اوړي د مرتد نه ﴿بلکه مرتد دهيڅ چانه هم ميراث نشي اوړې.که مسلمان وي اوکه غيرمسلمان﴾

أَمَّا إِذَا كَانَتْ مُسْلِمَةً فَالْوَلَدُ مُسْلِمٌ تَبَعًا لَهَا، لِأَنَّهَا خَيْرُهُمَا دِينًا وَالْمُسْلِمُ يَرِثُ الْمُرْتَدَّ.

ژباړه وتشريح:- اوهرچه وې ﴿وينځه﴾ مسلمانه،نوولد به مسلمان وي.د امله د تبعيت ددې ﴿مسلمانې مور﴾ ځکه چې دا ﴿مسلمانه وينځه﴾ غوره ده په دواړو ﴿ښځه اوخاوند﴾ کې ،په اعتبار د دين ﴿اونبي ﷺ فرمائيلي دي.چه ولدبه په موريلارکې دهغه چا تابع وي.چه د دين په اعتبارسره غوره وي.نوکه پلارمسلمان وي. اوموركافره وي.نوولد د پلارتابع ګنړلې شي.اوکه مورمسلمانه اوپلار كافروي.نوولد به د مورتابع وي﴾اومسلمان د مرتد نه ميراث اوړي. ﴿نوپه دې صورت کې هم مسلمان ولد د مرتد پلار نه ميراث اوړې شي﴾

دمرتددارالحرب ته دخپل مال سره تلل اوبيا د غازيانوپه هغې غلبه

(وَإِذَا لَحِقَ الْمُرْتَدُّ بِمَالِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ ثُمَّ ظُهِرَ عَلَى ذَلِكَ الْمَالِ فَهُوَ فَيْءٌ، فَإِنْ لَحِقَ ثُمَّ رَجَعَ وَأَخَذَ مَالًا وَأَلْحَقَهُ بِدَارِ الْحَرْبِ فَظُهِرَ عَلَى ذَلِكَ الْمَالِ فَوَجَدَتْهُ الْوَرَثَةُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ رُدَّ عَلَيْهِمْ)

ژباړه وتشريح:- اوکله چې لاړشي مرتد دخپل مال سره دارالحرب ته،بيا غلبه اوشوه په دغه مال ﴿دمرتد باندې يعنې غازيانوپرې غلبه اوکړله﴾ نوهغه ﴿مال﴾ مال فئ دې.اوکه لاړلو ﴿مرتد دارالحرب ته﴾ بيا راواپس شو . ﴿دارالاسلام ته﴾ او وائې اخستلو مال ﴿خپل کوم چې په دارالاسلام کې ووه﴾ او يوئې ړلو دارالحرب ته ﴿اووددې نه پس﴾ غلبه اوشوه په دغه مال ﴿يعنې غازيانوپه دارالحرب باندې چور اوکړله.اودده مرتد مال ئې حاصل کړلو﴾نواوموندلوهغه ﴿مال﴾ وارثانو ﴿دمرتد﴾ وړاندې د ويش ﴿دغنيمت نه﴾ نوواپس کولې به شي دوی ﴿وارثانو﴾ ته،

لِأَنَّ الْأَوَّلَ مَالٌ لَمْ يَجْرِ فِيهِ الْإِرْثُ، وَالثَّانِي انْتَقَلَ إِلَى الْوَرَثَةِ بِقَضَاءِ الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ فَكَانَ الْوَارِثُ مَالِكًا قَدِيمًا.

ژباړه وتشريح:- ځکه چې اول داسې مال دې چې نه دې جاری شوې په دې کې ميراث، ﴿يعنې په اولنی صورت کې کله چې مرتد،مرتد شو.نودارالحرب ته لاړلو.اوځان سره ئې خپل مال هم اوړې وو.په دارالاسلام کې ئې پرېښودې (پريخودې) نه وو.چه قاضي پرې دده د وارثانو لپاره فيصله کړې وه﴾ او دوهم ﴿مال داسې مال دې.چه﴾ منتقل شوې دې وارثانوته په فيصله دقاضي ﴿چه قاضي فيصله کړې وي﴾ په ملحق کيدو دده ﴿مرتد دارالحرب سره،يعنې په دوهم صورت کې چې مرتد دارتداد نه روسته اوتختيدلو.اومال ئې په دارالاسلام کې پرېښولو .نوهغه د وراثانو حق شو.دا بيله خبره ده.چه مرتد واپس راغلو.اود دارالاسلام نه ئې دغه پاتې مال ځان سره دارالحرب ته يوړلو﴾ نودې وارث مالك پخوانې ﴿يعنې کله چې مرتد دارالحرب ته تختيدلې وو. او خپل مال ئې په دارالاسلام کې پرېښودې (پريخودې) وو.نووارثان دهغې مالکان جوړشوی وو.اودا مسئله ده.چه کافرانو د مسلمانانو په مال قبضه کړي وي.اوبيا غازيان په

دارالحرب باندې غلبه اوكړي.اودوى ته په مال غنيمت كي هم هغه مال بعينه ملاؤ شي.كوم چې هغوى دمسلمانانو نه قبضه كړې وو.نودويش نه وړاندې دغه سابقه مالكان ددغه خپل سابقه مال مستحق دي﴾

دمرتدغلام چې خوى ته پاتې شي.اوخوئي ئې مكاتب كړي

(وَإِذَا لَحِقَ الْمُرْتَدُّ بِدَارِ الْحَرْبِ وَلَهُ عَبْدٌ فَقُضِيَ بِهِ لِابْنِهِ وَكَاتَبَهُ الِابْنُ ثُمَّ جَاءَ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمًا فَالْكِتَابَةُ جَائِزَةٌ، وَالْمُكَاتَبَةُ وَالْوَلَاءُ لِلْمُرْتَدِّ الَّذِي أَسْلَمَ)،

ژباړه وتشريح:- اوكله چې ملحق شي مرتد دارالحرب سره،اووى دده غلام نوفيصله اوشي په غلام سره دده ﴿مرتد﴾ د خوى دپاره ﴿يعنى دمرتدپلاردارالحرب ته د تلو نه روسته په دارالاسلام كي قاضي دغه غلام دمرتد خوى ته وركړي﴾ اوكتابت اوكړي دهغه ﴿غلام﴾ سره خوى.بيا راغلو مرتد ﴿د دارالحرب نه دارالاسلام ته﴾ مسلمان نوكتابت ﴿كوم چې ئې خوى دغلام سره كړې وو﴾ جائز ﴿اوصحيح﴾ دي.اوبدل كتابت او ولاء به د مرتد وى.هغه مرتد چې اسلام ئې قبول كړې وى. ﴿يعنى په خومره قيمت چې دمرتدخوى د غلام سره كتابت كړې وى .نوهغه بدل كتابت به د پلارد دوباره اسلام قبلولونه روسته دپلاروى.دخوى به نه وى.اودغه ډول كه دغه مكاتب غلام مړشو.اودهغه څوك وارث نه وى.نودهغه نه چې څه تركه پاتې شوې وى.هغه به د پلاروى.اوددې حكم دليل دا دي﴾

لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى بُطْلَانِ الْكِتَابَةِ لِنُفُوذِهَا بِدَلِيلٍ مُنَفِّذٍ، فَجَعَلْنَا الْوَارِثَ الَّذِي هُوَ خَلَفُهُ كَالْوَكِيلِ مِنْ جِهَتِهِ، وَحُقُوقُ الْعَقْدِ فِيهِ تَرْجِعُ إِلَى الْمُوَكِّلِ، وَالْوَلَاءُ لِمَنْ يَقَعُ الْعِتْقُ عَنْهُ.

حل اللغة: ① نفوذ جارى كيدل

ژباړه وتشريح:- ځكه چې نشته څه وجه د باطلولود كتابت، ﴿دخوى كوم چې هغه دغلام سره كړې دي﴾ د امله د نافذ كيدودهغې ﴿كتابت﴾ په دليل صحيح سره ﴿چه هغه دقاضى فيصله ده.چه قاضي د خوى لپاره دغلام فيصله كړې وه.اوغلام دخوى په ملكيت كي راغلې وو.اوكله چې يوكس دخپل مملوك غلام سره كتابت اوكړي.نوهغه صحيح وى.نودا كتابت هم صحيح شو﴾ نومونږ اوګرځولو وارث هغه چې هغه خليفه دده ﴿مرتدپلار﴾ دي.پشان دوكيل د اړخ دهغه ﴿مرتدپلار﴾ نه،اوحقوق دعقد ﴿وكالت﴾ په دې ﴿وكالت﴾ كي راجع وى موكل ته، ﴿نوځكه به بدل كتابت دپلار وى﴾ اوولاء ﴿دغلام﴾ دهغه چا لپاره وى.چه واقع شوې وى عتق دهغه داړخه ﴿اودا خبره ثابته شوه.چه په زيربحث مسئله كي خوئې صرف وكيل دي.حقوقو موكل ته راجع وى.نوولاء به هم دپلار وى﴾

دمرتددقتل خطاء د ديت حكم

(وَإِذَا قَتَلَ الْمُرْتَدُّ رَجُلًا خَطَأً ثُمَّ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ فَالدِّيَةُ فِي مَالٍ اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ خَاصَّةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.() وَقَالَا: الدِّيَةُ فِيمَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالَةِ الْإِسْلَامِ وَالرِّدَّةِ جَمِيعًا) لِأَنَّ الْعَوَاقِلَ لَا تَعْقِلُ الْمُرْتَدَّ، لِانْعِدَامِ النُّصْرَةِ فَتَكُونُ فِي مَالِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوكله چې قتل كړى مرتد يو سړې په خطاء باندې،اوبيا لاړ شى دارالحرب ته،يا قتل كړې شى په ردت خپل.نوديت به په هغه مال كي وى.چه حاصل كړې ئې وى په حالت د اسلام كي خاص كر،په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائى صاحبين رحمهما الله ديت به په هغه څه كي وى.چه حاصل كړې ئې وى په حالت داسلام او ردت دواړوكي ،ځكه چې خاندان ديت نه وركوى د مرتددا ړخه ، د امله د نشتوالى د نصرت نه ﴿يعنى څوك چې قتل خطاء اوكړى.نوپه ده باندې ديت لازميږي.خودغه ديت به د قاتل قبيله وركوى.

[1]) القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا فى الدرالمنتقى (٦٩٤\١) والخانية (٤٧٢\٤) ورد المحتار(٣٣٥\٣) والبحرالرائق (٣٦\٥) والهندية (٢٥٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥٠٢\١)-

اوهغه سره به كومك كوي.خوچه كله هغه مرتدشو.نوپه مسلمان باندې دكافرسره نصرت نه دې لازم﴾نووي په ديت په مال دده ﴿مرتد﴾ كي ،

وَعِنْدَهُمَا الْكَسْبَانِ جَمِيعًا مَالُهُ لِنُفُوذِ تَصَرُّفَاتِهِ فِي الْحَالَيْنِ، وَلِهٰذَا يَجْرِي الْإِرْثُ فِيهِمَا عِنْدَهُمَا.

ژباره وتشريح:- اوپه نيزدصاحبينو ﷬ دواړه ګټې ﴿كه دحالت اسلام وي اوكه دحالت ردت﴾ مال دده ﴿مرتد﴾ دي.د امله د صحت دتصرفاتو دده ﴿مرتد﴾ په دواړو حالتونوكي . ﴿كه حالت داسلام دې اوكه دردت﴾ اوهم دا وجه ده.چه جاري كيږي وراثت په دې دواړو ﴿ګټوكي كه دحالت اسلام وي اوكه دردت﴾ په نيزد صاحبينو ﷬ ﴿يعني كه مرتد مړشو.نودحالت اسلام ګټه اودحالت ردت ګټه به دده وارثانوته پاتې كيږي﴾

وَعِنْدَهُ مَالُهُ الْمُكْتَسَبُ فِي الْإِسْلَامِ لِنَفَاذِ تَصَرُّفِهِ فِيهِ دُونَ الْمَكْسُوبِ فِي الرِّدَّةِ لِتَوَقُّفِ تَصَرُّفِهِ، وَلِهٰذَا كَانَ الْأَوَّلُ مِيرَاثًا عَنْهُ، وَالثَّانِي فَيْئًا عِنْدَهُ.

ژباره وتشريح:- اوپه نيزدده ﴿ابوحنيفه﴾ ﷬ مال دده ﴿مرتد هغه مال دې.چه﴾ ګټلې شوې وي په حالت داسلام كي ،د امله دصحت دتصرف دده ﴿مرتد﴾ په دغه مال كي ، ﴿چه په حالت اسلام كي ئې ګټلې وي﴾ نه په ګټلې شوي ﴿مال﴾ كي په حالت د ردت كي ،د امله د توقف دتصرف دده ﴿مرتد﴾ نه ﴿يعني دامام ابوحنيفه په نيزمرتدچه د ردت په حالت كي كوم مال ګټلې وي.په هغې كي كه ده تصرف اوكړلو.يعني چاته ئې هبه كړلو.يا ئې خرڅ كړلو.نودده تصرف موقوف دې.كه دوباره مسلمان شو.نونافذ به شي.اوكه مړشو يا قتل كړې شو.نوباطل به وي﴾ اووددې وجې ﴿چه داسلام دحالت په مال مكسوبه كي دده صرف صحيح دې.اود ردت دحالت په مال مكسوبه كي دده تصرف موقوف دې﴾ دې اولنې ﴿مال چې په حالت اسلام كي ئې ګټلې وي﴾ ميراث،اودويم ﴿مال چې په حالت د ردت كي ئې ګټلې وي﴾ مال فئ دې.په نيزد ده ﴿ابوحنيفه﴾ ﷬

په حالت اسلام كي دچالاس كټ كول اويا مرتد كيدل

(وَإِذَا قُطِعَتْ يَدُ الْمُسْلِمِ عَمْدًا فَارْتَدَّ وَالْعِيَاذُ بِاللّٰهِ ثُمَّ مَاتَ عَلَى رِدَّتِهِ مِنْ ذٰلِكَ أَوْلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ ثُمَّ جَاءَ مُسْلِمًا فَمَاتَ مِنْ ذٰلِكَ فَعَلَى الْقَاطِعِ نِصْفُ الدِّيَةِ فِي مَالِهِ لِلْوَرَثَةِ)

ژباره وتشريح:- اوكله كټ كړې شولاس د مسلمان،په قصدا اويا مرتد شو ﴿مقطوع اليد مسلمان﴾ والعياذ بالله اويامړشوپه خپل ردت باندې،اويا لاړلو دارالحرب ته،اويا راغلو ﴿د دارالحرب نه دارالاسلام ته﴾ مسلمان ،نومړ شو ﴿په دارالاسلام كي﴾ هم په هغه وخت نوپه كټ كونكي باندې نيم ديت دې. په مال دده ﴿قاطع﴾ كي ، لپاره د وارثانو ﴿يعني دا نيم ديت به د هغه مقطوع اليد وارثانوته وركولې شي﴾

أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ السِّرَايَةَ حَلَّتْ مَحَلًّا غَيْرَ مَعْصُومٍ فَأُهْدِرَتْ،

حل اللغة: ① **السراية**:تجاوز كول ،تيريدل ② **اهدرت**:بې قيمته شو

ژباره وتشريح:- هرچه اولنى صورت دي. ﴿ چه دغه مقطوع اليد مرتد په خپل ردت باندې مړ شي.نوپه قاطع باندې د دغه مقطوع اليدمرتددد وارثانو لپاره نيم ديت واجبيږي﴾ ځكه چي سرايت واقع شوې دې په محل غير معصوم كي ﴿يعني زخم مرګ ته مفضى شو.خومرګ چې په چا واقع شوې دې.هغه محل غيرمعصوم دې. ځكه چې په ارتداد سره هغه واجب القتل ګرځيدلې وو﴾ نوهدر ﴿شو دغه سرايت ﴿نودنفس ديت نه واجبيږي .ځكه چې په كوم وخت كي دغه نفس مړ شوې دې.نوهغه حالت د ردت وو.اومرتدغيرمعصوم الدم وي.نوپه قتل ئې څه ديت نه واجبيږي.اوپه لاس كي قصاص هم نه واجبيږي.ځكه چې﴾ ددې مرګ په بدله كي ديت يا قصاص نه واجبيږي.ځكه چې په هغې باندې ردت راغلو.نودهغې معصوميت ئې ختم كړلو.البته د لاس ديت واجبيږي.ځكه چې په كوم وخت كي لاس كټ شوې وو.په هغه

وخت کې دې مسلمان وو.اودده لاس داسلام په حالت کې کټ شوې وو.نوځکه به دلاس دیت واجبیږی.البته دا خبره یاد ساتل پکار دی.چه دقاطع په مال کې د لاس دیت په هغه صورت کې واجبیږی.چه قطع په قصد سره شوې وی.اوکه ده په خطاء باندې دهغه لاس کټ کړې وی.نوبیا به دده په عاقله باندې دیت واجب وی﴾

بِخِلَافِ مَا إِذَا قُطِعَتْ يَدُ الْمُرْتَدِّ ثُمَّ أَسْلَمَ فَمَاتَ مِنْ ذٰلِكَ، لِأَنَّ الْإِهْدَارَ لَا يَلْحَقُهُ الْإِعْتِبَارُ، أَمَّا الْمُعْتَبَرُ قَدْ يُهْدَرُ بِالْإِبْرَاءِ فَكَذَا بِالرِّدَّةِ.

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه صورت چې کټ کړې شی لاس د مرتد ،بیا هغه اسلام قبول کړی.اومړشی د دغه کټ کیدونه. ﴿نوپه دې صورت کې دقاطع په مال کې دمقطوع الید د وارثانو لپاره دیت نه واجبیږی﴾ځکه چې هدر نه راځی روستو په دې پسې اعتبار، ﴿یعنی کله چې دده لاس کټ کولې شو.نوپه هغه وخت کې دې مرتد وو.اوردت په وجه دده لاس غیرمعصوم وو.دهغې په کټ کولودیت نه واجبیدلو. ځکه چې په اول کې دیت نه وو واجب.بلکه دلاس پرې کول هدراوضائع وو.نوروسته که دې دا مسلمان هم مړ شوې وی.دیت به نه واجبیږی﴾ هرچه معتبروی﴿داول نه﴾ نوهدرکیږی په معاف کولوسره، ﴿ځکه چې دا مسئله ده.کوم څیزچه په اول کې هدر وی.روسته هغه قیمتی کیږی نه،اوچه کوم څیزپه اول کې قیمتی وی.نو روسته د څه علت د امله هغه ضائع کیږی.مثلاً په یوکس باندې قصاص واجب شوې وی.خو روسته ئې دمقتول اولیاء معاف کړی .نوقصاص هدرشو.نولکه څنګه چې قصاص په معاف کولوسره هدرکیږی﴾ دغه ډول به هدر کیږی په ردت سره.

وَأَمَّا الثَّانِي وَهُوَ مَا إِذَا لَحِقَ وَمَعْنَاهُ إِذَا قُضِيَ بِلَحَاقِهِ فَلِأَنَّهُ صَارَ مَيِّتًا تَقْدِيرًا، وَالْمَوْتُ يَقْطَعُ السِّرَايَةَ، وَإِسْلَامُهُ حَيَاةٌ حَادِثَةٌ فِي التَّقْدِيرِ فَلَا يَعُودُ حُكْمُ الْجِنَايَةِ الْأُولٰى،

ژباړه وتشریح:- اوهرچه دوهم صورت دې.اوداهغه صورت دې.چه لاحق شی دې ﴿یعنی دارالحرب ته لاړشی﴾ ددې معنی دا ده.کله چې فیصله اوشی په لحوق باندې﴿یعنی چې قاضی دا فیصله اوکړی.چه دې د دار الحرب مستقل اوسیدونکې شو﴾ځکه چې اوګرځیدلو دې ﴿مرتد﴾ مړ تقدیرا ﴿یعنی قاضی چې دده د لحوق فیصله اوکړی.نوداحکامو په حق کې دا دده لپاره تقدیری مرګ دې.یعنی داحکام په باب کې به دې مړ ګنړلې شی.اوهرکله چې دې په تقدیری مرګ باندې مړشو.نوپه مرګ کې دا مسئله ده.چه﴾ مرګ ختموی سرایت ﴿یعنی چې یوسړې مړوی.نوکه دده یواندام کټ کړې شی.دهغې د امله نوربدن ته نقصان نه رسی اواسلام دده﴿مرتد﴾ ژوند دې نوې تقدیراً ﴿یعنی کله چې مرتد دوباره مسلمان شو.نوده ته تقدیری ژوند بیا حاصل شو.نونه به راګرځی حکم د جنایت اولنی. ﴿یعنی د ردت په وخت کې چې کوم زخم راغلې وو نو په هغه وخت کې دده مثال پشان د مړ وو اود مړی زخم سرایت نه کوی.نوځکه دده زخم سرایت نه وو کړې .اوچه ده دوباره اسلام قبول کړلو .اوداسلام په حالت کې دې دهغه زخم نه مړشو.نودده دا اسلام به یونوې ژوند ګنړلې شی.اودده مرګ به تقدیراً داسې ګنړلې شی.لکه چې دې بغیرد سابقه سبب په وجه باندې مړ شوې دې.چه زخم دې تدبر﴾

فَإِذَا لَمْ يَقْضِ الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِي نُبَيِّنُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

ژباړه وتشریح.- ﴿دا تفصیل په هغه صورت کې وو.چه قاضی په دارالحرب پورې دده د لحوق فیصله کړې وی﴾ اوکله چې فیصله نه وی کړې قاضی د لحوق دده﴿مرتد په دارالحرب پورې﴾ نو دا صورت هغه خلاف دې چې موږ به ئې بیان کړو انشاء الله ﴿په دې قول سره چې ..فإن لم يلحق إلخ﴾.

دارالحرب ته د تلو نه بغیر مسلمان شو اومړشو.

قَالَ (فَإِنْ لَمْ يَلْحَقْ وَأَسْلَمَ ثُمَّ مَاتَ فَعَلَيْهِ الدِّيَةُ كَامِلَةً) وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ.(١)

---

١) القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(٣٢٥\٥) ومجمع الأنهر(٦٩٤\١١) والخانية (٤٧٢\٤) والبحرالرائق (١٣٧\٥)نقلاً عن القول الراجح (٥٠٥\١١)_

ژباره وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري ﷫» اوكه «دارتداد نه پس» لانړلو دارالحرب ته، «بلكه هم په دارالاسلام كي پاتې شو» اومسلمان شو.اوبيا مړ شو. «نوپه ذكرشوي صورت كښي» په ده باندې ديت دي كامل،اودا «حكم دنصف ديت» په نيزدامام ابوحنيفه اوابويوسف﷭ دي.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ: فِي جَمِيعِ ذَلِكَ نِصْفُ الدِّيَةِ؛ لِأَنَّ اعْتِرَاضَ الرِّدَّةِ أَهْدَرَ السِّرَايَةَ فَلَا يَنْقَلِبُ بِالْإِسْلَامِ إِلَى الضَّمَانِ، كَمَا إِذَا قَطَعَ يَدَ مُرْتَدٍّ فَأَسْلَمَ.

ژباره وتشريح:- اوفرمائي.امام محمداوزفر ﷭ چي په دې ټولوصورتونوكي ، «چه خپل ردت باندې مړشي. يا دارالحرب ته لاړ شي.اوبيا مسلمان شي.اودارالاسلام ته راشي.اوياچه دارالحرب ته لاړ نشي.اوبيرته مسلمان شي.نوپه دې درې واړه صورتونوكي دامام محمداوزفر ﷭ په نيزكامل ديت دي» ځكه چي راتلود ردت ضائع كړلو د زخم اثرزياتيدل «يعني چې قطع دلاس په حالت اسلام كي شوې وي.خودې مرتدشو.نوپه حالت ردت كي د لاس دكټ كولوپه وجه دې مړ شو.نوپه قاطع باندې څه نشته.حكه چي كله دې مرتدشو.نوغيرمعصوم الدم شو.هم دا وجه ده.كه په حالت ردت كي دې قتل كړې شي.نودده په قاتل باندې به څه نه وي» نو نه منتقل كيږي «دغه ديت روسته دهدرنه» په اسلام راوړلو سره «وجوب د» ضمان ته «چه په قاطع باندې ضمان واجب شي.اوددې لپاره نظيرهم شته»لكه څنگه چي كټ كړې لاس د مرتداواسلام راوړي «هغه مرتد روسته د قطع نه،نوپه دغه صورت كي هم ديت نه واجبيږي.برابره خبره ده كه دې د قطع نه مړشي اوكه مړنشي.نوكه مړ شي دنفس ديت په قاطع باندې نه واجبيږي.اوكه مړ نشي نود قطع ديت په قاطع باندې نه واجبيږي.لكه وړاندې چې دددې تفصيل ددې قول دلاندې تيرشو...لأن الإهدار لا يحلقه الاعتبار)

وَلَهُمَا أَنَّ الْجِنَايَةَ وَرَدَتْ عَلَى مَحَلٍّ مَعْصُومٍ وَتَمَّتْ فِيهِ فَيَجِبُ ضَمَانُ النَّفْسِ، كَمَا إِذَا لَمْ يَتَخَلَّلِ الرِّدَّةُ

ژباره وتشريح:- دشيخينو ﷭ دليل دا دې.چه د «مجرم» جرم « چي قطع ده» واقع شوې دې په محل معصوم كي «چه دمسلمان لاس پرې كول دي.اومسلمان معصوم الدم دې» اوبوره شوې دې په هغې «محل معصوم» كي ،نوواجبيږي ضمان د نفس «چه كامل ديت دې» لكه څنگه «چه په هغه صورت كي كامل ديت لازميږي» چې نه وي راغلې ردت «په مينځ د قطع او مرگ كي .يعنى كه زيد په خطاء سره دخپل مسلمان ورور بكرلاس كټ كړلو.اوبكرددې لاس دزخم نه مړ شو.نوپه زيد باندې كامل ديت دې»

وَهَذَا لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِقِيَامِ الْعِصْمَةِ فِي حَالِ بَقَاءِ الْجِنَايَةِ، وَإِنَّمَا الْمُعْتَبَرُ قِيَامُهَا فِي حَالِ انْعِقَادِ السَّبَبِ وَفِي حَالِ ثُبُوتِ الْحُكْمِ

ژباره وتشريح:- اودا «كامل ديت ځكه واجبيږي» چي نشته اعتباردعصمت ته په حالت دبقاء «داثر» دجنايت ته، «يعني دا ضروري نه ده.چه دكوم وخت نه لاس كټ شوې دې.دهغه وخت نه ترمرگه پورې دغه مقطوع اليد كس مسلمان وي» اويقيناً اعتباردې قيام ددې «عصمت لره» په حالت دانعقاد د سبب كي ، «يعني اعتبار دې لره دې.چه په كوم وخت كي سبب د ديت واقع كيدلو.چه قطع د يد وه.په هغه وخت كي عصمت موجود وي.چه هغه ابتدائي وخت دې.اوپه هغه وخت كي دغه مقطوع اليدمسلمان وو. نو معصوم الدم وو.او دمسلمان په قطع ديد يا په قتل خطاء باندې كامل ديت لازميږي» اوپه حالت د ثبوت دحكم كي ، «يعني كوم وخت كي چي زخم سبب د مرگ اوگرځي. اوپه هغې باندې ضمان واجبيږي»

وَحَالَةُ الْبَقَاءِ بِمَعْزِلٍ مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ، وَصَارَ كَقِيَامِ الْمِلْكِ فِي حَالِ بَقَاءِ الْيَمِينِ.

حل اللغة: ① **معزل**:جدا

ژباره وتشريح:- او «پاته پاتې شو» حالت «دجرم اثر» پاته پاتې كيدو. «يعني كوم وخت كي چي زخم موجود وي» لرې «اوجدا» دې ددې «حالت دانعقاد سبب او ثبوت حكم» نه، اواوگرځيدلودا «صورت د زيربحث مسئلي» پشان د قيام د ملك په حالت دبقاء د ډول كي ، «مثلاً زيدخپل غلام ته

اوونيل.كه ته فلانی كور ته داخل شوې.نوته به ازاد ئې.اوددې تعليق نه روسته هغه دغه غلام خرڅ كړلو.اوبيا په بل سبب باندې دې دوباره د دغه غلام مالك شو.اوچه دوباره ئې مالك شو.نوغلام د دوباره تمليك په وخت كې هغه كورته داخل شو .نوغلام آزاديږي.ځكه د تعليق په وخت كې هم ملك موجود وو.اواوس د دخول په وخت كې هم ملك موجود دې.اګرچه په مينځ كې ملكيت مفقود دې.نودغه ډول په زيربحث مسئله كې دقطع په وخت كې هم عصمت د نفس موجود وو.ځكه چې مسلمان وو.اودمرګ په وخت كې هم عصمت موجود وو. اګرچه په مينځ كې د ردت په وجه دغه عصمت ختم شوې وو.خوچونكه اعتبارد انعقاد سبب اوترتب حكم وختونو لره دې.اوپه دغه وختونوكې عصمت موجود دې.نوكامل ديت به واجبيږي﴾

دمكاتب دارتداد احكام

(وَاِذَا ارْتَدَّ الْمُكَاتَبُ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ وَاكْتَسَبَ مَالًا فَأُخِذَ بِمَالِهِ وَأَبَى أَنْ يُسْلِمَ فَقُتِلَ فَإِنَّهُ يُوَفَّى مَوْلَاهُ مُكَاتَبَتَهُ وَمَا بَقِيَ فَلِوَرَثَتِهِ) وَهٰذَا ظَاهِرٌ عَلَى أَصْلِهِمَا،لِأَنَّ كَسْبَ الرِّدَّةِ مِلْكُهُ إِذَا كَانَ حُرًّا،فَكَذَا إِذَا كَانَ مُكَاتَبًا.

ژباړه وتشريح:- اوكله چې مرتد شی مكاتب اولاړ شی دارالحرب ته،اواوګټی مال اوقيد كړې شو. دخپل مال سره،اوانكار اوكړی هغه داسلام قبلولونه،نوقتلولې به شي.نوشان دا دې.چه پوره به ور كولای شي مولی دده ته بدل كتابت دهغه ﴿دمال ددې عبدمكاتب نه﴾ اوهغه څه چې پاتې شي ﴿دمال مكسوبه دمكاتب نه﴾ هغه به وی د وراثانودده ﴿مكاتب﴾ اودا ﴿حكم﴾ ظاهردې موافق داصل صاحبينو ﷺ سره،ځكه چې ګټه د حالت ردت ملك دده ﴿مرتد﴾ دې.كله چې وی هغه ﴿مرتد﴾ آزاد نودغه ﴿به دحالت ردت ګټه دده ملكيت وی.﴾ چې وی مكاتب،

وَأَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فَلِأَنَّ الْمُكَاتَبَ إِنَّمَا يَمْلِكُ أَكْسَابَهُ بِالْكِتَابَةِ،وَالْكِتَابَةُ لَا تَتَوَقَّفُ بِالرِّدَّةِ فَكَذَا أَكْسَابُهُ،

ژباړه وتشريح:- اوهرچه په نيز دامام ابوحنيفه﷫ ﴿نودا ذكرشوې حكم مشكل دې ددوی په اصل،ځكه چې د دوی په نيزد ردت دحالت ګټه د مرتد ملكيت نشی جوړيدې.چه دغه مرتدازاد وی.اوددې صورت نه دا معلوميږی.كه دغه مرتد مكاتب وی.نوبيا د ردت دحالت ګټه دده ملكيت جوړيږی.نودامام ابوحنيفه﷫ لپاره د آزاد اومكاتب دحكم په مينځ كې دفرق وجه بيانول ضروری ده.ځكه چې دآزاد د ردت دوخت ملكيت نه منی.اودمكاتب ملكيت منی.نواوس صاحب دهدايه﷫ دغه توپير په دې قول سره بيانوی﴾ځكه چې مكاتب مالك كيږی.دګټې خپلې په كتابت سره،او ﴿عقد﴾كتابت موقوف نه دې ﴿يعنی نه باطليږی﴾ په ردت سره، ﴿ځكه چې عقدكتابت په حقيقی مرګ سره نه باطليږی.چه مكاتب مړشی.اوعقدكتابت باطل شی.نودغه ډول به په حكمی مرګ سره چې دارالحرب سره لحوق دې.په دې به هم نه باطليږی.اوهركله چې عقدكتابت په ردت سره نه باطليږی﴾ نودغه ډول به ﴿نه باطليږی﴾ ګټه دده ﴿مرتد مكاتب،كومه چې ده د كتابت په وجه ګټلې ده.ددې وضاحت ددې نه كيږی﴾

أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يَتَوَقَّفُ تَصَرُّفُهُ بِالْأَقْوَى وَهُوَ الرِّقُّ،فَكَذَا بِالْأَدْنَى بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَى.

ژباړه وتشريح:- ولې ته نه ګورې،چه دې ﴿مكاتب﴾ نه موقوف كيږی تصرف دده په زيات قوې سره چې غلامی ده ﴿يعنی مكاتب لا آزاد نه وی.خوبيا هم چې دې كوم تصرفات كوی.دمكاتب حالاً رقيت دده تصرفات دصحت نه نه منع كوی.بلكه هغه صحيح وی.لكه كه يوڅيزواخلی اوخرڅ ئې كړی.نودغه بيعه اوشراء صحيح وی.ځكه هم په دې باندې خوبه دې خپل بدل كتابت خلاصوی.نوكه موږ دې ددې تصرفاتونه منع كړو.نوبيا به دې خپل بدل كتابت څنګه خلاصوی﴾ نودغه ډول ﴿به نه موقوف كيږی تصرف دده﴾ په وجود دكمزوری ﴿چه ردت دې﴾ په طريق اولی سره، ﴿يعنی لكه څنګه چې مكاتب سره ددې نه چې دې لاآزاد نه دې رقيت په كې موجود دې.نه بنديږی.نودغه ډول كه په يوكس كې ردت وی.دهغه تصرفات به هم ...ف نه وی.بلكه نافذ به وی.ځكه چې په منعيت كې رقيت د ردت نه زيات وی.نورقيت اقوی شو.اوردت

ادنى.اوپه منعيت كې د رقيت قوت دا دې.چه دغلام هيڅ يوتصرف نافذ نه وي.اود مرتد بعضې تصرفات نافذ وي.لكه استيلاد اوطلاق شو.نو لنډيز دا شوه.چه هركله د مكاتب تصرفات ددې باوجود چې دې فى الحال غلام دې .موقوف نه دى.نودغه ډول به دده تصرفات په هغه صورت كې هم موقوف نه وي.چه دې دمكاتب سره سره مرتد هم وي.ځكه چې دغلام خويوتصرف هم صحيح نه وي. او د مرتد خوبيا هم څه تصرفات صحيح وي﴾

د ښځې او خاوند دواړو دارتداد احكام

﴿وَإِذَا ارْتَدَّ الرَّجُلُ وَامْرَأَتُهُ وَالْعِيَاذُ بِاللّٰهِ وَلَحِقَا بِدَارِ الْحَرْبِ فَحَبِلَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَوَلَدَتْ وَلَدًا وَوُلِدَ لِوَلَدِهِمَا وَلَدٌ فَظُهِرَ عَلَيْهِمْ جَمِيعًا فَالْوَلَدَانِ فَيْءٌ﴾ لِأَنَّ الْمُرْتَدَّةَ تُسْتَرَقُّ فَيَتْبَعُهَا وَلَدُهَا، وَيُجْبَرُ الْوَلَدُ الْأَوَّلُ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَلَا يُجْبَرُ وَلَدُ الْوَلَدِ.

حل اللغة: ① حبلت: اميدواره شوه ② يجبر: مجبوره كولې شي

ژباړه وتشريح:- اوكله چې مرتد شي سړى ﴿زيد﴾ اوښځه ﴿زينب﴾ دهغه والعياذبالله اودواړه لاړل دارالحرب ته،نوحملداره شوه ښځه ﴿زينب﴾ په دارالحرب كې ،اووې زيږولو يو ولد ﴿خالد﴾ ،او اوزيږولو ولد ﴿خالد﴾ د دې دواړو ولد ، ﴿بكر﴾ نوغلبه اوشوه په دې ټولو ﴿زيد ،زينب اوخالدباندې.يعنى مسلمانانودوى گرفتار كړل﴾ نو دواړه خامن ﴿چه خالد ،اوبكردى﴾ مال فئ دى.ځكه چې مرتدهٔ ښځه وينځه جوړولې شى. ﴿كله چې په قيد كې راوستې شي.د دارالحرب نه﴾ نوتابع به وي ددې ﴿زينب﴾ ولد ددې ﴿چه خالداوبكردى.ځكه چې ولد په رقيت اوحريت كې د مورتابع وي.نوچه تابع شو.مورئې وينځه شوه.اودوى غلامان شول﴾ او مجبوره كولې به شي ولد اول ﴿چه خالددې﴾ په اسلام، ﴿ځكه چې خالد دځپل مرتد پلارزوي دې.اوځوئې په دين كې دپلارتابع وي .نو لكه څنگه چې ئې مرتد پلارپه اسلام قبلولوباندې مجبوره كولې شو.دغه ډول به دهغه ځوئې هم په اسلام قبلولو باندې مجبوره كولې شي﴾او نه به شي مجبوره كولې ولد د ولد ﴿چه بكر دې.ځكه چې نمسې په دين كې د نيكه تابع نه وي.يعنى كه پلارمسلمان وي.اوځوئې ئې په ماشوموالى كښې وفات شي.نودغه ماشوم به مسلمان گڼرلې شى.ځكه چې پلارئې مسلمان دې.اوكه زيدمسلمان وي.اودهغه نه الف ځوئې پيدا شي. هغه كافرشي.اوبيا د الف ځوى ځوئې پيدا شي.اوهغه مړ شي.نودهغه به دپلارپه تبعيت كې كافرگڼرلې شي .دنيكه داسلام په وجه به نمسې مسلمان نشي گڼرلې﴾

﴿وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يُجْبَرُ تَبَعًا لِلْجَدِّ، وَأَصْلُهُ التَّبَعِيَّةُ فِي الْإِسْلَامِ وَهِيَ رَابِعَةُ أَرْبَعِ مَسَائِلَ كُلُّهَا عَلَى الرِّوَايَتَيْنِ﴾

ژباړه وتشريح:- اوروايت كړې دې حسن د ابوحنيفه‌ؒ نه چې دې ﴿نمسې.چه بكردې﴾ به مجبوره كولاى شى په تبعيت د نيكه كې ، ﴿ځكه چې دنيكه لپاره دپلارحكم وي.لكه دصغيرهٔ په نكاح وركولوكې ،اوپه بيع دمال د صغيركې ،نودغه ډول به ئې به تبعية الاسلام كې هم د نيكه لپاره دپلارحكم وي.نولكه څنگه چې ځوئې په اسلام راوړلو باندې مجبوره كولې شى.نودغه ډول به نيكه هم د اسلام په قبلولو مجبوره كولې شي﴾ اواصل دخلاف ﴿په دې خائې كې﴾ تبعيت دې په اسلام كې ، ﴿نود اولنى روايت په بناء نمسې په اسلام قبلولوځكه نشي مجبوره كولې.چه نمسې د نيكه تابع نه وي.اود دوهم روايت په بناء په بعضې احكاموكې نمسې دنيكه تابع وي.نوپه اسلام كې به هم تابع وي﴾ اودا ﴿مسئله دتبعيت په اسلام كې﴾ څلورمه مسئله ده دهغه څلورو مسائلو نه،چه هغه ټولې په دوې [دوه] قسمه روايتونوباندې ﴿منقول﴾ دى. ﴿يو ظاهرروايت دې.اوبل روايت دحسن دې،نوپه دې څلورو مسائلوكې دحسن‌ؒ د روايت په بناء نيكه دپلارپشان دې. او د ظاهر روايت په بناء نيكه دپلارپشان نه دې﴾

﴿وَالثَّانِيَةُ صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَالثَّالِثَةُ جَرُّ الْوَلَاءِ. وَالْأُخْرَى الْوَصِيَّةُ لِلْقَرَابَةِ﴾

ژباړه وتشريح:- اودويمه ﴿مسئله﴾ صدقه فطرده. ﴿نوپه ظاهر روايت نيكه به د نمسى دارخه صدقه فطرنه ادا كوي.اودحسن په روايت كې چې پلارفقير وي يا غلام وي.اونيكه توانگر وي.نو دنمسى په ځائې به ئې

ادا کوی﴾ اودریمه مسئله ﴿ددغه مسائلونه﴾ د حاصلیدو د ولاء ده. ﴿یعنی په ظاهر روایت کي که نیکه خپل نمسي آزاد کړلو اودهغه نمسی پلاردچا غلام وو.نوکه دغه آزاد شوي غلام مړشی.چه نمسي دي.دده ولاء به نیکه ته نه ملاویږی.اګرچه معتق دي.اودحسن رحمه الله په روایت کي به ولاء نیکه ته ملاویږی.ځکه چي دي آزادونکي دي.اوپه حدیث کي دی.چه ولاء به دمعتق لپاره وی﴾ اوبله مسئله وصیت دي لپاره د رشته دارانو. ﴿یعنی که یوکس دخپلوخپلوانو لپاره وصیت اوکړلو.نودظاهر روایت په بناء په دي صورت کي نیکه داخل دي اوحسن رحمه الله په روایت کي په کي نیکه داخل نه دي﴾

دعاقل ماشوم په ردت کي اختلاف

قَالَ (وَارْتِدَادُ الصَّبِيِّ الَّذِي يَعْقِلُ ارْتِدَادٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ، وَيُجْبَرُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَلَا يُقْتَلُ، وَإِسْلَامُهُ إِسْلَامٌ لَا يَرِثُ أَبَوَيْهِ إِنْ كَانَا كَافِرَيْنِ.[1])

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوری﴾ رحمه الله اوارتداد د ماشوم هغه چي پوهیږی ﴿یعنی چي دا پیژني چه اسلام حق دین دي اوکفرباطل دي.دا دامام حموی رحمه الله قول دي.اوعالمانودي ته ترجیح ورکړي ده غرض دا چي د پوهي لپاره دکلونو قید مقررکول صحیح نه دي.بلکه اعتبارذهانت اوفهم لره دي﴾ ارتداد دي په نیز د امام ابوحنیفه اومحمد رحمهما الله ﴿فائده به ئي دا راوخی.که د ده نزدي مسلمان خپل وفات شی نودي دهغه نه میراث نشی اوړي﴾اومجبوره کولي به شی په اسلام ﴿قبلولو﴾باندي،اونه به شی قتلولي اواسلام دده اسلام دي ﴿یعنی معتبردي﴾ میراث به نه اوړی دخپل مورپلارنه که وی کافران،

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: ارْتِدَادُهُ لَيْسَ بِارْتِدَادٍ وَإِسْلَامُهُ إِسْلَامٌ) وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: إِسْلَامُهُ لَيْسَ بِإِسْلَامٍ وَارْتِدَادُهُ لَيْسَ بِارْتِدَادٍ.

ژباړه وتشریح:- اوفرمائیلی دی امام ابویوسف رحمه الله ارتداددده ﴿ماشوم ناپوهه﴾ نه دی مرتد کیدل ﴿یعنی دي لره څه اعتبارنشته.بلکه دي به مسلمان وی.اواسلام دده اسلام دي ﴿یعنی اسلام ئي معتبردي.اوارتداد ئي غیر معتبردي.نوفائده ئي دا راوخی.که دده په خپلوانوکي څوك وفات شی.دي به تري میراث اوړی﴾ اوفرمائیلی دی امام زفراوشافعی رحمهما الله اسلام د ده نه دي اسلام ﴿نوکه مورپلار ئي کافران وی.اودي اسلام راوړی.دده اسلام معتبر نه دي﴾ اوارتداد دده نه دي ارتداد، ﴿نوکه مورپلارئي مسلمانان وی.اودي مرتد شی.نودده ارتداد معتبر نه دي﴾

لَهُمَا فِي الْإِسْلَامِ أَنَّهُ تَبَعٌ لِأَبَوَيْهِ فِيهِ فَلَا يُجْعَلُ أَصْلًا. وَلِأَنَّهُ يَلْزَمُهُ أَحْكَامًا تَشُوبُهَا الْمَضَرَّةُ فَلَا يُؤَهَّلُ لَهُ.

حل اللغة: ① تشوب ترلي کیږی ② المضرة ضرر ،تکلیف ،نقصان ③ یوهل اهل ګرځولي شی

ژباړه وتشریح:- د دي دواړو ﴿امام زفراوشافعی﴾ رحمهما الله لپاره دلیل دا دي.چه دي ﴿پوهه ماشوم﴾ تابع دي د مور پلارپه دي ﴿اسلام﴾ کي ،نونه به شی ګرځولي اصل، ﴿نودده اسلام به دابوینود تبعیت د امله معتبروی.اود اصل په حیثیت سره به معتبر نه وی.ځکه چي تبعیت دلیل دعجز دي.اواصالت دلیل د قدرت دي.اود قدرت اوعجزپه مینځ کي منافات دي.اویودمتنافیینونه چي اسلام دي هغه د وړاندي نه موجود دي په اجماع سره نومنتفی شو بل شی چي کفردي د امله د ارتیا نه.ځکه چي متنافیین نه جمع کیږی. نو لنډیز دا شوه چه نه دده کفرمعتبر دي اونه ئي اسلام معتبر دي.اوپاته دا چي فی الحال مسلمان ګنړلي شی.نودده دا اسلام په طریقه د تبعیت دي داصالت نه دي﴾ اوبل دلیل ﴿په دي چي د ماشوم اسلام او ارتداد دواړه معتبر نه دی.ځکه﴾ چي دي ﴿پوهه ماشوم﴾ لازمیږی په ده باندي ﴿داسي﴾ احکام چي ترلي دی دهغي سره ضرر ﴿دماشوم.مثلا که دکافرانوماشوم اسلام قبول کړی.نودي دهغوی د میراث نه محرومه شو﴾ نونه به شی ګرځولي ﴿ماشوم﴾ اهل ددي ﴿اسلام. ﴿بلکه که مورپلارئي کافران وی.دي به هم کافروی.اګرچه

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول الطرفین رحمهما الله کذا فی کنز (۱۹۶)وشرح الوقایة (۳۳۰\۱۲) وملتقی الأبحر(۶۹۵\۱) وفتح القدیر(۳۲۸\۵) نقلاً عن القول الراجح (۵۰۶\۱)۔

دي اسلام قبول کړي.او که موریلارئي مسلمانان وي.نودي به مسلمان وي.اګرچه دي مرتد شي﴾

وَلَنَا فِيهِ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَسْلَمَ فِي صِبَاهُ، وَصَحَّحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِسْلَامَهُ، وَافْتِخَارُهُ بِذَلِكَ مَشْهُورٌ. (١)

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ لپاره په دې ﴿مسئله کې چې دماشوم اسلام معتبردي﴾ دا دليل دې.چه حضرت علي﷜ اسلام قبول کړې ووپه ماشومتوب خپل کې، ﴿ځکه د حضرت عروه ﷫ نه روايت دې.چه دايمان راوړلو په وخت کې دحضرت علي ﷜ عمر اووه يا اته کاله وو﴾اوصحيح کړې وو نبي ﷺ اسلام دهغه ﷜ اوفخرکول دده ﴿حضرت علي﷜﴾ په دې ﴿ماشوم توب کې اسلام راوړلو﴾باندې مشهور دی.

وَلِأَنَّهُ أَتَى بِحَقِيقَةِ الْإِسْلَامِ وَهِيَ التَّصْدِيقُ وَالْإِقْرَارُ مَعَهُ، لِأَنَّ الْإِقْرَارَ عَنْ طَوْعٍ دَلِيلٌ عَلَى الِاعْتِقَادِ عَلَى مَا عُرِفَ وَالْحَقَائِقُ لَا تُرَدُّ،

حل اللغة: ① **طوع**:خوشحالي ② **الحقائق**:جمع د حقيقت ده

ژباړه وتشريح:- او ﴿بل دليل دا بيانوي﴾ځکه چې دې ﴿ماشوم﴾ راتګ اوکړلوپه حقيقت داسلام چې تصديق دې ﴿په زړه باندې اودا تصديق قلبي دايمان رکن دې﴾ اواقراردې ﴿تصديق قلبي﴾ سره، ﴿او اقرارد احکاموداجراء لپاره شرط دې.که په ژبه ئې اقرارنه وی کړې.نوپه ده باندې داسلام احکام نه جاري کيږي.اوايمان ئې هم معتبرنه دې﴾ ځکه چې اقرارپه خوشحالئ سره دليل دې په اعتقاددده، ﴿يعنى کوم کس بغيرداکراه او جبرنه د يوځيزاقراراوکړي.نودا اقرارددده دزړه په خبره باندې دليل دې﴾لکه ځنګه چې پيژندلې شوى دى﴿په علم کلام کې .نوهرکله چې دايمان حقيقت موجود شو.نوقانون دا دې.چه﴾ حقائق نشي رد کولې ﴿ځکه چې شريعت بغيرد عذر نه په يوځائې کې هم حقيقت نه دې باطل کړې.بلکه په حقيقت باندې ئې حکم مرتب کړې دې. مثلاً که زينب زيدته اووئيل.چه ما تاته د نکاح لپاره خپل ځان درکړې دې.اوزيد ئې قبول کړي.اوګواهان موجود وي.نودا نکاح اوشوه.اګرچه زينب روسته دا وائي.چه زما مراد د نکاح نه نکاح نه وه.ما هسې ټوقې کولې.ځکه چې دنکاح لفظ په خپله معنى کې حقيقت دې.نوحکم به پرې مرتب کيږي.نودغه ډول به دلته هم دماشوم اسلام قبول وي﴾

وَمَا يَتَعَلَّقُ بِهِ سَعَادَةٌ أَبَدِيَّةٌ وَنَجَاةٌ عُقْبَاوِيَّةٌ، وَهِيَ مِنْ أَجَلِّ الْمَنَافِعِ وَهُوَ الْحُكْمُ الْأَصْلِيُّ، ثُمَّ يُبْتَنَى عَلَيْهِ غَيْرُهَا فَلَا يُبَالِي بِشَوْبِهِ.

حل اللغة: ① **سعادة**:خوشبختي ② **عقباوية**:اخروی، د آخرت ③ **يبالي** :باک کوی پرواه کوی ④ **يشوب**:ختميږي

ژباړه وتشريح:- ﴿پاته امام زفراوشافعي ﷫ چې دا وائي.چه د ماشوم اسلام ارتداد يوهم نه دې صحيح.اوددې لپاره ئې يوه وجه دا هم وئيلې وه.که دکافرموريلاربچې اسلام قبول کړي.نوپه دې کې د دغه ماشوم نقصان دې.ځکه چې دې دخپلو والدينو ميراث نه محرومه کيږي.حالانکه په ماشوم باندې داسې حکم په شريعت کې نشي مقررکولې.چه په هغې کې دده نقصان وي.نوددې نه ځواب دا دې.﴾ اوهغه فوائد چې متعلق دی په دې ﴿اسلام﴾ پورې،سعادت ابدى دې.اونجات اخروى دې.اودا ﴿سعادت ابدى اونجات اخروى د د نيوى منافعوپه مقابله کې﴾ دعظيم الشان فوائدو ځنې دې.اودا ﴿سعادت ابدى اونجات اخروى﴾ حکم اصلي دې. ﴿داسلام، يعنى د دين اسلام غايت اوغرض دا دې.چه انسان ابدى سعادت اواخروى نجات حاصل کړي﴾ بيا مبنى کيږي په دې ﴿اسلام قبلولو﴾ باندې نورمسائل ﴿يعنى چې سړې اسلام قبول کړي.نودتولونه اول تغيرخوده لپاره دا شو.چه دآخرت ابدى سعادت به ورته ملاؤ شي.اوددې نه روسته پرې نورمسائل مرتب کيږي.لکه دميراث نه محرومه کيدل﴾ نونشته ځه باك مرتب کيدودغه نورمسائلو ﴿يعنى که د کافر مور پلار ماشوم اسلام قبول کړي.ده ته دآخرت ابدى سعادت ملاؤ شو.که ددې په عوض کې دې د ميراث نه محرومه شي.ځکه مسلمان دکافرنه ميراث نشي اوړې.نومحرومه دې شي.دا

---

١) ذكرالزيلعي رحمه الله روايات مختلفة في سن اسلامه فيثبت من بعضها ثماني سنين أخرجه البخاري في تاريخه ومن بعضها عشرسنين أخرجه الحاكم في المستدرك ومن بعضها خمس عشرة سنة أخرجه عبدالرزاق ويعلم من جميع الروايات أن عمره﷜ كان أقل من عشرسنين وقت الإسلام (ماخوذ من نصب الرأية بتغير(٦٩٣|٣)_

څه لويه خبره نه ده﴾

وَهُمْ فِي الرِّدَّةِ أَنَّهَا مَضَرَّةٌ مَحْضَةٌ، بِخِلَافِ الْإِسْلَامِ عَلَى أَصْلِ أَبِي يُوسُفَ، لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ أَعْلَى الْمَنَافِعِ عَلَى مَا مَرَّ.

ژباړه وتشريح:- اود دوى ﴿يعني دابويوسف زفراوشافعي﴾ رحمهم الله لپاره دليل دا دې چه دا ﴿ردت﴾ نقصان دې صرف. ﴿فائده په كي هډوشته نه.نوځكه دده ارتداد معتبر نه دې﴾ په خلاف داسلام ﴿يعني كه ماشوم اسلام قبلوى.نودده اسلام به معتبروى﴾ په اصل دامام ابويوسف رحمه الله ﴿يعني په دې كي درې واړه امامان متفق وو .چه دماشوم ارتداد صحيح نه دې.نوځكه ئې هلته د جمعې صيغه راوړله.اوداسلام په قبلولو كي امام ابويوسف رحمه الله دامام زفراوشافعي رحمهما الله نه جلا وو.دامام زفراوشافعي رحمهما الله په نيزلكه څنګه چې د ماشوم ارتداد معتبر نه دې.دغه ډول ئې اسلام هم نه دې معتبر.البته امام ابويوسف رحمه الله فرمائيلي وو.چه دماشوم اسلام معتبردې.نودلته ئې ځكه اوفرمائيل.چه په اصل دامام ابويوسف رحمه الله.ځكه چې دامام زفر او شافعي رحمهما الله په نيزخودده اسلام هم نه دې معتبر.اوس دامام ابويوسف رحمه الله دقول لپاره وجه بيانوى﴾ ځكه چې تړلى دى ددې ﴿اسلام﴾ سره لوې فائدې.لكه څنګه چې تيرشو. ﴿چه سعادت ابدى اونجات اخروى دې﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ فِيهَا أَنَّهَا مَوْجُودَةٌ حَقِيقَةً، وَلَا مَرَدَّ لِلْحَقِيقَةِ كَمَا قُلْنَا فِي الْإِسْلَامِ، إِلَّا أَنَّهُ يُجْبَرُ عَلَى الْإِسْلَامِ لِمَا فِيهِ مِنَ النَّفْعِ لَهُ،

ژباړه وتشريح:- اودامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله لپاره دليل دا دې چه دا ﴿ارتداد﴾ موجود دې.په حقيقت كي ،اونشته رد كيدل د حقيقت لپاره ﴿يعني ارتداد په ظاهره په حقيقت كي موجود دې.اوقانون دا دې.چه حكم په حقيقت مرتب كيږى.نودا ماشوم به مرتد وى﴾ لكه څنګه چې موږ اووئيل په ﴿مسئله د﴾ اسلام كي ، ﴿ چه په ظاهره ئې كلمه وئيلې وى.نودا دايمان حقيقت دې.اوچه حقيقت موجود شى.په هغې به حكم كولې شى.يعنى دغه كس به مسلمان وى﴾ البته دومره ده.چه مجبوره كولې به شى ﴿ماشوم﴾ په اسلام قبلولوباندې. ﴿ چه ته اسلام قبول كړه﴾ ځكه چې په دې ﴿اسلام قبلولو﴾ كي فائده ده دده ﴿ماشوم﴾

وَلَا يُقْتَلُ، لِأَنَّهُ عُقُوبَةٌ، وَالْعُقُوبَاتُ مَوْضُوعَةٌ عَنِ الصِّبْيَانِ مَرْحَمَةً عَلَيْهِمْ. وَهَذَا فِي الصَّبِيِّ الَّذِي يَعْقِلُ وَمَنْ لَا يَعْقِلُ مِنَ الصِّبْيَانِ لَا يَصِحُّ ارْتِدَادُهُ، لِأَنَّ إِقْرَارَهُ لَا يَدُلُّ عَلَى تَغَيُّرِ الْعَقِيدَةِ، وَكَذَا الْمَجْنُونُ وَالسَّكْرَانُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ.

حل اللغة: ① **عقوبة**:سزا ② **موضوعة**:پورته شوې ③ **مرحمة**:مصدردې مهرباني ④ **المجنون**:ليونې ⑤ **السكران**:نشه

ژباړه وتشريح:- اونه به شى قتلولې ﴿دغه ماشوم چې مرتدشى﴾ ځكه چې قتل سزا ده.اوسزاګانې پورته كړې شوى دى ﴿دماشومانونه﴾ لپاره د رحم كولوپه دوى ﴿ماشومانو﴾باندې،اودا ﴿اختلاف كوم چې تيرشو﴾ په هغه ماشوم كي دې.چه پوهيږى ﴿چه اسلام حق دې اوكفرباطل دې﴾ اوهغه ماشوم چې نه پوهيږى ﴿په حق اوباطل﴾ نو نه صحيح كيږى ارتداد دده ﴿ماشوم ناپوهه﴾ ځكه چې اقراردده دلالت نه كوى په بدليدو د عقيدې ﴿چه دده عقيده وړاندې اسلامى وه.او اوس كفرى شوه.نوهركله چې دعقيدې په بدليدو دلالت نه كوى.نوهم په خپل اصل به پاته وى.چه اسلام دې﴾اودغه ډول ليونې اوهغه نشه هم دې.چه نه پوهيږى.

بَابُ الْبُغَاةِ

﴿دا﴾ باب د باغيانو ﴿داحكاموپه بيان كي﴾ دې.

تشريح:- ..بغاة،جمع دباغى ده.لكه څنګه چې قضاة جمع د قاضى ده.باغى هغه كس ته وائى.چه مسلمانانو د يوامير د امارت بيعت كړې وى.اودامن لپاره په هغه باندې متفق شوى وى.اوددې نه روسته څوك دامام مخالف شى .اودهغه نه بغاوت اختياركړى.نواوس په دې صورت كښې به كتلې شى.كه چيرته دغه مخالفين په حقه وى .اواميرېږ ظلم كوى.نودوى باغيان نه دى.بلكه اميرلره پكار دى.چه دخپل ظلم نه منع شى.اونورو مسلمانانوباندې هم واجب دى.چه ددوى سره تعاون او كومك اوكړى.اوبادشاه په حق وى.اودوى په ناجائزه وى .نودوى باغيان دى.اوپه مسلمانانو واجب دى.چه د دوى خلاف دامير مرسته اوكړى.اوكه د

قتال نوبت راشي.نو دامیر په مرسته کي دوی سره قتال هم اوکړي.

دباغیانو په یوه علاقه باندې غلبه کول تدبير

(وَإِذَا تَغَلَّبَ قَوْمٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى بَلَدٍ وَخَرَجُوا مِنْ طَاعَةِ الْإِمَامِ دَعَاهُمْ إِلَى الْعَوْدِ إِلَى الْجَمَاعَةِ وَكَشَفَ عَنْ شُبْهَتِهِمْ) لِأَنَّ عَلِيًّا فَعَلَ كَذَلِكَ بِأَهْلِ حَرُورَاءَ قَبْلَ قِتَالِهِمْ، ( ) وَلِأَنَّهُ أَهْوَنُ الْأَمْرَيْنِ. وَلَعَلَّ الشَّرَّ يَنْدَفِعُ بِهِ فَيُبْدَأُ بِهِ.

حل اللغة: ① **الكشف** ښکاره کیدل، ② **اهون** آسان.

ژباړه وتشريح:- اوکله چې غالب یو قوم دمسلمانانو نه په يو ښار باندې،او اوځي دتابعدارئ دامام نه،نو [امام به] راوبلي دوی واپس کیدو ته ډلې دمسلمانانو ته [یعنی دوی ته به دا دعوت ورکړي شي چه تاسو مخالفت اوبغاوت مکوئ.اود نورو مسلمانانو سره متفق شئ] اولرې به کړې شي شبهات ددوی [د کومو د امله چې دوی دامام نه بغاوت کړې وی] ځکه چې حضرت علی ﷺ کړي وو داسې د اهل حروراء سره وړاندې د جنګ پیل کولو نه هغوی سره،اوبله دا آسانه طریقه په دواړو طريقو کې ، [چه دباغیانو شردفع کول مقصود دی .نوددوی د شردفع کاوه لپاره دوې [دوه] طریقې دی.یوه دا چې دوی ته دعوت ورکړې شي.اوددوی شبهات لرې کړی شي.اودوی واپس دامام په اطاعت کي داخل شي.اودویمه طریقه دا ده.چه دوی سره جنګ اوکړې شي .اوقتل کړې شي.خوپه دې دواړو طريقوكي د دعوت طريقه اسانه ده.ځکه چې په دې کې دجنګ نه ساتنه دې] او کیدای شي چې شردفع شي په دې [دعوت باندې] نوشروع به کولای شی ددې [دعوت] نه، [که په دعوت اونشوه.نوبیا به ورسره جنګ کولې شي]

ضروري تشریح:- امام ته پکاردی.چه دباغیانو سره دستی جنګ نه پیل کوی.بلکه دوی ته دعوت ورکړی.چه تاسو دخپل مخالفت نه منع شی.ځکه چې حضرت علی ﷺ هم داسې کړې وو.دحضرت عثمان ﷺ د قصاص په اړه کې دحضرت علی ﷺ اوحضرت امیرمعاویه ﷺ په مینځ کې اختلاف پیدا شو.حضرت امیرمعاویه په هغه وخت کې دشام ګورنروو.په نتیجه کې جنګ صفين اوشو.په جنګ کې د امیرمعاویه ﷺ فوځ شکست ته نزدې شو.نوقرآن پاک ئې اوچت کړلو.چه فیصله به په دې کوو.نوحضرت علی ﷺ اوحضرت امیرمعاویه دخپل اړخ نه یو یوکس حکم مقررکړلو.دحضرت علی ﷺ داړخه ابوموسی اشعری ﷺ اودحضرت امیرمعاویه داړخه عمروبن العاص ﷺ مقررشول.په دې باندې دحضرت علی ﷺ د فوځ نه یوه ډله جلا شوه.چه تاسو په کتاب الله فیصله اونکړه.بلکه حکمين مومقررکړل.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی.ماحضرت علی ﷺ ته اوونیل.چه کله ددوی غصه سړه شی.نوتاسو ما دوی ته اولیږه.چه زه دوی سره خبرې اوکړم. کیدای شی.دوی دخپل مخالفت نه راوګرځی.نوحضرت علی ﷺ راته اوونیل.زه ويريږم.هسې نه چې تاسو ته څه نقصان اورسوی.ما ورته اوونیل.د فکرخبره نه ده.الله به خیرکړی.دوی فرمائی.چه زه ورغلم.کله چې دوی زه اولیدم.نو دوی وونیل.تاسو څه لپاره تشریف راوړې دې.ما ورته اوونیل.زه دنبی ﷺ دصحابه کرامو ﷺ اودحضرت علی ﷺ د اړخه چې دنبی ﷺ د اکا ځوئې اوځوم دې.راغلې یم.ستاسو نه دا پوښتنه کول غواړم.چه آخرتاسو په حضرت علی ﷺ کې داسې کوم عیب اولیدلو.چه دهغې د امله تاسو دهغه مخالف شوئ.تاسو ماته هغه بیان کړئ. کیدای شی.چه تاسو مطمئن کړم.نوهغوی اوونیل.هغه درې خبرې دی .یوه دا چې علی ﷺ دالله تعالی په دین کې ابوموسی اشعری ﷺ حکم مقرر کړل.حالانکه الله تعالی فرمائیلی دی. ((إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ)) دویمه خبره دا ده.چه حضرت علی ﷺ دامیرمعاویه ﷺ سره جنګ اوکړلو.اوپه هغوی باندې ئې غلبه هم حاصله کړه.خو نه ئې د هغوی مالونه حاصل کړل.اونه ئې دهغوی ښځې وينځې جوړې کړې.اونه ئې ماشومان غلامان کړل،اوس خبره دا ده.که دوی کافران وو.نودکافرانو مالونه مال غنیمت وی.اوښځې اوبچې ئې هم وینځې اوغلامان جوړولی شی.اوکه دوی کافران نه وی.مسلمانان وی.نودمسلمان سره جنګ

---

۱) أخرجه النسائی فی السنن الکبری (۱۶۵/۵) رقم (۸۵۷۵)۔

کول حرام دی.بیا نې ورسره جنګ ولې کولو.دریمه خبره دا ده.چه علی ﷺ په حکم نامه کې دخپل نوم نه د امیرلفظ کټ کړلو.اوس که دې امیرنه وی.معاویه ﷺ به امیر وی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی.چه ماورته اوونیل.که زه کتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ نه تاسو ته ددې اعتراضاتو ځوابونه درکړم .نوآیا تاسوبه دخپلې خبرې نه منع شئ.اومخالفت به پریږدئ.نوهغوی اوونیل.په الله قسم موږ به مخالف پریږدو.ماورته اوونیل.الله تعالی فرمائیلی دی.((لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ)) یعنی داحرام په حالت کې تاسو ښکارمه کوئ.اوچه کوم کس ښکاراوکړلو.نودهغې ښکارد قیمت مقرر کاوه لپاره الله تعالی په مسلمانانو کې په دوو عادلانوباندې دهغې ذمه واری اچولې ده.حضرت ابن عباس ﷺ دهغوی د دوهم اعتراض ځواب دا ورکړلو.چه په جنګ جمل کې چې د حضرت علی ﷺ اوحضرت عائشې ﷺ په مینځ کې قتال شوې وو.که چیرته په هغې کې حضرت عائشه ﷺ ګرفتاره شوې وه.نوآیا هغه وینځه جوړول به جائز وو.حالانکه هغه خود مسلمانانو مورده.نوکه تاسو دا جائز ګنړئ.بیا تاسو مسلمانان نه نې.نولکه څنګه چې په جنګ جمل کې دغه ډول نشوکیدې.دغه ډول به په دې موقع جنګ صفین کې هم نشی کیدې. دخوارجود دریم اعتراض ځواب حضرت ابن عباس ﷺ دا ورکړلو.چه دصلح حدیبیه په موقع نبی ﷺ په معاهده کې دخپل نوم نه د رسول لفظ لرې کړې وو.حالانکه ددې لفظ په لرې کاوه نبی ﷺ دپیغمبرئ نه نه وو وتلې.نودغه ډول حضرت علی ﷺ هم د خلافت نه نه اوځی.چه کله نې دا مسکت ځوابونه واوریدل.نوخوارج چې د هغوی شمارشپږ زره وو.په هغوی کې دوې [دوه] زره دحضرت علی ﷺ اطاعت ته راواوړیدل.اوځلور زره په خپل ضد قائم پاتی شو. او مقتول شول.ددې واقعه نه ثابته شوه.چه د باغیانو سره جنګ کول جائز دی.

باغیانوسره دجنګ پیل کولو ممانعت

(وَلَا يَبْدَأُ بِقِتَالٍ حَتَّى يَدْعُوهُ، فَإِنْ بَدَءُوهُ قَاتَلَهُمْ حَتَّى يُفَرِّقَ جَمْعَهُمْ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هَكَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ فِي مُخْتَصَرِهِ وَذَكَرَ الْإِمَامُ الْمَعْرُوفُ بِخُوَاهَرْ زَادَهْ أَنَّ عِنْدَنَا يَجُوزُ أَنْ يَبْدَأَ بِقِتَالِهِمْ إذَا تَعَسْكَرُوا وَاجْتَمَعُوا.

ژباړه وتشریح:- اوشروع به نه کوی «امام» په جنګ کولو «باغیانوسره» تردې چې پیل اوکړی هغوی «باغیان» که هغوی پیل اوکړه په دې «جنګ» نوجنګ به کوی هغوی سره تردې چې ماته شی جمع ددوی. «اوتختی» وائی بنده کمزورې «یعنی صاحب دهدایه» ﷺ دغه ډول ذکرکړی دی ابو الحسین قدوری ﷺ په مختصر «قدوری» خپل کې ،اوذکرکړی دی امام مشهوربخواهرزاده ﷺ چې زمونږ «داحنافو» ﷺ په نیزجائزده چې پیل اوکړی «امام» په جنګ د دوی «باغیانو» سره،کله چې دوی دلښکرصورت اختیارکړی.اوراجمع شی. «د مقابلې امام المسلمین سره.

ضروری تشریح:- اوامام خواهرزاده ﷺ ابوبکرمحمدبن حسین نجاری دې.اودوی په علم فقه کې ډیرمهارت لرلو.ډیرتصانیف نې لیکلی دی.دده مبسوط په ټولوکې اوږد مبسوط دې.اودوی په ۴۸۸هـ کې وفات شوې وو.اودا هغه کال وو.چه په دې کې شمس الائمه سرخسی ﷺ وفات شوې وو.اودابو الحسین قدوری ﷺ وفات په کال ۴۲۸هـ کې شوې وو.

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ حَتَّى يَبْدَءُوا بِالْقِتَالِ حَقِيقَةً؛ لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ قَتْلُ الْمُسْلِمِ إلَّا دَفْعًا وَهُمْ مُسْلِمُونَ، بِخِلَافِ الْكَافِرِ؛ لِأَنَّ نَفْسَ الْكُفْرِ مُبِيحٌ عِنْدَهُ.

ژباړه وتشریح:- وفرمائیلی دی امام شافعی ﷺ جائز نه دې جنګ پیل کول دوی سره تردې چې پیل اوکړی دوی په حقیقت کې «صرف دلښکرجمع کول دابتداء کاوه لپاره کافی نه دی.ترڅوچه دوی ښکاره جنګ نه وی باندې ابتداء نه وی کړې.نوددوی دارخه شرنشته» اودی دوی مسلمانان، «څکه چې په بغاوت سره سړی کافر نه ګرځی.لکه چې الله تعالی په سورة حجرات کې فرمائیلی دی.که د مومنانو دوې [دوه] ډلې په خپل

جنګ كوي.نودلته الله تعالى دوى ته مومنان وئيلي دي.معلوه شوه.كه چيرته په قتل اوقتال سره مينځ كښې كافر كيدلو.نوالله تعالى به دوى ته مومنان نه وئيل.اود اړتيا نه د مسلمان سره جنګ كول هم جائزنه سړي په خلاف د كافر، «يعنى كافرسره دجنګ ابتداء كول جائز دي» ځكه چې صرف كفر «كه دده د دي» په نيز دده «امام شافعي رحمه الله» «دقتال دپاره» مباح كونكې دي «اوزموږ اړخه د شر ويره هم نه وي» داحنافوپه نيزصرف كفرد قتال لپاره مبيح نه دي.ترڅوچه دكافرنه دشر ويره نه وي پيدا شوي»

وَلَنَا أَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى الدَّلِيلِ وَهُوَ الِاجْتِمَاعُ وَالِامْتِنَاعُ، وَهَذَا لِأَنَّهُ لَوْ انْتَظَرَ الْإِمَامُ حَقِيقَةَ قِتَالِهِمْ رُبَّمَا لَا يُمْكِنُهُ الدَّفْعُ فَيُدَارُ عَلَى الدَّلِيلِ ضَرُورَةَ دَفْعِ شَرِّهِمْ،

حل اللغة: ① **الاجتماع**: جمع كول ② **الامتناع**: منع كول

ژباړه وتشريح:- اوزموږ «داحنافو» رحمهم الله لپاره دليل دا دې.چه حكم مرتب كيږي «دجواز قتال باغيانوسره» په دليل «دقتال» باندې ،اوهغه چې جمع كيدل دي.اومنع كيدل دي «يعنى كله چې دوى راجمع شي.نوددوى قوت پيدا شو.اودغه قوت به په جنګ باندې ختميږي» اودا «ترتب دحكم په دليل باندې.ځكه كولې شي» چې شان دا دې.كه چيرته انتظاركوي امام د حقيقي جنګ د دوى «چه كله دوى چور اوكړي.نوبيا به ورسره ګوري» نو ډيركرته داسې وي.چه ممكن نه وي ده «امام» لره دفع كول «ددوى دحملې ،ځكه چې دوى چور اوكړي.اوامام ورته د وړاندې نه تياري نه وي كړې.يا اسلامي لښكرپه غفلت كې وي.نوبيا به څه دوى دباغيانو مقابله اوكړي» نومرتب كولې به شي حكم «دجواز قتال» په دليل باندې،د امله د اړتيا د دفع كاوه شر د دوى. «يعنى باغيانوسره د جنګ پيل كول ځكه جائز دي.چه ددوى داړخه د شر ويره ده»

وَإِذَا بَلَغَهُ أَنَّهُمْ يَشْتَرُونَ السِّلَاحَ وَيَتَأَهَّبُونَ لِلْقِتَالِ يَنْبَغِي أَنْ يَأْخُذَهُمْ وَيَحْبِسَهُمْ حَتَّى يُقْلِعُوا عَنْ ذَلِكَ وَيُحْدِثُوا تَوْبَةً دَفْعًا لِلشَّرِّ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ.

حل اللغة: ① **يتاهب**: تياري كوى ② **يقلع**: منع كيږي .د بيخ نه راوباسي

ژباړه وتشريح:- اوكله چې اورسى «خبر» ده «امام» ته چې دوى «باغيان» اخلي وسله،اوتياري كوى لپاره د جنګ،نومناسب دى چې اونيسى دوى اوبنديان كړي دوى.تردې چې دوى منع شي ددې «قصد خپل» نه اوښكاره كړي توبه «چه موږ په كوم مخالفت كې يو.موږ ددې نه توبه اوباسو» لپاره د دفع كولود شر «د دوى» څومره چې كيدې.

وَالْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ مِنْ لُزُومِ الْبَيْتِ مَحْمُولٌ عَلَى حَالِ عَدَمِ الْإِمَامِ، أَمَّا إعَانَةُ الْإِمَامِ الْحَقِّ فَمِنْ الْوَاجِبِ عِنْدَ الْغَنَاءِ وَالْقُدْرَةِ.

حل اللغة: ① **الغناء**: بې پروائي ،بې احتياجى

ژباړه وتشريح:- او «هغه چه» نقل شوى دى.دامام ابوحنيفه رحمه الله نه كښينستل په كوركې . «امام ابوالحسن كرخى رحمه الله په خپل مختصر كې بيان كړى دى.چه حسن بن زياد رحمه الله فرمائيلي دى.چه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائيلي دى. كله چې په مسلمانانوكې خانه جنګى پيل شى.نوسړى لره پكاردى.چه په خپل كوركې كينى.اود جنګ نه ځان اوساتى.اوپه جنګ كې دې نه شريكيږى.ځكه چې نبى ﷺ فرمائيلي دي.څوك چې د فتنه نه اوتختيدلو.نوالله تعالى به دده څټ د اور نه آزاد كړي.نومصنف رحمه الله ددې روايت په اړه كې فرمائي» هغه محمول دې په حالت دنشتوالى دامام باندې «يعنى په هغه وخت كې سړى لره په كوركې ايساريدل پكاردى.چه دمسلمانانو امام نه وى.اوكه امام وى.نوبياخو» كومك كول دامام حق سره واجب دې. «چه دكور نه رابهرشي.اوامام په مصرته كې د باغيانو سره اوجنګيږى.اوپه كوركې كښينستل ګناه ده.ځكه چې الله تعالى په قرآن پاك كې فرمائيلي دى.كه دمسلمانانودوې [دوه] ډلې په خپل مينځ كې جنګيږى.نوكومه ډله چې ظلم كوى.هغوى سره اوجنګيږئ.» په وخت دكفايت كې ، «چه دده مرسته دامام لپاره كافى وى»

کېږي﴾ اود قدرت کي ﴿که دده دقتال قدرت وي﴾

دباغيانومددګارجماعت سره څه عمل پکاردي ؟

(فَإِنْ كَانَتْ لَهُمْ فِئَةٌ أُجْهِزَ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَأُتْبِعَ مُوَلِّيهِمْ) دَفْعًا لِشَرِّهِمْ كَيْ لَا يَلْحَقُوا بِهِمْ (وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ لَمْ يُجْهَزْ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَلَمْ يُتْبَعْ مُوَلِّيهِمْ) لِانْدِفَاعِ الشَّرِّ دُونَهُ.

حل اللغة: ① **فئة**: ډله ② **اجهز**: تلواره کوی ③ **الاندفاع**: دفع کول

ژباړه وتشريح:- که چيرته وي ددوی ﴿باغيانو﴾ لپاره ډله ﴿چه ددوی کومک کوي﴾ نوتلواردقتل به اوکړې شي دزخمي ددوی ﴿يعنی کوم کس چې په دوی کي زخمي شوی وي.هغه به زرقتلولې شي﴾ اومنډه به وهلی شي په تختيدونکی ددوی ﴿يعنی کوم کس چې په دوی کي تختي.نوهغه به رالاندې کولې شي﴾ لپاره د دفع کولود شرد دوی ﴿ډلې﴾ چې يوځائې نشي ﴿زخمي اوتختيدونکي﴾ د دوی ﴿باغيانو﴾ سره،اوکه چيرته نه وي ددوی ﴿باغيانو﴾ ډله ﴿مدد کونکی﴾ نو نه به شي قتلولې زخمي ددوی اونه به شي رالاندې کولې تختيدونکي ددوی.د امله د دفع کيدو د شربغيردې ﴿قتلولواوتختولونه﴾

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ ذَلِكَ فِي الْحَالَيْنِ، لِأَنَّ الْقِتَالَ إِذَا تَرَكُوهُ لَمْ يَبْقَ قَتْلُهُمْ دَفْعًا. وَجَوَابُهُ مَا ذَكَرْنَاهُ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ دَلِيلُهُ لَا حَقِيقَتُهُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلي دی امام شافعي رحمه الله جائزنه دی دا کار ﴿چه قتل اومنډه وهل دی﴾ په دواړو حالتونوکي ﴿که د دوی مرسته کونکې ډله وی اوکه نه وی﴾ ځکه چې جنګ ﴿دمسلمانانوسره﴾ هرکله پرېښولو دوی نوپاته پاتې نشو قتلول ددوی. لپاره د دفع کولو ﴿دشر د دوی.ځکه چې شردفع شوې دې. نو دې ته حاجت پاتې نشو.اودا ځکه وايو.چه دا جنګ په طريقه د دفع کولود شردې.نود خوارجو سره د جنګ نه سوا د نوروسره دجنګ پشان شو.اوځواب ددې هغه دې.کوم چې موږ ذکرکړې وه.چه معتبر دليل د دې ﴿قتال دې.چه اجتماع ده﴾ نه حقيقت ددې. ﴿قتال.وړاندې د دليل اوحقيقت وضاحت شوې دې﴾

(وَلَا يُسْبَى لَهُمْ ذُرِّيَّةٌ وَلَا يُقْسَمُ لَهُمْ مَالٌ) لِقَوْلِ عَلِيٍّ يَوْمَ الْجَمَلِ: ( ) وَلَا يُقْتَلُ أَسِيرٌ وَلَا يُكْشَفُ سِتْرٌ وَلَا يُؤْخَذُ مَالٌ، وَهُوَ الْقُدْوَةُ فِي هَذَا الْبَابِ. وَقَوْلُهُ فِي الْأَسِيرِ تَأْوِيلُهُ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ، فَإِنْ كَانَتْ يَقْتُلُ الْإِمَامُ الْأَسِيرَ، وَإِنْ شَاءَ حَبَسَهُ لِمَا ذَكَرْنَا

حل اللغة: ① **ذرية**: ماشومان ② **يكشف**: ښکاره کوی ③ **الاسير**: قيدی ④ **الحبس**: بندول

ژباړه وتشريح:- اونه به شي قيد کولې ماشومان د دوی اونه به شي ويش کولې ﴿په حيثيت دمال غنيمت﴾ مال د دوی د امله د قول دحضرت علي رضي الله عنه نه،په ورځ دجنګ جمل،نه به شي قتلولې قيدي، اونه به شي ښکاره کولې پرده ﴿يعنی د زنانو بې عزتی اوبې پردګی به نشي کولې﴾ اونه به شي اخستې مال ﴿دباغيانو﴾ اودې ﴿حضرت علي رضي الله عنه﴾ مقتدا دې په دې باب ﴿دقتال﴾ کي ﴿دخوارجوسره.ځکه چې ددوی نه وړاندې خوارج نه وو.هم د دوی په خلافت کي پيدا شوی وو.اودوی خليفه راشد دې.اونبی ﷺ دخلفاء راشدينو رضي الله عنهم په اړه کي فرمائيلي دی.چه تاسو زما او زما د خلفاء راشدينوطريقه راټينګه کړئ﴾ اوقول د دوی ﴿حضرت علي رضي الله عنه﴾ په قيدی کي ﴿چه قيدی به نشي قتلولې﴾ ددې تاويل دا دې.چه ددوی ډله نه وی. او که ډله ئې وی. ﴿چه هغه د ده په مرسته کي دامام سره مقابله کوی﴾ اوکه وی ﴿دده سره ډله﴾ نوقتلوی به امام قيدی،اوکه غواړی نو قيد دې کړی.دهغه امله چې موږ ذکرکړه. ﴿په دې قول سره ...ويحبسهم إلى قوله دفعا لشرهم...﴾

ضروری تشريح:- په متن کي دحضرت علي رضي الله عنه په قول باندې استدلال شوې دې.کوم قول چې هغوی د جنګ جمل په ورځ باندې کړې وو.جمل په عربئ کي اوښ ته وائی.چونکه په دې جنګ کي حضرت عائشه رضي الله عنها

---

١) أخرجه الحاكم فی المستدرک (١٢\٨۶)_

په اوبښ باندې سوره وه.ځكه ورته جنګ جمل وائي.ددې جنګ شان ورود داسې دې.چه د حضرت عثمان ﷺ قاتلين حضرت عثمان ﷺ يوكم پنځوس ورځې محاصره كړې وو.اوبيا ئې ډيرېه ظالمانه مرګ سره قتل كړلو.دحضرت عثمان ﷺ د شهادت نه روسته حضرت علي ﷺ ته خلافت ملاؤ شو.دبدقسمتۍ نه دحضرت عثمان ﷺ په قتل كې چې كوم نفر ملوث وو.هغوى دحضرت علي ﷺ سره بيعت كولوته وړاندې شو. خلګ وددې نه دا اندازه واخستله.چه حضرت علي ﷺ دعثمان ﷺ د قاتلينوسره په صلاح وو.صحابه كرامو ﷺ دحضرت علي ﷺ نه مطالبه پيل كړله.چه تاسود حضرت عثمان قاتلينونه قصاص واخلئ.خوچونكه يو خودحضرت عثمان قاتلين ښكاره معلوم نه وو.اوبله دا چې هغوى ته دومره قوت او توان حاصل شوې وو.چه دخپل خلافت په ابتدائي ورځو كې دحضرت علي ﷺ په وس اوقدرت كې دا خبره نه وه.چه دهغوى نه قصاص واخلي.ددې امله هغوى به دا وئيل.چه زه به ضرور د حضرت عثمان ﷺ قصاص اخلم.خيرېه دې مهال كې څه نفر حضرت عائشې رضي الله عنها ته لاړل.دا په دغه وخت كې په مكه معظمه كې وه.اوهغې ته ئې اووئيل.چه ستاسوېه سركردګۍ كې چې د حضرت عثمان ﷺ د قصاص مطالبه اوشي.نو كيداې شي.په دې باندې عمل اوشي.اوبل حضرت عائشې رضي الله عنها ته دا خبره هم په غوږوكې واچولې شوه.چه حضرت علي ﷺ دحضرت عثمان په قتل كې صلاح كار وو.ددې امله حضرت عائشه رضي الله عنها په اوبښ باندې سوره شوه .بل اړخ ته حضرت علي ﷺ ته هم دحضرت عائشې رضي الله عنها د لښكرعلم اوشو.نوهغوى هم دلښكر سره راروان شول.كله چې دواړه لښكرې يوځائې ته اورسيدې. نو حضرت علي ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته دحضرت عثمان ﷺ دقتل نه خپل براءت ښكاره كړلو.په دې باندې حضرت عائشه رضي الله عنها اودهغې لښكرمطمئن شول.خودحضرت علي ﷺ په لښكركښې چې دحضرت عثمان ﷺ كوم قاتلان موجود وو.هغوى سره ويره شوه.كه چيرته د دوى دواړو صلح وشوه.نوبيا زموږ خيرنشته.نود شپې شپې څه كسانود حضرت عائشې رضي الله عنها په لښكر چور اوكړله.اوڅه كسانودحضرت علي ﷺ په لښكر.د دواړو لښكرو دا ګمان اوكړلو .چه موږ سره دهوكه اوكړې شوه.اودغه ډول په غلط فهمۍ كې ديوبل په قتلولوكې لګيا شول.دې ته د جنګ جمل واقعه وائي.په دې كې حضرت علي ﷺ امام برحق وو.ددې امله چې ددوى كوم هدايات دى. هغې ته شرعي حيثيت حاصل دې.(ويحبسهم الى قوله دفعا لشرهم)

وَلِأَنَّهُمْ مُسْلِمُونَ وَالْإِسْلَامُ يَعْصِمُ النَّفْسَ وَالْمَالَ (وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحِهِمْ إنْ احْتَاجَ الْمُسْلِمُونَ إلَيْهِ) وَقَالَ الشَّافِعِي: لَا يَجُوزُ، وَالْكُرَاعُ عَلَى هَذَا الْخِلَافِ.

حل اللغة: ① الكراع: جنګي اسونه

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې دوى «باغيان» مسلمانان دى.اواسلام ساتنه وركوي نفس اومال ته، «نودمسلمان نفس اومال ته به تعرض نشي كولې.لكه نبي ﷺ چې فرمائيلي دى.چا چې ايمان راوړلو.نوده زما نه خپل مال او جان محفوظ كړلو» اونشته څه باك چې جنګ اوكړې شي دوى «باغيانو» سره هم دهغوى په وسله باندې «چه وړاندې ترې اخستې شوې وى» كه محتاج شول مسلمانان دې «وسله دباغيانو» ته،اوفرمائيلي دى امام شافعي رحمه الله جائزنه دې «چه دهغوى په وسله باندې هغوى سره جنګ اوكړې شي» اود جنګ اسونه په دې اختلاف دى. «يعني زموږ په نيزكه د باغيانونه اسونه قبضه كړې شي.اوهم په هغه اسونوباندې هغوى سره مقابله كولې شي.دا جائزدې.اوامام شافعي رحمه الله فرمائي.چه جائز نه دې.-

لَهُ أَنَّهُ مَالُ مُسْلِمٍ فَلَا يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إلَّا بِرِضَاهُ. وَلَنَا أَنَّ عَلِيًّا قَسَمَ السِّلَاحَ فِيمَا بَيْنَ أَصْحَابِهِ بِالْبَصْرَةِ ([1]) وَكَانَتْ قِسْمَتُهُ لِلْحَاجَةِ لَا لِلتَّمْلِيكِ،

ژباړه وتشريح:- دده «امام شافعي» رحمه الله لپاره دليل دا دې.چه دا مال د مسلمان دې «ځكه چې باغي مسلمان

[1]) أخرجه ابن ابى شيبة فى مصنفه وابن سعد فى الطبقات (۶۷۱۵) طبعة دارالكتب العلمية)۔

وي﴾ نو نه دي جائزفائده اخستل ددي ﴿مال دمسلمان﴾ نه،مګرپه رضا دهغه سره،او زمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دي چه حضرت علي‌رضی‌الله‌عنه ويش کړي وه وسله په مينځ دخپلو ملګروکي په بصره کي ، اووو ويش د حضرت علي‌رضی‌الله‌عنه د امله دحاجت نه﴿چه د دوی دغه وسلي ته حاجت پيښ شوي وو.صرف خپل اړتيا ئي پري پوره کول غوستل﴾ اونه وو لپاره دمالك جوړولو﴿يعني په دغه ويش باندي ئي هغوی مالکان نه وو جوړ کړي﴾

وَلِأَنَّ لِلْإِمَامِ أَنْ يَفْعَلَ ذَلِكَ فِي مَالِ الْعَادِلِ عِنْدَ الْحَاجَةِ، فَفِي مَالِ الْبَاغِي أَوْلَى وَالْمَعْنَى فِيهِ إِلْحَاقُ الضَّرَرِ الْأَدْنَى لِدَفْعِ الْأَعْلَى.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چي جائز دی دامام لپاره چي اوکړي دا کار﴿يعني چي تصرف اوکړي﴾ په مال د عادل کس کي ، ﴿چه وسله او اسونه وغيره دي﴾ په وخت د اړتيا کي ،نوپه مال د باغی کي خو به خامخا ﴿جائز﴾ وي.او وجه مباح کونکي ﴿استعمال د وسلي اواسونودباغيانو﴾ په دي﴿باب﴾ کي ،برداشت کول د ضرر کم لپاره دی د ﴿ځان بچ کولود﴾ ضرر لوئي نه. ﴿يعني دلته دوي [دوه] نقصانه دی.که دباغيانونه وسله او اسونه واخستي شی.نوپه دي کي د باغيانو نقصان دي.اوکه اسونه او وسله دوی سره پريښودي شی. نو دوی به هم په دغه وسله باندي امام اودهغه مسلمانان انډيوالان قتل کړی.نومونږ چي دواړونقصانونو باندي نظر واچولو.نودا ضرر کم وو.چه د باغيانونه وسله او اسونه واخستي شی.ددي په نسبت چي دا دوی سره پاتي کړي شی.اوهم په دغه وسله باندي بيا مسلمانان قتل کړی﴾

(وَيَحْبِسُ الْإِمَامُ أَمْوَالَهُمْ فَلَا يَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ وَلَا يُقَسِّمُهَا حَتَّى يَتُوبُوا فَيَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ)

ژباړه وتشريح:- اوبندبه کړی امام مالونه ددوی ﴿باغيانو﴾ نو نه به ئي واپس کوی دوی ﴿باغيانو﴾ ته اونه به ئي تقيسموی ﴿په مينځ دمسلمانانوکي﴾ تردي چي توبه اوباسی ﴿دبغاوت نه.چه توبه اوباسی﴾ نوواپس به ئي کړي دوی ﴿باغيانو﴾ ته.

أَمَّا عَدَمُ الْقِسْمَةِ فَلِمَا بَيَّنَّاهُ. وَأَمَّا الْحَبْسُ فَلِدَفْعِ شَرِّهِمْ بِكَسْرِ شَوْكَتِهِمْ وَلِهَذَا يَحْبِسُهَا عَنْهُمْ، وَإِنْ كَانَ لَا يَحْتَاجُ إِلَيْهَا،

حل اللغة: ① الكسر ماتول ② شوكة شان.رعب

ژباړه وتشريح:- هرچه نه تقيسمول دی. ﴿چه دمال غنيمت پشان به ئي نه تقسيموی﴾ دهغه امله چي مونږ بيان کړي ده. ﴿په دي قول سره لأنه مال مسلم فلايجوز الإنتفاع به﴾اوهرچه بندول دی.نو لپاره د دفع کاوه د شر د دوی ﴿باغيانو﴾ چي ددوی قوت به ختم شی. ﴿يعني چي وسله تري واخستي شی.نودوی به مسلمانانوته ضرر نشي رسولي.اوچه وسله ورسره وی.نوپه دوی به چور اوکړی﴾ نوددي امله ﴿چه د دوی قوت ختم شی. او دوی د شرنه مسلمانان محفوظ شی﴾ بندوی به ئي د دوی ﴿باغيانو﴾ نه اګرچه نه وی ﴿امام﴾ محتاج هغي ته ﴿نوپه وسله کي خوبه څه تصرف نه کوی.هم هغه شان به پرته وی.څنګه چي ئي دهغوی نه قبضه کړي وی﴾

إِلَّا أَنَّهُ يَبِيعُ الْكُرَاعَ لِأَنَّ حَبْسَ الثَّمَنِ أَنْظَرُ وَأَيْسَرُ، وَأَمَّا الرَّدُّ بَعْدَ التَّوْبَةِ فَلِانْتِفَاءِ الضَّرُورَةِ وَلَا اسْتِغْنَامَ فِيهَا.

حل اللغة ① الاستغنام غنيمت حاصلول

ژباړه وتشريح:- البته دا ده.چه خرڅولي به شی اسونه ځکه چي ساتل د پيسو زيات د نظرلاندي وی ﴿مالك ته﴾ اوزيات اسان وی ﴿په ساتنه کي .اوهرچه اسونه دی.نويوخودهغي خسمانه ګرانه ده.بله دا چي دهغي ساتنه هم ګران دي.اوهروخت پري سرپ نظرهم نشي ساتلي﴾ اوهرچه واپس کول دی روسته د توبي نه ﴿يعني چي باغيان توبه اوباسی.نوددوی مالونه به دوی ته واپس کولي شی﴾ د امله د ختميدو د اړتيا نه. ﴿ځکه چي ددوی نه خووسله او اسونه په دي مقصد اخستي شوی وو.چه په دي باندي مسلمانانوته ضرر اونه رسوی .خوچه دوی توبه ويستله.نود ضرر ويره ختمه شوه.نو اړتيا هم ختم شو﴾ اونشته غنيمت په دي ﴿مالونو د باغيانو﴾ کي . ﴿ځکه چي دوی خومسلمانان دی.اودمسلمان مال غنيمت نه وی﴾

دباغیانوداخستې عشراوخراج حکم

قَالَ: (وَمَا جَبَاهُ أَهْلُ الْبَغْيِ مِنَ الْبِلَادِ الَّتِي غَلَبُوا عَلَيْهَا مِنَ الْخَرَاجِ وَالْعُشْرِ لَمْ يَأْخُذْهُ الْإِمَامُ ثَانِيًا) لِأَنَّ وِلَايَةَ الْأَخْذِ لَهُ بِاعْتِبَارِ الْحِمَايَةِ وَلَمْ يَحْمِهِمْ (فَإِنْ كَانُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ أَجْزَأَ مَنْ أُخِذَ مِنْهُ) لِوُصُولِ الْحَقِّ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ

حل اللغة: ① الجباءة: اخستل ② الحماية: مرسته کول ③ یحمي: حفاظت کوي

فرمائی «ابو الحسین قدوري» رحمه الله اوهغه چې وائې اخلی باغیان د «اوسیدونکود» ښارونوهغه نه چې غلبه کړې وی دوی په هغې «ښارونو» خراج او عشر،نونه به ئې اخلی امام «دمسلمانانودهغوی نه» دوباره،ځکه چې اختیارد اخستلو «دعشراوخراج» ده «امام» ته دې. په وجه د حفاظت، «چه امام د دوی ساتنه کوی» او «په موجوده صورت کې چې باغیانوددوی نه خراج اوعشر واخستلو» ساتنه ئې اونکړلو د هغوی، «نوځکه به ترې دوباره خراج اوعشرنه اخلي.بیا» که چیرته هغوی «باغیانو» خرچ کړلو «دغه خراج اوعشرکوم چې ئې دمسلمانانونه اخستی وی» په خپل مصرف کې ،نوجائز شو «دغه خراج او عشر» دهغه چا لپاره چې اخستې شوې وی د هغه نه،د املـه د رسیدو دحق نه خپل مستحق «ځکه کـه د مسلمانانو امام ترې اخستې وو.نوهغه بـه هم خپلو مستحقینوته ورکـول.اوباغیانوهم ورکړل.نوځیزخپل مستحق ته اورسیدلو.البته په واسطه کې توپیر راغلو»

(وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ فَعَلَى أَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى أَنْ يُعِيدُوا ذَلِكَ) لِأَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى مُسْتَحِقِّهِ.

ژباړه وتشریح:- اوکه نه وو دوی «باغیان چه» خرچ کړې وو «دغه خراج اوعشر» په مصرف خپل کې ، «بلکه د عشراوخراج چې کوم مصارف دی.دهغې نه علاوه په خپلونورو مقاصدو کې ئې استعمال کړل» نوپه ورکونکی د هغې. «عشراوخراج،یعنې چې دچا نه باغیانوعشراوخراج اخستې وی.نوپه هغوی باندې لازمه ده» په مینځ دهغه اوالله کې ،چه دوباره ورکړی دغه «عشر یا خراج،خراج اګرچه دکافرپه مځکه کې وی.خوچه خراجی مځکه دمسلمان په ملکیت کې راشی.نودې به هم دهغې خراج ورکوی.نوځکه به مسلمان هم خراج دوباره ورکوی.چه غاړه ئې لنډیز شی.اوکه دکافرنه ئې خراج اخستې وی.نوچونکه هغه خودثواب په نیت باندې خراج نه ورکوي.بلکه د هغه په حق کې خو دا یودنیاوی ټیکس دې.چه دخپل جان اومال د ساتنه په بدله کې ئې مسلمان بادشاه ته ورکوی» ځکه چې اونه رسیدلو «دغه عشر اوخراج» خپل مستحق ته، «نودا داسې شوه.لکه چې یوکس دزکاة پیسې دخپل مال نه جلا کړې.اوهغه ئې لا فقیرانوته نه وی ورکړې.چه ضائع شی.نوده باندې دوباره زکاة ورکول واجب دی.ځکه چې اولنې پیسې خپلو مستحقینوته اونه رسیدلې.دغه ډول دلته به هم دوی دوباره عشراوخراج ورکوی»

قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: قَالُوا الْإِعَادَةُ عَلَيْهِمْ فِي الْخَرَاجِ، لِأَنَّهُمْ مُقَاتِلَةٌ فَكَانُوا مَصَارِفَ، وَإِنْ كَانُوا أَغْنِيَاءَ،

ژباړه وتشریح:- وائی بنده کمزورې «صاحب دهدایه» رحمه الله فرمائیلی دی عالمانو رحمهم الله دوباره ورکول په دوی «مسلمانانوماخوذمنهم الخراج والعشر» باندې په خراج کې دی «دیانة» ځکه چې دوی «باغیانو» جنګیدونکی دی.نوشوی «باغیان» مصارف د خراج،اګرچه وی دوی «باغیان» مالداران، «ځکه چې باغیان اګرچه باغیان دی .خوداسلام نه خوخارج شوی نه دی.اودخراج مصرف مسلمانان دی.نوځکه د هغه مسلمانانو خراج ادا شو.دچا نه چې باغیانوخراج اخستې وی.اګرچه چاته دغه خراج ملاؤ شوې وی.هغوی شتمن وی.ځکه چې د خراج په مصرف کې فقرشرط نه دی»

وَفِي الْعُشْرِ إِنْ كَانُوا فُقَرَاءَ، فَكَذَلِكَ، لِأَنَّهُ حَقُّ الْفُقَرَاءِ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الزَّكَاةِ. وَفِي الْمُسْتَقْبَلِ يَأْخُذُهُ الْإِمَامُ، لِأَنَّهُ يَحْمِيهِمْ فِيهِ لِظُهُورِ وِلَايَتِهِ.

ژباړه وتشریح:- اوپه عشرکې «چه باغیانودمسلمانانونه عشراخستې وی» که وی «باغیان» فقیران نوهم دغه ډول حکم دې. «یعنې چې دچا نه عشراخستې شوی وی.په هغوی باندې دیانة دوباره و[illegible]کول نشته

ځکه چې دا ﴿عشر﴾حق د فقیرانو دي. ﴿او باغیان هم فقیران او مسلمانان دي. اګرچه نافرمان دي. نو ځکه ددوی عشر ادا شو﴾ او یقیناً مونږ بیان کړې ده دا مسئله په ﴿کتاب﴾ الزکاة کې، ﴿وړاندې د فصل فی الفتنة نه﴾ او په راروان ﴿کال﴾ کې اخلي به دا ﴿عشر او خراج﴾ امام ﴿د مسلمانانو﴾ نه.ځکه چې دې ﴿امام﴾ ساتنه کړې د هغوی ﴿مسلمانانو﴾ د امله د ښکاره کیدود ولایت دده ﴿امام﴾ په دوی باندې.

د باغیانو په خپلوکې یو بل قتلول

(وَمَنْ قَتَلَ رَجُلًا وَهُمَا مِنْ عَسْكَرِ أَهْلِ الْبَغْيِ ثُمَّ ظُهِرَ عَلَيْهِمْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ) لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لِإِمَامِ الْعَدْلِ حِينَ الْقَتْلِ فَلَمْ يَنْعَقِدْ مُوجِبًا كَالْقَتْلِ فِي دَارِ الْحَرْبِ.

ژباړه وتشریح:- او چاچه قتل کړلو یو سړې اووی دواړه ﴿قاتل او مقتول﴾ د لښکرد باغیانو څخه،بیا غلبه او شوه په دوی ﴿باغیانو﴾ باندې ﴿یعنی امام د مسلمانو پرې غلبه او کړله﴾ نو نشته په دوی ﴿یعنی په قاتل باغي﴾ څه څیز ﴿لکه دیت یا قصاص﴾ ځکه چې نه وو اختیارد امام عادل ﴿په ده باندې﴾ په وخت د قتل ﴿د مقتول﴾ کښې.نو موجود نشو واجبونکې ﴿یعنی سبب د قصاص یا دیت.او دا صورت شو﴾ پشان د قتل په دارالحرب کې ﴿یعنی چې په دارالحرب کې یو مسلمان بل مسلمان قتل کړلو.او بیا قاتل دارالاسلام ته راغلو.نو په قاتل باندې قصاص یا دیت نشته.ځکه چې په دارالحرب کې مسلمان حاکم ته ولایت او اختیار نشته. نو سبب د قصاص یا دیت موجود نشو﴾

د باغیانو په مقبوضه ښارکې دښاریانو یو کس قتلول

(وَإِنْ غَلَبُوا عَلَى مِصْرٍ فَقَتَلَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ عَمْدًا ثُمَّ ظُهِرَ عَلَى الْمِصْرِ فَإِنَّهُ يُقْتَصُّ مِنْهُ)

ژباړه وتشریح:- او که غلبه او کړله ﴿باغیانو﴾ په یو ښار باندې ﴿او ودې غلبې نه پس﴾ قتل کړلو یو سړې ﴿چه د غه سړې وو﴾ د ښار د خلګ ونه بل سړې د ښاریه خلګ وکې په قصد باندې ﴿یعنی قاتل او مقتول دواړه د مقبوضه ښار وو﴾ بیا غلبه او شوه په ښار باندې ﴿یعنی د امام عادل په قبضه کې بیا دغه ښار راغلو﴾ نو شان دا دې چه قصاص به اخستې شي دده ﴿قاتل﴾ نه.

وَتَأْوِيلُهُ إِذَا لَمْ يَجْرِ عَلَى أَهْلِهِ أَحْكَامُهُمْ وَأُزْعِجُوا قَبْلَ ذَلِكَ، وَفِي ذَلِكَ لَمْ تَنْقَطِعْ وِلَايَةُ الْإِمَامِ فَيَجِبُ الْقِصَاصُ.

حل اللغة: ① **الازعاج** ختمیدل.فناء کیدل

ژباړه وتشریح:- او ودې تاویل ﴿چه د قاتل څخه به قصاص اخستې شي﴾ دا دې.چه نه وي جاري شوی احکام د هغوی ﴿باغیانو﴾ په او سیدونکو ددې ﴿ښار﴾ او ختم شي ﴿باغیان یا په مرګ یا په تیختنه د هغه ښار نه﴾ وړاندې ﴿دوباره غلبې د مسلمانانو نه﴾ او په دغه موده کې ﴿چه د باغیانو احکام د ښار په خلګ وجاري شوې نه وي﴾ نه وي ختم شوې اختیارد امام ﴿بیخي د دغه ښار نه بلکه په لږه غونډې برخه باندې د باغیانو غلبه راغلې وي. او بیا هغه هم ختمه شي﴾ نو واجب دې قصاص ﴿د قاتل.او که د باغیانو د ښار په خلګ واحکام جاري کړې وي.او په هغه موده کې د قتل حادثه پیښه شوې وي.نو بیا به د مسلمانانو بادشاه د قاتل نه قصاص نه اخلي دلته دا خبره یاد ساته.چه ذکر شوې عبارت د جامع صغیر دې.او په جامع صغیر کې دا نشته چې ..ولم یجر علی أهله أحکامهم.. بلکه دا د جامع صغیر د شرحې کومه چې د فخرالاسلام بزدوی ﷫ ده.نه مصنف﷫ نقل کړې ده.ځکه نې په عبارت کې تسلسل جاري اونه ساتل.چه داسې نې وئیلې وو (فإنه نقتص منه إذا لم یجر علی أهله أحکامهم)

د اهل عدل خپل باغي مورث قتلولو باندې د میراث نه عدم حرمان

(وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْعَدْلِ بَاغِيًا فَإِنَّهُ يَرِثُهُ، فَإِنْ قَتَلَهُ الْبَاغِي وَقَالَ قَدْ كُنْتُ عَلَى حَقٍّ وَأَنَا الْآنَ عَلَى حَقٍّ وَرِثَهُ

وَإِنْ قَالَ قَتَلْتُه وَأَنَا أَعْلَمُ أَنِّي عَلَى الْبَاطِلِ لَمْ يَرِثْهُ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ)[1] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يَرِثُ الْبَاغِي فِي الْوَجْهَيْنِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِي.

ژباړه وتشریح:- اوکله چې قتل کړي یوسړي د اهل عدل نه ﴿یعنی هغه د مسلمانانو نه چې د امیراطاعت کوي﴾ باغي ﴿چه دغه باغي دده مورث وي.لکه پلارشو﴾ نودې ﴿قاتل﴾ به میراث اوړي دهغه ﴿مقتول مورث﴾ نه،اوکه قتل کړلوده ﴿اهل عدل مسلمان لره﴾ باغي،اودا وائي. ﴿دغه باغي چه﴾ زه په حق باندې وو. ﴿په کوم وخت کي چې مې دا خپل مورث قتلولو﴾ اوزه اوس هم په حق یم.نو میراث به اوړي ﴿دغه باغي قاتل دخپل مقتول مورث نه﴾اوکه وې وئیل.چه ما قتل کړې وو دې ﴿خپل مورث﴾ اوزه پوهیدم.چه زه په باطله یم. ﴿نوپه دې صورت کي﴾ نه به اوړي میراث ﴿دخپل دغه مقتول مورث نه﴾ اودا ﴿حکم﴾ په نیزدامام ابوحنیفه اومحمد رحمه الله دې.اوفرمائیلي دي امام ابویوسف رحمه الله چې میراث به نه اوړي باغي ﴿دخپل اهل عدل مورث﴾ نه په دواړو صورتونوکي ﴿که باغي دخپل حقیت معتقدوي.اوکه دخپل باطلیت معتقدوي﴾ اودا ﴿کوم مذهب چې د امام ابویوسف رحمه الله دې﴾ قول دامام شافعي رحمه الله دې.

وَأَصْلُهُ أَنَّ الْعَادِلَ إِذَا أَتْلَفَ نَفْسَ الْبَاغِي أَوْمَالَهُ لَا يَضْمَنُ وَلَا يَأْثَمُ، لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِقِتَالِهِمْ دَفْعًا لِشَرِّهِمْ،

حل اللغة: ① اتلف: هلاک کړو

ژباړه وتشریح:- اواصل ددې ﴿خلاف دا دې.چه﴾ چې عادل ﴿یعنی هغه کس چې دامیرتابع وي.اوباغي نه وي﴾ کله چې دې هلاك کړي نفس دباغي اویا مال دهغه ﴿باغي﴾ نونه به شي تاواني کولې ﴿چه دباغي د نفس بدله ترې د قصاص یا دیت په صورت کي واخستې شي.اودهغه دمال بدله ترې دمثل یا د قیمت په صورت کي واخستې شي﴾اونه ګناهګاریږي ﴿په دې هلاکولود نفس یا دمال باندې﴾ ځکه چې دې ﴿عادل مسلمان﴾ مامور دي. ﴿یعنی شریعت ده ته حکم کړې دې﴾ په جنګ کولو ﴿دباغیانوسره په مرسته د عادل بادشاه کي﴾ لپاره د دفع کولود شردهغوي ﴿باغیانو﴾

وَالْبَاغِي إِذَا قَتَلَ الْعَادِلَ لَا يَجِبُ الضَّمَانُ عِنْدَنَا وَيَأْثَمُ. وَقَالَ الشَّافِعِي رَحِمَهُ اللهُ فِي الْقَدِيمِ: إِنَّهُ يَجِبُ،

ژباړه وتشریح:- اوباغي کله چې قتل کړي دې عادل لره نو نه واجبیږي ﴿په باغي باندې﴾ ضمان په نیز زموږ ﴿داحنافو﴾ اوګناهګاریږي. ﴿ځکه چې ده مسلمان قتل کړې دې.اومسلمان معصوم الدم دې﴾ اوفرمائیلي دي امام شافعي رحمه الله په ﴿خپل﴾ قدیم مذهب کښې،چه دا ﴿ضمان په باغي باندې په وجه د قتل د عادل مسلمان) واجبیږي.

وَعَلَى هَذَا الْخِلَافُ إِذَا تَابَ الْمُرْتَدُّ، وَقَدْ أَتْلَفَ نَفْسًا أَوْمَالًا لَهُ أَنَّهُ أَتْلَفَ مَالًا مَعْصُومًا أَوْقَتَلَ نَفْسًا مَعْصُومَةً فَيَجِبُ الضَّمَانُ اعْتِبَارًا بِمَا قَبْلَ الْمَنَعَةِ.

حل اللغة: ① المنعة: ډله،جماعت

ژباړه وتشریح:- اوپه دې خلاف باندې دی.کله چې توبه اوباسي مرتداوده هلاك کړې وی نفس یامال ﴿دیو مسلمان په دارالاسلام کي .نوداحنافو رحمهم الله په نیزپه مرتد باندې ضمان نشته.اودامام شافعي رحمه الله په نیز پرې ضمان شته﴾ اودده ﴿امام شافعي رحمه الله لپاره دلیل دا دې.چه﴾ ده ﴿باغي﴾ هلاك کړلو مال معصوم ﴿ځکه چې دمسلمان مال معصوم وی.اوده دعادل مسلمان مال هلاك کړې دې﴾ اویا نفس معصوم ﴿ځکه چې دمسلمان نفس معصوم وی.اوده معصوم مسلمان قتل کړې دې﴾ نوواجبیږی ﴿په باغيباندې ضمان﴾ د امله د قیاس نه په هغه صورت باندې چې وی دده ﴿باغي﴾ قوت، ﴿یعنی لکه څنګه چې په هغه صورت کي په باغي باندې ضمان واجبیږی.چه ده ته لاقوت او توان نه وی حاصل شوې.اودې څوك قتل کړی.نودهغه ضمان په ده باندې واجبیږی.نودغه ډول به په دې صورت کي هم په ده باندې دعادل مسلمان په قتل باندې

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(٣\٣٤٢) وفتح القدير(٥\٣٤٠) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٠٧)

ضمان واجبیږي﴾

وَلَنَا إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ، (١) رَوَاهُ الزُّهْرِي.

ژباړه وتشريح:- او زمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره اجماع د صحابو﷜ دلیل دي.روایت کړي دي د دې ﴿اجماع د صحابو﷜﴾ امام زهري﷫ ﴿چه باغي راولګي.عادل مسلمان قتل کړي.نوپه باغي قاتل باندې ضمان نشته﴾

ضروري تشريح:- په متن کي چي دامام زهري﷫ په روایت سره دصحابه کرامو﷜ داجماع کوم قول نقل دي.ددې تفصیل دا دې.چه مالك بن هشام امام زهري﷫ ته اولیکلو.چه یوه ښځه دخپل خاوند نه اوتختیدله.اودا دعوی ئې اوکړله.چه زما قوم مشرك دې.اوخوارجو سره انډیوالان شوه.اوهلته کي نکاح اوکړې.اوبیا توبه اوباسي.اوواپس راشي.نو ددې څه حکم دې.امام زهري﷫ ورته په ځواب کي اولیکل. چي په کوم وخت کي دخوارجو فتنه پیدا شوه.نوپه هغه وخت کي دحضرت علي﷜ سره ډیرهغه صحابه کرام﷜ هم موجود وو.کوم چي په جنګ بدرکي شریك شوي وو.هغوی سره د مشورې کولونه روسته د ټولومتفقه رائې دا شوه.چه که خوارجو په قرآن پاك کي تاویل کړې وی.اویوه ښځه ئې حلاله کړې وی.نوپه هغوی به حدزنا نشي جاري کولي.اوکه په قرآن کي ئې په تاویل کولوسره دیومسلمان قتل جائزکړی وی.نود دوی څخه به قصاص نشي اخستي.اوکه دخوارجو سره دیوکس مال بغیردڅه بدلون نه بیا موندې شو .نوهغه به ورته واپس کولي شي.نو زما دعلم مطابق فیصله دا ده.چه دا ښځه خپل خاوند ته واپس کړئ .اوکه څوك په دې ښځه باندې د زنا تهمت اولګوی.نوتاسوپه هغه باندې حدقذف جاري کړئ.ابن ابی شیبه د دې روایت کړې دې

وَلِأَنَّهُ أَتْلَفَ عَنْ تَأْوِيلٍ فَاسِدٍ، وَالْفَاسِدُ مِنْهُ مُلْحَقٌ بِالصَّحِيحِ إِذَا ضُمَّتْ إِلَيْهِ الْمَنَعَةُ فِي حَقِّ الدَّفْعِ

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چي دې ﴿باغي﴾ هلاکول کړی دی په تاویل فاسدباندې ﴿چه ځان په حق ګنړي. او د مسلمانانوامیرپه ناحقه ګنړي.اګرچه دې په ناحقه وي﴾ اوفاسد تاویل یوځائې کیږي دصحیح سره ﴿په حکم د عدم ضمان کي ،یعنی که یوکس په قرآن کي په باطل تاویل کولوسره دچا د مال یا دجان هلاکاوه جواز اولتبولو.اودچا مال یا جان ئې د دغه تاویل په رڼا کي هلاك کړل.نوپه هغه باندې به ضمان نه وی﴾ کله چي یوځائې شي هغې ﴿تاویل فاسد﴾ سره قوت، ﴿یعنی چي متاولینوته توان هم حاصل وی﴾ په حق د دفع ﴿کاوه د ضمان﴾ کي ، ﴿یعنی په هغه صورت کي به دمسلمان د مال یا دجان په هلاکت باندې ضمان نه وی.چه متلف تاویل کونکې وی.دتاویل وضاحت به په راروان متن کي راشي. اوقوت ورته هم حاصل وی﴾

كَمَا فِي مَنَعَةِ أَهْلِ الْحَرْبِ وَتَأْوِيلِهِمْ، وَهَذَا لِأَنَّ الْأَحْكَامَ لَا بُدَّ فِيهَا مِنَ الْإِلْزَامِ أَوِ الِالْتِزَامِ، وَلَا الْتِزَامَ لِاعْتِقَادِ الْإِبَاحَةِ عَنْ تَأْوِيلٍ،

ژباړه وتشريح:- لکه څنګه چي دا ﴿حکم دعدم ضمان﴾ په قوت د حربیانواوپه تاویل دهغوی کي دې ﴿یعنی که حربیانوپه جنګ کي څومسلمانان قتل کړل.یا ئې دذوی مالونه لوټ کړل.اوبیا مسلمانان شول.نوپه هغوی باندې قصاص یا دیت نشته﴾ اودا ﴿حکم چي باغي کله عادل مسلمان قتل کړي.په ده باندې ضمان نشته.البته ګناهګارضرور دې دغه ډول حربی کافرچه په دارالحرب کي مسلمان قتل کړي.اوبیا مسلمان شي.نوپه دې نومسلم باندې قصاص نشته﴾ ځکه چي احکام ﴿دشریعت په اعتبارد دنیا سره﴾ ضروري دی په دې کي الزام ﴿چه حاکم په سړي باندې یوحکم لازم کړي.نوکه دده خوښه وی اوکه نه،هغه حکم به دې پوره کوی.ځکه چي مجبوره دې.لکه حاکم په ده باندې جرمانه اولګوی.نوخامخا به دې جرمانه باندې لمونځ لازم ګنړي.نوځکه ئې وخت په وخت ادا کوی.اګرچه دحاکم د اړخه په ده باندې الزام نه وی.

(١) أخرجه عبدالرزاق فی مصنفه(نصب الرأية:١١٣/٧٠)_

يعني يوحكم هله ادا كيږي.چه په هغې كي د دوو څيزونو نه يو شى كارفرما وى.يا دا چې سرې په خپله دډغه كارد فرضيت او كولوعقيده لرى .اودويمه دا چې دحاكم د اړخه په ده باندې زور وى.اوكه دې غواړى اوكه نه غواړى.خوهغه حكم ادا كوى﴾ اونشته ﴿په موجوده مسئله كي﴾ التزام ﴿دباغى داړخه په خپل خان باندې﴾ د امله داعتقاد ساتلو دده﴿باغى﴾ مباح ګنړل ﴿قتل دمسلمان،چه دهغه مسلمان قتل مباح دې.اودا مباح ګنړل ئې وى﴾ د امله دتاويل كولونه ﴿چه دې په قرآن كي تاويل كوى.اودمسلمان قتل جائز ګنړي﴾

ضروري تشريح:- د تاويل وضاحت دا دې.لكه د خوارجو چې دا عقيده وه.چه مرتكب دګناه صغيره يا كبيرهٔ دده قتل جائز دې.اوپه دليل كي دالله تعالى دا قول ذكر كوى.چه ((اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدًا فِيْهَا)) اواستدلال په دې طريقه كوى.چه په عصيان باندې الله تعالى د دائمى عذاب وعيد اوروليې دې.اودائمى عذاب كافرته ملاويږي مسلمان ته نه.نومعلومه شوه.چه مرتكب د عصيان كافر دې.اودكافرقتل جائزدې.اودغه ډول په دغه نومسلم باندې هم قصاص نشته.چه په دارالحرب كي ئې مسلمان قتل كړى وى.څكه چې دې مسئله كي هم د دارالحرب په كافرباندې د دارالاسلام د مسلمان حاكم قدرت نشته.چه په هغه باندې د قصاص حكم اوكړى.اودغه نومسلم چې په حالت كفركي مسلمان قتلولو .نوده هم په خان باندې د اسلامى شريعت دقصاص يا ديت حكم لازم نه ګنړلو.خكه چې دې مسلمان نه ووﮮ﴾

وَلَا الْزَامَ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ لِوُجُوْدِ الْمَنْعَةِ، وَالْوِلَايَةُ بَاقِيَةٌ قَبْلَ الْمَنْعَةِ

ژباړه وتشريح:- اونشته الزام ﴿دضمان په باغى باندې د مسلمان امير د اړخه﴾ د امله د نشتوالى د اختيار ﴿يعني د اميرپه باغيانوباندې قدرت نشته.اوقدرت ئې پرې نشته﴾ د امله د جود د قوت نه ﴿چه دباغيانو سره قوت او توان دې.دهغې په وجه د مسلمان اميرپه هغوى باندې حكم نه چليږي﴾ اوولايت ﴿يعني واك اختيارد اميرحق﴾ پاته وو ﴿په باغيانوباندې﴾ وړاندې د قوت ﴿دباغيانو﴾ نه، ﴿دا دامام شافعي رحمه الله دقياس نه ځواب دې.امام شافعي رحمه الله فرمائيلي وو.چه په موجوده مسئله كي يعني چې باغى عادل مسلمان قتل كړى.نوپه باغى باندې ضمان واجب دې.اوبيا امام شافعي رحمه الله ددې مسئلي قياس په هغه صورت كړې وو.كه چيرته باغيانوته قوت نه وى حاصل.اوپه دغه وخت كي يوباغى راولړى.عادل مسلمان قتل كړى.نوپه باغى باندې په دغه صورت كي ضمان شته.نودغه ډول به په موجوده صورت كي يعني چې باغيانوته قوت حاصل وى.هم په باغى قاتل باندې ضمان وى.نوماتن د صاحبينو رحمهما الله داړخه دهغې ځواب وركوى.چه هلته څوځكه په باغى باندې ضمان واجب كيدلو.چه دامام عادل په باغيانو باندې قدرت وو.نوضمان ئې پرې واجب كولې شو.اوپه موجوده صورت كي چې باغيانوته قوت حاصل شوې دې.نودامام په هغوى باندې وس او قدرت نه رسى.څكه په باغى باندې ضمان نه واجبيږي﴾ نوهركله چې په دې دواړو صورتوكي چې اصل مسئله د باغيانو ده.اوبله مقيس عليه ده.چه په حالت د كفركي د مسلمان قتلول دى.الزام او التزام نشته .نوضمان به هم نه وى﴾

وَعِنْدَ عَدَمِ التَّاوِيْلِ ثَبَتَ الْاِلْتِزَامُ اعْتِقَادًا، بِخِلَافِ الْاِثْمِ، لِاَنَّهٗ لَا مَنْعَةَ فِيْ حَقِّ الشَّارِعِ، اِذَا ثَبَتَ هٰذَا فَنَقُوْلُ: قَتْلُ الْعَادِلِ الْبَاغِىْ قَتْلٌ بِحَقٍّ فَلَا يَمْنَعُ الْاِرْثَ.

ژباړه **وتشريح**:- اوپه وخت د نه كولودتاويل كي ﴿چه باغى دبغاوت اودمسلمان دقتل د جوازتاويل نه كوى﴾ نوثابت شو التزام په اعتبارد اعتقاد ﴿هركله چې باغى دمسلمان د قتل لپاره تاويل نه كوى.اوبيا هم مسلمان قتل كوى.نودده په خپل اعتقاد كي هم په ده باندې ضمان لازم شو.څكه چې يومعصوم الدم كس ئې قتل كړلو.اودمعصوم الدم كس په قتل باندې ضمان واجبيږي﴾ په خلاف د ګناه ﴿يعني ګناه خو په هرصورت كي لازميږي.كه باغى قاتل موول وى اوكه غيرموؤل وى﴾ څكه چې نتشه اعتبارقوت لره په

حق د شارع کي ﴿بلکه شارع واړه په خپلو احکامو مکلف کوی.که یوکس سره قوت وی اوکه نه وی﴾ هرکله چي ثابته شوه دا ﴿چه دشریعت احکامو لپاره الزام یا التزام ضروری دی.الخ﴾ نوموږ وایو.چه قتل د عادل باغی لره قتل برحق دی.نونه منع کوی میراث اوړل ﴿چه عادل وارث راولړی قتل کړی خپل مورث لکه پلار.بلکه دخپل مقتول باغی مورث څخه به میراث اوړی﴾

وَلِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ فِي قَتْلِ الْبَاغِي الْعَادِلَ أَنَّ التَّأْوِيلَ الْفَاسِدَ إِنَّمَا يُعْتَبَرُ فِي حَقِّ الدَّفْعِ وَالْحَاجَةُ هَاهُنَا إِلَى اسْتِحْقَاقِ الْإِرْثِ فَلَا يَكُونُ التَّأْوِيلُ مُعْتَبَرًا فِي حَقِّ الْإِرْثِ.

ژباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله دلیل په قتل د باغی کي چي دي قتل کړی عادل مسلمان لره ﴿نوپه هر صورت کي به باغی د میراث نه محرومه وی که دې مووّل وی اوکه غیرمووّل وی) څکه چي تاویل فاسد معتبر دې په حق د دفع کولو ﴿دضمان کي.یعنی که باغی تاویل کړی وی.اګرچه دغه تاویل فاسد وی. نودې تاویل دا فائده اوکړله.چه په ده باندې به د قتل ضمان نه واجبیږی﴾ اوحاجت دلته ﴿موجود دې﴾ استحقاق د میراث اوړلو ته،نونه کیږی تاویل ﴿فاسد﴾ معتبرپه حق د میراث اوړلوکي ﴿خوتاویل فاسد قاتل ته دا فائده نه ورکوی.چه دې به دخپل مقتول مورث نه بیا هم میراث اوړی.بلکه که قاتل مووّل وی اوکه غیر مؤول وی.په دواړو صورتونوکی به دې د میراث نه محرومه وی﴾

وَلَهُمَا فِيهِ أَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى دَفْعِ الْحِرْمَانِ أَيْضًا، إِذِ الْقَرَابَةُ سَبَبُ الْإِرْثِ فَيُعْتَبَرُ الْفَاسِدُ فِيهِ، إِلَّا أَنَّ مِنْ شَرْطِهِ بَقَاءَهُ عَلَى دِيَانَتِهِ، فَإِذَا قَالَ: كُنْتُ عَلَى الْبَاطِلِ لَمْ يُوجَدِ الدَّافِعُ فَوَجَبَ الضَّمَانُ.

حل اللغة: ① الحرمان محرومه کیدل

ژباړه وتشریح:- اودصاحبینو رحمهما الله لپاره په دې ﴿قتل دباغی کي چي قتل کړی عادل مسلمان﴾ دلیل دا دی.چه حاجت لری کولود حرمان ته هم شته. ﴿یعنی دې ته هم حاجت شته.چه قاتل وارث د میراث نه محرومه نشی﴾ څکه چي خپلولی سبب د میراث اوړلو دې.نومعتبربه وی ﴿تاویل﴾ فاسد په دې ﴿میراث اوړلو﴾ کښې. ﴿لکه څنګه چي په دفع کولود وجوب ضمان کي فاسد تاویل معتبردې﴾ البته د شرط د دې ﴿میراث اوړلو﴾ نه پاته پاتې کیدل د باغی دې په دیانت خپل. ﴿یعنی باغی تاویل کوی.اګرچه فاسد تاویل وی.اوپه هغه تاویل کي دخان لپاره د قتل جواز پیدا کوی.نودغه تاویل لکه څنګه چي دې د وجوب ضمان نه بچ کوی .نودغه ډول دې د میراث اوړلونه هم نه محرومه کوی﴾ نوهرکله چي ووایي دې ﴿نوهرکله چي دې ﴿باغی﴾ اووائی.چه وومه زه په باطل ﴿په وخت دقتل کولودخپل مورث﴾ نوموجود نشو دفع کونکې ﴿د وجوب ضمان.یعنی چي باغی تاویل نه کوی.نودکوم څیزد امله چي په باغی باندې ضمان نه واجب کیدلو . هغه شی یعنی تاویل موجود نشو﴾ نوواجب شو ضمان ﴿باغی غیرمووّل قاتل باندې﴾

په باغیانوباندې دوسله خرڅولوکراهت

قَالَ (وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ وَفِي عَسَاكِرِهِمْ) لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ عَلَى الْمَعْصِيَةِ (وَلَيْسَ بِبَيْعِهِ بِالْكُوفَةِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَمَنْ لَمْ يَعْرِفْهُ مِنْ أَهْلِ الْفِتْنَةِ بَأْسٌ) لِأَنَّ الْغَلَبَةَ فِي الْأَمْصَارِ لِأَهْلِ الصَّلَاحِ.

حل اللغة: ① الاعانة مدد کول ② المعصیة ګناه ③ الامصار جمع د مصر،ښار

ژباړه وتشریح:- فرمائی ﴿ابو الحسین قدوری رحمه الله﴾ اومکروه دی خرڅول د وسله په باغیانوباندې اود دوی په لښکر کي ﴿په چا باندې دوسلهٔ خرڅول﴾ څکه چي دا کومك کول دی ﴿دباغیانوسره﴾ په ګناه باندې ﴿حالانکه الله تعالی فرمائیلی دی.چه تاسویوبل سره دګناه په کارکي کومك مکوی﴾ اونشته په خرڅولو ﴿ دوسلې﴾ د کوفې په خلګ واوپه هغه چا چي نه ئې پیژنی باغیان څه باك. ﴿اوکه هغوی ئې پیژنی.نوددې خبرې ویره ده.چه کیدای شی.باغیان ئې دهغوی نه واخلی.چه په چا باندې ده خرڅه کړې وی﴾ څکه چي په ښارونوکي غلبه وی د نیکانودپاره ﴿چه د عادل بادشاه نه ئې بغاوت نه وی کړی﴾

وَإِنَّمَا يُكْرَهُ بَيْعُ نَفْسِ السِّلَاحِ لَا بَيْعُ مَا لَا يُقَاتَلُ بِهِ إِلَّا بِصَنْعَةٍ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُكْرَهُ بَيْعُ الْمَعَازِفِ وَلَا يُكْرَهُ بَيْعُ الْخَشَبِ، وَعَلَى هَذَا الْخَمْرُ مَعَ الْعِنَبِ.

حل اللغة: ① **المعازف:** آلادت د سرود ،لكه باجه وغيره ② **صنعة:** كاريگرى ③ **الخشب:** لرگې ④ **العنب:** انگور

ژباړه وتشريح:- اويقيناً مكروه دى خرڅول د نفس وسلې ﴿يعنى چې تياره شوې وي﴾ نه خرڅول دهغه څيزچه جنگ نشي كيداې دهغې په ذريعه باندې مگرپس د كاريگرئ نه ﴿نوكه يوكس اوسپنه خرڅوى.په دې كې څه كراهت نشته.اگرچه وسله هم د اوسپنې نه جوړيږى﴾ ولې ته نه گورې چې مكروه دى خرڅول د آلاتو د سرود ﴿لكه شپليئ اوډوكړئ﴾ اومكروه نه دى خرڅول د لرگى ﴿حالانكه دا آلات هم د لرگى نه جوړيږى﴾ اوپه دې حكم باندې دى شراب سره د انگور ﴿يعنى دشرابوخرڅول حرام دى.اودانگورو خرڅول جائزدى .حالانكه شراب د انگورو نه جوړيږى﴾

كِتَابُ اللَّقِيطِ

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ كتاب د لقيط ﴿په بيان كې﴾ دې. ﴿دكتاب السيراولقيط په مينځ كې مناسبت دا دې.چه په دواړوكې نفس اومال فوت كيږى.اولقيط په لغت كې هغه څيزته وائى.چه د زمكې نه پورته كړې شى .اوپه شريعت كې د لقيط تعريف دا دې.،.اللقيط إسم المولود طرحه أهله خوفاً من العيلة أو فراراً من تهمة الزنا.. يعنى لقيط هغه ماشوم ته وائى.چه څوك ئې د فقيرئ د امله يا زنا دتهمت د ويرې په لاره كې غورځولې وى.

د لقيط د اوچتولو حكم

اللَّقِيطُ سُمِّيَ بِهِ بِاعْتِبَارِ مَآلِهِ لِمَا أَنَّهُ يُلْقَطُ. وَالِالْتِقَاطُ مَنْدُوبٌ إلَيْهِ لِمَا فِيهِ مِنْ إحْيَائِهِ، وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ ضَيَاعُهُ فَوَاجِبٌ.

حل اللغة: ① **احياء:** ژوندې كول ② **ضياع:** ضائع كيدل ③ **اللتقاط:** د مځكې نه اوچتول

ژباړه وتشريح:- لقيط نامداركړې شو په دې ﴿لقيط سره﴾ په اعتبار د مستقبل سره ځكه چې ﴿دې په لاركې غورځولې شوې وى.نو﴾ اوچتولې شى اوپورته كول ﴿د لقيط﴾ مستحب دى ځكه چې په دې كې ژوندون د ده ﴿لقيط﴾ دې. ﴿خود استحباب دا حكم په هغه وخت كې دې.كه دې دا گمان كوى.كه زه ئې راوچت نكرم.نوبل څوك به په دې لاره باندې راشى.اوهغه به ئې اوچت كړى.﴾ اوكه غالب وى په گمان دده ﴿واجد﴾ كې ضائع كيدل ددې ﴿لقيط﴾ نوواجب دى ﴿اوچتول ددې لقيط.مثلاً په داسې شاړه لاره كې پروت وى.چه هلته د چا د تيريدو احتمال نه وى.نوكه دې ئې دغه ډول پريږدى. كيداې شى چې څه درنده راشى. مات ئې كړى.يا هم دغه ډول د ولوږې تندې نه مړ شى﴾

لقيط به آزاد وى اونفقه ئې په بيت المال ده

قَالَ (اللَّقِيطُ حُرٌّ) لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي بَنِي آدَمَ إنَّمَا هُوَ الْحُرِّيَّةُ، وَكَذَا الدَّارُ دَارُ الْأَحْرَارِ، وَلِأَنَّ الْحُكْمَ لِلْغَالِبِ

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى رحمه الله﴾ چې لقيط آزاد دې ځكه چې اصل په بنيادم كې آزادى ده. اودغه ډول كور، كورد آزادو خلگو دې ﴿يعنى دارالاسلام دې.اوپه دارالاسلام كې مسلمانان آوسيږى.او مسلمانان آزاد وى﴾ اوبله دا ده.چه حكم غالب ﴿گمان﴾ لره وى. ﴿اوكله چې لقيط په دارالاسلام كې بيا موندې شى. نو غالب گمان هم دا وى.چه دې به د آزاد پلار بچې وى﴾

(وَنَفَقَتُهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ) هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ، (۱) وَلِأَنَّهُ مُسْلِمٌ عَاجِزٌ عَنْ التَّكَسُّبِ، وَلَا مَالَ لَهُ وَلَا قَرَابَةَ

---

۱)أما الرواية عن عمر رضي الله عنه فأخرجها مالك فى الموطا فى الأقضية رقم ۱۹ وأما الرواية عن على رضي الله عنه فأخرجها عبدالرزاق فى مصنفه (نصب:۳\۱٤ ۷۰)_

ژباړه وتشريح:- اونفقه ﴿د تربيت اوخسامنۍ﴾ دده ﴿لقيط﴾ به په بيت المال وی. ﴿چه ده سره روپۍ نه وی پرتې﴾ دا خبره ﴿چه دده خرچ به په بيت المال وی﴾ نقل ده دحضرت عمرؓ او علیؓ نه، ﴿لکه امام مالك رحمه الله﴾ چې په خپله موطا کې نقل کړی دی.چه يوسړی دحضرت عمرؓ په دورخلافت کې يوماشوم اوموندلو .نوهغه ئې راواخستلو.اوحضرت عمرؓ ته راغلو.حضرت عمرؓ ترې پوښتنه اوکړه .تا دا ماشوم ولې د لارې نه راوچت کړلو.نوهغه ورته اووئيل.چه ما سره دده د ضائع کيدو ويره وه.نوعريفه يوبل کس وو.هغه حضرت عمرؓ ته اووئيل.اې اميرالمومنين،دا يونيك سړی دی.نوحضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل.آو هم دغه ډول ده .بيا حضرت عمرؓ ده ته اووئيل.چه ته لاړ شه.دې آزاد دې.اودده ولاء به ستا وی.اودده د تربيت خرچه به په موږ وی ﴿يعنی موږ به ئې د بيت المال نه برداشت کوو.اودحضرت علیؓ روايت عبدالرزاق رحمه الله په خپل منصف کې ذکرکړې دې.چه دوی فرمائيلی دی نفقه د لقيط په بيت المال ده. او ولاء ئې د مسلمانانو ده .کذا فی البنايه﴾ اوبله ددې امله ﴿دده نفقه په بيت المال ده.چه﴾ دې ﴿لقيط﴾ مسلمان دې ﴿ځکه چې د مسلمانانو په وطن کې بيا موندې شوې دې.نوظاهر هم دا وائی.چه دې به مسلمان وی﴾ اوعاجز دې د ګټې نه،اونشته مال دده ﴿لقيط﴾ سره ﴿چه په هغې باندې دده تربيت اوشی﴾ او نشته خپلوان دده ﴿لقيط چې په هغوی باندې دده د تربيت ذمه واری ورواچولی شی﴾

فَاشْبَهَ الْمُقْعَدَ الَّذِي لَامَالَ لَهُ وَلَا قَرَابَةَ، وَلِأَنَّ مِيرَاثَهُ لِبَيْتِ الْمَالِ، وَالْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ وَلِهٰذَا كَانَتْ جِنَايَتُهُ فِيهِ.

حل اللغة: ① المقعد ګډ ② جناية ګناه ،جرم

ژباړه وتشريح:- نومشابه شو ﴿دا لقيط﴾ دهغه شل سره چې نه وی مال دهغه سره، ﴿اوهغه نفقه په بيت المال ده.نودغه ډول به د لقيط نفقه هم په بيت المال وی﴾ اوبله دا چې ميراث دده ﴿لقيط﴾ د بيت المال دې. ﴿يعنی که دې وفات شی.نودده ميراث به په بيت المال کې جمع کولې شی.اوبيا به د مسلمانانود خيرخيګړې په کارونوکې خرچ کولې شی.اوقاعده دا ده.چه﴾ ګټه په تاوان ده ﴿يعنی هرکله چې دده ميراث بيت المال ته پاتې کيږی.نودغه ډول به بيت المال دده د کفالت اونفقه هم ذمه وار وی﴾ اوددې امله ﴿چه ګټه په تاوان کيږی﴾ جنايت دده ﴿لقيط﴾ په بيت المال دې. ﴿يعنی که د لقيط نه څه جرم اوشی.مثلاً قتل خطا ترې اوشی .اوبه ده باندې ديت لازم شی.اوده سره ديت نه وی.نودغه ديت به بيت المال ورکوی﴾

وَالْمُلْتَقِطُ مُتَبَرِّعٌ فِي الْإِنْفَاقِ عَلَيْهِ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ إِلَّا أَنْ يَأْمُرَهُ الْقَاضِي بِهِ لِيَكُونَ دَيْنًا عَلَيْهِ لِعُمُومِ الْوِلَايَةِ

حل اللغة: ① متبرع احسان کونکې

ژباړه وتشريح:- اوملتقط ﴿چه ماشوم ئې موندې وی﴾ احسان کونکې دې په خرچ کولوکې په ده ﴿لقيط﴾ باندې ﴿يعنی په متلقط باندې د لقيط نفقه واجب نه ده.که دې پرې څه خرچ کوی.نودثواب کارکړې.الله به ورته بدله ورکړی.خودده ذمه واری نه ده﴾ د امله د نشتوالی د ولايت ﴿دملتقط په لقيط باندې،اوبله دا چيرته موږ په ملتقط باندې د لقيط نفقه واجب کړو.نويوسړې به په لارکې ماشوم وينی.اودهغه د ضائع کيدو ويره به ورسره هم وی.خوبيا به ئې هم صرف ددې امله نه راخلی.چه دده نفقه به په ما باندې لازم شی﴾ البته دا چې حکم اوکړی ده ﴿ملتقط﴾ ته قاضی ددې ﴿نفقه﴾ ﴿چه ته په لقيط باندې خرچه کوه﴾ دې لپاره چې شی پور په ده ﴿لقيط﴾ باندې د امله دعموم ولايت نه ﴿يعنی قاضی ته عام ولايت حاصل دې.نوبه دې ملتقط باندې ورته هم ولايت حاصل دې.چه ده ته د لقيط دتربيت اونفقه حکم اوکړی.اوملتقط چې پرې څه خرچه اوکړی.هغه چې لقيط کله لوئې شی.بيا به ئې ملتقط ته ورکړی.اوکه قاضی ده ته دا اونه وائی.چه ته په ده باندې خرچه اوکړه.اوچه څه پرې اولګی.هغې به په لقيط باندې پور شی.چه لوئې شی.دربه ئې کړی. بلکه مطلقاً ورته حکم اوکړی.نوعلامه عصام رحمه الله په خپل مختصر کې ذکر کړی دی.چه په دې صورت کې هم په لقيط باندې پور شو.اوبه کافی کتاب کې دی.چه په لقيط باندې به پور نه وی.اودا قول اصح دې.

د لقيط دحفاظت اونسب زيات حقدار

قَالَ (فَإِنِ الْتَقَطَهُ رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْهُ) لِأَنَّهُ ثَبَتَ حَقُّ الْحِفْظِ لَهُ لِسَبْقِ يَدِهِ (فَإِنِ ادَّعَى مُدَّعٍ أَنَّهُ ابْنُهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ) مَعْنَاهُ: إِذَا لَمْ يَدَّعِ الْمُلْتَقِطُ نَسَبَهُ وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري رحمه الله» كه راوچت كړلو دې «لقيط لره» يوسړي نو نه كيږي «حق» دبل چا لپاره چې واخلي دې «لقيط لره» دده «ملتقط» نه. «بلكه ملتقط دده د ساتنه مستحق اوحقداردي» ځكه چې ثابت شو حق د ساتنه «دلقيط» ده «ملتقط» لره.د امله د وړاندې والي دلاس دده «ملتقط.يعني د بل چا نه دغه لقيط ته دملتقط لاس وړاندې وررسيدلې دې» كه دعوى اوكړله يو دعوى كونكي چې دې «لقيط» خوئي دهغه «مدعي» دې.نو قول «معتبر» قول دهغه «مدعي» دې. «مصنف رحمه الله فرمائي» مطلب ددې «چه دمدعي قول معتبردې.دا دې» چې دعوى نه كوى ملتقط د نسب دده «لقيط.اوكه ملتقط په خپله د لقيط د نسب دعوى كړ وى.چه دا زما خوئي دې.نوپه دې صورت كې د خارجي مدعي دعوى معتبر نه ده.ځكه چې قانون دا دې .چه كله مدعيان دوې [دوه] وى.نوترجيح به قابض لره وى.اوپه دې صورت كې به هم ملتقط قابض وى.نودده دعوى به معتبر وى» اودا «چه دعوى دمدعي معتبر ده.اود لقيط نسب د مدعي نه ثابتيږي» استحسان دې.

وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يُقْبَلَ قَوْلُهُ لِأَنَّهُ يَتَضَمَّنُ إِبْطَالَ حَقِّ الْمُلْتَقِطِ. وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ إِقْرَارٌ لِلصَّبِيِّ بِمَا يَنْفَعُهُ لِأَنَّهُ يَتَشَرَّفُ بِالنَّسَبِ وَيُعَيَّرُ بِعَدَمِهِ.

حل اللغة: ① يتشرف: معزز كيږي ② يتضمن: شامليږي ③ ابطال: باطلول

ژباړه وتشريح:- اوقياس دا دې.چه قبول دې نكړې شى قول دده «مدعي» ځكه چې دا «قول د مدعي» متضمن دې باطلولوحق د ملتقط لره «يعني كله چې دمدعي قول معتبرشي.نويوخونسب ثابت شو.دې سره ملتقط ته يو نقصان رسى.هغه دا چې د لقيط د ساتنه كوم حق ملتقط ته حاصل وو.هغه به ترې مدعي واخلي.ځكه چې لقيط خوبه بيا مدعي اخلي.اودغه ډول به ملتقط د لقيط د ولاء نه هم محروم شي.نوچه دې ته اوكتې شى .قياس دا وائى.چه دمدعي دعوى دې صحيح نشي» اووجه د استحسان دا ده.چه دا «دعوى دنسب» اقراردې دماشوم لپاره په هغه څه چې نفع رسوى ده «ماشوم» ته،ځكه چې دا «ماشوم» مشرف كيږي په نسب «چه نسب ئې معلوم شو» اوده «ماشوم» ته پيغور كولاى شي په نشتوالي د نسب «چه نسب ئې معلوم نه وى. خلګ به ورته حرامي وائي.نوهركله چې د نسب د دعوى په صحت كې د ماشوم فائده ده.نودعوى به معتبره وى»

ثُمَّ قِيلَ يَصِحُّ فِي حَقِّهِ دُونَ إِبْطَالِ يَدِ الْمُلْتَقِطِ. وَقِيلَ يُبْتَنَى عَلَيْهِ بُطْلَانُ يَدِهِ،

ژباړه وتشريح:- بيا وئيلې شوى دى. «دقياس دموافقت دپاره» چې صحيح كيږي «دعوى د نسب» په حق ددې «ثبوت النسب» كې ، نه «صحيح كيږي» په باطلولو د قبضې د ملتقط «بلكه نسب به ئې ثابت شي. خو ماشوم به د ملتقط سره وى.مدعي به ئې ترې نه بوخي» اووئيلې شوى دى.چه مبنى كيږي په دې «صحت د ثبوت النسب» باندې،باطلوالي د قبضې د ده «ملتقط،يعنى چې نسب ثابت شى.نودا ضروري ده.چه ماشوم به د ملتقط د قبضې نه د مدعي قبضې ته ځي.دا په كې دوهم قول شو»

وَلَوِ ادَّعَاهُ الْمُلْتَقِطُ قِيلَ يَصِحُّ قِيَاسًا وَاسْتِحْسَانًا، وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ عَلَى الْقِيَاسِ وَالِاسْتِحْسَانِ وَقَدْ عُرِفَ فِي الْأَصْلِ.

ژباړه وتشريح:- اوكه دعوى اوكړى دده «لقيط» ملتقط «چه دا زما بچې دې» نووئيلې شوى دى صحيح كيږي «دعوى دملتقط» په اعتبارد قياس اواستحسان، «ځكه چې دې په خپله دعوى باندې د چا حق نه باطلوى. او څوك ده سره جګړه كونكې هم نشته.چه په لقيط باندې د ابنيت دعوى اوكړي» خواصح قول دا

دي.چه دا ﴿دعوى دملتقط نه صحيح كيږي﴾ په وجه دقياس ﴿بلكه صحيح كيږي په وجه د﴾ استحسان.اويقيناً معلوم شوي دي دا حكم په اصل كي ﴿چه مبسوط دامام سرخسي رحمه الله دي﴾

ضروري تشريح:- په دې مقام كي د قياس وجه په دعوى د غيرملتقط كي هغه نه ده.كومه چي په دعوى د ملتقط كي ده.خكه چي دقياس په اعتبارد غيرملتقط دعوى ددې نه صحيح كيږي.چه دې سره د ملتقط د استحقاق ساتنه حق باطليږي.اودملتقط دعوى دقياس په اعتبارخكه نه صحيح كيږي.چه دده په كلام كي تناقض دي.ددې وضاحت دا دي.چه لقيط هغه ماشوم ته وائي.چه دهغه نسب نه وي معلوم. نو يو اړخ دې وائي چه دا لقيط دي. يعني نسب ئې نه دې معلوم.اوبل اړخ ته دعوى كوي.چه دا زما بچې دې .اووجه د استحسان ښكاره ده.خكه چي په صحت د دعوى كي دماشوم فائدې دي.دده نسب به ثابت شي.دده نفقه به په مدعي باندې واجب شي.اودملتقط په اړه كي دده په كلام كي چي كوم تناقض ښكاري.ددې ځواب كيداې شي هغه دا چي په لاركي د موندلوپه وخت كي ده نه پيژندلو.اوروسته ئې يا په خپله باندې اوپيژندلو اويا ورته قابله اووئيل.چه دا خو ستا ځوئې.مثلاً چي په فلانى ځائې كي زموږ نه ورك شوې وو.اوكه بالفرض موږ تناقض اومنو.چه د ملتقط په كلام كي تناقض دي.نوبيا هم د دې تناقض د املے نسب د ثبوت نه نه پاتې كيږي.لكه ملاعن چي په اول كي د ولدنه انكار اوړي.چه دا زما ولد نه دې.بلكه زما ښخي دبل چا نه علوق كړې دي.اوبيا دخپل ځان تكذيب اوكړي.چه ما دروغ وئيل.دا زما ولد دي.نوپه دې صورت كي دملاعن په كلام كي تناقض دي.خوبيا هم ددغه بچي نسب د ملاعن نه ثابتيږي.نودغه ډول به په زيربحث مسئله كي هم وي. ﴿البنايه﴾

ددووخارجي كسانودنسب دعوى كول

(وَإِنِ ادَّعَاهُ اثْنَانِ وَوَصَفَ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً فِي جَسَدِهِ فَهُوَ أَوْلَى بِهِ) لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ لِمُوَافَقَةِ الْعَلَامَةِ كَلَامَهُ،

ترجمه وتشريح:- اوكله چي دعوى اوكړى دوې [دوه] ﴿خارى كسان چي ملتقط نه وي﴾ او بيان كړي يوپه دواړو ﴿مدعيانو﴾ كي څه نښانه په بدن دده ﴿لقيط﴾ كي. ﴿چه مثلاً دده په پښه باندې توردا غ دي.اوبل مدعي څه نښانه اونه ښائي﴾ نودې ﴿چاچه نښانه خودلې ده﴾ زيات حقداردي.په دې ﴿لقيط﴾ باندې. ﴿اودغه كس دعوى به معتبره وي﴾ خكه چي ظاهري حالت ﴿چه دده دنښې خودلونه معلوميږي﴾ گواه دې دده ﴿مدعي واصف د نښې﴾ د املے د موافقت د نښې كلام دده لره. ﴿يعني ده چي كومه نښانه خودلې وه.په لقيط كي هغه موجود وه. او د ده د كلام تصديق اوشو﴾

وَإِنْ لَمْ يَصِفْ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً فَهُوَ ابْنُهُمَا لِاسْتِوَائِهِمَا فِي السَّبَبِ. وَلَوْ سَبَقَتْ دَعْوَةُ أَحَدِهِمَا فَهُوَ ابْنُهُ، لِأَنَّهُ ثَبَتَ فِي زَمَانٍ لَا مُنَازِعَ لَهُ فِيهِ إِلَّا إِذَا أَقَامَ الْآخَرُ الْبَيِّنَةَ، لِأَنَّ الْبَيِّنَةَ أَقْوَى.

حل اللغة ① منازع جګړه كونكي ② الاستواء برابرى

ژباړه وتشريح:- اوكه بيان نكړلويو د دواړو ﴿خارجي مدعيانو﴾ نه.نښه. ﴿بلكه صرف دعوى وي﴾ نودې ﴿لقيط﴾ ځوئې ددې دواړو ﴿مدعيانو﴾ دې د املے د برابرى د دواړو نه په سبب ﴿د استحقاق ولد﴾ كي . ﴿يعني د هر يو دعوى د ثبوت نسب سبب دې.نوكه د يونه نسب ثابت كړو.اوبل محروم پريږدو.دا ترجيح بلا مرجح ده. كومه چي جائز نه ده.نوځكه به د دواړو لپاره د ولد فيصله كيږي.كه پوره د سبب په موجب باندې عمل اونشي.چه په څه خو عمل اوشي﴾ اوكه وړاندې شوه دعوى د يو په دواړو ﴿مدعيانوكښې.چه زيد اول دعوى اوكړله .او د هغه نه روسته بيا بكردعوى اوكړله﴾ نودې ﴿لقيط﴾ زوې دده ﴿سابق فى الدعوى﴾ دې.خكه چي ثابت شو حق د ده ﴿سابق مدعي﴾ په داسې زمانه كي چي نه وو جګړه كونكې دهغه سره په هغې كي . ﴿يعني چي په كوم وخت كي چي سابق مدعي دعوى كوله.نوچونكه بل څوك دعويدار نه وو.خكه لقيط دهغه ځوئې شو﴾ البته دا چي قائم كړي دغه بل ﴿روستني مدعي﴾ گواهان ﴿نوپه دې صورت كي لقيط د روستني شو﴾خكه چي گواهان زيات قوى دي. ﴿دنښوپه مقابله كي﴾

په اسلامي ښارکې دلقيط موندل اود ذمي دعوی کول

(وَإِذَاوُجِدَفِي مِصْرٍمِنْ أَمْصَارِالْمُسْلِمِينَ أَوْفِي قَرْيَةٍمِنْ قُرَاهُمْ فَادَّعَى ذِمِّيٌّ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ مُسْلِمًا) وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ؛

ژباړه وتشريح:- اوکله چې اوموندې شی «لقيط» په يوښارکې دمسلمانانونه،اويا په يوکلی کې د کلو د دوی «مسلمانانو» نه،نودعوی اوکړلـه ذمـی چـې دا «لقيط» ځوئې دده«ذمـی» دې.نوثابت شو نسب دده «لقيط» دهغـه «ذمـی» نـه،اووی بـه «دغـه لقيط» مـسلمان،اودا «ثبوت دنسب دذمـی نـه» استحسان دې. «اوقيـاس دا دې. چې د ذمـی نه دده نسب ثابت نشي.ځکه چې دې موندې شوې دې په دارالاسلام کـې ،اوپـه دارالاسـلام کـې چـې کـوم ماشـوم اوموندې شـی.هغـه بـه دمسلمان بچې گنړلی شي.نواګرچه ثبوت د نسب خلاف القياس دې. خو بيا هم د ذمي دعوی صحيح کيږی.اونسب ثابتيږی.نودا وجه د استحسان ده»

لِأَنَّ دَعْوَاهُ تَضَمَّنَ النَّسَبَ وَهُوَنَافِعٌ لِلصَّغِيرِ،وَإِبْطَالَ الْإِسْلَامِ الثَّابِتِ بِالدَّارِوَهُوَيَضُرُّهُ فَصَحَّتْ دَعْوَتُهُ فِيمَا يَنْفَعُهُ دُونَ مَا يَضُرُّهُ.

ژباړه وتشريح:- «اود استحـسان د املـه تفـصيل دا دې.چـه» دعـوی د ده«ذمـی.چـه دا زما ځوئې دې» متضمن ده «ثبوت د» نسب لره،اودا «ثبوت نسب» گټور دې لپاره د ماشوم «ځکه چې يوخوبه دده نسب معلوم شی .نودحرامی د پيغور ځخه به خلاص شی.اوبله دا چې ذمی به ئې تربيت او پرورش اوکړی» اوباطلول داسلام «هغه اسلام چه» ثابت شوې دې په درالاسلام باندې «يعنی دا ماشوم مسلمان دې.ځکه چې په دارالاسلام کې موندلې شوې دې.نواسلام د ماشوم حق دې.اودې مسلمان شو.اوپاتـه دا چې هرکله دذمی نه دده نسب ثابت شو.نوپکاردا وه.چه دې هم غيرمسلم وی.ځکه چې ولد د پلارتابع وی.خوداسې نه ده.بلکه» صحيح شوه دعوی دده«ذمی» په هغه څه کې چې فائده ورکوی ده«لقيط» ته ، «چه ثبوت د نسب دې.نوپه ثبوت نسب کې دماشوم فائده وه.ځکه مو د ذمی دعوی صحيح اوګرځوله» نه«به صحيح کيږی» په هغـه څـه کـې چـې ضرر رسوی ده «لقيط» تـه «چه کفردې.يعنی په کفرکې دماشوم تاوان دې.ځکه دذمی دعوی په کفرکې نه ثابتيږی»

د ذميانوپه علاقوکې د لقيط موندل

(وَإِنْ وُجِدَفِي قَرْيَةٍمِنْ قُرَى أَهْلِ الذِّمَّةِ أَوْفِي بِيعَةٍ أَوْكَنِيسَةٍ كَانَ ذِمِّيًّا) وَهَذَا الْجَوَابُ فِيمَا إذَا كَانَ الْوَاجِدُ ذِمِّيًّا رِوَايَةً وَاحِدَةً،وَإِنْ كَانَ الْوَاجِدُ مُسْلِمًا فِي هَذَا الْمَكَانِ أَوْ ذِمِّيًّا فِي مَكَانِ الْمُسْلِمِينَ اخْتَلَفَتْ الرِّوَايَةُ فِيهِ،

حل اللغة: ① **بيعة**:د يهودو عبادتخانه ② **كنيسة**:د نصارو عبادتخانه

ژباړه وتشريح:- اوکه اوموندې شو«لقيط» په يوکلی کې د کلو د ذميانونه،اويا په عبادتخانه «يهوديانو» کې اويا په ګرجه «دعيسايانو» کې نووی به «دغه لقيط» ذمی،اودا حکم په هغه صورت کې دې. چې وی موندونکې ذمی په يو روايت کې ، «چه اختلاف په کې نشته.بلکه واړه پرې يوه خولهٔ دی» اوکه وی موندونکې مسلمان په دې ځائې کې «د ذميانو» اويا وی «دغه واجد» ذمیی په ځائې د مسلمانانو کې ،نومختلف دې روايت په دې «دواړو صورتونو کې ،يعنی چې واجد مسلمان وی.اوځائې دذميانو وی. يا د دې په عکس»

فَفِي رِوَايَةِ كِتَابِ اللَّقِيطِ اُعْتُبِرَ الْمَكَانُ لِسَبْقِهِ،وَفِي كِتَابِ الدَّعْوَى فِي بَعْضِ النُّسَخِ اُعْتُبِرَ الْوَاجِدُ وَهُوَ رِوَايَةُ ابْنِ سِمَاعَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ لِقُوَّةِ الْيَدِ،

ژباړه وتشريح:- نوپـه روايـت دکتـاب اللقـيط «دمبسوط» کـې ،معتبردې ځائې «نوکـه ځائې دذميانو وی.لقيط به ذمی وی.اوکه ځائې د مسلمانانو وی. لقيط به مسلمان وی» د امله د وړاندې والی نه «يعنی په دغه ځائې باندې دا ماشوم په هغه وخت کې پروت وو.چه لاتراوسه پورې ورته د واجد لاس نه وو رسيدلې.

او وړاندې والي سبب د ترجیح دې.لکه څنګه چې په وړاندې مسئله کې تیرشو.چه دوو کسانو په لقیط باندې د نسب دعوی اوکړله اود یو دعوی وړاندې وه. نو د دغه دعوی به معتبره وی.اوماشوم به دهغه وی نودغه ډول دلته هم چونکه د زمکې سره د لقیط یوځائې کیدل د واجد دلاس یوځائې کیدو نه وړاندې دې ځکه به ځنې معتبروی﴾ اوپه کتاب الدعوی کې ﴿دمبسوط﴾ په بعضې نسخو کې دی.چه معتبردې موندونکې ﴿نوکه واجد مسلمان وی.لقیط به هم مسلمان وی.اګرچه مځکه د ذمیانو وی.اوکه واجد ذمی وی نولقیط به هم ذمی وی اګرچه ذمکه د مسلمانانووی﴾ اودا ﴿روایت د اعتباردواجد﴾ روایت د ابن سماعه دې دامام محمد رحمه الله نه. ﴿اوددې روایت دلیل دا بیانوی﴾ د امله د قوت د قبضې نه ﴿په دې باندې﴾

اَلَاتَرَى اَنَّ تَبَعِيَّةَ الْأَبَوَيْنِ فَوْقَ تَبَعِيَّةِ الدَّارِحَتّٰى إِذَاسُبِيَ مَعَ الصَّغِيْرِاَحَدُهُمَا يُعْتَبَرُكَـافِرًا،

ژباړه وتشریح - ولې ته نه ګورې چې تبعیت د مورپلارپورته دې په تبعیت د دارباندې، ﴿یعنی که د تبعیت د ابویناو دتبعیت د دارمقابله راشی.نوتبعیت د ابوینوبه په تبعیت د دارباندې غالب وی﴾ هم دا وجه ده.چه کله قید کړې شی دماشوم سره یو د ددې دواړو ﴿مور اوپلارنه﴾ نومعتبربه وی ﴿دغه ماشوم﴾ کافر، ﴿یعنی دې به کافرتصور کولې شی.ځکه چې دې دخپل پلارپه قبضه کې دې.اوپلارئې کافردې.نودې به هم کافر وی نودغه ډول به په زیربحث مسئله کې هم ید لره اعتباروی.که واجد مسلمان وی.لقیط به هم مسلمان وی اوکه واجد کافر وی لقیط به هم کافر وی﴾

وَفِي بَعْضِ نُسَخِهِ اُعْتُبِرَالْإِسْلَامُ نَظَرًالِلصَّغِيْرِ.

ژباړه وتشریح - اوپه بعضې نسخوددې ﴿کتاب الدعوی د مبسوط﴾ کې دی.چه معتبر به وی اسلام ﴿په دواړو صورتونوکې که واجد مسلمان وی اوکه کافر.دغه ډول که علامه د مسلمانانو وی اوکه د کافرانو﴾ لپاره د خیکړې د ماشوم ﴿ځکه چې دماشوم خیرپه دې کې دی.چه دې مسلمان تصور کړې شی﴾

د لقیط په اړه کې د رقیت د دعوی عدم صحت صحیح نه ده

(وَمَنْ اَدَّعٰى اَنَّ اللَّقِيْطَ عَبْدُهُ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ)	لِاَنَّهُ حُرٌّظَاهِرًااِلَّااَنْ يُقِيْمَ الْبَيِّنَةَ اَنَّهُ عَبْدُهُ

ژباړه وتشریح - اوچا چې دعوی اوکړله چې لقیط غلام دده ﴿مدعی﴾ دې.نونه به شی قبلولې ﴿دعوی د مدعی﴾ د ده. ﴿مدعی﴾ نه.ځکه چې دې ﴿لقیط﴾ آزاددې په اعتبار د ظاهرسره، ﴿ځکه چې دمسلمانانوپه وطن کې په عامه توګه آزاد نفر اوسیږی﴾ البته دا چې قائم ﴿مدعی﴾ ګواهان چې دا ﴿لقیط﴾ غلام دده ﴿مدعی﴾ دې ﴿نوپه دې صورت کې د مدعی دعوی معتبرده.اودغه لقیط به دمدعی غلام وی﴾

دغلام د لقیط د نسب دعوی کول

(فَاِنْ اَدَّعٰى عَبْدٌاَنَّهُ اِبْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ)	لِاَنَّهُ يَنْفَعُهُ	(وَكَانَ حُرًّا)	لِاَنَّ الْمَمْلُوْكَ قَدْ تَلِدُلَهُ الْحُرَّةُ فَلَاتَبْطُلُ الْحُرِّيَّةُ الظَّاهِرَةُ بِالشَّكِّ

ژباړه وتشریح - اوکه دعوی اوکړله غلام چې دې ﴿لقیط﴾ ځوئې دده ﴿غلام﴾ دې.نوثابتیږی نسب دده ﴿لقیط﴾ دده ﴿غلام﴾ نه.ځکه چې دا ﴿نسب﴾ فائده ورکوی ده ﴿لقیط﴾ ته، ﴿ځکه چې دنسب په لپاره آزاده ښځه ﴿یعنی دغلام ښځه آزاده وی نوښځه چې آزاده وی.اوکه خاوند غلام وی.په دې صورت کې بچې آزاد وی﴾ اونه باطلیږی حریت ﴿ځکه چې په بنیادم کې حریت اصل دې﴾ د شك په وجه. ﴿یعنی دا په یقین سره نه ده ثابته چې دا ماشوم ددې غلام بچې دې.لکه څنګه چې غلام دعوی کوی.څوکه څوك دا اعتراض اوکړی چه هرکله به شك سره حریت نه باطلیږی نوپکاردا وه چه دغلام نه نې نسب ثابت شو.نوچه دې غلام هم وی ځکه چې دغلام بچې غلام وی نوددې نه ځواب دا دې چه دقیاس تقاضا هم دغه ده.څنګه

چې معترض اوونيل. خو چونكه د نسب په ثبوت كې د ماشوم فائده وه.نوځكه دغلام دعوى معتبرشوه.اودماشوم په عبديت كې د ده نقصان وو.ځكه چې حريت ئې په عبديت بدليږي.نوځكه دده دعوى معتبرنشوه»

دغلام او ذمي په مقابله كې د آزاداو مسلمان ددعوې ترجيح

(وَالْحُرُّ فِي دَعْوَتِهِ اللَّقِيطَ أَوْلَى مِنَ الْعَبْدِ، وَالْمُسْلِمُ أَوْلَى مِنَ الذِّمِّيِّ) تَرْجِيحًا لِمَا هُوَ الْأَنْظَرُ فِي حَقِّهِ.

حل اللغة: ① **الانظر**:زيات ګټور

ژباړه وتشريح:- اوآزاد په دعوى خپله كې په لقيط «يعنى آزاد سړې دعوى اوكړې دا لقيط زما ځوئې دې» غوره دې د غلام نه، «يعنى د لقيط نسب به د آزاد نه ثابتيږي» اومسلمان غوره دې د ذمي نه «چه مسلمان دعوى اوكړي چې دا لقيط زما ځوئې دې.اوبل اړخ ته ذمي دعوى اوكړي.چه دا زما ځوئې دې.نود مسلمان دعوى به غوره وي.يعنى د لقيط نسب به دمسلمان نه ثابتيږي» د امله د ترجيح وركاوه نه هغه څه ته چې هغه زيات ګټور وي.په حق دده «لقيط كې ،اودلقيط په حق كې آزادي اواسلام د غلامئ اوكفرنه غوره دي»

دلقيط سره دمال موندلوحكم

(وَإِنْ وُجِدَ مَعَ اللَّقِيطِ مَالٌ مَشْدُودٌ عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُ) اعْتِبَارًا لِلظَّاهِرِ. وَكَذَا إِذَا كَانَ مَشْدُودًا عَلَى دَابَّةٍ وَهُوَ عَلَيْهَا لِمَا ذَكَرْنَا

حل اللغة: ① **مشدود**:تړلې شوې ② **دابة**:څاروې

ژباړه وتشريح:- اوكه اوموندې شو دلقيط سره مال چې تړلې شوې وو دهغه سره نوهغه «مال» دده «لقيط» لپاره دې ..د امله دمعتبرګڼړلوظاهر لره «يعنى په ظاهر په دغه مال باندې د لقيط سره موجود دې.نودده په قبضه كې شو.ځكه به دغه مال د لقيط وي» اودغه دول حكم دې كه وي «دغه مال» تړلې شوې په سپرلئ باندې اودې «لقيط اوچولې شوې وي» په هغې «سورلئ» باندې،دهغه امله چې سوږ بيان كړه. «چه ظاهراً په دې مال باندې د لقيط لاس دې.نودده به وي»

ثُمَّ يَصْرِفُهُ الْوَاجِدُ إِلَيْهِ بِأَمْرِ الْقَاضِي، لِأَنَّهُ مَالٌ ضَائِعٌ وَلِلْقَاضِي وِلَايَةُ صَرْفِ مِثْلِهِ إِلَيْهِ.

ژباړه وتشريح:- بيا خرچ كوى موندونكې دغه مال «چه د لقيط سره موندلې شوې دې» په ده «لقيط» باندې په حكم د قاضى «چه قاضى ورته حكم اوكړي.چه دا مال چې ددې ماشوم سره وو.هم په دې باندې دده تربيت اوكړه» ځكه چې دا مال ضائع كيدونكې وو. «ځكه چې دغه مال د لقيط دې.خوپه لقيط كې دمال د ساتنه صلاحيت نشته.نوكه واجدئې وانخلي.ضائع به شي» اود قاضى لپاره اختيار د خرچ كاوه د داسې مال شته. چې ورئې كړي ده «واجد يا بل چا» ته.

وَقِيلَ يَصْرِفُهُ بِغَيْرِ أَمْرِ الْقَاضِي، لِأَنَّهُ لِلَّقِيطِ ظَاهِرًا (وَلَهُ وِلَايَةُ الْإِنْفَاقِ وَشِرَاءُ مَا لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ) كَالطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ، لِأَنَّهُ مِنَ الْإِنْفَاقِ.

حل اللغة: ① **الطعام**:د خوراك څيزونه ② **الكسوة**:د اغوستو څيزونه

ژباړه وتشريح:- اووئيلې شوى دى چې خرچ كوى به ئې «واجد» په ده «لقيط» باندې بغيردحكم دقاضى نه،ځكه چې دا «مال» د لقيط دې.د امله دظاهرى حالت نه، «چه قبضه پرې د لقيط وه» اود ده «واجد» لپاره ولايت «اختيار» د خرچ كولوشته«چه دغه مال په لقيط باندې خرچ كړي» او په اخستلودهغه څه كې چې ضرورى وى ده«لقيط» دپاره،لكه د خوراك او جامې شو.ځكه چې دا «خوراك اوجامې هم» دده«لقيط» لپاره ضرورى شيان (څيزونه) دى.

د لقیط لپاره په دغه مال باندې دنکاح کولوعدم جواز

(وَلَايَجُوْزُ تَزْوِيْجُ الْمُلْتَقِطِ) لِانْعِدَامِ سَبَبِ الْوِلَايَةِ مِنَ الْقَرَابَةِ وَالْمِلْكِ وَالسَّلْطَنَةِ.

حل اللغة: ① التزويج: واده کول ② القرابة: خپلولي ③ السلطنة: واک اختیار، تسلط

ژباړه وتشریح:- اوجائزنه دي واده کول د لقیط ﴿ چې ملتقط دلقیط نکاح چاسره اوکړي. که لقیط هلك وي اوکه انجلۍ وي﴾ د املـه د نـشتوالي د سبب د ولایـت ﴿ځکـه چـې چـا تـه پـه بـل چـا بانـدې ولايت حاصلیږي. نوددې څو اسباب دي﴾ چې خپلولي ده. ﴿لکه پلاراونیکه ته چې په خپله لوريا نمسۍ باندې د قرابت په وجه باندې ولایت حاصل دي. نوکه پلاريا نيکه دخپلې لور یا نمسۍ نکاح چاسره اوکړي. دا به صحیح وي. ځکه چې دوی ته په خپله لور او نمسۍ باندې ولایت حاصل دی﴾ اوملکیت دې. ﴿لکه مالك ته چې په خپله وینځه باندې د ملکیت په وجه ولایت حاصل دې. نوکه مالك دخپلې وينځې نکاح چاسره اوکړي. هغه به صحیح وي﴾ اوبادشاهي ده . ﴿لکه قاضي ته چې په عـامو خلګ وباندې دحکومتي عهدې په وجه ولایت حاصل دې. نوکه قاضي په خپل رعیت کې دهغه چا نکاح اوکړي. چه دهغه ولي نه وي. هغه به صحیح وي. اوپه ملتقط کې د ولایت په اسبابوکې يوسبب هم موجود نه دې. ځکه چې نه خود ده د لقیط سره خپلولي شته. اونه ئې مالك دي. اونه دې قاضي دي. ځکه دده تزويج صحیح نه دې﴾

دلقیط په مال کې د ملتقط لپاره دتصرف حکم

قَالَ (وَلَا تَصَرُّفُهُ فِيْ مَالِ الْمُلْتَقِطِ) اعْتِبَارًا بِالْاُمِّ، وَهٰذَا لِاَنَّ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ لِتَثْمِيْرِ الْمَالِ،

حل اللغة: ① التثمير: زياتوالي

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿امام قـدروي﴾ رحمه الله اونـه ﴿دې جائز﴾ تصرف دده ﴿واجد﴾ په مـال د لقیط کې، د امله دقیاس نه په موربانديې، ﴿یعني لکه څنګه چې مورد بچي په مـال کې تصرف نشي کولې. دغه ډول به واجد هم نشي کولې﴾ ځکه چې ولایت د تصرف کاوه وي ﴿په مـال دبـل چـا کـې﴾ لپـاره د زیاتولو د مـال، ﴿یعني دچا په مال کې تصرف کول عموماً ددې لپاره کیږي. چه مال ئې زيات شي﴾

وَذٰلِكَ يَتَحَقَّقُ بِالرَّأْيِ الْكَامِلِ وَالشَّفَقَةِ الْوَافِرَةِ وَالْمَوْجُوْدُ فِيْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا اَحَدُهُمَا.

حل اللغة: ① الوافرة: زيات

ژباړه وتشریح:- اودا ﴿زيادت دمال﴾ حاصلیږي په کامله رائې ﴿چه کوم کس په مال کې تصرف کوي. پکار ده چې هغه تجربه کار اوعاقل وي﴾ اوپه پوره شفقت ﴿یعني چې متصرف دچا په مـال کـې تصرف کوي. چه په هغه باندې پوره شفقت لري. دهغه سره دخیانت اراده نه لري﴾ اوموجود پـه هریـوکې ددې دواړو نـه ﴿که واجد دې اوکه مورده. ځکه واجداګرچه په ده کې بـه مهارت اوتجربـه اوعقـل وي. خودده پـه زړه کې د لقیط لپاره شفقت کامل نه دې. اودموريه زړه کې اګرچه د بچي لپاره شفقت کامـل دې. خودې سره دتجربې اوعقل اومهارت کمې دي. نوځکه د واجد اودمـور تصرف پـه مـال د صغيرکې جائزنـه دې. اودپـلار تصرف پـه مـال دخپل بچي کې ځکه جائزدې. چه پلارسره مهارت هم شته. اودده پـه زړه کـې د بچي لپـاره پـوره شـفقت هم شته﴾

دلقیط لپاره د هبه دقبض کولوجواز

قَالَ: (وَيَجُوْزُ اَنْ يَّقْبِضَ لَهُ الْهِبَةَ) لِاَنَّهُ نَفْعٌ مَحْضٌ وَلِهٰذَا يَمْلِكُهُ الصَّغِيْرُ بِنَفْسِهِ اِذَا كَانَ عَاقِلًا وَتَمْلِكُهُ الْاُمُّ وَوَصِيُّهَا.

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿امام قـدروي﴾ رحمه الله اوجـائز دي چې قبض کړي ﴿واجد﴾ دده ﴿لقیط﴾ لپـاره هبـه کول ﴿دهبه﴾ ﴿یعني که څوك دغه لقیط ته څه څیزهبه کوي. نوواجد ئې دهغه لپاره قبض کولې شي﴾ ځکه چې دا قبض صرف فائده ده ﴿دلقیط لپاره څه نقصان په کې نشته﴾ اوددې امله ﴿چه په دې هبه کې صرف فائده ده﴾ مالك کیږي دهغې ﴿هبې﴾ ماشوم په خپله خوپه دې شرط چې عاقل وي. اواختیارمنده

ده موردديﮋ ﴿قبض كاوه لپاره د بچي﴾ اووصي دديﮋ ﴿مور.چه مورچاته دخپل بچي دتربيت وصيت كړې وى.اوهغه وصي ته ځوك څه ځيزدديﮋ ماشوم لپاره هبه كوى.نوددغه وصي دماشوم لپاره قبض صحيح دي﴾

لقيط ته په هنرخودلوكي دلقيط مال لګول

قَالَ (وَيُسَلِّمُهُ فِي صِنَاعَةٍ) لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ تَثْقِيفِهِ وَحِفْظِ حَالِهِ.

حل اللغة: ① الصناعة: كاريګرى ② تثقيف: ښه كول

زباره وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله اوخرچ كوى دي په كسب خودلوكي ده ﴿لقيط﴾ ته، ﴿يعنى كه لقيط ته څه كاركسب ښائى.اوپه هغې باندې خرچ كيږي.نوواجد ته دا اختياردي.چه په دې كي د لقيط مال اولګوي﴾ ځكه چي دا ﴿خرچ كول په كسب اوهنرورزده كولوكي﴾ خودده ﴿لقيط﴾ دبهترئ او ﴿په مستقبل كي﴾ دده دحالت د ساتنه خبره ده. ﴿چه كله كسب زده كړي.نوچه سهار ته لوئي شي.دهغه كسب څخه به فائده واخلي.اودبل محتاج به نه وي﴾

قَالَ (وَيُؤَاجِرُهُ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهَذَا رِوَايَةُ الْقُدُورِيِّ فِي مُخْتَصَرِهِ، وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: لَا يَجُوزُ أَنْ يُؤَاجِرَهُ، ذَكَرَهُ فِي الْكَرَاهِيَةِ وَهُوَ الْأَصَحُّ.

زباره وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله اوپه مزدورئ باندې به لګيا كوى دي ﴿لقيط لره﴾ وائى بنده كمزوري ﴿صاحب دهدايه﴾ رحمه الله اودا ﴿په مزدورئ لګولوجواز﴾ روايت د ابو الحسين قدورى رحمه الله دي په مختصرخپل كي ﴿چه مختصرالقدورى ده﴾ اوپه جامع صغير ﴿دامام محمد﴾ رحمه الله كي دي.چه جائز نه دي چي په مزدورئ اولګوى دي ﴿لقيط لره﴾ ذكركړي ئې دا ﴿خبره دعدم جواز﴾ په باب الكراهية ﴿جامع صغير﴾ اودا ﴿روايت دعدم جواز﴾ اصح قول دي.

وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّهُ يَرْجِعُ إِلَى تَثْقِيفِهِ. وَوَجْهُ الثَّانِي أَنَّهُ لَا يَمْلِكُ إِتْلَافَ مَنَافِعِهِ فَأَشْبَهَ الْعَمَّ، بِخِلَافِ الْأُمِّ لِأَنَّهَا تَمْلِكُهُ عَلَى مَا نَذْكُرُهُ فِي الْكَرَاهِيَةِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

زباره وتشريح:- وجه داول روايت ﴿چه روايت د جوازدي﴾ دا ده.چه دا ﴿په مزدورئ لګول دده﴾ راجع كيږي بهتروالى دده ﴿لقيط﴾ ته، ﴿ځكه چي داول نه دكاركولواموخته شي.نوچه لوئي شي.بيا به ورته تكليف نه وي﴾ اووجه د دوهم روايت ﴿چه دعدم جوازدي﴾ دا ده.چه دي ﴿واجد﴾ مالك نه دي دضائع كولود منافعو د ده ﴿لقيط،هم دا وجه ده.چه واجد دلقيط په مال كي داسي تصرف نشي كولي.چه په هغې كي د لقيط نقصان وي﴾ نومشابه شو ﴿واجد﴾ د اكا سره، ﴿يعنى لكه څنګه چي اكا ته دا اختيارنه دي حاصل.چه خپل وركوټي ورارهٔ په مزدورئ بانديﮋ اولګوى.نودغه ډول واجد ته هم دا اختيارنه دي حاصل.حالانكه د اكا د ورارهٔ سره دخپلولئ رشته هم شته﴾ په خلاف دمور ﴿يعنى مورته دا اختيارحاصل دي.چه خپل ځوئي په مزدورئ چاسره كينوي﴾ ځكه چي دا ﴿مور﴾ مالكه ده دديﮋ ﴿تصرف﴾ لكه چي مونږ به ئې بيان كړو په كتاب الكراهية كي ،انشاءالله تعالى.

كِتَابُ اللُّقَطَةِ

زباره:- ﴿دا﴾ كتاب ﴿د﴾ لقطه ﴿يعنى دماشوم نه سوا هغه ځيزچه د لارې نه راپورته شوي وي.د احكامو په بيان كي﴾ دي.

قَالَ (اللُّقَطَةُ أَمَانَةٌ إِذَا أَشْهَدَ الْمُلْتَقِطُ أَنَّهُ يَأْخُذُهَا لِيَحْفَظَهَا وَيَرُدَّهَا عَلَى صَاحِبِهَا) لِأَنَّ الْأَخْذَ عَلَى هَذَا الْوَجْهِ مَأْذُونٌ فِيهِ شَرْعًا بَلْ هُوَ الْأَفْضَلُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ

زباره وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله لقطه امانت دي كله چي ګواهي وركړي ملتقط چي دده ﴿ملتقط﴾ راخستي ده دا ﴿لقطه دلارې نه﴾ دي لپاره چي ساتنه اوكړي دديﮋ ﴿لقطه﴾ اوواپس ئې

کړي مالك خپل ته، ځکه چې اخستل په دې طريقه ﴿چه ساتنه ئې اوكړي.اوخپل مالك ته ئې واپس كړي﴾ اجازت شوې دې په دې كې په اعتبارد شريعت ﴿يعني كه څوك په دې طريقه د لارې نه څه شې راخلي نوشريعت ددې اجازت وركړې دې﴾ بلكه دا ﴿راخستل د شې دلارې نه﴾ غوره دې. په نيزدعامو عالمانو رحمهم الله وهو الواجب إذا خاف الضياع على ما قالوا وإذا كان كذلك لا تكون مضمونى عليه

زباره وتشريح:- اودا ﴿راخستل د لقطه﴾ واجب دى كله چې ويريږي ﴿ملتقط﴾ د ضائع كيدو ﴿دلقطه﴾ نه، ﴿كه دې ئې راوانخلي.نوضائع به شي﴾ لكه څنگه چې عالمانو رحمهم الله فرمائيلي دي. ﴿ځكه چې الله تعالى فرمائيلي دي. مومنان په خپلوكي ديوبل دوستان دي.نوهركله چې په لاركي دخپل مسلمان نه پريوتې يو شې اووينې .نولكه څنگه چې په ده دخپل ورورد وينې ساتنه واجب دې.دغه ډول پرې دهغه دمال ساتنه هم واجب دې﴾ اوكله چې وى داسې ﴿چه د ساتنه په نيت ئې راخستې وي.اوخپل مالك ته ئې واپس كول غواړي.نوكه د ده په قبضه كې وي.اوبغيردده د قصد نه ضائع اوهلاكه شي.﴾ نونه به وى تاوان په ده ﴿ملتقط﴾ باندې،

وَهُوَ الْوَاجِبُ إِذَا خَافَ الضَّيَاعَ عَلَى مَا قَالُوا، وَإِذَا كَانَ كَذَلِكَ لَا تَكُونُ مَضْمُونَةً عَلَيْهِ، وَكَذَلِكَ إِذَا تَصَادَقَا أَنَّهُ أَخَذَهَا لِلْمَالِكِ لِأَنَّ تَصَادُقَهُمَا حُجَّةٌ فِي حَقِّهِمَا فَصَارَ كَالْبَيِّنَةِ،

زباره وتشريح:- اودغه ډول حكم دې ﴿چه په ملتقط باندې به د لقطه تاوان نه وي﴾ كه تصديق اوكړي ديوبل ﴿يعني ملتقط اووائى.چه دا ما د ساتنه لپاره اخستې وه.اومالك اووائى.چه دا زما وه.نودا خو د دواړو د اړخه دعوى شود.اوچه د ملتقط تصديق اوكړي.چه آوتا دا د ساتنه لپاره اخستې وه.اوملتقط مالك ته اووائى. چې اوته ددې مالك نې﴾ ځكه چې ديوبل تصديق كول دليل دې په حق د دواړو كې اواوكرخيدلو دا ﴿تصادق﴾ پشان د گواهانو، ﴿ يعني كله چې گواهان په دې گواهى اوكړي.چه زمونږ په حضوركې ملتقط دا اعلان كړې وو.چه ما دا شى موندلې دې.كه چا ئې پوښتنه كولو.نو ما ورته ښائې.نودده دا اعلان په دې باندې دليل دې.چه دده اراده مالك ته د وركاوه وه.گنى بيا خو به ئې اعلان نه كولو.نوپه دې صورت كې كه لقطه هلاكه شي. په واجد باندې تاوان نشته﴾

وَلَوْ أَقَرَّ أَنَّهُ أَخَذَهَا لِنَفْسِهِ يَضْمَنُ بِالْإِجْمَاعِ لِأَنَّهُ أَخَذَ مَالَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ وَبِغَيْرِ إِذْنِ الشَّرْعِ،

زباره وتشريح:- اوكه اقراراوكړلو ﴿ملتقط﴾ چې ده ﴿يعنى ما﴾ راوچته كړې ده دا ﴿لقطه﴾ لپاره دخپل ځان. ﴿اوددې نه روسته دغه لقطه هلاكه شى.نوپه دې صورت كې﴾ ضامن كيږى ﴿ملتقط﴾ په اجماع ﴿دعالمانو﴾ رحمهم الله سره .ځكه چې ده اخستې دې مال د بل چا بغيرد اجازت دهغه نه ﴿ځكه چې مالك ورته د اوچتولواجازت نه دې كړې﴾ اوبغيرداجازت د شريعت نه ﴿ځكه چې شريعت خوده ته دا حكم كوى.چه ته دا لقطه د ساتنه په نيت باندې اوخپل مالك ته د واپس كولوپه نيت باندې راوچته كړه.دا نه چې دخپل ځان لپاره ئې راوچته كړې ده﴾

وَإِنْ لَمْ يُشْهِدْ الشُّهُودَ عَلَيْهِ وَقَالَ الْآخِذُ أَخَذْتُهُ لِلْمَالِكِ وَكَذَّبَهُ الْمَالِكُ يَضْمَنُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ.

زباره وتشريح.- اوكه گواهى اونكړله گواهانوپه دې باندې ﴿چه دا لقطه ده زمونږ وړاندې د ساتنه په نيت باندې راخستې ده﴾ ووايي ﴿راخستونكي﴾ ما راخستې وه دا لپاره دمالك ﴿چه مالك ته ئې وركړم﴾ او تكذيب اوكړي دده ﴿ملتقط﴾ مالك، ﴿هغه ورته وائى،نه دا خوتا د ځان لپاره راخستې وه.اوهغه هلاكه شى.نو په دې صورت كې﴾ ضامن كيږى ﴿ملتقط﴾ په نيزدامام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يَضْمَنُ [1] وَالْقَوْلُ قَوْلُهُ لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهُ لِاخْتِيَارِهِ الْحِسْبَةَ دُونَ الْمَعْصِيَةِ،

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١١\٧١٣) والبحر(١٥١\٥) و رد المحتار(١٣\٣٥٠) وشرح عقود رسم المفتى (ص.٣١)

حل اللغة: ① الحسبة: نيت د ثواب ② المعصية: ګناه

ژباړه وتشريح:- او فرمائي امام ابويوسف رحمه الله نه ضامن كيږي ﴿ملتقط په دې صورت كې هم﴾ او ﴿معتبر قول﴾ قول د ده ﴿ملتقط﴾ دې. ځكه چې ظاهري حالت ګواه دې دده ﴿ملتقط﴾ دپاره. ځكه چې ده ﴿ملتقط﴾ اراده كړې ده د الله تعالى د رضا نه د ګناه. ﴿يعني د لقطه راخستل خو يو مامور به كار دې. چه شريعت دا حكم كړې دې. چه تاسو لقطه بيا اوموميء نو هغه راخلئ. نو ده د شريعت په تقاضا باندې عمل كړې دې. او د مسلمان دشان نه دا تقاضا كولې شي. چه دې به يو مامور به كار په ښه نيت باندې كوي په بدنيت نه. او نبي ﷺ هم فرمائيلي دي. چه په مسلمان باندې ښه ګمان كوئ﴾

وَلَهُمَا أَنَّهُ أَقَرَّ بِسَبَبِ الضَّمَانِ وَهُوَ أَخْذُ مَالِ الْغَيْرِ وَادَّعَى مَا يُبْرِئُهُ وَهُوَ الْأَخْذُ لِمَالِكِهِ وَفِيهِ وَقَعَ الشَّكُّ فَلَا يَبْرَأُ.

ژباړه وتشريح:- او دطرفينو دليل دا دې. چه ده ﴿ملتقط﴾ اقرار اوكړلو په سبب د ضمان او هغه راخستل د مال د غيري ﴿او كله چې دچا مال د هغه د اجازت نه بغير واخستې شي. او هلاك شي. نو په اخستونكي باندې ضمان وي﴾ او دعوى ئې اوكړله د هغه څه چې خلاصوى دې ﴿دوجوب ضمان نه﴾ او هغه اخستل دى د مالك لپاره ﴿يعني دا ئې اووئيل. چه ما دا څيزپه دې نيت راخستې وو. چې خپل مالك ته به ئې واپس كړم. نو په دې باندې د تاوان نه بچ كيږي. ځكه داسې وائي﴾ او په دې ﴿قول د ملتقط﴾ كې واقع شو شك ﴿او هغه شك دا دې. كيداې چې ده دا لقطه د مالك لپاره راخستې وى. او دا احتمال هم شته. چه د خپل ځان لپاره ئې راخستې وى. مالك ته ئې د واپس كاوه اراده نه وه. نو شك واقع شو. او هركله چې شك واقع شو﴾ نو نه به بري كيږي ﴿د تاوان نه، بلكه په ده باندې به د هلاكې شوې لقطه تاوان وى﴾

وَمَا ذُكِرَ مِنَ الظَّاهِرِ يُعَارِضُهُ مِثْلُهُ لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنْ يَكُونَ الْمُتَصَرِّفُ عَامِلًا لِنَفْسِهِ

ژباړه وتشريح:- او هغه چې ذكر كړې دې ﴿امام ابويوسف﴾ رحمه الله د ظاهري حالت نه ﴿چه ظاهري حالت دا ګواهي كوي. چه ملتقط دا څيزد مالك لپاره راوچت كړې دې﴾ نو معارض دې ددې ﴿ظاهري حالت﴾ سره ﴿داسې شى چې هغه﴾ پشان دده ﴿ظاهري حالت﴾ دې. ﴿او هغه بل ظاهري حالت د تعارض تفصيل دا بيانوي﴾ ځكه چې ظاهري حالت دا وائي. چه وى متصرف ﴿چه په څيزكې تصرف كوى﴾ عمل كونكې دخپل ځان لپاره ﴿يعني عام طور چې څوك هم څه كار كوى. نو خلګ دا وائي. چه دا كار دې دخپل ځان لپاره كوى. مثلاً په يو دفتر كې كه ته خپل دوست اووينې. چه په څه كاريسې منډې تړې وهي. نو ته هم دا ګمان كوې. چه دا دې دخپل ځان لپاره منډې وهي. اګرچه كيداې شي. هغه د بل چا لپاره كوښښ كوى. خپل كار ئې نه وى. خو ظاهري حالت خو هم دا وائي. چه دا به دې دخپل ځان لپاره كار كوى. نو دغه ډول په زيربحث مسئله كې چې ملتقط دلارې نه لقطه راخلي. نو ظاهري حالت هم دا وائي. چه دا متلقط د مالك لپاره نه بلكه دخپل ځان لپاره راخلي. او هركله چې د يو ظاهري حالت سره بل ظاهري حالت معارض شو. نو دواړه ساقط شو﴾

وَيَكْفِيهِ فِي الْإِشْهَادِ أَنْ يَقُولَ مَنْ سَمِعْتُمُوهُ يَنْشُدُ لُقَطَةً فَدُلُّوهُ عَلَيَّ وَاحِدَةً كَانَتِ اللُّقَطَةُ أَوْ أَكْثَرَ لِأَنَّهُ اسْمُ جِنْسٍ.

حل اللغة: ① ينشد: اعلان كوى

ژباړه وتشريح:- او كافي دې ده ﴿ملتقط﴾ لپاره په ګواهانو مقرركولو كې ﴿يعني كله چې دې لقطه بيامومي. نو په دې طريقه چې ګواهان مقرر كړي. دا كافي ده﴾ چې او وائي. څوك چې تاسو اوليدل. چې د ورك شوې شى لټون ئې كولو، نو هغه ته ما اوښائې. ﴿چه فلانى يو څيزموندې دې﴾ كه يوه وى ﴿لقطه﴾ او كه زياتې وى. ځكه چې دا ﴿لقطه﴾ اسم جنس دې. ﴿يو او دو يونه زياتو ټولو ته شامليږي. لكه څنګه چې طهارة اسم جنس دې. هر ډول طهارت ته شامليږي﴾ ﴿لنډيز دا شوه. چه دې ته ارتيا نشته. چه په دوو كسانو پسې ګرځي. او هغوى ته وائي. چه ما دا څيزموندې دې. تاسو په دې باندې ګواه شئ. چې ما دا د ساتنه په نيت باندې راخستې دې. چه مالك ئې پيدا شي. نو هغه ته به ئې وزكوم﴾

قَالَ (فَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ عَرَّفَهَا أَيَّامًا، وَإِنْ كَانَتْ عَشَرَةً فَصَاعِدًا عَرَّفَهَا حَوْلًا) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهَذِهِ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري» رحمه الله که وی «دغه لقطه» کمه د «مالیت د» لسو روپو نه، نو تشهیردې کوی دهغې څو ورځې. «یعنی اعلان دې کوی.چه ما یوخیزموندې دې.که دچا وی.ما سره دې» اوکه وی «دغه لقطه» زیاته «دمالیت د لسوروپونه» نوتشهیر به ئې کوی یوکال،وائی بنده کمزورې «صاحب دهدایه» رحمه الله اودا «د قدوری روایت چې دلسو روپود مالیت نه کم شی وی. څو ورځې به ئې تشهیرکوی» یوروایت دې دامام ابوحنیفه رحمه الله نه، «نوداظاهر روایت نه دې.بلکه ظاهر روایت دا دې.که قیمتی څیزوی اوکه کم قیمته په دواړو صورتونوکې به یوکال تشهیرکوی.لکه امام طحاوی رحمه الله هم دا فرمائیلی دی»

وَقَوْلُهُ أَيَّامًا مَعْنَاهُ عَلَى حَسَبِ مَا يَرَى. وَقَدَّرَهُ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ بِالْحَوْلِ مِنْ غَيْرِ تَفْصِيلٍ بَيْنَ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ، وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ الْتَقَطَ شَيْئًا فَلْيُعَرِّفْهُ سَنَةً (١) مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ}.

حل اللغة: ① **يعرف** تشهيركوی

ژباړه وتشريح:- وداقول دده «ماتن» چې «تشهیربه ئې کوی» څو ورځې،ددې مطلب دا دې.چه څومره ورته مناسب ښکاری. «هغه هومره ورځې دې ددې تشهیرکوی» اواندازه کړې ده «موده د تشهیر» امام محمد رحمه الله په اصل «مبسوط» کې په یوکال پورې بغیردځه تفصیل نه په مینځ د کمه قیمته او زیات قیمته «لقطه» کې «بلکه که بیش قیمته لقطه وی،اوکه کم قیمته وی.په دواړو صورتونو کې به یوکال تشهیرکوی» اودا قول «دیوکال دتشهیر» قول دامام مالك اوشافعی رحمهما الله دې. د امله دقول د نبی ﷺ نه چاچه راوچت کړلو پریوتې شی نو تشهیردې کوی دهغې یوکال «نبی د تشهیر لپاره دیوکال مودهٔ مقررکړې ده» بغیردتفصیل نه «په مینځ د کم قیمته اوزیات قیمته څیز»

وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ التَّقْدِيرَ بِالْحَوْلِ وَرَدَ فِي لُقَطَةٍ كَانَتْ مِائَةَ دِينَارٍ تُسَاوِي أَلْفَ دِرْهَمٍ،

حل اللغة: ① **الحول** کال ② **التقدير** اندازه کول

ژباړه وتشريح:- وجه داولنی روایت «چه د لقطه مالیت دلسو روپوبرابروی.نوبیا به ئې یوکال تشهیرکوی» دا ده.چه اندازه کول «دتشهیر» په یوکال پورې وارد شوې دې په هغه لقطه کې چې وه سل دیناره،چه برابر وه د زرو روپو سره، «په دې کې هغه واقعه ته اشاره ده.کومه چې امام بخاری په خپل صحیح کې نقل کړې ده.حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی.چه ما یوه بټوه بیا موندله.چه په هغې کې سل دیناره وو.هغه مې نبی ﷺ ته راوړله.نبی ﷺ راته وویل .یوکاله پورې ددې تشهیرکوه.ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی.ما یوکال دهغې تشهیر اوکړلو.خوماته د هغې مالك معلوم نشو.بیا مې نبی ﷺ ته راوړله.نونبی ﷺ راته اوفرمائیل.چه یوکال ئې نورهم تشهیر اوکړله.ابی رضی الله عنه فرمائی.چا ما بیا یوکال دهغې تشهیراوکړلو.خومالك ئې پیدا نشو.بیا نبی ﷺ ته ورغلم.نونبی ﷺ راته اوفرمائیل.ددې بټوه «همیانه» محفوظه ساته.اووې شماره،که مالك ئې راغلو.نوهغه ته به ئې ورکړې.اوکه رانغلو.نوته ترې فائده اخله»

وَالْعَشَرَةُ وَمَا فَوْقَهَا فِي مَعْنَى الْأَلْفِ فِي تَعَلُّقِ الْقَطْعِ بِهِ فِي السَّرِقَةِ وَتَعَلُّقِ اسْتِحْلَالِ الْفَرْجِ بِهِ وَلَيْسَتْ فِي مَعْنَاهَا فِي حَقِّ تَعَلُّقِ الزَّكَاةِ،

حل اللغة: ① **الاستحلال** حلال ګرځول ② **الفرج** شرمګاه

ژباړه وتشريح:- (خودلته بیا دا اعتراض کیدای شو.هغه دا چې هرکله دیوکال پورې تشهیرکول په هغه لقطه کې وارد شوې وو.چه دهغې مالیت سل دیناره وو.چه د زرو روپو سره برابر وو.نوبیا خوبکار دا وه.چه د زرو

---

١) من حديث أبي هريرة رضی الله عنه أخرجها البزار في مسنده (نصب:٣/٧٠٥)_

روپود مالیت نه لقطه کمه وه. دهغې هم یوکال تشهیرنه کیدلو. بلکه څو ورزوې وې لکه څنګه چې تاسو د لسو روپود مالیت نه په کمه لقطه کې د څو ورځو د تشهیرقائل ئې. نودهغې نه څواب کوی چه ﴿اَخِیْن﴾ چې وی زیات ددې ﴿لسو روپود مالیت﴾ نه. نوهغه په معنی د زرو کې دی. د امله د تعلق د ﴿لسوروپو﴾ په غلا کې ﴿یعنی که لس روپۍ غلا اوکړی اوکه ددې نه زیاتې وی په دې باندې قطع په دې حدالسرقه کې لاس کټ کولې شی﴾ او ﴿لس روپۍ او هغه چې زیاتې وی دلسو نه په معنی د زرو کې دې﴾ په تعلق د حلالوالی د فرج په دې ﴿لسو روپو. یعنی لکه څنګه چې په مهرکې په لس روپۍ مقرر کاوه باندې ښځه حلالیږی. دغه ډول که د لسو روپونه زیات مهر وی.هم پرې ښځه حلالیږی. نوهرکله چې لس روپۍ حدالسرقه اود مهرنصاب وو. څکه مونږ په باب د لقطه کې هم دلسوروپو دمالیت شی دیوکال تشهیر لپاره نصاب مقررکړلو. که لقطه د لسو روپو د مالیت برابر وی. نویوکال به تشهیرکولې شی. اوکه ددې نه کمه وی. نوبیا به یوڅو ورځې تشهیر کولې شی﴾ اونه دې ﴿لس روپۍ﴾ په معنی ددې ﴿زرو روپو کې﴾ په تعلق دزکاة کې ﴿څکه چې په لس روپۍ باندې وجوب د زکاة نه راځی﴾

فَأَوْجَبْنَا التَّعْرِيفَ بِالْحَوْلِ احْتِيَاطًا، وَمَا دُونَ الْعَشَرَةِ لَيْسَ فِي مَعْنَى الْأَلْفِ بِوَجْهٍ مَا فَفَوَّضْنَا إِلَى رَأْيِ الْمُبْتَلَى بِهِ

حل اللغة: ① **فوضنا:** د تفویض نه دې سپارل ، ② **المبتلى به:** هغه کس چاته چې مسئله پیښه شوې وی

ژباړه وتشریح:- نومونږ واجب کړلو تشهیرتریوکال پورې ﴿په هغه لقطه کې چې مالیت ئې د لسو روپو برابروی﴾ لپاره داحتیاط ﴿څکه چې د حدسرقه نصاب هم لس روپۍ دې.اودمهرنصاب هم لس روپۍ دې. نو چې په لقطه کې هم د یوکال تشهیر لپاره لس روپۍ مقررکړو﴾ اوچه ﴿لقطه﴾ کمه وی د لسو ﴿روپو د مالیت نه﴾ نو نه ده په معنی د زرو کې ،په هیڅ صورت کې ، ﴿یعنی لس روپۍ خو بیا هم د حدسرقه اومهرپه نصاب کښې د زرو سره برابرحیثیت لری. خودلسو نه کمه مقدارپه هیڅ یوشرعی حکم کې د زرو روپو سره برابر نه دی﴾ نومونږ اوسپارله ﴿موده د تشهیر﴾ رائې د مبتلی به ﴿یعنی ملتقط ته،چه د ملتقط په ګمان او اندازه باندې ترڅومره وخته پورې مالك د دغه لقطه لټون کوی. هغه هومره موده به ئې دې تشهیراواعلان کوی﴾

وَقِيلَ الصَّحِيحُ أَنَّ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الْمَقَادِيرِ لَيْسَ بِلَازِمٍ، وَيُفَوَّضُ إِلَى رَأْيِ الْمُلْتَقِطِ يُعَرِّفُهَا إِلَى أَنْ يَغْلِبَ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّ صَاحِبَهَا لَا يَطْلُبُهَا بَعْدَ ذَلِكَ ثُمَّ يَتَصَدَّقُ بِهَا، وَإِنْ كَانَتِ اللُّقَطَةُ شَيْئًا لَا يَبْقَى عَرَّفَهُ حَتَّى إِذَا خَافَ أَنْ يَفْسُدَ تَصَدَّقَ بِهَا،

ژباړه وتشریح:- اوویلې شوی دی ﴿ددې قول قائل شمس الائمه سرخسی رحمه الله دې﴾ چې هیڅ څیزد ددې مودو نه ﴿کومې چې وړاندې ذکرشوې﴾ نه دی لازم.بلکه سپارلې به شی ﴿موده دتشهیراوداعلان﴾ رائې د ملتقط ته،هغه به تشهیر ﴿اواعلان کوی﴾ تردې چې غالب شی په ګمان د ده ﴿ملتقط﴾ چې مالك ددې ﴿لقطه﴾ به لټون نه کوی ددې ﴿لقطه﴾ روسته ددې ﴿دومره مودې﴾ نه. اوبیا به صدقه اوکړی په هغې ﴿لقطه﴾ باندې. ﴿اوثواب به ئې مالك ته اوبخی﴾

دخرابیدونکی څیزد تشهیرموده

وإن كانت اللقطة شيئا لا يبقى عرفه حتى إذا خاف أن يفسد تصدق به وينبغي أن يعرفها في الموضع الذي أصابها وفي الجامع فإن ذلك أقرب إلى الوصول إلى صاحبها

ژباړه وتشریح:- اوکه وی لقطه داسې شی چې پاته نه پاتې کیږی. ﴿بلکه خرابیږی.لکه سبزی یا میوه شوه﴾ نوتشهیربه کوی دهغې تردې چې کله اوویریږی چې خرابه به شی نوصدقه به اوکړی په هغې ﴿اوفقیرته به ئې ورکړی﴾ اومناسب دی چې تشهیر اوکړی دهغې ﴿لقطه﴾ په هغه ځائې کې چې موندلې ئې وی ﴿په هغې کښې﴾ اوپه مجامع کې ﴿د خلګو د جمع کیدو ځایونه لکه بازارونه اوجماتونه﴾ څکه چې ﴿تشهیرپه هغه ځائې کې چې په کوم ځائې کې ئې موندلې وی﴾ رسیدل دی. ددې ﴿لقطه﴾ خپل مالك ته. ﴿څکه چې کیداې شی. هغه ته کله وریاده شی.چه زما نه فلانی ځائې کې دا شی پاتې شوی دې.یا دا

وواني چه زه په فلاني لاره باندې راغلې وو.په هغې به رانه دا شي پريوتې وي.اوواپس هغه ځاني ته لاړشي.يا په هغه لاره تير شي .او ملتقط هلته موجود وي.نودې به ترې خپل شي حاصل كړي﴾

دمعمولي لقطه داستعمال ملتقط ته اجازت

وَإِنْ كَانَتِ اللُّقَطَةُ شَيْئًا يَعْلَمُ أَنَّ صَاحِبَهَا لَا يَطْلُبُهَا كَالنَّوَاةِ وَقُشُورِ الرُّمَّانِ يَكُونُ إِلْقَاؤُهُ إِبَاحَةً حَتَّى جَازَ الِانْتِفَاعُ بِهِ مِنْ غَيْرِ تَعْرِيفٍ وَلَكِنَّهُ مُبْقًى عَلَى مِلْكِ مَالِكِهِ لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنَ الْمَجْهُولِ لَا يَصِحُّ.

حل اللغة: ① **النواة** چواره ② **القشور** جمع د قشر،پوستكي ③ **الرمان:** انار

ژباړه وتشريح:- اوكه وي لقطه څه شي معمولي چې پوهيږي دې ﴿ملتقط﴾ به نه لټوي دا ﴿څيز﴾ لكه دچوارې هډوكي.اود انار پوست ،نودې غورځول ددې ﴿څيزونو﴾ مباح گرځول ﴿هغه چاته چې څوك ئې راواخلي﴾ نو جائزده فائده اخستل په دغه ﴿څيزباندې﴾ بغير د تشهير كولونه،خودغه ﴿څيز﴾ پاته پاتې كيدونكې دې په ملك دمالك خپل كې ﴿يعنى دغه څه دخپل مالك دملكيت نه وتلې نه دې﴾ ځكه چې مالك جوړيدل د نامعلومه كس نه نۀ صحيح كيږي.

داعلان نه روسته د لقطه صدقه كول

قَالَ (فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَ) لَا تَصَدَّقَ بِهَا) إِيصَالًا لِلْحَقِّ إِلَى الْمُسْتَحِقِّ وَهُوَ وَاجِبٌ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ، وَذَلِكَ بِإِيصَالِ عَيْنِهَا عِنْدَ الظَّفَرِ بِصَاحِبِهَا وَإِيصَالِ الْعِوَضِ وَهُوَ الثَّوَابُ عَلَى اعْتِبَارِ إِجَازَةِ التَّصَدُّقِ بِهَا، وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا رَجَاءَ الظَّفَرِ بِصَاحِبِهَا

حل اللغة: ① **الايصال** رسول ② **الظفر** كاميابى ③ **الامساك** ايسارول ④ **الرجاء** اميد

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري ﴾ كه راغلو مالك دهغې ﴿لقطه روسته د تشهيرنه.نوهغه ته ئې وركړي﴾ اوكه رانغلو.نوصدقه كوي به هغه ﴿لقطه﴾ لپاره د رسولودحق مستحق خپل ته،اودا ﴿رسول دحق خپل مستحق ته﴾ واجب دى چې تركومې پورې ممكن وي. اودا ﴿رسول دحق خپل مستحق ته كيږي﴾ په رسولو د ذات ددغه څيزكله چې كامياب شي ﴿په موندلو﴾ دمالك دهغې ، ﴿يعنى مستحق ته چې دهغه حق اورسي. نويوه طريقه ئې دا ده.چه مستحق اومومي.اوهغه ته خپل حق هم په هغه اصلي صورت كې په كوم كې چې ئې ترې اخستې وي﴾اورسول دعوض ﴿كه د عين حق رسول ممكن نه وي.مثلا كه هغه څيزهلاك شوې وي.يا دهغې مالك موجود نه وي﴾ اوهغه ﴿عوض﴾ ثواب دې.په اميد د اجازت دهغه ﴿مالك﴾ د صدقې كاود د هغه څيز﴿يعنى صدقه كول په هغه وخت كې پكار دي.چه دا اميد كيداې شي.چه مالك ته كله پته اولگى.چه زما شي ئې صدقه كړې دې.نوهغه اجازت وركوي﴾ اوكه غواړى نواودې ساتي هغه ﴿لقطه﴾ په اميد دكاميابئ دمالك دهغې ﴿يعنى كه دا اميد ساتي.چه ددې مالك به پيدا شي نوهغه لقطه دې ځان سره اوساتي.اونه صدقه كوي دې﴾

د صدقه كولونه روسته مالك پيدا كيدل

قَالَ (فَإِنْ) (جَاءَ صَاحِبُهَا) يَعْنِي بَعْدَمَا تَصَدَّقَ بِهَا (فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَمْضَى الصَّدَقَةَ) وَلَهُ ثَوَابُهَا لِأَنَّ التَّصَدُّقَ وَإِنْ حَصَلَ بِإِذْنِ الشَّرْعِ لَمْ يَحْصُلْ بِإِذْنِهِ فَيَتَوَقَّفُ عَلَى إِجَازَتِهِ،

حل اللغة: ① **امضى** ثابت اوساتلو،برقرار اوساتلو

ژباړه وشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري ﴾ كه راغلۀ مالك دهغې ﴿لقطه﴾ يعنى روسته ددې نه چې صدقه كړې وو ﴿ملتقط﴾ هغه ﴿لقطه﴾ نودې ﴿مالك﴾ ته اختيار دې.كه غواړى نوجارى دې اوساتي صدقه ،اودده ﴿ملتقط﴾ لپاره ځكه چې صدقه كول اگرچه حاصل شوې دى په اجازت د شريعت ﴿يعنى شريعت ده ته دلقطه د صدقه كولواجازت وركړې دې﴾ نودې حاصل شوې ﴿اجازت﴾ په حكم دده ﴿مالك.هركله چې ورته د مالك د اړخه د صدقې كولواجازت نه دي ملاؤ شوې﴾ نوموقوف به وي ﴿دغه صدقه﴾ په اجازت دده ﴿مالك،كه مالك د صدقه اجازت وركړلو.نوصدقه صحيح شوه﴾

وَالْمِلْكُ يَثْبُتُ لِلْفَقِيرِ قَبْلَ الْإِجَازَةِ فَلَا يَتَوَقَّفُ عَلَى قِيَامِ الْمَحِلِّ،

ژباړه وتشريح:- ﴿او﴾ كه څوك دا اووائي.چه هركله د تصدق صحت په اجازت دمالك باندې موقوف شو .نو پكارده چې كله مالك اجازت كوي.په هغه وخت محل موجود وي.يعني دفقيرسره هغه لقطه موجوده وي. نو د دې ځواب داسې كوي﴾ اوملك ﴿په لقطه باندې﴾ ثابتيږي د فقير لپاره وړاندې د اجازت ﴿د مالك نه،يعني كه مالك ته دصدقې دصحت اجازت هم نه وي كړې.بيا هم دفقير لپاره په لقطه باندې ملكيت ثابتيږي﴾ نو موقوف نه دې ﴿اجازت د مالك﴾ په قيام دمحل ﴿د صدقې، بلكه كه لقطه د فقيرسره موجود نه وي.هم د مالك اجازت صحيح كيږي.اوكه څوك اووائي.چه هركله په لقطه باندې د فقيرملكيت ثابتيږي. نو چې كله ئې مالك پيدا شي. پكارداده.چه ده ته د فقيرنه دخپل څيزد اخستلو اختيارنه وي.ځكه چې په هغې باندې خو د فقير ملكيت ثابت شوې دې.نوددې نه ځواب دا دې.چه ددې باوجود چې په لقطه د فقير ملكيت ثابت شوې دې. خو اصل مالك ته د واپس اخستلو اختيارشته.ددې لپاره نظيردا دې.كه يوكس بل ته څه شى هبه كړي.نوپه دغه موهوبه باندې د موهوب له ملكيت ثابت شو.خو ددې باوجود كه واهب په خپله هبه كې رجوع كوي.نوكولې شي﴾

بِخِلَافِ بَيْعِ الْفُضُولِي لِثُبُوتِهِ بَعْدَ الْإِجَازَةِ فِيهِ (وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمُلْتَقِطَ لِأَنَّهُ سَلَّمَ مَالَهُ إِلَى غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ)

حل اللغة: ① **الفضولي**:د عاقدينو نه علاوه دريمګړې كس

ژباړه وتشريح:- په خلاف د خرڅولود فضولي ﴿هغه كس چې دمبيعې خپل مالك نه وي.بلكه د بائع اومشترى نه سوا دريم كس وي﴾ د امله د ثبوت دده ﴿ملكيت د مشترى په مبيعه باندې﴾ روسته د اجازت ﴿دمالك نه﴾ په دې ﴿بيع د فضولي﴾ كې ﴿يعني كله چې زيد د بكريوڅيزيه خالد باندې خرڅ كړي. خو بكرورته د خرڅولواجازت نه وي كړې.نوپه دې صورت كې په مبيعه باندې د خالد ملكيت نه ثابتيږي. تر څو چې بكر اجازت نه وي كړې﴾ اوكه غواړي ﴿مالك د لقطه﴾ نو تاوانې دې كړي ملتقط ﴿چه لقطه،يا دهغې چې څه قيمت وي هغه دې ترې واخلي﴾ ځكه چې ده ﴿ملتقط﴾ وركړې دې مال دده ﴿مالك﴾ بل ته بغيرد اجازت دده ﴿مالك﴾ نه، ﴿او﴾ څوك چې دبل چا څيزكې تصرف اوكړي.اوبل چاته ئې وركړي.په وركونكي باندې تاوان لازميږي﴾

إِلَّا أَنَّهُ بِإِبَاحَةٍ مِنْ جِهَةِ الشَّرْعِ، وَهٰذَا لَا يُنَافِي الضَّمَانَ حَقًّا لِلْعَبْدِ كَمَا فِي تَنَاوُلِ مَالِ الْغَيْرِ حَالَةَ الْمَخْمَصَةِ،

حل اللغة: ① **الجهة**:طرف ② **التناول**:شامليدل ③ **المخمصة**:سخته اولوږه

ژباړه وتشريح:- البته دومره ده چې دا ﴿وركول د ملتقط لقطه لره بل چاته﴾ دي په اباحت د شريعت ﴿يعني شريعت ملتقط ته دا اجازت وركړې دې.كه ته دا لقطه د تشهيرد مودې نه روسته چاته صدقه وركوې.نو وركولې ئې شي.نوهركله چې شريعت اجازت وركړې دې.نودې ګناهګار نشو. اوكه بالفرض شريعت اجازت نه وي وركړې اوملتقط په لقطه كې تصرف كړې وو.نوبيا به پرې د مالك داړخه تاوان هم راتلۀ، اوعندالله به ګناهګارهم وو.اوكه ته دا وائې.چه هركله ملتقط ته دشريعت داړخه د تصدق اجازت شته. نو بيا په ده باندې ضمان ولې راځي.نود هغې نه ځواب دا دې.چه﴾ اودا ﴿اجازت دتصدق د شريعت داړخه﴾ منافي نه دې د تاوان سره ﴿بلكه د شريعت داړخه به دتصرف اجازت وي.اوبيا به هم په مجاز له باندې تاوان واجبيږي﴾ لپاره د حق د بنده ﴿ځكه چې شريعت دمسلمان مال معصوم ګرځولې دې.نود اړتيا په وخت كې كه چاته په كې د تصرف اجازت هم وركړي.خودمالك ملكيت ترې نه ختموي﴾ لكه څنګه خوراك د مال دبل چا دې په حالت د سخته لوږه كې ، ﴿يعني لكه څنګه چې يوسړې دومره اوږې وي. چې هلاكيږي.اوپه دغه وخت كې ده ته دبل چا شى دخوراك لپاره ملاؤ شي.نوشريعت ده ته دا اجازت وركړې دې.چه د مالك نه بغيردې دغه دخوراك شى اوخوري.اوددې اجازت باوجود كه مالك دده نه دهغې قيمت غواړي.نودې به ورته دهغې قيمت وركوي.نوګوره په دغه صورت كې دشريعت داړخه اباحت شته.خوتاوان هم شته.دغه ډول په زير بحث مسئله

كي اګرچه ملتقط ته د تصدق اجازت شته.خوكه مالك غواړي.نوضمان پرې هم راوستې شي﴾

وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمِسْكِينَ إِذَا هَلَكَ فِي يَدِهِ لِأَنَّهُ قَبَضَ مَالَهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ، وَإِنْ كَانَ قَائِمًا أَخَذَهُ لِأَنَّهُ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوكه غواړي نو تاواني دې كړي مسكين كله چې هلاكه شوې وي لقطه په لاس دهغه كي ،ځكه چې هغه قبض كړې دې مال دده ﴿مالك﴾ بغيرد اجازت دده ﴿مالك﴾ نه،اوكه وي ﴿لقطه﴾ موجوده د دده ﴿مسكين﴾ سره،نووابه ئې اخلي ﴿دمسكين نه﴾ ځكه چې ده بيامونډلوعين مال خپل. ﴿نودې دهغې داخستلو حقداردې﴾

دچيلۍ،غوا اواوښ د لقطه حكم

قَالَ (وَيَجُوزُ الِالْتِقَاطُ فِي الشَّاةِ وَالْبَقَرِ وَالْبَعِيرِ) وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ: إِذَا وُجِدَ الْبَعِيرُ وَالْبَقَرُ فِي الصَّحْرَاءِ فَالتَّرْكُ أَفْضَلُ. وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ الْفَرَسُ.

حل اللغة: ① الشاة: ګډه ② البقر: غوا ③ البعير: اوښ ④ الصحراء: دشت ⑤ الفرس: اس

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوجائزدي رانيول په طور د لقطه د چيلۍ،غوا اواوښ، او فرمائي امام مالك اوشافعي رحمهما الله كله چې اوموموي اوښ اوغوا په صحراء كي نوپريښول ﴿ددې﴾ غوره دي ﴿د رانيولونه﴾ اوپه دې خلاف بانديې اس ﴿هم﴾ دې. ﴿يعني داحنافوپه نيزكه په صحراء كي اس بيا مومي.نود لقطه په طور د هغې رانيول جائز دي.اودامام مالك اوشافعي رحمهما الله په نيزافضل نه دي﴾

لَهُمَا أَنَّ الْأَصْلَ فِي أَخْذِ مَالِ الْغَيْرِ الْحُرْمَةُ وَالْإِبَاحَةُ مَخَافَةَ الضَّيَاعِ، وَإِذَا كَانَ مَعَهَا مَا تَدْفَعُ عَنْ نَفْسِهَا يَقِلُّ الضَّيَاعُ وَلَكِنَّهُ يُتَوَهَّمُ فَيَقْضِي بِالْكَرَاهَةِ وَالنَّدْبُ إِلَى التَّرْكِ.

حل اللغة: ① المخافة: ويره ② الضياع: ضايع كيدل ③ الندب: استحباب

ژباړه وتشريح:- دواړو امامانو ﴿جاري مالك اوشافعي﴾ رحمهما الله لپاره دليل دا دې.چه قاعده په اخستلو دمال دبل چاكي حرمت دې. ﴿چه د بل چا مال اخستل حرام دي﴾ اواباحت چې راځي.نود ويرې د ضائع كيدو نه راځي. ﴿كه دې ورته نه لاس كوي.نوهغه ځيزضائع كيږي.لكه ځنګه چې په لقطه كي د لقطه د ضائع كيدو د ويرې د امله د هغې راخستل جائزدي﴾ اوكله چې وي دې ﴿لقطه﴾ سره ځيزچه دا ساتنه كولاي شي دخپل ځان،نوكم پيښيږي ضائع كيدل ﴿ددغه لقطه،نوپه اوښ غوا او اس كي دخپل ځان د ساتنه صلاحيت موجود دې.ضائع كيږي نه،ددې امله ددې پريښول غوره دي﴾ اګرچه ددې ﴿ضائع كيدو﴾ وهم كيداې شي. ﴿كه دا داسې پريښودې شي .نوضائع اوهلاك به شي.نوكه ددې دضائع كيدو ويره نه وه.بيا خوددې رانيول هډو جائز نه وو.خوچونكه د ضائع كيدو احتمال په كي شته﴾ نوفيصله به كولاى شي په كراهت ﴿د رانيولو ددې خناورو﴾ او ﴿فيصله به كولې شي﴾ په استحباب د پريخودو ﴿چه راوې نه نيسي﴾

وَلَنَا أَنَّهَا لُقَطَةٌ يُتَوَهَّمُ ضَيَاعُهَا فَيُسْتَحَبُّ أَخْذُهَا وَتَعْرِيفُهَا صِيَانَةً لِأَمْوَالِ النَّاسِ كَمَا فِي الشَّاةِ

حل اللغة: ① الضياع: ضائع كيدل ② صيانة: حفاظت

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه دا ﴿اوښ،غوا او اس﴾ لقطه ده.توهم كيداې شي د ضائع كيدودې نومستحب دي رانيول ددې ﴿غوا،اوښ اواس﴾او ﴿د رانيولونه پس﴾ تشهير ددې شي. نو دې دضائع كيدو ډيراحتمالات دي. كيداې شي.چه د ولوږې د امله مړ شي. كيداې شي.چه ځه چې په وزه كي دي. ﴿يعني لكه ځنګه چې تاسووزه لقطه ګنړې.اوددې رانيول جائزګڼړئ.نودغه ډول به د اوښ غوا اواس حكم هم وي.ځكه چې په دې كي هم د ضائع كيدو ويره شته﴾

آسماني آفات پرې راپريوځي. كيداې شي.چه دده نه مضبوط ځناور پرې راشي.اوهلاك ئې كړي﴾ لكه ځنګه

دقاضي داجازت نه بغيره لقطه باندې دخرچ كولوحكم

(فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُلْتَقِطُ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْحَاكِمِ فَهُوَ مُتَبَرِّعٌ) لِقُصُورِ وِلَايَتِهِ عَنْ ذِمَّةِ الْمَالِكِ،

حل اللغة: ① المتبرع: احسان كونكي ② القصور: كموالي

ژباړه وتشريح:- كه خرچ كړلو ملتقط په دې «لقطه» باندې بغيرد اجازت د حاكم نه،نودې احسان كونكي دې «كوم خرچ چې دې په لقطه باندې اوكړې.دمالك نه دهغې مطالبه نشي كولې» د امله د كمزورئ د ولايت دده «ملتقط» نه دذمې دمالك نه «يعني ملتقط سره دومره اختيارنشته.چه دې دمالك نه دخپلې خرچې مطالبه اوكړې»

وَإِنْ أَنْفَقَ بِأَمْرِهِ كَانَ ذَلِكَ دَيْنًا عَلَى صَاحِبِهَا لِأَنَّ لِلْقَاضِي وِلَايَةً فِي مَالِ الْغَائِبِ نَظَرًا لَهُ وَقَدْ يَكُونُ النَّظَرُ فِي الْإِنْفَاقِ عَلَى مَا نُبَيِّنُ

ژباړه وتشريح:- اوكه خرچه ئې اوكړله «په لقطه» په حكم د حاكم، «چه قاضي ورته اووائي.ته په دې لقطه مثلاً اوبن وغيره باندې خرچه كوه» نوكيږي دا «خرچه» پور په مالك د هغې «لقطه» ځكه چې دقاضي لپاره ولايت دې په مال د غائب كې د خيگړې دهغه لپاره «يعني كه يوكس موجود نه وي.اودهغه مال خرابيږي .نوقاضي ته دا اختيارحاصل دې.چه چاته حكم اوكړي.چه دغائب په مال كې تصرف اوكړي. خو داسې تصرف چې دغائب په كې خيروې شرنه وي.اوكله كله وي خيگړه «دغائب» په خرچ كولوكې. «چه په لقطه باندې خرچ اوكړې شي.نوپه دې كې دغايب فائده وي» لكه چې موږ به ئې بيان كړو «چه په كومو صورتونوكې دغائب په مال كې په تصرف كولوكې دغائب فائده ده»

په لقطه باندې د خرچې اړه كې دقاضي فيصله

(وَإِذَا رُفِعَ ذَلِكَ إِلَى الْحَاكِمِ نَظَرَ فِيهِ، فَإِنْ كَانَ لِلْبَهِيمَةِ مَنْفَعَةٌ آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا)

حل اللغة: ① البهيمة: څناور ② المنفعة: فائده

اوكله چې يوړې شي دا «مقدمه د لقطه» قاضي ته نو گوري به «يعني سوچ به كوي قاضي» په دې «لقطه» كې نوكه چيرته وي دخاروی نه څه فائده «مثلاً اس دې.نود اس نه فائده اخستې شي.چه د دې نه د بار راوړلوكاروا خستې شي.اومزدوري پرې اوكړې شي» نوپه مزدورئ به اولگوي.هغه «لقطه» اوخرچ به كوي په هغې «لقطه» باندې دمزدورئ دهغې نه «يعني هغه لقطه لكه موږ چې په مثال كې اس پيش كړلو .به په كار اولگوي.اوچه هغه كومه مزدوري كوي.هم په هغه مزدورئ كې به په هغه اس باندې خرچ كوي.گياه به ورله وركوي.داسې نور ضروريات به ئې پوره كوي»

لِأَنَّ فِيهِ إِبْقَاءَ الْعَيْنِ عَلَى مِلْكِهِ مِنْ غَيْرِ إِلْزَامِ الدَّيْنِ عَلَيْهِ وَكَذَلِكَ يُفْعَلُ بِالْعَبْدِ الْآبِقِ

حل اللغة: ① الابقاء: پاتې كول ② الالزام: لازمول ③ الابق: تختيدلي غلام

ژباړه وتشريح:- ځكه چې په دې كې «چه هم په هغه لقطه باندې گټه كوي.اودهغه گټې نه په هغې باندې خرچ كوي» پاتې كول د ذات د لقطه دې په ملك د هغه «مالك» باندې.بغيرد راتلود پور نه په ده «مالك» باندې، «يعني دمالك څيزبه هم محفوظ اوپاتې شي.اودده به ساتنه اوخسمانه چې څه خرچه شوې وي.هغه به هم په مالك باندې قرض نشي.ځكه چې خرچه خو هم دهغه د لقطهٔ د مزدورئ اوگټې نه خرچ شوې ده» اودغه ډول به كولاى شي په غلام تختيدلي باندې «يعني چاچه تختيدلي غلام بيامونديلو.نوپه هغه به كاركوي.اوچه څه گټې.په هغې به دهغه د ژوند ضروريات پوره كوي.اوچه كله ئې مالك پيدا شي.نوهغه ته به خپل غلام اوسپارلي شي.دغلام خرچه به ترې نشي اخستې.ځكه چې دغلام خرچه خو هم دهغه د كاركسب او مزدورئ نه پوره كړې شوې ده»

(وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا مَنْفَعَةٌ وَخَافَ أَنْ تَسْتَغْرِقَ النَّفَقَةُ قِيمَتَهَا بَاعَهَا وَأَمَرَ بِحِفْظِ ثَمَنِهَا) إِبْقَاءً لَهُ مَعْنًى عِنْدَ تَعَذُّرِ إِبْقَائِهِ صُورَةً

حل اللغة: ① الاستغراق راګیرول ② الابقاء پاته پاتي کول

ژباړه وتشریح:- اوکه نه وي ددې «لقطه» څه فائده «فی الحال مثلاً وچه وزه وي» اوویریږي «قاضی» چي ختم به کړي خرچه قیمت ددې «لقطه، یعنی که ددې خسمانه کوي. اوخرچه پرې کوي. نوددې څه قیمت دې هغه هومره روپۍ به ددې په خرچه باندې اولږي» نوخرڅه به ئې کړي اوحکم به اوکړي «قاضی ملتقط ته» د ساتنه د قیمت دهغې «لقطه» لپاره د پاته پاتي کولودې «لقطه» لره معنی په وخت د تعذردپاته پاتې کولوددې صورة «یعنی دشریعت دا حکم دې. چه لقطه خپل مالك ته واپس شي. خود واپس کیدو دوې [دوه] صورتونه دي. یو صورت دا چي عین لقطه مالك ته واپس کړي. نودا صورت خومتعذردې. ځکه که دده لقطه خسمانه کوي. نودهغې په خسمانه اوتربیت باندې دهغې دقیمت نه زیاتې پیسې لګی. نو دوهم صورت دا دې. چه په معنوی شکل کي مالك ته خپل شی واپس کړې شي. اومعنی صورت دا دې. چه د هغه څیزقیمت ورته واپس کړې شي»

(وَإِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ الْإِنْفَاقَ عَلَيْهَا أَذِنَ فِي ذَٰلِكَ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَىٰ مَالِكِهَا) لِأَنَّهُ نُصِبَ نَاظِرًا وَفِي هَٰذَا نَظَرٌ مِنَ الْجَانِبَيْنِ،

حل اللغة: ① النصب مقررکول ② ناظرا: لپاره د خیګړې

ژباړه وتشریح:- اوکه چیرته وي زیاته ګټور خرچه کول په دې «لقطه» باندې، نواجازت به ورکړي «قاضی» د دې «خرچې کولو، ملتقط ته» اوا وبه ګرځوی خرچه پور په مالك د هغې باندې «یعنی چي کله ئې مالك پیدا شي. نوپه لقطه باندې چي ملتقط څومره خرچه کړې وي. هغه به ورته مالك ورکړي» ځکه چي دې «قاضی» مقرر شوې دې لپاره د خیګړې کولو «چه دې به مسلمانانوته فائده رسوي» اوپه دې کي «چه لقطه خرڅه نکړې شي. بلکه دهغې خسمانه اوشي. اوملتقط ته دهغه خرچه واپس ورکړې شي» فائده ده دواړو طرفونو ته «ملتقط ته دا فائده ده. چه ده ته به خپله خرچه ملاؤ شي. اومالك ته به دا فائده اوشي. چه دهغه څیزبه د هلاکت نه بچ شي»

قَالُوا: إِنَّمَا يَأْمُرُ بِالْإِنْفَاقِ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ عَلَىٰ قَدْرِ مَا يَرَىٰ رَجَاءَ أَنْ يَظْهَرَ مَالِكُهَا، فَإِذَا لَمْ يَظْهَرْ يَأْمُرُ بِبَيْعِهَا لِأَنَّ دَارَّةَ النَّفَقَةِ مُسْتَأْصِلَةٌ فَلَا نَظَرَ فِي الْإِنْفَاقِ مُدَّةً مَدِيدَةً.

حل اللغة: ① الدارة: جاري ساتل ② المستاصلة: ختمونکې ③ المديدة: زیاته

ژباړه وتشریح:- فرمائیلی دی عالمانو ﷭ یقیناً حکم به کوی «قاضی ملتقط ته» دخرچ کولودوې [دوه] ورځې یا درې ورځې، په هغه اندازه چي امیدپه کي ساتي چي پیدا به شي مالك ددې «لقطه» هرکله چي پیدا نشي «مالك د لقطه» نوحکم به اوکړي «قاضی» د خرڅولودهغې «لقطه» ځکه چي جاري ساتل د خرچې «په لقطه باندې» ختمونکې دې «قیمت دلقطه لره، یعنی که په دغه لقطه باندې خرچه جاري ساتي. نوخرچه به دومره زیاته شي. چه د لقطه کم قیمت دې. هغې ته به اورسي» نونشته خیګړه «د مالك» په خرچ کولوکي «په لقطه باندې»

قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَفِي الْأَصْلِ شَرَطَ إِقَامَةَ الْبَيِّنَةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ غَصْبًا فِي يَدِهِ فَلَا يَأْمُرُ فِيهِ بِالْإِنْفَاقِ

ژباړه وتشریح:- وائي «صاحب دهدایه» ﷫ اوپه اصل «مبسوط» کي ئې شرط کړې دې قائمول د ګواهانو «یعنی کله چي یوداسې څیزوی. چه هغه ډیر وخته پورې نه پاتې کیږي. اوملتقط دا دعوی اوکړي. چه دا خرچه د بهر شي» اودا خبره «چه قاضی ماته حکم اوکړي. چه په دې باندې خرچه اوکړه. نوپه دې طریقه به زما ده. ځکه چي دا «لقطه» احتمال لري چي وي غصب په لاس دده «قائل» کي، او حکم نشي کولې په «غصب» کي په خرج کاوه سره «یعنی که یوکس څه څیزغصب کړلو. نو غاصب ته دا حکم نشي

كولې.چه ته په دې مغصوبه باندې خرچه اوكړه.ځكه چې غاصب ددې خبرې مجاز نه دې.چه دمالك داجازت نه بغيردهغه ملك كې تصرف اوكړي

وَإِنَّمَا يَأْمُرُ بِهِ فِي الْوَدِيعَةِ فَلَا بُدَّ مِنَ الْبَيِّنَةِ لِكَشْفِ الْحَالِ وَلَيْسَتِ الْبَيِّنَةُ تُقَامُ لِلْقَضَاءِ.

ژباړه وتشريح:- اويقيناً حكم كولاى شي په دې خرچ كولو په امانت كې . دامانت د ضائع كيدو دوجې نو نشته خلاصې دګواهانونه يعنې دقاضي په عدالت كې به په دې باندې ګواهان قائموي.چه دا لقطه ده لپاره دښكاره كيدو دحال دلقطه،چه واقعي دا لقطه ده كه غصب دې.اوكه څوك دا اووائي.چه ګواهان خوپه هغه صورت كې قائمولې شي.چه مدعى څه دعوى اوكړي.اومدعى عليه دهغې نه منكر وي. او دلته خو مدعى عليه نشته.نوبيا دګواهانوڅه اړتيا شو؟نوددې نه ځواب وركوي.اوفرمائي. اونه دي ګواهان چې قائمولې شي لپاره د فيصله دقاضي په لقطه باندې دچا لپاره فيصله اوكړي.بلكه ګواهان خو ددې لپاره قائمولې شي.كه دلقطه حال ښكاره شي. چې دا په حقيقت كې لقطه ده.چه قاضي دده ته د خرچ كاوه حكم اوكړي.اوكه غصب دې.چه د تصرف كولونه ئې منع كړي

وَإِنْ قَالَ لَا بَيِّنَةَ لِي يَقُولُ الْقَاضِي لَهُ أَنْفِقْ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فِيمَا قُلْتَ حَتَّى تَرْجِعَ عَلَى الْمَالِكِ إِنْ كَانَ صَادِقًا، وَلَا يَرْجِعُ إِنْ كَانَ غَاصِبًا.

ژباړه وتشريح:- اوكه اووائي. ملتقط چې نشته ګواهان زما سره په لقطه باندې نووائي به قاضي دده ته ته خرچه كوه په دې لقطه باندې،كه ئې ته رښتيني په هغه څه كې چې ته ئې وائې. چه دا لقطه ده تردې چې وابه اخستې شې هغه خرچه كومه چې دده په لقطه باندې خرچ كړې وي كه وى دې رښتيني .اونه به شي اخستې دمالك نه هغه خرچه كومه چې ده كړې وي كه وى دې دروغژن.

وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَى صَاحِبِهَا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ إِنَّمَا يَرْجِعُ عَلَى الْمَالِكِ بَعْدَ مَا حَضَرَ وَلَمْ تُبَعِ اللُّقَطَةُ إِذَا شَرَطَ الْقَاضِي الرُّجُوعَ عَلَى الْمَالِكِ، وَهَذِهِ رِوَايَةٌ وَهُوَ الْأَصَحُّ.

ژباړه وتشريح:- اودا وينا دده صاحب دقدوري چې اوبه ګرځولې شي خرچه پور په مالك د دې لقطه باندې،په دې كې اشاره ده.دې ته چې دې ملتقط به اخلي دغه خرچه دمالك نه روسته ددې نه چې حاضر شي مالك اوحال دا وى.چه خرڅه شوې نه وى لقطه بلكه موجوده وي او چې د خرچې كولونه وړاندې شرط كړې وى قاضي اخستل د خرچې د مالك نه يعنې ملتقط به په هغه صورت كې د مالك نه هغه خرچه اخلي .كومه چې دده په لقطه لګولې وى.چه كله مالك پيدا شي.اولقطه دملتقط سره موجود وى.هغه ئې خرڅه كړې نه وى.اوبله دا چې ملتقط په لقطه باندې خرچه دقاضي په حكم سره كړې وى.اوقاضي ورته دا هم وئيلي وى .چه دا خرچه به ستا د اړخه په مالك باندې پور شي.نوكه دمالك پيدا كيدو په وخت كې لقطه د ملتقط سره موجود نه وى.يا قاضي ورته د خرچې كولوحكم كړې وى.خودا ئې ورته نه وى وئيلي.چه دا خرچه به ته د مالك نه اخلې.ستا به په هغه باندې پور شي.نوبه دې دواړو صورتونوكې به مالك نه خرچه نه اخلي .ځكه چې په اول صورت كې خولقطه موجود نه ده. نوځه به دمالك نه دهغې خرچه واخلي.اوپه دوهم صورت كې چې ورته قاضي صرف د خرچې كاوه حكم كړې دې.د مالك نه دخرچې اخستلو وعده ئې ورسره نه ده كړې اودايوروايت دې.اودا اصح روايت دې. چه دمالك څخه به هله خرچه اخلي.چه قاضي ورته دا وئيلي وى.چه دا خرچه ته كوه.دا به ستا د اړخه په مالك باندې پور شي.اودې روايت ته ئې اصح روايت ځكه اوفرمائيل.چه دبعضې احنافو رحمهم الله دا قول دې.چه قاضي ورته صرف دومره وئيلي وى.چه ته په دې لقطه باندې خرچه كوه.كه دا وعده ئې ورسره كړې هم نه وى.چه دا خرچه به درته مالك دركوى.نوبيا هم ملتقط د مالك نه خپله خرچه اخستې شي

دخپلې خر چې اخستلو لپاره لقطه دخپل ځان سره ايسارول

قَالَ (وَإِذَا حَضَرَ) يَعْنِي (الْمَالِكُ فَلِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَمْنَعَهَا مِنْهُ حَتَّى يُحْضِرَ النَّفَقَةَ) لِأَنَّهُ حَيٌّ بِنَفَقَتِهِ فَصَارَ كَأَنَّهُ اسْتَفَادَ الْمِلْكَ مِنْ

جِهَتِهِ فَأَشْبَهَ الْمَبِيعَ،

ژباړه وتشريح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله کله چې حاضرشی يعنی مالك ﴿دلقطه﴾ نو دملتقط لپاره جائزدی چې منع کړی دا ﴿لقطه﴾ دده ﴿مالك﴾ نه تردې چې ورکړی ورته خرچه ﴿کومه چې ملتقط په لقطه باندې لګولې وی﴾ خکه چې دا ﴿لقطه تذکيرد ضمير په اعتبار د مذکور سره دې.اويا دا تذکير د ضمير ئې د مال په اعتبار سره ذکرکړې دې﴾ ژوندې پاتې شوې ده په خرچه دده ﴿ملتقط.که ده پرې خرچه نه کوله.خولقطه به هلاکه شوې وه﴾نو دا داسې شوه.لکه چې حاصل کړې ده ﴿مالك﴾ ملکيت ﴿په لقطه﴾ د دې ﴿ملتقط﴾ دا ړخه ،نو مشابه شوه د مبيع سره، ﴿يعنی ترخوپورې چې بائع ته د مبيع قيمت نه وی ملاؤ شوې.ده لپاره دا جائز دی.چه مبيع مشتری ته د ورکولونه ايساره کړی﴾

وَأَقْرَبُ مِنْ ذٰلِكَ رَادُّ الْآبِقِ فَإِنَّ لَهُ الْحَبْسَ لِاسْتِيفَاءِ الْجُعْلِ لِمَا ذَكَرْنَا،

حل اللغة: ① الاستيفاء تمام (پوره) حاصلول ② الحبس بنديز. ③ الجعل مزدوری

ژباړه وتشريح:- اوزيات نزدې ددې ﴿مبيع﴾ نه ﴿لقطه ته،يعنی وړاندې مثال خود مبيع وو.چه لقطه د مبيع پشان ده.اوس دلته دلقطه لپاره بل نظيرپيش کوی.چه هغه دمبيع نه هم زيات مشابه دې دلقطه سره﴾ واپس کول د غلام تختيدلی دې. ﴿خپل مالك ته،يعنی چې دچا نه غلام اوتختی. او بل څوك ئې ورله راولی.خودهغه ئې په خوراك څښاك او په راوستلو خرچه شوې وی﴾نوجائزدی دده ﴿ واپس کونکی دغلام﴾ لپاره بندول ﴿دغلام دخپل خان سره،چه مالك ته ئې نه ورکوی﴾ لپاره د حاصلولو دجعل ﴿چه څلويښت روپۍ دی.لکه چې وړاندې به ددې تفصيل راشی﴾ دهغه امله کومه چې موږ ذکرکړه. ﴿په دې قول سره.چه ..لأنه يحی بنفقته..نولکه څنګه چې لقطه د ملتقط په خرچه باندې ژوندئ پاتې شوې ده.دغه ډول تختيدلې غلام د واپس کونکی په خرچه باندې ژوندې پاتې شوې دې.اوده ته د واپس کيدو قابل پاتې شوې دې﴾

ثُمَّ لَا يَسْقُطُ دَيْنُ النَّفَقَةِ بِهَلَاكِهِ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ قَبْلَ الْحَبْسِ،

ژباړه وتشريح:- بيا نه ساقطيږی پور د خرچې په هلاکت دلقطه په لاس دملتقط کې وړاندې د ايسارولو نه، ﴿يعنی کومه خرچه چې ملتقط په لقطه باندې کړې وی.هغه دده دا ړخه په مالك باندې پور دې.خوکه په دې مهال کې دغه لقطه هلاکه شوه.نوملتقط د مالك نه دهغې تاوان اخستې شی﴾

وَيَسْقُطُ إِذَا هَلَكَ بَعْدَ الْحَبْسِ لِأَنَّهُ يَصِيرُ بِالْحَبْسِ شَبِيهَ الرَّهْنِ.

ژباړه وتشريح:- اوساقطيږی پور ﴿دملتقط کوم چې دخرچې په صورت کې په مالك باندې دې﴾ روسته دايسارولونه ﴿يعنی کله چې مالك راغلة اوهغه دخپل مال مطالبه اوکړلة.اوملتقط ورته اووئيل.تاته به ورنکړلو نوپه دې صورت کې که دغه لقطه هلاکه شوه.نوملتقط د خرچې خپلې مطالبه د مالك نه نشی کولې﴾ خکه چې دا ﴿لقطه اوتذکيردضمير په تاويل د مال سره دې﴾ ګرځی په ايساريدو باندې مشابه د خرچه نه کوم.نوقاضی به مرتهن ته اووائی.چه ته په دې مرهونه باندې خرچه کوه.کله چې راهن پور ادا کړلو نومرتهن ته ددې اجازت شته.چه د راهن نه مطالبه اوکړی.چه تاته به مرهونه هله درکوم.چه په دې باندې زما کومه خرچه شوې ده.هغه به ماته راکوې.نواوس په دې صورت کې که دمرتهن د راهن نه دهغه شی منع کړلو. اوپه دغه مهال کې مرهونه هلاکه شوه.نومرتهن د راهن نه د خرچې مطالبه نشی کولې﴾

دحرم اودحل د لقطه حكم

قَالَ (وَلُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ سَوَاءٌ) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجِبُ التَّعْرِيفُ فِي لُقَطَةِ الْحَرَمِ إِلَى أَنْ يَجِيءَ صَاحِبُهَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي الْحَرَمِ {وَلَا يَحِلُّ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ} ( )

حل اللغة: ① المنشد: تشهير كونكې

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ اولقطه د زمين حل اودحرم برابرده. ﴿په حكم كې﴾ اوفرمائى امام شافعى واجب دې تشهيركول تردې چې راشى مالك ددې ﴿لقطه، يعنى د اعلان اوتشهير لپاره ديوكال وغيره مودهٔ مقرر نه ده.بلكه هميشه لپاره به د هغې تشهيركوى.تردې چې مالك ئې راشى﴾ د امله د قول د نبىﷺ نه په اړه د حرم كې ، اوحلاله نه ده لقطه ددې مگر لپاره دهغه چا چې اعلان اوكړى ددې ﴿چه ما يو شى بيا موندې دې.چه دچا وى.ماسره دې رابطه اوكړى﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً} ( ) مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ

حل اللغة: ① عفاص: كسوره ،تيلۍ ② وكاء: مزې ،پړې،تار

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل قول د نبىﷺ دې.چه معلوم كړه او وپيژنه كڅوړه ددې ﴿لقطې﴾ او سپنسې ددې ﴿لقطې﴾ نوبيا اعلان كوه ددې ﴿لقطه يعنى دا شيان (څيزونه) دې تاته ياد وى.نوكه څوك ئې نښانه ښائى.تاته به څه اشكال نه وى﴾ يوكال پورې ، ﴿نبى ﷺ په دې حديث كې دمطلق لقطه لپاره ديوكال مودهٔ ياده كړې ده﴾ بغيرد توپير نه ﴿په مينځ د حل اوحرم په لقطه كې . نو هر كله چې نبىﷺ دحل اوحرم په لقطه كې څه تفصيل اوفرق نه دې بيان كړې.موږ ئې هم نه بيانوو﴾

وَلِأَنَّهَا لُقَطَةٌ، وَفِي التَّصَدُّقِ بَعْدَ مُدَّةِ التَّعْرِيفِ إِبْقَاءُ مِلْكِ الْمَالِكِ مِنْ وَجْهٍ فَيَمْلِكُهُ كَمَا فِي سَائِرِهَا،

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې دا ﴿لقطه دحرم﴾ لقطه ﴿ده پشان د نورلقطاتو،نولكه څنگه چې په نور لقطاتو كې يوكال اعلان كول دى.اوديوكال نه روسته دهغې نه فائده اخستل جائز دى.نودغه ډول به دحرم لقطه هم وى﴾ اوپه صدقه كولو كې ﴿دلقطه﴾ روسته د مودهٔ دتشهيرنه ﴿چه يوكال دې﴾ پاته پاتې كول د ملك دمالك دې.په ي وه طريقه، ﴿يعنى چې يوكال تيرشى.اودهغې نه روسته لقطه صدقه كړې شى.نودا هم يو ډول دلقطه ساتنه دې. څكه چې دهغې لقطهٔ د صدقهٔ ثواب به ورته ملاؤ شى﴾ نومالك كيږى به ﴿ملتقط دلقطه دحرم﴾ لكه څنگه چې په ټولولقطاتوكې ﴿ملتقط ديوكال تشهيرنه روسته دلقطه مالك جوړيږى.كه فقيروى﴾

وَتَأْوِيلُ مَا رُوِيَ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ الِالْتِقَاطُ إِلَّا لِلتَّعْرِيفِ،

حل اللغة: ① الالتقاط: د لارې نه راوچتول

اوناويل دهغه حديث چې روايت ئې كړې دې ﴿امام شافعى﴾ دا دې.چه حلال نه دى راوچتول ﴿دحرم د لقطه﴾ مگر لپاره داعلان كولو، ﴿چه يوكس ئې په دې نيت راوچته كړى.چه زه به ئې اعلان اوكړم.اوكه

---

١) من حديث زيدبن خالد الجهنى أخرجه البخارى فى اللقطة باب ٤ رقم ٢٤٢٩ ومسلم فى اللقطة رقم ١ وأبوداود فى اللقطة باب ١ رقم ١٧٠٤ والترمذى فى الأحكام باب ٣٥ وابن ماجه فى اللقطة باب ١ رقم ٢٥٠٤ وأحمد فى المسند(١١٥\٤) والنسائى فى السنن الكبرى (٤١٩\٣) رقم ٥٨١٤)_

٢) من حديث زيدبن خالد الجهنى أخرجه البخارى فى اللقطة باب ٤ رقم ٢٤٢٩ ومسلم فى اللقطة رقم ١ وأبوداود فى اللقطة باب ١ رقم ١٧٠٤ والترمذى فى الأحكام باب ٣٥ وابن ماجه فى اللقطة باب ١ رقم ٢٥٠٤ وأحمد فى المسند(١١٥\٤) والنسائى فى السنن الكبرى (٤١٩\٣) رقم ٥٨١٤)_

ته دا وائي.چه دا حکم خوپه عامو لقطاتو کي دي.چه د لقطه راچتول صرف په دې غرض باندې پکاردی.چه ددې تشهیراوکړي.اواعلان ئې اوکړي.نوبیا دحرم د تخصیص څه وجه شوه.نودهغې وجه بیانوی

وَالتَّخْصِيصُ بِالْحَرَمِ لِبَيَانِ أَنَّهُ لَا يَسْقُطُ التَّعْرِيفُ فِيهِ لِمَكَانِ أَنَّهُ لِلْغُرَبَاءِ ظَاهِرًا.

حل اللغة: ① الغرباء جمع د غريب ده مسافر

زباره وتشريح:- اوتخصیص «لقطه» په حرم پورې «یعنی نبی ﷺ دلقطه نسبت اواضافت حرم ته اوکړلو .نوپه دې باندې تخصیص پیدا شو» لپاره دبیانولوددې خبرې وو.چه نه ساقطیږي اعلان «اوتشهیر» کول په دې «لقطه دحرم» کي ،ددې امله چې دا «حرم» ځائې د مسافرودې.په ظاهره ، «یعنی حرم شریف ته د ټولې دنیا نه خلګ راځي.اوعمره یا حج کوی.اوبیا خپلو خپلو وطنونو ته واپس کیږي.نودچا په زړه کي به دا خیال راتلو.چه د لقطه اعلان خو ددې لپاره کولې شي.چه مالك ئې راشي.خوپه حرم کي چونك اکثریت دمسافرو وی. او هغوی خپلو وطنونو ته واپس ځي.نود حرم په لقطه کي د اعلان کاوه څه فائده نشته.ځکه چې هغوی به د خپلو ملکونو نه خدائې خبرشه چې دوباره راشي.نوددې ګمان اوخیال د لرې کاوه لپاره نبی ﷺ د حرم د لقطه تخصیص اوکړلو.چه دحرم لقطه د اعلان د مودې په اړه کي د نورو ځایونود لقطو نه مختلفه نه ده.بلکه لکه څنګه چې د نورو ځایونوپه لقطاتوکي دیوکال تشهیرشرط دې. دغه ډول دحرم په لقطه کي هم دې»

(وَإِذَا حَضَرَ رَجُلٌ فَادَّعَى اللُّقَطَةَ لَمْ تُدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ. فَإِنْ أَعْطَى عَلَامَتَهَا حَلَّ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَيْهِ وَلَا يُجْبَرُ عَلَى ذَلِكَ فِي الْقَضَاءِ). وَقَالَ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى: يُجْبَرُ، وَالْعَلَامَةُ مِثْلُ أَنْ يُسَمِّيَ وَزْنَ الدَّرَاهِمِ وَعَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا وَوِعَاءَهَا.

حل اللغة: ① الوكاء رسئ ،مړې ② الوعاء لوښي

زباره وتشريح:- فرمائي «ابو الحسین قدوری رحمه الله» اوکله چې حاضرشي یوسړې اودعوی ئې اوکړله د لقطه «چه دا زما ده» نو نه به شي ورکولې ده «مدعی» ته تردې چې ګواهان قائم کړي «اوهغوی دا ګواهي ورکړي.چه دا لقطه ددې مدعی ده» که هغه «مدعی» اوخودله څه نبنانه «چه زما په څیزکي دا نبنانه ده.اوواقعي هغه نبنانه په لقطه کي وی» نوجائزشو لپاره د ملتقط چې ورکړی هغه «لقطه» ده «مدعی» ته،اومجبوره کولې به شي په دې «ورکولود لقطه باندې» په قضا «دقاضی کي ، یعنی چې مدعی ګواهان قائم نکړي.صرف نبنانه اوښائي .نوکه ملتقط ورته لقطه ورکړی جائز ده. خوکه نه ورکوی.نوقاضي ئې په ورکولوباندې مجبوره کولې نشي» اوفرمائي امام مالك او شافعي رحمهما الله چې مجبوره کولې به شي.او نبنانه دا ده.مثلاً چې نوم واخلي د وزن د روپو. «چه د روپو وزن دومره دې.وزن ئې ځکه یاد کړلو.چه پخواه خوبه د سپینو زرو سیکې وې.اوسیکه وزن داره وې» اوشماردډې «روپو.چه دومره روپۍ دي» اود رسئ «په کومه باندې چې د لوښی خوله تړلې شی» دهغې «لقطه» اود لوښي دهغې «چه په څه کي وی»

لِهَذَا أَنَّ صَاحِبَ الْيَدِ يُنَازِعُهُ فِي الْيَدِ وَلَا يُنَازِعُهُ فِي الْمِلْكِ، فَيُشْتَرَطُ الْوَصْفُ لِوُجُودِ الْمُنَازَعَةِ مِنْ وَجْهٍ، وَلَا تُشْتَرَطُ إِقَامَةُ الْبَيِّنَةِ لِعَدَمِ الْمُنَازَعَةِ مِنْ وَجْهٍ.

حل اللغة: ① المنازعة جګړه کول

زباره وتشريح:- ددواړوامامانو «مالك اوشافعي رحمهما الله» لپاره دلیل دا دې.چه صاحب دید «یعنی دچا په لاس کي چې فی الحال لقطه ده.چه ملتقط دې» هغه جګړه کوی دده «مدعی سره» په قبضه کي «یعنی قبضه ورته نه ورکوی» اوجګړه نه کوی دهغه سره په ملك کي ، «ځکه چې ملتقط خود لقطه دملکیت دعوی نه کوی» نو شرط کولې به شي «بیانول د» وصف، «یعنی نبنانه به بیانوی.چه لقطه داسې ده» د امله د وجود دجګړې نه په یو اعتبار سره، «یعنی دقبضه په اعتبار سره،ځکه چې ملتقط ورسره په

قبضه وركولو كې جګړه كوي﴾ اونښې شرط كول اقامت د ګواهانود امله د نښتوالي دجګړې نه په بل اعتبارسره ﴿يعنې د ملكيت په اعتبار سره، خكه چې ملتقط ورسره په ملكيت كې جګړه نه كوي.بلكه هغه په خپله دا اقراركوي.چه دا لقطه زما نه ده. لنډيز دا كله چې مدعي د لقطه د ملكيت دعوى اوكړله.نودلته دوې [دوه] شيان (څيزونه) دي.يوملكيت اوبل قبضه، نوكه د ملكيت دعوى وي.نوبيا به ګواهان ضروري وو.خودلته خوپه ملكيت كې جګړه نشته. البته په قبضه كې جګړه ده.چه مدعي د ملتقط نه قبضه غواړي.اوملتقط ورته قبضه نه وركوي .نوددې لپاره به دومره كافي وي.چه مدعي ورته د لقطه نښانه بيان كړي.چه زما د څيزدا نښانه اوعلامه ده.نوبيا به قاضي ملتقط ته د لقطې سپارلوحكم كوي﴾

وَلَنَا أَنَّ الْيَدَ حَقٌّ مَقْصُودٌ كَالْمِلْكِ فَلَا يُسْتَحَقُّ إِلَّا بِحُجَّةٍ وَهُوَ الْبَيِّنَةُ اعْتِبَارًا بِالْمِلْكِ إِلَّا أَنَّهُ يَحِلُّ لَهُ الدَّفْعُ عِنْدَ إِصَابَةِ الْعَلَامَةِ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ } ([1])

حل اللغة: ① **الاصابة**: رسيدل ② **عفاص**: كسوړه

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه قبضه حق مقصودي دې.پشان د ملك. نو مستحق كيږي ﴿مدعي دقبضې﴾ مګرپه دليل سره،اوهغه ﴿دليل﴾ ګواهان دي.د امله دقياس نه په ملك باندې، ﴿يعنې لكه څنګه چې ملكيت د ګواهانونه بغيرنه ثابتيږي.دغه ډول به قبضه هم بغيرد ګواهانونه نه صحيح كيږي .اوكه ته دا وائې.چه هركله بغيرد ګواهانوقانمولونه دمدعي قبضه نه صحيح كيږي.نوبيا دلقطه د نښانه خودلو فائده څه شوه؟نودهغې ځواب دا وركوي.چه﴾ البته دومره ده چې جائز دي دده ﴿ملتقط﴾ لپاره وركول ﴿دلقطه مدعي ته﴾ په وخت د صحيح كيدو د نښې. ﴿يعنې چې مدعي كومه نښانه اوښائي.چه كوم څيزتا موندې دې. هغه زما دې. او د هغې دا نښانه ده.اوهغه نښانه صحيح وي.نودملتقط لپاره لقطه وركول جائزشو﴾ د امله دقول د نبي ﷺ نه،چه كه راغلومالك ددې ﴿لقطه﴾ اوخودنه ئې اوكړله دهغې د كسوړې ﴿چه په فلانې ډول لوښي يا شي كې وه﴾ او شمرئې اوكړلو دهغې ﴿چه د لقطه مقدار دومره دې﴾ نو ورئې كړه هغه ﴿معرف﴾ ته،

وَهَذَا لِلْإِبَاحَةِ عَمَلًا بِالْمَشْهُورِ وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي } ([2]) الْحَدِيثَ

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿قول دنبي ﷺ چې ورئې كړه﴾ لپاره داباحت دې. ﴿يعنې حكم نه دې.كله چې مدعي د لقطه نښانه اوخودله.نوكه ته ئې وركوي.ستا لپاره وركول مباح اوجائزدي.دا نه چې وركول واجب دي.اوداحكم د نبي ﷺ په اباحت باندې حمل كوو.په وجوب باندې ئې نه حمل كوو﴾ لپاره دعمل كولوپه مشهورحديث باندې اوهغه قول د نبي ﷺ دې.چه ګواهان په مدعي دي. ولوله حديث تر آخره پورې ﴿يعنې اوقسم په منكردې.نوپه دې زيربحث مسئله كې هم څوك چې د ملكيت دعوى كوي.د دې حديث مطابق په هغه باندې ګواهان پيش كول ضروري دي.خكه چې دې مدعي دې.اومدعي لپاره دخپلې مدعا په ثابتولوباندې دګواهانو اړتيا وي.اوامام شافعي رحمه الله چې كوم حديث مستدل ګرځولې دې.دهغې نه مدعي ته صرف د لقطه په نښانه خودلو باندې دهغې د وركولووجوب معلوميږي.نوپه حديثونوكې تعارض راغلة.نود تعارض ختمولو لپاره مودامام شافعي رحمه الله مستدل په اباحت باندې حمل كړلو.اوحديث مشهور په وجوب باندې.﴾

وَيَأْخُذُ مِنْهُ كَفِيلًا إِذَا كَانَ يَدْفَعُهُ إِلَيْهِ اسْتِيثَاقًا، وَهَذَا بِلَا خِلَافٍ؛ لِأَنَّهُ يَأْخُذُ الْكَفِيلَ لِنَفْسِهِ، بِخِلَافِ التَّكْفِيلِ لِوَارِثٍ غَائِبٍ عِنْدَهُ

ژباړه وتشريح:- اووابه اخلي ﴿ملتقط﴾ دده ﴿مدعي﴾ نه ذمه وار ﴿كه دا لقطه دده نه وه.اوددې بل مالك پيدا شو.نوته به ئې ذمه وارئې﴾ كله چې وركوي ﴿ملتقط﴾ دغه لقطه ده ﴿مدعي﴾ ته. لپاره د محكم

---

[1]) من حديث ابى بن كعب رضي الله عنه أخرجه مسلم فى اللقطة رقم (٥٨١٤)_

[2]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه البيهقى فى السنن الكبرى (١٥/٥٤١) رقم (١٠٨٠٣)_

کاوه ﴿دخبري﴾ او دا ﴿دذمه واراخستل﴾ بغیرداختلاف نه دی. ﴿دټولوامامانوپه نیزذمه واراخستل صحیح پکاردی﴾ ځکه چې دې ﴿ملتقط﴾ اخلی ذمه وار لپاره دخپل ځان، ﴿یعنی فائده ئې ده ته راجع ده.مثلاً که سهار خدائي دې نه کې (نکړي)دمدعی دروغ ثابت شي.نوپه ملتقط باندې تاوان نه وي﴾ په خلاف د ذمه وارنیولو لپاره د وارث چې غائب وي دده ﴿مورث﴾ نه ﴿یعنی که دمړي میراث وارث ته ورکوي .نود وارث نه په دې خبره ذمه وار نه اخلي.چه یقیناً دې د مړي وارث دې.اوبل څوك نشته.ځکه چې دمیراث په مسئله کې چې کوم وارث موجود دې. دهغه حق ثابت دې.اودا یوه وهمي خبره ده.چه کیداې شي بل وارث هم وي.نوثابت څیزبه دوهمي شي لپاره نشي موقوف کولې.اوپه زیربحث مسئله کې د مدعی سره چونکه ګواهان نشته.نودده حق ثابت نه دې.نودا احتمال کیداې شي.چه ددې لقطه مالك بل څوك وي.نوچونکه دلته د مدعی حق ثابت نه دې.ځکه که د مدعی نه ذمه واراخلي.نودا صحیح ده﴾

دمدعي دتصدیق نه روسته هغه ته دلقطه ورکولوحکم

وَإِذَا صُدِّقَهُ قِيلَ لَا يُجْبَرُ عَلَى الدَّفْعِ كَالْوَكِيلِ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ إِذَا صَدَّقَهُ.

ژباړه وتشریح:- اوکله چې تصدیق اوکړي ﴿ملتقط دمدعی﴾ نوونیلی شوي دي چې نه به شي مجبوره کولې ﴿ملتقط﴾ په ورکولو ﴿دلقطه مدعی ته﴾ پشان دوکیل په قبض کولود امانت کله چې تصدیق اوکړي دهغه ﴿وکیل مودع،یعنی مثلاً زید دخالد سره امانت کیخودلو.اوبیا بل کس راغلو.دا ئې اوونیل.چه زه د زید وکیل یم.هغه رالیږلي یم.دهغه امانت ماته راکړه.اوخالد ئې تصدیق هم اوکړي.خود تصدیق نه روسته هم خالد په دې باندې نشي مجبوره کولې.چه ده ته امانت ورکړي﴾

وَقِيلَ يُجْبَرُ لِأَنَّ الْمَالِكَ هٰهُنَا غَيْرُ ظَاهِرٍ وَالْمُودِعُ مَالِكٌ ظَاهِرًا،

ژباړه وتشریح:- اوونیلی شوي دي چې مجبوره کولې به شي ﴿کله چې ملتقط تصدیق اوکړي دمدعی﴾ ځکه چې مالك په دې باب ﴿دلقطه﴾ کې ،ښکاره نه دې. ﴿ځکه چې ملتقط ته پته نه لګي.چه واقع دا ددې لقطه مالك دې﴾ اومودع ﴿په مسئله دامانت کې﴾ مالك دې ښکاره ﴿ځکه چې هغه ورته په خپل لاس امانت ورکړې وو.نومودع ته پته ده.چه دا د فلاني امانت دې﴾

وَلَا يَتَصَدَّقُ بِاللُّقَطَةِ عَلَى غَنِيٍّ لِأَنَّ الْمَأْمُورَ بِهِ هُوَ التَّصَدُّقُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {فَإِنْ لَمْ يَأْتِ} يَعْنِي صَاحِبَهَا، {فَلْيَتَصَدَّقْ بِهِ} وَالصَّدَقَةُ لَا تَكُونُ عَلَى غَنِيٍّ فَأَشْبَهَ الصَّدَقَةَ الْمَفْرُوضَةَ

ژباړه وتشریح:- ﴿هرکله چې د اعلان او تشهیرنه روسته هم مالك پیدا نشي.نوپه دې صورت کې﴾ اوصدقه کولې به نشي لقطه په غنی باندې.ځکه چې دکوم څیزحکم ورکړې شوې دې ﴿یعنی نبی ﷺ ئې حکم ورکړې دې﴾ هغه صدقه کول دی.د امله دقول دنبی ﷺ نه ﴿په اړه د لقطه کې﴾ که رانغلو یعنی مالك ددې ﴿لقطه داعلان او تشهیرنه پس﴾ نوصدقه دې اوکړي ﴿ملتقط﴾ په هغې ﴿لقطه﴾ اوصدقه نه کیږي په مالداراباندې نه کیږي. نو دغه ډول به دلقطه صدقه هم په مالداراباندې جائز نه وي﴾ مالداراباندې نو مشابه شوه دا صدقه د فرضي صدقې سره، ﴿اوفرضي صدقه لکه زکاة وغیره په

{وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ غَنِيًّا لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا} وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي حَدِيثِ أُبَيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ {فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِلَّا فَانْتَفِعْ بِهَا} وَكَانَ مِنَ الْمَيَاسِيرِ،

حل اللغة: ① المیاسر: شتمن

ژباړه وتشریح:- اوکه چیرته وي ملتقط د مالدارنوځني نو جائز نه دی دده ﴿ملتقط﴾ لپاره چې فائده واخلي ددې ﴿لقطه﴾ نه،اوفرمائي امام شافعي رحمه الله جائزده ﴿چه مالدارملتقط دلقطه نه فائده واخلي﴾ د امله د قول د نبی ﷺ نه په حدیث دابي بن کعب رضی الله عنه کې که چیرته راغلۀ مالك ددې ﴿لقطه﴾ نو ورئې کړه ﴿اې ملتقطه﴾ هغه ﴿مالك﴾ ته.اوکه رانغلۀ نوفائده اخله ته په هغې ﴿لقطه﴾ سره،اووو ﴿حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه﴾ د مالدارانو ځني،

وَلِأَنَّهُ إِنَّمَا يُبَاحُ لِلْفَقِيرِ حَمْلًا لَهُ عَلَى رَفْعِهَا صِيَانَةً لَهَا وَالْغَنِيُّ يُشَارِكُهُ فِيهِ.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې شان دا دې يقينا مباح ګرځولې شي ده ﴿فائده اخستل﴾ د فقير لپاره ﴿دلقطه نه﴾ لپاره د اماده كولو ده ﴿فقير﴾ په اوچتولو ﴿دلقطه﴾ چې ساتنه اوشي ددې ﴿لقطه.يعنى دفقير لپاره د لقطه نه فائده اخستل ددې لپاره جائزشوې ده.چه فقيربه ددې لالچ د امله لقطه راوچته كړي.كه مالك ئې پيدا نشو .نوزه به ترې فائده واخلم.اوپه دې طريقه به د لقطه ساتنه اوشي﴾ اومالدار شريك دې دده ﴿فقير﴾ سره په دې ﴿ساتنه كې ،يعنى لكه څنګه چې د فقيرپه راوچتولوباندې لقطه محفوظ كيږي.نودغه ډول د توانګر په راوچتولوسره هم لقطه محفوظ كيږي.نولكه څنګه چې دفقير لپاره د لقطه نه نفع اخستل جائز دي.دغه ډول به دمالدار لپاره هم جائز وي﴾

وَلَنَا مَالُ الْغَيْرِ فَلَا يُبَاحُ الِانْتِفَاعُ بِهِ إِلَّا بِرِضَاهُ لِإِطْلَاقِ النُّصُوصِ وَالْإِبَاحَةُ لِلْفَقِيرِ لِمَا رَوَيْنَاهُ، أَوْ بِالْإِجْمَاعِ

ژباړه وتشريح:- اوزموږ ﴿دحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه دا ﴿لقطه اوتذكيرد ضمير په اعتبارد مال سره دې﴾ مال د بل دي ﴿چه مالك غائبه دې﴾ نو نه مباح كيږي فائده اخستيل په دې ﴿مال دغير﴾ مګرپه رضا ﴿دمالك﴾ د امله داطلاق دنصوصو نه ﴿چه هغې حرام كړې دي تعرض كول دبل مال ته مګرپه رضا دهغه لكه الله تعالى چې فرمائيلي دي. «لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ» نو عامه قاعده خودا ده.چه دبل چا مال دهغه داجازت نه بغيرجائزنه دې.البته په زيربحث مسئله كې فقير د دې نه مستثنى دې﴾ اواباحت ﴿دمال د غير﴾ دفقير لپاره راغلې دې.د امله دهغه حديث نه چې موږ ئې روايت كړې دې. ﴿چه نبى ﷺ د لقطه په اړه كې فرمائيلي دي.چه د اعلان نه روسته د لقطه مالك پيدا نشي.نوهغه دې صدقه كړي.نومعلومه شوه.چه لقطه اباحت جائزدې.خودصدقه په حيثيت چې په چا باندې صدقه كيږي. هغه ته وركړې شي﴾ اويا په اجماع باندې ﴿يعنى لقطه په فقيرباندې جائزده په مالدارجائزنه دي﴾

فَيَبْقَى مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْلِ، وَالْغَنِيُّ مَحْمُولٌ عَلَى الْأَخْذِ لِاحْتِمَالِ افْتِقَارِهِ فِي مُدَّةِ التَّعْرِيفِ، وَالْفَقِيرُ قَدْ يَتَوَانَى لِاحْتِمَالِ اسْتِغْنَائِهِ فِيهَا

حل اللغة: ① **يتوانى:** كوتاهي كوي

ژباړه وتشريح:- نوپاتې به پاتې شي هغه چې سوا وى دده ﴿فقير﴾ نه خپل اصل باندې ﴿چه د توانګر لپاره صدقه جائزنه ده﴾ اومالدارحمل كړې شوي دي په اخستلوباندې د امله داحتمال د فقيركيدو دده ﴿ملتقط﴾ په مودۀ د تشهيركې ، ﴿يعنى كه د لقطه راخستو په وخت كې اګرچه ملتقط مالداروي.خوبيا هم دې په اميد لقطه راخلي .چه كيداې شي د يوكال تشهيرپه موده كې زه غريب شم.نودا لقطه به ماته پاتې شي.اوزه به پرې نفع واخلم﴾ اوفقيركله هغه سستي كوي ﴿په راخستودلقطه كې﴾د امله داحتمال دغنى كيدو دده ﴿فقير ملتقط﴾ په دې ﴿موده دتشهيركې ،يعنى كله فقيرددې امله دلقطه په راخستوكې) بې غورى او سستي كوي.چه فى الحال اګرچه زه فقيريم.خوچه ددې دتشهيريوكال تيريږي.نو كيداې شي.چه په دغه مهال كې زه توانګر شم. نو بيا به ددې لقطه نه زه فائده نشم اخستې.يعنى دمالداراوغريب دواړه لقطه راخستوكې دا احتمال شته.چه كيداې شي.چه دوى ددې لقطه نه فائده واخلي.اودا احتمال هم شته.چه كيداې شي.ددې لقطه نه دفائدې اخستلوجواز دوى لپاره پاتې نشي﴾

وَانْتِفَاعُ أُبَيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ بِإِذْنِ الْإِمَامِ وَهُوَ جَائِزٌ بِإِذْنِهِ

ژباړه وتشريح:- ﴿اوپاتې پاتې شودحضرت ابى بن كعب ؓ روايت چې نبى ﷺ هغه ته دا فرمائيلي وو.چه كله يوكال ته د لقطه تشهيراوكړې.نوبيا ستا لپاره ددې نه نفع اخستل جائزدى.نودهغې نه ځواب دا دې.چه﴾

اونفع اخستل د ابی بن كعبؓ وه په حكم د امام «چه نبیﷺ وو په هغه وخت كې» اودا «نفع اخستل د لقطه نه» جائزده په حكم دده «امام»

دفقير لپاره د لقطه نه دنفعې اخستلوجواز

(وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ فَقِيرًا فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا) لِمَا فِيهِ مِنْ تَحْقِيقِ النَّظَرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ وَلِهٰذَا جَازَ الدَّفْعُ إِلَى فَقِيرٍ غَيْرِهِ

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى ملتقط فقير،نو نشته باك په دې چې فائده واخلى ددې «لقطه» نه ځكه چې په دې «نفع اخستلوكې د لقطه نه» كوښښ كول دى په خيكړه كې د دواړو طرفونو «چه اړخ د ملتقط دې چې ده لپاره ترې نفع اخستل جائز شو.او اړخ دمالك دې ځكه چې ده ته به ثواب ملاؤ شى» اوددې امله «چه په دې كې د جانبينوخيكړه ده» جائزدى وركول ددې «لقطه» فقيرته سوا ددې «ملتقط» نه، «يعنى لكه څنګه چې دملتقط لپاره چې دې فقيروى.ددې لقطه نه نفع اخستل جائز دى.دغه ډول كه دده نه سوا بل فقيروى.هغه ته وركړې شى.نوهغه لپاره ترې هم نفع اخستل جائزده»

(وَكَذَا إِذَا كَانَ الْفَقِيرُ أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ أَوْ زَوْجَتَهُ وَإِنْ كَانَ هُوَ غَنِيًّا) لِمَا ذَكَرْنَا، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول «حكم دې» كله چې وى فقيرپلاردده «ملتقط» يا ځوئې دده،اويا ښځه دده،اګرچه وى دې «ملتقط په خپله» مالدار،دهغه امله نه چې موږ ذكركړله «چه په دې صورت كې دجانبينوفائده ده.فقيرته د نفعې اخستلوفائده ده.اومالك ته د ثواب ملاويدو فائده ده» الله تعالى ښه پوهيږى.

كِتَابُ الْإِبَاقِ

ژباړه وتشريح:- «دا» كتاب دتختيدلى غلام «د احكامو په بيان كې» دې.

دتختيدلى اوورك شوى غلام د رانيولوحكم

(الْآبِقُ أَخْذُهُ أَفْضَلُ فِي حَقِّ مَنْ يَقْوَى عَلَيْهِ) لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَائِهِ، وَأَمَّا الضَّالُّ فَقَدْ قِيلَ كَذَلِكَ، وَقَدْ قِيلَ تَرْكُهُ أَفْضَلُ لِأَنَّهُ لَا يَبْرَحُ مَكَانَهُ فَيَجِدُهُ الْمَالِكُ وَلَا كَذَلِكَ الْآبِقُ

حل اللغة: ① الضال ورك شوې څيز ② احياء ژوندى كول ③ لايبرح همېشه به وى

ژباړه وتشريح:- تختيدلى غلام رانيول دده غوره دى «چه دې راونيسى» په حق دهغه چا كې چې وى مضبوط په هغه «غلام» باندې، «يعنى چې وړ نيسى.اودنيولونه روسته ئې ساتنه كولې شى» ځكه چې په دې «رانيولو» كې ژوندى كيدل دده «غلام دى،په حق دمولى كې ،يعنى كله چې غلام د خپل مالك نه اوتختى.نومالك دهغه نه فائده نشى اخستې.نودا داسې شوه.لكه چې سړې د مړى نه فائده نشى اخستې.نوغلام آبق په حق د عدم نفع كښې د ميت سره مشابه شو» اوهرچه ورك شوې غلام دې نوونيلې شوى دى چې دغه ډول حكم دې «يعنى دده رانيول غوره دى.ځكه چې په دې كې دمولى لپاره ددې ورك شوى غلام ژوندون دې» اوونيلې شوى دى چې پريښول دده «ورك شوى غلام» غوره دى «درانيولونه» ځكه چې دې «ورك شوى غلام» به په ځائې باندې موجود وى «دهغې څخه به نه اخوا ده «عبدضال لره» مالك «دده» اونه دې دغه ډول تختيدلى غلام «ځكه چې هغه دخپل مالك نه پټيږى.نودعبدآبق رانيول غوره دى.دپريخودو نه»

ثُمَّ آخِذُ الْآبِقِ يَأْتِي بِهِ إِلَى السُّلْطَانِ لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى حِفْظِهِ بِنَفْسِهِ، بِخِلَافِ اللُّقَطَةِ، ثُمَّ إِذَا رُفِعَ الْآبِقُ إِلَيْهِ يَحْبِسُهُ، وَلَوْ رُفِعَ الضَّالُّ لَا يَحْبِسُهُ لِأَنَّهُ لَا يُؤْمَنُ عَلَى الْآبِقِ الْإِبَاقُ ثَانِيًا، بِخِلَافِ الضَّالِّ

ژباړه وتشريح:- بيا رانيونكي د تختيدلي غلام ﴿يعنې چې چانيولې وي﴾ رابه ولي دې ﴿عبدآبق﴾ لره بادشاه ته،ځكه چې دې ﴿آخذ﴾ قدرت نه لري د ساتنه دده ﴿عبدآبق﴾ په خپله ﴿ځكه غلام خوېه ځېنه خوښه نه ايساري.نودده لپاره به د محفوظ ځاني اړتيا وي.دځوكيدار اړتيا وي.دخوراك ځكان اړتيا وي﴾ په خلاف د لقطه ﴿ورك شوې ځيز،ځكه چې لقطه خوبي جان ځيزدي.د سركشئ اوتختيدو ويره په كي نشته .نوملتقط به لقطه دځان سره ساتي﴾ بيا كله چې بوتلې شي تختيدلي غلام بادشاه ته،نوقيد به ني كړي ﴿امام﴾ اوكه بوتلي شو ﴿بادشاه ته﴾ ورك شوي غلام نونه به ني بندوي.ځكه چې نشته امن په تختيدلي غلام دتختيدو نه ﴿بلكه هغه خوچه كله هم موقع بيا مومي.نوتختي به﴾ په خلاف د ورك شوي غلام ﴿ځكه چې هغه خودخپل مالك نه تختيدل نه غواړي.بلكه هغه سره ملاويدل غواړي.ځكه خودا وائي.چه زه دخپل مالك نه ورك شوې يم.نوځكه به نشي بندولي﴾

دعبدآبق باندې دخرچ شوي مال دمطالبه حكم

قَالَ ﴿وَمَنْ رَدَّ الْآبِقَ عَلَى مَوْلَاهُ مِنْ مَسِيرَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا فَلَهُ عَلَيْهِ جُعْلُهُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا، وَإِنْ رَدَّهُ لِأَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ فَبِحِسَابِهِ﴾ وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ﷺ اوچا چې واپس كړلو عبدآبق خپل مالك ته.د مسافه د درې ورځونه يا زيات ويددې ﴿درې ورځو دمسافت﴾ نه ﴿يعنې په كوم ځاني كي چې ني عبد آبق نيولي وي .دهغه ځاني نه دې دمالك دځاني پورې د درې ورځو مسافه اومزل وي﴾ نودده ﴿عبدآبق نيونكي﴾ لپاره په ده ﴿مالك دغلام﴾ باندې خرچه دده ﴿عبدآبق﴾ ده څلويښت روپۍ . ﴿يعنې كه د درې ورځوپه مسافه يا ددې نه زياته فاصله وه.نومالك به دې رانيونكي ته څلويښت روپۍ وركوي﴾اوكه واپس ني كړلو ﴿دغه عبدآبق خپل مالك ته﴾ په كم مسافه ددې ﴿مسافه د درې ورځو﴾ نه،نو ﴿خرچه به وركوي﴾ په حساب دهغې ﴿څلويښت روپو به وركوي.مثلاً كه د يوې ورځې په مسافه باندې د لري ځاني نه ني راوستې وي.نوڅلويښت چې په دريو ويش كړې شي.څه سريبره ديارلس روپۍ راځي.نوڅه سريبره ديارلس روپۍ خرچه به ورته وركوي.دغه ډول كه د يوې نيمې ورځې مسافه وي.نوشل روپۍ به وركوي﴾ اودا ﴿حكم د څلويښتو روپو وركولو﴾ استحسان دې. ﴿عالمانونه ګڼرلي دې.اودصحابه كرامو﷜ پرې اتفاق دې﴾

وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَكُونَ لَهُ شَيْءٌ إِلَّا بِالشَّرْطِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ بِمَنَافِعِهِ فَأَشْبَهَ الْعَبْدَ الضَّالَّ.

ژباړه وتشريح:- اوقياس دا دې.چه نه دې وي دده ﴿آخذ دعبدآبق﴾ دپاره،هيڅ ځيز،مګرپه شرط سره،اودا ﴿د شرط لګولونه بغيرآخذ د څه حقدار نه دې.نودا﴾ قول د امام شافعي﷫ هم دې. ﴿يعنې چې يوكس دتختيدلي غلام مالك ته اووائي.چه زه به تاته ستاغلام راولم.خوماته به څه راكوي.نوچه مالك ورسره په څه باندې جوړه اوكړله.هغه به ورته وركوي.اوكه دشرط لګولواوجوړې لګولونه بغيرده دخپله اړخه عبد آبق اونيولو.نو﴾ دې ﴿رانيونكي﴾ احسان كونكي دې په منافعو دده ﴿عبدآبق.يعنې ده دغلام منافع خپل مالك ته واپس كړې.نودا رانيونكي په خپل دې كاركي په مالك دغلام باندې احسان كونكي دې﴾ نومشابه شو د ورك شوي غلام سره ﴿نولكه څنګه چې يوغلام ورك شوې وي.اويوكس هغه خپل مالك ته بوځي.نودغه نيونكي كس لپاره د ورك شوي غلام نه دڅه اخستلوحق نشته.ځكه چې دا خو ده يودثواب كاراوكړلو.اواحسان ني اوكړلو.نودغه ډول حكم به د عبدآبق په واپس راوستوكي هم وي﴾

وَلَنَا أَنَّ الصَّحَابَةَ رِضْوَانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ اتَّفَقُوا عَلَى وُجُوبِ أَصْلِ الْجُعْلِ، إِلَّا أَنَّ مِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ أَرْبَعِينَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَوْجَبَ

مَادُونَهَا، ( ) فَأَوْجَبْنَا الْأَرْبَعِينَ فِي مَسِيرَةِ السَّفَرِ وَمَا دُونَهَا فِيمَا دُونَهُ تَوْفِيقًا وَتَلْفِيقًا بَيْنَهُمَا،

حل اللغة: ① الجعل خرچه ② مسيرة: فاصله ③ تلفيف: نرمي كول

زياده وتشريح:- او زمونږ «د احنافو» دليل دا دې چه صحابه كرام ؓ متفق شوى وو په وجوب د نفس خرچې «يعني په دې باندې خوواړه متفق دى چه كوم كس تخيتدلي غلام خپل مالك ته راولي. نو مالك به ورته پيسې وركوي» البته دومره ده چې په دوى «صحابو ؓ» كې هغه څوك دى چې واجب كړې ئې دى څلويښت روپۍ «چه مالك به آخذ ته څلويښت روپۍ وركوى. لكه حضرت عمر ؓ شو» او په دوى كې هغه څوك دى چې واجب كړې ئې دى كمې ددې «څلويښتو» نه، «لكه حضرت علي ؓ شو» نو مونږ واجب كړلي څلويښت روپۍ په مسافه د سفر كې «چه درې ورځې دى» او كمې «روپۍ مو واجب كړې» په هغه «مسافت» كې چې كم وى د دې «مسافه د سفر» نه، لپاره د موافقت راوستلو «په مينځ د آثارو كښې» او دجمعې راوستلو په مينځ

ددې دواړه قسمه رواياتو كې «چه روايت د څلويښت روپو دې اوروايت د څلويښتو نه د كمو روپو دى»

وَلِأَنَّ إِيجَابَ الْجُعْلِ أَصْلُهُ حَامِلٌ عَلَى الرَّدِّ إِذِ الْحِسْبَةُ نَادِرَةٌ فَتَحْصُلُ صِيَانَةُ أَمْوَالِ النَّاسِ

زياده وتشريح:- او بله دا چې واجب كول د خرچه په حقيقت كې باعث دې په واپس كولو «د عبد آبق خپل مالك ته، يعني چې يو كس ته دا پته لګي. چه زه مالك ته د هغه غلام وروړلم. نو ما ته به ضروري زما خرچه راكوي. نو ددې امله هغه كس عبد آبق رانيسي. او كله چې هغه ته دا پته اولګي. كه غلام خپل مالك ته وروړلم نو هم راته څه نه راكوي. نو بيا هغه د غلام په رانيولو كې دلچسپي نه اخلي» څكه چې نيت د ثواب ډير كم وى «يعني ډير كم خلګ داسې وى. چه صرف د ثواب په نيت به دچا تختيدلي غلام اونيسي. او خپل مالك ته به ئې بغير د څه لالچ نه اورسوى» نو راخي «په دې طريقه چې په مالك باندې خرچه واپس واجب كړې شي» ساتنه د مالونو د خلګ و. «چه د ضائع كيدونه به بچ شي»

وَالتَّقْدِيرُ بِالسَّمْعِ وَلَا سَمْعَ فِي الضَّالِّ فَامْتَنَعَ،

زياده وتشريح:- «او امام شافعي ؒ چې په ورك شوى غلام باندې قياس كړې دې. چه لكه څنګه د ورك شوى غلام خپل مالك ته په واپس كولو كې په مالك باندې څه نشته. دغه ډول به د تختيدلي غلام په واپس كولو هم نه وي. نو دا قياس مع الفارق دې. تفصيل ئې دا بيانوي» او مقرر كول «د يو مقدار» ثابتيږي په اوريدو سره «يعني د شريعت په شرعي مقاديرو كې عقل او قياس كار نه كوي. بلكه څه چې د شارع ؑ نه منقول وي. او اوريدلي شوې وي. هم هغه به مقرر كولې شي. لكه د صدقة الفطر نصاب شو. دغه ډول د زكاة د مختلفو جنسونو زكاة شو. دا واړه سماعي دى قياسي نه دى» او نشته سمع په اړه د ورك شوى غلام كې، نو جائز نه شو «قياس د عبد آبق په عبد ضال باندې. او په عبد آبق كې هم قياس دا وو. چه په مالك باندې د عبد آبق په راوستونكي څه خرچه مقرر نكړې شي. څكه چې مالك خو ورته دا نه دې وئيلي. چه ته زما غلام راوله. خو بيا هم مونږ هلته قياس پريخودو. څكه چې نص موجود وو. چه د صحابه ؓ اتفاق دې. او په عبد ضال كې چونكه سمع يعني نص نشته. نو دا به په اصل قياس پاته وي. چه عدم وجوب دې. نو لنډيز دا شوه. چه د عبد آبق قياس په عبد ضال باندې جائز نشو»

وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى صِيَانَةِ الضَّالِّ دُونَهَا إِلَى صِيَانَةِ الْآبِقِ لِأَنَّهُ لَا يَتَوَارَى وَالْآبِقُ يَخْتَفِي،

حل اللغة: ① الصيانة حفاظت ② يتوارى پټيږي ③ يختفي پټيږي

١) فعن ابن مسعود ؓ وجوب أربعين أخرجه عبدالرزاق فى مصنفه وكذا البيهقى فى سننه الكبرى (٣٣٠١٦) وعن عمر ؓ وجوب دينار أو إثنى عشر درهما أخرجه ابن ابى شيبة فى مصنفه (نصب:٣/٧١٤١)_

ژباړه وتشريح:- اوځکه «د عبدآبق قياس په عبدضال باندې نه صحيح کيږي» چې اړتيا د ساتنه د ورك شوي غلام کم دې د دې «حاجت» نه ساتنه د تختيدلي غلام نه، «يعنى دورك شوي غلام ساتنه د تختيدلي غلام په نسبت آسان دې» ځکه چې دې «عبدضال» نه پټيږي اوتختيدلي غلام پټيږي «نو د تختيدلي غلام په ساتنه باندې خرچه زياته راځي.ځکه دمحفوظ ځائې اړتيا به وي. د ځوکيدار اړتيا به وي»

وَيُقَدَّرُ الرَّضْخُ فِي الرَّدِّ عَمَّا دُونَ السَّفَرِ بِاصْطِلَاحِهِمَا أَوْ يُفَوَّضُ إِلَى رَأْيِ الْقَاضِي وَقِيلَ تُقْسَمُ الْأَرْبَعُونَ عَلَى الْأَيَّامِ الثَّلَاثَةِ إِذْ هِيَ أَقَلُّ مُدَّةِ السَّفَرِ.

حل اللغة: ① **الرضخ:** کم مسافه ② **يفوض:** سپارلې شي

ژباړه وتشريح:- اواندازه کولې به شي کم مسافه په واپس کولوکي چې کم وي د مسافه دسفرنه،په رضامندئ د دواړو «يعنى کله چې زيد د بکرتختيدلې غلام د دومره لرې نه راولي.چه دهغه ځائې اومالك په مينځ کې د دريو ورځو نه کم مسافه وي.نوپه دې صورت کې چې د واپس کونکی اومالك په څومره خرچه باندې اتفاق راغلو.هغه هومره خرچه به دغلام مالك هغه کس ته ورکوي.چه غلام ئې ده ته واپس راوستې وي» اويا به اوسپارلې شي «مقررکول دخرچې» رائې د قاضي ته «نوچه قاضي په مالك باندې څومره خرچه مقررکړه.هغه به پرې لازم وي» اوونيلې شوي دي چې تقسيمولې به شي څلوېښت «روپئ» په دريو ورځو باندې «نودهرې ورځې په مقابله کې ديارلس روپئ اود روپئ دريمه برخه شوه» ځکه چې دا «درې ورځې» کمه مودهٔ د سفر ده. «هم دا وجه ده.چه کله يو مسافه د درې ورځو برابر يا ددې نه زيات وي.نوچه څوك دومره مسافه کوي.هغه ته مسافر وئيلې شي»

دغلام قيمت د څلوېښتو روپونه د کموالي صورت

قَالَ (وَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ يُقْضَى لَهُ بِقِيمَتِهِ إِلَّا دِرْهَمًا) قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَهَذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري» رحمه الله اوکه چيرته وي قيمت دده «غلام» کم د څلوېښتو روپو نه، نو فيصله به کولای شي دده «واپس راوستونکي» لپاره په قيمت دهغه «چه څلوېښت روپئ دی» مګريوه روپئ «به کمه ورکوي.يعنى ديوکم څلوېښتو روپوقيمت به ئې مقررکولې شي» اودا «ورکول د يوکم څلوېښت روپو» قول دامام محمد رحمه الله دی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ: لَهُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا،[1] لِأَنَّ التَّقْدِيرَ بِهَا ثَبَتَ بِالنَّصِّ فَلَا يُنْتَقَصُ عَنْهَا وَلِهَذَا لَا يَجُوزُ الصُّلْحُ عَلَى الزِّيَادَةِ، بِخِلَافِ الصُّلْحِ عَلَى الْأَقَلِّ لِأَنَّهُ حَطٌّ مِنْهُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلي دي امام ابويوسف رحمه الله دده «واپس راوستونکي» دپاره،څلوېښت روپئ دي «اګرچه دغلام قيمت دڅلوېښتونه کم وي» ځکه چې اندازه کول «دخرچې» په دې «څلوېښتو روپو» ثابت شوي دي په نص سره «چه آثارد صحابو ﷺ دي» نونه به شي کمولې ددې «څلوېښتو روپو» نه،اوددې امله «چه څلوېښت روپئ منصوص عليه دي» نه ده جائزه صلح «په مينځ د واپس کونکی اومالك کې» په زياتی سره «ددې څلوېښت روپو،يعنى کله چې د غلام راوستونکې کس د درې ورځود مسافه په لرې والي باندې تختيدلې غلام خپل مالك ته راولي.او د راوستونکی اومالك په مينځ کې دڅلوېښتو روپونه په زياته باندې فيصله اوشي .مثلاً مالك ورته وائي.چه زه به تا ته پنځه څلوېښت روپئ درکړم.نودا هم جائزنه ده.ځکه منصوص عليه څلوېښت روپئ دی.دهغې څخه به زيادت نشي کولې» اوپه خلاف د صلح «په مينځ د واپس راوستونکی اومالك» په کمو «د څلوېښتو روپو» باندې، «يعنى چې

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبى يوسف رحمه الله كذا فى فتح القدير(٥\٤٤٦) و ردالمحتار(٣\٤٠٦) والدرالمختار(٣\٤٠٦) و رد المحتار(٣\٤٠٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٠٩)-

کوم کس غلام واپس راوستې وي. هغه دمالك سره په دې راضي شي.چه دڅلويښتو نه کمې روپۍ مثلاً ديرش به راوستونکي دغلام ته ورکړي.نودا جائزده﴾ ځکه چې دا خودهغې ﴿څلويښت روپو﴾ نه کمې دي. ﴿اوبه دې کې څه قباحت نشته﴾

وَمُحَمَّدٌ أَنَّ الْمَقْصُودَ حَمْلُ الْغَيْرِ عَلَى الرَّدِّ لِيُحْيَا مَالُ الْمَالِكِ فَيَنْقُصُ دِرْهَمٌ لِيَسْلَمَ لَهُ شَيْءٌ تَحْقِيقًا لِلْفَائِدَةِ

ژباړه وتشريح:- اوامام محمد ﷫ لپاره دليل دا دې.چه مقصود مائل کول د بل کس دى په واپس کاوه ﴿دعبدآبق خپل مالك ته﴾دې لپاره چې ژوندې شي مال د مالك ﴿يعنى عبدآبق دمالك په حق کې پشان د مړي دې.ځکه چې لکه څنګه سړې د مړي نه فائده نشي اخستې.دغه ډول مالك دعبدآبق نه فائده نشي اخستې .نودعدم فائدې په اعتبارسره دې دمالك لپاره پشان د مړ دې.خوچه دريمګړي واپس راوستلو .نو دا داسې شو.لکه چې ژوندې شو﴾ نوکمولې به شي ترې يوه روپۍ دې لپاره چې اوسپارلې شي ده ﴿مالك﴾ ته څه معمولي غوندې څيز ﴿چه يوه روپۍ ده﴾ لپاره د ثابتولود فائدې ﴿چه مالك ته هم څه فائده اورسي.اوکه دغلام قيمت څلويښت روپۍ وي.اومالك واپس راوستونکي ته هم څلويښت روپۍ ورکړي.نوپه دې کې خومالك ته هډو څه فائده ملاؤ نشوه.بلکه دا خوداسې شوه.چه مالك يواجنبي غلام چې د څلويښتو روپو وو.هغه ئې واخستلو﴾

دام ولد اومدبردواپس راوستلوحکم

وَأُمُّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرُ فِي هَذَا بِمَنْزِلَةِ الْقِنِّ إِذَا كَانَ الرَّدُّ فِي حَيَاةِ الْمَوْلَى لِمَا فِيهِ مِنْ إِحْيَاءِ مِلْكِهِ، وَلَوْ رَدَّ بَعْدَ مَمَاتِهِ لَا جُعْلَ فِيهِمَا لِأَنَّهُمَا يُعْتَقَانِ بِالْمَوْتِ بِخِلَافِ الْقِنِّ،

ژباړه وتشريح:- او ام ولده اومدبرپه دې مسئله کې پشان د غلام دي. ﴿يعنى که ديوکس نه ام ولده يا مدبرغلام اوتختى.اوبل کس دوى خپل مالك ته واپس راوستل.نوکوم احکام چې دعبدآبق وړاندې تيرشول .هم هغه احکام د ام ولده اومدبرهم دى.خوبه دې شرط﴾ کله چې وى واپس ﴿راوستل د ام ولده او مدبر﴾ په ژوندمولى کې ،ځکه چې په دې ﴿راوستلو﴾ کې ژوندې کول د ملك دده ﴿مالك﴾ دى. ﴿ وړاندې چې د ژوندون تفسيرتيرشو﴾ اوکه واپس ئې کړلو ﴿دا ام ولده يا مدبر﴾ روسته د مرګ دده ﴿مالك﴾ نه، نو نشته خرچه ﴿ورکول راستونکى ته﴾ ځکه چې دا دواړه ﴿که ام ولده ده اوکه مدبر﴾ آزاديږي په مرګ ﴿دمولى﴾ سره، ﴿نومولى ته او د هغه وارثانو ته ترې څه فائده نه ملاويږي.نوواپس راوستونکى ته به خرچه دڅه ورکوي!﴾ په خلاف د غلام ﴿چه ام ولده اومدبرنه وي.بلکه خالص غلام وي.نوکه دې د مولى د مرګ نه روسته هم راوستې شي.نوچونکه دده رقيت دمولى په مرګ سره نه ختميږي.ددې امله وارثان واپس راوستونکى ته خرچه ورکوي.اووارثان به دغه غلام په خپل ميراث کې اخلى﴾

دکومو واپس کونکو لپاره خرچه نشته؟

وَلَوْ كَانَ الرَّادُّ أَبَا الْمَوْلَى أَوْ ابْنَهُ وَهُوَ فِي عِيَالِهِ أَوْ أَحَدَ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ فَلَا جُعْلَ لِأَنَّ هَؤُلَاءِ يَتَبَرَّعُونَ بِالرَّدِّ عَادَةً وَلَا يَتَنَاوَلُهُمْ إِطْلَاقُ الْكِتَابِ.

حل اللغة: ① **يتبرع** احسان کوى ② **عيال** د کور خلق ③ **يتناول** شامليږي

ژباړه وتشريح:- اوکه چيرته وى واپس راوستونکې ﴿دغلام﴾ پلار د مولى اويا ځوئې دهغه ﴿مولى﴾ اووى دې ﴿ځوئې﴾ په اهل د ده ﴿مولى﴾ کې ،اويا وى ﴿واپس راوستونکې﴾ يود زوجينوځنى چې د بل غلام راولى ﴿يعنى ښځه د خاوند تختيدلې غلام راولى.يا خاوند دښځې تختيدلې غلام راولى﴾ نونشته خرچه ﴿دپلار ،اوځوى اوښځې دغه ډول د خاوند دپاره﴾ ځکه چې دا خلګ ﴿کوم چې په متن کې ذکرشول﴾ احسان کوى ﴿په يوبل﴾ په واپس راوستلو ﴿دتختيدلى غلام﴾ په عادت کې ﴿يعنى په عامه توګه داسې وى.چه کله دپلاريا د ځوى يا په ښځه خاوند کې دچا غلام اوتختى.نوهريوکس بغير د څه لالچه دا کوښښ

كوي.چه دغه غلام راپيدا كړي. او واپس ئې كړي﴾ اونه شامليږي دوى ته اطلاق دكتاب ﴿قدوري.يعنى دا قول چه..ومن رد الآبق على مولاه من مسيرة ثلاثة أيام فصاعدا فله عليه جعله أربعون درهما)

د واپس راوستونكي دلاس نه دغلام تختيدلوحكم

قَالَ (وَإِنْ أَبَقَ مِنَ الَّذِي رَدَّهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ لَكِنْ هَذَا إذَا أَشْهَدَ وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي اللُّقَطَةِ.

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوكه اوتختيدلو ﴿غلام﴾ دهغه چانه چې واپس ئې راوستې وو دي.﴿غلام﴾ نو نشته څه څيزېه ده ﴿واپس راوستونكي﴾ باندې،ځكه چې دا ﴿عبدآبق﴾ امانت دې په لاس د ده ﴿واپس راوستونكي﴾ كي ، ﴿اولكه چې د مودع نه امانت ورك شي.يا اوتختى.په هغه باندې ضمان نه وي﴾ خو داحكم ﴿چه د واپس راوستونكي نه غلام اوتختى.نوپه ده باندې ضمان اوتاوان نشته﴾ په هغه صورت كي دې چې دې ګواهان قائم كړى ﴿يعنى كله چې تختيدلې غلام اونيسي.نودا چغه اووهى.چه دا غلام د چانه راتختيدلې دې.كه دچا وى چې حواله ئې كړم ورته.اودده دا اعلان دوو كسانو اوريدلې وى. او هغوى ګواهي وركړى.چه آو ده زموږ په مخ كي دا اعلان كړې وو﴾ اويقيناً موږ ذكركړې ددې ﴿ګواهانو قائمولو﴾ په ﴿كتاب﴾ لقطه كي ، ﴿اوكه د ده په اعلان كولوباندې ګواهان نه وى.نوددې نه خودا معلومه شوه.چه دې كس دا غلام دځپل ځان لپاره رانيولې دې.نودې غاصب شو.اوكله چې دغاصب په لاس كي مال مغصوبه هلاك شى .په هغه باندې ضمان وى.نوپه ده به هم ضمان وى﴾

قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَذُكِرَ فِي بَعْضِ النُّسَخِ أَنَّهُ لَا شَيْءَ لَهُ، وَهُوَ صَحِيحٌ أَيْضًا لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْبَائِعِ مِنَ الْمَالِكِ،

ژباړه وتشريح:- وائى ﴿صاحب دهدايه﴾ رحمه الله اوذكرشوى دى په بعضې نسخوكي چې نشته څه څيزدده ﴿واپس راوستونكي ﴾ دپاره،اوذا ﴿نسخه﴾ هم صحيح ده. ﴿يعنى چې د واپس راوستونكي دلاس نه غلام اوتختى. نو دې دا مطالبه نشي كولې.چه زما په ده باندې خرچه شوې وه.هغه دې ماته راكړې شى﴾ ځكه چې دې ﴿واپس راوستونكي﴾ په معنى د بائع كي دې چې مالك دې ﴿يعنى لكه څنګه چې يوكس دچا نه څه شى واخلى. خو هغه څيزلا دې اخستونكى قبضه كړې نه وى.بلكه هم د بائع په لاس كي وى.اودغه مبيع د بائع په لاس كي هلاكه شى.نوبائع د مشترى نه دهغې دقيمت مطالبه نشى كولې.چه دا شى خوما په تاباندې خرڅ كړې وو .ددې قيمت به راكوې.ځكه چې دغه څيزمشترى ته نه دې سپارلې شوې. نودغه ډول په زيربحث مسئله كي هم دغلام راوستونكې كس د مالك نه د خرچې مطالبه نشى كولې .ځكه چې په غلام باندې خود مالك قبضه نه ده راغلې﴾

وَلِهَذَا كَانَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْآبِقَ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْجُعْلَ بِمَنْزِلَةِ الْبَائِعِ بِحَبْسِ الْمَبِيعِ لِاسْتِيفَاءِ الثَّمَنِ، وَكَذَا إذَا مَاتَ فِي يَدِهِ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ لِمَا قُلْنَا.

ژباړه وتشريح:- اوددې امله ﴿چه دغلام راوستونكې په معنى د بائع كي دې. جائز دى دده ﴿غلام راوستونكي﴾ لپاره چې ايساركړى تختيدلې غلام ﴿مالك ته د سپارلونه﴾ تردې چې واخلى ﴿دمالك نه﴾ خرچه ﴿كومه چې ئې دتخيدلى غلام په واپس راوستلو باندې خرچ كړې وى﴾ پشان د بائع چې ايساره كړى مبيع لپاره دحاصلولود قيمت ﴿د مبيعې،يعنى كه زيدپه بكرباندې څه څيزخرڅ كړلو.نوبائع ته دا اختيار دې. چې مشترى ته مبيعه ورنكړى.ترڅوچه هغه پوره قيمت نه وى وركړې﴾ اودغه ډول حكم دې كله چې مړشى په لاس دده ﴿غلام راوستونكي﴾ كي نونشته څه څيزېه ده ﴿غلام راوستونكي﴾ باندې،دهغه امله كومه چې موږ بيان كړله ﴿په دې قول سره ..أنه أمانة عنده)

دغلام په آزادولوباندې د قبض حكم

قَالَ (وَلَوْ أَعْتَقَهُ الْمَوْلَى كَمَا لَقِيَهُ صَارَ قَابِضًا بِالْإِعْتَاقِ) كَمَا فِي الْعَبْدِ الْمُشْتَرَى، وَكَانَ إذَا بَاعَهُ مِنَ الرَّادِّ لِسَلَامَةِ الْبَدَلِ

لَهُ

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوري﴾ رحمه الله اوکه آزاد کړلو ده ﴿غلام آبق﴾ لره مولی څنګه چې ئې ورسره ملاقات اوکړلو.نو ګرځي دې ﴿مولی﴾ قبض کونکې په آزادولو سره،لکه څنګه چې په اخستې شوي غلام کې دي. ﴿یعني که یوکس غلام واخستلو.اوچه څنګه ئې غلام سره ملاقات اوشو.نوهغه ئې آزاد کړلو .نو غلام آزادیږي.اودغه مشتري قبض کونکې ګرځي.نودغه ډول په زیربحث مسئله کې هم اعتاق واقع شو اومولی قابض شو﴾ اودغه ډول ﴿ګرځي قبض کونکې﴾ کله چې ئې خرڅ کړی په واپس راوستونکی باندې، د امله د ملاویدلو د عوض ﴿نه چې پیسې دی﴾ ده ﴿مولی﴾ ته، ﴿یعني که مولی خپل تختیدلی غلام په راوستونکی باندې خرڅ کړلو.نومولی قابض شو.اوبیع صحیح شوه.خوواپس راوستونکی چې پرې کومه خرچه کړې ده.هغه خرچه به هغه ته ورکوی﴾

وَالرَّادُّ وَإِنْ كَانَ لَهُ حُكْمُ الْبَيْعِ لَكِنَّهُ بَيْعٌ مِنْ وَجْهٍ فَلَا يَدْخُلُ تَحْتَ النَّهْيِ الْوَارِدِ عَنْ بَيْعِ مَا لَمْ يُقْبَضْ فَجَازَ.

ژباړه وتشریح:- ﴿اوکه څوك سوال اوکړی.چه هرکله واپس راوستونکی په معنی د بائع کې دې.نوشو مولی په معنی د مشتري کې ،نوبیا خوپکاروه.چه دا بیع د قبض کولونه وړاندې جائز نه وه.څکه چې دددې نه منع راغلې ده.چه مشتري یوڅیز قبض کړې نه وی.اوهغه خرڅ کړی.نودهغې نه ځواب دا دی﴾ او واپس کول اګرچه دده لپاره حکم د بیع دې.خودا بیع ده په یواعتبار سره، ﴿په دې طریقه چې واپس راوستونکی ګویا چې مولی ته صرف دهغه تصرف واپس ورکړلو.اوهرچه په غلام باندې د مولی ملکیت دې.هغه خوپه تختیدو باندې زائله شوې نه دې.نومعلومه شوه.چه دا صرف په دې اعتبارسره بیع ده.چه مولی ته په خپل تختیدلی غلام باندې داسې تصرف حاصل شو.لکه څنګه چې سړې یوغلام واخلی.اوپه هغه باندې ورته تصرف حاصل شی﴾ نودا ﴿آزادول وړاندې د قبض کولونه﴾ نه داخلیږی په نهی کې چې وارده شوې ده د خرڅولو دهغه شی نه چې قبض شوې نه وی. ﴿نوهرکله چې په هغه نهی کې داخله نه ده﴾ نو جائزشو. ﴿آزادول وړاندې د قبض کولو دغلام نه﴾

قَالَ (وَيَنْبَغِي إِذَا أَخَذَهُ أَنْ يُشْهِدَ أَنَّهُ يَأْخُذُهُ لِيَرُدَّهُ) فَالْإِشْهَادُ حَتْمٌ فِيهِ عَلَيْهِ عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، حَتَّى لَوْ رَدَّهُ مَنْ لَمْ يُشْهِدْ وَقْتَ الْأَخْذِ لَا جُعْلَ لَهُ عِنْدَهُمَا ([1])

ژباړه وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوري﴾ رحمه الله اومناسب دی چې کله اونیسی دې ﴿عبدآبق﴾ چې ګواهان جوړ کړی په دې باندې دې ﴿نیونکی﴾ رانیسی دې لپاره دواپس کولودده ﴿عبدآبق خپل مولی ته.دا دابو الحسین قدوري رحمه الله کلام دې.اوصاحب دهدایه رحمه الله دا فرمائي﴾ نو ګواهان جوړول واجب دی په ده ﴿عبدآبق﴾ کې په ده ﴿نیونکی﴾ باندې.په قول دامام ابوحنیفه اومحمد رحمهما الله کې ،تردې که واپس کړلو دې ﴿عبدآبق﴾ هغه ﴿نیونکی﴾ چې ګوهان ئې نه وو قائم کړې په وخت دنیولوکې ﴿په دې چې دا غلام ما ددې لپاره اونیولو. چې خپل مالك ته ئې واپس کړم﴾ نو نشته خرچه د ده ﴿واپس راوستونکی﴾ لپاره ﴿په مولی باندې﴾ په نیزد دوی ﴿طرفینو رحمهما الله.اودامام ابویوسف اودرې وارو امامانوپه نیزګواهان قائمول شرط نه دی.لکه وړاندې چې په کتاب اللقطه کې ددې تفصیلي بیان تیرشو﴾

لِأَنَّ تَرْكَ الْإِشْهَادِ أَمَارَةُ أَنَّهُ أَخَذَهُ لِنَفْسِهِ وَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَاهُ مِنَ الْآخِذِ أَوِ اتَّهَبَهُ أَوْ وَرِثَهُ فَرَدَّهُ عَلَى مَوْلَاهُ لَا جُعْلَ لَهُ لِأَنَّهُ رَدَّهُ لِنَفْسِهِ

حل اللغة: ① امارة نښه

ژباړه وتشریح:- څکه چې دګواهانوقائمول پرېښول نښانه ده چې ده ﴿نیونکی﴾ رانیولې دې دې ﴿عبدآبق﴾ دخپل ځان دپاره، ﴿څکه که چیرته مالك ته د واپس کولوپه نیت ئې رانیول.نوپکارده چې اعلان ئې کړې

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (٢\٥) وفتح القدير(٣٦٦\٥) والبحر(١٦٢\٥) نقلاً عن القول الراجح (٥١٠\١١)-

وي﴾ او اوګرځيدلو ﴿دا صورت﴾ لكه څنګه چې واخلي ده ﴿عبدابق﴾ لره دنيونكى نه ﴿مثلاً زيد عبدآبق اونيولو. اوخالد د زيدنه دغه غلام په پيسو باندې واخستلو﴾ اويا ئې دهغه ﴿نيونكي﴾ نه په هبه كې واخلي. او يا ئې ترې په ميراث كې واخلي.اوواپس ئې كړي خپل مالك ته نو نشته خرچه دده ﴿واپس كونكي﴾ دپاره،په نيزد طرفينو ﷫. ﴿يعني چاچه عبدآبق نيولي وو.هغه بل كس ته هبه كړلو.يا ورته په ميراث كې پاتې شو.اوبيا دغه موهوب له او وارث عبدآبق خپل مولى ته واپس كړي.نوپه دې صورت كې ددغه واپس كونكى لپاره څه نشته﴾ څكه چې ده ﴿موهوب له او وارث﴾ واپس كړلو دا ﴿عبدآبق په داسې حال كې چه﴾ اخستې ئې وو لپاره دخپل ځان،نولكه څنګه چې په صورت د هبه اوميراث كې دواپس كونكى لپاره خرچه نشته.دغه ډول كه رانيونكى په رانيولو باندې ګواهان نه وي مقرركړي.اوغلام خپل مالك ته واپس كړي.نوددې رانيونكي لپاره خرچه نشته.

إِلَّا إِذَا أَشْهَدَ أَنَّهُ اشْتَرَاهُ لِيَرُدَّهُ فَيَكُونُ لَهُ الْجُعْلُ وَهُوَ مُتَبَرِّعٌ فِي أَدَاءِ الثَّمَنِ

ژباړه وتشريح:- مګردا چې كله ګواهان قائم كړي په دې چې ده ﴿مشترى﴾ اخستې دې دا ﴿عبدآبق﴾ لپاره دواپس كولونو ﴿په دې صورت كې﴾ كيږي دده ﴿مشترى﴾ لپاره خرچه ﴿يعني داخستلودقيمت نه سوا چې د ده عبدآبق په واپس كولوباندې كومه خرچه شوې وي.مولى به ورته هغه وركوي﴾ اودې ﴿مشترى﴾ احسان كونكې دې په وركولود پيسو ﴿هغه چاته چې غلام ئې ترې اخستې وي﴾

دعبدآبق د خرچه ذمه وار

(فَإِنْ كَانَ الْآبِقُ رَهْنًا فَالْجُعْلُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ) لِأَنَّهُ أَحْيَا مَالِيَّتَهُ بِالرَّدِّ وَهِيَ حَقُّهُ، إِذِ الِاسْتِيفَاءُ مِنْهَا وَالْجُعْلُ بِمُقَابَلَةِ إِحْيَاءِ الْمَالِيَّةِ فَيَكُونُ عَلَيْهِ،

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى تختيدلې غلام ګاڼره ﴿د مرتهن سره،اودمرتهن نه اوتختيدلو.اويوكس مرتهن ته واپس راوستلونوپه دې صورت كې﴾ خرچه په مرتهن ده.څكه چې ده ﴿واپس راوستونكي﴾ ژوندې كړلو ماليت دده ﴿مرتهن﴾ په رد كولو ﴿دغلام﴾ سره، ﴿يعني مرتهن دخپل پور په بدله كې د مقروض نه داغلام ګاڼره كړې وو.نوچه مرتهن ته دغه غلام واپس كړې شو.نوګويا چې دهغه حق ژوندې شو.څكه چې مرتهن ته خوبه خپل حق هله ملاويږي.چه كله دې راهن ته دهغه رهن واپس كړي﴾ اودا ﴿ماليت دعبد﴾ حق د ده ﴿مرتهن﴾ دې.څكه چې حاصلول د حق دده ﴿مرتهن﴾ د ده ﴿غلام﴾ نه دې. ﴿چه مرتهن سره غلام موجود وي.نوهله به ورته راهن خپل پور وركوي﴾ اوخرچه ﴿كومه چې په عبدآبق باندې راغلې وي﴾ په مقابله د ژوندى كولود ماليت ده. ﴿يعني دغلام خرچه به په هغه چاباندې راځي.چه دهغه ماليت ژوندې شوې وي.اوهغه مرتهن دې﴾نووى به ﴿خرچه﴾ په ده ﴿مرتهن﴾ باندې،

وَالرَّدُّ فِي حَيَاةِ الرَّاهِنِ وَبَعْدَهُ سَوَاءٌ؛ لِأَنَّ الرَّهْنَ لَا يَبْطُلُ بِالْمَوْتِ، وَهَذَا إِذَا كَانَتْ قِيمَتُهُ مِثْلَ الدَّيْنِ أَوْ أَقَلَّ مِنْهُ، فَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ فَبِقَدْرِ الدَّيْنِ عَلَيْهِ وَالْبَاقِي عَلَى الرَّاهِنِ

ژباړه وتشريح:- اوواپس كول په ژوند دراهن كې اوپس ددې ﴿ژوند نه﴾ برابر دې. ﴿يعني كله چې مرتهن ته د هغه تختيدلې غلام واپس راوستې شي.نوكه راهن ژوندې وي اوكه مړ په دواړو صورتونوكې به هغه احكام وي.كوم چې وړاندې تيرشول﴾ څكه چې رهن نه باطليږي په مرګ د راهن سره، ﴿بلكه دراهن د مرګه روسته كه د راهن وارث مرتهن ته قرضه وركوي.نومرتهن به ورته رهن واپس كوي﴾ اودا ﴿حكم چې خرچه په مرتهن باندې ده﴾ كله چې وي قيمت دده ﴿عبدآبق﴾ برابرد پور او يا كم دهغې نه اوكه وي ﴿قيمت د عبدآبق﴾ زيات ﴿د پور نه﴾ نو ﴿خرچه به﴾ په اندازه د پور وي په ده ﴿مرتهن﴾ باندې اوپاتـه به وي په راهن باندې ﴿مثلاً د غلام قيمت دولس سوه روپۍ دې.اود راهن پور شپږ سوه روپۍ دې.نوپه دې صورت كې به خرچه نيم په نيمه وي.يعني نيمه خرچه به په مرتهن راځي.اونيمه خرچه به په راهن راځي﴾

لِأَنَّ حَقَّهُ بِالْقَدْرِ الْمَضْمُونِ فَصَارَ كَثَمَنِ الدَّوَاءِ وَتَخْلِيصُهُ عَنِ الْجِنَايَةِ بِالْفِدَاءِ،

حل اللغة: ① الدواء: دوائي ② تخليص: خلاصول ③ الجناية: جرم ④ الفداء: فديه وركول

ژباړه وتشريح: - ځكه چې حق دده «د مرتهن» په اندازه د ضمانت دې. «كوم چې په تيرشوى مثال كې شپږ سوه روپۍ دى» نواوګرځيدلو «دا خرچه» پشان د دوائې «يعني كه غلام بيمارشى. اودهغه لپاره دوائى اوكړى. نود دوائى خرچه به په مرتهن باندې دخپل پور مطابق راځى. لكه مرتهن په غلام باندې سل روپۍ اونګولى. او د غلام قيمت دولس سوه روپۍ وو. اود راهن پور شپږ سوه روپۍ وو. اومرتهن په غلام باندې سل روپۍ اولګولې. نوپه دې سلوكې به پنځوس په مرتهن راځى. اوپنځوس په راهن» اوخلاصول دده «د غلام مرهون» د «سزا» دجنايت نه په فديه وركاوه سره «مثلاً غلام مرهون يوكس په خطاء باندې قتل كړلو. نوپه ده باندې چې كومه فديه راځى. په هغې كې به د مرتهن د برخې مطابق په هغه راځى. او د راهن د برخې مطابق به هغه هومره په راهن راځى. لكه په تيرشوى مثال كې د غلام قيمت دولس سوه روپۍ دى. اود راهن پور شپږ سوه روپۍ دې. اوپه غلام باندې دقتل خطاء د امله مثلاً دوې [دوه] سوه روپۍ كفاره راتله. نو سل به په مرتهن وى اوسل به په راهن وى»

دعبدآبق د پور (قرض) خلاصولوحكم

وَإِنْ كَانَ مَدْيُونًا فَعَلَى الْمَوْلَى إِنِ اخْتَارَ قَضَاءَ الدَّيْنِ، وَإِنْ بِيعَ بُدِئَ بِالْجُعْلِ وَالْبَاقِي لِلْغُرَمَاءِ

حل اللغة: ① مديون: قرضدار ② بدئ: شروع به كولې شى ③ الجعل: خرچه ④ الغرماء: جمع دغريم ، قرضخواه

ژباړه وتشريح: - اوكه چيرته وى «تختيدلې غلام چې ماذون في التجارة وى» پور داري نو «خرچه» په مولى باندې ده. كه غوره كوى دې خلاصول د پور «دعبدآبق ماذون فى التجارة، لپاره دپاته پاتې كيدودغلام په ملكيت دده كې» اوكه خرڅ كړې شو غلام، نوشروع به كولې شى په «ادا كولود» خرچه، «چه واپس راوستونكى ته به اول دغلام دخرڅ په پيسوكې دهغه خرچه وركړى» اوپاته «چه څه پاتې شى د خرچې نه» هغه به د قرضخواهو وى.

فِي التِّجَارَةِ لِأَنَّهُ مُؤْنَةُ الْمِلْكِ وَالْمِلْكُ فِيهِ كَالْمَوْقُوفِ فَتَجِبُ عَلَى مَنْ يَسْتَقِرُّ لَهُ،

حل اللغة: ① مؤنة: مشقت ② يستقر: قراريږى ، ثابتيږى

ژباړه وتشريح: - ځكه چې دا «خرچه» مؤنت د ملك دې. «يعني دا خرچه په مالك باندې ددې امله راځى. چه غلام د ده ملكيت دې» اوملكيت «د مولى» په ده «غلام» كې «د پور دحقوقو دپاره» پشان د موقوف دې «په مينځ ددې كې چې مولى دده پور ادا كړى. نوغلام به هم د خپل مالك په ملكيت كې پاتې شى. اوپه مينځ ددې كې كه مولى د ده پور ادا كول نه غواړى. نوغلام به خرڅ كړې شى. اودده قيمت به په قرضخواهو باندې ويش كړې شى» نوواجبيږى به «خرچه» په هغه چا چې ملكيت ورله ثابتيږى. «يعني كه مولى دغلام پور ادا كړلو. نوغلام دده شو. اوپه ده باندې خرچه لازميږى. اوكه مولى دده د پور ادا كولو نه انكاراوكړلو. نوغلام به خرڅ كړې شى. اوقيمت به ئې په قرضخواهو باندې ويش كړې شى. اوخرچه به د هغوى نه وصول كړې شى»

دغلام د جنايت تاوان به په چا وى؟

وَإِنْ كَانَ جَانِيًا فَعَلَى الْمَوْلَى إِنِ اخْتَارَ الْفِدَاءَ لِعَوْدِ الْمَنْفَعَةِ إِلَيْهِ، وَعَلَى الْأَوْلِيَاءِ إِنِ اخْتَارَ الدَّفْعَ لِعَوْدِهَا إِلَيْهِمْ،

ژباړه وتشريح: - اوكه وى «تختيدلې غلام» جنايت كونكې «مثلاً قتل خطاء ئې كړې وى. اوپه ده باندې كفاره لازمه شوې وى» نوپه مولى به وى «خرچه دواپس راوستونكې» كه خوښه كړې وى دده «مولى» خان باندې اومنل» د امله د راجع كيدو د فائدې «يعني په غلام باندې ملكيت برقرارپاتې كيدل دى» چه كله دده دفديه وركول په

ده ﴿مولى﴾ ته،اوپه اولياؤ ﴿دمقتول﴾ باندې ده ﴿خرچه﴾ كه غوره كړي مولى وركول ﴿دغلام اولياؤ دمقتول ته په كفاره دقتل خطاء كې﴾ د امله د واپس كيدو ددې ﴿فائدې﴾ دوى ﴿اولياؤ دمقتول﴾ ته ﴿ځكه چې غلام هغوى ته حواله شو.نودغلام د ملكيت نه هغوى مستفيض شول.نوخرچه به هم په هغوى باندې راځي﴾

د موهوب تخيدلي غلام خرچه به په چا وي؟

وَاِنْ كَانَ مَوْهُوبًا فَعَلَى الْمَوْهُوبِ لَهُ،وَاِنْ رَجَعَ الْوَاهِبُ فِي هِبَتِهِ بَعْدَ الرَّدِّ لِاَنَّ الْمَنْفَعَةَ لِلْوَاهِبِ مَا حَصَلَتْ بِالرَّدِّ بَلْ بِتَرْكِ الْمَوْهُوبِ لَهُ التَّصَرُّفَ فِيهِ بَعْدَ الرَّدِّ،

ژباړه وتشريح:- اوكه وى ﴿عبدآبق﴾ وهب شوې ﴿چاته،اويوكس دې موهوب له ته واپس راولي.نودهغه د راوستو﴾ خرچه به په موهوب له وى اګرچه رجوع اوكړي واهب په هبه خپله كې په واپس كيدو ﴿دغلام موهوب له ته﴾ ځكه چې فائده ﴿دملكيت راتلو﴾ د واهب نه ده حاصله شوې ﴿واهب ته﴾ په واپس كيدو ﴿دغلام﴾ بلكه په پريخودو د موهوب له تصرف په دې ﴿موهوب غلام﴾ كې روسته د واپس كيدو نه ﴿يعنى واهب ته چې په موهوبه باندې دملكيت فائده حاصله شوې ده.نودا فائده ورته موهوب له وركړې ده.ځكه چې هغه په موهوبه باندې خپل تصرف پريښودلو .ددې امله ورته نه ده حاصله شوې.چه راوستونكي كس ده ته فائده اورسوله﴾

دماشوم دتختيدلي غلام جعل به دماشوم په مال كې وي

وَاِنْ كَانَ لِصَبِيٍّ فَالْجُعْلُ فِي مَالِهِ لِاَنَّهُ مُؤْنَةُ مِلْكِهِ،وَاِنْ رَدَّهُ وَصِيُّهُ فَلَا جُعْلَ لَهُ لِاَنَّهُ هُوَ الَّذِي يَتَوَلَّى الرَّدَّ فِيهِ والله اعلم بالصواب

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى ﴿عبدآبق﴾ لپاره دماشوم نو خرچه به وى په مال دده ﴿ماشوم﴾ كې ځكه چې دا خرچه خو دده ﴿ماشوم﴾ د ملكيت ده.اوكه واپس كړلو ده ﴿عبدآبق﴾ لره وصى دده ﴿ماشوم،يعنى دماشوم پلاريوكس ته وصيت كړې وى.چه ته به زما د مرګ نه روسته زما ددې ځوى تربيت كوې . او د دې ماشوم غلام وو.هغه اوتختيدلو.اودغه وصى غلام راواپس كړلو.نوپه دې صورت كې﴾ نشته خرچه دده ﴿وصي﴾ دپاره،ځكه چې دې ﴿وصى﴾ خوهغه كس دې چې ذمه وار دې ددې ﴿واپس راوستلو﴾ په ده ﴿عبدآبق﴾ كې ،

كِتَابُ الْمَفْقُودِ

ژباړه وتشريح:- ﴿دا﴾ كتاب ﴿په بيان د احكامود﴾ ورك شوى ﴿كي﴾دې. ﴿مفقود د فقود نه دې.په لغت كې د اضدادوځنى دې.ځكه چې د دې معنى د وركيدو هم ده.لكه چې وئيلى شى.،فقدت الشئ،،يعنى زما نه يو شى ورك شو.اوپه معنى د طلب هم راځي.وئيلى شى.،فقدته،،يعنى ما ئې لټون اوكړلو.

د مفقود مال لپاره محافظ مقرركول

(اِذَا غَابَ الرَّجُلُ فَلَمْ يُعْرَفْ لَهُ مَوْضِعٌ وَلَا يُعْلَمُ اَحَيٌّ هُوَ اَمْ مَيِّتٌ نَصَبَ الْقَاضِي مَنْ يَحْفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيْهِ وَيَسْتَوْفِي حَقَّهُ)

حل اللغة: ① **موضع**:ځائې ② **يستوفي**:تمام (پوره) تمام (پوره) اخستل

ژباړه وتشريح:- كله چې غائب شي سړې اومعلوم نه وى دده ﴿سړي﴾ ځائې ﴿چه په كوم ځائې كې به وى﴾ اوپته نه لګي چې ژوندې به وى اوكه مړ،نومقرربه كړي قاضى هغه ځوك چې ساتنه كوى د مال دده ﴿مفقود﴾ اونګراني كوى دهغې. ﴿مال﴾ اوحاصلوى ﴿د خلګ ونه﴾ حقونه دده ﴿مفقود﴾

لِاَنَّ الْقَاضِي نُصِبَ نَاظِرًا لِكُلِّ عَاجِزٍ عَنِ النَّظَرِ لِنَفْسِهِ وَالْمَفْقُودُ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ وَصَارَ كَالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ،وَفِي نَصْبِ الْحَافِظِ لِمَالِهِ وَالْقَائِمِ عَلَيْهِ نَظَرٌ لَهُ.

زباړه وتشريح:- ځكه چې قاضي مقررشوې دې مصلحت لټونكې دهريوعاجز لپاره چې هغه عاجز وى دمصلحت دخپل ځان نه ﴿يعنى چې يوكس دخپل ځان مصلحت اوفائده په خپله نشي لټولې.نوقاضي دهغه مصلحت لټونكې دې﴾ اوورك شوې كس هم په دې صفت دې. ﴿ځكه چې دې دخپل مال نه غائب دې.اودهغې ساتنه نشي كولې﴾او اوګرځيدلو ﴿دا مفقود﴾ پشان د ماشوم او دليوني، ﴿ځكه چې دا دواړه هم هغه چاته محتاج دى.چه د دوى دمال ساتنه اوكړي﴾اوبه مقرركولودمحافظ دمال دده ﴿مفقود﴾ لپاره او ﴿به مقرركولو﴾ دنګران په دې ﴿مال دمفقود﴾باندې مصلحت دې دده ﴿مفقود،ځكه چې چيرته ددې محافظ مقررنكړې شي. نوضائع به شي﴾

وَقَوْلُهُ يَسْتَوْفِي حَقَّهُ لِإِخْفَاءِ أَنَّهُ يَقْبِضُ غَلَّاتِهِ وَالدَّيْنَ الَّذِي أَقَرَّ بِهِ غَرِيمٌ مِنْ غُرَمَائِهِ لِأَنَّهُ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ

حل اللغة:① الاخفاء پټول ② غريم:قرضدار

زباړه وتشريح:- اودا قول د ماتن چې وصول كړي حق د دده ﴿مفقود﴾ نشته څه پټوالي ﴿بلكه دا خبره ښكاره ده﴾ چې دې ﴿محافظ﴾ به قبض كوى ﴿پټول﴾ پيداوار ﴿دمال دده،لكه په كرايه باندې ئې كور وركړې وى.نودكرايه دارو څخه به مياشت په مياشت كرايه اخلي﴾ او پور هغه چې اقراركوى په هغې باندې پور دار د قرضدارانو دده ﴿ مفقود،يعنى په قرضدارو كي چې په چا باندې پور وى.اوهغه پرې اقراركوى. نو دهغه څخه به دده پور وصولوى﴾ ځكه چې دا ﴿قبض كول د پيداوارد مال دده او دقرضونو دده﴾ دقبيلې د ساتنه څنې دى ﴿يعنى دمفقود مال حفاظت چې څنګه كيږى.په هغې كي دا هم ده.چه دده د مال پيداوار او قرضونه وصول كړي﴾

وَيُخَاصِمُ فِي دَيْنٍ وَجَبَ بِعَقْدِهِ لِأَنَّهُ أَصِيلٌ فِي حُقُوقِهِ، وَلَا يُخَاصِمُ فِي الَّذِي تَوَلَّاهُ الْمَفْقُودُ وَلَا فِي نَصِيبٍ لَهُ فِي عَقَارٍ أَوْ عُرُوضٍ فِي يَدِ رَجُلٍ

زباړه وتشريح:- اوجګړه به كوى ﴿يعنى مقدمه به چلوى محافظ﴾ په هغه قرضه كي چې واجب شوې وى په عقد دده ﴿ محافظ،يعنى دغه نګران اومحافظ چې كوم عقد كړې وى.اوبه هغې كي ئې په چا باندې پور پاتې وى.اوهغه ترې انكاراوكړى.نودې به ورسره مقدمه چلوى﴾ ځكه چې دې ﴿محافظ﴾ اصيل دې ﴿وكيل نه دې﴾ په حقوقو ددې ﴿عقدخپل﴾ كي ، ﴿يعنى دې محافظ چې كوم عقد كړې وى.نوپه هغې كي دې اصيل اوذمه واردې﴾اوجګړه به نه كوى په هغه ﴿عقودو﴾ كي چې كړي وى هغه مفقود ﴿په خپله،يعنى مفقود چې په خپله موجودګئ كي كوم عقود كړى دى.اوپه هغې كي ئې په چا باندې پور وى.اودده د وركيدو نه روسته هغه پور دارې انكاراوكړى.نوهغه سره مقدمه چلول د محافظ ذمه وارى نه ده﴾ اونه ﴿به جګړه كوى﴾ په برخه دده ﴿مفقود﴾ كي په مځكه كي اويا په سامان كي چې وى ﴿دغه مځكه اوسامان﴾ په لاس د يوسړي كي ﴿يعنى كه مفقود په خپل ژوند كي چاسره دشريكې مځكه وى.يا شريك سامان وى.اوپه هغې كي څه جګړه پيښه شى.نودا د محافظ ذمه وارى نه ده.چه دغه شريكانو سره مقدمه اوچلوى﴾

لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَالِكٍ وَلَا نَائِبٍ عَنْهُ إِنَّمَا هُوَ وَكِيلٌ بِالْقَبْضِ مِنْ جِهَةِ الْقَاضِي وَأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ الْخُصُومَةَ بِلَا خِلَافٍ، إِنَّمَا الْخِلَافُ فِي الْوَكِيلِ بِالْقَبْضِ مِنْ جِهَةِ الْمَالِكِ فِي الدَّيْنِ،

حل اللغة:① الخصومة:جګړه ② الجهة:طرف

زباړه وتشريح:- ځكه چې دې ﴿محافظ﴾ نه دې مالك ﴿دمال د مفقود﴾ اونه دې نائب دهغه ﴿مفقود﴾ بلكه دې ﴿محافظ﴾ وكيل دې دقبض كولو ﴿دحقوقود مفقود﴾ د اړخه د قاضي اودې ﴿يعنى وكيل بالقبض﴾ مالك نه دې د جګړې ﴿دموكل داړخه﴾ بغيرد څه خلاف نه ﴿په مينځ د امامانوكي﴾ اويقيناً د قاضي داړخه خواږ د مفقود د مال محافظ اووكيل جوړ كړې شي.نودغه وكيل د مفقود داړخه مقدمه او

ځکړه نشي چلولي .اوکه مالك په خپله ځوك دخپل مال نائب اومحافظ جوړ كړي. نوپه دې كي اختلاف دې چه آيا دا وكيل دمالك د اړخه پور وصولولې شي اوكه نه؟

وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ يَتَضَمَّنُ الْحُكْمُ بِهِ قَضَاءً عَلَى الْغَائِبِ، وَأَنَّهُ لَا يَجُوزُ إِلَّا إِذَا رَآهُ الْقَاضِي وَقَضَى بِهِ لِأَنَّهُ مُجْتَهَدٌ فِيهِ،

ژباړه وتشريح:- اوهركله چې شوه داسې «چه دقاضي د اړخه وكيل بالقبض د مفقود د اړخه د خصومت مالك نه دې.نوددغه محافظ يعنى د وكيل بالقبض په خصومت سره قاضي فيصله اوكړي» نو متضمنه ده فيصله كول «دقاضي» په دې «خصومت باندې د وكيل بالقبض داړخه» قضاء په غائب باندې «ځكه چې مفقود موجود نه دې» اودا «قضاء په غائب باندې» جائز نه ده. البته چې مناسب ګڼړى دې «فيصلې» لره قاضي او فيصله اوكړي په دې «خصومت» باندې «نودا جائزده» ځكه چې دې «قاضي» مجتهد دې په دې «فيصله كولوكي په غائب باندې»

قاضي ته دكوموځيزونوخرڅولواختيارته اودكومونشته

ثُمَّ مَا كَانَ يُخَافُ عَلَيْهِ الْفَسَادُ يَبِيعُهُ الْقَاضِي لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ حِفْظُ صُورَتِهِ وَمَعْنَاهُ فَيَنْظُرُ لَهُ بِحِفْظِ الْمَعْنَى

ژباړه وتشريح:- بيا هغه چې ويره كيږي په هغې باندې د خرابيدو «لكه ميوه يا سبزي وي» ځكه چې متعذر دې په ده «قاضي» باندې ساتنه د صورت ددې «مال،يعنى كوم ځيزچه د مفقود نه پاتې شوي دې.چونكه هغه په خپل اصلي شكل كي نشي پاتې كيدې» نومصلحت به وى دده «مفقود» لپاره په ساتنه د معنى كي «يعنى په معنوى اعتبارسره به دغه ځيزمحفوظ كړې شي.چه پيسې دې.نوچه كله مقفود پيدا شي.اوپيسې وى .نوځان ته به په دغه پيسوباندې هغه شان بل ځيزواخلي»

(وَلَا يَبِيعُ مَا لَا يُخَافُ عَلَيْهِ الْفَسَادُ فِي نَفَقَةٍ وَلَا غَيْرِهَا) لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى الْغَائِبِ إِلَّا فِي حِفْظِ مَالِهِ فَلَا يَسُوغُ لَهُ تَرْكُ حِفْظِ الصُّورَةِ وَهُوَ مُمْكِنٌ.

حل اللغة: ① **يسوغ**:جائزكيږي

ژباړه وتشريح:- راونه به خرڅوى هغه ځيزچه ويره نه وى په هغې باندې د خرابيدود نفقه لپاره اونه د بل څه لپاره «يعنى كه د مفقود اولاد يا ښځه وى.نودهغوى دخرچې پوره كاوه لپاره به دمفقود مال نه خرڅوى» ځكه چې نشته ولايت د ده «قاضي» لپاره په غائب باندې «چه دهغه په غيرموجودګئ كي دهغه شي خرڅ كړى» مګر «ولايت ئي په غائب باندې شته» په ساتنه د مال دهغه «غائب» كي ،نو جائز نه دى دده «قاضي» لپاره پريښول د ساتنه د صورت، «ځكه چه» دا «ساتنه د صورت د ځيز» ممكن دې. «ځكه چې د خرابيدو ويره پرې نشته»

قَالَ (وَيُنْفِقُ عَلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ مِنْ مَالِهِ) وَلَيْسَ هٰذَا الْحُكْمُ مَقْصُورًا عَلَى الْأَوْلَادِ بَلْ يَعُمُّ جَمِيعَ قَرَابَةِ الْوِلَادِ.

ژباړه وتشريح:- .فرمائى «ابو الحسين قدورى» رحمه الله اوخرچ كوى به په ښځه دده «مفقود» اواولاد دده «مفقود» دمال دده «مفقود» نه اونه دې دا حكم «دخرچ كولو» خاص په دوى «مذكورينو» پورې بلكه ګډ دې ټولو اقرباو د ولادت ته «يعنى چې دچا سره د ولادت په ذريعه خپلولي راغلي وى.هغه ټولوته ګډ دې.نوپه ولادت كي پلار،نيكه داسې وريسې پورته څه،اودغه ډول اولاد او داولاد اولاد داسې وريسې څه واړه داخل دې»

وَالْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ مَنْ يَسْتَحِقُّ النَّفَقَةَ فِي مَالِهِ حَالَ حَضْرَتِهِ بِغَيْرِ قَضَاءِ الْقَاضِي يُنْفِقُ عَلَيْهِ مِنْ مَالِهِ عِنْدَ غَيْبَتِهِ وَلِأَنَّ الْقَضَاءَ حِينَئِذٍ يَكُونُ إِعَانَةً،

ژباړه وتشريح:- اواصل «اوقاعده په دې باب كي دا ده.چه» هرهغه ځوك چې مستحق وى د خرچې په مال دده «مفقود» كي په حالت د موجودګئ دده «مفقود» كي «يعنى چې لا ورك شوې نه وو.اوپه هغه حالت كي د ده په مالك كي دچا نفقه واجب وه» بغيرد فيصلې د قاضي،نه نوخرچ كولې به شي په هغه

بانديې دمال دده «مفقود» نه په وخت د غائب توب دهغه كي ،ځكه چې فيصله «دقاضي» په دغه صورت كي امداد دې «د دغه مستحقينوسره، لنډيز دا چې د مفقود د وجود په وخت كي په ده باندې دقاضي د فيصلي نه بغيردچا نفقه واجب وه.دده د فقود په حالت كي به دهغه نفقه هم واجب وي»

وَكُلُّ مَنْ لَا يَسْتَحِقُّهَا فِي حَضْرَتِهِ إِلَّا بِالْقَضَاءِ لَا يُنْفِقُ عَلَيْهِ مِنْ مَالِهِ فِي غَيْبَتِهِ لِأَنَّ النَّفَقَةَ حِينَئِذٍ تَجِبُ بِالْقَضَاءِ وَالْقَضَاءُ عَلَى الْغَائِبِ مُمْتَنِعٌ،

ژباړه وتشريح:- اوهرهغه څوك چې مستحق نه وي ددې «نفقه» په حالت د موجودګئ دهغه «مفقود» كي مګر په قضا د قاضي نونه به خرچ كوي په هغه باندې د مال دده «مفقود» نه په غايب توب دهغه «مفقود» كي ځكه چې نفقه په دغه وخت كي واجبيږي په قضا «دقاضي» اوقضاء په غائب باندې ناجائز ده «لنډيز داچه د مفقود دوجود په وخت كي په ده باندې دچا نفقه واجب نه وه.بلكه دقاضي په فيصله پرې واجب كيدله.نود فقود په صورت كي به د قاضي په فيصله باندې دهغه نفقه د مفقود په مال كي نه واجبيږي.ځكه چې دا خويه غائب باندې فيصله ده.كومه چې ناجائز ده»

فَمِنَ الْأَوَّلِ الْأَوْلَادُ الصِّغَارُ وَالْإِنَاثُ مِنَ الْكِبَارِ وَالزَّمْنَى مِنَ الذُّكُورِ الْكِبَارِ، وَمِنَ الثَّانِي الْأَخُ وَالْأُخْتُ وَالْخَالُ وَالْخَالَةُ.

حل اللغة: ① الاخ:ورور ② الاخت:خور ③ الخال:ماما ④ الخالة:ترور

ژباړه وتشريح:- نوداولنو نه «چه په حالت د حضوركي ئې په سرې باندې نفقه واجب وي» واړه بال بچ،او زنانه د لويو نه اود دوهم ډول نه «چه په حالت دحضوركي په سرې باندې دهغوى نفقه واجب نه وي» ورور او خور اوماما او ترور «دمورخور» دي.

وَقَوْلُهُ مِنْ مَالِهِ مُرَادُهُ الدَّرَاهِمُ وَالدَّنَانِيرُ لِأَنَّ حَقَّهُمْ فِي الْمَطْعُومِ وَالْمَلْبُوسِ فَإِذَا لَمْ يَكُنْ ذَلِكَ فِي مَالِهِ يَحْتَاجُ إِلَى الْقَضَاءِ بِالْقِيمَةِ وَهِيَ النُّقُودُ،

ژباړه وتشريح:- اوقول دده «ابو الحسين قدوري رحمه الله» چې «نفقه به وركوي» دمال دده «مفقود» نه نومراد دده «قدوري رحمه الله» روپۍ او اشرفۍ دي. «يعنى دده په مال كي چې كومې نقدې روپۍ او اشرفۍ وي.هغه به ددې كسانو په نفقه باندې خرچ كوي» ځكه چې حق ددوى «اهل وعيال» دخوراك او لباس په څيزونو كي دې. «اونه به ئې خرچ كوي په نورو څيزونوكي» اوهركله چې نه وي دا «دخوراك او لباس شيان (څيزونه)» په مال دده «مفقود» كي نو اړتيا به پيښيږي فيصلي كولوته په قيمت اودا «قيمت» دوې [دوه] نقد شيان (څيزونه) دي «چه روپۍ او اشرفۍ دي»

وَالتِّبْرُ بِمَنْزِلَتِهِمَا فِي هَذَا الْحُكْمِ لِأَنَّهُ يَصْلُحُ قِيمَةً كَالْمَضْرُوبِ، وَهَذَا إِذَا كَانَتْ فِي يَدِ الْقَاضِي،

حل اللغة: ① التبر:ټوټې

ژباړه وتشريح:- اوټكړې «يعنى چې لا كالي او زيور ترې جوړشوې نه وي.بلكه دغه ډول ټكړې وي» پشان د دې دواړو «روپو او اشرفو» دي.په حق ددې حكم كي «چه فيصله د قاضي ده» ځكه چې دا «ټوټې» صلاحيت لري دقيمت «چه ددې نه قيمت جوړكړې شي» پشان د جوړو شوو سكو، اودا حكم «چه موږ ذكركړلوچه قاضي به په دوى باندې روپۍ او اشرفۍ خرچ كوي» په هغه وخت كي چې وي «دغه روپۍ او اشرفۍ» په لاس د قاضي كي «اوكه دقاضي په لاس كي نه وي. نو د هغې حكم په راروان متن كي دې»

ضروري تشريح:- يعنى دمفقود په مال كي چې دچا نفقه په مفقود باندې واجب وي.اونفقه د خوراك اولباس د څيزونو نه عبارت دې.نوكه د مفقود په مال كي دخوراك شيان (څيزونه) وي.اوجامې وي.نوهغه به دده په اهل وعيال باندې خرچ كوي.اوكه دخوراك اواغوستلو شيان (څيزونه) دده په مال كي نه وو.نوبيا به دده په مال كي چې كومې روپۍ او اشرفۍ وي.په هغه به خرچ كولې شي.او ددوى ضروريات به پرې پوره كولې شي.روپۍ د سپينو زرو نه جوړې شوې وي.اواشرفۍ د سرو زرو نه جوړې شوې وي.نوكه په مال كي روپۍ او اشرفۍ نه وي.اود سرو او سپينو ټوټې وي.هغه به د نفقه لپاره خرچ كولې شي.ځكه چې سپين او سره زر هم

د درهم او اشرفو پشان دی.صرف توپير دا دې.چه دراهم او اشرفئ تيارې شوى وى.اوسپين او سره زر لا د دراهم او اشرفو صورت نه وى اختيار كړې﴾

دامانت او پور نه دخرچ كولوحكم

فَإِنْ كَانَتْ وَدِيعَةً أَوْدَيْنًا يُنْفِقُ عَلَيْهِمْ مِنْهُمَا إِذَا كَانَ الْمُودِعُ وَالْمَدْيُونُ مُقِرَّيْنِ بِالدَّيْنِ الْوَدِيعَةِ وَالنِّكَاحِ وَالنَّسَبِ،

ژباړه وتشريح:- كه چيرته وى ﴿مال د مفقود﴾ امانت ﴿دچا سره﴾ اويا پور ﴿په چا باندې﴾ نوخرچ كوى به ﴿قاضى﴾ په دوى باندې دهغې ﴿امانت اوقرض﴾ نه،خو په دې شرط چې وى امانتگراوقرضدارې اقراركونكى په پور اوپه امانت ﴿يعنى مودع دا اقراركوى.چه ما سره دا مال د مفقود امانت دې.اومديون دا اقراركوى.چه د مفقود په ما باندې دومره پور دې﴾ اوپه نكاح او د نسب ﴿يعنى مودع او مديون په دې اقراركوى.چه دا زينب د مفقود ښځه ده اودا زيد د مفقود ځوئى دې.اوكه مودع او مديون د امانت اود پور دغه ډول د نكاح اود نسب اقرارنه كوى.نوبيا د مفقود د ښځې اود هغه دبچو نفقه د پور اوامانت نه نشى خرچ كولې﴾

وَهَذَا إِذَا لَمْ يَكُونَا ظَاهِرَيْنِ عِنْدَ الْقَاضِي،فَإِنْ كَانَا ظَاهِرَيْنِ فَلَا حَاجَةَ إِلَى الْإِقْرَارِ،

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿اړتيا د اقرار﴾ به په هغه صورت كې وى.چه نه وى دا دواړه خبرې ﴿چه امانت او پور دې.اوبله خبره چې نكاح او نسب دې.يعنى دلته وړاندې د ځلورو څيزونو ذكر شوې دې. او ضمائرد تثنيه راوړې.نومصنف رحمه الله امانت او پور يوځيزگرځولې دې.اونكاح اونسب ئې بل شى گرځولې دې.ځكه ئې ځلورو واړو لپاره د تثنيه ضمير استعمال كړې دې﴾ ظاهرپه علم دقاضى كې ، ﴿يعنى قاضى ته دا علم نه وى.چه واقعى دفلانى سره د مفقود امانت دې اوفلانې ئې پور دارې دې اوفلانكۍ ئې ښځه ده.اوفلانى سره ئې دنسب تعلق دې مثلاً ځوئې يا لورئې ده﴾

وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا ظَاهِرًا الْوَدِيعَةِ وَالدَّيْنِ أَوِالنِّكَاحِ وَالنَّسَبِ يُشْتَرَطُ الْإِقْرَارُ بِمَا لَيْسَ بِظَاهِرٍ هَذَا هُوَ الصَّحِيحُ.

ژباړه وتشريح:- اوكه وى دا دواړه ﴿چه په حقيقت كې ځلورشيان (څيزونه) دى.يعنى امانت،قرض،نكاح اونسب﴾ ښكاره ﴿يعنى معلوم وى قاضى ته﴾ نو نشته حاجت اقراركولوته ﴿دمودع،اومديون﴾ اوكه وى يوه خبره د دواړو څنې ﴿يعنى قاضى ته يا دامانت علم وى چې دفلانى سره ئې امانت دې اويا ورته د پور علم وى.چه فلانې ئې قرضدارې دې﴾ اويا نكاح اونسب كې ﴿ورته يوځيزښكاره وى.يعنى يا ورته دا علم وى.چه فلانكۍ ئې ښځه ده.اويا ورته دا علم وى.چه فلانې ئې مثلاً ځوئې دې.نوپه دې صورت كې﴾ شرط كولاى شى اقرارپه هغه څيزچه نه وى ښكاره، ﴿يعنى كه قاضى ته دامانت يا د پور علم نه وى.نوپه دې صورت كې د مودع او مديون اقرارشرط دې﴾ هم دا قول ﴿چه دقاضى دعلم په صورت كې اقرار شرط نه دې او د هغه دعدم علم په صورت كې اقرارشرط دې﴾ صحيح قول دې. ﴿اودا وجه د استحسان ده. اودصحيح په قيد سره ئې دقياس نه احتراز اوكړلو.ځكه چې قياس دا وائى.چه دا اقراردې صحيح نشى.ځكه چې دا فيصله ده په غائب باندې كومه چې جائز نه ده،اووجه داستحسان دا ده.چه امانت او پور دمفقود مال دې اودا امانت او پور من جمله دهغه څيزونو نه دې.چه د من تجب لهم النفقة على المفقود په كې حق دې.نودقاضى لپاره چې لكه څنگه دهغه پور مال خرچ كول جائز دى كوم چې دده په لاس كې دې.نودغه ډول ورله د امانت او پور خرچ كول هم جائز دى﴾

دقاضى دفيصلې نه بغيردمودع او دمديون خرچه كول

فَإِنْ دَفَعَ الْمُودِعُ بِنَفْسِهِ أَوْمَنْ عَلَيْهِ الدَّيْنُ بِغَيْرِ أَمْرِ الْقَاضِي يَضْمَنُ الْمُودِعُ وَلَا يَبْرَأُ الْمَدْيُونُ لِأَنَّهُ مَا أَدَّى إِلَى صَاحِبِ الْحَقِّ وَلَا إِلَى نَائِبِهِ،بِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ بِأَمْرِ الْقَاضِي لِأَنَّ الْقَاضِي نَائِبٌ عَنْهُ،

ژباړه وتشريح:- اوكه وركړلوامانت دارپه خپله اوپه چا باندې چې پور وو ﴿مستحقينوته مال لپاره دنفقه﴾

بغیرد حکم د قاضي نه ﴿چه قاضي ورته حکم نه وي کړي.اودوی دمفقود هغه کسانوته پیسي ورکړي .چه په مفقود باندي دهغوی نفقه واجب وه﴾ نوتاوانی کولي به شي امانت داراونه به خلاصیږي قرضدار دخپل پور نه،ځکه چي ده ورکول نه دی کړي صاحب دحق ته ﴿چه مفقود دي﴾ اونه نائب دهغه ته ﴿چه مفقود د پور اوامانت حاصلولو لپاره مقرر کړی وي﴾ په خلاف دهغه صورت چي ورکړي ئي وی ﴿مال هغه چاته چي په مفقود ئي نفقه واجب وي﴾ په حکم د قاضي ﴿نوپه دي صورت کي امانت دارضامن نه دي او پور داري د پور نه خلاص دي﴾ ځکه چي قاضي نائب دي دده ﴿مفقود﴾

دمودع اومديون دانکارصورت

وَإِنْ كَانَ الْمُودِعُ وَالْمَدْيُونُ جَاحِدَيْنِ أَصْلاً أَوْ كَانَا جَاحِدَيْنِ الزَّوْجِيَّةَ وَالنَّسَبَ لَمْ يَنْتَصِبْ أَحَدٌ مِنْ مُسْتَحِقِّي النَّفَقَةِ خَصْمًا فِي ذَٰلِكَ

حل اللغة: ① **الجاحدين** تثنيه د جاحد ،سره د پوهي نه انکار کونکي ② **ينتصب**:مقرر کيږي

زباره وتشریح:- اوکه چیرته وی امانتدار اوقرضدار انکاریان ﴿دامانت اود پور نه﴾ بیخي،اویا وی انکاریان د زوجیت او د نسب نه﴿ یعني دا نه مني.چه دا مثلاً زینب دمفقود ښځه ده یا مثلاً دا خالد دهغه ځوئي دي﴾ نونشي مقررکولي یوکس د مستحقینو د نفقه نه جګړه کونکي په دي ﴿دعوی داستحقاق نفقه په امانت یا قرض﴾ کي ،

لِأَنَّ مَا يَدَّعِيهِ لِلْغَائِبِ لَمْ يَتَعَيَّنْ سَبَبًا لِثُبُوتِ حَقِّهِ وَهُوَ النَّفَقَةُ، لِأَنَّهَا كَمَا تَجِبُ فِي هَذَا الْمَالِ تَجِبُ فِي مَالٍ آخَرَ لِلْمَفْقُودِ.

زباره وتشریح:- ځکه چي هغه څیزچه دعوی ئي کوی دي﴿هرواحد د مستحقینود نفقه نه﴾ لپاره دغائب ﴿چه دد ،سره د مفقود امانت دي یا په ده باندي دهغه پور دي﴾نه دي متعین سبب ﴿یعني محل﴾ لپاره د ثبوت د ځق دده ﴿مدعي﴾ اوهغه ﴿حق﴾ نفقه ده.ځکه چي دا نفقه لکه څنګه چي واجبیږی په دي مال کي ﴿چي امانت او پور دي﴾ نو واجبیږی په بل مال کي هم لپاره د مفقود ﴿یعني دا خبره صحیح ده.چه دکومو کسانو نفقه په مفقود باندي واجب وی.دهغوی دغه نفقه د مفقود د قرضداری نه وصول کړي شي.یا دمفقود د امانت نه کوم چي هغه د یوکس سره ایخودي وی.خوپه زیربحث صورت کي چونکه مودع اومدیون انکاریان دی. نو کوم کسان چي مستحق دنفقه دی.دوی د قاضي په عدالت کي دا مقدمه نشي درج کولي.چه په ده باندي زمونږ د مفقود پور یادده سره زمونږ د مفقود امانت دي.دهغي نه دي زمونږ نفقه پوره کولي شي.ځکه چي د شریعت د اړخه دنفقه لپاره صرف پور یا امانت متعین نه دي.بلکه که دمفقود بل مال وی.مثلاً جائداد ئي وی.یا کورئي وی.چه دهغي نفع حاصلیږی.نودهغي نه هم د دوی نفقه پوره کولي شي.نوهرکله چي تعین نشته.نودا مستحقین د نفقه په امانت او پور کي دمفقود داړخه خصم اومدعیان نشي جوړیدي﴾

دمفقوداودهغه د ښځي په مینځ کي موده د تفریق

قَالَ (وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ) وَقَالَ مَالِكٌ: إِذَا مَضَى أَرْبَعُ سِنِينَ يُفَرِّقُ الْقَاضِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ وَتَعْتَدُّ عِدَّةَ الْوَفَاةِ ثُمَّ تَتَزَوَّجُ مَنْ شَاءَتْ (١) لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هَكَذَا قَضَى فِي الَّذِي اسْتَهْوَاهُ الْجِنُّ بِالْمَدِينَةِ (٢) وَكَفَى بِهِ إِمَامًا،

حل اللغة: ① **الاستهوا**:غائب کول ،مسلط کیدل

زباره وتشریح:- فرمائي ﴿ابو الحسین قدوری ﷫﴾ اوجدائی به نشي راوستلي په مینځ دده ﴿مفقود﴾ اود ښځي دده ﴿مفقود﴾ کي اوفرمائي امام مالک﷫ کله چي تیرشي څلورکلونه ﴿اویا هم مفقود پیدا

---

(١) القول الراجح الفتوی علی مذهب مالک بن انس رضی الله عنه کذا فی الدرالمنتقی (١\٢٢٢) وردالمحتار(٣\٣٦٢) ومعین القضاة (ص،٨٨) والبشری لأرباب الفتوی (ص،١٥٠) الصباح فی رسم المفتی (٢\١٠٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٥١١)-

(٢) أخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه (نصب:٣\٧١٦)_

نشي﴾ نو جدائي به راولي قاضي په مينځ دده ﴿مفقود﴾ اودده په ښځه كي. ﴿يعني قاضي به ددوى نكاح فسخ كړي﴾اوعدت به تيروى ﴿دا ښځه﴾ عدت دوفات ﴿چه ځلورمياشتې اولس ورځي دي،اوچه دا موده تيره شي﴾ بيا دې دا نكاح كوى چاسره چې ئې خوښه وى.ځكه چې حضرت عمر﷛ دغه ډول فيصله كړې وه په هغه كس كي چې غائب كړې وو هغه لره پيريانو په مدينه منوره كي ﴿لكه په مصنف ابن ابي شيبه كتاب النكاح كي چې دى.چه دحضرت عمر﷛ په دورخلافت كي يوسړې پيريانو غائب كړلو.نودهغه ښځه حضرت عمر﷛ ته راغله .او واقعه ئې ورته بيان كړه.نوحضرت عمر﷛ ورته اوفرمائيل.چه ته ځلوركاله انتظاراوكړه. كيداې شى.په دې موده كي ستا خاوند پيدا شى.كله چې ځلوركلونه تيرشول.نوحضرت عمر﷛د مفقود ولى ته حكم اوكړلو.چه طلاق ورته وركړى.اوبيا ئې هغې ته حكم اوكړلو.چه ته عدت تير كړه. اوچه كله ددې عدت پوره شى.نوچاسره چې ئې خوښه وى.نكاح دې اوكړى.اود بل خاوند سره دنكاح نه روسته كه اولني خاوند راغلو .نوهغه ته به دا اختيار وى.كه خپله ښځه اخلى.اوكه هغې ته ئې كوم مهر وركړې وى.هغه اخلى﴾ اوكافى دى دوى ﴿حضرت عمر﷛﴾ پيشوا ﴿چه په دوى پسې اقتداء اوكړې شى.اوپه دغه ډول مسئله كي هم دهغوى فيصله كولې شى﴾

وَلِأَنَّهُ مَنَعَ حَقَّهَا بِالْغَيْبَةِ فَيُفَرِّقُ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا بَعْدَ مُضِيِّ مُدَّةٍ اعْتِبَارًا بِالْإِيلَاءِ وَالْعُنَّةِ،

حل اللغة: ① **الايلاء:** ښځې سره د جماع كولو نه قسم خوړل ② **العنة:** په جماع باندې قدرت نه لرل

زباره وتشريح:- اوبله دا چې ده ﴿مفقود﴾ منع كړلو حق د هغې ﴿ښځې﴾ په غائب كيدو سره ﴿ځكه چې دې دخپلې ښځې نه غائب وى.نود نان نفقه نه علاوه ده دهغې حقوق زوجيت هم پوره نكړل﴾ نوجداوالې به راولي قاضي په مينځ ددې دواړو ﴿ښځه او خاوند﴾ كي روسته ددې نه چې تيره شى څه موده ﴿اودا د تفريق لپاره د مودې تيريدو شرط لګوو﴾د امله د قياس نه په ﴿موده د﴾ ايلاء ﴿يعنى چې يوسړې خپلې ښځې نه قسم اوخورى.چه زه به تاسره تعلق نه ساتم.نودې ته ايلاء وائى.اوس كه ځلورمياشتوكي دننه دې خپلې ښځې سره تعلق اونه ساتى.نودغه ښځه طلاقه شوه.نوموده دايلاء ځلورمياشتې دى﴾ اود امله دقياس نه په نامرده باندې ﴿يعنى چې يوكس په جماع باندې قادرنه وى.اودده ښځه د قاضي په عدالت كي د نكاح د فسخ كاوه مطالبه اوكړى.نوعنين ته به يوكال مهلت وركولې شى.كه په دغه موده كي دې روغ شو.نوصحيح ده.ګنى قاضي به دده اودښځې په مينځ كښې تفريق اوكړى،اوعلت مشتركه په مينځ د زوجه د مفقود اوپه مينځ د مولي اوعنين كي دا دې.چه په دوى كي هريوكس د ښځې حق منع كړې دى﴾

وَبَعْدَ هَذَا الِاعْتِبَارِ أَخَذَ الْمِقْدَارَ مِنْهُمَا الْأَرْبَعَ مِنْ الْإِيلَاءِ وَالسِّنِينَ مِنْ الْعُنَّةِ عَمَلًا بِالشَّبَهَيْنِ.

زباره وتشريح:- اوپس ددې قياس نه اخستې به شى مقدار ﴿د مودې د تفريق﴾ ددې دواړو نه ﴿چه ايلاء او عنت دى﴾ ځلور د ايلاء نه ﴿يعنى نفس عدد چې ځلوردى.دا به د مودې د ايلاء نه واخستې شى﴾ او ﴿نفس﴾ كلونه د عنت نه ﴿نوددې دواړو مجموعه ځلوركاله شول﴾ لپاره دعمل كاوه په دواړو مشابهتونو ﴿چه مشابهت د ايلاء اومشابهت د عنت دى﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ {صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَأَةِ الْمَفْقُودِ أَنَّهَا امْرَأَتُهُ حَتَّى يَأْتِيَهَا الْبَيَانُ} ([1]) وَقَوْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِيهَا: هِيَ امْرَأَةٌ اُبْتُلِيَتْ فَلْتَصْبِرْ حَتَّى يَسْتَبِينَ مَوْتٌ أَوْ طَلَاقٌ ([2]) خَرَجَ بَيَانًا لِلْبَيَانِ الْمَذْكُورِ فِي الْمَرْفُوعِ،

زباره وتشريح:- اوزمونږ ﴿د احنافو﴾ لپاره دليل قول دنبى ﷺ دې.په اړه د ښځې د مفقود كي چې دا ﴿ښځه د مفقود﴾ ښځه دهغه ﴿مفقود﴾ ده تردې چې راشى دې ته بيان ﴿چه هغه وفات شوې دې.نود دمرګ خبر رسيدو نه روسته به دا آزاده وى﴾ اوقول د حضرت على﷛ په دې ﴿ښځه د مفقود﴾ كي چې دا ﴿ښځه د

---

١) من حديث مغيرة بن شعبة ﷛ أخرجه الدارقطني في سننه (٣١٢\٣)۔

٢)أخرجه عبدالرزاق في مصنفه في كتاب الطلاق (نصب:٣\٧١٩)۔

مفقود﴾ داسې ښځه ده چې امتحان کې اچولې شوې ده ﴿په اړه د فراق د خاوند خپل کې﴾ نوصبر دې کوی ﴿اوخپل خان دې محفوظ ساتی.اود خاوند دعقد نکاح خیال دې کوی﴾ تردې چې ښکاره شی مرګ ﴿دخاوند﴾ اویا طلاق ﴿چه خاوند ورته طلاق ورکړې دې.نوددې نه روسته دا آزاده ده.نودا قول د حضرت علی﴾ واقع شوې دې تفسیر دهغه بیان ﴿مجمل﴾ لپاره کوم چې ذکرشوې دې په ﴿حدیث﴾ مرفوع کې ، ﴿چه إنها إمرأته حتی یأتیها البیان)

وَلِأَنَّ النِّكَاحَ عُرِفَ ثُبُوتُهُ وَالْغَيْبَةُ لَا تُوجِبُ الْفُرْقَةَ وَالْمَوْتُ فِي حَيِّزِ الِاحْتِمَالِ فَلَا يُزَالُ النِّكَاحُ بِالشَّكِّ،

حل اللغة: ① الحیز: مرتبۀ ،محل

ژباړه وتشریح:- اوبله دا چې نکاح پیژندلې شوې دې ثبوت ددې ﴿نکاح په مینځ د خلګ وکې چې دا د فلانی ښځه ده.اونکاح یو امرثابت اویقینی دې﴾ او غائب کیدل ﴿دخاوند﴾ نوواجبوی بیلتون ﴿یعنی چې یوسړې غائب وی.نودا ضروری نه ده.چه دده اودده دښځې په مینځ کې دې جدائی راوستې شی.لکه د مفقود نه علاوه که یوسړې په سفرباندې تلې وی.نودده دا غائب کیدل خو دا نه واجبوی.چه دده ښځه دې دده نه جلا کړې شی﴾ اومرګ ﴿دمفقود﴾ په محل د احتمال کې دې ﴿یعنی یوه احتمالی خبره ده.یقینی خبره نه ده﴾نو نه به شی زائله کولې نکاح ﴿چه په یقین سره ثابته ده﴾ په شک سره ﴿چه مرګ د مفقود دې.ځکه چې قاعده دا ده.الیقین لایزول بالشك﴾

وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَجَعَ إِلَى قَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

ژباړه وتشریح:- ﴿اوپاتې شوه دا خبره چې حضرت عمر﷛ دمفقود ښځې ته د ځلورو کالوانتظارکولوحکم کړې وو.نودهغې نه ځواب دا دې.چه﴾ حضرت عمر﷛ رجوع کړې وه قول دحضرت علی﷛ ته ﴿کوم چې مونږ ذکر کړلو.چه ښځه د مفقود دې انتظارکوی.تردې چې ددې دخاوندمرګ معلوم شی.یا دا معلومه شی.چه هغه ورته طلاق ورکړې دې.اودحضرت عمر﷛ د رجوع په اړه کې ابن ابی لیلی﷫ فرمائیلی دی.چه حضرت عمر﷛ په درې مسئلوکښې دحضرت علی﷛ قول ته رجوع کړې ده.یوه په کې د مفقود دښځې مسئله ده﴾

وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْإِيلَاءِ لِأَنَّهُ كَانَ طَلَاقًا مُعَجَّلًا فَاعْتُبِرَ فِي الشَّرْعِ مُؤَجَّلًا فَكَانَ مُوجِبًا لِلْفُرْقَةِ، وَلَا بِالْعُنَّةِ لِأَنَّ الْغَيْبَةَ تَعْقُبُ الْأَوْبَةَ، وَالْعُنَّةُ قَلَّمَا تَنْحَلُّ بَعْدَ اسْتِمْرَارِهَا سَنَةً.

حل اللغة: ① الاوبة: واپس راتګ ② تنحل: ختمیږی ③ الاستمرار: جاری پاتې کیدل

ژباړه وتشریح:- اونشی قیاس کولې ﴿موده د تفریق د ښځې دمفقود﴾ په ﴿موده د﴾ ایلاء باندې ځکه چې دا ﴿ایلاء﴾ وو طلاق معجل ﴿په زمانه د جاهلیت کې چې یوکس به دخپلې ښځې نه قسم اوخوړلو.دغه به طلاق ګڼرلې شو﴾ نو اومعتبر کړې شو په شریعت ﴿اسلامی﴾ کې ﴿طلاق﴾ مؤجل ﴿که په ځلورو میاشتوکې خاوند ښځې سره تعلق اونه ساتی.نوبیا به طلاق واقع کیږی﴾ نو شوه ایلاء واجبونکی د جدائی ﴿اود خاوند فقدان خوطلاق نه دې.ددې امله د مفقود مسئله په ایلاء باندې قیاس کول صحیح نه دی﴾ اونه ﴿دې صحیح قیاس کول د ښځې د مفقود﴾ په عنین باندې ځکه چې غائب کیدل واپس راځی په دې پسې واپس کیدل ﴿یعنی چې یوکس ورك شوې وی.نودا احتمال شته.چه هغه واپس راشی﴾ او عنت ﴿چه سړې عنین وی﴾ کمه وی داسې موقعه چې ختم شی روسته د دوام ددې نه یو کال ﴿یعنی کوم کس چې همیشه لپاره نامرد وی.نوپه یوکال کې دده په جماع باندې قدرت راتګ ډیر کم وی.اوکوم کس چې ورك شوې وی.نوپه یوکال کې دننه دننه دهغه د واپس کیدو احتمال زیات دې. نو کثیر الوقوع څیزچه د مفقود واپس راتګ دی په قلیل الوقوع څیزباندې چې د عنین صحیح کیدل دی قیاس کول صحیح نشو﴾

دمفقود د مرګ حکم ورکولو موده

قَالَ (وَإِذَا تَمَّ لَهُ مِائَةٌ وَعِشْرُونَ سَنَةً مِنْ يَوْمِ وُلِدَ حَكَمْنَا بِمَوْتِهِ) قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَهَذِهِ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: وَفِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ يُقَدَّرُ بِمَوْتِ الْأَقْرَانِ،

حل اللغة: ① **الاقران**: جمع د قرن ،همزولي

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري ﷫» او کله چې برابر شي دده «مفقود» شپږ شلې کاله عمر د ورځې د زیږیدل نه نو موږ به حکم کوو په مرګ دده «چه دې مړشوې دی» فرمائي مصنف﷫ اودا «قول» روایت دحسن دې د امام ابوحنیفه﷫ نه «چه کله د مفقود شپږ شلې کاله عمربرابرشي.نوهغه به مړ تصور کولې شي» اوپه ظاهر روایت کې دی چې اندازه کولې به شي «مرګ دده» په مرګ د همزولو دده «نوچه دده همزولي مړه شي.په هغوی کې څوک هم پاتې نشي.دې به هم مړ تصور کولې شي»

وَفِي الْمَرْوِيِّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ بِمِائَةِ سَنَةٍ، وَقَدَّرَهُ بَعْضُهُمْ بِتِسْعِينَ، وَالْأَقْيَسُ أَنْ لَا يُقَدَّرَ بِشَيْءٍ. وَالْأَرْفَقُ أَنْ يُقَدَّرَ بِتِسْعِينَ،

حل اللغة: ① **الارفق**: اسان

ژباړه وتشريح:- اوپه هغه روایت کې چې نقل شوې دې دامام ابویوسف﷫ نه «دا چې اندازه کولې به شي مرګ د مفقود» په سل کاله پورې «نوچه کله دده عمر سل کاله پوره شي.دې به مړ تصور کولې شي» اواندازه کړې دې بعضې عالمانو «مرګ دده» په لس کم سلو کالو پورې «چه لس کم لس کاله عمرئې برابر شي.دې به مړ تصور کولې شي» اوقیاس سره زیاته مناسبه خبره دا ده.چه اندازه کولې نشي «مرګ دده» په هيڅ شي پورې «بلکه چې کله ئې غالب ګمان راشي.چه هغه به مړ شوې وی.نوهغه به مړ تصور کولې شي» او «په ښځه باندې» آسانه خبره دا ده.چه اندازه کړې شي «مرګ دده» په لس کم سل کالو پورې

وَإِذَا حُكِمَ بِمَوْتِهِ اعْتَدَّتْ امْرَأَتُهُ عِدَّةَ الْوَفَاةِ مِنْ ذَلِكَ الْوَقْتِ

ژباړه وتشريح:- اوکله چې حکم اوکړې شي د وفات دده «چه مفقود مړدې نوقاضي به دمفقود د ښځې او د هغه په مينځ کې جدائي راولي.اودتفريق نه پس» عدت به تيروی ښځه دده «مفقود» عدت د وفات «چه ځلورمياشتې اولس ورځې دی» ددغه وخت نه «کله چې قاضي دهغه د مړ کيدو فيصله اوکړله.چه هغه به مړ شوې وی»

په موجوده وارثانوکې د مفقود دمال تقسیم

(وَيُقْسَمُ مَالُهُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ الْمَوْجُودِينَ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ) كَأَنَّهُ مَاتَ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ مُعَايَنَةً إِذْ الْحُكْمِيُّ مُعْتَبَرٌ بِالْحَقِيقِيِّ

ژباړه وتشريح:- اوتقسيمولې به شي مال دده «مفقود» په مينځ د وارثانو دده «مفقود» کې «کوم چې» موجود وی په هغه وخت کې «په کوم وخت کې چې قاضي هغه مړ اوګرځولو.نود قاضي دا مړ ګرځول داسې دی» لکه چې دې مړشو «کله چې قاضي دده د مرګ فيصله اوکړله» دسترګو وړاندې ځکه چې حکمي «مرګ» قیاس کولای شي په حقيقي باندې «اوهرکله چې يوکس په حقيقت کې وفات شي.نوچه په کوم وخت کې وفات شي.په هغه وخت کې چې کوم وراثان موجود وی.هغوی به ميراث اوړی.نودغه ډول دلته به هم صرف موجود وارثان ميراث اوړی.که روستو پيدا شي.هغوی حقدار نه دی»

(وَمَنْ مَاتَ قَبْلَ ذَلِكَ لَمْ يَرِثْ مِنْهُ) لِأَنَّهُ لَمْ يُحْكَمْ بِمَوْتِهِ فِيهَا فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَتْ حَيَاتُهُ مَعْلُومَةً

ژباړه وتشريح:- اوڅوک چې مړ شو وړاندې ددې «قاضي د فيصلې» نه نو هغه به ميراث نه اوړی دده «مفقود» نه ځکه چې حکم نه دې شوې د مرګ دهغه «مفقود.اوچه يوسړې ژوندې وی.دهغه ميراث

نښي تقسيمولي﴾ نودا داسې شوه لکه چې دده ﴿مفقود﴾ ژوند معلوم وی ﴿چه هغه ژوندې دې.اودا معلومه ده چې کله د مفقود د ژوند علم وی.نودهغه نه میراث نشی اوړلی﴾

مفقود دبل چانه میراث نشی اوړی

(وَلَا يَرِثُ الْمَفْقُودُ أَحَدًا مَاتَ فِي حَالِ فَقْدِهِ) لِأَنَّ بَقَاءَهُ حَيًّا فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ بِاسْتِصْحَابِ الْحَالِ وَهُوَ لَا يَصْلُحُ حُجَّةً فِي الِاسْتِحْقَاقِ

ژباړه وتشریح:- اونه به اوړی مفقود میراث دهیڅ چا نه چې هغه مړ شی په حالت د ورکوالی دده کې ،ځکه چې پاته پتې کیدل دده ﴿مفقود﴾ ژوندې په دغه وخت کې په استحصاب الحال سره دی. ﴿استصحاب الحال عبارت دې د پاته پریښولو د یوڅیزنه په خپل حالت باندې ځکه چې دهغه حالت په ختمیدو باندې څه دلیل موجود نه وی.﴾ اودا ﴿استصحاب الحال﴾ صلاحیت نه لری چې حجت شی په استحقاق ﴿دیوڅیز﴾ کې ﴿یعنی دا استصحاب الحال زمونږ په نیزدا صلاحیت لری.چه دځان نه ضرر دفع کړی. خو د استحقاق صلاحیت نه لری.چه دیوڅیزمستحق جوړ شی.هم دا وجه ده.چه مفقود دخپل مال لپاره ژوندې ګنړلې شی.نوچه ژوندې ګنړلې شی.میراث به ترې نشی اوړی.اودبل دمال لپاره مړ ګنړلې شی.نوکه بل څوك وفات شی.دې ترې میراث نشی اوړی.ځکه چې په ده کې د استحقاق صلاحیت نشته﴾

دمفقود لپاره د وصیت حکم

(وَكَذَلِكَ لَوْ أَوْصَى لِلْمَفْقُودِ وَمَاتَ الْمُوصِي) ثُمَّ الْأَصْلُ أَنَّهُ لَوْ كَانَ مَعَ الْمَفْقُودِ وَارِثٌ لَا يُحْجَبُ بِهِ وَلَكِنَّهُ يُنْتَقَصُ حَقُّهُ بِهِ يُعْطَى أَقَلَّ النَّصِيبَيْنِ وَيُوقَفُ الْبَاقِي

حل اللغة: ① یحجب: په میراث کنبې محرومه کیږی ② النصیبین: تثنیه د نصیب برخه

ژباړه وتشریح:- اودغه شان ﴿نه صحیح کیږی وصیت بلکه موقوف به وی﴾ که وصیت اوکړی ﴿یوکس﴾ لپاره د مفقود او ﴿د وصیت کولونه پس﴾ مړ شی وصیت کونکې بیا اصل ﴿په مال د مفقود کې دا دې.چه﴾ شان دا دې که چیرته وی د مفقود سره وارث ﴿داسې وارث﴾ چې نه محجوب کیږی ﴿دغه وارث﴾ په ده ﴿مفقود﴾ باندې ﴿یعنی داسې وارث وی.که مفقود موجود وی.نوهغه دمیراث نه نه محرومه کیږی﴾ خو کمیږی حق دهغه ﴿وارث﴾ په ده ﴿مفقود﴾ باندې نو ورکولې به شی ﴿هغه وارث ته﴾ کمه په دواړو حصو ﴿دمفقود﴾ کې اوموقوف کولې به شی پاته حصې،

ضروری تشریح:- صورت د مسئلې به دا وی.زید وفات شو.اویوه ښځه او یو مفقود ځوئې ئې پریښولو .نو اوس که چیرته ځوئې ژوندې فرض کړې شی.دښځې اتمه برخه رسی.اوکه هغه مړ فرض کړې شی.نود ښځې ئې څلورمه برخه رسی.اوس په دواړه صورتونوکې دښځې لپاره اتمه اقل برخه ده.نوښځې ته به اتمه برخه ورکړې شی.اوپاته برخه به د مفقود ځوئې لپاره موقوف کړې شی.نوکه دمفقود د مرګ خبر راغلو.ښځې ته به درې حصې نورې ورکړې شی.اویه دې طریقه به د ښځې څلورحصې برابر شی.

لَوْ أَنَّ كَانَ مَعَهُ وَارِثٌ يُحْجَبُ بِهِ لَا يُعْطَى أَصْلًا. بَيَانُهُ: رَجُلٌ مَاتَ عَنِ ابْنَتَيْنِ وَابْنِ مَفْقُودٍ وَابْنِ ابْنٍ وَبِنْتِ ابْنٍ وَالْمَالُ فِي يَدِ الْأَجْنَبِيِّ وَتَصَادَقُوا عَلَى فَقْدِ الِابْنِ وَطَلَبَتِ الِابْنَتَانِ الْمِيرَاثَ تُعْطَيَانِ النِّصْفَ لِأَنَّهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ وَيُوقَفُ النِّصْفُ الْآخَرُ وَلَا يُعْطَى وَلَدَ الِابْنِ لِأَنَّهُمْ يُحْجَبُونَ بِالْمَفْقُودِ، وَلَوْ كَانَ حَيًّا فَلَا يَسْتَحِقُّونَ الْمِيرَاثَ بِالشَّكِّ

ژباړه وتشریح:- اوکه چیرته وی دده ﴿مفقود﴾ سره وارث چې محجوب کیږی ﴿هغه وراث﴾ په ده ﴿مفقود﴾ سره نو نه به شی ورکولې ﴿دغه محجوب وارث ته﴾ هیڅ خیز ،بیان ددې دا دې.چه یوسړې دې مړ شو او پرې ئې خودې دوې [دوه] لونړه او یو ځوئې مفقود او نمسی ﴿ابن الابن﴾ او نمسئ ﴿بنت الابن﴾ او مال په لاس د یواجنبی کس کې وو.او دوی ﴿وارثانواو اجنبی﴾ تصدیق اوکړلو په ورکیدو د ځوئې ﴿چه ددې مړی یوځوئې ورك دې﴾ او مطالبه کوله دوو لونړو د میراث ﴿چه مونږ ته دخپل پلار په مال کې میراث راکړی﴾ نو ورکولې به شی ورته نصف ځکه چې دا ﴿نصف﴾ یقینی دې ﴿چه د دوی برخه

ده﴾ او موقوف كولې به شي نصف بل ﴿كومه چې د ځوئې برخه ده﴾ اونه به شي وركولې اولاد د ځوئې ﴿مفقود﴾ ته ﴿په دغه نصف كې څه حصه﴾ ځكه چې دوی ﴿نمسي اونمسۍ﴾ محجوب دی په مفقود ﴿پلار﴾ باندې ددې احتمال په وجه كه چيرته هغه ژوندې وی ﴿نوهركله چې د مفقود پلار په مرګ او ژوند كې شك دې﴾ نو نه مستحق كيږی دوی ﴿نمسي اونمسۍ﴾ د ميراث په شك سره ﴿بلكه داستصحاب الحال د قاعده مطابق به هغه ژوندې ګڼړلې شي. او ميراث به موقوف وی﴾

ضروری تشريح:- صورت به ئې دا وی.چه ساجد مړشو.اودمرګ په وخت كې ئې لس زره روپۍ پريښودې . اوهم دغه لس زره روپۍ ئې ميراث وی.اودده نه دوې [دوه] لونړه زينب اوكلثوم پاتې شوې اويوځوئې خالد پاتې شو . كوم چې فی الحال مفقود وو.خود خالد ځوئې ئې هم يوځوئې عابد اويوه لور عابده موجود وه. دغه عابد او عابده د ساجد نمسی كيږی.په دې صورت كې د زينب او كلثوم برخه په شريعت كښې مقرر ده.كوم چې نصف ميراث دې.يعنی دواړه ته په شريكه پنځه زره روپۍ ملاويږی.خالد ځوئې كه موجود وی اوكه مفقود په دواړو صورتونوكې دزينب او كلثوم په برخو كې څه توپير نه راځی.خوكه خالد ځوئې كوم چې مفقود دې كه هغه په حقيقت كې مړ وی.نوپه دې صورت كې به دهغه نيمه برخه دهغه ځوئی او لور يعنی عابد او عابده ته ملاويږی.اوكه هغه ژوندې وی.نوهم دا خالد به دنيم مال وارث وی.په دې صورت كې خالد د دواړو بچو لپاره حاجب شو.اودا دواړه به محجوب وی.

داجنبي دلاس نه دمفقود پاتې شوې ميراث اخستلو حكم

(وَلَا يُنْزَعُ مِنْ يَدِ الْأَجْنَبِيِّ إِلَّا إِذَا ظَهَرَتْ مِنْهُ خِيَانَةٌ) وَنَظِيرُ هٰذَا الْحَمْلُ فَإِنَّهُ يُوقَفُ لَهُ مِيرَاثُ ابْنٍ وَاحِدٍ عَلَى مَا عَلَيْهِ الْفَتْوٰى،

ژباړه وتشريح:- او ﴿هغه نصف موقوف ميراث كوم چې د مفقود په وجه نشی تقسيمولې﴾ نه به شي اخستلې دلاس د اجنبی نه ﴿بلكه هغه سره به امانت وی﴾ مګردا چې ښكاره شي دهغه ﴿اجنبی﴾ نه خيانت ﴿نوپه دغه صورت كې دغه پاتې شوې ميراث دهغه دلاس نه اخستل پكار دی﴾ اونظيردې ﴿مفقود دنصف برخې د توقف﴾ حمل دې ﴿په نس د مور كې يعنی كله چې څوك مړ شی.اودده يو وارث د مور په نس كې وی، نو دده واړه ميراث به نشی تقسيمولې.بلكه د دغه حمل برخه به موقوفه وی.تفصيل ئې دا دې﴾ ځكه چې شان دا دې.موقوف كولې به شی دده ﴿حمل﴾ لپاره ميراث د يو ځوی بناء په هغه قول چې په هغې باندې فتوی ده ﴿اګرچه دامام ابوحنيفه رحمه الله نه دا روايت هم شته.چه دده لپاره به د څلورو ځامنوحصه پريښودې شی.او د دوو ځامنو دحصې پريخودو روايت ترې هم شته.خودا دواړه روايتونه غيرمفتی بهما دی﴾

وَلَوْ كَانَ مَعَهُ وَارِثٌ آخَرُ إِنْ كَانَ لَا يَسْقُطُ بِحَالٍ وَلَا يَتَغَيَّرُ بِالْحَمْلِ يُعْطٰى كُلَّ نَصِيبِهٖ،

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وی دده ﴿مفقود﴾ سره بل وارث ﴿نواوس به دغه بل وارث ته كتلې شی﴾ كه چيرته وی ﴿حصه دهغه وارث چه﴾ نه ساقطيږی په هيڅ حالت كې ﴿كه مفقود ژوندې وی اوكه مړ،لكه زوې شو . ځكه چې ده ته په هرصورت كې خپله ملاويږی.كه مفقود حيات وی اوكه مړ﴾ اونه متغيركيږی ﴿حصه ددغه وارث،بلكه كه حمل وی اوكه نه وی.نوده ته به خپله برخه ملاويږی.مثلاً چې ځوئې وی.نوپه دې صورت كې كه مفقود ژوندی وی اوكه مړ او حمل وی اوكه نه وی.خودده په ميراث كې څه توپير نه راځی﴾ وركولې به شی ﴿دې وارث ته﴾ ټوله برخه د ده ﴿اوپه هغې كې به نه كمې كولې شی.اونه به موقوف كولې شی﴾

وَإِنْ كَانَ مِمَّنْ يَسْقُطُ بِالْحَمْلِ لَا يُعْطٰى،

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وی داسې وارث چې ساقطيږی ﴿حصه دهغه﴾ په حمل سره ﴿مثلاً زيد وفات شو .او دده دښځې په نس كې حمل دې.اونور ځامن يالونړه ئې نشته.البته ورور ئې دې.نوپه دې صورت كې به﴾ نشی وركولې ﴿دغه وروړته.ځكه چې ځوئی وی.نود ورورحصه نه كيږی﴾

وَإِنْ كَانَ مِمَّنْ يَتَغَيَّرُ بِهِ يُعْطِي الْأَقَلَّ لِلتَّيَقُّنِ بِهِ

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وي داسي وارث چې متغير كيږي ﴿حصه دهغه وارث﴾ په دي ﴿حمل﴾ سره ﴿او ساقطيږي نه﴾ مثلاً زيد چې مړ شي.نو ده د ښځې په نس كي حمل دې.اوده ده مور او ښځه ده.نواوس په دي صورت كي كه حمل ژوندي وي.نو د ښځې اتمه برخه ده او د مور شپږمه برخه اوكه حمل ژوندي نه وي نو ښځې ځلورمه اود مور دريمه برخه ده.نوپه دې صورت كي﴾ وركولي به شي ﴿دغه وارث ته﴾ كمه برخه ﴿چه اتمه برخه د ښځې ده اوشپږمه برخه د مور ده﴾ د امله د يقين نه په دي باندې ﴿يعني كه حمل ژوندي وي نوبيا هم دې وارث ته ددې نه كمه برخه نه ملاويږي﴾

كَمَا فِي الْمَفْقُودِ وَقَدْ شَرَحْنَاهُ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهَى بِأَتَمَّ مِنْ هَذَا، وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشريح:- لكه څنګه چې په مسئله د مفقود كي دي. ﴿مثلاً يوسړې مړ شو.اويومفقود خوئې پريږدي. اونيا يا ورور يا مور پريږدي.نود انا لپاره شپږمه برخه ده اوپاتـه به موقوف وي.اونيا تـه شپږمه برخه ځكه ملاويږي چه ددې برخه نه ساقطيږي اونه متغيركيږي كه مفقود خوئې ژوندي وي اوكه مړ،او ورور ته به څه نشي وركولي.ځكه چې دمفقود خوی د حيات په صورت كي د ورور برخه ساقطيږي. اومور تـه به شپږمه برخه ملاويږي.ځكه چې دا شپږمه برخه كمه برخه ده.يعني كه مفقود خوئې مړ وي. نوپه دې صورت كي د مور دريمه برخه ده.اوكه هغه ژوندي وي.نوددې شپږمه برخه ده. نو شپږمه برخه خو مور ته په هرحالت كي ملاويږي.ددې نه نه كميږي.كه مفقود خوئې پيدا شي اوكه نه.اوپاتـه مال به موقوف كولي شي.تردې چې د مفقود دحالت پته اولګي﴾ او موږ شرح كړې ده ددې مسئلې په كفاية المنتهى كښې په زيات تفصيل سره ددې نه ﴿كوم تفصيل چې موږه هدايه كي اوكړلو﴾

كِتَابُ الشَّرِكَةِ

ژباړه وتشريح:- ﴿دا كتاب﴾ د شركت ﴿په بيان كي﴾ دې.

ضروري تشريح:- كتاب الشركة ئې په كتاب المفقود پسې ځكه راوړلو.چه لكه څنګه د مفقود مال د صاحب يد سره امانت وي.دغه ډول د شريكينو مال د يوبل سره امانت وي.اودشركت ثبوت دقرآن اوحديث نه ثابت دې.الله تعالى فرمائي«فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ» اومصنف رحمه الله د شركت دجواز لپاره كوم دليل پيش كړې دې.د محدثينو په اصطلاح كي دې ته حديث تقريري وائي.يعني چې د نبي ﷺ مخكې يوكاراوشي.اوهغوی پرې انكار نه وي كړې.نودا ددې خبرې دليل دې چه دا كارجائز دې.ورنه نبي ﷺ به پرې ضروري انكار كاوه .ځكه چې نبي ﷺ د حلال او حرام د بيانولو لپاره راليږلې شوي دې. خو په مرتبه كي حديث فعلي او قولي د حديث تقريري نه قوي دې.ددې امله دلته يوحديث قولي ذكر كوم.كوم چې د شركت په جواز باندې دليل وي حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي.چه نبي ﷺ فرمائيلي دي. چې الله تعالى فرمائيلي دي.كله چې دوې [دوه] شريكان ديوبل سره په شريكه معامله كوي.نوزه د دوی په مينځ كي دريم يم.خوچه كله په دوی كي يودبل سره خيانت اوكړي.نو زه ترې بهر شم.ددې روايت ابوداود كړې دې.

دشركت ثبوت

(الشَّرِكَةُ جَائِزَةٌ) {لِأَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثَ وَالنَّاسُ يَتَعَامَلُونَ بِهَا فَقَرَّرَهُمْ عَلَيْهِ}، ([1])

ژباړه وتشريح:- شركت جائز دې ﴿وددې په صحت او جواز باندې دليل تقريري موجود دې﴾ځكه چې نبي ﷺ پيغمبرشو او خلګو به معاملات كول ددې ﴿شركت يعني د شركت معاملات به ئې كول﴾ نو نبي ﷺ پاتـه

---

١)فی ثبوت الشركة أحاديث منها حديث أبی هريرة رضي الله عنه كما نقلت فی الشرح أخرجه أبوداود فی البيوع باب ٢٦ رقم ٣٣٨٣)_

پاتې كړل ﴿خلک﴾ په دې ﴿معامله دشركت﴾ باندې. ﴿نودا ددې د جواز دليل شو﴾

قَالَ (الشِّرْكَةُ ضَرْبَانِ: شِرْكَةُ أَمْلَاكٍ، وَشِرْكَةُ عُقُودٍ. فَشِرْكَةُ الْأَمْلَاكِ: الْعَيْنُ يَرِثُهَا رَجُلَانِ أَوْ يَشْتَرِيَانِهَا

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله شركت په دوې [دوه] قسمه دې.شركت املاك او شركت عقود،نوشركت املاك ﴿دا دې.چه﴾ مال وي. چې په ميراث سره ئې يوسې دوې [دوه] نفر ﴿مثلاً د زيد نه يوكور پاتې شو.اودې مړ شو.اودده دوې [دوه] خامن وي.نودغه كور د ميراث په ذريعه ددې دواړو په مينځ كښې شريك شو﴾ او يا ئې واخلي دا دواړه نفر ﴿د يوبائع نه څه څيزمثلاً لس مرلئ مځكه واخلي﴾ نودا دواړه مشتريان په دغه مبيعه كې شريكان شول﴾

فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَكُلٌّ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ كَالْأَجْنَبِيِّ)

ژباړه وتشريح:- نو جائز نه دي لپاره د يو د دواړو چې تصرف اوكړي په برخه د بل كې مگر اجازت دهغه سره اوهرواحد د دواړو نه په برخه د خپل انډيوالان كې پشان د پردى دې.

وَهَذِهِ الشِّرْكَةُ تَتَحَقَّقُ فِي غَيْرِ الْمَذْكُورِ فِي الْكِتَابِ

ژباړه وتشريح:- اودا شركت ﴿چه شركت املاك دې.هغه شركت دې﴾ چې متحقق كيږي په هغه څه كې چې ذكرشوې نه دي په كتاب ﴿قدوري﴾ كې ﴿يعني دا شركت املاك صرف په هغه څيزونوكې نه دې.كوم چې ابو الحسين قدوري رحمه الله ذكركړل.چه د ميراث او اشتراء په ذريعه په يوڅيز باندې ملكيت راتګ دې.بلكه ددې دواړو ذرائعونه علاوه كه په نورو اسبابو او ذرائعو سره پرې ملكيت راشي.نو هم به هغه شركت املاك وي﴾

كَمَا إِذَا اتَّهَبَ رَجُلَانِ عَيْنًا أَوْ مَلَكَاهَا بِالِاسْتِيلَاءِ أَوْ اخْتَلَطَ مَا لَهُمَا مِنْ غَيْرِ صُنْعِ أَحَدِهِمَا أَوْ بِخَلْطِهِمَا خَلْطًا يَمْنَعُ التَّمْيِيزَ رَأْسًا أَوْ إِلَّا بِحَرَجٍ

حل اللغة: ① الاستيلاء: غلبة ② الاختلاط: ګډون ③ حرج: تكليف ،مشقت

ژباړه وتشريح:- لكه څنګه چې هبه كړې شي دوو كسانو ته يو شي ﴿نود هبه په ذريعه دوى د دغه موهوبه مالكان شول﴾ او يا مالكان شي دا دواړه نفر دهغه شي په غلبه راتلو سره ﴿مثلاً دوې [دوه] نفر د حربيانو په مال باندې غالب شي.اوپه هغې باندې قبضه اوكړي.نودوى په دې مال كې شريكان شول﴾ اويا چې ګډ وډ شي مال د دې دواوكسانوپه عمل د يوكس سره ﴿يعني يوكس خپل مال د بل د مال سره ګډ وډ كړلو﴾ اويا په ګډ وډ كاوه د دواړو سره ﴿يعني دوو كسانو خپلو مالونه د يوبل د مال سره ګډ وډ كړلو﴾ په داسې ګډ وډ كاوه سره چې ممكن نه وى تميز ﴿په مينځ ددغه دواړو څيزونوكښې﴾ بيخي ﴿مثلاً د دواړو غنم يوځائې شو﴾ او يا تميز ممكن وى خو په تكليف سره ﴿مثلا د يو غنم وى اودبل اوربشې﴾

وَيَجُوزُ بَيْعُ أَحَدِهِمَا نَصِيبَهُ مِنْ شَرِيكِهِ فِي جَمِيعِ الصُّوَرِ وَمِنْ غَيْرِ شَرِيكِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ إِلَّا فِي صُورَةِ الْخَلْطِ وَالِاخْتِلَاطِ فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَقَدْ بَيَّنَّا الْفَرْقَ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهَى

ژباړه وتشريح:- اوجائزدې خرڅول ديوشريك برخه خپله په شريك خپل اوپه بل چا چې شريك نه وى په ټولو صورتونو كې ﴿چه ميراث،اشتراء هبه ،استيلاداوخلط دى﴾ بغيرد اجازت د شريك خپل نه.مګر په صورت د خلط كې ﴿چه دوې [دوه] شيان (څيزونه) د دووكسانو د ارادې نه بغيرګډوډ شوى وى.مثلا د يوكس نه اودبل نه په يوځائې باندې چينې پريوتل.اوهغه ګډ وډ شول﴾ اوپه صورت د ګډوډ كولوكې ﴿چه دوو كسانوپه خپل قصد او اراده خپل خپل څيزديوبل سره ګډ كړلو﴾ ځكه چې جائز نه دى ﴿خرڅول د عين مشترك په دې صورت د خلط كې﴾ مګرپه اجازت دده ﴿شريك﴾ سره اويقينا موږ بيان كړې دې توپير ﴿په مينځ د جواز كې په ټولو صورتونو كې اودعدم جواز كې په صورت د خلط كې﴾ په كفايت المنتهى كتاب كې

ضروري تشريح:- اوفرق دا دې چه كله چې د ابتداء نه د دوى په مينځ كې شركت وى.مثلاً دوى په شريكه غنم واخلى.نوهره يوه دانه ددوى په مينځ كې شريكه شوه.نوچه يوكس په كې خپله برخه خرڅوى. نو هغه په شائع صورت كې خپله برخه خرڅوى.نويه خپل شريك او بل باندې ئې هم خرڅولې شى. او چې د خلط او اختلاط په ذريعه باندې دوى په يو شى كې شريكان شى.نويه دوى كې داول نه هر يو كس دخپلې دانې مستقل مالك وو.په دې كې ورسره بل خوك شريك نه وو.نوچه دخلط نه روسته دې خپله برخه خرڅوى.دې دهغې په خرڅولو قادرنه دې.ځكه چې خامخا به ورسره دخپل شريك برخه خرڅوى.نوپه دې صورت كې به دده خرڅول دده د شريك په اجازت باندې موقوف وى. ﴿فتح القدير﴾

د شركت عقود ركن او شرط

(وَالضَّرْبُ الثَّانِي: شِرْكَةُ الْعُقُودِ، وَرُكْنُهَا الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ، وَهُوَ أَنْ يَقُولَ أَحَدُهُمَا شَارَكْتُكَ فِي كَذَا وَكَذَا وَيَقُولُ الْآخَرُ قَبِلْتُ)

ژباړه وتشريح:- او دوهم ډول ﴿دشركت﴾ شركت عقود دې.او ددې ﴿شركت عقود﴾ ركن ايجاب او قبول دې.اودا ﴿ايجاب او قبول﴾ دا دې.چه ووايي يوپه دواړو شريكانو كې زه تاشريكوم په فلانى او فلانى عقد كې اوهغه بل ووايي ما قبول كړې دې ﴿دا شركت﴾

وَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ التَّصَرُّفُ الْمَعْقُودُ عَلَيْهِ عَقْدَ الشِّرْكَةِ قَابِلًا لِلْوَكَالَةِ لِيَكُونَ مَا يُسْتَفَادُ بِالتَّصَرُّفِ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا فَيَتَحَقَّقُ حُكْمُهُ الْمَطْلُوبُ مِنْهُ

ژباړه وتشريح:- اوشرط ددې ﴿شركت عقود﴾ دا دې.چه وى تصرف ﴿هغه تصرف﴾ چې عقد شوې وى په هغې باندې ﴿په مينځ د شريكينو كې﴾ عقد دشركت ﴿داسې عقدشركت﴾ چې قابل وى لپاره د وكالت ﴿يعنى وكالت په كې صحيح كيږى.آوكه وكالت په كې نه صحيح كيږى.لكه ښكاركول شو.چه يوكس يو شى ښكاركړى.نوبل خوك ورسره په دې ښكاركې نشى شريكيدې.بلكه دغه ښكاربه د ښكارى وى﴾ اودا دوكالت شرط ځكه لګولې شى﴾ چې شى هغه شى چې ګټلى شى په تصرف كولومشترك په مينځ د دواړو ﴿شريكينو﴾ كې نوثابتيږى به حكم ددې ﴿شركت﴾ كوم چې مطلوب دې ددې ﴿عقد﴾ شركت نه ﴿چه ګټه ده ،يعنى دا شرط ده.چه په كوم شى كې دوى شركت كوى.هغه داسې شى وى.چه په هغې كې وكالت صحيح كيږى.نوچه وكالت په كې صحيح وى.يوشريك به د بل نه وكيل شى. او په دې طريقه به ګټه د دواړو په مينځ كې شريكه وى.

دشركت په څلوروقسمونوكې شركت مفاوضه

(ثُمَّ هِيَ أَرْبَعَةُ أَوْجُهٍ: مُفَاوَضَةٌ، وَعِنَانٌ، وَشِرْكَةُ الصَّنَائِعِ، وَشِرْكَةُ الْوُجُوهِ. فَأَمَّا شِرْكَةُ الْمُفَاوَضَةِ فَهِيَ أَنْ يَشْتَرِكَ الرَّجُلَانِ فَيَتَسَاوَيَانِ فِي مَالِهِمَا وَتَصَرُّفِهِمَا وَدَيْنِهِمَا) لِأَنَّهَا شِرْكَةٌ عَامَّةٌ فِي جَمِيعِ التِّجَارَاتِ يُفَوِّضُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَمْرَ الشِّرْكَةِ إِلَى صَاحِبِهِ عَلَى الْإِطْلَاقِ إِذْ هِيَ مِنَ الْمُسَاوَاةِ،

حل اللغة: ① يفوض سپارى ،حواله كوى ② المساواة برابرى

ژباړه وتشريح:- بيا دا ﴿شركت﴾ په څلورقسمه دې.شركت مفاوضه،شركت عنان اوشركت صناع او شركت الوجوه، نو هر چې شركت مفاوضه دې.نوهغه دا دې.چه شريك شى دوې [دوه] نفر اوبرابر وى په مال او تصرف او دين خپل كې ﴿يعنى د دواړو مال هم يوهومره وى.اودواړه ته تصرف هم يوشان حاصل وى. او دواړه د يو ملت او دين پيروكاروى﴾ ځكه چې دا ﴿شركت مفاوضه﴾ يوشركت عامه دې.په ټولو تجارتونوكې سپارى په كې هريوشريك په شريكانوكې عمل د شركت خپل اندېوالان ته مطلقاً ﴿يعنى څه قيد په كې نه لګوى.چه فلانې شى به اخلى اوفلانى به نه اخلى اوفلانى سره به كاروبار كوى اوفلانى سره به نه كوې.اوپه دې شركت مفاوضه كې مساوات ځكه ضرورى دې﴾ ځكه چې دا ﴿لفظ د مفاوضه﴾ د

مساوات د قبيلې ځنې دې

قَالَ قَائِلُهُمْ: لَا يُصْلِحُ النَّاسَ فَوْضَى لَا سَرَاةَ لَهُمْ وَلَا سَرَاةَ إِذَا جُهَّالُهُمْ سَادُوا أَيْ مُتَسَاوِيِينَ.

حل اللغة: ① سراة: سرداران، مشران ② سادوا: سرداران وي

ژباړه وتشريح:- ونيلي دي قائل ددوی ﴿خلگ و، چه الافوه الاودي دي﴾ اصلاح نه راځي د خلگ و چې برابر وي اونه وي سردار د دوی ﴿يعنې کـه خلگ واړه پـه يـوه مرتبـه کـې وي.نوبيـا خوبـه هرسـړی خـان تـه سرداروائي.اود بل خبره به نه مني.نودمعاشرې کارونه به نه چليږي﴾ اونه پاتې کيږي سرداری چې وي سرداران جاهلان يعني برابر ﴿يعنې چې د يوقوم سرداران او مشران جاهلان وي.نوپه هغوی کې به جنگ جګړې او کشالې وي﴾

فَلَابُدَّ مِنْ تَحْقِيقِ الْمُسَاوَاةِ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً وَذَلِكَ فِي الْمَالِ، وَالْمُرَادُ بِهِ مَا تَصِحُّ الشَّرِكَةُ فِيهِ، وَلَا يُعْتَبَرُ التَّفَاضُلُ فِيمَا لَا يَصِحُّ الشَّرِكَةُ فِيهِ،

حل اللغة: ① التفاضل: زياتوالې

ژباړه وتشريح:- نوضروری شوه برابری ﴿په شرکت مفاوضه کې﴾ په اول او په آخرکې اودا ﴿مساوات﴾ به وی په مال کې او مراد ددې ﴿مال نه چې مساوات په کې ضروری دي﴾ نه هغه دې چې صحيح کيږی شرکت په هغې کې ﴿لکه روپۍ او اشرفۍ وی.يعنې دا شيان (څيزونه) به ددوی په مينځ کې برابر وی﴾ اونشته اعتبار زيادت لره په هغه څه کې نه صحيح کيږی شرکت په هغې کې ﴿لکه سامان او قرضونه شول.نوکه ديوکس په خلگو باندې قرضونه وی. اوهغه نې لا وصول کړی نه وی. نوعقد مفاوضه نه باطليږی﴾

وَكَذَا فِي التَّصَرُّفِ، لِأَنَّهُ لَوْ مَلَكَ أَحَدُهُمَا تَصَرُّفًا لَا يَمْلِكُ الْآخَرُ لَفَاتَ التَّسَاوِي،

حل اللغة: ① التساوي: برابری

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول ﴿ضروری دي مساوات﴾ په تصرف کې ﴿چه په عقد مفاوضه کې به هريوکس ته يوشان اختيارحاصل وی.دا نه چې يوته به مکمل اختيار وی.چه څه خرڅوی اوځه اخلی اوچا سره معامله اوچا سره نه کوی.اوپه بل باندې قيودات وی.چه ته به فلانې شی نه اخلې.اود فلانی سره به معامله نه کوې﴾ ځکه که چيرته مالك شی يود شريکينو نه د يوتصرف اومالك نه وی بل ﴿ددغه تصرف﴾ نو فوت به شی برابری ﴿په عقد مفاوضه کې اوبرابری خو شرط ده اوپه انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځي﴾

وَكَذَلِكَ فِي الدَّيْنِ لِمَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى، وَهَذِهِ الشَّرِكَةُ جَائِزَةٌ عِنْدَنَا اسْتِحْسَانًا. وَفِي الْقِيَاسِ لَا تَجُوزُ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. وَقَالَ مَالِكٌ: لَا أَعْرِفُ مَا الْمُفَاوَضَةُ.

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول ﴿ضروری ده برابری﴾ په دين کې لکه چې موږ به نې بيان کړو انشاء الله تعالى ﴿په بيان د اشتراط د برابرۍ کې په دې ځيزونوکې﴾ اودا شرکت ﴿مفاوضه﴾ جائز ده زموږ ﴿داحنافو﴾ په نيز د امله د استحسان نه اوپه قياس کې دا دی.چه جائز نه شی اودا ﴿وجه د قياس﴾ قول دامام شافعي رحمه الله دي ﴿دامام شافعي رحمه الله په نيزباندې هم شرکت مفاوضه صحيح نه ده﴾ او فرمائی امام مالك رحمه الله ماته علم نشته چې مفاوضه څه شی دي ﴿يعنې حکم نې څه دی﴾

وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّهَا تَضَمَّنَتْ الْوَكَالَةَ بِمَجْهُولِ الْجِنْسِ وَالْكَفَالَةَ بِمَجْهُولٍ، وَكُلُّ ذَلِكَ بِانْفِرَادِهِ فَاسِدٌ.

ژباړه وتشريح:- وجه دقياس دا ده.چه دا ﴿شرکت مفاوضه﴾ متضمن دې وکالت لره په مجهول الجنس شی کې اوذمه واری اخستلو سره په مجهول شی کې ﴿يعنې په کوم وخت کې چې عقد مفاوضه کيږی. نو ګويا چې شريك ځپل شريکوال وکيل جوړوی.خودا معلومه نه وی.چه دې به کومه مبيعه اخلی. او کوم کوم عقد به کوی.بلکه دا خو روسته بيا دموقع اومحل مناسبت سره شريکوال بيع او شراء کوی. او دغه ډول عقد

مفاوضه کي شريك دخپل شريکوال د عمل ذمه وار وی.خودعقد په وخت کي دا معلومه نه وی.چه روسته به د شريك د کوم شی بيع او شراء کوی.چه دې په هغې کي دخپل شريکوال ذمه وار جوړ شی.بلکه داخو بيا روسته دموقع اومحل مناسبت سره شريکوال بيع او شراء کوی﴾او هرواحد ددې دواړو نه ﴿که وکالت دې اوکه کفالت دې﴾ په جلا حيثيت سره ﴿يعنی چې نفس وکالت راواخلي يا نفس کفالت راواخلي په داسي شی کي نه صحيح کيږی.چه موکول فيه او مکفول فيه معلوم نه وی. نوهرکله چې د مجهول موکول فيه او مجهول مکفول فيه انفرادي حيثيت سره عقد فاسدوی.نوچه دا دواړه په کي جمع شوی وی.هغه خوبه په طريق اولی سره فاسد وی.نوثابته شوه چې د عقل او قياس په اعتبارسره عقد مفاوضه صحيح نه ده﴾

وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فَاوِضُوا فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْبَرَكَةِ} ( ) وَكَذَا النَّاسُ يُعَامِلُونَهَا مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ وَبِهِ يُتْرَكُ الْقِيَاسُ

ژباړه وتشريح:- وجه د استحسان قول دنبیﷺ دې چې عقد مفاوضه کوئ ځکه چې دا سبب د لوئي برکت دې او دغه ډول ﴿د دې د جواز دليل دا هم دې.چه﴾ خلګ کوی دا عقد مفلوضه بغيرد انکار نه ﴿نودا ددې دجواز دليل شو.ځکه چه﴾ په مثل ددې ﴿تعامل د خلګ و﴾ پريښودې شی قياس ﴿ځکه چې تعامل پشان داجماع دی﴾

وَالْجَهَالَةُ مُتَحَمَّلَةٌ تَبَعًا كَمَا فِي الْمُضَارَبَةِ

ژباړه وتشريح:- ﴿اوپاته پاتې شوه دا خبره چې په عقد مفاوضه کي د مجهول شی توکيل او تکفيل دې. نو د هغې نه خواب دا دې.چه﴾ جهالت برداشت کولای شی تبعاً ﴿اوډيرکرته يو شی ضمناً او تبعاً ثابتيږی او قصداً او اصالةً نه ثابتيږی﴾ لکه څنګه چې په عقد مضاربت کي دی. ﴿ځکه چې په عقد مضاربت کي هم په يو مجهول شی باندې مضاربت کولې شی.دعقد په وخت کي خودا معلومه نه وی.چه کوم شی به اخلی او خرڅوی.بلکه داخو د وخت او موقع مناسبت ښائی.چه د کوم شی اخستل مناسب دی.نولکه څنګه چې په مضاربت کي لږ غوندې جهالت برداشت کولې شی.دغه ډول به په عقد مفاوضت کي هم برداشت کولې شی﴾

وَلَا تَنْعَقِدُ إلَّا بِلَفْظَةِ الْمُفَاوَضَةِ لِبُعْدِ شَرَائِطِهَا عَنْ عِلْمِ الْعَوَامّ، حَتَّى لَوْ بَيَّنَا جَمِيعَ مَا تَقْتَضِيهِ تَجُوزُ لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْمَعْنَى.

ژباړه وتشريح:- اونه منعقد کيږی ﴿عقد مفاوضه﴾ مګر په لفظ د مفاوضه ﴿چه يوشريك به بل ته وائی.زه تاسره عقد مفاوضه کوم﴾ د امله د لری والی د شرطونو ددې د علم د خلګو نه ﴿يعنی ډيرو خلګو ته ددې احکام نه دی معلوم.ددې امله به دعقد په وخت کي د مفاوضت تصريح کوی﴾ ددې امله که بيان کړی دواړه ﴿متعاقدين﴾ واړه هغه شيان (څيزونه) چې تقاضا ئې کوی دا ﴿عقدمفاوضه﴾ نوجائز دې ﴿اګرچه په عقدکي د مفاوضت تصريح اونکړی﴾ ځکه چې اعتبارمعنی لره دې ﴿لفظ لره نه دې.هم دا وجه ده.چه اعتبارمعنی لره دې لفظ لره نه دې.په کفاله کي چې قرضدارې د پور نه بری کړې شی.نودا حواله ګرځي.يعنی که د زيد په بکرباندې مثلاً زر روپئ وی.اوخالد د بکر ذمه واری اخلی.خوپه ذمه واریٔ کي داسې اووائی. چې ته د بکرنه د پور مطالبه مکوه.بلکه زه به تاته ستا پور درکوم.نودا کفاله وه.خوخالد د بکر پور په خپل خان اومنل. او بکر ئې د زيد نه خلاص کړلو.نوحواله شوه﴾

دافرادو په اعتبارسره د شرکت مفاوضه صحت اوعدم صحت

قَالَ (فَتَجُوزُ بَيْنَ الْحُرَّيْنِ الْكَبِيرَيْنِ مُسْلِمَيْنِ أَوْ ذِمِّيَّيْنِ لِتَحَقُّقِ التَّسَاوِي، وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا كِتَابِيًّا وَالْآخَرُ مَجُوسِيًّا تَجُوزُ أَيْضًا

(أيضًا) لِمَا قُلْنَا

ژباړه وتشریح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوري﴾ نوجائزده ﴿مفاوضه﴾ په مینځ د دوو آزادو کسانوکي چې دواړه بالغان وی دواړه مسلمانان وی اویا دواړه ذمیان وی.د امله د تحقق د برابرئ نه ﴿په مینځ د دې کسانو کې﴾ اوکه چیرته وی یو د دواړو نه کتابی او بل مجوسی نوهم جائزده دهغه امله نه چې مونږ بیان کړله ﴿چه د دواړو په مینځ کې مساوات شته.ځکه چې کفریوملت دې که یهودی اوکه مجوسی وی﴾

(وَلَا يَجُوزُ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ وَلَا بَيْنَ الصَّبِيِّ وَالْبَالِغِ) لِانْعِدَامِ الْمُسَاوَاةِ، لِأَنَّ الْحُرَّ الْبَالِغَ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ وَالْكَفَالَةَ، وَالْمَمْلُوكُ لَا يَمْلِكُ وَاحِدًا مِنْهُمَا إلَّا بِإِذْنِ الْمَوْلَى، وَالصَّبِيُّ لَا يَمْلِكُ الْكَفَالَةَ وَلَا يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ إلَّا بِإِذْنِ الْوَلِيِّ.

ژباړه وتشریح:- اوجائز نه ده ﴿مفاوضه﴾ په مینځ د آزاد او غلام کې اونه په مینځ د ماشوم او بالغ کې د امله د نشتوالی د برابرئ نه ﴿په مینځ ددې کسانوکې﴾ ځکه چې آزاد بالغ مالك وی د تصرف او کفالة اوغلام نه وی مالك د یوخیز په دې دواړوکې ﴿که تصرف دې اوکه کفالت دې﴾ مګرپه اجازت دمولی او ماشوم مالك نه دې د ذمه واریٔ اخستلو اونه مالك دې د تصرف کاوه مګرپه اجازت د ولی ﴿نو معلومه شوه.چه د اصیل اومملوك او دغه ډول دماشوم اوبالغ په مینځ کې مساوات نشته. او د مفاوضه لپاره مساوات شرط دې﴾

دکافراومسلمان په مینځ کې دمفاوضه عدم صحت

قَالَ (وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ) وَهَذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ. (١) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَجُوزُ لِلتَّسَاوِي بَيْنَهُمَا فِي الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ

ژباړه وتشریح:- فرمائی ﴿امام قدروی﴾ اونه ده جائز ﴿مفاوضه﴾ په مینځ د مسلمان او کافرکې اودا ﴿عدم جواز﴾ قول دامام ابوحنیفه اومحمد دې اوفرمائی امام ابویوسف جائز ده برابری په مینځ ددې دواړو کې په وکالت او کفالت کې ﴿اوکه امام ابوحنیفه دا وائی.چه د کافراومسلمان په مینځ کې خو برابری نشته.ځکه چې کافرد خنزیرواو شرابو تجارت جائزګنړی او مسلمان ئې حرام ګنړی.نوامام ابویوسف خواب ورکوی.﴾

وَلَا مُعْتَبَرَ بِزِيَادَةِ تَصَرُّفٍ يَمْلِكُهُ أَحَدُهُمَا كَالْمُفَاوَضَةِ بَيْنَ الشَّفْعَوِيِّ وَالْحَنَفِيِّ فَإِنَّهَا جَائِزَةٌ. وَيَتَفَاوَتَانِ فِي التَّصَرُّفِ فِي مَتْرُوكِ التَّسْمِيَةِ، إلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ لِأَنَّ الذِّمِّيَّ لَا يَهْتَدِي إلَى الْجَائِزِ مِنَ الْعُقُودِ.

ژباړه وتشریح:- اونشته څه اعتبار زیادت دتصرف ته چې مالك ئې وی یود دواړو شریکینو نه، ﴿یعنی اصل تصرف لره اعتبار دې چې دواړو شریکانو ته تصرف حاصل وی.دا بیله خبره ده چې یوته کم تصرف حاصل وی او بل ته زیات﴾ لکه مفاوضه شوه په مینځ د شافعی المذهب او حنفی المسلك ځکه چې دا ﴿مفاوضه﴾ جائز ده حالانکه دواړه کم او زیات په تصرف کې په هغه څیزکې چې بسم الله پرې نه وی وئیلې شوې. ﴿یعنی که یوکس قصداً په یوڅیزباندې د ذبحې په وخت کې بسم الله اونه وائی. نو شافعی المسلك هغه حلاله ګنړی.اوحنفی ئې حرامه ګنړی.ددې نه معلومه شوه.چه شریکینو ته اصل تصرف حاصل وی.نوکه یوته زیات اوبل ته کم وی.دا څه پرواه نه لری.نوثابته شوه.چه د کافراومسلمان په مینځ کې مفاوضه صحیح ده﴾ البته دا ده چې دا ﴿دکافرسره مفاوضه کول﴾ مکروه ده.ځکه چې ذمی ته پته نه لګی دجائزو معاملاتو ﴿نو کیدای شی.چه په تجارت کې یوداسې شی واخلی.دکوم اخستل چې دمسلمان لپاره جائز نه وی.نودمسلمان رزق به پرې حرام شی﴾

(١) القول الراجح هوهذا قول الطرفين كذا في الخانية (٤\٤٩٤) وردالمحتار (٣٧٠\١٣) والهندية (٣٠٧\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥١٣\١)-

وَلَهُمَا أَنَّهُ لَا تَسَاوِيَ فِي التَّصَرُّفِ، فَإِنَّ الذِّمِّيَّ لَوِ اشْتَرَى بِرَأْسِ الْمَالِ خُمُورًا أَوْ خَنَازِيرَ صَحَّ، وَلَوِ اشْتَرَاهَا مُسْلِمٌ لَا يَصِحُّ

حل اللغة: ① الخمور: جمع د خمر، شراب ② خنازير: جمع د خنزير

ژباړه وتشريح:- اود طرفينو رحمهما الله لپاره دليل دا دې چه نشته برابري په تصرف كې ځكه چې ذمي كه په راس المال باندې شراب يا خنزيران واخلي نو دا صحيح ده. اوكه واخلي دا (شراب او خنزيران) مسلمان نو نه صحيح كيږي

دعبدينو، صبينو اومكاتبينو په مينځ كې دمفاوضه عدم جواز

(وَلَا يَجُوزُ بَيْنَ الْعَبْدَيْنِ وَلَا بَيْنَ الصَّبِيَّيْنِ وَلَا بَيْنَ الْمُكَاتَبَيْنِ) لِانْعِدَامِ صِحَّةِ الْكَفَالَةِ،

ژباړه وتشريح:- اونه ده جائز (مفاوضه) په مينځ د دووغلامانو اونه په مينځ د دوو ماشومانو اونه په مينځ د دوو مكاتبينو د امله د نه صحت دكفالې نه (يعنې په عقد مفاوضه كې هرواحد د شريكينو نه دبل لپاره كفيل وي. اوپه ذكرشوو كسانو كې دكفالت صلاحيت نشته. ځكه ددوى مفاوضه صحيح نه ده)

وَفِي كُلِّ مَوْضِعٍ لَمْ تَصِحَّ الْمُفَاوَضَةُ لِفَقْدِ شَرْطِهَا، وَلَا يُشْتَرَطُ ذَلِكَ فِي الْعِنَانِ كَانَ عِنَانًا لِاسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِ الْعِنَانِ، إِذْ هُوَ قَدْ يَكُونُ خَاصًّا وَقَدْ يَكُونُ عَامًّا.

ژباړه وتشريح:- اوپه هرهغه ځاى كې چې نه صحيح كيږي مفاوضه د امله دنشتوالي د شرط ددې (مفاوضه نه (مثلاً مسلمان اوذمي شركت مفاوضه اوكړي. نودا مفاوضه نه صحيح كيږي. ځكه چې په دې كې مساوات شرط دې. اودلته مساوات نشته) اوحال دا وي چې شرط نه وي (دغه ځيز) په شركت عنان كښې (لكه په ذكرشوى مثال كې چې د مسلمان اوذمي په مينځ كې مساوات نشته. خودا مساوات په شركت عنان كې شرط نه دي) نو وي به دغه شركت عنان (ځكه چې ده لفظ د مفاوضه استعمال كړلو. خومعنې ئې د شركت دعنان ده) د امله د جمع كيدو د شرائطو د شركت عنان، (لنډيز دا چې كله چې دشركت مفاوضه شرطونه برابر نه وي. نوهغه به شركت عنان وي. خوپه دې شرط چې دكوم شرط د فقدان د امله هغه د شركت مفاوضه نه خارج شوې وي. هغه ځيزپه شركت عنان كې شرط نه وي. ورنه بيا شركت عنان هم نه دې) ځكه چې دا (شركت عنان) كله وي خاص (په يو ډول د سوداګرئ كې) او كله وي عام (په ټولو انواعو د تجارت كې، اوشركت مفاوضه په ټولوقسمونودتجارت كې عام وي. نو جائز دى. چه لفظ دمفاوضه ذكر شى. او مراد ترې شركت عنان وي. لكه څنګه چې په عام لفظ سره خاص معنى مراد اخستې شي لكه لفظ صديق عام دې. هرريښتينى كس ته وائي. خوكله ترې خاص شخصيت مراد اخستې شى. چه ابوبكر دې)

په وكالت او كفالت سره دمفاوضه دانعقاد صحت

قَالَ (وَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ) أَمَّا الْوَكَالَةُ فَلِتَحَقُّقِ الْمَقْصُودِ وَهُوَ الشَّرِكَةُ فِي الْمَالِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ

ژباړه وتشريح:- فرمائي (ابو الحسين قدوري) رحمه الله اومنعقد كيږي (عقد مفاوضه) په نوم دوكالت او كفالت سره (ځكه چې په شريكينو كې هرواحد دبل نه وكيل اودهغه ذمه واروى) هرچه وكالت دې (يعنې هرچه منعقد كيدل د مفاوضة په وكالت سره دى) نود امله د حاصليدو د مقصود كوم چې شركت دې په مال كې (ځكه چې دبل چا په مال كې تصرف جائزنه دې مګرپه ولايت او په وكالت سره اوولايت خو نشته نووكالت ثابت شو. نوهريوشريك دخپل انډيوالان دا ړخه وكيل شو) لكه چې مونږ بيان كړى دى (په دې قول سره ليكون ما يستفاد بالتصرف مشتركاً بينهما)

وَأَمَّا الْكَفَالَةُ: فَلِتَحَقُّقِ الْمُسَاوَاةِ فِيمَا هُوَ مِنْ مَوَاجِبِ التِّجَارَاتِ وَهُوَ تَوَجُّهُ الْمُطَالَبَةِ نَحْوَهُمَا جَمِيعًا.

ژباړه وتشريح:- اوهرچه كفالت دې (يعنې صحت د مفاوضه په نوم د كفالت سره دې) د امله د تحقق د مساوات نه (كوم چې د مفاوضه معنى ده) په هغه څه كې چې وى د مقتضياتو د تجارت نه اوهغه

«متقضات» متوجه کیدل د مطالبه دی دې دواړو شریکانو ته «یعنی په عقد مفاوضه کې د هرشریك نه مطالبه کولی شی.مثلاً چې یوشریك د زید نه څه شی پور اخستې وی.نوزید دبل شریك نه مطالبه کولی شی.نوهرشریك دبل لپاره په هغه مال کې کفیل شو.کوم چې د تجارت په وجه په ده لازم شوې وی. لنډیز دا چې په مفاوضه کې د وکالت او کفالت معنی پرته ده.څکه چې هرشریك دبل لپاره وکیل اوکفیل دې. نو ددې امله عقد مفاوضه په لفظ د وکالت او کفالت دواړو باندې منعقد کیږی»

قَالَ (وَمَا يَشْتَرِيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَكُونُ عَلَى الشِّرْكَةِ إِلَّا طَعَامَ أَهْلِهِ وَكِسْوَتَهُمْ) وَكَذَا كِسْوَتُهُ، وَكَذَا الْإِدَامُ؛ لِأَنَّ مُقْتَضَى الْعَقْدِ الْمُسَاوَاةُ، وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا قَائِمٌ مَقَامَ صَاحِبِهِ فِي التَّصَرُّفِ، وَكَانَ شِرَاءُ أَحَدِهِمَا كَشِرَائِهِمَا، إِلَّا مَا اسْتَثْنَاهُ فِي الْكِتَابِ،

حل اللغة: ① الكسوة: لباس،د اغوستې څیزونه ② الادام: ترکاری

ژباړه وتشریح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری رحمه الله» اوهغه چې اخلی ئې هریوکس د دوی «شریکینو» څخه نو وی به شرکت «یعنی ددغه څیزاخستل به په شریکه وی» مګرخوراك د اهل دده «شریك» اوجامې د هغوی اودغه ډول جامې دده «شریك» اودغه ډول ترکاری «یعنی که دا شیان (څیزونه) یوشریك واخلی. نودا به په شریکه کې نه حسابیږی.اوداستثنائی څیزونو نه سوا د نور هر ډول څیزاخستل به په شریکه کې حسابیږی» څکه چې مقتضی د عقد «مفاوضه» برابری ده اوهریوکس ددواړو شریکینو نه قائم مقام دخپل انډیوالان دې په تصرف کې «چه بیع شراء وغیره دی» اودی اخستل دیوکس د شریکینو نه پشان د اخستلو د دواړو «یعنی چې یوکس اخستل اوکړی.نودا داسې ده لکه چې دواړو واخستل» مګر «دیو اخستل د دواړو اخستل نه دی» په هغه څه کې چې استثناء ئې اوشوه په کتاب «قدوری» کې «طعام اوکسوت د اهل دی»

وَهُوَ اسْتِحْسَانٌ لِأَنَّهُ مُسْتَثْنًى عَنِ الْمُفَاوَضَةِ لِلضَّرُورَةِ، فَإِنَّ الْحَاجَةَ الرَّاتِبَةَ مَعْلُومَةُ الْوُقُوعِ،

ژباړه وتشریح:- اودا «مستثنی منه» استحسان دې.څکه چې ددې «څیزونو» استثناء شوې ده د شرکت مفاوضه نه «یعنی ددې څیزونو اخستل په شرکت مفاوضه کې داخل نه دی» د امله د اړتیا نه، «څکه چې څوك چې عقد مفاوضه کوی.نودده شریکوال ته دا پته وی.چه دخپل بال بچ لپاره د خوراك څکاك انتظام کول ده لپاره ضروری دی.اودا معلومه وی.چه په شریکینو کې یوهم په عقد مفاوضه کې دا قصد نه وی کړې.چه په دې عقد سره به زما اوزما د بال بچ نفقه هم زما په شریك وی» څکه چې روزانه پیښیدونکې حاجت «خوراك څکاك ته» معلوم دې واقع کیدل د دې. «اودې شیان (څیزونه) ته د هریوکس اړتیا هم مختلف وی.څوك یوشان جامې خوښوی او څوك بل شان.څوك یوشان خوراك خوښوی اوڅوك بل شان»

وَلَا يُمْكِنُ إِيجَابُهُ عَلَى صَاحِبِهِ وَلَا التَّصَرُّفُ مِنْ مَالِهِ، وَلَا بُدَّ مِنَ الشِّرَاءِ

ژباړه وتشریح:- اوممکن نه دی واجبول ددې «خوراك او جامو» په انډیوالان دده «یعنی دا ممکن یعنی جائزنه ده. چې دوې [دوه] شریکوال وی.اویوشریکوال د بل شریك د بال بچ دضروریاتو پوره کاوه ذمه وارجوړ کړې شی.اوپه هغه باندې دهغوی خرچه واجب کړې شی» اونه «دی ممکن یعنی جائز» خرچ کول «دیبسو» دمال دده «شریك» نه «اوبل اړخ ته» ضروری دی اخستل «داهل وعیال لپاره دخوراك څکاك شیان (څیزونه) اوجامې،»

فَيَخْتَصُّ بِهِ ضَرُورَةً. وَالْقِيَاسُ أَنْ يَكُونَ عَلَى الشِّرْكَةِ لِمَا بَيَّنَّا

ژباړه وتشریح:- «لنډیز دا چې دبال بچ د نان نفقه او جاموضروریات پوره کول دکورپه مشرباندې واجب وی. اوس چې د یوکور مشردبل چاسره شراکت اوکړی.نودا معلومه ده.چه یوهرشریکوال به دخپل کور لپاره د هغوی روزانه پیښیدونکی ضروریات پوره کوی.اوداسې هم نشی کولې چې د یو شریك دکور ضروریات په

بل باندې واجب کړې شي.ځکه چې دهرچا ضروريات ديوبل نه مختلف وي.اودا هم جائزنه ده چې هر شريك د خپل کور ضروريات پخپله پوره کوي.خوپه هغې چې کومه خرچه راځي.هغه دخپل شريکوال دمال نه پوره کوي﴾نوخاص کولې به شي ﴿اخستونکي﴾ شريکوال په دې ﴿څيزونو دخوراك اوجاموباندې،يعنې په شريکوالوکي چې کوم کس د خوراك ځکاك شيان (څيزونه) اخلي.نوهغه به په شريکه کې نه حسابيږي.بلکه د هغې په اشتراء کې به دې خاص وي﴾ د امله د اړتيا نه ﴿ځکه چې ددې اخستلوته اړتيا دې﴾ اوقياس دا دې چې واقع دې وي ﴿دا واړه تصرفات﴾ په شريکه دهغه امله نه کومه چې موږ بيان کړه ﴿په دې قول سره لأن مقتضى العقد المساوات)

بائع په مفاوضينوکې دهريونه د قيمت مطالبه کولای شي

﴿وَلِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَ بِالثَّمَنِ أَيَّهُمَا شَاءَ) الْمُشْتَرِي بِالْأَصَالَةِ وَصَاحِبُهُ بِالْكَفَالَةِ،

ژباړه وتشريح:- او ﴿جائزدي﴾ خرڅونکی لپاره ﴿چه په مفاوضينوکي ئې په يوباندې څه څيزخرڅ کړې وي﴾ چې واخلي قيمت ﴿نومطالبه کولې شي﴾ دکوم يونه چې ئې خوښه وي داخستونکی نه په اصالت سره ﴿يعنې چونکه يودمفاوضينونه مشتري دې.چه دده نه ئې څيزاخستې دې.نوهغه په دغه عقد کې اصلي مباشر شو .نو د هغه نه هم مطالبه کولې شي﴾ او ﴿دقيمت مطالبه کولې شي﴾ د شريکوال دهغه ﴿مشتري﴾ نه په کفالت سره ﴿يعنې هرکله چې دوی دواړو عقد مفاوضه کړې ده.نوهريودبل لپاره کفيل اوذمه وار شو. نو بائع دده د شريکوال نه هم د قيمت مطالبه کولې شي.ځکه چې هغه دده کفيل او ذمه واردی﴾

وَيَرْجِعُ الْكَفِيلُ عَلَى الْمُشْتَرِي بِحِصَّتِهِ مِمَّا أَدَّى لِأَنَّهُ قَضَى دَيْنًا عَلَيْهِ مِنْ مَالٍ مُشْتَرَكٍ بَيْنَهُمَا.

ژباړه وتشريح:- او وابه اخلي کفيل دمشتري نه برخه خپله هغه چې ورکړې ئې وي ﴿بائع ته﴾ ځکه چې ده ﴿کفيل﴾ادا کړلو هغه پور چې وو په ده ﴿مشتري﴾ باندې د مال مشترك نه په مينځ د دواړو ﴿مفاوضينو﴾ کې

دمفاوضينو په پور کې اشتراك

قَالَ (وَمَا يَلْزَمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الدُّيُونِ بَدَلًا عَمَّا يَصِحُّ فِيهِ الِاشْتِرَاكُ فَالْآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ) تَحْقِيقًا لِلْمُسَاوَاةِ،

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوهغه چې لازم شي په هر يوکس د مفاوضينو باندې قرضونه په بدل کې دهغه څه چې صحيح کيږي په هغې کې اشتراك ﴿يعنې په مفاوضينوکې که يوکس دچا نه څه څيز پور واخستلو.اودا پور عقدنې په داسې څيزکې اوکړلو.چه د عقد مفاوضت د اصولومطابق وي﴾ نوبل ﴿مفاوض﴾ به ذمه وار وي دهغې ﴿قرض﴾ د امله د مساوات ﴿کوم چې دعقد مفاوضه دمقتضياتوځنې دي.په مينځ د مفاوضينوکې ،يعنې هريوبه مفاوضينو کې مديون دې.دا نه چې چا پور اخستې دې. هغه مديون دې.اوبل مفاوض خلاص دې.ځکه چې کاروبارد دواړو شريك دې.نوچه کوم پور راځي.هغه به هم په دواړو وي﴾

فَمَا يَصِحُّ الِاشْتِرَاكُ فِيهِ الشِّرَاءُ وَالْبَيْعُ وَالِاسْتِئْجَارُ،

ژباړه وتشريح:- اومن جمله دهغه څه نه چې صحيح کيږي په کې اشتراك هغه اخستل، ﴿يعنې که يومفاوض څه څيزواخستلو.نوبه دغه اخستلوکښې دواړه شريك دي﴾ خرڅول ﴿که يومفاوض څه څيزخرڅ کړلو.نودا داسې شوه چې بل مفاوض هم خرڅ کړې دي﴾ اواستجاره ﴿يعنې چې په کرايه باندې يوڅيز واخلي.نودهغه څيزمالك په مفاوضينوکې دهريونه دکرايه مطالبه کولې شي.دغه ډول که يوڅيزئې چاته په کرايه ورکړلو.نوهرواحد په مفاوضينوکښې دهغه کس نه دکرايه مطالبه کولې شي.چاته چې ئې په کرايه ورکړې وي﴾

وَمِنَ الْقِسْمِ الْآخَرِ الْجِنَايَةُ وَالنِّكَاحُ وَالْخُلْعُ وَالصُّلْحُ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ وَعَنِ النَّفَقَةِ.

ژباړه وتشریح:- اومن جمله د دوهم ډول نه «چه مفاوضه په کې نه صحیح کیږي» جنایت دې «که په مفاوضینو کې یوکس بل لره چا په خطاء سره قتل کړلو.نوکفاره به صرف په قاتل مفاوض باندې وی.په بل به نه وی» اونکاح شوه «نوکه په مفاوضینوکې یوکس دیوې ښځې سره نکاح اوکړله.نومهربه صرف په ناکح مفاوض باندې وی.په بل به نه وی» اوخلع «که په مفاوضینوکې یوه ښځه وی.اوهغه دخپل خاوند سره خلع اوکړي.نوبدل خلع به صرف په هغې باندې وی.په بل مفاوض به نه وی» اوصلح دقتل عمد او نفقه نه «که په مفاوضینوکې دیو کس یودریم کس په قصد سره قتل کړلو.اوبیا ئې دمقتول اولیاؤ سره په دیت باندې صلح اوکړله.یا د یومفاوض نه ښځه دمور کره مروره ناسته وی.اودې دخپلې سخرګنئ سره صلح اوکړي.چه زه به ورته په هره میاشت کښې مثلاً پنځه زره روپۍ ورکوم.نودا د قتل عمد دصلح بدل اودنفقه دصلح بدل به صرف په دغه صالح مفاوض باندې وی»

دیوشریك د اجنبي لپاره کفیل جوړیدل

قَالَ (وَلَوْ كَفَلَ أَحَدُهُمَا بِمَالٍ عَنْ أَجْنَبِيٍّ لَزِمَ صَاحِبَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،() وَقَالَا: لَا يَلْزَمُهُ) لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ، وَلِهَذَا لَا يَصِحُّ مِنَ الصَّبِيِّ وَالْعَبْدِ الْمَأْذُونِ وَالْمُكَاتَبِ،

ژباړه وتشریح:- فرمائي «ابو الحسین قدوري رحمه الله» اوکه چیرته ذمه وارشو یود دواړو «شریکینو» ځنې په مال سره د اجنبي کس نه «مثلاً په زیدباندې دچا زر روپۍ وې.اوپه شریکینوکې یوکس ددغه زید کفیل شي» نولازمیږي «دغه زر روپۍ» په انډیوالان دده «چه دده شریکوال دې» په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائي صاحبینو رحمهما الله چې نه لازمیږي په دده «شریکوال» باندې «دغه زر روپۍ» ځکه چې دا «کفالت» تبرع ده «اوپه تبرع کې په چا الزام نه وی» اوددې امله «چه کفالت تبرع ده» نه صحیح کیږي «کفالت» د ماشوم او عبدماذون او مکاتب نه «ځکه چې دوی دتبرع اهل نه دی»

وَلَوْ صَدَرَ مِنَ الْمَرِيضِ يَصِحُّ مِنَ الثُّلُثِ وَصَارَ كَالْإِقْرَاضِ وَالْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ

ژباړه وتشریح:- اوکه چیرته صادرشي «دا کفالت» د مریض نه «په مرض الوفات کې» نوصحیح کیږي «د دریمې برخې نه اواوګرځیدلو «داکفالت بالمال» پشان د پور اخستلو «یعنې چې شریك ده کفالت» د دچانه روپۍ پور واخلي.نودغه پور دده په شریك نه لازمیږي» او «اوګرځیدله دا کفالت بالمال» پشان د کفالت بالنفس «مثلاًپه یوکس باندې دقصاص حکم شوې وی.اویوکس ددغه کس کفیل جوړ شي.نوکه دغه مکفول عنه قصاص ته حاضر نشي. نو دهغه په بدله کې کفیل نشي قصاص کولې.نودغه ډول که په شریکینوکې یوشریك دچاکفیل جوړ شي.بل باندې دغه کفالت نه لازمیږي»

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَمُعَاوَضَةٌ بَقَاءً لِأَنَّهُ يَسْتَوْجِبُ الضَّمَانَ بِمَا يُؤَدِّي عَلَى الْمَكْفُولِ عَنْهُ إِذَا كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِهِ،

ژباړه وتشریح:- اودامام ابوحنیفه رحمه الله لپاره دلیل دا دې.چه دا «کفالت» تبرع ده په ابتداء «د عقد» کې اومعاوضه ده چې پاته وی. «یعنی دا تیك ده چې په اول کې په کفیل باندې څه لازم نه وی.اودې په خپله په خپل ځان باندې یوڅیزلازم کړی.نودا تبرع شوه.خوچه کله دې کفیل جوړ شی.نوبیا معاوضه ده» ځکه چې دا «کفالت» واجبوی ضمان دهغه شی چې دې «کفیل» ئې ورکړی «مکفول له ته» په مکفول عنه باندې کله چې وی دا «کفاله» په حکم دده «مکفول عنه.یعنې کله چې زیدبکرته اووائی.ته زما داړخه خالدته د زرو روپوکفیل جوړشه. دهغه په ما باندې پور دې.اوبکرکفیل جوړ شی.اوبیا زیدخالد ته دهغه پور ورنکړی.نوخالد د بکرنه زر روپۍ واخلي.نواوس به بکردزید نه زر روپۍ اخلی.اوپه زیدباندې به د زرو

() القول الراجح هوهذا قول أبي حنیفة رحمه الله كذا في فتح القدیر(۵\۳۸۵) والخانیة (۴\۴۹۵) وردالمحتار (۳\۳۷۱) والهندیة (۲\۳۰۹)نقلاً عن القول الراجح (۱\۵۱۴)-

روبو ضمان راخي﴾

فَبِالنَّظَرِ إِلَى الْبَقَاءِ تَتَضَمَّنُهُ الْمُفَاوَضَةُ، وَبِالنَّظَرِ إِلَى الِابْتِدَاءِ لَمْ تَصِحَّ مِمَّنْ ذَكَرَهُ

ژباړه وتشريح:- نوپه نظركولوسره بقاء ته ﴿چه مكفول عنه باندې ضمان راخي﴾ شامليږي دې ﴿كفالت﴾ ته عقد مفاوضه ﴿نوپه شريك باندې هم كفاله لازميږي﴾ اوپه نظركولوسره ابتداء ته ﴿چه تبرع ده﴾ نه صحيح كيږي ﴿دا كفالت﴾ دهغه چا نه چې ذكركړل ﴿صاحب دقدوري﴾

وَتَصِحُّ مِنَ الثُّلُثِ مِنَ الْمَرِيضِ، بِخِلَافِ الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ لِأَنَّهَا تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً وَانْتِهَاءً.

ژباړه وتشريح:- اوصحيح كيږي ﴿كفالت﴾ په دريمه برخه ﴿دمال﴾ كې د مريض نه ﴿چه په مرض الوفات كې كفيل جوړ شي﴾ په خلاف د كفاله بالنفس ﴿يعنى دكفاله بالمال په كفاله بالنفس باندې قياس صحيح نه دې.څكه چې په كفاله بالمال اوكفاله بالنفس كې توپير دې.اوفرق ئې دا دې.چه﴾ دا ﴿كفاله بالنفس﴾ تبرع ده په ابتداء كې ﴿څكه چې دمكفول عنه د اړخه په ده باندې څه زور نه وي.بلكه دې په خپله دهغه كفيل جوړشي.نودا په ابتداء كې تبرع شوه﴾ اوپه انتهاء كې ﴿هم تبرع ده.څكه چې مكفول عنه بالنفس رانشي. نو دا كفيل دهغه په بدله كې نشي قصاص كولې.نودا په انتهاء كې هم تبرع شوه.نود كفيل بالمال قياس په كفيل بالنفس باندې صحيح نه دې﴾

وَأَمَّا الْإِقْرَاضُ فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ يَلْزَمُ صَاحِبَهُ،

ژباړه وتشريح:- اوهرچه مسئله د پور اخستلوده ﴿يعنى صاحبينوچه د پور په مسئله كوم قياس كړې دې.كه يوشريك دچانه پور واخلي.نوبل شريك دهغې كفيل نه دې.نودغه مسئله متفق عليه نه ده.اوپه مقيس كې خودا مسئله ده.چه هغه دخصم په نيزمسلمه وي﴾دامام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دی. چې دا پور لازميږي په شريكوال دده ﴿كفيل﴾ باندې، ﴿قياس صحيح نشو﴾ اوكه اومنلې شي ﴿چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزباندې هم شريكوال د پور كفيل نه دې﴾

وَلَوْ سُلِّمَ فَهُوَ إِعَارَةٌ فَيَكُونُ لِمِثْلِهَا حُكْمُ عَيْنِهَا لَا حُكْمُ الْبَدَلِ حَتَّى لَا يَصِحَّ فِيهِ الْأَجَلُ فَلَا يَتَحَقَّقُ مُعَاوَضَةً،

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته اومنلې شی ﴿چه په شريك باندې د پور خلاصول دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هم نه لازميږي﴾ نودا ﴿پور اخستل﴾ اعاره ده ﴿يعنى يوشريك چې د اجنبى نه كومې روپۍ اخستې دی.دا ئې تري په خواست سره اخستې دی.اوكوم څيزچه ورته واپس كوی.هغه به مستعارڅيز وی.معاوضه به نه وی.څكه كه چيرته دغه معاوضه شی.نودا خوبيع د نقد ده په پور باندې اوپه اموال ربيويؤ كې نقد په پور وركول سود وی.نوهركله چې معاوضه نشوه.بلكه دمستعارڅيزواپس كول شو﴾ نووی به دمثل ددې ﴿استعاره﴾ لپاره حكم دعين استعاره نه حكم د بدل ﴿مثلازيد چې دبكرنه كومې سل روپۍ په استعاره سره واخستلې.اوبيا ئې ورته واپس كوی.نودغه سل روپۍ كومې چې واپس كوی.هغه به داسې وی.لكه چې ده ورته هم هغه سل روپۍ واپس كړې.كومې چې ترې ده اخستې وې.دهغې بدل به نه وی﴾ هم دا وجه ده.چه نه صحيح كيږي په دې كې نيټه ﴿يعنى كه يوكس دبل نه څه روپۍ پور واخلی.نودغه دائن هروخت د مديون نه دخپل پور مطالبه كولې شی.اوكه بالفرض د پور وركولوپه وخت كې ورته مديون اووائی.چه دا پور به درته يومياشت روسته دركوم.اودائن ورسره دغه خبره اومنی.نوپه دې صورت كې اګرچه نيټه مقررشوه.په دائن باندې لازمه نه ده.بلكه د يوې مياشتې نه وړاندې ترې هم دې مطالبه كولې شی﴾ نوثابته نشوه معاوضه ﴿يعنى دامام صاحب اوصاحبينواختلاف په كفاله كې دې.اود اقراض كومه مقيس عليه چې صاحبينو ذكركړې ده.هغه استعاره ده.اقراض نه دې.اوپه استعاره كې په شريك باندې دمستعارڅيز وركول واجب نه وی.بلكه چې چاترې اخستې وی.هم هغه به ئې واپس كوی﴾

وَلَوْ كَانَتِ الْكَفَالَةُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ لَمْ تَلْزَمْ صَاحِبَهُ فِي الصَّحِيحِ لِانْعِدَامِ مَعْنَى الْمُفَاوَضَةِ.

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى كفاله بغيرد حكم د ده ﴿مكفول عنه﴾ نه ﴿مثلاً په زيدباندې دخالد سل روپۍ وې.اويوشريك زيدته اووائى.چه ددغه سلو روپو زه ذمه واريم.اوزيدورته دا نه وى وئيلي.چه ته زما لپاره خالد ته ذمه وارجوړ شه﴾ نونه لازميږى ﴿دغه كفالت﴾ په شريك دده ﴿كفيل﴾ باندې،په صحيح روايت كې ﴿او هغه روايت لره اعتبارنشته.كوم چې دبعضې مشائخونه منقول دې.كه دده په امرنه وى.نوبيا په شريك باندې كفالت نه لازميږى﴾ د امله د نشتوالى د معنى دمفاوضه ﴿په دې كفالت كښې.ځكه چې دا خوتبرع اواحسان دې.چه دغه كفيل په خپل ځان باندې لازم كړلو.نودده احسان اوتبرع په شريك باندې نه لازميږى.مثلاً كه يو شريك سل روپۍ صدقه كړى.نوبه دغه صدقه كې به دشريك نه پنځوس روپۍ نشى كټ كولې.ځكه چې صدقه خود مصدق دارخه يوه تبرع ده﴾

وَمُطْلَقُ الْجَوَابِ فِي الْكِتَابِ مَحْمُولٌ عَلَى الْمُقَيَّدِ،

ژباړه وتشريح:- اومطلق حكم په كتاب قدورى كې ﴿چه دا ذكرئې نه دې كړې.چه په هغه صورت كې به په شريك باندې كفالت لازميږى.چه كفيل كفالت دمكفول عنه په حكم سره كړې وى. بلكه مطلقاً ئې بيان كړې دې.چه په شريك باندې دكفيل په كفالت سره كفالت لازميږى. نو دا اطلاق﴾ محمول دې په مقيدباندې ﴿يعنى مراد ترې هغه صورت دې.چه كفالت د مكفول عنه په حكم سره وى﴾

وَضَمَانُ الْغَصْبِ وَالِاسْتِهْلَاكِ بِمَنْزِلَةِ الْكَفَالَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةٌ انْتِهَاءً.

ژباړه وتشريح:- اوضمان د غصب اواستهلاك پشان د كفاله دې په نيزدامام ابوحنيفه ﴿مثلاً يو شريك د اجنبى نه يوخيزغصب كړلو.اوهغه مغصوب ځيزهلاك شو.يا ده د اجنبى ځيزهلاك كړلو.نود غصب اواستهلاك په صورت كې چې په دې غاصب اومستهلك باندې كوم تاوان راځى.دا هم د كفالت په شان دې.يعنى په شريك باندې لازميږى﴾ ځكه چې دا ﴿هرواحد د مغصوب اومستهلك ځيز﴾ نه معاوضه ده په آخركې ﴿يعنى كله دمغصوب اومستهلك په بدله كې غاصب اومستهلك كوم شى وركوى.نوهغه عين مغصوبه او مستهلك شى نه وى.بلكه دهغې عوض اوبدل وى﴾

په كوم مال سره شركت مفاوضه باطليږى

قَالَ (وَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَالًا يَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ أَوْ وُهِبَ لَهُ وَوَصَلَ إِلَى يَدِهِ بَطَلَتْ الْمُفَاوَضَةُ وَصَارَتْ عِنَانًا) لِفَوَاتِ الْمُسَاوَاةِ فِيمَا يَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ إِذْ هِيَ شَرْطٌ فِيهِ ابْتِدَاءً وَبَقَاءً،

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله كه چيرته په ميراث كې يوړلو يودشريكينو نه مال چې صحيح كيږى په هغې كې شركت ﴿لكه دراهم ،اشرفۍ شوې﴾ اويا هبه كړې شو ده ته ﴿داسې ځيزچه صحيح كيږى په هغې كې شركت﴾ او يا راغلو لاس دده ته ﴿په بله څه ذريعه د ملكيت باندې يوځيز چې په هغې كې شركت صحيح كيدلو﴾ نوباطله شوه مفاوضه او اوګرځيدلو شركت عنان د امله د ختميدو د برابرى نه په هغه څه كې چې صلاحيت لرى چې شى راس المال ځكه چې دا ﴿مساوات﴾ شرط دې په دې ﴿عقد مفاوضه﴾ كې په ﴿حالت د﴾ ابتداء كې اوبه ﴿حالت د﴾ بقاء كې

وَهَذَا لِأَنَّ الْآخَرَ لَا يُشَارِكُهُ فِيمَا أَصَابَهُ لِانْعِدَامِ السَّبَبِ فِي حَقِّهِ،

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿شركت مفاوضه عنان ګرځى﴾ ځكه چې دغه بل ﴿شريك﴾ شريك نه دې ده ﴿وارث موهوب له﴾ سره په هغه څه كې چې رسيدلى دى ده ﴿وارث اوموهوب له﴾ ته د امله د نشتوالى د سبب ﴿دملكيت﴾ نه ﴿چې وراثت او هبه ده﴾ په حق دده ﴿شريك﴾ كې ﴿يعنى په كوم سبب باندې چې وارث اوموهوب له د ميراث اوموهوبه ځيزمالك شوى دې.دغه سبب د شريك په حق كې موجود نه دې.يعنى هغه ته په وراثت يا په هبه سره څه نه دى حاصل شوى﴾

إِلَّا أَنَّهَا تَنْقَلِبُ عِنَانًا لِلْإِمْكَانِ، فَإِنَّ الْمُسَاوَاةَ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهِ،

زباړه وتشريح:- البته دومره ده چې دا ﴿عقد مفاوضه باطليږي نه بلكه﴾ ګرځي شركت عنان د امله د ممكن كيدو نه ﴿يعنې اګرچه شركت مفاوضه نه صحيح كيږي.ځكه چې مساوات په كې فوت شو.خودا ممكن ده چې دا شركت عنان اوګرځولې شي﴾ ځكه چې مساوات نه دې شرط په دې ﴿شركت عنان﴾ كې ،

وَلِدَوَامِهِ حُكْمُ الْإِبْتِدَاءِ لِكَوْنِهِ غَيْرَ لَازِمٍ

زباړه وتشريح:- او لپاره د دوام ددې ﴿عنان﴾ حكم دابتداء دې ﴿يعنې لكه څنګه چې په شركت عنان كې په ابتداء كې مساوات شرط نه دې.دغه ډول په روستو هم شرط نه دې.داسې نه ده چې دعنان په ابتداء كښې مساوات شرط نه دې.او روستو بيا شرط ګرځي﴾ ځكه چې دا ﴿شركت عنان﴾ لازم نه دې. ﴿هم دا وجه ده.كه د عقد عنان كولونه روسته په شريكينوكې يوكس دپاتـه شركت نه انكاراوكړي. نو قاضي هغه نشي مجبوره كولې .چه تاورسره شركت پيل كړې دې.ته دا نشې ختمولې﴾

د زمكې وغيره په ملكيت سره دمفاوضه عدم بطلان

وَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا عَرَضًا فَهُوَ لَهُ وَلَا تَفْسُدُ الْمُفَاوَضَةُ وَكَذَا الْعَقَارُ لِأَنَّهُ لَا تَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ فَلَا تُشْتَرَطُ الْمُسَاوَاةُ فِيهِ.

حل اللغة: ① العقار. مځكه

زباړه وتشريح:- كه چيرتـه په ميراث كې يوړلو يودشريكينو نـه څـه سامان نودغـه سامان دده لپـاره دې اونـه فاسديږي ﴿شركت﴾ مفاوضـه اودغـه ډول مځكه ﴿كه په شريكينو كې يوكس تـه په ميراث كې پاتې شوه. نـو مفاوضـه نـه فاسـديږي.اودغـه مځكـه بـه ددغـه وارث شـريك وي﴾ ځكـه چې نـه صـحيح كيـږي پـه دې ﴿سامان او مځكه﴾ كې شركت،نونشي شرط كولې مساوات په دې ﴿سامان اومځكه﴾ كې ،

په سامان كې د شركت مفاوضه په صحت كې اختلاف

(فَصْلٌ): وَلَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ) وَقَالَ مَالِكٌ: تَجُوزُ بِالْعُرُوضِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ أَيْضًا إِذَا كَانَ الْجِنْسُ وَاحِدًا، لِأَنَّهَا عُقِدَتْ عَلَى رَأْسِ مَالٍ مَعْلُومٍ فَأَشْبَهَ النُّقُودَ

حل اللغة: ① الفلوس رائجې سيكې ② العروض سامان

زباړه وتشريح:- دا فصـل دې ﴿په بيان دهغه څه كې چې په شركت مفاوضه كې راس المال جوړ كړې شي﴾ اونـه منعقد كيږي ﴿شركت مفاوضه﴾ مګرپه روپو،اشرفواو رائجوسيكو كې ، او فرمائي امـام مالكﷺ صـحيح كيږي ﴿شركت مفاوضه﴾ په سامان كې اوتولې ﴿لكه شيدې شوې﴾ او وزنـي ﴿لكـه غوبنـه شـوه﴾ څيزونـو كې ، هم خويه دې شرط چې وى ﴿دغه سامان﴾ ديوجنس نه ځكه چې دا ﴿عقدمفاوضه﴾ تړلې شـى راس المـال بانـدې چـې ﴿هغـه راس المـال﴾ معلـوم وى. ﴿اودا عـروض هـم معلـوم دى﴾ نومـشـابه شـول ﴿عروض﴾ د نقدو روپو سره ﴿اوپه نقدو روپوكې شركت مفاوضت صحيح دې.دغه ډول بـه پـه عروضـوكې هم صحيح وى﴾

بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ لِأَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَاهَا لِمَا فِيهَا مِنْ رِبْحِ مَا لَمْ يُضْمَنْ. فَيُقْتَصَرُ عَلَى مَوْرِدِ الشَّرْعِ.

زباړه وتشريح:- ﴿اوكـه تـه دا وائې.چه اې مالكيـانو تاسـو هم مضاربت صرف پـه دراهمـو اودنانيروكې جائز ګنړئ.پـه مكيلاتـو او موزونـاتوكې ئې صـحيح نـه ګنـړئ.نودهغې نـه څـواب دا دې.چـه﴾ پـه خـلاف د عقـد مضاربت ﴿يعنې عقدمضاربت د روپو اواشرفونه سوا پـه مكيل او مـوزون څيزونـوكې نـه صـحيح كيـږي﴾ ځكه چې قياس انكاركوى ددې ﴿مضاربت﴾ نـه ﴿يعنـي قيـاس دا وائـى.چـه مـضاربت دې جـائز نـه وي﴾ ځكه چې په دې ﴿مضاربت﴾ كې ګټه دهغه څيزده چې نـه ضـامن كيـږي ﴿مـضارب﴾ دهغـې ﴿يعنـي رب المال چې مضارب ته كومې روپې وركړي.نودغه روپې د مضارب سره پـه طـور د امانـت وى.كه هغـه هلاكې شي.نوپـه مـضارب بانـدې بـه دهغـې تـاوان نـه وى.حالانكـه مـضارب ددغـه روپـو ګټـه خـوري.نوتـاوان پـرې نشته.اوګټه ئې خوري.دا خبره دعقل نـه خـلاف ده.اود اصول فقه قـانون دا دې.چه كوم شى خلاف القياس

ثابت شي.هغه به خاص وي په مورد د شرع پورې﴾ نوخاص به وي ﴿مضاربت﴾ په مورد شرع پورې، ﴿چه په دراهم او د نانيرو كي به مضاربت صحيح وي.اوپه نورو څيزونوكي به صحيح نه وي﴾

وَلَنَا أَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى رِبْحِ مَا لَمْ يُضْمَنْ، لِأَنَّهُ إِذَا بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا رَأْسَ مَالِهِ وَتَفَاضَلَ الثَّمَنَانِ فَمَا يَسْتَحِقُّهُ أَحَدُهُمَا مِنَ الزِّيَادَةِ فِي مَالِ صَاحِبِهِ رِبْحُ مَا لَمْ يَمْلِكْ وَمَا لَمْ يُضْمَنْ،

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره دليل دا دې.چه دا ﴿شركت فى العروض﴾ مفضى دې ګټې دهغه شى ته چې ضامن نه دې ﴿مفاوض﴾ دهغې خكه چې شان دا دې.كله چې خرڅ كړې هريوكس د شريكينو نه راس المال خپل ﴿مثلاً د زيد يومن غنم وو.اودعمروهم يومن غنم وو﴾ اوزياتى شو په يوبل باندې قيمت نوهغه چې مستحق كيږى ئې يوپه شريكينو كي د زيادت په مال د صاحب خپل كي د داسې څيزد ګټې چې مالك ئې نه دې ﴿دغه شريك يعنى په اصل كي خود يومن غنمو قيمت اتلس سوه روپۍ وې.خو زيدخپل غنم په دويشت سوه روپۍ خرڅ كړل. او عمروپه دوي [دوه] زره.نواوس د زيد د راس المال ګټه څلور سوه روپۍ شوې اودعمرو دوې [دوه] سوه.چه مجموعه ئې شپږ سوه روپۍ شوې.نوكه په شپږو سوو كي درې سوه روپۍ عمروته وركړې شي.په دې كي سل روپۍ ده ته دخپل انډيوالان دغنمو ګټه ملاؤ شوه. او ﴿مستحق شو د داسې څيزد ګټې﴾ چې ضامن نه دې ﴿دهغې څيز،يعنى كه دغه غنم دخرڅولونه وړاندې هلاك شوى وو.نوپه دې عمرو باندې دهغې تاوان نه وو.اودا جائزنه ده.چه يوسړې دې ګټه خورى اودتاوان نه دې خلاص وي﴾

بِخِلَافِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ لِأَنَّ ثَمَنَ مَا يَشْتَرِيهِ فِي ذِمَّتِهِ إِذْ هِيَ لَا تَتَعَيَّنُ فَكَانَ رِبْحُ مَا يُضْمَنُ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف د دراهم او اشرفو ﴿يعنى په دراهمواواشرفوباندې عقدمفاوضه صحيح كيږى﴾ خكه چې قيمت دهغه شى چې اخلى ئې ﴿يودشريكينونه﴾ نوهغه په ذمه دده ﴿مشترى شريك﴾ كي وى. ﴿بعينه هغه دراهم اواشرفۍ نه وى.كوم چې دې مشترى په عقدمفاوضه كي لګولې وى.بلكه د مشترى په ذمه باندې د هغې قيمت واجبيږى﴾ خكه چې دا ﴿اثمان چې دراهم اواشرفۍ دي﴾ نه متعين كيږى ﴿په تعين دعبدسره مثلاً كه زيد دعمرو نه يوڅيز په سل روپۍ واخستلو. اوپه دغه وخت كي د زيد په لاس كي دسلو روپو لوټ وو .اوپه هغې ورسره زيد سودا اوكړى.اوبيا عمرو د سلوروپونوټ په ځائې ماتې وركوى.نوزيددا مطالبه نشى كولې.چه ماته به د سلو روپونوټ راكوې.نوهركله چې ديوشريك دراهم او اشرفۍ نه متعين كيږى﴾ نوشوه ګټه دهغه څيزچه ضامن كيږى ئې ﴿شريك﴾ ﴿مثلاً زيداوعمرودوي [دوه] دوي [دوه] زره روپۍ يوځائې كړې. او بيا زيد په دوي [دوه] زره روپۍ باندې يوڅيز واخستلو.اوده ورته خپلې دوي [دوه] زره روپۍ وركړې.اوهغه شى ده په درې زره روپۍ خرڅ كړلو.نواوس دغه مشترى دا نشى وئيلې.چه دا زر روپۍ ګټه زما كيږى.خكه چې دا خو زما دوي [دوه] زره روپۍ وې.خكه چې دده روپۍ ثمن دې.اوپه ثمن كي تعين نه راځى.نودغه دوي [دوه] زره روپۍ د دواړو په شريكه شوې.اوګټه به ئې هم په شريكه وى.دغه ډول بالفرض كله چې دوى دوي [دوه] دوي [دوه] زره روپۍ يوځائې كړې.اوپه هغې كي ديوكس نه خپلې زر روپۍ وركې شوې.نودكوم شريك نه چې وركې شوې وى.دهغه انډيوالان هغه ته دا نشى وئيلې.چه ستا نه خو خپلې زر روپۍ وركې شوى دى.زما هغه نه دي وركې شوې.په ما باندې تاوان نه راځى. بلكه پنځه سوه روپۍ به په هغه باندې تاوان راځى﴾

وَلِأَنَّ أَوَّلَ التَّصَرُّفِ فِي الْعُرُوضِ الْبَيْعُ وَفِي النُّقُودِ الشِّرَاءُ، وَبَيْعُ أَحَدِهِمَا مَالَهُ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ شَرِيكًا فِي ثَمَنِهِ لَا يَجُوزُ،

ژباړه وتشريح:- ﴿بل دليل په دې باندې چې په عروضو كي شركت مفاوضه نه صحيح كيږى.دا دې.چه﴾ اوخكه چې اول تصرف په عروضو كي خرڅول دى. ﴿يعنى چې يوكس سره سامان وى.نودې په دغه سامان باندې څه اخستلې نشى.بلكه اول به دغه سامان خرڅوى.اوچه پيسې ورته راشى.بيا به په هغه پيسو باندې

بل څیزاخلی﴾ او ﴿اول تصرف﴾ په نقودوکي ﴿چه دراهم اواشرفۍ دی﴾ اخستل دی. ﴿چه سړی سره روپۍ وی.نودغه روپۍ دې خرڅولی نشی.بلکه په دې به بل څیزاخلی﴾

وَشِرَاءُأَحَدِهِمَا شَيْئًا بِمَالِهِ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْمَبِيعُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ جَائِزٌ.

ژباړه وتشریح:- اوخرڅول دیودشریکینو څنی مال خپل په دې شرط چې وی به بل کس شریك ﴿دده سره﴾ په قیمت دده کې جائزنه دی. ﴿یعنی چې سامان دیوکس وی.اودې هغه خرڅ کړی.نود دغه سامان په قیمت کې دې ځان سره بل څوك شریکولې نشی.ځکه چې په سامان کې تعین راځی.چه دا سامان د مشتری شریك سامان دی،اوکه بالفرض دې ورته ورکوی.نودا دده د اړخه احسان دی.دهغه استحقاق نه دی﴾ او اخستل د یودې شریکینو څه شی په مال خپل سره په دې شرط چې وی به مبیع ﴿شریکه﴾ په مینځ دده ﴿مشتری﴾ اوپه مینځ دبل ﴿چا﴾ کې ،نودا جائز ده. ﴿ځکه چې په پیسوکې تعین نه راځی.نواګرچه په دغه وخت کې مشتری خپلې پیسې ورکړې وی.خوچه بل کس ورسره په پیسویعنی دراهموکې شریك وی. نو په کومو پیسو چې ده دغه څیزاخستې دی.هغه د دواړو په مینځ کې شریك کیدای شی﴾

په رائجو سیکوباندې دشرکت مفاوضه حکم

وَأَمَّا الْفُلُوسُ النَّافِقَةُ فَلِأَنَّهَا تَرُوجُ رَوَاجَ الْأَثْمَانِ فَالْتَحَقَتْ بِهَا. قَالُوا: هَذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ()لِأَنَّهَا مُلْحَقَةٌ بِالنُّقُودِ عِنْدَهُ حَتَّى لَا تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ، وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ اثْنَيْنِ بِوَاحِدٍ بِأَعْيَانِهَا عَلَى مَا عُرِفَ،

حل اللغة: ① النافقة: چلیدونکې

ژباړه وتشریح:- اوهرچه رائجې سیکې دی ﴿نوپه دې باندې عقدمفاوضه صحیح کیږی﴾ ځکه چې دا ﴿سیکې﴾ چلیږی ﴿په بازارونوکې﴾ پشان د چلیدو د اثمانو ﴿چه دراهم او اشرفۍ دی﴾ نوملحق کړې شوې ﴿سیکې﴾ په دې ﴿اثمانو﴾ پورې،فرمائیلی دی مشائخوچه دا ﴿صحت د مفاوضه په فلوس﴾ قول د امام محمد رحمه الله دی. ځکه چې دا ﴿فلوس﴾ ملحقې دی په نقودو پورې په نیز د ده ﴿محمد رحمه الله﴾ هم دا وجه ده چې دا ﴿فلوس﴾ نه متعین کیږی په تعین سره ﴿لکه څنګه چې نقودچه دراهم اودنانیردی. په تعین سره نه متعین کیږی﴾ او جائز نه دی خرڅول د دوومعینو سیکو په یوه معینه سیکه باندې لکه څنګه چې معلومه شوې ده ﴿په علم اصول کې﴾

أَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى لَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَالْمُضَارَبَةُ بِهَا لِأَنَّ ثَمَنِيَّتَهَا تَتَبَدَّلُ سَاعَةً فَسَاعَةً وَتَصِيرُ سِلْعَةً.

حل اللغة: ① سلع: هغه سامان چې نرخ ئې ویستلې شی

ژباړه وتشریح:- هرچه په نیزدامام ابوحنیفه اوابویوسف رحمهما الله دی.نوجائزنه دې شرکت مفاوضه او مضاربت په دې ﴿رائجوسیکو﴾ ځکه چې قیمت ددې ﴿رائجو سیکو﴾ بدلیږی وخت په وخت، ﴿مثلاً حکومت ئې ختمې کړی. یا پرې پابندی اولګوی.لکه لږه موده وړاندې چې حکومت پاکستان د پنځو روپو لوټ ختم کړلو. او دشلو روپو لوټ ئې رائج کړلو.نواوس دغه دپنځو روپو لوټ صرف د یوکاغذ حیثیت لری﴾ اوګرځی سامان ﴿بیا د سیکې په حیثیت نه خرڅیږی.بلکه دکباړ په نوم خرڅیږی﴾

وَيُرْوَى عَنْ أَبِي يُوسُفَ مِثْلُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ، وَالْأَوَّلُ أَقْيَسُ وَأَظْهَرُ، وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ صِحَّةُ الْمُضَارَبَةِ بِهَا.

ژباړه وتشریح:- اونقل شوې دې دامام ابویوسف رحمه الله نه پشان د قول د امام محمد رحمه الله ﴿چه په دې سیکو باندې عقدمفاوضه جائزده﴾ خواول قول ﴿چه دعدم جوازدی﴾ دقیاس مطابق دې اوظاهر دې. اودامام ابوحنیفه رحمه الله نه منقول دی صحت د مضاربت په دې ﴿سیکو﴾ باندې،

قَالَ (وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ بِمَا سِوَى ذَلِكَ إِلَّا أَنْ يَتَعَامَلَ النَّاسُ بِالتِّبْرِ) وَالنُّقْرَةُ فَتَصِحُّ الشَّرِكَةُ بِهِمَا، هَكَذَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ (

[1]) القول الراجح هوهذا قول محمد رحمه الله كذا فى فتح القدير(٣٩١\٥) وردالمحتار(٣٧٢\٣) نقلاً عن القول الراجح (٥١٥\١)-

ځلورم توک

حل اللغة: ① التبر د سرو زرو ټوټې ② النقرة د سپينو زرو ټوټې

زباره وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوجائزنه دې شرکت ﴿مفاوضه﴾ په هغه څه چې سوا وي ددې ﴿مذکورو څيزونو﴾ نه، البته دا چې کاروبارکوي خلګ سرو زرو او سپينو زرو په ټکړو باندې نوصحيح کيږي شرکت ﴿مفاوضه﴾ په دې دواړو ﴿چه کانړي اوويلې شوي تانبه ده﴾ دغه ډول ذکرشوی دی په کتاب ﴿قدوري﴾ کې،

دسرو اوسپينو په مثقالونو دمفاوضه حکم

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَا تَكُونُ الْمُفَاوَضَةُ بِمَثَاقِيلِ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ) وَمُرَادُهُ التِّبْرُ، فَعَلَى هَذِهِ الرِّوَايَةِ التِّبْرُ سِلْعَةٌ تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ فَلَا تَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ فِي الْمُضَارَبَاتِ وَالشَّرِكَاتِ.

زباره وتشريح:- اوپه جامع صغيرکې دي.اونه ﴿جائز﴾ کيږي ﴿شرکت﴾ مفاوضه په مثقالونود سرو زرو او د سپينو زرو،اودمراد دده ﴿امام محمد﴾ ټکړې ﴿دسرواوسپينو زرو دي﴾نوددې روايت په بناء ټکړې ﴿د سرو او د سپينو زرو﴾ سامان تجارت دې.چه متعين کيږي په متعين کولوسره نو صلاحيت نه لري چې شی راس المال په مضارباتو اوشرکاتوکې،

وَذَكَرَ فِي كِتَابِ الصَّرْفِ أَنَّ النُّقْرَةَ لَا تَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ حَتَّى لَا يَنْفَسِخُ الْعَقْدُ بِهَا بِهَلَاكِهِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ، فَعَلَى تِلْكَ الرِّوَايَةِ تَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ فِيهِمَا،

زباره وتشريح:- اوذکرشوی دی په کتاب الصرف ﴿دجامع صغير﴾کې چې دسپينو زرو ټکړې نه متعين کيږي ﴿په متعين کولوسره﴾ تردې چې نه فسخ کيږي بيع په هلاکت ددې ﴿سپينو زرو ټکړو﴾ وړاندې د سپارلونه ﴿مثلاً که د زيد سره د سپينو زرو ټکړې وې.اوعمرو پرې د دغه ټکړو په عوض څه شی خرڅ کړلو. خو عمرته ئې لادغه ټکړې نه وې ورکړې.چه هغه ورکې شوې.نودغه بيع نه فسخ کيږي.بلکه ددغې په ځائې به ورته نورې پيسې ورکړي.ځکه چې دا د سپينو زور ټکړې نه متعين کيږي﴾ نود دغه روايت په بناء صلاحيت لري ﴿دا ټکړې﴾ چې شی راس المال په دې دواړو ﴿مضارباتو اوشرکاتو﴾کې،

وَهَذَا لِمَا عُرِفَ أَنَّهُمَا خُلِقَا ثَمَنَيْنِ فِي الْأَصْلِ، إِلَّا أَنَّ الْأَوَّلَ أَصَحُّ؛

زباره وتشريح:- اودا ﴿ټکړې په متعين کولوباندې نه متعين کيږي﴾ ددې امله چې معلومه شوې ده چې دا ﴿سره اوسپين زر﴾ پيدا شوي دی ثمن په اصل خلګ ت کې ، ﴿يعنی دا دواړه فطرتی طورثمن دی.که سکې ترې جوړې شوی وی او که نه وی﴾ مګردا ده.چه اولنې روايت ﴿چه دا په تعين سره متعين کيږی﴾ زيات صحيح دې.

لِأَنَّهُمَا وَإِنْ خُلِقَتْ لِلتِّجَارَةِ فِي الْأَصْلِ لَكِنَّ الثَّمَنِيَّةَ تَخْتَصُّ بِالضَّرْبِ الْمَخْصُوصِ، لِأَنَّ عِنْدَ ذَلِكَ لَا تُصْرَفُ إِلَى شَيْءٍ آخَرَ ظَاهِرًا

زباره وتشريح:- ځکه چې دا ﴿سره اوسپين زر﴾ اګرچه پيدا شوی دی لپاره دتجارت په اصل خلګ ت کې خو ثمنيت ﴿په دې کې﴾ خاص دې په هغه ډول پورې ﴿يعنی سره اوسپين زراګرچه خلګ ی طورثمن دی.خوددې ثمنيت هله ښکاره کيږی.چه سکې ترې جوړې شی.اوکه سکې ترې نه وی جوړې شوې.نوبيا دا ثمن نه دی﴾ ځکه چې په دغه وخت کې ﴿چه سکې ترې نه وی جوړې شوې﴾ نشی لګولې په بل څيزکې په ظاهره، ﴿يعنی عام طوربه خلګ وکې دا رواج دې.چه د سپينوزرودراهم اود سرو زرو دنانيرد ثمن په طور استعمالوی . نو د اولنی روايت په بناء چې نقره کې د راس المال جوړيدو صلاحيت نشته،چه ترڅو ترې سکې نه وی جوړې شوی﴾

إِلَّا أَنْ يَجْرِيَ التَّعَامُلُ بِاسْتِعْمَالِهِمَا ثَمَنًا فَنَزَلَ التَّعَامُلُ بِمَنْزِلَةِ الضَّرْبِ فَيَكُونُ ثَمَنًا وَيَصْلُحُ رَأْسَ الْمَالِ.

زباره وتشريح:- خودومره ده که جاری وی تعامل د خلګو په استعمال ددې دواړو ﴿ټکړې د سرو او سپينوزرو﴾ په استعمال باندې ثمن ﴿يعنی که په خلګ وکې ويلې شوې سرو او سپينو زرو په ټکړو باندې

كاروبارجاري وي. نوبيا دا ويلى شوى سره او سپين زرهم ثمن ګرځي﴾ نوګرځي تعامل ﴿د خلګو﴾ پشان د سكي ﴿يعنى لكه څنګه چې د سرو او سپينو نه سكې جوړې شي.نوهغه ثمن ګرځي.نودغه ډول كه په خلګ وكي د ويلى شوى سرو اوسپينو زروپه ټكروباندې د كاروباركولورواج وي.نودا رواج دې ته دثمنيت درجه وركوى.نوپه دې صورت كي﴾ ګرځي ﴿نقره﴾ ثمن او صلاحيت لرى چې شي راس المال ﴿په شركت مفاوضه كي﴾

ثُمَّ قَوْلُهُ وَلَا تَجُوزُ بِمَا سِوَى ذٰلِكَ يَتَنَاوَلُ الْمَكِيلَ وَالْمَوْزُونَ وَالْعَدَدِيَّ الْمُتَقَارِبَ، وَلَا خِلَافَ فِيهِ بَيْنَنَا قَبْلَ الْخَلْطِ،

ژباړه وتشريح:- بيا دا قول دده ﴿ابو الحسين قدورى په مختصرالقدورى كي﴾ اوجائز نه دي ﴿عقدمفاوضه﴾ په هغه څه چې وي سوا ددې ﴿دراهمو اودنانيرو﴾ نه نوشامليږي ﴿دغه ما سوا﴾ كيلي څيزونو ته ﴿لكه شيدې شو﴾ اووزني څيزونو ته ﴿لكه غوښه شوه﴾ اوعددي متقارب ﴿څيزونوته يعنى چې په شمارسره خرڅولې شى.اوپه وزن اوشكل كي يوبل سره نزدې نزدې وي.لكه هګۍ شوى﴾ اونشته خلاف په دې كي په مينځ زمونږ ﴿دعالمانو﴾ كي وړاندې د ګډ وډ كيدو نه ﴿يعنى په دې باندې واړه احناف عالمان متفق دي.چه په دې څيزونو باندې شركت مفاوضه نه كيږي﴾

وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا رِبْحُ مَتَاعِهِ وَعَلَيْهِ وَضِيعَتُهُ، وَإِنْ خَلَطَا ثُمَّ اشْتَرَكَا فَكَذٰلِكَ فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ، وَالشَّرِكَةُ شَرِكَةُ مِلْكٍ لَا شَرِكَةُ عَقْدٍ.

حل اللغة: ① وضيعة:تاوان

ژباړه وتشريح:- او لپاره دهريوكس دواړو شريكينو نه ګټه د سامان خپل ده اوپه ده ﴿هرواحد﴾ باندې تاوان د هغې ﴿سامان﴾ دې ﴿يعنى په دې څيزونوكي عقدمفاوضه نه صحيح كيږي.خوكه دووكسانوپه دې څيزونو كي شركت مفاوضه اوكړله.نودغه شركت نه دې.بلكه دكوم يوسامان چې كومه ګټه اوكړله.هغه به هم دهغه وى.دبل شريك ورسره برخه نشته.اوكه دهغه سامان تاوان اوكړلو .نو تاوان به هم صرف دهغه وى.دشريك به نه وي﴾اوكه دواړوګډوډ كړلو ﴿خپل وزني يا كيلي يا عددى شيان (څيزونه)﴾ اوبيا شريك شول ﴿په دغه مخلوط څيزونوكي﴾ نودغه ډول حكم دې ﴿يعنى ګټه اوتاوان ئي خانله خانله دي﴾ په قول دامام ابويوسف رحمه الله كي ،اوشركت شركت د ملكيت دې. ﴿يعنى صرف ملكيت ئي يوځائي شو.نورګټه اوتاوان ئي جلا جلا دي﴾ نه دې شركت شركت دعقد ﴿عقدمفاوضه﴾

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَصِحُّ شَرِكَةُ الْعَقْدِ. وَثَمَرَةُ الِاخْتِلَافِ تَظْهَرُ عِنْدَ التَّسَاوِي فِي الْمَالَيْنِ وَاشْتِرَاطِ التَّفَاضُلِ فِي الرِّبْحِ، فَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ مَا قَالَهُ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ لِأَنَّهُ يَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ بَعْدَ الْخَلْطِ كَمَا تَعَيَّنَ قَبْلَهُ.

ژباړه وتشريح:- اوپه نيزدامام محمد رحمه الله صحيح كيږي شركت دعقد ﴿مفاوضه،نوچه شركت عقد صحيح شو ګټه اوتاوان به ئي شريك وي﴾اوفائده د اختلاف ښكاره كيږي په وخت د برابرئ كي په دواړو مالونو كښي ﴿يعنى چې د دواړو شريكينومالونه برابر وي﴾ اوپه شرط كولو د زيادت په ګټه كي ﴿يعنى دعقد په وخت كي دا شرط اولګوى.چه يوكس به مثلاً دريمه برخه ګټه اخلي.اوبل به دوې [دوه] برخې اخلي.نوهركله چې داسې صورت شى.چه راس المال د دواړو برابر وى.خودا فيصله اوشى.چه يوته به زياته يعنى درې برخې اوبل ته كمه يعنى يوه برخه ملاويږي﴾ نوظاهر روايت هغه دې.چه وئيلې دې امام ابويوسف رحمه الله څكه چې دا ﴿وزني كيلي اوعددى شيان (څيزونه)﴾ متعين كيږي په تعين كاوه سره روسته د خلط نه لكه څنګه چې متعين كيږي وړاندې د خلط نه ﴿نوشركت مفاوضه نه صحيح كيږي.بلكه دهريوكس ګټه اوتاوان خپل خپل دي﴾

وَلِمُحَمَّدٍ أَنَّهَا ثَمَنٌ مِنْ وَجْهٍ حَتَّى جَازَ الْبَيْعُ بِهَا دَيْنًا فِي الذِّمَّةِ. وَمَبِيعٌ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ يَتَعَيَّنُ بِالتَّعْيِينِ،

ژباړه وتشريح:- اودامام محمد رحمه الله لپاره دليل دا دي.چه دا ﴿وزني ،كيلي اومتقارب عددى شيان (څيزونه)﴾ ثمن دې په يواعتبار سره هم دا وجه ده ﴿چه دا ثمن دي﴾ جائز دى خرڅول په دې ﴿څيزونو﴾ باندې په

داسې حال کې چې دا پور وي په ذمه کې ﴿مثلا که زید د بکرنه یوخیزد چرګې په لسو هګو یا په یوسیرغوښې یا په یوسیر پیو باندې واخستلو.خوپه دې طریقه چې دا هګئ غوښه اوشیدې (پئ) به په مشتري باندې پور وي.نودا پور جائزدې.په دې امله دا ثمن دی﴾ او ﴿دا وزنی کیلی اوعددی متقارب شیان (څیزونه)﴾ مبیع ده په دې اعتبارسره چې دا متعین کیږي په تعین کاوه سره،

فَعَمِلْنَا بِالشَّبَهَيْنِ بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْحَالَيْنِ، بِخِلَافِ الْعُرُوضِ، لِأَنَّهَا لَيْسَتْ ثَمَنًا بِحَالٍ

ژباړه وتشریح:- نوموږ عمل اوکړلو په دواړو شبهاتو ﴿چه یومشابهت د سامان سره اوبل مشابهت د ثمن سره دی﴾ د امله د اضافت نه دوو حالتونو ته ﴿چه حالت د خلط دې اوحالت د عدم خلط، نودخلط نه وړاندې مو په دې کې شرکت مفاوضه جائزنکړه.ځکه چې دا د سامان سره مشابهت لري.اوپه سامان کې شرکت مفاوضه نه صحیح کیږي.په دې کې به هم نه صحیح کیږي. اودخلط نه روسته موپه کې شرکت مفاوضه جائزکړله.ځکه چې دا د ثمن سره مشابهت لري.اوپه ثمن کې شرکت مفاوضه جائز دې.په دې کې به هم جائز وی﴾ په خلاف د سامان ﴿په دې کې په هیڅ صورت کې شرکت مفاوضه جائزنه ده. نو دخلط نه وړاندې اونه پس﴾ ځکه چې دا نه دی ثمن په هیڅ حال کې،

وَلَوِ اخْتَلَفَا جِنْسًا كَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّيْتِ وَالسَّمْنِ فَخَلَطَا لَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ بِهَا بِالِاتِّفَاقِ.

حل اللغة: ① الحنطة:غنم ② الشعير:اوربشې ③ الزیت:تیل ④ السمن:غوړي

ژباړه وتشریح:- اوکه مختلف دوی دواړه ﴿مالونه په اعتباردجنسیت سره﴾ لکه غنم او اوربشې اوتیل اوغوړي ﴿ځکه چې دا شیان (څیزونه) دجنس په اعتبارسره دیوبل نه مختلف دی﴾ نوګډ شول ﴿دواړه مالونه﴾ نه منعقد کیږي شرکت ﴿مفاوضه﴾ په دې باندې ﴿مختلف الجنس وزنی اوکیلی اوعددی څیزونو﴾ باندې په اتفاق سره ﴿په مینځ د ټولو احنافو ﷭.یعنی که دغه عددی یا وزنی یا کیلی شیان (څیزونه) یوبل سره خلط شی.اوجنس ئې یو وی. نو دامام محمد﷫ په نیزپه دغه کې شرکت مفاوضه صحیح کیږي.خوکه هم دغه شیان (څیزونه) مختلف الجنس وی .نوبیا دامام محمد﷫ په نیزهم شرکت مفاوضه نه صحیح کیږي.نواوس په امام محمد﷫ باندې لازمه ده.چه د متحدالنجس په صورت کې دجواز اودمختلف الجنس په صورت کې دعدم جوازفرق بیان کړي.اومصنف﷫ فرمائی.چه﴾

وَالْفَرْقُ لِمُحَمَّدٍ أَنَّ الْمَخْلُوطَ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ مِنْ ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ، وَمِنْ جِنْسَيْنِ مِنْ ذَوَاتِ الْقِيَمِ

ژباړه وتشریح:- اوفرق ﴿په مینځ د دواړوصورتونوکې﴾ لپاره دامام محمد﷫ دا دې.چه مخلوط شیان (څیزونه) چې د یوجنس ځنی وی.د مثلی څیزونو ځنی دی. ﴿تردې که دغه مثلی څیزهلاك شی. نو دهغې مثل دهغې قائم مقام جوړیږي.مثلاً زیددد بکرکتاب خراب کړلو.نوبکرپه ورته هم هغه شان بل کتاب واخلی.او وربه ئې کړي.ځکه چې کتاب مثلی څیزدې﴾ اوچه ﴿دغه مخلوط شیان (څیزونه)﴾ د دوو جنسو ځنی وی.نودغه دذوات القیم څیزونو ځنی دی. ﴿نوکه هلاك شی.بل څیزدهغې قائم مقام نشی جوړیدې.بلکه دهغې قیمت به لازمیږي. مثلا که زید دبکروزه هلاکه کړه.نودوزه قیمت به ورکوی.ځکه چې وزه مثلی څیزنه دی﴾

فَتَتَمَكَّنُ الْجَهَالَةُ كَمَا فِي الْعُرُوضِ، وَإِذَا لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ فَحُكْمُ الْخَلْطِ قَدْ بَيَّنَّاهُ فِي كِتَابِ الْقَضَاءِ.

ژباړه وتشریح:- نوراځي په دې ﴿څیزونو﴾ کښې جهالت، ﴿ځکه چې دویش په وخت کې هریوشریك ته خپل اصل راس المال نشی ملاویدې.بلکه که ملاویږي ورته نو د راس المال قیمت به ورته ملاویږي.نونه منعقد کیږي په دې باندې شرکت مفاوضه﴾ لکه څنګه چې په سامان کې شرکت مفاوضه نه صحیح کیږي.اوکه جنس یووی.نوپه دغه صورت کې هریوکس ته دویش په وخت کې خپل اصلی راس المال ملاویدې شی. ځکه چې دهغې مثل به ورته ملاو شی﴾ او هر کله چې ﴿په مختلف الجنس کې﴾ صحیح نشو شرکت ﴿مفاوضه روسته دخلط نه﴾ نودخلط چې څه حکم دې.یقیناً موږ بیان کړې دې په کتاب القضاء کښې

﴿يعني په مختلف الجنس وزني ، كيلي اوعددي متقارب كي دوې [دوه] نفر شريك شي.نوشركت مفاوضه نه صحيح كيږي. خو چونكه دوى خواوس شركت كړې دي.نود شركت نه روسته به ددې خلط اوګڼون څه حكم وي. نو صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه د هغې بيان موږ به كتاب القضاء كي كړې دې﴾

په سامان كې د شركت مفاوضه دجواز حيله

قَالَ (وَإِذَا أَرَادَ الشَّرِكَةَ بِالْعُرُوضِ بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَ مَالِهِ بِنِصْفِ مَالِ الْآخَرِ، ثُمَّ عَقَدَ الشَّرِكَةَ) قَالَ (وَهَذِهِ الشَّرِكَةُ مِلْكٌ) لِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْعُرُوضَ لَا تَصْلُحُ رَأْسَ مَالِ الشَّرِكَةِ،

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿صاحب دقدروي﴾ رحمه الله اوكله چې اراده اوكړي دشركت په سامان كي نوخرڅ به كړي هريوكس دواړو ﴿شريكينو﴾ خنى نيم مال خپل په نيم مال د بل سره اوبيا به عقد شركت اوكړي فرمائي مصنف رحمه الله اودا ﴿دكوم صورت بيان چې ابو الحسين قدوري رحمه الله اوكړلو﴾ شركت ملك دې ﴿شركت مفاوضه نه ده﴾ دهغه امله چې موږ بيان كړلو.چه سامان صلاحيت نه لري چې شي راس المال دشركت ﴿مفاوضه﴾

وَتَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ قِيمَةُ مَتَاعِهِمَا عَلَى السَّوَاءِ، وَلَوْ كَانَ بَيْنَهُمَا تَفَاوُتٌ يَبِيعُ صَاحِبُ الْأَقَلِّ بِقَدْرِ مَا تَثْبُتُ بِهِ الشَّرِكَةُ.

ژباړه وتشريح:- اومطلب ددې ﴿مسئلې چې هريوكس به په خپل نيم مال باندې دبل نيم مال واخلي. اوبيا به شريك شي﴾ كله چې وى قيمت د سامان د دواړو برابراوكه چيرته وي په مينځ د دواړو ﴿دمالونوپه قيمت كي﴾ توپير ﴿چه د يومال ارزان وي.اودبل ګران وي﴾ نوخرڅ به كړي صاحب د كم قيمته سامان په اندازه دهغه مقدار چې ثابت شي په هغې باندې شركت ﴿يوشان﴾

ضروري تشريح:- صورت دمسئلې به داسې وى. ديو شريك دسامان قيمت ځلور سوه دې.اودبل دسامان قيمت صرف سل روپئ دې. نو د سل روپو خاوند به دخپل سامان ځلورحصې چې قيمت ئې اتيا روپئ جوړيږي. هغه به د ځلور سوه روپو ماليت واله په پنځمه برخه باندې خرڅ كړي.هغه هم اتيا روپئ جوړيږي.ځكه چې د ځلورسوو پنځمه برخه اتيا دى.نوپه دې طريقه به دسلو روپو دخاوندخپل مال ځلورحصې كومې چې د ځلورو سوو روپود خاوند دپنځمې برخې سره برابر دى.په دې كې به دواړه شريك شى. او د ځلورو سوو روپوماليت خاوندته به ځلورحصې سالمې پاتې شى.اوګټه چې كومه كيږي. هغه به هم په دې حساب وى.مثلاً كه سل روپئ ئې اوګټلې.نواتيا روپئ خودځلورسوومالیت واله خانله مستقلې شوې.اوپه شلو روپو كې ورسره دسلوروپوماليت واله كس شريك شو.

دشركت عنان تعريف

قَالَ (وَأَمَّا شَرِكَةُ الْعِنَانِ فَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ دُونَ الْكَفَالَةِ، وَهِيَ أَنْ يَشْتَرِكَ اثْنَانِ فِي نَوْعِ بُرٍّ أَوْ طَعَامٍ، أَوْ يَشْتَرِكَانِ فِي عُمُومِ التِّجَارَاتِ وَلَا يَذْكُرَانِ الْكَفَالَةَ)،

حل اللغة: ① بز دجامو يو ډول

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿صاحب دقدوري﴾ رحمه الله اوهرچه شركت عنان دې.نومنعقد كيږي په وكالت باندې نه په كفالت باندې ﴿يعني په شركت عنان كي كه يوشريك بل ته اووائي.چه ته زما د اړخه وكيل ئې.اوزه ستا داړخه وكيل يم.نودا صحيح كيږي.كه دا اووائي.چه ته به زما ذمه وارئې.اوزه به ستا ذمه واريم.نودا نه صحيح كيږي﴾ اودا ﴿شركت عنان﴾ دا دې.چه شريك شي دوې [دوه] نفر په يو ډول د جامويا دخوراك په كي اويا شريك شي په عامو سوداګانو كي ﴿څه تخصيص په كي نشته.كه خرڅه وي﴾اودوى ذكر اونه كي (اونكړي)دكفالت ﴿چه يوكس به دبل د معاملې ذمه وار وي﴾

وَالْعِقَادُهُ عَلَى الْوَكَالَةِ لِتَحَقُّقِ مَقْصُودِهِ كَمَا بَيَّنَّاهُ،

ژباړه وتشریح:- اومنعقد کیدل ددې ﴿شرکت عنان﴾ په وکالت سره ﴿یعنی چې هریوکس دبل نه وکیل جوړ شی.نوپه دې باندې شرکت عنان صحیح کیږی﴾ د امله د حاصلیدو د مقصود ﴿د شراکت، یعنی دشرکت مقصود دا وی.چه هسې خودبل په مال کې تصرف جائزنه دې.خود وکالت په ذریعه باندې جائز ګرځی﴾ لکه څنګه چې موږ بیان اوکړلو ددې ﴿په اول دکتاب کې په دې قول سره چې ،،وشرطه أن یکون التصرف المعقود علیه عقدالشرکة قابلاً للوکالة لیکون مایستفاد بالتصرف مشترکاً بینهما فیتحقق محکمه المطلوب)

وَلَا يَنْعَقِدُ عَلَى الْكَفَالَةِ،لِأَنَّ اللَّفْظَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْأَعْرَاضِ يُقَالُ عَنَّ لَهُ:أَيْ عَرَضَ،وَهٰذَا لَا يُنْبِئُ عَنِ الْكَفَالَةِ وَحُكْمُ التَّصَرُّفِ لَا يَثْبُتُ بِخِلَافِ مُقْتَضَى اللَّفْظِ.

ژباړه وتشریح:- اونه منعقد کیږی ﴿شرکت عنان﴾ په کفاله سره ﴿یوشریك بل ته ووائی.زه ستا ذمه واریم﴾ ځکه چې لفظ ﴿دعنان﴾ راوتلې دې د ډډې کاوه نه وئیلی شی ﴿دعربوپه محاوره کې﴾ عن له یعنی اعراض ئې ترې اوکړلو.اودا ﴿اعراض﴾ خبرنه ورکوی دکفاله نه ﴿یعنی دعنان معنی اعراض ده.چه یوکس دبل نه ډډه اواعراض اوکړی.اودکفاله معنی ذمه واری قبلول دی.چه یو کس دبل ذمه وارجوړ شی.نود دواړوپه معنی کښې تضاد دې.ځکه شرکت عنان په لفظ دکفاله سره نه صحیح کیږی﴾ اوحکم دتصرف کولو ﴿په مال دیوبل کې﴾ نه ثابتیږی.په خلاف دمقتضی د لفظ ﴿ځکه چې دکفاله دلفظ تقاضا خوذمه واری قبلول دی.اودا معنی شرکت عنان نه قبلوی.ځکه چې په هغې کې دیوبل ذمه واری قبلول نه وی﴾

په شرکت عنان کې مال اومنافعود برابرئ حکم

:(وَيَصِحُّ التَّفَاضُلُ فِي الْمَالِ) لِلْحَاجَةِ إِلَيْهِ وَلَيْسَ مِنْ قَضِيَّةِ اللَّفْظِ الْمُسَاوَاةُ.

حل اللغة:① **التفاضل:**زیاتیوالې ② **قضیة:**تقاضا .③ **المساواة:**برابری

ژباړه وتشریح:- اوصحیح کیږی زیادت په مال کې ﴿په شرکت عنان کې ،چه دیوراس المال زیات وی اود بل کم وی﴾ د امله دحاجت نه دې ﴿شرکت عنان﴾ ته ﴿ځکه بعضې کاروبارداسې وی.چه په یواځې نه کیږی.نوسړې ځان سره بل کس شریك کړی.خوبیا داسې نفر هم کم پیدا کیږی.چه د دواړو سره سرمایه اوراس المال یوشان وی.بلکه یوکس به دکمې سرمایه مالك وی.اوبل به د زیاتې.نوکه دیوکس راس المال زیات وی.دا جائزدې.ځکه﴾ نه دې دتقاضا دلفظ ﴿دعنان﴾ څنی برابری ﴿په راس المال کې ،یعنی دعنان لفظ دا تقاضا نه کوی.چه راس المال دې د دواړو شریکانوبرابر وی.لکه څنګه چې د مفاوضه لفظ دا تقاضا کوله.چه دمفاوضینوراس المال دې برابروی﴾

(وَيَصِحُّ أَنْ يَتَسَاوَيَا فِي الْمَالِ وَيَتَفَاضَلَا فِي الرِّبْحِ) وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِي: لَا تَجُوزُ

ژباړه وتشریح:- اوصحیح کیږی ﴿شرکت عنان﴾ چې دواړه شریکان برابر وی په راس المال کې اوزیات وی دیوبل نه په ګټه کې ، ﴿مثلاً د دواړو شریکانوراس المال دوې [دوه] دوې [دوه] زره روپۍ وی.اوګټه یوته یوه برخه ملاویږی اوبل ته دوې [دوه] حصې﴾ اوفرمائی امام زفراوشافعی رحمهما الله جائز نه دې ﴿چه راس المال دې برابر وی.اوپه ګټه کې دې کمې زیاتې وی﴾

لِأَنَّ التَّفَاضُلَ فِيهِ يُؤَدِّي إِلَى رِبْحِ مَا لَمْ يُضْمَنْ،فَإِنَّ الْمَالَ إِذَا كَانَ نِصْفَيْنِ وَالرِّبْحَ أَثْلَاثًا فَصَاحِبُ الزِّيَادَةِ يَسْتَحِقُّهَا بِلَا ضَمَانٍ،إِذِ الضَّمَانُ بِقَدْرِ رَأْسِ الْمَالِ،

ژباړه وتشریح:- ځکه چې زیادت په دې ﴿ګټه﴾ کې مفضی کیږی ګټې دهغه شی ته ضامن کیږی ئې نه ﴿هغه کس چې زیاته ګټه اخلی﴾ ځکه چې مال کله وی نیم په نیمه ﴿یعنی په واړه مال کې نیم دیوشریك وی اونیم دبل﴾ اووی ګټه درې برخې ﴿چه یوته یوه برخه اوبل ته دوې [دوه] برخې ملاویږی﴾ نوصاحب د زیاتې ګټې مستحق ګرځی ددې ﴿ګټې﴾ بغیرد ضمان نه ځکه چې ضمان راځی په اندازه د راس المال

﴿مثلاً دوي [دوه] دوي [دوه] زره روپۍ راس المال وو.چه مجموعه ئې څلور زره شوې. نو که په دغه څلور زرو کې دوي [دوه] درې سوه روپۍ تاوان اوشي .نو يو نيم سل به په يو راځي. اويونيم سل په بل داسې نه ده چې څوك دوي [دوه] برخې ګټه اخلي.په هغه دوي [دوه] سوه روپۍ تاوان راشي.اوچه څوك يوه برخه ګټه اخلي.په هغه سل روپۍ تاوان راشي﴾

وَلِأَنَّ الشَّرِكَةَ عِنْدَهُمَا فِي الرِّبْحِ لِلشَّرِكَةِ فِي الْأَصْلِ، وَلِهَذَا يَشْتَرِطَانِ الْخَلْطَ، فَصَارَ رِبْحُ الْمَالِ بِمَنْزِلَةِ نَمَاءِ الْأَعْيَانِ فَيَسْتَحِقُّ بِقَدْرِ الْمِلْكِ فِي الْأَصْلِ.

زباړه وتشريح:- اوبله دا چې شركت په نيزد دواړو ﴿امام زفراوشافعي﴾ ﷫ په ګټه کې راځي د امله د شرکت نه په راس المال کې ﴿يعنې په ګټه کښې چې دوی شريك دی.نوځکه چې په راس المال کښې شريك دی﴾ اوددې امله ﴿په ګټه کې شرکت فرع ده د شرکت په راس المال کې﴾ شرط کوی دواړه ﴿امام زفراوشافعي﴾ ﷫ خلط ﴿په شرکت کې ،يعنې د دوی په نيزشرکت هله صحيح کيږي.چه د دواړو مالونه يوبل سره يوځاني وی﴾ نو اوګرځيدلو ګټه دمال پشان د زيادت د اعيانو، ﴿يعنې په مال کې چې کومه ګټه راشي.نودا داسې شوه .لکه چې يو شی وی. د هغې په ذات کې زيادت راشي.مثلاً ديوکس سره يوه ګامېښه (ميخه) ده.اوکال روسته هغه يو بچې راوړی.نوپه دغه راس المال کې چې يوه ګامېښه (ميخه) وه.زيادت اونماء راغله.خودخارج نه نه ده راغلې.بلکه هم ددغه ميخې نه زيادت پيدا شوې دی.نوپه دغه صورت کې به د ميخې بچې هم دهغه چا وی.چه دچا ګامېښه (ميخه) وی﴾ نو ﴿په زيربحث مسئله کې چې مسئله د شرکت عنان ده﴾ به مستحق کيږي ﴿هرشريك﴾ په اندازه د ملك په راس المال کې ﴿نوکه راس المال ئې زيات وو.ګټه به ئې هم زياته وی.اوکه راس المال ئې کم وو. ګټه به ئې هم کمه وی﴾

وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ {الرِّبْحُ عَلَى مَا شَرَطَا، وَالْوَضِيعَةُ عَلَى قَدْرِ الْمَالَيْنِ} (١) "وَلَمْ يُفَصِّلْ، وَلِأَنَّ الرِّبْحَ كَمَا يُسْتَحَقُّ بِالْمَالِ يُسْتَحَقُّ بِالْعَمَلِ كَمَا فِي الْمُضَارَبَةِ،

زباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافود درې واړه امامانو﴾ لپاره دليل قول دنبی ﷺ دی.چه ګټه به په هغه اندازه وی. چې مقرر ئې کړی دوي [دوه] شريکان.اونقصان به په اندازه د دواړومالونو وی.اونبی ﷺ تفصيل نه دی کړی. ﴿په مينځ د برابرۍ اوتفاضل کښې.بلکه مطلقاً ئې فرمائيلې دی.چه ګټه څنګه مقرر کړی.هم هغه شان به وی﴾ اوبله دا چې ګټه لکه څنګه مستحقه ګرځي په مال سره ﴿چه سړی ته ګټه ځکه ملاويږی.چه دده مال وی﴾ نودغه ډول مستحقه ګرځي په عمل سره ﴿يعنې يوسړی ته ګټه ځکه ملاويږی.چه دده د اړخه عمل وی.اګرچه مال دده نه وی﴾ لکه څنګه چې په مضاربت کې وی. ﴿ګټه دواړو ته ملاويږی.که مالك دمال وی اوکه مضارب وی. حالانکه دمضارب د اړخه صرف عمل وی.مال خود رب المال وی﴾

وَقَدْ يَكُونُ أَحَدُهُمَا أَحْذَقَ وَأَهْدَى وَأَكْثَرَ عَمَلًا وَأَقْوَى فَلَا يَرْضَى بِالْمُسَاوَاةِ فَمَسَّتْ الْحَاجَةُ إلَى التَّفَاضُلِ،

حل اللغة: ① احذق زيات هوښيار ② اهدی زيات تجربه کار

زباړه وتشريح:- ﴿اوددې امله هم په ګټه کې تفاضل جائزدی.چه﴾ کله وی يودشريکينو نه زيات هوښيار او زيات تجربه کار ﴿په کاردتجارت کې﴾ اوزيات وی په کارکولوکې ﴿مال ويستې شي﴾ اوقوی وی. ﴿نوکارزيات کوی.اودغه صفات دده په ملګری کې نه وی﴾ نونه راضي کيږي ﴿موصوف په دغه صفتونو﴾ په برابری باندې ﴿په ګټه کې ،بلکه دې د زياتې ګټې مطالبه کوی﴾ نوپيښ شو حاجت تفاضل ته ﴿چه يوته دې زياته ګټه ورکړې شي.ځکه که زياته ګټه ورته نه ورکوی.نوهغه شرکت نه کوی.اوپه ده کې دومره استعداد نه وی.چه دې په خپل مال په خپله ګټه اوکړی﴾

---

(١) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب جداً ويوجد في بعض كتب الأصحاب من قول علي رضي الله عنه (نصب:٣\٤٧٢)_

بِخِلَافِ اشْتِرَاطِ جَمِيعِ الرِّبْحِ لِأَحَدِهِمَا لِأَنَّهُ يُخْرِجُ الْعَقْدَ بِهِ مِنْ الشَّرِكَةِ وَمِنْ الْمُضَارَبَةِ أَيْضًا إِلَى قَرْضٍ بِاشْتِرَاطِهِ لِلْعَامِلِ أَوْ إِلَى بِضَاعَةٍ بِاشْتِرَاطِهِ لِرَبِّ الْمَالِ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دشرط كولو دټولې ګټې ديود شريكينو لپاره ﴿يعنى كه دوې [دوه] نفر په كاروباركې شريك شي.اودواړه په كې خپل مال اولګوى.خوشرط دا كيږدى.چه كومه ګټه راځى.هغه به صرف يوشريك اخلي.نودا شركت صحيح نه دې﴾ ځكه چې دا ﴿اشتراط﴾ اوباسى عقد د شركت نه ﴿يعنى دا شركت نه دې﴾ اودمضاربت نه هم ﴿يعنى دا مضاربت نه دې﴾ پور ته چې شرط اولګوى د ګټې دعمل كونكى لپاره ﴿يعنى چې په مضاربت كې دا شرط اولګوى.چه كومه ګټه راځى.نوهغه به صرف دمضارب وى.درب المال به په كې برخه نه وى.نودا مضاربت نه دې.بلكه پور دې.دا داسې شوه.چه رب المال عمل كونكى ته پيسې پور وركړې.چه ته پرې تجارت كوه.اوګټه ئې خوره﴾ اوګرځى بضاعت چې شرط اولګوى ددې ﴿ګټې﴾ د رب المال لپاره ﴿يعنى زيد خالد ته مثلاً دوې [دوه] زره روپۍ وركړې.اودا ورته اووائى.چه په دې كاروباركوه.خوګټه به زما وى.ستا به نه وى.نودا شركت عنان نه دې.بلكه دا بضاعت دې بضاعت دې ته وائى.چه زيدبكرته مال وركړې.چه ته په دې كې تجارت كوه.خوچه كومه ګټه كيږى.په هغې كې به ستا څه برخه نه وى.ټوله ګټه به زما وى﴾

وَهَذَا الْعَقْدُ يُشْبِهُ الْمُضَارَبَةَ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ يَعْمَلُ فِي مَالِ الشَّرِيكِ، وَيُشْبِهُ الشَّرِكَةَ اسْمًا وَعَمَلًا فَإِنَّهُمَا يَعْمَلَانِ

ژباړه وتشريح:- ﴿پاتې پاتې شوه دا خبره چې راس المال يوشان وى.اوګټه يوكس ته زياته ملاويږى. نوپه دې كې ګټه دهغه څيزحاصليږى.چه ګټه كونكې ئې ضامن نه وى.نوددې نه ځواب دا دې.چه﴾ اودا عقد ﴿كوم چې راس المال برابر وى.اوګټه كې تفاضل وى﴾ مشابه ده د مضاربت سره په دې حيثيت چې دې ﴿زياته ګټه اخستونكې﴾ عمل كوى.په مال د شريك خپل كې ﴿يعنى لكه څنګه چې په مضاربت كې د مضاربت پيسې نه وى.خوعمل كوى.اوګټه خورى.نودغه ډول په زيربحث صورت كې هم كوم كس چې زياته ګټه اخلي .نودې د خپل انډيوالان په مال كې عمل كوى.اوګټه اخلى﴾ اومشابه دې د شركت ﴿مفاوضه﴾ سره په حيثيت د نوم ﴿ځكه چې هرواحد د مفاوضه اوعنان نه دې ته شركت وائى﴾ اوپه حيثيت د عمل ځكه چې دا دواړه شريكان عمل كوى ﴿يعنى دشركت عنان شريك دخپل انډيوالان په برخه كې عمل كوى.لكه څنګه چې په شركت مفاوضه كې يوشريك دخپل انډيوالان په برخه كې عمل كوى.نوددې زيربحث صورت دوې [دوه] مشابهته شول.يومشابهت د شركت مفاوضه سره اوبل مشابهت د مضاربت سره﴾

لَعَمِلْنَا بِشَبَهِ الْمُضَارَبَةِ. وَقُلْنَا: يَصِحُّ اشْتِرَاطُ الرِّبْحِ مِنْ غَيْرِ ضَمَانٍ وَبِشَبَهِ الشَّرِكَةِ حَتَّى لَا تَبْطُلَ بِاشْتِرَاطِ الْعَمَلِ عَلَيْهِمَا.

ژباړه وتشريح:- نوموږ عمل اوكړلوپه مشابهت د مضاربت سره اودا مو اووئيل.چه صحيح دى شرط كول د ګټې بغيرد ضمان نه ﴿يعنى كوم كس چې دا شرط اولګوى.چه تاسره شركت كوم.اګرچه د دواړو راس المال برابردې.خوچه زه پرې كاروباركوم.نوماته به دوې [دوه] برخې راكوې.اوته به يوه برخه ګټه اخلې.نودې ته موجائز اووئيل.ځكه چې ددې د مضاربت سره مشابهت دې.اودمشابهت تفصيل وړاندې تيرشو.اوپه مضاربت كې هم دمضارب راس المال نه وى.صرف عمل ئې وى.خوګټه اخلى﴾ اومشابه دې دشركت ﴿مفاوضه﴾ سره هم دا وجه ده ﴿چه دشركت مفاوضه سره مشابه ده﴾ نه باطليږى ﴿دا شركت عنان﴾ په شرط لګولودعمل په دواړو ﴿شريكينو﴾ باندې، ﴿يعنى كه په شركت عنان كښې دا شرط اولګولې شى.چه ګټه به يوكس مثلاً دوې [دوه] برخې اخلى.اوبل كس يوه برخه اوعمل به دواړه كوى.نودا به هم صحيح وى.ځكه چې ددې دشركت مفاوضه سره مشابهت دې.اوپه شركت مفاوضه كښې دواړه شريكين عمل كوى.نودغه ډول به دا زيربحث شركت هم جائز وى.چه عمل دواړه كوى.اوګټه يوته زياته اوبل ته كمه ملاويږى﴾

په څینې مال کې دشرکت عنان جواز

قَالَ (وَيَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِبَعْضِ مَالِهِ دُونَ الْبَعْضِ) لِأَنَّ الْمُسَاوَاةَ فِي الْمَالِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهِ إِذِ اللَّفْظُ لَا يَقْتَضِيهِ (وَلَا يَصِحُّ إِلَّا بِمَا بَيَّنَّا) أَنَّ الْمُفَاوَضَةَ تَصِحُّ بِهِ لِلْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ

ژباړه وتشریح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری» رحمه الله اوجائزدی چې اوکړی دا «شرکت عنان» هرواحد دشریکینو نه په بعضې مال خپل نه بعضې «یعنی په شریکینوکې که یوکس خپل واړه مال نه بلکه بعضې مال په شرکت عنان کې خرچ کړی.نودا جائزدی» ځکه چې مساوات په مال کې په مال کې نه دې شرط په دی «شرکت عنان» کې ،ځکه چې لفظ دعنان تقاضا نه کوی ددې «مساوات» اونه صحیح کیږی «شرکت عنان» مګرپه هغه څه چې موږ بیان کړلو «یعنی چې په دراهمو دنانیرواورائجو سیکو باندې صحیح کیږی)اومفاوضه صحیح کیږی په دې «دراهم اودنانیرو» باندې دهغه امله نه کومه چې موږ ذکرکړې ده «چه په دې کې کته د هغه څه ده چې مضمون نه دی»

(وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِكَا وَمِنْ جِهَةِ أَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَمِنَ الْآخَرِ دَرَاهِمُ، وَكَذَا مِنْ أَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ بِيضٌ وَمِنَ الْآخَرِ سُودٌ) وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ، وَهَذَا بِنَاءٌ عَلَى اشْتِرَاطِ الْخَلْطِ وَعَدَمِهِ فَإِنَّ عِنْدَهُمَا شَرْطٌ وَلَا يَتَحَقَّقُ ذَلِكَ فِي مُخْتَلِفِي الْجِنْسِ، وَسَنُبَيِّنُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

حل اللغة: ① بیض: سپین ② سود: تور ③ الخلط: ګډون

ژباړه وتشریح:- اوجائزدی چې شریك شی دوې [دوه] نفر اووی د یوداړخه اشرفئ اودبل داړخه روپئ اودغه ډول «جائزدې شرکت عنان» چې وی د یود اړخه سپینې روپئ اودبل داړخه تورې روپئ ، اوفرمائی امام زفر او شافعی رحمهما الله چې جائزنه دی «هرصورت د صورتینو نه» اودا اختلاف بناء دې په شرط کولودخلط اوعدم خلط باندې «یعنی دا چې په شرکت کې خلط دمالونود شریکینو شرط دې اوکه نه دې» ځکه چې په نیز ددوی دواړو «امام زفراوشافعی» رحمهما الله دا «خلط» شرط دې. «که مالونه نه وی خلط شوی.شرکت نه صحیح کیږی» اونه متحقق کیږی دا «خلط دمالونو» په مختلف الجنس څیزونوکې «لکه دراهم اودنانیرشوپه دې کې ګډون اوخلط نشی راتلې» اوزرده چې موږ به بیان کړو دا «اشتراط دخلط اودعدم خلط په شرکت کې» روسته انشاء الله تعالی.

هم د مشتری څخه به دقیمت مطالبه کولای شي

قَالَ (وَمَا اشْتَرَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلشَّرِكَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الْآخَرِ لِمَا بَيَّنَّا) أَنَّهُ يَتَضَمَّنُ الْوَكَالَةَ دُونَ الْكَفَالَةِ، وَالْوَكِيلُ هُوَ الْأَصْلُ فِي الْحُقُوقِ.

ژباړه وتشریح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری» رحمه الله اوهغه څیزچه وائې اخلی هریوکس د دوی «شریکینو» نه نومطالبه به کولای شی دقیمت دهغې «مشتراة هم دهغه نه» نه دبل «شریك» نه «چه مشتری نه وی» دهغه امله چې موږ بیان کړه چې دا «شرکت عنان» متضمن دې وکاله لره نه کفاله لره، « نومشتری چې کوم شی واخستلو .په دې کې دې دخپلې برخې په خپله اخستونکې دې.اودشریك په برخه کې دهغه نائب دې. اوذمه وارنه دې. بلکه ذمه واری دهریوبه خپل ځان باندې ده» او وکیل هم دې اصل دې په حقوقوکې ، « یعنی هم وکیل مطالبه کوی دهغه څا نه چې په څا باندې حق وی. موکل مطالبه نه کوی»

په اخستې شوی څیزکې دشریك نه دهغه خپله برخه اخستل

قَالَ (ثُمَّ يَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ) مَعْنَاهُ إِذَا أَدَّى مِنْ مَالِ نَفْسِهِ، لِأَنَّهُ وَكِيلٌ مِنْ جِهَتِهِ فِي حِصَّتِهِ فَإِذَا نَقَدَ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ رَجَعَ عَلَيْهِ،

ژباره وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري ﷫﴾ بيا به رجوع كوي په خپل شريك باندې په برخې خپلې دهغې ﴿ثمن﴾ نه مطلب ددې ﴿عبارت﴾ دا دې.چه كله وركړې دى ﴿بائع ته﴾ دخپل مال نه ،ځكه چې دې ﴿مشترى﴾ وكيل دې د اړخ دهغه ﴿شريك﴾ نه په برخه دهغه ﴿شريك﴾ كې ، نوهركله چې ده ﴿مشترى﴾ وركړې نقدې پيسې ﴿بائع ته﴾ دخپل مال نه نورجوع به كوي په هغه ﴿خپل شريك﴾ باندې ﴿مثلاً په سل روپۍ ئې يو شى واخستلو .او خپلې سل روپۍ ئې وركړې.نوپنځوس روپۍ به دخپل شريك نه واخلي﴾

فَإِنْ كَانَ لَا يُعْرَفُ ذٰلِكَ إِلَّا بِقَوْلِهِ فَعَلَيْهِ الْحُجَّةُ، لِأَنَّهُ يَدَّعِي وُجُوبَ الْمَالِ فِي ذِمَّةِ الْآخَرِ وَهُوَ يُنْكِرُ، وَالْقَوْلُ لِلْمُنْكِرِ مَعَ يَمِينِهِ

ژباره وتشريح:- كه چيرته وى هغه ﴿شريك﴾ چې نه پيژنى دا ﴿اخستل دمشترى﴾ مگر په وينا دهغه ﴿مشترى،مثلاً مشترى شريك ورته اووائې.چه ما وينځه واخستله.خوهغه مړه شوه. او ښځه مې كړه.اوشريك ورته وائى. چې زه دا نه منم.بلكه ته دروغ وائې﴾ نوپه ده ﴿مشترى﴾ باندې لازم دي حجت ﴿دگواهانوپه صورت كې ،هغه گواهان به گواهي وركړي.چه آودې مشترى وينځه اخستې وه.اوهغه مړه شوه﴾ ځكه چې دې ﴿مشترى﴾ دعوى كوي د وجوب دمال په ذمه دبل باندې ﴿چه دده شريك دې﴾اوهغه بل ﴿شريك﴾ انكاركوي ﴿دوجوب مال نه﴾ اوقول ﴿معتبر﴾ لپاره د منكر كوى سره د ډول نه ﴿كه مدعى گواهان قائم نكړي﴾

داخستلونه وړاندې دټول يا ديوشريك دمال هلاكت

قَالَ (وَإِذَا هَلَكَ مَالُ الشَّرِكَةِ أَوْ أَحَدُ الْمَالَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَا شَيْئًا بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ) لِأَنَّ الْمَعْقُودَ عَلَيْهِ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ الْمَالُ، فَإِنَّهُ يَتَعَيَّنُ فِيهِ كَمَا فِي الْهِبَةِ وَالْوَصِيَّةِ،

ژباره وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري ﷫﴾ اوكله چې هلاك شي مال دشركت ﴿ټول﴾ اويا يود دومالونو ﴿يعنى ديوشريك مال هلاك شي﴾ وړاندې د دې نه چې دوى اخستې وې په هغې باندې څه څيز، نوباطل شو شراكت ځكه چې معقود عليه ﴿په كوم څيزباندې چې شركت كيږى﴾ په عقدشراكت كې مال دې. ﴿اوچه معقود عليه فوت شي.نوعقد پاتې نشو﴾ ځكه چې مال متعين كيږى په دې ﴿شركت﴾ كې په متعين كولوسره، ﴿اگرچه نه متعين كيږى په ټولو معاوضاتوكې .يعنى په عام طوردراهم اودنانيرنه متعين كيږى. خوپه شركت كې متعين كيږى.مثلاً چې دوې [دوه] شريكان په متعينودراهمو اودنانيروكې دشركت عقد اوكړى.نوهم په دغه دراهمو اودنانيروكې به شركت صحيح كيږى.اوددوى په تعين سره په دراهمو اودنانيروكې تعين راځى.نو لنډيز دا شوه.كه دغه متعين دراهم هلاك شى.نوشركت باطل شو﴾ لكه څنگه چې متعين كيږى مال په هبه اوپه وصيت كې ﴿يعنى كوم دراهم چې ئې يوكس ته هبه كړى وى.نوموهوب له هم دهغه دراهمو مستحق دې.دغه ډول په وصيت كې چې ئې دكومو متعينو دراهمو وصيت دچا لپاره اوكړلو.نوهم هغه دراهم به موصى له ته ملاويږى.نوكه دغه متعين هبه شوې دراهم يا وصيت شوې دراهم كه هلاك شى.نوموهوب له اوموصى له د هغې په عوض كې د نورو دراهمو داستحقاق مطالبه نشى كولى﴾

وَبِهَلَاكِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ يَبْطُلُ الْعَقْدُ كَمَا فِي الْبَيْعِ، بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ وَالْوَكَالَةِ الْمُفْرَدَةِ، لِأَنَّهُ لَا يَتَعَيَّنُ الثَّمَنَانِ فِيهِمَا بِالتَّعْيِينِ، وَإِنَّمَا يَتَعَيَّنَانِ بِالْقَبْضِ عَلَى مَا عُرِفَ،

ژباره وتشريح:- اوپه هلاكت دمعقودعليه باطليږى عقد لكه څنگه چې په بيع كې دى ﴿مثلاً زيد د بكرنه يوغلام واخستلو.اولا پيسې ئې وركړې نه وې.چه غلام هلاك شو.نوچونكه غلام معقود عليه وو.هغه هلاك شو.نوبيع هم باطله شوه.دغه ډول دلته په باب دشركت كې هم شركت شوې دې په مال باندې اومال معقود عليه دې.نوچه مال هلاك شو.شركت هم ختم شو﴾ په خلاف د مضاربت اووكالت مفرده ﴿دوكالت مفرده صورت به دا وى.چه زيد بكردغلام په اخستلو باندې وكيل مقرركړى.اوروپۍ ورته وركړى.اوهغه روپۍ

هلاکې شي.نودغې په هلاکت باندې وکالت نه باطلیږي﴾ ځکه چې نه متعین کیږي قیمتونه په دې ﴿مضاربت اووکالت مفرده کې﴾ په تعین کولوسره بلکه متعین کیږي ﴿اثمان﴾ په قبض کولوسره ﴿چه مضارب اووکیل ثمن قبض کړي﴾ لکه څنګه چې پیژندلې شوي دی ﴿په خپل ځائې کې﴾

وَهٰذَا ظَاهِرٌ فِيمَا إِذَا هَلَكَ الْمَالَانِ، وَكَذَا إِذَا هَلَكَ أَحَدُهُمَا، لِأَنَّهُ مَا رَضِيَ بِشَرِكَةِ صَاحِبِهِ فِي مَالِهِ إِلَّا لِيُشْرِكَهُ فِي مَالِهِ، فَإِذَا فَاتَ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ رَاضِيًا بِشَرِكَتِهِ فَيَبْطُلُ الْعَقْدُ لِعَدَمِ فَائِدَتِهِ،

ژباړه وتشریح:- اودا ﴿ ﴿بطلان دعقدشرکت﴾ ښکاره خبره ده په هغه صورت کې چې هلاك شي دواړه مالونه اودغه ډول حکم دې ﴿یعنې شرکت باطلیږي﴾ کله چې هلاك شي یود دواړو مالونو نه ځکه چې دې ﴿دکوم شریك مال چې نه وي هلاك شوې﴾ نه وو راضي شوې په شرکت دخپل انډیوالان په مال خپل کې مګرددې لپاره چې شریك شي دې دهغه سره په مال دهغه ﴿ملګري﴾ کې ، ﴿یعنې یوکس چې بل سره شراکت ته غاړه ږدي.نوپه دې وجه چې د دواړو مالونه به شریك شي﴾ نوهرکله چې فوت شو دغه مال ﴿دبل کس﴾ نوراضي پاتې نشودې په شرکت دهغه سره ﴿دچا مال چې هلاك شوې وي﴾ نوباطل شو عقد ﴿شرکت﴾ د امله د نشتوالي د فائدې دشرکت نه ﴿یعنې شرکت پاتې نشو.ځکه چې دیوکس مال پاته پاتې دی.اودیوکس مال ته شرکت نشي ونیلې﴾

وَأَيُّهُمَا هَلَكَ هَلَكَ مِنْ مَالِ صَاحِبِهِ، إِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ فَظَاهِرٌ، وَكَذَا إِذَا كَانَ هَلَكَ فِي يَدِ الْآخَرِ لِأَنَّهُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ،

ژباړه وتشریح:- اوکوم یو ﴿مال﴾ چې ددې دواړو مالونو نه هلاك شو نوهلاك شومال دخپل مالك ﴿یعنې چې دچا وو.هم دهغه مال هلاك شو.دبل مال نه دې هلاك شوې.اوس دا هلاکت به خالي نه وي﴾ که هلاك شوې وي په لاس دده ﴿صاحب المال﴾ کې نوښکاره خبره ده ﴿چه دده مال وو.اوهم دده په لاس کې هلاك شو﴾ اودغه ډول حکم دې ﴿یعنې چې دچا مال وي.هم هغه مال به هلاك شوې وي﴾ کله چې هلاك شوې وي په لاس د بل ﴿شریك﴾ کې ،ځکه چې دغه مال ﴿په لاس د شریك دده کې﴾ امانت دې په لاس دهغه ﴿شریك﴾ کښې ، ﴿اوچه امانت هلاك شي.په امانتداربانديې ضمان نه وي.بلکه دامانت کیخودنکي مال هلاك شو﴾

بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْخَلْطِ حَيْثُ يَهْلِكُ عَلَى الشَّرِكَةِ، لِأَنَّهُ لَا يَتَمَيَّزُ فَيُجْعَلُ الْهَالِكُ مِنَ الْمَالَيْنِ.

ژباړه وتشریح:- په خلاف دهغه صورت کې ﴿چه هلاك شوې وي﴾ روسته د خلط ﴿یعنې چې دواړو شریکینو مالونه دیوبل سره ګډوډ کړي وي.نوچه خلط شوي وي.اودیوجنس نه وي﴾ نوهلاك کیږي په شریکه ځکه چې فرق نشي کولې ﴿په دواړوکې چې دچا مال هلاك شو﴾ نواوبه ګرځولې شي هلاك شوې د دواړو مالونو نه، ﴿نوتاوان به دواړو شریکینو ته رسي﴾

دیوشریك مال اخستل اودبل مال هلاکیدل

(وَإِنِ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ قَبْلَ الشِّرَاءِ فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا) لِأَنَّ الْمِلْكَ حِينَ وَقَعَ وَقَعَ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا لِقِيَامِ الشَّرِكَةِ وَقْتَ الشِّرَاءِ فَلَا يَتَغَيَّرُ الْحُكْمُ بِهَلَاكِ مَالِ الْآخَرِ بَعْدَ ذٰلِكَ،

ژباړه وتشریح:- اوکه واخستلویوپه شریکینوکې په مال خپل باندې ﴿یوځین﴾ اوهلاك شومال دبل ﴿شریك﴾ وراندې داخستلو نه نواخستې شوې څیزبه وي په مینځ ددوي دواړوکې په هغه برخه چې شرط کړې وي دوي دواړو ﴿دا اخستې شوي څیزبه ددوي په مینځ کې مشترك وي﴾ ځکه چې ملك ﴿په مشتراك﴾ باندې په کوم وخت کې چې واقع کیدلو نو واقع شوې دې مشترك په مینځ د دې دواړوکې د امله دقیام دشراکت نه په وخت داخستلوکې نونه بدلیږي حکم ﴿دشراکت﴾ په هلاکت دمال دبل روسته ددې ﴿شراکت نه په وخت د شرکت نه روسته زیدپه خپلودوو زرو روپو کمپیوټر واخستلو.اودبکردوې [دوه] زره روپۍ چا غلا ... نودغه کمپیوټربه ددواړوپه مینځ کې په شریکه وي.ځکه چې دا دعقدشرکت نه روسته اخستې شوې

دي.نود دواړو ملك پرې مشترکه طور راغلو.اودبکر دوې [دوه] زره روپۍ چې غلا شوې.هغه هم دشريکې نه غلا شوې دي.صرف دهغه نه دی غلا شوې.

لَمْ الشَّرِكَةُ شَرِكَةُ عَقْدٍ عِنْدَ مُحَمَّدٍ() خِلَافًا لِلْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ، حَتَّى إِنَّ أَيَّهُمَا بَاعَ جَازَ بَيْعُهُ لِأَنَّ الشَّرِكَةَ قَدْ تَمَّتْ فِي الْمُشْتَرَى فَلَا يَنْتَقِضُ بِهَلَاكِ الْمَالِ بَعْدَ تَمَامِهَا.

زياده وتشريح:- بیادا شرکت شرکت دعقد دې په نیزدامام محمد رحمه الله خلاف ثابت دې دحسن بن زیاد رحمه الله «ځکه ترديد چې دهغوی په نیزدا شرکت شرکت ملك دې،اوددې خلاف فائده په دې صورت کې ښکاره کیږي» تردي چې کوم یوپه شریکینوکي خرڅ کړله «دغه اخستې شوې څیز» نو جائزدی خرڅول دده «په نیزدامام محمد رحمه الله اودامام حسن بن زیاد رحمه الله په نیزدا جائزنه ده.چه دچا مال هلاك شوې وي.هغه په دغه مشتراة کې تصرف اوکړي.ځکه چې دا دهغوی په نیزشرکت ملك دې» ځکه چې شرکت یقیناً پوره شوې دې په مشتراة کې ،نو نه کمیږي «شرکت په مشتراة» کې په هلاکت دمال روسته د پوره والي ددې «شرکت» نه «نوجائزشوتصرف دهرواحد دشریکینونه په برخه دخپل شریك کې .ځکه چې شرکت عقد دې»

دیوشریك دبل نه خپله برخه قیمت اخستل

قَالَ (وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْ ثَمَنِهِ) لِأَنَّهُ اشْتَرَى نِصْفَهُ بِوَكَالَتِهِ وَنَقَدَ الثَّمَنَ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ.

زياده وتشريح:- فرمائي «ابو الحسین قدوری رحمه الله» اورجوع به کوی «دغه مشتری» په شریك خپل باندې په برخه دخپلو روپو «مثلاً که په سل روپۍ ئې دغه څیزاخستې وی.نوپنځوس به دخپل شریك نه اخلی» ځکه چې ده «مشتری شریك» اخستې دې نصف دده څیز «کوم چې ئې واخستلو» په وکالت دهغه «شریك خپل.چه دهغې په اخستلوکې دخپل شریکوال وکیل شو» او نقدقیمت ئې ورکړلو دمال خپل نه «اووکیل چې کله دموکل لپاره خپلې پیسې اولګوی.هغه به دموکل نه اخلی» اویقیناً موږ ددې بیان کړې دې «په تیرو شوومسائلوکې»

هَذَا إِذَا اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِأَحَدِ الْمَالَيْنِ أَوَّلًا ثُمَّ هَلَكَ مَالُ الْآخَرِ. أَمَّا إِذَا هَلَكَ مَالُ أَحَدِهِمَا ثُمَّ اشْتَرَى الْآخَرُ بِمَالِ الْآخَرِ،

زياده وتشريح:- اودا حکم «کوم چې موږبیان کړلو» په هغه صورت کې دې چې کله واخلی یوپه شریکینوکې په یومال باندې یوڅیزاول اوبیا هلاك شی مال دبل شریك، «نوپه دې صورت کې به هلاك شوې مال د دواړو مشترك وي» اوهرچه هغه صورت چې هلاك شی مال یو د شریکینوځنی اوبیا واخلی دغه بل په مال دبل باندې «یوڅیز،نوپه دې کې دوې [دوه] صورتونه دی»

إِنْ صَرَّحَا بِالْوَكَالَةِ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ فَالْمُشْتَرَى مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا لِأَنَّ الشَّرِكَةَ إِنْ بَطَلَتْ فَالْوَكَالَةُ الْمُصَرَّحُ بِهَا قَائِمَةٌ فَكَانَ مُشْتَرَكًا بِحُكْمِ الْوَكَالَةِ، وَيَكُونُ شَرِكَةَ مِلْكٍ وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ لِمَا بَيَّنَّاهُ،

زياده وتشريح:- که دوی تصریح کړې وه په وکالت باندې په وخت د شرکت کې «یعنی دا ئې وئیلی وو.چه ته به زما دارخه وکیل ئې.اوزه به ستا دارخه وکیل یم» نو اخستې شوې څیزبه مشترك وي په مینځ ددوی دواړوکې په هغه طریقه چې دوی شرط کړی وی' «په وخت د عقد کنبې» ځکه چې شرکت اګرچه باطل شو خو وکالت په کوم باندې چې تصریح شوې وه «په وخت د عقدکنبې» هغه قائم دې.نووی به دغه اخستې شوې څیزمشترك په حکم د وکالت سره اووی به دا شرکت دملك «نود یو لپاره به جائزنه وي.چه دخپل شریك په برخه کې دهغه د اجازت نه بغیرتصرف اوکړي.ځکه چې دې وکیل دې.اووکیل دموکل د اجازت نه بغیر تصرف نشی کولې» اورجوع به کوی په شریك خپل باندې «چه دچا مال هلاك شوې وي. خوده ورله

[1] القول الراجح هوهذا قول محمد رحمه الله كذا فى ردالمحتار(۳۷۶\۳) والهندية (۳۲۰\۲) والدرالمختار(۳۷۶\۳)نقلاً عن القول الراجح (۵۱۶\۱)۔

په شريكه كي يوځيزاخستې وى) په برخه خپله دقيمت نه لكه چې مونږ بيان كړلو (چه دې دهغه د اړخه وكيل دى.اووكيل چې دخپل جيب نه كومه خرچه اوكړى.هغه به دموكل نه اخلى)

وَإِنْ ذَكَرَا مُجَرَّدَ الشَّرِكَةِ وَلَمْ يَنُصَّا عَلَى الْوَكَالَةِ فِيهَا كَانَ الْمُشْتَرَى لِلَّذِي اشْتَرَاهُ خَاصَّةً، لِأَنَّ الْوُقُوعَ عَلَى الشَّرِكَةِ حُكْمُ الْوَكَالَةِ الَّتِي تَضَمَّنَتْهَا الشَّرِكَةُ، فَإِذَا بَطَلَتْ يَبْطُلُ مَا فِي ضِمْنِهَا، بِخِلَافِ مَا إِذَا صَرَّحَ بِالْوَكَالَةِ لِأَنَّهَا مَقْصُودَةٌ.

ژباړه وتشريح:- اوكه دوى دواړو شريكينو ذكركړې وو (په وخت دعقد كي) صرف شركت (چه مونږ دواړه به شريك يو) اوتصريح ئې نه وه كړې په وكالت په دې (عقد) كي (چه مونږ به ديوبل د اړخه وكيلان يو) نو (په دې صورت كي به) وى اخستې شوې ځيزدهغه چا لپاره چې اخستې ئې وى خاص كرځكه چې واقع كيدل د اخستلوپه شريكه حكم دهغه وكالت دې چې متضمن وى ورته شركت (يعنى يوځيزپه شريكه په هغه شراكت كي واقع كيږى.چه په هغې كي ضمنى طور وكالت وى) نوهركله چې باطل شى شراكت نوباطليږى به هغه ځيزچه ددې شركت په ضمن كي وى. (لكه دامام لمونځ چې د مقتدى لمونځ لره متضمن دې.نوچه دامام لمونځ فاسد شى.دمقتدى به ورسره هم فاسديږى.ځكه چې د متضمن په صيغه داسم فاعل فساد مستلزم دې فساد د متضمن په صيغه داسم مفعول سره لره) په خلاف دهغه صورت چې دوى دواړو تصريح كړى وى په وكالت باندې (په وخت دعقد كي) ځكه چې (په دې صراحت سره اوګرځيدلو دا (وكالت) مقصود (په عقد كي ، نو كوم ځيزچه ئې اخستې وى.هغه به د وكالت مقصوده په وجه د دواړو په مينځ كي شريك وى)

دشركت لپاره دمالونواختلاط شرط نه دې

قَالَ (وَتَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَإِنْ لَمْ يَخْلِطَا الْمَالَ) وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ لِأَنَّ الرِّبْحَ فَرْعُ الْمَالِ، وَلَا يَقَعُ الْفَرْعُ عَلَى الشَّرِكَةِ إِلَّا بَعْدَ الشَّرِكَةِ فِي الْأَصْلِ وَأَنَّهُ بِالْخَلْطِ، وَهَذَا لِأَنَّ الْمَحَلَّ هُوَ الْمَالُ وَلِهَذَا يُضَافُ إِلَيْهِ، وَيُشْتَرَطُ تَعْيِينُ رَأْسِ الْمَالِ،

حل اللغة: ① **الربح**: ګټه ② **تعيين**: معين كول

ژباړه وتشريح:- فرمائى (ابو الحسين قدورى رحمه الله) اوجائزدې شركت اګرچه يوځائې كړې ئې نه وى مال اوفرمائى امام زفراوشافعى رحمهما الله جائزنه دې شركت (بغيرديوځائې كولودمالونونه) ځكه چې ګټه فرع د مال ده .اونه واقع كيږى فرع (چه ګټه ده) په شركت باندې مګرپس د شركت نه په اصل كي (چه مال دې يعنى مشتركه ګټه هله راځى.چه شركت په مال كي شركت اوشى) اودا شركت راځى په ګډون سره (چه ديومال دبل سره ګډشى) اودا (خبره چې ګټه فرع د مال ده) ځكه چې محل (دشركت) هغه مال دې اوددې امله (چه محل د شركت مال دې) اضافت كيږى (دشركت) دې (مال) ته (وئيلى شى.په مال كي شريك شول) اوشرط كولي شى تعين د راس المال (چه دومره راس المال به ديوشريك وى.اودومره به د بل شريك وى.نومعلومه شوه.چه داروم‌دارد شركت په مال دې.اومال مشترك هغه وى.چه هغه ديوبل سره يوځائې شوې وى)

بِخِلَافِ الْمُضَارَبَةِ، لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِشَرِكَةٍ، وَإِنَّمَا هُوَ يَعْمَلُ لِرَبِّ الْمَالِ فَيَسْتَحِقُّ الرِّبْحَ عِمَالَةً عَلَى عَمَلِهِ، أَمَّا هُنَا بِخِلَافِهِ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دمضاربت (يعنى مضاربت بغيرد خلط كولونه هم صحيح كيږى) ځكه چې دا مضاربت نه دې شركت بلكه هغه (مضارب) عمل كوى د لپاره درب المال نومستحق ګرځى (مضارب) په ګټه كي د مزدورى د عمل خپل هرچه دلته (په دې مسئله دشركت كي) خلاف دهغې دې. (ځكه چې دلته خودواړه شريكان عمل كوى.صرف يوشريك عمل نه كوى)

وَهَذَا أَصْلٌ كَبِيرٌ لَهُمَا حَتَّى يُعْتَبَرَ اتِّحَادُ الْجِنْسِ. وَيُشْتَرَطُ الْخَلْطُ وَلَا يَجُوزُ التَّفَاضُلُ فِي الرِّبْحِ مَعَ التَّسَاوِي فِي الْمَالِ. وَلَا تَجُوزُ شَرِكَةُ التَّقَبُّلِ وَالْأَعْمَالِ لِانْعِدَامِ الْمَالِ.

ژباړه وتشريح:- اودا خبره (چه ګټه فرع د مال ده) لوئې اصل دې د دووى دواړو لپاره (چه امام زفر او شافعى رحمهما الله دى) تردې چې معتبر دې (په شركت كي) اتحاد دجنس (نوكه جنس مختلف وى. مثلاً

دراهم او دنانير وي.زموږ په نيز شركت صحيح كيږي.اود امام زفراوشافعي رحمهما الله په نيزنه صحيح كيږي﴾ اوجائزنه دى زيادت په ګټه كي سره د برابرئ نه په راس المال كي ﴿يعني كه د زيد اوبكرراس المال برابر وي. نو داحنافوپه نيزكه يوكس زياته ګټه اخلي اوبل كمه دا جائز دى.خودامام زفراوشافعي رحمهما الله په نيزجائزنه دي﴾ اوجائزنه دي شركت دتقبل اوداعمالو د امله د نشته والى دمال نه ﴿شركت دتقبل اواعمال دا دي.چه دوي [دوه] نفر په كسب كي شريك شي. او راس المال د يوسره هم نه وي.مثلاً دوي [دوه] درزيان په شريكه د درزى توب كاركوى.اوچه ګومه ګټه راځى.په هغې كي شريك وي.نودا زموږ داحنافوپه نيزجائزده اودامام زفر او شافعي رحمهما الله په نيزجائزنه ده﴾

وَلَنَا أَنَّ الشَّرِكَةَ فِي الرِّبْحِ مُسْتَنِدَةٌ إِلَى الْعَقْدِ دُونَ الْمَالِ، لِأَنَّ الْعَقْدَ يُسَمَّى شَرِكَةً فَلَا بُدَّ مِنْ تَحَقُّقِ مَعْنَى هَذَا الِاسْمِ فِيهِ فَلَمْ يَكُنْ الْخَلْطُ شَرْطًا،

ژباړه وتشريح:- اوزموږ ﴿داحنافو﴾ لپاره ﴿په جوازدشركت بغيرخلط دمالونونه﴾ دليل دا دي.چه شركت په ګټه كي منسوب دي عقد ﴿شركت﴾ ته نه مال ته ﴿اوهرهغه څيزنسبت كولاى شى هغې ته نوهغه اصل وي﴾ ځكه چې عقدته شركت وئيلى شى. ﴿مال ته نشى وئيلي﴾ نوضروري دي وجود د معنى ددي اسم ﴿دشركت﴾ په دي ﴿عقد﴾ كي ، ﴿نوهركله چې اصل چې عقد دي هغه موجود وي.نوثابتيږي به حكم په فرع كي چې ګټه ده﴾ نونه شو خلط ﴿دمالونو﴾ شرط ﴿په صحت د شركت كي﴾

وَلِأَنَّ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ لَا يَتَعَيَّنَانِ فَلَا يُسْتَفَادُ الرِّبْحُ بِرَأْسِ الْمَالِ، وَإِنَّمَا يُسْتَفَادُ بِالتَّصَرُّفِ لِأَنَّهُ فِي النِّصْفِ أَصِيلٌ وَفِي النِّصْفِ وَكِيلٌ. وَإِذَا تَحَقَّقَتْ الشَّرِكَةُ فِي التَّصَرُّفِ بِدُونِ الْخَلْطِ تَحَقَّقَتْ فِي الْمُسْتَفَادِ بِهِ وَهُوَ الرِّبْحُ بِدُونِهِ،

ژباړه وتشريح:- ﴿دوهم دليل داحنافو دا دي.اودا د اولنى دليل لپاره يو ډول شرح ده﴾ اوبله دا چې دراهم او دنانير نه متعين كيږي ﴿يعني كله چې په دي باندي يوڅيزواخستې شى.نوداستحقاق په حق كي نه متعين كيږي﴾ نونه حاصليږى ګټه په راس المال باندي بلكه حاصليږى په تصرف سره ﴿چه شريكين په مال كي تصرف كوى.نوددغه تصرف په وجه دوى ته ګټه ملاويږى﴾ اوبله دا چې دي ﴿مشتري شريك﴾ په نيم ﴿اخستي شوي څيز﴾ كي اصيل دي. ﴿يعني دڅيز نيمه برخه ئي دخپل ځان لپاره اخستي ده﴾ اوپه نيمه برخه كي ﴿د خپل شريك دا برخه ﴾ وكيل دي.اوهركله چې ثابت شو شركت په تصرف كي بغيرد خلط ﴿دمالونو﴾ نه نو ثابتيږى به ﴿شركت﴾ په هغه شى كي چې حاصل شوي وي.په دي ﴿تصرف﴾ سره اوهغه ګټه ده.بغير ددي ﴿خلط﴾ نه ﴿يعني هركله چې په راس المال كي دشركت نه بغيرپه ګټه كي شركت راځي. نو دغه شان چې راس المال موجود وى.خوخلط شوي نه وي.هم به په ګټه كښې شركت وي﴾

وَصَارَ كَالْمُضَارَبَةِ فَلَا يُشْتَرَطُ اتِّحَادُ الْجِنْسِ وَالتَّسَاوِي فِي الرِّبْحِ، وَتَصِحُّ شَرِكَةُ التَّقَبُّلِ.

ژباړه وتشريح:- او اوګرځيدلو ﴿عقد دشركت﴾ پشان د مضاربت ﴿يعني لكه څنګه چې په مضاربت كي مضارب په اصل مال كي دشركت نه بغير دګټي مستحق ګرځى.نودغه ډول به په عقدشركت كي دمال دشركت نه بغيرد ګټې مستحق ګرځى.اوهركله چې عقدشركت پشان د مضاربت شو﴾ نونشى شرط كولي اتحاد دجنس ﴿په مالونودشريكينو كي ﴾ او ﴿نشى شرط كولي ﴾ برابرى په ګټه كي ﴿بلكه كه يوشريك ته زياته ګټه اوبل ته كمه ګټه ملاويږى.دا به هم جائز وى﴾ اوصحيح كيږى شركت دتقبل ﴿لكه چې تفصيل د شركت تقبل به روسته راشى﴾

قَالَ (وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ إِذَا شُرِطَ لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ مُسَمَّاةٌ مِنْ الرِّبْحِ) لِأَنَّهُ شَرْطٌ يُوجِبُ انْقِطَاعَ الشَّرِكَةِ فَعَسَاهُ لَا يَخْرُجُ إِلَّا قَدْرُ الْمُسَمَّى لِأَحَدِهِمَا، وَنَظِيرُهُ فِي الْمُزَارَعَةِ.

حل اللغة: ① **مسماة:** نامدارشوي

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿ابو الحسين قدوري رحمه الله﴾ اوجائزنه دي شركت كله چې شرط كړې شى ديود شريكينو لپاره روپۍ معلومې د ګټې نه ﴿مثلاً چې دا اووائى.كومه ګټه چې اوشى.په هغې كي به سل روپۍ

د زيد وي﴾ ځکه چې دا داسې شرط دې.چه واجبوي ختمول د شرکت،ځکه چې کيداې شي چې دا ﴿گټه﴾ اونشي مگرپه اندازه دمقررشوې گټې د يود شريکينو لپاره ﴿يعني کيداې شي.چه ټوله گټه سل روپۍ اوشي.نودغه سل روپۍ به زيد واخلي.اوبل شريك ته به ئې هيڅ هم پاتې نشي.اودا خبره د عقدشرکت د مقتضي نه منافي ده. ځکه چې دشرکت تقاضا دا ده.چه په گټه کې به شريکين شريك وي.اوچه په گټه کې شريك نشو.نوشرکت رانغلو﴾ اونظير ددې ﴿مسئلي موجود دي﴾ په مزارعت کې ، ﴿مثلاً چې دوې [دوه] نفر په پټي کې په شريکه يو څيزاوکرې.اودا شرط اولگوي.چه کوم فصل اوشي.نوپه هغې کې به د سرنه سل منۀ د زيد وي.نوپه مزارعت کې دا شرکت ناجائزدې.ځکه چې کيداې شي.په دغه پټي کې واره فصل سل منۀ راوخيژي. نو يوته به برخه ملاوشي.اوبل به محرومه پاتې شي.اودا خبره د شرکت د مقضتيانو نه خلاف ده.نولکه څنگه چې په باب د مزارعت کې داسې شرط لگول ناجائزدي.دغه ډول به په باب د شرکت عنان کې هم ناجائز وي﴾

په شرکت مفاوضه اوعنان کې به بضاعت سره مال ورکول

قَالَ (وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَفَاوِضَيْنِ وَشَرِيكَيِ الْعِنَانِ أَنْ يُبْضِعَ الْمَالَ) لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ فِي عَقْدِ الشَّرِكَةِ،

حل اللغة: ① **يبضع** خرچ کوى ② **معتاد** د عادت او رواج مطابق

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ اوجائزدي لپاره دهريوکس د متفاوضين او دشريکينو دشرکت عنان چې به بضاعت سره ورکړي مال ﴿چاته،يعني چې چاته اووائي.دا مال واخله.ته پرې کاروبار کوه.خوچه کومه گټه کيږي.هغه به زما وي.ستا به په گټه کې برخه نه وي﴾ ځکه چې دا ﴿بضاعت﴾ رائج شي دي په عقد شرکت کې

وَلِأَنَّ لَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ عَلَى الْعَمَلِ، وَالتَّحْصِيلُ بِغَيْرِ عِوَضٍ دُونَهُ فَيَمْلِكُهُ،

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې جائزدي دده ﴿شريك﴾ لپاره چې په اجرت سره ورکړي څوك لپاره دعمل ﴿يعني د شريك لپاره دا جائزدي.چه دگټې لپاره په يوکس باندې په اجرت اومزدورۍ کاراوکړي.اودشريکې د پيسو نه مزدوري ورکړي﴾ اوحاصلول دگټې بغيرد بدلې ﴿اومزدورۍ﴾ نه کم دي د دې ﴿اجرت ورکولو﴾ نه ،نومالك به وى ددې ﴿ابضاع په طريق اولى سره يعني هرکله چې شريك ته ددې اختيارشته.چه په شريك کاروبارکې دگټې کاوه لپاره بل کس په اجرت اونيسي.اوهغه ته پيسې ورکړي.نوددې خوبه خامخا مالك وي.چه يوکس ته دگټې کاوه لپاره دشريکې پيسې ورکړي.اوهغه ترې مزدوري اوحصه هم نه اخلي.ځکه چې دا خوسراسر فائده ده﴾

وَكَذَا لَهُ أَنْ يُودِعَهُ لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ وَلَا يَجِدُ التَّاجِرُ مِنْهُ بُدًّا.

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول جائزدي دده ﴿يودشريکينو﴾ لپاره چې امانت کيږدي دا ﴿مال دشرکت دچا سره﴾ ځکه چې دا ﴿امانت کيخودل﴾ رائج دي په مينځ د سوداگروکې ﴿چه خپل مال د بل سره امانت ږدي﴾ اونه مومي سوداگردې ﴿امانت کيخودو﴾ نه مخلص ﴿يعني بعضې وخت داسې وي.چه سوداگرسره دمال دغلا کيدو ويره وي.نوپه دغه موقع دې ځان سره پيسې نه ساتي.بلکه هغه په بينك کې ږدي.يا يوامين کس سره ئې ږدي﴾

قَالَ (وَيَدْفَعُهُ مُضَارَبَةً) لِأَنَّهَا دُونَ الشَّرِكَةِ فَتَتَضَمَّنُهَا. وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ ذَلِكَ لِأَنَّهُ نَوْعُ شَرِكَةٍ، وَالْأَصَحُّ هُوَ الْأَوَّلُ، وَهُوَ رِوَايَةُ الْأَصْلِ، لِأَنَّ الشَّرِكَةَ غَيْرُ مَقْصُودَةٍ، وَإِنَّمَا الْمَقْصُودُ تَحْصِيلُ الرِّبْحِ

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ اوورکوي دې ﴿يودشريکينونه مال شرکت﴾ په مضاربت سره ﴿بل ته﴾ ځکه چې دا ﴿مضاربت﴾ کم دې ﴿په مرتبه کې﴾ د شرکت نه نومتضمن به وي ﴿شرکت﴾ دې ﴿مضاربت﴾ لره ﴿يعني دشرکت عقد دمضاربت نه په درجه کې پورته دې.ځکه چې په

دې کې د شريکينو مال او عمل وي. او په مضاربت کې صرف د رب المال سرمايه وي. او د مضارب عمل وي. نو په عقد شرکت کې دا صلاحيت شته. چه د دې په ضمن کې شريك بل چا سره مضاربت اوکړي﴾ او د امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دې چې شان دا دې. نه دې جائزده ﴿شريك﴾ لپاره دا ﴿مضاربت﴾ ځکه چې دا ﴿مضاربت﴾ يو ډول شرکت دې ﴿نو په مرتبه کې د عقد شرکت نه کم نشو. او چه د هغې نه کم نشو. نو عقد شرکت مضاربت لره متضمن نه ده﴾ او زيات صحيح قول اول دې ﴿چه شريك مضاربت کولې شي﴾ او دا ﴿روايت د جواز﴾ روايت د اصل ﴿مبسوط﴾ دې. ځکه چې شرکت مقصود نه دې بلکه مقصود حاصلول د ګټې دې. ﴿چه ګټه اوشي. او چونکه شرکت د ګټې کاوه لپاره ذريعه ده. نو ځکه خلګ شرکت کوي﴾

كَمَا إِذَا اسْتَأْجَرَهُ بِأَجْرٍ بَلْ أَوْلَى، لِأَنَّهُ تَحْصِيلٌ بِدُونِ ضَمَانٍ فِي ذِمَّتِهِ، بِخِلَافِ الشَّرِكَةِ حَيْثُ لَا يَمْلِكُهَا لِأَنَّ الشَّيْءَ لَا يَسْتَتْبِعُ مِثْلَهُ.

ژباړه وتشريح:- لکه څنګه چې ﴿جائزدى دشريك لپاره دا چه﴾ اونيسي يو کس په مزدورئ سره ﴿او دهغه په کاروبار کې کار واخلي﴾ بلکه په طريقه اولى سره به جائز وي ﴿د شريك لپاره مضاربت کول﴾ ځکه چې دا ﴿مضاربت﴾ ګټه ده بغير د تاوان نه په ذمه د رب المال کې ﴿يعنى مضارب د رب المال نه د خپل عمل څه مزدوري خو نه اخلي. بلکه هغه خود رب المال په مال کې کاروبار کوي. او دهغې نه خپله هم ګټه خوري. او رب المال ته هم ورکوي. او چه څوك په مزدورئ سره اونيسي. نو هغه ته خو دشرکت د مال نه اجرت ورکوي. نو هرکله چې استيجار جائز شو. نو مضاربت خو به په طريق اولى سره جائز وي﴾ په خلاف د شرکت ځکه چې دې ﴿شريك﴾ مالك نه دې د دې ﴿شرکت يعنى چې دوې [دوه] نفر په يو کاروبار کې شريك شي. نو يو شريك بل کس سره په دغه مال کې شرکت نشي کولې﴾ ځکه چې يو څيز خپل تابع نشي ګرځولې د خپل خان پشان شي ﴿يعنى چې دوې [دوه] شيان (څيزونه) په مرتبه کې يو شان وي. نو په هغې کې يو څيز بل لره د خپل خان تابع نشي ګرځولې. او دلته کې هم يو شرکت بل شرکت خپل تابع نشي ګرځولې. يعنى يو شرکت بل شرکت لره نشي متضمن کيدې﴾

قَالَ (وَيُوَكِّلُ مَنْ يَتَصَرَّفُ فِيهِ) لِأَنَّ التَّوْكِيلَ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ مِنْ تَوَابِعِ التِّجَارَةِ وَالشَّرِكَةُ انْعَقَدَتْ لِلتِّجَارَةِ

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدورى﴾ رحمه الله او ﴿يو شريك﴾ وکيل جوړولې شي هغه څوك چې تصرف کوي په دې ﴿مال دشرکت﴾ کې ځکه چې وکيل مقررکول په اخستلو او خرڅولو کې مقتضيات د تجارت دي. ﴿چه تجارت وي. نو سړې واړه کارونه په خپله نشي کولې. بلکه په کارونو کې به د يو کار لپاره يو کس خپل وکيل مقرر کړي. او د بل کار لپاره به بل کس خپل وکيل مقرر کړي﴾ او شرکت منعقد شوې دې لپاره د تجارت

بِخِلَافِ الْوَكِيلِ بِالشِّرَاءِ حَيْثُ لَا يَمْلِكُ أَنْ يُوَكِّلَ غَيْرَهُ لِأَنَّهُ عَقْدٌ خَاصٌّ طُلِبَ مِنْهُ تَحْصِيلُ الْعَيْنِ فَلَا يَسْتَتْبِعُ مِثْلَهُ

ژباړه وتشريح:- په خلاف د وکيل نيولونه صرف د اخستلو لپاره ځکه چې دې مالك نه دې چې وکيل مقرر کړي بل کس ﴿يعنى که يو کس ئې صرف د اخستلو لپاره وکيل مقرر کړې وي. او د نورو تصرفاتو اجازت ورته نه وي شوې. نو دا وکيل بالشراء بل څوك د کاروبار لپاره وکيل نشي مقرر کولې﴾ ځکه چې دا يو خاصه معامله او عقد دې. طلب کوي ﴿موکل﴾ دده ﴿وکيل﴾ نه حاصلول د معين څيز نو تابع به نشي ګرځولې ﴿په دې خاص عقد د وکالت بالشراء کې﴾ پشان د دې ﴿عقد، يعنى چې يو کس صرف د يو شي د اخستلو لپاره وکيل مقرر کړې شي. نو دغه وکيل بل څوك د دغه شي د اخستلو لپاره وکيل نشي مقرر کولې. ځکه د اولنى کس سره عقد وکالت شوې دې. نو دا عقد وکالت صلاحيت نه لرى. چه بل چا سره دو وکالت عقد اوکړي. ځکه يو څيز د خپل ځان نه پورته او برابر څيز لره نشي متضمن کيدې. که متضمن کيږي. نو د خپل ځان نه د کم شي لره متضمن وي﴾

ديوشريك دبل شريك په مال د قبضې حيثيت

قَالَ (وَيَدُهُ فِي الْمَالِ يَدُ أَمَانَةٍ) لِأَنَّهُ قَبَضَ الْمَالَ بِإِذْنِ الْمَالِكِ لَا عَلَى وَجْهِ الْبَدَلِ وَالْوَثِيقَةِ فَصَارَ كَالْوَدِيعَةِ.

حل اللغة: ① الوثيقة: مضبوطتيا

ژباړه وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري» اوقبضه دده «شريك» په مال «دشريك» كي قبضه دامانت ده «يعنى د شريك مال ده سره بطورامانت دې» خكه چې ده «شريك» قبض كړې دې مال په اجازت د مالك «چه شريك دې» نه «ئې دې اخستې» په طريقه د بدل «لكه څنګه چې په بيع كي وي.مشترى د بائع نه يوځيز واخلى. خودهغې په بدل كې ثمن وركوى بلكه ده خو ترې ددې لپاره اخستې دې.چه په دې به په شريكه كاروباركوو.اوګټه به ئې په خپل مينځ كي تقيسموى» اونه «ئې دې اخستې» په طريقه په وثيقه «لكه څنګه چې په رهن كي مرتهن د راهن نه مال واخلى.خوددې لپاره چې د مرتهن ورسره پور وى.هغه پور ترې په آسانتيا سره وصول كړې شى.بلكه دلته خود شركت لپاره ترې ده مال اخستي دې»نواوګرځيدلو «دا مال د شركت» پشان دامانت.

دشركت صنايع تعريف

قَالَ (وَأَمَّا شَرِكَةُ الصَّنَائِعِ) وَتُسَمَّى شَرِكَةَ التَّقَبُّلِ (كَالْخَيَّاطِينَ وَالصَّبَّاغِينَ يَشْتَرِكَانِ عَلَى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ وَيَكُونَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا فَيَجُوزُ ذَلِكَ) وَهَذَا عِنْدَنَا.

حل اللغة: ① الخياطين جمع د خياط د درزى ② الصباغين جمع د صباغ، رنګساز

ژباړه وتشريح:- فرمائي «صاحب دقدوري» اوهرچه شركت دصنائع دې.اوونيلى شى ورته شركته تقبل.لكه چې دوې [دوه] درزيان وى يا دوې [دوه] رنګسازيان وى.چه شريك شى په دې باندې چې اخلى كارونه اووى به ګټه به مينځ د دواړوكي په شريكه وى.نوجائزدې دا شركت اودا «حكم دجواز» په نيز زمونږ دې.

وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ لِأَنَّ هَذِهِ شَرِكَةٌ لَا تُفِيدُ مَقْصُودَهَا وَهُوَ التَّثْمِيرُ لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ، وَهَذَا لِأَنَّ الشَّرِكَةَ فِي الرِّبْحِ تُبْتَنَى عَلَى الشَّرِكَةِ فِي الْمَالِ عَلَى أَصْلِهِمَا عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائي امام زفراوشافعي چې جائز نه دې «شركت صنائع» خكه چې دا داسې شركت دې چې نه حاصليږى ترې مقصود خپل اوهغه «مقصود» ګټه ده.خكه چې ضرورى دې راس المال «لپاره دګټې» او دا «قول داامام شافعي اوزفر» چې دګټې لپاره راس المال ضرورى دې» خكه چې شركت په ګټه كي مبنى وى په شركت باندې په مال كي په اصل د دوى دواړو «امام زفراوشافعي»،اوپه شركت صنائع كي خو هلو راس المال نشته نوګټه به څه راشى» لكه څنګه چې مونږ ددې بيان كړې دې «په دې قول سره ..وتجوز الشركة وإن لم يخلطا المال)

وَلَنَا أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ التَّحْصِيلُ وَهُوَ مُمْكِنٌ بِالتَّوْكِيلِ، لِأَنَّهُ لَمَّا كَانَ وَكِيلًا فِي النِّصْفِ أَصِيلًا فِي النِّصْفِ تَحَقَّقَتْ الشَّرِكَةُ فِي الْمَالِ الْمُسْتَفَادِ

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ «داحنافو» لپاره دليل دا دې.چه مقصود ددې «شركت صنائع» نه ګټه ده اودا «ګټه» ممكن ده په وكيل جوړولوسره «چه هريوكس دبل لپاره كاراخستلوكي وكيل شى» خكه چې دې هركله وكيل شي په نصف كي اواصيل په نصف كي نوثابت شو شركت په مال ګټلى شوى كي اونشى شرط كولې په دې «شركت صنائع» كي اتحاد د عمل «بلكه كه يوكس بابكالى جوړوى.اوبل كس قميص جوړوى.نوهم شركت جائزدې»

وَلَا يُشْتَرَطُ فِيهِ اتِّحَادُ الْعَمَلِ وَالْمَكَانِ خِلَافًا لِمَالِكٍ وَزُفَرَ فِيهِمَا، لِأَنَّ الْمَعْنَى الْمُجَوِّزَ لِلشَّرِكَةِ وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ لَا يَتَفَاوَتُ

ژباړه وتشريح:- او ﴿نښي شرط كولي په دې شركت صنائع كي﴾ اتحاد د ځائي ﴿بلكه كه يوكس په يوځائي كي وي.اوبل كس په بل ځائې كي وي.نوهم شركت صحيح دې﴾ خلاف ثابت دې د امام مالك او زفر په دې دواړو ځيزونوكښې ﴿يعنى ددوى په نيزاتحاد د عمل اواتحاد دمكان شرط دې.اوزموږ په نيز د دې اتحاد ضرورى نه دې﴾ ځكه چې هغه معنى چې جائز كونكې ده د شركت هغه ده كومه چې موږ ذكر كړې ده شركت ګټه ده.اوهغه ممكن ده په وكيل ګرځولوسره﴾ په هغې كې توپير نه راځي. ﴿په ﴿چه مقصود د شركت سره اوپه اختلاف ددې.بلكه كه عمل ئې مختلف وى اومكان ئې جلا جلا وى.هم ګټه اتحاد دعمل اومكان كيږي﴾

كارپه نيمه اوګټه په دريمه حصه

وَلَوْشَرَطَا الْعَمَلَ نِصْفَيْنِ وَالْمَالَ أَثْلَاثًا جَازَ) وَفِي الْقِيَاسِ: لَا يَجُوزُ،لِأَنَّ الضَّمَانَ بِقَدْرِ الْعَمَلِ،فَالزِّيَادَةُ عَلَيْهِ رِبْحُ مَالَمْ يُضْمَنْ فَلَمْ يَجُزِ الْعَقْدُ لِتَأْدِيَتِهِ إِلَيْهِ،وَصَارَ كَشَرِكَةِ الْوُجُوهِ،

ژباړه وتشريح:- اوكه دواړو شريكانو شرط كړلوكارنيم په نيمه ﴿چه څومره كار راځي.هغه به نيم يوكاريګر كوى اونيم بل كاريګر﴾ اومال ﴿يعنى ګټه﴾ درې برخې ﴿چه يوكس به يوه برخه اخلي.اوبل به دوې [دوه] برخي اخلي .نوداسې شرط لګول﴾ جائزده.اوپه قياس كې دا دى.چه جائز دې نښى.ځكه چې ضمان ﴿په هريوكس د شريكينو﴾ په اندازه د عمل وى. ﴿اووده عمل په نيم كاركې دى﴾ نوزيادت په دې ﴿عمل دده چې په نيم كې دى﴾ ګټه ده دهغه څه چې ضمان ئې نشته.نوجائزنشو عقد ﴿شركت صنائع﴾ ځكه چې دا مفضى دې هغه ته ﴿يعنى ګټې دهغه ځيزته چې مضمون نه وى﴾ اواوګرځيدلو دا ﴿زيادت په ګټه كې﴾ پشان د شركت وجوه كې ﴿يعنى لكه څنګه چې په شركت وجوه كې په ګټه كې يوكس ته د زياتې ګټې وركول جائزنه دى. نودغه ډول دلته په شركت صنائع كې هم جائزنه دى﴾

وَلَكِنَّا نَقُولُ: مَا يَأْخُذُهُ لَا يَأْخُذُهُ رِبْحًا،لِأَنَّ الرِّبْحَ عِنْدَ اتِّحَادِ الْجِنْسِ،وَقَدْ اخْتَلَفَ،لِأَنَّ رَأْسَ الْمَالِ عَمَلٌ وَالرِّبْحَ مَالٌ فَكَانَ بَدَلَ الْعَمَلِ،وَالْعَمَلُ يَتَقَوَّمُ بِالتَّقْوِيمِ فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ مَا قُوِّمَ بِهِ فَلَا يَحْرُمُ،

ژباړه وتشريح:- ليكن موږ وايو،هغه ﴿زيادت﴾ چې اخلي ئې دې ﴿يودشريكينوځنې﴾ نه ئې اخلي په حيثيت دګټې ځكه چې ګټه هغه وى.چه متحده وى دمال د جنس سره، ﴿مثلاً يوكس په سل درهم يوشى واخلي. اوبيا هغه ځيزپه يوسل شل درهم باندې خرڅ كړي.نوده ته چې كومه شل درهم ګټه پاتې شوه.هغه هم د دراهمو دجنس ځنې ده.اوپه دې شركت صنائع كې﴾ مختلف ده ګټه ﴿د راس المال نه﴾ ځكه چې راس المال عمل ﴿د شركينو﴾ دې اوګټه مال دې نوشوه ګټه بدل د كار،اوقيمت لګولي شى د كارپه قيمت لګولو سره ﴿نوچه دواړه كسب ګردكار لپاره په كوم قيمت لګولوباندې راضى شو.نوهغه به ددوى د اړخه دكارقيمت وى﴾ نوقيمت به اولګولې شى دهغې په هغه اندازه چې قيمت دهغې په دغه اندازه سره نو نه حراميږي ﴿زيادت په ګټه ديوكس كي .ځكه چې دا ګټه دهغه ځيزنشوه چې مضمون نه وى﴾

بِخِلَافِ شَرِكَةِ الْوُجُوهِ،لِأَنَّ جِنْسَ الْمَالِ مُتَّفِقٌ وَالرِّبْحُ يَتَحَقَّقُ فِي الْجِنْسِ الْمُتَّفِقِ،وَرِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ لَا يَجُوزُ إِلَّا فِي الْمُضَارَبَةِ.

ژباړه وتشريح:- په خلاف دشركت الوجوه ﴿يعنى چې دوې [دوه] نفر شريك شى.يوسره هم راس المال نه وى.خوپه خپل مخ اونوم باندې پور شيان (ځيزونه) اخلي.اوهغه خرڅوى.اوګټه په كې كوى.نوكه په هغې كي ديو لپاره د زياتې ګټې شرط اولګولې شى.دغه نه صحيح كيږى﴾ ځكه چې جنس دمال متحددې ﴿يعنى كوم مال چې دوى ګټلى وى.هغه يوجنس وى.يا دراهم وى اويا دنانير﴾ اوګټه ثابتيږى په جنس متحدكې ﴿يعنى ګټه هغه وى.چه د راس المال دجنس ځنې وى،اوكه چيرته د زياتې ګټې شرط لګول جائزشي.نودا به ګټه دهغه شى شي.چه مضمون به نه وى﴾ اوګټه دهغه ځيزچه مضمون نه وى جائز نه ده.مګرپه مضاربت كي ﴿ځكه چې په مضاربت كي په مضارب باندې ضمان نشته.اوددې باوجود ګټه جائزده﴾

دیود اخستې کار په بل باندې لزوم

قَالَ (وَمَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ يَلْزَمُهُ وَيَلْزَمُ شَرِيكَهُ) حَتَّى إِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُطَالَبُ بِالْعَمَلِ وَيُطَالِبُ بِالْأَجْرِ (وَيَبْرَأُ الدَّافِعُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ) وَهَذَا ظَاهِرٌ فِي الْمُفَاوَضَةِ وَفِي غَيْرِهَا اسْتِحْسَانٌ.

حل اللغة: ① الدافع: ورکونکي

ژباړه وتشریح: - فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ اوهغه چې وائې خلي هرواحد د شريکينونه دځه کارنه ﴿مثلاً يوکس ورته د جامو جوړولو لپاره کپړه ورکړله﴾ نولازميږي په ده ﴿اخستونکي باندي کول ددغه کار﴾ اوپه شريك دده ﴿اخستونکي﴾ باندې، تردې چې هرواحد دواړو ﴿شرکينو﴾ څخې مطالبه کولاى شي دده نه دکار ﴿يعنى دا ضروري نه ده. چه چاته ئې کپړه ورکړې وي. هم دهغه نه دجامومطالبه اوکړي. بلکه که د بل انډيوالان نه ئې اوکړي. نوهم کولې شي﴾ اومطالبه اوکړي د مزدورئ ﴿يعنى په شريکينوکې چې هريوکس د مستاجرنه د مزدورئ مطالبه اوکړي. نوکولې شي﴾ اوبرى کيږي ورکونکې په ورکولوسره ده ﴿هريودشرکينو﴾ ته ﴿يعنى که مستاجرپه دواړو شريکينوکې هريوته مزدوري ورکړه. نودهغه غاړه لنډيز شوه. بل شريك ترې مطالبه نشي کولې. چه ماته به دې مزدوري راکړې وه﴾ اودا ﴿لزوم د عمل په هرواحد د شريکينو څخې﴾ ښکاره دې په شرکت مفاوضه کې، ﴿ځکه چې په دې کې هرشريك دبل د اړخه په نصف عمل کې وکيل وي. اوپه نصف کې اصيل وي﴾ اوپه سوا ددې ﴿شرکت مفاوضه﴾ کې ﴿چه شرکت عنان دې جواز د دې لزوم دعمل﴾ استحسان دې.

وَالْقِيَاسُ خِلَافُ ذَلِكَ لِأَنَّ الشَّرِكَةَ وَقَعَتْ مُطْلَقَةً وَالْكَفَالَةُ مُقْتَضَى الْمُفَاوَضَةِ.

ژباړه وتشريح: اوقياس خلاف دې ددې نه ﴿چه عقددې يواوکړي. اولزوم د عقددمقتضياتودې په بل راځي﴾ ځکه چې شرکت ﴿په شرکت عنان وغيره کې﴾ واقع شوې دې مطلق ﴿دذکردکفاله نه يعنى په شرکت عنان وغيره کې دا ذکرنه وي. چه هرواحد بل ته اووائي. ته زما د عمل ذمه وارئې. اوزه ستا دعمل. اوکفاله د شرکت عنان د مقتضيانوڅخې هم نه ده. چه ذکردې نه وي. اوبيا دې په کې هم کفاله مراده وي﴾ اوکفاله د مقتضياتودشرکت مفاوضه ده. ﴿يعنى شرکت مفاوضه داسې عقددې. که دعقدپه وخت کې دا تصريح هم اونکړي. چه ته به زما دعمل کفيل ئې اوزه به ستا نوبيا هم په دوى کې هرواحد دبل دعمل کفيل اوذمه وار دې. ځکه چې دمفاوضه تقاضا دا ده. چه هرشريك دې دبل د عمل ذمه واروي. نوځکه ئې اووئيل. چه ديودعمل د مقتضياتو لزوم چې په بل راځي. دا په شرکت مفاوضه کې قياس دې. اوپه شرکت عنان کې استحسان دې﴾

وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ هَذِهِ الشَّرِكَةَ (مُقْتَضِيَةٌ لِلضَّمَانِ)، أَلَا تَرَى أَنَّ مَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ مَضْمُونٌ عَلَى الْآخَرِ،

ژباړه وتشريح: - اووجه داستحسان دا ده. چه مقتضي د ضمان دې. ﴿يعنى ضمان په هرواحد د شريکينو باندې راځي. داسې نه ده چې کوم شريك د عقد سره مباشروي. صرف په هغه باندې ضمان اوتاوان راځي﴾ ولې ته نه ګورې هغه چې وائې اخلي هريوکس د دې دواړو شريکينوڅخې نه څه کار، نومضمون دې په بل باندې ﴿يعنى که کاريوشريك واخلي. خومطالبه د جامې د واپسئ دهريونه کولې شي﴾

وَلِهَذَا يَسْتَحِقُّ الْأَجْرَ بِسَبَبِ نَفَاذِ تَقَبُّلِهِ عَلَيْهِ فَجَرَى مَجْرَى الْمُفَاوَضَةِ فِي ضَمَانِ الْعَمَلِ وَاقْتِضَاءِ الْبَدَلِ.

ژباړه وتشريح: - اوددې امله ﴿چه هرواحد دکارذمه واردې﴾ مستحق ګرځي ﴿هرواحد﴾ د مزدورئ د امله د لزوم د اخستلودهغه په ده باندې ﴿يعنى که يوکس کارواخلي. نوپه بل باندې هم دهغې پوره کول لازميږي. نو هر کله چې دکار ذمه واري په هريولازميږي. نود مزدورئ استحقاق به هم دهريو لپاره وي. نوهرکله چې هرواحد ذمه واردې﴾ نوجاري کيږي دا عقدپه ځائې دمفاوضه په ذمه وارئ دعمل کې ﴿يعنى لکه څنګه

چې په شركت مفاوضه كې هرشريك د كارذمه وار وي.دغه ډول به په دې شركت كې هم هريوذمه واري﴾ اوپه تقاضا كولود بدل كې ﴿يعنې لكه څنګه چې په عقد مفاوضه كې هرواحد دهغه څانه د پيسو مطالبه كولې شي.څاباندې چې د شركت د مال څه حق وي.نودغه ډول په دې شركت كې هم هرواحد د شريكينو څنې د مستاجرنه د خپلې مزدورۍ مطالبه كولې شي.البته دا ده.چه صرف په دې دوو څيزونو كې شركت عنان وغيره د شركت مفاوضه پشان دي.په نورو تصرفاتوكې نه دي.تردې كه په شركت عنان كې يوشريك دبل لپاره د پور اقراراوكړي.چه آودده نه ما پور اخستې دې.نوپه بل شريك باندې هغه پور نه لازميږي.اوپه شركت مفاوضه كې پرې لازميږي﴾

دشركت وجوه تعريف

قَالَ (وَأَمَّا شَرِكَةُ الْوُجُوهِ فَالرَّجُلَانِ يَشْتَرِكَانِ وَلَا مَالَ لَهُمَا عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا فَتَصِحُّ الشَّرِكَةُ عَلَى هَذَا) سُمِّيَتْ بِهِ لِأَنَّهُ لَا يَشْتَرِي بِالنَّسِيئَةِ إِلَّا مَنْ كَانَ لَهُ وَجَاهَةٌ عِنْدَ النَّاسِ،

حل اللغة:① وجاهة:مقام،شهرت

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري﴾ رحمه الله اوهرچه شركت وجوه دې. ﴿نوصورت ددې به دا وي.چه﴾ دوې [دوه] نفر شريك شي اونه وي راس المال ددوی لپاره ﴿اوشريك شي﴾ په دې شرط چې دوی به اخستل كوی په خپل مخ مروت باندې اوخرڅول به كوی نوصحيح كيږی دا شركت اوددې امله ﴿چه دوی په خپل مخ مروت باندې اخستل اوخرڅول كوی﴾ نومول شو دا شركت په دې ﴿شركت الوجوه﴾ باندې ﴿يعنې وجوه جمع دوجه ده. اووجه مخ ته وائي﴾ څكه چې اخستل نه كوی په قرضو باندې مګرهغه څوك چې وی دهغه مخ مروت په خلګوكې ﴿نو خلګ پرې اعتماد كوی.او پوره شی ورته وركوی﴾

په شركة الوجوه كې دشركت مفاوضه صحت

وَإِنَّمَا تَصِحُّ مُفَاوَضَةً لِأَنَّهُ يُمْكِنُ تَحْقِيقُ الْكَفَالَةِ وَالْوَكَالَةِ فِي الْأَبْدَالِ، وَإِذَا أُطْلِقَتْ تَكُونُ عِنَانًا لِأَنَّ مُطْلَقَهُ يَنْصَرِفُ إِلَيْهِ وَهِيَ جَائِزَةٌ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ، وَالْوَجْهُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ مَا قَدَّمْنَاهُ فِي شَرِكَةِ التَّقَبُّلِ.

ژباړه وتشريح:- اويقينا صحيح كيږی ﴿شركت وجوه.چه شي﴾ شركت مفاوضه ﴿كله چې وی دواړه شريكان اهل د مفاوضه﴾ څكه چې ممكن دې ثبوت د كفالت اووكالت په ابدالو ﴿ثمن اومبيع﴾ كې ، ﴿يعنې دا ممكن ده.چه ديو اړخ نه دې ثمن وی اوبل اړخ نه مبيع وی.اوپه دې كې يوكس بل كس لره خپل وكيل جوړ كړی. او عقد اوكړی.دغه ډول په دې كې يوكس دبل كس ذمه واراوكفيل جوړ شي﴾اوكله چې مطلق وی ﴿شركت وجوه،چه دكفالت اووكالت ذكرپه كې نه وی﴾ نووی به شركت عنان،څكه چې مطلق ددې ﴿شركت وجوه﴾ منتقل كولای شی دې ﴿عقددشركت عنان﴾ ته، ﴿يعنې كله چې شركت وجوه د كفالت اووكالت د ذكرنه بغير منعقد شي.نودا به شركت عنان وی﴾ اودا ﴿شركت وجوه﴾ جائز دې په نيز زمونږ.خلاف ثابت دې دامام شافعي رحمه الله ﴿دهغوی په نيزجائزنه دې﴾اودلائل د دواړو طرفو نه موږ وړاندې بيان كړی دی په شركة تقبل كې ، ﴿هلته ئې اوګورئ﴾

هرواحددبل نه وكيل دې

قَالَ (وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَكِيلُ الْآخَرِ فِيمَا يَشْتَرِيهِ) لِأَنَّ التَّصَرُّفَ عَلَى الْغَيْرِ لَا يَجُوزُ إِلَّا بِوَكَالَةٍ أَوْ بِوِلَايَةٍ وَلَا وِلَايَةَ فَتَتَعَيَّنُ الْوَكَالَةُ

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله اوهريوكس ددې دواړو ﴿شريكينو﴾څنې وكيل دبل دې په هغه څه كې چې ئې اخلی.څكه چې تصرف په بل باندې جائزنه دې مګرپه وكالت اويا په ولايت سره، ﴿يعنې چې سړې دبل لپاره يوڅيزواخلی.يا ئې خرڅ كړی.نوهله جائزوی.چه دا متصرف دهغه وكيل وی.اويا ئې ولی وی﴾ اونشته ولايت ﴿په دې شركت وجوه كې ديوشريك په بل باندې﴾ نومتعين شو

وكالت «لپاره د جواز د تصرف»

په مشتراة اوګټه كې دبرابرۍ جواز

(فَإِنْ شَرَطَا أَنَّ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ وَالرِّبْحَ كَذٰلِكَ يَجُوزُ وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَفَاضَلَا فِيهِ، وَإِنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا فَالرِّبْحُ كَذٰلِكَ)،

ژباړه وتشريح:- كه شرط كړلو «په شركت وجوه كې دواړو شريكانو» چې اخستې شوې شى به په مينځ ددوى كې نيم په نيمه وى.اوګټه به هم دغه ډول «نيم په نيمه» وى.نوجائزدې «دا شرط» اوجائزنه دې چې زيات وى يوپه بل باندې په دې «ګټه» كې ،اوكه دواړوه شرط اولګوى چې وى به اخستې شوې ځيزپه مينځ د دوى كې درې برخې «يوه برخه به ديوشريك وى اودوې [دوه] برخې به دبل شريك وى» نوګټه به هم دغه ډول وى «د يوې برخې واله ګټه به يوه برخه وى.اود دووحصو والا ګټه به دوې [دوه] برخې وى»

وَهٰذَا لِأَنَّ الرِّبْحَ لَا يُسْتَحَقُّ إِلَّا بِالْمَالِ أَوِ الْعَمَلِ أَوْ بِالضَّمَانِ فَرَبُّ الْمَالِ يَسْتَحِقُّهُ بِالْمَالِ، وَالْمُضَارِبُ يَسْتَحِقُّهُ بِالْعَمَلِ، وَالْأُسْتَاذُ الَّذِي يُلْقِي الْعَمَلَ عَلَى التِّلْمِيذِ بِالنِّصْفِ بِالضَّمَانِ،

ژباړه وتشريح:- اودا «د لزوم د برابرۍ په ګټه كې» ځكه چې ګټه استحقاق ددې نه راځى.مګرپه مال سره اويا په عمل سره اويا په ضمان كې «اووضاحت ددې دا دې» نو «په مضاربت كې» رب المال مستحق ګرځى ددې «ګټې» په مال سره «ځكه چې دده مال په كې لګيدلې وى» اومضارب مستحق ګرځى ددې «ګټې» په عمل سره «يعنى مضارب د رب المال په مال كې تجارت كوى.اوددغه تجارت په وجه دې د ګټې مستحق ګرځى» اواستاذ هغه چې بنائى هنر خپل شاګرد ته په نيمه باندې «دا استاذ دګټې مستحق ګرځى» په ضمان سره «يعنى په شركت الوجوه كې كه يوكس يودرزى ته كپړه راوړه.چه ددې نه جامې جوړې كړه.اودغه درزى دغه كپړه خپل شاګرد ته وركړى.چه ددې نه جامې جوړې كړه.اوګټه به نيمه وى.نوپه دې صورت كې چې دا استاذ د نيمې ګټې مستحق ګرځى.په دې وجه چې دې ددغه جامو جوړولو ذمه وار دې.كه دغه كپړه ضائع شى.نواستاذ باندې به تاوان راځى.نوهركله چې پرې تاوان راځى.نوګټه به هم اخلى. ځكه چې غنم په مقابله دغرم كې وى»

وَلَا يُسْتَحَقُّ بِمَا سِوَاهَا، أَلَا تَرَى أَنَّ مَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ تَصَرَّفْ فِي مَالِكَ عَلَى أَنَّ لِي رِبْحَهُ لَمْ يَجُزْ لِعَدَمِ هٰذِهِ الْمَعَانِي.

ژباړه وتشريح:- اومستحق نه ګرځى يوكس «د ګټې» په هغه چې سوا وى ددې «درې ځيزونو نه چې مال ،عمل اوضمان دې» ولې ته نه ګورې ځوك چې ووايې بل ته ته تصرف كوه په مال خپل كې په دې شرط چې ګټه دهغې به زما لپاره وى.نودا جائزنه ده.د امله د نشتوالى ددې ځيزونو «په دې عقد كې يعنى كوم كس چې د ګټې شرط لګوى.نونه خوددغه ګټې په تجارت كې دده مال شته،اونه دې كاركوى.اونه دې ضامن دې. نو ځنګه به دې د ګټې مستحق جوړ شى»

وَاسْتِحْقَاقُ الرِّبْحِ فِي شَرِكَةِ الْوُجُوهِ بِالضَّمَانِ عَلَى مَا بَيَّنَّا وَالضَّمَانُ عَلَى قَدْرِ الْمِلْكِ فِي الْمُشْتَرَى

ژباړه وتشريح:- اواستحاق دګټې چې راځى په شركت وجوه كې نودا راځى په ضمان باندې «يعنى په شركت الوجوه كې چې هريوشريك دګټې مستحق ګرځى.نودا ددې امله چې هريوشريك باندې ضمان او تاوان راځى .مثلاً كه مال هلاك شى.نوهريوشريك به تاوان وركوى» لكه ځنګه چې موږ بيان كړلو. «چه داستحقاق د ګټې لپاره يوځيزضمان دې.چه په چا باندې ضمان راځى.هغه به ګټه هم اخلى» اوضمان به راځى په اندازه د ملك باندې په اخستې شوى ځيزكې «مثلاً په مشتراة كښې ديوكس يوه برخه وى اودبل دوې [دوه] برخې وى. نوكه تاوان اوشى.نود دووحصوپه خاوند به دوې [دوه] برخې تاوان راځى.اود يوې برخې په خاوند به يوه برخه تاوان راځى»

وَكَانَ الرِّبْحُ الزَّائِدُ عَلَيْهِ رِبْحَ مَا لَمْ يُضْمَنْ ...

ژباړه وتشریح:- ﴿اوکه د شرکت الوجوه په عقد کي دا شرط اولګوي.چه یوشریك به زیاته ګټه اخلي. نو په دې صورت کي﴾ ګټه زیاتې په دې ملکیت باندې ګټه دهغه څیزده چې ضمان ئې نه راځي. ﴿په دغه شریك چې زیاته ګټه اخلي.مثلاً که زید په شرکت الوجوه کي دوو شریکانوته درې زره روپۍ ورکړې.اوپه دغه دوو شریکانوکي یوکس دخپل ځان لپاره دوې [دوه] برخې ګټه مقرر کړې وه اودبل لپاره یوه برخه ګټه.اوس د بدقسمتۍ نه په دغه درې زرو روپوکي نهه سوه روپۍ هلاکي شوې. نو په هریوشریك باندې به څلورنیمه سوه روپۍ راځي.حالانکه پکاردا وه.چه کوم کس دوې [دوه] برخې ګټه اخستله.چه په هغه شپږ سوه روپۍ تاوان راتلو.نوهرکله چې تاوان په هرباندې برابر راځي.نوکه یوکس دوې [دوه] برخې ګټه اخلي.نودې دهغه زرو روپوګټه اخلي.چه دهلاکت په صورت کي ئې په ده باندې په خصوصیت سره تاوان نه راځي﴾ نونه صحیح کیږي ﴿په شرکت وجوه کي﴾ شرط کول ددې ﴿زیاتې ګټې اخستلوچه یوشریك وال زیاته ګټه اخلي﴾ مګرپه مضاربت کي ﴿یعنی په مضاربت کي که رب المال یا مضارب د زیاتې ګټې اخستلو شرط اولګوي. نو دا جائزدې﴾ اوشرکت وجوه کي نه دې په معنی ددې ﴿مضاربت﴾ کي ﴿ځکه چې په شرکت الوجوه کي مال په هر یو شریك باندې تاوان دې که هلاك شي﴾

بِخِلَافِ الْعِنَانِ، لِأَنَّهُ فِي مَعْنَاهَا مِنْ حَيْثُ أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَعْمَلُ فِي مَالِ صَاحِبِهِ فَيُلْحَقُ بِهَا، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ.

ژباړه وتشریح:- په خلاف د شرکت عنان ﴿نوکه په شرکت عنان کي یوشریکوال دخپل ځان لپاره د زیاتې ګټې اخستلوشرط اولګوي.دا جائزدې﴾ ځکه چې دا ﴿شرکت عنان﴾ په معنی ددې ﴿مضاربت﴾ کي دې.په دې حیثیت سره ﴿چه په شرکت عنان کي﴾ هرواحد دشریکینوځنی عمل کوي په مال د انډیوالان خپل کي ﴿لکه څنګه چې په مضاربت کي مضارب د رب المال په مال کي عمل کوي﴾ نو ملحق کولای شي ﴿شرکت عنان﴾ په دې ﴿مضاربت﴾ پورې. ﴿نولکه څنګه چې په مضاربت کي دیو لپاره د زیاتې ګټې شرط لګول جائزدی.دغه ډول به په شرکت عنان کي هم جائز وي﴾

په اصطیاد اواحتطاب کي دشرکت صنائع عدم جواز

(فَصْلٌ فِي الشَّرِكَةِ الْفَاسِدَةِ) (وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ فِي الِاحْتِطَابِ وَالِاصْطِيَادِ، وَمَا اصْطَادَهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَوِ احْتَطَبَهُ فَهُوَ لَهُ دُونَ صَاحِبِهِ)،

حل اللغة: ① **الاحتطاب:** لرګی جمع کول ② **الاصطیاد:** ښکار کول

ژباړه وتشریح:- ﴿دا﴾ فصل دې په بیان دشرکت فاسده کي اوجائزنه دې شرکت په لرګوجمع کولوکي اوپه ښکارکولوکي اوهغه چې ښکاراوکړی دهغې هریوکس ددې شریکینو ځنی یا ئې لرګی جمع کړلو نودغه ﴿ښکاراولرګی﴾ دده ﴿ښکارکونکی اولرګی جمع کونکی﴾ لپاره دې نه لپاره د انډیوالان دده

وَعَلَى هٰذَا الِاشْتِرَاكُ فِي أَخْذِ كُلِّ شَيْءٍ مُبَاحٍ، لِأَنَّ الشَّرِكَةَ مُتَضَمِّنَةٌ مَعْنَى الْوَكَالَةِ، وَالتَّوْكِيلُ فِي أَخْذِ الْمَالِ الْمُبَاحِ بَاطِلٌ لِأَنَّ أَمْرَ الْمُوَكِّلِ بِهِ غَيْرُ صَحِيحٍ، وَالْوَكِيلُ يَمْلِكُهُ بِدُونِ أَمْرِهِ فَلَا يَصْلُحُ نَائِبًا عَنْهُ،

ژباړه وتشریح:- او په دې حکم باندې ﴿یعنی شراکت نه صحیح کیږي﴾ شریکیدل دی په اخستلودهرهغه څیزچه مباح وی ځکه چې شرکت متضمن دې معنی د وکالت لره ﴿چه هرشریك دبل لپاره وکیل وي﴾ اووکیل مقرر کول په مباح مال کي باطل دې،ځکه چې امرد موکل په دې ﴿حاصلولودمباح څیز﴾ صحیح نه دې او وکیل مالك وی ددې ﴿حاصلولودمباح څیز﴾ بغیردحکم دده ﴿موکل﴾ نه نو صلاحیت نه لری یوکس چې شی نائب دهغه ﴿خپل ملګری﴾ نه ﴿لنډیز دا چې شرکت متضمن دې معنی د وکالت لره،اوپه دې څیزونوکي وکالت ځکه نه صحیح کیږی.چه هرواحد ددې مالك دې.چه یو مباح څیزدځان لپاره حاصل کړی.اګرچه چا ورته حکم نه وی کړې.نوهرکله چې دې په خپله ددغه مباح شی د حاصلولو مالك دې.نوشرکت ته اړتیا څه پاتې شو.ځکه چې شرکت خوسړې ددې لپاره کوي.چه ګټه راته آسانه شي﴾

وَإِنَّمَا يَثْبُتُ الْمِلْكُ لَهُمَا بِالْأَخْذِ وَإِحْرَازِ الْمُبَاحِ، فَإِنْ أَخَذَاهُ مَعًا فَهُوَ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ لِاسْتِوَائِهِمَا فِي سَبَبِ الِاسْتِحْقَاقِ،

حل اللغه: ① الاحراز محفوظ كول

زباړه وتشريح: - [illegible] ملكيت د دواړو [illegible] په حاصلولو باندي «چه يو مباح څيز حاصل كړي» او په [illegible] «چه محفوظ ځاني كي ئي محفوظ كړي.نوچه كوم كس په دغه مباح څيز قبضه [illegible] «[illegible] په يو ځاي. «مثلاً يو ښكار وو دواړو په [illegible] د ا مله د برابري د دې دواړو نه په [illegible] هغه څوك جوړيږي چه مباح څيزباندي قبضه راولي او په [illegible] كړي دي نو دواړه به ئي په شريكه مالكان وي»

[illegible] وَإِنْ عَمِلَ أَحَدُهُمَا وَأَعَانَهُ الْآخَرُ فِي عَمَلِهِ بِأَنْ قَلَعَهُ أَحَدُهُمَا وَجَمَعَهُ الْآخَرُ أَوْ قَلَعَهُ وَجَمَعَهُ وَحَمَلَهُ الْآخَرُ فَلِلْمُعِينِ أَجْرُ الْمِثْلِ بَالِغًا مَا بَلَغَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ.(١) وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يُجَاوَزُ بِهِ نِصْفُ ثَمَنِ ذَلِكَ، وَقَدْ عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ.

حل اللغة: ① اعان مدد كړي وو ② القلع ختمول

زباړه وتشريح: - اوكه حاصل كړلو دغه «مباح څيز» يوددوي نه اوځه كارنه وي كړي په كي بل كس نو دغه «مباح څيز» لپاره دعامل دي «چه چا دهغې په حاصلولوكي كوښښ اومحنت كړي وي» اوكه محنت كړي وي يوپه دواړوكي اومدد كړي وي هغه سره بل كس په داسي شان چي ونه كټ كړي وي يوكس اوجمع كړي وي لرګی دهغې بل كس يا كټ كړي وي اوجمع كړي وي يوكس اوبار كړي وي «په سپرلئ باندي» بل كس «اوخپل ځاني ته ئي رسولي وي» نو لپاره د كومك كونكي اجر مثل دي «يعني ده چي په كي څومره كاركړي وي. نو يو مزدور چي دغه هومره كارپه څومره مزدورئ باندې كوي.هغه هومره مزدوري به دي مددكونكي ته وركولي شي» څومره ته چي رسي «مزدوري كه كمه وي اوكه زياته وي» په نيزدامام محمد رحمه الله اوپه نيزدامام ابويوسف رحمه الله زيادت به نشي كولي په دي «مزدوري» كي په نيم قيمت ددغه څيز «يعني مزدوري به دومره زياته نشي وركولي.چه هغه مزدوري دده لرګو نيم قيمت ته اورسي.بلكه دهغي د نيم قيمت څخه به كمه وي» اويقينا پيژندلي شوي دي دا «احكام د مزدوري» په خپل ځاني كي «چه په كتاب المبسوط كي كتاب الشركت دي»

دخچر اودمشك دخاوندانو په اوبوكي دشركت حكم

قَالَ (وَإِذَا اشْتَرَكَا وَلِأَحَدِهِمَا بَغْلٌ وَلِلْآخَرِ رَاوِيَةٌ يَسْتَقِي عَلَيْهَا الْمَاءَ فَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ، وَالْكَسْبُ كُلُّهُ لِلَّذِي اسْتَقَى، وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الرَّاوِيَةِ إِنْ كَانَ الْعَامِلُ صَاحِبَ الْبَغْلِ،

حل اللغة: ① البغل قچر

زباړه وتشريح: - فرماني «ابو الحسين قدوري رحمه الله» اوكله چي دوي [دوه] نفر شريك شي.اوديودشريكينو لپاره خچروي لودبل لپاره مشك وي.چه راوباسي په هغي باندي اوبه.اوګټه به په مينځ د دواړوكي وي «يعني چي دوي [دوه] نفر په خپل مينځ كي دا فيصله اوكړي.چه په دې مشك كي به اوبه جمع كوو.اوپه خچربه ئي بازارته اورو.اوچه كومې پيسي ملاويږي.هغه به د دواړو په مينځ كي په شريكه وي» نونه صحيح كيږي شركت «په ګټه كي» اوګټه تولـه دهغه چا لپاره ده چي اوبه ئي راويستي دي.اوپه ده «مستسقي» باندي كرايه دمثل دمشك ده «يعني چي دچانه په كرايه باندي مشك واخلي.نوچه دده مشك څومره كرايه كيږي.هغه هومره كرايه به مستسقي دمشك خاوند ته وركړي» كه وي محنت كونكي «يعني چاچه اوبه ئي راويستي وي» مالك د قچر،

---

(١) القول الراجح هوهذا قول محمد رحمه الله كذا فى العناية (٤١١١٥)و ردالمحتار(٣٨٣١٣) والدرالمختار(٣٨٣١٣)نقلاً عن القول الراجح (٥١٧١١)-

(وَإِنْ كَانَ صَاحِبَ الرَّاوِيَةِ فَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الْبَغْلِ)

ژباړه وتشریح:- اوکه وی محنت کونکې «یعنی مستسقی» خاوند د مشك نوپه ده «مستسقی چې دمشك خاوند دی» کرایه د مثل دقچرده «یعنی په یوقچرباندې چې دومره اوبه راوړلې شی.اوهغه د څومره کرایه مستحق وی نود مشك خاوند چې مستسقی دی.هغه به د قچرمالك ته هغه هومره کرایه ورکړی»

(وَفَسَادُ الشَّرِكَةِ فَلِانْعِقَادِهَا عَلَى إِحْرَازِ الْمُبَاحِ وَهُوَ الْمَاءُ،

اوهرچه فساد دشرکت دی د امله د منعقد کیدو ددې «شرکت» په محفوظ کولو د مباح څیز وهغه «مباح څیز» اوبه دی. «او وړاندې په تفصیل سره تیرشو چه په مباح څیزکې شرکت نه صحیح کیږي»

وَأَمَّا وُجُوبُ الْأَجْرِ فَلِأَنَّ الْمُبَاحَ إِذَا صَارَ مِلْكًا لِلْمُحْرِزِ وَهُوَ الْمُسْتَقِي، وَقَدْ اسْتَوْفَى مَنَافِعَ مِلْكِ الْغَيْرِ وَهُوَ الْبَغْلُ أَوْ الرَّاوِيَةُ بِعَقْدٍ فَاسِدٍ فَيَلْزَمُهُ أَجْرُهُ

ژباړه وتشریح:- اوهرچه وجوب د مزدورئ دې «دقچردمالك لپاره که مستسقی دمشك خاوند وی.اود مشك د خاوند لپاره که مستسقی د قچرمالك وی.نومزدوری پرې څکه واجبیږی» چې مباح څیزکله چې اوګرځی ملك لپاره د محفوظ کونکی اوهغه «محفوظ کونکې په دې مقام کې» مستسقی دې.اویقیناً ده «مستسقی» واخستې منافع د ملك دغیراوهغه «ملك دغیر» قچردې «که مستسقی مالك د مشك وی» اویا مشك دې «که مستسقی مالك د قچروی» په عقدفاسد سره «څکه چې په مباح څیزکې د شرکت عقد فاسد وی» نولازمیږی په ده «مستسقی» باندې مزدوری دهغې «قچریا مشك»

په شرکت فاسده کې دګټې د وېش معیار

(وَكُلُّ شَرِكَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبْحُ فِيهِمَا عَلَى قَدْرِ الْمَالِ، وَيَبْطُلُ شَرْطُ التَّفَاضُلِ) لِأَنَّ الرِّبْحَ فِيهِ تَابِعٌ لِلْمَالِ فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ،

ژباړه وتشریح:- اودا یوه قاعده ده.چه» هرشرکت چې فاسد وی.نوګټه به په هغې «شرکت فاسده» کې په اندازه د مال وی. «چه دچا څومره مال وی.نودهغې په مناسبت سره به هغه ګټه اخلی» اوباطل به وی شرط د زیادت «یعنی که په شریکینوکې دیو لپاره د زیاتی ګټې شرط کیخودې شوې وی.نودغه د تفاضل شرط به باطل وی.بلکه هریوته به دهغه دمال په تناسب سره ګټه ملاویږی» څکه چې ګټه په دې «شرکت فاسده» کې تابع وی د مال نواندازه کولې به شی «ګټه» په اندازه د مال سره «نوچه څومره مال وی.دهغې په تناسب سره به ګټه وی»

كَمَا أَنَّ الرِّيعَ تَابِعٌ لِلْبَذْرِ فِي الزِّرَاعَةِ، وَالزِّيَادَةُ إِنَّمَا تُسْتَحَقُّ بِالتَّسْمِيَةِ، وَقَدْ فَسَدَتْ فَبَقِيَ الِاسْتِحْقَاقُ عَلَى قَدْرِ رَأْسِ الْمَالِ

ژباړه وتشریح:- لکه څنګه چې ګټه تابع وی د تخم په مزارعت کې «یعنی په پټی کې چې کوم تخم کرلې شی.نومثلاً چې د یوکس یوسیرتخم وی.اودبل کس دوې [دوه] سیره تخم وی.نوکوم پیداوارچه اوشی.په هغې کې به د دوې [دوه] سیرۀ تخم مالك لپاره دوې [دوه] برخې وی.اودیوسیرتخم مالك لپاره به یوه برخه وی» اوزیادت «دګټې» استحقاق راتلودهغې «زیادت» په مقررکولوسره «چه د عقدپه اول کې دتفاضل شرط اولګولې شی» اوفاسد شوعقد «دشرکت» نوپاتې شو استحقاق «دګټې» په اندازه د راس المال باندې «یعنی که دشرکت دعقدپه وخت کې دا شرط اولګولې شی.چه یو شریك ته به زیاته ګټه ملاویږی.نودا جائزده.خوچونکه دلته عقدفاسد شو.نوکه په اول کې دتفاضل شرط هم لګولې شوې وی.نوهغه باطل شو.څکه چې عقدفاسد شو.نواوس به ګټه د شرکت دعام قانون مطابق تقسیمولې شی.یعنی چې دچا څومره مال وی.دهغې په اندازه به هغه ته ګټه ملاویږی»

د شرکت په مرګ یا په ارتداد سره د شرکت بطلان

(وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَوْ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ) لِأَنَّهَا تَتَضَمَّنُ الْوَكَالَةَ، وَلَا بُدَّ مِنْهَا لِتَحَقُّقِ الشَّرِكَةِ

عَلٰى مَا مَرَّ،وَالْوَكَالَةُ تَبْطُلُ بِالْمَوْتِ،وَكَذَا بِالِالْتِحَاقِ مُرْتَدًّا إِذَا قَضَى الْقَاضِي بِلَحَاقِهِ،لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتِ عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ،

ژباړه وتشریح:- اوکله چې مړشي يودشريکينو څخنی اويا مرتد شي اولاړشي دارالحرب ته نوباطل شو شرکت ځکه چې دا «شرکت» متضمن دي وکالت لره اوضروری دي دا «وکالت» ددې لپاره چې ثابت شي شرکت لکه څنګه چې وړاندې تيرشو. «يعنی ګټه هله کيږی.چه شرکت راشی.اوشرکت هله راځی.چه يوکس دبل په مال کي تصرف اوکړی.اودبل په مال کي تصرف کول نه دي جائزمګرپه وکالت اوپه ولايت سره،اودلته دشريکينوپه مينځ کي خوولايت نشته.نومتعين شووکالت» او وکالت باطليږی په مرګ سره اودغه شان چې لاړشی سرې دارالحرب ته په حالت دارتداد کي «يعنی مرتد شی» ځکه چې دا «ارتداد» پشان د مرګ دي «يعنی ارتداد حکمی مرګ دي.هم دا وجه ده.چه کله سړي مرتد شي.نودده ميراث دده په مسلمانانو وارثانوباندې تقسيمولې شی.حالانکه دي ژوندې وی.ځکه چې ارتداد دحکم په اعتبارسره مرګ دي. نو لکه څنګه چې د حقيقی مرګ نه روسته ميراث تقسيمولې شی.دغه ډول د ارتداد نه روسته چې دا حکمی مرګ دي.هم ميراث تقسيمولې شی» لکه څنګه چې موږ دا بيان کړی دی. «چه ارتداد حکمی مرګ دي»

وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا عَلِمَ الشَّرِيكُ بِمَوْتِ صَاحِبِهِ أَوْلَمْ يَعْلَمْ،لِأَنَّهُ عَزْلٌ حُكْمِيٌّ،وَإِذَا بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ،بِخِلَافِ مَا إِذَا فَسَخَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ الشَّرِكَةَ وَمَالُ الشَّرِكَةِ دَرَاهِمُ وَدَنَانِيرُ حَيْثُ يَتَوَقَّفُ عَلٰى عِلْمِ الْآخَرِ،لِأَنَّهُ عَزْلٌ قَصْدِيٌّ،وَاللّٰهُ أَعْلَمُ.

حل اللغة: ① **عزل:** معمول کړو ② **قصدي:** په قصد سره يو کار کول

ژباړه وتشریح:- اونشته توپير په مينځ ددې کي چې کله عالم وی شريك په مرګ دخپل انډيوالان اوکه نه وی عالم «بلکه په دواړو صورتونوکي شرکت باطليږی» ځکه چې دا «مرګ» معزول کيدل حکمی دی. «يعنی چې سړي مړشو.نودا داسې شوه.لکه چې دې دخپل کارنه معزول شو» اوکله چې باطل شی وکالت نوباطليږی شرکت«ځکه چې شرکت بغيرد وکالت نه نه صحيح کيږی» په خلاف دهغه صورت کله چې فسخ کړي يو د شريکينو نه شرکت لره نو«په دغه صورت کي چې مرګ نه وی راغلې.بلکه دعقد شرکت فسخ کول راغلی وی» موقوف به وی «بطلان د شرکت» په علم د بل شريك باندې «يعنی په دغه صورت کي به شرکت هله باطليږی.چه بل شريك ته دا پته اولګی.چه زما انډيوالان شرکت فسخ کړلو» ځکه چې دا «فسخ کول» معزول کول قصدی دی. «نودا ضروری ده.چه ديوقصد او ارادې نه بل کس خبر شی»

د شريك دمال نه د زکاة ورکولوعدم جواز

(فَصْلٌ)وَلَيْسَ لِأَحَدِ الشَّرِيكَيْنِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاةَ مَالِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ،لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ جِنْسِ التِّجَارَةِ،فَإِنْ أَذِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِصَاحِبِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاتَهُ.فَإِنْ أَدّٰى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فَالثَّانِي ضَامِنٌ عَلِمَ بِأَدَاءِ الْأَوَّلِ أَوْلَمْ يَعْلَمْ،وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.() وَقَالَا:لَا يَضْمَنُ إِذَا لَمْ يَعْلَمْ

ژباړه وتشریح:- فصل:اونه دی جائز لپاره ديود شريکينوچه ادا کړی زکاة دمال دبل «شريك» ځکه چې دا «ورکول د زکاة دشريك خپل» نه دي دجنس دتجارت څخنی «يعنی دتجارت د مقتضياتونه دا نه دی.چه چيرته اجازت کړې ووهريوکس ددواړو نه خپل شريکوال ته چې ادا کوی زکاة د مال دده «آمر» نوادا کړوهريو د دواړو شريکينو نه «يعنی يوکس خپل زکاة په خپله هم ادا کړو.اودهغه وکيل هم ادا وکيل چې

[1]) القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا فى التنوير(٣\٣٨٥) وشرح الوقاية (٢\٣٤٩) وكنز (ص،٢٠٤) وشرح عقود (ص،٨٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٥١٨)-

شريك دي.هغه هم ادا كړي﴾ نو دوهم ﴿چه ماموردي﴾ ادا كونكي ذمه وار دي كه هغه ته د اول ﴿آمر﴾ دادا كاوه علم وي اوكه نه،په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوصاحبين رحمهما الله وائي.په دوهم ﴿مامور﴾ به ذمه واري نه راځي.كه د اول ﴿آمر﴾ د ادا كاوه علم ورته نه وي.اوادا ئې كړي. ﴿اوكه پته ورته وي.چه زما شريكوال دخپل مال زكاة ادا كړي دي.اوبيا هم دې دهغه دمال زكاة وركړي.نوپه دې صورت كې ضامن دی.

وَهٰذَا إِذَا أَدَّيَا عَلَى التَّعَاقُبِ، أَمَّا إِذَا أَدَّيَا مَعًا ضَمِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نَصِيبَ صَاحِبِهِ.

حل اللغة: ① التعاقب: يوبل پسې ② معا: يوځائي

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿وجوب د ضمان په بل شريك باندې﴾ په هغه صورت كې چې وركړي ئې وى زكاة په تعاقب سره ﴿يعنى يوكس اول زكاة وركړي وى اوبل شريك دهغه نه روسته وركړي وي﴾ هرچه هغه صورت چې ادا كړي ﴿هريوكس زكاة﴾ په يوځائي ﴿وراندې روسته په كي نه وي﴾ نوضامن دې هريوكس د شريكينونه د برخې دخپل شريكوال ﴿يعنى دده په ځائې چې دده اندېوالان زكاة وركړي وى.نودې به ورته دخپل مال دحصې زكاة وركوي﴾

وعلى هذا الاختلاف المأمور بأداء الزكاة إذا تصدق على الفقير بعد ما أدى الآمر بنفسه

ژباړه وتشريح:- اوپه دې اختلاف باندې ماموردې په ادا كولودزكاة ﴿يعنى چې يوكس بل ته اووائى.ته زما د مال زكاة وركړه﴾ كه چې صدقه اوكړي ﴿مامور﴾ په فقيرباندې ﴿يعنى د آمردمال زكاة فقيرته وركړي﴾پس ددې نه چې وركړي وى آمر ﴿زكاة دمال خپل﴾ په خپله باندې ﴿نوپه دې صورت كې هم دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزماموږضامن دې.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزضامن نه دې﴾

لَهُمَا أَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالتَّمْلِيكِ مِنَ الْفَقِيرِ، وَقَدْ أَتَى بِهِ فَلَا يَضْمَنُ لِلْمُوَكِّلِ، وَهٰذَا لِأَنَّ فِي وُسْعِهِ التَّمْلِيكَ لَا وُقُوعَهُ زَكَاةً لِتَعَلُّقِهِ بِنِيَّةِ الْمُوَكِّلِ، وَإِنَّمَا يُطْلَبُ مِنْهُ مَا فِي وُسْعِهِ

ژباړه تشريح:- دليل لپاره دصاحبينو رحمهما الله دا دې.چه دې ﴿وركونكي دزكاة دآمردارخه﴾ ماموردې ﴿يعنى حكم ورته شوي دي﴾ دمالك جوړولود فقير، ﴿چه فقيردزكاة دپيسومالك جوړ كړه﴾ اويقيناً ده راتګ اوكړلو په هغې باندې ﴿چه فقيرئې مالك جوړ كړلو﴾نونه به ضامن كيږي لپاره دموكل ﴿مامور﴾ ﴿چه هغه ته دهغه پيسو تاوان وركړي.كوم چې ده په زكاة كې وركړي وي﴾ اودا ﴿عدم وجوب د ضمان﴾ ځكه چې په وس دده ﴿مامور﴾ كې مالك جوړول دي ﴿چه فقيرد پيسومالك جوړكړي﴾ نه واقع كيدل د زكاة، د املـه د تعلق ددې ﴿ادا كيدو﴾ دنيت د موكل سره ﴿يعنى دزكاة واقع كيدل اونه واقع كيدل د مزكي په نيت پورې منحصر دې. كه هغه په كې د زكاة نيت كړې وي.خوزكاة به واقع شي.اوكه نه ئې وى كړې.نونه واقع كيږي﴾ اويقيناً مطالبه به كولاى شي د دې ﴿مامور﴾ نه دهغه څه چې وى په وس دده كې ﴿چه تمليك دى﴾

وَصَارَ كَالْمَأْمُورِ بِذَبْحِ دَمِ الْإِحْصَارِ إِذَا ذَبَحَ بَعْدَ مَا زَالَ الْإِحْصَارُ وَحَجَّ الْآمِرُ لَمْ يَضْمَنِ الْمَأْمُورُ عَلِمَ أَوْ لَا.

حل اللغة: ① الاحصار: د حج يا عمرې كولو نه بنديز

ژباړه وتشريح:- اواوګرځيدلو ﴿ماموريه دې مسئله كې﴾ پشان د ماموريه ذبح كولود دم احصار ﴿يعنى چې يوكس دحج يا عمرې لپاره احرام تړلې وى.اودڅه عذر د املـه حج ياعمرې كولونه بند شو.نوبيا مسئله دا ده. چې دې به حرم ته قرباني ليږي.كله چې په حرم كې قرباني اوشي.نودې به د احرام نه آزاد كړي.نودې محصر يوكس ته اووئيل.چه ته زما لپاره په حرم كې د دم احصارقرباني اوكړه﴾ كله چې قرباني اوكړي ﴿مامور﴾ روسته ددې نه چې زائله شي احصار ﴿يعنى آمر ته چې كوم عذر ووهغه ختم شي﴾ اوحج اوكړي آمرنوپه دغه صورت كې نه ضامن كيږي مامور ﴿برابره خبره ده﴾ كه عالم وى ﴿په زوال د عذرد محصر﴾ اوكه نه وى ﴿عالم﴾

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ مَأْمُورٌ بِأَدَاءِ الزَّكَاةِ وَالْمُؤَدِّي لَمْ يَقَعْ زَكَاةً فَصَارَ مُخَالِفًا، وَهَذَا لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ الْأَمْرِ إخْرَاجُ نَفْسِهِ عَنْ عُهْدَةِ الْوَاجِبِ؛

ژباړه وتشريح:- اودامام ابوحنيفه دليل دا دي چه دا «وکيل» ماموردي په اداکولود زکاة اوورکړې شوې زکاة واقع نشو زکاة «ځکه چې آمريه خپله باندې زکاة ورکړلو» نواوګرځيدلو «مامور» مخالفت کونکې «د حکم د آمرنه» اودا «چه ماموردخپل آمردحکم مخالفت اوکړلو» ځکه چې مقصود د حکم نه «چه آمرورته د زکاة ورکولوحکم کوي» ويستل د نفس خپل وی د ذمه واری دوجوب نه «يعني آمرچه وکيل ته حکم کوی.ددې لپاره چې زما غاړه لنډيز شي»

لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ لَا يَلْتَزِمُ الضَّرَرَ إلَّا لِدَفْعِ الضَّرَرِ، وَهَذَا الْمَقْصُودُ حَصَلَ بِأَدَائِهِ وَعَرِيَ أَدَاءُ الْمَأْمُورِ عَنْهُ فَصَارَ مَعْزُولًا عَلِمَ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ لِأَنَّهُ عَزْلٌ حُكْمِي.

ژباړه وتشريح:- ځکه ښکاره خبره ده دا ده.چه ده «آمر» نه دې لازم کړې «په خپل ځان باندې» ضرر «چه د وکيل په ذريعه دخپل مال زکاة ورکوی.نودا خوآمرته نقصان دې.ځکه چې دهغه په مال کې کمې راځي.نودده دې نقصان ته غاړه کيخودل نه دی» مګر لپاره د دفع کولود دبل ضرر «هغه ضرر دزکاة نه ورکولوګناه ده.يعني امروکيل ته دخپل مال د زکاة ورکولوحکم ددې لپاره کړې دې.چه دزکاة نه ورکولوکومه ګناه په ما باندې راځي.چه زه دهغې نه خلاص شم» اودا مقصود «چه دګناه نه دده غاړه خلاصيدل دی» ادا شو په ادا کولود زکاة دده «يعني امرچه په خپله دخپل مال زکاة ورکړلو.په هغې باندې دده غاړه لنډيز شوه» نواوګرځيدلو «مامور» معزول «دادا کولود زکاة نه» که ده ته علم وی «چه آمرپه خپله زکاة ورکړې دې» اوکه نه، «په دواړو صورتونوکې دې ضامن دې» ځکه چې دا «ادا کول دآمرزکاة لره په خپله باندې» معزوله کول دی حکمی «اګرچه آمردمعزوله کولوصراحت نه دې کړې.خوچه ده په خپله دخپل مال زکاة ورکړلو. نو ده مامورد زکاة ادا کولونه معزول کړلو»

وَأَمَّا دَمُ الْإِحْصَارِ فَقَدْ قِيلَ هُوَ عَلَى هَذَا الِاخْتِلَافِ، وَقِيلَ بَيْنَهُمَا فَرْقٌ. وَوَجْهُهُ أَنَّ الدَّمَ لَيْسَ بِوَاجِبٍ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يَصْبِرَ حَتَّى يَزُولَ الْإِحْصَارُ. وَفِي مَسْأَلَتِنَا الْأَدَاءُ وَاجِبٌ فَاعْتُبِرَ الْإِسْقَاطُ مَقْصُودًا فِيهِ دُونَ دَمِ الْإِحْصَارِ.

ژباړه وتشريح:- اوهرچه دم الاحصارده. « اوصاحبينو په هغې باندې قياس کړې دې» نو وئيلی شوی دی.چه هغه مسئله هم په دې اختلاف باندې ده. « نومقيس عليه هله حجت وی.چه هغه اتفاقی وی.اوچه هغه هم اختلافی شوه.نومقيس عليه صحيح نشوه.ځکه چې خصم خوپه هغه وخت کې قانع کيږی.چه مقيس عليه ده ته داسې ځيزبيان کړی.چه دخصم په نيزهم مسلم وی.نودا د صاحبينود مقيس عليه نه انکاری خواب شو» اووئيلی شوی دی چې فرق په مينځ د دواړوکې «چه مسئله دزکاة اومسئله د احصارده» توپير دې.اوجه دفرق دا ده.چه دم نه دې واجب په ده «محصر» باندې ځکه چې ممکن دی دده «محصر» لپاره چې صبراوکړی «په حالت دحصارکې» ترڅو چې زائله شي احصار «يعني دده عذرختم شي.اوحج اوعمره اوکړی» اوپه مسئله زموږ کې «چه مسئله دزکاة ده» ادا کول «دزکاة» واجب شوی دی. « په هرصورت کې» نومعتبرشوذمه فارغه کول «دادا کولودزکاة نه» په دې «مسئله دزکاة» کې نه په دم الاحصار کې «ځکه چې هلته د وجوب د ساقط کيدوامکان موجود دی.نوقياس صحيح نشو»

قَالَ (وَإِذَا أَذِنَ أَحَدُ الْمُتَفَاوِضَيْنِ لِصَاحِبِهِ أَنْ يَشْتَرِيَ جَارِيَةً لِيَطَأَهَا فَفَعَلَ فَهِيَ لَهُ بِغَيْرِ شَيْءٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(١)

ژباړه وتشريح:- فرمائی «ابو الحسين قدوری» اوکله چې اجازت اوکړی يودمتفاوضينو نه انډيوالان

(١) القول الراجح هو هذا قول الإمام كذا فی فتح القدير(٥\٤١٥) وردالمحتار(٣\٣٨٥) وكنز(ص، ٢٠٤) نقلاً عن القول الراجح (٥١٩)-

خپل ته چې واخلي «دغه ملګري دمال مشترك نه» يوه وينځه اووطي کوي هغه «وينځه» نوهغه «خپل ته چې واخلي» اوکړلو «دا کارچه وينځه نې واخستله» نودغه وينځه شوه دده «مشتري» لپاره انديوالانې بغيردڅه څيز «يعنې دغه وينځه په مفت کې ده ته ملاؤ شوه» په نيزدامام ابوحنيفه.

وَقَالَا: يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ) لِأَنَّهُ أَدَّى دَيْنًا عَلَيْهِ خَاصَّةً مِنْ مَالٍ مُشْتَرَكٍ فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ بِنَصِيبِهِ كَمَا فِي شِرَاءِ الطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ

ژباړه وتشريح:- اوفرمائي صاحبين اخلې به «ملګري» دهغه «مشتري» نه نيمې روپۍ ځکه چې «مشتري» ادا کړلو پور چې وو په ده «مشتري» باندې په خصوصيت سره «ځکه چې دوينځې نه فائده دې اخلي.او ادا نې کړلو» دا پور دمال مشترك نه نواخلي به د ده «مشتري» نه انديوال دده «مشتري» برخه خپله «مثلاً په زر روپۍ ئې وينځه اخستې وې.نوينځه سوه روپۍ دده دخپلې برخې شوې.اوينځه سوه دده د شريك دحصې نه شوې.خوچونکه دوينځې نه فائده صرف مشتري اخلي.اوهغه سره په دغه وينځه کې څوك شريك نشته. نو چونکه ده دمشترکه مال نه وينځه اخستې ده.نوشريك به دمشتري نه خپله برخه واخلي.چه پنځه سوه روپۍ دي» لکه څنګه چې په اخستلود خوراك اوڅکاك کې دي. «يعنې که يوشريك دمال مشترك نه دخپل اهل وعيال لپاره دخوراك څيزيا جامې واخستلې.نوخپل شريکوال ته به دهغې قيمت ورکوي.ځکه چې د اهل وعيال خرچه خوپه ده باندې لازم ده.دده په شريك باندې نه ده لازم»

(وَهَذَا) لِأَنَّ الْمِلْكَ وَاقِعٌ لَهُ خَاصَّةً وَالثَّمَنُ بِمُقَابَلَةِ الْمِلْكِ.

ژباړه وتشريح:- اودا «چه ده هغه پور ادا کړلو.کوم چې خاص په ده باندې وو» ځکه چې ملك «چه په وينځه راغلې دې» هغه واقع شوې دې د ده «مشتري» لپاره په خصوصيت سره «دده دشريك په وينځه کې برخه نشته» اوروپۍ وې په مقابله د ملك کې «نوچه په وينځه باندې دچا ملکيت راځي.په هغه باندې به دهغې قيمت واجب وي»

وَلَهُ أَنَّ الْجَارِيَةَ دَخَلَتْ فِي الشَّرِكَةِ عَلَى الْبَتَاتِ جَرْيًا عَلَى مُقْتَضَى الشَّرِكَةِ إِذْ هُمَا لَا يَمْلِكَانِ تَغْيِيرَهُ فَأَشْبَهَ حَالَ عَدَمِ الْإِذْنِ

ژباړه وتشريح:- اودده «امام ابوحنيفه» لپاره دليل دا دې.چه وينځه راغلې ده په «معامله د» شرکت کې يقيناً «او ورکړې دې مشتري قيمت دهغې دمال مشترك نه.اوهرهغه څيزچه راشي په شرکت کې او ادا کړې مشتري قيمت دهغې دمال مشترك نه نودده شريك وال به دده نه دهغې قيمت نه غواړي.لکه څنګه چې په هغه صورت کې شريك وال د مشتري نه د خپلې برخې د پيسو مطالبه نشي کولې.چه ده ورته د وينځې اخستلواجازت نه وې کړې.اويوشريکوال وينځه واخلي،اودا وينځه په شرکت کې راغلې ده» د امله جارې والې نه په مقتضي دشرکت «ځکه چې په شرکت مفاوضه کې د طعام او جامونه علاوه کوم يوڅيزپه مال مشترك باندې واخستې شي.هغه به مشترك حسابيږي.اووينځه د طعام او جامويه حکم کې نه ده.ځکه چې وينځې ته داسې اړتيا نه وې.لکه څنګه چې خوراك اوجاموته وې» ځکه چې دا دواړه «شريکان» مالکان نه دي دبدلولودې «مقتضي دشرکت چې شرکت پاتې وي.اودهغې مقتضيات دې دوي نه برابروي» نومشابه شو «دا صورت د اجازت» حالت د نه اجازت سره «يعنې دا داسې شوه.لکه چې مشتري د خپل شريکوال د اجازت نه بغيروينځه اخستې وې»

غَيْرَ أَنَّ الْإِذْنَ يَتَضَمَّنُ هِبَةَ نَصِيبِهِ مِنْهُ، لِأَنَّ الْوَطْءَ لَا يَحِلُّ إِلَّا بِالْمِلْكِ، وَلَا وَجْهَ إِلَى إِثْبَاتِهِ بِالْبَيْعِ لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ يُخَالِفُ مُقْتَضَى الشَّرِكَةِ فَأَثْبَتْنَاهُ بِالْهِبَةِ الثَّابِتَةِ فِي ضِمْنِ الْإِذْنِ

ژباړه وتشريح:- «نوهرکله چې دا اجازت دعدم اجازت پشان شو.نوبيا خوبکاردا وه.چه وينځه مشترکه وه.اود مشتري لپاره هم دهغې نه فائده اخستل جائز نه وو.خوداسې نه ده.نوددې ځواب دا دې» البته دومره ده چې اجازت متضمن دې بخلودحصې خپلې ده «مشتري» ته ځکه چې وطې «دوينځې» نه حلاليږي

مګر په ملك سره ﴿چه واطی په هغې باندې ملك وی﴾ اونشته څه لار ثابتولودې ﴿جوازد وطی دپاره﴾ په بیع سره ﴿یعنی په عقد شرکت کې یومشتری وینځه واخلی.نوده لپاره دهغې سره وطی کول جائزنه دی.څکه چې ده سره په کې بل شریکوال شته.اوکه مونږدا اووایو.چه په دې وینځې دې صرف د مشتری ملك وی. نو داسې صحیح نه ده﴾ دهغه امله چې موږ بیان کړه چې دا ﴿دیوشریك په خصوصیت سره په مبیع باندې ملکیت راتګ .چه دده د شریك برخه په کې نه وی﴾ مخالف دې د مقتضی د شرکت ﴿مفاوضه﴾ سره نوموږ ثابت کړلو ﴿دا جواز د وطی﴾ په هبه سره په ضمن د اجازت کې ﴿یعنی هرکله چې یوشریك خپل شریکوال ته اوونیل.چه تاته د وطی کاوه لپاره د وینځې اخستلو اجازت دې.نودا داسې شوه.لکه چې هغه ورته اووائی.چه په مشترکه مال کې وینځه واخله.اوزما په برخه کې چې څه قیمت راشی.هغه درته ما بخلی دی﴾

بِخِلَافِ الطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ؛ لِأَنَّ ذَلِكَ مُسْتَثْنًى عَنْهَا لِلضَّرُورَةِ فَيَقَعُ الْمِلْكُ لَهُ خَاصَّةً بِنَفْسِ الْعَقْدِ فَكَانَ مُؤَدِّيًا دَيْنًا عَلَيْهِ مِنْ مَالِ الشَّرِكَةِ. وَفِي مَسْأَلَتِنَا قَضَى دَيْنًا عَلَيْهِمَا لِمَا بَيَّنَّا

ژباړه وتشریح:- په خلاف د طعام او جامو ﴿یعنی په شرکت مفاوضه کې دخپل اهل وعیال دپاره دخوراك څه څیزیا جامې واخلی.نودا به په شریکه کې نه حسابیږی.بلکه دهغې قیمت به په هریوکس باندې راځی﴾ څکه چې ددې څیزونو استثنی شوې ده د امله د اړتیا نه نو واقع کیږی ملك دده ﴿مشتری﴾ لپاره په خصوصیت سره ﴿چه دده د شریك برخه ورسره نه وی﴾ صرف په عقد ﴿شرکت﴾ سره نوکیږی ﴿مشتری﴾ ادا کونکې دهغه پور چې وو په ده ﴿مشتری﴾ باندې دمال د شرکت نه ﴿نوځکه به د مشتری شریك د مشتری نه د هغه پیسومطالبه کوی.په کوموچه مشتری دمال مشترك نه دخپل ځان لپاره طعام او جامې اخستې وی﴾ او په مسئله زموږ کې ﴿چه د وینځې اخستلوده﴾ ده ﴿مشتری﴾ ادا کړلو هغه پور چې وو په دې دواړو شریکینو دهغه امله چې موږ بیان کړله ﴿چه دا وینځه په مال مشترك کې راغلې ده﴾

(وَلِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَ بِالثَّمَنِ أَيَّهُمَا شَاءَ) بِالِاتِّفَاقِ لِأَنَّهُ دَيْنٌ وَجَبَ بِسَبَبِ التِّجَارَةِ، وَالْمُفَاوَضَةُ تَضَمَّنَتْ الْكَفَالَةَ فَصَارَ كَالطَّعَامِ وَالْكِسْوَةِ.

ژباړه وتشریح:- اوجانزدی لپاره د خرڅونکی ﴿چه چا پرې وینځه خرڅه کړې وی﴾ چې واخلی قیمت د هر یو شریك نه چې نې خوښه وی په اتفاق سره ﴿په مینځ د ټولوامامانو﴾ څکه چې دا ﴿قیمت د وینځې﴾ پور دې چې واجب شوې دې په سبب د تجارت اوشرکت مفاوضه متضمن وی وکالت لره ﴿نوهرکله چې یوکس وینځه واخستله.نوپه نیمه وینځه کې دې اصیل شو.اوپه نیمه کې دخپل شریك دارخه وکیل شو﴾ او اوګرځیدلو ﴿حکم د وینځې چې اخستې شوې وی لپاره دوطی په اجازت د شریك﴾ پشان د خوراك د څیزونو اوجامو ﴿چه یومشتری دخوراك څکاك یا جامې په مشترك مال کې واخستې شی.نودطعام او جامو خرڅونکې په شریکینوکې دهریونه د خپل پور مطالبه کولې شی﴾

كِتَابُ الْوَقْفِ:

﴿دا﴾ کتاب ﴿د﴾ وقف ﴿په بیان کې﴾ دی.

قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنْ الْوَقْفِ إلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ فَيَقُولَ إذَا مِتُّ فَقَدْ وَقَفْتُ دَارِي عَلَى كَذَا. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ (يَزُولُ مِلْكُهُ بِمُجَرَّدِ الْقَوْلِ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَزُولُ حَتَّى يَجْعَلَ لِلْوَقْفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ إلَيْهِ)

حل اللغة: ① یعلق.معلق کوی ② مجرد صرف

ژباړه وتشریح:- فرمائیلی دی امام ابوحنیفه رحمه الله نه زائله کیږی ملك د واقف د وقف څیزنه مګردا چې حکم اوکړی په دې ﴿وقف﴾ باندې حاکم اویا معلق نې کړی په مرګ خپل پورې ﴿واقف﴾ چېووایې کله چې [illegible] نوما وقف کړې دې کورخپل د فلانی کار لپاره اوفرمائی امام بویوسف رحمه الله زائله کیږی ملك دده

﴿واقف د وقف ځيزنه﴾ صرف په وينا دده ﴿چه داسې اووائي.ماخپل دا ځيزوقف کړې دې﴾ اوفرمائي امام محمد رحمه الله نه زائله کيږي ﴿ملك دواقف دوقف نه﴾ تردې چې اوګرځوي دوقف شي لپاره متولي اوحواله ئې کړي هغه ﴿متولي﴾ ته

قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: الْوَقْفُ لُغَةً. هُوَ الْحَبْسُ تَقُولُ وَقَفْتُ الدَّابَّةَ وَأَوْقَفْتُهَا بِمَعْنًى. وَهُوَ فِي الشَّرْعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ: حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى مِلْكِ الْوَاقِفِ وَالتَّصَدُّقُ بِالْمَنْفَعَةِ بِمَنْزِلَةِ الْعَارِيَةِ.

حل اللغة: ① التصدق: صدقه کول ② الحبس: بندول ③ المنفعة: فائده

ژباړه وتشريح:- فرمائيلي دی ﴿صاحب دهدايه﴾ رحمه الله وقف په لغت کې بنديدل دی.ته وائې ما وقف کړې دې حيوان (څاروې) اوزه وقف کوم دا ﴿څاروې﴾ دواړه په يوه معنی دی.اودا ﴿وقف﴾ په شريعت کې په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله بندول د يوذات ديوځيزدی په ملك د واقف پورې، ﴿يعنی د وقف ځيزذات د واقف دملکيت نه نه اوځی﴾ اوصدقه کول په فائده دهغې باندې ﴿يعنی دوقف ځيزد ذات نه چې کومه فائده اخستې شی.واقف هغه فائده وقف کړی﴾ په شان د عاريه ﴿ځکه چې په عاريه کې عاريه د خپل مالك وی.خودومره وی.چه هغه چې چاته په عاريه ورکړې وی.نوهغه ته ئې دهغې نه د فائدې اخستلواجازت کړې وی﴾

ثُمَّ قِيلَ الْمَنْفَعَةُ مَعْدُومَةٌ فَالتَّصَدُّقُ بِالْمَعْدُومِ لَا يَصِحُّ، فَلَا يَجُوزُ الْوَقْفُ أَصْلًا عِنْدَهُ، وَهُوَ الْمَلْفُوظُ فِي الْأَصْلِ. وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ جَائِزٌ عِنْدَهُ إِلَّا أَنَّهُ غَيْرُ لَازِمٍ بِمَنْزِلَةِ الْعَارِيَةِ،

ژباړه وتشريح:- بيا وئيلي شوی دی چې نفع ﴿دوقف ځيزنه﴾ موجود نه وی ﴿ځکه چې منفعت خو يو غير محسوس ځيزدې.په ظاهر کې څه وجود نه لری﴾ اوصدقه کول دمعدوم ﴿غيرموجود ځيز﴾ نه صحيح کيږی.نوجائز نشووقف بيخی ﴿ځکه چې وقف دمنفعت کيږی.اومنفعت په خارج کې موجود نه دې.نووقف صحيح نشو﴾ او دا ﴿قول دعدم صحت د وقف﴾ ليکلې شوی دې په مبسوط ﴿کتاب﴾ کې خو اصح قول دا دې.چه دا ﴿وقف﴾ جائزدې په نيز دده ﴿امام ابوحنيفه﴾ رحمه الله مګردومره ده چې غيرلازم دې ﴿يعنی که يوځيزوقف کړی. نوپه ده باندې لازم نه ده.چه دغه ځيزمخامخا دخپل تصرف نه اوباسی.اومنفعت نه ئې لاس اووينځی﴾ په شان دعاريه ﴿ځکه چې عاريه کې عاريه دمالك د ملکيت نه نه اوځی.اوهروخت ترې خپل ځيزواپس اخستې شی﴾

وَعِنْدَهُمَا حَبْسُ الْعَيْنِ عَلَى حُكْمِ مِلْكِ اللَّهِ تَعَالَى فَيَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنْهُ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى عَلَى وَجْهٍ تَعُودُ مَنْفَعَتُهُ إِلَى الْعِبَادِ فَيَلْزَمُ وَلَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ. (۱) وَاللَّفْظُ يَنْتَظِمُهُمَا وَالتَّرْجِيحُ بِالدَّلِيلِ

ژباړه وتشريح:- اوپه نيزدصاحبينو ﴿وقف﴾ بندول د ذات ديوځيزدې په حکم د ملکيت دالله تعالی نوزائله کيږی ملك د واقف ﴿د وقف نه اومنتقل کيږی دغه ملکيت﴾ الله تعالی ته ﴿اوالله تعالی ته د ملکيت منتقل کيدو مطلب دا دې.چه په دې باندې احکام داسې مرتب کيږی.چه لکه څنګه يوځيزدچا ملکيت وی.اوپه دغه ځيزباندې کوم احکام مرتب کيږی.دغه شان چې يوځيزدالله تعالی په نوم وقف شی.نوپه هغې باندې به هم داسې احکام مرتب کيږی.لکه چې دغه ځيزدالله تعالی وی.ورنه په حقيقت کې خوواړه هرڅه دالله تعالی دی﴾ خوپه داسې طريقه چې راجع وی فائده دهغې ﴿وقف ځيز﴾ بندګانوته ﴿ځکه چې الله تعالی خود څه محتاج نه دې.اونه هغه ته ديوځيزپه مملوك کيدوباندې څه فائده رسی.ځکه چې په حقيقت کې خودا هرڅه دالله تعالی دی﴾ نولازم به وی وقف ﴿اوفائده د لزوم به دا راوځی.چه﴾ نه به خرڅولې شی.اونه به ﴿چاته﴾ هبه کولای شی اونه به په ميراث کې اوړې شی.اولفظ د وقف شامليږی

(۱) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا فى فتح القدير(۵\۴۲۳) والكفاية (۵\۴۲۱) ورد المحتار (۳\۳۹۲) والهندية (۲\۳۵۰) وخلاصة الفتاوى (۴\۴۰۸) نقلاً عن القول الراجح(۱۱\۵۲۰)-

دواړو (مذاهبو) ته (که وقف د واقف د مليکت نه اوځی.لکه څنګه چې د صاحبينو ﷫ مذهب دې.نوهم ورته وقف ونيلی شی.اوکه د واقف د ملکيت نه نه اوځی.لکه څنګه چې د امام ابوحنيفه(رح) مذهب دې.هم پرې د وقف اطلاق صحيح کيږی.نوهرکله چې لفظ د وقف دواړو موقفونو ته ګډ دې.اود دواړو مذاهبوقائلين په لفظ د وقف باندې دخپلې مدعا لپاره استدلال کولې شی) نوترجيح به راځی په دليل سره (چه د چا دلائل زيات راجح وی.دهغه قول به معتبر وی)

لَهُمَا { قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حِينَ أَرَادَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِأَرْضٍ لَهُ تُدْعَى ثَمْغًا : تَصَدَّقْ بِأَصْلِهَا لَا يُبَاعُ وَلَا يُورَثُ وَلَا يُوهَبُ } (١)"

ژباړه وتشريح:- دصاحبينو ﷫ لپاره دليل قول د نبی ﷺ دې په کوم وخت کې چې اراده اوکړله حضرت عمر ﷜ چې صدقه کړی هغه مځکه چې ثمغ ورته ونيلې شو (اودخيبر په مال غنيمت کې دده په برخه کې رسيدلې وه.دا نې ورته اوفرمائيل) صدقه کړه ددې (زمکې) اصل چې (د روستو دپاره) نه خرڅولې شی اونه په ميراث کې اوړلې شی اونه هبه کولای شی (نو د دې حديث نه معلومه شوه.چه په وقف کولوسره وقف ځيزدسړی دملکيت نه اوځی)

وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ مَاسَّةٌ إلَى أَنْ يَلْزَمَ الْوَقْفُ مِنْهُ لِيَصِلَ ثَوَابُهُ إلَيْهِ عَلَى الدَّوَامِ ، وَقَدْ أَمْكَنَ دَفْعُ حَاجَتِهِ بِإِسْقَاطِ الْمِلْكِ وَجَعْلِهِ لِلَّهِ تَعَالَى . إذْ لَهُ نَظِيرٌ فِي الشَّرْعِ وَهُوَ الْمَسْجِدُ فَيُجْعَلُ كَذَلِكَ . ذَلِكَ وَالْمِلْكُ

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې حاجت پريوتې دې (واقف ته) چې لازم شی وقف (دده داړخه .اوبيا په کې واپسی نه کيږی) دې لپاره چې رسی ده (واقف) ته ثواب دهغې (وقف) هميشه لپاره (پس دمرګ نه هم چې خلګ ترې فائده اخلی) اويقيناً ممکن دی حاجت پوره کول دده (واقف،چه هميشه لپاره ده ته ثواب رسی) په ختمولود ملکيت دده (واقف) اوګرځولودې (ملکيت) دالله تعالی لپاره (يعنی هله به ده ته هميشه لپاره د وقف ثواب رسی .چه دغه ځيزدده د ملکيت نه اوځی.اودالله تعالی په ملکيت کې داخل شی) ځکه چې ددې لپاره (چه يوځيزد بنده د ملکيت نه خارج شی.اودالله تعالی په ملکيت کې داخل شی) شته نظيريه شريعت کې او هغه جمات دې، (ځکه چې جمات دالله تعالی کور وی.دچا مليکت نه وی) نواوبه ګرځولې شی. (وقف) هم دغه ډول (لکه څنګه چې جمات وی)

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { لَا حَبْسَ عَنْ فَرَائِضِ اللَّهِ تَعَالَى } (٢)" وَعَنْ شُرَيْحٍ : جَاءَ مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِبَيْعِ الْحَبِيسِ (٣)

ژباړه وتشريح:- اودابوحنيفه ﷫ لپاره دليل قول د نبی ﷺ دې چې نشته حبس په فرائضو دالله تعالی کې (حبس دې ته وائی چه دمړی دمرګ نه روسته دهغه ميراث دتقسيمولو نه بند کړې شی.عالمانو دا حديث د جاهليت په يوه عقيده باندې حمل کړی دې.چه په دې حديث کې د دغه عقيدې رد دې.هغه دا چې په جاهليت کې به خلګ وبحيره،سائبه اوحام وقف کړی وی.په دې باندې به نې هيڅ کارنه کولو.اودمړی دمرګ نه روسته به هم دهغه دمړی وارثانوته نشو ورکولې.نونبی ﷺ په هغې باندې رد اوکړلو،اودفرائضو نه مراد ميراث دې.مطلب دحديث دا دې.چه کله څوك وفات شی.نوميراث به په وارثانوکې تقسيمولې شی.داسې نه ده چې ميراث موقوف کړې شی.اودويش نه بند کړې شی.اوپه وقف کې بندول د ميراث دې.ځکه چې يو سړی خپل ملکيت وقف کړلو.نودده وارثان هغه نشی تقسيمولې) اودشريح نه نقل دی.

---

١) أخرجه البخاری فی الوصايا باب ٢٢ وأبوداو فی الوصايا باب ١٣ رقم ٢٨٧٨ والترمذی فی الوقف والنسائی فی الإحباس باب ٢ رقم ٣٣٦٥ وابن ماجه فی الصدقات باب ٤ رقم ١٣٩٦)_

٢) من حديث ابن عباس ﷺ أخرجه الدارقطنی فی سننه (٦٨\٤)_

[illegible]جه ابن ابی شيبة فی مصنفه والبيهقی فی السنن الكبری (٢٦٩\٦) رقم ١١٩١٠) نصب:٣\٧٣٣)_

﴿شريح دحارث كندى ځوئې وو.هغه عظيم شخصيت دې.چه دحضرت عمر،عثمان اوعلى رضي الله عنه په دور خلافت كي قاضي پاتې شوې وو.دوى فرمائي﴾ تشريف راوړلو ﴿دنياته﴾ محمد ﷺ خرڅول به ئې حبس، ﴿ددې نه هم معلومه شوه.كه چيرته وقف د واقف د ملكيت نه وتلو.نوبيا به دا نشوخرڅولې﴾

لِأَنَّ الْمِلْكَ بَاقٍ فِيهِ بِدَلِيلِ أَنَّهُ يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ زِرَاعَةً وَسُكْنَى وَغَيْرَ ذٰلِكَ فِيهِ لِلْوَاقِفِ، أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ فِيهِ بِصَرْفِ غَلَّاتِهِ إِلَى مَصَارِفِهَا وَنَصْبِ الْقُوَّامِ فِيهَا إِلَّا أَنَّهُ يَتَصَدَّقُ بِمَنَافِعِهِ فَصَارَ شَبِيهَ الْعَارِيَةِ،

حل اللغة: ① الانتفاع:فائده اخستل ② سكنى:استوګنه ③ غلاة:محاصل ④ قوام:نګران،منتظم

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې ملك ﴿دواقف﴾ پاته دې په دې ﴿وقف﴾ كي په دې دليل سره چې جائزدى ﴿دواقف دپاره﴾ نفع اخستل ددې ﴿وقف﴾ نه دكركروندې ﴿چه څه په كي اوكرى﴾ اود استوګنې ﴿چې اوسيږى په كي﴾ اوسوا ددې ﴿زراعت او سكونت﴾ نه ﴿نورې فائدې ترې هم اخستې شى﴾ اوملك په دې ﴿وقف﴾ كي لپاره د واقف ولې ته نه ګورې چې ده ﴿واقف﴾ لپاره شته اختيار د تصرف كولو په دې ﴿وقف﴾ كي چې خرچ كوى محاصل ﴿لكه كرايه وغيره﴾ددې په مصارفو ﴿دوقف﴾ كي اومقرركول د منتظم په دې ﴿وقف﴾ مګردا ده چې دې ﴿واقف﴾ به صدقه كوى منافع ددې ﴿وقف﴾ نو اوګرځيدلو ﴿وقف﴾ مشابه د عاريه سره ﴿ځكه چې په عاريه كي هم اصل څيزد مالك وى.اومنافع ترې هغه څوك اخلي.چاته چې ئې په عاريه وركړې وى﴾

وَلِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى التَّصَدُّقِ بِالْغَلَّةِ دَائِمًا وَلَا تَصَدُّقَ عَنْهُ إِلَّا بِالْبَقَاءِ عَلَى مِلْكِهِ،

ژباړه وتشريح:- اوبله دا ده چې دې ﴿واقف﴾ محتاج دې صدقې كولومحاصلو ﴿دوقف﴾ ته هميشه لپاره ﴿ځكه چې دې خوئې په خپله بنه نشى راوستې﴾ اونه دى ممكن صدقه كول دهغې ﴿وقف﴾ نه مګرپه پاته پاتې كيدوسره په ملك دده ﴿واقف كي يعنى واقف په هغه صورت كي دوقف منافع صدقه كولې شى.چه وقف دده په ملكيت كي پاته وى.اوچه پاته نه وى.نودبل مال صدقه كولواختيار خو چاته نشته﴾

وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ أَنْ يُزَالَ مِلْكُهُ، لَا إِلَى مَالِكٍ لِأَنَّهُ غَيْرُ مَشْرُوعٍ مَعَ بَقَائِهِ كَالسَّائِبَةِ.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې ممكن نه ده چې زائله شى ملك دده ﴿واقف﴾ نه مالك ته ﴿يعنى دا ممكن نه ده.چه د واقف ملكيت دې د وقف نه ختم شي.اودبل چا په ملكيت كي داخل نشى﴾ بلكه دا چې دا غيرمشروع دى سره دبقاء د دې ﴿څيز﴾ نه ﴿يعنى دا جائزنه دى.چه يوڅيزدې وى.اودهغې مالك نه وى.بلكه قانون دا دې.چه يوڅيزديوكس دملكيت نه اوځى.نودبل په ملكيت كي به داخليږى﴾ پشان د سائبه ﴿يعنى لكه څنګه چې سائبه د ملك نه نه اوځى.اګرچه دهغې نه نفع اخستل به حرامه وه.سائبه دجاهليت د زمانې يوې عقيدې ته اشاره ده.هغه دا چې په زمانه دجاهليت كي به كله څوك په مرض كي وو.يا به په سفروو.وغيره اودا به ئې اووئيل.كه زه د مرض نه جوړ شم.نوزما حيوان (څاروې) دې آزاد وى.يا كه زه د سفرنه په خيرخپل وطن ته اورسيدم .نو زما حيوان (څاروې) دې آزاد وى.نوچه كله به دې روغ شو.يا به دسفرنه واپس شو.نوهغه حيوان (څاروې) به ئې د كارنه آزاد كړلو.اونه به پرې كاركولې شو.اونه به پرې سورلى كولې شوه.نه به ترې شيدې لوشلې شو.خوددې باوجود به د دغه كس دملكيت نه نه وتله.نودغه شان چې څوك وقف اوكړى.نووقف څيزدهغه د ملكيت نه نه اوځى .اګرچه منافع هغه په خپله فائده نشى راوستې كذا فى البنايه﴾

بِخِلَافِ الْإِعْتَاقِ لِأَنَّهُ إِتْلَافٌ، وَبِخِلَافِ الْمَسْجِدِ لِأَنَّهُ جُعِلَ خَالِصًا لِلّٰهِ تَعَالَى وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ الِانْتِفَاعُ بِهِ، وَهٰهُنَا لَمْ يَنْقَطِعْ حَقُّ الْعَبْدِ عَنْهُ فَلَمْ يَصِرْ خَالِصًا لِلّٰهِ تَعَالَى.

حل اللغة: ① اتلاف:هلاكول ② الانتفاع:نفع اخستل ③ ينقطع:ختمي ږى

ژباړه وتشريح:- ﴿اوكه څوك دا اعتراض كوى.چه تاسو چې دا وائې،چه يوڅيزوقف كړې شى.نودا دواقف د ملكيت نه اوځى.اودبل چا په ملكيت كي نه داخليږى.اوددې لپاره په شريعت كي نظير نشته. نودا خبره

غلطه ده.ځكه چې غلام ازاد شي.نودمولى د ملكيت نه اووتلو.اودبل چا په ملكيت كې داخل نه وى.نوددې نه ځواب كوو.چه﴾ په خلاف د غلام آزادولو،ځكه چې دا ﴿آزادول﴾ خوهلاكت ﴿يعنى د مملوكيت د صفت ساقط كول﴾ دى. ﴿ اوصاحبين چې دا فرمائى.چه وقف د واقف دملكيت نه اووتلو.اودالله تعالى په ملكيت كې داخل شو.اوبيا ئې ددې لپاره مقيس عليه جمات خودلې وو. چې جمات دالله تعالى كور دې.اوپه بندګانوكې پرې دچا ملكيت نشته.نوامام ابوحنيفه رحمه الله دهغې نه ځواب كوى.چه﴾ په خلاف د جمات ﴿په دې قياس صحيح نه دې﴾ ځكه چې دا ﴿جمات﴾ ګرځولې شوې دې خالص دالله تعالى لپاره اوددې وجې ﴿چه دا خالص دالله تعالى لپاره ګرځولې شوې.بنده ته په كې دتصرف هيڅ حق نشته.او﴾ جائزنه دى نفع اخستل ددې ﴿جمات﴾ نه ﴿دهيڅ چا دپاره،تردې چې كوم ځيزدجمات دزمكې نه حاصليږى.هغه به هم په جمات باندې خرچ كولې شى﴾ اوپه دې ځائې كې ﴿چه مسئله د وقف ده﴾ نه دې ختم شوې حق د بنده ددې ﴿وقف﴾ نه ﴿ځكه چې واقف كوم شى وقف كړى.مثلاً زيد د خلګو لپاره يوه مسافرخانه وقف كړله.نودې په خپله هم په هغې كې شپه كولې شى.اواوسيدې شى.ځكه چې دده حق ترې بيخى ختم شوې نه دې﴾

قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ فِي الْكِتَابِ: لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ إِلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ، وَهَذَا فِي حُكْمِ الْحَاكِمِ صَحِيحٌ؛ لِأَنَّهُ قَضَاءٌ فِي مُجْتَهَدٍ فِيهِ،

ژباره وتشريح:- فرمائى ﴿مصنف﴾ رحمه الله فرمائى ﴿صاحب دقدورى﴾ په كتاب ﴿قدورى﴾ كې چې نه زائله كيږى ملك دواقف ﴿دوقف نه﴾ مګردا چې حكم اوكړى په دې ﴿وقف﴾ باندې حاكم ﴿دقاضى د حكم صورت به دا وى. چې زيد يوځيزوقف كړلو.اويوكس ئې پرې متولى مقرركړلو.اوددې وقف نه روسته بيا د متولى نه د وقف د واپسئ مطالبه كوى.نوهغه د وركولونه انكاراوكړى.اوجګړه قاضى ته لاړه شى. اوقاضى د وقف فيصله اوكړى﴾ اويا ئې معلق كړې په مرګ خپل پورې ﴿يعنى واقف داسې اووائى. چې دا ځيزدې زما د مرګ نه روسته وقف وى﴾ اودا ﴿خبره﴾ په حكم د حاكم كې صحيح ده. ﴿ يعنى وقف هله صحيح كيږى.چه حاكم د وقف حكم اوكړى﴾ ځكه چې دا ﴿حكم دحاكم﴾ فيصله ده په يوه مجتهد فيه مسئله كې ﴿ځكه چې د امامانوپه كې اختلاف دې﴾

أَمَّا فِي تَعْلِيقِهِ بِالْمَوْتِ فَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَزُولُ مِلْكُهُ إِلَّا أَنَّهُ تَصَدَّقَ بِمَنَافِعِهِ مُؤَبَّدًا فَيَصِيرُ بِمَنْزِلَةِ الْوَصِيَّةِ بِالْمَنَافِعِ مُؤَبَّدًا فَيَلْزَمُ،

حل اللغة: ① **مؤبد:** هميشه لپاره

ژباره وتشريح:- هرچه په اړه ده تعليق كې ﴿چه وقف معلق كړى﴾ په مرګ پورې، ﴿نود دده دمرګ نه روسته د وقف نه دده ملك زائله كيږى﴾ نوصحيح قول دا دې.چه نه زائله كيږى مګردا چې صدقه به كولاى شى په منافعو ددغه ﴿وقف﴾ هميشه لپاره ﴿يعنى دامام ابوحنيفه رحمه الله نه چې نقل دى.چه يوسړې وقف په خپل مرګ پورې معلق كړى.نوچه كله دې مړشى.دغه ځيزدده د ملكيت نه اووتلو.نوپه دې روايت كې مشائخو اختلاف كړې دې.چا فرمائيلى دى.چه دا قول صحيح دې.اوچا فرمائيلى دى.نوچه دا قول صحيح نه دې. بلكه صحيح قول دا دې.چه په مرګ سره هم د واقف ملكيت د وقف نه نه زائله كيږى.البته دا ده چې ددغه وقف منافع به هميشه لپاره صدقه كولې شى﴾ نواوګرځيدلو ﴿دا وقف﴾ پشان د وصيت د منافو هميشه لپاره ﴿يعنى چې يوكس دا وصيت اوكړى.چه زما د مرګ نه روسته به زما د فلانى كوركرايه هميشه لپاره زيدچه يواجنبى سړې وى.هغه اخلى﴾ نولازميږى ﴿يعنى څنګه چې د چا لپاره دخپل ځيزد منافعو وصيت صحيح كيږى .دغه ډول دمرګ نه روسته چې د وقف كوم منافع وى.دهغې وقف هم صحيح كيږى﴾

وَالْمُرَادُ بِالْحَاكِمِ الْمُوَلَّى، فَأَمَّا الْمُحَكَّمُ فَفِيهِ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ.

ژباړه وتشريح:- اومراد د حاكم نه ﴿كوم چې صاحب دقدورئ په متن كې ذكركړې دې﴾ مولی ﴿په تشديد د لام سره﴾ دې ﴿يعنی هغه كس چې بادشاه ورته د قضاء كارپه حواله كړې وي﴾ اوهرچه محكم ﴿په تشديد د كاف سره﴾ دې. ﴿يعنی هغه كس چې په يوه خاصه واقعه كې ورته بادشاه د فريقينوپه رضا سره د فيصلې كاوه اختيار وركړې وي﴾ نوپه دې محكم كې اختلاف دمشائخودې ﴿يعنی د بعضې مشائخو په نيزدده په فيصله باندې حكم نه لازميږي.اود بعضې مشائخوپه نيزدده حكم نافذ دې.اود نفوذ قول زيات صحيح دې.دغه ډول په لنډيز كتاب كې دي﴾

وَلَوْوَقَفَ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ قَالَ الطَّحَاوِيُّ: هُوَبِمَنْزِلَةِ الْوَصِيَّةِ بَعْدَ الْمَوْتِ. وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَايَلْزَمُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَعِنْدَهُمَا يَلْزَمُهُ إِلَّا أَنَّهُ يُعْتَبَرُ مِنَ الثُّلُثِ وَالْوَقْفُ فِي الصِّحَّةِ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ،

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وقف ئې اوكړلو په مرض دمرګ خپل كې ﴿يعنی چې په كوم مرض كې دې وفات كيدلوپه هغه بيمارئ كې ئې خپل يوڅيز وقف كړلو﴾ نوفرمائيلي دی امام طحاوي رحمه الله دا په پشان د وصيت دې روسته د مرګ نه ﴿يعنی لكه څنګه چې په مرض الوفات كې څوك وصيت اوكړي. نوهغه په ده باندې لازم دې.دغه ډول كه په مرض الوفات كې يوڅيزوقف كړي.هغه هم لازم دې﴾ خوصحيح قول دا دې چه دا ﴿وقف﴾ نه لازميږي په ﴿واقف﴾ باندې په نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اوپه نيزد صاحبينو رحمهما الله لازميږي په ده ﴿واقف﴾ باندې ﴿دغه وصيت﴾ البته دومره ده چې معتبر به وي ﴿دغه وقف﴾ د دريمې برخې نه ﴿په مرض الوفات كې﴾ اووصف صحيح كيږي په زمانه د صحت كې د واړه مال نه.

وَإِذَا كَانَ الْمِلْكُ يَزُولُ عِنْدَهُمَا يَزُولُ بِالْقَوْلِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَهُوَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ بِمَنْزِلَةِ الْإِعْتَاقِ لِأَنَّهُ إِسْقَاطُ الْمِلْكِ.

ژباړه وتشريح:- اوكله چې ملك ﴿واقف﴾ زائله كيږي په نيزد صاحبينو ﴿نوبيا د ملكيت په زوال كې د صاحبينو رحمهما الله اختلاف دې.تفصيل ئې دا دې.چه﴾ زائله كيږي ﴿ملكيت د وقف نه﴾ په قول سره ﴿ابس چې دا اووائی.ما دا څيزوقف كړې دې.نوددغه څيزنه دده ملكيت ختم شو﴾ اودا ﴿زوال د ملكيت په صرف قول سره﴾ قول دامام شافعي رحمه الله دې پشان د آزادولو ﴿يعنی چې مولی خپل غلام ته اووائی.ته آزاد ئې.نوصرف په دې قول سره هغه آزاد شو.اودمولی ملكيت ختميږي.نودغه ډول په وقف كې هم چې صرف د وقف الفاظ اووائی.نودده ملكيت ختم شو﴾ ځكه چې دا ﴿اعتاق﴾ ساقط كول دملك دې. ﴿چه د مولی ملك ترې ختم شی﴾

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَابُدَّ مِنَ التَّسْلِيمِ إِلَى الْمُتَوَلِّي لِأَنَّهُ حَقُّ اللّٰهِ تَعَالَى، وَإِنَّمَا يَثْبُتُ فِيهِ فِي ضِمْنِ التَّسْلِيمِ إِلَى الْعَبْدِ.

حل اللغة: ① التسليم: سپارل ② المتولی: ذمه وار

ژباړه وتشريح:- اوپه نيزدامام محمد رحمه الله ضروری دې حواله كول ﴿دوقف څيز﴾ متولی ﴿منتظم﴾ ته ﴿يعنی داسې كس ته چې هغه ددغه وقف ذمه وار وي﴾ ځكه چې دا ﴿وقف﴾ حق دالله تعالی دې اويقيناً ثابتيږي ﴿دغه حق دالله تعالی﴾ په دې ﴿وقف﴾ كې په ضمن د حواله كولوكې بنده ته ﴿يعنی كله چې بنده ته وقف حواله كړې شی.نوددې په ضمن كښې الله تعالی ته ملكيت وركول كيږي.لكه څنګه چې يوكس نكاح اوكړي.نودنكاح په ضمن كې په خاوند باندې د ښځې نان نفقه هم ثابتيږي﴾

لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى وَهُوَمَالِكُ الْأَشْيَاءِ لَايَتَحَقَّقُ مَقْصُودًا، وَقَدْ يَكُونُ تَبَعًا لِغَيْرِهِ فَيَأْخُذُ حُكْمَهُ فَيَنْزِلُ مَنْزِلَةَ الزَّكَاةِ وَالصَّدَقَةِ

ژباړه وتشريح:- ځكه چې مالك جوړول دالله تعالی حالانكه هغه دټولوڅيزونومالك دې نه ثابتيږي ارادة ﴿يعنی كه يوكس دا اراده اوكړي.چه يوڅيزصرف دالله تعالی په ملكيت كې راشي.اوبل چاته په كې دتصرف حق نه وي.نودا خبره دالله تعالی په حق كې نه ثابتيږي.ځكه چې الله تعالی خو ديوڅيزنه هغه په خپله فائده نه اخلي.بلكه كوم څيزچه دالله تعالی لپاره شی.نود هغې نه دهغه مستحق مخلوق فائده اخلي﴾

بلكه كله ﴿ثابتېږي تمليك دالله تعالى دپاره﴾ په متابعت دبل ځيزكي ﴿يعني بعضې وخت كي داسې كيږي.چه يوحكم دخپل ذات په اعتبارسره نه ثابتيږي. خود بل ځيزپه تبعيت اوضمن كي ثابتيږي، لكه څنګه چې صرف آبادي دهغې زمكې نه بغيروقف كول جائزنه دي.خوچه كله دآبادئ سره ملګكه هم وقف كړي.نوبيا دغه وقف جائز دي﴾ نودغه ډول الله تعالى لپاره ديوځيزملكيت اصالة نه ثابتيږي.البته چې دي ته اوګوري.چه د دې ځيزنه بندګان فائده اخلي.نودبندګانود فائدې اخستلوپه ضمن كښې الله تعالى لره هم ددغـه شـي ملكيـت ثابـت شـو﴾ نـواخلي ﴿مالـك جـوړول الله تعـالى لـره﴾ حكـم ددې ﴿مالـك جوړولوغيرلره، يعنى چې بل كس دوقف شي متولي اوګرځولې شي.نودا داسې شوه.چه الله تعالى ئې ددغه ځيزمالـك اوګرځولـو .اولكـه څنګـه چې پـه بيـع او شـراء كـي دا شـرط دى.چـه بـائع بـه مـشترى تـه مبيعـه وركړى.اومشترى به ورته ثمن وركړى.نوهله به بيع ثابته شي.دغه ډول په وقف كي به هله وقف ثابتيږي.چه واقف متولي ته وقف حواله كړى﴾ نوګرځي ﴿وقف﴾ پشان د زكاة او صدقه ﴿يعني په زكاة اوصدقه كي يوځيزهله د مزكى اومصدق د ملك نه اوځي.چه فقيرتـه مـلاؤ شي.نوفقيرتـه ملاويدل داسـې دى.لكـه چې الله تعالى ته ملاؤ شو.نودغه ډول په وقف كي هم چې متولي تـه وقـف ځيزملاؤ ښي.دا داسې شوه.چه الله تعالى ته ملاؤ شو﴾

وقف ځيزدچا په ملكيت كې داخليږي ؟

قَالَ (وَإِذَاصَحَّ الْوَقْفُ عَلَى اخْتِلَافِهِمْ) وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَإِذَا اُسْتُحِقَّ مَكَانَ قَوْلِهِ إِذَاصَحَّ (خَرَجَ مِنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ وَلَمْ يَدْخُلْ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ) لِأَنَّهُ لَوْدَخَلَ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ لَايَتَوَقَّفُ عَلَيْهِ بَلْ يَنْفُذُ بَيْعُهُ كَسَائِرِ أَمْلَاكِهِ،

ژباړه وتشريح:- اوكله چې صحيح شو وقف بناء په اختلاف ددوى ﴿يعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزنه صحيح كيږي د اصل د روايت په بناء اودصاحبينو رحمهما الله په نيزصحيح كيږي﴾ اوپه بعضې نسخو ﴿دقدورى كي داسې دى﴾ اوكله چې مستحق شي په ځائې د قول د ده ﴿قدورى﴾ چې كله صحيح شي نو اوځي ﴿وقف﴾ د ملكيت د واقف نه اونه داخليږي په ملك دموقوف عليه ﴿چه په چا باندې وقف شوې وى﴾خكه چې دا ﴿وقف﴾ كه چيرته داخل شي په ملك د موقوف عليه كي نو موقوف به نه وى ﴿دغه وقف ځيز﴾ په ملك دده ﴿موقوف عليه بلكه د ده لپاره به جائز وى چې دغه شي دخپل ملكيت نه د خرڅولوهبه كولووغيره تصرفاتو سره اوباسي.نومثلاً كه موقوف عليه دغه وقف شي په چا باندې خرڅ كړى.نوهغه به موقوف نه وى﴾ بلكه نافذبه وى خرڅول دده ﴿موقوف عليه﴾ پشان د ټولو مملوك ځيزونو دده ﴿موقوف عليه يعنى لكه څنګه چې دې خپل نور مملوك شيان (ځيزونه) خرڅولي شي.دغه ډول به وقف شي هم خرڅولې شي.خو موقوف عليه په وقف كي دا تصرفات نشي كولې.نومعلومه شوه.چه وقف دده په ملكيت كي نه دې داخل﴾

وَلِأَنَّهُ لَوْمَلَكَهُ لَمَا انْتَقَلَ عَنْهُ بِشَرْطِ الْمَالِكِ الْأَوَّلِ كَسَائِرِ أَمْلَاكِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې دې ﴿موقوف عليه﴾ كه چيرته مالك شي ددې ﴿وقف﴾ نو نه منتقل كيږي دده ﴿موقوف عليه نه بل چاته﴾ په شرط د مالك اول ﴿خكه چې اولنى مالك دا شرط كړې وو.چه ددې منافع به فقراء او مستحقينو ته ملاويږي.اوهركله چې موقوف عليه دغه وقف شي خرڅ كړلو.نوبيا مشترى دهغه شي مالك شو.دفقراؤ په هغې كي څه حق پاتې نشو﴾ پشان دواړه مملوك ځيزونو دده ﴿موقوف عليه،يعنى كله چې د اول مالك شرط ته اوكتلې شي.چه هغه دا ونيلي وو.چه ددې ځيزمنافع ما فقراؤ لپاره مخصوص كړى او وقف كړى دى.نوموقوف عليه دوقف شوى شي داسې مالك نه جوړيږي.لكه څنګه چې د نورو ځيزونو مالك وى .خكه چې په نورو ځيزونوكي دې هرقسمه تصرف كولې شي.خوهركله چې په وقف كي د خرڅول هبه كاوه وغيره تصرف نشي كولې.نومعلومه شوه.چه وقف د موقوف عليه په ملكيت كي نه داخليږي﴾

قَالَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: قَوْلُهُ خَرَجَ عَنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ قَوْلُهُمَا عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي سَبَقَ ذِكْرُه

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿مصنف﴾ قول د ده ﴿ابو الحسين قدوري﴾ چې اووتلو ﴿وقف﴾ د ملك د واقف نه واجب دې چې وي ﴿دا متن﴾ بناء په قول د صاحبينو ﴿يعنى دا متن چې د ملك د واقف نه وقف اووتلو.دا د صاحبينو دقول مطابق صحيح كيږي﴾ په هغه طريقه چې تيرشوې دې بيان دهغې ﴿هغه دا چې وقف د صاحبينو وقف بندول د ذات ديوځيز دې په ملك دالله تعالى يعنى دالله تعالى په ملك كې داخل شي.او د واقف ملك دهغې نه ختم شي.اودا متن د امام ابوحنيفه په نيزنه صحيح كيږي.ځكه چې دهغوى په نيز خو وقف هغه ځيزته وائي.چه دهغې ذات د واقف په ملكيت كې وي.البته دهغې منافع به صدقه كوي﴾

دمشاع زمكې په وقف كولوكې اختلاف

قَالَ (وَوَقْفُ الْمُشَاعِ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ)(١) لِأَنَّ الْقِسْمَةَ مِنْ تَمَامِ الْقَبْضِ وَالْقَبْضُ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ فَكَذَا تَتِمَّتُهُ.

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿صاحب د قدوري﴾ او وقف د مشاع ﴿يعنى هغه زمكې چې ويش ئې نه وى شوې.بلكه دبل چا د زمكې سره خلط وي﴾ جائز دې په نيزدامام ابويوسف ځكه چې ويش د تمام د قبض خنې دې. ﴿يعنى په يوځيزباندې هله مكيت راځي.چه په هغې باندې قبضه راشي.اوپه مشاع كې قبضه هله راځي .چه ويش اوشي﴾ اوقبضه په نيزدده ﴿امام ابويوسف﴾ نه دې شرط نودغه ډول به تتمه ددې ﴿قبض چې ويش دې﴾ هم نه وى شرط ﴿يعنى دامام ابويوسف په نيزپه يوځيزباندې د ملكيت راتلو لپاره قبضه شرط نه ده.بلكه كه قبضه پرې نه وى شوې.اود متعاقدينو په مينځ كې په قول سره ايجاب اوقبول اوشي .نودمشترى ملكيت ثابت شو.اوهركله چې قبض شرط نه دې.نوكوم چې په هغې باندې قبضه پوره كيږي.چه په يومشاع ځيزكې ويش دې.نوويش هم شرط نشو.اوچه ويش شرط نه شو.نو واقف كې يومشاع مځكه وقف كړي.دغه وقف به صحيح كيږي﴾

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَجُوزُ لِأَنَّ أَصْلَ الْقَبْضِ عِنْدَهُ شَرْطٌ فَكَذَا مَا يَتِمُّ بِهِ، وَهٰذَا فِيمَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ، وَأَمَّا فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ فَيَجُوزُ مَعَ الشُّيُوعِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ أَيْضًا

حل اللغة: ① **الشيوع**:ناقابل ويش

ژباړه وتشريح:- اوفرمائي امام محمد جائزنه دې ﴿وقف دمشاع ځيز﴾ ځكه چې اصل ﴿په ملكيت كې چې په يوځيزباندې ملكيت راځي﴾ قبض دې په نيزدده ﴿امام محمد﴾ باندې شرط دې ﴿يعنى كه مشترى يوځيز واخستلو.خو په هغې باندې ئې قبضه نه وى كړې.نودده ملكيت ثابت نه دې﴾ نودغه ډول به شرط وى هغه شى چې تتمه ددې ﴿قبض﴾ ده ﴿چه ويش دې.اوپه مشاع كې ويش لانه وى شوې.نولكه څنګه چې دهغې خرڅول صحيح نه دى.دغه ډول دهغې وقف هم صحيح نه دې﴾ اودا ﴿جواز د وقف﴾ په هغه شى كې دې چې احتمال لري د ويش ﴿لكه داسې مځكه وى.چه ويش كيداې شي.اوكله ويش شي.نود هرې يوې برخې نه فائده اخستې شي﴾ اوهرچه هغه ځيزچه احتمال نه لري د ويش نو جائز دې ﴿په هغې كې وقف﴾ سره د شيوع نه په نيزدامام محمد هم ﴿يعنى امام ابويوسف خوپه هغه مځكه كې دوقف د جواز قائل دې. چې مشاع وى.كه ويش شوې وى اوكه نه وى.اوكه ويش كيداې شي اوكه نشي.اوامام محمد د هغه ځيزد وقف قائل نه دې.چه ويش شوې نه وى.خواحتمال د ويش لري. اوكه دويش احتمال نه لري. ﴿مثلاً يو مشينري وى.چه هغه نشي ويش كيدې.ځكه چې تقسيموى ئې اوځه پرزې يواځلې.اوځه بل نو د دواړو د كارنه اوځي.نوپه داسې ځيزكې

---

[١] القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف كذا فى مجمع الأنهر(١\٧٤٣) والخانية (٤\٣٠٣) والهندية (٢\٣٦٥) وشرح عقود (ص،٨٩) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٢٣)-

دامام محمد رحمه الله په نيزهم وقف جائزدي»

لِأَنَّهُ يُعْتَبَرُ بِالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ الْمُنَفَّذَةِ

ژباړه وتشريح:- ځكه چې دې «امام محمد» رحمه الله قياس كوى «دا وقف شائع» په هبه «يعنى لكه څنګه چې په داسې مشاع كې چې ويش نه قبلوى هبه جائزده.دغه ډول په كې وقف هم جائز دي» اوپه صدقه منفذه باندې «يعنى لكه څنګه چې دمشاع شى چې تقسيمدې نشى صدقه كول جائزدى.دغه ډول د مشاع ناقابل ويش څيزوقف هم جائزدي»

إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ وَالْمَقْبَرَةِ، فَإِنَّهُ لَا يَتِمُّ مَعَ الشُّيُوعِ فِيمَا لَا يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ أَيْضًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ،

ژباړه وتشريح:- مګر «وقف دمشاع ناقابل ويش شى لكه زمكې نه صحيح كيږي» لپاره د جمات اومقبره «يعنى كه مشاع ناقابل ويش مځكه د جمات يا د مقبرې لپاره وقف كړي.نودا وقف نه صحيح كيږي» ځكه چې دا «وقف» نه پوره كيږي سره د شيوع نه په هغه څه كې چې احتمال د ويش نه لرى هم په نيزدامام ابويوسف رحمه الله «يعنى دامام ابويوسف رحمه الله په نيزاګرچه د نورو څيزونو لپاره وقف په مشاع ناقابل ويش كې هم صحيح كيږي.ليكن دجمات يا مقبرې لپاره وقف په داسې څيزكې نه صحيح كيږي.چه هغه تقسيمېدې نشى»

لِأَنَّ بَقَاءَ الشَّرِكَةِ يَمْنَعُ الْخُلُوصَ لِلَّهِ تَعَالَى،

ژباړه وتشريح:- ځكه چې پاته پاتې كيدل د شركت منع كوى خالص كيدل «دوقف څيز» لپاره دالله تعالى «يعنى د صاحبينو رحمهما الله په نيزچونكه وقف دې ته وائى.چه يوڅيزواقف دخپل ملكيت نه اوباسى.او دالله تعالى لپاره ئې اوګرځوى.نودا تعريف د نوروڅيزونو لپاره لكه دهسپتال لپاره يوه مشينرى وقف كړي.خودغه مشينرى مشتركه وى.اوښكاره خبره ده چې په مشينرئ كې ويش نه كيږي.خوبيا هم په دې كې وقف جائز دې.ځكه چې داسې هم كيداي شى.چه يوه مياشت مشينرى په هسپتال كې استعماليږى اويوه مياشت چې په كې دچا برخه وى.هغه ئې استعمالوى.خود جمات اومقبرې لپاره چې كومه مځكه وقف كړې شى. نو ښكاره چې هغه خالص دالله تعالى لپاره وى.په هغې كې دبل چا برخه نه وى.ځكه چې الله تعالى په سورة جن كې فرمائيلي دى.جماتونه خاص دالله تعالى لپاره دى.نوكه موږ په مشاع ناقابل ويش مځكه كې دجمات يا دمقبرې لپاره وقف صحيح اوګرځوو.نودغه جمات او مقبره خالص دالله تعالى لپاره نشوه»

وَلِأَنَّ الْمُهَايَأَةَ فِيهِمَا فِي غَايَةِ الْقُبْحِ بِأَنْ يُقْبَرَ فِيهِ الْمَوْتَى سَنَةً، وَيُزْرَعَ سَنَةً وَيُصَلَّى فِيهِ فِي وَقْتٍ وَيُتَّخَذَ إِصْطَبْلًا فِي وَقْتٍ،

حل اللغة: ① المهاياة:نوبت ② اصطبل:د څاروو غوجل،په كوم ځائې كښې چې څاروى تړلى شى

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې نوبت كول په دې دواړو «جمات اومقبره» كې ډيره بده خبره ده. «دنوبت صورت به دا وى» په داسې شان چې ښخولى شى په دې «د مقبرې په مځكه» كې مړى يوكال «ځكه چې واقف دا مځكه د مقبرې لپاره وقف كړې ده اوكرلى شى په دې كې فصل بل كال «يعنى چې دچا په دغه مځكه كښې حصه وى.هغه ترې مړى راوباسى اوفصل په كې اوكرى.حالانكه د مړوتعظيم پكاردې.اوچه ديوكال نه روسته د مړو هډوكى راويستې شى.نوپه دې كې دهغوى توهين اوسپكاوې دې،اودغه ډول په جمات كې به د نوبت صورت دا وى.چه» لمونځ كولاى شى په دې كې په يووخت كې «ځكه چې دا وقف وى.هغه په كې دڅاروو لپاره ځائې جوړ كړي.اوڅاروى په كې اودروى»

بِخِلَافِ الْوَقْفِ لِإِمْكَانِ الِاسْتِغْلَالِ وَقِسْمَةِ الْغَلَّةِ

حل اللغة: ① الاستغلال منافع

ژباړه وتشريح:- په خلاف د وقف «د شائع ناقابل ويش څيز،يعنى كوم څيزچه ناقابل ويش وى.نودجمات او

مقبرې نه علاوه دبل څه لپاره كه هغه شي.نوهغه جائزدي﴾ د امله دامكان د حاصليدو دمنافو اودويش د منافو ﴿مثلاً يومشين وقف كړي.نودمشين نه ګټه حاصليدې شي.اوبيا هغه ګټه تقسيمېدې شي.چه څه ګ نې هغه څوك واخلي.چه هغه په كي برخه وي.اوڅه ګټه كومه چې د وقف وي،هغه د وقف په مصارفو باندې خرچ كړې شي﴾

وَلَوْوَقَفَهُ الْكُلَّ ثُمَّ اسْتُحِقَّ جُزْءٌمِنْهُ بَطَلَ فِي الْبَاقِي عِنْدَ مُحَمَّدٍ لِأَنَّ الشُّيُوعَ مُقَارِنٌ كَمَا فِي الْهِبَةِ،

ژباړه وتشريح:- اوكه وقف كړي واړه ﴿مشاع مځكه﴾ بيا مستحق شو ﴿يوكس﴾ د يوې برخې ددغه ﴿يوې زمكې﴾ نوباطل شو ﴿وقف﴾ په پاته كې ﴿پس د استحكام نه ،په نيزدامام محمدﷺ ﴿مثلاً يوكس يوجيرب مځكه وقف كړله.اوبيا په دغه مځكه باندې چا دعوى اوكړله.په په دې كي لس مرلې زما ده.اوقاضي دهغه په حق كي فيصله اوكړله.نوپه دې صورت كي په پاته اويا مرلوكي هم دامام محمدﷺ په نيزوقف باطل شو﴾څكه چې شيوع يوځائې وو ددې ﴿قبض﴾ سره ﴿څكه چې په كوم وخت كي واقف وقف كولونوپه هغه وخت كي په دغه وقف مځكه كي دمستحق حق ثابت وو.نوپه دغه مځكه كي قبض رانغلو. حالانكه دامام محمدﷺ په نيزد وقف دصحت لپاره د وقف ځيزقبض شرط دې.نوهركله چې شرط موجود نشو.نوپه پاته برخه كي چې اويا مرلې دى.هم وقف صحيح نشوځكه چې شرط مفقود دې﴾ لكه څنګه چې په هبه ﴿دمشاع ځيزكي وى. ﴿يعنى كه يوكس يومشاع ځيزهبه كړلو.اودهبه كولونه روسته په هغې كي يوبل مستحق پيدا شو .چه دهغه په كي هم برخه وه.نودغه هبه باطله شوه﴾

بِخِلَافِ مَاإِذَارَجَعَ الْوَاهِبُ فِي الْبَعْضِ أَوْرَجَعَ الْوَارِثُ فِي الثُّلُثَيْنِ بَعْدَ مَوْتِ الْمَرِيضِ وَقَدْوَهَبَهُ أَوْأَوْقَفَهُ فِي مَرَضِهِ وَفِي الْمَالِ ضِيقٌ،

ژباړه وتشريح:- په خلاف دهغه صورت چې رجوع اوكړي واهب په بعضې برخه كي ﴿مثلاً نيمه برخه واپس كړي.نوپه دې واپس كولوباندې د پاته نيمې برخې هبه نه باطليږى﴾ اويا رجوع اوكړي وارث په دوو برخو كي روسته د مرګ د مريض نه حالانكه هغه نې هبه كړى هغه ﴿موهوب له﴾ ته ﴿مثلاً يوكس په خپل مرض الوفات كي زيد ته دولس زره روپۍ هبه كړې،اوكله چې دې مړ شى.نودده وارث د موهوب له نه اته زره روپۍ واپس واخلي﴾ اويا ﴿واقف﴾ وقف كړي وى په مرض ﴿الوفات﴾ خپل كي ،اوحال دا وى په مال كي كمى ﴿مثلاً ددغه مړي صرف دغه مال وو.كوم چې نې زيد ته هبه كړې دې.نورمال نې نه وو،نوپه ذكرشوى مثال كي كه تږي دهغه وراثانو اته زره روپۍ واپس واخستلې.په دې باندې دغه هبه نه باطليږي.بلكه هغه څلور زره روپۍ هغه ته په هبه كي پاتې شوې،دغه ډول د وقف په صورت كي كه وارث د وقف شوى شي دوې [دوه] برخې واپس كړي.اويوه برخه هم وقف پريږدى.نودا صحيح ده.اوپه دې باندې د دريمې برخې وقف نه باطليږى﴾

لِأَنَّ الشُّيُوعَ فِي ذٰلِكَ طَارِئٌ.

حل اللغة: ① الطارئ: عارضى

ژباړه وتشريح:- څكه چې شيوع په دې ﴿مځكه﴾ كي روسته راغلې ده ﴿د مرګ د واهب اود واقف نه،اوپه مخكنى صورت كي چې په كوم وخت كي واقف وقف كولو،نوپه هغه وخت كي په كي دمستحق برخه وه.صرف دومره وه.چه هغه دعوى نه وه كړې.نوځكه په پاته شائع مځكه كي وقف باطل شو. او په موجوده دوو صورتونوكي شيوع د واهب اود واقف د مرګ نه روسته راغلې ده.نوپه دواړو صورتونو كي توپير راغلو.څكه نې په حكم كي هم توپير دې.چه په اولنى صورت كي په پاته كي وقف باطل شو.اوپه روستنو دوو صورتونوكي هبه او وقف نه باطليږى﴾

وَلَوِاسْتُحِقَّ جُزْءٌمُمَيَّزٌبِعَيْنِهِ لَمْ يَبْطُلْ فِي الْبَاقِي لِعَدَمِ الشُّيُوعِ وَلِهٰذَاجَازَفِي الِابْتِدَاءِ،وَعَلٰى هٰذَاالْهِبَةُ وَالصَّدَقَةُ الْمَمْلُوكَةُ

ژباړه وتشريح:- اوكه مستحق شي ﴿يوكس په يوه مځكه كي﴾ ديوي برخي معيني ﴿مثلاً شل مرلئ مځكه ده. اوپه هغي كي يو اړخ ته صرف پنځه مرلي دچا اوختلي،نوپه دي صورت كي﴾ نه باطليږي ﴿وقف﴾ په پاته برخه كي د امله د عدم شيوع نه ﴿ځكه كومه برخه چي په دغه وقف مځكه كي دچا راختلي ده. نو هغه جلا ده.ددي زمكي سره ګډه نه ده.اګرچه په محل وقوع كي دي سره يوځائي ده.خوپه كاغذاتوكي دهغي حد بندى شوي ده.نوشائع نشوه،نوپه پاته كي وقف صحيح شو﴾ اوددي امله ﴿چه دغه مځكه كي شيوع نشته﴾ جائزدي وقف كول ﴿ددغه مخصوص حصي﴾ په اول د وقف كي ﴿يعني كه وقف لانه وى شوي.اومخصوص برخه په كي دبل چا وه.اوپاته چي كومه برخه پاتي كيدله.هغه خپل مالك وقف كوله.نوجائزبه وه.نودغه ډول كه روسته ددغه مخصوص برخي مالك پيدا شو.هم به وقف صحيح وى﴾ اوپه دي حكم باندي هبه او هغه صدقه ده چي مملوكه وى ﴿دفقير،مثلاً زيد بكرته سل روپئ هبه كړي يا ئي ورته سل روپئ صدقه كړي.او روسته پته اولګيدله.چه په دغه سلو روپوكي پنځوس روپئ د خالد وي.نوخالد به خپلي پنځوس روپئ واپس واخلى.اوپنځوس روپئ به بكرته پاتي شى.دا نه چي دهغه پنځوسو روپو هبه اوصدقه صحيح نشوه.نود دي نورو دي هم صحيح نه وى﴾

د وقف تمام كيدل

قَالَ: وَلَا يَتِمُّ الْوَقْفُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ حَتَّى يَجْعَلَ آخِرَهُ بِجِهَةٍ لَا تَنْقَطِعُ أَبَدًا.

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿صاحب دقدوري﴾ رحمه الله اونه پوره كيږي وقف په نيزدامام ابوحنيفه اومحمد رحمهما الله تردي چي مقرركړى په آخردهغي ﴿وقف﴾ كي داسي يومصرف چي نه ختميږي هميشه لپاره ﴿اوهغه داسي مصرف نه وى.چه يوځل په كي خرچ كړي شي.اوبيا په هغي كښي د خرچ كولوموقع نه وى.بلكه چي همشيه لپاره مصرف وى.مثلاً چي دا اووائى.دا مال دي د دينى مدارسو د طالبانوپه تعليم باندي خرچ كړي شي. نو هر كله چي دغه مال په دينى علم كي اولګى.نودا داسي سلسله ده.چه كله هم نه ختميږي. بلكه د دوى شاګردان به پيدا شي.اوبيا به د هغوى شاګردان پيدا شي.اودغه ډول به دا سلسله د علم خوريدو روانه وى.او واقف ته به ثواب رسى﴾

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إِذَا سَمَّى فِيهِ جِهَةً تَنْقَطِعُ جَازَ وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ.(1)

ژباړه وتشريح:- اوفرمائى امام ابويوسف رحمه الله كله چي ياد كړى په دي كي يومصرف چي ختميږي ﴿اوهغه مصرف هميشه لپاره نه وى.نوهم﴾ جائزدي اوګرځي ﴿دغه وقف ځيز﴾ روسته ددغه ﴿مصرف د ختميدو نه﴾ لپاره د فقيرانو اګرچه نه ئي وى ياد كړي دوى ﴿يعنى فقيران، يعنى دا ئي نه وى وئيلي.چه كله دا مصرف ختم شي.نوبيا دي دا وقف مال په فقيرانو باندي خرچ كولي شى، مثلاً داسي اووائى.چه زموږ په جمات كي په دي رمضان كي څومره مسافرافطاركوى.نوپه هغوى باندي دي خرچ كړي شى.نوپه دغه رمضان كي به په روژه دارو باندي خرچ كړي شى.اوچه كله كوژه شى.نوبيا به په عامو فقيرانوباندي خرچ كولي شى﴾

لَهُمَا أَنَّ مُوجَبَ الْوَقْفِ زَوَالُ الْمِلْكِ بِدُونِ التَّمْلِيكِ وَأَنَّهُ يَتَأَبَّدُ كَالْعِتْقِ، فَإِذَا كَانَتِ الْجِهَةُ يُتَوَهَّمُ انْقِطَاعُهَا لَا يَتَوَفَّرُ عَلَيْهِ مُقْتَضَاهُ، فَلِهَذَا كَانَ التَّوْقِيتُ مُبْطِلًا لَهُ كَالتَّوْقِيتِ فِي الْبَيْعِ.

حل اللغة: ① التوقيت وخت مقرر كول ② يتوفر تمام (پوره) تمام (پوره) حاصلولي شي

ژباړه وتشريح:- دطرفينو رحمهما الله لپاره دليل دا دي.چه موجب ﴿حكم﴾ د وقف زوال د ملك دي ﴿چه دواقف د ملكيت نه وقف ختم شى﴾ بغيرد تمليك ﴿مالك جوړولودبل چا﴾ نه ﴿يعنى وقف د واقف د ملك نه

(1) القول الراجح هوهذا قول أبى يوسف رحمه الله كذا فى الدرالمنتقى (١\٧٤٢) والبحرالرائق (٥\١٩٧) والخلاصة (٤\٤٢١) ورد المحتار(٣\٤٠١) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٢٤)-

اوځي. خودبل چا په ملكيت كي هم نه داخليږي﴾ اودا ﴿زوال د ملك بغيردتمليك نه﴾ هميشه لپاره وي.
﴿دا نه چي دڅه وخت لپاره ترې د واقف ملك زائله شي.اوبيا ورته واپس شي﴾ پشان د عتق ﴿ځكه چي غلام آزاد شي.نود مولى ملك هميشه لپاره زائله شو.دوباره ئې په دغه غلام باندې ملكيت نشي راتلى﴾ نوهركله چي وى مصرف هغه ﴿چه متعين كړى وى واقف لپاره د وقف﴾ چي ګمان كيداي شي ﴿مصرف﴾ نو نه پوره كيږي د هغې ﴿ختميدونكى مصرف﴾ نه مقتضا ﴿دوقف ځكه چي د وقف مقصد خو دا وى.چه هميشه لپاره واقف ته د هغې ثواب رسى﴾اوددې وجې ﴿چه مقتضا دوقف هميشوالي دې﴾دې وقت مقرركول ﴿په وقف كي﴾ باطلونكې ددې ﴿وقف لپاره ،مثلاً يوكس د لسو كالو لپاره يوځيزوقف كړلو.نودغه وقف نه صحيح كيږي.بلكه په دې موده مقرركولوسره وقف باطل شو﴾ لكه وخت مقرركول په بيع كي ﴿مثلاً كه زيد بكرته اووائى.چه ما په تاباندې دا شى مثلاً د لسو ورځو لپاره خرڅ كړلو.نودا توقيت صحيح نه دې.بيع نه صحيح كيږي﴾

ضروري تشريح:- البته دلته د ماتن په قول باندې اعتراض كيږي.چه په متن كي فرمائى.دطرفينو رحمهما الله په نيزد واقف دملكيت نه وقف اوځى،اودبل چا په ملكيت كي نه داخليږي.حالانكه وړاندې تيرشو.دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په وقف كي وقف ځيزد واقف د ملكيت نه نه اوځى.بلكه دهغې چي كوم منافع دى.هغه په وقف وى.نوعلماؤ ددې نه دا ځواب كړې دې.چه كيداي شي.دامام ابوحنيفه رحمه الله نه دوې [دوه] روايتونه وى.په يوروايت كي دا وى.چه د واقف د ملكيت نه وقف نه اوځى.اوپه بل روايت كي دا وى.چه د واقف ملكيت نه وقف اوځى.نودلته دوهم روايت ذكرشوې وى،يا ترې ځواب دا دې.چه په دې كي هغه صورت مراد دې.چه كله حاكم د وقف د صحت اودهغې د لزوم حكم اوكړى.نوپه دغه وخت كي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزباندې هم وقف د واقف د ملكيت نه اوځى﴾

وَلِأَبِي يُوسُفَ أَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ التَّقَرُّبُ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى وَهُوَ مُوَفَّرٌ عَلَيْهِ، لِأَنَّ التَّقَرُّبَ تَارَةً يَكُونُ فِي الصَّرْفِ إِلَى جِهَةٍ تَنْقَطِعُ وَمَرَّةً بِالصَّرْفِ إِلَى جِهَةٍ تَتَأَبَّدُ فَيَصِحُّ فِي الْوَجْهَيْنِ

حل اللغة: ① التقرب:نزيكت حاصلول ② تتابد:هميشوالي اختياروى

ژباړه وتشريح:- اودامام ابويوسف رحمه الله لپاره دليل دا دې.چه مقصود ﴿دوقف﴾ نزديكت حاصلول دى الله تعالى ته اودا ﴿تقرب الى الله﴾ پوره كيږي په دې ﴿باندې چي وقف د داسې شى لپاره اوكړى.چه هغه ختميږي﴾ ځكه چي نزديكت ﴿الله تعالى ته﴾ كله وى په خرڅ كولوپه داسې مصرف كي چي ختميږي اوكله وى په خرڅ كاوه كي چي هميشه وى. ﴿يعنى كه په دائمى مصرف كي خرڅ كړې شى.اوكه په غيردائمى په دواړو صورتونو كي تقرب الى الله حاصليږي.اګرچه په غيردائمى مصرف كي دتقرب سلسله جارى نه وى﴾ نوصحيح كيږي ﴿وقف﴾ په دواړو صورتونو كي ﴿كه مصرف دائمى وى اوكه غيردائمى وى﴾

وَقِيلَ إِنَّ التَّأْبِيدَ شَرْطٌ بِالْإِجْمَاعِ، إِلَّا أَنَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يُشْتَرَطُ ذِكْرُ التَّأْبِيدِ لِأَنَّ لَفْظَةَ الْوَقْفِ وَالصَّدَقَةِ مُنْبِئَةٌ عَنْهُ لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ إِزَالَةُ الْمِلْكِ بِدُونِ التَّمْلِيكِ كَالْعِتْقِ،

ترجمه وتشريح:- او وئيلي شوى دى چي تابيد ﴿هميشوالي د مصرف﴾ شرط دې په اجماع سره ﴿په مينځ د ټولو امامانو﴾ البته دومره ده چي په نيزدامام ابويوسف رحمه الله نشي شرط كولي ذكرد تابيد ﴿چه د وقف كولوپه وخت كي داسې اووائى.چه دا ځيزوقف كي د داسې كار لپاره چي دهغې نفع هميشه لپاره وى﴾ ځكه چي لفظ د وقف اوصدقې اګاهي وركوى ددې ﴿تابيد ،يعنى د وقف اوصدقه د لفظ په مفهوم كي دا خبره پرته ده. چي وقف اوصدقه به هميشه لپاره وى﴾ دهغه امله چي موږ ذكركړله چي دا ﴿وقف﴾ زائله كيدل د ملك ﴿دواقف﴾ دى بغيردتمليك ﴿مالك جوړولودبل چا﴾ نه،

وَلِهَذَا قَالَ فِي الْكِتَابِ فِي بَيَانِ قَوْلِهِ وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ، وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ،

ژباړه وتشریح:- اوددې امله فرمائیلی دی «ابو الحسین قدوری په مختصر القدوری کې» په بیان د قول دده «امام ابویوسف» کې چې اوګرځیدلو «وقف» روسته ددې «ختمیدو د مصرف نه» لپاره د فقیرانو، اګرچه یادکړې ئې نه وی دوی «فقیران، یعنی ددې عبارت نه دا معلومیږی.چه دامام ابویوسف رحمه الله په نیزباندې هم په وقف کې تابید اوهمیش والې شرط دې.دا نه چې د څه وخت لپاره وقف وی.اوبیا واقف ته راواپس شی.ځکه چې په دغه تیرشوی متن کې ابو الحسین قدوری رحمه الله دابویوسف رحمه الله قول ذکرکړې دې.که چیرته په داسې مصرف باندې وقف اوشی.چه هغه ختم شی.نو د هغې دختمیدو نه روسته به ددغه وقف منافع په فقیرانوباندې تقسیمولې شی.ددې نه دا معلومه شوه.چه دامام ابویوسف رحمه الله په نیزباندې هم په وقف کې تابید شرط دې.ګنې که شرط نه ووابو یوسف رحمه الله به داسې نه فرمائیل.چه د مصرف ختمیدونه روسته به فقیرانوته ورکولې شی.بلکه داسې به ئې فرمائیلې وو.چه دمصرف د ختمیدو نه روسته به وقف ،واقف ته واپس کیږی» هم دا خبره «چه دامام ابویوسف رحمه الله په نیزباندې هم په وقف کې تابید شرط دې» صحیح ده.

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ ذِكْرُ التَّأْبِيدِ شَرْطٌ لِأَنَّ هَذَا صَدَقَةٌ بِالْمَنْفَعَةِ أَوْ بِالْغَلَّةِ، وَذَلِكَ قَدْ يَكُونُ مُؤَقَّتًا وَقَدْ يَكُونُ مُؤَبَّدًا فَمُطْلَقُهُ لَا يَنْصَرِفُ إلَى التَّأْبِيدِ فَلَا بُدَّ مِنْ التَّنْصِيصِ.

حل اللغة: ① **المنفعة** فائده ② **الغلة** محاصل ③ **التنصيص** دیوڅیزصراحت کول

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزدامام محمد رحمه الله ذکرد تابید «چه همیشه لپاره ما دا څیزوقف کړلو» شرط دې ځکه چې دا «وقف» صدقه کول دی په منفعت «د وقف څیز،لکه کورکې وی.اودهغې نه استوګنې فائده اخستې شی» اویا دمحاصلو «مثلاً مځکه وی.اوپه هغې کې فصل کیږی» اودا «د وقف نه فائده اخستل یا د هغې، پیداوارحاصلول» کله وی وختی «دڅه وخت دپاره» اوکله وی همیشه دپاره،نومطلق وقف «چه د تابید ذکرپه کې نه وی شوې» نه به شی اړولې تابید ته «یعنی چې په وقف کې ئې دا نه وی ونیلې.چه ما دا څیزهمیشه لپاره وقف کړلو.نوهمیشه لپاره به وقف نه وی» نوضروری شو ذکرکول «د همیشوالی»

دغیر منقول څیزدوقف جواز

قَالَ (وَيَجُوزُ وَقْفُ الْعَقَارِ) لِأَنَّ جَمَاعَةً مِنْ الصَّحَابَةِ رِضْوَانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ وَقَفُوهُ

ژباړه وتشریح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری» رحمه الله اوجائزده وقف د عقار «هغه مځکه چې دیوځائې نه بل ځائې ته نقل کیدای نشی» ځکه چې یوې ډلې دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه وقف کړې وه دا «عقار»

ضروری تشریح:- امام حاکم دحضرت زیدبن ارقم رضی الله عنه د خوی نه روایت کړې دې.چه زما د پلار په صفا غرباندې یوکور وو.په هغې کې به نبی ﷺ دخپلو ملګرو سره جمع کیدل.اوهغوی ته به ئې داسلام دعوت ورکولو،هم په دې کورکې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه هم ایمان راوړې وو.اودې ته به دارالاسلام ونیلې شو.روستو دا کورزیدبن ارقم رضی الله عنه په خپلوخامنوباندې وقف کړلو.دغه ډول امام طبرانی نقل کړی دی.چه حضرت عثمان رضی الله عنه په پنځه دیرش زره روپۍ باندې بیررومه واخستلو او وقف ئې کړلو. د حضرت زبیر رضی الله عنه د وقف ذکرپه صحیح بخاری کې راغلې دې دغه ډول حضرت ابوبکرصدیق حضرت عمراوحضرت علی رضی الله عنهم خپلې زمکې وقف کړې وې.

دنقلي څیزونود وقف عدم صحت

(وَلَا يَجُوزُ وَقْفُ مَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ) قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَهَذَا عَلَى الْإِرْسَالِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ (وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إذَا وَقَفَ ضَيْعَةً بِبَقَرِهَا وَأَكَرَتِهَا وَهُمْ عَبِيدُهُ جَازَ)(١) وَكَذَا سَائِرُ آلَاتِ الْحِرَاسَةِ لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْأَرْضِ فِي تَحْصِيلِ مَا هُوَ الْمَقْصُودُ،

(١) القول الراجح هو هذا قول أبی یوسف رحمه الله كذا فی الدرالمختار(٤٠٨\١٣) وفتح القدير(٤٣٠\١٥) والخانية (٣٠٩\١٤) ورد المختار (٤) نقلاً عن القول الراجح (٥٢٤\١)-

حل اللغة: ① ضيعة: پټي ② بقر: غويان ③ الحراثة: كركرونده، زمينداري
زباړه وتشريح:- اوجائزنه دي وقف دهغه څه چې نقل كيږي اوارولې شي. فرمائي ﴿مصنف﴾ اودا ﴿قول دعدم جواز﴾ مطلقاً قول دامام ابوحنيفه دي. اوفرمائي امام ابويوسف كله چې وقف كړي كښت سره د هغې دغويانواوكركونكوسره چې هغوي ﴿كركونكي﴾ غلامان وي، نوجائزدي ﴿وقف﴾ اودغه ډول واړه اوزارد زميندارئ دي ﴿يعني دامام ابويوسف په نيزكه كښت وقف كړي. نوكښت خوچونكه غيرمنقول دي. ددي وقف خوصحيح دي. خوكه دپټي سره هغه سامان هم وقف كړي. په كوم باندې چې په پټي كې زمينداري كولې شي. لكه د قلبې لپاره غويان شول، اودغه ډول نورد زميندارئ سامان نوداد زميندارئ اوزاراګرچه منقول دي. ﴾ ځكه چې دا ﴿شيان (څيزونه)﴾ تابع دی د زمكې په حاصلولو د هغه څه كې چې هغه مقصود دي، ﴿يعني چې مځكه وقف كړې شي. نودهغې وقف ځكه صحيح دي. چه دهغې نه فائدي اخستې شي. نودغه ډول دا شيان (څيزونه) كوم چې ذكرشول. ددې نه بغيرد زمكې نه پيداوار نشي حاصليدي. نودا شيان (څيزونه) د زمكې تابع شول. اوچه دهغې تابع شول. نومځكه ئې اصل شو. اود زمكې وقف جائزدي. دغه ډول به د دې څيزونووقف هم جائز وي﴾

وَقَدْ يَثْبُتُ مِنَ الْحُكْمِ تَبَعًا مَا لَا يَثْبُتُ مَقْصُودًا كَالشُّرْبِ فِي الْبَيْعِ وَالْبِنَاءِ فِي الْوَقْفِ، وَمُحَمَّدٌ مَعَهُ فِيهِ، لِأَنَّهُ لَمَّا جَازَ إِفْرَادُ بَعْضِ الْمَنْقُولِ بِالْوَقْفِ عِنْدَهُ فَلَأَنْ يَجُوزَ الْوَقْفُ فِيهِ تَبَعًا أَوْلَى.

زباړه وتشريح:- اوكله كله ثابتيږي يوحكم تبعاً ﴿دبل څيزپه تابعدارئ كې﴾ چې نه ثابتيږي مقصوداً ﴿يعني بعضې وخت كې په يوڅيزباندې د هغې د ذات په اعتبارسره يوحكم نشي كولې. خوكله چې دغه شي د بل شي تابع شي. اوهغه بل شي داسې وي. چه حكم پرې مرتب كيداې شي. نودهغه په متابعت دې په ده باندې هم حكم جاري شي﴾ پشان د خړوب په خرڅولوكې ﴿يعني كه زيد د بكرنه د كښت مځكه واخستله، نوپه دې بيع كې اوبه يعنې د اوبو وار هم داخل دي. ددې باوجود كه يوسړې د پټي د زمكې نه بغير اوبه اخلي. نودهغې اخستل جائزنه دي. خود پټي په متابعت كې د اوبواخستل هم جائزدي. نودغه ډول په زيربحث مسئله كې اګرچه په دې اوزاركې وقف جائزنه دي. خوچه دا د زمكې تابع شول. نوبيا ئې وقف جائزدي﴾ اوپشان د آبادئ په وقف كې ﴿يعني صرف آبادي دهغې زمكې نه بغيروقف كول جائزنه دی. خوچه كله دآبادئ سره مځكه هم وقف كوی. نوبيا دغه وقف جائز دي﴾ اومحمد د ده ﴿ابويوسف﴾ سره دې په دې ﴿مسئله كې چې وقف دمنقول چې دغيرمنقول تابع وي. جائزدي﴾ ځكه چې هركله جائزدي ځانله والې د بعضې منقول شي په وقف كولوسره په نيزدده ﴿امام محمد﴾ نوخامخا به جائز وي وقف په دې ﴿منقول﴾ كې په درجه اولی سره، ﴿مطلب دا چې هركله دامام محمد په نيزچه منقول شي ځانله وي. دبل څيزتابع نه وي. هم دهغې وقف جائزدي. نوچه كوم منقول څيزدغيرمنقول شي تابع شي. نوبيا خوبه خامخا په كې دامام محمد په نيز وقف جائز وي﴾

داسونواو وسلود وقف كولوحكم

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجُوزُ حَبْسُ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ) وَمَعْنَاهُ وَقْفُهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَبُو يُوسُفَ مَعَهُ فِيهِ عَلَى مَا قَالُوا، وَهُوَ اسْتِحْسَانٌ. وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَجُوزَ لِمَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ.

حل اللغة: ① الكراع: دجنګ اس
زباړه وتشريح:- اوفرمائی امام محمد جائزدي بندول د اسونو اود وسلې مطلب ددې ﴿قول دامام محمد﴾ وقف كول ددې ﴿اسونواود وسلې﴾ دی په لارداالله تعالی كې، اوامام ابويوسف ددې ﴿محمد﴾ سره دې په دې مسئله كې ﴿چه ددې څيزونووقف جائزدې﴾ دهغه قول په رڼا كې څنګه چې عالمانو فرمائيلي دی. اودا ﴿جوازدوقف په دې څيزونوكې﴾ استحسان دي. اوقياس دادې چې جائز دې نه وي ﴿وقف ددې څيزونو﴾ دهغې املة چې مونږ بيان كړې ده وړاندې ﴿چه د وقف لپاره دوام شرط دي.

او منقول شی کي هميشوالي نه وي﴾

وَجْهُ الاِسْتِحْسَانِ الآثَارُ الْمَشْهُورَةُ فِيهِ: مِنْهَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {وَأَمَّا خَالِدٌ فَقَدْ حَبَسَ أَدْرُعًا وَأَفْرَاسًا لَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى (١) وَطَلْحَةُ حَبَسَ دُرُوعَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى} (٢) "وَيُرْوَى أَكْرَاعَهُ. وَالْكُرَاعُ: الْخَيْلُ. وَيَدْخُلُ فِي حُكْمِهِ الإِبِلُ، لأَنَّ الْعَرَبَ يُجَاهِدُونَ عَلَيْهَا، وَكَذَا السِّلَاحُ يُحْمَلُ عَلَيْهَا

حل اللغة: ① ادراع: جمع د درع، زغره ② افراس: جمع د فرس، اس ③ الخيل: اسونه ④ الابل: اوښ

ژباړه وتشريح:- اووجه داستحسان آثارمشهوره دی په دې ﴿وقف د اسونواووسلي﴾ کي دهغې ﴿آثارو﴾ نه قول د نبی ﷺ دي ،اوهرچه خالد ﷺ دې نوهغه وقف کړی دی زرهې اواسونه په لاردالله تعالی کي او ﴿دغه شان﴾ حضرت طلحه ﷺ وقف کړې وی زرهې خپلې په لار دالله تعالی کي او نقل دی اکراع دده اوکراع اسونو ته وائي. ﴿يعني يو روايت دا دې.چه حضرت طلحه ﷺ خپل اسونه وقف کړی وو﴾ او داخليږی په حکم ددې ﴿اسونو﴾ کي اوښان ځکه چې عرب جهاد کوی په دې .﴿اوښانو﴾ باندې اودغه ډول به وسله حمل کولای شی په دې ﴿اسونو﴾ باندې ﴿ځکه چې لکه څنګه اسونه د جهاد آله ده.دغه ډول وسله هم د جهاد آله ده﴾

ضروری تشريح:- په عبارت کي چې د حضرت خالدبن ولد ﷺ د وقف ذکردې.نوددې وضاحت دا دې.چه نبی ﷺ حضرت عمر ﷺ د زکاة په راغونډولوباندې مامورکړلو،په هغه وخت کي ابن جميل،خالدبن وليد اوعباس ﷺ د زکاة ورکولونه انکاراوکړلو،کله چې نبی ﷺ ته ددوی دانکارخبر ورکړې شو.نونبی ﷺ اوفرمائيل.ابن جميل ولې انکاراوکړلو.حالانکه دې غريب وو.الله تعالی مالداره کړلو.اودحضرت خالد بن وليد ﷺ په اړه کي ئې اوفرمائيل.تاسوپه هغه باندې ظلم کوئ.ځکه چې هغه خو خپل زرهې او سامان جنګ دالله تعالی په لارکي وقف کړی دی.اودحضرت عباس ﷺ په اړه کي ئې اوفرمائيل. د هغه زکاة زما په ذمه دې.بخاری اومسلم دا واقعه ذکرکړې ده.

وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَجُوزُ وَقْفُ مَا فِيهِ تَعَامُلٌ مِنَ الْمَنْقُولَاتِ كَالْفَأْسِ وَالْمَرِّ وَالْقَدُومِ وَالْمِنْشَارِ وَالْجِنَازَةِ وَثِيَابِهَا وَالْقُدُورِ وَالْمَرَاجِلِ وَالْمَصَاحِفِ.

حل اللغة: ① الفاس: تبر ② المر: بيلچه ③ القدوم: سسكوره ④ المنشار: آراه ⑤ القدور: جمع د قدر، کټوئ ⑥ المراجل: جمع د مرجل ،ديګ

ژباړه وتشريح:- اودامام محمد رحمه الله نه نقل دی.چه جائزدې وقف دهغه څيزچه په ﴿وقف د﴾ هغې تعامل ﴿د خلګ وي﴾ وی د منقول څيزونوځنی ﴿يعنی په خلګ وکي چې دکومو منقولوڅيزونود وقف رواج وی.نودهغې وقف جائز دې﴾ لکه تبر ﴿چه لرګی پرې واره کولی شی﴾ بلچه ﴿چه ختې وغيره پرې کولې شی﴾ اوسسکوره ﴿چه مځکه پرې کنستلې شی﴾ او آره ﴿چه لرګی پرې کټ کولې شی﴾ اوکټ د جنازې اوجامې ددې ﴿يعنی پتو (څادر) د جنازې﴾ اوکټوئ ﴿چه ترکاری په کي پخولې شی﴾ اوديګونه ﴿چه وريژې په کي پخولې شی﴾ اوقران شريفونه ﴿چه تلاوت په کي کولې شی،يعنی ددې څيزونووقف دامام محمد رحمه الله په نيزجائزدې.ځکه چې د خلګو پرې تعامل دی.چه دا شيان (څيزونه) وقف کوی﴾

وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَجُوزُ، لأَنَّ الْقِيَاسَ إِنَّمَا يُتْرَكُ بِالنَّصِّ، وَالنَّصُّ وَرَدَ فِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ فَيُقْتَصَرُ عَلَيْهِ.

ژباړه وتشريح:- اوپه نيزدامام ابويوسف رحمه الله جائزنه دې ﴿وقف ددې څيزونو﴾ ځکه ﴿چه ددې څيزونو وقف کول خلاف القياس دې.او﴾ قياس پريښودې شی په وجه د نص ﴿چه دقياس په مقابله کي نص موجود وی.

١) من حديث أبي هريرة ﷺ أخرجه البخاری فی الجهاد باب ٨٩ ومسلم فی الزكاة رقم ١١ وأبوداود فی الزكاة باب ٢٢ والنسائی فی الزكاة باب ١٥).

٢)قال الزيلعی رحمه الله غريب جداً (نصب:٣٨١٣/٧)_

څلورم توک..

نوقیاس به پرینبودي شي﴾ اونص ﴿چه خلاف القیاس وارد شوي دي﴾ ثابت دي په اس او وسله کي نو مختص به وی په دې ﴿اسونواووسله﴾ پورې ﴿لکه څنګه چې په لمانځه کي په قهقه باندي د اودس ماتیدل خلاف القیاس په نص سره ثابت دی.نودجنازي په لمونځ کي که یوکس قهقه اوکړله.دده اودس به نه ماتیږی. څکه چې په قهقه باندې داودس ماتیدل خلاف القیاس دی.اوهغه په داسي لمانځه کي واقع شوي ده.چه رکوع او سجده په کي وه.اودجنازي لمونځ صلاة کامله نه دې.څکه په دې کي په قهقه لمونځ نه ماتیږی .بلکه نص به په خپل مورد پورې خاص وی.چه کامله دی﴾

ومحمد يقول: القياس قد يترك بالتعامل كما في الاستصناع، وقد وجد التعامل في هذه الأشياء.

حل اللغة: ① الاستصناع:په کاریګری د څیزونو جوړول

ژباړه وتشریح:- اوامام محمد رحمه الله فرمائی.قیاس کله پرینبودې شی په تعامل سره لکه څنګه چې پرینبودې شوي دې ﴿قیاس﴾ په کاریګرباندې څیزجوړولوکي ﴿لکه زید بکر ته اووائی.چه ماته په داسې رنګ او کیفیت باندې چمپلان جوړې کړه.اوفی الحال چمپلان موجود نه وی.نوقیاس ددې دعدم جواز تقاضا کوی.څکه چې دا بیع د معدوم ده.خومونږ په دې مسئله کي قیاس پرینبودې دی.اود جواز قول اختیار کړې دې. د تعامل د وجې،څکه چې د نبی ﷺ د زماني نه واخله تراوسه پورې په دې باندې د خلګو تعامل راروان دی.اوچا پرې انکار نه دې کړې﴾ اویقیناً موجود شوې دې تعامل په ﴿وقف﴾ ددې څیزونوکي ﴿یعنی خلګ دا شیان (څیزونه) وقف کوی﴾

وعن نصير بن يحيى أنه وقف كتبه إلحاقا لها بالمصاحف، وهذا صحيح لأن كل واحد يمسك للدين تعليما وتعلما وقراءة.

ژباړه وتشریح:- اونصیربن یحی رحمه الله نه نقل دی ﴿دا د حسن بن زیاد رحمه الله شاګردوو﴾ چې ده وقف کړی وو کتابونه خپل په ملحق ګرځولوددې ﴿کتابونو﴾ مصاحفو پورې ﴿یعنی لکه څنګه چې په مصاحفوکي وقف جائز دې. دغه ډول دې علامه خپل کتابونه هم د مصاحفو پشان ګرځولی وو.اوهغه ئې وقف کړی وو﴾ اودا ﴿عمل د امام نصیربن یحی رحمه الله﴾ صحیح دې.څکه چې هرواحد ددې ﴿مصاحفواوکتابونو﴾ نه ایسارولې شي لپاره د دین زده کولواوبل ته خودلو اولوستلو ﴿یعنی لکه څنګه چې دقرآن زده کول کولای شی اوبل ته خودل کولې شی.اوتلاوت ئې کولې شی.نودغه ډول د دینی کتابونو زده کول طالبانوته خودل او قراءت کولې شی.نوپه دې حیثیت لکه څنګه چې د مصحفونووقف جائزدې دغه ډول به د دینی کتابونووقف هم جائز وی﴾

وأكثر فقهاء الأمصار على قول محمد، وما لا تعامل فيه لا يجوز عندنا وقفه.

ژباړه وتشریح:- اوډیر فقهاء د ښارونو ﴿فتوی ورکوی﴾ په قول دامام محمد رحمه الله ﴿اودا فرمائی.چه د خلګ وپه تعامل کي د کوم شی وقف جاری وی.په هغې کي وقف جائزدې.اګرچه منقول شی وی﴾ اوهرهغه شی چې نه وی تعامل ﴿په وقف کولو د﴾ هغې کي جائز نه دې په نیز زمونږ ﴿داحنافو﴾ وقف کول دهغې ﴿څیز﴾

وقال الشافعي: كل ما يمكن الانتفاع به مع بقاء أصله ويجوز بيعه يجوز وقفه، لأنه يمكن الانتفاع به، فأشبه العقار والكراع والسلاح.

حل اللغة: ① العقار: مځکه ② الكراع: دجهاد اس ③ السلاح: وسله

ژباړه وتشریح:- اوفرمائی امام شافعی رحمه الله هرهغه څیزچه ممکن وی فائده اخستل دهغې نه سره د پاته پاتې کیدو د ذات دهغه څیز ﴿یعنی فائده ترې اخستې شی.اوذات ئې پاته پاتې کیږی.لکه کورمځکه وغیره﴾ او انز وی خرڅول دهغې نوجائز به وی وقف دهغې ﴿څیز﴾ څکه چې ممکن ده فائده اخستل دهغې ﴿څیز﴾ نه نو مشابه شو د زمکې ،اسونو او دوسلې سره ﴿څکه چې ددې څیزونونه فائده اخستې شی.اودا ختمیږی نه بلکه پاته پاتې وی﴾

وَلَنَا أَنَّ الْوَقْفَ فِيهِ لَا يَتَأَبَّدُ، وَلَابُدَّ مِنْهُ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ فَصَارَ كَالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ، بِخِلَافِ الْعَقَارِ.

ژباړه وتشريح:- اوزمونږ ﴿داحنافو﴾ لپاره ﴿ددې منقول څيزونود وقف په عدم جواز باندې﴾ دليل دا دې چې وقف په دې ﴿څيز﴾ کې هميشه نه وي.اوضروري دې هميشوالي ﴿په وقف کې﴾ لکه څنګه چې ئې مونږ بيان اوکړلو ﴿چه په وقف کې تابيد شرط دې﴾ نواوګرځيدل ﴿دا شيان (څيزونه) منقول﴾ پشان د دراهم او د اشرفو ﴿نولکه څنګه چې د دراهم او اشرفو وقف نه صحيح کيږي.دغه ددې منقول څيزونو وقف هم نه صحيح کيږي﴾ په خلاف د زمکې ﴿يعنی د زمکې وقف صحيح کيږي.ځکه چې په مځکه کې تابيد اوهميشوالي شته.اګرچه د وقف په وخت کې هميشوالي نه وی ذکرشوی﴾

وَلَامُعَارِضَ مِنْ حَيْثُ السَّمْعُ وَلَامِنْ حَيْثُ التَّعَامُلُ فَيَبْقَى عَلَى أَصْلِ الْقِيَاسِ.

ژباړه وتشريح:- اوکه نه دا وائې.چه لکه څنګه وسلې او اوسونه منقول شيان (څيزونه) دی.اووقف په کې جائز دې.نودغه ډول دې په هرهغه څيزکې وقف جائزشي.چه قابل انتفاع وی.نودهغې نه ځواب کوو.چه اسونه او وسلې اګرچه منقول ده.خوپه هغې کې مونږ د وقف د جواز قائل شو.ځکه چې هلته سمع ده. يعنی نقلی دلائل موجود دی.چه په وسلې او اسونوکې وقف صحيح کيږي.لکه څنګه چې وړاندې د حضرت خالد بن ولید ﷺ د وقف خبره تيره شو.چه هغوی وسلې او زرهې وقف کړې وې.اوامام شافعی رحمه الله چې په منقول څيزونوکې چې قابل انتفاع وی.د وقف دجواز قائل دې.نو﴾ نشته سمع ﴿يعنی دليل نقلی﴾ اونه تعامل ﴿يعنی امام شافعی رحمه الله چې په منقول قابل انتفاع څيزونوکې د وقف قائل دې.نوددې څيزونو په وقف کې نه دليل نقلی موجود دې.چه دهغې د امله مونږ قياس پريږدو.لکه څنګه چې مو د نقلی دليل د امله په وسلې او اسونوکې قياس پريښودې دې.اونه د خلګ ويه تعامل کې دا شی شته.چه هرهغه منقول قابل انتفاع څيزوقف کوی﴾ نوپاتې پاتې شو ﴿حکم د عدم جوازد وقف په منقول څيزکې﴾ په اصل قياس باندې، ﴿يعنی د منقول څيزاګرچه قابل انتفاع وی.وقف جائز نه دی﴾

وَهٰذَا لِأَنَّ الْعَقَارَ يَتَأَبَّدُ، وَالْجِهَادُ سَنَامُ الدِّينِ، فَكَانَ مَعْنَى الْقُرْبَةِ فِيهِمَا أَقْوَى فَلَا يَكُونُ غَيْرُهُمَا فِي مَعْنَاهُمَا.

حل اللغة: ① سنام.قب ② القربة.کلي

ژباړه وتشريح:- اودا ﴿د زمکې اواسونونه سوا نور منقول شيان (څيزونه) په دې ملحق کول ځکه ناجائز دی.چه﴾ مځکه هميشه لپاره پاتې کيږي. ﴿نوپه دې کې دوقف شرط موجود شو.چه تابيد دې.ځکه دعقاروقف جائزدې﴾ اوجهاد بوق د دين دې. ﴿يعنی لکه څنګه چې په اوبن کې بوق اوچت وی.دغه ډول په دين اسلام کې د جهاد حيثيت دې.ځکه چې دا فرض کفايه دې﴾ نوشوه معنی د ثواب په دې دواړو کې ﴿چه اس اووسلې ده﴾ زياته قوی ﴿ځکه اس اووسلې دجهاد آلات دی.نوپه دې کې وقف جائزشو﴾ نونه به وی غيـردې دواو څيزونونه ﴿چه اس اووسلې ده﴾ په مرتبه ددې دواړوکې ﴿لنډيز دا چې د منقول (څيزونه) دجهاد لپاره آلات دی. او جهاد په اسلامی فرائضوکې يواوچت مقام لری.نودجهاد د امله ددې څيزوقف صحيح نه دی. البته که د اسونو اودوسلې وقف جائزدې.نوددې وجه دا ده.چه دا دواړه شيان دواړو مرتبه اوچته شوه. ځکه په دې کې وقف جائزشو.اونورمنقول شيان (څيزونه) خوددې پشان نشی کيدې.نوپه هغې کې وقف جائزنشو﴾

دوقف د صحت نه روسته د خرڅولواوتمليک عدم صحت

قَالَ (وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ لَمْ يَجُزْ بَيْعُهُ وَلَا تَمْلِيكُهُ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ مُشَاعًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فَيَطْلُبُ الشَّرِيكُ الْقِسْمَةَ فَيَصِحُّ مُقَاسَمَتُهُ) أَمَّا امْتِنَاعُ التَّمْلِيكِ فَلِمَا بَيَّنَّا. وَأَمَّا جَوَازُ الْقِسْمَةِ فَلِأَنَّهَا تَمْيِيزٌ وَإِفْرَازٌ،

حل اللغة: ① افراز جدا کول ② مقاسمة ويش کول

ژباړه وتشريح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوری رحمه الله﴾ اوکله چې صحيح شی وقف جائز نه دی خرڅول ددې

«وقف» اونه بل څوك ددې مالك جوړول مګردا چې وى «دغه وقف» مشاع «غيرتقسيم» په نيزدامام ابويوسف رحمه الله نوچه مطالبه اوكړي شريك د ويش نوصحيح كيږي ويش دهغه سره «يعنى كه يوكس داسې مځكه وقف كړه. چې په هغې كې دبل چاحصه هم وه.خولاويش نه وى شوې.اود وقف نه روسته هغه مطالبه اوكړه.چه په دې مځكه كې زما برخه ده.نودامام ابويوسف رحمه الله په نيزددغه غيرويش زمكې نه هغه ته دهغه برخه بيلولې شى» هرچه منع كول د تمليك دى. «يعنى د وقف نه روسته بل څوك ددغه ځيزمالك نشى جوړيدې» دهغه املـه چې مـوږ بيـان كـړه «چه دوقـف حكـم دا دې.چـه ددې نـه واقـف ملك ختم شو.خودبل چا په ملك كې نه داخليږى» او هر چې جواز د ويش دې نوځكه چې دا «تقسيم» تميز دې اوجداوالي «دحصو» دې. «اومنع خو تمليك دې.جدا كول نه دى.يعنى په دغه وقف شوې مځكه كې د وقف نه روسته بل څوك مالك جوړول نه دى.بلكه د وقف نه وړاندې دغه بل كس ددغه زمكې مالك وو.البته دومره ده.چه وړاندې د وقف زمكې سره خلط وه.اواوس جلا كيږى»

غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّ الْغَالِبَ فِي غَيْرِ الْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ مَعْنَى الْمُبَادَلَةِ، إِلَّا أَنَّ فِي الْوَقْفِ جَعَلْنَا الْغَالِبَ مَعْنَى الْإِفْرَازِ نَظَرًا لِلْوَقْفِ فَلَمْ تَكُنْ بَيْعًا وَتَمْلِيكًا،

حل اللغة: ① **غاية الامر**:آخرى خبره ② **تمليك**:مالک جوړول

ژباړه وتشريح:- آخرى خبره دا ده.چه غالب په غيرد كيلي او وزنى ځيزونوكي معنى د مبادله وى. «يعنى عامه قاعده دا ده.چه كوم شى پيمانه كولې نشى.اووزن كولې نشى.نوپه داسې ځيزونوكې چې كله د هر يو كس د برخې جلا والې راځى.نوپه هغې كې معنى د تبادله غالبه وى.نوپكاردا ده.چه په وقف كې هم كله د برخو جداوالې كيږى.په دې كې هم معنى د تبادلـه غالبـه وې»خو په وقف كې موږ اوګرځوله معنى د جداوالى غالبه لپاره دخيكړې د وقف «په حق د فقيرانوكې ،يعنى كومه مځكه چې وقف شى.نودا غيرمكيل او غيروزنى ده.خوپه دې كې چې دكوم كس برخه وى.اوهغه خپله برخه جلا كوى.نوپه دې كې د تبادله معنى مغلوبه اوګرځوله.اود جداوالى معنى مو پـه كې غالبه اوګرځوله. اودا مواووئيل.چه دا تبادلـه نـه ده. بلكه افراز او جداوالې دې.اودا هرڅه مو د وقف دصحت لپاره اوكړلو.چه وقف صحيح شى.نوفقيرانو ته د دغه وقف نه فائده واخلى.اوكه موږ دعامې قاعدې مطابق په وقف كې هم د تبادله معنى غالبه كړو نو بيا وقف صحيح نشو.نوپه دې كې د فقيرانو نقصان وو» نونشو «د وقف نه روسته په مځكه كې شريكوال ته خپله برخه مځكه ملاويدل» خرڅول «د وقف» او مالك جوړول «بل كس لره د وقف.بلكه دا صرف جداوالې دې. خرڅ اوتمليك نه دى»

ثُمَّ إِنْ وَقَفَ نَصِيبَهُ مِنْ عَقَارٍ مُشْتَرَكٍ فَهُوَ الَّذِي يُقَاسِمُ شَرِيكَهُ، لِأَنَّ الْوِلَايَةَ لِلْوَاقِفِ وَبَعْدَ الْمَوْتِ إِلَى وَصِيِّهِ،

ژباړه وتشريح:- بيا كه وقف كړلو «يوكس» برخه خپله په مځكه مشتركه كې «مثلاً يوجيرب مځكه وه.اودده په كې څلويښت مرلې وه» نودې «واقف» به هغه څوك وى.چه ويش به كوى دشريك خپل سره ځكه چې ولايت «دوقف» حاصل دې واقف لره «يعنى هم واقف ددغه زمكې منتظم دې» اوپس د مرګ «د واقف» څخه به ولايت حاصل وى وصى دده «واقف» ته «يعنى چې دچا لپاره ئې وصيت كړې وى.هغه به دغه مشتركه مځكه دوقف لپاره دشريكوال نه جلا كوى»

وَإِنْ وَقَفَ نِصْفَ عَقَارٍ خَالِصٍ لَهُ فَالَّذِي يُقَاسِمُهُ الْقَاضِي أَوْ يَبِيعُ نَصِيبَهُ الْبَاقِيَ مِنْ رَجُلٍ، ثُمَّ يُقَاسِمُهُ الْمُشْتَرِي ثُمَّ يَشْتَرِي ذَلِكَ مِنْهُ لِأَنَّ الْوَاحِدَ لَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مُقَاسِمًا وَمُقَاسَمًا،

ژباړه وتشريح:- اوكه وقف كړلو «يوسړى» نيمه مځكه چې صرف دده «واقف» وه نوهغه كس چې ويش به كوى «ده سره د وقف» هغه قاضى دې، «يعنى قاضى به ورسره ويش اوكړى» اويا به [illegible] «واقف» برخه خپله پاته په يوسړى باندې «مثلاً يوجيرب مځكه وه.په هغې كې ده څلويښت مرلې [illegible] كړې وه.نوپاته څلويښت مرلې دې په يوسړى باندې وپلورى» نوبيا به ويش اوكړى ددې «زمكې [illegible]

نيمه په كښې وقف ده اونيمه په كې ددغه مشتري برخه جوړيږي﴾ بيا به ئې واخلي ﴿واقف﴾ ﴿مشتري﴾ نه ﴿اودا حيله كوو﴾ ځكه چې يوكس جائزنه دى چې شى ويش كونكې ﴿په صيغه داسم فاعل﴾ اوويش كړې شوې ده سره ﴿په صيغه د اسم مفعول﴾

وَلَوْ كَانَ فِي الْقِسْمَةِ فَضْلُ دَرَاهِمَ إِنْ أَعْطَى الْوَاقِفُ لَا يَجُوزُ لِامْتِنَاعِ بَيْعِ الْوَقْفِ، وَإِنْ أَعْطَى الْوَاقِفُ جَازَ وَيَكُونُ بِقَدْرِ الدَّرَاهِمِ شِرَاءً

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى په ويش كې زياتى روپۍ ﴿صورت به ئې دا وى.چه د زمكې يو اړخ ته دوې [دوه] لارې وى اوبل اړخ ته يوه لاره وى.نوښكاره خبره ده چې د دوولارو والا اړخه د يوې لارې د اړخ نه ښه دى. او دا فيصله اوشي.چه كوم كس د دوو لارو اړخ اخلي.هغه به پنځوس زره روپۍ خپل انډيوالان ته وركوي.نو اوس په دې صورت كې﴾ كه وركړې واقف ته ﴿ددغه زياتى روپۍ اوبل كس د دوو لاروالا اړخ واخلي﴾ جائزنه دى ﴿د واقف دپاره﴾ دا ﴿زياتى روپۍ اخستل﴾ د امله د عدم جواز د خرڅولود وقف ﴿يعنى هركله چې واقف ښه اړخ بل ته وركړي.اودهغې په ځائې ترې دې پنځوس زره روپۍ واخلي.نودا جائزنه ده.ځكه چې په دې كې د وقف خرڅول راغلل.اود وقف خرڅول جائزنه دى﴾ اوكه وركړى واقف ﴿ددغه زياتى روپۍ د زمكې شريكوال ته.اودكومې زمكې وقف چې ئې كړى وى.هغې سره دا پنځوس زره روپۍ نورې هم وقف كړي.نودا﴾ جائز ده.اووى به په اندازه د ورپو ﴿يعنى كومې روپۍ چې واقف د زمكې شريكوال ته وركړي.هغه به﴾ اخستل وى. ﴿يعنى دا داسې شوه.چه دې واقف د شريكوال نه دهغه په مځكه كې څه برخه واخستله.اوهغه ئې خپل وقف سره يوځائې كړله.اووقف ئې كړه﴾

دوقف د ابادئ حكم

قَالَ ﴿وَالْوَاجِبُ أَنْ يَبْتَدِأَ مِنْ ارْتِفَاعِ الْوَقْفِ بِعِمَارَتِهِ شَرَطَ ذَلِكَ الْوَاقِفُ أَوْ لَمْ يَشْتَرِطْ﴾ لِأَنَّ قَصْدَ الْوَاقِفِ صَرْفُ الْغَلَّةِ مُؤَبَّدًا، وَلَا تَبْقَى دَائِمَةً إِلَّا بِالْعِمَارَةِ فَيَثْبُتُ شَرْطُ الْعِمَارَةِ اقْتِضَاءً

حل اللغة: ① الارتفاع:پورته كول ② عمارة:آبادي ③ الغلة:محاصل

ژباړه وتشريح:- فرمائى ﴿صاحب دقدوري﴾ اوواجب دى چې پيل وكړي ﴿اول د حاصلاتو او آمدنئ د وقف نه﴾ په آبادئ د هغې ﴿وقف،برابره خبره ده﴾ كه شرط كړې وى دا ﴿آبادي﴾ واقف اوكه نه ئې وى شرط كړي ﴿يعنى كله چې واقف مثلاً يوه مځكه وقف كړي.نوپكارده چې اول دهغه زمكې د ساتنه انتظام اوكړې شي. اودهغې نه چارديوارى تاؤ كړې شي.چه محفوظ شي.كه واقف دا شرط لګولې وى چې زه خپله مځكه وقف كوم.خوپه دې شرط چې ددې د ساتنه لپاره به انتظام كولې شي.اوكه دا ئې نه وى ونيلې.په دواړو صورتونوكې به اول د وقف د ساتنه انتظام كولې شي﴾ ځكه چې غرض د واقف ﴿د وقف كولو نه﴾ خرڅ كول د منافعو ﴿دوقف﴾ دى هميشه دپاره،اونه پاتې كيږي ﴿منافع د وقف زمكې﴾ مګرپه آبادئ سره ﴿چه دهغې نه چار ديوالى تاؤ شي.اومحفوظ شي﴾ نوثابتيږي شرط د آبادى په اقتضاء النص سره ﴿يعنى كله چې واقف وقف اوكړلو.نود وقف مقصد دا وى.چه ددې نه خلګ هميشه لپاره فائده اخلي.نودا ضرورى شوه.چه ددغه وقف د ساتنه انتظام دې هم اوشي.نو ساتنه ترې په اقتضاء النص سره ثابت شو﴾

وَلِأَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ وَصَارَ كَنَفَقَةِ الْعَبْدِ الْمُوصَى بِخِدْمَتِهِ، فَإِنَّهَا عَلَى الْمُوصَى لَهُ بِهَا.

ژباړه وتشريح:- اوبله دا چې فائده په مقابله د تاوان كې وى. ﴿يعنى څوك چې فائده اخلي هغه به تاوان هم برداشت كوى.نوواقف چې دڅا لپاره مځكه وقف كړې وى.هغه كسان چې فقيران دى.هغوى به ددې وقف د ساتنه انتظام كوى.مثلاً يوكس محكمه اوقاف ته خپله مځكه حواله كړله.چه دا ما وقف كړه.نواوس دا د اوقاف ذمه وارى ده.چه ددغه زمكې د ساتنه انتظام اوكړي.اواوقاف پرې خپله خرچ اوكړي﴾ او اوګرځيدلو ﴿حكم ددې وقف﴾ پشان د نفقه د غلام چې وصيت شوى وى په خدمت كولودهغه ﴿غلام﴾ ځكه چې

نفقه په موصى له وى په «عوض» د دې «خدمت يعنى چې يوكس دا وصيت اوكړى.چه زما ... روسته به زما دا غلام د فلانى خدمت كوى.نوددغه غلام نفقه په موصى له ده.ځكه چې فائده ئې اخلى نو تاوان به هم په ده راځى .دا نه چې خدمت دې د موصى له كوى.او ډوډئ دې د موصى خورى»

لِمَانْ كَانَ الْوَقْفُ عَلَى الْفُقَرَاءِ لَا يَظْفَرُ بِهِمْ، وَأَقْرَبُ أَمْوَالِهِمْ هَذِهِ الْغَلَّةُ لِكَيْ يَجِبَ فِيهَا.

حل اللغة: ① **يظفر**:كاميابيږى ② **الغلة**:محاصل

ژباړه وتشريح:- بيا كه وى وقف په فقيرانو باندې اوكاميابى نشى راتلې په هغوى باندې «يعنى دفقيرانو تعداد زيات وى.اوهغوى دې ته غاړه نږدى.چه د وقف آبادولوخرچ دې موږ اوكړو» اونږدې مالونه دهغوى دا منافع وى. «يعنى دهغوى سره چې كوم مالونه وى.هغه حاصلول ګران وى.دهغې د حاصلولوپه نسبت دا آسانه وى.چه ددې وقف په منافعوآبادى اوكړى.مثلاً يوكس خپل كور وقف كړلو.خوپه هغې كې لږ ډيركار وو .مثلاً دروازه په كې نه وه.يا په كې د اودس ماتى يا لامبلوځائې نه وو.نوچونكه دا شيان (خيزونه) په كوركې ضرورى وى.بغيرددې نه كور د استوګنې قابل نه وى.نواوس داكاركول ضرورى شو.خودچا لپاره چې ئې دغه كوروقف كړې وى.مثلاً د مدرسې د طالبانو لپاره ئې وقف كړې وى.چه په دې كور كې به د مدرسې طالبان اوسيږى.نواول په هغه طالبانوباندې ددې وقف آبادول دى.خوكه هغوى سره روپئ نه وى.يا دې ته غاړه نګدى.نوپه دې صورت كې به هم ددې كور په منافعوباندې ددې كمې پوره كړې شى.هغه داسې چې دچا ځخه به پيشكى كرايه واخلى.اوپه هغه كرايه به دغه ضروريات پوره كړى.اوچه كله په كرايه كې پيشكى ختمه شى.نوبيا چې ددغه كوركوم منافع راځى.هغه به په طالبانوباندې خرچ كولې شى»

وَلَوْ كَانَ الْوَقْفُ عَلَى رَجُلٍ بِعَيْنِهِ وَآخِرُهُ لِلْفُقَرَاءِ فَهُوَ فِي مَالِهِ: أَيْ مَالٍ شَاءَ فِي حَالِ حَيَاتِهِ. وَلَا يُؤْخَذُ مِنَ الْغَلَّةِ، لِأَنَّهُ مُعَيَّنٌ يُمْكِنُ مُطَالَبَتُهُ.

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وى وقف په يومعلوم كس باندې اوآخردهغې «وقف» لپاره دفقيرانو وى «مثلاً يو كس خپل كوردبكر لپاره وقف كړلو.خود بكرد مرګ نه روسته هغه كورفقيرانو ته پاتې كيږى.چه فقيران او غريبانان به دهغې آمدن اخلى» نودا «آبادې د وقف كور» په مال دده «موقوف عليه» كې وى. «يعنى دې به دغه خرچ كوى» دكوم مال نه چې ئې خوښه وى. «خودې وقف آبادى به په خپل مال باندې كوى» په حالت د ژوند خپل كې «يعنى ترڅو پورې چې دې ژوندې وى.اوپه دغه وقف كې د آبادئ څه كار پيدا كيږى.هغه به موقوف عليه دخپل مال نه كوى» اونه به شى اخستې «خرچه د آبادئ» د منافعو«د وقف» نه ځكه چې دا «موقوف عليه» معلوم دې ممكن ده مطالبه دده نه «چه د وقف په آبادئ باندې پيسې اولګوى»

وَإِنَّمَا يَسْتَحِقُّ الْعِمَارَةَ عَلَيْهِ بِقَدْرِ مَا يَبْقَى الْمَوْقُوفُ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي وَقَفَهُ، وَإِنْ خَرِبَ يُبْنَى عَلَى ذَلِكَ الْوَصْفِ، لِأَنَّهَا بِصِفَتِهَا صَارَتْ غَلَّتُهَا مَصْرُوفَةً إِلَى الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ.

حل اللغة: ① **خرب**:خرب:ختم شى، وران شى

ژباړه وتشريح:- اويقيناً لازميږى آبادى «دوقف» په ده «موقوف عليه» باندې په هغه اندازه چې پاتې شى وقف شى په هغه حالت چې وقف كړې ئې وى، «لكه كوم كور چې ئې موقوف عليه لپاره وقف كړې وى.اوپه هغې كې دې پنځه كاله تيركړى.اودهغې پلستر وغيره خراب شى.نوپه ده باندې لازم ده.چه دغه پلستر اوكړى.اووقف كورپه هغه حالت كې ساتى په كوم حالت كې چې ده ته وقف شوې وو» او كه خراب شو «وقف څيز،مثلا دكورد ديوال پلستر اوورژيدل» نوجوړولې به شى په هغه طريقه «ځنګه چې وړاندې وو» ځكه چې دا «آبادى» چې په كومه طريقه وه .وګرځيدل منافع ددې وركړې شوې موقوف عليه ته «مثلاً چې په كوم حالت كښې كور وقف شوې وو.دهغې ديوالونه په پلستراوهم د پلستر د ديوالونومنافع موقوف عليه لپاره وقف شوى وو»

فَأَمَّا الزِّيَادَةُ عَلَى ذَلِكَ فَلَيْسَتْ بِمُسْتَحَقَّةٍ عَلَيْهِ وَالْغَلَّةُ مُسْتَحَقَّةٌ فَلَا يَجُوزُ صَرْفُهَا إِلَى شَيْءٍ آخَرَ إِلَّا بِرِضَاهُ،

ژباړه وتشريح: خو څه زيادت دې په دې «آبادۍ» نو نه دي واجب په ده «موقوف عليه» باندې «يعنې دكوم ديوال پستر چې رژيدلې دې.هغه په سيمټوكي شوې وو.نواوس په موقوف عليه باندې دا واجب نه دى.چه دې دغه ديوال باندې ټائل اولګوي.بلكه چې څنګه وړاندې وو.هم هغه شان به ئې جوړوي» اومنافع «دوقف چې دى»حق ګرځيدلې دده «موقوف عليه» نو جائز نه دې چې خرچ كړې شي «دغه منافع چې موقوف عليه ئې حقداردې» په بل څيزباندې «چه زياتي آبادي دى» مګرپه رضا دده «موقوف عليه. يعنې كه خوك دا ووايي .چه موقوف عليه هسې هم په دغه كور كې اوسيږي.كوم چې ده ته وقف شوې دې.نو د پلستر په ځائې دې پرې ټائل اولګوي.نومصنف رحمه الله فرمائي.داسې نه ده.څكه چې د وقف د منافعو خو موقوف عليه حقداردې.چه وقف ئې ده ته شوې دې.نود منافعويه مد كې به دغه زياتي آبادي نشي كولې.مثلاً چې موږ دااووايو.په كوم كور كې چې دې اوسيږي.دغه وقف كور د پنځه زره روپو مياشت كرايه قابل دې.اوكوم ديوال چې پريوتې دې.چه هغه دپخو ښختواوچتوي.نوپه هغې باندې شل زره روپۍ خرچه راځي.نوشل زره روپۍ دې پرې اولګوي. اودڅلورو مياشتو كرايه كې به حساب شي.يعنې داسې به شي. چې موقوف عليه پرې خپلې روپۍ اونه لګولې.بلكه هم دوقف كور منافع ئې پرې اولګول.نودا صحيح نه ده»

وَلَوْ كَانَ الْوَقْفُ عَلَى الْفُقَرَاءِ فَكَذَلِكَ عِنْدَ الْبَعْضِ، وَعِنْدَ الْآخَرِينَ يَجُوزُ ذَلِكَ، وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ لِأَنَّ الصَّرْفَ إِلَى الْعِمَارَةِ ضَرُورَةُ إِبْقَاءِ الْوَقْفِ وَلَا ضَرُورَةَ فِي الزِّيَادَةِ.

ژباړه وتشريح: - اوكه چيرته وي وقف په فقيرانو «اوپه يومعين كس باندې نه وى» نودغه ډول حكم دې په نيزد بعضې عالمانو رحمهم الله «يعنې دا جائز نه دى.چه په وقف كې نقصان راشي.اوپه هغې باندې دومره پيسې اولګوي چې په كوم حالت كې وقف شوې وو.دهغه حالت نه بنه شي.لكه په تيرشوى مثال كې چې موږ دپلستر شوى يوال او د ټائل شوى ديوال صورت جوړ كړې وو.يعنې چې اول ديوال صرف پلستر وو. او دوباره پرې ټائل اولګوي.دا جائز نه ده» اوپه نيزد نوروعالمانو رحمهم الله جائزدې دا «زيادت په آبادۍ كې يعنې كه د پلستريه ځائې ټائل اولګوي.دا جائزدې» خواول روايت «چه دعدم جواز دې» هغه زيات صحيح دې. «اود اصحيت دليل ئې دا بيانوى» څكه چې خرچ كول په آبادۍ «دوقف» باندې لپاره د اړتيا د پاته پاتې كولود وقف وو «يعنې د وقف په آبادۍ باندې پيسه خرچ كول ددې امله ضروري وو.چه وقف پاته پاتې شي.اوپاته پاتې كيدل په هغه حالت كې هم كيږي.په كوم حالت كې چې وقف شوې وو.يعنې چې خالي پلستروى» اونشته اړتيا په زيادت كې «چه ټائل پرې اولګولې شي»

چه خوك موقوف عليه وي د وقف آبادي به هم په هغه وي

قَالَ (فَإِنْ وَقَفَ دَارًا عَلَى سُكْنَى وَلَدِهِ فَالْعِمَارَةُ عَلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى) لِأَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ عَلَى مَا مَرَّ فَصَارَ كَنَفَقَةِ الْعَبْدِ الْمُوصَى بِخِدْمَتِهِ

ژباړه وتشريح: - فرمائي «ابو الحسين قدوري رحمه الله» كه وقف ئې كړلو كورد استوګنې لپاره په خپل اولاد .نوآبادي به لازم وي په هغه چا چې چا لپاره استوګنه وي «يعنې چې دچا لپاره ئې په كوركې اوسيدل وقف كړي وي.چه ما خپل كورد خپل اولاد د استوګنې لپاره وقف كړې دې.نوكه په دغه كوركې څه مرمت وي .د هغې خرچه به هم هغه خوك برداشت كوي.چه دچا لپاره وقف شوې وى» څكه منافع په مقابله د تاوان كې وى. «يعنې خوك چې فائده اخلي نوهغه به تاوان هم برداشت كوي.دا نه چې اوسيږي دې په كې موقوف عليه اوخرچ دې پرې واقف يا حكومت كوي» نو اوګرځيدلو «دا صورت د وقف» پشان د نفقه د غلام چې وصيت شوې وي په خدمت دهغه، «يعنې چې يوكس دا وصيت اوكړي.چه زما د مرګ نه روسته به زما دا غلام د فلانې خدمت كوي.نوددغه غلام نفقه به موصى له ده.څكه چې فائده دې اخلي. نو تاوان به هم په راځي.دا نه چې خدمت دې د موصى له كوي.او ډوډۍ دې د موصى خوري.نودغه ډول دلته د وقف په

مسئله کي هم چې دچا لپاره وقف شوې وي.دابادئ خرچه به هم په هغه وي﴾

دموقوف عليه د تعميرنه انکاريا د تعميروس نه درلودې حکم

(فَإِنِ امْتَنَعَ مِنْ ذٰلِكَ، أَوْكَانَ فَقِيرًا آجَرَهَا الْحَاكِمُ وَعَمَّرَهَا بِأُجْرَتِهَا، وَإِذَا عَمَّرَهَا رَدَّهَا إِلٰى مَنْ لَهُ السُّكْنٰى)

ژباړه وتشريح:- که انکاراوکړلو ﴿موقوف عليه﴾ د دې ﴿آبادئ د وقف﴾ نه اويا دا ﴿چه انکارنه کوي.خو﴾ وي غريب ﴿چه د آبادولووس نه لري.نوبه دې دواړو صورتونوکي﴾ په کرايه به ئې ورکړي حاکم اوآباد به ئې کړي په کرايه دهغې ﴿وقف﴾ اوکله چې ئې آباد کړي ﴿اوکرايه ختمه شي.نوکرايه داربه ترې اوباسي﴾ اوواپس به ئې کړي هغه چاته چې دچا لپاره ﴿په کي﴾ استوګنه وي. ﴿چه واقف دچا د استوګنې لپاره وقف کړې وي.هغه ته به ئې واپس کړي﴾

لِأَنَّ فِي ذٰلِكَ رِعَايَةَ الْحَقَّيْنِ حَقِّ الْوَاقِفِ وَحَقِّ صَاحِبِ السُّكْنٰى، لِأَنَّهُ لَوْلَمْ يُعَمِّرْهَا تَفُوتُ السُّكْنٰى أَصْلًا، وَالْأَوَّلُ أَوْلٰى،

حل اللغة: ① السكنى:استوګنه

ژباړه وتشريح:- ځکه چې په دې ﴿کرايه ورکولو﴾ کي خيال ساتل د دواړو حقونودي.،چه حق د واقف دې اوحق د صاحب د استوګنې دې. ﴿دواقف حق په دې حيثيت دې﴾ که آباد نه کې (نکړي)دغه ﴿وقف ځين﴾ نو ختميږي ﴿په کي﴾استوګنه بيخي ﴿يعنى که آبادي په کي نه کوي.نودغه کور د اوسيدو قابل نه دې.نوچه د کوم مقصد لپاره واقف دغه کوروقف کړې وو.چه ده ته به ثواب ملاويږي. هغه مقصد پوره نشو.ځکه شاړ به پروت وي.څوك به په کي اوسيدې نشي.نوچه څوك په کي اوسيږي نه واقف ته به ثواب څه ملاؤشي. اودمن له السکنى د حق په کي په دې حيثيت خيال ساتل دی.چه مرمت په کي اوشي.نواګرچه دځه مياشتو لپاره به په کرايه ورکړې شي.خوچه کله هغه پيسې ختمې شي.کومې چې ددې په مرمت لګيدلې وي.بيا به په کي من له السکنى اوسيږي.اوکه مرمت ئې اونشي.نونه په کي دې اوسيدې شي.اونه بل څوك﴾ اواوله خبره ﴿چه حاکم په کرايه باندې کور ورکړي. اوپه دغه کرايه باندې په کورکي آبادې اوکړي.دا ددې نه بهتره ده.چه دغه کوردغه ډول ناقابل استعمال پروت وي.اوڅوك په کي اوسيدې نشي﴾

وَلَا يُجْبَرُ الْمُمْتَنِعُ عَلَى الْعِمَارَةِ لِمَا فِيهِ مِنْ إِتْلَافِ مَالِهِ فَأَشْبَهَ امْتِنَاعَ صَاحِبِ الْبَذْرِ فِي الْمُزَارَعَةِ

حل اللغة: ① يجبر:مجبوره کولې شي ② اتلاف:هلاکول ③ البذر:تخم

ژباړه وتشريح:- اونه به شي مجبوره کولې ﴿موقوف عليه﴾ په آبادئ ﴿دوقف﴾ باندې ځکه چې په دې کي بربادول د مال دده ﴿موقوف عليه﴾ دي. ﴿يعنى دې به خپل مال د وقف کور په تعميرباندې اولګوي. حالانکه په خرچ کولودغه کور دده په ملکيت کي نه داخليږي﴾ نومشابه شو ﴿دا صورت د وقف﴾ د انکار کولودغه چا سره چې په هغه باندې کرونده وي. ﴿ددې صورت به دا وي.چه دوو کسانوعقد زراعت اوکړلو.اوبه يوباندې ئې دا لازمه کړه.چه په پټي کي به تخم اچول په تا وي.خوبيا دغه کس چې تخم اچولو ذمه واري ئې اخستې وه.د تخم اچولو نه انکاراوکړو.نودې به تخم اچولو باندې مجبوره کولې نشي.ځکه چې په دې کي ده ته ضرر دې.هغه دا چې په کرلوباندې کومه خرچه راځي.هغه به دې دخپل جيب نه خرچ کوي﴾

فَلَا يَكُونُ امْتِنَاعُهُ رِضًا مِنْهُ بِبُطْلَانِ حَقِّهِ لِأَنَّهُ فِي حَيِّزِ التَّرَدُّدِ، وَلَا تَصِحُّ إِجَارَةُ مَنْ لَهُ السُّكْنٰى لِأَنَّهُ غَيْرُ مَالِك

حل اللغة: ① التردد:شک کول ② الامتناع:منع کول

ژباړه وتشريح:- ﴿اوکه څوك دا اووائي.چه هرکله ده د وقف د آبادولو نه انکاراوکړلو.نودې دخپل حق سکونت په ساقط کولوباندې راضي شو.ځکه چې بغيرد آبادئ کولونه خودغه وقف کور د استوګنې قابل نه دې.اوچه دې د آبادئ نه انکارکوي.نومعلومه شوه.چه دې د استوګنې نه انکارکوي.چه زه په دې کورکي نه اوسيږم.اوماخپل حق ساقط کړلو.اوهرکله چې ده خپل حق ساقط کړلو.نوچه حاکم ددې په کرايه باندې دغه

وقف كور اباد كړي.اوهغه خرچه په كرايه كې ختمه شي.نوبيا دغه موقوف عليه ددې خبرې مستحق نه دې.چه وقف ده تـه واپس كړي.نوددې نـه ځواب كـوي.چه» نـه كيـږي انكـاركول دده «موقوف عليـه د آبادولونه» رضا دده «موقوف عليه» د اړخه په باطلولود حق خپل ځكه چې دې په شك كې دې. «يعني دده په زړه كې دا دي.چه زه انكاراوكړم.نو حاكم به ئې آباد كړي.اوماته به په كې د استوګنې موقع ملاؤ شي.نومعلومه شوه.چه دده د انكار نـه دا نـه معلوميږي.چه دې دخپـل حق سكونت پـه ساقط كولوباندې راضي دې» اونه صحيح كيږي په كرايه وركول «دوقف كور» دهغه چا لپاره چې هغه لره «په دغه وقف كوركې» حق د استوګنې وي«يعني واقف دده داوسيدو لپاره وقف كړې وي.نوده تـه صرف د استوګنې حق حاصل دې.اوپه كرايه د وركولوحق ورته حاصل نه دې» ځكه چې دې مالك نه دې.

د وقف پرېوتلې عمارت اوخراب آلاتو مصرف

قَالَ (وَمَا انْهَدَمَ مِنْ بِنَاءِ الْوَقْفِ وَآلَتِهِ) صَرَفَهُ الْحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الْوَقْفِ إِنْ احْتَاجَ إِلَيْهِ، وَإِنْ اسْتَغْنَى عَنْهُ أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحْتَاجَ إِلَى عِمَارَتِهِ فَيَصْرِفَهُ فِيهَا، لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ الْعِمَارَةِ لِيَبْقَى عَلَى التَّأْبِيدِ فَيَحْصُلَ مَقْصُودُ الْوَاقِفِ.

حل اللغة: ① **انهدم**:نوړېدلې وو ② **التابيد**:هميشه لپاره

زباره وتشريح:- فرمائي «ابو الحسين قدوري رحمه الله» اوهغه چې راوغورځيږي آبادي د وقف او «خراب شي» سامان ددې «وقف» نواوبه ئې لګوي حاكم په آبادئ د وقف كې كه چيرته اړتيا وي هغې «سامان ته. مثلاً د وقف كورديوال راپرېوتلو.نوبنختې به ئې هم په دغه كوركې اولګوي.اوّواپس به پرې بل ديوال اوخيژوي.يا كه دروازه وړه دروازه وي.هغه خرابه شي.نوهغه به ترې اوباسي.اوهم په وقف كوركښې به ئې په بل ځائې كښې اولګوي» اوكه اړتيا نـه وي «په وقف كوروغيره كې» هغې «سامان» تـه نواوبـه ئې ساتي «په محفوظ ځائې كې» ترڅو چې اړتيا شي آبادولودهغې تـه نو اوبـه ئې لګوي پـه هغې كې ځكه چې اړتيا دې آبادئ «د وقف» تـه دې لپاره چې پاتـه پاتې شي «وقف كوروغيره» هميشه لپاره نو حاصل به شي مقصود د واقف «اومقصود د واقف دا وو.چه ماته هميشه ددې وقف ثواب راسي»

فَإِنْ مَسَّتْ الْحَاجَةُ إِلَيْهِ فِي الْحَالِ صَرَفَهَا فِيهَا، وَإِلَّا أَمْسَكَهَا حَتَّى لَا يَتَعَذَّرَ عَلَيْهِ ذَلِكَ أَوَانَ الْحَاجَةِ فَيَبْطُلَ الْمَقْصُودُ،

حل اللغة: ① **مست**:پيښ شو

زباره وتشريح:- نوكه پيښ شو اړتيا دې «سامان» ته في الحال اوبه ئې لګوي په هغې آبادئ «د وقف» كې اوكه اړتيا «نه وي» اوكه نه وي «اړتيا في الحال» نو اوبه ئې ساتي «په محفوظ ځائې كې» دې لپاره چې ګرانه نشي په ده «حاكم» باندې دا «لګول د سامان په وقف كوروغيره كې» په وخت د اړتيا كې «يعني دا سامان چې في الحال ورته اړتيا نه وي.نومحفوظ به ئې اوساتي.دې لپاره چې كله ورته په روسته زمانه كې اړتيا پيښ شي.نوحاكم ته به څه مشكلات نه وي.بلكه تيارڅيز به پروت وي.اوهغه به اولګوي» نوباطل به شي مقصود «يعني كه ددغه سامان ساتنه اونكړي.د وقف مقصود چې كوم دې.هغه به حاصل نشي.ځكه چې مقصود د وقف خو دا وي.چه هميشه لپاره واقف ته ثواب حاصليږي.اوچه كوم سامان زياتي وي.هغه ضائع كړې شي.نودوقف مقصود پوره نشو»

وَإِنْ تَعَذَّرَ إِعَادَةُ عَيْنِهِ إِلَى مَوْضِعِهِ بِيعَ وَصُرِفَ ثَمَنُهُ إِلَى الْمَرَمَّةِ صَرْفًا لِلْبَدَلِ إِلَى مَصْرِفِ الْمُبْدَلِ

حل اللغة: ① **المرمة**:مرمت كول،كوم څيزچه خراب شوى وي هغه ټيک كول

زباره وتشريح:- اوكه ګرانه وي واپس كول بعينه دهغه څيزخپل ځائې ته «مثلاً يواوږد تير وي.هغه مات شي. نوبيا خوپه دغه ځائې باندې دغه تيرنشي لګيدې.بلكه دهغې لپاره د اوږد تير اړتيا وي.نوپه داسې صورت كې» خرڅولې به شي «دغه وقف څيز» او خرچ كولې به شي پيسې دهغې «وقف چې خرڅ كړې شي» هغې په پيسوبل د ضرورت شي واخستې شي» لپاره د ګرځولوبدل ځائې د مبدل ته «يعني چې په عين

وقف باندې کارنه کيږي.نوچه د دغه وقف په بدل کې کوم ثمن اوپيسې راشي. د هغې ځخه به کاروا خستې شي. او اړتيا به پرې پوره کړې شي﴾

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَقْسِمَهُ) يَعْنِي النَّقْضَ (بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ) لِأَنَّهُ جُزْءٌ مِنَ الْعَيْنِ وَلَا حَقَّ لِلْمَوْقُوفِ عَلَيْهِمْ فِيهِ: وَإِنَّمَا حَقُّهُمْ فِي الْمَنَافِعِ، وَالْعَيْنُ حَقُّ اللَّهِ تَعَالَى فَلَا يَصْرِفُ إِلَيْهِمْ غَيْرَ حَقِّهِمْ.

ژباړه وتشريح:- اوجائزنه ده چې ويش کړې هغه ﴿زياتي اومات کوډ سامان﴾ په مينځ د مستحقينود وقف کې ،ځکه چې دا ﴿فالتو او زياتي سامان﴾ يوه برخه د ذات د وقف دې.اونشته حق د پاره دهغه چا چې وقف شوی وی په هغوی باندې په دې ﴿په ذات د وقف﴾ کې بلکه حق ددوی ﴿مستحقينو﴾ دې په منافعو ﴿د وقف﴾ کې نوشو ﴿دغه زياتي سامان﴾ حق دالله تعالى ﴿اوهرکله چې دالله تعالى حق شو﴾ نونه به شي ورکولې دوی ﴿فقيرانو﴾ ته سوا د حق ددوی نه ﴿يعنى دوی ته به د دوی حق ورکولې شي.چه منافع دی. او ذات د وقف چونکه ددوی حق نه دې.ځکه به دوی ته نشي ورکولې﴾

دواقف دوقف منافع يا تصرف ځان لپاره کرځول

قَالَ (وَإِذَا جَعَلَ الْوَاقِفُ غَلَّةَ الْوَقْفِ لِنَفْسِهِ أَوْ جَعَلَ الْوِلَايَةَ إِلَيْهِ جَازَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ) قَالَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ذَكَرَ فَصْلَيْنِ شَرْطَ الْغَلَّةِ لِنَفْسِهِ وَجَعْلَ الْوِلَايَةِ إِلَيْهِ. أَمَّا الْأَوَّلُ فَهُوَ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ،(١)

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوری ﷫﴾ اوکله چې اوګرځوی واقف منافع د وقف دځپل ځان لپاره اويا اوګرځوی ولايت ﴿دوقف﴾ دځپل ځان لپاره نو ﴿دا﴾ جائزدی په نيزدامام ابويوسف﷫ فرمائي مصنف﷫ ذکرکړې ﴿صاحب د قدوری﷫﴾ دوې [دوه] خبرې ﴿يوه خبره﴾ شرط کړی منافع دځپل ځان لپاره ﴿يعنی وقف په دې شرط اوکړی.چه ددې منافع به هم زما وی﴾ اووې ګرځولو ولايت ﴿دوقف﴾ دځپل ځان لپاره ﴿يعنی د وقف متولی به زه يم﴾ هرچه اوله خبره ده ﴿چه وقف دځپل ځان لپاره اوګرځوی﴾ دا جائزده په نيزدامام ابويوسف﷫

وَلَا يَجُوزُ عَلَى قِيَاسِ قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَهُوَ قَوْلُ هِلَالٍ الرَّازِيِّ وَبِهِ قَالَ الشَّافِعِيُّ.

ژباړه وتشريح:- اوجائز نه ده په قياس د قول دامام محمد﷫ ﴿يعنى چې دامام محمد﷫ په قول باندې نظر واچولې شي.نودا معلوميږی.چه دا وقف جائزنه دې﴾ اودا ﴿قول دعدم جواز﴾ قول دهلال رازی﷫ دې ﴿خوصحيح دا ده.چه دا هلال بن يحى الرائى دې دغه ډول علامه عينى﷫ په بنايه کې فرمائيلى دی﴾ اوپه دې ﴿عدم جواز﴾ باندې قول کړې دې امام شافعى﷫ ﴿يعنى دامام شافعى﷫ هم دا مذهب دې.چه داسې وقف جائز نه دی﴾

وَقِيلَ إِنَّ الِاخْتِلَافَ بَيْنَهُمَا بِنَاءٌ عَلَى الِاخْتِلَافِ فِي اشْتِرَاطِ الْقَبْضِ وَالْإِفْرَازِ. وَقِيلَ هِيَ مَسْأَلَةٌ مُبْتَدَأَةٌ،

حل اللغة: ① الافراز: جدا کول

ژباړه وتشريح:- اووئيلې شوی دی چې اختلاف ﴿په دې مسئله کې﴾ په مينځ ددوی دواړو ﴿امام ابويوسف اومحمد﴾﷫ په مينځ کې بناء دې په اختلاف باندې په شرط کولود قبض او جلا والى کې ﴿يعنی امام ابويوسف﷫ په وقف کې دا نه شرط کوی.چه متولي دې وقف قبض کړی.اوکه مشاع وی.هغه دې جلا کړې شی.بلکه که متولي قبض کړې نه وی.اوداسې مځکه وی.چه ويش شوې نه وی.هم ئې وقف جائز دې. او دامام محمد﷫ په نيزيه وقف کې دا دواړه شيان (ځيزونه) شرط دې.يعنى دا چې متولي وقف قبض کړی.اوکه وقف په مشاع کې وی.چه هغه جلا شي.نوددغه اختلاف په بنا (بنياد) په زيربحث مسئله کې چونکه دامام ابويوسف﷫ په نيزد وقف قبض اوجدا کول شرط نه دې. نو دا وقف صحيح کيږی. او دامام

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف﷫ كذا فى فتح القدير(٤٣٩\٥) ومجمع الأنهر(٧٤٣\١) والبحرالرائق (٢٢٠\٥) نقلاً عن القول الراجح(٥٢٥\١)-

محمد رحمه الله په نيزچونکه دغه دوا ړه شيان (څيزونه) شرط دی.اوپه دې زيربحث مسئله کې قبض او جداوالی نه راځي.ځکه دا وقف جائز نه دی﴾ او وئيلې شوی دی چې دا مستقله مسئله ده. ﴿په بله مسئله باندې متفرع نه ده﴾

وَالْخِلَافُ فِيمَا إِذَا شَرَطَ الْبَعْضَ لِنَفْسِهِ فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ مَوْتِهِ لِلْفُقَرَاءِ، وَفِيمَا إِذَا شَرَطَ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ فِي حَيَاتِهِ وَبَعْدَ مَوْتِهِ لِلْفُقَرَاءِ سَوَاءٌ

ژباړه وتشريح:- اوخلاف ﴿په مينځ دامام ابويوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله کې﴾ په هغه صورت کې دې چې شرط کړې ﴿واقف﴾ بعضې ﴿وقف﴾دخپل ځان لپاره ﴿چه ددې بعضې وقف منافع به زه اخلم﴾ په ژوند خپل کې اوپس د مرګ دده نه ﴿به وی منافع ددغه وقف﴾ د فقيرانو ﴿مثلاً دده يوکوردې.هغه ئې په لس زره روپئ کرايه ورکړې دې.اودې دا اووائی.دا کور ما وقف کړلو.خوپه دې شرط چې ددې نيمه کرايه به زه اخلم. اونيمه به فقيرانوته ورکوم.اوچه کله زه مړ شم.نوبيا به ټې فقيران اخلی﴾ اوپه هغه صورت کې چې شرط کړې ﴿ټوله منافع د وقف﴾ دخپل ځان لپاره په ژوند خپل کې اوپس د مرګ دده ﴿واقف﴾ نه ﴿اوګرځوی منافع د وقف﴾ د فقيرانو لپاره ﴿نودا دواړه صورتونه﴾ برابر دی. ﴿يعنی په دواړو صورتونو کې دامام ابويوسف اوامام محمد رحمه الله اختلاف شته.امام ابويوسف رحمه الله د جواز قائل دی.اوامام محمد رحمه الله دعدم جواز قائل دی﴾

وَلَوْ وَقَفَ وَشَرَطَ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِأُمَّهَاتِ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرِيهِ مَا دَامُوا أَحْيَاءً، فَإِذَا مَاتُوا فَهُوَ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ، فَقَدْ قِيلَ يَجُوزُ بِالِاتِّفَاقِ، وَقَدْ قِيلَ هُوَ عَلَى الْخِلَافِ أَيْضًا وَهُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّ اشْتِرَاطَهُ لَهُمْ فِي حَيَاتِهِ كَاشْتِرَاطِهِ لِنَفْسِهِ.

ژباړه وتشريح:- اوکه وقف کړې ﴿يوه سړکه مثلاً﴾ اوشرط اولګوی بعضې ﴿منافع د وقف﴾ يا ټولې ﴿منافع د وقف﴾ د امهات اولاد لپاره ﴿يعنی هغه اولاد چې دده د وينځې نه پيدا شوی وی﴾ اود مدبر غلامانو لپاره ﴿يعنی هغه غلامان چې ده ورته وئيلی وی.زما دمرګ نه روسته تاسوآزاد ئې﴾ چې ترڅو پورې دوی ژوندی وی اوکله چې مړه شی نودا ﴿د وقف منافع﴾ به د فقيرانو لپاره وی﴿ يعنی داسې وقف اوکړې.چه مثلاً دا کور ما وقف کړلو.خوپه دې شرط چې ددې څومره کرايه راځی.هغه به زما په امهات الاولاد يا په مدبر غلامانو باندې خرچ کولې شی.ترڅو پورې دوی ژوندی وی.اوچه کله مړه شی.نوبيا به فقيرانو باندې خرچ کولې شی .نوپه دې صورت کښې﴾ وئيلی شوی دی چې جائزدې ﴿داسې وقف﴾ په اتفاق سره ﴿به مينځ دامام ابويوسف اوامام محمد رحمه الله﴾ اووئيلې شوی دی چې دا ﴿صورت﴾ هم په خلاف باندې دې ﴿يعنی دامام ابويوسف رحمه الله په نيزجائزدې اودامام محمد رحمه الله په نيزناجائزدې﴾ اودا ﴿قول چې په دې صورت کې هم اختلاف شته﴾ صحيح قول دې.ځکه چې اشتراط دده ﴿منافعو دوقف﴾ ددوی ﴿امهات الاولاد يا مدبرينو﴾ لپاره په ژوند خپل پورې پشان د اشتراط ددې ﴿منافعو وقف﴾ دې دخپل نفس دپاره. ﴿نولکه څنګه چې دخپل ځان لپاره د منافعو شرط اولګوی.نوپه هغې کې اختلاف وو.دغه ډول به په دې صورت کې هم اختلاف وی.چه د خپلو امهات الاولاد اود مدبروغلامانو لپاره دمنافعو شرط اولګوی﴾

وَجْهُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّ الْوَقْفَ تَبَرُّعٌ عَلَى وَجْهِ التَّمْلِيكِ بِالطَّرِيقِ الَّذِي قَدَّمْنَاهُ، فَاشْتِرَاطُهُ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ يُبْطِلُهُ،

ژباړه وتشريح:- وجه د قول دامام محمد رحمه الله ﴿چه دخان لپاره دحصې يا واړه وقف دمنافعو تخصيص نه صحيح کيږی﴾ دا ده.چه وقف احسان دې په طريقه د تمليک ﴿چه بل کس مالک جوړ کړی﴾ په هغه طريقه کومه چې مونږوړاندې بيان کړې ده﴿ چې دامام محمد رحمه الله په نيزبه وقف کې متولی اومنتظم ته د وقف سپارل ضروری دی.بغيرددې نه وقف نه صحيح کيږی﴾ نوشرط کول دد ﴿واقف﴾ بعضې ﴿وقف﴾ يا واړه ﴿وقف﴾ د خان لپاره ﴿چه دا څيزما وقف کړلو.خوددې بعضې يا ټولې منافع به زه اخلم﴾ باطلوی دې

لِأَنَّ التَّمْلِيكَ مِنْ نَفْسِهِ لَا يَتَحَقَّقُ ...

حل اللغة: ① المنفذة: چې دخپل مالك څه برخه یا واړه فقیرته صدقه ورکړي.خو په دې شرط چې ددې بعضې مال به زما وي. ② بقعة حصه د مځکې

ژباړه وتشریح:- څکه چې مالك جوړول خپل «ځان» دخپل اړخ نه نه ثابتیږي. «چه یوکس دې سره یوځېز وي. او د هغې خپل ځان مالك کړي.څکه چې دا خوتحصیل حاصل دې» واوګرځیدلو «حکم ددې وقف» پشان د صدقه منفذه «چه دخپل مالك څه برخه یا واړه فقیرته صدقه ورکړي.خو په دې شرط چې ددې بعضې مال به زما وي.نولکه څنګه چې دغه صدقه نه صحیح کیږي دغه ډول دا وقف هم نه صحیح کیږي، او اوګرځیدلو دا حکم د وقف پشان» د شرط لګولو یوې برخې دجهات دخپل ځان لپاره «یعنی چې یوکس خپله مځکه جمات ته وقف کړي.اودا شرط په کې اولګوي.چه دا مځکه وقف کوم.خوددې بعضې منافع به زه اخلم.نولکه څنګه چې دا شرط لګول ناجائزدي.دغه ډول داسې وقف کول هم صحیح نه دي.چه په هغې کې دبعضې یا کل وقف منافع دخپل ځان لپاره خاص کړي»

وَلِأَبِي يُوسُفَ مَا رُوِيَ {أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ صَدَقَتِهِ} (¹) "وَالْمُرَادُ مِنْهَا صَدَقَتُهُ الْمَوْقُوفَةُ، وَلَا يَحِلُّ الْأَكْلُ مِنْهَا إِلَّا بِالشَّرْطِ، فَدَلَّ عَلَى صِحَّتِهِ،

ژباړه وتشریح:- اودامام ابویوسف رحمه الله لپاره هغه حدیث دلیل دې.چه روایت شوې دې.یقیناً نبی ﷺ به خوراك کول دخپلې صدقې نه اومراد ددې «صدقې» نه هغه صدقه موقوفه ده. «یعنی په دې حدیث کې چې دا راغلی دی.چه نبی ﷺ به دخپلې صدقې نه خوراك کولو.ددې نه هغه صدقه مراد ده.چه نبی ﷺ به هغه وقف کړې وه» اونه دې جائز خوراك ددې «صدقې موقوفه» نه مګرپه شرط کولوسره «نوهرکله چې دا ثابته شوه.چه نبی ﷺ دخپل وقف صدقې نه خوراك کړې دې.اودا خوراك به ئې خامخا په دې وجه کړې وي.چه د وقف په وخت کې به ئې دا شرط لګولې وو.چه زه دا څیزصدقه کوم.خوددې څخه به زه هم خوراك کوم.څکه که چیرته دا شرط لګول اونه منلې شي.نود نبی ﷺ لپاره خودصدقې خوراك حرام وو» نودلالت کوی «عمل د نبی ﷺ په وقف کې» په صحت ددې «شرط،که یوکس په وقف کې دخپل ځان لپاره د منافعوشرط اولګوي.بیا هم وقف صحیح دې»

وَلِأَنَّ الْوَقْفَ إِزَالَةُ الْمِلْكِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ، فَإِذَا شَرَطَ الْبَعْضَ أَوِ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ، فَقَدْ جَعَلَ مَا صَارَ مَمْلُوكًا لِلَّهِ تَعَالَى لِنَفْسِهِ لَا أَنَّهُ يَجْعَلُ مِلْكَ نَفْسِهِ لِنَفْسِهِ، وَهَذَا جَائِزٌ، كَمَا إِذَا بَنَى خَانًا أَوْ سِقَايَةً أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً، وَشَرَطَ أَنْ يَنْزِلَهُ أَوْ يَشْرَبَ مِنْهُ أَوْ يُدْفَنَ فِيهِ

ژباړه وتشریح:- «دوهم دلیل امام ابویوسف رحمه الله دابیانوی» اوڅکه چې وقف ختمول دملك دی الله تعالی ته په طریقه دثواب لکه څنګه چې مونږ وړاندې ددې بیان اوکړلو «چه دوقف تعریف دا دې.چه د واقف ملکیت ترې ختم شي.اودالله تعالی په ملکیت کې داخل شي» نوهرکله چې شرط اولګوی «دمنافو» دبعضې «وقف» یا د واړه «وقف» دخپل ځان لپاره «چه ددې بعضې یا واړه منافع به زه اخلم» نوده اوګرځولوهغه شی چې ګرځیدلې وو مملوك دالله تعالی «دهغې منافع ئې اوګرځولې» دخپل ځان لپاره داسې نه ده چې دې «واقف» ملکیت د نفس خپل دخپل ځان دپاره،اودا «دالله تعالی مملوك څیزمنافع دخپل ځان لپاره ګرځول» جائز دی. «ددې لپاره نظائرهم شته» لکه چې جوړه کړي سرائی «دمسافرودشپې کولودپاره» یا سبیل «د خلګ وداوبوڅښلو دپاره» یا اوګرځوله مځکه خپله مقبره اوشرط اولګوی چې دې «واقف» به «په وخت د ضرورت» ډیره کیږي په دې «سرائی» کې اویا به څکاك کوی «ددې سبیل» نه یا به ښخوی «مړی خپل» په دې «مځکه» کې «کومه چې ئې د مقبرې لپاره وقف کړې وه.نولکه څنګه چې دغه تخصیصات لګول جائزدی.وقف پرې نه باطلیږي.دغه ډول

¹)أخرجه الخصاف فی الوقف قاله صاحب ،،فیما فات الزیلعی منیة الألمعی (ص،۱۰۵)_

په زيربحث مسئله كې دواقف خپل ځان لپاره دبعضې يا د كل منافعو شرط لګول جائزدې.اووقف صحيح كيږى﴾

وَلِأَنَّ مَقْصُودَهُ الْقُرْبَةُ وَفِي الصَّرْفِ إِلَى نَفْسِهِ ذَلِكَ، قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى نَفْسِهِ صَدَقَةٌ} (١).

ژباړه وتشريح:- ﴿دامام ابويوسف رحمه الله بل دليل دا بيانوى﴾ اوبله دا چې مقصود دده ﴿واقف﴾ ثواب حاصلول دى ﴿چه ده ته ثواب ملاؤ شى.اوالله تعالى ته نزدې شى﴾ اوپه خاص كولوكې ﴿چه د وقف منافع خاص كړى﴾ دخپل ځان لپاره دا ﴿قربت اوثواب﴾ شته، ﴿اودليل پرې دا دى.چه﴾ فرمائيلى دى نبى ﷺ خرچ كول دسړى په خپل ځان باندې صدقه ده ﴿اوپه صدقه كې قربت اوثواب حاصليږى.نودغه ډول كه يوكس په خپل ځان باندې وقف اوكړى.هم به ورته مقصود دوقف چې ثواب دې هغه حاصليږى﴾

وَلَوْ شَرَطَ الْوَاقِفُ أَنْ يَسْتَبْدِلَ بِهِ أَرْضًا أُخْرَى إِذَا شَاءَ ذَلِكَ فَهُوَ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ،(٢) وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْوَقْفُ جَائِزٌ وَالشَّرْطُ بَاطِلٌ.

ژباړه وتشريح:- اوكه شرط كړلو واقف چې بدلوى به په مقابله ددې ﴿مځكه﴾ كې مځكه نوره كله چې دې اوغواړى دا جائزدى په نيزدامام ابويوسف رحمه الله ﴿يعنى كه زيد وقف په دې طريقه اوكړلو.چه خپله دا شل مرلې مځكه وقف كوم.خوپه دې شرط كه كله مې زړه اوغوستله.نوددې په بدل كې به د اوقافو نوره مځكه اخلم. نودا شرط لګول دامام ابويوسف رحمه الله په نيزجائزدې﴾ اوپه نيزدامام محمد رحمه الله وقف جائز دې اوشرط باطل دې.

وَلَوْ شَرَطَ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ فِي الْوَقْفِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ جَازَ الْوَقْفُ وَالشَّرْطُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ الْوَقْفُ بَاطِلٌ، وَهَذَا بِنَاءٌ عَلَى مَا ذَكَرْنَا

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته شرط ئې اولګولوداختيار دخپل ځان لپاره په وقف كې درې ورځې جائزدې وقف اوشرط په نيزدامام ابويوسف رحمه الله ﴿يعنى كه يوكس دا اووئيل.مثلاً ما خپل دا كورجمات ته وقف كړې دې.خوماته به درې ورځې مهلت وى.كه په درې ورځوكې زه دخپل وقف نه اوړم.نو اوړيدې به شم.نو داسې وقف دامام ابويوسف رحمه الله په نيزجائزدې﴾ اوپه نيزدامام محمد رحمه الله وقف باطل دې اودا ﴿اختلاف﴾ بناء دې په هغه ﴿اختلاف﴾ چې موږ بيان كړې دې ﴿چه دامام ابويوسف رحمه الله په نيزدوقف دمنافعو تخصيص دخپل ځان لپاره صحيح دې.اودامام محمد رحمه الله په نيزصحيح نه دې،ځكه چې هركله د واقف لپاره دا جائزدى.چه دې دبعضې منافعوخپل ځان لپاره تخصيص اوكړى.نودغه ډول ورته دا اختيارهم شته.چه دځان لپاره دخيار شرط اولګوى﴾

وَأَمَّا فَصْلُ الْوِلَايَةِ فَقَدْ نَصَّ فِيهِ عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ، وَهُوَ قَوْلُ هِلَالٍ أَيْضًا وَهُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ. وَذَكَرَ هِلَالٌ فِي وَقْفِهِ وَقَالَ أَقْوَامٌ: إِنْ شَرَطَ الْوَاقِفُ الْوِلَايَةَ لِنَفْسِهِ كَانَتْ لَهُ وِلَايَةٌ، وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطْ لَمْ تَكُنْ لَهُ وِلَايَةٌ.

ژباړه وتشريح:- اوهرچه تفصيل د ولايت دې ﴿يعنى دا مسئله چې واقف خپل ځان په خپله دوقف متولى جوړ كړى﴾ نويقيناً تصريح كړې ده ﴿ابو الحسين قدورى رحمه الله چې واقف خپل ځان متولى جوړ كړى.دا جائزده﴾ په قول دامام ابويوسف رحمه الله ﴿يعنى لكه ځنګه چې په وړاندينۍ مسئله كې دامام ابويوسف رحمه الله په نيزكه واقف د وقف دبعضې منافعويا دټولوتخصيص دخپل ځان لپاره اوكړى.نودغه جائزوه.دغه ډول كه متولى خپل ځان د وقف متولى اومنتظم جوړ كړى.دا هم جائزده﴾ اود ﴿جواز﴾ قول دهلال رحمه الله هم دې.اودا ﴿قول دجواز﴾ ظاهر مذهب دې.اوذكركړى دى امام هلال رحمه الله په خپل ﴿كتاب﴾ وقف كې چې وائى ځه مشائخ كه شرط اولګولو واقف د ولايت دخپل ځان لپاره ﴿چه زه دا شى وقف كوم.خوددې متولى به زه يم﴾

١) من حديث مقدام بن معدى كرب رضي الله عنه أخرجه ابن ماجه فى التجارات رقم ٢١٣٨)_

٢) القول الراجح هو هذا قول أبى يوسف رحمه الله كذا فى فتح القدير(٤٣٩\٥) والخانية (٣٠٥\٤) وردالمحتار(٤٢٤\٣) والهندية (٣٩٩\٢) والبحر(٢٢٥\٥) نقلاً عن القول الراجح (٥٢٧\١)-

نووی به ولایت دده ﴿واقف﴾ لپاره اوکه شرط نه کی (نکړی) ﴿دا ولایت دوقف دخپل ځان دپاره﴾ نه به وی ولایت دده ﴿واقف﴾ لپاره

قَالَ مَشَايِخُنَا: اَلْأَشْبَهُ أَنْ يَكُونَ هٰذَا قَوْلَ مُحَمَّدٍ، لِأَنَّ مِنْ أَصْلِهِ أَنَّ التَّسْلِيمَ إِلَى الْقَيِّمِ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْوَقْفِ فَإِذَا سَلَّمَ لَمْ يَبْقَ لَهُ وِلَايَةٌ فِيهِ.

حل اللغة: ① التسليم: سپارل ② القیم: متولی، منتظم

ژباړه وتشریح:- فرمائیلی دی عالمانو زمونږ ﴿داحنافو﴾ زیاته مناسبه دا معلومیږی چه وی دا قول ﴿کوم چې امام هلال ذکرکړلو. چه دواقف داړخه د خپل ځان لپاره که دولایت شرط لګیدلې وی. نوولایت به دده وی اوکه نه وی لګیدلې نو ولایت به دده نه وی﴾ قول دامام محمد رحمه الله خکه چې اصل دده ﴿امام محمد رحمه الله دا دې چې حواله کول ﴿دوقف﴾ متولی ته شرط دې لپاره دصحت د وقف ﴿یعنی دامام محمد رحمه الله په نیزبه وقف هله صحیح کیږی. چه واقف وقف څیزمتولی ته اوسپاری. اوکه سپارلې نې نه وی. نونه صحیح کیږی﴾ اوهرکله ئې چې اوسپاری. نوپاته پاتې نشوده ﴿واقف﴾ لپاره ولایت په دې ﴿وقف کې. اودامام ابویوسف رحمه الله په نیز چونکه په وقف کې متولی ته د وقف سپارل شرط نه دی. نوددې امله دامام ابویوسف رحمه الله د اصل په رڼا کې دا معلومیږی. چه مطلقاً د واقف لپاره دا جائزدی. چه دې د وقف متولی جوړ شی. که د وقف په مهال کې دخپل ځان لپاره د ولایت شرط لګولې وی اوکه نه وی﴾

ضروری تشریح:- البته دلته یواعتراض کیدای شی. هغه دا چې هرکله دامام محمد رحمه الله په نیزباندې متولی ته د وقف حواله کول شرط دی. نوواقف د نه حواله کولوشرط اولګوی. نودا خو واقف دهغه څیزنه انکار اوکړلو. کوم چې امام محمد رحمه الله د وقف دصحت لپاره شرط ګرځولې دې. نودا خو دامام محمد رحمه الله په قول کې منافات راغلو. چه یو اړخ ته متولی ته سپارل شرط ګرځوی. اوبل اړخ ته که واقف عدم تسلیم شرط کړی. نوهم وقف صحیح کیږی. نوددې نه ځواب دا دې. چه منافات نشته. خکه چې متولی ته سپارل ددې دویمه درجه ده. یعنی اول وقف د واقف دملکیت نه بهرشی. اوبیا روسته دا د متولی په ولایت کې داخلول شرط دی. اوپه زیربحث مسئله کې وقف د واقف د ملکیت نه لا وتلې نه وو. چه د وقف په مهال کې واقف دخپل ځان لپاره د ولایت شرط اولګولو. نوځکه دا شرط صحیح شو. اومنافات رانغلو.

وَلَنَا أَنَّ الْمُتَوَلِّيَ إِنَّمَا يَسْتَفِيدُ الْوِلَايَةَ مِنْ جِهَتِهِ بِشَرْطِهِ فَيَسْتَحِيلُ أَنْ لَا يَكُونَ لَهُ الْوِلَايَةُ وَغَيْرُهُ يَسْتَفِيدُ الْوِلَايَةَ مِنْهُ،

ژباړه وتشریح:- اوزمونږ لپاره ﴿یعنی دامام ابویوسف رحمه الله دلیل بیانوی. خوتعبیرئې دجمع متکلم په صیغه سره اوکړلو. په دې کې دامام ابویوسف رحمه الله دقول ترجیح ته اشاره ده﴾ چې متولی حاصلیږی هغه ته ولایت د اړخه د ده ﴿واقف﴾ نه نوناممکن ده چې نه دې وی ده ﴿واقف﴾ لپاره ولایت په داسې حال کې چې بل کس ﴿یعنی متولی﴾ حاصلیږی هغه ته ولایت دده ﴿واقف﴾ داړخه ﴿یعنی واقف چې کوم کس د وقف متولی جوړوی. نوهغه ته د وقف ولایت حاصلیږی. د واقف د اړخه حاصلیږی. نودا خبره دعقل نه لرې معلومیږی. چې په یوکس کې دې دا صلاحیت وی. چه دې بل کس متولی جوړ کړی. اودا صلاحیت دې په کې نه وی. چه په خپله متولی شی. بلکه ځوك چې بل کس متولی جوړوی. هغه به خامخا په دې قادر وی. چه خپله متولی شی. ددې مثال به دا وی. چه یوکس بل ته زر روپۍ ورکولې شی. اوهغه ددغه زرو روپومالك جوړولې شی. نودا خبره یقینی ده. چه هغه به د زرو روپومالك وی. اود زرو روپومالك به جوړیدې شی﴾

وَلِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَى هٰذَا الْوَقْفِ فَيَكُونُ أَوْلَى بِوِلَايَتِهِ، كَمَنِ اتَّخَذَ مَسْجِدًا يَكُونُ أَوْلَى بِعِمَارَتِهِ وَنَصْبِ الْمُؤَذِّنِ فِيهِ، وَكَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا كَانَ الْوَلَاءُ لَهُ لِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ.

حل اللغة: ① نصب: مقرر کول

ژباړه وتشریح:- ﴿دامام ابویوسف رحمه الله دقول لپاره بل دلیل بیانوی﴾ اوبله دا چې دا ﴿واقف﴾ زیات نزدې دې په نسبت سره د خلګ ونه دې وقف ته ﴿یعنی کوم کس چې یوڅیز وقف کوی. نود نورو خلګو په نسبت

ده ته ددغه وقف زيات علم دي.دا ورته پته لګي.چه ددې ساتنه په كومه طريقه ښه كيداې شي.دغه ډول ددې نه په كومه طريقه زياته فائده اخستې شي وغيره﴾ نو وى به ﴿دغه واقف﴾ زيات حقدار د ولايت ددې ﴿وقف﴾ لكه څوك چي جوړ كړى جمات،نودې ﴿جوړونكي﴾ زيات حقداردې د هغې دآبادولو اومقرر كولود اذان كونكي په هغې ﴿جمات﴾ كي ﴿دنورو خلګو په نسبت،نولكه څنګه چي د جمات جوړونكي دجمات متولي جوړيدې شي.دغه ډول واقف دخپل وقف متولي جوړيدې شي﴾ او پشان د هغه چا چي آزاد كړى غلام نو وى ولاء دده ﴿مولى﴾ لپاره ځكه چي دې ﴿معتق يعنى مولى﴾زيات نزدې دي ﴿دې مړشوى غلام ته﴾ په مقابله د نورو خلګ و ﴿يعنى څوك چي غلام آزاد كړى اودغه آزاد شوې غلام مړشي.اوميراث پريږدى. اودهغه څوك وارثان نه وى. نود ده ميراث چي ولاء ورته و ئيلې شى.دغه مولى زيات حقداردې.بل څوك ترې دغه په ميراث كي نشى ا ورې.نودغه ډول په زيربحث مسئله كي هم واقف دخپل وقف د ولايت زيات حقداردې﴾

وَلَوْ أَنَّ الْوَاقِفَ شَرَطَ وِلَايَتَهُ لِنَفْسِهِ وَكَانَ الْوَاقِفُ غَيْرَ مَأْمُونٍ عَلَى الْوَقْفِ فَلِلْقَاضِي أَنْ يَنْزِعَهَا مِنْ يَدِهِ نَظَرًا لِلْفُقَرَاءِ، كَمَا لَهُ أَنْ يُخْرِجَ الْوَصِيَّ نَظَرًا لِلصِّغَارِ،

حل اللغة: ① الصغار وركوټي

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته واقف شرط كړلو ولايت ددې ﴿وقف﴾ دخپل ځان دپاره ﴿چه دا خيزوقف كوم. خو ددې متولي به زه يم﴾ اووى ﴿واقف﴾ ناقابل اعتماد په وقف باندې ﴿يعنى دا اعتماد پرې نشي كيدې.چه دې به صحيح طريقه باندې دوقف نګرانى اوكړى.اوددې منافع اومحاصل به مستحقينوته وركړى.بلكه په هغه باندې دخيانت ويره وى﴾نوجائزدى لپاره دقاضى چي واخلي دغه ﴿ولايت﴾دلاس دده ﴿واقف﴾ نه لپاره د خيګړې د فقيرانو ﴿ځكه كه هم دهغه په ولايت كي پرينبودې شى.نوفقيرانوته به خپل حق په صحيح طريقه نه ملاويږى﴾ لكه څنګه چي جائزدى ده ﴿قاضى﴾ لپاره چي معزول كړى وصى لپاره دخيګړې د ماشومانو ﴿مثلاً يو سړې مړكيدو.اوماشومان اولاد ترې پاتې كيدل.اوده سره مال وو.نودې دخپلو بچودمال د ساتنه لپاره يوكس مقرركړى.اوهغه وصى جوړ كړى.چه په دې مال كي به دې تصرف كوى.اوزما دبچوخيال به په كي ساتى.خودغه موصى له خيانتګر وى.نوپه دې صورت كي قاضى لپاره دا جائزده.چه د مړى وصيت مات كړى.اود هغه نه دماشومانو مال واخلي.اوبل چاته ئې وركړى.چه امين وى.اوددوى لپاره په هغې كي تجارت كوى﴾

وَكَذَا إِذَا شَرَطَ أَنْ لَيْسَ لِلسُّلْطَانِ وَلَا لِلْقَاضِي أَنْ يُخْرِجَهَا مِنْ يَدِهِ وَيُوَلِّيَهَا غَيْرَهُ لِأَنَّهُ شَرْطٌ مُخَالِفٌ لِحُكْمِ الشَّرْعِ فَبَطَلَ

ژباړه وتشريح:- اودغه ډول ﴿دقاضى لپاره دوقف د اخستل جائزدى﴾ كله چي شرط اولګوى ﴿واقف په وقف كي﴾ چي نه به وى د بادشاه لپاره اونه د قاضى لپاره چي واخلي دا ﴿اختيار اوولايت دوقف﴾ د لاس دده ﴿واقف﴾ نه او متولي جوړ كړې ﴿بادشاه يا قاضى ددې وقف﴾ بل څوك ځكه چي دا حكم ﴿چه په وقف كي به دبادشاه اوقاضى څه اختيارنه وى﴾ داسې شرط دې چي مخالف دې د حكم د شريعت نه ﴿ځكه چي شريعت قاضى ته دا اختياروركړې دې.چه څوك متهم وى.اودهغه د امله د خلګ وحقوق ضائع كيږى.چه هغه معزول كړى.اوبل څوك دهغه په ځائې مقرركړى﴾ نوباطل شو ﴿شرط لګول د واقف اوقاضى دې معزوله كولې شى﴾

دجمات جوړونكي د جمات نه د ملكيت د زوال وخت

(فَصْلٌ): (وَإِذَا بَنَى مَسْجِدًا لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يُفْرِزَهُ عَنْ مِلْكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ لِلنَّاسِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ، فَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَنْ مِلْكِهِ)

ژباړه وتشريح:- فصل: اوكله چي جوړ كړى ﴿يوكس﴾ جمات نو نه ختميږى ملكيت دده ﴿جوړونكي﴾ ددې ﴿جمات دزمكي﴾ نه تردې چي جدا كړى دا ﴿جمات﴾ دملك خپل نه سره د لارې دهغې ﴿جمات يعنى

دجمات چي کومه لاره وی.هغه هم جلا کړي.چه دا ددې جمات لاره شوه﴾ اوحکم اوکړي خلک وته د لمونځ کولو په هغې ﴿جمات﴾ کي کله چي لمونځ اوکړی په هغې ﴿جمات﴾ کي یوکس نواووتلو ﴿دغه جمات﴾ په نیزدامام ابوحنیفه‌رحمه‌الله د ملکیت دده ﴿جوړونکی﴾ نه

أَمَّا الْإِفْرَازُ فَلِأَنَّهُ لَا يَخْلُصُ لِلَّهِ تَعَالَى إِلَّا بِهِ، وَأَمَّا الصَّلَاةُ فِيهِ فَلِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ التَّسْلِيمِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَيُشْتَرَطُ تَسْلِيمُ نَوْعِهِ، وَذَلِكَ فِي الْمَسْجِدِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ،

حل اللغة: ① الافراز:جدا کول ② التسليم:سپارل

ژباره وتشریح:- هرچه ﴿شرطیت د جداوالی دجمات د زمکي دنورې زمکي نه﴾ دی.نوځکه چي دا ﴿جمات﴾ نه خالص کیږی دالله تعالی لپاره ﴿چه دجمات حکم اخلی﴾ مګرپه دې ﴿جداکولو﴾ سره اوهرچه ﴿شرطیت دلمونځ کول دی﴾ په دې ﴿جمات﴾ کي ځکه چي ضروری دی حواله کول ﴿دوقف﴾ په نیزدامام ابوحنیفه اومحمد رحمهماالله او شرط کولای شی حواله کول موافق د اړتیا سره ﴿دوقف یعنی د طرفینو رحمهماالله په نیز په وقف کي دا ضروری ده.چه واقف موقوف علیه ته وقف په داسي طریقه باندې حواله کړی.چه ددغه وقف نه کومه فائده اوکوم کاراخستې شی.دهغې قابل شی﴾ اودا ﴿اړتیا پوره کیدل﴾ واقع کیږی په جمات کي په لمانځه سره ﴿چه په جمات کي لمونځ اوشی.نودکوم شی لپاره چي دا وقف شوې وو.نوهغه مقصد په کي ادا شو﴾

أَوْ لِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ الْقَبْضُ فَقَامَ تَحَقُّقُ الْمَقْصُودِ مَقَامَهُ

ژباره وتشریح:- اویا ددې امله ﴿ دملکیت نه د وتلو لپاره جداکول اوپه کي لمونځ کول شرط کولې شی﴾ کله چي متعذر شو قبض ﴿په حق دالله تعالی کي ،یعنی جمات چي کله وقف شی.نودا د واقف دملکیت نه اووتلو .اودالله تعالی په ملکیت کي داخل شو.او په عامه توګه په یوخیزباندې ملکیت هله راځی.چه په هغې باندې قبضه اوشی.لکه په بیع کي مشتری مبیع قبض کړی.نوبیع تمام شی.نوپه بیع کي خومشتری موږ وینو .چه د مبیع قبض کوی.اودمشتراة مالك جوړیږی.دغه ډول په زکاة کي فقیر وینو.چه د زکاة قبض کوی او د زکاة مالك جوړیږی.خوپه جمات کي الله تعالی لره مالك جوړول وی.اودالله تعالی په حق کي دا خبره متعذره ده.چه الله تعالی دجمات قبض اوکړی.نودجمات قبض کول متعذرشو﴾او اوګرځولې شو ثبوت د مقصود قائم مقام ددې ﴿قبض یعنی دجمات د جوړولو مقصود دا دې.چه په دې کي لمونځ اوشی.نوچه هرکله په دې کي لمونځ اوشی.نوددې مقصود حاصل شو.اودغه مقصود د الله تعالی د قبض قائم مقام اوګرځولې شو.یعنی کله چي لمونځ ګذار په جمات کي لمونځ اوکړلو.نودا داسي شوه.لکه چي الله تعالی دغه جمات قبض کړلو﴾

ثُمَّ يُكْتَفَى بِصَلَاةِ الْوَاحِدِ فِيهِ فِي رِوَايَةٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ، وَكَذَا عَنْ مُحَمَّدٍ لِأَنَّ فِعْلَ الْجِنْسِ مُتَعَذِّرٌ فَيُشْتَرَطُ أَدْنَاهُ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يُشْتَرَطُ الصَّلَاةُ بِالْجَمَاعَةِ، لِأَنَّ الْمَسْجِدَ يُبْنَى لِذَلِكَ فِي الْغَالِبِ

ژباره وتشریح:- بیا به اکتفاء کولای شی په لمونځ کولود یوکس په دې ﴿جمات﴾ کي په یو روایت کي دامام ابوحنیفه‌رحمه‌الله نه اودغه ډول روایت دې دامام محمدرحمه‌الله نه ﴿یعنی چي یوکس په کي لمونځ اوکړلو. نوجمات وقف شو﴾ ځکه چي فعل د جنس متعذر دې ﴿یعنی دا ناممکن ده.چه واړه مونځګذار په دې جمات کي لمونځ اوکړی﴾ نوشرط کولې به شی ادنی درجه د جنسیت ﴿اوادنی درجه دا ده.چه یوکس په کي لمونځ اوکړی.ځکه چي یوکس هم دټولو مونځګذاردجنس نه یوفرد دې﴾ اودامام محمدرحمه‌الله نه نقل دی چي شرط کولای شی لمونځ دجماعت ﴿یعنی هله به د واقف دملکیت نه اوځی.چه په جماعت سره په کي لمونځ ادا شی﴾ ځکه چي جمات جوړشوې دې لپاره ددې ﴿مقصدچه په کي په جماعت سره لمونځ کولې شی.ځکه چي انفراداً لمونځ خوپه هرځائې کي کیداې شی﴾

﴿وَقَالَ أَبُويُوسُفَ: يَزُولُ مِلْكُهُ بِقَوْلِهِ جَعَلْتُه مَسْجِدًا)() لِأَنَّ التَّسْلِيمَ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ؛ لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ لِمِلْكِ الْعَبْدِ فَيَصِيرُ خَالِصًا لِلَّهِ تَعَالَى بِسُقُوطِ حَقِّ الْعَبْدِ وَصَارَ كَالْإِعْتَاقِ، وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ.

ژباړه وتشريح:- اوفرمائيلي دي امام ابويوسف رحمه الله چې زائله كيږي ملك دده ﴿واقف دجمات نه صرف﴾ په قول دده چې ما اوګرځولودا ﴿آبادي﴾ جمات ځكه چې سپارل ﴿متولي اوموقوف عليه ته په وقف كې﴾ نه دی شرط په نيز دده ﴿ابويوسف﴾ رحمه الله ځكه چې دا ﴿وقف﴾ ساقط كول د ملكيت د بنده دی ﴿اوچه دبنده ملكيت ترې ختم شي﴾ نوګرځي خالص دالله تعالى لپاره ﴿اودالله لپاره ګرځي﴾ ځكه چې دبنده حق ترې ختم شو.او اوګر خيدلو ﴿وقف﴾ پشان د آزادولو ﴿دغلام يا د وينځې﴾ اويقيناً موږ بيان كړې دی ددې وړاندې ﴿په اول بيان د كتاب الوقف كې چې دامام ابويوسف رحمه الله په نيز په وقف كې تسيم ضروري نه دی.بلكه لكه څنګه په اعتاق كې صرف په دې وينا باندې ملكيت ختميږي.چه ته آزاد ئې.نودغه ډول په وقف كې د وقف څيزنه ملكيت هم صرف په قول باندې ختميږي.چه دا اووائی.ما دا څيزوقف كړلو.تسيلم ته اړتيا نشته .لكه څنګه چې دامام محمد رحمه الله مذهب دی﴾

دجمات لاندې تاخانه باندې بالاخانه جوړ ولوحكم

قَالَ: وَمَنْ جَعَلَ مَسْجِدًا تَحْتَهُ سِرْدَابٌ أَوْفَوْقَهُ بَيْتٌ وَجَعَلَ بَابَ الْمَسْجِدِ إِلَى الطَّرِيقِ، وَعَزَلَهُ عَنْ مِلْكِهِ فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهُ، وَإِنْ مَاتَ يُورَثُ عَنْهُ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَخْلُصْ لِلَّهِ تَعَالَى لِبَقَاءِ حَقِّ الْعَبْدِ مُتَعَلِّقًا بِهِ،

حل اللغة: ① سرداب:تاخانه ② عزل:معزول كړو

ژباړه وتشريح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله اوچا چې جوړكړلو جمات چې لاندې دهغې ﴿جمات﴾ نه تهخانه وی اويا سربيره دهغې ﴿جمات﴾ بالاخانه وی. ﴿يعنی د جمات دلاندې آبادې وی.يا دهغې سربيره آبادې وی﴾ او اوګرځوی ﴿دا جوړونكې﴾ دروازه د جمات لارې ته اوجدا ئې كړی دخپل ملكيت نه نوده ﴿جوړونكې﴾ لپاره جائز دی چې خرڅ كړی هغه ﴿جمات﴾ اوكه مړ شو نوپه ميراث كې به ا وړی شی دده ﴿مړی﴾ نه ځكه چې دا ﴿جمات تراخری وخته پوری﴾ نه وو ګرځولې شوې.خالص دالله تعالى لپاره د امله دپاته پاتې كيدوحق د بنده متعلق دې سره ﴿ځكه چې ددې لاندې تهخانه يا سربيره بالاخانه خوده وقف كړې نه ده.نوپه لاندې يا باندې برخه پورې د بنده حق تړلې دې.اودغه جمات خالص دالله تعالى لپاره نه دی﴾

وَلَوْكَانَ السِّرْدَابُ لِمَصَالِحِ الْمَسْجِدِ جَازَ كَمَا فِي مَسْجِدِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ. وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: إِذَا جَعَلَ السُّفْلَ مَسْجِدًا وَعَلَى ظَهْرِهِ مَسْكَنٌ فَهُوَ مَسْجِدٌ؛ لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مِمَّا يَتَأَبَّدُ، وَذَلِكَ يَتَحَقَّقُ فِي السُّفْلِ دُونَ الْعُلُوِّ.

حل اللغة: ① السفل:لاندينۍ برخه ② مسكن:د استوګنې ځائې ③ العلو:پورته برخه

ژباړه وتشريح:- اوكه چيرته وی تهخانه لپاره دضروریاتو د جمات ﴿مثلاً په هغې دجمات پنكې يا درۍ وغيره پرتې وی﴾ نوجائزدې ﴿وقف﴾ لكه څنګه چې د بيت المقدس په جمات كې دی. ﴿چه په هغې كې تهخانه دوی د ضروریات لپاره جوړه شوې ده﴾ او روايت كړې دې حسن رحمه الله ددوی ﴿امام ابوحنيفه﴾ رحمه الله نه چې ﴿امام ابوحنيفه﴾ فرمائيلي دی.كله چې اوګرځوی لاندې برخه ﴿دزمكې﴾ جمات اودهغې ﴿جمات﴾ په شا باندې كوروی.نودغه جمات دې.ځكه چې جمات هغې ته وائی.چه هميشه لپاره وی.اودا ﴿هميش والې﴾ ثابتيږي په لاندې برخه كې نه په بره برخه كې ، ﴿هم دا وجه ده.چه زموږ په زمانه كې د زمكې سربيره چې كومه برخه وی.هغه خرڅيږي.داسې نشته.چه د كوريومنزل يوكس په قيمت واخلې.او

() القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في فتح القدير(٥\٤٢٤) وردالمحتار(٣\٣٩٣) والهندية (٢\٣٥١) والبحرالرائق (٥\١٩٧) نقلاً عن القول الراجح(١\٥٢٢)-

دوهم منزل نې بل كس په قيمت واخلي.بلكه كوم كس چې اولنې منزل اخستې وي.هغه ترآسمانه پورې دفضا حقدار دي﴾

وَعَنْ مُحَمَّدٍ عَلَى عَكْسِ هَذَا،لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مُعَظَّمٌ،وَإِذَا كَانَ فَوْقَهُ مَسْكَنٌ أَوْمُسْتَغَلٌّ يَتَعَذَّرُ تَعْظِيمُهُ.	

حل اللغة: ① مستغل:د آمدن خائې

ژباړه وتشريح:- اوداما م محمد رحمه الله نه ددې په عكس روايت منقول دې ﴿يعنې چې لاندې منزل ئې كور وي او سربيره منزل ئې جمات وي.دغه جمات دې.اوددې قول لپاره دليل دا بيانوي﴾ ځكه چې جمات قابل احترام وي.اوهركله چې وى سربيره ددې ﴿جمات﴾ كور يا دآمدن ځه ځائې ﴿مثلاً چې هغه ئې په كرايه وركړې وي.اودهغې كرايه اوآمدن په جمات باندې خرچ كولې شي﴾ نومتعذردې تعظيم ددې ﴿جمات،ځكه چې دا خبره دجمات دتعظيم نه خلاف ده.چه ددې سربيره د جمات نه سوا بل ځه كوروغيره وي﴾

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ جَوَّزَ فِي الْوَجْهَيْنِ حِينَ قَدِمَ بَغْدَادَ وَرَأَى ضِيقَ الْمَنَازِلِ فَكَأَنَّهُ اعْتَبَرَ الضَّرُورَةَ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ حِينَ
دَخَلَ الرَّيَّ أَجَازَ ذَلِكَ كُلَّهُ لِمَا قُلْنَا.

حل اللغة: ① ضيق:تنګوالې ② المنازل:جمع د منزل، كور

ژباړه وتشريح:- اوداما م ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه دوى جائزكړې دې ﴿وقف﴾ په دواړو صورتونوكې ﴿كه دجمات منزل اول وي اوكه دوهم وي﴾ كله چې هغوى تشريف يوړلو بغداد ﴿ښار﴾ ته او وې ليدل تنګوالې د كورونوګويا چې دوى ﴿امام ابويوسف رحمه الله﴾ معتبركړې دې ضرورت، ﴿يعنى د خلګ و اړتيا وو.دومره توان د خلګو نه كيدلو.چه ځانله مستقل جمات جوړكړي.نوددې امله دوى به په دخپل كورلاندې يا باندې برخه جمات ته وقف كړې وه.هركله چې امام ابويوسف رحمه الله دا حالت اوليدلو.نوددې ځايونود جمات حكم ئې اوكړلو.چه دا جمات دې﴾ اوداما م محمد رحمه الله نه نقل دې.چه كله دوى داخل شو رائې ښارته نواجازت ئې وركړلو ددې واړه هرځه ﴿كه جمات په اولنى منزل كې وي اوكه په دوهم كې په دواړو صورتونوكې دا جمات دې﴾ دهغه امله چې موږ بيان كړه ﴿يعنى د خلګ و اړتيا وو.دومره توان د خلګو نه كيدلو.چه ځانله مستقل جمات جوړكړي.نوددې امله دوى به په دخپل كورلاندې يا باندې برخه جمات ته وقف كړې وه.هركله چې امام محمد رحمه الله دا حالت اوليدلو.نوددې ځايونود جمات حكم ئې اوكړلو.چه دا جمات دې﴾

دكور په مينځ كې دجمات حكم

قَالَ (وَكَذَلِكَ إِنْ اتَّخَذَ وَسْطَ دَارِهِ مَسْجِدًا وَأَذِنَ لِلنَّاسِ بِالدُّخُولِ فِيهِ) يَعْنِي لَهُ أَنْ يَبِيعَهُ وَيُورَثُ عَنْهُ،لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مَا لَا يَكُونُ لِأَحَدٍ فِيهِ حَقُّ الْمَنْعِ،وَإِذَا كَانَ مِلْكُهُ مُحِيطًا بِجَوَانِبِهِ كَانَ لَهُ حَقُّ الْمَنْعِ فَلَمْ يَصِرْ مَسْجِدًا،وَلِأَنَّهُ أَبْقَى الطَّرِيقَ لِنَفْسِهِ فَلَمْ يَخْلُصْ لِلَّهِ تَعَالَى

ژباړه وتشريح:- فرمائي ﴿ابو الحسين قدوري رحمه الله﴾ اودغه ډول حكم دې كه جوړ كړي په مينځ دخپل كوركې جمات اواجازت اوكړي خلګ وته دداخليدوپه هغې ﴿جمات﴾ كې يعنى جائزدى ده لپاره چې خرڅ ئې كړي اوپه ميراث كې يوړې شي دده ﴿جوړونكي﴾ نه ځكه چې جمات هغه وي چې نه وي دهيچا لپاره په هغې كې حق د منع كولو ﴿بلكه جماته ته دلمانځه په وخت كې هرڅوك داخليدې شي﴾ اوهركله وي ملكيت دده ﴿د كور د مالك﴾ شاو خوا دهغې ﴿جمات﴾ د طرفونو نه نودې ده ﴿مالك دكور﴾ لپاره حق د منع كاوه ﴿د خلګ و،چه خلګ جمات ته د داخليدو نه منع كړي.نوپه دې باندې دجمات تعريف صادق نشو﴾ اونه ګرځيدلو ﴿دغه ځائې﴾ جمات،اوبله دا چې دده ﴿دكورمالك﴾ پريښودې ده لاره ﴿دكور﴾ دخپل ځان لپاره ﴿اوجمات ته ئې جلا لارنه ده وركړې﴾ نونشو ﴿دغه جمات﴾ خالص دالله تعالى لپاره ﴿اوجمات خو هغه وي.چه هغه خاص دالله تعالى لپاره وي. دبل چا په كې برخه نه وي﴾

(وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ وَلَا يُورَثُ وَلَا يُوهَبُ) اعْتَبَرَهُ مَسْجِدًا، وَهَكَذَا عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَصِيرُ مَسْجِدًا، لِأَنَّهُ لَمَّا رَضِيَ بِكَوْنِهِ مَسْجِدًا وَلَا يَصِيرُ مَسْجِدًا إِلَّا بِالطَّرِيقِ دَخَلَ فِيهِ الطَّرِيقُ وَصَارَ مُسْتَحَقًّا كَمَا يَدْخُلُ فِي الْإِجَارَةِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرٍ.

ژباړه وتشریح:- اوداما‌م محمد رحمه الله نه روايت دې چې دا ﴿جمات﴾ به نه خرڅولې شي اونه به په ميراث کې اوړې شي ګرځولې دې دوی ﴿امام محمد﴾ دا ﴿مځکه﴾ جمات اودغه ډول نقل دی داما‌م ابويوسف رحمه الله نه چې دا ﴿مځکه﴾ ګرځي جمات ﴿اودليل دا بيانوی﴾ ځکه چې دې ﴿د کورخاوند﴾ هرکله راضی شو په دې چې شی دې ﴿مينځ دکورد ده﴾ جمات ﴿نودا ددې خبرې دليل شو.چه دغه ځائې دجمات حکم اخلي﴾ ځکه چې نه ګرځي جمات مګرپه لار ﴿يعنی جمات لپاره لارضروری ده.بغيرلارې جمات نه وی﴾ نوداخله شوه په دې ﴿ګرځولو﴾ کې لاره ﴿يعنی هرکله چې ده د کور په مينځ کې جمات جوړ کړلو.نودا داسې شوه.چه ده جمات ته لارهم ورکړله﴾ اواوګرځيدلو ﴿جمات﴾ مستحق ﴿د لارې.چه په دغه کورکې دجمات لپاره لاريوحق دې﴾ لکه څنګه چې داخليږی ﴿لار﴾ په کرايه کې بغيرد ذکرکولو ﴿دلارې نه يعنی که يوکس يوکورپه کرايه اخلی. نواګرچه د کرايه اخستلوپه وخت کې دا وضاحت نه وی شوې.چه کرايه دار به دا لار استعمالوی.خوبيا هم دکرايه لپاره ددغه کور په لاربانديې د تلو حق شته.نودغه ډول دلته هم دجمات لپاره په کورکې دننه د لارې حق شته﴾

په وقف ځيزکې د رجوع عدم جواز

قَالَ (وَمَنِ اتَّخَذَ أَرْضَهُ مَسْجِدًا لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهِ وَلَا يَبِيعَهُ وَلَا يُورَثُ عَنْهُ) لِأَنَّهُ تَجَرَّدَ عَنْ حَقِّ الْعِبَادِ وَصَارَ خَالِصًا لِلَّهِ، وَهَذَا لِأَنَّ الْأَشْيَاءَ كُلَّهَا لِلَّهِ تَعَالَى، وَإِذَا أَسْقَطَ الْعَبْدُ مَا ثَبَتَ لَهُ مِنَ الْحَقِّ رَجَعَ إِلَى أَصْلِهِ فَانْقَطَعَ تَصَرُّفُهُ عَنْهُ كَمَا فِي الْإِعْتَاقِ.

ژباړه وتشریح:- فرمائی ﴿ابو الحسين قدوری﴾ رحمه الله اوچا چې اوګرځوله مځکه خپله جمات ﴿جمات ته ئې وقف کړله﴾ نوجائزنه دی ده ﴿واقف﴾ لپاره چې رجوع اوکړی په دې ﴿وقف﴾ کې اونه به ئې خرڅولې شي اوپه ميراث کې نشی اوړلې دده نه ځکه چې دا ﴿مځکه دجمات﴾ خالی شوې ده دحقوق العباد نه ﴿يعنی دوقف نه روسته په دې کې د بندګانو حقوق نه دی پاتې شوی﴾ اوګرځيدلې ده خالص دالله تعالى لپاره اودا ﴿دالله تعالى لپاره د خالص کيدو مطلب دا بيانوی﴾ ځکه چې واړه شيان (ځيزونه) واړه دالله تعالى لپاره دی. ﴿خوالله تعالى دملکيت په ذرائع باندې دبنده لپاره په دغه ځيزونوباندې ملکيت ثابت کړې دې﴾ اوهرکله چې ساقط کړلو بنده هغه شی چې ثابت شوې وو ده ﴿بنده﴾ لپاره حق،نو واپس شو ﴿ملکيت﴾ خپل اصل ته ﴿يعنی څنګه چې په اول کې دهرځيزمالک الله تعالى وو.دغه ډول دبنده د ملکيت ختميدونه روسته دغه ځيزبيا دالله تعالى په ملکيت کې راغې﴾ نوختميږی اختيار دده ﴿بنده﴾ ددې ﴿وقف﴾ نه لکه څنګه چې د غلام په آزادولوکې وی. ﴿ځکه چې کله يو سړې خپل غلام آزاد کړی نوده په خپله خپل حق ساقط کړلو.دوباره دغه غلام دده غلام نشی جوړيدې﴾

وَلَوْ خَرِبَ مَا حَوْلَ الْمَسْجِدِ وَاسْتُغْنِيَ عَنْهُ يَبْقَى مَسْجِدًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ[1] لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ مِنْهُ فَلَا يَعُودُ إِلَى مِلْكِهِ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَعُودُ إِلَى مِلْكِ الْبَانِي، أَوْ إِلَى وَارِثِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ، لِأَنَّهُ عَيَّنَهُ لِنَوْعِ قُرْبَةٍ، وَقَدِ انْقَطَعَتْ

حل اللغة: ① اسقاط ساقطول ② البانى جوړونکې ③ قربة عبادت

ژباړه وتشریح:- اوکه شاړ شی هغه ځائې چې شاو خوا وی د جمات نه اومستغنی شی ﴿جمات﴾ دهغې ﴿ماحول﴾ نه ﴿يعنی دجمات هغې ته څه اړتيا پاتې نشی.يعنی داسې ځائې نه وی.چه د جمات ضروريات

[1] القول الراجح هوهذاقول أبى يوسف رحمه الله كذا فى الدرالمنتقى (٧٥٦\١) وردالمحتار(٤٠٦\٣) وفتح القدير(٤٤٤\٥) والخانية (٢٩٦\٤) والبحر(٢٤٨\٥) نقلاً عن القول الراجح (٥٢٩\١)-

پري پوره کیداي شي» نو پاته پاتې کیږي جمات په نیزد امام ابویوسف رحمه الله ځکه چې دا «وقف» ساقط
کول «د خپل ملکیت دي» دده «واقف» دارخه «نو هرکله چې ده یوځل خپل ملکیت ختم کړې دي»
نونه واپس کیږي «دغه وقف» ملکیت دده ته.اوپه نیزد امام محمد رحمه الله واپس کیږي «دغه ماحول»
ملکیت د جوړونکي «او وقف کونکي» ته اویا وراثانو دهغه «جوړونکي» ته روسته د مرګ د هغه
«جوړونکي» نه ځکه چې ده «واقف» مقرر کړې وو «دغه ماحول» لپاره دیو ډول عبادت «چه
لمونځ دي» اویقیناً ختم شو هغه «عبادت ځکه چې دلمانځه قابل پاتې نشو»

فَصَارَكَحَصِيرِالْمَسْجِدِوَحَشِيشِهِ إِذَااسْتُغْنِيَ عَنْهُ، إِلَّا أَنَّ أَبَايُوسُفَ يَقُولُ فِي الْحَصِيرِوَالْحَشِيشِ إِنَّهُ يُنْقَلُ إِلَى مَسْجِدٍآخَرَ.

حل اللغة: ① **حصير**: پوزې ② **حشيش**: وابنه

ژباړه وتشريح:- نو اوګرځیدلو «دغه ماحول دجمات» پشان د پوزی دجمات اود وچو وښو دهغې کله چې بې احتیاج شی «جمات» دهغې «پوزی اود وچووښونه یعنی لکه څنګه چې دجمات زاړه پوزی یا وابنه چې هغې ته دجمات څه اړتیا نه وی. «نو چا چې دغه پوزی یا وچ وابنه راوړی وی.دهغه ملکیت ته واپس کیږي. البته دا ده چې امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.په پوزی اوپه وچووښوکي چې دا به منتقل کولای شی بل جمات ته «مثلاً دیوجمات لپاره درئ یا فرش واخستې شو.نو ددې زاړه پوزی اودغه هغه وابنه اودروزه چې په ژمی کي د مونځګذارو لپاره اچولې شی.دا به داسې جمات ته منتقل کولی شی.چه دهغې مونځګذار غریبانان وی. او دې ځیزونوته ئې اړتیا وی»

١

دمسافرخانه سبیل اومقبره جوړولوحکم

قَالَ (وَمَنْ بَنَى سِقَايَةً لِلْمُسْلِمِينَ أَوْخَانًا يَسْكُنُهُ بَنُوالسَّبِيلِ أَوْرِبَاطًا أَوْجَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْ ذَلِكَ حَتَّى يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ) لِأَنَّهُ لَمْ يَنْقَطِعْ عَنْ حَقِّ الْعَبْدِ؛

حل اللغة: ① **سقاية**: سبیل ،هغه ځائې چې مفتې اوبه په کښې ورکولې شی ② **رباط**: چوکۍ چې اسلامی سرحد حفاظت په کښې کولې شی

ژباړه وتشريح:- فرمائی «ابو الحسین قدوری» رحمه الله اوچا چې جوړ کړلو سبیل لپاره «دڅښلو» دمسلمانانو اویا مسافرخانه چې اوسیږی په کي مسافراویا چوکۍ «چه محافظین دملك په کي اوسیږی» اویا ئې اوګرځوله مځکه خپله مقبره نو نه ختمیږی ملك دده «واقف» ددې «ځیزونو» نه تردې چې حکم اوکړی په «وقفیت د» دې حاکم په نیزد امام ابوحنیفه رحمه الله «یعنی کله چې حاکم دا حکم جاری کړی.چه دا ځیزدوقف دې،نوهله به وقف ګرځی،صرف ددې ځیزونوپه جوړولودا وقف نه ګرځی» ځکه چې دا «شیان (ځیزونه)» نه دی خالی شوی دحق د بنده نه «بلکه دوقف نه روسته هم واقف ددې نه فائده اخلی»

أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهِ فَيَسْكُنَ فِي الْخَانِ وَيَنْزِلَ فِي الرِّبَاطِ وَيَشْرَبَ مِنَ السِّقَايَةِ، وَيُدْفَنَ فِي الْمَقْبَرَةِ فَيُشْتَرَطُ حُكْمُ الْحَاكِمِ أَوِالْإِضَافَةُ إِلَى مَابَعْدَالْمَوْتِ كَمَا فِي الْوَقْفِ عَلَى الْفُقَرَاءِ،

ژباړه وتشريح:- ولې ته ګورې نه چې جائز دی ده «واقف» لره چې فائده واخلی ددې نه «او دفائدې اخستلو تفصیل دادې» چې اوسیږی په مسافرخانه کي اوحصاریږی په چوکۍ کي اوڅکاك کوی دسبیل نه اوښخوی «مړی خپل» په مقبره کي «نو ددې تصرفاتو د جواز نه دا معلومیږی.چه صرف ددې ځیزونوپه جوړولواو خلګو ته ددې داستعمال اجازت ورکولوباندې دا وقف نه ګرځی.بلکه د یوبل شی اړتیا دې.اودهغې بیان دا دې.چه» شرط کولې به شی حکم دحاکم «چه هغه دا فیصله اوکړی.چه دا ځیزوقف دې» یا دا چې اضافت اوکړی «واقف د وقف ددې ځیزونو» د مرګ نه روسته حالت ته «یعنی چې دا اووائی.زما د مرګ نه روسته دا شیان (ځیزونه) وقف دی.نو بیا وقف صحیح دې» لکه څنګه چې په صورت د وقف کولوکي دی په فقیرانو «یعنی چې یوسړې یوځیزوقف کړی.اووقف په دې طریقه اوکړی.چه دا زما دمرګ نه

روسته دفقیرانو لپاره وقف دې.نولکه څنګه چې دغه وقف صحیح کیږي.دغه ډول ددې څیزونو وقف هم صحیح کیږي﴾

بِخِلَافِ الْمَسْجِدِ،لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ لَهُ حَقُّ الِانْتِفَاعِ بِهِ فَخَلَصَ لِلَّهِ تَعَالَى مِنْ غَيْرِ حُكْمِ الْحَاكِمِ

ژباړه وتشریح:- په خلاف دجمات ﴿په دې کې دحاکم فیصلې کولوته اړتیا نشته.بلکه چې صرف په خولې باندې اوواتی.چه ما د جمات لپاره دا ځمکه وقف کړې ده.نووقف صحیح شو﴾ څکه چې نه پاتې کیږي حق د فائدې اخستلود دې ﴿جمات﴾ نه نوخالص شو ﴿وقف دجمات﴾ دالله تعالی لپاره بغیردحکم دحاکم نه.

(وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَزُولُ مِلْكُهُ بِالْقَوْلِ)(¹) كَمَا هُوَ أَصْلُهُ،إِذِ التَّسْلِيمُ عِنْدَهُ لَيْسَ بِشَرْطٍ وَالْوَقْفُ لَازِمٌ

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزدامام ابویوسف رحمه الله ختمیږي ملك دده ﴿واقف ددې څیزونونه صرف په﴾ قول سره ﴿چه دا اوواتی.ما دا شیان (څیزونه) وقف کړي دي.نووقف صحیح شو.دقاضي فیصلې ته اړتیا نشته﴾ لکه څنګه چې دا اصل د دوی ﴿امام ابویوسف﴾ دې ﴿په وقف کې﴾ څکه چې سپارل ﴿د وقف موقوف علیه﴾ ته نه دې شرط ﴿دوصف دصحت دپاره.بلکه چې صرف په قول سره یوڅیزوقف کړي.نو﴾ وقف لازمیږي.

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ إِذَا اسْتَقَى النَّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوا الْخَانَ وَالرِّبَاطَ وَدُفِنُوا فِي الْمَقْبَرَةِ زَالَ الْمِلْكُ،لِأَنَّ التَّسْلِيمَ عِنْدَهُ شَرْطٌ وَالشَّرْطُ تَسْلِيمُ نَوْعِهِ،وَذَلِكَ بِمَا ذَكَرْنَاهُ.

حل اللغة: ① السقایة:سبیل،د څکولو ځائې ② خان:مسافرخانه

ژباړه وتشریح:- اوپه نیزدامام محمد رحمه الله کله چې څکاك پیل کړي خلګ د سبیل نه اواوسیدل پیل کړي په مسافرخانه کې اوپه چوکۍ کې اوښخ کړي ﴿مړي﴾ په مقبره کې نوختم شو ملك ﴿دواقف ددې څیزونونه﴾ څکه چې سپارل ﴿موقوف علیه﴾ ته شرط دې ﴿په وقف کې﴾ په نیزددوی ﴿امام محمد﴾ اوشرط سپارل د نوعې دې اودا ﴿سپارل دنوع﴾ په هغه څه راځي.چه مونږذکرکړي دی. ﴿چه خلګ په مسافرخانه یا په چوکۍ کې اوسیدل اوکړي.اویا دسبیل نه اوبه اوڅکي.اویا په مقبره کې مړي دفن کړي.یعني چې کوم څیزئې وقف کړي وي.چه هغه دکوم مقصد او اړتیا لپاره وي.چه هغه مقصد تري پوره شي.اګرچه یوځل وي اواګرچه یوکس ئې تري پوره کړي.نوبس وقف صحیح شو﴾

وَيُكْتَفَى بِالْوَاحِدِ لِتَعَذُّرِ فِعْلِ الْجِنْسِ كُلِّهِ،وَعَلَى هَذَا الْبِئْرُ الْمَوْقُوفَةُ وَالْحَوْضُ،وَلَوْ سَلَّمَ إِلَى الْمُتَوَلِّي صَحَّ التَّسْلِيمُ فِي هَذِهِ الْوُجُوهِ كُلِّهَا،لِأَنَّهُ نَائِبٌ عَنِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ،وَفِعْلُ النَّائِبِ كَفِعْلِ الْمَنُوبِ عَنْهُ،

حل اللغة: ① البئر کوهی ② المنوب:هغه کس چې بل څوك ئې خپل نائب جوړ کړي وي

ژباړه وتشریح:- اواکتفاء کولای شی په یوباندې ﴿یعنی چې یوکس هم په مسافرخانه یا په چوکۍ کې اوسیدل یا ئې د سبیل نه اوبه اوڅښلې یا په کې یومړې ښخ شي.نووقف صحیح شو﴾ اوبناء په دې باندې وقف شوې څاه اوحوض دې ﴿یعنی که یوکس څاه یا حوض وقف کړلو.نودامام ابویوسف رحمه الله په نیزصرف قول د وقف وی﴾ اوکه حواله ئې کړل ﴿دا وقف شیان (څیزونه) دکوموذکرچه په دې متن کې دې﴾ متولی ته نو صحیح شو سپارل په دې څیزونوټولوکې ﴿یعني وقف صحیح کیږي﴾ څکه چې دې ﴿متولی﴾ نائب دې د موقوف علیه د اړخه ﴿نودده قبض کول داسې دی.لکه چې دچا لپاره وقف شوی وی.هغوی دا متولی

¹) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الخانية (٢٩٦١٤) والبحرالرائق (٢٥٣١٥) والهندية (٤٦٥١٢) نقلاً عن القول الراجح (٥٣٠١١)-

خپل نائب جوړکړی دی﴾ اوفعل دنائب پشان د هغه چا وی.چه دچا نائب وی.

وَأَمَّا فِي الْمَسْجِدِ فَقَدْ قِيلَ لَا يَكُونُ تَسْلِيمًا، لِأَنَّهُ لَا تَدْبِيرَ لِلْمُتَوَلِّي فِيهِ، وَقِيلَ يَكُونُ تَسْلِيمًا، لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى مَنْ يَكْنُسُهُ وَيُغْلِقُ بَابَهُ، فَإِذَا سَلَّمَ إِلَيْهِ صَحَّ التَّسْلِيمُ،

ژباړه وتشريح:- اوهرچه ﴿حکم د صحت وقف دی﴾ په جمات کې نو ونيلې شوی دی ﴿که جمات متولی ته حواله کړی.نو﴾ نه دی حواله کول ﴿ترڅو چې په کې لمونځ نه وی شوی﴾ څکه چې نشته څه اختيارد متولی لپاره په دې ﴿جمات﴾ کې اوونيلې شوی دی چې کيږی ﴿سپارل متولی ته﴾ حواله کول څکه چې دا ﴿جمات﴾ محتاج دی هغه چاته چې صفائی کوی ددې ﴿جمات﴾ اوبندوی دروازه ددې ﴿جمات﴾ نوهرکله چې حواله ئې کړلو ﴿جمات﴾ ده ﴿متولی﴾ ته صحيح شوه حواله کول ﴿اوچه حواله کول صحيح شو.نووقف صحيح شو.دچا لمونځ کول ورله شرط نه دی﴾

وَالْمَقْبَرَةُ فِي هَذَا بِمَنْزِلَةِ الْمَسْجِدِ عَلَى مَا قِيلَ، لِأَنَّهُ لَا مُتَوَلِّيَ لَهُ عُرْفًا. وَقِيلَ هِيَ بِمَنْزِلَةِ السِّقَايَةِ وَالْخَانِ فَيَصِحُّ التَّسْلِيمُ إِلَى الْمُتَوَلِّي، لِأَنَّهُ لَوْ نَصَبَ الْمُتَوَلِّيَ يَصِحُّ، وَإِنْ كَانَ بِخِلَافِ الْعَادَةِ،

ژباړه وتشريح:- اومقبره په دې ﴿حکم﴾ کې پشان د جمات ده لکه څنگه چې ونيلې شوی دی ﴿يعنی د مقبرې د وقف کيدو لپاره خپوتفصيل وړاندې تيرشو.چه د صاحبينو ﷺ په کې اختلاف وو.اوبل قول دا هم دی.چه مقبره هم د جمات پشان ده.چه متولی ته په کې حواله کول شرط نه دی﴾ اوبعضو عالمانو ونيلی دی.چه دا ﴿مقبره﴾ پشان دسبيل اومسافرخانې ده. ﴿نولکه څنگه چې په سبيل اومسافرخانه کې متولی ته ددې څيزونوحواله کاوه سره وقف صحيح کيږی﴾ دغه ډول صحيح کيږی حواله ﴿دمقبرې د زمکې﴾ متولی ته څکه چې دې ﴿واقف﴾ که مقرر کړی متولی ﴿لپاره د مقبرې﴾ نوصحيح کيږی.اگرچه وی ﴿دمقبرې لپاره د واقف د اړخه متولی مقرر﴾ خلاف د عادت دی.

دمختلفو ځايونودوقف کولواحکام

وَلَوْ جَعَلَ دَارًا لَهُ بِمَكَّةَ سُكْنَى لِحَاجِّ بَيْتِ اللَّهِ وَالْمُعْتَمِرِينَ، أَوْ جَعَلَ دَارَهُ فِي غَيْرِ مَكَّةَ سُكْنَى لِلْمَسَاكِينِ، أَوْ جَعَلَهَا فِي ثَغْرٍ مِنَ الثُّغُورِ سُكْنَى لِلْغُزَاةِ وَالْمُرَابِطِينَ. أَوْ جَعَلَ غَلَّةَ أَرْضِهِ لِلْغُزَاةِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى وَدَفَعَ ذَلِكَ إِلَى وَالٍ يَقُومُ عَلَيْهِ فَهُوَ جَائِزٌ، وَلَا رُجُوعَ فِيهِ لِمَا بَيَّنَّا

حل اللغة: ① الثغور:غله ② الغزاة:جمع د غازی چې د الله په لار کښې جهاد کوی ③ المرابطين:جمع د مرابط، چې د اسلامی سرحد څوکۍ کوی

ژباړه وتشريح:- اوکه چيرته اوگرځوی ﴿يعنی وقف کړی﴾ کورچه دده وی په مکه کې لپاره داوسيدو د حاجيانواود معتمرينواويا اوگرځوی کورخپل چې وی په غير د مکه کې ، ځائې لپاره د مسکينانو اويا په يوه دره کې ددروځنی،ځائې داستوگنې لپاره د غازيانو اود محافظينو ﴿داسلامی سرحداتو﴾ اويا اوگرځوی غله د زمکې خپلې لپاره د غازيانوچه څوك چې جهاد کوی په لارد الله تعالی کې او ورکړی دا ﴿کورچه په دې مختلفو ځايونو کې وی﴾ يو حاکم ته چې هغه انتظام کوی ددې ﴿کور﴾ نودا ﴿وقف﴾ جائزدې اونشته رجوع په ﴿وقف د﴾ دې څيزونوکې ،دهغه امله نه کوم چې موږ بيان کړه. ﴿چه بنده د وقف نه خپل حق ختم کړی .نوهغه هميشه لپاره دالله تعالی ملکيت ته واپس کيږی﴾

أَنَّ فِي الْغَلَّةِ تَحِلُّ لِلْفُقَرَاءِ دُونَ الْأَغْنِيَاءِ، وَفِيمَا سِوَاهُ مِنْ سُكْنَى الْخَانِ وَالِاسْتِقَاءِ مِنَ الْبِئْرِ وَالسِّقَايَةِ وَغَيْرِ ذَلِكَ يَسْتَوِي فِيهِ الْغَنِيُّ وَالْفَقِيرُ،

حل اللغة: ① الاستقاء:اوبه څکول ② الخان:مسافرخانه

ژباړه وتشريح:- ﴿البته ددې څيزونود وقف په احکاموکې لږ غوندې توپير شته.دهغې بيان په دې عبارت سره کوی﴾ مگربه پيداوار ﴿دوقف﴾ کې ﴿دا مسئله ده.چه﴾ دا جائزدې لپاره د فقيرانونه لپاره د مالدارانو ﴿يعنی د وقف نه چې کوم شی پيدا کيږی.هغه په فقيرانوباندې حلال دې اوبه مالدارانوحرام

دي﴾ اوپه ځيزونوكي چې سوا دی ددې ﴿پيداوار﴾ نه چې په مسافرخانه كي اوسيدل دی اواوبه څښل دی د كوهی اود سبيل نه اوعلاوه د دې نه ﴿چه دڅوكئ جوړول اوپه مكه كي دحاجيانو او معتمرينو لپاره كوروقف كول﴾ برابر دې په دې كي توانګر اوفقير ﴿يعنی مالدارتري هم فائده اخستې شی اوفقير هم﴾

إِلَّا وَالْفَارِقُ هُوَ الْعُرْفُ فِي الْفَصْلَيْنِ. فَإِنَّ أَهْلَ الْعُرْفِ يُرِيدُونَ بِذَلِكَ فِي الْغَلَّةِ الْفُقَرَاءَ، وَفِي غَيْرِهَا التَّسْوِيَةَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ،

حل اللغة: ① الغلة امدن. محاصل

زباره وتشريح:- اوفارق ﴿په مينځ د دې مختلفوحكمونوكي چې دوقف دپيداوار نه مالدارفائده نشی اخستې اود استوګنې دځايونونه مالدارهم فائده اخستې شی﴾ هغه عرف دې. په دواړو صورتونوكي ﴿چه صورت د عدم جوازدمنفعت دې لپاره د مالدارانواوصورت دجوازد منفعت دې﴾ ځكه چې اهل دعرف ﴿يعنی په خلګ وكي رواج دې﴾ اراده كوی په دې ﴿وقف﴾ سره په پيداواركي فقيران ﴿يعنی چې څوك يوځيز وقف كړي نودوی په وقف كي دا نيت كړی وی.چه ددې شی پيداوار به صرف فقيران خوری. شتمن به ئې نه خوری﴾ اوپه سوا ددې ﴿پيداوار﴾ كي ﴿اراده كوی دوی﴾ برابری په مينځ ددوی ﴿فقيرانو﴾او مالدارانو كښې ﴿يعنی په ددې نوروځيزونوپه وقف كي دوی دا نيت نه كوی.چه ددې څخه به صرف فقيران فائده اخلی.بلكه دوی دا ارده كړې وی.چه مطلق مسافراومطلق مجاهد اومطلق حاجی د دې ځايونو نه فائده اخستې شی﴾

وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ تَشْمَلُ الْغَنِيَّ وَالْفَقِيرَ فِي الشُّرْبِ وَالنُّزُولِ. وَالْغَنِيُّ لَا يَحْتَاجُ إِلَى صَرْفِ هَذِهِ الْغَلَّةِ لِغِنَاهُ، وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

زباره وتشريح:- او﴿دوهم فرق دا دې.چه﴾ حاجت شامليږی مالداراوفقيرته د څكاك ﴿داوبو﴾ او آرام كولو ﴿يعنی كله چې څوك تګی شی.نوتنده لكه څنګه چې په فقيرراځی.دغه ډول په مالدارهم راځی.دغه ډول څوك مسافر وی.نوپه مزل كولوكي لكه څنګه چې فقيرستړې كيږی دغه ډول مالدارهم ستړې كيږی. نو دفقيرپشان مالدارهم داوبواوآرام كولوته محتاج دې.ځكه دسبيل اومسافرخانه وغيره نه د فقيرپشان مالدارهم فائده اخستې شی﴾ اومالدار محتاج نه وی اخستلوددې ﴿وقف﴾ پيداوار ته ځكه چې هغه توانګر وی. ﴿نوددې د وقف د پيداوار نه صرف فقيران فائده اخستې شی. شتمن نشی﴾

والله اعلم بالصواب تمت المجلد الرابع بالخير

باب ما يقطع فيه وما لا يقطع

فصل في الحرز والأخذ منه

(بَابُ مَا يُحْدِثُ السَّارِقُ فِي السَّرِقَةِ) ۲۳۸

(بَابُ قَطْعِ الطَّرِيقِ): ۲۴۳

(كتاب السير) ۲۵۵

(باب كيفية القتال) ۲۶۰

(باب الموادعة ومن يجوز أمانه) ۲۷۳

(بَابُ اسْتِيلَاءِ الْكُفَّارِ) ۳۳۱

(بَابُ الْمُسْتَأْمَنِ) ۳۴۴

(بَابُ الْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ) ۳۶۱

كِتَابُ الْوَقْف: ۵۲۳

[چور (حمله)
[چم (چل)
(ح)
[حكمـــي مـــرداري (حكمـــي نجاست)
(خ)
[خلگ (خلق)
[خلگو (خلقو)
[خپاره (خواره)
(د)
[دغه ډول (دغه شان)
[د عمل ور (د عمل وړ)
[درلودی (لرلو)
[دريبم (دريم)
(ر)
[راسته (ښي)
[راتگ (راتلل)
(ز)
[زموږ (مونږ)
[زيږيدل (پيدائش)
(ژ)
[زموږ (مونږ)
[زيږيدل (پيدائش)
[ژباړي (ترجمي)
[ژباړه (ترجمه)
[ژي (مشکيزه)
[ژوول (جوئيل)
[ژي (مشکيزه)
(س)
[سهار (صبا)
[ساتنه (حفاظت)
[سربيره (دپاسه)
[سراج (ډيوه)
[سلواغه (بوقه)
[ساعتونه (لمحات)
[ساعت (لحمه)
[سراج (ډيوه)
[سپرلۍ (سورلۍ)

[پيوسته (مسلسل)
[پيشی (پيشو)
[پيشلمی(پيشمني)
[پور (قرض)
[پوست (پوستکي)
[پور (قرضي)
[پوولي (خرولي)
[پنبو (خپو)
[پنبي (خپي)
[پوول (خرول)
[پلنډه (تان)
[پرېښودي (پريخودي)
(ت)
[توانگر (مالدار)
[توپير(فرق)
[توپير (توپير (تبديلي)
[تيخرگ (ترخ)
[توان (طاقت)
[توپير (تبديلي)
(ټ)
[ټوك (جلد)
(ټ)
[ټوك (جلد)
(ج)
[جلا (جدا)
[جلا جلا (جدا جدا)
(چ)
[چوپوالي(خاموشي)
[چپه (گس)
[چوپ (چپ)
[چم (چل)
[چنگوبنه (چيندخ)
[چوغکه (مرغۍ)
[چتلي (گندگی)
[چمپلان (څپلۍ)
[چاغه (تياره)
[چمپلان (څپلۍ)

[امله (وجي)
[اړخ (طرف)
[انډيوال (ملگری)
[اوپريمنځل (اووينځل)
[اړتيا (ضرورت)
[اړه (باره)
[الغه (حلقه)
[اخته (مبتلا)
[انډيوالان (ملگری)
[ايله کړي (پرانستي)
[انا (نيا)
[اکا (ترۀ)
[اونه کی (اونکړی)
(ب)
[برخو (حصو)
[برخه (حصه)
[بيرغ (جنډا)
[بلا ناغه (پرله پسي)
[بايد ده (پکار ده)
[بوخت (مشغول)
[بولي (متيازي)
[بازي (لوبي)
[بي غوری (کوتاهی)
[بوق (قب)
[بته (مته)
[بندی خانه (جيلخانه)
(پ)
[پاته (باقي)
[پيل (شروع)
[پوښتنه (تپوس)
[په عامه توگه (عام طور)
[پرېښولو (پريخودلو)
[پاته (باقي)
[پرېښول (پريخودل)
[پرېښولو (پريخودلو)
[پزه (پوزه)
[پر(په)
[پرېښولو (پرېښولو)

[مخکه (زمکه)

(ن)

[ننبانه (ننبه)
[نجوني (نجوني (جينکۍ))
[نفر (کسان)
[ننبليدل (لګيدل)
[ناړې (لياړې)
[ننبتيزل (نچوړول)
[نژدې (نيزدې)
[نومول (نامدار)

(و)

[ويش (تقسيم)
[واړه (تول)
[وزه (چيلۍ)
[ولاړ شه (لاړ شه)
[ورون (پتون)
[ورونان (پتونان)
[ور کولای شي (کولې شي)
[ور کولاې (کولې)
[وپلوري (خرخه کړي)
[وياله (نهر)

(ه)

[هسکې (پچې)
[هنداره (شيشه)

[کولای شي (کولې شي)
[کوټ (خيرې)
[کوڅيو (کونسۍ)
[کښتۍ (کشتۍ)
[کونجته (کونځله)
[کولاې (کولې)
[کرار کرار (مزه مزه))

(ګ)

[ګډ (شامل)
[ګونډۍ (کونډۍ)
[ګوله (نمړۍ)
[ګښتونه (چکرونه)
[ګټور (ګټور (فائده مند))
[ګټور (فائده مند)
[ګرځ (ګرد)

(ل)

[لنډيز (خلاصه)
[لمر (نمر)
[لينګۍ (پنډۍ)
[لنګوټې (پټکی)
[لږترلږ (کم ازکم)
[لويديځ (مغرب)
[لاستې (لاسکې)
[لوټه (کوزه)
[لاچاري (مجبوري)

(م)

[مهال (دوران)
[ماپښين (ماسپخين)
[ميړه (خاوند)
[مسبوق (خليفه)
[مرداري (پليتي)
[منځنی (درميانه)
[مسافه (مسافت)
[مولښتي (پيوست))
[مچې کول (ښکلول)
[مندې (مياندې)
[مړينه (مرکيدل)
[منګوړ (کټمل)

[سرپټ (سرپوښ)
[سرکښه (سرکشه)
[ساعت (لمحه)
[سپنسي (مزې)

(ش)

[شی (څيز)
[شيان (شيان (خګيزونه))
[شرموښ (شرمخ)
[شاګر (شاګرد)
[شتمن (مالدارن)
[شتمن (مالدارن)

(ص)

[صحرائي (بانډيچي)
[صندخ (صندوق)

(ط)

[طرفه (اړخه)

(ع)

[عکس (تصوير)
[عجلی (تيزی)

(ف)

[فرش (قالين)

(ق)

[فرش (قالين)
[قرضونه (پورونه)
[قلف (تاله)

(ک)

[کوښښ (کوشش)
[کاوه (کولو)
[کيداې (کيدې)
[کومك (مدد)
[کښته (ښکته)
[کښينستل (کيناستل)
[کالی (جامه)
[کوڅيو (کونسۍ)
[کشور (شمشتۍ)
[کوڅيو (کوڅو)
[کښت (پټې)
[کشف (شمشتۍ)